تسهيلات

پښتو شرح

مشكوٰة

مولانا شاه فيصل

ا

تسهیلات

پښتو شرح

مشکوٰة

تالیف۔ مولانا شاہ فیصل فاضل دارالعلوم اسلامیه چارسده

دولسم جلد (۱۲)

د شلو (۲۰) خصوصیاتو سره چې لس (۱۰) په کښې دا دی

① پیښوری پښتو سره بین القوسین د قندهاری پښتو د ګرانو ټکو اضافه

② د مشکاة د عربی او اردو متداولو ټولو شروحاتو مجموعه

③ په ترجمه کښې بین القوسین د مرقاة المفاتیح داضافی قیوداتو ترجمه

④ د حدیث هرې جملې ته اوړ هغې ترجمې د آسانتیا دپاره نمبرې ورکول

④ په فهقی اختلافی مسئلو کښې مدلل او آسان مباحث

⑤ د اوږدو احادیثو د متن او ترجمې تقسیم

⑥ د هر حدیث د صحاح سته وغیره ځخه تخریج

⑦ د حل اللغات په عنوان سره د مرقاة المفاتیح ځخه د مشکلو لغات حل

⑧ د قوله په عنوان سره د حدیث د هرې مشکلې جملې تشریح

⑨ د هر باب په اول کښې د هغې د احادیثو خلاصه

⑩ د کتاب په اول کښې د علوم الحدیث مفیده مقدمه

خورنکي

فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور

موبائل ۰۳۱۵-۹۵۹۵۷۱۷

اجمالی فہرست

شمار	مضمون	صفحہ
	[۴] بَابُ الْمَبْعَثِ وَبَدْءِ الْوَحْيِ]	۲۵
	اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ	۳۱
	(ھذا الباب خال عن الفصل الثانی)	۵۲
	اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ	۵۲
	[۵] بَابُ عَلَامَاتِ النُّبُوَّةِ]	۵۸
	اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ	۵۹
	وھذا الباب خال عن الفصل الثانی	۷۳
	اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ	۷۳
	[۶] بَابٌ فِي الْمِعْرَاجِ]	۸۰
	اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ	۸۴
	وھٰذا الباب خالٍ عن الْفَصْلِ الثَّانِيْ	۱۰۳
	اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ	۱۰۳
	[۷] بَابٌ فِي الْمُعْجِزَاتِ]	۱۰۴
	اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ	۱۰۷
	اَلْفَصْلُ الثَّانِي	۱۸۴
	اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ	۲۰۳
	[۸] بَابُ الْكَرَامَاتِ]	۲۱۸
	اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ	۲۱۹
	اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ	۲۳۱
	[۹] بَابُ وَفَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ]	۲۳۵
	اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ	۲۳۷
	اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ	۲۴۸
	[۱۰] باب ترکۃ النبی ﷺ	۲۶۲
	اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ	۲۶۲
	[۱۱] بَابُ مَنَاقِبِ قُرَيْشٍ وَذِكْرِ الْقَبَائِلِ]	۲۷۳

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۲۷۴
اَلْفَصْلُ الثَّانِیْ ۲۸۲
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۲۹۵
[۱۲] باب مناقب الصحابۃ رضی اللہ عنہم ۳۰۴
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۳۰۲
اَلْفَصْلُ الثَّانِی ۳۱۴
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۳۱۹
[۱۳] باب مناقب ابی بکر رضی اللہ عنہ ۳۲۲
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۳۲۳
اَلْفَصْلُ الثَّانِی ۳۳۱
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۳۳۸
[۱۴] باب مناقب عمر رضی اللہ عنہ ۳۴۲
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۳۴۳
اَلْفَصْلُ الثَّانِی ۳۵۲
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۳۵۹
[۱۵] باب مناقب ابی بکر و عمر ۳۶۹
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۳۶۹
اَلْفَصْلُ الثَّانِی ۳۷۲
[۱۶] باب مناقب عثمان رضی اللہ عنہ ۳۸۰
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۳۸۱
اَلْفَصْلُ الثَّانِی ۳۸۳
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۳۹۳
[۱۷] باب مناقب ہؤلاء الثلثۃ رضی اللہ عنہم ۳۹۸
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۳۹۸
اَلْفَصْلُ الثَّانِی ۴۰۰
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۴۰۱
[۱۸] باب مناقب علی بن ابی طالب ۴۰۲

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۴۰۴
اَلْفَصْلُ الثَّانِی ۴۱۱
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۴۱۸
[۱۹] باب مناقب العشرة المبشرة رضی الله عنهم ۴۲۷
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۴۲۸
اَلْفَصْلُ الثَّانِی ۴۳۷
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۴۴۴
[۲۰] باب مناقب أهل بیت النبی ﷺ ۴۵۳
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۴۵۴
الفصل الثانی ۴۷۳
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۴۹۸
[۲۱] باب مناقب ازواج النبی ﷺ ۵۱۰
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۵۱۲
اَلْفَصْلُ الثَّانِی ۵۱۹
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۵۲۲
[۲۲] باب جامع المناقب ۵۲۴
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۵۲۵
اَلْفَصْلُ الثَّانِی ۵۷۲
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۵۸۷
[۲۳] باب ذکر الیمن والشام وذکر اویس القرنی ۶۰۱
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۶۰۲
اَلْفَصْلُ الثَّانِی ۶۰۸
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۶۱۳
[۲۴] باب ثواب هذه الامة ۶۱۸
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۶۱۹
اَلْفَصْلُ الثَّانِی ۶۲۲
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۶۲۳

د احاديثو د عنواناتو فهرست

صفحه	مضمون	شمار
۲۵	[۴] بَابُ الْمَبْعَثِ وَبَدْءِ الْوَحْيِ	
۲۵	بعثت نبوي او دَ وحي دَ نازليدلو بيان	
۳۱	اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ	
۳۱	نبي كريم ﷺ ته د خلوهنت كالو په عمر كښې نبوت ملاويدل	[۵۸۳۷]
۳۲	د نزول وحي ابتداء	[۵۸۳۸]
۳۳	د نبي كريم ﷺ د وفات عمر	[۵۸۳۹]
۳۴	د نبي كريم ﷺ او د خلفاء اربعه عمرونه	[۵۸۴۰]
۳۴	د وحي د آغاز تفصيل	[۵۸۴۱]
۴۱	د انقطاع نه وروسته بيا وحي	[۵۸۴۳]
۴۲	د وحي راتلو كيفيت	[۵۸۴۴]
۴۴	د وحي د نزول په وخت د نبي كريم ﷺ كيفيت	[۵۸۴۵]
۴۴	د دعوت الى الله اعلان	[۵۸۴۲]
۴۲	د سجدې په حالت كښې په نبي عليه السلام د لرى راغورځول	[۵۸۴۷]
۵۰	د دعوت دباره د طائف سفر	[۵۸۴۸]
۵۴	په غزوه أحد كښې د نبي كريم ﷺ زخمي كيدل	[۵۸۴۹]
۵۵	د نبي كريم ﷺ په لاس وژلې شوى كس شقاوت	[۵۸۵۰]
۵۲	(هذا الباب خالٍ عن الفصل الثاني)	
۵۲	اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ	
۵۲	دَ نزول په اعتبار سره اولنى آياتونه	[۵۸۵۱]
۵۸	[۵] بَابُ عَلَامَاتِ النُّبُوَّةِ	
۵۸	دَ نبوت دَ علاماتو بيان	
۵۹	اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ	
۵۹	د شق صدر واقعه	[۵۸۵۲]
۶۱	په نبي عليه السلام د د كاڼرى سلام اچول	[۵۸۵۳]
۶۲	د شق قمر معجزه	[۵۸۵۴]
۶۴	د الله تعالى د طرفه ابوجهل ته تنبيه	[۵۸۵۲]
۶۵	د امن پيدا كيدو پيشن گوئى	[۵۸۵۷]

[۵۸۵۸] د الله تعالی په دین کښې تکلیفونه زغمل ۶۷
[۵۸۵۹] په خوب کښې د مجاهدینو لیدل ۶۹
[۵۸۶۰] نبی علیه السلام ته د لیونی نسبت کول ۷۱
وهذا الباب خال عن الفصل الثاني ۷۳
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۷۳
[۵۸۶۱] د قیصر روم په دربار کښې د ابوسفیان ګواهي ۷۳
[۶] بَابٌ فِي الْمِعْرَاجِ ۸۰
د معراج بیان ۸۰
اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ ۸۴
[۵۸۶۲] د معراج د واقعي ذکر ۸۴
[۵۸۶۳] د اسراء او معراج واقعه ۹۱
[۵۸۶۴] د معراج واقعه ۹۵
[۵۸۶۵] د سدرة المنتهٰی بیان ۹۹
[۵۸۶۶] د نبی کریم ﷺ دپاره د بیت المقدس څخه حجابات پوره کول ۱۰۱
وهٰذا الباب خالٍ عن الْفَصْلِ الثَّانِيْ ۱۰۳
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۱۰۳
[۵۸۶۷] بیت المقدس د نبی کریم ﷺ مخې ته راوستل ۱۰۳
[۷] بَابٌ فِي الْمُعْجِزَاتِ ۱۰۴
دا باب د معجزاتو بیان کښې دې ۱۰۴
اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ ۱۰۷
[۵۸۶۸] د غار ثور واقعه ۱۰۷
[۵۸۶۹] د هجرت د سفر په دوران کښې د دښمن خلاف د معجزې ظهور ۱۰۸
[۵۸۷۰] د عبد الله ابن سلام د ایمان راوړلو واقعه ۱۱۲
[۵۸۷۱] د جنګ بدر سره متعلق د پیشن ګوئي معجزه ۱۱۵
[۵۸۷۲] د جنګ بدر په ورځ د نبی کریم ﷺ دعا ۱۱۷
[۵۸۷۳] په جنګ بدر کښې د جبرائیل علیه السلام شرکت ۱۱۸
[۵۸۷۴] د آسماني مدد مشاهده ۱۱۸
[۵۸۷۵] د أحد په جنګ کښې د فرښتو د مدد معجزه ۱۲۰
[۵۸۷۶] د یو صحابي رضي الله عنه ماته پښه روغیدل ۱۲۰

[۵۸۷۷]غزوه احزاب کښې د طعام زیاتیدل ۱۲۲
[۵۸۷۸]د عمار ابن یاسر ﷺ په باره کښې پیشن ګوئي او د هغې واقع کیدل ۱۲۴
[۵۸۷۹]د کافرانو د جنګ باره کښې پیشین ګوئي او د هغې واقع کیدل ۱۲۵
[۵۸۸۰] جبرائیل علیه السلام او د فرینبتو د مدد معجزه ۱۲۲
[۵۸۸۲]ګوتو مبارکو څخه د اوبو وتلو معجزه ۱۲۷
[۵۸۸۳]د لیارو په برکت وچ کوهي د اوبو څخه ډکیدل ۱۲۸
[۵۸۸۴]په اوبو کښې د برکت معجزه ۱۲۹
[۵۸۸۵]د ونو د اطاعت معجزه ۱۳۱
[۵۸۸۲]زخم څخه دشفا ملاویدو معجزه ۱۳۲
[۵۸۸۷]دنادیده واقعي خبر ورکولو واقعه ۱۳۳
[۵۸۸۸]په غزوه حنین کښې واقع کیدونکې معجزه ۱۳۴
[۵۸۸۹]په غزوه حنین کښې دنبی کریم ﷺ خوان مردي ۱۳۷
[۵۸۹۱]یو موتې شګې د کافرانو سترګو ته رسیدل ۱۳۹
[۵۸۹۲]د یوکس د جهنمی کیدو پیشن ګوئی او د هغې واقع کیدل ۱۴۰
[۵۸۹۳]دنبی کریم ﷺ د خپل مسحور کیدو خبر ورکول ۱۴۲
[۵۸۹۴]دخوارجو د ظهور باره کښې پیشن ګوئی کول ۱۴۲
[۵۸۹۵]د نبی علیه السلام په دعا د ابوهریره دمور اسلام راوړل ۱۵۰
[۵۸۹۲]د ابوهریره ﷺ د حافظې قوی کیدو معجزه ۱۵۲
[۵۸۹۷]د جریر ﷺ په حق کښې د دعا قبلیدو معجزه ۱۵۴
[۵۸۹۸]د یو کس باره کښې د زمکې نه قبلولو معجزه ۱۵۵
[۵۸۹۹]دیهودیانو دقبرونو داحوالو کشف کیدو معجزه ۱۵۲
[۵۹۰۰]سیلی لیدو سره دیومنافق دمرګ خبر ورکولو معجزه ۱۵۲
[۵۹۰۱]د مدیني دحفاظت په باره کښې د معجزې ښکاره کیدل ۱۵۷
[۵۹۰۲]باران سره متعلق دقبولیت دعا معجزه ۱۵۹
[۵۹۰۳] د نبی علیه السلام په فراق کښې داستوانه حنانه د ژړا معجزه ۱۲۱
[۵۹۰۴]د بدعائي قبلیدو معجزه ۱۲۲
[۵۹۰۵]دنبی کریم ﷺ دسوریدو په وجه د لټې اوښې د تیزرفتارئ معجزه ۱۲۳
[۵۹۰۲]په قجورو کښې دبرکت معجزه ۱۲۴
[۵۹۰۷]دغوړو دمشکیزې نه تشیدو معجزه ۱۲۲
[۵۹۰۸]طعام کښې دبرکت معجزه ۱۲۷

[۵۹۰۹] گوتو مبارکو نه داوبو وتلو معجزه........ ۱۷۱
[۵۹۱۰] طعام څخه دتسبیح اواز راتو معجزه........ ۱۷۲
[۵۹۱۱] داوبو زیاتیدو یوه بله معجزه........ ۱۷۳
[۵۹۱۲] تبوک کښې په طعام کښې دبرکت معجزه........ ۱۷۵
[۵۹۱۳] د زینب په ولیمه کښې د برکت معجزه؟........ ۱۷۷
[۵۹۱۴] د لټ اوښ د تیز رفتارۍ معجزه........ ۱۷۸
[۵۹۱۵] دغزوه تبوک په موقع د معجزو ښکاره کیدل........ ۱۸۰
[۵۹۱۶] دمصر دفتح پیشن ګویي........ ۱۸۱
[۵۹۱۷] دمنافقانو دعبرتناک آنجام پیشن ګونی........ ۱۸۳
اَلْفَصْلُ الثَّانِي........ ۱۸۴
[۵۹۱۸] د بحیرا راهب په خوله د نبی علیه السلام د پیغمبری پیش ګونی........ ۱۸۴
[۵۹۱۹] د ونو دسلام کولو معجزه........ ۱۸۶
[۵۹۲۰] د براق د تابع کیدو معجزه........ ۱۸۷
[۵۹۲۱] د نبی علیه السلام دپاره په ګټه کښې سوري کول........ ۱۸۷
[۵۹۲۲] داوښ د شکایت معجزه........ ۱۸۸
[۵۹۲۳] دیویل هلک د شیطاني اثر څخه د خلاصیدو معجزه........ ۱۹۰
[۵۹۲۴] د نبی علیه السلام په رابللو د ونې د راتلو معجزه........ ۱۹۱
[۵۹۲۵] د کیکر د ونې دنبی کریم ﷺ درسالت ګواهي ورکول........ ۱۹۲
[۵۹۲۶] د قجورې د څانګې د نبی علیه السلام د رسالت ګواهی ورکول........ ۱۹۳
[۵۹۲۷] د نبی علیه السلام په رسالت د شرمخ ګواهی کول........ ۱۹۴
[۵۹۲۸] کاسې د طعام سره د ډکیدو معجزه........ ۱۹۵
[۵۹۲۹] جنګ بدر کښې دقبولیت دعا معجزه........ ۱۹۶
[۵۹۳۰] د فتحې او هدایت پیشن ګونی کول........ ۱۹۷
[۵۹۳۱] دزهرو ملاو شوې غوښې خبر ورکولو معجزه........ ۱۹۸
[۵۹۳۲] د غزوه حنین د غنیمت حاصلیدو خبر ورکولو معجزه........ ۱۹۹
[۵۹۳۳] په قجورو کښې د برکت معجزه........ ۲۰۲
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ........ ۲۰۳
[۵۹۳۴] د قریشو د قتل منصوبې څخه د خبریدو معجزه........ ۲۰۳
[۵۹۳۵] دخیبر یهودیانو سره متعلق معجزه........ ۲۰۴
[۵۹۳۶] قیامته پورې د اهمو واقعاتو خبر ورکولو معجزه........ ۲۰۶

[۵۹۳۷]د ونې په ذریعه د جناتو راتلو خبر ورکیدو معجزه ۲۰۷
[۵۹۳۸]د مقتولینو بدر پیشن گوئی معجزه ۲۰۸
[۵۹۳۹]د د راز عمری خبر ورکولو معجزه ۲۱۰
[۵۹۴۰] نبی علیه السلام باندې دروغ جوړونکی ته د بدعا کولو معجزه ۲۱۱
[۵۹۴۱]د په طعام کښې د برکت معجزه ۲۱۲
[۵۹۴۲]په مشتبه خوراک د خبریدو معجزه ۲۱۲
[۵۹۴۳] د چیلی د بیؤ زیاتیدو معجزه ۲۱۵
[۸]بَابُ الْكَرَامَاتِ ۲۱۸
د کراماتو بیان ۲۱۸
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۲۱۹
[۵۹۴۴]د همسا څخه د رڼا کیدو کرامت ۲۱۹
[۵۹۴۵]د خبل شهید کیدو خبر ورکولو کرامت ۲۲۰
[۵۹۴۶]په طعام کښې برکت کرامت ۲۲۱
[۵۹۴۷]د نجاشی د قبر څخه د رڼا ښکاره کیدو کرامت ۲۲۴
[۵۹۴۸]د نبی علیه السلام غاسلینو ته د غیب څخه آواز اوریدو هدایت ۲۲۴
[۵۹۴۹] سفینه رضي الله عنه د پاره د ځنګل زمری تابع کیدل ۲۲۲
[۵۹۵۰]د قبر ښکاره کولو سره د باران کیدو خبر ورکولو کرامت ۲۲۷
[۵۹۵۱]د نبی علیه السلام د قبر څخه د پست آواز اوریدل ۲۲۸
[۵۹۵۲]د انس رضي الله عنه د باغ هر کال دوه خله میوې کول ۲۳۰
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۲۳۱
[۵۹۵۳]د سعید ابن زید رضي الله عنه د بدعائي قبلیدل ۲۳۱
[۵۹۵۴]د لرې څخه د لښکر ښکاریدو کرامت ۲۳۲
[۵۹۵۵] د نبی علیه السلام قبر ته روزانه د اویا زره فرښتو راتلو خبر ورکول ۲۳۴
[۹]بَابُ وَفَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۲۳۵
د نبی کریم ﷺ د وفات بیان ۲۳۵
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۲۳۷
[۵۹۵۶]د انصارو د نبی علیه السلام په هجرت باندې خوشحالی ۲۳۷
[۵۹۵۷]د صدیق اکبر رضي الله عنه فراست ۲۳۸
[۵۹۵۸] د نبی علیه السلام د آخری مونځ ۲۳۹

[۵۹۵۹]د نبي علی علیه السلام د ژوند آخري لمحات ۲۴۱
[۵۹۲۰] پیغمرانو ته د مرگ او ژوند اختیار ملاویدل ۲۴۳
[۵۹۲۱]د نبی علیه السلام په وفات د فاطمه رضي الله عنها غم او حزن ۲۴۴
[۵۹۲۲]د نبی علیه السلام مدینې ته په راتلو د خوشحالۍ لوبې ۲۴۲
[۵۹۲۳]د نبی علیه السلام په تدفین کښې د صحابو اختلاف اختلاف رائې ۲۴۷
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۲۴۸
[۵۹۲۴]پیغمبر ته د وفات څخه وړاندې د هغه مستقر خودل ۲۴۸
[۵۹۲۵]په مرض الوفاة کښې د زهر اثر محسوسول ۲۴۹
[۵۹۲۲]مرض الوفاة کښې د خط لیکلو اراده کول ۲۵۰
[۵۹۲۷]دوحي د نزول د منقطع کیدو غم ۲۵۵
[۵۹۲۸]د مسجد نبوی ﷺ په منبر آخري خطبه ۲۵۲
[۵۹۲۹]بي بي فاطمې رضي الله عنها ته دوفات پیشن گویي ۲۵۸
[۵۹۷۰]د ابوبکر رضي الله عنه د خلافت په باره کښې وصیت ۲۵۹
[۵۹۷۱]د مرض وفات ابتداء ۲۲۱
[۵۹۷۲]د نبی علیه السام په وفات د خضر علیه السلام تعزیت ۲۲۲
[۱۰]باب ترکة النبی ﷺ ۲۲۲
دَرسول الله ﷺ دَ ترکې په بیان کښې ۲۲۲
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۲۲۲
[۵۹۷۳]د نبی علیه السلام میراث نه پریخودل ۲۲۲
[۵۹۷۴] د نبی کریم ﷺ په میراث کښې د اوښې پریخودل ۲۲۷
[۵۹۷۵]د نبی کریم ﷺ په ترکه کښې عدم میراث ۲۲۹
[۵۹۷۲]د نبي علیه السلام په ترکه کښې صدقه ۲۷۰
[۵۹۷۷]د نبی په مخکښې وفات کیدو کښې د امت خیریت ۲۷۱
[۵۹۷۸] د راتلونکی امت نبی علیه السلام سره عقیدت ۲۷۲
[۱۱]بَابُ مَنَاقِبِ قُرَيْشٍ وَذِكْرِ الْقَبَائِلِ] ۲۷۳
د قریشو مناقب او د قبائلو د ذکر بیان ۲۷۳
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۲۷۴
[۵۹۷۹] قریشو پسې اقتداء ۲۷۴
[۵۹۸۰]د قریشو سرداری ۲۷۵
[۵۹۸۱]په قریشو کښې د خلافت حقداری ۲۷۲

[۵۹۸۲]د دین د تابعداری پ صورت کښې د قریشو د خلافت مشروعیت ۲۷۷
[۵۹۸۳]په قریشو کښې د دولسو خلیفه گانو راتلل ۲۷۷
[۵۹۸۴]د عرب بعضې قبیلو ته دعا ۲۷۹
[۵۹۸۵]د عربو د بعضې قبیلو فضیلت ۲۸۰
[۵۹۸۶] د عربی قبیلو د خیریت ترتیب ۲۸۱
[۵۹۸۷]د بنوتمیم فضیلت ۲۸۱
اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ ۲۸۲
[۵۹۸۸]د قریشو په حق کښې دُعا ۲۸۲
[۵۹۸۹]د قریشو د نسلونو دپاره دعا ۲۸۳
[۵۹۹۰]د یمنی قبیلو خوبي او د هغوی تعزیف ۲۸۴
[۵۹۹۱] د الله لښکر ۲۸۴
[۵۹۹۲]د دري قبیلو په باره کښې د ناخوښی اظهار ۲۸۶
[۵۹۹۳]په بنو ثقیف کښې د کذاب او سفاک پیشن گوئی ۲۸۶
[۵۹۹۵]د ثقیف دپاره د هدایت دُعاء ۲۹۰
[۵۹۹۶]د حمیر قبیلې دپاره دُعاء ۲۹۰
[۵۹۹۷] د دوس قبیلې دپاره دعا ۲۹۱
[۵۹۹۸] د عربو سره دښمني نبی کریم ﷺ سره د دښمني مترادف ۲۹۲
[۵۹۹۹] عربو سره دهوکه د نبی علیه السلام د شفاعت څخه د محرومتیا سبب...... ۲۹۳
[۶۰۰۰]د عربو د هلاکت پیشن گویی ۲۹۴
[۶۰۰۱] د بعضې شرعی منصبونو تقسیم ۲۹۵
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۲۹۵
[۶۰۰۲]د قریشو په قیدو بند سره د نه قتل کیدو پیش گوئی ۲۹۵
[۶۰۰۳]د عبدالله بن عمر ابن زبیر ته په مړونو خطاب ۲۹۶
[۶۰۰۴]د خلافت دعوی کولو څخه د عبدالله ابن عمر رضی الله عنه انکار ۳۰۰
[۶۰۰۵]د قبیله دوس په حق کښې دُعا ۳۰۱
[۶۰۰۶]عربو سره د محبت کولو وجه ۳۰۳
[۱۲] باب مناقب الصحابة رضی الله عنهم ۳۰۴
دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم مناقب ۳۰۴
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۳۰۶
[۶۰۰۷]د صحابو رضی الله عنهم د کنځلو څخه ممانعت ۳۰۶

[۲۰۰۸] صحابه د امت د سلامتیا سبب ۳۰۸
[۲۰۰۹] دصحابو په برکت فتوحات ملاویدل ۳۱۰
[۲۰۱۰] دَ دریم قرن څخه روسته د فساد بیدا کیدل ۳۱۲
اَلْفَصْلُ الثَّانِی ۳۱۴
[۲۰۱۲] دصحابو د تعظیم او تکریم لزوم ۳۱۴
[۲۰۱۳] صحابی او تابعی ته د اور نه رسیدل ۳۱۵
[۲۰۱۴] صحابو ته د تکلیف رسولو څخه په تاکید سره ممانعت ۳۱۲
[۲۰۱۵] د امت کښې د صحابو مثال ۳۱۷
[۲۰۱۲] د بعثت په ورځ د صحابو قیادت ۳۱۸
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۳۱۹
[۲۰۱۷] صحابو ﷺ ته د کنځلو کولو وعید ۳۱۹
[۲۰۱۸] دصحابه ﷺ اقتداء دهدایت ذریعه ده ۳۲۰
[۱۳] باب مناقب ابی بکر رضی الله عنه ۳۲۲
دَحضرت ابوبکر صدیق دَ مناقب بیان ۳۲۲
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۳۲۳
[۲۰۱۹] د نبی علیه السلام په نظر کښې د ابوبکر مقام ۳۲۳
[۲۰۲۰] په صحابو کښې د ابوبکر ﷺ افضلیت ۳۲۵
[۲۰۲۱] دحضرت ابوبکر ﷺ په حق کښې دخلافت وصیت ۳۲۲
[۲۰۲۲] دحضرت ابوبکر ﷺ حق کښې دخلافت وصیت ۳۲۷
[۲۰۲۳] د نبی علیه السالم ابوبکر ﷺ سره د ټولو څخه زیات محبت ۳۲۸
[۲۰۲۴] دابوبکرصدیق ﷺ دافضلیت شهادت دحضرت علي ﷺ په ژبه ۳۲۹
[۲۰۲۵] د صحابو ﷺ په مینځ کښې دحضرت ابوبکر ﷺ افضلیت ۳۳۰
اَلْفَصْلُ الثَّانِی ۳۳۱
[۲۰۲۲] د ابوبکر ﷺ د احسانانو اعتراف د نبی کریم په ژبه ۳۳۱
[۲۰۲۷] ابوبکر ﷺ ته د صحابو ﷺ د سیادت حصول ۳۳۳
[۲۰۲۸] درسول الله ﷺ دغار ملګری ۳۳۳
[۲۰۲۹] د ابوبکر ﷺ د افضیلت دلیل ۳۳۴
[۲۰۳۰] د عمر څخه د ابوبکر ﷺ وراندې کیدل ۳۳۴
[۲۰۳۱] د عتیق الله لقب سبب ۳۳۲
[۲۰۳۲] دنبی علیه السلام څخه روسته د ابوبکر حشر ۳۳۲

[۲۰۳۳] جنتته اولني داخلیدونکي امتی ۳۳۷
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۳۳۸
[۲۰۳۴]د ابوبکرﷺ دوه بې عظیم الشان عملونه ۳۳۸
[۱۴]باب مناقب عمر ﷺ ۳۴۲
دحضرت عمر ﷺ دمناقبو او فضائللو بیان ۳۴۲
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۳۴۳
[۲۰۳۵]حضرت عمر ﷺ محدث وو ۳۴۳
[۲۰۳۶]د حضرت عمر ﷺ نه دشیطان ویره ۳۴۵
[۲۰۳۷]په جنت کښې دعمر ﷺ محل ۳۴۸
[۲۰۳۸] په خوب کښې د قمیص تعبیر ۳۴۹
[۲۰۳۹] دحضرت عمر ﷺ علمي عظمت ۳۴۹
[۲۰۴۰]دحضرت عمر متعلق دنبی کریم ﷺ یو خوب ۳۵۰
اَلْفَصْلُ الثَّانِي ۳۵۲
[۲۰۴۲] د عمر ﷺ په ژره او ژره د حق جاري والې ۳۵۲
[۲۰۴۴]دحضرت عمر ﷺ خبرو سره به خلقوته سکینه اوطمانیت حاصلیدي ۳۵۳
[۲۰۴۵]دحضرت عمر ﷺ د اسلام راوړلو دپاره د نبی علیه السلام دعا ۳۵۳
[۲۰۴۶]د ابوبکر په خوله د عمر ﷺ د فضیلت ۳۵۵
[۲۰۴۷]دحضرت عمر ﷺ لوئي منقبت ۳۵۶
[۲۰۴۸]د شیطان د عمر ﷺ څخه ویریدل ۳۵۶
[۲۰۴۹] د عمر رضی الله عنه څخه د انسی او جنی شیطانانو تیخته ۳۵۸
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۳۵۹
[۲۰۵۰]دعمر ﷺ دري موافقات قرآني ۳۵۹
[۲۰۵۲] څلور احکام اود عمر رضی الله عنه موافقت ۳۶۱
[۲۰۵۳] د عمر ﷺ په جنت کښې اوچت مقام ۳۶۳
[۲۰۵۴]نیکو کارونو کښې دتولو نه زیات شر گرم ۳۶۴
[۲۰۵۵]عمر رضی الله عنه ته تسلی ورکول ۳۶۵
[۱۵]باب مناقب ابی بکروعمر ۳۶۹
دحضرت ابوبکر اوحضرت عمر رضي الله عنهما منقبونه ۳۶۹
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۳۶۹

[۲۰۵۲] دابوبکراو عمر د یقین معیار ۳۶۹
[۲۰۵۷] د شیخینو نبی علیه السلام سره ملګرتیا ۳۷۱
اَلْفَصْلُ الثَّانِي ۳۷۲
[۲۰۵۸]جنت کښې د شیخینو اعلی مقام........................ ۳۷۲
[۲۰۵۹]د جنت د مشرانو سرداران ۳۷۳
[۲۰۶۱]د شیخینو خلافت ته اشاره ۳۷۴
[۲۰۶۲]د شیخینو نبی علیه السلام سره یو بل خصوصی ربط ۳۷۵
[۲۰۶۳] په میدان حشرکښې د شیخینونبی علیه السلام یو ځائې حشر ۳۷۵
[۲۰۶۴] د شیخینو دوه خصوصیات ۳۷۶
[۲۰۶۵]د نبی علیه په زمکه کښې دوه وزیران........................ ۳۷۶
[۲۰۶۶] په خوب کښې د خلافت پورته کیدو اشاره ۳۷۷
[۲۰۶۷]د شیخینو د اهل جنت څخه کیدو بشارت........................ ۳۷۸
[۲۰۶۸]د ابوبکر ﷺ او عمر ﷺ د نیکو موازنه........................ ۳۷۹

[۱۶]باب مناقب عثمان ﷺ ۳۸۰
د حضرت عثمان ﷺ دمناقبو بیان ۳۸۰
اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ ۳۸۱
[۲۰۶۹]د عثمان رضی الله عنه څخه د فرشتو حیا کول........................ ۳۸۱
اَلْفَصْلُ الثَّانِي ۳۸۳
[۲۰۷۰]د عثمان ﷺ نبی علیه السلام سره جنت کښې خاص رفاقت ۳۸۳
[۲۰۷۲]په غزوه تبوک - کښې د عثمان رضی الله مالی قربانی........................ ۳۸۳
[۲۰۷۳]په جیش العسرة کښې د عثمان رضی الله عنه کارنامه ۳۸۵
[۲۰۷۴]د رسول الله لاس د عثمان ﷺ د لاس په ځائې ۳۸۶
[۲۰۷۵]د عثمان رضی الله عنه باغیانوته جرآت مندانه خطاب ۳۸۷
[۲۰۷۶]د عثمان د حقانیت پیشنګوئی........................ ۳۹۰
[۲۰۷۷] عثمان رضی الله عنه ته د خلافت نه پریخودو حکم کول ۳۹۱
[۲۰۷۸]د عثمان رضی الله عنه د شهادت پیشن ګویي ۳۹۲
[۲۰۷۹]دارشاد نبوي ﷺ په تعمیل کښې یې دصبر وتحمل لمن نیولي وه ۳۹۲
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ........................ ۳۹۳
[۲۰۸۰]دعثمان ﷺ مخالفینوته دابن عمر ﷺ چپ کونکي جواب........................ ۳۹۳
[۲۰۸۱] د عثمان د نبی علیه السلام په وصیت عمل کول ۳۹۶

[۲۰۸۲]دنبی علیه السلام صحابؤ ته د عثمان ﷺ د اطاعت حکم ۳۹۷
[۱۷]باب مناقب هؤلاء الثلثة رضی الله عنهم ۳۹۸
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۳۹۸
[۲۰۸۳]د احد غر د خوشحالی ځخه حرکت کول ۳۹۸
[۲۰۸۴]خفاء ثلاثؤ ته د جنت زیری ۳۹۹
اَلْفَصْلُ الثَّانِي ۴۰۰
[۲۰۸۵]په عهد رسالت کښې د خلفاء ثلاثؤ عظمت ۴۰۰
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۴۰۱
[۲۰۸٦]دخلفاء ثلاثه ﷺ دترتیب خلافت غیبي اشاره ۴۰۱
[۱۸]باب مناقب علی بن ابی طالب ۴۰۲
د حضرت علی ﷺ د مناقبو بیان ۴۰۲
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۴۰۴
[۲۰۸۷]نبی کریم پاك سره په قرب منزلت کښې تشبیه ۴۰۴
[۲۰۸۸]د علي ﷺ سره محبت او ایمان ۴۰۷
[۲۰۸۹]دعلی رضی الله عنه په لاس د خیبر قلعه فتح کیدل ۴۰۸
اَلْفَصْلُ الثَّانِي ۴۱۱
[۲۰۹۰]دکمال قرب اوتعلق اظهار ۴۱۱
[۲۰۹۱]د نبی دوستانه د علی دوستانه ۴۱۱
[۲۰۹۲]زما معاهدات علی ﷺ سرته رسولې شی ۴۱۲
[۲۰۹۳] د نبی علیه السلام او علی ﷺ مواخاة ۴۱۳
[۲۰۹۴] علي د الله د محبوب ترین بنده مصداق گرځیدل ۴۱۳
[۲۰۹۵] په ورکړه کښې د نبی علیه السلام علی سره خصوصی کردار ۴۱۴
[۲۰۹٦]حضرت علي ﷺ دعلم اوحکمت دروازه ده ۴۱۵
[۲۰۹۷]د نبی علیه السلام علی رضی الله عنه سره پټې خبرې ۴۱٦
[۲۰۹۸]د جنابت په حالت کښې په مسجد نبوی کښې علی رضی الله ته رخصت ۴۱۷
[۲۰۹۹]د نبی علیه السلام د علی د لیدو پورې د ژوند دعا ۴۱۷
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۴۱۸
[۲۱۰۰]د علي ﷺ محبت د نفاق او ایمان معیار گرځول ۴۱۸
[۲۱۰۱] علي ﷺ ته کنځل نبی ته د کنځلو مترادف ۴۱۹

[۲۱۰۲] د علی رضی الله عنه باره کښې افراط او تفریط ۴۱۹
[۲۱۰۳] دغدیر خم واقعه ۴۲۱
[۲۱۰۴] علی رضی الله عنه سره د فاطمه زهرا ﷺ نکاح ۴۲۳
[۲۱۰۵] مسجد کښې د علي ﷺ د دروازې پريخودلو اجازت ۴۲۴
[۲۱۰۶] د علی رضی الله عنه سحر وختی په دربار رسالت کښې حاضری ۴۲۴
[۲۱۰۷] دعلی رضی الله باره کښې د نبی علیه السلام مستجابه دعا ۴۲۵
[۱۹] باب مناقب العشرة المبشرة رضی الله عنهم ۴۲۷
دعشره مبشره د مناقبو بیان ۴۲۷
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۴۲۸
[۲۱۰۸] د خلافت مستحق صحابه ۴۲۸
[۲۱۰۹] په غزوه احد کښې د طلحه ﷺ قرباني ۴۲۸
[۲۱۱۰] دحضرت زبیر ﷺ فضیلت ۴۲۹
[۲۱۱۱] زبیر ﷺ د نبی علیه السلام فداک أبی وأمی وئیل ۴۳۰
[۲۱۱۲] دحضرت سعد بن مالک ﷺ فضیلت ۴۳۱
[۲۱۱۳] دالله په لار کښې اولنې تیرچلونکې ۴۳۱
[۲۱۱۴] د رجل صالح مصداق ۴۳۲
[۲۱۱۵] حضرت ابوعبیده ته دامین الامت خطاب ملاویدل ۴۳۴
[۲۱۱۶] د ابوعبیده ﷺ فضیلت ۴۳۵
[۲۱۱۷] په حرا غر باندې د بعضې صحابؤ اودریدل او د غر خوزیدل ۴۳۶
اَلْفَصْلُ الثَّانِي ۴۳۷
[۲۱۱۸] د لسو جنتی صحابؤ ذکر ۴۳۷
[۲۱۲۰] دبعضې صحابؤ ﷺ امتیازی صفات ۴۳۸
[۲۱۲۱] دطلحه ﷺ دپاره دجنت بشارت ۴۴۰
[۲۱۲۲] دطلحه ﷺ د شهادت پیشنگوئی ۴۴۱
[۲۱۲۳] جنت کښې د طلحه ﷺ اوزبیر ﷺ نبی علیه السلام سره گاونډی توب ۴۴۲
[۲۱۲۴] سعد ﷺ دپاره دوه دعا ۴۴۲
[۲۱۲۶] سعد ﷺ ته دطاقتور ځوان لقب ورکول ۴۴۳
[۲۱۲۷] د نبی علیه السلام سعد رضی الله عنه ته د ماما نسبت کول ۴۴۴
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۴۴۴
[۲۱۲۸] د الله په لار کښې د سعد رضی الله عنه قربانیانې ۴۴۴

[۲۱۲۹] د سعد ﷺ په خپل اسلام راوړلو باندې افتخار كول ۴۴۷
[۲۱۳۰] نبي عليه السلام سره د عبدالرحمن بن عوف ﷺ مالي قرباني ۴۴۷
[۲۱۳۱] د نبي عليه السلام عبدالرحمن بن عوف ﷺ ته خصوصي دعا كول ۴۴۹
[۲۱۳۲] د ابوعبيده ﷺ د امانت شهادت وركول ۴۵۰
[۲۱۳۳] د نبي عليه السلام څخه د خلفاء باره كښې تپوس ۴۵۰
[۲۱۳۴] د نبي عليه السلام په ژبه د څلورو خلفاؤ فضائل ۴۵۲

[۳۰] باب مناقب أهل بيت النبي ﷺ ۴۵۳

د نبي كريم ﷺ د كور والاوو د مناقبو بيان ۴۵۳

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۴۵۴

[۲۱۳۵] په څلورو صحابؤ د اهل بيت اطلاق ۴۵۴
[۲۱۳۶] د اهل بيتو طهارت ۴۵۵
[۲۱۳۷] د ابراهيم بن محمد دپاره په جنت كښې مرضعه ۴۵۶
[۲۱۳۸] د نبي عليه السلام بي بي فاطمې ﷺ سره پټې خبرې كول ۴۵۷
[۲۱۳۹] د فاطمې غوصه كول د نبي عليه السلام غصه كول ۴۶۰
[۲۱۴۰] امت ته د اهل بيتو باره كښې تاكيد ۴۶۱
[۲۱۴۱] جعفررضى الله عنه ته د ابن ذالجناحين لقب وركول ۴۶۲
[۲۱۴۲] حسن بن علي د نبي عليه السلام په اوږو باندې ۴۶۳
[۲۱۴۳] حسن سره د نبي كريم ﷺ مينه ۴۶۴
[۲۱۴۴] امام حسن نبي عليه السلام سره په منبر باندې ۴۶۵
[۲۱۴۵] حسن او حسين د نبي عليه السلام د باغ ګلان ۴۶۶
[۲۱۴۶] رسول ﷺ سره د حسنينو جسماني مشابهت ۴۶۷
[۲۱۴۷] د ابن عباس ﷺ د پاره د علم او حكمت دعا ۴۶۸
[۲۱۴۸] ابن عباس ته په دين كښې د فهم دعا ۴۶۹
[۲۱۴۹] اسامه او حسن سره د نبي عليه السلام محبت ۴۷۰
[۲۱۵۰] اسامه بن زيد د لښكر امير جوړول ۴۷۱
[۲۱۵۱] د زيد بن محمد ويلو ممانعت ۴۷۲

الفصل الثاني ۴۷۳

[۲۱۵۲] د اهل بيتو خيال ساتلو حكم ۴۷۳
[۲۱۵۳] د دوو څيزونو د پريښودو حديث ۴۷۴
[۲۱۵۴] د څلورو كسانو سره د محبت او عداوت حكم ۴۷۵

[۲۱۵۵]د علي ﷺ او بي بي فاطمه ﷺ سره د نبی علیه السلام محبت ۴۷۲
[۲۱۵۲] عباس ته تکلیف نبی علیه السلام ته تکلیف ورکول دی ۴۷۷
[۲۱۵۷]د حضرت عباس فضیلت ۴۷۹
[۲۱۵۸] ابن عباس ﷺ اودهغوی د اولاد دپاره ۴۸۰
[۲۱۵۹] ابن عباس ﷺ او جبریل علیه السلام لیدل ۴۸۱
[۲۱۲۰] ابن عباس ﷺ ته د حکمت د ورکړې دُعا ۴۸۳
[۲۱۲۱] جعفر ﷺ ته د ابو المساکین لقب ورکول ۴۸۳
[۲۱۲۲]د حضرت جعفر ﷺ فضیلت ۴۸۴
[۲۱۲۳]د جنت د ځوانانو سرداران ۴۸۵
[۲۱۲۴]حسنین د نبی علیه السلام دنیاوی ګلونه ۴۸۲
[۲۱۲۵]حسنین د نبی علیه السلام په غیږ کښې ۴۸۲
[۲۱۲۲]شهادت حسین او د اُم سلمه خوب ۴۸۷
[۲۱۲۷] حسنینو سره د نبی علیه السلام د ټولو څخه زیات محبت ۴۸۸
[۲۱۲۸]د خطبې په دوران کښې د حسنینو راؤچتول ۴۸۸
[۲۱۲۹]حسین سره د محبت کونکو دپاره دعا ۴۸۹
[۲۱۷۰]دحسنینو نبی علیه السلام سره مشابهت ۴۹۰
[۲۱۷۱]د فاطمې ﷺ او حسنینو د جنت د سردارۍ زیرې ۴۹۰
[۲۱۷۲]ښه سورلې او ښه سور ۴۹۱
[۲۱۷۳]د نبی علیه السلام محبت ته په خپل محبت ترجیح ورکول ۴۹۲
[۲۱۷۴]د زید نبی علیه السلام ته په خپل ورور باندې ترجیح ورکول ۴۹۳
[۲۱۷۵] په مرض الوفاة کښې د اسامه په مخ د شفقت لاس راښکل ۴۹۵
[۲۱۷۲]عائشې رضی الله عنها ته د اسامه سره د محبت کولو حکم کول ۴۹۲
[۲۱۷۷]د نبی علیه السلم اسامه سره د محبت اظهار کول ۴۹۷
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۴۹۸
[۲۱۷۸]د ابوبکر رضی الله عنه حسن رضی الله عنه په خپله اوږه کینول ۴۹۸
[۲۱۷۹]د حسین رضی الله عنه په مخ پورې د ابن زیاد ټوقې کول ۴۹۸
[۲۱۸۰] نبی علیه السلام ته د شهادت حسین پیشنګوئی کیدل ۵۰۵
[۲۱۸۱]شهادت حسین او د ابن عباس خوب ۵۰۷
[۲۱۸۲]اهلِ بیتَو سره د نبی علیه السلام په وجه محبت ساتل ۵۰۸
[۲۱۸۳]د اهلِ بیت تشبیه د نوح علیه السلام کشتی سره ۵۰۸

[۲۱] باب مناقب ازواج النبی ﷺ ۵۱۰
د نبی ﷺ د ازواج مطهراتو د مناقبو بیان ۵۱۰
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۵۱۲
[۲۱۸۴] دامت محمدی غوره مېرمن خديجة الكبرٰی ۵۱۲
[۲۱۸۵] خديجې رضی الله عنها ته د الله تعالی او جبريل عليه السلام سلام ۵۱۳
[۲۱۸۶] د خديجې رضی الله عنها خصوصات ۵۱۴
[۲۱۸۷] پۀ عائشې رضی الله عنها د جبريل عليه السلام سلام ۵۱۵
[۲۱۸۸] د واده څخه وړاندې عائشې رضی الله عنها لره په خوب کښې ليدل ۵۱۵
[۲۱۸۹] د دالو دپاره د عائشې رضی الله عنها د نوبت انتظار کول ۵۱۶
اَلْفَصْلُ الثَّانِي ۵۱۹
[۲۱۹۰] د دنيا څلور افضل ترينې ښځې ۵۱۹
[۲۱۹۱] نبی عليه السلام ته په ريښمو کښې د عائشې رضی الله عنها تصوير ورښودل ۵۱۹
[۲۱۹۲] صفيه رضی الله عنها ته تسلی ورکول ۵۲۰
[۲۱۹۳] د بي بي مريم بنت عمران د سرداری ذکر ۵۲۱
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۵۲۲
[۲۱۹۴] د صحابه کرامو د عائشې رضی الله عنها څخه تپوسونه کول ۵۲۲
[۲۱۹۵] د عائشې رضی الله عنها فصاحت ۵۲۳
[۲۲] باب جامع المناقب ۵۲۴
د مناقبو جامع بيان ۵۲۴
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۵۲۵
[۲۱۹۶] د عبدالله بن عمر رضی الله عنه د نيکی دليل ۵۲۵
[۲۱۹۷] په سيرت کښې د ابن مسعود رضی الله عنه نبی عليه السلام سره مشابهت ۵۲۷
[۲۱۹۸] په عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د اهل بيتو ګمان کول ۵۲۸
[۲۱۹۹] د څلورو صحابو څخه د قرآن زده کولو حکم ۵۲۹
[۲۲۰۰] د ابن مسعود رضی الله عنه عمار رضی الله عنه او حذيفه علمی مقام ۵۳۰
[۲۲۰۱] په جنت کښې د ام سليم او بلال ليدل ۵۳۱
[۲۲۰۲] د ضعيفانو مسلمانانو مقام او مرتبه ۵۳۲
[۲۲۰۳] د ابوموسٰی د خوش آوازی تعريف ۵۳۴

[۲۲۰۴]د قرآن پاک څلور جمع کونکی حافظان ۵۳۴
[۲۲۰۵]د مصعب بن عمیر ﷺ د غریبی ژوند ۵۳۵
[۲۲۰۶]د سعد بن معاذ ﷺ دپاره د عرش خوزیدل ۵۳۶
[۲۲۰۷] په جنت کښې د سعدبن معاذ د رومالونو تعریف ۵۳۷
[۲۲۰۸]د حضرت انس ﷺ په حق کښې مستجابه دعا ۵۳۸
[۲۲۰۹]د حضرت انس ﷺ په حق کښې مستجابه دعا ۵۳۹
[۲۲۱۰]د خوب په ذریعه عبد الله بن سلام ﷺ ته دجنت زیرې ۵۳۹
[۲۲۱۱]حضرت ثابت بن قیس ﷺ ته د جنت بشارت ۵۴۱
[۲۲۱۲]د حضرت سلمان فارسي ﷺ فضیلت ۵۴۳
[۲۲۱۳]د ابوهریره ﷺ دپاره د خلقو په زړونو کښې د محبوبیت دعا ۵۴۴
[۲۲۱۴]د کمزورو مسلمانانو خفه کول او دالله تعالی غصه ۵۴۵
[۲۲۱۵]د انصارو سره محبت اود ایمان نښه ۵۴۶
[۲۲۱۶]د انصار و محبت د الله تعالی د محبت ذریعه ۵۴۷
[۲۲۱۷]د انصارو خوشحالولو دپاره حیرانکونکی جمله ۵۴۷
[۲۲۱۸]د انصارو درې خصوصیات ۵۴۹
[۲۲۱۹]انصارو سره د کمال قرب او تعلق اظهار ۵۵۱
[۲۲۲۰]د نبی علیه السلام انصارو سره د محبت اظهار ۵۵۳
[۲۲۲۱] انصارو سره د احسان کولو وصیت ۵۵۳
[۲۲۲۲] مالګې سره د انصارو تشبیه ۵۵۵
[۲۲۲۳]د انصارو درې نسلوته دعا ۵۵۶
[۲۲۲۴]د انصارو بهترینې قبیلې ۵۵۷
[۲۲۲۵]د حاطب بن ابي بلتعه د معافی واقعه ۵۵۸
[۲۲۲۶]په فرشتو کښې د اهل بدر د شرکاء فضیلت ۵۶۱
[۲۲۲۷]د اصحاب بدر او حدیبیه فضیلت ۵۶۲
[۲۲۲۸]د اهل حدیبیه فضیلت ۵۶۳
[۲۲۲۹]د اصحاب بدر مرتبه ۵۶۴
اَلْفَصْلُ الثَّانِي ۵۶۶

[۲۲۳۰]د شیخینو او ابن مسعود رضی الله عنه فضیلت ۵۶۶
[۲۲۳۱]د عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه د امارت استحقاق................................ ۵۶۷
[۲۲۳۲]د ابن مسعود رضی الله عنه فضیلت د ابوهریره رضی الله عنه په ژبه.......... ۵۶۸
[۲۲۳۳]د بعضې صحابؤ رضی الله عنهم فضیلت ۵۶۹
[۲۲۳۴]د درې صحابؤ داخلیدو ته د جنت شوق ۵۷۰
[۲۲۳۵]د حضرت عمار رضی الله عنه فضیلت ۵۷۱
[۲۲۳۶] سخت کارته غاړه ورکول او عمار رضی الله عنه ۵۷۱
[۲۲۳۷]فرشتې او د سعد بن معاذ رضی الله عنه جنازه پورته کول................................ ۵۷۲
[۲۲۳۸]د ابوذر رضی الله عنه د صداقت ستائنه ۵۷۳
[۲۲۳۹]په زهد کښې د ابوذررضی الله عنه عیسی علیه السلام سره مشابهت ۵۷۳
[۲۲۴۰]د څلورو صحابؤ د علم فوقیت ۵۷۴
[۲۲۴۱]د حذیفه رضی الله عنه او ابن مسعود رضی الله عنه فضیلت ۵۷۵
[۲۲۴۲]د محمد بن مسلمه رضی الله عنه د فتنو څخه حفاظت................................ ۵۷۶
[۲۲۴۳] نبی علیه السلام او د عبد الله بن زبیر رضی الله عنه تحنیک ۵۷۷
[۲۲۴۴]معاویه رضی الله عنه ته د نبی علیه السلام دعا ۵۷۸
[۲۲۴۵]د عمرو بن العاص د ایمان ګواهی ۵۷۹
[۲۲۴۶]د جابر رضی الله عنه پلار سره د الله تعالی بې حجابه خبرې کول ۵۸۰
[۲۲۴۷] جابر رضی الله عنه دپاره پنځه ویشت ځله د مغفرت دعا غوښتل................................ ۵۸۱
[۲۲۴۸]د براء بن مالک رضی الله عنه منقبت ۵۸۲
[۲۲۴۹]اهل بیت او انصار................................ ۵۸۳
[۲۲۵۰]مؤمن اود انصارو سره بغض نه ساتل ۵۸۳
[۲۲۵۱]د ابوطلحه رضی الله عنه د قوم فضیلت................................ ۵۸۴
[۲۲۵۲]د اهل بدر فضیلت................................ ۵۸۴
[۲۲۵۳]سلمان فارسي رضی الله عنه او اهلِ فارس................................ ۵۸۵
[۲۲۵۴]په عجمیانو د نبی علیه السلام اعتماد ۵۸۶
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۵۸۷
[۲۲۵۵]د نبی کریم ﷺ څلوارلس نقباء ۵۸۷

[۲۲۵۲] د عمار ﷺ دالله تعالی دشمن ۵۸۸
[۲۲۵۷] خالد ته د سیف الله لقب ورکول ۵۸۹
[۲۲۵۸] خلورو صحابو سره د محبت ساتلو حکم خداوندی ۵۹۰
[۲۲۵۹] ابوبکر ﷺ او بلال د عمر په عدالت کښې ۵۹۱
[۲۲۲۰] د بلال ﷺ د ابوبکر ﷺ څخه مطالبه ۵۹۱
[۲۲۲۱] د ابوطلحه ﷺ په کور کښې د نبی علیه السلام میلمه ۵۹۳
[۲۲۲۲] خالد ﷺ بن ولید ته د سیف الله لقب ملاویدو موقع ۵۹۵
[۲۲۲۳] انصارو دپاره دعا ۵۹۲
[۲۲۲۴] انصار د زیاتو شهیدانو خاوندان ۵۹۲
[۲۲۲۵] د بدری صحابو وظیفه ۵۹۷
دَ اهل بدر نه دَهغه یوڅو صحابه کرامو نومونه کوم چه بخاری کښې ذکر دی ۵۹۸
[۳۳] باب ذکر الیمن والشام وذکر اویس القرنی ۲۰۱
د یمن او شام او د اویس قرنی د ذکر باب ۲۰۱
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۲۰۲
[۲۲۲۲] د حضرت اویس قرني رحمه الله فضیلت ۲۰۲
[۲۲۲۷] د اهلِ یمن فضیلت ۲۰۴
[۲۲۲۸] د ګډبه خلقو تعریف ۲۰۵
[۲۲۲۹] د مدینې څخه مشرق طرف د فتنو مرکز ۲۰۲
[۲۲۷۰] حجازیان د ایمان خاوندان ۲۰۲
[۲۲۷۱] د شام او یمن دپاره د برکت دعا ۲۰۷
اَلْفَصْلُ الثَّانِي ۲۰۸
[۲۲۷۲] د اهلِ یمن په باره کښې دعا ۲۰۸
[۲۲۷۳] په شام باندې د فرشتو وزرې خورول ۲۰۹
[۲۲۷۴] د حضر موت ذکر ۲۰۹
[۲۲۷۵] د شام فضیلت ۲۱۰
[۲۲۷۲] آخره زمانه کښې شام ته د هجرت کولو حکم ۲۱۱
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۲۱۳

[۲۲۷۷] د شام په خلقو د علی رضی الله عنه د لعنت کولو څخه انکار ۲۱۳
[۲۲۷۸] د دمشق د انتخاب ترغیب ۲۱۵
[۲۲۷۹] خلافت په مدینه کښې او ملوکیت په شام کې ۲۱۶
[۲۲۸۰] د شام فضیلت ۲۱۶
[۲۲۸۱] د دمشق د ښار غوره والې ۲۱۷
[۲۲۸۲] په دمشق ښار د عجمی حکمران عدم غلبه ۲۱۷
[۲۴] باب ثواب هذه الامة ۲۱۸
دَدې امت دَفضيلت بيان ۲۱۸
اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ ۲۱۹
[۲۲۸۳] وخت کم او ثواب زيات ۲۱۹
[۲۲۸۴] د راتلونکو امتيانو يو فضيلت ۲۲۰
[۲۲۸۵] ترقيامته پورې د هدايت يافته ډلې پيشنگوئی ۲۲۱
اَلْفَصْلُ الثَّانِي ۲۲۲
[٦٢٨٦] دأمت محمدي مثال ۲۲۲
اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ۲۲۳
[۲۲۸۷] د امت محمدي دوه مثالونه ۲۲۳
[۲۲۸۸] د ايمان بالغيب په اعتبار سره غوره امت ۲۲۴
[۲۲۸۹] د آخری زمانې د غوره ډلې درې صفات ۲۲۶
[۲۲۹۰] په ناديده د ايمان راوړلو فضيلت ۲۲۶
[۲۲۹۱] د روسته زمانې دامتيانو فضيلت ۲۲۷
[۲۲۹۲] د محدثينو فضيلت ۲۲۸
[۲۲۹۳] امت محمدی ته د درې څيزونو معافی ۲۲۹
[۲۲۹۴] د دې امت انتهائي درجه فضيلت ۲۳۱

[۴] بَابُ الْمَبْعَثِ وَبَدْءِ الْوَحْيِ]

بعثت نبوی او دَ وحی دَ نازلیدلو بیان

خلاصة الباب:

فیه اربعة عشر حدیثاً مشتملة علی خمس مسائل:

① وقت البعث: ۱.

② بدء الوحی : ۲، ۵، ۶، ۱۴.

③ وقت موت النبي ﷺ : ۱، ۳، ۴.

④ تحمل الشدائد فی تبلیغ القران: ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳ .

⑤ تحمل المشقة فی نزول الوحي : ۷، ۸.

دترجمة الباب د اجزاء تسهیل:

قوله: بَابُ الْمَبْعَثِ

د بعثت دوه معانی: ① دالفظ دَ بعث نه دي اوچتولو ژوندی کولو په معنی راخی ② د لیگلو په معنی کښې راخی. دلته دا دویمه معنی مراد ده

قوله: وَبَدْءِ الْوَحْيِ

د نبوت اعلان: حضورپاك ته دَخلویښتو کالو په عمر کښې نبوت ملاویدلو نه دري کاله پس حضور پاك صفاغرته اوختلواو په کولاوالفاظو کښې دَ نبوت اعلان اوکړو دَ نبوت دیارلس کاله حضورپاك په مکه کښې تیر کړل اولس کاله په مدینه منوره کښې اوسیدلو دغه شان چه کله دَ نبوت ۲۳ کاله پوره شونو الله تعالی خپل طرف ته راؤغوښتلو او ۶۳ کالو په عمر کښې دَحضورپاك وصال اوشو.

قوله: الْوَحْيِ

د وحی لغوی معنی: هوالاشارة الخفیة یعنی په لغوی اعتبارسره وحی. رمز اومخفی اشاره اوکنایه او پټې خبرې او پیغام لیګلواو القاء اوالهام ته ونیلی شی

د وحی اصطلاحی تعریف: ملاعلی قاری رحمه الله دَ اصطلاحی وحی تعریف داسې کړې دې. "وشرعًا هوالاعلام بالشرع" یعنی دَ انبیاء کراموطرف ته شرعی پیغام رسولونوم وحی ده. دَ انبیاء کراموطرف ته

د وحی حقیقت: قرآن کریم چونکه په نبی ﷺ د وحی په ذریعه نازل شوې دې نوددې وجې د ټولونه اول د وحی په باره کښې څو خبرې پیژندل ضروری دی.

د وحی ضرورت: هرمسلمان ته پته ده چې الله ﷻ انسان دې دنیا ته د امتحان دپاره

رالیږلې دي او په ده باندې ئې څه فرائض مقرر کړی دی. اوټول کائنات ئې دده په خدمت کښې لګیا کړی دی. نو دنیاته د راتلونه پس دانسان دپاره دوه کارونه ضروری دی. یو دا چې ددې کائناتو نه کوم چې د ده نه څلور واړه طرفونوته پراته دی. ددې نه صحیح صحیح کار واخلی. دویم دا چې دا کائنات په خپل استعمال کښې راولی. او چې دالله ﷻ داحکامو خیال په کښې اوساتی. او داسې څه حرکت اونکړی. چې دالله ﷻ درضا خلاف وی.

دعلم ضرورت: ددې دواړوکارونو دپاره ده ته د علم ضرورت دې څکه چې ترتر څور پورې ده ته دا معلومه نه وی. چې ددې کائناتو حقیقت څه دې؟ددې دفلانی څیزخواص څه دی؟ددې نه څنګه فائده اخستلې شی. نوترهغه وخته پورې دې د دنیا هیڅ یوڅیزدخپلې فائدې دپاره نشی استعمالولے.دغه شان چې تر څور پورې ده ته دا معلومه نه وی. چې دالله ﷻ رضا څه ده؟هغه کوم کارونه خوښوی.؟ او کوم کارونه نه خوښوی؟ ترهغه وخته پورې د هغه دپاره دالله ﷻ د رضا مطابق اوسیدل ممکن نه دی.

دعلم د تحصیل درې ذرائع: نوالله ﷻ دانسان پیدا کولو سره سره درې څیزونه داسې پیدا کړی دی چې دهغې په ذریعه ده ته دیورتنو خبرو علم کیدیشی. [چې دکائناتو نه به څنګه فائده اخلی. اودالله ﷻ د رضا حصول به څنګه کوی؟ [ازمترجم]

① یو دانسان حواس یعنی سترګې غوږونه، پوزه،خوله اولاسونه پښې ② دویم عقل ③ او دریم وحی. انسان ته زیاتې خبرې دخپلو حواسو په ذریعه معلومیږی. او ډیرې دعقل په ذریعه اوکومې خبرې چې په دې دواړو ذرائعو باندې نشی معلومې دې. نو د هغې علم د وحی په ذریعه باندې ورکولې شی.

دعلم په ذرائعو کښې ترتیب: دعلم په دې دریو ذرائعو کښې ترتیب څه داسې دے چې د هر یو خپل حد اومخصوص دائره کار دې چې دهغې نه وراندې کار نه کوی. نو کوم څیزونه چې انسان ته دحواسو په ذریعه معلومیږی. دهغې علم صرف دعقل په ذریعه نشی معلومې دې مثلا اوس ماته مخامخ یوانسان ناست دې ماته دخپلو سترګو په ذریعه دا معلومه شوه.چې دا انسان دې هم سترګو ماته دا اوخودلو.چې دده رنګ بادامی دې اوتن دا ینۍ پلن دې ویخ ته یۍ تور دی. شونډې ئې نرۍ دی. اومخ ئې کتابی دې لیکن که هم دا خبرې زه خپل حواس بیکاره کړم.او دعقل په ذریعه معلومول غواړم.مثلا چې سترګې بندې کړم.او دا اوغواړم.چې ددې انسان رنګ اوده داندامونو صحیح صحیح جوړخت څنګه دې؟ او دده د سر نه تر پښو پورې صحیح شکل ماته صرف په خپل عقل سره شی معلوم شی. نودا ناممکنه ده.

د عقل دائره کار: دغه شان چې د کوموڅیزونوعلم په عقل سره حاصلیدې شی.نو هغه

صرف په حواسو نه معلومیږي. مثلا ددغه کس په باره کښې ماته دا هم معلومه ده.چې د ده به خامخا مور هم وی. دغه شان راته هم علم دې چې دې به چا پیدا کړی وی. اګرچې په هغه وخت کښې نه دهغه مور ماته مخامخ شته.او نه دهغه پیدا کونکې زه وینم.لیکن زما عقل دا ښائی.چې داکس په خپله نشی پیداکیدې.اوس که داعلم دعقل په ځائې دخپلو سترګو په ذریعه حاصلول غواړم.نودا ممکن نه ده.ځکه چې دهغه دتخلیق او پیدائش منظرزما د سترګو وړاندې نه دې. غرض دا چې ترکومې پورې د حواس خمسه تعلق دې هلته عقل څه راهنمائی نه کوی. اوپه کوم ځائې کښې چې حواس خمسه بې کاره شی. نوهلته کښې عقل کار شروع کړی. لیکن ددې عقل راهنمائی هم غیر محدود نه ده.بلکه دا هم چې یو ځائې ته لاړ شی. اواودریږی.

د وحی دائره کار: ډیرې خبرې داسې دی چې نه هغه دحواسو په ذریعه حاصلیدې شی. اونه دعقل په ذریعه.مثلا ددغه کس په باره کښې خو عقل دا اوخودل. چې دے چا پیدا کړیدې لیکن دا سړې یې ولې پیدا کړیدې په ده باندې دالله ﷻ د طرف نه څه فرائض دی؟ دده کوم کار دالله ﷻ خوښ دې اوکوم کار یې ناخوښه دې. دا سوالونه داسې دی. که عقل او حواس یوځائې شی. نوهم ددې جواب نشی ورکولې. انسان ته ددې سوالاتو دجوابونودپاره چې الله ﷻ کومه ذریعه پیدا کړې ده.د هغې نوم "وحی" دې.

او ددې طریقه دا وی چه الله تعالی په خپلو بندګانو کښې څوك منتخب کوی او خپل پیغمبر ئې ګرځوی او په هغه باندې خپل کلام نازلوی، هم دې کلام ته "وحی،، وائی

د علم په ذرائعو کښې د وحی عظمت: ددې نه معلومه شوه.چې وحی د انسان دپاره هغه اوچته ذریعه دعلم ده.چې ده ته دده د ژوند متعلق د هغه سوالونو جوابونه ورکوی. چې هغه د عقل او حواسو په ذریعه نشی حل کیدې. لیکن دهغې علم حاصلول د ده دپاره ضروری دی. د پورتنی وضاحت نه دا هم معلومه شوه.چې صرف عقل او مشاهده د انسانی رهنمائې دپاره کافی نه ده.بلکه دده د هدایت دپاره دالله ﷻ وحی یو اهم ضرورت دې اوچونکه بنیادی طور د وحی ضرورت په هغه ځائې کښې راځی. په کوم ځائې کښې چې عقل کار نه کوی. نوځکه دا ضروری نه ده.چې دوحی دهرې خبرې ادراك دې په عقل سره اوشی. لکه څنګه چې د یوځیز رنګ معلومول د عقل کار نه دې بلکه دحواسوکار دې. دغه شان د ډیرو دینی معتقداتو علم حاصلول دعقل په ځائې د وحی منصب دې. اودهغې د ادراك دپاره صرف په عقل باندې بهروسه کول ټیك نه دی. [۱]

---

[۱] دلته کښې د وحی ضرورت ته ډیر اجمالی اشارې اوشوې. په دې موضوع باندې دتفصیلی بحث دپاره "تمهید ابی شکورسالمی رحمه الله صفحات ۶۸ تا ۷۲ اود مولانا شمس الحق افغانی رحمه الله کتاب "علوم القرآن" صفحات ۳ تا ۱۸ مطبوعه اداره مطبعه فاروقیه بهاولپور کال ۱۳۸۹هجری اوګورئ.

او معاذالله هغه ماده پرستو خلقو چې هغوی د سر نه د الله ﷻ د وجود نه منکر دی. هغوی سره خو د وحی په مسئله باندې خبرې کول بالکل فضول دی. ځکه څوك چې دالله ﷻ د وجود نه منکر وی. نو دهغه دپاره ممکن نه دی.چې هغه د وحی په حقیقت په کهولاو زړه سره غور اوکړی. اوپه سراو سترګو دا تسلیم کړی. هغه سره خو د ټولو نه وړاندې د الله ﷻ په وجود باندې دخبرو کولو ضرورت دې. باقی پاتی شوهغه کسان چې د الله ﷻ د وجود قائل دی. نو دهغوی دپاره دوحی عقلی ضرورت ،دې امکان اوددې حقیقی وجود پیژندل څه ګران نه دی.

د عاقل فعل د حکمت نه خالی نه وی : که ته دا یقین ساتې.چې دا کائنات یو قادر مطلق پیدا کړی دی.او هم هغه دا مربوط اومستحکم نظام په خپل حکمت بالغه سره چلوی. اوهم هغه انسان د یو خاص مقصد دپاره دلته رالیږلې دې. نوبیا دا څنګه ممکن ده.چې انسان به یئ پیدا کړی وی. او داسې به یئ په تیارهٔ کښې پریخے وی. اوهغه ته به دومره قدرې نه ښائی. چې دې دڅه دپاره دے دنیا ته راغلې دې؟ دلته کښې دده څه ذمه وارئ دی. اودده څه منزل مقصود دې. او دې به څنګه خپل ژوند تیروی. آیا یوکس چې عقل اوحواس ئے کار کوی. داسې کولې شی. چې د څه خاص مقصد دپاره خپل نوکر په سفر باندې اولیږی. او هغه ته نه په سفر د روانیدو په وخت کښې د سفر مقصد اوښائی. او نه بیا روستو په څه ذریعه هغه خبر کړی. چې دې د څه کار دپاره لیږلې شوې دې او دسفر په دوران کښې به دده ذمه واری څه وی؟کله چې یو معمولی انسان داسې حرکت نشی کولې.نو بیا د هغه پاك ذات په باره کښې دا تصور څنګه کیدیشی. چې دهغه په حکمت بالغه د کائناتو دا ټول نظام چلیږی. آخر دا څګه ممکن ده.چې کوم ذات سپوږمئ. نمر آسمان. زمکه. ستوری او د سیارو دا عقل حیرانونکې نظام پیدا کړیدې. هغه به خپلو بندګانو ته د پیغام رالیږلو داسې څه انتظام نشی کولې چې دهغې په ذریعه انسانانو ته دهغوی د ژوند دمقصد په باره کښې هدایات ورکړی. که د الله ﷻ په حکمت بالغه باندې ایمان وی. نوبیا به دا منل هم ضروری وی. چې هغه خپل بندګان په تیارهٔ کښې نه دی پریخی. بلکه د هغوی د لار خودلو دپاره به یئ څه باقاعده نظام ضرور جوړ کړې وی. بس د لار خودلو ددې باقاعده نظام نوم وحی او رسالت دې

عدم مشاهده دلیل د عدم وجود نه دې؛ ددې نه ښکاره ثابته شوه. چې "وحی" صرف دینی اعتقاد نه دې .بلکه یو عقلی ضروت دې ددې نه انکار په حقیقت کښې د الله ﷻ د حکمت بالغه نه انکار دې.

په نبی ﷺ دوحی طریقې:① د وحی او رسالت دا مقدّسه سلسله د دوارو جهانونو په سردار محمد مصطفی ﷺ باندې ختمه شوه، اوس به نه په یو انسان باندی وحی نازلیږی

او نه ددې ضرورت شته.

په نبی ﷺ هم په مختلفو طريقو وحی نازله شوې ده.دصحيح بخاری په يو حديث کښې حضرت عائشه ﵂ فرمائي. چې يوځل حضرت حارث بن هشام [۱] د نبی ﷺ نه تپوس اوکړلۀ چې په تاسو به وحی څنګه راتله؟ نونبی ﷺ اوفرمائيل:[أحيانا يأتيني مثل صلصلة الجرس وهو أشده علي فيفصم عني وقد وعيت ما قال وأحيانا يتمثل لي الملك رجلا] [۲] کله خو به ماته د ټلئ آواز اورولې شو.او د وحی دا صورت زما دپاره د ټولو نه زيات سخت وو.بيا چې کله دا سلسله ختمه شوه.نو چې څه آواز به وو.هغه به ماته ياد شوې وو.اوکله به فرښته ماته مخامخ د سړی په شکل کښې راتله. [صحيح بخاری ج۱ ص۲] ۱

په دې حديث کښې نبی کريم ﷺ د وحی آواز لره د ټلئ آواز سره تشبيه ورکړې ده شيخ حضرت محی الدين ابن عربی رحمه الله نه ددې تشبيه کوم مطلب نقل کړېدې. هغه د ذکر شوو ټولوتوجيهاتونه زيات لطيف دې. دهغوی وينا دا ده چې دا تشبيه صرف په دوو اعتبارو سره ورکړې شوې ده.يوخو دآواز تسلسل سره وی.لکه څنګه دټلئ آوازمسلسل وی.اونه اودريږی.

اودويم په دې اعتبار سره چې ټلئ مسلسل ټنګيږی. نو اوريدونکی ته عام طور د هغې د آواز طرف متعين کول ګران وی. ځکه چې د هغې آواز د هر طرف نه محسوسيږی. اوالله ﷻ چونکه د جهت اومکان نه پاك دې. نو ځکه د کلام الهی دا خصوصيت دے چې د هغه آواز د يوطرف نه نۀ راځی. بلکه د هرطرف نه راځی. ددې کيفيت صحيح ادراك د مشاهدې نه بغير ممکن نه دې ليکن دا خبره عامو ذهنونو ته د نزدې راوستلو دپاره ددې تشبيه نبی ﷺ د ټلئ د آواز سره ورکړې ده. [۳]

د دې قسم د سختوالی وجه: کله چه به په دې طريقه نبی عليه السلام باندې وحی نازليده نو داپه نبی ﷺ د ټولو نه زياته سخته وه. ددې سره به په نبی ﷺ زيات بوج پريوتلو [۴] حضرت عائشه ﵂ د پورتنی حديث په آخر کښې فرمائي.چې [ولقد رأيته ينزل عليه الوحي في اليوم الشديد البرد فيفصم عنه وإن جبينه ليتفصد عرقا] [۵] ما د سخت ژمی په ورځ نبی ﷺ د وحی نازليدو په وخت کښې ليدلې وو.[چې په داسې يخنئ کښې هم] چې کله به د وحی

[۱] حضرت حارث بن هشام ﵁ په اوچتو صحابه کرامو کښې دې دمکه دفتح په موقعه يې اسلام راوړلې او په کال ۱۵هجری کښې دشام په فتح کولو کښې شهيد شوې وو.[القسطلانی:ارشادالساری ۵۷/۱ بولاق مصر کال ۱۳۲۳هجری]

[۲] صحيح بخاری ۲/۱، اصح المطابع کراچی

[۳] فيض الباری ۱۹/۱، ۲۰] قاهره کال شي ۱۳۵۷هجری]

[۴] فتح الباری [۱۶/۱] قاهره کال ۱۳۵۷هجری

[۵] صحيح بخاری [۲/۱] حديث نمبر ۳ ۰۰

سلسله ختمه شوه.نو د نبی ﷺ د تندی نه به خولې بهیدلې.په یو بل روایت کښې حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائي.چې کله به په نبی ﷺ وحی نازلیدله.نو د نبی ﷺ ساه به بندیدله.او مخ مبارك به يې بدليدو.اود کهجورے د شاخ پشان به زیړ شو.مخامخ غاښونه به يې يخنۍ نه رچیدل.او په نبی ﷺ به دومره خوله راتله.چې دهغې څاڅکی به د ملغلرو پشان څڅیدل.[۱]

دحضرت زید بن ثابت واقعه: دوحی په دې کیفیت کښې به بعضې وخت دومره سخت والی پیدا شو.چې نبی ﷺ به په هغه وخت کښې په کوم څاروی سور وو.نو هغه به د ډیر بوج د وجې کیناستلو.او یوځل نبی ﷺ خپل سر مبارك د حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه په پتون باندې ایخودے وو.چې په دې حالت کښې د وحی نزول شروع شو.په دې باندې د حضرت زید رضی الله عنه په پتون دومره بوج پریوتلو.چې ماتیدوته نزدے وو[۲] بعضې وخت به ددې وحی معمولی معمولی آواز نوروهم اوریدلو.حضرت عمر رضی الله عنه فرمائي. چې کله به په نبی ﷺ وحی نازلیدله. نود نبی ﷺ د مخ مبارك سره به د شاتو د مچو پشان بنګار اوریدے شو.[۳]

تمثیل ملك: ② د وحی دویم صورت چې په دې حدیث کښې ئې ذکر دادې وو.چې فرښته به انسانی شکل کښې راغلۀ.او نبی ﷺ ته به يې پیغام راوړو.په داسې موقع به اکثر حضرت جبرئیل علیه السلام د مشهور صحابی حضرت دحیة کلبی رضی الله عنه په صورت کښې تشریف راوړلو. البته په بعضې وختونو کښې په نورو صورتونو کښې هم دحضرت جبرئیل علیه السلام راتلل ثابت دی. بهر حال د وحی په دې صورت کښې به فرشته په انسانی شکل کښې راتلۀ. اود وحی په دې طریقه کښې به په نبی ﷺ څه سختی نه راتله.

دفرښتې په خپل اصلی شکل کښې راتلل: ③ د وحی دریم صورت دا وو.چې حضرت جبرئیل علیه السلام د انسانی شکل جوړولو نه بغیر په خپل اصلی شکل کښې ښکاره کیدلو. داسې د نبی ﷺ په ټول عمر کښې درې ځله شوی وو.یوځل هغه وخت چې د نبی ﷺ په خپله د جبرئیل علیه السلام په خپل اصلی شکل کښې د لیدلو خواهش کړې وو.دویم ځل په معراج کښې او دریم ځل بیخی د نبوت په ابتدائی زمانه کښې په مکه مکرمه کښې په مقام اجیاد باندې اولنۍ دوه واقعې ت خو په صحیح سند سره ثابتې شوی دی. خو آخری دریمه واقعه د سند د کمزورۍ د وجې مشکوکه ده.[۴]

---

[۱] السیوطی الاتقان [۴۶/۱] قاهره کال ۱۳۶۸ هجری بحواله ابن سعید
[۲] ابن قیم زادالمعاد في هدی خیرالأنام [۱۹،۱۸/۱] الطبعة المیمنیة مصر.
[۳] ایضا [۲۱۲/۲۰]
[۴] د تفصیل دپاره اوګورئ فتح الباری [۱۸،۱۹،/۱]

الله تعالی سره خبري کول: ④دوحی څلورم صورت دا وو چې نبی ﷺ ته هم الله ﷻ سره براه راست د خبروکولوشرف حاصل شوې وو. دبيدارئ په حالت کښې دا واقعه صرف د معراج په موقعه پيشکه شوې وه. ددې نه علاوه يوځل نبی ﷺ په خوب کښې هم الله ﷻ سره خبرې کړې وې [الإتقان ۴۶/۱]

نفث فی الروع: ⑤د وحی پنځمه طريقه دا وه چې حضرت جبرئيل ﷺ به بغير د څه شکل اختيارلو نه د نبی ﷺ په زړه کښې څه خبره واچوله.
دې ته په اصطلاح کښې ''نفث فی الروع،، وائی. [ايضاً]

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۸۳۷] نبی کريم ﷺ ته د څلوېښت کالو په عمر کښې نبوت ملاويدل

۵۸۳۷-() [۱] ①وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ ②«بُعِثَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِأَرْبَعِينَ سَنَةً ③فَمَكَثَ بِمَكَّةَ ثَلَاثَةَ عَشْرَةَ سَنَةً يُوحَى إِلَيْهِ ④ثُمَّ أُمِرَ بِالْهِجْرَةِ فَهَاجَرَ عَشْرَةَ سِنِينَ ⑤وَمَاتَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ سَنَةً.» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي ②چه رسول الله ﷺ د څلوېښت کالو په عمر کې د رسالت منصب او نبوت باندې فائز شو ③ددې نه وروسته حضور ﷺ ديارلس کاله په مکه کې وو چې وحي به ورته کيدله ④او بيا حضور ﷺ ته د هجرت حکم وشو نو مکې نه يې هجرت وکی او لس کاله په مدينه کې وو ⑤کوم وخت چې حضور ﷺ وفات شو نو عمر مبارك يې دروشپيته کاله وو. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ①فَمَكَثَ: أَيْ: فَلَبِثَ: پاتې شو، وخت ئې تيرکړو.

تسهيلات:

قوله: وَمَاتَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ سَنَةً:

د حضور پاک صلی الله عليه وسلم عمر مدت: د نبی عليه السلام د عمر په مقدار کښې درې روايات ①په دې روايت کښې دحضورپاك مکی ژوندون ۱۳ کاله خودلې شوې دې اومدنی ژوندون لس کاله خودلې شوې دې اوپوره عمرئی ۶۳کاله بيان کړې شوې دې دا روايت بنيادی حيثيت لری هم دې ته امام بخاری رحمه الله ترجيح ورکړې ده
② د نبی عليه السلام عمر ۶۰کاله وو په دې کښې داسې تاويل کولې شی چې راوی د پيدائش نمکړې کال او د وفات نيمکړې کال ساقط کړی دی

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب مبعث النبی صلی الله عليه وسلم (رقم-۳۸۵۱) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب کم أقام النبی صلی الله عليه وسلم بمکة والمدينة؟ (رقم-۱۱۷ - (۲۳۵۱) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۶۵۲)واحمد فی المسند:۳۷۱/۱

③ د نبی علیه السلام عمر ۶۵ کاله وو په دې کښې داسې تاویل کولې شی چې راوی د پیدائش نمکړې کال او د وفات نیمکړې کال پوره حساب کړې دې.

[۵۸۳۸] د نزول وحي ابتداء

۵۸۳۸-(۱) [۲] ① وَعَنْهُ، قَالَ «أَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِمَكَّةَ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً يَسْمَعُ الصَّوْتَ ② وَيَرَى الضَّوْءَ سَبْعَ سِنِينَ وَلَا يَرَى شَيْئًا ③ وَثَمَانِ سِنِينَ يُوحَى إِلَيْهِ ④ وَأَقَامَ بِالْمَدِينَةِ عَشْرًا وَتُوُفِّيَ ⑤ وَهُوَ ابْنُ خَمْسٍ وَسِتِّينَ سَنَةً». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وایې رسول الله ﷺ ته رسالت ورکولو نه وروسته پنځلس کالو نه ابتدائي اووه کاله کې د حضرت جبرائیل علیه السلام اواز یا محمد به یې اوریدی ② او په تیارو شپوکې به یې یوه عجیبه رڼا لیدله تر اووکالو پورې ددې نه علاوه بل شی ورته په نظر نه راتلو ③ بیا د دې پنځلس کالو په آخرکې د اته کاله موده کې وربانډې وحي نازلیدلې ④ ددې نه وروسته حضور ﷺ په مدینه کې لس کاله تیرکړل او کوم وخت چې وفات شو ⑤ نو عمر یې ۶۵ کاله وو. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① يَسْمَعُ الصَّوْتَ: أَيْ: صَوْتَ جِبْرِيلَ: دجبرئیل علیه السلام آواز به ئې آوریدلو. ② يَرَى الضَّوْءَ: رڼا به ئې لیدله

تسهیلات:

قوله: خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً:

د نبی علیه السلام د عمر موده: دلته حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دَ حضورپاك دَ پیدائش كال دَ هجرت كال پوره پوره كال شمیرلې دې په كوم سره چه دَمكى دور نبوت موده پنځلس كاله جوړیږی په دې وجه ئې دَ حضورپاك پوره عمر ۶۵ كاله ګرځولې دې

پورته روایت كښې دَمكى دور نبوى ژوندون ۱۳ كاله خودلې شوې دې لهذا پوره عمر ۶۳ كاله شمیركړې شو هغه روایت راجح دې

باقی هغه روایات په كوم كښې چه مكى دور نبوت لس كاله خودلې شوې دې هلته دَ یودهائی نه زیات ۳ كاله كسر ګڼړلوسره نه دی شمیرلې شوې عرب داسې كوی مدنی دور لس كاله باندې مشتمل دې په دې كښې اختلاف نشته دې

قوله: يَسْمَعُ الصَّوْتَ وَيَرَى:

په ابتداء كښې د فرښتو نه لیدولو حكمت: په دې كښې حكمت دا ووكه په شروع كښې فرښته لیدلې وې نوكیدې شی چه دَوحی تحمل مشكل شوې وې لهذا اول به ورته صرف

---

[۱] اخرجه مسلم فی كتاب الفضائل/باب كم أقام النبی صلى الله علیه وسلم بمكة والمدینة؟ (رقم-۱۲۳-(۲۳۵۳)والترمذی فی كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله علیه وسلم/باب فی سن النبی صلى الله علیه وسلم وابن كم كان حین مات (رقم-۳۶۵۱)واحمد فی المسند:۱/۲۶۶

آواز اوریدلې کیدو او بیابه یوه رڼرا ښکاریدله په دې وجه چه مخکښې وحی سره او فرښتې سره یوانس او الفت پیداشي او بیا فرښته وحی راوړو سره راشي.

اشکال: په دې حدیث سره په واضحه توګه باندې معلومه شی چه په حضورپاك باندې آواز اوریدل او نور لیدلو کیفیت دَنبوت ملاویدونه پس مکه مکرمه کښې ښکاره کیدلو حالاتکه دَوحی دَملاویدلو نه پس دَدغه نور کتلو او دَ آواز اوریدلو ضرورت نه وو اونه داسې قسم واقعات ښکاره شوی دی. بیا دَدې حدیث څه مطلب دې چه تر اووه کالوپورې آوازونه راتلل؟

دَاشکال دوه جوابونه: ① انوارات کتل او آوازونه اوریدلو داواقعات دَ نبوت دَزمانې نه دَمخکښې زمانې دی. تاریخی واقعات او دَاحادیثو تصریحاتونه ثابتیږی چه دَ انواراتو کتل او دَ آوازونو اوریدل دَنبوت دَ ملاویدونه دَ مخکښې دور واقعات دی. دَ زیر بحث حدیث په مقابله کښې هغه احادیث قابل ترجیح دی.

② دَ زیر بحث حدیث تعلق هغه دور سره دې په کوم کښې چه وحی منقطع شوې وه. حضورپاك به پریشانه وو. دَ انقطاع وحی هم په دغه زمانه کښې حضورپاك ته دَ تسلئی ورکولودَپاره غیبی آوازونه راتلل او رڼراګانې به پرقیدلې دې دَپاره چه حضورپاك خپل خان په خطره کښې وانچوی. مګر دا رڼراګانې او آوازونه مسلسل نه وو بلکه وخت په وخت او کله کله به وو او دَ اووه کالوپورې دا سلسله روانه وه. دا جواب واضح او آسان دی.

قوله: وَلَا يَرَى شَيْئًا: دَدې مطلب دادې چه آوازونه او رڼراګانې خو وې مګر څه فرښته وغیره به نه ښکاریدله.

[۵۸۲۹] د نبی کریم ﷺ دوفات عمر

۵۸۲۹-(۱) [۳] ① وَعَنْ أَنَسٍ، قَالَ ② «تَوَفَّاهُ اللَّهُ رَأْسَ سِتِّينَ سَنَةً.» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت انس ﷛ وايي ② الله ﷻ حضور ﷺ د دريو شپيته کاله عمر پوره کېدو باندې وفات کی (بخاري مسلم)

نوټ: د دې حديث تسهيل د دې څخه وړاندې حديث نمبر (۵۸۳۸) کښې تيرشوې دې.

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب اللباس/باب الجعد (رقم-۵۹۰۰) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب فی صفة النبی صلی الله علیه وسلم. ومبعثه. وسنه (رقم-۱۱۳ - (۲۳۴۷) ومالک فی الموطا فی کتاب صفة النبی صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی صفة النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۱)

[۵۸۴۰] د نبی کریم ﷺ او د خلفاء اربعه عمرونه

۵۸۴۰-(¹) [۴] ① وَعَنْهُ قَالَ «قُبِضَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ، ② وَأَبُو بَكْرٍ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ، ③ وَعُمَرُ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ» . ④ رَوَاهُ مُسْلِمٌ. قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ الْبُخَارِيُّ: (ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ) أَكْثَرُ.

ترجمه: ① او حضرت انس رضی الله عنه وايي رسول الله ﷺ ددرو شپيتو کالويه عمر کې وفات شو ② او د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه هم د ۶۳ کالويه عمر کې وفات شوي دي ③ او حضرت عمر فاروق رضی الله عنه هم ۶۳ کالويه عمر کې په حق ورسيدي ④ (مسلم) او محمد بن اسمٰعيل بخاري ويلي دي چې د حضور ﷺ د عمر مبارک په باره کې زيات روايتونه د ۶۳ کالو دی.

تسهيلات:

قوله: وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ،

نوټ: ددې حديث تسهيل ددې څخه وراندې حديث نمبر (۵۸۳۸) کښې تيرشوې دي.

[۵۸۴۱] د وحي د آغاز تفصيل

۵۸۴۱-(²) [۵] ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْوَحْيِ الرُّؤْيَا الصَّادِقَةُ فِي النَّوْمِ، ③ فَكَانَ لَا يَرَى رُؤْيَا إِلَّا جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ، ④ ثُمَّ حُبِّبَ إِلَيْهِ الْخَلَاءُ، ⑤ وَكَانَ يَخْلُو بِغَارِ حِرَاءٍ يَتَحَنَّثُ فِيهِ - ⑥ وَهُوَ التَّعَبُّدُ اللَّيَالِيَ ذَوَاتِ الْعَدَدِ - قَبْلَ أَنْ يَنْزِعَ إِلَى أَهْلِهِ، ⑦ وَيَتَزَوَّدُ لِذَلِكَ، ⑧ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى خَدِيجَةَ. فَيَتَزَوَّدُ لِمِثْلِهَا ⑨ حَتَّى جَاءَهُ الْحَقُّ وَهُوَ فِي غَارِ حِرَاءٍ،

ترجمه: ① او بي بي عائشه رضی الله عنها وايي ② رسول الله ﷺ باندې د وحي د نزول سلسله چې دکوم شي نه شروع شوه هغه په خوب کې د ريښتينې خوبونو په نظر راتلل وو حضور ﷺ چې به کوم خوب ليدی ③ د هغه تعبير به د ابهام او اشتباه دآميزش نه بغير داسې روښانه کيدو سره مخې ته راتلو لکه د سهار رڼا چې ښکاره وي ④ دې نه وروسته چې د نبوت د ظهور وخت شو ⑤ نوحضور ﷺ د تنهائي شوقين جوړ شو نو حضور ﷺ په غارِ حرا کې گوشه نشين شو ⑥ په دې غار کې به حضور ﷺ عبادت کوی يعنی متعدد شپې به هلته عبارت کې هغه وخت مشغول وو د څوپوري چې کور والو ته د ورتلو مينه به يې پيدا نه شوله ⑦ حضور ﷺ به د هغه عبادت دشپو د پاره د کور نه د خوراك څکاك څيزونه ورل ⑧ او هرکله چې هغه څيزونه به ختم شو نو بي بي خديجه رضی الله عنها ته به راتلو او د راتلونکو شپو په

¹) اخرجه مسلم فى كتاب الفضائل/باب كم سن النبى صلى الله عليه وسلم يوم قبض؟ (رقم-١١٤ - (٢٣٤٨) والترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٦٥٣)

²) اخرجه البخارى فى كتاب بدء الوحى/كيف كان بدء الوحى إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم؟ (رقم-٣) ومسلم فى كتاب الإيمان/باب بدء الوحى إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-٢٥٢ - (١٦٠) والترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٦٣٢) واحمد فى المسند: ٢٣٢/٦

قدر څه ځیزونه اخستو سره به بېرته غارته تلی [داسلسله دغه شان جاري وه][۹] ترديچې د حق د ظهور وخت راغې حضور ﷺ هغه وخت هم غار حراء کې وو

حل اللغات:- ①فَلَقِ الصُّبْحِ: أَيْ: ضَوْءِهِ: رڼا د سحر، ②الْخَلَاءُ: أَيْ: الْخَلْوَةُ: تنهائي، په يواځې والی کښې کيناستل، ګوشه نشين کيدل ③يَتَحَنَّثُ: أَيْ: يَتَعَبَّدُ: عبادت به ئې کولو(په ديني ابراهيمي سره، او تعبد ته تحنث ځکه اووئيلې شو چه تحنث په لغت کښې إِلْقَاءُ الْحِنْثِ عَنْ نَفْسِهِ ته وائي او په عبادت سره هم سړې د حنث يعنی ګناه نه بچ کيږي، او بله دا چه دلته باب تفعل د سلب مأخذ دپاره دې يعنی ازالۀ ګناه او ازالۀ ګناه هم عين عبادت دې) ④ذَوَاتِ الْعَدَدِ: يعنی د شمير يو څو شپې، ⑤يَنْزِعَ: أَيِ اشْتَاقَ وَمَالَ: شوق به ئې پيدا شو، مائل به شو ⑥وَيَتَزَوَّدُ: د سفر توښه، د خوراک څکاک ځيزونه چه په ګوشه نشينی کښې به په کار راتلل

> [۱] فَجَاءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ: اقْرَأْ. فَقَالَ: (مَا أَنَا بِقَارِئٍ). [۲] قَالَ: "فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدُ، [۳] ثُمَّ أَرْسَلَنِي، فَقَالَ: اقْرَأْ فَقُلْتُ: مَا أَنَا بِقَارِئٍ [۴] فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّانِيَةَ، [۵] حَتَّى بَلَغَ فِي الْجَهْدِ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي، [۶] فَقَالَ: اقْرَأْ. فَقُلْتُ: مَا أَنَا بِقَارِئٍ. [۷] فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ، [۸] حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدُ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي، فَقَالَ: [۹] ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ - [۱۰] خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ - [۱۱] اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ - [۱۲] الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ - [۱۳] عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ﴾ [العلق: ۱-۵].

ترجمه: [۱] حضور ﷺ ته فرښته يعنی جبرائيل علیه السلام او د يوه روايت مطابق اسرافيل علیه السلام راغې او هغه ورته اوويل اووئيلو حضور ﷺ جواب ورکړو ماته وئيل نه راځي [۲] حضور ﷺ فرمايي فرښتي ځما دا جواب اوريدو سره زه ښه په زور سره ونيولم ترديچې ماته تکليف ورسيدي [۳] بيا فرښتي زه پريښودم او راته يې اوويل اووئيلو ما ورته بيا اوويل زه په ويلو نه پوهيږم [۴] حضور ﷺ فرمايي فرښتي به دويم ځل زه ښه زور سره ونيولم [۵] ترديچې ماته تکليف ورسيدي بيايې زه پريښودم [۶] او راته يې اوويل اووئيلو ما ورته بيا اوويل زه وئيل نه پيژنم [۷] فرښتي په دريم ځل زه ښه زور سره ونيولم [۸] ترديچې ماته تکليف ورسيدي بيايې زه پريښودم او راته يې وويل: [۹] اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ يعنی د خپل پروردګار په نوم اووايه چې هغه ته او هرشی يې پيدا کی [۱۰] انسان يې د مور په رحم کې دجم شوي ويني نه پيدا کی [۱۱] او اووايه او ستا پروردګار د ټولو نه بزرګ او برتردی [۱۲] هغه پروردګار چې هغه د قلم په ذريعه د علم تعليم ورکی [۱۳] او انسان ته يې هرهغه شی وخودی چې هغه وريانديې نه پوهيدی.

حل اللغات:- ⑦فَغَطَّنِي: أَيْ: عَصَرَنِي: زور ئې راکړو ماته (دا دباؤولو اوسيني سره لګولو ته وائی يعنی زور سره ئې په غيږکښې اونيولم) ⑧الْجَهْدُ: وَهُوَ الْغَايَةُ وَالْمَشَقَّةُ: تکليف، محنت اومشقت ⑨عَلَقٍ: چکه وينه، جم شوي وينه

[١] فَرَجَعَ بِهَا رَسُولُ اللّٰهِ يَرْجُفُ فُؤَادُهُ، [٢] فَدَخَلَ عَلَى خَدِيجَةَ، فَقَالَ: [٣] (زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي) [٤] فَزَمَّلُوهُ حَتَّى ذَهَبَ عَنْهُ الرَّوْعُ، [٥] فَقَالَ لِخَدِيجَةَ وَأَخْبَرَهَا: [٦] (لَقَدْ خَشِيتُ عَلَى نَفْسِي) [٧] فَقَالَتْ خَدِيجَةُ: كَلَّا، وَاللّٰهِ لَا يُخْزِيكَ اللّٰهُ أَبَدًا، [٨] إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ، [٩] وَتَصْدُقُ الْحَدِيثَ، [١٠] وَتَحْمِلُ الْكَلَّ، [١١] وَتَكْسِبُ الْمَعْدُومَ، [١٢] وَتَقْرِي الضَّيْفَ، [١٣] وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الْحَقِّ [١٤] ثُمَّ انْطَلَقَتْ بِهِ خَدِيجَةُ إِلَى وَرَقَةَ بْنِ نَوْفَلٍ، ابْنِ عَمِّ خَدِيجَةَ. [١٥] فَقَالَتْ لَهُ: يَا ابْنَ عَمِّ اسْمَعْ مِنِ ابْنِ أَخِيكَ.

ترجمه: [١] ددې نه وروسته فرشته خوغائبه شوه او حضور ﷺ دې آیتونو سره مکې ته خپل کورته راغې هغه وخت يې دا حال وو چې د وحي د شدّتِ رُعب نه سخت دهشت زده وو او نه صرف زړه يې رپيدى بلكه د تبې اودلړز كيفيت پوره جسم باندې خور وو [٢] حضور ﷺ بي بي خديجې ؓ ته رسيدو سره اوويل [٣] په ما كپړه واچوه په ماكپړه واچوه [چې گرم شم] [٤] بي بي خديجې ؓ په حضور ﷺ كپړه واچوله تردې چې څه وخت وروسته هغه رُعب او د هيبت شدت ختم شو نو د حضور ﷺ خوف وهراس لاړو، [او خپل اصلي جسماني حالت يې ختم شوا] [٥] بيا حضور ﷺ بي بي خديجې ؓ ته پوره واقعه وښودله او هغه ته يې داهم اوويل [٦] چې ما سره د خپل ځان خوف دى [٧] بي بي خديجې ؓ تسلي وركولو سره ورته اوويل تاسو قطعًا خوف مه كوئ تاسو چې كوم سوچ كوئ داسې به هيڅ كله نه كيږي قسم په الله خما پوره يقين دى چې الله ﷻ به تاسو هيڅ كله رسوا او نامراده نه كړي [٨] ځكه چې تاسو قرابتدارو سره د حسنِ سلوك او تعلق معامله كوئ [٩] تاسو هميشه رښتيا وايئ [كه څه هم هغه قرابتدار ستاسو سره ترك تعلق او د بدسلوكى معامله كوي تاسو هيڅ كله هغوئ ته دروغ نه وايئ كه څه هم خلق تاسو ته دروغ وايي يا تاسو دروغجن كوي بعضې روايتونو كې دلته دا الفاظ هم دي چې تودى الامانة يعنى تاسو د امانت آدائيگى كې كوتاهي نه كوئ] [١٠] او تاسو د نورو بوج پورته كوئ [١١] تاسو غريبانو او مسكينانو باندې خرڅ كوئ [١٢] تاسو د ميلمنو خاطر مدارات كوئ [١٣] او د هغوئ هرقسم مدد كوئ او تاسو د خلقو حقيقي حادثات او مصائبو كې د هغوئ مدد كوئ [١٤] ددې نه وروسته بي بي خديجې ؓ حضور ﷺ بيولو سره د خپل تره خوى ورقه ابن نوفل ته ورسيدله [١٥] او هغه ته يې اوويل اې د تره خويه! د خپل وراره قصه واوره

حل اللغات: - ⑩ يَرْجُفُ: أَيْ: يَضْطَرِبُ: رپيدلو، لړزيدلو (د دير رُعب نه). ⑪ فُؤَادُهُ: اى قلبه: زړه د نبى عليه السلام، ⑫ زَمِّلُونِي: أَيْ: غَطُّونِي بِالثِّيَابِ: كمبل راباندې واچوئ، په څادر كښې مې پټ كړئ. ⑬ الرَّوْعُ: أَيْ: الْخَوْفُ وَالرُّعْبُ: ويره، رعب. ⑭ لَتَصِلُ الرَّحِمَ: جوړوې رشته دارى ⑮ وَتَحْمِلُ الْكَلَّ: اى أَنَّكَ تَتَحَمَّلُ مُؤْنَةَ الْكَلِّ: ته د محتاجو او يتيمانو خلقو بوج برداشت كوې يعنى هغوى باندې خرچ كوې. ⑯ وَتَكْسِبُ الْمَعْدُومَ: اى تُعْطِي الْمُحْتَاجَ: محتاجو خلقو باندې مال خرچ كوې، ⑰ وَتَقْرِي الضَّيْفَ: أَيْ: تُطْعِمُ النَّازِلَ بِكَ: ميلمه ته خوراک وركوې، ⑱ نَوَائِبِ الْحَقِّ: نوائب د نائبة جمع ده، حوادث او آفاتو ته وائى. يعنى په حق او حقيقى حوادثو او تكاليفو دخلقو مدد كوې.

[۱] فَقَالَ لَهُ وَرَقَةُ: يَا ابْنَ أَخِي مَاذَا تَرَى؟ [۲] فَأَخْبَرَهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَبَرَ مَا رَأَى. [۳] فَقَالَ وَرَقَةُ: هَذَا هُوَ النَّامُوسُ الَّذِي أَنْزَلَ اللهُ عَلَى مُوسَى [۴] يَا لَيْتَنِي فِيهَا جَذَعًا يَا لَيْتَنِي أَكُونُ حَيًّا إِذْ يُخْرِجُكَ قَوْمُكَ. [۵] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (أَوَمُخْرِجِيَّ هُمْ؟) [۶] قَالَ: نَعَمْ، لَمْ يَأْتِ رَجُلٌ قَطُّ بِمِثْلِ مَا جِئْتَ بِهِ إِلَّا عُودِيَ [۷] وَإِنْ يُدْرِكْنِي يَوْمُكَ أَنْصُرْكَ نَصْرًا مُؤَزَّرًا. [۸] ثُمَّ لَمْ يَنْشَبْ وَرَقَةُ أَنْ تُوُفِّيَ وَفَتَرَ الْوَحْيُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ورقه حضور ﷺ ته متوجه شو او ورته يې اوويل خما وراره! واوروه به تاځه تير شوه او ته څه ويني او محسوسوي؟ [۲] رسول الله ﷺ د هغه مخکې هغه ټوله واقعه بيان کړه کومه چې حضور ﷺ ته پېښه شوې وه [۳] ورقه ټولې خبرې اوريدو سره اوويل تاسو دواړو ته دې مبارك وي داخو هغه ناموس فرشته ده چې الله ﷻ وحي ورکولو سره حضرت موسى ﷺ ته رالېږله [۴] اې آرمان چې ستا د نبوت د اظهار او ستا د دعوت د اعلان په وخت زه طاقتور ځوان واى کاشکي چې زه هغه وخت ژوندى وى. که څه هم چې په ماکې طاقت او توانائي نه واى هرکله چې ستا قوم يعنى قريشو نه به ستا قرابتدار تا د ښار نه بهر وباسي [۵] رسول الله ﷺ دې خبرې اوريدوسره حيرت سره پوښتنه وکړه آيا واقعي خما قوم به ما د ښار نه بهر باسي [۶] ورقه ورته اوويل هو خما يقين دى چې ستا قوم به تا د ښار نه بهر وباسي ځکه چې همېشه داشوي دي چې کله هم يوسړى ستا په شان دنبوت او شريعت سره دې دنيا ته راغلى دى نو هغه سره دښمني شوې ده [او په يوه روايت کې داسې دي کله هم چې يو پيغمبر دې دنيا ته راغلى دى نو کافرو هغه سره دښمني کړي ده او سخت تکليفونه يې ورته رسولي دي!] [۷] که زه هغه ورځو کې هرکله چې ته به خلق د الله دين طرف ته رابلې او د دې جواب کې به ستا د قوم خلق تاته تکليفونه رسوي او تابه ستا د ښار نه بهر باسي ژوندى پاتې شوم نو پوره طاقت او قوت سره به ستا مدد او حمايت کوم [۸] ليکن ددې نه وروسته ورقه زياتې ورځې ژوندې پاتې نه شو او زر ددې دنيا نه رخصت شو او په حضور ﷺ د وحي راتلو سلسله هم قطع شوه دارو ايت ددې ځاى پورې بخاري او مسلم دواړو نقل کړى دى

⑪ النَّامُوسُ: صَاحِبُ سِرِّهِ: رازدار کوم چه د پټو ښو خبرو اطلاع ورکوى اهل کتابو به جبرئيل عليه السلام ته ناموس وئيل، اود شر د خبرو اطلاع ورکونکى ته جاسوس وائى. ⑪ جَذَعًا: أَيْ: جَلْدًا شَابًّا قَوِيًّا: مضبوط ځوان، ⑪ عُودِيَ: د مُعَادَاة نه د ماضي مجهول صيغه ده، دښمنى کولو ته وائى (يعنى دښمنى ورسره شوې ده). ⑪ نَصْرًا مُؤَزَّرًا: الأَزْرُ وَهُوَ الْقُوَّةُ: دَ وزير نه دي، د أزر معنى قوت اوطاقت دي يعنى پوره قوت سره مدد کول ⑪ لَمْ يَنْشَبْ: أَيْ: لَمْ يَلْبَثْ: ډيروخت نې تير نه کړو، يعنى ډير وخت ژوندې پاتې نه شو ⑪ وَفَتَرَ الْوَحْيُ: أَيْ: انْقَطَعَ أَيَّامًا: يعنى وحى بنده شوه (ترڅو ورځو پورې)

تسهيلات:

قوله: إِلَّا جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ:

دنبوت مخکښې دراندې خوبونه رښتيا کيدل: يعنې دَ حضورپاك دَ رښتونې خوب تعبيرپه داسې واضح کيدو سره راتلو لکه څنگه چه پرق سره سحر راځي. مطلب دا چه څنگه دَ سحر راتلل يقيني وي دغه شان دَ حضورپاك دَخوبونوتعبيرهم يقيني وو

قوله: ثُمَّ حُبِّبَ إِلَيْهِ الْخَلَاءُ

نبي عليه السلام ته خلوت خوښه کيدل: يعنې په طبعي توگه دَ حضورپاك خلوت کښې کيناستل محبوب وو اوحضورپاك يوازيوالي اختيارکړودې دَپاره چه دَ مخلوق نه ځان له شي اوخالق سره دَ راز اونياز رشته جوړه کړي

قوله: وَكَانَ يَخْلُو بِغَارِ حِرَاءٍ:

د غارحراء تعارف: دَمکې نه دَ يوځو کلوميټرو په فاصله باندې دَ يوغرپه څوکه باندې داغار واقع دې. دې غرته جبل نور وائي. دَدې دَپاسه ميدان دې چرته چه نن صباه دَ يوتنبو لاندې يو عارضي هوټل جوړشوې دې. دَدې غار په خله کښې دَ قبلې طرف ته دَ دوو کاڼړو په خپل مينځ کښې دَ ملاويدودَوجې نه يو خالي ځائې پيدا شوې دې هم دغه خالي ځائي غارحراء دې. په دې کښې دوه کسان کيناستې شي سرې په کښې اودريدې نه شي. دَمخې نه دا غارکولاؤ دې دکوم چه بيت الله شريف ښکاري. مگر نن صباعمارتونو بيت الله پټ کړې دې. غارحراء دَ جاهليت په زمانه کښې هم په مقدس مقاماتوکښې شميرلې کيدو خلقو به په دې کښې عبادت او رياضت کولو.

قوله: يَتَحَنَّثُ فِيهِ:

د يتحنث معنی: دلته باب تفعل، سلب مأخذ دَپاره دې يعنې ازالۀ گناه او ازالۀ گناه عين عبادت دې لهذا دَ "يتحنث" معنی "يتعبد" ده کوم چه عبادت کولوته وائي. په يوروايت کښې "يتحنف" دې يعنې دَحنفيه ملت مطابق به ئې عبادت کولو.

قوله: فَجَاءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ: اقْرَأْ.:

د اقرأ د حکم حيثيت: يعنې دَ يواستاذ نه ئې هيڅ نه دي وئيلي په خپله توگه څه وئيلې نه شي. جبرائيل عليه السلام دَ "تکليف مالايطاق" حکم نه وو ورکړې بلکه دَاقراء تعليمي حکم وو لکه دَ نوي سر نه چه استاذ وړوکي بچي ته وائي چه وايه بچې! نودا تعليمي اقراء ده دا امتحاني اقراء نه وه.

قوله: "فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي":

د راجغتولو حکمت: داسې ئې دباؤ کړو چه دَ ملکوتيت برکات اوصفات په بشرکښې

منتقل شی. اول ځل نی دباؤ کړو چه انس بالملك پیدا شی په دویم ځل نی دباؤ کړو چه انس بالله پیدا شی او په دریم ځل نی دباؤ کړو چه انس بالوحی پیدا شی.

قوله: حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدُ،

د اعراب په لحاظ سره په جهد کښې دوه احتمالات: ①دا لفظ مرفوع دې کوم چه فاعل واقع دې. "اي بلغ مني الجهد مبلغه" یعنی په ما کښې چه څومره طاقت وو هغه خپلې انتهاء ته اورسیدو.

② په یو روایت کښې "الجهد" منصوب دې کوم چه مفعول واقع دې "اي بلغ جبرئيل مني الجهد" یعنی جبرائیل علیه السلام دَ خپل طاقت مطابق زور اولګولو اوماله نی زور راکړو دانی ځکه اوکړه چه حضورپاك وحی سره مانوس شی اوملکوتی صفات دَ حضورپاك طرف ته منتقل شی. فرښته چه کله دَانسان په شکل کښې راځی نو په هغه کښې دَ یوانسان طاقت وی.

قوله: فَقَالَ:(زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي)

په زملونی کښې د جمعې صیغې راوړلو وجه: حضورپاك دَمحاوره په لحاظ سره دَجمع صیغه استعمال کړې ده ځکه چه دَ ادب په توګه دکور والا دَ جمع په لفظ سره رابللې شی سره دَدې چه صرف یوه ښځه نی ولې نه وی. دلته صرف حضرت خدیجه رضی الله عنها دَ جمع په صیغه سره هم دَدې قاعده مطابق خطاب کړې دې یاکیدې شی چه په کور کښې نور خلق هم وی په دې وجه نی دَ جمع صیغه اختیار کړه.

قوله: فَرَجَعَ بِهَا رَسُولُ اللَّهِ يَرْجُفُ فُؤَادُهُ،

د مذکوره جملې مفهوم: چه کله زړه ته څه خطره رسیږی نو پوره بدن دَ هغې دَ حفاظت کوشش کوی اوپوره حرارت راغونډ شی دَ زړه نه چاپیره جمع شی. نودې سره دَ زړه حفاظت کیږی مګر په باقی بدن باندې رږ شروع کیږی. هم په دې وجه بعضې روایاتو کښې "يرجف بوادره" الفاظ راغلی دی. بوادر، دَ بادرة جمع ده. دَ اوګې غوښې ته وائی دَ اوګې غوښه چه کله رچیږی نوباقی بدن نور هم زیات رچیږی

قوله: لَقَدْ خَشِيتُ عَلَى نَفْسِي:

د نبی علیه السلام د ویرې په علت کښې دوه احتمالات: ① دوی په دې باندې اوویردل که بار بار دغه شان دَ وحی بوج په ما باندې پریوځی نو دَ دغه بوج سره ماته دَ خپل ځان دَ ختمیدو خطره ده

② داهم ممکن دی چه راتلونکی وخت کښې دَ نبوت دَ دعوت اودَ پوره عربوسره دَ مقابله کولوطرف ته اشاره وی.

قوله: وَتَحْمِلُ الْكَلَّ،

د کل معنی: کل هغه سړی ته وائی چه خپل خاندان او معاشره باندې بوج وی او دَ هغه نه چاته څه فائده نه رسیږی بلکه چه کوم طرف ته خی نقصان اوچتولوسره راخی.

د مذکوره جملې مطلب: دَ حدیث مطلب دادې چه ته دَ داسې بې کاره او بې یاراومددګار خلقو بوج اوچتوې اودَهغوی امداد کوې مثلاً یتیمانانو، مسکینانو کونډو ښځو کمزورو اوبې کسو خیال کوې.

قوله: هَذَا هُوَ النَّامُوسُ الَّذِي

د ناموس مصداق: ملاعلی قاری رحمه الله لیکلی دی چه اهل کتاب به جبرائیل آمین ته ناموس وئیلې دامعنی ډیره ښه ده.

قوله: أَنْزَلَ اللَّهُ عَلَى مُوسَى

دموسی علیه السلام د ذکر کولو وجه: ورقه بن نوفل دَحنفاء نه وو بیا هغه عیسائیت قبول کړو هغه دَ حضرت موسٰی علیه السلام په ځائی دَ حضرت عیسٰی علیه السلام نوم اخستل غوښتل مګر علماؤ لیکلی دی چونکه حضرت موسٰی علیه السلام مشهور وو او اولوالعزم هم وو په دې وجه ورقه دَ هغه نوم واخستلو.

٥٨٤٣-()[1] ۝١ وَزَادَ الْبُخَارِيُّ: «حَتَّى حَزِنَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِيمَا بَلَغَنَا - ۝٢ حُزْنًا غَدَا مِنْهُ مِرَارًا ۝٣ كَيْ يَتَرَدَّى مِنْ رُءُوسِ شَوَاهِقِ الْجِبَالِ، ۝٤ فَكُلَّمَا أَوْفَى بِذِرْوَةِ جَبَلٍ لِكَيْ يُلْقِيَ نَفْسَهُ مِنْهُ، ۝٥ تَبَدَّى لَهُ جِبْرِيلُ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ إِنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ حَقًّا. ۝٦ فَيَسْكُنُ لِذَلِكَ جَأْشُهُ، وَتَقَرُّ نَفْسُهُ».

ترجمه: ۝١ لیکن ددي نه وروسته بخاري دا الفاظ هم نقل کړي دي اچې د وحي د نزول سلسله قطع شوه) د دې ثبوت مونږ ته د هغه حدیثونو نه حاصلیږي کوم چې مونږ ته رسیدلی دی ۝٢ نو حضور صلی الله علیه وسلم باندې غم او خفګان شو او داغم او خفګان یې دومره شدید او سخت وو ۝٣ چې څوځلي حضور صلی الله علیه وسلم په دې ارادې سره دغرونو طرف ته به لاړو چې خپل ځان د پورته غرونو د څوکي نه خکته را وغورځوي ۝٤ کله به چې حضور صلی الله علیه وسلم د یو غر څوکي ته ورسیدی چې خپل ځان را وغورځوي ۝٥ نو اچانک جبرائیل علیه السلام به ښکاره شو او وئیل به یې اې محمد! بلاشبه تاسو د الله صلی الله علیه وسلم برحق رسول یې؛ ۝٦ په دې صورت کې یقیناً ستاسو هره پریشاني به ختمه شي او د کار انجام د دین و دنیا هره معامله کې به بامراد شئ که څه هم چې په منځ کې د څه مشقت او ابتلاء د مراحلو نه به تیریدل وي د حضرت جبرائیل علیه السلام دابشارت اوریدو سره به) د حضور صلی الله علیه وسلم د زړه پریشاني او دهشت به ختم شو او حضور صلی الله علیه وسلم به مطمئن شو.

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب بدء الوحی/کیف کان بدء الوحی إلی رسول الله صلی الله علیه وسلم؟ (رقم-۳) واحمد فی المسند:۶/۲۳۳

حل اللغات:- ① حَزِنَ: غم او خفګان ته وائی د دې ضد سُرور راځی یعنی خوشحالی. ② غَدَامِنْهُ: أَيْ: ذَهَبَ فِي الْغَدْوَةِ: سحر وخت کښې تلو ته غدا وائی. ③ يَتَرَدَّي: أَيْ: يَسْقُطَ: چه ځان راوغورځوی، راورغړوی، ④ شَوَاهِق: د شَاهِق جمع ده، وَهُوَ الْجَبَلُ الْمُرْتَفِعُ: اوچت غر یا د غر سوکې ته وائی. ⑤ أَوْفَى: أَيْ وَصَلَ وَلَحِقَ: اوبه رسیدلو. ⑥ ذِرْوَةً: أَيْ: بِأَعْلاَهُ: د غرسر، سوکه، ⑦ تَبَدَّي: أَيْ: تَمَثَّلَ وَظَهَرَ: ښکاره به شو، جبرئیل علیه السلام، ⑧ جَأْشُهُ: أي اضْطِرَابُ قَلْبِهِ وَرَوْعُهُ وَفَزَعُهُ: د زړه ویره، خطرات.

تسهیلات:

قوله: غَدَامِنْهُ مِرَارًا كَيْ يَتَرَدَّى،

دخود کشی اراده کول: یعنی دَ دغه غم دَوجې نه څو ځل حضورپاك سحر سحر دَ غر څوکې ته لاړو دې دَپاره چه خپل ځان راګذار کړی

قوله: فَيَسْكُنُ لِذَلِكَ جَأْشُهُ، وَتَقِرُّ نَفْسُهُ،

نبی علیه السلام ته تسلی ملاویدل: اي اضطرابه جبرائیل علیه السلام په آواز سره به دَحضورپاك تسلی کیدله اودَ حضورپاك اضطراب په سکون کښې بدلیدلو

[۵۸۴۳] دانقطاع نه وروسته بیا وحي

۵۸۴۳-() [۱] ①«وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، ② أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ يُحَدِّثُ عَنْ فَتْرَةِ الْوَحْيِ، ③ قَالَ: (فَبَيْنَا أَنَا أَمْشِي سَمِعْتُ صَوْتًا مِنَ السَّمَاءِ، ④ فَرَفَعْتُ بَصَرِي، ⑤ فَإِذَا الْمَلَكُ الَّذِي جَاءَنِي بِحِرَاءٍ قَاعِدٌ عَلَى كُرْسِيٍّ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، ⑥ فَجُئِثْتُ مِنْهُ رُعْبًا حَتَّى هَوَيْتُ إِلَى الْأَرْضِ، ⑦ فَجِئْتُ إِلَى أَهْلِي، فَقُلْتُ: زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي، ⑧ فَزَمَّلُونِي، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: ⑨ ﴿يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ - قُمْ فَأَنْذِرْ - ⑩ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ - وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ - ⑪ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ﴾ [المدثر:۱-۵] ⑫ ثُمَّ حَمِيَ الْوَحْيُ وَتَتَابَعَ)». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دي ② هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دځه ورځو د پاره د وحي قطع کېدو [او بیا د سلسله وحي دوباره شروع کیدو] حال داسې واوریدی چې ③ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل یوه ورځ د مکې په یوه لار یا حراغر باندې زه روان وم چې ناڅا په خما په غوږونو کې یوآسماني اواز راغې ④ ما چې پورته وکتل ⑤ نو څه ګورم چې هغه فرشته چې غارِ حراء کې ماته راغې وه د زمکې او آسمان په منځ کې په یوتخت ناسته ده ⑥ د هغه په نظر راتلو سره خما په زړه کې دومره سخت رعب او خوف پیدا شو چې زه بې ساخته په زمکه راولوېدم ⑦ بیا زه واپس خپل کوروالو ته راغلم او ورته مې اوویل په ما کپړه واچوئ په ما کپړه واچوئ ⑧ کوروالو په ما کپړه واچوله او زه هغه کپړه کې پریوتم بیا الله تعالی دا آیت نازل کی: ⑨ يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ(۱) قُمْ فَأَنْذِرْ(۲) وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ(۳) وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ(۴) وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ⑤.

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب بدء الوحی/کیف کان بدء الوحی إلی رسول الله صلی الله علیه وسلم؟ (رقم-٤) ومسلم فی کتاب الإیمان/باب بدء الوحی إلی رسول الله صلی الله علیه وسلم (رقم-۲۵۵ - (۱۶۱) والترمذی فی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ومن سورة المدثر (رقم-۳۳۲۵) واحمد فی المسند:۳۲۵/۳

اى كپړه اغوستونکيه! لاړ شه او مخلوق اوېروه ⑩ اود خپل رب لويي بيان كه او خپلې كپړې پاكې كړه ⑪ او پليتي پريږده. ⑫ ددې څخه روسته وحى شروع شوه او مسلسل راتله.
(بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① فَتْرَةُ الْوَحْيِ: أي: انْقِطَاعُهُ أَيَّامًا: وحى يوڅو ورځې بنديدل مراد دى. ② فَجُثِثْتُ: د باب سمع يسمع نه د ويريدلو په معنى كښې دې. أي: فَزِعْتُ وَهِبْتُ: ډير زيات اوېريدم ③ رُعْبًا: ويره. ④ هَوَيْتُ: د ضرب يضرب نه د راغورزيدلو په معنى كښې راځي د سمع نه د محبت په معنى كښې وى دلته ضرب نه دې ⑤ الْمُدَّثِّرُ: څادر يا كمبل اغوستونكي، يعنى د نبوت او رسالت څادر او درونډ بار اوچتونکي، ⑥ فَأَنْذِرْ: نو اويروه خلق، د عذاب نه. ⑦ وَالرُّجْزَ: أي: الشِّرْكَ وَالْعِصْيَانُ: كفر اوشرک، نافرمانى يا عامه پليتى، ⑧ فَاهْجُرْ: أي: فَاتْرُكْهُ: پريږده. ⑨ حَمِيَ الْوَحْيُ: أي: اشْتَدَّ حَرُّهُ: يعنى د وحى بنديز څخه بيا راتلل شروع شو اوګرم شو يعنى پوشان راتلله ⑩ وَتَتَابَعَ: أي: نُزُوْلُهُ: يعنى د وحى نزول پرله پسې شروع شو.

تسهيلات:

نوټ: په حديث كښې د ګرانو لغاتو حل شوي دي باقى مضمون آسان دې

[٥٨٤٤] د وحې راتلو كيفيت

٥٨٤٣-(١) [٤] ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، «أَنَّ الْحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ سَأَلَ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! كَيْفَ يَأْتِيكَ الْوَحْيُ؟ ② فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (أَحْيَانًا يَأْتِينِي مِثْلَ صَلْصَلَةِ الْجَرَسِ، ③ وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ، ④ فَيُفْصِمُ عَنِّي وَقَدْ وَعَيْتُ عَنْهُ مَا قَالَ، ⑤ وَأَحْيَانًا يَتَمَثَّلُ لِيَ الْمَلَكُ رَجُلًا فَيُكَلِّمُنِي، ⑥ فَأَعِي مَا يَقُولُ). ⑦

ترجمه: ① او بي بي عائشه رضي الله عنها نه روايت دى چې حارث ابن هشام رضي الله عنه [چې د ابوجهل ورور وو او د مكې د فتح نه مخكې يې اسلام راوړى وو] رسول الله ﷺ نه يې پوښتنه وکړه ② يارسول الله! تاسو ته وحې څرنګه راځي ③ حضور ﷺ ورته وفرمايل ماته وحې كله د جرس ږنګولې د اواز په شان راځي [يعنى د وحې الفاظ چې ماته رسولى شي د جرس د اواز په شان صوت لري] ④ اودا وحې په ماسخت ترينه وحې وي انو فرشته د وحې چې كوم الفاظ ماته رسوي زه هغه د ډېرې محنت او توجه سره اوريدو سره يادوم ⑤ او كله داسې كيږي چې فرشته د انسان شكل اختيارولو سره ما سره هم كلام كيږي ⑥ او څه چې وايې زه هغه محفوظ او يادوم

¹) اخرجه البخاري في كتاب بدء الوحي/كيف كان بدء الوحي إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم؟ (رقم-٢) ومسلم في كتاب الفضائل/باب عرق النبي صلى الله عليه وسلم في البرد وحين يأتيه الوحي (رقم-٨٧ - (٢٣٣٣) والترمذي في كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء كيف كان ينزل الوحي على النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-٣٦٣٤) واحمد في المسند: ١٥٨/٦

حل اللغات:- ① صَلْصَلَةٍ: أي صَوْتُ الْحَدِيدِ إِذَا حُرِّكَ: د اوسپنې زنځير د شرقولو آواز ته صلصله وائي. ② الْجَرَسِ: ګونګرو، ټلې، ③ فَيَفْصِمُ: أي: يَنْقَطِعُ: يعنى دَ وحي دا كيفيت به ختميدو. ④ وَعَيْتُ: أي: حَفِظْتُ: يادوم، حفاظت كوم. ⑤ يَتَمَثَّلُ: أي: يَتَصَوَّرُ وَيَتَشَكَّلُ: شكل اوصورت به ني اختيارولو.

[۱] قَالَتْ عَائِشَةُ: وَلَقَدْ رَأَيْتُهُ يَنْزِلُ عَلَيْهِ الْوَحْيُ [۲] فِي الْيَوْمِ الشَّدِيدِ الْبَرْدِ، فَيَفْصِمُ عَنْهُ [۳] وَإِنَّ جَبِينَهُ لَيَتَفَصَّدُ عَرَقًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه رضي الله عنها دا بيانولو سره وايې ماليدلى دى چې حضور ﷺ باندې به وحي نازليدله [۲] چې كله به د سختې يخنئ ورځې وي او فرشته د وحي به لاړه [۳] نو د حضور ﷺ تندى مبارك به د خولې پسينې نه ډك په نظر راتلى (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ⑥ جَبِينَهُ: أي: مُقَدَّمَ وَجْهِهِ: تندي يا مخ مبارك. ⑦ لَيَتَفَصَّدُ: أي: لَيَتَصَبَّبُ: بهيدلې به، ⑧ عَرَقًا: خولې

تسهيلات:

قوله: صَلْصَلَةِ الْجَرَسِ:

د لفظ صلصلة الجرس تسهيل: په مضبوط چټان اوكاڼړى باندې چه كله دَ اوسپنې زنځير راښكليږى نودَهغې نه آواز پيدا كيږى هم دغه آواز ته صلصلة وائى او جرس ټلې ته وائى دلته دَ ټلې دَ آواز سره تشبيه وركول مقصوددى.

د آواز په سبب كښې اقوال: ① دادَ الله تعالى دكلام نفسى آواز وو بعضې علماء فرمائى چه داددَاسې قسم وحى آواز وو لكه څنګه چه دكلام دَ تيارى دَپاره مخكښې اعلان كيږى يا دَ ټيلى فون ټلى غږيږى.

② حضرت شاه ولى الله رحمه الله فرمائى چه دادَ حواس دَ تعطل نه پس يو آواز پيداكيدو هغه مراد دې لكه دَ غوږونو بندولوسره دننه يو آواز پيداكيږى.

③ دادَ جبرائيل امين دَ راتګ اودَهغه دَ وزرو پرپر راتلو آواز وو

قوله: أَشَدُّهُ عَلَيَّ: چونكه په دې كښې به انسلاخ بشريت ووخكه دا قسم درونړ وو

قوله: وَعَيْتُ:

د ماضى صيغه راوړلو وجه: دَماضى صيغه استعمال كړې شوې ده خكه چه حضورپاك به پخپله په هوش كښې نه ووپه هوش كښې دَ راتلونه مخكښې به ورته ټوله وحى يادېدله نودَ ماضى صيغه مناسب شوه

قوله: لَيَتَفَصَّدُ:

د وحى شدت: په رګ باندې چه ستن وهلوسره كومه وينه راوځى هغې ته فصد وائى مطلب دا چه دَ وحى دَ شدت دَ وجې نه دَ يخنئ په موسم كښې هم به دَ حضورپاك په انتګو مباركو باندې دَ مرغلرو دَ لړئ په شان خوله بهيدله.

[۵۸۴۵] د وحي د نزول په وخت د نبی کریم ﷺ کیفیت

۵۸۴۵-()[۸] ۱ وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ ۳ كُرِبَ لِذٰلِكَ وَتَرَبَّدَ وَجْهُهُ» ۴ وَفِي رِوَايَةٍ: نَكَسَ رَأْسَهُ ۵ وَنَكَسَ أَصْحَابُهُ رُءُوسَهُمْ، ۶ فَلَمَّا أُتْلِيَ عَنْهُ رَفَعَ رَأْسَهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت عباده بن صامت ﷛ وايي ۲ هرکله چې رسول الله ﷺ باندې به وحي نازليدل ۳ نو د هغه په سبب به حضور ﷺ ته سخت غم لاحق کيدی او د مخ مبارک رنګ به يې متغير کيدی ۴ او په يوه روايت کې داسې دي چې کله به حضور ﷺ باندې وحي نازليدل نو خپل سر مبارک به يې خکته کوی ۵ او هغه وخت چې کوم صحابه ﷡ به موجود وه هغوئ به هم سرونه خکته کول ۶ هرکله چې وحي به موقوفه شوه نو حضور ﷺ او صحابه ﷡ به خپل سرونه پورته کړل. (مسلم)

حل اللغات:- ① كُرِبَ: أَيْ: أَصَابَهُ الْكَرْبُ وَحَزَنَ: يعنی سخت تکليف مصيبت اوغم به ورته کيدلو ② تَرَبَّدَ: أَيْ: تَغَيَّرَ: يعنی دَ مخ رنګ به ئی بدليدلو. ③ نَكَسَ رَأْسَهُ: أَيْ: أَطْرَقَهُ: سرئې ښکته کړو(لکه چه فکر اوسوچ کوی). ④ أُتْلِيَ: اي أقلع وأكشف يعنی چه کله به دَ وحی دا کيفيت ختم شو "

تسهيلات:

قوله: نَكَسَ رَأْسَهُ:

د نبی کریم علیه السلام او صحابؤ د سر ټيټولو وجه: دَ سر ټيټولو په معنی کښې دي حضورپاک دَ الله تعالی دَ طرف نه دَوحی حکم راتلو او په هغې دَ سوچ کولو اوپه هغې باندې دَ پوهيدلو دَ وجې نه سرټيټ کړو اوصحابه کرامو دَ حضورپاک دَ متابعت او ادب دَ وجې نه سرټيټ کړو.

[۵۸۴۶] د دعوت الی الله اعلان

۵۸۴۶-(۲)[۹] ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ: ۲ ﴿وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾ [الشعراء: ۲۱۴] ۳ خَرَجَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حَتَّى صَعِدَ الصَّفَا، ۴ فَجَعَلَ يُنَادِي: (يَا بَنِي فِهْرٍ يَا بَنِي عَدِيٍّ) ۵ لِبُطُونِ قُرَيْشٍ حَتَّى اجْتَمَعُوا، ۶ فَجَعَلَ الرَّجُلُ إِذَا لَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يَخْرُجَ أَرْسَلَ رَسُولًا لِيَنْظُرَ مَا هُوَ، ۷ فَجَاءَ أَبُو لَهَبٍ وَقُرَيْشٌ فَقَالَ: ۸ (أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَخْبَرْتُكُمْ أَنَّ خَيْلًا تَخْرُجُ مِنْ صَفْحِ هَذَا الْجَبَلِ-

ترجمه: ۱ اوحضرت ابن عباس ﷠ وايي کوم وخت چې دا آيت نازل شو ۲ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ

---

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الفضائل/باب عرق النبی صلی الله علیه وسلم فی البرد وحین یأتیه الوحی (رقم-۸۸ - (۲۳۳۴)

[2]) اخرجه البخاری فی کتاب تفسیر القرآن/باب {وأنذر عشیرتک الأقربین واخفض جناحک} [الشعراء: ۲۱۵] ألن جانبک (رقم-۴۷۷۰) ومسلم فی کتاب الإیمان/باب فی قوله تعالی: {وأنذر عشیرتک الأقربین} [الشعراء: ۲۱۴] (رقم-۳۵۵ - (۲۰۸) والترمذی فی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ومن سورة تبت (رقم-۳۳۶۳) واحمد فی المسند: ۳۰۷/۱

الاَقرَبِين ٣ نو رسول الله ﷺ د دې حکم تعميل د پاره سمدستي اووتلو او کوه صفا باندې وختلې ٤ او د قريش قبائل بلل يې شروع کړل چې اې د فهر اولاده! اې د عدي اولاده! ٥ دغه شان حضور ﷺ د قريشو ټول ښاخونه نوم په نوم وبلل د حضور ﷺ په دې اواز د قريشو ټول قبائل او ډلې د حضور ﷺ چاپيره جمع شوې ٦ د دې پورې چې کوم سړی د څه عذر او مجبورۍ په سبب خپله هلته ونه رسيدې نو هغه دې معلومولو د پاره چې محمد ولې ټول بللي دی څوك خپل نماينده جوړولو سره وليږی ٧ غرض داچې هر کله چې ټول اهل قريش او د حضور ﷺ اکا ابولهب راغې نو حضور ﷺ هغوئ مخاطب کولو سره ورته وفرمايل ٨ که زه تاسوته داخبر درکړم چې د جنګيالیو شهسوارو يوه دسته د دې غر د پناه نه ښکاره شوې ده

حل اللغات:- ① وَأَنْذِرْ: نو اويروه (دعذاب نه). ② عَشِيرَتَكَ: أَيْ: قَوْمَكَ: خپل خاندان، خپل قوم، ③ صَعِدَ: أَيْ عَلَمَ: اوختلو ④ لِبُطُونِ: خاندانونه، قبيلې. ⑤ تَجْتَمِعُوا: ټول راجمع شو، ⑥ رَسُولًا: قاصد، خبر راوړونکې، ⑦ خَيْلًا: يَعْنِي فُرْسَانًا: په اسونو سواره، شهسواران. ⑧ صَفْحِ: أَى عَرْضُ الْجَبَلِ: د غر ښکاره مخ، ښکاره طرف،

> ١ وَفِي رِوَايَةٍ: أَنَّ خَيْلًا تَخْرُجُ بِالْوَادِي ٢ تُرِيدُ أَنْ تُغِيرَ عَلَيْكُمْ - أَكُنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ؟) ٣ قَالُوا: نَعَمْ، مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ إِلَّا صِدْقًا. ٤ قَالَ: (فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ). ٥ قَالَ أَبُو لَهَبٍ: تَبًّا لَكَ، لِهَذَا جَمَعْتَنَا؟ ٦ فَنَزَلَتْ: ﴿تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ﴾ [المسد:١]. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او د يو روايت الفاظ دادي چې د سورو يوه دسته د مکې د جنګل نه ښکاره شوې ده ٢ او د هغوئ مقصد قتل او غار تګری د پاره د ورځې يا شپې څه حصه کې په تاسو اچانك حمله کول دي نو اووايئ چې آيا تاسو خلق به ځما داخبره ريښتني ومنئ ٣ ټولو په يوه اواز اوويل هو ضرور رشتيا به يې منوځکه چې مونږ ته هميشه ريښتني پيدا کړی يې ٤ بيا حضور ﷺ ورته وفرمايل نو واورئ زه تاسو خلق د هغه سخت عذاب نه ويروم چې دنيا يا آخرت کې په تاسو راتلونکی دی ٥ دااوريدل وو چې ابولهب په قهر شو او هغه اوويل هلاکت او بربادي دې وي تالره آيا تا مونږ د دې پاره جمع کړی وو ٦ په دې دا آيت نازل شو تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ابولهب دې هلاك شي او هغه هلاك شو. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ⑨ أَنْ تُغِيرَ: أَيْ: تَأْتِيَكُمْ بَغْتَةً لِلْإِغَارَةِ: يعني ناځاپی به په تاسو حمله اوکړی. ⑩ جَرَّبْنَا: تجربه کړې ده مونږ، ازميښت کړې دې مونږ، ⑪ نَذِيرٌ: أَيْ: مُنْذِرٌ وَمُخَوِّفٌ: ⑫ بَيْنَ يَدَيْ: أَيْ: قُدَّامَهُ: خپلې مخې ته.

تسهيلات:

قوله: لَمَّا نَزَلَتْ: ﴿وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾:

دنبی کريم صلی الله عليه وسلم د دعوت مختلف ادوار:

① رسول الله ﷺ ته چه کله دَ څلويښتو کالو په عمر کښې مکه مکرمه کښې نبوت ملاؤ

شو نودریو کالوپوري حضورپاك پټ دعوت اوچلولو دَ کورکسان او نیزدې دوستانو نه علاوه نې چاته دعوت ورنه کړو.

② بیا چه کله ﴿وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾ آیت نازل شو نوحضورپاك نیزدې خپلوانو له دعوت ورکړو اوهغوی له نې دَ دین اسلام دعوت ورکړو مګر دَ ابولهب په شرارت باندې څوك دَ منلودَپاره تیارنه شو. دَ سورت "ص" دَ شروع آیات هم دَدې قصې سره متعلق دي.

③بیا درې کاله تیریدونه پس داآیت نازل شو ﴿فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ﴾ (حجر ۹۴)یعنې دَ الله تعالی دَ طرف نه چه کوم حکم راغلې دې هغه ښکاره ښکاره بیان کړه اودَمشرکانو پرواه مه کوه. په دې باندې رسول الله ﷺ غوښتل چه صفاغونډئ کومه چه بیت الله ته مخامخ ده په دغه ځائی دَ دین دعوت ورکړی. دَعربو عادت وو چه دَ یولوئی مصیبت او غمې حادثې په وخت به اوچت ځائی ته ختل اودَخپل امداددَپاره به ئې خلق رابلل. هم دَ دغه قاعدې مطابق حضورپاك دَ صفاغونډئی ته راغلو اودا آواز نې اوکړو "یَا صَبَاحَاه واصبحاه" اې خلقو سحروخت کښې یومصیبت راتلونکې دې. دَدې آواز اوریدوته دَ قریشو سردارانو خصوصي توجه ورکړه ځکه چه حضورپاك څلویښت کاله کښې کله هم دَخپل امداددَپاره داسې عام اعلان نه وو کړې. نوچه کوم سړی هم دا آواز اوریدو په منډه راغلو یاخپل څوك کس نې راؤلیګلو. حضورپاك چونکه دَ صفا په اوچت ځائی باندې وو په دې وجه نې اوفرمائیل چه ماته دواړه طرفه ښکاری که چرې زه اووایم چه دَ شانه یولښکر راروان دې نو تاسو به نې اومنئ؟ اول دا اووایئ چه ما ستاسو په مینځ کښې یوه اوږده موده تیره کړې ده آیا تاسو زه رښتونې لیدلې یم که دروغژن؟ قریشو وئیل مونږ ته بار بار ازمینښت کړې نې مونږ ته هم رښتونې لیدلې نې. په دې باندې حضورپاك دَتوحید دعوت ورکړو په کوم سره چه هغه خلق اوتختیدل او ابولهب ګستاخي اوکړه. حضورپاك چه دا اوفرمائیل دَ غر نه اخوا ته دښمن حمله کول غواړی نودې نه دَ ابلیس لښکر مراد وو چه په انسانانو باندې حمله کونکې دې. حضورپاك ته دَ دنیا او آخرت دواړه طرفونه ښکاریدل. دَ قریشو کافرانوته دَ آخرت پته نه وه نوټولو انکار اوکړو.

[۵۸٤۷]د سجدې په حالت کښې په نبی علیه السلام د لرې راغورځول

۵۸٤۷-(¹) [۱۰]① «وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ② بَيْنَمَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُصَلِّي عِنْدَ الْكَعْبَةِ ③ وَجَمْعُ قُرَيْشٍ فِي مَجَالِسِهِمْ، إِذْ قَالَ قَائِلٌ: ④ أَيُّكُمْ يَقُومُ إِلَى جَزُورِ آلِ فُلَانٍ ⑤ فَيَعْمِدُ إِلَى فَرْثِهَا وَدَمِهَا وَسَلَاهَا ⑥ ثُمَّ يُمْهِلُهُ حَتَّى إِذَا سَجَدَ وَضَعَهُ بَيْنَ كَتِفَيْهِ؟ ⑦ فَانْبَعَثَ أَشْقَاهُمْ فَلَمَّا سَجَدَ وَضَعَهُ بَيْنَ كَتِفَيْهِ، ⑧ وَثَبَتَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَاجِدًا.

[1]) اخرجه البخاري فی کتاب الوضوء/باب إذا ألقي على ظهر المصلى قذر أو جيفة، لم تفسد عليه صلاته (رقم-۲٤۰) ومسلم فی کتاب الجهاد والسیر/باب ما لقی النبی صلی الله علیه وسلم من أذی المشرکین والمنافقین (رقم-۱۰۷ - (۱۷۹٤))

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن مسعود ﷺ وايي [۲] يوه ورځ رسول الله ﷺ د خانه كعبي نزدې مونځ كوی [۳] او هلته خانه كعبي سره د قريشو د عمائدينو يوې ډلې مجلس لګولی ناست وو اچانك هغوئ كې يو سړی اوويل [۴] آيا په تاسو كې يو داسې سړی شته چې فلانی محله او قبلې ته ورشي چيرته چې فلانی خاندان يو اوښ ذبح كړی دی [۵] او د هغه اوښ د غلاظت نه ډك لړي كولمې د هغه وينه او پوست راوړي [٦] او هغه ټوله ګندګي او غليظ څيزونه كوم وخت چې محمد په سجده پريوځي نو هغه د محمد د دواړو اوږو په منځ كې ورواچوي [۷] په دې اوريدو سره يو انتهائي درجه بدبخت سړی عقبه ابن معيط يا ابوجهل د هغه څيزونو راوړلو د پاره لاړل او دا ټول څيزونه يې راوړل كوم وخت چې حضور ﷺ په سجده شو نو هغه هغه ټوله ګندګي د حضور ﷺ د دواړو اوږو په منځ كې باندې وغورځوله [۸] نو حضور ﷺ د هغه ګندګي د بوج نه نشو پورته كيدلې او په سجده كې پاتې شو

حل اللغات: - ① يَقُومُ: أَيْ: يَتَوَجَّهُ: پاسي يعني ورشي، متوجه شي. ② جَزُورٍ: أَيْ: بَعِيرٍ: اوښ. ③ فَيَعْمِدُ: أَيْ: فَيَقْصِدُ: قصد اوكړی، يعني راوړي. ④ فَرْثِهَا: وَهُوَ السِّرْجِينُ مَادَامَ فِي الْكِرْشِ: سوتې او خاشنړه چه په لړی كښې دننه وی. ⑤ وَسَلَاهَا: وَهُوَ الْجِلْدُ الرَّقِيقُ الَّذِي يَخْرُجُ فِيهِ الْوَلَدُ: دَ څناور په بچه دانئ كښې دَ بچې دَپاسه يوه نرئ شان جهلئ وی چه پيدائش سره بهر راځي هم دغه نرئ پردې ته سلا وائي. ⑨ يُمْهِلَهُ: انتظار وكړی ورته ⑦ فَانْبَعَثَ: أَيْ: فَقَامَ وَذَهَبَ: پاڅيده، لاړه، ⑧ أَشْقَاهُمْ: بد بخته دقوم (دا بدبخته عُقْبَةُ بْنُ أَبِي مُعَيْطٍ وو).

[۱] فَضَحِكُوا حَتَّى مَالَ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ مِنَ الضَّحِكِ، [۲] فَانْطَلَقَ مُنْطَلِقٌ إِلَى فَاطِمَةَ، فَأَقْبَلَتْ تَسْعَى، [۳] وَثَبَتَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَاجِدًا حَتَّى أَلْقَتْهُ عَنْهُ، [۴] وَأَقْبَلَتْ عَلَيْهِمْ تَسُبُّهُمْ، [۵] فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الصَّلَاةَ [٦] قَالَ: (اللَّهُمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ) ثَلَاثًا [۷] وَكَانَ إِذَا دَعَا دَعَا ثَلَاثًا،

ترجمه: [۱] هغه بدبختانو دا ليدو سره خندا ګانې او ټوقې مسخرې شروع كړې په دې خندا كې دومره بدحاله شوه چې په خندا خندا كې په يو بل وركاږه شوه [۲] بيا يو سړی بي بي فاطمه ﷺ د دې حال نه خبره كړه هغه په منډه راغله [۳] او رسول هم تر هغه وقته پورې د هغه ګندګي لاندې په سجده پروت وو بي بي فاطمه ﷺ هغه ټول څيزونه د حضور ﷺ د شا نه پورته كولو سره لرې وغورځول [۴] او هغه بدبختانو طرف ته متوجه كيدو سره هغوئ ته يې بد رد وئيل شروع كړل [۵] كوم وخت چې رسول الله ﷺ د مانځه نه فارغه شو [٦] نو بد دعايې وكړه اې الله! ته دا قريش سخت ونيسې [يعنې مشركين قريش هلاك او برباد كړې] حضور ﷺ دا دعا درې ځله وكړله [۷] او د حضور ﷺ عادت مبارك وو چې كله به يې دعا كوله نو درې ځله به يې دعا كوله.

حل اللغات: - ① مُنْطَلِقٌ: تلونكې، خبر وركونكې،

۱ وَإِذَا سَأَلَ سَأَلَ ثَلَاثًا: ۲ (اللّٰهُمَّ عَلَيْكَ بِعَمْرِو بْنِ هِشَامٍ، وَعُتْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ، وَشَيْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ، وَالْوَلِيدِ بْنِ عُتْبَةَ، وَأُمَيَّةَ بْنِ خَلَفٍ، وَعُقْبَةَ بْنِ أَبِي مُعَيْطٍ، وَعُمَارَةَ بْنِ الْوَلِيدِ. ۳ قَالَ عَبْدُ اللهِ: فَوَاللهِ لَقَدْ رَأَيْتُهُمْ صَرْعَى يَوْمَ بَدْرٍ، ۴ ثُمَّ سُحِبُوا إِلَى الْقَلِيبِ قَلِيبِ بَدْرٍ. ۵ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (وَأُتْبِعَ أَصْحَابُ الْقَلِيبِ لَعْنَةً)». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ دغه شان چې حضور ﷺ به د الله ﷻ نه څه غوښتل نو درې ځله به يې درخواست کوی ۲ بيا عمومي طور سره د قريشو په حق کې بد دعا کولو نه وروسته په خاص طور سره د هغه ازلي بدبختانو نومونه اخستو سره داسې بددعايې وکړله! اې الله! ته عمرو ابن هشام ابوجهل عقبه ابن ربيعه او شيبه ابن ربيعه دواړه وروڼه وليد بن عتبه اميه ابن خلف عقبه ابن ابي معيط او عماره ابن وليد سخت ونيسې ۳ حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ راوي دا روايت بيانولو سره اوويل قسم په الله ما د جنګ بدر په ورځ مذکوره کافر هلاك شده په زمکه پراته وليدل ۴ بيا هغوئ د ميدان نه راښکلو سره په يو کوهي کې چې د مقام بدر کوهي وو په هغه کې وغورځول شوه ۵ او هغه وخت حضور ﷺ فرمايلي وه داخلق چې په کوهي کې غورځول شوي دي ملعون ګرځول شوي دي. بخاری ومسلم

حل اللغات: -۱ صَرْعَى: هَلْكَى: دَ صريع جمع ده کوم چه دَ مصروع په معنی کښې دي حال دي په معنی د مفعول په زمکه باندې راغورزولې شوي اوپروت سرې ته وائی. دا کنايه ده د هلاکت نه يعنی هلاک کړې شوي ۲ سُحِبُوا: أَيْ: جُرُّوا: دمجهول صيغه ده، راښکلې شو ۳ الْقَلِيبِ: وَهُوَ الْبِئْرُ قَبْلَ أَنْ تُطْوَى: دا يو کوهي وو چه غاړې يعنی منډير ورته نه وو جوړشوي.

تسهيلات:

قوله: قَالَ قَائِلٌ:

د قائل مصداق: داابوجهل ملعون وو يا څوك بل بدبخت وو

قوله: جَزُورٍ:

د لفظ جزور تحقيق: شيخ عبدالحق ﷫ اشعة اللمعات کښې ليکلی دی چه جزور کښې په جيم باندې زبر دې بيا په زاء باندې پيښ دې دا هغه اوښ ته وائی چه دَ ذبح کولو نه پس ټکړې ټکړې شوې وی مذبح خانه مراد ده

قوله: آلِ فُلَانٍ:

د آل فلان څخه مراد: نه دَ يوسړی اولاد مراد دې مخصوص څه خاص محله اوخاص قبيله ده. کيدې شی دلته څه مذبح خانه وه چرته چه دَ ذبح شوی اوښانو ګندګيری پرته وه.

قوله: فَرْثِهَا: دیکښې ضمير مؤنث دَ جزور طرف ته راجع دې دکوم طرف ته چه مذکر اومؤنث دواړه ضميرونه راګرځی.

د اشقاهم نه څوک مراد دي:

قوله: فَانْبَعَثَ أَشْقَاهُمْ،

د اشقاء څخه مراد: دي څخه مراد عقبه ابن ابی معیط وو داد آخری درجې بې وقوف اودَ ابوجهل چمچه وه څه چه به ابوجهل وئیل ده به هم هغه کول.

جنګ بدر کښې د عقبه هلاکت: جنګ بدر کښې دې ګیرشوې وو حضورپاك دَ ده دَقتل کولوحکم ورکړو نوهغه وئیل زما قصور څه دي چه دَ باقی قیدیانو په شان ما قیدنه ساتې اودَ قتل حکم ورکوې؟ حضورپاك اوفرمائیل چه تا الله تعالی ته اودَ هغه رسول ته تکلیف رسولې دې بیا یوصحابی اودریدو اودَ هغه سټ ئی کټ کړو. الحمد لله

قوله: لَقَدْرَأَيْتُهُمْ:

کوهی ته غورځولې شوی کافران: دا په اعتباردَ اکثر دي چه ټول په کوهی کښې واچولې شوحالانکه عماره کوهی ته نه وو غورزولې شوې. دغه شان دَ عقبه بن ابی معیط معامله وه

قوله: الْقَلِيبِ:

د قلیب پیژندګلو: قلیب هغه کوهی ته وائی دکوم خله اویاسنئی حصه چه ټیك کړې شوې نه وی یعنی دَ غاړه ئی نه وی. دَ بدر په مقام باندې دا یوخراب اوګنده کوهې وو په کوم کښې چه دا ګنده خلق واچولې شو اودَ هغوی دَ ذلیل کولودَپاره حضورپاك دغه کوهی له راغلواوهغوی ئی مخاطب کړل وئی فرمائیل ماسره چه زما رب کومه وعده کړې وه ما هغه رښتونې اوموندله. آیا تاسوسره چه کومه وعده وه تاسو هغه اولیدله که نه؟

دحسان اشعار: دَ رسول الله ﷺ دَدربار شاعر حضرت حسان رضی الله عنه دانقشه داسې بیان کړې ده

فغادرنا اباجهل صريعًا　　وعتبة قد تركنا بالجبوب

ترجمه مونږ ابوجهل راغورزولې شوې پریخودو اوعتبه مو په سخته کانړی ځنه زمکه باندې مړ شوې پریخودو

يناديهم رسول الله لما　　قدفناهم كباكب في القليب

ترجمه دوی ته رسول خدا هغه وخت آواز ورکولو کوم وخت چه مونږ دوی په ګنده کوهی کښې غورزولې وو

الم تجدوا كلامي كان حقاً　　وامر الله يأخذ بالقلوب

ترجمه حضورپاك اوفرمائیل ولې تاسو زما خبرې رښتونې اونه لیدلې؟ حالانکه دَ الله تعالی حکم خو په زړونو کښې ورکوزیږی

فما نطقوا ولو نطقوا لقالوا　　صدقت وكنت ذارأي مصيب

ترجمه: دغه خلقو جواب ورنه کړو که چرې جواب ئی ورکولې نو داسې به ئی وئیل تاسو رښتیا وئیلی وو اوستاسو رائې صحیح وه.

د مقام بدر زیارت:

هسې خو ماته الله تعالی څو ځله د حرمینو زیارت نصیب کړې دې خو په کال ۲۰۱۹ کښې دعمرې دپاره چې لاړم نو د جده ښخه چې د کمپنۍ کوم بس تلو د هغې ډرائیور راته ووئیل که ستاسو خوښه وی ماته پنځوس پنځوس ریاله اضافی راکړئ زه به مو د مکې ښخه مدینې ته چې کومه عامه لاره تلې ده د هغې ښخه په بله لاره بوزم چرته چې بعضې تاریخی مقامات دی مونږ ورسره دا خبره اومنله او په هغه مقاماتو کښې مقام بدر هم وو، هلته چې د ګاړی ښخه کوز شو نو د سړک په کناره او اړخ باندې یو ښکلې جمات جوړ شوې وو دا هغه ځائې وو په کوم ځائې کښې چې د نبی علیه السلام دپاره څپر جوړ شوې وو اودوی په کښې تشریف فرما وو. بیا د سړک ښخه لاندې ورکوز شو هلته دغه قلیب بدر هم وو په کوم کښې چې ئې د کافرانو لاشونه غوزخولی وو. د بس ډرائیور راته د جنګ بدر نقشه بیان کړه چې په دې ځائې کښې د کافرانو صفونه وو او په دې ځائې کښې د مسلمانانو صفونه وو. لنډه دا چې ددې ښخه روسته په ګاړی کښې کیناستو او بیا ئې راته د شهداء بدر مقبره اوخودله د کومې ښخه چې چاردیوالی تاوه د ګاړی نه ئې کوز نکړو البته لګ ئې ودرولو او دهغې په هغه دیوال باندې کوم چې د سړک طرف ته وو د شهداء بدر نومونه لیکلی شوی وو غرض دا چې په دې سفرکښې راته د مقام بدر زیارت هم نصیب کړو که الله تعالی تاسو حرمینوته بوتلئ نو د ډرائیورسره که مو خبره اوکړه او په څه طریقه مو راضی کړه هم نبه ده ګنی بیا د مدینې ښخه ملګری برابرشئ اومقام بدر ته لاړ شئ ځکه دا یو اسلامی تاریخی مقام دې دجنګ بدر نقشه کتونکی ته وراندې کوی

[۵۸۴۸] د دعوت دپاره د طائف سفر

۵۸۴۸-(۱)[۱] ① «وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، أَنَّهَا قَالَتْ: ② يَا رَسُولَ اللّٰهِ! هَلْ أَتَى عَلَيْكَ يَوْمٌ كَانَ أَشَدَّ مِنْ يَوْمِ أُحُدٍ؟ ③ فَقَالَ: (لَقَدْ لَقِيتُ مِنْ قَوْمِكِ، فَكَانَ أَشَدَّ مَا لَقِيتُ مِنْهُمْ يَوْمَ الْعَقَبَةِ، ④ إِذْ عَرَضْتُ نَفْسِي عَلَى ابْنِ عَبْدِ يَالِيلَ بْنِ كُلَالٍ، ⑤ فَلَمْ يُجِبْنِي إِلَى مَا أَرَدْتُ، ⑥ فَانْطَلَقْتُ وَأَنَا مَهْمُومٌ - عَلَى وَجْهِي، ⑦ فَلَمْ أَسْتَفِقْ إِلَّا بِقَرْنِ الثَّعَالِبِ،

ترجمه: ① او بي بي عائشې رضي الله عنها نه روایت دی هغه یوه ورځ عرض وکړو ② یارسول الله آیا د أحد نه هم زیاته سخته ورځ په تاسو چیرته تیره شوې ده [د احد جنګ کې حضور ﷺ ډیر زیات مصیبتونو او اذیتونو سره مخ شوی وو چې د هغه ذکر مخکې حدیث کې راغې] ③ حضور ﷺ دبي بي عائشې رضي الله عنها دا سوال اوریدو سره وفرمایل ستا د قوم د طرف نه چې

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب بدء الخلق/باب إذا قال أحدکم: آمین والملائکة فی السماء، آمین [ص:۱۱۴] فوافقت إحداهما الأخری، غفر له ما تقدم من ذنبه (رقم-۳۲۳۱) ومسلم فی کتاب الجهاد والسیر/باب ما لقی النبی صلی الله علیه وسلم من أذی المشرکین والمنافقین (رقم-۱۱۱ - (۱۷۹۵)

كوم صورت حال پېښ شوى وو هغه د أحد د ورځي نه ډير زيات په ماسخت وو او دا د عقبه د ورځي واقعه ده [چې ما ستا د قوم دلاسه داسې سخت تكليفونه پورته كړل چې د هغه نه زيات اذيتونه د هغوئ د طرف نه په ټول عمر كې ماته هيڅ كله نه دي رسيدلي] ۴ اوشوه داسې چې زه په هغه ورځ ابن عبد ياليل ابن كلال ته ورسيدم او هغه ته مې د اسلام قبلولو تلقين نصيحت وكړ ۵ ليكن هغه ځما تلقين ته هيڅ توجه ورنه كړه ۶ او زه خني غمجن سيده روان شوم ۷ او تلم ددي پورې چې قرن ثعالب ته رسيدو سره ځما حواس قابو كې رانه غلل.

حل اللغات:- ① يَوْمَ الْعَقَبَةِ: دعقبه معنى ده غريزه كنده، دلته ترې د طائف ورځ مراد ده چه نبي عليه السلام ورته د اسلام دعوت وركړو اوهغوى ورته تكليفونه اورسولو. ② مَهْمُومٌ: أَيْ: حَيْرَانًا هَائِمًا: حيران او پريشان، دغم نه ډك (دغم او پريشانئ په وجه مدهوش ووم) ③ أَسْتَفِقْ: أَيْ: فَلَمْ أُفِقْ: افاقه مې اونه شوه يعنى غم او تكليف مې لرې نه شو. ④ بِقَرْنِ الثَّعَالِبِ: جَبَلٌ بِعَيْنِهِ بَيْنَ مَكَّةَ وَالطَّائِفِ: دمكې او د طائف په مينځ كښې يو غردې د قرن المنازل سره نزدې.

۱ فَرَفَعْتُ رَأْسِي، فَإِذَا أَنَا بِسَحَابَةٍ قَدْ أَظَلَّتْنِي ۲ فَنَظَرْتُ فَإِذَا فِيهَا جِبْرِيلُ، فَنَادَانِي فَقَالَ: ۳ إِنَّ اللَّهَ قَدْ سَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ وَمَا رَدُّوا عَلَيْكَ، ۴ وَقَدْ بَعَثَ إِلَيْكَ مَلَكَ الْجِبَالِ لِتَأْمُرَهُ بِمَا شِئْتَ فِيهِمْ) .۵ قَالَ: (فَنَادَانِي مَلَكُ الْجِبَالِ، فَسَلَّمَ عَلَيَّ ثُمَّ قَالَ: ۶ يَا مُحَمَّدُ! إِنَّ اللَّهَ قَدْ سَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ، وَأَنَا مَلَكُ الْجِبَالِ، ۷ وَقَدْ بَعَثَنِي رَبُّكَ إِلَيْكَ لِتَأْمُرَنِي بِأَمْرِكَ، ۸ إِنْ شِئْتَ أَنْ أُطْبِقَ عَلَيْهِمُ الْأَخْشَبَيْنِ)

ترجمه: ۱ ما خپل سر پورته كې نو څه ګورم چې د وريځي يوه لويه ټكړه ده چې په ما يې سايه (سورې) كړي ده ۲ او بيا اچانك ځما نظر د وريځي هغه ټكړي كې په حضرت جبرائيل عليه السلام راغي جبرائيل عليه السلام زه مخاطب كړم راته يې اوويل ۳ ستاسو پروردګار ستاسو د قوم خبره واوريده او د هغوئ هغه جوابي يې هم واوريدى چې هغوئ تاسو ته دركړي دي ايعنى ستاسو د قوم تاسو ته بدردويل تاسو دروغجن كول او تاسو ته تكليف رسول ټول معلوم دي ۴ او اوس پروردګار ستاسو په خدمت كې د غرونو فرشته اچې د هغه په مخ د زمكې په ټولو غرونو عملداري ده ددي دپاره ا راليږلي ده چې تاسو د خپل قوم د هلاكت او تباهي او د هغه ټولو ظالمانو په غرونو كي دننه ويستلو په باره كې چې تاسو ا څرنګه غواړئ حكم وكړئ ۵ حضور صلى الله عليه وسلم فرمايي ددي نه وروسته د غرونو فرشتي ماته يانبي يا محمد مخاطب كولو سره راته اوويل ۶ اي محمد ! الله تعالى ستاسو د قوم خبره اوريدلي ده زه د غرونو فرشته يم ۷ زه ستاسو پروردګار تاسو ته راليږلى يم چې تاسو ماته د خپلي فيصلي د تعميل حكم راكړئ ۸ كه تاسو فرمايئ نو زه ستاسو د قوم خلقو باندې دا دواړه غرونه اخشبين رايوځاي كوم چې د هغه لاندې دب كيدو سره ټول نيست ونابود شي.

حل اللغات:- ⑤ بِسَحَابَةٍ: وريځ. ⑥ أُطْبِقَ: أَيْ أَقْلِبَ: چه راواړوم، رايوځائي كړم (يو څيز په بل څيز

باندې داسې اینښودل چه د هر طرفه نې پوره راګیرکړې دي ته طبق وائي. دلته د غرونو په مینځ کښې دخلقو راګیرول مراد دی. ⑥الْأَخْشَبَيْنِ: دا د اخشب تثنیه ده. وَالْأَخْشَبُ كُلُّ جَبَلٍ غَلِيظٍ: هر یو سخت غر ته اخشب وائي. أي الْجَبَلَانِ الْمُطِيفَانِ بِمَكَّةَ: دَ مکې مکرمې سره خواکې مخامخ دوه غرونه دی دَ یونوم جبل ابوقبیس دي اودَ دویم نوم قعیقعان دي

۱ قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (بَلْ أَرْجُو أَنْ يُخْرِجَ اللهُ مِنْ أَصْلَابِهِمْ ۲ مَنْ يَعْبُدُ اللهَ وَحْدَهُ، ۳ وَلَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا)». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ رسول الله ﷺ په دې اوریدو سره وفرمایل زه [د دوی د هلاکت طلبګار نه یم بلکه زه خو] دا امید لرم چې الله ﷻ به د دوئ په نسل کې داسې خلق پیدا کړي ۲ چې صرف د یو الله عبادت به کوي ۳ او هیڅ شی به هغه سره شریك نه ګرځوي یعنی نه به شرك جلي کې مبتلا وي او نه شرك خفي کې. (بخاري مسلم)

حل اللغات:-⑧أَصْلَابِهِمْ: أَيْ: مِنْ أَنْسَابِ بَعْضِهِمْ: ددوی په خاندان او نسل کښې

تسهیلات: **قوله**: أَشَدَّ مِنْ يَوْمِ أُحُدٍ:

د طائف دسفر شدت: په احد کښې دَ رسول الله ﷺ ۷۰ صحابه کرام شهیدان شوی وو دَ حضورپاك دَ تره حضرت حمزه ﷺ دَ بدن ټکړې دَ حضورمخې ته وې پخپله هم وینې وینې وو غاښونه مبارك نی شهیدان شوی وو دیره سخته ورځ وه. هم په دې وجه حضرت عائشه ﷺ دَ احد دَ ورځې دَسختئی نه زیات دَ بلې ورځې دَ سختئی اومصیبت باره کښې تپوس کړې دي دَ حضرت عائشه ﷺ خیال وو چه ددې نه زیاته سخته ورځ بله کیدې نه شي لیکن حضورپاك دَ طائف ورځ کوم ته چه یوم العقبة وئیلې شوې ده هغه دَ احد دَ ورځ نه زیاته اوخودله

قوله: يَوْمَ الْعَقَبَةِ:

د یوم العقبه تاریخی پس منظر: دلته یو جمات راپیدا شوې وو هم په دغه ځائی کښې حضورپاك مدینې والوته خپل خان خودلې وو منی کښې مسجد خیف سره جمرة العقبة هم دغه کندې ته منسوب ده په کال ۲۰۰۷ء کښې دَ سعودی حکومت دَجمرات توسیع اوکړه هلته یو جمات راؤوتلو دکوم نوم چه مسجد العقبة دي په اصل کښې دَ حج موسم کښې به حضورپاك دَ عربو قبائلو ته دعوت ورکولو کله چه حالات خراب شو نوحضورپاك حج له راغلی مختلف خلقو ته خپل خان اوخودلو چه ماته تاسو دلته پناه راکړئی دي ته په حدیث کښې "عَرْضُ نَفْسِهِ عَلَى الْقَبَائِلِ" سره یاد کړې شوې دي په منی کښې حضورپاك ددې شروع اوکړه بیاهم په دغه مهم کښې حضورپاك طائف ته روان شو چه هغه آزاد قبائل دی کیدې شی اسلام قبول کړی اوبیا ماته دَ پناه ځائی ملاؤ شی دا پوره نقشه په یوم العقبة سره یاده کړې شوې ده

قوله: عَرَضْتُ نَفْسِي:

د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ثقیف سردارانو ته دعوت ورکول: یعنی ما خپل خان پیش کړو د ثقیف دریو سردارانو ته چه خپل مینځ کښې رونړه وو د یونوم عبد یالیل وو د دویم نوم مسعود اودریم نوم حبیب وو دا دریواړه رونړه د عمرو بن عمیر خامن وو طائف کښې ددوی د تولو لوئی سردار مسعودوو اهل تاریخ دلته ډیر ګډوډ نومونه ذکر کړی دی ما د البدایه والنهایه خبره اولیکله ملاعلی قاری ﷫ لیکلی دی چه ابن عبد یالیل کنیت دې مګر هم دغه ددې سړی نوم هم یعنی عبد یالیل سره خبرې اترې اوکړې.

قوله: بِقَرْنِ الثَّعَالِبِ:

د قرن ثعالب پیژندګلو: د زوړ طائف نه وتلوسره د جبل هدی طرف ته راتلوسره د جدید طائف د یوخائی نوم قرن الثعالب دې اوقرن المنازل هم دغه خائی کښې دې دکوم خائی نه چه اهل نجد احرام تړلوسره مکې ته راخی د اهل طائف میقات هم دغه دې

اشکال: په غزوه احد کښې رسول الله ﷺ پخپله هم زخمی شوې وو د حضورپاك د ۷۰ صحابه کرامو نعشونه د حضور مخې ته وو د حضورپاك د تره حضرت حمزه ﷛ نعش پرې کړې شوې د حضورپاك مخې ته وو دا سخته صدمه حضورپاك د طائف د مصیبت نه کمه ولې اوګرخوله اود طائف دا غم اومصیبت ئی ددې نه ولې زیات اوګرخولو؟

داشکال دوه جوابونه: ① په احد کښې حضورپاك د جنګ میدان اود مقابله په میدان کښې وو د بنمن سره په مقابله کښې چه خومره هم نقصان اوشی دهغې دومره تکلیف نه وی خکه چه د مقابله په میدان کښې خو ګټه اوتاوان دواړه مخې ته راخی خوددې برعکس په طائف کښې حضورپاك د مقابله په میدان کښې نه وو هلته چه څه کیدل هغه ټول د یوطرف نه ظلم وو کوم چه حضورپاك د ډیرې بې کسئی په حالت کښې برداشت کولو دکوم تکلیف چه ډیر زیات وو په دې وجه حضورپاك د طائف تکلیف اومصیبت د حد نه زیات اوګرخولو.

② نبی علیه السلام طائف ته د طائف د خلقو د ایمان راوړو په امید تلې وو چې د طائف خلق به ایمان راوړی خوهر کله چې د هغوی دطرفه دایمان راوړو په خائې ورته تکلیفونه اورسولی شو نودا د انسان فطرت دې چې کله ده ته د امید په خائې سزا ملاؤ شی نوډیرخفه اوپریشانه کیږی ددې وجې نبی علیه السلام د طائف سختی د احد د سختی څخه زیاته اوګرخوله.

دطائف لیدل: په کال ۲۰۰۹ کښې په اول خل حج د بیت الله ته الله تعالی بوتلې ووم په دغه سفر کښې په مکه مکرمه کښې ماته دوه کتابونه ملاؤشو تاریخ مکه او تاریخ مدینه، دا دواړه کتابونه په اردو کښې وو هسې خو په دې موضوع باندې نور کتابونه هم شته خو

ددې مصنف دا کمال کړې دې چې د نبی علیه السلام په وخت کښې کوم مقامات وو. هغه مقامات که اوس ختم شوی هم دی او نورئ آبادی پرې شوی دی خودوی دا خودلی دی چې د نبی علیه السلام په زمانه کښې چې کوم ځائې وو په هغه ځائې کښې اوس دا آبادی ده مثلاً د نبی علیه السلام د وفات څخه پس صحابه کرام چې د خلیفه مقرر کولو دپاره په سقیبه بنو ساعده کښې جمع شوی وو. نو دوی دا خودلی دی چې په موجوده وخت کښې په دغه ځائې باندې کوم عمارت جوړ شوې دې. دا د بنوساعده محل وقوع ده. غرض دا چې ددې کتابونو په کتلوسره په ما کښې د حرمینو د تاریخی ځایونو لیدلو شوق پیدا شوې اوبیا په کښې د طائف د تګ اراده هم پیدا شوه لنډه دا چې الله تعالی طائف ته هم د څخه ملګرو په ملګرتیا کښې اورسولواوهغه باغ موهم ډیر په مشکله پیدا کړل چرته چې نبی علیه السلام دمه کړې وه. هغه باغ اوس هم موجود دې په هغه وخت کښې هم د قجورو او انګورو باغ وو. اوس په کښې مختلف څېړونه دی فصلونه هم او میوه دارې ونې هم بیا دې باغ سره متصل ورکوټې غوندې جمات وو په هغې کښې مو غسل اوکړواود عمرې دپاره مو احرامونه اوتړل اوبیا مو ټیکسی اوکړو په لارې کښې د طائف د خلقو میقات راغلو نو ډرائیور راته اوونیل چې اوس تاسو دعمرې نیتونه اوکړئ نوموږ د هغه ځائې څخه د عمرې نیتونه اوکړل اوالله تعالی په خیرخیریت سره مکې ته راورسولو او عمره مو ادا کړه

قوله: الْأَخْشَبَيْنِ:

د الاخشبين معنى او مصداق: دا غرونه احمر نومی غر سره لګیدلې دې دا دواړه غرونه د یوطرف نه خو په مکه کښې دی مګر بل طرف ته منٰی سره لګیدلی دی.

اشکال: د حضورپاک ګستاخی اهل طائف اوکړه ظالمان هغوی وو بیا په اهل مکه باندې د غرونو د یوځائی کولوڅه مطلب دې؟

داشکال دوه جوابونه: ① ددې غرونو دا سلسله اهل مکه او اهل طائف دواړو باندې محیط ده نو د دواړو ښاریو د تباهئی خبره وه یا صرف د طائف د تباهئی خبره وه هیڅ اشکال نشته دې.

② اصل مجرمان خو د مکې کافران وو هم د هغوی د وجې نه خودا تول هرڅه کیدل. د طائف سفرهم د دغه ظلمونو د وجې نه وو په دې وجه دا جرړه د ختمولو خبره اوکړې شوه.

[۵۸٤۹] په غزوه أحد کښې د نبی کریم ﷺ زخمي کیدل

۵۸۴۹-(¹) [۳] ①وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كُسِرَتْ رَبَاعِيَتُهُ يَوْمَ أُحُدٍ ②

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الطب/باب حرق الحصیر لیسد به الدم (رقم-۵۷۲۲) ومسلم فی کتاب الجهاد والسیر/باب غزوة أحد (رقم-۱۰٤ - (۱۷۹۱) والترمذی فی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب: ومن سورة آل عمران (رقم-۳۰۰۳) وابن ماجه فی کتاب الطب/باب دواء الجراحة (رقم-۳٤٦٤) واحمد فی المسند:۲۸۸/۳

وَشُجَّ فِي رَأْسِهِ، ۳ فَجَعَلَ يَسْلُتُ الدَّمَ عَنْهُ وَيَقُولُ: ۴ «كَيْفَ يُفْلِحُ قَوْمٌ شَجُّوا رَأْسَ نَبِيِّهِمْ ۵ وَكَسَرُوا رَبَاعِيَتَهُ؟)». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دی د أحد د جنګ په ورځ د رسول الله ﷺ هغه څلورو غابښونو کې يوغابښ مبارك مات شوی وو چې هغه ته رباعيه وايي ۲ او د حضور ﷺ سر مبارك زخمي شوی وو ۳ حضور ﷺ به وينه وچوله او فرمايل به يې ۴ هغه قوم به څرنګه نجات پيدا کړی شي چې دخپل نبي سر يې زخمي کی ۵ د هغه غابښ يې مات کی (مسلم)

حل اللغات:- ۱ كُسِرَتْ: د مجهول صيغه ده، مات کړې شوې وو ۲ رَبَاعِيَتُهُ: مخامخ دوه لاندې باندې غابښونوته ثنايا وائی وريسې لاندې باندې څلور غابښونه رباعی دی (نبی طرف ته لاندې رباعی غابښ د نبی عليه السلام مات شوی وو) ۳ شُجَّ: أَيْ: جُرِحَ: زخمی کړې شوې وو (د سر اومخ زخم دپاره شج لفظ استعماليږی) ۴ يَسْلُتُ: أَيْ: يُزِيلُ: د نَصَرَيَنْصُرُ نه دې دبدن نه وينه صفاکولوته وائی

تسهيلات:

قوله: كُسِرَتْ رَبَاعِيَتُهُ يَوْمَ أُحُدٍ،

د رباعيته مصداق: دَ انيـاب اوثنايا په مينځ کښې غابښونوته رباعی وائی دَحضورپاك غابښونه مبارك بالکل ماتيدوسره پريوتلي نه وو بلکه څه حصه ئی ماته شوې وه دَ نبی طرف لاندينو غابښونوځخه رباعی مراددی.

[۵۸۵۰] د نبی کريم ﷺ په لاس وژلی شوی کس شقاوت

۵۸۵۰ - ()[۳] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «(اشْتَدَّ غَضَبُ اللَّهِ عَلَى قَوْمٍ فَعَلُوا بِنَبِيِّهِ) . ۳ يُشِيرُ إِلَى رَبَاعِيَتِهِ ۴ (اشْتَدَّ غَضَبُ اللَّهِ عَلَى رَجُلٍ يَقْتُلُهُ رَسُولُ اللَّهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ) ۵ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ» . وَهَذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ: الْفَصْلِ الثَّانِي

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چی رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ د الله جل جلاله سخت ترين غضب په هغه قوم دی چې هغوئ خپل نبي سره داسې سلوك وکی ۳ دداسې سلوك نه د حضور ﷺ اشاره خپلو غابښونو طرف ته وه اچې په هغه کې يوغابښ کفارو د أحد په جنګ کې شهيد کړی وو ۴ او د الله جل جلاله سخت ترين غضب په هغه سړي دی چې د الله جل جلاله رسول يې د الله په لار يعنی جهاد کې قتل کړي ۵ (بخاري مسلم) او په دی باب کی دويم فصل نشته

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب ما أصاب النبی صلی الله علیه وسلم من الجراح يوم أحد (رقم-۴۰۷۳) ومسلم فی کتاب الجهاد والسير/باب اشتداد غضب الله علی من قتله رسول الله صلی الله علیه وسلم (رقم-۱۰۶ - (۱۷۹۳) واحمد فی المسند: ۳۱۷/۲

تسهيلات:

قوله: يَقْتُلُهُ رَسُولُ اللهِ،

درجل مصداق: دَ احد په ميدان کښې حضورپاك يوبدبخت كافر ابى بن خلف په نيزه باندې وهلوسره قتل كړې وو دَهغه طرف ته اشاره ده

(هذا الباب خال عن الفصل الثانى)

په دې باب کښې دويم فصل نشته

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۸۵۱] دَ نزول په اعتبار سره اولنى آياتونه

۵۸۵۱-( ) [۳] ①«عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، قَالَ: ② سَأَلْتُ أَبَا سَلَمَةَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَوَّلِ مَا نَزَلَ مِنَ الْقُرْآنِ؟ ③ قَالَ: ﴿يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾ [المدثر: ۱] قُلْتُ: يَقُولُونَ: ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ﴾ [العلق: ۱] ④ قَالَ أَبُو سَلَمَةَ: سَأَلْتُ جَابِرًا عَنْ ذَلِكَ. وَقُلْتُ لَهُ مِثْلَ الَّذِي قُلْتَ لِي. ⑤ فَقَالَ لِي جَابِرٌ: لَا أُحَدِّثُكَ إِلَّا بِمَا حَدَّثَنَا رَسُولُ اللهِ- صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ⑥ قَالَ: (جَاوَرْتُ بِحِرَاءٍ شَهْرًا، فَلَمَّا قَضَيْتُ جِوَارِي هَبَطْتُ،

ترجمه: ① حضرت يحيى ابن كثير وايي ② ما د حضرت ابوسلمه ابن عبد الرحمن ابن عوف رضي الله عنه نه چې د اوچتې درجې تابعينو او مشاهيرو علماء اسلام او د فقهاء سبعه نه دي پوښتنه وكړه د قرآن كريم كومه حصه د ټولو نه مخكښې نازله شوه؟ ③ هغه جواب راكړو چې يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ما عرض وكړو اكثره علماء خو دا وايي چې د ټولو نه مخكې اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ نازل شوي دي ④ حضرت ابوسلمه وفرمايل ما د حضرت جابر رضي الله عنه نه دا پوښتنه كړې وه [چې د قرآن كريم كومه حصه د ټولو نه مخكې نازله شوى ده؟ نو هغه هم دا جواب راكړو كوم چې ماتاته دركړى دى] بيا ماهم هغوئ ته دا اوويل څه چې تاماته ويلي دي [چې اكثره خلق خو دا وايي چې د ټولو نه مخكې اقرأباسم ربك الذى نازل شوي دي] ⑤ نو هغوئ ماته وفرمايل زه ستا مخكې هغه حديث بيانوم چې رسول الله ﷺ زمونږ مخكې ارشاد فرمايلى وو ⑥ حضور ﷺ دا وفرمايل چې زه يوه مياشت پورې په غارِ حرا كې خلوت نشين او معتكف وم هركله چې خما د خلوت نشينى او اعتكاف موده پوره شوه او زه د غره نه راكوز شوم

حل اللغات: - ① الْمُدَّثِّرُ: څادر يا كمبل اغوستونكې يعنى د نبوت او رسالت څادر او درونډ بار اوچتونكې، ② جَاوَرْتُ: گوشه نشينى يا اعتكاف مې اوكړو ③ هَبَطْتُ: أَيْ: نَزَلْتُ: راكوز شوم.

[۱]) اخرجه البخارى فى كتاب تفسير القرآن/باب سورة المدثر (رقم-۴۹۲۲) ومسلم فى كتاب الإيمان/باب بدء الوحى إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-۲۵۷ - (۱۶۱) واحمد فى المسند:۳/۳۰۶

۱ فَنُودِيتُ فَنَظَرْتُ عَنْ يَمِينِي فَلَمْ أَرَ شَيْئًا، ۲ وَنَظَرْتُ عَنْ شِمَالِي فَلَمْ أَرَ شَيْئًا، ۳ وَنَظَرْتُ عَنْ خَلْفِي فَلَمْ أَرَ شَيْئًا، ۴ فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَرَأَيْتُ شَيْئًا، ۵ فَأَتَيْتُ خَدِيجَةَ، فَقُلْتُ: دَثِّرُونِي، ۶ فَدَثَّرُونِي، وَصَبُّوا عَلَيَّ مَاءً بَارِدًا، ۷ فَنَزَلَتْ: ﴿يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ - قُمْ فَأَنْذِرْ - وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ - وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ - وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ﴾ [المدثر: ۱-۵] ۸ قَالَ وَذَلِكَ قَبْلَ أَنْ تُفْرَضَ الصَّلَاةُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ نو اچانك ځما په غوږونو کې اواز راغې چې څوك صاحب ما مخاطب کوي ما ښي طرف ته وکتل نوماته هيڅ شی په نظر رانغې ۲ بيا مي چپ طرف ته وکتل نو اخوا هم هيڅ شی په نظر رانغلو ۳ وروسته مي نظر وکی نو هيڅ مي ونه ليدل ۴ بيا چې ماپورته نظر وکړو نو ماته څه په نظر راغلل [يعنی يوه فرښته راته ښکاره شوه د هغه په ليدو سره زه وويريدم او د خوف نه رپيدو سره] ۵ بي بي خديجې ﷺ ته راغلم ورته مې اوويل په ما باندې کپړه واچوه [په ماباندې کپړه واچوه] ۶ بي بي خديجې ﷺ سمدستي په ما يوه کپړه واچوله او [ځما حواس بحال کولو د پاره] په مايې يخې اوبه واچولې ۷ ددې نه وروسته دا آيت نازل شو يا ايها المدثر قم فانذر وربك فكبر وثيابك فطهر والرجز فاهجر يعنی کپړه اغوستونکيه را لاړ شه او د خپل رب لويې بيان کړه او خپلې کپړې پاکې ساته اود ناپاکي نه پرهيز کوه ۸ او د وحي د نزول دا واقعه د مونځ فرض کيدو نه د مخکې ده (بخاري مسلم)

حل اللغات: -۱ فَنُودِيتُ: آواز راته اوکړې شو ۵ دَثِّرُونِي: کمبل راباندې واچوئ. ۶ وَصَبُّوا: راباندې ئې واړولې

تسهيلات:

قوله: أَوَّلِ مَا نَزَلَ مِنَ الْقُرْآنِ؟:

د نزول وحی په اعتبارسره د ټولو څخه اولنی سورت: دَ نزول وحی په اعتبارسره دټولو نه مخکښې سورت علق پنځه آياتونه نازل شوی بيا دَ انقطاع وحی زمانه راغله. دَ انقطاع وحی نه پس چه مکمل سورت نازل شو هغه سورت مدثر دې دکوم تذکره چه په زير بحث حديث کښې ده نودامطلق دَ وحی خبره نه ده بلکه دکامل سورت دَ نازليدو خبره ده لکه چه دا شروع اضافی ده چه دَ انقطاع وحی نه پس دَ ټولو نه مخکښې دَ وحی نه پس نازل شوی وو

[۵]بَابُ عَلَامَاتِ النُّبُوَّةِ

دَ نبوت دَعلاماتوبیان

خلاصة الباب:

فيه عشرة أحاديث مشتملة على إحدى عشرة علامة:

① شق الصدر: ۱۔ ② تسليم الحجر عليه ﷺ: ۲۔
③ شق القمر: ۳، ۴۔
④ خندق النار دون أبي جهل: ۵۔
⑤ الإخبار بالأمن: ۲، ۷۔
⑥ الإخبار بفتح مكة: ۶۔
⑦ الإخبار باستغناء الناس عن المال المستقبل: ۶۔
⑧ الإخبار بغزوة البحر وكون أم حرام من المجاهدين فيها: ۸۔
⑨ الكلام المعجز في الفصاحة: ۹۔
⑩ إقرار الأعداء بصداقة النبي صلى الله عليه وسلم: ۱۰۔
⑪ بلوغ ملكه إلى الروم: ۱۰۔

د علامات: لغوی معنی: علامات جمع ده دَدي مفرد علامة دي علامات نښوته وائي

دعلامات نه مراد: دلته هغه نښې اوعلامې مراد دی کوم چه دَ حضور پاك په نبوت باندې دلالت کوی

د صاحب مشکاة په عنوان باندې اشکال: شیخ عبدالحق رحمه الله اشعة اللمعات کښې لیکلی دی چه علامات نبوت او معجزات هم یو څیزدې. په دې وجه شراح حضرات حیران اوپریشان دی چه صاحب مشکوة هم دَ یومفهوم څیز په دوو جداجدا ابوابو کښې ولې ذکرکړو

د اشکال دوه جوابونه: ① په علامات نبوت کښې څه څیزونه هغه هم دی دَ کوم تعلق دَ نبوت دَ اعلان نه وړاندې واقعاتوسره دې لکه څنګه چه دَدې باب په حدیث نمبر(۵۸۵۲) او (۵۸۵۳) وغیره کښې دی. نوښکاره خبره ده چه دې ته معجزه خونه شي وئیلې مګرداپه نبوت باندې علامت اودلالت دې هم په دې وجه کیدې شی صاحب مشکوة داباب دَمعجزاتونه جدا اوساتلواودَدې دَپاره ئی جدا عنوان اوتړلو

② په معجزاتوکښې زیات تر دَهغه څیزونوبیان وی چه مخامخ انسان عاجز اومجبورکوی

چه معجزه دي او کتله اوس ایمان راوړه. او دَ نبوت په علاماتو کښې داسې نه وی بلکه په دې کښې زیات تر داسې څیزونه بیانولې شی چه فی نفسه دَحضور پاك په نبوت باندې دَعلامت په توګه دلالت کوی مګر څوك په ایمان راوړلو باندې مجبور او عاجز کولې نه شی. دا دواړه جوابونه حافظ فضل محمد صاحب صاحب د توضیحات دی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۸۵۲] د شق صدر واقعه

۵۸۵۲-() [۱] [۱] عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَتَاهُ جِبْرِيلُ [۲] وَهُوَ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ، فَأَخَذَهُ، [۳] فَصَرَعَهُ، فَشَقَّ عَنْ قَلْبِهِ، [۴] فَاسْتَخْرَجَ مِنْهُ عَلَقَةً فَقَالَ: [۵] هَذَا حَظُّ الشَّيْطَانِ مِنْكَ، [۶] ثُمَّ غَسَلَهُ فِي طَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ بِمَاءِ زَمْزَمَ، [۷] ثُمَّ لَأَمَهُ وَأَعَادَهُ فِي مَكَانِهِ [۸] وَجَاءَ الْغِلْمَانُ يَسْعَوْنَ إِلَى أُمِّهِ، يَعْنِي ظِئْرَهُ [۹] فَقَالُوا: إِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ قُتِلَ، [۱۰] فَاسْتَقْبَلُوهُ وَهُوَ مُنْتَقِعُ اللَّوْنِ [۱۱] قَالَ أَنَسٌ: فَكُنْتُ أَرَى أَثَرَ الْمِخْيَطِ فِي صَدْرِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی حضور ﷺ چې خپل ماشومتوب کې بي بي حلیمې رضی الله عنها سره وو د هغه وخت واقعه ده یوه ورځ حضور ﷺ ته حضرت جبرائیل علیه السلام راغې [۲] حضور ﷺ د وړو سره لوبې کولې چې حضور ﷺ یې اونیولو [۳] بیا یې سم څملولو بیا هغه د حضور ﷺ زړه ته نزدې سینه وځیرله [۴] او د حضور ﷺ د زړه نه یې د جم شوي وینې یوه توره ټکړه راوایستله او رته یې اوویل [۵] دا ستا په جسم کې د شیطان حصه ده [که دا ټکړه ستا په جسم کې دغه شان پاتې شوي وی، نو شیطان به د دې په ذریعه په تا قابو پیدا کولای] [۶] د دې نه وروسته هغوئ د حضور ﷺ زړه مبارك د سو زرو یو لګن کې د زمزم په اوبو سره ومنځی [۷] او بیا زړه په خپل ځای ایښودلو سره سینه مبارکه یې برسیره نه برابره کړله [۸] هغه کشنیان چې دحضور ﷺ سره وه دا پوره منظر لیدو سره وویرېدل او وتښتېدل او د حضور ﷺ مور یعنی تیئ ورکونکې حلیمه رضی الله عنها ته راغلل [۹] او ورته یې اوویل چې محمد ووژل شو [۱۰] د بي بي حلیمه رضی الله عنها د کور او ګاونډیان خلق دې خبرې اوریدو سره هغه ځای ته ورسیدل اچیرته چې حضور ﷺ موجود وو هغوئ حضور ﷺ صحیح سالم اولیدلو لیکن حضور ﷺ یې په داسې حال کې اولیدلو چې د خوف او دهشت نه ا د حضور ﷺ د مخ مبارك رنګ بدل شوی وو [۱۱] حضرت انس رضی الله عنه دا روایت بیانولو سره اوویل چې ما به د حضور ﷺ په سینه مبارکه د ګنډلو (سلائي) نښه لیدله (مسلم)

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان/باب الإسراء برسول الله صلی الله علیه وسلم إلی السماوات، وفرض الصلوات (رقم-۲۶۱ - (۱۶۲) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی آیات نبوة النبی صلی الله علیه وسلم وما قد خصه الله عز وجل به (رقم-۳۶۲۴)

حل اللغات:- ①الغِلْمَانِ: أَيْ: الصِّبْيَانِ: ماشومان. ②فَصَرَعَهُ: أَيْ: فَطَرَحَهُ: نبی علیه السلام ئې راځملولو ③فَشَقَّ: اوني څيرله، اوني شلوله ④عَلَقَةً: أَيْ: دَمًا غَلِيظًا: جم شوې يا چکه وينه، ⑤حَظُّ الشَّيْطَانِ: أَيْ: نَصِيبُهُ: د شيطان حصه، ⑥طَسْتٍ: لوبني، خانک يا لګن ⑦لَأَمَهُ: أَيْ: أَصْلَحَ: برابر ئې کړو (يعنې دنبی علیه السلام زړه مبارک ئې واپس په خپل ځائې کښې کېښودلو). ⑧ظِئْرُهُ: أَيْ: مُرْضِعَتُهُ حَلِيمَةُ: رضاعی مور يعنې بی بی حليمه سعديه رضی الله عنها) ⑨مُنْتَقِعُ اللَّوْنِ: أَيْ: مُتَغَيِّرَهُ: يعنې رنګ ئې بدل شوې وو زيړشوې وو. ⑩أَثَرَ الْمِخْيَطِ: أَيْ: الإِبْرَةِ: په ستن سره د ګنډلو نښه

تسهيلات:

قوله: فَشَقَّ عَنْ قَلْبِهِ:

د شق صدر مفهوم: يعنې زړه سره ئې سينه اوشلوله اوبيائې دننه نه زړه راوويستلو دزړه دننه نه ئې توره کلکه وينه اوويستله اوبهرئې اوغورزوله بيائې زړه اوګنډلو اوبيائې سينه اوګنډله په کوم کښې چه دَ سينې ننبه دَعمر مودې پورې باقی پاتې وه

د شق صدر څلور ځله وقوع:

د شق صدر اوشرح صدرواقعه حضورپاك سره څلورځل پيښه شوې ده

① دَحضرت حليمه سعديه رضي الله عنها دَ پالنې په وخت کښې د شق صدر واقعه پيښه شوې دکوم ذکرچه په زيربحث حديث کښې دې. دغه وخت حضورپاك په کم عمرکښې وو کوم وخت چه حليمه سعديه رضي الله عنها دَحضورپاك پالنه کوله

② د شرح صدرواقعه دَ لسوکالو په عمرکښې پيښه شوې

③ دَ نبوت دَ ظهورپه وخت کښې کوم وخت چه دَحضورپاك عمرڅلويښت کاله وو د شق صدر واقعه

④ آسمان ته دَ معراج دَپاره دَتللو په وخت د شق صدر واقعه پيښه شوې اوهغه وخت دَحضورپاك عمر مبارك يوپنځوس خواؤشا وو

د انسان په بدن او په زړه کښې دننه دوه قسم مخلوق کارکوی:

قوله: هَذَا حَظُّ الشَّيْطَانِ مِنْكَ،

په انسانی زړه د دوه قسمه مخلوق اثرانداز کيدل: يعنې دَ انسان په بدن اوبياپه زړه کښې دننه دوه قسم مخلوق کارکوی اوخپل خپل اثراچوی

① يومخلوق فرښتې په زړه کښې دننه ځانې جوړې شوی دی چرته چه دَ وينې قطرې هم وی داخايونه دَ فرښتودالهاماتو مقامات دی

② بل مخلوق شيطانان دی دا مقامات دَ شيطانانودَ وسوسو مرکزونه دی

د دواړه قسمه مخلوق اثراندازی: ① په دې دواړوکښې چه دَ کوم مخلوق کنټرول په دې

خایونو کښې قائم شو هم دَهغوی لاس ته ورخی اودَزړه دَ وجې نه بیا پوره بدن متاثر کیږی. که دَ فرښتو په قابو کښې زړه راغلو نودَ پوره بدن روحانی نظام صحیح کیږی

②او که چرې دَ شیطانانو کنټرول راغلو نودَ پوره بدن روحانی نظام خراب شی. په زیربحث حدیث کښې حظاالشیطان اشاره هم دې پس منظرطرف ته ده نولکه چه دَ حضور پاك قلبی روحانی نظام مکمل توګه باندې دَ فرښتو په لاس کښې راغلواودَ شیطانانودَ وسوسو ګنجائش ختم شو.

اشکال: چه دَ اپریشن په ذریعه دَ قلب اطهرنه هغه حصه پرې کولوسره ویستلې شوې وه نودَتخلیق په وخت دا په قلب اطهر کښې ولې پیدا کړې شوه؟ دَ شروع نه به الله تعالی داحصه نه پیدا کوله نودَ ویستلو هډو ضرورت به نه وو؟

د اشکال جواب: الله تعالی انبیاء کرام علیهم السلام په کامل بشریت باندې پیدا کړی دی په یونبی کښې څه بدنی نقص پرینخودو. که دَتخلیق په وخت داحصه نه پیدا کوله نودَحضورپاك په جسم اطهرکښې به یوبشری نقص پاتې کیدو او په کمال کښې به ئې فرق راتلو. په دې وجه ئې اول دَاعلی کمال تکمیل اوفرمائیلو بیائی دَ اپریشن په ذریعه دا اوویستلو په دې

دزړه د اپریشن ایجاد: حدیث سره انسانانوته دَ زړه دَ اپریشن لارخودنه ملاؤشوې ده. دوه نیم زره کاله پس چه په کوم څیزدنیا فخرکوی دَهغې شروع دَ محمدعربی ﷺ دَ ذات مبارك نه دَ بې سر اوسامانئی په دورکښې شوې.

قوله: أَثَرَ الْمِخْيَطِ:

د اثر المخیط وضاحت: یعنی دَ شرح صدرنه پس دَ سینې ښنبه دَ مرئی دَ قوتی نه واخله ترنامه پورې موجود وه په دې باندې دَ ویښتو یوه ښائسته کرخه وه.

[۵۸۵۳] په نبی علیه السلام د د کا نړی سلام اچول

۵۸۵۳-() [۲] ① وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «إِنِّي لَأَعْرِفُ حَجَرًا بِمَكَّةَ ③ كَانَ يُسَلِّمُ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ أُبْعَثَ، إِنِّي لَأَعْرِفُهُ الْآنَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت جابر ابن سمره رضی الله عنه وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل ② زه هغه کانی پیژنم ③ چې په مکه کې د نبوت د ظهور نه مخکې به یې ماته سلام اچوی زه اوس هم هغه ښه پیژنم (مسلم)

حل اللغات: - ① قَبْلَ أَنْ أُبْعَثَ: د نبوت ملاویدو یا ښکاره کیدو نه مخکښې.

---

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الفضائل/باب فضل نسب النبی صلی الله علیه وسلم. وتسلیم الحجر علیه قبل النبوة (رقم-۲-۲۲۷۷) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی آیات نبوة النبی صلی الله علیه وسلم وما قد خصه الله عز وجل به (رقم-۳۶۲۴)

تسهيلات:

قوله: إِنِّي لَأَعْرِفُ حَجَرًا:

د حجر په مصداق کښې دوه اقوال: ① دَ دې حجر نه مراد حجر اسود دې ② دې نه هغه کاڼړې مراد دې کوم چه دَ زقاق الحجر په نوم سره مشهور دې. اودا زقاق الحجر دَ مکې مکرمې دَ يوې محلې نوم دې چه دکعبې او دَ حضرت خديجه رضي الله عنها دکور په مينځ کښې واقع دې. او تراوسه پورې هغه کاڼړې په مکه کښې موجود دې او په هغه کاڼړې کښې دَ نبی کريم ﷺ دَ څنګلې نښې موجود دی.

په نبی عليه السلام د جماداتو سلام اچول:اهل مکه اوس هم دَدغه کاڼړې زيارت کوی. په يو روايت کښې دی چه حضورپاك ارشاد فرمائيلې دې چه کله حضرت جبرائيل عليه السلام ماله رسالت راوړلو سره راغلو دَهغې نه پس چه به زه کله هم دَ يوکاڼړی يا ونې مخې ته تيريدلم نوهغه به "السلام عليك يا رسول الله" وئيلو. دَ دې نه معلومه شوه چه حضورپاك دَ ټولو مخلوقاتو طرف ته راليږلې شوې دې.

[۵۸۵٤]دشق قمر معجزه

۵۸۵٤-(١)[٣] ① وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «إِنَّ أَهْلَ مَكَّةَ سَأَلُوا رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنْ يُرِيَهُمْ آيَةً، ③ فَأَرَاهُمُ الْقَمَرَ شِقَّتَيْنِ ④ حَتَّى رَأَوْا حِرَاءً بَيْنَهُمَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]

ترجمه: ① او حضرت انس رضي الله عنه وايي ② د مکي کافرو جمع کيدو سره درسول الله ﷺ نه مطالبه وکړه که تاسو د نبوت دعوی کې ريښتنی يې نو څه ښنبه معجزه وښايه ③ نو حضور ﷺ د خپل لاس مبارك اشاري سره د سپوږمی دوې ټکري کولو سره وښودله ④ ددې پورې چې هغه کافرو حراء غر د هغه دوو ټکړو په منځ کې وليدی. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① آيَةً: أَيْ: عَلَامَةً دَالَّةً عَلَى نُبُوَّتِهِ وَرِسَالَتِهِ: نښه او علامت چه د نبی عليه السلام په نبوت اورسالت باندې دلالت کوی يعنی معجزه. ② شِقَّتَيْنِ: أَيْ: قِطْعَتَيْنِ: دوه ټکرې، دوه حصې، ③ حِرَاءً: د يو غر نوم دې.

تسهيلات:

قوله: حَتَّى رَأَوْا حِرَاءً بَيْنَهُمَا

اشکال: شق القمر يوه ډيره لويه واقعه ده که چرې حقيقتًا شوې وی نو صرف اهل مکه ولې اوليدلو نورو خلقو به هم ليدلو. لهذا که چرې دا واقعتًا رښتيا وې نو پوره دنيابه ليدلو؟

[1]) اخرجه البخاري فی کتاب المناقب/باب سؤال المشركين أن يريهم النبی صلی الله عليه وسلم آية، فاراهم انشقاق القمر (رقم-٣٦٣٧) ومسلم فی کتاب صفة القيامة والجنة والنار/باب انشقاق القمر (رقم-٤٦ - (٢٨٠٢) کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب فی آيات نبوة النبی صلی الله عليه وسلم وما قد خصه الله عز وجل به (رقم-٣٦٢٤)واحمد فی المسند: ٣٧٧/١

د شق القمر د واقعې د عدم شهرت وجوه: ددې واقعې د عدم شهرت وجوهات بعضې عالمانو لیکلی دی.

① دَ شق القمر واقعه چونکه دَ شپې وه په دې وجه زیاته مشهوره نه شوه

② دا خاص خلقو غوښتې وه نوضروری نه وه چه دَ ټولې دنیا خلقو ته خودلې شوې وه.

③ ټول انسانان ئې عام هم نه کړل اونه دټولو غوښتلو اوبیا دَ ټولو کتلو نه پس که چرې کافرانو انکارکولې نوبیابه عمومی عذاب راتلو لکه څنګه چه دَ غوښتنې دمعجزه نه دَ انکار نه پس راځی. په سماوی کائنات کښې دَ "خرق والتئام" انکار یوځو مخروق الدماغ او محروف الدماغ خلقو کار دې کوم چه ناقابل التفات دې. دَ الله تعالی په حکم سره دَ حضورپاك په لاس باندې دَمعجزه ظهور کښې دَ محال کیدو ګنجائش نشته دې. اهل تاریخ دَ شق القمر واقعه په تواتر سره نقل کړې ده. په احادیثو کښې دَدې ثبوت موجود دې دَ قرآن اعلان دې ﴿ اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ﴾ اوس انکار بې کاره دې. دې سره حدیث کښې دَ فرقتین الفاظ دی دې نه مراد هم دوه ټکړې دی.

۵۸۵۵-() [۳] [۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: «انْشَقَّ الْقَمَرُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِرْقَتَيْنِ: [۲] فِرْقَةً فَوْقَ الْجَبَلِ، وَفِرْقَةً دُونَهُ [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (اشْهَدُوا)». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن مسعود رضی الله عنه وایې د رسول الله ﷺ په زمانه کې سپوږمۍ په منځ چاودلو سره داسې دوه ټکړې شوه [۲] چې یوه ټکړه د غر برسیره جانب باندې وه او دویمه لاندې طرف ته [۳] رسول الله ﷺ [د کافرو په طلب دا معجزه ښودلو سره] هغوئ ته وفرمایل چې څماد نبوت یا څما د معجزې شهادت ورکئ. (بخاري مسلم)

تسهیلات:

قوله: اشْهَدُوا

د شق القمر دوه قسمونه: ① دَ رسول الله ﷺ دَ لاس مبارك په اشاره سره دَ سپوږمئی دوه ټکړې کیدل دَ کوم په صداقت کښې چه هیڅ شك شبه نشته دې. په حدیث کښې دَ شهادت یوه معنی داده چه راشئی دامعجزه اوګورئی په دې صورت کښې به "اشهدو" دَ شهادت نه مشتق منلې شی. دَ دې نه مراد هم شق القمر دې چه دَ حضورپاك دَ معجزې په توګه واقع شوې . ② انشقاق قمر بل دې کوم چه به دَ قیامت په ورځ وی. کوم چه په قرآن کښې په سورت القمر بیان کړې شوې دې.

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب سؤال المشرکین أن یریهم النبی صلی الله علیه وسلم آیةً. فأراهم انشقاق القمر (رقم-۳۶۳۶) ومسلم فی کتاب صفة القیامة والجنة والنار/باب انشقاق القمر (رقم-٤٤ - (۲۸۰۰) واحمد فی المسند: ۳۷۷/۱؟

[٥٨٥٦]د الله تعالى د طرفه ابوجهل ته تنبيه

٥٨٥٦-() [٥] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ أَبُو جَهْلٍ: ٢ هَلْ يُعَفِّرُ مُحَمَّدٌ وَجْهَهُ بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ؟ فَقِيلَ: نَعَمْ ٣ فَقَالَ: وَاللَّاتِ وَالْعُزَّى لَئِنْ رَأَيْتُهُ يَفْعَلُ ذَلِكَ لَأَطَأَنَّ عَلَى رَقَبَتِهِ، ٤ فَأَتَى رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ يُصَلِّي - ٥ زَعَمَ لِيَطَأَ عَلَى رَقَبَتِهِ - ٦ فَمَا فَجِئَهُمْ مِنْهُ إِلَّا وَهُوَ يَنْكُصُ عَلَى عَقِبَيْهِ، ٧ وَيَتَّقِي بِيَدَيْهِ، فَقِيلَ لَهُ مَا لَكَ؟

ترجمه: ١ او حضرت ابوهريره ﷺ وايي یو وار ابوجهل د خلقو مخکې ډيرپه تحقير سره اوويل ٢ يا محمد ستاسو مخکې خپل مخ خاك آلود کوي يعني مونځ اوسجده کوي خلقو اوويل هو ٣ ابوجهل اوويل په لات او عزى دواړو لويو بتانو قسم که ما محمد داسې کولو يعني مونځ او سجده کولو باندې اوليدلو نو د هغه په څټ به پښه ايږدم ٤ يوه ورځ هرکله چې حضور ﷺ مونځ کوی او سجده کې وو ٥ ابوجهل دي ناپاکي ارادي سره چې د حضور ﷺ څټ مبارك خپلو پښو سره پامال کړي ٦ هغه دحضور ﷺ طرف ته مخکې مخکې کيدو کې اچانك اودريدلو او سمدستي خلقو طرف ته راتاؤشو ٧ او داسې ښکاره کيدی چې هغه په خپلو دواړو لاسونو سره څه شی منع کوي [يعنی کوم وخت چې هغه واپس راتلو سره خپلو خلقوته ورسيدی نو داسې معلوميده چې څه سخت آفت باندې راغلي او هغه دواړو لاسونو سره هغه منع کوي] خلقو په دې ليدو سره ځني پوښتنه وکړه چې آخر څه قصه ده [چې ته خپله اراده پوره کولو نه بغير واپس راغې او خپلو لاسونو سره د څه شي د منع کولو کوشش کوې].

حل اللغات:- ① يُعَفِّرُ: دا د تَعْفِير نه دې، وَهُوَ التَّمْرِيغُ: په خاورو ککړ کولو په معنی کښې دې. ② وَاللَّاتِ وَالْعُزَّى: دا دواړه په بيت الله شريف کښې دننه دوه غټ مشهور بتان وو. ③ لَأَطَأَنَّ: أَيْ: لَأَدُوسَنَّ: پامال کوم به ئې، په څټ به ورته خپه ايږدم. ④ فَجِئَهُمْ: أي أَتَاهُمْ بَغْتَةً: يعنى ناڅاپه راتاؤ شو. ⑤ يَنْكُصُ: أي: يَرْجِعُ: راواپس شو.

١ فَقَالَ: إِنَّ بَيْنِي وَبَيْنَهُ لَخَنْدَقًا مِنْ نَارٍ ٢ وَهَوْلًا وَأَجْنِحَةً. ٣ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (لَوْ دَنَا مِنِّي ٤ لَاخْتَطَفَتْهُ الْمَلَائِكَةُ عُضْوًا عُضْوًا)». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ ابوجهل صفا اوويل زه دا وينم چې څما او د محمد په منځ کې د اور خندق کنده ده ٢ ډيرخوفناك منظر دی او د محافظ فرشتو وزري او متې دي ٣ رسول الله ﷺ وفرمايل که ابوجهل ماته نزدې راغلی وی ٤ نو فرشتو به د هغه جسم ټکړي ټکړي کړي وې [يعنی هري فرشتې به د هغه د بدن يويو عضو تښتولی وی].

حل اللغات:- ⑥ هَوْلًا: أَيْ: خَوْفًا وَأَمْرًا شَدِيدًا: ويره اوسخته خطره. ⑦ وَأَجْنِحَةً: د جَنَاح جمع ده، وزرې يعنى

) اخرجه مسلم في كتاب صفة القيامة والجنة والنار/باب قوله: {إن الإنسان ليطغى أن رآه استغنى}[العلق: ٧] (رقم -٣٨ -(٢٧٩٧)

دَ حفاظت کونکو فرښتو متې وي. ⑧ لَاخْتَطَفَتْهُ: أَي: اسْتَلَبَتْهُ بِسُرْعَةٍ: هغه به ئې تکړې تکړې کړې وي یعنی حفاظت کونکو فرښتوبه هغه ذره ذره کړې وي.

تسهيلات:

قوله: فَمَا فَجِئَهُمْ مِنْهُ:

د مذکوره جملې مفهوم: فجئهم کښې دَفاعل ضمیردَ ابوجهل طرف ته راګرځي اوهم مفعول به ضمیر اهل مجلس طرف ته راګرځي اودَمنه ضمیرحضوراکرم طرف ته راګرځي. معنی داچه ابوجهل حضوراکرم طرف نه دَخپل مجلس والوطرف ته ناڅاپي په داسې حال کښې راؤرسیدو چه دواړه لاسونه اوچت کړی الټه خپې په بدحواس کیدوسره راروان وو.

[۵۸۵۷] دامن پیدا کیدو پیشن ګوئی

۵۸۵۷-(¹) [۱] ① وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «بَيْنَا أَنَا عِنْدَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذْ أَتَاهُ رَجُلٌ فَشَكَا إِلَيْهِ الْفَاقَةَ، ③ ثُمَّ أَتَاهُ الْآخَرُ فَشَكَا إِلَيْهِ قَطْعَ السَّبِيلِ. ④ فَقَالَ: (يَا عَدِيُّ! رَأَيْتَ الْحِيرَةَ؟ ⑤ فَإِنْ طَالَتْ بِكَ حَيَاةٌ فَلَتَرَيَنَّ الظَّعِينَةَ تَرْتَحِلُ مِنَ الْحِيرَةِ ⑥ حَتَّى تَطُوفَ بِالْكَعْبَةِ لَا تَخَافُ أَحَدًا إِلَّا اللّٰهَ، ⑦ وَلَئِنْ طَالَتْ لَكَ حَيَاةٌ لَتُفْتَحَنَّ كُنُوزُ كِسْرَى،

ترجمه: ① اوحضرت عدي ابن حاتم رضی الله عنه وایي ② یوه ورځ زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضروم ناڅا په یوسړی راغې او حضور صلی الله علیه وسلم ته یې د خپل فقر وفاقي او افلاس شکایت وکی ③ بیا یوبل سړی راغې هغه د راهزني شکایت وکی چې په لار کې ډاکوانو لوټ کړم ④ نو حضور صلی الله علیه وسلم د هغه دواړو خبري اوریدو نه وروسته ماته وفرمایل اې عدي! تاخوبه حیره لیدلي وي ⑤ که ستا غمر زیات شي نو یقیناً به ته وویني چې یوه ښځه به تنها سوریدو سره دحیره نه روانه شي ⑥ او مکي ته رسیدو سره د کعبي طواف به وکړي او سوا د الله جل جلاله نه هغه ته به د هیڅ ډاکو اوغله خوف نه وي ⑦ او که ته زیاتو ورځو پورې ژوندی پاتې شوي نو وبه ویني چې د کسرئ د فارس د بادشاه خزاني به مسلمانانو د پاره خلاصې شي [چې د غنیمت په طور به ورته حاصلي شي او ټولو مسلمانانو کې به تقسیم شي]

حل اللغات:- ① قَطْعَ السَّبِيلِ: أَي: قُطَّاعِ الطَّرِيقِ: لارکښې شوکه کونکی، ډاکوان، ② الْحِيرَةَ: دکوفې نه شا طرف ته د یو پخوانی ښارنوم دي. ③ الظَّعِينَةَ: أَي: الْمَرْأَةَ الْمُسَافِرَةَ: سفرکونکې ښځه، ④ تَرْتَحِلُ: روانه به شي، سفربه کوي. ⑤ لَتُفْتَحَنَّ: أَي لَتُؤْخَذَنَّ: تاسوبه فتح کړئ، حاصل به کړئ.

① وَلَئِنْ طَالَتْ بِكَ حَيَاةٌ لَتَرَيَنَّ الرَّجُلَ يُخْرِجُ مِلْءَ كَفِّهِ مِنْ ذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ ② يَطْلُبُ مَنْ يَقْبَلُهُ فَلَا يَجِدُ أَحَدًا يَقْبَلُهُ مِنْهُ، ③ وَلَيَلْقَيَنَّ اللّٰهَ أَحَدُكُمْ يَوْمَ يَلْقَاهُ ④ وَلَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تَرْجُمَانٌ يُتَرْجِمُ لَهُ، ⑤ فَلَيَقُولَنَّ: أَلَمْ أَبْعَثْ إِلَيْكَ رَسُولًا فَيُبَلِّغَكَ؟ فَيَقُولُ: بَلَى. ⑥ يَقُولُ: أَلَمْ أُعْطِكَ مَالًا وَأُفْضِلْ عَلَيْكَ؟ فَيَقُولُ: بَلَى، ⑦ فَيَنْظُرُ عَنْ

جلد نمبر 12

¹) اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب علامات النبوة فی الاسلام (رقم-۳۵۹۵) واحمد فی المسند: ۴/۲۵۷

يَمِينِهِ فَلَا يَرَى إِلَّا جَهَنَّمَ ⑧ وَيَنْظُرُ عَنْ يَسَارِهِ فَلَا يَرَى إِلَّا جَهَنَّمَ ⑨ اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ، ⑩ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ)

ترجمه: ① او كه ستا عمر زيات شو نو وبه وينې چې يوسړى به يو موټ برابر سونا چاندي خيرات كولو د پاره وخي ② او قبلونكى يعنى څوك محتاج او مفلس به تلاش كوي خوداسي سړى به پيدا نه كړي چې هغه نه د خيرات هغه مال واخلي ③ او ياد لره د قيامت په ورځ به تاسو كې يوسړى د الله ﷻ په حضور كې داسې پيش شي ④ چې د هغه او د الله ﷻ په منځ كې به څوك ترجمان نه وي چې د هغه حال بيان كى ⑤ بيا به الله ﷻ د هغه نه پوښتنه وكړي آيا ماتاته د دين احكام رسولو او د قيامت د ورځي خبر دركولو د پاره رسول نه وو راليږلى هغه سړى به وايي بيشكه تا رسول راليږلى وو ⑥ دي نه وروسته به ترى نه الله ﷻ پوښتنه وكړي ما تاته مال وزر نه وو عطاكړى او آيا په تاباندې مي فضل او احسان نه وو كړى؟ هغه به وايي بېشكه تاماته مال هم عطا كړى وو او په مادي فضل او احسان هم كړى وو ⑦ د دي نه وروسته به هغه سړى خپل ښي طرف ته وګوري نو هغه ته به د دوزخ نه علاوه بل هيڅ په نظر را نشي [چې هغه د ترك طاعت او عبادت په سبب ځان د پاره واجب كړى وو] ⑧ بيا به هغه خپل ګس طرف ته وګوري نو هغه ته به د دوزخ نه علاوه بل څه په نظر را نشي [چې هغه د ګناه كولو په سبب په ځان واجب كړى وو نو رسول الله ﷺ ټول خلق مخاطب كولو سره وفرمايل چې] ⑨ اې خلقو! د دوزخ د اور نه د خيرات په ذريعه خپل ځان بچ كئ كه څه هم د خرما د يوي ټكړي خيرات كولو وس ولرئ ⑩ او كه يوسړى د الله په نوم خرڅ كولو د پاره د خرما يوه ټكړه هم نه لري نو نرمي او خوش خلقي سره خبره كولو سره ځان دي د دوزخ د اور نه بچ كړي.

حل اللغات:- ⑥ لَيَلْقَيَنَّ: ملاقات به اوشي، پيش به شي. ⑦ بِشِقِّ تَمْرَةٍ: أَيْ: بِنِصْفِهَا أَوْ بِبَعْضِهَا: نيمه يا حصه د كجورې.

① قَالَ عَدِيٌّ: فَرَأَيْتُ الظَّعِينَةَ تَرْتَحِلُ مِنَ الْحِيرَةِ ② حَتَّى تَطُوفَ بِالْكَعْبَةِ لَا تَخَافُ إِلَّا اللَّهَ ③ وَكُنْتُ فِيمَنِ افْتَتَحَ كُنُوزَ كِسْرَى بْنِ هُرْمُزَ ④ وَلَئِنْ طَالَتْ بِكُمْ حَيَاةٌ لَتَرَوُنَّ مَا قَالَ النَّبِيُّ أَبُو الْقَاسِمِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ⑤ (يُخْرِجُ مِلْءَ كَفِّهِ)». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① حضرت عدى ابن حاتم دا روايت بيانولو نه وروسته اوويل د حضور ﷺ د دي پيشن ګوئي مطابق ماخو دا وليدل ② چې په اوښه سپره ښځه د خانه كعبي طواف كولو د پاره حيره نه تنها سفر كوي او د الله ﷻ نه ماسوا بل هيڅچا نه نه بيرېږي ③ او زه خپله په هغه په خلقوكي شامل وم چې هغوئ د كسرى ابن نوشيروان د فارس د بادشاه خزانې خلاصي كړي ④ اوس كه ته زياتي ورځي ژوندى پاتې شوي نو د رسول الله ﷺ دا پيشن ګوئي به هم حرف به حرف پوره كيدونكى ووينئ ⑤ چې يوسړى به موټ برابر سونا چاندي

خیرات کولو د پاره وځي او هیڅ سړی به د هغه آخستونکی پیدا نه کی. «بخاري»

تسهیلات:

قوله: فَلَتَرَيَنَّ الظَّعِينَةَ تَرْتَحِلُ مِنَ الْحِيرَةِ

دامن پیشنګوئی: په حدیث الباب کښې درې پیشنګوئی فرمائیلي شوی دی. اول دا چه دعربو په ملك کښې به دومره امن او امان شی چه حیره کوم چه د کوفې په خواکې یو پخوانی ښار دې د هغه ځائی نه به یوه ښځه مکې ته راځی نو هغې ته به د لارې شوکیدو یا نور څه قسم خطرې نه وی.

قوله: لَتُفْتَحَنَّ كُنُوزُ كِسْرَى،

د اسلامی فتوحاتو پیشنګوئی: دویم دا چه الله تعالی به مجاهدینو ته کامیابئی ورکوی چه د اهل فارس عظیم سلطلنت به فتح کړی.

قوله: لَتَرَيَنَّ الرَّجُلَ يُخْرِجُ مِلْءَ كَفِّهِ مِنْ ذَهَبٍ

د صدقې ورکونکی نه موندلو کښې دوه احتمالات: ① دریم دا چه داسې وخت به راشی چه هرڅیز کښې به دومره زیاتوالې پیدا شی چه یو موټې صدقه کونکې کس به لټون کوی چه چاته صدقه ورکړم. صدقه اخستونکې به څوك نه ملاویږی. دابه د حضرت عیسی علیه السلام په زمانه کښې وی.

② د دې یو مطلب دا هم کیدې شی چه صدقه ورکونکې به صحیح مستحق لټوی حالانکه ډیرزیات غوښتونکې به وی هغه ته به معلومه نه وی چه په چا باندې صدقه کیږی او څوك پیشه ور دی. د دې پیشنګویو متعلق بعضې حضراتو وئیلی دی چه دا د حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله په دور خلافت کښې پوره شوې دی چه د هغوی په زمانه کښې د عامو خلقو حالت دومره بهتر وو چه د صدقې اوخیرات مال اخستونکې به نه ملاویدلو.

د نبی علیه السلام د جواب حقیقت: اوس نبی کریم ﷺ اولنئی پیشنګوئی د هغه سړی په جواب کښې فرمائیلې وه کوم چه د لارې شوکولو شکایت کړې وو او دویمه پیشنګوئی د هغه سړی په جواب کښې وه چا چه د خپل فقر او غربت شکایت کړې وو.

[۵۸۵۸] د الله تعالی په دین کښې تکلیفونه زغمل

۵۸۵۸-(¹) [ع] ①وَعَنْ خَبَّابِ بْنِ الْأَرَتِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «شَكَوْنَا إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②وَهُوَ مُتَوَسِّدٌ بُرْدَةً فِي ظِلِّ الْكَعْبَةِ ③وَقَدْ لَقِينَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ شِدَّةً، ④فَقُلْنَا: أَلَا تَدْعُو اللَّهَ، فَقَعَدَ وَهُوَ مُحْمَرٌّ وَجْهُهُ وَقَالَ ⑤"كَانَ الرَّجُلُ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ يُحْفَرُ لَهُ فِي الْأَرْضِ، فَيُجْعَلُ فِيهِ، ⑥فَيُجَاءُ بِمِنْشَارٍ، فَيُوضَعُ فَوْقَ رَأْسِهِ فَيُشَقُّ بِاثْنَيْنِ، ⑦فَمَا يَصُدُّهُ ذَلِكَ عَنْ دِينِهِ،

[1] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب علامات النبوة فی الإسلام (رقم-۳۶۱۲) واحمد فی المسند:۶/۳۹۵

ترجمه: [۱] حضرت خباب ابن ارت رضي الله عنه وايي يوه ورځ مونږ رسول الله ﷺ ته د كفارو د سخت ترين مخالفت او دښمنۍ شكايت وكړ [۲] چې هغه وخت حضور ﷺ د خانه كعبې په سايه (سورې) كې ترسر لاندې كمبل ايښې پروت وو [۳] چې مونږ ته ددې مشكانو نه سخت اذيت او تكليف رسيږي [۴] او عرض مو وكړ چې هركله هغوئ د ايذا رسانۍ نه نه منع كيږي نو تاسو د هغوئ په حق كې بد دعا ولې نه كوئ زمونږ داخبره اوريدو سره حضور ﷺ راپورته شو او مخ مبارك يې سور شو وې فرمايل [۵] ستاسو نه مخكې ډير خلق داسې تير شوي دي په هغوئ كې ځينې هغه خوك وه چې د هغه د پاره به په زمكه كې يوه كنده وكنستل شوه بيا هغه سړى به په هغه كنده كې كينول شو [يا ودرول شو] [۶] او بيا اره راوړلو سره د هغه په سر به كيښودل شوه او په هغه ارې سره به هغه شلولو سره دهغه سړى دوه ټكړې كيدى [۷] ليكن دې سخت عذاب هم هغه دخپل دين نه نه شو ګرځولى.

حل اللغات:- ① مُتَوَسِّدٌ: الشَّيْءَ جَعَلَهُ تَحْتَ رَأْسِهِ: څه څيز د سرلاندې ايښودلو ته وائي يعنې بالخت. ② بُرْدَةٌ: أَيْ: كِسَاءٌ مُخَطَّطًا: لكير دار زيګ خادر، كمبل. ③ مُحْمَرٌّ: أَيْ اشْتَدَّ حَرَارَتُهُ: مخ مبارك ئې سورشو. ④ يُحْفَرُ: أَيْ يُجْعَلُ لَهُ حُفْرَةٌ: كنده به ورله اوكنستلې شوه. ⑤ مِنْشَارٌ: وَهُوَ آلَةٌ يُشَقُّ بِهَا الْخَشَبَةُ: د لرګې كټ كولو آله، آره، ⑥ فَيُشَقُّ: أَيْ: فَيُنْقَطِعُ: څيرلې به شو. ⑦ فَمَا يَصُدُّهُ: أَيْ: فَلَا يَمْنَعُهُ: نه به ئې شو منع كولې (دې سخت عذاب دخپل دين نه).

> [۱] وَيُمْشَطُ بِأَمْشَاطِ الْحَدِيدِ [۲] مَا دُونَ لَحْمِهِ مِنْ عَظْمٍ وَعَصَبٍ [۳] وَمَا يَصُدُّهُ ذَلِكَ عَنْ دِينِهِ، [۴] وَاللَّهِ لَيَتِمَّنَّ هَذَا الْأَمْرُ حَتَّى يَسِيرَ الرَّاكِبُ مِنْ صَنْعَاءَ إِلَى حَضْرَمَوْتَ [۵] لَا يَخَافُ إِلَّا اللَّهَ أَوِ الذِّئْبَ عَلَى غَنَمِهِ، [۶] وَلَكِنَّكُمْ تَسْتَعْجِلُونَ)). رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او يو سړى هغه وو چې د هغه په جسم به د اوسپنې تيزه منګز وچلول شوه [۲] چې غوښې نه لاندې هډوكو او پلو پورې به يې خيرې كړو [۳] ليكن دې سخت ترين عذاب هم هغه دخپل دين نه ګرځولى نه شو [۴] قسم په الله دا دين به درجه كمال ته رسيږي او تاسو به د مصيبتونو او پريشانۍ ددې ختميدونكي دور نه وروسته د آسانۍ او اطمينان هغه زمانه ووينئ چې يو سړى به صنعاء نه حضر موت پورې تنها سفر كوي [۵] او د الله جل جلاله نه علاوه به دهيچا نه نه ويريږي يا داچې يوسړي ته به د خپلو بزو په باره كې د شرمخانو نه هيڅ خطره او خوف نه وي [۶] ليكن تاسو جلتي كوئ. (بخاري)

حل اللغات:- ⑧ عَصَبٌ: پټې، پلې، ⑨ لَيَتِمَّنَّ: أَيْ: لَيَكْمُلَنَّ: خامخا به ئې تمام كوى، تكميل ته به رسوى (دا دين). ⑩ صَنْعَاءَ: بَلَدٌ بِالْيَمَنِ: په يمن كښې د يوښار نوم دې. ⑪ حَضْرَمَوْتَ: د يو ښار نوم دې.

تسهيلات:

قوله: وَعَصَبٍ:

امت ته په مصائبو د صبر كولو تعليم: يعنې د اوسپنې تيره ګمنز به دهغه سړى په هډوكو او

پټوپه مینځ کښې چلولې شوه په کوم سره چه به غوښنه اوچتیدله او هډوکی به پاتې کیدل. مګر دې مصیبت هغه سړې په دین باندې تللو او خپلولونه منع نه کړو. حضورپاك په دې حدیث کښې امت ته مصیبتونو باندې صبرکول او دَدین دپاره امتحانونه تیریدلو تعلیم ورکړې دې اودَ استقامت هدایت ئې ورته کړې دې اوقسم خوړلوسره ئې فرمائیلی دی چه دَدې دین په برکت سره به یو مثالی امن راځی تاسو تادی مه کوئ.

[۵۸۵۹] په خوب کښې د مجاهدینو لیدل

۵۸۵۹-(١) [٨] ① وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «كَانَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَدْخُلُ عَلَى أُمِّ حَرَامٍ بِنْتِ مِلْحَانَ، ③ وَكَانَتْ تَحْتَ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، ④ فَدَخَلَ عَلَيْهَا يَوْمًا فَأَطْعَمَتْهُ، ⑤ ثُمَّ جَلَسَتْ تَفْلِي رَأْسَهُ، ⑥ فَنَامَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ⑦ ثُمَّ اسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ، ⑧ قَالَتْ: فَقُلْتُ: مَا يُضْحِكُكَ يَا رَسُولَ اللهِ؟

ترجمه: ① او حضرت انس رضی الله عنه وایې ② رسول الله صلی الله علیه وسلم به بي بي أم حرام بنت ملحان رضی الله عنها کره تلو ③ چې د حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه ښځه وه ④ یوه ورځ حسب معمول حضور صلی الله علیه وسلم بي بي ام حرام رضی الله عنها کره تشریف راوړی نو أم حرام وربانده طعام وخوړلي ⑤ بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سر مبارك کې سپږو کتلو د پاره کیناسته ⑥ په دې دوران کې حضور صلی الله علیه وسلم اوده شو ⑦ بیا څه وخت وروسته حضور صلی الله علیه وسلم په خندا سره بیداره شو ⑧ ام حرام بیان وکړو ما چې حضور صلی الله علیه وسلم هغه حالت کې په خندا اولیدلو نو پوښتنه مې ترینه وکړه یارسول الله! تاسو په څه باندې وخندل؟

حل اللغات:- ① تفلي: أي: تُفَتِّشُ: لټولو ئې (یعنی سپږې ئې پکښې کتلې).

① قَالَ: (نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا عَلَيَّ غُزَاةً فِي سَبِيلِ اللهِ، ② يَرْكَبُونَ ثَبَجَ هَذَا الْبَحْرِ مُلُوكًا عَلَى الْأَسِرَّةِ، ③ أَوْ مِثْلَ الْمُلُوكِ عَلَى الْأَسِرَّةِ)، ④ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ! ادْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ، ⑤ فَدَعَا لَهَا ثُمَّ وَضَعَ رَأْسَهُ فَنَامَ، ⑥ ثُمَّ اسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ، ⑦ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا يُضْحِكُكَ؟ ⑧ قَالَ: (نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا عَلَيَّ غُزَاةً فِي سَبِيلِ اللهِ). كَمَا قَالَ فِي الْأُولَى.

ترجمه: ① وې فرمایل په خوب کې خماد امت یوجماعت په دی حال کې خما مخې ته راوستل شو او ماته وښودل شو چې هغوئ د الله جل جلاله په لار کې جهاد کوي ② او په سمندر کې داسې سفر کوي لکه بادشاه چې په خپل تخت وي ③ یاداسې یې وفرمایل لکه چې د بادشاهانو په شان په تخت جلوه ګر وي ④ ما دي خبري اوریدوسره عرض وکړو یارسول

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسیر/باب الدعاء بالجهاد والشهادة للرجال والنساء (رقم-۲۷۸۸) ومسلم فی کتاب الإمارة/باب فضل الغزو فی البحر (رقم-۱۶۰ - (۱۹۱۲) والترمذی فی کتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی غزو البحر (رقم-۱۶۴۵) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب فضل الجهاد فی البحر (رقم-۳۱۷۱) کتاب الجهاد/باب الترغیب فی الجهاد (رقم-۳۹) واحمد فی المسند:۳/۲۴۰

الله د الله ﷻ نه دعا وغواړئ چې په هغه مجاهدينو کې چې د سمندر سينه شلولو سره د الله ﷻ په لار کې وځي ماهم په هغوئ کې شامله کړي ۵ حضور ﷺ د ام حرام په حق کې دعاء وکړله دي نه وروسته حضور ﷺ پربالنبت سر مبارك اینبودلو سره بيا اوده شو ٦ څه ساعت وروسته بيا حضور ﷺ په خندا سره را بيداره شو ٧ ماعرض وکړو يارسول الله! تاسو اوس ولې وخندل؟ ٨ وې فرمايل اوس بيا په خوب کې ما امت کې څه خلق ما مخې ته داسې حال کې پيښ شوه چې هغوئ د الله ﷻ په لار کې جهاد کوئ څرنګه چې حضور ﷺ په مخکنې ځل فرمايلي وه دا ځل يې هم هغه الفاظ ارشاد وفرمايل [چې هغه خلق په سمندر کې داسې محو سفر وو څرنګه چې بادشاه په خپل تخت باندې وي]۔

حل اللغات: -۲ ثَبَجَ: أَيْ وَسَطَهُ وَمُعْظَمَهُ: دَ سمندر په مينځ کښې چه کوم غټ موجونه وی او ډيرې زياتې اوبه وی هغې ته ثبج وائی. مراد دَ سمندر سينه او مينځ دې. ۳ الْأَسِرَّةِ: جمع د سرير ده، تختونه. ۴ غُزَاةً: غزا او جهاد کونکی،

۱ (قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ) ادْعُ اللّٰهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ. ۲ قَالَ: (أَنْتِ مِنَ الْأَوَّلِينَ). ۳ فَرَكِبَتْ أُمُّ حَرَامٍ الْبَحْرَ فِي زَمَنِ مُعَاوِيَةَ، ۴ فَصُرِعَتْ عَنْ دَابَّتِهَا حِينَ خَرَجَتْ مِنَ الْبَحْرِ فَهَلَكَتْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

توجمه: ۱ ما دې خبرې اوريدو سره دا ځل هم بيا عرض وکی يارسول الله! تاسو د الله ﷻ نه دعا وغواړئ چې هغه مجاهدينو کې ماهم شامله کړي ۲ حضور ﷺ وفرمايل ته په مخکنی جماعت کې يې ۳ نو بې بې ام حرام د حضرت معاويه په زمانه کې د جهاد په غرض بحري سفر وکی ۴ او کوم وخت چې سمندر نه راوتلو سره په خاروي سپره شوه نو ناځا په د خاروي د شا نه په زمکه راولويده او د الله ﷻ په لار کې يې د شهادت مرتبه پيدا کړه ددې دنيا نه يې سفر وکی. (بخاري مسلم)

حل اللغات: -۵ فَصُرِعَتْ: أَيْ: فَسَقَطَتْ: راپريوتله (د سوارلئ نه).

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ جَلَسَتْ تَفْلِي رَأْسَهُ،

د ام حرام پيژندګلو: يعنی حضرت ام حرام بنت ملحان ﷞ دَ حضورپاك په سر کښې سپږې لټولې. اول په دې خبره باندې خان پوهه کړئ چه حضرت ام حرام ﷞ دَ حضورپاك رضاعی خاله يا رضاعی ترور وه. اول دا خبره په تفصيل سره ليکلې شوې ده . چه ام سليم ﷞ او ام حرام ﷞ دواړه انصاری ښځې دی په مدينه کښې هغوی حضرت آمنه يا خواجه عبدالله سره پيئی ځکلی وو. لهذا دا ښځې دَ حضورپاك محارم نه وو.

د نبی عليه السلام په سر کښې د سپږو لټولو مطلب: دَ حضورپاك په بدن کښې سپږې نه وې نولټول يوځيزدې او ملاويدل بل ځيزدې.

قوله: حِینَ خَرَجَتْ:

دامت ملحان شهادت: یعني دَ سمندر سفرمکمل کولوسره کله غاړې ته راغله او په خپله سورلئی باندې سوره شوه نودَ ځناور دَ شانه راپریوتلو اوشهیده شوه. په سمندرکښې جهاز چلول او سمندرکښې دَ جهاد شروع حضرت معاویه ﷺ کړې ده. فرضی الله عنه وعنا وعن جمیع الصحابة

[۵۸۶۰] نبی علیه السلام ته دلیونی نسبت کول

۵۸۶۰-() [۹] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ② إِنَّ ضِمَادًا قَدِمَ مَكَّةَ وَكَانَ مِنْ أَزْدِ شَنُوءَةَ، ③ وَكَانَ يَرْقِي مِنْ هَذَا الرِّيحِ، ④ فَسَمِعَ سُفَهَاءَ أَهْلِ مَكَّةَ يَقُولُونَ: ⑤ إِنَّ مُحَمَّدًا مَجْنُونٌ. ⑥ فَقَالَ: لَوْ أَنِّي رَأَيْتُ هَذَا الرَّجُلَ لَعَلَّ اللَّهَ يَشْفِيهِ عَلَى يَدَيَّ. ⑦ قَالَ: فَلَقِيَهُ. فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ! إِنِّي أَرْقِي مِنْ هَذَا الرِّيحِ، فَهَلْ لَكَ؟ ⑧ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ- صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، ⑨ مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، ⑩ وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، ⑪ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، أَمَّا بَعْدُ)

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس ﷺ وايي ② چې أزد شَنُوءَه سره تعلق لرونکی یوسړی چې د هغه نوم ضماد وو د اسلام ابتدائي زمانه کې مکي ته راغي ③ هغه به د میرګي پیریانولري کولو دم چُف کوي ④ هرکله چې هغه د مکي د بیوقوفانو د ژبې نه دا واوریدل ⑤ چې محمد لیونی شوي دي ⑥ نو هغه اوویل که زه دا سړی یعنی محمد ووینم نو علاج به یې وکړم شاید الله ﷻ خماپه علاج سره هغه تیك کړي ⑦ ابن عباس ﷺ وايي دي نه وروسته ضماد د رسول الله ﷺ په خدمت کې راغي او هغه اوویل اې محمد ﷺ! زه د دَم چُف په ذریعه میرګي پیریان لري کوم که تاسو غواړئ نو زه د خپل دَم چُف په ذریعه ستاسو علاج کوم ⑧ حضور ﷺ ورته په جواب کې وفرمایل ټول تعریفونه الله لره دي مونږ د هغه حمد وثناء وایو د هغه دنعمتونو شکر اداکوو اود هغه نه د ذکر وطاعت او عبادت توفیق او مدد غواړو ⑨ هغه چې چاته سیده لار وښايي او مقصد حیات یې کړي هغه هیڅوك ګمراه کولی نشي او څوك چې ګمراه کړي هغه ته څوك هدایت نشي کولی او منزل مقصود ته نشي رسیدی ⑩ زه ګواهي ورکوم چې الله ﷻ نه ماسوا بل معبود نشته هغه ایکي یو دی هیڅوك د هغه شریك نشته ⑪ او زه ګواهي کوم چې محمد ﷺ د الله بنده او د الله رسول دی

حل اللغات:- ① أَزْدِ شَنُوءَةَ: شنوءة د یمن یوه لویه قبیله ده. بیا أزد د شنوءه یو شاخ او قبیله ده. ② يَرْقِي: أَيْ: يُعَالِجُ الدَّاءَ بِشَيْءٍ يَقْرَأُ ثُمَّ يَنْفُثُ: دم به ئې اچولو یعنی څه به ئې لوستل اوهغه به چف کول. ③ الرِّيحِ: هوا ته وائي. د بیماریٔ یعنی لیونتوب اوجنون علت ته په ریح سره اشاره شوې ده (کوم چه

[1] اخرجه مسلم فی کتاب الجمعة/باب تخفیف الصلاة والخطبة (رقم-۴۶ -(۸۶۸) واحمد فی المسند: ۳۰۲/۱

هغوی دجن وغیره نفخ او ریح ګڼرلو. ⑦ سُفَهَاءُ: أَيْ جُهَّالُهُمْ مِنَ الْكُفَّارِ: بې وقوف او جاهلان خلق (د کافرانو د مکې نه).

[۱] فَقَالَ: أَعِدْ عَلَيَّ كَلِمَاتِكَ هَؤُلَاءِ [۲] فَأَعَادَهُنَّ عَلَيْهِ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ثَلَاثَ مَرَّاتٍ [۳] فَقَالَ: لَقَدْ سَمِعْتُ قَوْلَ الْكَهَنَةِ وَقَوْلَ السَّحَرَةِ وَقَوْلَ الشُّعَرَاءِ [۴] فَمَا سَمِعْتُ مِثْلَ كَلِمَاتِكَ هَؤُلَاءِ [۵] وَلَقَدْ بَلَغْنَ قَامُوسَ الْبَحْرِ [۶] هَاتِ يَدَكَ أُبَايِعْكَ عَلَى الْإِسْلَامِ، قَالَ: فَبَايَعَهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] بیا ضما د تردې پورې اوریدو نه وروسته بې ساخته اوویل چې دا جملې یو وار بیا خما په مخکې ارشاد وفرمایې [۲] حضور ﷺ دا جملې بیا دوباره او درې باره کړلو [۳] ضماد اوویل ما د کاهنانو اقوال اوریدلي دي ما د ساحرانو کلمات اوریدلي دي ما د شاعرانو اشعار اوریدلي دي [۴] لیکن قسم په الله ترننه پورې ما ستاسو د دې کلماتو او اقوالو په شان هیڅ کلام نه دی اوریدلی [۵] حقیقت خو دا دی چې ستاسو دا کلمات د فصاحت او بلاغت او د تاثیر د اعتبار نه د علم او کلام د دریاب انتهائي ژور والی ته رسیدلی دی [۶] خپل لاس مبارک رامخکې کړئ زه ستاسو په لاس مبارک د اسلام بیعت کوم ابن عباس رضی الله عنه وایې ضماد هغه وخت د حضور ﷺ په لاس مبارک بیعت وکړی او مسلمان شو. (مسلم)

حل اللغات:- ⑤ الْكَهَنَةِ: د کَاهِن جمع ده، وَهُوَ الْمُخْبِرُ عَنِ الْغَيْبِ: دغیب خبرې کونکی ته کاهن وائی. بالکسر ⑨ بَلَغْنَ: رسیدلی دی (کمال ایجاز ته دا کلمات). ⑥ قَامُوسَ الْبَحْرِ: أَيْ: مُعْظَمَ بَحْرِ الْكَلَامِ: د سمندر د اوبو ژورې او مینځ چپو ته قاموس وائی د ناعوس هم دغه معنی ده یعنی دا خبرې د سمندر د ژورې اوبیخ نه شوی دی یعنی د فصاحت او بلاغت نه ډکې دی.

[۱] وَفِي بَعْضِ نُسَخِ (الْمَصَابِيحِ): بَلَغْنَا نَاعُوسَ الْبَحْرِ وَهُوَ تَصْحِيفٌ [۲] وَذَكَرَ حَدِيثَا أَبِي هُرَيْرَةَ وَجَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ (يَهْلِكُ كِسْرَى) [۳] وَالْآخَرَ (لَتَفْتَحَنَّ عِصَابَةٌ) فِي بَابِ (الْمَلَاحِمِ). [۴] وَهَذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّانِي

ترجمه: [۱] د مصابیح په بعضې نسخو کې د بلغن په ځاي بلغنا دی او د قاموس البحر په ځاي ناعوس البحر دی [۲] او د حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت یهلک کسرٰی الخ [۳] او د حضرت جابر ابن سمره رضی الله عنه روایت لتفتحن عصابة الخ باب الملاحم کې نقل شوي دي [۴] او په دې باب کې دوهم فصل نشته.

حل اللغات:- ⑧ تَصْحِيفٌ: أَيْ تَحْرِيفٌ: بدلول، وړاندې روسته کول. ⑨ عِصَابَةٌ: ډله، فرقه.

تسهیلات: قوله: ضِمَادًا:

د حدیث پس منظر: په ضاد باندې کسره او ضمه دواړه دی او میم ساکن دي. په یو روایت کښې ضمام دې. دَدې سړی تعلق دَ یمن دَ یوې مشهورې قبیلې ازدشنوءه سره وو. دا سړې دَخپل وخت لوئی طبیب او حکیم هم وو او دَعملیاتو او دم درهاماهر هم وو. دَاسلام نه وړاندې دَ هغه حضورپاك سره پیژند ګلوشوې وه. کله چه حضورپاك ته نبوت ملاؤشو او دا سړې مکې ته راغلو نو اهل مکه په ډیره لویه پروپیګنډه سره ده ته اوخودل چه

محمد خولیونې شوې دې. په دې باندې ضمام اوونیل کیدې شی زما په دم درها باندې هغه ته فائده وی. په دې غرض سره حضوراکرم له راغلو ملاؤشو. حضور پاك دَهغه په وړاندې په مختصر الفاظوسره دَ الله تعالی په وحدانیت باندې مشتمل خطبه اولوستله. خطبه اوریدوسره دا سړې وارخطاشو حیران پاتې شو اومسلمان شو.

قوله: مِنْ هَذَا الرِّيحِ:

د ریح په مصداق کښې دوه اقوال:

① دَ جناتو په اثراتوسره چه کومه بیماری راشی هغې ته ریح وائی.

②داهم ممکن دی چه پخپله هم جنات ته ریح وئیلې شوی وی ځکه چه جنات هم دَهواپه شان تلونکې مخلوق دې اوچه دَهوا په شان ښکاری هم نه.

قوله: قَامُوسَ الْبَحْرِ:

د لفظ قاموس وضاحت: په سمندر کښې چرته چه دَتولونه زیاتې اوبه وی اودَتولونه زیات ژورمقام وی. دغه زیاتو اوبوته قاموس وئیلې شی. دادَ سمندر دَمینځ حصه وی بهرحال قاموس دَسمند مینځ ته وائی. یعنی داکلمات په لفظی او معنوی فصاحت او بلاغت سره دَسمندرژوروالی ته رسیدلی دی دکوم نه زیات ژوروالې چې بل چرته نشته دې.

وهذا الباب خال عن الفصل الثانی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۸۶۱] د قیصر روم په دربار کښې د ابوسفیان ګواهي

۵۸۶۱-(1) [۱۰]①عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو سُفْيَانَ بْنُ حَرْبٍ مِنْ فِيهِ إِلَى فِيَّ،② قَالَ: انْطَلَقْتُ فِي الْمُدَّةِ الَّتِي كَانَتْ بَيْنِي وَبَيْنَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -③ قَالَ: بَيْنَا أَنَا بِالشَّامِ إِذْ جِيءَ بِكِتَابٍ مِنَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَى هِرَقْلَ.④ قَالَ: وَكَانَ دِحْيَةُ الْكَلْبِيُّ جَاءَ بِهِ فَدَفَعَهُ إِلَى عَظِيمِ بُصْرَى،⑤ فَدَفَعَهُ عَظِيمُ بُصْرَى إِلَى هِرَقْلَ.

ترجمه:① حضرت ابن عباس ﷠ وایې ابوسفیان ابن حرب ماته مخامخ دابیان وکړو ② چې د صُلح حدیبیه په موده کې چې څما او د حضور ﷺ په منځ کې وه ③ او نه صرف داچې زه مسلمان شوی نه وم بلکه د اسلام د دښمنانو یوسردار وم ما سفر وکی او په اتفاق سره هغه وخت هرکله چې د رسول الله ﷺ نامه مبارکه هر قل د روم قیصر ته ورسیده زه د شام په ملك کې مقیم وم ④ ابوسفیان اوویل نامه مبارك یعنی د اسلام د دعوت خط د حیه

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب تفسیر القرآن/باب قل: یا {أهل الکتاب تعالوا إلی کلمة سواء بیننا وبینکم أن لا نعبد إلا الله} " (رقم-۴۵۵۳) ومسلم فی کتاب الجهاد والسیر/باب کتاب النبی صلی الله علیه وسلم إلی هرقل یدعوه إلی الإسلام (رقم-۷۴ - (۱۷۷۳)

کلبي راوړی وو چې هغه د بصری حاکم ته ورسوی ⑤ او د بصری حاکم هغه دعوت نامه اسلام د هرقل په خدمت کې پیش کړه

حل اللغات:- ① فِيهِ إِلَى فِيَّ: أَيِ انْتَقَلَ مِنْ فِيهِ إِلَى فِيَّ: یعنی دا روایت دهغه د خولې نه زما خولې ته منتقل شوی زمونږ دواړو په مینځ کښې بل څوک واسطه نشته. ② عَظِيمُ بُصْرَى: د بصری حاکم، گورنر.

> ① فَقَالَ هِرَقْلُ: هَلْ هُنَا أَحَدٌ مِنْ قَوْمِ هَذَا الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ؟ ② قَالُوا: نَعَمْ، فَدُعِيتُ فِي نَفَرٍ مِنْ قُرَيْشٍ، ③ فَدَخَلْنَا عَلَى هِرَقْلَ، فَأَجْلَسَنَا بَيْنَ يَدَيْهِ، ④ فَقَالَ: أَيُّكُمْ أَقْرَبُ نَسَبًا مِنْ هَذَا الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ؟ ⑤ قَالَ أَبُو سُفْيَانَ: فَقُلْتُ: أَنَا، فَأَجْلَسُونِي بَيْنَ يَدَيْهِ، ⑥ وَأَجْلَسُوا أَصْحَابِي خَلْفِي، ⑦ ثُمَّ دَعَا بِتَرْجُمَانِهِ فَقَالَ: ⑧ قُلْ لَهُمْ: إِنِّي سَائِلٌ هَذَا عَنْ هَذَا الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ، ⑨ فَإِنْ كَذَبَنِي فَكَذِّبُوهُ، ⑩ قَالَ أَبُو سُفْيَانَ: وَايْمُ اللَّهِ لَوْلَا مَخَافَةُ أَنْ يُؤْثَرَ عَلَيَّ الْكَذِبُ لَكَذَبْتُهُ،

ترجمه: ① هرقل پوښتنه وکړه آیا د دې سړي د قوم څوک سړی دلته شته کوم چې د خپل نبي کیدو دعوی کوي [چې زه د هغه نه د مدعي نبوت په باره کې معلومات حاصلولو سره په دې پوهه شم چې هغه رښتنی دی یا دروغجن] ② د هغه عملې ورته وښودل هو [د دې سړي دقوم سره تعلق لرونکي یو سړی شته چې دلته د تجارت په غرض راغلی دی] نو زه د قریشو یوجماعت سره چې سل سړو باندې مشتمل وو د هرقل په دربار کې طلب شوم ③ کوم وخت چې مونږ هرقل ته ورسیدو نو مونږ د هغه مخکې کینول شوا [چې آساني سره مونږ د هغه او هغه زمونږ خبرې واوریدل شي] ④ د ټولو نه مخکې هرقل پوښتنه وکړه چې په تاسو کې څوک د دې سړي نږدې رشته دار شته کوم چې د نبوت مدعي دی ⑤ د ابوسفیان بیان دی په دې اوریدو سره ما اوویل د دې سړي د ټولو نه نږدې رشته دار زه یم ددې نه وروسته تنها زه د هرقل مخکې تخت شاهي ته نږدې کینول شوم ⑥ او خما ملګري خما شاته کینول شوه ⑦ بیا هرقل خپل مترجم طلب کړ [چې عربي او رومي دواړې ژبې یې پیژندې] او هغه ته یې اوویل ⑧ ته د دې سړي ابوسفیان ملګرو ته اوونیلو چې زه د ابوسفیان نه دهغه سړی حالات معلوموم چې د نبوت دعوی کوي ⑨ که دې ابوسفیان ماته څه غلطه خبره وکړه نو تاسو خلق یې بې خدشې تردید کوئ [او ماته صحیح خبره وکړئ] ⑩ د ابوسفیان بیان دی قسم په الله که داخوف نه وی چې زه به دروغ ګومشهور شم نو یقینًا مابه د هرقل مخکې دروغ ویلي وه او د حضور ﷺ په باره کې به مې هغه ته صحیح خبره نه وه خودلې

> ① ثُمَّ قَالَ لِتَرْجُمَانِهِ: سَلْهُ كَيْفَ حَسَبُهُ فِيكُمْ؟ ② قَالَ: قُلْتُ: هُوَ فِينَا ذُو حَسَبٍ. ③ قَالَ: فَهَلْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مِنْ مَلِكٍ؟ قُلْتُ: لَا. ④ قَالَ: فَهَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُونَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ مَا قَالَ: قُلْتُ: لَا. ⑤ قَالَ: وَمَنْ يَتَّبِعُهُ، أَشْرَافُ النَّاسِ أَمْ ضُعَفَاؤُهُمْ؟ ⑥ قَالَ: قُلْتُ: بَلْ ضُعَفَاؤُهُمْ. ⑦ قَالَ: أَيَزِيدُونَ أَمْ يَنْقُصُونَ؟ قُلْتُ: لَا بَلْ يَزِيدُونَ. ⑧ قَالَ: هَلْ يَرْتَدُّ أَحَدٌ مِنْهُمْ عَنْ دِينِهِ بَعْدَ أَنْ يَدْخُلَ فِيهِ سَخْطَةً لَهُ؟ قَالَ: قُلْتُ: لَا.

حل اللغات: -④تَتَّهِمُونَهُ: أَيْ: تَنْسُبُونَهُ إِلَى التُّهَمَةِ: تاسو پرې تهمت لګوئ. ⑤أَشْرَافُ: عزت مند او شريف خلق.

ترجمه: [۱] ددې نه وروسته هرقل خپل مترجم ته اوويل چې ابوسفيان نه پوښتنه وکړه په ستاسو کې د دې سړي حضور ﷺ حسب څرنګه دی؟ [۲] ابوسفيان وايي ما ورته اوويل دا سړی په مونږ کې حسب والادی [يعنی اعلی حسب لري] [۳] بيا هرقل پوښتنه وکړه د دې سړي پلار نيکه کې څوك بادشاه تير شوي دي ما ورته اوويل هيڅ کله نه [۴] بيا هرقل پوښتنه وکړه اوس چې هغه څه وايي دي نه مخکې هم هغه چيرته داسې خبره کړي وه چې تاسو دروغ ګڼلي وي [يعنی د نبوت دعوی کولو نه مخکې هغه څه دروغ ويلي وه يا يوسړي په هغه د دروغو الزام لګولی وو] ما ورته اوويل نه [۵] بيا هرقل پوښتنه وکړه د هغه اتباع کونکی او په هغه ايمان راوړونکی کوم خلق دي شرفاء يا کمزوري او ضعيف خلق [۶] ابوسفيان اوويل ما جواب ورکړو د هغه پيروي کونکي کمزور او ضعيف خلق دي [۷] هرقل پوښتنه وکړه د دې سړي د تابعدار وتعداد ورځ په ورځ زياتيږي يا کميږي ابوسفيان اوويل ماجواب ورکړو کميږي نه بلکه زياتيږي [۸] بيا هر قل پوښتنه وکړه د هغه په دين کې داخليدو نه وروسته څوك سړی د هغه نه خفه کيدو په وجه يا د هغه د دين په لاړ کې پيښيدونکو سختيو نه بيزاره کيدو سره دين پريږدي هم که نه ابوسفيان اوويل ماجواب ورکړو نه هيڅوك د هغه دين نه پريږدي.

[۱] قَالَ: فَهَلْ قَاتَلْتُمُوهُ؟ قُلْتُ: نَعَمْ. [۲] قَالَ فَكَيْفَ كَانَ قِتَالُكُمْ إِيَّاهُ؟ [۳] قَالَ: قُلْتُ: يَكُونُ الْحَرْبُ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُ سِجَالًا، [۴] يُصِيبُ مِنَّا وَنُصِيبُ مِنْهُ. [۵] قَالَ: فَهَلْ يَغْدِرُ؟ قُلْتُ: لَا، [۶] وَنَحْنُ مِنْهُ فِي هَذِهِ الْمُدَّةِ، لَا نَدْرِي مَا هُوَ صَانِعٌ فِينَا؟ [۷] قَالَ: وَاللّٰهِ مَا أَمْكَنَنِي مِنْ كَلِمَةٍ أُدْخِلُ فِيهَا شَيْئًا غَيْرَ هَذِهِ [۸] قَالَ: فَهَلْ قَالَ هَذَا الْقَوْلَ أَحَدٌ قَبْلَهُ؟ قُلْتُ: لَا.

حل اللغات: -⑤سِجَالًا: أَيْ: مُسَاجَلَةً وَمُدَاوَلَةً: سجال بوقې ته وائی يعنی څنګه چه بوقه وار په وار وی دغسې په جنګ کنبې ګټه بيلات هم په وار اوپه نمبر وی کله دهغوی کله زمونږ، يا دا چه لکه څنګه د کوهی نه اوبه راويستلووخت کنبې دولچه کله خالي راوځی کله ډکه راوځي،نو په جنګونو کنبې کله هغوی غالب اوکله مونږ غالب راخو ⑥يَغْدِرُ: وَهُوَ نَقْضُ الْعَهْدِ: وعد ماتول او بې لوظی کول ⑦مَا هُوَ صَانِعٌ: چه څه به کوی؟ يعنی چه په دې صلح کنبې به دهوکه کوی او که نه.

ترجمه: [۱] بيا هرقل پوښتنه وکړه آيا تاسو خلق هغه سره جنګ کوئ ماجواب ورکړو هو بيا [۲] هرقل پوښتنه وکړه هغه سره ستاسو د جنګ آنجام څه وي [۳] ابوسفيان اوويل ماجواب ورکړو زمونږ او د هغه په منځ کې کيدونکی جنګ د دوو بوقو په شان وي [۴] کله مونږ هغه په شا کو او کله هغه مونږ په شا کړي [يعنی زمونږ او د هغه په منځ کې د جنګونو حال د دوو بوقو په شان دی چې په يوه وخت د اوبو ډکولو کوشش وشي کله يوه ډکه شي نو دويمه خالي پاتې شي او کله دويمه ډکه شي نو مخکنی خالي پاتې شي دغه شان کله مونږ دي

مدعي نبوتېږ او د ده په ملګرو باندې غالب راشو او کله هغه په مونږ غالب راشي دغه شان کله مونږ د هغه په وجه مصیبتونو اوپریشانیو کې مبتلا کیږو او کله هغه زمونږ په وجه مصائبو او تکلیفونو کې وي[۵] بیا هرقل پوښتنه وکړه آیا هغه عهد شکني وعده خلافي کوي [یعنی د چاسره صلح کولو نه وروسته خپل عهد وپیمان اواقرار ماتوي] ما ورته اوویل نه [مخکې خو هیڅ کله داسې نه دی شوی چې هغه د چاسره صلح کړی وي او هغه یې په خپله ختم کړی وي][۶] البته نن صبا زمونږ او د هغه په منځ کې، چې کومه صلح حدیبیه ده د هغه په باره کې مونږ نه شو ویلی چې د هغه روش به څه وي [چې آیا هغه به داصلح د مودې ختمولو نه مخکې ماته کړي یاباقي به یې پریږدي][۷] ابوسفیان وایي قسم په الله دهرقل سره دپوره سوال او جواب په منځ کې صرف دایوه خبره داسې وه چې ما د خپلو جذباتو لاندې کړې وه ددې نه علاوه بله څه خبره ما د خپل طرف نه ونه کړه [یعنی زه د هرقل د هیڅ سوال په جواب کې څه داسې خبره کولو باندې قادر نه شوم چې څما په نزد خلاف حقیقت وه یا هغه سره د حضور ﷺ توهین او تنقیص کیدي هو د دې یوې خبرې اظهار د خپل طرف نه مابیشکه وکړي چې نن صبا زمونږ او د هغوئ په منځ کې کومه صلح چلیږي په دې باره کې مونږ ته داخوف دی چې چیرته هغوئ عهد شکني ونکړي څما ددې خبرې نه ذات رسالت طرف ته د عهد شکنې په نسبت احتمال ظاهریدی بهرحال][۸] بیا د هرقل سوال دا وو آیا داسې خبره دې نه مخکې هم چا کړې ده [یعنی د مشهورو پیغمبرانو لکه ابراهیم علیه السلام اسماعیل علیه السلام اسحاق علیه السلام یعقوب علیه السلام موسیٰ علیه السلام او عیسیٰ علیه السلام نه علاوه ستا د قوم چا بل سړی د ده نه مخکې د نبوت دعوی کړې ده؟] ما جواب ورکړو نه [ددې ټولو سوالونو او جوابونو نه وروسته هرقل ضروري وګڼله چې خپل داسوالونه چې دنبوت او رسالت په باب کې بنیادي اهمیت لري په عقل ونقل او د تجربې اود معلوماتو په رڼا کې واضحه کړي]

[۱] ثُمَّ قَالَ لِتَرْجُمَانِهِ: قُلْ لَهُ: إِنِّي سَأَلْتُكَ عَنْ حَسَبِهِ فِيكُمْ،[۲] فَزَعَمْتَ أَنَّهُ فِيكُمْ ذُو حَسَبٍ،[۳] وَكَذَلِكَ الرُّسُلُ تُبْعَثُ فِي أَحْسَابِ قَوْمِهَا.[۴] وَسَأَلْتُكَ هَلْ كَانَ فِي آبَائِهِ مَلِكٌ؟ فَزَعَمْتَ أَنْ لَا،[۵] فَقُلْتُ: لَوْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مَلِكٌ[۶] قُلْتُ: رَجُلٌ يَطْلُبُ مُلْكَ آبَائِهِ.[۷] وَسَأَلْتُكَ عَنْ أَتْبَاعِهِ أَضُعَفَاؤُهُمْ أَمْ أَشْرَافُهُمْ؟[۸] فَقُلْتَ: بَلْ ضُعَفَاؤُهُمْ، وَهُمْ أَتْبَاعُ الرُّسُلِ.

توجمه:[۱] نو هغه خپل مترجم ته اوویل چې ته دې ابوسفیان ته اووئیلو چې ما ستاسو په منځ کې د دې سړي د حسب په باره کې ستا نه پوښتنه وکړه [۲] او تا وښودل چې هغه حسب والادی [۳] نو حقیقت دادی چې رسول او نبي د خپل قوم د اشرافو نه وي [۴] بیا ما پوښتنه وکړه چې د هغه په پلرونو نیکونو کې څوک بادشاه وو او تا وښودل چې هیڅوک نه [۵] نو ماخپل زړ ـ کې ،وویل که د ده په پلرونو نیکونو کې څوک بادشاه تیر شوی وی [۶] نو مابه دا

ګڼله چې دی هم یوداسې سړی دی چې د خپل پلار نیکه د حکومت طالب دی [او د حکمراني او سرداري خپل دا طلب او خواهش د نبوت د دعوي په ذریعه ظاهروي]⑦ بیا ما ستا نه پوښتنه کړې وه چې د ده اتباع پیروي کونکي خلق د خپل قوم شرفاء [یعنی دولت وثروت او دنیاوي جاه وجلالت لرونکي خلق دي یا کمزوري او ضعیف یعني مفلس او مسکین او ګوشه نشین خلق دي]⑧ او تا وښودل چې کمزوري خلق د ده تابعدار دی نو حقیقت دادی چې د پیغمبرانو تابعداران عام طور سره کمزوري او ضعیف خلق وي

① وَسَأَلْتُكَ هَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُونَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ مَا قَالَ؟② فَزَعَمْتَ أَنْ لَا، فَعَرَفْتُ أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ لِيَدَعَ الْكَذِبَ عَلَى النَّاسِ ③ ثُمَّ يَذْهَبَ فَيَكْذِبُ عَلَى اللهِ.④ وَسَأَلْتُكَ: هَلْ يَرْتَدُّ أَحَدٌ مِنْهُمْ عَنْ دِينِهِ بَعْدَ أَنْ يَدْخُلَ فِيهِ سَخْطَةً لَهُ؟⑤ فَزَعَمْتَ أَنْ لَا، وَكَذٰلِكَ الْإِيمَانُ إِذَا خَالَطَ بَشَاشَتُهُ الْقُلُوبَ.⑥ وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَزِيدُونَ أَمْ يَنْقُصُونَ؟ فَزَعَمْتَ أَنَّهُمْ يَزِيدُونَ،⑦ وَكَذٰلِكَ الْإِيمَانُ حَتّٰى يَتِمَّ

ترجمه: ① او ما ستا نه پوښتنه کړې وه چې دا وخت هغه څه وایي [یعنی دعوی نبوت؟] دي نه مخکې آیا تاسو د ده دروغ ویلو تجربه شوي ده ② او تا وښودل چې نه نو زه پوهه شوم چې دا ممکنه نه ده چې یوسړی دي خلقوته دروغ ویلو نه خو پرهیز کوي ③ او د الله ﷻ په نسبت دي دروغ وایي ④ او ما پوښتنه کړې وه چې د ده په دین کې د داخلیدونکي کله د ده نه خفه کیدو سره دا دین هم پریږدي ⑤ او تا خودلي وه چې نه نو درحقیقت د ایمان داحال دی چې هغه کله په زړونو کې ځاي ونیسي اوروح د هغه د لذت او حلاوت خوږوالي نه آشنا شي نو بیا هیڅ کله ځني نه جدا کیږي [او که شاذ ونادر یوسړی دین پریږدي نو هم د هغه مطلب به داوي چې د هغه په زړه کې ایمان د سره نه داخل او راسخ شوی نه وو]⑥ او ما ستا نه پوښتنه کړې وه چې د دې سړي دملګرو تعداد ورځ په ورځ زیاتیږي یا کمیږي او تاخو دلي وه چې زیاتیږي ⑦ نو درحقیقت د ایمان داحال دی چې ورځ په ورځ د هغه دائره اثر وسیع تر کیږي [او د اهل ایمانو تعداد زیاتیږي] او آخر هغه پایه تکمیل او اتول ته رسي

حل اللغات: -⑧ خَالَطَ: ګډ شي. یوځاني شي ⑨ بَشَاشَتُهُ: أَيْ: أُنْسُهُ وَفَرْحُهُ: مینه اومحبت د ایمان

① وَسَأَلْتُكَ هَلْ قَاتَلْتُمُوهُ؟ فَزَعَمْتَ أَنَّكُمْ قَاتَلْتُمُوهُ،② فَتَكُونُ الْحَرْبُ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُ سِجَالًا يَنَالُ مِنْكُمْ وَتَنَالُونَ مِنْهُ،③ وَكَذٰلِكَ الرُّسُلُ تُبْتَلَى، ثُمَّ تَكُونُ لَهَا الْعَاقِبَةُ.④ وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَغْدِرُ، فَزَعَمْتَ أَنَّهُ لَا يَغْدِرُ،⑤ وَكَذٰلِكَ الرُّسُلُ لَا تَغْدِرُ،⑥ وَسَأَلْتُكَ هَلْ قَالَ هٰذَا الْقَوْلَ أَحَدٌ قَبْلَهُ؟ فَزَعَمْتَ أَنْ لَا،⑦ فَقُلْتُ: لَوْ كَانَ قَالَ هٰذَا الْقَوْلَ أَحَدٌ قَبْلَهُ⑧ قُلْتُ: رَجُلٌ ائْتَمَّ بِقَوْلٍ قِيلَ قَبْلَهُ.

ترجمه: ① او ما ستا نه پوښتنه کړې وه چې آیا تاسو خلق د ده سره جنګ جګړه کوئ او تا ویلي وه هو جنګ ورسره کوو ② او د جنګ آنجام د دوو بوقو په شان دی کله هغه ستاسو نه مصیبت پورته کوي او کله تاسو د هغه نه مصیبت پورته کوئ ③ نو حقیقت دادی چې د رسولانو امتحان دغه شان اخستی شي چې کله هغوئ ته د دین په دښمنانو باندې غلبه

ورکول کېږي او کله دښمنان په هغوئ غالب کولی شي لیکن آخري انجام رسولانو او د هغوئ تابعدارو ته کامله فتحه او نصرت حاصلیږي (او د هغوئ دین خوريږي)[۴] او ما ستا نه پوښتنه کړې وه چې آیا داسې عهد شکني وعده خلافي کوي او تا جواب راکړې وو چې نه [۵] نودغه شان رسولان دهوکه نه کوي [۶] او ما در نه پوښتنه کړې وه چې ستاپه قوم کې دده نه مخکې داسې خبره چاکړې ده یعنی د نبوت دعویٰ یې کړې ده او تاجواب راکړې وو چې نه [۷] نو ماخپل په زړه کې اوویل که د ده نه مخکې چا دغه شان د نبوت دعویٰ کړې وې [۸] نو کیدی شي چې دی هم د مخکني سړي پیروي کې دغه شان دعویٰ کوي.

حل اللغات: -⑩ الْعَاقِبَةُ: أَيِ: الْمَحْمُودَةُ: ښه انجام،

[۱] قَالَ: ثُمَّ قَالَ: عِمَا يَأْمُرُكُمْ؟ [۲] قُلْنَا: يَأْمُرُنَا بِالصَّلَاةِ، وَالزَّكَاةِ، وَالصِّلَةِ، وَالْعَفَافِ، [۳] قَالَ: إِنْ يَكُ مَا تَقُولُ حَقًّا فَإِنَّهُ نَبِيٌّ، [۴] وَقَدْ كُنْتُ أَعْلَمُ أَنَّهُ خَارِجٌ، وَلَمْ أَكُنْ أَظُنُّهُ مِنْكُمْ، [۵] وَلَوْ أَنِّي أَعْلَمُ أَنِّي أَخْلُصُ إِلَيْهِ لَأَحْبَبْتُ لِقَاءَهُ، [۶] وَلَوْ كُنْتُ عِنْدَهُ لَغَسَلْتُ عَنْ قَدَمَيْهِ، [۷] وَلَيَبْلُغَنَّ مُلْكُهُ مَا تَحْتَ قَدَمَيَّ. [۸] ثُمَّ دَعَا بِكِتَابِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَرَأَهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۹] وَقَدْ سَبَقَ تَمَامُ الْحَدِيثِ فِي (بَابِ الْكِتَابِ إِلَى الْكُفَّارِ).

ترجمه: [۱] د ابوسفیان بیان دی ددې نه وروسته هرقل زما نه پوښتنه وکړه ښه دا وښایه چې داسې تاسو ته د کومې خبر حکم درکوي [۲] ما ورته اوویل هغه مونږ ته وایي چې مونځ کوئ زکوٰة ورکوئ رشته دارو سره صله رحمي محبت او نیک سلوک کوئ او حرام څیزونو نه بچ اوسئ [۳] هرقل په دې اوریدو سره اوویل که ستا بیان درست دی نو یقیناً داسې پیغمبر دی [۴] او ماته د مخکې نه معلومه وه چې په آخره زمانه کې یو پیغمبر پیدا کیدونکی دی لیکن خما داخیال نه وو چې هغه به ستاسو په قوم کې پیدا کېږي [۵] که زه پوهیدای چې زه به هغوئ ته ورسیږم نو د هغوئ په خدمت کې به حاضر شوی وی او ملاقات به مې ورسره کړی وو دابه زما د پاره د ټولو نه زیاته خوښه خبره وه [۶] او که زه د هغوئ په خدمت کې حاضر شوی وی نو د هغوئ دواړې پښې به مې په خپلو لاسونو سره وینځلې وې [۷] او زه تاته ښایم چې د هغوئ د حکومت او اقتدار دائره به دې زمکې د شام او روم ملک ته راورسي کومه چې خما د قدمونو لاندې ده [۸] بیا هرقل د حضور ﷺ نامه مبارکه را وغوښتله او وې ویل (بخاري مسلم)[۹] او دا حدیث وروسته باب الکتاب الی الکفار کې پوره نقل شوي دي

حل اللغات: -① وَالْعَفَافِ: أَيِ: الْكَفُّ عَنِ الْمَحَارِمِ: د حرامو نه خان ساتل ② أَخْلُصُ: أَيْ: أَصِلُ: چه او به رسیږم زه

تسهیلات: قوله: حَدَّثَنِي أَبُوسُفْيَانَ:

دابوسفیان قصه: حضرت ابوسفیان ؓ خپله داقصه دَ اسلام قبلولونه پس دَ حضرت ابن عباس ؓ په مخکښې بیان کړې ده. دَدې قصې پس منظرداسې دې چه حضوریاک دَ نبوت

ملاویدلو نه پس دیارلس کاله په مکه کښې تیرکړل بیائی مدینې طرف ته هجرت اوکړو. په مدینه کښې دَ جهاد حکم راغلو. حضورپاك سره کافرانو جنګ بدر اوکړو، جنګ احد او جنګ خندق او نور ډیر جنګونه په شپږمه هجری کښې دَ عمره ې اداکولواراده اوکړه مګر دَ حدیبیه په مقام باندې دَ قریشوکافرانو حضورپاك اوورسره یونیم زر صحابه کرام مکه کښې دَ داخلیدونه منع کړل. بیا دَ صلح حدیبیه په نوم باندې دَ جنګ بندئی یوه معاهده اوشوه په کوم کښې چه فیصله اوکړې شوه چه لس کاله به خپل مینځ کښې جنګ نه کوو.

بیرونکی دنیا ته د اسلام دعوت ورکول: دَدې صلح په وجه چه کله حضورپاك دَ اهل حجاز دَ جنګونونه فارغ شو نوحضورپاك دَ بهردنیا دَ بادشاهانوپه نوم باندې دعوتی خطونه اولیکل. په هغه زمانه کښې په دنیا باندې دوو سپرطاقتونو حکومت کولو. یودَ اهل فارس سپر طاقت وو چه په نیمه دنیا باندې قابض وو. بل طرف ته دَ روم دَ سلطنت طاقت وو چه په باقی نیمه دنیا باندې قابض وو. دَدې دواړو په مینځ کښې به جنګونه کیدل په یوجنګ کښې دَ فارس والو رومیانوته ماتې ورکړه او هغوی ئی ګډوډ کړل اوهرقل دَخپل مرکز نه اوتختیدو او پټ شو. په دې موقع هرقل منخته اوکړه که چرې زه بیا په خپله علاقه باندې قابض شوم نوزه به پیدل دَ حج دَپاره بیت المقدس ته ځم. چنانچه نهه کاله پس یو بل جنګ اوشو په کوم کښې چه رومیان غالب راغله او فارس ماتې اوخوړله.

هرقل ته په بیت المقدس کښې د نبی علیه السلام خط ملاویدل: هرقل دَخپل نذر پوره کولودَپاره بیت المقدس ته راغلې وو چه دې وخت کښې دَ نبی کریم ﷺ دعوتی خط هغوی ته اورسیدو. هغه دَ نبی کریم ﷺ احوال معلومولودَپاره خپلو سړو ته اووئیل چه لږ شان معلومات اوکړئی چه دَدې نبوت دَ دعویٰ کونکی دَ قوم څوك سړې زمونږ علاقې ته راغلې وی نوهغه ماسره ملاؤ کړئی. هغه وخت ابوسفیان ؓ خپلې قافلې سره دَتجارت په غرض بیت المقدس ته راغلې وو. خلقو هغه دَخپلو ملګرو سره دَ هرقل په مخکښې پیش کړو. هرقل دَ ابوسفیان نه دَ حضورپاك متعلق تقریباً ۱۱ سوالونه اوکړل او ابوسفیان هم صحیح صحیح جوابونه ورکړل. بیا هغه دَ ده په جوابونو باندې خپله تبصره اوکړه. هرقل دَ رسول الله ﷺ دَ صداقت اودَ اسلام دَ حقانیت اعتراف اوکړو مګر مسلمان نه شو. زیر بحث دې اورد حدیث کښې هم دَدې پس منظر تفصیلات دی.

د هرقل تعصب:

قوله: وَلَمْ أَكُنْ أَظُنُّهُ مِنْكُمْ:

د مذکوره جملې په وئیلو کښې دوه احتمالات: ① هرقل دَ سابقه آسمانی صحیفو عالم هم وو داسرې نجومی هم وو اودَ تاریخ نه هم واقف وو. وئیلی شی چه ده سره دَ ټول انبیاء کرامو تصویرونه وو اودَ حضورپاك هم وو. په دې وجه هغه اووئیل چه دَ یو نبی راتلل باقی

دی مګر دلته هرقل لرِ شان دَ تعصب نه کار واخستلو چه زمادا خیال نه وو چه دا به دَعربو نه وی حالانکه هغه ته ښه معلومه شوه چه نبی آخرالزمان به دَ بنی اسماعیل نه وی دَعربو نه به وی

② کیدې شی چه دَهغه خیال هم دغه وی چه اکثر او بیشتر انبیاء دَ اولاد ابراهیم علیه السلام نه بنواسرائیل کښې راغلی دی نو نبی آخرالزمان به هم دَدوی نه راځی

[۶] بَابٌ فِي الْمِعْرَاجِ

د معراج بیان

خلاصة الباب:

فيه ستة أحاديث مشتملة على ثلاث مسائل:

① تفصيل قصة المعراج: ۱، ۲، ۳.

② ما عطى النبي صلى الله عليه وسلم ليلة المعراج: ۱، ۲، ۳، ۴.

③ سوال المشركين في شان الإسراء والجواب لهم: ۵، ۶.

قوله: أُسْرِيَ:

په اسراء او معراج کښې فرق: ① اسراء، دَ سیرت نه دې دَ شپې په زمکه باندې سفرکولوته وائی دَحضورپاك چه کوم سفردَ مسجدحرام نه دَمسجد اقصی پورې دَ شپې شوې دې هغې ته اسراء وائی

اومعراج دَعروج نه دې اوعروج دَ ختلو په معنی کښې دې دَ مسجداقصی نه دَ آسمانونو پورې اودَ آسمانونو نه دَ لامکان پورې دَ ختلوچه کوم سفردې هغې ته معراج وائی په دې اطلاق کښې څه قانونی یا شرعی پابندی نشته دې دَ یولفظ په بل باندې اطلاق کیږی.

د اسراء اومعراج شرعی تعریف اوحکم: البته دا شرعی مسئله ده چه دَمسجدحرام نه دَمسجد اقصی پورې دَمعراج واقعه دَ قرآن کریم نه ثابته ده دَدې منکرکافر دې اودَ مسجداقصی نه دَ پورته پورې سفر دَاحادیثونه ثابت دې دکوم منکر چه ګمراه اوبدعتی دې

د نبی علیه السلام د معراج تنوع: دَحضورپاك په ژوند مبارك کښې هغوی ته څومعراجونه ورکړې شوی دی کوم چه په خوب کښې شوی دی لیکن جمهور امت په دې باندې متفق دې چه دَ کوم معراج ذکر په سورت بنی اسرائیل کښې کړې شوې دې هغه معراج په بدن عنصری سره دَ حالت بیدارئی کښې شوې وو

معراج د واقعې پس منظر: دَ حضورپاك عمر مبارك ۵۱ یا ۵۲ کاله شوې وو چه په مکه مکرمه کښې ئې دَ کافرانودَلاسونونه ټول تکلیفونه برداشت کړې وو. دَ انسانی تصورنه

پورته دَ قريشو کافرانو پـه حـضورپاك بانـدې هرقسم ظلمونه کړی وو. په شعب ابی طالب کښې دَدريو کـالو پورې دَ قيداوبند اودَ تعلقاتو پريخودو تکليفونه برداشت کولونه پس حضورپاك په دې غرض سره دَ طائف سفراوکړو که دَ طائف قبائلی سرداران مسلمان شی نوحضورپاك به دَمکې نه مسلمانان طائف طرف ته اوليگی دغه شان به دَ ظلمونوداسلسله ختمه شی. ليکن دَ طائف سردارانودَ مکې دَ چودهريانودَ ويرې نه رسول الله ﷺ سره دَعربودَ رواج خلاف انتهائی ظالمانه سلوك اوکړو. دَخبرې کولونه نې انکاراوکړو اوماشومان او پاگلان ئې حضورپاك پسې شاته اولگول او په کاڼرو ئې اوويشتلو.

خلاصه دا چه حضورپاك دَ تکليفونو دَټولو لاړونه تيرشوې وو اوس دَحضورپاك ذات با برکت دَدې دَپاره بالکل تيارشوې وو چه احکم الحاکمين سره دَ رازاونياز خبرې اوکړی ځکه چه دَ اوسپنې نه کله اوچت څيزونه جوړول مقصود وی نوهغه اوسپنه دَگرمو بهټونه تيرولې شی. روح انسانی چه دَ څومره بدنی اثراتونه آزاد يږی هم دومره دَهغه پرواز اوچتيږی.

دَ طائف پـه سفرسـره پـه حـضورپاك بانـدې دَ مـصيبتونوانتهاء شـوې وه. هلتـه دَ دنيـا يـوکمزورې انـسان خـاتم النبيـين ﷺ سـره دَ خبرونـه انکـاراوکړونوالله تعـالی خـان تـه راؤغوښتلو دې دَپاره چه هغوی ﷺ لـه ټول رفعتونه عظمتونه او برکتونه ورعطاکړی اودَدنياوالوته اوښائی چه کومې هستئی سره تاسوکلام نه کول غواړئی خالق کائنات پخپله هغه سره همکلام کيدل غواړی. چنانچه دَ راجح قول مطابق ۲۷ رجب کال ۱۱هجری کښې دَ حضورپاك دَ ژوندداعظيمه واقعه پيښه شوه اودَمکې مکرمې نه حضورپاك دَ جبرائيل اوميکائيل سره په براق باندې سورشو اول مسجداقصٰی ته لاړو اودَهغه ځائی نه آسمانونوته لاړو اوبياالله تعالی سره په لامکان کښې په عرش عظيم باندې همکلام شو. په زيربحث باب کښې ټول شپږ احاديث دی مگر بعضې ډيراوږده دی. په دې کښې په پوره تفصيل سره دَمعراج واقعه بيان کړې شوې ده.

مختلفو پيغمبرانو سره دملاقاتو دپاره پټ الفاظ: پـه اووه آسمانونو کـښې پـه کوموآسمانونوکښې کوم کوم انبياء کراموسره دَحضورپاك ملاقات شوې دې دَدې دَپاره "ابهاسا" الفاظ په خيال کښې ساتل پکاردی په دې جمله کښې رومبې حرف چه دَ کوم نبی دَ نوم رومبې حرف وی هغه نبی سره به په رومبی آسمان کښې ملاقات شوې وی دغه شان دَ دې جملې دويم حرف چه دکوم نبی دَ نوم رومبې حرف وی هغه نبی سره به په دويم آسمان باندې ملاقات شوې وی. دَ اووه آسمانونو پورې به هم دغه ترتيب وی.

مختلفو پيغمبرانو سره د نبی عليه السلام ملاقاتونه:

① دَدې جملې رومبې حرف الف دې نو پـه رومبـی آسـمان کـښې حـضرت آدم عليه السلام سره ملاقات اوشو دَ کوم دَ نوم رومبې حرف چه الف دې.

② دغه شان په دې جمله کښې دويم حرف عين دې نو په دويم آسمان باندې حضرت عيسى عليه السلام سره ملاقات اوشو چه دَ نوم رومبې لفظ ئې عين دې
③ دغه شان حرف ياء دې نو په دريم آسمان کښې حضرت يوسف عليه السلام سره ملاقات شوې.
④ څلورم حرف الف دې نو په څلورم آسمان باندې حضرت ادريس عليه السلام سره ملاقات شوې
⑤ پنځم حرف هاء دې نو په پنځم آسمان باندې حضرت هارون عليه السلام سره ملاقات شوې
⑥ اوشپږم حرف ميم دې نو په شپږم آسمان باندې حضرت موسى عليه السلام سره ملاقات شوې.
⑦ دَدې جملې اووم حرف آخرى حرف الف دې او په اووم آسمان کښې حضرت ابراهيم عليه السلام سره ملاقات اوشو چه دَنوم رومبې حرف ئې الف دې

تفصيلي حديث: دَمعراج په شپږو احاديثو کښې دَدې باب رومبې حديث چه دَحضرت انس رضي الله عنه او مالك بن صعصعه رضي الله عنه نه نقل دې دَټولونه زيات منضبط او مرتب دې هم دَدې حديث په بنياد باندې "اعياهما" جمله بنياد دې.

د معراج په واقعه اعتراضات: په واقعه دَ معراج باندې دَ پخوانئى زمانې ملحدين فلاسفه هم اعتراضات اوچت کړې وو. جديد ملحدين فلاسفه او سائنسدان هم اعتراضات کوى يوڅو اعتراضات سره دَ جوابه اوګورئى:

① **د معراج واقعه خوبى کيدل:** واقعه دَمعراج په جسم عنصرى سره دَبيدارئى واقعه نه وه بلکه دَ خوب واقعه وه.

د اول اعتراض جواب: دا يوخوشې اوغلط اعتراض دې ځکه چه که دَ معراج واقعه خوب وې نوالله تعالى هغه په قرآن کريم کښې په دومره لوئى اهتمام سره ولې بيانوله؟ چنانچه ارشاد اوشو "دَهرقسم عجزاو نقص نه پاك الله تعالى دَ شپې په لږه شان حصه کښې په خپل خاص بنده دَمسجد حرام نه مسجداقصى پورې سيل اوکړو" په خوب کښې خوهرسړې دَدنيا ګوټ ګوټ پورې سفرکوى کله په سمندرونو کښې تيرېږى کله په هواګانو کښې الوزى کله آسمانونوته خيژى اوکله په غرونو باندې ورخيژى په دې کښې دَ حيرانتياڅه خبره وه اوپه دومره اهتمام سره دَ بيانولوڅه ضرورت وو؟ اودَ هغه وخت دَ يوڅو کچه عقيدې دَمسلمانانودَ مرتد کيدوڅه خبره وه؟ او په دې کښې دَحضورپاك دَ وينا څه ضرورت وو که چرې دادَ خوب معامله وه نوحضورپاك دَمکې کله غائب شوې وو چه بيانئى سحرهم په مکه کښې اوکړو؟ معلومه شوه چه دا بدنى سفروو کوم چه په بيدارئى کښې شوې وو دَ کوم په وجه چه اهل مکه دَحدنه زيات شور جوړ کړو اوداخبره خويقينى ده چه دَخوب په خبره څوك دومره تعجب نه کوى اونه دَهغې په بحث کښې څوك وردانګى اونه دَ وردانګلوضرورت وى. دلته لفظ "عبد" نه صرف روح ته وائى اونه صرف بدن ته وائى بلکه دَ روح او بدن دواړو په ملاپ باندې دَ لفظ عبداطلاق کيږى.

② د ناری اوزمهریری طبقاتو څخه د تیریدو عدم امکان: دَ جسد عنصری واقعه څنګه کیدې شی. کله چه پورته طبقات زمهریریه اوطبقات ناریه دی دَ کوم نه تیریدل چه محال دی.
د دویم اعتراض جواب: الله تعالی دَ معراج دَ واقعه په شروع کښې دَ سبحان لفظ کیخودې دې یعنی هغه پروردګار چه دَهر قسم عجزاو عیب نه اوهر قسم نقص اوکمزورئی نه پاك دې هغه چه څه کول غواړی کولې شی. دویمه خبره داده چه نن یو کمزورې انسان دَدغه طبقات نه دَ بچ کیدودَپاره داسې آلات اواسباب جوړکړی دی چه په قول دَهغوی دغه آلات استعمالولوسره دَدغه طبقات نه په حفاظت سره تیریږی. که چرې یوکمزورې مخلوق دَخپلو آلاتوپه ذریعه دَدغه طبقات دَ مضر اثراتونه بچ کیدې شی نودَقادرمطلق بادشاه دَپاره څه ګران دی چه هغه خپل شاهی میلمه دَدغه تولو طبقاتونه په حفاظت سره تیرکړی. دا اعتراض هم دَ نن صباپه دورکښې مهمل پاتې شوې دې.
نن صبادَې نوی تیکنالوجئی په دورکښې دَدې اعتراض حیثیت ختم شوې دې اوس خوکافران هم وائی چه مونږ پورته سپوږمئی ته ختلې یو.
③ د آسمان عدم وجود: په معراج باندې ملحدینودویم اعتراض داکړې دې چه دا پورته کوم آسمان ښکاری داآسمان نه دې بلکه نیلګونی یعنی شینوالې دې چه دَ لرې مسافت دَ وجې نه سترګوته آسمان معلومیږی. کله چه آسمان نشته نودَ معراج پوره داستان نشته.
د دریم اعتراض جواب: دَ ملحدینودا اعتراض هم غلط دې ځکه چه الله تعالی باربار انسان دَ دغه علوی کائنات په عجائباتوکښې دَ غورکولودَپاره متوجه کړې دې چه دا اوګورئی آسمان دې هغه اوګورئی ستوری سپوږمئی اونمر دې. کوم چه دَ الله تعالی په حکم باندې روان دی. دَ آسمان اوچتوالی ته اوګورئی په دې کښې هیڅ چاؤدې نشته دې. دَدې هیڅ ستن وغیره نشته دې که چرې دا آسمان نه دې نوالله تعالی دَغورکولودَپاره انسان دکوم څیزطرف ته متوجه کړې دې؟
بل که چرې دا شینوالې دې آسمان نه دې نومونږ وایودَې دَپاسه آسمان دې تاسو سره دَدې دَنفی کوم یودلیل دې؟ دَنن صباپه دې جدید دورکښې دَملحدینودا اعتراض هم ختم شوې دې بلکه اوس خو ملحدین پخپله دَ آسمان اعتراض کوی اودې ته دَتللو اوپه دې کښې دَ اوسیدلو فضول خبرې هم کوی
④ د اوږد مسافت طې کول: یواعتراض کوم چه دَ پخوانئی او اوسنئی زمانې دَملحدانودَطرف نه دَ پخوانه راروان دې هغه دا چه دَ مسجدحرام نه دَمسجداقصٰی پورې دَزمکې لاردَ یوې میاشتې مسافت دې اودَزمکې نه دآسمان پورې پنځه سوه کاله مسافت دې. دَ پورته آسمان مسافت دَزرګونوکالودې دادومره اوږد سفرئی په یوه شپه کښې څنګه اوکړو دا ناممکن دی؟

د علوم اعتراض جواب: دَ پخوانئی زمانې فلسفیانو لیکلی دی چه دَحرکت تیزی او سرعت سیر دَپاره څه حد مقرر نه دې دَهر سریع الحرکة څیز نه پس هم ممکن دیٰ چه دَدې نه هم دَ زیات تیز حرکت والا څیز راشی دَنن نه څو سوه کاله وړاندې کله چه هوائی جهازونه وو جوړ شوي نو دَ چا په تصور کښې هم نه وو چه دا سریع الحرکة څیز به راشی دَ کوم په ذریعه چه په یو څو ګینټو کښې انسان دَدنیا دَ یو ګوټ نه بل ګوټ پورې الوتو سره ځی لیکن نن دا سفر مشاهده جوړه شوې ده او په جهازونو کښې هم دَ ترقئی دَ پاسه ترقی کیږی او دَحرکت تیزوالې نور هم تیزیږی بل چه مونږ په خپل بدن کښې په خپلو سترګو باندې خیال او کړو چه دَ دې سفر څومره تیزدې په یو څو سیکنډه کښې هم دا نظر د آسمانه پورې ځی هم او واپس هم راځی په یو څو سیکنډونو کښې دَالله تعالی فرښته د آسمان نه دنیا ته راځی کله چه دَالله تعالی په حکم سره دَهغه فرښته داسې کولې شی نو دَصاحب معراج دَپاره څه مشکل دی چه په یو څو لمحو کښې آسمانونو ته لاړ شی او خاص کر چه پخپله هم شاهی میلمه وی؟ په حدیث شریف کښې دی چه دَحضور پاك سورلی دومره تیزه وه چه د کوم ځائی پورې دَهغه نظر رسیدلو نو هم هلته به دَهغه قدم پریوتلو. بل دَ نمر سړیکوته اوګورئی چه دَ آسمان نه په ښکاره کیدو سره په یو څو لمحو کښې دَدنیا د کوم ګوټ نه د کوم ګوټ پورې رسیږی. بل دَ بجلئی دَ کرنټ نظام ته اوګورئی که په مشرق کښې دَهغې بټن او وهلې شی نو بغیر دَ څه وقفې نه به په مغرب کښې بلب روښانه شی. بل دَ ریډیائی لاسلکی نظام مشاهده اوکړئی چه دَ مشرق نه تر مغرب پورې بغیر دَ څه وقفې نه آواز رسیږی. که چرې دَ تیز سیر دا شواهد زمونږ په مشاهده کښې دی نو بیا په دې کښې دَ شك کولو څه ګنجائش دې چه سید الاولین والاخرین ﷺ په دغه مبارك سفر کښې دَ رفتار څه پیچیدګی پیدا شی بهرحال دَاهل یورپ او اهل مغرب تعصب اوګورئی چه کله دَمعراج دا عظیم معجزې او اعزاز په انکار باندې راغلل نو د آسمانونو نه ئی انکار اوکړو او دَ طبقات زمهریره او ناریه مسائل ئی را پیدا کړل او کله چه ئی دَخپل مطلب خبره راغله نو په سپوږمئی باندې دَ پلانونو دَاختلو منصوبې جوړوی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۸۶۲] د معراج د واقعې ذکر

۵۸۶۲ -(۱) [۱] [۱]عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ [عَنْ مَالِكٍ] بْنِ صَعْصَعَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، [۲] أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حَدَّثَهُمْ عَنْ لَيْلَةِ أُسْرِيَ بِهِ: [۳] (بَيْنَمَا أَنَا فِي الْحَطِيمِ - وَرُبَّمَا قَالَ فِي الْحِجْرِ - مُضْطَجِعًا [۴] إِذْ أَتَانِي آتٍ، فَشَقَّ مَا بَيْنَ هَذِهِ إِلَى هَذِهِ) [۵] يَعْنِي مِنْ ثُغْرَةِ نَحْرِهِ إِلَى شِعْرَتِهِ " [۶] فَاسْتَخْرَجَ قَلْبِي، ثُمَّ أُتِيتُ بِطَسْتٍ مِنْ

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب المعراج (رقم-۳۸۸۷) ومسلم فی کتاب الإیمان/باب الإسراء برسول الله صلی الله علیه وسلم إلی السماوات. وفرض الصلوات (رقم-۲۶۵ - (۱۶٤) والنسائی کتاب الصلاة/باب فرض الصلاة , وذکر اختلاف الناقلین فی إسناد حدیث أنس بن مالک رضی الله عنه , واختلاف ألفاظهم فیه (رقم-٤٤۸) واحمد فی المسند: ٤/۲۰۷

ذَهَبٍ مَمْلُوءٍ إِيمَانًا، ⑦ فَغُسِلَ قَلْبِي، ثُمَّ حُشِيَ، ثُمَّ أُعِيدَ) - ⑧ وَفِي رِوَايَةٍ: "ثُمَّ غُسِلَ الْبَطْنُ بِمَاءِ زَمْزَمَ، ⑨ ثُمَّ مُلِئَ إِيمَانًا وَحِكْمَةً لِلّٰهِ

ترجمه: ① حضرت قتاده تابعي رحمه الله د حضرت انس ابن مالك نه او هغه د حضرت مالك ابن صعصعه نه روايت كوي ② چې رسول الله ﷺ د اسراء او د معراج د شپې د احوالو او واقعاتو تفصيل صحابه رضي الله عنهم ته بيانولو سره وفرمايل ③ نن شپه زه په حطيم كې پروت وم او په بعضې موقعو حضور ﷺ حجر كې د پروتې ذكر وفرمايلې ④ چې اچانك يوراتلونكى يعنى فرشته ماته راغله او هغه ځما د جسم ددې ځاي نه دې ځاي پورې حصه وڅيرله ⑤ راوي وايي ددې ځاي نه دې ځاي پورې د حضور ﷺ مراد د غاړې د كندې نه زير ناف ويښتانو پورې حصه وه ⑥ بيا حضور ﷺ وفرمايل هغه فرشتې داسې ځما سينه شلولو ځمازړه را اوښكلو دې نه وروسته ځما مخكې د سروزرو لګن راوړل شو چې د ايمان نه ډك وو ⑦ او په هغه كې ځما زړه و وينځل شو بيا ځما زړه د الله ﷻ دعظمت او محبت يا د علم او ايمان ددولت نه ډك كړل شو او بيا زړه په سينه كې په خپل ځاي كيخودل شو ⑧ او په يوه روايت كې دا الفاظ دي چې ځما په خېټه كې دننه ټول څيزونه يا د زړه ځاي د زمزم په اوبو سره و وينځل شو ⑨ او هغه د ايمان او حكمت نه ډك كړل شو.

حل اللغات:- ① ثُغْرَةِ نَحْرِهِ: أَيْ: نَقْرَةِ نَحْرِهِ: د مرئ كنده، ② شِعْرَتِهِ: أَيْ عَانَتِهِ: تر د ناف، نوم پورې (چرته چه ويښته راخيجى) ③ حُشِيَ: د ماضى مجهول صيغه ده، د حَشْو نه ماخوذ ده، أَيْ: مُلِئَ مِنْ حُبِّ رَبِّي: ډک کړې شو دعظمت اومحبت دالله نه، يا ډک کړې شو دعلم اوايمان نه

① ثُمَّ أُتِيتُ بِدَابَّةٍ دُونَ الْبَغْلِ وَفَوْقَ الْحِمَارِ، ② أَبْيَضَ يُقَالُ لَهُ: الْبُرَاقُ، ③ يَضَعُ خَطْوَهُ عِنْدَ أَقْصَى طَرْفِهِ، فَحُمِلْتُ عَلَيْهِ، ④ فَانْطَلَقَ بِي جِبْرِيلُ حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الدُّنْيَا، ⑤ فَاسْتَفْتَحَ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ. ⑥ قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ. ⑦ قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ. ⑧ قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ، فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ، ⑨ فَفُتِحَ فَلَمَّا خَلَصْتُ، فَإِذَا فِيهَا آدَمُ فَقَالَ: ⑩ هَذَا أَبُوكَ آدَمُ، فَسَلِّمْ عَلَيْهِ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَرَدَّ السَّلَامَ، ⑪ ثُمَّ قَالَ: مَرْحَبًا بِالِابْنِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ

ترجمه: ① دې نه وروسته د سورلى يوحيوان راوستل شو چې د قچرڅخه وړوكې او د خرڅخه غټ وو ② دا حيوان د سپين رنګ وو او د هغه نوم براق وو ③ او د هغه د تيز رفتارى داحال وو چې تركومه خايه پورې به د هغه نظر تلى دهغى پورې به هغه يوقدم اينښووى زه په هغه سور شوم ④ او جبرائيل عليه السلام زه روان كړم ددې پورې چې زه د دنيا آسمان يعنى مخكنى آسمان ته ورسيدم ⑤ جبرائيل دروازه كولاؤولو د پاره اوويل نود پهره دارو فرشتو د طرف نه پوښتنه وشوه چې څوك يې؟ جبرائيل عليه السلام اوويل زه جبرائيل يم ⑥ بيا پوښتنه وشوه اوستا سره څوك دى؟ جبرائيل جواب وركړو محمد ﷺ دى ⑦ ددې نه وروسته پوښتنه وشوه د دوئ محمد بللو د پاره څوك ليږل شوى وو يا په خپله راغلى دى

جبرائیل جواب ورکړو بللو سره راغلی دی ⑧ بیا هغه فرشتو اوویل مونږ محمد ﷺ ته پخیر راغلئ وایو راتلونکي ته دي راتلل مبارك وي ⑨ د دې د آسمان دروازه کولاؤه شوه او کوم وخت چې زه په آسمان کې داخل شوم نو څه ګورم چې حضرت آدم علیه السلام مخې ته ولاړ دی جبرائیل علیه السلام اوویل ⑩ دا ستا پلار یعنی جدّ اعلی آدم دی ده ته سلام وکړه ما حضرت آدم علیه السلام ته سلام وکی هغوئ د سلام جواب راکړو⑪ او وې فرمایل زه نیك بخت خوی او صالح پیغمبر ته پخیر راغلئ وایم.

حل اللغات:- ④الْبُرَاقُ: قچر، خچر، دا دخر نه غټ وی او د اس نه وروکې وی. دې ته براق ځکه وائی چه رنګ ئې ځلیدو یا دا چه لکه د وریځې د بریښنا په شان پرقیده ځکه ورته برق وائی ⑤خَلَصْتُ: أَيْ: وَصَلْتُ: چه اورسیدم، ورداخل شوم

① ثُمَّ صَعِدَ بِي حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الثَّانِيَةَ، ② فَاسْتَفْتَحَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ. ③ قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ ④ قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ. ⑤ قِيلَ: مَرْحَبًا لَهُ، فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ، فَفُتِحَ. ⑥ فَلَمَّا خَلَصْتُ إِذَا يَحْيَى وَعِيسَى وَهُمَا ابْنَا خَالَةٍ ⑦ قَالَ: هَذَا يَحْيَى وَهَذَا عِيسَى فَسَلِّمْ عَلَيْهِمَا، ⑧ فَسَلَّمْتُ فَرَدَّا، ثُمَّ قَالَا: مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ.

ترجمه: ① د دې نه وروسته جبرائیل زه پورته دویم آسمان ته راوستم ② هغه دروازه کولاؤولو د پاره اوویل نو پوښتنه وشوه څوك دي؟ جبرائیل علیه السلام اوویل زه جبرائیل یم ③ بیا پوښتنه وشوه تا سره څوك دی؟ هغه اوویل محمد دی ④ بیا پوښتنه وشوه دوئ راغوښتل شوي دي؟ جبرائیل اوویل هو⑤ بیا پهره دار فرشتو اوویل مونږ محمد ته پخیر راغلئ وایو راتلونکي ته دي راتلل مبارك وي دي نه وروسته د آسمان دروازه کولاؤه شوه ⑥ کوم وخت چې زه په آسمان کې داخل شوم نو چې ګورم حضرت یحیٰی علیه السلام او حضرت عیسٰی ولاړ دي چې یوبل خاله زاد ورونه وه ⑦ جبرائیل اوویل دا یحیٰی دی او دا عیسٰی دی دوئ ته سلام وکړه ⑧ ما دواړو ته سلام وکی او دواړو خما د سلام جواب راکولو سره اوویل نیك بخت ورور او پیغمبر صالح ته مونږ پخیر راغلئ وایو.

① ثُمَّ صَعِدَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الثَّالِثَةِ، فَاسْتَفْتَحَ، ② قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ. قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ. ③ قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ. ④ قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ، فَفُتِحَ، ⑤ فَلَمَّا دَخَلْتُ إِذَا يُوسُفُ، ⑥ قَالَ: هَذَا يُوسُفُ، فَسَلِّمْ عَلَيْهِ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَرَدَّ. ⑦ ثُمَّ قَالَ: مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ،

ترجمه: ① د دې نه وروسته جبرائیل زه اخـتـوسره پورته بوتلم او دریم آسمان ته راغلو هغه دروازه کولاؤولو د پاره اوویل ② نو پوښتنه وشوه څوك دي؟ جبرائیل علیه السلام اوویل زه جبرائیل یم بیا پوښتنه وشوه تا سره څوك دی؟ هغه اوویل محمد دی ③ بیا پوښتنه وشوه دوئ راغوښتل شوي دي؟ جبرائیل اوویل هو④ بیا پهره دار فرشتو اوویل مونږ محمد ته پخیر راغلئ وایو راتلونکي ته دي راتلل مبارك وي دي نه وروسته د آسمان دروازه کولاؤه

شوه ⑤ زه چې په دریم آسمان کې داخل شوم نو چې ګورم حضرت یوسف علیه السلام مخې ته ولاړ دی⑥ جبرائیل اوویل دا یوسف دی ده ته سلام وکړه ماهغه ته سلام اوونیلو هغه خما د سلام جواب راکړو ⑦ اوویې ویل زه نیك بخت ورور او پیغمبر صالح ته پخیر راغلئ وایم.

①ثُمَّ صَعِدَ بِي حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الرَّابِعَةَ، فَاسْتَفْتَحَ،② قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ. قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ.③ قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ.④ قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ، فَفُتِحَ،⑤ فَلَمَّا خَلَصْتُ فَإِذَا إِدْرِيسُ، ⑥ فَقَالَ: هَذَا إِدْرِيسُ، فَسَلِّمْ عَلَيْهِ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَرَدَّ، ⑦ ثُمَّ قَالَ: مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ.

ترجمه:① دې نه وروسته جبرائیل زه پورته بوتلم او څلورم آسمان ته راغلو هغه دروازه کولاؤولو د پاره اوویل ② نو پوښتنه وشوه څوك دې؟ جبرائیل علیه السلام اوویل زه جبرائیل یم بیا پوښتنه وشوه تا سره څوك دی؟ هغه اوویل محمد دی ③ بیا پوښتنه وشوه دوئ راغوښتل شوي دي؟ جبرائیل اوویل هو④ بیا پهره دار فرشتو اوویل مونږ محمد ته پخیر راغلئ وایو راتلونکي ته دې راتلل مبارك وي دې نه وروسته د آسمان دروازه کولاؤ شوه ⑤ او هرکله چې زه څلورم آسمان کې داخل شوم نو چې ګورم حضرت ادریس علیه السلام مخې ته ولاړ دی ⑥ جبرائیل علیه السلام اوویل دا ادریس علیه السلام دی ده ته سلام وکړه ما هغه ته سلام وکی اوهغه خما د سلام جواب راکړو ⑦ اوویې ویل زه نیك ورور او پیغمبر صالح ته پخیر راغلئ وایم

①ثُمَّ صَعِدَ بِي حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الْخَامِسَةَ، فَاسْتَفْتَحَ،② قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ. قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ.③ قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ.④ قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ، فَفُتِحَ،⑤ فَلَمَّا دَخَلْتُ، فَإِذَا هَارُونُ.⑥ قَالَ: هَذَا هَارُونُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَرَدَّ،⑦ ثُمَّ قَالَ: مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ.

ترجمه:① د دې وروسته جبرائیل پورته بوتلم او پنځم آسمان ته راغلو هغه دروازه کولاؤولو د پاره اوویل ② نو پوښتنه وشوه څوك دي؟ جبرائیل علیه السلام اوویل زه جبرائیل یم بیا پوښتنه وشوه تا سره څوك دی؟ هغه اوویل محمد دی ③ بیا پوښتنه وشوه دوئ راغوښتل شوي دي؟ جبرائیل اوویل هو④ بیا پهره دار فرشتو اوویل مونږ محمد ته پخیر راغلئ وایو راتلونکي ته دې راتلل مبارك وي دې نه وروسته د آسمان دروازه کولاؤ شوه ⑤ زه چې پنځم آسمان کې داخل شوم نو چې ګورم حضرت هارون علیه السلام مخې ته ولاړ دی ⑥ جبرائیل اوویل دا هارون دی ده ته سلام وکړه ما هغه ته سلام وکی او هغه خما د سلام جواب راکولو سره اوویل زه نیك بخت ورور او پیغمبر صالح ته پخیر راغلئ وایم

①ثُمَّ صَعِدَ بِي حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ السَّادِسَةَ، فَاسْتَفْتَحَ،② قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ. قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ.③ قِيلَ: وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ.④ قَالَ: مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ⑤ فَلَمَّا خَلَصْتُ فَإِذَا مُوسَى،⑥ قَالَ: هَذَا مُوسَى، فَسَلِّمْ عَلَيْهِ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَرَدَّ⑦ ثُمَّ قَالَ: مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ،⑧ فَلَمَّا

جَاوَزْتُ بَكَى، قِيلَ: مَا يُبْكِيكَ؟ ۹ قَالَ: أَبْكِي لِأَنَّ غُلَامًا بُعِثَ بَعْدِي يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِهِ أَكْثَرُ مِمَّنْ يَدْخُلُهَا مِنْ أُمَّتِي،

توجمه: ۱ ددي نه وروسته جبرائيل زه پورته بوتلم شپږم آسمان ته راغلو هغه دروازه كولاؤولو د پاره اوويل ۲ نو پوښتنه وشوه څوك دي؟ جبرائيل عليه السلام اوويل زه جبرائيل يم بيا پوښتنه وشوه تا سره څوك دی؟ هغه اوويل محمد دی ۳ بيا پوښتنه وشوه دوئ راغوښتل شوي دي؟ جبرائيل اوويل هو ۴ بيا پهره دار فرشتو اوويل مونږ محمد ته پخير راغلئ وايو راتلونكي ته دي راتلل مبارك وي ۵ دي نه وروسته د آسمان دروازه كولاؤه شوه كوم وخت چې شپږم آسمان كې داخل شوم نو چې گورم حضرت موسٰى عليه السلام خما مخې ته ولاړ دی ۶ جبرائيل اوويل دا موسٰى عليه السلام دی ده ته سلام وكړه ما هغه ته سلام اووئيلو هغه خما د سلام جواب راكړو ۷ اوويې ويل زه نيك بخت ورور او پيغمبر صالح ته پخير راغلئ وايم ۸ ددي نه وروسته چې زه مخكې روان شوم نو حضرت موسٰى عليه السلام په ژړاسو پوښتنه وشوه ته ولي ژاړې؟ ۹ حضرت موسٰى اوويل يوځلمی چې زما نه وروسته رسول دنيا ته راليږل شوي دي د هغه د امت خلق خما د امت د خلقو نه ډير زيات په جنت كې داخليږي.

۱ ثُمَّ صَعِدَ بِي إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ، فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ، ۲ قِيلَ: مَنْ هَذَا: قَالَ: جِبْرِيلُ. قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ. ۳ قِيلَ: وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ. ۴ قِيلَ: مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ، ۵ فَلَمَّا خَلَصْتُ، فَإِذَا إِبْرَاهِيمُ، ۶ قَالَ: هَذَا أَبُوكَ إِبْرَاهِيمُ، فَسَلِّمْ عَلَيْهِ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَرَدَّ السَّلَامَ، ۷ ثُمَّ قَالَ: مَرْحَبًا بِالِابْنِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ

توجمه: ۱ بهرحال شپږم آسمان نه تيريدو سره جبرائيل زه پورته بوتلم او اووم آسمان ته راغلو هغه دروازه كولاؤولو د پاره اوويل ۲ نو پوښتنه وشوه څوك دي؟ جبرائيل عليه السلام اوويل زه جبرائيل يم بيا پوښتنه وشوه تا سره څوك دی؟ هغه اوويل محمد دی ۳ بيا پوښتنه وشوه دوئ راغوښتل شوي دي؟ جبرائيل اوويل هو ۴ بيا پهره دار فرشتو اوويل مونږ محمد ته پخير راغلئ وايو راتلونكي ته دي راتلل مبارك وي ۵ دي نه وروسته د آسمان دروازه كولاؤه شوه او زه اووم آسمان كې داخل شوم نو چې گورم حضرت ابراهيم خما مخې ته ولاړ دی ۶ جبرائيل عليه السلام اوويل دا ستا پلار مورث اعلٰى ابراهيم دی ده ته سلام وكړه ما هغه ته سلام وكی هغوئ دسلام جواب راكړو ۷ اوويې ويل زه نيك بخت ځوی اوپيغمبر صالح ته پخير راغلئ وايم

۱ ثُمَّ رُفِعْتُ إِلَى سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى، ۲ فَإِذَا نَبِقُهَا مِثْلُ قِلَالِ هَجَرَ، ۳ وَإِذَا وَرَقُهَا مِثْلُ آذَانِ الْفِيَلَةِ، قَالَ: هَذَا سِدْرَةُ الْمُنْتَهَى، ۴ فَإِذَا أَرْبَعَةُ أَنْهَارٍ: نَهْرَانِ بَاطِنَانِ وَنَهْرَانِ ظَاهِرَانِ، ۵ قُلْتُ: مَا هَذَانِ يَا جِبْرِيلُ؟ قَالَ: أَمَّا الْبَاطِنَانِ فَنَهْرَانِ فِي الْجَنَّةِ، ۶ وَأَمَّا الظَّاهِرَانِ فَالنِّيلُ وَالْفُرَاتُ، ۷ ثُمَّ رُفِعَ لِي الْبَيْتُ الْمَعْمُورُ، ۸ ثُمَّ أُتِيتُ بِإِنَاءٍ مِنْ خَمْرٍ، وَإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ، وَإِنَاءٍ مِنْ عَسَلٍ، ۹ فَأَخَذْتُ اللَّبَنَ، فَقَالَ: هِيَ الْفِطْرَةُ أَنْتَ عَلَيْهَا وَأُمَّتُكَ،

ترجمه: ① ددي نه زه سدرة المنتهٰی ته ورسول شوم ② ما وليدل چې د هغه ميوي [يعنی بيرې] د مقام هجر د لويو لويو منګو برابري وي ③ او د هغه پاڼي د فيل د غوږونو برابري وي جبرائيل علیه السلام هلته رسيدو سره اوويل دا سدرة المنتهٰی ده ④ ماهلته څلور نهرونه وليدل دوه نهرونه خو د باطن وه او دوه نهرونه د ښکاره وه ⑤ ماپوښتنه وکړه اې جبرائيل علیه السلام! دا دوه نهرونه څرنګه دي؟ جبرائيل اوويل دا د باطن دوه نهرونه د جنت دي ⑥ اودا دوه ښکاره نهرونه نيل او فرات دي ⑦ بيا ماته بيت المعمور وښودل شو ⑧ او ددي نه وروسته يوه پياله د شرابو يوه د پيئو او يوه پياله دعسلو (شهد) خما مخې ته راوړل شوه [او ماته اختيار راکول شو چې دي درې واړه پيالوکي کومه پياله دي خوښه وي هغه واخله] ⑨ نو ما د پيئو پياله واخسته جبرائيل داليدو سره چې ما د پيئو پياله اختيار کړه اوويل پئي فطرت دی او يقيناً ته او ستا د امت خلق به په دي فطرت قائم او عامل وي او هر چې شراب دي نوهغه خو ام الخبائث او د شر او فساد بيخ دی

حل اللغات: - ⑥ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى: سدرةد بيرې ونې ته وائی، او منتهٰی آخری حد ته وائی. دا په اووم آسمان کښې يوه ونه ده، ددې تنه په شپږم آسمان کښې ده. دې ته منتهٰی څکه وائی چه دې خاني نه د لاندې مخلوق پورته نه شی تلې اود پورته مخلوق لاندې نه شی راتلې. اعمال العباد هم دلته پورې رسيږی، ملائک اورسولان هم ددې خائي نه تجاوز نه شی کولې سيوا د نبی عليه السلام نه ⑦ نَبِقُهَا: أَيْ ثَمَرُهَا: ميوې ددغه ونې ⑧ قِلَالِ: د قُلَّة جمع ده، لوئې منګی يعنی چاټې ته وائی ⑨ هَجَرَ: دا د يو ښار نوم دې هغې ته نسبت دې ⑩ آذَانِ: د أُذُن جمع ده، غوږ ته وائی ⑪ الْفِيَلَةِ: د فيل جمع ده، هاتهی ته وائی ⑫ الْبَيْتُ الْمَعْمُورُ: وَهُوَ بَيْتٌ فِي السَّمَاءِ السَّابِعَةِ حِيَالَ الْكَعْبَةِ: د کعبې دپاسه په اووم آسمان کښې يوکور دې، دې ته د فرشتو کعبه هم وائی ⑬ الْفِطْرَةُ: وَهِيَ الْإِيمَانُ: فطرت نه مراد ايمان يا دين اسلام دې (يعنی د حق شی د قبلولو په هغه کښې صلاحيت وی)

① ثُمَّ فُرِضَتْ عَلَيَّ الصَّلَاةُ خَمْسِينَ صَلَاةً كُلَّ يَوْمٍ، ② فَرَجَعْتُ فَمَرَرْتُ عَلَى مُوسَى، فَقَالَ: بِمَا أُمِرْتَ؟ ③ قُلْتُ: أُمِرْتُ بِخَمْسِينَ صَلَاةً كُلَّ يَوْمٍ ④ قَالَ: إِنَّ أُمَّتَكَ لَا تَسْتَطِيعُ خَمْسِينَ صَلَاةً كُلَّ يَوْمٍ، ⑤ وَإِنِّي وَاللهِ قَدْ جَرَّبْتُ النَّاسَ قَبْلَكَ، ⑥ وَعَالَجْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَشَدَّ الْمُعَالَجَةِ، ⑦ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَسَلْهُ التَّخْفِيفَ لِأُمَّتِكَ،

ترجمه: ① ددي نه وروسته هغه مقام راغې چې هلته په مابانديې په يوه ورځ و شپه کې پنځوس مونځونه فرض شوه ② بيا چې [د ملاء اعلی څما سفر تول شو او د درګاه رب العزت نه] واپس راووتم [نو اووم آسمان باندې حضرت ابراهيم علیه السلام نه رخصت کيدو سره شپږم آسمان باندې] حضرت موسٰی ته راغلم [او هغه نه چې رخصتيدم] نو هغه پوښتنه وکړه تاته د کوم عبادت حکم شوي دي ③ ما ورته وښودل په شپه او ورځ کې د پنځوسو مونځونو حکم راته شوي دي ④ حضرت موسٰی علیه السلام په دي اوريدو سره اوويل ستا امت د کمزورۍ او سستی په سبب شپه او ورځ کې پنځوس مونځونه به ادا نه کړي ⑤ قسم په الله ما

ستاسو نه مخکې خلق آزمائيلي دي اچې د عبادت خداوندي په لار کې مشقت او تکليف برداشت کول د هغوئ طبيعتونو باندې څومره بوج ووا⑥ او د بني اسرائيلو د اصلاح او درستی سخت ترين کوشش مې کړی دی اليکن دهغوئ اصلاح و نه شوه باوجود د دې چې د هغه قوی ستا د امت د قوی نه زيات مضبوط وو بيا ستا د امت خلق به دومره زيات مونځونه څرنګه برداشت کړي ا⑦ ته خپل پروردګار ته لاړ شه او دخپل امت په حق کې د تخفيف او آساني درخواست وکړه.

حل اللغات: -⑩ التَّخْفِيفَ: سپکوالي، کموالي.

①فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّي عَشْرًا،②فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ مِثْلَهُ،③فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّي عَشْرًا،④فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ مِثْلَهُ،فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّي عَشْرًا،⑤فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ مِثْلَهُ،⑥فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّي عَشْرًا.⑦ فَأُمِرْتُ بِعَشْرِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ،⑧فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ مِثْلَهُ،⑨فَرَجَعْتُ فَأُمِرْتُ بِخَمْسِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ⑩ فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى،فَقَالَ: بِمَا أُمِرْتَ؟⑪قُلْتُ: أُمِرْتُ بِخَمْسِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ

توجمه:① نو زه د خپل پروردګار بارګاه کې دوباره حاضر شوم او خما پروردګار خما عرض اوريدو باندې لس مونځونه کم کړل ② بيا حضرت موسٰی علیہ السلام ته راغلم اورته ومې ووېله چې لس مونځونه کمولو سره څلويښت مونځونه پاتې شوه ا ليکن هغه بيا هغه اوويل څه چې يې مخکې ويلي وه اچې ما مخکښې خلق آزمائيلي دي ستا د امت خلق څلويښت مونځونه هم نشي اداکولی اوس دوباره بارګاه رب العزت ته لاړ شه د مزيد تخفيف درخواست وکړه ا③ نو زه دوباره بارګاه خداوندي کې حاضر شوم څلويښتو نه لس مونځونه کم شوه ④ بيا حضرت موسٰی ته راغلم هغه بيا هغه اوويل څرنګه چې يې مخکې ويلي وه نو زه بارګاه خداوندي کې حاضر شوم او ديرش نه لس مونځونه کم شوه ⑤ بيا زه حضرت موسٰی علیہ السلام ته راغلم هغه بيا هغه اوويل څه چې يې مخکې ويلي وه ⑥ نو زه بارګاه خداوندي کې حاضر شوم نو شلو نه لس مونځونه کم شو⑦ او دلسو مونځونو حکم وشو په هره ورځ کې⑦ بيا حضرت موسٰی ته راغلم هغه بيا هغه اوويل څنګه چې يې مخکې ويلي وه ⑨ نو زه بارګاه خداوندي کې حاضرشوم اود لسو نه آخر دپنځو مونځونوپه شپه او ورځ کې د کولو حکم وشو⑩ بيا زه حضرت موسٰی ته راغلم هغه پوښتنه وکړه اوس درته څه حکم شوي دي ⑪ ما ورته اوويل اوس ماته په شپه او ورځ کې د پنځو مونځونو حکم شوي دي.

①قَالَ: إِنَّ أُمَّتَكَ لَا تَسْتَطِيعُ خَمْسَ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ② وَإِنِّي قَدْ جَرَّبْتُ النَّاسَ قَبْلَكَ، وَعَالَجْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَشَدَّ الْمُعَالَجَةِ،③ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَسَلْهُ التَّخْفِيفَ لِأُمَّتِكَ،④ قَالَ: سَأَلْتُ رَبِّي حَتَّى اسْتَحْيَيْتُ،⑤ وَلَكِنِّي أَرْضَى وَأُسَلِّمُ.⑥ قَالَ: فَلَمَّا جَاوَزْتُ، نَادَى مُنَادٍ:⑦ أَمْضَيْتُ فَرِيضَتِي وَخَفَّفْتُ عَنْ عِبَادِي). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

توجمه:① حضرت موسٰی علیہ السلام اوويل حقيقت دادی چې ستا د امت اکثره خلق به په پوره پابندي سره شپه او ورځ کې پنځه مونځه هم ونکړي ② ما ستاسو نه مخکې خلق آزمائيلي

دي او د بني اسرائيلو د اصلاح او درستی سخت کوشش مي کړی دی هغوئ دي نه هم کم عبادت خداوندي باندې عامل پاتې نه شوه ③ نو ته خپل پروردګار ته ورشه او خپل د امت د پاره پنځه مونځونو کې هم د تخفيف درخواست وکړه ④ حضور ﷺ وفرمايل [په دې موقعه ما حضرت موسی ته اوويل] ما بيا بيا خپل رب ته د تخفيف سوال کړی دی اوس ماته شرم راځي [که څه هم د امت د طرف نه د پنځه مونځونو هم د نه کيدو ګمان دی خو د مزيد تخفيف درخواست کول اوس زما د پاره ممکن نه دی] ⑤ زه د خپل پروردګار دا حکم په رضا او رغبت سره قبلوم او خپله او د امت معامله په هغه سپارم [چې هغه خپل توفيق او مدد سره د امت خلق د دې پنځو مونځونو د آدائيګۍ پابند جوړ کړي] ⑥ حضور ﷺ فرمايي حضرت موسی سره دې ګفتګو نه وروسته چې زه د هغه ځاي نه رخصت شومنو د الله ﷻ د طرف نه دا اواز راغې ⑦ ما مخکې خو خپل فرض جاري کړل بيا د خپل خوږ رسول دخوشحالولودپاره دخپلو بنده ګانو په حق کې مي تخفيف وکی مطلب داچې اوس به خمابندګان خوږپنځه مونځونه کوي ليکن ثواب به ورته د پنځوسو حاصليږي (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ⑮عَالَجْتُ: علاج مې کړی دی، د صحيح کولو کوشش مې کړی دی ⑯جَاوَزْتُ: وړاندې شوم، روان شوم. ⑰أَمْضَيْتُ: أَيْ: أَحْكَمْتُهَا وَأَنْفَذْتُهَا أَوَّلًا: جاری مې کړل دا فرض، حکم مې کړی وو اول.

[٥٨٦٢] داسراء او معراج واقعه

٥٨٦٣-(١) [٢] ① وَعَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② (أُتِيتُ بِالْبُرَاقِ، وَهُوَ دَابَّةٌ أَبْيَضُ طَوِيلٌ، ③ فَوْقَ الْحِمَارِ وَدُونَ الْبَغْلِ ④ يَقَعُ حَافِرُهُ عِنْدَ مُنْتَهَى طَرْفِهِ، ⑤ فَرَكِبْتُهُ حَتَّى أَتَيْتُ بَيْتَ الْمَقْدِسِ، ⑥ فَرَبَطْتُهُ بِالْحَلْقَةِ الَّتِي تَرْبُطُ بِهَا الْأَنْبِيَاءُ).

ترجمه: ① او حضرت ثابت بناني تابعي رحمه الله د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت کوی چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ② خما مخکې براق راوستل شو چې د يوسپين رنګ اوږد قد والاحيوان وو ③ د خره نه غټ او دغاترې نه کوشنی وو ④ ترکومه ځايه چې د هغه نظر تلو تر هغه ځايه د هغه يوقدم راتلو ⑤ زه په هغه سور شوم او بيت المقدس ته راغلم ⑥ او ما هغه براق د مسجد په دروازه کې د هغه حلقې سره وتړی چې مخکې به په هغه باندې انبياؤ خپل براقونه يا دا براق تړی

حل اللغات:- ①حَافِرُهُ: قدم ددغې براق (يعنی د قچر) ②طَرْفِهِ: أَيْ نَظَرِهِ: نظر د براق ③فَرَبَطْتُهُ: أَي شَدَدْتُهُ: اومې تړلو براق. ④الْحَلْقَةِ: کړئ، زنځير

[1] اخرجه مسلم فی کتاب الإيمان/باب الإسراء برسول الله صلی الله عليه وسلم إلی السماوات. وفرض الصلوات (رقم-٢٥٩ - (١٦٢)) واحمد في المسند:٦/٣٩٢

١ قَالَ: (ثُمَّ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَصَلَّيْتُ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ، ٢ ثُمَّ خَرَجْتُ فَجَاءَنِي جِبْرِيلُ بِإِنَاءٍ مِنْ خَمْرٍ، وَإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ، ٣ فَاخْتَرْتُ اللَّبَنَ، فَقَالَ جِبْرِيلُ: اخْتَرْتَ الْفِطْرَةَ، ٤ ثُمَّ عَرَجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ) وَسَاقَ مِثْلَ مَعْنَاهُ ٥ قَالَ: (فَإِذَا أَنَا بِآدَمَ، فَرَحَّبَ بِي وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ). ٦ وَقَالَ فِي السَّمَاءِ الثَّالِثَةِ: فَإِذَا أَنَا بِيُوسُفَ، ٧ إِذَا هُوَ قَدْ أُعْطِيَ شَطْرَ الْحُسْنِ، ٨ فَرَحَّبَ بِي وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ). ٩ وَلَمْ يَذْكُرْ بُكَاءَ مُوسَى، ١٠ وَقَالَ فِي السَّمَاءِ السَّابِعَةِ: (فَإِذَا أَنَا بِإِبْرَاهِيمَ مُسْنِدًا ظَهْرَهُ إِلَى الْبَيْتِ الْمَعْمُورِ، ١١ وَإِذَا هُوَ يَدْخُلُهُ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ، لَا يَعُودُونَ إِلَيْهِ،

ترجمه: ١ حضور ﷺ وفرمایل بیا زه مسجد اقصٰی کې داخل شوم او دوه رکعاته مونځ مې وکړو ٢ بیا زه د مسجد نه بهر راووتم او جبرائیل علیه السلام خما مخکې یوه پیاله د شرابو او یوه پیاله د پیئو راوړله ٣ ماچې د پیئو پیاله واخسته نوجبرائیل علیه السلام اوویل تاسو فطرت یعنی د اسلام دین اختیار کړی ٤ او بیایې مونږ آسمان طرف ته وخیژولو ددې نه وروسته حضرت انس رضی الله عنه د حدیث هغه مضمون بیانولو سره چې په مخکې حدیث کې تیر شو ٥ حضور ﷺ وفرمایل چې ما مخکنې آسمان باندې حضرت آدم علیه السلام ولیدی هغوئ خما د سلام جواب راکولو نه وروسته ماته دې الفاظو کې مرحبا هرکلی اووئیلو چې زه نیک بخت خوی او پیغمبرِ صالح ته پخیر راغلئ وایم او زما د پاره یې دعائې خیر وکړله ٦ بیا حضور ﷺ د دریم آسمان ذکر کولو سره وفرمایل هلته ما حضرت یوسف علیه السلام اولیدلو ٧ چې هغه ته نیم حسن ورکول شوی وو ٨ هغه هم ماته مرحبا سترې مشې اوویل او زما د پاره یې دعایې خیر وکړه ٩ راوي یعنی ثابت بناني رحمه الله د حضرت انس رضی الله عنه نه په دې روایت کې د حضرت موسٰی د ژړا ذکر ونه کړی [څرنګه چې سابق حدیث کې وو] ١٠ او حضور ﷺ د اووم آسمان ذکر کولو سره د سابق حدیث په نسبت مزید داهم ارشاد وفرمایې چې هلته ما حضرت ابراهیم علیه السلام اولیدلو چې بیت المعمور سره یې شالګولی ناست وو ١١ او بیت المعمور کې هره ورځ اویا زره فرښتې دطواف د پاره داخلیږي چې هغوئ ته دوباره داخلیدل نه نصیب کیږي [یعنی هره ورځ نوي اویا زره فرښتې طواف د پاره راځي ځکه چې د فرښتو د کثرت په بناء یوه فرښته یووار نه وروسته بیا دوباره بیت المعمور کې د داخلیدو موقع ورته هیڅ کله نه حاصلیږي]

حل اللغات: - ④ عَرَجَ: اوني خیجولو ⑤ فَرَحَّبَ: أي مَرْحَبًا: مرحبا او هرکلي ئې راته اووئیل یعنی: مَرْحَبًا بِالِابْنِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ، ئې ورته اووئیل. ⑦ شَطْرَ الْحُسْنِ: أَيْ: نِصْفَ الْحُسْنِ: نیم حُسن او ښائست.

١ ثُمَّ ذَهَبَ بِي إِلَى السِّدْرَةِ الْمُنْتَهَى، ٢ فَإِذَا وَرَقُهَا كَآذَانِ الْفِيَلَةِ، ٣ إِذَا ثَمَرُهَا كَالْقِلَالِ، ٤ فَلَمَّا غَشِيَهَا مِنْ أَمْرِ اللهِ مَا غَشِيَ تَغَيَّرَتْ، ٥ فَمَا أَحَدٌ مِنْ خَلْقِ اللهِ يَسْتَطِيعُ أَنْ يَنْعَتَهَا مِنْ حُسْنِهَا ٦ وَأَوْحَى إِلَيَّ مَا أَوْحَى، ٧ فَفَرَضَ عَلَيَّ خَمْسِينَ صَلَاةً فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، ٨ فَنَزَلْتُ إِلَى مُوسَى، فَقَالَ: مَا فَرَضَ رَبُّكَ عَلَى أُمَّتِكَ؟ ٩ قُلْتُ: خَمْسِينَ صَلَاةً فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ. ١٠ قَالَ: ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَسَلْهُ التَّخْفِيفَ; فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ، ١١ فَإِنِّي بَلَوْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ

وَعَبَرْتُهُمْ ⑫ قَالَ: (فَرَجَعْتُ إِلَى رَبِّي، فَقُلْتُ: يَا رَبِّ خَفِّفْ عَلَى أُمَّتِي، فَحَطَّ عَنِّي خَمْسًا، ⑬ فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى، فَقُلْتُ: حَطَّ عَنِّي خَمْسًا. ⑭ قَالَ: إِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ، فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَسَلْهُ التَّخْفِيفَ). ⑮ قَالَ: (فَلَمْ أَزَلْ أَرْجِعُ بَيْنَ رَبِّي وَبَيْنَ مُوسَى،

ترجمه: ① دي نه وروسته زه سدرة المنتهٰى ته بوتلل شوم [چې اووم آسمان کې د بيرې يوه ونه ده] ② ما وليدل چې د سدرة المنتهٰى پاڼې د فيل د غوږونو برابر دى ③ او د هغه ميوې يعنى ويرې د منګوبرابر وي ④ بيا چې سدرة المنتهٰى د الله ﷻ په حکم سره پټونکى شى پټه کړله نو د هغه حالت بدل شو [يعنى هغه کې د مخکې نه زيات اعلٰى تبديلي راغله] ⑤ او حقيقت دادى چې د الله ﷻ مخلوق کې هيڅوک هم د هغه خوبي او وصف کمال نشي بيانولى ⑥ بيا الله ﷻ چې کومې وحي غوښتي زما طرف ته يې راوليږلي [يعنى ما سره يې بلا واسطه کلام وفرمايلي] ⑦ بيا په ماپه ورځ شپه کې پنځوس مونځونه فرض شوه ⑧ بيا زه هغه بلند مقام نه راکوزشوم [او اووم آسمان کې حضرت ابراهيم نه رخصتيدو سره] حضرت موسٰى ته شپږم آسمان ته راغلم هغه پوښتنه وکړه ستا پروردګار ستا په امت څه فرض کړل؟ ⑨ ما اوويل شپه او ورځ کې پنځوس مونځونه ⑩ حضرت موسٰى عليه السلام اوويل خپل پروردګار ته واپس لاړ شه او د مونځونو تعداد کې تخفيف د کمى درخواست وکړه ځکه چې ستا امت دومره طاقت نه لري ⑪ ما بني اسرائيل ازمائيلي دي او د هغوئ امتحان مې مخکې آخستى دى ⑫ حضور ﷺ وفرمايل د حضرت موسٰى په مشوره زه بارګاه خداوندي کې بيا حاضر شوم ماعرض وکړو اې پروردګاره! څما د امت په حق کې آساني وفرمايې نو الله ﷻ څما په وجه څما د امت په حق کې آساني فرمايلو سره پنځه مونځونه کم کړل ⑬ بيا زه حضرت موسٰى عليه السلام ته راغلم او ورته مې وښودل چې څما په درخواست پنځه مونځونه کم شوه ⑭ حضرت موسٰى عليه السلام اوويل ستا امت د دومره مونځونو اداکولو طاقت نه لري ته بيا خپل پروردګار ته ورشه او د مزيد تخفيف درخواست وکړه ⑮ حضور ﷺ وفرمايل دغه شان زه د خپل پروردګار او حضرت موسٰى په منځ کې تلم راتلم [او د تخفيف سلسله دغه شان جاري وه چې څما درخواست باندې هر ځلي پنځه مونځونه کميدل]

حل اللغات:- ⑧ غَشِيَهَا: أَيْ: جَاءَهَا وَنَزَلَ عَلَيْهَا: يعنى هغه نې پټه کړې وه ⑨ أَنْ يَنْعَتَهَا: أَيْ يَصِفُهَا: چه صفت او کيفيت نې بيان کړى ⑩ بَلَوْتُ: أَيْ: جَرَّبْتُ: آزمائلى مې دى، تجربه مې پرې کړې ده ⑪ فَحَطَّ: أَيْ: فَوَضَعَ: لرې نې کړل، کم نې کړل

① حَتَّى قَالَ: يَا مُحَمَّدُ! إِنَّهُنَّ خَمْسُ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، ② لِكُلِّ صَلَاةٍ عَشْرٌ، فَذَلِكَ خَمْسُونَ صَلَاةً، ③ مَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةً فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ لَهُ عَشْرًا، ④ وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا لَمْ تُكْتَبْ لَهُ شَيْئًا ⑤ فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ لَهُ سَيِّئَةً وَاحِدَةً). ⑥ قَالَ: (فَنَزَلْتُ حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى مُوسَى فَأَخْبَرْتُهُ، ⑦ فَقَالَ: ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ

فَسَلْهُ التَّخْفِيفَ) ⑧ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: فَقُلْتُ قَدْ رَجَعْتُ إِلَى رَبِّي حَتَّى اسْتَحْيَيْتُ مِنْهُ») رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① تردې پورې چې آخري خل هم تخفيف وشو نو پروردګار وفرمايل اې محمد ﷺ! شپه او ورځ کې فرض خو دا پنځه مونځونه دي ② ليکن په دې کې د هرمونځ ثواب د لسو مونځونو برابر دی دغه شان دا پنځه مونځونه په ثواب کې د پنځوسو مونځونو برابر دي ③ او زمونږ اصول دادي چې کوم سړی د نيکې قصد وکی او هغه [د څه شرعي عذر يا څه دويم رکاوټ په سبب] پوره نه شو نو د هغه په حساب کې صرف د هغه قصد په وجه يوه نيکي ليکلی شي او که دقصد نه وروسته هغه هغه نيکي وکړله نو د هغه په حساب کې هغه نيکي لس چنده ليکلی شي ④ او کوم سړی چې د خراب کار قصد او اراده وکړه بيا هغه بدکار يې ونه شو نو د هغه په حساب کې هغه بدي نشي ليکلی ⑤ او که هغه د خپل قصد مطابق هغه خراب کار وکی نو د هغه په حساب کې د هغه يوه بدي ليکلی شي ⑥ حضور ﷺ وفرمايل بيا زه د بارګاه الهي نه لاندې شپږم آسمان ته واپس راغلم او حضرت موسیٰ ته مې صورت حال و خودی ⑦ هغه بيا هغه مشوره راکړه چې خپل پروردګار ته ورشه او پنځه مونځونو کې هم د تخفيف درخواست وکی ⑧ حضور ﷺ وفرمايل ما حضرت موسیٰ ته اوويل زه بيا بيا خپل رب ته ورغلی يم اوس هغه ته په ورتلو کې ماته شرم راځي. (مسلم)

حل اللغات: - ③ هَمَّ: أَيْ: عَزَمَ: قصد ئې اوکړو، مضبوطه اراده ئې اوکړه.

تسهيلات: قوله: عَرَجَ بِنَا:

د بيت المقدس څخه آسمان ته عروج: دَ مسجد اقصیٰ پورې سفر دَ براق په ذريعه اوشو بيا دَ آسمان نه دَ لفټ په شان يو خودکاره پاوړنی راغله او هم په هغې باندې حضورپاك پورته لاړو. په عرج کښې هم دغه پاوړنی طرف ته اشاره ده

قوله: شَطْرَ الْحُسْنِ:

د شطر الحسن دوه مطلبونه: ① يعنی دَ نفس حسن نيمه حصه هغوی ته ورکړې شوه باقی نيمه په ټوله دنيا باندې تقسيم کړې شوه

② دَ خپلې زمانې دَ ټولوخلقو نيم حسن حضرت يوسف عليه السلام ته ورکړې شوې وو او حضرت يوسف عليه السلام به په خپل مخ کښې دَ آئينه په شان خپل مخ کتلو مګر دَ دې نه باوجود دَ حضورپاك حسن زيات وو ځکه چه دَ حسن تعلق دَ اعضاء اعتدال سره دې په اعتدال اعضاء کښې دَ حضورپاك مقابله څوك نه شي کولې. بل حضورپاك فرمائيل "انا مليح واخي يوسف صبيح" يعنی اصل بنائست په ملاحت کښې دې نه چه صرف په صباحت کښې.

[٥٨٦٤] د معراج واقعه

۵۸۶۳-(١) [٣] [١] وَعَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢] «كَانَ أَبُو ذَرٍّ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [٣] (فُرِجَ عَنِّي سَقْفُ بَيْتِي، وَأَنَا بِمَكَّةَ، [٤] فَنَزَلَ جِبْرِيلُ، فَفَرَجَ صَدْرِي، [٥] ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ، [٦] ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ [٧] مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا، [٨] فَأَفْرَغَهُ فِي صَدْرِي، [٩] ثُمَّ أَطْبَقَهُ، ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِي. [١٠] فَعَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ،

ترجمه: [١] او حضرت شهاب زهري تابعي رحمه الله د حضرت انس ابن مالك رضي الله عنه نه روايت كوي هغه اوويل [٢] حضرت ابوذر رضي الله عنه بيان كوی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٣] زه په مكه كې خپل كوركې اوده وم اچانك د مكان د كوټې چت كولاؤ شو [٤] او حضرت جبرائيل عليه السلام نازل شو هغه خما سينه يې وشلوله [٥] بيا يې په آب زمزم سره ووينځله [٦] بيا د سوني لگن يې راوړی [٧] چې د ايمان او حكمت نه ډك وو [٨] هغه خما سينه كې واچول شو [٩] او بيا خما د سينې شليدل پوخاي كولو سره يې برابر كې ددې نه وروسته جبرائيل عليه السلام خما لاس اونيولو [١٠] او زه يې آسمان طرف ته وخيژولم.

حل اللغات: - ① فُرِجَ: أَيْ: أُزِيلَ: فرج په معنی د څيرلو او كهلاويدلو راځي يعنی لرې كړې شو

[١] فَلَمَّا جِئْتُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا. [٢] قَالَ جِبْرِيلُ لِخَازِنِ السَّمَاءِ: افْتَحْ. [٣] قَالَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ [٤] قَالَ: هَلْ مَعَكَ أَحَدٌ؟ قَالَ: نَعَمْ مُحَمَّدٌ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-. [٥] فَقَالَ: أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ. [٦] فَلَمَّا فَتَحَ عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا [٧] إِذَا رَجُلٌ قَاعِدٌ، عَلَى يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ، [٨] وَعَلَى يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ إِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ [٩] وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى [١٠] فَقَالَ: مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ. [١١] قُلْتُ: لِجِبْرِيلَ: مَنْ هَذَا؟ [١٢] قَالَ: هَذَا آدَمُ، وَهَذِهِ الْأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ، [١٣] فَأَهْلُ الْيَمِينِ مِنْهُمْ أَهْلُ الْجَنَّةِ، [١٤] وَالْأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ، [١٥] فَإِذَا نَظَرَ عَنْ يَمِينِهِ ضَحِكَ. [١٦] وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى،

ترجمه: [١] هركله چې زه د دنيا آسمان ته ورسيدم [٢] نو جبرائيل عليه السلام د آسمان داروغه ته ووېلو دروازه كولاؤه كړه [٣] خازن اوونيل چه څوک يې؟ جبرائيل عليه السلام اوويل چه زه جبرائيل يم [٤] داروغه پوښتنه وكړه ستاسو سره نور څوك هم شته؟ جبرائيل عليه السلام اوويل هو ما سره حضرت محمد ﷺ دی [٥] داروغه پوښتنه وكړه رابلل شوي دي؟ جبرائيل عليه السلام اوويل هو [٦] نو دروازه كولاؤه شوه هركله چې مونږ د دنيا آسمان برسيره ورسيدو [٧] نو چې گورو مخې ته يو صاحب ناست دی او د هغه د اولاد او ذريات نه څه خلق خو د هغه نبي طرف ته ناست دي [٨] او څه اولاد او ذريات يې چپ طرف ته ناست دي بيا ما داهم وليدل چې هغه خپل ښي طرف ته وګوري نو وخاندي اځكه چې هغه طرف ته جنتيان خلق وه او د هغوئ ليدل يقيناً د خوشحالي او مسرت باعث وو! [٩] او هركله چې چپ طرف ته وګوري نو په ژړاسي

[١]) اخرجه البخاري في كتاب الصلاة /باب: كيف فرضت الصلاة في الإسراء؟ (رقم-٣٤٩) ومسلم في كتاب الإيمان /باب الإسراء برسول الله صلى الله عليه وسلم إلى السماوات. وفرض الصلوات (رقم-٢٦٣ - (١٦٣) واحمد في المسند: ١٢٢/٥

اخکه چې هغه طرف ته دوزخي خلق وه چې د هغوئ ليدل د غم باعث وو هغه د سلام د جواب نه وروسته ۱۰ زما طرف ته مخاطب کيدو سره اوويل پيغمبر صالح او نيک بخت خوی ته زه پخير راغلې وايم ۱۱ ما جبرائيل علیه السلام نه پوښتنه وکړه داځوک دی ۱۲ جبرائيل اوويل دا آدم علیه السلام دی او داخلق چې د هغه ښي او ګس طرف ته ناست دي د هغه د اولاد روحونه دي ۱۳ په دوئ کې چې کوم خلق ښي طرف ته ناست دي هغه جنتيان دي ۱۴ او کوم خلق چې ختي ګس طرف ته ناست دي هغه دوزخيان دی ۱۵ ځکه حضرت آدم چې ښي طرف ته وګوري نو خاندي ۱۶ او ګس طرف ته چې وګوري نو ژاړي.

حل اللغات:- ۲ خَازِن: دربان او څوکيداره، نګرانه فرښته ۳ عَلَوْنَا: پورته اورسيدو موږ. ۴ أَسْوِدَةٌ: جمع د سَوَاد ده، خلق، د آدم عليه السلام اولاد، انسان ته سواد ځکه وئيلې شوی دی چه دا د لرې نه توره مجسمه ښکاري، ۵ نَسَمٌ: د نَسَمَة جمع ده، د نَسم نه ماخوذ دي، وَهُوَالنَّفْسُ: روح او ساه ته وائي يعنې د آدم عليه السلام د اولاد روحونه وو.

۱ حَتَّى عَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ، ۲ فَقَالَ لِخَازِنِهَا: افْتَحْ، ۳ فَقَالَ لَهُ خَازِنُهَا مِثْلَ مَا قَالَ الْأَوَّلُ) ۴ قَالَ أَنَسٌ: فَذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمَاوَاتِ آدَمَ، وَإِدْرِيسَ، وَمُوسَى، وَعِيسَى، وَإِبْرَاهِيمَ، ۵ وَلَمْ يُثْبِتْ كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ، ۶ غَيْرَ أَنَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ آدَمَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا، ۷ وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ».

توجمه: ۱ دې نه وروسته جبرائيل علیه السلام زه آخستو سره دويم آسمان ته وختلو ۲ او هغه دروازه کولاوولو د پاره اوويل ۳ نو دا روغه د هغه نه پوښتنه وکړه کوم چې د مخکې آسمان داروغه کړي وه ۴ راوي وايې غرض دغه شان حضور علیه السلام تولو آسمانونو ته ورسيدی او هلته حضرت آدم علیه السلام حضرت ادريس علیه السلام حضرت موسی اوحضرت عيسی علیه السلام او حضرت ابراهيم سره د ملاقات ذکر يې وفرمايه ۵ خو د هغوئ دمنازلو او مقاماتو کيفيت او احوال يې بيان نه کړه ۶ صرف حضرت آدم سره مخکني آسمان باندې ۷ او حضرت ابراهيم سره شپږم آسمان باندې د ملاقات ذکر يې وکړ

۱ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: فَأَخْبَرَنِي ابْنُ حَزْمٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَأَبَا حَبَّةَ الْأَنْصَارِيَّ كَانَا يَقُولَانِ: ۲ «قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (ثُمَّ عُرِجَ بِي حَتَّى ظَهَرْتُ لِمُسْتَوًى ۳ أَسْمَعُ فِيهِ صَرِيفَ الْأَقْلَامِ») ۴ وَقَالَ ابْنُ حَزْمٍ وَأَنَسٌ: ۵ «قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (فَفَرَضَ اللَّهُ عَلَى أُمَّتِي خَمْسِينَ صَلَاةً فَرَجَعْتُ بِذَلِكَ،

توجمه: ۱ ابن شهاب رحمه الله وايې ماته ابن حزم وښودل چې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما او حضرت ابوحبه انصاري بيان وکړو ۲ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل بيا زه پورته بوتلل شوم ددې پورې چې يوهموار او بلند مقام ته ورسيدم ۳ هلته د قلمونو د ليکلو اوازونه راتلل ۴ ابن حزم رحمه الله او حضرت انس رضي الله عنه دابيان وکړو ۵ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل بيا د الله جل جلاله د طرف نه ځما په امت پنځوس مونځونه فرض شوه نو د پنځوس مونځونو دا حکم او په دې د عمل کولو اراده آخستو سره زه واپس راغلم

حل اللغات: -⑨ظَهَرْتُ: أَيْ: عَلَوْتُ: پورته لاړم. ⑥لِمُسْتَوَي: داد اسم مفعول صيغه ده. أى مَوْضِعُ الإِسْتِعْلَاءِ: اوچت هوار ځاي. ⑧صَرِيفَ الْأَقْلَامِ: أَيْ صَوْتَهَا عِنْدَ الْكِتَابَةِ: د ليکلو په وخت د قلم آواز ته صريف وائي يعني د قلمونو د ليکلو آوازونه (کوم سره چه دمخلوق مقادير يعني تقديرونه ليکلى کيدل).

①حَتَّى مَرَرْتُ عَلَى مُوسَى، فَقَالَ: مَا فَرَضَ اللّٰهُ لَكَ عَلَى أُمَّتِكَ؟ ②قُلْتُ: فَرَضَ خَمْسِينَ صَلَاةً. ③قَالَ: فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ④فَرَجَعْتُ، فَوَضَعَ شَطْرَهَا، ⑤فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى، فَقُلْتُ: وَضَعَ شَطْرَهَا، ⑥فَقَالَ: رَاجِعْ رَبَّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذٰلِكَ، ⑦فَرَجَعْتُ فَرَاجَعْتُ، فَوَضَعَ شَطْرَهَا، ⑧فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ، فَقَالَ: ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذٰلِكَ،

ترجمه: ①چې کله په حضرت موسىٰ چې تير شوم نو هغه پوښتنه وکړه پروردګار ستا په ذريعه ستا په امت باندې څه شی فرض کړي ② ما ورته وښودل پنځوس مونځونه يې فرض کړل ③ هغه اوويل خپل پروردګار ته لاړ شه او په دې مونځونو کې د تخفيف درخواست ورته وکړه ځکه چې ستا امت به دومره مونځونه اداء نه کړېشي [دغه شان حضرت موسىٰ علیه السلام زه بارګاه رب العزت ته واپس راوستم يعني د هغوئ په وينا] ④ زه د پروردګار بارګاه ته واپس تلو سره درخواست مې پيش کړې او په هغه کې د څه مونځونو يعني د لسو مونځونو کمى وشو⑤ بيا زه حضرت موسىٰ ته راغلم او هغه ته مې وښودل چې الله ﷻ په هغوئ د پنځوس مونځونو څه حصه معاف کړې ده⑥ حضرت موسىٰ اوويل خپل پروردګار ته واپس ورشه او عرض کولو سره د مزيد تخفيف درخواست وکړه ځکه چې ستا امت د دومره مونځونو کولو هم طاقت نه لري ⑦ زه بيا واپس لاړم نو زه تلم راتلم [او مزيد تخفيف د پاره مې عرض وکړو] نو په هغه کې څه نور مونځونه کم شوه ⑧ ددې نه وروسته بيا حضرت موسىٰ علیه السلام ته راغلم نو هغه اوويل بيا خپل پروردګار ته ورشه او عرض معروض کولو سره د مزيد تخفيف درخواست وکې ځکه چې ستا امت د دومره مونځونو کولو طاقت نه لري.

حل اللغات: -⑨شَطْرَهَا: أَيْ بَعْضَ الْخَمْسِينَ وَهُوَ الْخُمُسُ: څه حصه دمونځونو (يعنى دپنځوس مونځونو پنځمه حصه کومه چه الله تعالى تخفيف کولوسره معاف کړه).

①فَرَاجَعْتُهُ، فَقَالَ: هِيَ خَمْسٌ وَهِيَ خَمْسُونَ، ②لَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ، ③فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ: رَاجِعْ رَبَّكَ ④فَقُلْتُ: اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي، ⑤ثُمَّ انْطُلِقَ بِي حَتَّى انْتُهِيَ بِي إِلَى سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى، ⑥وَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ لَا أَدْرِي مَا هِيَ؟ ⑦ثُمَّ أُدْخِلْتُ الْجَنَّةَ فَإِذَا فِيهَا جَنَابِذُ اللُّؤْلُؤِ، ⑧وَإِذَا تُرَابُهَا الْمِسْكُ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①نو زه بيا لاړم [او پروردګار ته مې عرض وکړو نو پروردګار مزيد تخفيف وکې ددې پورې چې لس مونځونه پاتې شوه او آخرې ځل بارګاه رب العزت ته راغلم او خما درخواست باندې په هغه کې هم تخفيف کولو سره د پنځه مونځونو حکم وشو] نو پروردګار وفرمايل فرض خو دا پنځه مونځونه دي ليکن د اجر او ثواب د اعتبار نه د پنځوسو مونځونو برابر دی ② خما قول نه تبديل کېږي ③ زه بيا حضرت موسىٰ ته راغلم

[او هغه ته مي وښودل چې اوس پنځه مونځونه فرض پاتې شوي دي] نو هغه بيا ماته بارګاه رب العزت ته د ورتلو اوويل [او هغه پنځه مونځونو کې هم د تخفيف کولو مشوره يې راکړله] ۴ ليکن ما اوويل اوس ماته د خپل پروردګار نه شرم راځي ۵ دي نه وروسته حضور ﷺ وفرمايل زه سدرة المنتهٰی ته بوتلل شوم ۶ چې په هغه دجلال کبريايي د انوارو يا د ملائکو د وزرو چمك يا د څه بل شي دغه شان رنګ خور شوی وو چې د هغه په باره کې ماته هيڅ نه ده معلومه چې هغه څه شي وو [يعنی يا خو هغه وخت چې څه ماوليدل اومحسوس مي کړل د هغه بيانولو باندې قادر نه يم ياداچې هغه وخت زه ذات حق طرف ته داسې متوجه او مستغرق وم چې ځما نظر سدرة المنتهٰی باندې وشو خود رنګونو حقيقت ته رسيدو او په هغه د پوهيدو موقع حاصله نه شوه] ۷ دي نه وروسته زه جنت ته بوتلل شوم هلته ما د ملغلرو ګنبد وليدل ۸ او دامې هم وليدل چې د جنت خاوره مشك وه (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ⑩ جَنَابِذُ: د جُنْبُذَة جمع ده، وَهِيَ مَا ارْتَفَعَ مِنَ الشَّيْءِ وَاسْتَدَارَ: دهر يو څيز اوچت سر چه ګول وی لکه قبه، ګنبد.

تسهیلات: **قوله:** سَقْفُ بَيْتِي:

د نبی علیه السلام د بوتلو په محل کښې د روایاتو تعارض:

① بعضې رواياتوکښې دحطيم ذکر دې.

② بعضې کښې دَ زمزم ذکر دې

③ بعضې کښې دَ شعب ابی طالب ذکر دې.

④ په زير بحث حديث کښې دَ خپل کور ذکر دې.

د تعارض جواب: رسول الله ﷺ په دغه شپه دَحضرت ام هانی ؓ په کور کښې اوده وو اودا کور شعب ابی طالب سره نيزدې وو نودَ کور دَ چت په لاره باندې حضورپاك اوچت کړې شو اودَ شعب ابی طالب نه واخله خطيم ته راوړلې شو اوبيا زمزم له راوړلو بيا دَ هغه خائی نه باب الشاميه طرف ته چرته چه پخوانې ترکی اذان خانه ده هلته براق ولاړ وو هم دَ هغه خائی نه حضورپاك مسجد اقصٰی طرف ته يوړلو نو هيڅ تعارض نشته دې.

په موجوده وخت کښې د براق د تړلو ځائې: دَترکی اذان خانې سره يوه ستن ده ترکو په هغې باندې دَ کيکردَ پانړو نښې جوړې کړی دی په دې تعمير کښې دا تعبير اواشاره ده چه براق دلته تړلې شوې وو.

قوله: فَعَرَجَ بِي:

آسمان ته د بورته کيدو پاره د پوړۍ استعمال: يعنی دَ مسجدحرام نه دَ مسجد اقصٰی پورې سفرکيدلو نه پس دَمخکښې مرحلې دَ سفردَپاره دَ خودکار پاؤړئی انتظام اوکړې شو

پورته دَ آسمانونو سفر هم دې سره اوکړې شو. نن صباد لفټ انتظام دَدغه پاؤړئی یوه ژوندئی نمونه ده.

قوله: مَنْ هَذَا:

په آسمانونو کښې د څوکیدارۍ منظم نظام:

یعنی جبرائیل امین دَ آسمان دربان اوڅوکیدارې فرښتې ته دَ دروازې کولاوولو دَپاره وائی او څوکیداره فرښته پوره تفتیش کوی

دې نه معلومه شوه چه په آسمانونو کښې دَ څوکیدارئی پوره مضبوط نظام دې. اوس چه کومې سیارې په آسمان دَپاسه دی دَهغې پورې دَ یوانسان رسیدل محال دی اوکومې سیارې چه دَ آسمان نه لاندې دی دَ هغې پورې تلو سره دَ شریعت هیڅ ضابطه نه ماتیږی. که څوک دعوی اوکړی نو بیشکه اودې کړی که هغه دروغ اووائی او که رښتیا اووائی

قوله: حَتَّى ظَهَرْتُ لِمُسْتَوًى أَسْمَعُ فِيهِ صَرِيفَ الْأَقْلَامِ،

یوخاص مقام ته رسیدل: په دې کښې لام دَعلت دَپاره دې یعنی دَ دغه اوچت اوهوار مقام دَ رسیدو دَپاره اودَهغې دَ کتلو دَپاره زه پورته لاړم او یوکولاؤ مقام ته اورسیدم په کوم کښې چه دَقلمونو په کاغذونو دَ لیکلو آواز راتللو.

قوله: صَرِيفَ الْأَقْلَامِ:

د قلمونو د لیکلو کشار اوریدل: په قلم سره دَ لیکلو وخت کښې چه کوم دَ کش کش آواز راخی هم هغه مراد دې. دادَ لوح محفوظ نه مقادیر نقل کونکې فرښتې دی. صرف حضورپاك هلته لاړوگنی دا هغه لامکان دې چرته چه څوك نه شی تللې فرښتې دَ لوح محفوظ نه روزانه نافذ کیدونکې فیصلې نقل کوی. دَدې مقام پوره حقیقت دَالله تعالی نه بغیر بل هیڅوك نه پیژنی.

[٥٨٦٥] د سدرة المنتهٰی بیان

٥٨٦٥-(¹) [٣] ⑴ وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ⑵ «لَمَّا أُسْرِيَ بِرَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- انْتُهِيَ بِهِ إِلَى سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى، ⑶ وَهِيَ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ، ⑷ إِلَيْهَا يَنْتَهِي مَا يُعْرَجُ بِهِ مِنَ الْأَرْضِ فَيُقْبَضُ مِنْهَا، ⑸ وَإِلَيْهَا يَنْتَهِي مَا يُهْبَطُ بِهِ مِنْ فَوْقِهَا فَيُقْبَضُ مِنْهَا، ⑹ قَالَ: ﴿إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَى﴾ [النجم: ١٦].

ترجمه: ⑴ او حضرت عبد الله بن مسعود ﷛ وایې ⑵ کوم وخت چې حضور ﷺ باندې په شپه کې د بیت المقدس او د آسمانونو سیل وشو نو حضور ﷺ سدرة المنتهٰی ته ورسول شو ⑶ او سدرة المنتهٰی شپږم آسمان باندې ده او کوم شی چې د زمکې نه پورته ورل کیږي

¹) اخرجه البخاری فی کتاب أحادیث الأنبیاء/باب ذکر إدریس علیه السلام (رقم-٣٣٤٢) ومسلم فی کتاب الإیمان/فی ذکر سدرة المنتهی (رقم-٢٧٩ - (١٧٣)) واحمد فی المسند: ٣٨٧/١

هغه سدرة المنتهٰى باندې منتهي كېږي ⑤ او بيا د څه واسطي او ذريعي نه بغير پورته رسولى شي دغه شان كوم شى چې د ملاء اعلىٰ نه زمكي ته را خكته كولى شي هغه هم سدرة المنتهٰى نه اخستى شي ⑥ دي نه وروسته حضرت ابن مسعود ﷺ دا آيات اووئيلو: إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَىٰ يعنى هغه وخت چې سدره يې پټه كړه كوم شى چې پټه كړه

حل اللغات:- ① يُهْبَطُ: رانازلولې شى، راكوزولې شى ② يَغْشَى: پټه ئې كړه «دا بيره»

١ قَالَ: فِرَاشٌ مِنْ ذَهَبٍ، ٢ قَالَ: فَأُعْطِيَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ثَلَاثًا: ٣ أُعْطِيَ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ، وَأُعْطِيَ خَوَاتِيمَ سُورَةِ الْبَقَرَةِ، ٤ وَغُفِرَ لِمَنْ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ مِنْ أُمَّتِهِ شَيْئًا الْمُقْحِمَاتُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ او هغه اوويل هغه شى چې سدره يې پټه كړې ده د سرو زرو پتنګان دي ٢ حضرت ابن مسعود ﷺ دا هم اوويل چې شپ معراج كې رسول الله ﷺ ته درې څيزونه عطا شو ٣ د پنځه مونځونو فرضيت ورته عطا شو د سورة بقره آخري آيتونه ورته عنايت شو ٤ او دحضور ﷺ په امت كې د هغه سړي ګناه كبيره د معافي پروانه ورته عطا شوه چې الله ﷻ سره څوك شريك نه ګرځوي . «مسلم»

حل اللغات:- ③ فِرَاشٌ: پتنګان «يعنى دا بيره ئې چه پټه كړې وه دا د سرو زرو پتنګان وو» ④ خَوَاتِيمَ: آخرى ⑤ الْمُقْحِمَاتُ: دا اسم فاعل صيغه ده په معنى د داخلولو. أَيِ الْكَبَائِرُ الْمُهْلِكَاتُ: غټو غټو ګناهونو ته مقحمات وئيلې شوى دى يعنى الله تعالىٰ دَ شرك نه علاوه لوئى لوئى ګناهونه معاف كوى «دې ته مقحمات څكه وائى چه دا هم خپل صاحب اور ته غورځوى»

تسهيلات:

قوله: وَهِيَ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ،

په روايت باندې اشكال: په نورو ټولو رواياتو كښې ذكر دى چه سدرة المنتهى په اووم آسمان باندې ده خودلته دَ شپږم آسمان ذكر دې

د اشكال دوه جوابونه ① دَ سدرة المنتهى جرړې په شپږم آسمان كښې دى او پخپله په اووم آسمان باندې ده غټه ونه ده وائى چه په ټولو آسمانونو او جنتونو باندې دَدې سورې دې.

② دَ شپږم ذكر چرته دَ يو راوى نه سهواً شوې دې

قوله: فِرَاشٌ مِنْ ذَهَبٍ،

د فراش حقيقت: پتنګ ته وائى په يو روايت كښې جراد هم راغلې دې. دَ الله تعالىٰ دَ انوارا تو نه چاپيره دَ يو تاويدونكى مخلوق ذكر دې دكوم حقيقت چه الله تعالىٰ ته معلوم دې.

[۵۸٦٦] د نبی کریم ﷺ دپاره د بیت المقدس څخه حجابات پورته کول

۵۸٦٦ -(¹) [۵] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② (لَقَدْ رَأَيْتُنِي فِي الْحِجْرِ وَقُرَيْشٌ تَسْأَلُنِي عَنْ مَسْرَايَ ③ فَسَأَلَتْنِي عَنْ أَشْيَاءَ مِنْ بَيْتِ الْمَقْدِسِ لَمْ أُثْبِتْهَا، ④ فَكُرِبْتُ كَرْبًا مَا كُرِبْتُ مِثْلَهُ، ⑤ فَرَفَعَهُ اللَّهُ لِي أَنْظُرُ إِلَيْهِ، ⑥ مَا يَسْأَلُونِي عَنْ شَيْءٍ إِلَّا أَنْبَأْتُهُمْ، ⑦ وَقَدْ رَأَيْتُنِي فِي جَمَاعَةٍ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ، فَإِذَا مُوسَى قَائِمٌ يُصَلِّي.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره ﷺ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ② ما خپل ځان په حجر حطيم کې اوليدلو په داسې حال کې چې زه ولاړ وم او د مکې قريشو زما نه ځما د شب معراج د سفر په باره کې سوالات کول ③ او د بيت المقدس هغه څيزونه او نښې يې معلومولي چې ماته هغه وخت ياد نه وو پاتې شوی ④ او په دې خبرې سره [چې که د قريشو پوښتل شوو خبرو جواب ورنه کول شو نو دا ټول خلق به ځما د بيت المقدس سفر او د معراج واقعه يو دروغ واقعه وګڼي] زه دومره پريشان او غمجن شوم چې دې نه مخکې هيڅ کله دومره پريشانه او غمجن شوی نه وم نو الله ﷻ ځما مدد وکی ⑤ او بيت المقدس يې بلند کی چې ځما د نظر مخکې راغې [يعنې قادرِ مطلق ځما او د بيت المقدس په منځ کې ټولې فاصلې راټولې کړلو او ټول حجابات يې پورته کړل چې، هغه سره د بيت المقدس پوره عمارت خپل خوا وشاسره ځما مخې ته راغې او زه د دې قابل شوم چې] د مکې قريش د بيت المقدس کوم شی او کومې نښانې په باره کې پوښتنه وکړې زه به هغه ليدو ليدو سره ښايم] ⑥ نو هغوئ چې به د بيت المقدس په باره کې څه پوښتنه زما نه کوله مابه ورته ليدو سره ښودله ⑦ او دا حقيقت دی چې د اسراء او معراج په شپه کې ما خپل ځان د انبياء په منځ کې اوليدلو ما هغه وخت حضرت موسٰی اوليدلو چې ولاړ وو مونځ يې کوی.

حل اللغات:- ① مَسْرَايَ: دا مصدر ميمي دي، أَيْ عَنْ سَيْرِي إِلَى بَيْتِ الْمَقْدِسِ: زما د شپې تلل بيت المقدس ته ② لَمْ أُثْبِتْهَا: د إثبات نه دي، أَيْ لَمْ أَحْفَظْهَا: ما ياد کړی نه وو ③ كَرْبًا: دا مفعول مطلق دي، أی حُزْنًا شَدِيدًا: سخت غم.

① فَإِذَا رَجُلٌ ضَرْبٌ جَعْدٌ كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ، ② وَإِذَا عِيسَى قَائِمٌ يُصَلِّي، ③ أَقْرَبُ النَّاسِ بِهِ شَبَهًا عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ الثَّقَفِيُّ، ④ وَإِذَا إِبْرَاهِيمُ قَائِمٌ يُصَلِّي، ⑤ أَشْبَهُ النَّاسِ بِهِ صَاحِبُكُمْ - يَعْنِي نَفْسَهُ - ⑥ فَحَانَتِ الصَّلَاةُ

¹) اخرجه البخاري كتاب أحاديث الأنبياء/باب قول الله تعالى: {وهل أتاك حديث موسى} [طه: ٩] {وكلم الله موسى تكليمًا} [النساء: ١٦٤] (رقم-٣٣٩٤) فى ومسلم فى كتاب الإيمان/باب ذكر المسيح ابن مريم، والمسيح (رقم-٢٧٨ - (١٧٢) والترمذى فى كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة الصافات (رقم-٣٢٣٠)

فَأَمَمْتُهُمْ. [۷] فَلَمَّا فَرَغْتُ مِنَ الصَّلَاةِ، قَالَ لِي قَائِلٌ: يَا مُحَمَّدُ! [۸] هَذَا مَالِكٌ خَازِنُ النَّارِ، فَسَلِّمْ عَلَيْهِ، [۹] فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ فَبَدَأَنِي بِالسَّلَامِ». [۱۰] رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَهَذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّانِي

ترجمه: [۱] حضرت موسیٰ یومیانه قد سړی په نظر راغي لکه چې هغه د قبیله شنوءه سره تعلق لرونکي یو سړی وي [۲] ما حضرت عیسیٰ علیه السلام هم اولیدلو چې ولاړوو مونځ یې کوی [۳] د هغه سره زیات مشابهت لرونکی سړی عروه ابن مسعود ثقفي دی [۴] بیا ما حضرت ابراهیم علیه السلام هم اولیدلو چې ولاړوو مونځ یې کوی [۵] دوئ سره زیات مشابهت لرونکی چې کوم سړی دی هغه ستاسو دوست دی ستاسو دوست نه د حضور ﷺ مراد خپل ذات مبارك وو [۶] بیا حضور ﷺ وفرمایل هرکله چې د مانځه وخت شو نو زه د ټولو انبیاء علیهم السلامو امام جوړ شوم [۷] او کوم وخت چې زه د مانځه نه فارغه شوم نو [آسمان ته تلو نه مخکې یا آسمان ته رسیدو سره او بارګاه رب العزت کې حاضرۍ نه وروسته] یو ویونکی زه مخاطب کړم راته یې اوویل اي محمد! [۸] دا د دوزخ دا روغه موجود دی [د خپل پروردګار د قهاریت تعظیم د پاره یا څرنګه چې د ابرارو او صالحینو په آدابو کې دی د تواضع او انکسار له مخه] ده ته سلام وکړه [۹] نو زه سلام کولو د پاره هغه داروغه دوزخ طرف ته متوجه شوم لیکن په سلام کې هغه مخکې شو. [۱۰] (مسلم) او په دې باب کښې دویم فصل نشته.

حل اللغات:- ④ ضَرْبٌ: أَيْ: نَوْعٌ وَسَطٌ: درمیانه قسم سړي، یا کمزوري سړي، ⑤ جَعْدٌ: کمزوري، یا ګلګچي ویښتو والا ⑥ شَنُوءَةَ: شنوءة د یمن یوه لویه قبیله ده، ⑥ فَحَانَتِ الصَّلَاةُ: أَيْ: دَخَلَ وَقْتُهَا: دمونځ وخت شو ⑧ فَالْتَفَتُّ: متوجه شوم (داروغه د دوزخ ته چه سلام ورته اوکړم)

تسهیلات: **قوله:** لَمْ أُثْبِتْهَا:

د قریشو بې هوده تپوله: یعنی په سفرباندې د تللو د وجې نه ما د غه څیزونه یاد کړي نه وو مګر قریشو ترې نه د ورو ورو څیزونو پوښتنه اوکړه مثلاً د مسجد اقصیٰ کهړکئ څو دي؟ دروازې څو دي؟ روښندانونه او ستنې څو دي؟ یو مسافر چه په لار تیریږي دا څیزونه چرته شمیري او محفوظ ساتلو سره یاد لري. حضورپاك په دې سره ډیر زیات پریشان شو.

قوله: فَكُرِبْتُ كَرْبًا مَا كُرِبْتُ مِثْلَهُ،

ابوبکر ته د صدیق لقب ملاویدو وجه: قریشو د مکې د حضورپاك نه عجیبه سوالونه شروع کړه کوم چه اهم سوالات وو او هغه صدیق اکبر رضی الله عنه پخپله اوکړه او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د حضورپاك په جواب باندې تصدیق کولو چه صدقت یارسول الله. په دې باندې

حضرت جبرائیل آمین دَالله تعالی دَ طرف نه دَحضرت ابوبکر صدیق ﷺ دَپاره دَصدیق لقب ورکړو. بهرحال دَ قریشو په بې کاره سوالونوباندې حضورپاك ډیرزیات پریشان شو نوالله تعالی دَ بیت المقدس نقشه دَ حضورپاك مخې ته راوستله حضورپاك به کتل اوجواب به ئې ورکولو څه خلقو اسلام قبول کړو مګر څه کچه مسلمان په شك کښې پریوتل خکه چه کافرانو ډیره سخته پروپیګنده کړې وه. دا قصه دَ بریلیانو په مخ باندې څپیړه ده چه دَعلم غیب په مسئله کښې ګرېر کوی.

وَهٰذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّانِيْ

په دې (باب المعراج) کښې دویم فصل نشته دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۸٦۷] بیت المقدس د نبی کریم ﷺ مخې ته راوستل

۵۸٦۷-() [۲] ① عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، «أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ② (لَمَّا كَذَّبَنِي قُرَيْشٌ قُمْتُ فِي الْحِجْرِ فَجَلَّى اللّٰهُ لِيَ بَيْتَ الْمَقْدِسِ، ③ فَطَفِقْتُ أُخْبِرُهُمْ عَنْ آيَاتِهِ وَأَنَا أَنْظُرُ إِلَيْهِ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت جابر ﷺ نه روایت دی هغه د رسول الله ﷺ نه واوریدل ② هرکله چې قریشو [شپِ معراج کې ځما بیت المقدس ته د تلو په باره کې] زه دروغجن وګڼلم [او د بیت المقدس د عمارتې علاماتو او نښو په باره کې زما نه پوښتنه کول شروع کړل] نو زه حجر [حطیم] کې ودریدم او الله ﷻ بیت المقدس زما د پاره ظاهر کړو ③ نو ما به بیت المقدس طرف ته کتلو کتلو سره د هغه نښې او علامات خلقو ته ښودل (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① فَجَلَّى: أَيْ: فَأَظْهَرَ: ښکاره ئې کړو، راته ئې مخامخ کړو. ② فَطَفِقْتُ: أَيْ: فَشَرَعْتُ: شروع شوم

تسهيلات:

قوله: الْحِجْرِ:

دحجر څخه مراد: دې نه مراد حطیم دې دې ته حجر اسماعیل هم وائی. ونیلی شی چه دلته دَحضرت اسماعیل علیه السلام قبر هم دې.

---

[1] اخرجه البخاري كتاب المناقب/باب حديث الإسراء (رقم-۳۸۸۶) فی ومسلم فی كتاب الإيمان/باب ذكر المسيح ابن مريم، والمسيح (رقم-۲۷۶ - (۱۷۰) والترمذی فی كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة ص (رقم-۳۲۳۳) واحمد فی المسند:۳۷۸/۳

[۷] بَابٌ فِي الْمُعْجِزَاتِ

دا باب د معجزاتو بیان کښې دې

خلاصة الباب:

فيه اربعة وسبعون حديثاً مشتملة على نحو اربعة وعشرين اجناسا من المعجزات

① الحفاظة عن الأعداء : ۱ ، ۲، ۱۵۔
② إجابة أسئلة عبدالله بن سلام رضي الله عنه : ۳۔
③ الإخبار ببعض المغيبات: ۴، ۵، ۱۱، ۱۲، ۱۹، ۲۳، ۲۵، ۲۹، ۳۰، ۳۱، ۳۲، ۴۶، ۴۷، ۵۸، ۶۲، ۶۳، ۶۶، ۶۷، ۶۹، ۷۰، ۷۳۔
④ مجئ الملائكة لنصرة النبي ﷺ : ۶، ۷، ۱۳۔
⑤ ضرب الكدية: ۱۰۔
⑥ حصول الشفاء بمسح النبي صلى الله عليه وسلم ونفثه: ۹، ۱۸، ۲۸، ۵۳، ۵۴۔
⑦ تكثير الطعام وغيره بيد النبي صلى الله عليه وسلم : ۱۰، ۳۷، ۳۸، ۳۹، ۴۳، ۴۴، ۵۹، ۶۴، ۷۲۔
⑧ تكثير المياه: ۱۴ ، ۱۵، ۱۶، ۴۰، ۴۱ ، ۴۲۔
⑨ تسخير الشجر له ﷺ : ۱۷، ۵۵۔
⑩ رمي المشركين بالحصيات: ۲۰، ۲۲۔
⑪ شجاعة النبي ﷺ: ۲۱، ۲۲۔
⑫ رؤية النبي ﷺ في المنام عمل السحربه ﷺ: ۲۴۔
⑬ إفاضة علم النبي ﷺ : ۲۷۔
⑭ إجابة دعاء النبي ﷺ: ۲، ۵، ۲۶، ۳۳، ۳۵، ۶۰، ۷۱.
⑮ أنين السارية بفراق النبي ﷺ: ۳۴۔
⑯ تظليل الغمام النبي ﷺ: ۴۹۔
⑰ صلاح الدابة بسبب ركوب النبي ﷺ وزجره: ۳۶، ۴۵، ۵۱۔
⑱ سلام الأحجار والأشجار النبي ﷺ: ۵۰، ۵۱۔
⑲ خرق الحجر للنبي ﷺ: ۵۲۔
⑳ سجود الدواب للنبي ﷺ: ۵۳۔
㉑ شهادة الأشجار والثمار بصداقة النبي ﷺ: ۵۶، ۵۷۔
㉒ نسج العنكبوت على غار النبي ﷺ في سفرالهجرة: ۶۵۔
㉓ إخبار الذراع بوجود السم فيه وإخبار الشجرة بإتيان الجن للنبي ﷺ: ۱۲، ۶۶، ۶۸۔
㉔ تكثيرلبن الشاة بمسح النبي ﷺ: ۷۴۔

دخارق عادت اووه قسمونه:

① **ارهاصات:** داداسې خارق عـادت افعـال وی چـه دَ یـونبی دَ نبـوت نـه وړانـدې دَ تمهیـد پـه توګـه دَ نبـی دَ راتلـودَاعلان دَپـاره پـیش کـولې شـی لکـه حضورپاك تـه دَ نبـوت نـه وړانـدې دکانړو سلام کول یادَاوریځو سورې کول. اودَ ولادت نبی پـه وخـت دَ انقلابـی واقعـاتو مخـې ته راتلل هم دا ارهاصات وو.

② **معجـزات:** داداسـې خـارق عـادت امـوردی چـه دَ یـونبی دَ نبـوت دَ دعـوت دَ اثبـات اوتصدیق دَپاره اودَمخالفینودَ عاجزکولودَپاره دَ مدعی نبوت پـه لاس بانـدې ښـکاره کیـږی لکـه دَ حـضورپاك دَ لاس پـه اشـاره بانـدې چـه سـپوږمئی دوه ټکـړې شـوې وه اودلتـه پـه زیربحث باب حدیث ۷۴ احادیثوکښې معجزات ښه په تفصیل سره راځی

③ **کرامات:** داداسې خارق عـادت اموردی چـه دَ صـاحب ایمـان متبـع سـنت سـړی پـه لاس بانـدې دَ اعزازاواکـرام پـه توګـه ښـکاره کیـږی. پیغمبرتـه دَخپلـې معجـزې علـم هـم وی اودَ معجزې دَ ښکاره کولو اراده ئی هم وی مګردَ ولی دَپاره داضروری نه دی.

④ **معونات:** داداسې خارق عادت امور دی چه دَ یومسلمان دَ اعانت او امداددَپاره ښـکاره کـولې شـی لکـه پـه حالـت دَمخمـصه کـښې خـوراك راتلـل، اوبـه راتلـل یـادَ زمکـې فاصـله کمیدل یا په اوبو باندې تلل وغیره داټول دَ اعانت اوامداد صورتونه دی.

⑤ **استدراجات:** داداسـې خـارق عـادت امـوردی چـه دَ یوکافرفاسـق اوفاجرپـه لاس بانـدې دَهغه دَ مقصودمطابق ښـکاره شـی لکـه دَ دجـال پـه احوالـو کـښې دَ عجیبـه اسـتدراجاتو او تـصرفاتو بیـان شـوې دې یـادَ دروغومـدعی نبـوت اسودعنـسی پـه لاس بانـدې عجائبـات ښکاره شوی وو داټول دَاستدراجاتو دَ قبیل نه دی.

⑥ **اهانات:** دادَ داسې خارق عادت امورو نوم دې چه دَ یوکافرپه لاس باندې ښـکاره کیـږی لیکن دَهغه دَمقصود اومطلوب برعکس ښـکاره کیـږی مـثلاً دَمـسیلمه کـذاب دَ یوکـانړی یوه سترګه باندې لاس راښکلو چه دا سترګه ئی جوړه شی مګر دَهغه سړی بیناسـترګه ړنـده شـوه. دغـه شـان مـسیلمه کـذاب دَخپـل اودس اوبـه دَبرکـت دَپـاره دَ بـاغ پـه ونوبانـدې اوشیندلې نودَباغ ټولې ونې اوچې شوې. دغه شان هغه غرغره اوکړې اوبـه ئـی پـه کـوهی کښې واچولې دې دَپاره چه اوبـه زیـاتې شـی نوچـه کـومې اوبـه پـه کـوهی کـښې وې هغـه هـم اوچې شوې. دغـه شـان هغـه دَیوماشـوم پـه سرباندې لاس راښـکلو نودَهغـه حـافظې کـار پریخودو داټول دَ اهانت صورتونه دی چه ټول تدبیرونه ئی اولټه شو.

⑤ **سحر او جادو**: دَدې یو تعریف دا دې "کل مالطف ماخذه ودق فهو سحر" دَدې دویم تعریف دا دې "اخراج الحق فی صورة الباطل" دَ جادونور تفصیل د تسهیلات په اول جلد کښې اوګورئ. بعضې علماؤ جادو خرق عادت نه دې ګڼړلې ځکه چه په دې کښې ظاهری اسباب استعمالیږی. بهرحال دا ټول خارق عادت اموردی دلته دَ دې نه دَمعجزې تعریف اوتفصیل بیانول مقصود دی.

د معجزې لغوی معنی: دَ معجزې لغوی معنی عاجزجوړونکې څیزخودلې شوې ده

دمعجزې اصطلاحی تعریف: "المعجزة امر خارق للعادة یعجز البشران یأتوا بمثله" یعنی معجزه دَهغه امرخارق عادت نوم دې چه انسان عاجزکړی اوهغه دَدې په شان څه څیز پیش نه کړې شی. دَ خارق عادات هم

د معجزې دوه قسمونه: ① یو قسم هغه معجزه ده چه دَ یونبی دَنبوت دَ ثابتولودَپاره دَالله تعالی دَ طرف نه راځی اودَقوم دَ هدایت ذریعه جوړیږی. دَحضورپاك اکثرمعجزې هم دَدې قسم راغلی دی. لیکن په دې کښې دَټولونه لویه معجزه اودائمی معجزه قرآن پاك دې په کوم سره چه په اربونوانسانانوته هدایت نصیب شوې دې او کیږی

② دویمه معجزه فرمائشی معجزه وی چه قوم دَایمان راوړلودَپاره څه فرمائشی معجزه اوغواړی په دې کښې دَ نبی ازمیښت مقصود وی چه آیا هغه دا کارکولې شی که نه؟ په دې قسم معجزوکښې خلق فضول قسم تپوسونه کوی

د فرمائشی معجزو مثالونه: ① د دې غرنه دې یوه بلاربه اوښه راوځی بیادې هغه بچې راوړی اومونږ ټول دې هغه اووینو نوبیابه مونږ ایمان راوړو

② دَدې نبی دې یولوئی باغ وی په هغې کښې نهرونه وی اوهغه باغ داسې وی

③ دانبی دې آسمان ته اوخیژی اودَهغه ځائی نه دې مونږ ته یوخط راولیګی دې دَپاره چه مونږ هغه اولولو او ایمان راوړو.

د دویم قسم معجزې ښکاره کیدو څخه پس نتیجه: دغه شان فرمائشی معجزه که الله تعالی یوقوم ته ورکوی اوقوم دَهغې نه انکارکوی اوایمان نه راوړی نوبیا دَ الله تعالی دَطرف نه په پوره قوم باندې عذاب نازلیږی لکه چه قوم ثمود تباه کړې شو.

د قریشو د مطالباتو نه پوره کیدو وجه: دَ قریشوکافرانوهم دَرسول الله ﷺ بار بار فرمائشی معجزې اوغوښتې لیکن الله تعالی ورنه کړې که چرې ورکړې وې اوکافرانو انکارکړې وې نوټول به هلاك شوې وې حالانکه هم دَدغه خلقو نه اکثرروستو مسلمانان شوی دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۸۶۸] د غار ثور واقعه

۵۸۶۸ -() [۱] ۱ «عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّ أَبَا بَكْرٍ الصِّدِّيقَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ نَظَرْتُ إِلَى أَقْدَامِ الْمُشْرِكِينَ عَلَى رُءُوسِنَا وَنَحْنُ فِي الْغَارِ، ۳ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! لَوْ أَنَّ أَحَدَهُمْ نَظَرَ إِلَى قَدَمِهِ أَبْصَرَنَا، ۴ فَقَالَ: (يَا أَبَا بَكْرٍ مَا ظَنُّكَ بِاثْنَيْنِ اللّٰهُ ثَالِثُهُمَا؟)». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ حضرت انس بن مالك رضي الله عنه راوي دی حضرت ابوبکر صديق وفرمايل ۲ کوم وخت چې مونږ په غار ثور کې پټ وو او ما د مشرکينود پښو طرف ته وکتل چې ګويا زمونږ په سرونو وي ۳ نو ما عرض وکړو يارسول الله که په دوئ کې د يو نظر هم خپلو پښو طرف ته لاړشي نو مونږ به ووينې ۴ حضور ﷺ په دي اوريدو سره وفرمايل د هغه دوو سړو په باره کې ستا څه خيال دی چې د هغوئ دريم ملګری الله جل جلاله دی (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: فِي الْغَارِ:

د غار څخه مراد: دې غار نه مراد غارثور دې. دا غار دَمکې مکرمې نه يوميل فاصله باندې واقع دې په ډير اوچت غر باندې واقع دې اودَدې غر نوم ثور دې پورته په څوکه باندې په هوارځائی کښې دوه غارونه جوړشوی دی په هريوباندې ليکلی دی چه دا غارثور دې. په دې کښې چه کوم زيات مشهور دې او په غرباندې دَمکې طرف ته واقع دې حضرت مولانا فضل محمد صاحب فرمائی زما په خيال هغه په څه نه څه زمانه کښې چاتراشلې جوړکړې اصلې غار ثور کيدې شی نه وی. دَدې په مقابل کښې دَ جبل ثوربل طرف ته يوغار دې چه دَ دوو درنوکانړو په مينځ کښې دې دَ پورته طرف نه دَ ورکوزيدو لار ده. يوکانړې بالکل دَ ثور يعنی غوئی په شان دې. بعضې علماؤ وئيلی دی چه ثوردَ يوسړی نوم وو دَهغه په نوم باندې دا غار مشهوردې

قوله: نَظَرَ إِلَى قَدَمِهِ:

په غار ثور کښې د نبی عليه السلام حفاظت: چه پورته په کانړی باندې ولاړ سړې که چرته خپلو خپوته اوګوری نودا غار به دَهغه دَ قدمونو لاندې ښکاری حضورپاك دعاغوښتې وه "اللهم اعم ابصارهم" اې الله دا کافرانړانده کړې الله تعالی دَهغوی دکتو نه ړانده کړل نوهغوی هيڅ اونه ليدل. دَ غار په خله کښې کوترې هګئی واچولې جولاګی جاله جوړه

[1]) اخرجه البخاری فيکتاب المناقب/باب مناقب المهاجرين وفضلهم " (رقم-۳۶۵۳) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل أبی بکر الصديق رضی الله عنه (رقم-۱ - (۲۳۸۱) والترمذی فی کتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب: ومن سورة التوبة (رقم-۳۰۹۶) واحمد فی المسند: ۱/۴

کړه دغه شان الله تعالی دَدې دوو محبوبینو حفاظت اوکړو. علامه بوصیری رحمه الله فرمائی:

فالصدق فی الغار والصدیق لم یربا وهم یقولون ما بالغار من ارم
ظنوا الحمام وظنوا العنکبوت علی خیر البریه لم تنسج ولم تحم

يو نكته:

قوله: اللّٰهُ ثَالِثُهُمَا:

د معیت خداوندی اعزاز: الله تعالی خپل ځان دریم ظاهر کړو دادَ خالص معونت او معیت طرف ته اشاره ده چه په هرحالت کښې دریواړه یوځائی وو. دَدې برعکس حضرت موسی علیه السلام معنا اونه فرمائیل بلکه معی نی اوفرمائیل. دا په پټو الفاظو سره په قوم باندې دَ اعتماد نه کولو اظهار دې. بهرحال دَ حضورپاك اودَ صدیق اکبر رضی الله عنه بالکل ښکاره کیدو سره کافرانو ته نه ښکاریدل معجزه وه.

[۵۸۶۹] د هجرت د سفر په دوران کښې د دشمن خلاف د معجزې ظهور

۵۸۶۹-(۱) [۲] ۱ «وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّهُ قَالَ لِأَبِي بَكْرٍ: يَا أَبَا بَكْرٍ! ۲ حَدِّثْنِي كَيْفَ صَنَعْتُمَا حِينَ سَرَيْتَ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-؟ ۳ قَالَ: أَسْرَيْنَا لَيْلَتَنَا وَمِنَ الْغَدِ، ۴ حَتَّى قَامَ قَائِمُ الظَّهِيرَةِ. ۵ وَخَلَا الطَّرِيقُ لَا يَمُرُّ فِيهِ أَحَدٌ، ۶ فَرُفِعَتْ لَنَا صَخْرَةٌ طَوِيلَةٌ، ۷ لَهَا ظِلٌّ لَمْ يَأْتِ عَلَيْهَا الشَّمْسُ، فَنَزَلْنَا عِنْدَهَا،

ترجمه: ۱ او حضرت براء ابن عازب رضی الله عنه د خپل پلار محترم حضرت عازب رضی الله عنه نه روایت کوي هغه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه نه پوښتنه وکړه اې ابوبکر! ۲ هرکله چې حضور صلی الله علیه وسلم د هجرت ارادې سره مکه پریښودله او مدینې ته روان شو او تا د شپې رسول الله صلی الله علیه وسلم سره سفر وکړو غار نه وتلو نه وروسته تاسو ته څه څه حالات او واقعات پیښ شو ۳ حضرت ابوبکر رضی الله عنه وفرمایل دغار نه وتلو سره مونږ توله شپه روان وو او د راتلونکي ورځ څه حصه هم یعنی غرمې پورې په سفر کې تیره کړه ۴ ددې پورې چې تیک غرمه شوه او نمر اودریدلو ۵ او لار دتلونکو راتلونکو نه بالکل خالي شوه ۶ نومونږ ته یوه ګاره په نظر راله ۷ چې د هغه لاندې سورې وه او نمر په هغه نه وو راغلی [یعنی دهغه ګاري لاندې چې کومه غاره وه په هغه کې نمر نه وو] نو مونږ هغه ګاري لاندې خکته شو

حل اللغات:- ① كَيْفَ صَنَعْتُمَا: تاسو دواړو څه اوکړل، څه حالات درته پیښ شو؟ ② سَرَيْتَ: أسرى د شپې د تلو په معنی کښې دي، أي: حِينَ سَافَرْتَ: یعنی کله چه تا د شپې سفر اوکړو روان شوې. ③ صَخْرَةٌ: غټ ګټ،

۱) اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب علامات النبوة فی الإسلام (رقم-۳۶۱۵) ومسلم فی کتاب الزهد والرقائق/باب فی حدیث الهجرة ویقال له حدیث الرحل بالحاء (رقم-۷۵ - (۲۰۰۹) واحمد فی المسند: ۲/۱

۱ وَسَوَّيْتُ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَكَانًا بِيَدَيَّ يَنَامُ عَلَيْهِ، ۲ وَبَسَطْتُ عَلَيْهِ فَرْوَةً، وَقُلْتُ: نَمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۳ وَأَنَا أَنْفُضُ مَا حَوْلَكَ، فَنَامَ وَخَرَجْتُ أَنْفُضُ مَا حَوْلَهُ، ۴ فَإِذَا أَنَا بِرَاعٍ مُقْبِلٍ، ۵ قُلْتُ: أَفِي غَنَمِكَ لَبَنٌ؟ قَالَ: نَعَمْ قُلْتُ: أَفَتَحْلِبُ؟ قَالَ: نَعَمْ. ۶ فَأَخَذَ شَاةً فَحَلَبَ فِي قَعْبٍ كُثْبَةً مِنْ لَبَنٍ، ۷ وَمَعِي إِدَاوَةٌ حَمَلْتُهَا لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۸ يَرْتَوِي فِيهَا، يَشْرَبُ وَيَتَوَضَّأُ،

ترجمه: ۱ أو ما هلته رسول الله ﷺ د پاره يوځاي په خپلو لاسونو سره هموار اوصاف كړي چې حضور ﷺ په هغه اوده شي ۲ بيا مي په هغه ځاي پوستين وغوړوی او عرض مي وكی يارسول الله! تاسو دلته اوده شئ ۳ زه به ستاسو اخوا ديخوا نگراني كوم [چې څه طرف نه د دښمن څوك سړی زمونږ تلاش كې خو نه دی كه څوك اخوا نه راځي نو هغه به منع كوم] حضور ﷺ اوده شو او زه د هغه ځاي نه د وتلو سره د حضور ﷺ حفاظت د پاره څلور طرف ته نگراني مي كوله چې ۴ اچانك ما يو شپونكي اوليدلو چې مخ طرف نه راروان وو ۵ هركله چې هغه ماته نزدې راغې نو ما د هغه نه پوښتنه وكړه آيا ستاپه بزو كې پئي شته؟ هغه اوويل هو شته ما ورته اوويل آيا ته به پئي لوشلو سره راكړې هغه اوويل هو ۶ بيا هغه يوه بزه (چيلۍ) ونيوله او د لرگي پياله كې څه لږ پئي ولوشلي ۷ ما سره يو بټك وو چې ما د حضور ﷺ د استعمال د پاره ساتلى وو ۸ په هغه كې به اوبه وې چې د حضور ﷺ د څكلو او اودس پكار به راتلي.

حل اللغات: - ۲ فَرْوَةً: جِلْدُ الشَّعْرِ: پوستين، د څرمن څادر. ۵ أَنْفُضُ: نفض ځنډلو او كتلو ته وائی دلته ترې نگرانی مراد ده، أي: أَتَجَسَّسُ الْأَخْبَارَ: جاسوسی به كوم، نگرانی به كوم (يعنی د دشمن يا د ضررى څيزونونه به ستاسو حفاظت كوم). ۹ رَاعٍ: شپونكې، گډې بزې څرونكې. ۷ مُقْبِل: أي جَاءَ مِنْ قِبَلِنَا: مونږ ته مخامخ راروان وو. ۸ قَعْب: أي: فِي قَدَحٍ مِنْ خَشَبٍ: د لرگی ژوره پيالۍ يا كاسه. ۹ كُثْبَةً: أي: قَدْرَ حَلْبَةٍ: ډكه پيالۍ يعنی څومره چه پكښې راتلل ۱۰ - يَرْتَوِي: رَوِيتُ مِنَ الْمَاءِ: د روی نه دې دَ خروب كيدو په معنی كښې دې يعنی په دې لوټه كښې دَ اودس دَپاره او دَ څكلو دَپاره اوبه كيخودلې شوې. ۱۱ إِدَاوَةٌ: أي: ظَرْفُ مَاءٍ: د اوبو ساتلو د څرمن لوښې، چهاگل

۱ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَكَرِهْتُ أَنْ أُوقِظَهُ فَوَافَقْتُهُ حَتَّى اسْتَيْقَظَ، ۲ فَصَبَبْتُ مِنَ الْمَاءِ عَلَى اللَّبَنِ حَتَّى بَرَدَ أَسْفَلُهُ، ۳ فَقُلْتُ: اشْرَبْ يَا رَسُولَ اللَّهِ! فَشَرِبَ حَتَّى رَضِيتُ، ۴ ثُمَّ قَالَ: (أَلَمْ يَأْنِ لِلرَّحِيلِ؟) قُلْتُ: بَلَى. ۵ قَالَ: فَارْتَحَلْنَا بَعْدَمَا مَالَتِ الشَّمْسُ، ۶ وَاتَّبَعَنَا سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكٍ، فَقُلْتُ: أُتِينَا يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ: ﴿لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا﴾ [الفاتحة: ۴۰-۳۶۱۷۲۹]

ترجمه: ۱ ما پئي اخستو سره رسول الله ﷺ ته راغلم نو حضور ﷺ اوده وو ما ويښول مناسب ونه گڼل ددې پورې چې حضور ﷺ خپله بيداره شو ۲ او زه هم كينا ستم ما په پئيو كې دومره اوبه واچولې چې لاندې پورې يخې شوې ۳ بيا مې عرض وكړو يارسول الله! داسيدې اوڅكئ حضور ﷺ هغه پئي وڅكلې او زه ډېر خوشحاله شوم ۴ ددې نه وروسته

حضور ﷺ وفرمايل د کوچ وخت لاته دی راغلی ما اوویل هو راغلی دی ۵ حضرت ابوبکر ﷛ وايي نو مونږ د نمر زوال کېدو نه وروسته د يخ والي په وخت کې د هغه ځاي نه کوچ وکړ او مخکې سفر شروع شو ٦ چې د وروسته نه سراقه بن مالك راغې ما د هغه په ليدو سره عرض وکړو يارسول الله! دښمن مونږ نيولو د پاره راغلی دی حضور ﷺ وفرمايل مه ويرېږه الله ﷻ زمونږ سره دی

حل اللغات: - ⑫ فَوَافَقْتُهُ: أي تَوَقَّفْتُ فِي الْمَجِيءِ إِلَيْهِ: موافقت مې اوکړو د نبی علیه السلام د راپاڅېدو. ⑬ أَلَمْ يَأْنِ: يَأْنِ د أَنَى يَأْنِي نه دې، إِذَادَخَلَ وَقْتُ الشَّيْءِ: يعنی کله چه د يوڅيز وخت اوشی ⑭ لِلرَّحِيلِ؟: هُوَالسَّيْرُ الْجَمِيلُ: د راحت سفر يا د راحت ځاي ته سفرکول. ⑮ أُتِينَا: أَيْ: أَتَانَا الْعَدُوُّ: دشمن مونږ ته راورسيدو، مونږ راګيرشو.

> ۱ فَدَعَا عَلَيْهِ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ فَارْتَطَمَتْ بِهِ فَرَسُهُ إِلَى بَطْنِهَا فِي جَلَدٍ مِنَ الْأَرْضِ ۳ فَقَالَ: إِنِّي أَرَاكُمَا دَعَوْتُمَا عَلَيَّ، فَادْعُوَا لِي، ۴ فَاللَّهُ لَكُمَا أَنْ أَرُدَّ عَنْكُمَا الطَّلَبَ، ۵ فَدَعَا لَهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَنَجَا، ٦ فَجَعَلَ لَا يَلْقَى أَحَدًا إِلَّا قَالَ: كُفِيتُمْ، مَا هَاهُنَا، ۷ فَلَا يَلْقَى أَحَدًا إِلَّا رَدَّهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.»

ترجمه: ۱ دې نه وروسته حضور ﷺ سراقه د پاره بددعا وکړه ۲ نو د سراقه آس د هغه سره ترخيټې پورې په زمکه کې غرق شو ۳ سراقه دې صورت حال مخ کېدو سره بد حواسه شو او هغه اوويل زه پوهېږم تاسو دواړو زما د پاره بد دعا کړې ده اوس خما د نجات او خلاصون د پاره هم تاسو دعا وکړئ ماته ددې ګرفت نه نجات راکړئ ۴ نو زه الله ﷻ ګواه جوړولو سره وعده کوم چې زه به کفار ستاسو د تعاقب کولو نه منع کوم ۵ رسول الله ﷺ د هغه د پاره دعا وکړه نو هغه د ګرفت نه نجات پيدا کې ٦ او بيا سراقه [خپله وعده پوره کولو د پاره دا] اوويل چې د حضور ﷺ په تلاش کې د مکې نه روانيدونکو] کافرانو کې کوم کافر به چې د هغه په لار کې يوځاي کېدی نو هغه ته به يې وئيل ستا د پاره ځما تلاش کول کافي دی [يعنی ما ډير د لرې نه د محمد تلاش کول ليدلی دی] د هغوئ هيڅ چرته معلومات نه کېږي [ته د هغوئ د تلاش کولو زحمت مه برداشت کوه] ۷ سراقه سره به چې کوم سړی يوځاي کېدی هغه به دغه اوريدلو سره واپس تلی. بخاری ومسلم

⑯ فَارْتَطَمَتْ: أَيْ: سَاخَتْ قَوَائِمُهَا: ښخ شو په زمکه کښې (د اس خپې تر سينې پورې په زمکه کښې ښخې شوې). ⑰ جَلَدٍ: أَيْ: صُلْبٍ مِنَ الْأَرْضِ: سخته زمکه ⑱ فَاللَّهُ لَكُمَا: أَيْ: فَاللَّهُ كَفِيلٌ عَلَيَّ لَكُمَا أَنْ لَا أَهُمَّ بَعْدَ ذَلِكَ لِغَدْرِكُمَا: يعنی زه د الله تعالی وعده درکوم چه ستاسو د بدخواهئ اراده به ددې نه پس نه کوم. ⑲ الطَّلَبَ: أَيْ: طَلَبَ الْكُفَّارِ: د کافرانو تلاش او لټون (ځوک چه تاسو تلاش کوی زه به هغوی واپس کوم).

تسهيلات:

قوله: وَأَنَا أَنْفُضُ مَا حَوْلَكَ،

د ابوبكر د نبی عليه السلام دپاره پيره وركول،فوجي اصطلاح كښي دې قسم پهره اوپه دښمن باندې دنظر ساتلو دپاره اخوا ديخوا گرځيدوته گزمه وائي. صديق اكبر رضي الله عنه هم دَ غار نه گيرچاپيره دكافرانو په راتگ وغيره باندې نگراني شروع كړې وه

قوله: فَحَلَبَ فِي قَعْبٍ كُثْبَةً مِنْ لَبَنٍ،

پيـۍ څوښـتلو درې احتمـالات: ① دَعربـو دَ عـادت مطـابق ئـې اوغوښـتل چـه عربوپـه مسافرانوته دَ چيلئي نه پيئې ويستلوسره وركول خپله فريضه گنړله.

② دَ قيمت ادا كولو په اراده ئې اوغوښتل

① دا چيلئي خودَ صديق اكبر رضي الله عنه وې په دې وجه ئې پيئې اوغوښتل

قوله: فَوَافَقْتُهُ:

د وافقت په تحليل اومعنی كښې دوه احتمالات:

① كه چرې په وافقته كښې فاء مقدم ده نودا دَ موافقت نه دې يعنی مادَ حضورپاك خوب سره موافقت اوكړو تردې چه هغوى پخپله پاسيدل

②كه چرې قاف مقدم دې نودا به دَ وقوف نه وى چه دَانتظار په معنی كښې دې يعنی ما انتظاراوكړو تردې چه حضورپاك بيدار شو.

قوله: سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكِ بن جعشم مدلجی:

د سراقه تعارف:داسرې دَ خپلې علاقې سردار وودَ انعام په لالچ كښې هغه حضورپاك پسې شوې وو معجزه كتلو سره ئې معافي اوغوښتله. دَ خپل خان دَ پاره ئې يوچټ اوليكلو چه دَ فتح مكه په ورځ ماته امان ملاؤ شي. حضورپاك هغه سره دَ كسرىٰ دَ بنگړوور كولو وعده اوكړه كله چه دې مسلمان شو اودكسرىٰ خزانه دَ حضرت عمرفاروق رضي الله عنه په دوركښې مدينې ته راغلو نو په مال غنيمت كښې دَ كسرىٰ بنگړى سراقه ته وركړې شو. هغه واچول او په منبر نبوى باندې ختلوسره خلقو ته ئې اوخودل

قوله: الطَّلَبَ:

د نبی عليه السلام د لټولو لوری وجه ،ابوجهل دَ سلو اوښانو انعام كيخودې وو چه محمد ﷺ ژوندې يا مړ حالت كښې كه څوك راوړى يادَ هغوى خبر مونږ ته اورسوى نودا انعام به هغه ته ملاويږى. هرطرف ته دا لټون هم په دې وجه كيدلو اودا چهاپې هم په دې وجه پريوتلې.

[۵۸۷۰] د عبد الله ابن سلام د ایمان راوړلو واقعه

۵۸۷۰-(۱) [۳] [۱] «وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ بِمَقْدَمِ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] وَهُوَ فِي أَرْضٍ يَخْتَرِفُ، [۳] فَأَتَى النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالَ: [۴] إِنِّي سَائِلُكَ عَنْ ثَلَاثٍ لَا يَعْلَمُهُنَّ إِلَّا نَبِيٌّ: [۵] فَمَا أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ؟ [۶] وَمَا أَوَّلُ طَعَامِ أَهْلِ الْجَنَّةِ؟ [۷] وَمَا يَنْزِعُ الْوَلَدَ إِلَى أَبِيهِ أَوْ إِلَى أُمِّهِ؟

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷛ وايي عبد الله ابن سلام د رسول الله ﷺ د مکي نه مديني ته د راتلو حال واوريدی [۲] دغه وخت هغه په يوځاي کې د ونو نه ميوي شوکولي [۳] هغه فوراً د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او عرض يې وکړو [۴] زه د نبوت د علاماتو د تصديق د پاره ستاسو نه دا دري خبري معلومول غواړم چې هغه د نبي نه ماسوا بل څوک نه پيژني [۵] يو خو داچې د قيامت مخکنۍ علامه به څه وي؟ [۶] دويم داچې د جنتيانو مخکنی طعام به څه وي اچې جنت ته رسيدو سره مخکنی به هغه خوري [۷] دريم داچې هغه کوم شی دی چې اولاد د مورو پلار مشابه کوي يعنی اولاد چې د شکل وصورت د اعتبار نه کله د پلار مشابه وي او کله د مور مشابه نو د دي سبب څه دی؟

حل اللغات:- ① يَخْتَرِفُ: أَيْ: يَجْتَنِي مِنَ الْفَوَاكِهِ: د ونو نه ئې ميوي شوکولي ② أَشْرَاطِ: أَيْ عَلَامَاتِهَا: علامات اونښې (د قيامت د راتلو).

[۱] قَالَ: (أَخْبَرَنِي جِبْرِيلُ آنِفًا: [۲] أَمَّا أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ فَنَارٌ تَحْشُرُ النَّاسَ مِنَ الْمَشْرِقِ إِلَى الْمَغْرِبِ، [۳] وَأَمَّا أَوَّلُ طَعَامٍ يَأْكُلُهُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فَزِيَادَةُ كَبِدِ حُوتٍ [۴] وَإِذَا سَبَقَ مَاءُ الرَّجُلِ مَاءَ الْمَرْأَةِ نَزَعَ الْوَلَدَ، [۵] وَإِذَا سَبَقَ مَاءُ الْمَرْأَةِ نَزَعَتْ). [۶] قَالَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّكَ رَسُولُ اللهِ يَا رَسُولَ اللهِ! [۷] إِنَّ الْيَهُودَ قَوْمٌ بُهُتٌ، [۸] وَإِنَّهُمْ إِنْ يَعْلَمُوا إِسْلَامِي مِنْ قَبْلِ أَنْ تَسْأَلَهُمْ يَبْهَتُونِي،

ترجمه: [۱] حضور ﷺ [د عبد الله ابن سلام دادري سره سوالونه اوريدو سره] وفرمايل اوس اوس جبرائيل ﷺ د دې سوالونو د جواب نه آګاه کړی يم [۲] او هغه تاته ښايم چې د قيامت مخکنۍ علامه خوبه هغه اور وي چې خلق به د مشرق طرف نه د مغرب طرف ته جمع کولو سره بوځي [۳] او جنتيان چې جنت کې د ټولو نه مخکنی طعام خوري هغه به د ماهي (مهي) د جګر زائده حصه وي [يعنی د ماهي د جګر هغه حصه چې ځيګر نه جدا زوړند وي او د ماهي لذيذ ترين جزو وي] [۴] او هر چې په اولاد کې د مور پلار د مشابهت سوال دی نو که د سړی اوبه مني د ښځي په اوبو غالبي شي نو سړی اولاد خپل مشابهت طرف ته راکاږي [۵] او که د ښځي اوبه د سړي په اوبو غالبي شي نو ښځه اولاد خپل مشابهت طرف ته راکاږي [۶] عبد الله بن سلام [د خپلو سوالونو جوابونه اوريدو سره] اوويل زه شاهدي اداکوم چې الله ﷻ نه ماسوا بل معبود نشته او داچې تاسو يقيناً د الله ﷻ رسول يئ [۷] [د قبول اسلام

(۱) اخرجه البخاري في كتاب أحاديث الأنبياء/باب خلق آدم صلوات الله عليه وذريته (رقم-۳۳۲۹) واحمد في المسند: ۱۰۸/۳

نه وروسته عبد الله ابن سلام عرض وکړو یا رسول الله! دا یهودیان ډیر بهتان تراش دي ⑧ که ستاسو د پوښتني نه مخکې دوئ ته خما مسلمانیدل معلوم شي نو په مابه دروغ بهتان تړي ایعني که هغوئ ته دي معلومیدو نه وروسته چې زه مسلمان شوی یم تاسو د دوئ نه څه پوښتنه وکړه نو هغوئ به مخالفت وکړي او په مابانديږ به نوي نوي الزامونه لګوي ځکه ښه داده چې خما د اسلام راوړلو دخبریدو نه مخکې که تاسو ددوئ نه خما په باره کې څه پوښتنه وکړئ ښه به وي چې هغوئ خما متعلق تاسو د صحیح حالاتو نه آګاه کړي!

حل اللغات: -③بُهُت: خیګر، اینه. ③بُهْتٌ: دا د بَهُوت جمع ده. دا په بُهْتَان کښې مبالغه ده. یعنی ډیر زیات بهتان لګونکی، بهتان تراش.

① فَجَاءَتِ الْيَهُودُ فَقَالَ: (أَيُّ رَجُلٍ عَبْدُ اللّٰهِ فِيكُمْ؟) ② قَالُوا: خَيْرُنَا وَابْنُ خَيْرِنَا، وَسَيِّدُنَا وَابْنُ سَيِّدِنَا ③ فَقَالَ: (أَرَأَيْتَ إِنْ أَسْلَمَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ سَلَامٍ؟) ④ قَالُوا: أَعَاذَهُ اللّٰهُ مِنْ ذٰلِكَ. ⑤ فَخَرَجَ عَبْدُ اللّٰهِ فَقَالَ: ⑥ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ ⑦ فَقَالُوا: شَرُّنَا وَابْنُ شَرِّنَا، فَانْتَقَصُوهُ ⑧ قَالَ: هٰذَا الَّذِي كُنْتُ أَخَافُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ!» رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① نو [اتفاقًا یا د حضور ﷺ په بلنه هغه وخت] څه یهودیان مجلس نبوي ته راغلل [او عبد الله ابن سلام یو ګوټ کې پټ شو حضور ﷺ د هغه یهودیانو څخه پوښتنه وکړه] ستاسو ګمان او علم کې عبد الله ابن سلام څرنګه سړی دی؟ ② هغوئ جواب ورکړو هغه په مونږ کې بهترین سړی دی په مونږ کې د بهترین سړي ځوی دی ایعنی عبد الله ابن سلام نه صرف داچې د خپل ذات د اعتبار نه په مونږ کې اعلی علمي اخلاقي او سماجي حیثیت لري او زمونږ سردار دی بلکه د حسب ونسب د اعتبار نه هم په مونږ هغه ته فضیلت حاصل دی! ③ حضور ﷺ د هغوئ دا جواب اوریدو سره بیا داپوښتنه وکړه ښه ده او ښایي که عبدالله ابن سلام مسلمان شي [نو آیا تاسو به هم مسلمانان شئ!] ④ یهودیانو اوویل الله ﷻ دي هغه د اسلام نه بچ کړي [او خپل حفاظت کې دي وساتي یا داچې معاذ الله مونږ د دې تصور هم نه شو کولی!] ⑤ نو عبد الله ابن سلام د هغوئ مخې ته راغې او هغه اوویل ⑥ زه ګواهي کوم چې د الله ﷻ نه ماسوا بل معبود نشته او داچې بلاشبه محمد د الله ﷻ رسول دی ⑦ یهودیانو په دې اوریدو سره وئیل شروع کړل چې داسړی خو په مونږ کې ډیر خراب دی او د بدترین سړي ځوی دی او په هغه کې قسم قسم عیبونه را اوخکل یې شروع کړل ⑧ عبد الله ابن سلام ﷺ اوویل یا رسول الله! تاسو ولیدل دا هغه خبره ده چې زه ځني ویریدم [او په دې وجه ما تاسو ته عرض کړی وو چې مخکې دوئ نه خما د حال پوښتنه وکړی چې تاسو ته اندازه وشي چې داقوم څومره دوه مخي او دروغجن دی!] (بخاري)

حل اللغات: -⑤فَانْتَقَصُوهُ: دا د نَقْص نه دي، وَهُوَ الْعَيْبُ: نقصان او عیب ته وائي.

تسهيلات: قوله: سَمِعَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ سَلَامٍ بِمَقْدَمِ رَسُولِ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د حديث پس منظر :

حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه دَ يهودو ډير لوئي عالم وو دَ تورات حافظ وو هغه خپل غلام ته ونيلي ووچه کله نبی آخرالزمان دَ مکې نه مدينې ته راشي نوته ماته خبر راکړه يوه ورځ هغه خپل باغ کښې دَ يوې ونې نه ميوه راشوکوله چه غلام دَ لاندې نه آواز ورکړو نبی آخرالزمان مدينې ته راغلو په هغه باندې يو هيبت او رعب راغلو نيزدې وه چه دَ ونې نه راپريوتلې وې خو بچ شو دَ ونې نه راکوزيدو سره دَ حضورپاك طرف ته روان شو کله چه دَ حضورپاك په مخ مبارك باندې نظر پريوتلو نووئې وئيل "والله ماهذا بوجه کذاب" په خدائې قسم دا مخ دَ يو دروغژن نه شې کيدې بيا ئې دَ ازميښت په توګه درې سوالونه اوکړه حضورپاك پخپله دَ جواب په ځائې دَ جبرائيل امين انتظار اوکړو اوبيا دَ وحی په ذريعه جواب ورکړو عبدالله بن سلام رضي الله عنه مسلمان شو مګر اول ئې په يهودو باندې دَ خپل عظمت اقرار اوکړوچه روستو بيا دَ بهتان ترلو اثر نه وی

قوله: إِلَّا نَبِيٌّ:

د نبی عليه السلام امتحان اخستل: يعنی دا داسې خبرې دی چه صرف هم نبی خودلې شی هم په دې کښې دَمعجزه ظهورشوې دې چه حضورپاك دَ وحی په بنيادباندې دادريواړه خبرې صحيح صحيح اوخودلې.

قوله: أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ:

د قيامت د اولنی غټې نښې تپوس: دَ قيامت نه مخکښې ښکاره کيدونکې علامات تپوس ئې اونه کړوبلکه دَ قيامت دَ شروع کيدو سوال دې څکه چه دَ دغه اورنه به قيامت شروع کيږی دَ قيامت علامات خوبه ددې نه مخکښې ډيرې ښکاره شوې وی لهذا دَ دې سوال نه دې

د سبق ماء په معنی کښې دوه اقوال :

قوله: سَبَقَ مَاءُ الرَّجُلِ:

د سبق په معنی کښې دوه اقوال : يعنی دَ مور رحم ته رسيدونکې نطفه که چرته دَ سړی غالب راشی اودَ ښځې مغلوب شی نوماشوم دَ سړی په شان پيدا کيږی

① ملاعلی قاری رحمه الله دَ سبق ترجمه "علاوغلب" سره کړې ده

② شيخ عبدالحق رحمه الله اشعة اللمعات کښې ددې ترجمه سبقت سره کړې ده. فرمائی "چوں پیش میشود آب مرد آب زن رایعنی پیشتر در رحم می افتد" يعنی دَ سړی نطفه چه کله دَمور رحم کښې مخکښې رسيږی دَ ښځې په اوبوغالب راځی نوبچې دَ پلار په شان وی.

[۵۸۷۱]د جنگ بدر سره متعلق د پیشن گوئی معجزه

۵۸۷۱-() [۳]۱وَعَنْهُ، قَالَ: «إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - شَاوَرَ۲ حِينَ بَلَغَنَا إِقْبَالُ أَبِي سُفْيَانَ،۳ وَقَامَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ!۴ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ۵ لَوْ أَمَرْتَنَا أَنْ نُخِيضَهَا الْبَحْرَ لَأَخَضْنَاهَا،۶ وَلَوْ أَمَرْتَنَا أَنْ نَضْرِبَ أَكْبَادَهَا إِلَى بَرْكِ الْغِمَادِ لَفَعَلْنَا.۷ قَالَ: فَنَدَبَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - النَّاسَ، فَانْطَلَقُوا حَتَّى نَزَلُوا بَدْرًا،

ترجمه:۱ او حضرت انس ﷛ وايي رسول الله ﷺ هغه وخت مدينه والاوو سره صلاح مشوره وكړه ۲ چې مونږ ته د ابوسفيان د راتلو خبر وشو۳ نوسعد ابن عباده اودريدلو او عرض يې وكې يارسول الله!۴ په هغه پاك ذات مې دي قسم وي چې د هغه په قبضه كې خما ساه ده ۵ كه تاسو مونږ ته د خپلي سورلي د حيوانانو په سمندر كې د اچولو حكم وكئ نو بلاشبه مونږ به داسې كوو (يعنى يوازي په مخ د زمكې باندي موقوف نه ده)۶ كه تاسو حكم وكئ نو مونږ ته د رسيدو او د هغه بيخ كنې كولو د پاره سمندر كې هم خپل آسونه به وزغلوو او كه ستاسو حكم وي چې مونږ د خپلو اوښانو او آسونو ځگر برك غمد پورې وهو نو مونږ به بيشكه داسې كوو۷ حضرت انس ﷛ وايي دې نه وروسته رسول الله ﷺ ټول خلق يعنى مهاجرين او انصار جنگ د پاره دجوش او جذبې نه ډك كړل او تيار يې كړل او ټول خلق روان شول ددي پورې چې د بدر مقام ته ورسيدل او معركه آرايي د پاره هغه ځاي منتخب شو.

حل اللغات:- ①إِقْبَالُ: راتلل، ②نُخِيضَهَا: أَيْ نُدْخِلَ الدَّوَابَّ: داخل كړو، اوزغلوو خپل آسونه دجنگ د پاره، ③بَرْكِ الْغِمَادِ: په حبشه كنبې يا په يمن كنبې د يو ځاي نوم دې، يه د لرې ځاي نه كنايه ده ④فَنَدَبَ: أَيْ: فَدَعَا: راوني بلل يعنى دجهاد ترغيب ني وركړو په اصحابو كنبې ني دجهاد جوش اوجذبه پيدا كړه،

۱فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (هَذَا مَصْرَعُ فُلَانٍ)۲ وَيَضَعُ يَدَهُ عَلَى الْأَرْضِ هَاهُنَا وَهَاهُنَا،۳ قَالَ: فَمَا مَاطَ أَحَدُهُمْ عَنْ مَوْضِعِ يَدِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:۱ نو رسول الله ﷺ مجاهدين اسلام مخاطب كولو سره وفرمايل گورئ داځاي د فلاني سړي كافر د هلاكيدو او د هغه د جسد غورځيدو دى (او دا ځاي به اشقياء (بدبخته) سړي قتليدوسره غورځيږي) دغه شان حضور ﷺ (د مكې دكفارو او اشقياوو (بدبختو) نومونه اخستل او) په زمكه باندې يويوځاي لاس اينبووى فرمايل به يې چې فلانى سړى به دلته مړكيدو سره رالويږي او د فلاني سړي بدن به دلته لويږي۲ حضرت انس ﷛ وايي حضور ﷺ چې چيرته لاس ايخو دلى وو د هغه ځاي نه يوسړى هم متجاوزنه شو (مسلم)

[۱]) اخرجه مسلم فى كتاب الجهاد والسير /باب غزوة بدر (رقم-۸۳ - (۱۷۷۹) وابوداود فى كتاب الطلاق/ باب فى عدة المطلقة (رقم-۲۲۸۱) والنسائى فى كتاب الجنائز /باب أرواح المؤمنين (رقم-۲۰۷۴) واحمد فى المسند: ۲۱۹/۳

حل اللغات: -⑤مَصْرَعُ: أَيْ مَقْتَلُ: د راغورځيدو او قتل كيدو ځاى ته وائي. ⑥مَاطَ: أَيْ: مَازَالَ وَتَعَدَّ وَتَجَاوَزَ: وړاندې نه شو، تجاوز ئې اونه كړو.

تسهيلات: قوله: شَاوَرَ:

د جنګ بدر پس منظر: حضورپاك دَخپلو صحابه كرامونه جنګ بدرته دَ رسيدونه وړاندې مشوره اوغوښتله چه دَ جنګ ميدان ته لاړشو كه نه؟ صورت حال داووچه حضورپاك دَ ابوسفيان دَ قافلې دَ ګيرولودپاره دَمدينې نه يوځو صحابه كرام اخستلوسره بدرته رسيدلى وو په تادئى سره دَ وتلودَ وجې نه صحابه كراموسره وسله هم نه وه. اخوادَ ابوسفيان قافله دَ شام نه راغله اولاربدلولوسره مكې ته لاړه. اهل مكه ته پته اولګيدله چه دَهغوى قافله لوټ كړې شوه ابوجهل دَ زروكسانو وسله وال لښكرتياركړو اودَ جنګ دَپاره بدرته اورسيدل.

د نبى كريم صلى الله عليه وسلم انصارو نه بار بار د مشورې غوښتلو وجه: بل خواه حضورپاك دَانصارونه دَهجرت نه وړاندې په ليلة عقبة كښې كومه معاهده كړې وه هغه داوه كه په حضورپاك باندې يوقوم په مدينه ښاركښې حمله كوى نوانصاربه دفاع كوى. خوكه حضورپاك دَمدينې نه بهربه چاپسې دَ جنګ دَپاره ځى نوانصاربه ورسره دَ تللوپابندنه وى. هم دَدې صورت حال په رڼاكښې حضورپاك باربار دَ انصارودَ سردارانونه مشوره اوغوښتله چه ستاسو رائې او مشوره څه ده. حضرت سعدبن معاذ رضي الله عنه زوردار تقريراوكړو اودَوفادارئى وعده ئى اوكړه په كوم چه حضورپاك ډيرزيات خوشحال شو اودَ جنګ ميدان ته وړاندې شو.

قوله: سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ:

اشكال اودهغې دفع: دلته دَسعدبن عباده رضي الله عنه نوم دې كيدې شى چانه هيره شوې وى ګنى په مشهوررو رواياتوكښې دَحضرت معاذ رضي الله عنه ذكردې ياكيدې شى چه دواړوداخبره كړې وى.

قوله: بَرْكِ الْغِمَادِ:

د برک الغماد په مصداق كښې درې اقوال: ①په حبشه كښې دَ يومقام نوم دې.

② په يمن كښې دَ يوښارنوم دې

③ ملاعلى قارى رحمه الله وائى دادواړه دَ لرې علاقونه كنايه ده يعنى چه دَدنيادَ كوټ دَپاره تاسو فرمايئى مونږ به ځو.

قوله: فَمَا مَاطَ:

د نبى عليه السلام د پيشنګوئى صداقت: يعنى په كوم ځائى كښې چه حضورپاك دكوم كافردَقتل كيدلو او پريوتلو ارشاد فرمائيلې ووهغه يوه ذره برابر اخواديخواشوى نه وى بلكه هم په هغه ځائى راپريوتلې مړشوې. په دې كښې معجزه ښكاره شوې.

[۵۸۷۲] د جنګ بدر په ورځ د نبی کریم ﷺ دعا

۵۸۷۲-(¹) [۵] ①«وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ وَهُوَ فِي قُبَّةٍ يَوْمَ بَدْرٍ: ② (اللّٰهُمَّ أَنْشُدُكَ عَهْدَكَ وَوَعْدَكَ، ③ اللّٰهُمَّ إِنْ تَشَأْ لَا تُعْبَدْ بَعْدَ الْيَوْمِ) ④ فَأَخَذَ أَبُو بَكْرٍ بِيَدِهِ فَقَالَ: ⑤ حَسْبُكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَلْحَحْتَ عَلَى رَبِّكَ، ⑥ فَخَرَجَ وَهُوَ يَثِبُ فِي الدِّرْعِ وَهُوَ يَقُولُ: ⑦ ﴿سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ﴾ [القمر: ۴۵]». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی رسول الله ﷺ د جنګ بدر په ورځ په خیمه کې دا دعا غوښتله ② اې الله! زه ستا نه ستا آمان غواړم او ستا د وعدې پوره کول غواړم ③ اې الله! که ته دا غواړې چې [دلته د دښمنانو په مقابله کې مسلمانان هلاک شي] نو په مخ د زمکې باندې به هیڅ مسلمان باقي پاتې نشي [او نن نه وروسته به ستا عبادت نه کېږي هرکله چې حضور ﷺ ډیرې عاجزۍ سره دا دعا غوښتله] ④ نو حضرت ابوبکر رضی الله عنه د حضور ﷺ لاس مبارك ونیولو هغه اوویل ⑤ یارسول الله! بس کړئ دومره دعا غوښتل کافي دی تاسو ډیر زارۍ سره خپل پروردګار نه د فتح او نصرت التجاء کړې ده ⑥ دې نه وروسته حضور ﷺ زغره اچولې وه او ډیرې خوشحالۍ نه په ډیرې تیزۍ سره د خپلې خیمې نه اووتلو او دا آیت چې هغه وخت نازل شوی وو حضور ﷺ اوچت اواز سره اوویلو: ⑦ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ د کفارو دا جماعت به شکست وخوري او دا بـه شاکولو سره تښتي دا روایت بخاري رحمه الله نقل کړی دی.

حل اللغات: - ① قُبَّةٍ: خیمه، څپر. ② أَنْشُدُكَ: أَيْ أَطْلُبُكَ وَأَسْأَلُكَ: غواړم ستانه، سوال کوم له تانه. ③ أَلْحَحْتَ: أَيْ بَالَغْتَ فِي السُّؤَالِ: په دعا کولو کښې دې ډیره مبالغه اوکړه، ډیر په ژړا او زارۍ مو سوال اوکړو ④ يَثِبُ: توپ وهل او وردانګلو سره راتلو ته وائي. أَيْ: يُسْرِعُ فَرَحًا وَنَشَاطًا: یعنی ډیره په خوشحالۍ سره په جلتۍ کښې اووتلو ⑤ الدِّرْعِ: زغره (یعني کفارو سره د جنګ په اراده ئې زغره اغوستې وه) ⑥ سَيُهْزَمُ: شکست او ماتې به خوري، ⑦ الْجَمْعُ: أَيْ: جَمْعُ الْكُفَّارِ: ډله د کافرانو

تسهیلات: **قوله: أَلْحَحْتَ:**

دالله تعالی په دربار کښې د نبی علیه السلام زاری کول: یعنی حضورپاك دَ خپل رب نه په غوښتو کښې ښه اصرار او مبالغه اوکړه داکافي دې حضورپاك چه کله اوکتل چه دَهغوی یوصحابی اوامتی ته دَ الله تعالی دَ امداد دَنزول شرح صدر اوشو نو یقیناً دَ الله تعالی امداد راؤرسیدو نوحضورپاك دَعریش نه بهر راغلو اودَ زیری آیت ئې واؤرولو اودَ معجزه ظهور اوشو

¹) اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسير/باب ما قيل في درع النبي صلى الله عليه وسلم، والقميص في الحرب (رقم-۲۹۱۵) واحمد في المسند: ۱/۳۲۹

قوله: فِي الدِّرْعِ:

نن صبا دَبدر میدان هم په دې مقام باندې يو جمات جوړشوي دې دکوم نوم چه مسجد العریش دې. حضورپاك خودَ يوخپر لاندې ناست وو هغه وخت نه جمات وو اونه چاردیواري وه. زه شاه فیصل په کال ۲۰۱۹ کښې دعمرې په موقع مقام بدر ته تللې ووم اوهلته هم دا جمات موجود دې.

[۵۸۷۳] په جنګ بدر کښې د جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ شرکت

۵۸۷۳-(١) [٦] ① وَعَنْهُ، «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ يَوْمَ بَدْرٍ: ② (هَذَا جِبْرِيلُ آخِذٌ بِرَأْسِ فَرَسِهِ، ③ عَلَيْهِ أَدَاةُ الْحَرْبِ»). رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روایت دی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جنګ بدر په ورځ وفرمایل ② داجبرائیل دی چې د خپل آس سر یعنی واګي نیولو سره جنګ د پاره مستعد ولاړ دی ③ او د جنګ سامان یې اخستی دی. (بخاري)

حل اللغات:- ① أَدَاةُ الْحَرْبِ: أَيْ آلَتُهُ: د جنګ سامان او وسله.

تسهیلات:

قوله: هَذَا جِبْرِيلُ:

دپه جنګ بدر کښې د فرشتو جنګیدل: په جنګ بدر کښې باقاعده دَ جنګیدلو دَپاره یو زر فرښتې دَ آسمان نه راکوزې شوې وې. پنځه سوا دَ جبرئیل او پنځه سوا دَ میکائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ په معیت اوکمان کښې وې

قوله: أَدَاةُ الْحَرْبِ:

سامان جنګ سره د جبریل راتلل: یعنی جبرئیل امین دَجنګ سامان اخستوسره ولاړ وو دَ حضورپاك حضرت جبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ کتل بیا دَ هغوی دَ امداددَپاره دَ زرو فرښتو راکوزیدل دَ معجزه ظهور دې.

[۵۸۷۴] دآسماني مدد مشاهده

۵۸۷۴-(٢) [٧] ① وَعَنْهُ، قَالَ: «بَيْنَمَا رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ يَوْمَئِذٍ يَشْتَدُّ فِي إِثْرِ رَجُلٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ أَمَامَهُ، ② إِذْ سَمِعَ ضَرْبَةً بِالسَّوْطِ فَوْقَهُ، ③ وَصَوْتُ الْفَارِسِ يَقُولُ: أَقْدِمْ حَيْزُومُ. ④ إِذْ نَظَرَ إِلَى الْمُشْرِكِ أَمَامَهُ خَرَّ مُسْتَلْقِيًا، ⑤ فَنَظَرَ إِلَيْهِ فَإِذَا هُوَ قَدْ خُطِمَ أَنْفُهُ وَشُقَّ وَجْهُهُ كَضَرْبَةِ السَّوْطِ، ⑥ فَاخْضَرَّ ذَلِكَ أَجْمَعُ، فَجَاءَ الْأَنْصَارِيُّ،

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا وايي د جنګ بدر په ورځ هرکله چې يومسلمان د يو مشرك تعاقب کولي چې په مخه تښتيدی ② نو اچانك هغه مسلمان په هغه مشرك د

[1]) اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب شهود الملائكة بدرا (رقم-٣٩٩٥)
[2]) اخرجه مسلم في كتاب الجهاد والسير/باب الإمداد بالملائكة في غزوة بدر. وإباحة الغنائم (رقم-٥٨ - (١٧٦٣)

راتلود چابُك اواز واوریدی [۳] بیا هغه د یوسوار اواز واوریدی چې دایي وئیل حَیزُوم اقدام کوه [۴] بیا دهغه مسلمان نظر خپل مخکې تښتیدونکی مشرك طرف ته لاړشی نو وي لیدل چې هغه په زمکه سم راغورځیدلی پروت دی [۵] هغه داهم ولیدل چې د هغه مشرك په پوزه باندې نښان لګیدلي وو او د هغه مخ پرې شوی وو چې د چابك د وهلو علامه وه [۶] یعنی څرنګه چې یوځاي په کانړی وغیره لګیدلو سره شین شی دغه شان د هغه د پوزې هغه حصه چې په هغه د چابك هغه ننبه په نظر راتله شین شوی وو نو هغه انصاري مسلمان چې د مذکوره مشرك مذکوره حال لیدلی وو حضور ﷺ ته چې راغې

حل اللغات:- ①يَشْتَدُّ: أَيْ: يُسْرِعُ وَيَعْدُو: په تیزئ اوپه منډه باندې تلل مراد دی. ②ضَرْبَةً: أَيْ: صَوْتَ ضَرْبَةٍ: ضرب وهلوته وائی دلته ترې دوهلو آواز مراد دې. ③السَّوْطِ: چابك او دَ لاس کوړې ته وائی ④أَقْدِمْ: بِمَعْنَى تَقَدَّمْ: یعنی وړاندې شه. ⑤حَيْزُومُ: وَهُوَ اسْمُ فَرَسِهِ: دَحضرت جبرائیل یا دَ بلې فرښتې دَ آس نوم حیزوم وو. ⑥خَرَّ: أَيْ سَقَطَ: راغورځیدلې وو. ⑦مُسْتَلْقِيًا: أَيْ عَلَى قَفَاهُ: نیغ په څټ طرف (پروت وو). ⑧خُطِمَ أَنْفُهُ: وَهُوَ الْأَثَرُ عَلَى الْأَنْفِ: دَ مخ ماتول او شلولو دَپاره خطم لفظ استعمالیږی (یعنی په پوزه ئې د چابک د وهلو نښان وو). ⑨شُقَّ: أَيْ: قُطِعَ، طُولًا: شلیدلې وو په اوږدوالی باندې. ⑩فَاخْضَرَّ: أَيْ أَخْضَرَ أَوْ أَسْوَدَ: تک شین شوې وو توروالی ته مائل وو. ⑪أَجْمَعُ: أَيْ: مَوْضِعُ الضَّرْبِ كُلُّهُ: یعنی په وهلو سره ئې پوره مخ تک شین اوتور شوې وو.

[۱] فَحَدَّثَ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: [۲] (صَدَقْتَ، ذَلِكَ مِنْ مَدَدِ السَّمَاءِ الثَّالِثَةِ) [۳] فَقَتَلُوا يَوْمَئِذٍ سَبْعِينَ وَأَسَرُوا سَبْعِينَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] نو داتوله واقعه یې ورته بیان کړله حضور ﷺ پوره واقعه اوریدو سره ورته وفرمایل [۲] ته ریښتیا وایې هغه فرښته چې هغه مشرک یې چابک سره هلاك کی د دریم آسمان د فوځې کومك فرښته وه [۳] د هغه ورځې په جنګ کې مسلمانانو اویا کافران قتل کړل او اویا یې ګرفتار کړي وه (مسلم)

حل اللغات:- ⑫مَدَدِ السَّمَاءِ: آسمان کومک (یعنی د دریم آسمان فوجی فرښته د مدد دپاره راغلې وه)

تسهیلات:

قوله: فَاخْضَرَّ ذَلِكَ أَجْمَعُ.

د فرښتې دلاسه د کافر قتل: چونکه دادَ فرښتې دَ لاس کوړه وه نودَهغې زهرژن اثرښکاره شوه. صدقت یعنی دَ صحابی کرامت دَحضورپاك په برکت سره وو لهذا دادَحضورپاك په حق کښې معجزه وه یاداسې اوګڼرئی چه دَ فرښتو نازلیدل دَحضورپاك دَ نبوت دَاثبات دَپاره معجزه وه په دې وجه داحدیث معجزات کښې راغلو.

[۵۸۷۵] داحد په جنګ کښې د فرښتو د مدد معجزه

۵۸۷۵ - ()«[۸] [۱] وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] رَأَيْتُ عَنْ يَمِينِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَعَنْ شِمَالِهِ يَوْمَ أُحُدٍ رَجُلَيْنِ، [۳] عَلَيْهِمَا ثِيَابٌ بِيضٌ، يُقَاتِلَانِ كَأَشَدِّ الْقِتَالِ، [۴] مَا رَأَيْتُهُمَا قَبْلُ وَلَا بَعْدُ يَعْنِي جِبْرِيلَ وَمِيكَائِيلَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه وايي [۲] ما د احد په جنګ کې د رسول الله ﷺ ښي او ګس طرف ته دوه سري وليدل چې هغوئ کې يو د رسول الله ﷺ ښي طرف ته او يو ګس طرف ته وو [۳] هغوی دواړو سپينې جامې اغوستې وې او دواړه ډير په شدت سره زمونږ د دښمنانو سره جنګيدل [۴] هغه دواړه نه ما مخکې چيرته ليدلي وو او نه مې د هغه نه وروسته چيرته وليدل دي نه ثابته شوه چې هغه دواړه دراصل فرښتې يعني حضرت جبرائيل او ميکائيل عليهما السلام وو. (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: كَأَشَدِّ الْقِتَالِ:

د سخت جنګيدو مطلب: فرښته چه کله دَ انسان په شکل کښې راځي نو بيا دَ انسان په صفاتو باندې متصف کيږي. په حديث کښې دَ سخت جنګيدو مطلب هم دغه دې چه دَ يو انسان په شان جنګيدلي ګنې دَ فرښتې اصلي طاقت خوداسې دې چه دَ قوم لوط کلي ئې آسمان ته اوچت کړل او په زمکه ئې راګذار کړل. دغه شان جبرائيل عليه السلام په قوم ثمود باندې يوه چغه اووهله په کومې سره چه ټول هلاک شو.

په انساني شکل کښې په فرشته کښې انساني صفات پيدا کيدل: بيا عجيبه خبره داده چه دَانسان په شکل کښې فرښته دَ انسان دَ حملې نشانه هم جوړيدې شي ځنګه چه حضرت موسی عليه السلام دَ فرښتې نه سترګه اوويستله. حضرت سعد رضي الله عنه ته کيدې شي چه رسول الله ﷺ پخپله خودلې وی چه دا دوه فرښتې جبرائيل اوميکائيل دی. بهرحال دَ فرښتو راتلل اودَ حضورپاك په حفاظت کښې دَ دفاع دَپاره جنګيدل دَمعجزه ظهوردې

[۵۸۷۶] د يوصحابي رضي الله عنه ماته پښه روغيدل

۵۸۷۶-()[۹] [۱] وَعَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «بَعَثَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَهْطًا إِلَى أَبِي رَافِعٍ، [۳] فَدَخَلَ عَلَيْهِ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَتِيكٍ بَيْتَهُ لَيْلًا وَهُوَ نَائِمٌ فَقَتَلَهُ، [۴] فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَتِيكٍ: فَوَضَعْتُ السَّيْفَ فِي بَطْنِهِ، [۵] حَتَّى أَخَذَ فِي ظَهْرِهِ، فَعَرَفْتُ أَنِّي قَتَلْتُهُ، [۶] فَجَعَلْتُ أَفْتَحُ الْأَبْوَابَ، حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى دَرَجَةٍ، [۷] فَوَضَعْتُ رِجْلِي فَوَقَعْتُ، فِي لَيْلَةٍ مُقْمِرَةٍ، [۸] فَانْكَسَرَتْ سَاقِي، فَعَصَبْتُهَا بِعِمَامَةٍ،

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب غزوة أحد (رقم-۴۰۴۵) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب فی قتال جبريل وميکائيل عن النبی صلى الله عليه وسلم يوم أحد (رقم-۴۶ - (۲۳۰۶)

[۲]) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسير/باب قتل المشرک النائم (رقم-۳۰۲۲)

ترجمه:① او حضرت براء رضي الله عنه وايي ② رسول الله ﷺ د صحابه وو يوجماعت ابو رافع يهودي طرف ته وليږي هركله چې هغه جماعت د هغه قلعه ته ورسيدى ③ نو يوصحابي عبد الله ابن عيتك رضي الله عنه شپې په وخت د ابورافع خوابگاه كې چې هغه اوده وو داخل شواو هغه يې قتل كى ④ عبد الله ابن عيتك رضي الله عنه بيان وكړو ما د ابورافع په خيټه توره كېښودله ⑤ ددي پورې چې هغه د شا دطرف نه بهر راووتله هركله چې زه پوهه شوم چې د هغه كار تول شوي دي ⑥ نو ما د قلعې دروازې خلاصول شروع كړل چې (د جماعت باقي خلق هم چې ما سره په دې مهم كې راغلي وه دننه رانتوخي او بيا) زه يوي پوړۍ ته ورسيدم ⑦ او په دي خيال چې مخكې زمكه ده څرنګه چې ماقدم كېښووى د سپوږمۍ خوره رڼا كې داسې راوغورځيدم ⑧ چې خما پنډۍ ماته شوه ماپه خپلي لنګوټۍ سره پنډۍ وتړله

حل اللغات:- ①رَهْطًا: مَا دُونَ الْعَشَرَةِ مِنَ الرِّجَالِ: د دريو نه واخله تر لسو پورې د سړو جماعت او ډلې ته رهط وائي ②دَرَجَةٍ: پاؤړۍ، د اندړيايه پاتكې، ③فَوَقَعْتُ: أَيْ سَقَطْتُ: زه اوغورځيدم (د اندړيايه نه) ④لَيْلَةٍ مُقْمِرَةٍ: أَيْ: مُضِيئَةٌ: د سپوږمۍ رڼائى شپه، ⑤فَعَصَبْتُهَا: أَيْ: شَدَدْتُهَا: اومې تړله خپله پنډۍ:

① فَانْطَلَقْتُ إِلَى أَصْحَابِي فَانْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَحَدَّثْتُهُ، ② فَقَالَ: (ابْسُطْ رِجْلَكَ). فَبَسَطْتُ رِجْلِي فَمَسَحَهَا، ③ فَكَأَنَّمَا لَمْ أَشْتَكِهَا قَطُّ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه:① او خپلو ملګروته ورسيدم چې د قلعه لاندې ولاړ وه بيا زه د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر شوم حضور ﷺ ته مې ټوله واقعه بيان كړه ② حضور ﷺ وفرمايل خپله پښه وغزوه ما خپله پښه وغزوله حضور ﷺ خما په پښه خپل لاس مبارك راتير كړو ③ نو هغه وخت خما پښه داسې روغه جوړه شوه لكه چې هغه ته څه تكليف نه وي رسيدلى (بخاري)

تسهيلات:

قوله: بَعَثَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَهْطًا إِلَى أَبِي رَافِعٍ:

ابو رافع د قتل پس منظر: په مدينه منوره كښې ابورافع يوخبيث يهودي وو لوئى سوداګر وو معاهد وو مګر هغه مسلمانانوسره معاهده ماته كړه اودَ اسلام او دَ مسلمانانو په بده وينا كولوكښې مصروف شو شرفسادئى خورولو دَمسلمانانو په بدئى كښې به ئې قصيدې وئيلې او په دغه قصيدو باندې به ئې مجلسونه ګرمول اوفتنې به ئې سازولې. دَ هغه كنيت ابوالحقيق وو ډير خراب باطن سړې وو. حضورپاك عبدالله بن عتيك رضي الله عنه دَهغه دَ قتل دَپاره اوليګلو. حضرت عبدالله رضي الله عنه په يوه بهانه سره قلعه كښې داخل شواوڅوكيدار چه چرته دَ قلعه چابيانې كيخودلې هغه ئې معلوم كړو اوبيائى چابيانې واخستې پورته بالاخانوته لاړو. اودَ ابورافع كمرې ته اورسيدو او په خوب ئې په هغه باندې

یوه حمله اوکړه چه ناکامه شو اوبیانې دویمه حمله اوکړه او ابورافع ئې قتل کړو. واپسئ کښې دَ پاؤړو نه راپریوتلو په کوم سره چه ئې یوه خپه ماته شوه. حضورپاك لـه راغلو حضورپاك دم کړو خپه ئې بالکل ټیك شوه اودَمعجزه ظهوراوشو

[۵۸۷۷] غزوه احزاب کښې دطعام زیاتیدل

۵۸۷۷-() [۱۰] ﴿۱﴾ «وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: إِنَّا يَوْمَ الْخَنْدَقِ نَحْفِرُ، ﴿۲﴾ فَعَرَضَتْ كُدْيَةٌ شَدِيدَةٌ، فَجَاءُوا النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالُوا: ﴿۳﴾ هَذِهِ كُدْيَةٌ عَرَضَتْ فِي الْخَنْدَقِ. فَقَالَ: (أَنَا نَازِلٌ). ﴿۴﴾ ثُمَّ قَامَ وَبَطْنُهُ مَعْصُوبٌ بِحَجَرٍ. ﴿۵﴾ وَلَبِثْنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ لَا نَذُوقُ ذَوَاقًا، ﴿۶﴾ فَأَخَذَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْمِعْوَلَ، ﴿۷﴾ فَضَرَبَ فَعَادَ كَثِيبًا أَهْيَلَ، ﴿۸﴾ فَانْكَفَأْتُ إِلَى امْرَأَتِي فَقُلْتُ: هَلْ عِنْدَكِ شَيْءٌ؟

ترجمه: ﴿۱﴾ او حضرت جابر رضی الله عنه وايي مونږ خلقو يعنې صحابه وو رضی الله عنهم د خندق په ورځ [يعنې د غزوه احزاب په موقع دښمنانو نه دحفاظت د پاره د مديني چاپيره] خندق ؤښكلي ﴿۲﴾ چې يوسخت كاني راوختی [چې په هيڅ شان نه ماتيدی صحابه وو رضی الله عنهم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت كې راغلل عرض يي وكړو چې د كيندلوپه ځاي كې يوسخت كاني راختلی دی] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل زه خپله په خندق كې خكته كيدو سره گورم ﴿۳﴾ نو حضور صلی الله علیه وسلم سمدستي را پاځيدو هغه وخت د لوږي نه د حضور صلی الله علیه وسلم په خيټه مباركه كاني ترلی وو ﴿۵﴾ او مونږ ټول خلق دريو ورځو نه په دي حال كې وو چې مونږ هيڅ نه وه خوړلي څه شی د څكلو هم نه وو ﴿۶﴾ حضور صلی الله علیه وسلم كُلنگ په لاس [گرز] مبارك كې واخستي ﴿۷﴾ اود خندق كندي ته خكته كيدو سره په كاني يې يوداسي سخت گذار وكی چې هغه كاني د بهيدلي ريگ په شان زره زره شو ﴿۸﴾ حضرت جابر رضی الله عنه وايي دي نه وروسته زه خپل كورته راغلم او خپلي ښځي سهيله بنت معوذ انصاريه رضی الله عنها نه مي پوښتنه وكړه آيا تا سره د خوراك څه شته.

حل اللغات:- ① نَحْفِرُ: مونږ كنستله زمكه. خندق مو كنستلو ② عَرَضَتْ: أَيْ: ظَهَرَتْ: رابـكاره شو، يعنې په پلنو مخې ته راغي او زمونږ په كاركښې ركاوټ شو ③ كُدْيَةٌ: أَيْ: قِطْعَةٌ: سخته زمكه، كانړي (چه نه ماتيدلو) ④ مَعْصُوبٌ: أَيْ: مَرْبُوطًا: ترلی شوی وو ⑤ لَا نَذُوقُ ذَوَاقًا: أَيْ مَأْكُولًا وَمَشْرُوبًا: فعال په معنى د مفعول سره دي. يعنې نه مو د خوراک څه شې خوړلي نه د څكاک ⑨- الْمِعْوَلَ: هُوَ الْحَدِيدَةُ يُنْقَرُ بِهَا الْجِبَالُ: د اوسپني يوه آله ده چه غرونه پري كنستلي شي په فارسئ كښې ورتـه كُلنـد وائي يعنې كوداله يا جبل ⑥ فَعَادَ: أَيْ: انْقَلَبَ وَصَارَ: نو شو دغه كانړي، ⑧ كَثِيبًا: أَيْ: رَمْلًا: ريزه ريزه، تكړې تكړې يعنې د شړې ډيرې ترې جوړ شو ⑨ أَهْيَلَ: أَيْ سَائِلًا: نرمه، بهيدلې يعنې بيخى ميده شوې. ⑩ فَانْكَفَأْتُ: أَيْ: انْقَلَبْتُ: راواپس شوم، راغلم كورته،

---

[1]) اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب غزوة الخندق وهي الأحزاب (رقم-۴۱۰۱)(رقم-۴۱۰۲) ومسلم في كتاب الأشربة/باب جواز استتباعه غيره إلى دار من يثق برضاه بذلك. وبتحققه تحققا تاما. واستحباب الاجتماع على الطعام (رقم-۱۴۱ - (۲۰۳۹)

... النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَمْصًا. شَدِيدًا، [۲] فَأَخْرَجَتْ جِرَابًا فِيهِ صَاعٌ مِنْ شَعِيرٍ [۳] وَلَنَا بُهَيْمَةٌ دَاجِنٌ فَذَبَحْتُهَا، وَطَحَنَتِ الشَّعِيرَ، [۴] حَتَّى جَعَلْنَا اللَّحْمَ فِي الْبُرْمَةِ، [۵] ثُمَّ جِئْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَسَارَرْتُهُ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ [٦] ذَبَحْنَا بُهَيْمَةً لَنَا، وَطَحَنْتُ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ، فَتَعَالَ أَنْتَ وَنَفَرٌ مَعَكَ، [۷] فَصَاحَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "يَا أَهْلَ الْخَنْدَقِ إِنَّ جَابِرًا صَنَعَ سُورًا فَحَيَّ هَلًا بِكُمْ"

ترجمه: [۱] ما رسول الله ﷺ باندې د لوږې سخت اثر ليدلى دى [۲] په دې اوريدو سره خما ښځې يوه تهيلى راوايستله په هغه کې تقريبًا درې نيم سيره اوربشې وې [۳] او زمونږ کره د بزې (چيلۍ) يا کورنۍ ميږې يو کوشنى شان بچى وو ما هغه بچى ذبح کى او خما ښځې وړه واغړل [۴] بيا ماغوښه په کټوۍ اچولو سره په نغري مې کيښودله [۵] بيا زه رسول الله ﷺ ته ورسيدم او پټ مې ورته عرض وکړو يارسول الله! [٦] مونږ د بزې چيلۍ يو کوشنى بچى ذبح کړى دى او خما ښځې تقريبًا درې نيم سيره اوربشې وړه کړې دې دغه شان څه خلقو د پاره خو ما طعام تيار کړى دى تاسو څو کسانو سره تشريف راوړى [۷] په دې اوريدو سره حضور ﷺ پورته اواز سره اعلان وکى خندق والاوو! راځئ جابر ؓ ستاسو د ميلمستيا د پاره طعام تيار کړى دى راځئ چې زر ور شو.

حل اللغات: - ⑪ خَمْصًا: أَيْ: أَثَرُ الْجُوعِ: لوږه يا د لوږې اثرات (مثلاً خيټه کيناستل يا بې دمه کيدل يا د مخ زيړوالې وغيره). ⑫ جِرَابًا: بوجۍ، تهيلۍ. ⑬ بُهَيْمَةٌ: دا د بَهْمَة تصغير دې. وَلَدُ الضَّأْنِ: يعنې د ګډې وروکى بچى ته وائى. ⑭ دَاجِنٌ: مَا أَلِفَ الْبَيْتَ: د کور ساتلې شوې چيلۍ وغيره ته داجن وائى ⑮ الْبُرْمَةِ: أَيِ الْقِدْرُ مِنَ الْحَجَرِ: خورينه کټوۍ (چه د کانړي يا خاورې نه جوړه وه يا مطلق کټوۍ ⑯ فَسَارَرْتُهُ: پټو خبرو کولو ته وائى پټه ئې ځکه اوساتله چه خوراک کم وو. ⑰ سُورًا: أَيْ ضِعَافَةً: د ميلمستيا طعام. يا فارسي يوقسم خوراک دې چه سور ورته وائى ⑱ فَحَيَّ هَلًا: أَيْ: أَسْرِعُوا بِنَفْسِكُمْ إِلَيْهِ: خپل ځان هلته زر اورسوئ.

[۱] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (لَا تُنْزِلُنَّ بُرْمَتَكُمْ وَلَا تَخْبِزُنَّ عَجِينَكُمْ حَتَّى أَجِيءَ). [۲] وَجَاءَ، فَأَخْرَجَتْ لَهُ عَجِينًا. فَبَصَقَ فِيهِ وَبَارَكَ، [۳] ثُمَّ عَمَدَ إِلَى بُرْمَتِنَا فَبَصَقَ وَبَارَكَ، [۴] ثُمَّ قَالَ: (ادْعُ خَابِزَةً فَلْتَخْبِزْ مَعَكِ، [۵] وَاقْدَحِي مِنْ بُرْمَتِكُمْ، وَلَا تُنْزِلُوهَا). [٦] وَهُمْ أَلْفٌ، فَأُقْسِمُ بِاللّٰهِ لَأَكَلُوا حَتَّى تَرَكُوهُ وَانْحَرَفُوا [۷] وَإِنَّ بُرْمَتَنَا لَتَغِطُّ كَمَا هِيَ، [۸] وَإِنَّ عَجِينَنَا لَيُخْبَزُ كَمَا هُوَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بيا حضور ﷺ ماته وفرمايل ته لاړ شه د طعام انتظام وکړه ليکن خپله کټوۍ د انغري نه مه خکته کوه او مه ډوډۍ پخوه د خوېورې چې زه رانشم [۲] بيا حضور ﷺ خپلو ټولو ملګرو سره زمونږ کره تشريف راوړى ما اغښلې وړه د حضور ﷺ مخکې کيښودل نورسول الله ﷺ په هغه کې لاړې مبارکې واچولې اود برکت دعا يې وکړه [۳] بيا دکټوۍ طرف ته رامخکې شو او په هغه کې د خپلې خولې مبارکې لعاب واچول او د برکت دعا يې وکړه [۴] دې نه وروسته حضور ﷺ خما ښځې ته وفرمايل چې روټۍ پخونکيه را وغواړه

چې تا سره روټۍ پخوي اوماته راکوي او [۵] په کاچوغي سره د کټوي نه سالن راباسه ليکن کټوي دې په نغري پرته وي [٦] حضرت جابر رضي الله عنه وايي هغه وخت خندق والا يو زر نفر وه چې د دريو ورځو اوږي وه او زه په الله تعالى قسم اخلم چې هغه ټولو هغه طعام په مړه خيټه وخوړلې [۷] ليکن طعام هم هغه شان پاتې شو هرکله چې ټول خلق لاړه نو کټوئ د غه شان په نغري پخيدله څرنګه چې مخکې وه [۸] او روټۍ هغه شان پخولی شوه څرنګه چې شروع کې وه. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ⑪ فَبَصَقَ: أي رَمَى بِالْبُزَاقِ فِيهِ: لاړې ئې پکښې واچولې، ⑫ وَاقْدَحِي: أي: اغْرِفِي: يعنى په څمڅئ سره ترکاری راوباسئ. ⑬ لَتَغِطُّ: أي: لَتَفُورُ وَتَغْلِيَ: دَ جوش وهلو په معنى کښې دې. يعنى کټوئ هم هغسې ډکه وه.

تسهيلات:

نوټ: د ګرانو ټکو تشريح په حل اللغات کښې شوې ده اوباقى د حديث مفهوم د حديث د تشريحى ترجمې څخه واضح دې.

[۵۸۷۸] د عمار ابن ياسر رضي الله عنه په باره کښې پيشن ګوئي او د هغې واقع کيدل

۵۸۷۸-(١)[٥] [١] وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، [٢] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ لِعَمَّارٍ حِينَ يَحْفِرُ الْخَنْدَقَ [٣] فَجَعَلَ يَمْسَحُ رَأْسَهُ وَيَقُولُ: [٤] (بُؤْسَ ابْنِ سُمَيَّةَ! تَقْتُلُكَ الْفِئَةُ الْبَاغِيَةُ)». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوقتاده رضي الله عنه نه روايت دى [٢] چې عمار ابن ياسر رضي الله عنه خندق ويستلي او رسول الله صلى الله عليه وسلم عمار ته اوفرمايل [٣] او رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه په سر لاس مبارك ګرځولو سره د هغه د سر نه يې خاوره ګرد څنډله او دايې فرمايل [٤] هاى د سميه دخوى عمار ابن ياسر رضي الله عنه سختې او مصيبته تا به د باغيانو يوه ډله قتل کوي. (مسلم)

حل اللغات:- ① بُؤْسَ: بؤس وبأس دَ سختئ شدت او مصيبت په معنى کښې دې. ② ابْنِ سُمَيَّةَ: حضرت سُميه رضي الله عنها دَ حضرت عمار رضي الله عنه دَ مورنوم دې چه دَ اسلام رومبئ شهيده ده. ③ الْفِئَةُ: أي: الْجَمَاعَةُ: ډله، فرقه. ④ الْبَاغِيَةُ: أي: الْخَارِجَةُ عَلَى إِمَامِ الْوَقْتِ: يعنى دَ وخت دَامام د اطاعت نه وتونکې او بغاوت کونکې فرقه.

تسهيلات:

قوله: الْفِئَةُ الْبَاغِيَةُ.

د فئه باغيه مصداق: يعنى دَ وخت دَامام په اطاعت سره وتونکې فرقه به تا قتل کوى دَ اطاعت نه وتونکې فرقه دَحضرت معاويه رضي الله عنه ملګرى دى دَحضرت على رضي الله عنه په لاس ئې بيعت نه ووکړې او بيا دَحضرت على رضي الله عنه په مخالفت کښې راپاسيدلې وو حضرت

[١]) اخرجه مسلم فى صحيح رقم الحديث ۷۰/ ۲۹۱۵ والترمذي فى السنن رقم الحديث ۳۸۰۰

عمار ﷺ حضرت علی ﷺ سره وو او دَ دغه مخالفینو په لاس شهید شو. حضرت علی ﷺ امام برحق وو او دَحضرت معاویه ﷺ نه اجتهادي غلطي شوي وه

دمشاجراتو صحابؤ باره کښې نظریه ساتل: دا دَمشاجرات صحابه معامله ده. کله چه الله تعالی زمونږ لاسونه دَ دغه نفوس قدسیه دَ وینونه محفوظ کړل نو په مونږ باندې فرض دی چه مونږ دَخپلو مسلمانانو رونړو په مینځ کښې کیدونکي دغه جنګ نه خپلې ژبې هم محفوظ اوساتو په جنګ جمل کښې نهه زره کسان مړه شوی وو. حضرت معاویه ﷺ الباغیة په الفاظو کښې څه تاویل کولو. ملا علی قاری ﷺ لیکلی دی دغه تاویلات نه دی نقل کول پکار. دَحضرت عمار ﷺ دَ شهادت دَدې پیشنګوئی په پوره کیدو باندې دَحضوپاك دَ معجزې ظهوراوشو.

[۵۸۷۹] دکافرانو د جنګ باره کښې پیشین ګوئي او د هغې واقع کیدل

۵۸۷۹-( ) [۳] ① وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حِينَ أَجْلَى الْأَحْزَابَ عَنْهُ: ③ (الْآنَ نَغْزُوهُمْ وَلَا يَغْزُونَا، نَحْنُ نَسِيرُ إِلَيْهِمْ)». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت سلیمان ابن صرد ﷺ وایې ② کوم وخت چې د غزوه احزاب نه د دښمنانو لښکر وتښتیدی او د مدیني منورې محاصره لرې شوه ③ نو رسول الله ﷺ وفرمایل اوس د دښمن په مونږ حمله نشي کولی هو مونږ به د هغوئ سره جهاد کوو او په هغوئ به لښکرکشي کوو. (بخاري)

حل اللغات:- ① أَجْلَى: أي: تفرّق وانكشف: لاړه، اوتختیده، ② الْأَحْزَابَ: غزوه خندق، د کافرانو ډلې ③ نَغْزُوهُمْ: أي: ابتداءً: تاسو به ورسره غزا کوئ (یعنی ابتداء او اقدام دجهاد به پرې تاسو کوئ) ④ نَسِيرُ: مونږ به ورځو. لښکر کشي به پرې کوو (جهاد به ورسره کوو او قتلوو به ئې)

تسهیلات:

قوله: قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حِينَ أَجْلَى الْأَحْزَابَ:

دجنګ احزاب وحشت: دَ ویرې ترهې په حواله سره غزوه خندق یعنی غزوه احزاب دَ ټولو نه زیات خطرناك جنګ وو لکه څنګه چه دَتنګئ او سختئ په حواله سره چه غزوه تبوك دَ ټولو نه زیات دَ مشقتونو والا غزوه وه

قوله: حِينَ أَجْلَى الْأَحْزَابَ عَنْهُ،

د حدیث پس منظر: په جنګ احزاب کښې دَ کافرانو مختلف قبائل رایوځائي شوی وو. دَ یوې میاشتې پورې دَ مدینې نه ګیره اچولې وه په آخره کښې کافران ناکامه شو واپس لاړل.

[۱] اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب غزوة الخندق وهي الأحزاب (رقم-۴۱۰۹) واحمد في المسند: ۲۶۲/۴

قوله: اَلْآنَ نَغْزُوهُمْ وَلَا يَغْزُونَنَا،

د نبی علیه السلام د پیشنګوئی صداقت: د "أجلي الاحزاب" مطلب هم دغه دي چه محاصره کله ختمه شوه او احزاب واپس لاړل نو حضور پاك پیشنګوئی وکړه چه بیا به په جزیرة العرب کښې په دې کافرانو باندې مونږ اقدام کوو اوس به دوی په مونږ باندې اقدام نه شی کولې خکه چه د هغوی طاقت مات شوې دې. چنانچه د حضور پاك فرمان ربنتیا ثابت شو او اقدام هم د مسلمانانو د طرف نه اوشو او د حضور پاك د معجزه ظهور اوشو په ټولو مسلمانانو باندې واضح کیدل پکار دی چه الله تعالی او د هغه رسول ﷺ په آخره کښې مسلمانانو ته د کافرانو خلاف د اقدام حکم ورکړې دې. لهذا د دفاعی جنګ معذرت خواهانه پوزیشن د دنیا په مخکښې نه دی پیش کول پکار. بل معجزې ته علم غیب وئیل د علم نه د لریوالی نتیجه ده.

[۵۸۸۰] جبرائیل علیہ السلام او د فرښتو د مدد معجزه

۵۸۸۰ – (۱)[۳] ① «وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "لَمَّا رَجَعَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنَ الْخَنْدَقِ ② وَوَضَعَ السِّلَاحَ وَاغْتَسَلَ ③ أَتَاهُ جِبْرِيلُ وَهُوَ يَنْفُضُ رَأْسَهُ مِنَ الْغُبَارِ، ④ فَقَالَ: (قَدْ وَضَعْتَ السِّلَاحَ؟ وَاللَّهِ مَا وَضَعْتُهُ، اخْرُجْ إِلَيْهِمْ) .⑤ فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (فَأَيْنَ) فَأَشَارَ إِلَى بَنِي قُرَيْظَةَ، ⑥ فَخَرَجَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَيْهِمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او د بي بي عائشي رضی الله عنها بیان دی رسول الله ﷺ د غزوه خندق نه واپس راغلو ② او د خپل جسم نه یې هتیار خکته کول او د غسل اراده یې کوله ③ چې حضرت جبرائیل علیہ السلام د حضور ﷺ په خدمت کې راغې داسې حال کې چې حضور ﷺ د خپل سر مبارك نه غزوه خندق کې ګرد وغبار څنډلې ④ او هغه ورته اوویل تاسو خو هتیار خکته کولو سره کینوی او قسم په الله مالا تر اوسه پورې هتیار نه دی خکته کړی څرنګه چې تاسو ما وینې راځئ اوس خو په کافرو باندې لښکر کشي کول دي ⑤ رسول الله ﷺ عرض وکړو چې چیرته؟ حضرت جبرائیل علیہ السلام بني قریظه طرف ته اشاره وکړله ⑥ نو حضور ﷺ فوراً مسلح کیدو سره د خپلو اصحابو رضی الله عنهم سره بني قریظه طرف ته روان شو چې هلته الله جل جلاله حضور ﷺ ته فتح عطا کړله (بخاري)

حل اللغات:- ① يَنْفُضُ: څنډلو یې (یعنی جبرئیل علیه السلام د خپل سر نه خاوري څنډلې).

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب مرجع النبی صلی الله علیه وسلم من الأحزاب. ومخرجه إلی بنی قریظة ومحاصرته إیاهم (رقم-٤١١٧) ومسلم فی کتاب الجهاد والسیر/باب جواز قتال من نقض العهد. وجواز إنزال أهل الحصن علی حکم حاکم عدل أهل للحکم (رقم-٦٥ - (١٧٦٩))

۵۸۸۱-()[۱]وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، «قَالَ أَنَسٌ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: [۲] كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى الْغُبَارِ [۳] سَاطِعًا فِي زُقَاقِ بَنِي غَنْمٍ مَوْكِبَ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ [۴] حِينَ سَارَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَى بَنِي قُرَيْظَةَ».

ترجمه:[۱] او د بخاري په يو حديث کې دحضرت انس رضی الله عنه نه دا الفاظ هم منقول دي [۲] چې ګويا زه هغه غبار ګرد اوس هم وينم [۳] چې د بنو غنم په کوڅو کې دحضرت جبرائيل علیه السلام سره د تلونکو سورو فرشتو د جماعت په سبب هغه وخت پورته کيدی [۴] کوم وخت چې حضور صلی الله علیه وسلم بنو قريظه طرف ته روان وو.

حل اللغات:- ①سَاطِعًا: أَيْ: مُرْتَفِعًا: پورته کيدلي، دوړې ختلې، ②زُقَاق: أي السِّكَّةُ: کوڅې، ③ بَنِيْ غَنْمٍ: أي قَبِيلَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ: د انصارو يوه قبيله ده. ④مَوْكِب: أي جَمَاعَةُ رُكَّابٍ يَسِيرُونَ بِرِفْقٍ: په اسونو د سورو شهسوارانو جنګيالو ډله (د جبرئيل عليه السلام او دهغه دملګرو فرشتو ډله)

تسهيلات:

قوله: أَتَاهُ جِبْرِيلُ:

دجبريل عليه السلام راتلل: يعنی دَ غزوه خندق دَ فارغيدونه پس حضورپاك وسله کوزه کړه اودَ غسل تياری شروع کړه چه په دې کښې جبرائيل علیه السلام راغلو او په دوړو او مسلح وو اووئی فرمائيل چه تاسو وسله کوزه کړه حالانکه فرښتې خولاتراوسه پورې مسلح دی؟ دَ فرښتوراتلل اومسلح کيدل اودَ حضورپاك امداد کول دادَمعجزه ظهوروو دَ غسل مطلب دانه دې چه حضورپاك غسل کړې وو بلکه دَغسل تياری کوله چه جبرائيل علیه السلام راغلو

[۵۸۸۲]ګوتو مبارکو څخه داوبو وتلو معجزه

۵۸۸۲-()[۲][۱]«وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: عَطِشَ النَّاسُ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ [۲] وَرَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَيْنَ يَدَيْهِ رَكْوَةٌ فَتَوَضَّأَ مِنْهَا، [۳] ثُمَّ أَقْبَلَ النَّاسُ نَحْوَهُ، قَالُوا: [۴] لَيْسَ عِنْدَنَا مَاءٌ نَتَوَضَّأُ بِهِ وَنَشْرَبُ إِلَّا مَا فِي رَكْوَتِكَ، [۵] فَوَضَعَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَدَهُ فِي الرَّكْوَةِ، فَجَعَلَ الْمَاءُ يَفُورُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِهِ كَأَمْثَالِ الْعُيُونِ، [۶] قَالَ: فَشَرِبْنَا وَتَوَضَّأْنَا. [۷] قِيلَ لِجَابِرٍ: كَمْ كُنْتُمْ؟ [۸] قَالَ: لَوْ كُنَّا مِائَةَ أَلْفٍ لَكَفَانَا، كُنَّا خَمْسَ عَشْرَةَ مِائَةً». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] او حضرت جابر رضی الله عنه وايي مقام حديبيه کې يوه ورځ داسې وشوه چې د اوبو د شديد قلت په سبب خلق سخت تږي شول [۲] هغه وخت حضور صلی الله علیه وسلم سره يوه لوټه وه هغه نه حضور صلی الله علیه وسلم اودس وکړ او په هغه کې څه لږ اوبه پاتې شوي [۳] خلق د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضريدو سره عرض يې وکړو [۴] چې په لښکر کې دڅکلو او اودس کولو د پاره اوبه

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب مرجع النبي صلى الله عليه وسلم من الأحزاب، ومخرجه إلى بني قريظة ومحاصرته إياهم (رقم-۴۱۱۸) واحمد في المسند: ۲۱۳/۳

[۲]) اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب غزوة الحديبية (رقم-۴۱۵۲) ومسلم في كتاب الإمارة/باب استحباب مبايعة الإمام الجيش عند إرادة القتال، وبيان بيعة الرضوان تحت الشجرة (رقم-۷۳ - (۱۸۵۶)) واحمد في المسند: ۳۲۹/۳

بالكل نشته بس هغه څه لږ اوبه دي چې ستاسو نه په لوته کې پاتې شوي دي [اوبنکاره ده چې په دي سره د ټولو خلقو کار نه کېږي] ⑤ حضور ﷺ په دې اوریدو سره خپل لاس مبارك هغه لوته کې دننه کې نو د حضور ﷺ د ګوتو مبارکو نه اوبه داسې جاري شوي لکه دچشمې نه چې جاري شوي وي ⑥ د حضرت جابر ؓ بیان دی مونږ ټولو اوبه ښه وڅکلي او اودس مو وکی ⑦ د حضرت جابر ؓ نه پوښتنه وشوه په هغه موقع تاسو څومره کسان وئ ⑧ هغه اوویل که مونږ یولاك کسان وي نو هم هغه اوبه کافي کیدی هسې هغه وخت زمونږ تعداد پنځلس سوه وو. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① رَكْوَة: أي: ظَرْفُ مَاءٍ: د اوبولوښی ته رکوه اوونیلي شو که هغه لوټا وی او که مشکیزه وی ② يَفُورُ: فوارې رواني شوې، اوبه راخوټکیدلې جاری شوې.

تسهيلات:

نوټ: د دې حدیث تشریح په راروان حدیث نمبر (۵۸۸۳) کښې اوګورئ.

[۵۸۸۳] د لیاړو په برکت وچ کوهي د اوبو ډکه کېدل

۵۸۸۳-() [۵] ① «وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَرْبَعَ عَشْرَةَ مِائَةً يَوْمَ حُدَيْبِيَةَ - ② وَالْحُدَيْبِيَةُ بِئْرٌ - فَنَزَحْنَاهَا، فَلَمْ نَتْرُكْ فِيهَا قَطْرَةً، ③ فَبَلَغَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأَتَاهَا، فَجَلَسَ عَلَى شَفِيرِهَا، ④ ثُمَّ دَعَا بِإِنَاءٍ مِنْ مَاءٍ، فَتَوَضَّأَ، ⑤ ثُمَّ مَضْمَضَ، وَدَعَا ثُمَّ صَبَّهُ فِيهَا، ⑥ ثُمَّ قَالَ: (دَعُوهَا سَاعَةً) ⑦ فَأَرْوَوْا أَنْفُسَهُمْ وَرِكَابَهُمْ حَتَّى ارْتَحَلُوا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت براء ابن عازب ؓ وایي په حدیبیه کې رسول الله ﷺ سره مونږ څوارلس سوه افراد وو ② په حدیبیه کې یوکوهي وو چې د هغه اوبه مونږ ټولو راایستلو سره استعمال کړي وي او په هغه کې یوه قطره اوبه نه وي پاتې شوي ③ رسول الله ﷺ ته چې معلومه شوه [چې کوهي وچ شوي دي او د اوبو ختمیدلو په وجه د لښکر ټول خلق پریشانه دي] نو رسول الله ﷺ کوهي ته تشریف راوړی او د هغه په غاړه کینا ستې ④ بیا حضور ﷺ د اودس د اوبو لوښي غوښتلو سره اودس وکی ⑤ اودس نه وروسته خوله مبارکه کې اوبه واخستې او دعایې وکړله دي نه وروسته حضور ﷺ هغه آب دهن کوهي کې واچولې ⑥ او وې فرمایل یوساعت د پاره کوهي پریږدئ ⑦ بیا [یوساعت نه وروسته په کوهي کې دومره اوبه جمع شوي چې] ټول لښکر والاو خپله هم وڅکلي د هغوئ څاروي هم ښه سیراب شوه او د هغه ځای نه کوچ کولو پورې هغه کوهي نه یې اوبه اخستلې (بخاري)

حل اللغات:- ① فَنَزَحْنَاهَا: أي: نَزَعْنَا مَاءَهَا: ټولې اوبه مو ترې راویستلې ② شَفِيرِهَا: أي: طَرَفُهَا: دونګاچې او دکوهی غاړې یا منډیر ته وائی ③ مَضْمَضَ: خوله مبارکه کښې ئې اوبه واچولې ④ صَبَّهُ: أي: مَجَّهُ: وائې چولې (یعنی دخولې مبارکې نه ئې اوبه کوهی ته اوغورځولې) ⑤ دَعُوهَا: أي:

[1]) اخرجه البخاري فى كتاب المغازى/باب غزوة الحديبية (رقم-۴۱۵۱)

اتْرُكُوهَا: پريږدئ دا كوهي، ⑥ سَاعَةً: أي الْمُدَّةُ الْقَلِيلَةُ: لږوخت، ⑦ فَأَرْوَوْا: أي: اسْقَوْا سَقْيًا كَامِلًا: ښه ډيري ني اوڅكلې، ښه سيراب شول ⑧ ارْتَحَلُوا: أي: سَافَرُوا: واپس شو، كوچ ني اوكړو.

تسهيلات: قوله: شَفِيرِ:

د صلح حديبيه د شركاء په تعداد كښې تعارض: په دې حديث كښې دَ څوارلسو سوو دَتعداد ذكر دې خو دَ دې نه مخكښې حديث كښې دَ پنځلسو سوو ذكر دې اودغه شان راتلونكې روايت كښې دَ څلويښتو سوو ذكر دې نو په ظاهره په دې احاديثو كښې تعارض دې؟ نو دَدې مختلف جوابونه وركړې شوي دي.

د اشكال درې جوابونه: ① بعضې حضراتو وئيلي دي چه اصل تعداد دَ څوارلسو سوو نه زيات او دَ پنځلسو سوو نه كم وو. كوم راوي چه كسر شميركولو سره بيان كړې دې هغه دَ پنځلسو سوو بيان كړې دې او چا چه كسر حذف كړې دې هغه څوارلس سوه ذكر كړي دي.

② اهل حديبيه په مختلف ډلو مشتمل وو. داسې به كيدل چه دَ اوبو دَ پاره به څه ډلې راتلې نو څه ډلې به اوبه اوړلو سره تللې. په دې صورت كښې به كله مجموعي تعداد پنځلس سوه كيدو نو كتونكې دَ پنځلسو سوو ذكر اوكړو او څه وخت به څوارلس سوه كيدو نو هغه راوي څوارلس سوه ذكر كړل. لكه چه دا دَ راويانو په مختلف احوالو باندې محمول دي.

③ هر يو راوي يقيني تعداد نه دې بيان كړې بلكه خپله خپله اندازه او تخمينه ئې لګولې ده. (التعليق الصبيح: ۷/۲۷۴).

قوله ثُمَّ قَالَ دَعُوهَا سَاعَةً:

د بلې معجزې ظهور: دَدې مطلب دادې چه زما توكانړې كوهي كښې پريوتو سره فوري دَ كوهي نه اوبه راويستل مه شروع كوئې بلكه څه وخته پورې حصار شئ چه تبرك خپل اثر پوره كړي او كوهې ډك شي بيا اوبه راوباسئ. په دې حديث كښې دَ يوې بلې معجزې ذكر كړې شوې دې كومه چه دَ ترجمې نه واضح ده

[۵۸۸۴] په اوبو كښې د بركت معجزه

۵۸۸۴-(¹) [۱۱] ① وَعَنْ عَوْفٍ، عَنْ أَبِي رَجَاءٍ، «عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ، قَالَ: ② كُنَّا فِي سَفَرٍ مَعَ النَّبِيِّ فَاشْتَكَى إِلَيْهِ النَّاسُ مِنَ الْعَطَشِ، ③ فَنَزَلَ، فَدَعَا فُلَانًا - كَانَ يُسَمِّيهِ أَبُو رَجَاءٍ وَنَسِيَهُ عَوْفٌ - ④ وَدَعَا عَلِيًّا، فَقَالَ: (اذْهَبَا فَابْتَغِيَا الْمَاءَ). ⑤ فَانْطَلَقَا، فَتَلَقَّيَا امْرَأَةً بَيْنَ مَزَادَتَيْنِ أَوْ سَطِيحَتَيْنِ مِنْ مَاءٍ. ⑥ فَجَاءَا بِهَا إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَاسْتَنْزَلُوهَا عَنْ بَعِيرِهَا،

¹) اخرجه البخاري في كتاب التيمم/باب: الصعيد الطيب وضوء المسلم، يكفيه من الماء(رقم-٣٤٤) ومسلم في كتاب المساجد/باب قضاء الصلاة الفائتة، واستحباب تعجيل قضائها (رقم-٣١٢ - (٦٨٢)

ترجمه: [۱] او حضرت عوف تابعي رحمه الله د حضرت ابورجاء تابعي نه او هغه د حضرت عمران ابن حصين صحابي نه روايت كوي حضرت عمران بيان وكړو [۲] په يو سفر كې مونږ څه صحابه رضي الله عنهم رسول الله ﷺ سره وو په يوه موقع خلقود اوبو نه كيدو په سبب حضور ﷺ ته د تندې شكايت وكړ [۳] په دې اوريدو سره حضور ﷺ راكوزشو او فلانى سړى يې راوبللو د هغه فلاني سړي نوم ابورجاء خو بيان كړى وو ليكن هغه نه وروسته راوي عوف نه د هغه سړي نوم هير شو [څكه هغه هغه سړي په لفظ فلان سره تعبير وكړ] [۴] او حضور ﷺ حضرت علي رضي الله عنه هم طلب كړ او دوادړو ته يې حكم وكړ چې لاړشئ اوبه تلاش كړئ [۵] نو هغه سړي او حضرت علي دواړه د اوبو تلاش كې اخواديخواوګرځيدل هغوئ يوخاي كې يوه ښځه وليده چې په اوښ باندې زوړند دوو مشكيزو په منځ كې ناسته وه يا داچې د اوبو دوو سطيحو په منځ كې ناسته وه [۶] دواړو حضراتو هغه ښځه د هغه مشكيزو سره رسول الله ﷺ ته راوسته بيا هغه ښځه څرنګه چې بعضې حضراتو ويلې دې د هغې مشكيزې يې د اوښ نه خكته كړئ.

حل اللغات:- ①الْعَطَشِ: تنده، ②مَزَادَتَيْنِ: دَ توښې كيخودلو لوښى ته وائى دلته مشكيزه مراد ده.مزادة غتې مشكيزې ته وائى. ③سَطِيحَتَيْنِ: دا هم مشكيزه ته وائى په كومه چه دَ څرمن لاتدې باندې دوه مخونه وى. سطيحة ورې مشكيزې ته وائى. ④-فَاسْتَنْزَلُوهَا: أَيْ: طَلَبُوا مِنْهَا أَنْ تَنْزِلَ عَنِ الْبَعِيرِ: دهغې ښځې نه ئې مطالبه اوكړه چه د اوښ نه ښكته كوزه شى. په دې معنى سره ها ضمير المرأة ته راجع دې په دويمه معنى كښې ضمير الْمَزَادَةِ ته راګرځى.

> [۱] وَدَعَا النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِإِنَاءٍ، [۲] فَفَرَّغَ فِيهِ مِنْ أَفْوَاهِ الْمَزَادَتَيْنِ وَنُودِيَ فِي النَّاسِ: اسْقُوا، [۳] فَاسْتَقَوْا قَالَ: فَشَرِبْنَا عِطَاشًا أَرْبَعِينَ رَجُلًا، حَتَّى رَوِينَا، [۴] فَمَلَأْنَا كُلَّ قِرْبَةٍ مَعَنَا وَإِدَاوَةٍ، [۵] وَايْمُ اللَّهِ لَقَدْ أُقْلِعَ عَنْهَا [۶] وَإِنَّهُ لَيُخَيَّلُ إِلَيْنَا أَنَّهَا أَشَدُّ مِنْهَا حِينَ ابْتَدَأَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] رسول الله ﷺ يولوښي را وغوښتلو [۲] او په هغه كې د دواړو مشكيزو د خلو نه د اوبو اچولو حكم وكړ او بيا خلقو ته اواز وشو چې راځئ اوبه اوڅكئ [او د خپل خپل ضرورت مطابق واخلئ] [۳] نو ټولو خلقو اوبه وڅكلې [او خپل خپل لوښي يې هم په ښه شان ډك كړل] حضرت عمران رضي الله عنه وايي هغه وخت مونږ خلق څلويښت كسان وو چې سخت تږي وو مونږ ټولو د هغه لوښي نه ښه په مړه خيټه اوبه وڅكلې [۴] او خپل خپل مشكونه او ښكان چې زمونږ سره وه هغه مو ډك كړه [۵] قسم په الله هركله چې مونږ اوبه اخستو اخستو سره هغه مشكيزې نه لرې شو [۶] نو مونږ محسوسه كړه چې مشكيزه د مخكې نه زياته ډكه وه (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ⑤فَفَرَّغَ: أَيْ: صَبَّ: راواړې رولې، ⑥رَوِينَا: په مړه خيټه مو اوبه اوڅكلې، ښه خړوب شو تنده مو ماته شوه. ⑦وَايْمُ اللَّهِ: په الله قسم! ⑧أُقْلِعَ: أَيْ: انْكَفَتِ الْجَمَاعَةُ: اخوا شو، جدا شو صحابه كرام، ⑨لَيُخَيَّلُ: أَيْ: لَيُشَبَّهُ: مونږه محسوسه كړه.

تسهیلات:

قوله: فَتَلَقَّيَا امْرَأَةً بَيْنَ مَزَادَتَيْنِ أَوْسَطِيحَتَيْنِ مِنْ مَاءٍ،

د مشکیزې څخه د ځلوېښتو کسانو او به ځکل؛ دلته د الفاظو په اداکولو کښې راوی ته شك شوي دي د هغه ښځې قصه په بخاری او مسلم شریف کښې ډیره اوږده ده مګر دلته مختصر ذکر کړې شوي ده د هغې د مشکیزې نه ۴۰ صحابه کرامو اوبه اوڅکلې اوډیرزیات لوښی تري هم ډك کړل مګر په اوبو کښې کمې رانغلو بلکه د معجزه په ظهور سره اوبو کښې زیاتوالي اوشو.

[۵۸۸۵] د ونو د اطاعت معجزه

۵۸۸۵-()[۱۷]۞«وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سِرْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حَتَّى نَزَلْنَا وَادِيًا أَفْيَحَ۞ فَذَهَبَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقْضِي حَاجَتَهُ،۞ فَلَمْ يَرَ شَيْئًا يَسْتَتِرُ بِهِ،۞ وَإِذَا شَجَرَتَيْنِ بِشَاطِئِ الْوَادِي،۞ فَانْطَلَقَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِلَى إِحْدَاهُمَا فَأَخَذَ بِغُصْنٍ مِنْ أَغْصَانِهَا فَقَالَ:۞ (انْقَادِي عَلَيَّ بِإِذْنِ اللَّهِ)۞ فَانْقَادَتْ مَعَهُ كَالْبَعِيرِ الْمَخْشُوشِ الَّذِي يُصَانِعُ قَائِدَهُ،

ترجمه:۞ او حضرت جابر ﷺ وایي یووار مونږ درسول الله ﷺ سره سفر کوی یوخاي ته رسیدو سره یو وسیع وعریض میدان کښې خکته شو۞ او رسول الله ﷺ قضائي حاجت د پاره تشریف یووړلو۞ هلته حضور ﷺ ته د پانوغونډي وغیره په شان څه شی په نظر رانغلی چې د هغه په پناه کښې حضور ﷺ د خلقو د نظر نه پټیدو سره قضائي حاجت د پاره کیني ۞ اچانك د حضور ﷺ نظر په دوو ونو باندې راغي چې د میدان په غاړه ولاړې وې ۞ رسول الله ﷺ په هغه کښې یوې ونې ته ورسیدی او د هغه یوه څانګه نیولو سره یې وفرمایل ۞ د الله ﷺ په حکم سره پناه جوړولو د پاره څما اطاعت وکړه ۞ په دې اوریدو سره هغه و نه د حضور ﷺ مخې ته په زمکه داسې راټیټه شوه لکه مهار لګیدلی اوښ چې د خپل شړونکي اطاعت کوي

حل اللغات:- ①أَفْيَحَ: أَيْ: وَاسِعًا: وسیع وادئ ته وائی ②بِشَاطِئِ: أَيْ: بِطَرَفِهِ: په غاره، په طرف. ③انْقَادِي عَلَيَّ: زما اطاعت اوکړه، یعنی په ما راټیټه شه چه پرده مې اوشي ④الْمَخْشُوشِ: وَهُوَ عُوَيْدَةٌ تُجْعَلُ فِي أَنْفِ الْبَعِيرِ: هغه وړوکی شان لرګي چه د اوښ په پوزه کښې لګوی دې د پاره چه هغه حکم منونکې وی اوراښکل نې آسان وی دپیزوان اچونکی اوښ سره تشبیه ورکړې شوې ده ⑤يُصَانِعُ: د اطاعت په معنی کښې دې أَيْ: يَنْقَادُلَهُ وَيُرَافِقُهُ: چه د هغه تابع وی ⑥قَائِدَهُ: اوښ راښکونکی ته قائدوائی

۞ حَتَّى أَتَى الشَّجَرَةَ الْأُخْرَى فَأَخَذَ بِغُصْنٍ مِنْ أَغْصَانِهَا،۞ فَقَالَ: (انْقَادِي عَلَيَّ بِإِذْنِ اللَّهِ). فَانْقَادَتْ مَعَهُ كَذَلِكَ،۞ حَتَّى إِذَا كَانَ بِالْمَنْصَفِ مِمَّا بَيْنَهُمَا قَالَ:۞ (الْتَئِمَا عَلَيَّ بِإِذْنِ اللَّهِ). فَالْتَأَمَتَا،۞ فَجَلَسْتُ أُحَدِّثُ

[1] اخرجه مسلم فی کتاب الزهد والرقائق/باب حدیث جابر الطویل وقصة أبی الیسر (رقم-(۳۰۱۲)

نَفْسِي، فَحَانَتْ مِنِّي لَفْتَةٌ، ⑥ فَإِذَا بِرَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مُقْبِلًا، ⑦ وَإِذَا الشَّجَرَتَيْنِ قَدِ افْتَرَقَتَا، ⑧ فَقَامَتْ كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا عَلَى سَاقٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① بیا حضور ﷺ دویمې ونې ته ورسیدی او د هغه یوه څانګه نیولو سره یې وفرمایل ② د الله ﷻ په حکم سره ځما اطاعت وکړه د مخکې ونې په شان دې ونې هم فورًا اطاعت وکړو [او په زمکه راکوزشوه] ③ دې نه رسول الله ﷺ د هغه دواړو و نو د درمیانې فاصلې منځ ته رسیدو سره وفرمایل ④ اوس تاسو دواړې د الله ﷻ په حکم سره د یوبل ته نژدې راتلو سره خپلو کې داسې یوځاي شئ چې زه ستاسو لاندې پټ شم نو هغه دواړې ونې یوځاي شوې [او حضور ﷺ د هغه دواړو و نو پناه کې قضائي حاجت نه فارغه شو] ⑤ حضرت جابر ﷺ وایي زه دا واقعه لیدو سره حیران وم او دې عجیبه غریبه کرشمې متعلق مې په خپل زړه کې خبرې کولې [یعنې د الله ﷻ په قدرت کې غور وفکر کولو سره سوچ مې کولو چې الله ﷻ د خپل محبوب نبي په ذریعه داڅرنګه معجزه ښکاره کړه یا داچې دې واقعې نه جدا زه په خپل شوچ کښې غرق پروت وم] ⑥ چې اچانك [ځما نظر یو طرف ته پورته شو نو] رسول الله ﷺ مې تشریف راوړلو سره اولیدلو ⑦ او چې ګورم چې هغه دواړه ونې یوې بلې نه جدا کیدو سره په خپل خپل ځاي ولاړې دې. (مسلم)

حل اللغات:- ⑤ بِالْمَنْصَفِ: مینځ اوبیخ ته وائی. أي نِصْفُ الطَّرِيقِ: یعنې د لارې مینځ، ⑧ الْتَأَمَا: أَيْ: تَقَارَبَا: رانزدې شې، یوځاي شئ دواړه، ⑨ فَحَانَتْ: أَيْ: فَظَهَرَتْ: صادر شو واقع شو ⑩ لَفْتَةٌ: ناڅاپه نظر، کتل.

تسهیلات: نوټ: د ګرانوټکووضاحت په حل اللغات کښې اوشو اوحدیث مفهوم د تشریحی ترجمې ځخه واضح دې.

[۵۸۸۶] زخم ځخه دشفا ملاویدو معجزه

۵۸۸۶ - (¹) [۸] ① «وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ، قَالَ: رَأَيْتُ أَثَرَ ضَرْبَةٍ فِي سَاقِ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ② فَقُلْتُ: يَا أَبَا مُسْلِمٍ مَا هٰذِهِ الضَّرْبَةُ؟ ③ قَالَ: ضَرْبَةٌ أَصَابَتْنِي يَوْمَ خَيْبَرَ فَقَالَ النَّاسُ: ④ أُصِيبَ سَلَمَةُ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَنَفَثَ فِيهِ ثَلَاثَ نَفَثَاتٍ ⑤ فَمَا اشْتَكَيْتُهَا حَتَّى السَّاعَةِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① اوحضرت ابن ابي عبید تابعي وایي یوه ورځ ما دحضرت سلمه ابن اکوع پنډې باندې دزخم نښه ولیده ② نو دهغه نه مې پوښتنه وکړه چې اې ابومسلم دزخم دا څرنګه نښه ده ③ هغه اوویل دازخم دخیبرپه جنګ کښې راغلی ؤو اوزخم هم دومره سخت ؤو چې خلقو کښې مشهوره شوه ④ چې سلمه په کار راغلی [یعنې دزخم تاب نه راوړلو سره شهید شو لیکن وشوه داسې] چې زه دې زخم سره دنبي کریم ﷺ په خدمت کښې ورسیدم حضور ﷺ دازخم درې ځله دم کړلې ⑤ اودهغه ته برکته زخم یودم داسې ښه شو چې بیاتر اوسه

¹) اخرجه البخاري فی کتاب المغازی/باب غزوة خیبر (رقم-۴۲۰۶) کتاب الطب/باب کیف الرقی (رقم-۳۸۹۴)

پورې ددې نه ماته هیڅ تکلیف نه دی شوی. (بخاري)

حل اللغات:- ① أَثَرُضَرْبَةٍ: د وهلو د زخم اثر. ② نَفَثَ: دم ئې کړو، ③ مَا اشْتَكَيْتُهَا: ما دهغې نه تر اوسه پورې څه فریاد اوشکایت نه دی کړې یعنی څه تکلیف مې نه دی محسوس کړې.

[۵۸۸۷] دنادیده واقعې خبر ورکولو واقعه

۵۸۸۷-() [۴] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «نَعَى النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - زَيْدًا وَجَعْفَرًا وَابْنَ رَوَاحَةَ لِلنَّاسِ قَبْلَ أَنْ يَأْتِيَهُمْ خَبَرُهُمْ فَقَالَ: [۳] (أَخَذَ الرَّايَةَ زَيْدٌ فَأُصِيبَ، [۴] ثُمَّ أَخَذَ جَعْفَرٌ فَأُصِيبَ، [۵] ثُمَّ أَخَذَ ابْنُ رَوَاحَةَ فَأُصِيبَ - [۶] وَعَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ - حَتَّى أَخَذَ الرَّايَةَ سَيْفٌ مِنْ سُيُوفِ اللَّهِ - [۷] يَعْنِي خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ - حَتَّى فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ)». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] اوحضرت انس ﷺ وایي [۲] نبی کریم ﷺ دزید ﷺ جعفر ﷺ اوابن رواحه ﷺ دشهادت حال ددې درې واړو باره کښې دخبر راتلوڅخه مخکې خلقوته اوروليؤو [۳] چې زید ﷺ جنډه اوچت کړې اوهغه شهید شو [۴] بیاجعفر ﷺ جنډه اوچت کړې اوهغه هم شهید شو [۵] بیاابن رواحه ﷺ جنډه واخستې اوهغه هم شهید شو [۶] حضور ﷺ دابیان کوی اودهغه شهداؤ په غم کښې دسترګوڅخه اوښکې جاري وې بیاحضور ﷺ وفرمایل آخرهغه سرې جنډه واخستې چې دالله دتوروڅخه یوه توره ده [۷] حضرت انس ﷺ یاوروسته دیوراوي بیان دی چې هغه نه دحضور ﷺ مراد دخالد ابن ولید ﷺ ذات ؤ ددې پورې چې الله تعالی مسلمانانو ته فتح عطاء کړله. (بخاري)

حل اللغات:- ① نَعَى: دَ چا دَ مرګ خبر کول او خبر ورکولوته نعی وائی ② تَذْرِفَانِ: أَيْ تَسِيلَانِ دَمْعًا: اوښکې ئې بهیولې، ژړل ئې.

تسهیلات:

قوله: نَعَى النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - زَيْدًا وَجَعْفَرًا.. الخ:

د حدیث پس منظر او غزوه موته: داقصه غزوه موته سره متعلق ده دَ شام په زمکه باندې موته دَ یوځائی نوم دې. په دې مقام باندې په ۸ هجری کښې یوزبردست جنګ شوې وو دَ دریو زرو صحابه کرامو دَ دریو لاکهو نه زیاتو رومیانوسره مقابله شوې وه حضورپاك پخپله په مدینه کښې وو مګر دَ معجزه دَ ظهور په توګه الله تعالی دَ میدان جنګ نه حجابات اخواکړل او حضورپاك منبرشریف باندې کیناستوسره میدان کتلو.

د درې صحابؤ د شهادت خبر ورکول: حضورپاك په ترتیب سره حضرت زید ﷺ حضرت جعفر ﷺ او حضرت عبدالله بن رواحه ﷺ امیران جوړکړې وو. دا دریواړه شهیدان شو نو دې نه پس حضرت خالدبن ولید ﷺ جنګی کمان لاس کښې واخستو اوفتح حاصلولو سره واپس راغلو. فتح داسې چه دکافرانودَ ګیرې نه مسلمانان بچ اووتل او کافران شاته شو.

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب غزوة مؤتة من ارض الشام (رقم-۴۲۶۲)

[۵۸۸۸] په غزوه حنين كښې واقع كيدونكې معجزه

۵۸۸۸ -() [۲۰] [۱] «وَعَنْ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمَ حُنَيْنٍ» [۲] فَلَمَّا الْتَقَى الْمُسْلِمُونَ وَالْكُفَّارُ [۳] وَلَّى الْمُسْلِمُونَ مُدْبِرِينَ» [۴] فَطَفِقَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَرْكُضُ بَغْلَتَهُ قِبَلَ الْكُفَّارِ [۵] وَأَنَا آخِذٌ بِلِجَامِ بَغْلَةِ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۶] أَكُفُّهَا إِرَادَةَ أَنْ لَا تُسْرِعَ،

ترجمه: [۱] اوحضرت عباس ﷺ وايي زه درسول كريم ﷺ سره غزوه حنين كښې شريك ووم [۲] يوه موقع باندې هركله چې دمسلمانانو اوكافرو په منځ كښې شديد خون ريزي وشوه [۳] نوشاكولو سره مسلمانان تيښتې ته تيار شول [۴] دانازك صورت حال ليدو سره رسول كريم ﷺ خپلې غاترې ته پونده وركړله اوبلاخوف دكفارو طرف ته ورمخكې كيدل يې شروع كړل [۵] هغه وخت مادرسول الله ﷺ دغاترې واګې نيولې وې [۶] اوپه دې خيال مې منع كوله چې هغه تيزې سره چيرته كافرو كښې ورننه نه ځي.

حل اللغات:- ① فَطَفِقَ: أَيْ: شَرَعَ: شروع شو (نبى عليه السلام). ② -يَرْكُضُ: أَيْ: يُحَرِّكُ بِرِجْلِهِ: اس له پونده وركولوسره زغلولوته ركض وائي. دلته دقچر ذكر دې.

[۱] وَأَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ آخِذٌ بِرِكَابِ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] (أَيْ عَبَّاسُ! نَادِ أَصْحَابَ السَّمُرَةِ). [۳] فَقَالَ عَبَّاسٌ - وَكَانَ رَجُلًا صَيِّتًا - فَقُلْتُ بِأَعْلَى صَوْتِي: [۳] أَيْنَ أَصْحَابُ السَّمُرَةِ؟ فَقَالَ: وَاللّٰهِ لَكَأَنَّ عَطْفَتَهُمْ حِينَ سَمِعُوا صَوْتِي عَطْفَةُ الْبَقَرِ عَلَى أَوْلَادِهَا. [۵] فَقَالُوا: يَا لَبَّيْكَ يَا لَبَّيْكَ، قَالَ: فَاقْتَتَلُوا وَالْكُفَّارَ [۶] وَالدَّعْوَةُ فِي الْأَنْصَارِ يَقُولُونَ: يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ! يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ!

ترجمه: [۱] اودحضور ﷺ دتره زوى ابوسفيان بن الحارث [چې دهغه اصلي نوم مغيره بن حارث بن عبدالمطلب ؤو داظهار عقيدت محبت اوحفاظت په طور] دحضور ﷺ ركاب ټينګ نيولې ؤو دې دوران كښې رسول كريم ﷺ زه مخاطب كولو سره راته وفرمايل [۲] اې عباس ﷺ اصحاب سمره ﷺ ته اواز وكړى [۳] حضرت عباس ﷺ چې يوبلند اوازوالا سړى ؤو وايي مادحضور ﷺ په حكم په چغه سره اوويل [۴] چيرته دي اصحاب سمره ﷺ اياتاسو خپل هغه بيعت هيركړې چې تاسو دحضور ﷺ دمدد اوحفاظت دپاره د ونې لاندې كړې ؤو حضرت عباس ﷺ وايي قسم په الله زما داواز اوريدو سره اصحاب سمره ﷺ داسې په منډه راواپس شو څرنګه چې غواګانې دزيات محبت اوشوق نه خپلو بچو طرف ته په منډه واپس راځي [۵] اوهغه اصحاب سمره ووﷺ ونيل اې قومه مونږ حاضر يو اې قومه مونږ حاضر يو نومسلمانان دنوې سره همت اوجوش سره كافرو سره په جنګ شو [۶] اوانصار صحابه ﷺ خپلو كښې يوبل بللو اوحوصلې وركولو دپاره دغازيانو په شان داسې بلنه شروع كړه چې اې دانصارو ډلې اې دانصارو ډلې

[۱] اخرجه مسلم فى كتاب الجهاد والسير /باب فى غزوة حنين (رقم-۷۶ - (۱۷۷۵) واحمد فى المسند: ۲۰۷/۱

حل اللغات: -۞ أَصْحَابَ السَّمُرَةِ: سمرة دکیکر ونې ته وائی په حدیبیه کښې د کیکر ونې لاندې د مرګ بیعت کونکی صحابه کرام په اصحاب السمرة نوم سره یادولې شی. ۞ رَجُلاً صَيِّتاً: أَيْ: قَوِيُّ الصَّوْتِ: تیز آواز والا ۞ عَطْفَتُهُمْ: عطفة واپس راتاویدوته وائی. أَيْ: رَجْعَتُهُمْ: دهغوی راواپس کیدل.

[۱] قَالَ: ثُمَّ قُصِرَتِ الدَّعْوَةُ عَلَى بَنِي الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ [۲] فَنَظَرَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ عَلَى بَغْلَتِهِ كَالْمُتَطَاوِلِ عَلَيْهَا إِلَى قِتَالِهِمْ. [۳] فَقَالَ: هَذَا حِينَ حَمِيَ الْوَطِيسُ. [۴] ثُمَّ أَخَذَ حَصَيَاتٍ، فَرَمَى بِهِنَّ وُجُوهَ الْكُفَّارِ، [۵] ثُمَّ قَالَ: (انْهَزَمُوا وَرَبِّ مُحَمَّدٍ) [۶] فَوَاللَّهِ مَا هُوَ إِلَّا أَنْ رَمَاهُمْ بِحَصَيَاتِهِ، [۷] فَمَا زِلْتُ أَرَى حَدَّهُمْ كَلِيلًا وَأَمْرَهُمْ مُدْبِرًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] همت نه کار واخلی اوپه دشمن وریرېوزی بیاداچغه قبیله بنو حارث بن خزرج پورې محدوده شوه ایعنی صرف اولاد حارث چې دانصارو دتولو نه لویه قبیله ده اې دحارث اولاده اې دحارث اولاده ویلو سره بلنه شروع شوه ا[۲] دې دوران کښې رسول کریم ﷺ په خپلې غاترې باندې دیو طاقتور اوقابو یافته سوار په شان جمع شوی ؤو جنګیدونکو مسلمانانو باندې نظراچولو ااوبعضې حضراتو دکالمتطاول دامعنی بیان کړې ده چې غاترې باندې ښې پورته کولو سره دلیدونکو په شان ناست ؤو یعنی څرنګه چې څوک دځان نه لرې شی لیدو دپاره ښې پورته کولو سره نظر پرې اچوې دغه شان حضور ﷺ هم صحابه ﷺ ته ښې پورته کولو پورته کولو سره کتل ا[۳] اوفرمایل یې داوقت دجنګ دګرمیدو دی [۴] بیا حضور ﷺ څه شګې په لاس کښې اوچتې کړلې ااو شَاهَتِ الْوُجُوهُ ویلو سره هغه شګې ا یې دکافرو طرف ته وویشتلې [۵] ایا خو دتفاول له مخه یاپیش ګویې په طور یې ا وفرمایل دمحمد ﷺ په رب مې دې قسم وې کافروته شکست وشو[۶] حضرت عباس ﷺ وایې قسم په الله داشکست چې کافرو ته وشو دحضور ﷺ دشګې ویشتلو په سبب وشو[۷] شګې ویشتلو نه وروسته آخره پورې مابرابر کتل چې دکافرو تیزې اوشدت سره چلیدونکې تورې سپکې اوپڅې کیدلې اودهغوی انجام دذلت اوخوارۍ نه ډک شوی وو

حل اللغات: -۞ قُصِرَتِ الدَّعْوَةُ: قصرت دمجهول صیغه ده. أَيْ: اقْتَصَرَتْ وَانْحَصَرَتْ: محدوده شوه. بس والې اوشو ،یعنی د صحابو مختلف ډلې رابللې شوې خو د رابللو خبره په قبیله بنوحارث باندې اودریده بیا صرف هم دوی رابللې شو نورې نه، ۞ كَالْمُتَطَاوِلِ: ددې دوه مطلبه دی یا دا چه د یوطاقتور او قابوکونکی شهسوار په شان. یا دا چه شهسوار په اس ناست وی او ښې اوږد اوږد کوی ګوری چه جنګیالی کوم کوم ځائې کښې جنګیږی ۞ حَمِيَ الْوَطِيسُ: حمی ګرمیدوته وائی. وطیس تنورته هم وائی اوپه هغې کښې د اورشغلوته هم وائی ،یعنی دا وقت جنګ بنه ګرم دې، ۞ حَصَيَاتٍ: حصی نرو نرو کانړو ته وائی دلته ترې شګې مراد دی ۞ انْهَزَمُوا: ماتې یا شکست اوخوړلو کافرانو، ۞ حَدَّهُمْ: أَيْ: بَأْسَهُمْ وَحِدَّتَهُمْ وَسُيُوفَهُمْ وَشِدَّتَهُمْ: یعنی دکافرانو جنګی سختوالې اود تورو تیزی. ۞ كَلِيلًا: أَيْ: ضَعِيفًا: د کمزورې کیدو او سست کیدوپه معنی کښې دې یعنی د هغوی تیزی سسته شوه. ۞ مُدْبِرًا: أَيْ: وَحَالَهُمْ ذَلِيلًا: یعنی دهغوی معامله شاته کیدو اود ذلت طرف ته لاړه

تسهیلات:

قوله: فَلَمَّا الْتَقَى الْمُسْلِمُونَ وَالْكُفَّارُ وَلَّى الْمُسْلِمُونَ مُدْبِرِينَ:

د غزوه حنین مختصر بیان: دَفتح مکه نه پس په ۸هجری کښې دَ غزوه حنین واقعه پیښه شوه. دَهغه ځائی خلقو غوښتل چه په مسلمانانو باندې حمله اوکړی. رسول الله ﷺ رومبې شو اودَدولس زرولښکر ئې واخستلواول ئې په حنین اوبیا اوطاس اوبیا په طائف کښې جنګ اوکړو. په وادی حنین کښې په شروع کښې عارضی ماتې خوړلې وه صحابه کرام ګډ وډ شوې وو. حضورپاك سره نیزدې یوڅو صحابه کرام پاتې شوې وو. حضور پاك یوقدم شاته شوې نه دې بلکه هم وړاندې روان وو. حضرت عباس رضی الله عنه دَ منع کولوکوشش کولو بیادَ الله تعالی امداد راغلو او کافرانوماتې اوخوړله. حضورپاك یوموټې شګه په کافرانو باندې وراوشیندله. په دې سره دَمعجزې ظهوراوشو. دَ آسمان نه فرښتې راکوزې شوې دې سره هم دَ معجزې ظهوراوشو. هم دا قصه حضرت عباس رضی الله عنه بیان کړې ده.

قوله: عَطْفَةُ الْبَقَرِ:

د عطفة البقر سره د تشبیه ورکولو وجه: په څناوروکښې غوا دَ خپل بچی دَپاره بالکل لیونې وی بعضې وخت دَ خپل کور ټول خلق هم وهی او په خپل وړوکی بچی باندې راتیټه وی. دلته دَ صحابه کرامو په تیزئی سره راتلل اودَ حضورپاك نه چاپیره راجمع کیدل اوبیا دَ حضورپاك دَ حفاظت دَپاره لکه دَ لیونو اودریدلوته تشبیه دَ غوادَخپل بچی طرف ته متوجه کیدلوسره ورکړې شوې ده.

قوله: وَالدَّعْوَةُ فِي الْأَنْصَارِ:

د مذکوره جملې مطلب: یعنی صرف انصاروته دَ جنګیدلودعوت ورکړې کیدې شو چه اې انصارو وړاندې شئی اوبنه اوجنګیږئی.

قوله: قُصِرَتِ الدَّعْوَةُ:

د مخصوص دعوت آغاز: یعنی انصاروته دَ جنګیدلودَعام دعوت ورکولونه پس بیاداسې ترتیب جوړکړې شو چه دَانصارودَخاص خاص قبیلوخلق به دَ جنګیدلودَپاره راغوښتلې شو مثلاً بنوحارث بن خزرج پورې دا دعوت محدودشو چه تاسو وړاندې شئی او بنه په زور اوشور سره او جنګیږئی.

قوله: كَالْمُتَطَاوِلِ:

د جنګ نظاره کتل: حضورپاك دَ جنګ نظاره کتل غوښتل په دې وجه ئې سټ مبارك اوچت کړو میدان جنګ ته ئې کتل.

قوله: هٰذَا حِينَ حَمِيَ الْوَطِيسُ:

د، هذا، په ترکیب کښې دوه اقوال: ① هذا اشاره ده کوم چه مبتداء ده. ملاعلی قاری رحمه الله فرمائي چه ډیر واضح دادی چه هذامبتداء وی اوحین دَدې خبروی لیکن حین به مبنی علی الفتح وی ځکه چه دا مبنی دَ اصل فعل طرف ته مضاف دې. حمی فعل دې اوالوطیس دَدې فاعل دې. عبارت به داسې شي ای هذاالزمان زمان اشتدادالحرب. یعنی دغه وخت جنګ ښه ګرم وو. وائی چه دا جمله دَ ټولونه اول حضورپاك استعمال کړې ده عربودانه پیژندله. دَحضورپاك دَاستعمال نه پس ډیره مشهوره شوه.

② علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه دَدې خبر محذوف دې کوم چه القتال دې. عبارت داسې دې هذاالقتال حین حمی الوطیس ای هذاالقتال حین اشتدالحرب

[۵۸۸۹] په غزوه حنین کښې د نبی کریم ﷺ ځوان مردي

۵۸۸۹-()[۳۱] ① وَعَنْ أَبِي إِسْحَاقَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَجُلٌ لِلْبَرَاءِ: ② يَا أَبَا عُمَارَةَ! فَرَرْتُمْ يَوْمَ حُنَيْنٍ؟ ③ قَالَ: لَا وَاللَّهِ مَا وَلَّى رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ④ وَلَكِنْ خَرَجَ شُبَّانُ أَصْحَابِهِ لَيْسَ عَلَيْهِمْ كَثِيرُ سِلَاحٍ، ⑤ فَلَقُوا قَوْمًا رُمَاةً لَا يَكَادُ يَسْقُطُ لَهُمْ سَهْمٌ، ⑥ فَرَشَقُوهُمْ رَشْقًا مَا يَكَادُونَ يُخْطِئُونَ، ⑦ فَأَقْبَلُوا هُنَاكَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -

ترجمه: ① اوحضرت ابو اسحاق تابعي روایت کوي په یوه موقع یوسړی حضرت براء ابن عازب صحابي رضی الله عنه نه پوښتنه وکړه ② اې ابوعماره ایادا ریښتیادي چې تاسو خلق غزوه حنین کښې ددشمن دمقابلې نه تښتیدلی وئ ③ حضرت براء رضی الله عنه جواب ورکړو نه قسم په الله رسول کریم ﷺ هیڅ کله شا نه وه خو دلې ④ صرف دومره شوی وو چې دحضور ﷺ ځوخلمي صحابه چې هغوی سره زیات هتیار (اسلحه) نه ؤو ⑤ اچانك یوتیر آنداز قوم بنو هوازن سره مقابله وشوه دهغه قوم خلق داسې خطرناک تیر آندازان ؤو چې دهغوی تیریه په زمکه نه پریوتلې [یعنی نښه به یې خالي نه تله] ⑥ هغه خلقو په ځوانانو صحابه رضی الله عنهم باندې نیزې ورول شروع کړل نودهغوی هیڅ تیرنه خطاکیدې ⑦ هغه وخت چې ځلمي صحابه ددشمن دمخې نه اخوا کیدو سره رسول کریم ﷺ له ته راغلل.

حل اللغات:- ① مَاوَلّى: شاګرې ئې نه، تښتیدلي نه وو ② فَرَشَقُوهُمْ: أَيْ: فَرَمَوْهُمْ: هغوی یعنی کافرانو په غشو ویشتل شروع کړل صحابه کرامو لره. ③ رَشْقًا: مفعول مطلق دې یعنی ډیر غشي ئې پرې اوورولو، دغشو باران ئې پرې اوکړو.

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب قول الله تعالی: {ویوم حنین إذ أعجبتکم کثرتکم فلم تغن عنکم شیئا وضاقت علیکم الأرض بما رحبت ثم ولیتم مدبرین. ثم أنزل الله سکینته} [التوبة: ۲۶]- إلی قوله - {غفور رحیم} [البقرة: ۱۷۳][رقم-۴۳۱۵) ومسلم فی کتاب الجهاد والسیر/باب فی غزوة حنین (رقم-۷۸ - (۱۷۷۶)

۱ وَرَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى بَغْلَتِهِ الْبَيْضَاءِ وَأَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ يَقُودُهُ، ۲ فَنَزَلَ وَاسْتَنْصَرَ وَقَالَ: ۳ (أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ) ثُمَّ صَفَّهُمْ». ۴ رَوَاهُ مُسْلِمٌ، وَلِلْبُخَارِيِّ مَعْنَاهُ.

ترجمه: ۱ اوحضور ﷺ هغه وخت په خپل سپین قچر (دلدل) باندې سپوروو اوابوسفیان ابن حارث دغاترې واکې نیولی مخکې ؤو ۲ حضور ﷺ دجنګ داپریشان کن نقشه اودخپل صحابه ﷺ پریشاني لیدو سره دغاترې نه راکوزشو اوالله تعالی نه یې دمدد اوفتح دعا وغوښتله حضور ﷺ په اوچت اواز داهم وفرمایل ۳ زه نبي یم په دې کښې څه دروغ نشته زه دعبدالمطلب زوی یم [ددې سره همت اونوي جذبې سره مستعد شو اومذکوره خلمې حضور ﷺ ته راجمع شو] نوحضور ﷺ دټولو مجاهدینو صف بندي وکړله ۴ مسلم اوبخاري ددې مضمون روایت خپل جدا الفاظو کښې نقل کړې دې.

حل اللغات: - ۳ بَغْلَتِهِ: خچر د نبی علیه السلام (سپین خچر چه دهغې نوم دلدل یا فِضّة وو). ۵ وَاسْتَنْصَرَ: أَيْ: طَلَبَ النَّصْرَ وَالْفَتْحَ: د مدد اوکامیابۍ سوال ئې اوکړو (دخپل امت دپاره).

۵۸۹۰-()[1] ۱ وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا، «قَالَ الْبَرَاءُ: ۲ كُنَّا وَاللَّهِ إِذَا احْمَرَّ الْبَأْسُ نَتَّقِي بِهِ، ۳ وَإِنَّ الشُّجَاعَ مِنَّا لَلَّذِي يُحَاذِيهِ، يَعْنِي: النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -».

ترجمه: ۱ اودبخاري اومسلم یوبل روایت کښې داسې دي چې براء ابن عازب ﷺ اوویل ۲ قسم په الله کوم وخت چې جنګ سخت شو [یعنی ددشمنانو حمله سخته شوه اومونږ د هتیارو دکمې یاخه کمزورې په سبب زیات دباؤ محسوسولې] نوحضور ﷺ ته رسیدو سره خپل حفاظت به موکوې [اود ذات ګرامي له برکته دمدد اونصرت به طلبګار کیدلو] ۳ بیشکه هغه وخت مونږ کښې زیات بهادر اوشجاع به هغه سړی ؤو چې درسول کریم ﷺ برابر کښې راتلو سره به اودریدلو.

حل اللغات: - ۱ احْمَرَّ الْبَأْسُ: أَيْ: اشْتَدَّ الْحَرْبُ: دا دجنګ د سخت والی او ګرم والی نه کنایه ده. ۲ يُحَاذِيهِ: أَيْ: يُوَازِيهِ: یعنی برابر اوګه په اوګه به د نبی علیه السلام سره ولاړوو.

تسهیلات:

قوله: أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ:

دجنګ څخه د نه تیختې دوه وجوهات: ۱ یعنی رښتونې نبی کله هم نه تختی. زه رښتونې نبی یم د تختیدو خوسوال نه پیدا کیږی.

۲ زه دعبدالمطلب په شان د سردار خاندانی سړې یم داسې خاندان سړې هم چرته تختیدې نه شي.

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الجهاد والسیر/باب فی غزوة حنین (رقم-۷۹ - (۱۷۷۶)

د حديث په الفاظو کښې تعارض او د هغې دفع:

قوله: فَأَقْبَلُوا: په دې جمله باندې سوال دادې چه دې نه مخکښې حديث نمبر(۵۸۸۸) کښې "ولى المسلمون مدبرين" الفاظ دى چه مسلمانان اوتختيدل اودلته په دې جمله کښې دادى چه مسلمانان دَحضورپاك طرف ته متوجه شو دا تعارض دې. دَدې جواب دادې چه په شروع کښې تازه کم عمره ځوانان اوتختيدل بيا پاخه کسان هم اوتختيدل بياچه کله حضورپاك راؤغوښتل نوفورى راغله نودَ "مدبرين" وخت جدادې اودَ "اقبلوا" جدا دې لهذا هيڅ تعارض نشته دې.

قوله: احْمَرَّ الْبَأْسُ: اي اشتد الحرب.

جنګ ته د احمر وئيلو وجه: په سخت جنګ کښې چونکه سره وينه بهيږى په دې وجه دې ته سور اووئيلې شو مرګ ته هم په دې وجه "الموت الاحمر" سور مرګ وائى.

قوله: وَإِنَّ الشُّجَاعَ مِنَّا لَلَّذِي يُحَاذِيهِ،

د بهادر پيژندګلو: يعنى په مونږ کښې به دَتولو نه زيات بهادر سړې هغه وو چه ميدان جنګ کښې به حضورپاك سره برابر راغلو اودَ دښمن مخې ته به اودريدو دَ حضورپاك هم دغه بهادرى وه کومې چه دَ عربو دَ لوئى لوئى بهادرانو مخ خپل خان ته راګرخولې وو. که چرې خالد بن وليد رضي الله عنه او ضرار بن ازور رضي الله عنه نه حضورپاك زيات بهادر نه وې نودعربو دې بهادرانو به دَ خپل خان نه کمتر سړى په لاس کښې کله هم لاس نه ورکولو

[۵۸۹۱] يو موټې شګې د کافرانو سترګو ته رسيدل

۵۸۹-()[۲۲][١]«وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢] غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حُنَيْنًا، [٣] فَوَلَّى صَحَابَةُ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٤] فَلَمَّا غَشُوا رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَزَلَ عَنِ الْبَغْلَةِ، [٥] ثُمَّ قَبَضَ قَبْضَةً مِنْ تُرَابٍ مِنَ الْأَرْضِ، [٦] ثُمَّ اسْتَقْبَلَ بِهِ وُجُوهَهُمْ،

ترجمه: [١] اوحضرت سلمه ابن اکوع رضي الله عنه وايي [٢] مونږ درسول کريم ﷺ سره کافرو سره جهاد دپاره غزوه حنين کښې شريک ؤو [٣] دې غزاکې چې درسول کريم ﷺ بعضې صحابه ؤ ددشمن دمخې نه تښتيدل [٤] اوکافرو رسول کريم ﷺ ګير کړلو نوحضور ﷺ دخپلې غاترې نه راکوزشو [٥] اودزمکې نه يې يوموټې خاوره اوچته کړه چې هغه کښې شګې هم وې [٦] بيا هغه خاورې اوشګې يې کافرو طرف ته وويشتلې

حل اللغات: - ① غَشُوا: ګير نې کړو (نبى عليه السلام).

[١] فَقَالَ: (شَاهَتِ الْوُجُوهُ) ، [٢] فَمَا خَلَقَ اللَّهُ مِنْهُمْ إِنْسَانًا إِلَّا مَلَأَ عَيْنَيْهِ تُرَابًا بِتِلْكَ الْقَبْضَةِ، [٣] فَوَلَّوْا مُدْبِرِينَ فَهَزَمَهُمُ اللَّهُ، [٤] وَقَسَمَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - غَنَائِمَهُمْ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[1] اخرجه مسلم فى كتاب الجهاد والسير /باب فى غزوة حنين (رقم-۷۱ - (۱۷۷۶)

ترجمه: [۱] او وي فرمايل خراب شو د هغوی مخونه [۲] نو الله تعالى هغوی کښې داسې هيڅ انسان پيدا کړی نه ؤو [يعنې هغه وخت دشمنانو کښې داسې هيڅ سړی نه ؤو] چې د هغه دواړه سترګې الله تعالى هغه يوې موټې خاورې نه ډک کړي نه وي [۳] بيا خو ټول کافر وتښتيدل او الله تعالى هغوی ته شکست ورکړی [۴] د دې نه وروسته رسول کريم ﷺ د هغوی مال چې بطور غنيمت حاصل شوی ؤو مسلمانانو کښې تقسيم کړی. (مسلم)

حل اللغات:- ① شَاهَتِ الْوُجُوهُ: أَيْ: تَغَيَّرَتْ وَقُبِّحَتْ: خراب شو او بدل شو مخونه (د کافرانو). ② فَهَزَمَهُمْ: نو شکست ئې ورکړو ډلو د کافرانو ته.

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ قَبَضَ قَبْضَةً مِنْ تُرَابٍ..الخ:

د نبي عليه السلام درې معجزات: ① هغه خاوره دَ ټولو کافرانو سترګوته اورسيدله.

② په لږه شان خاورې دَ خلورو زرو کافرانو سترګې ډکې شوې.

③ دَ ظاهری طاقت نه بغير صرف دَ هغه خاورې په ذريعه دومره لوئی لښکر ته ماتې اوشو او دَ غنيمت مال هم حاصل شو.

[۵۸۹۲] د يو کس د جهنمی کيدو پيشن ګوئی او د هغې واقع کيدل

۵۸۹۳-()[۳۳] [۱] «وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: شَهِدْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حُنَيْنًا، [۲] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لِرَجُلٍ مِمَّنْ مَعَهُ يَدَّعِي الْإِسْلَامَ: [۳] (هَذَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ) [۴] فَلَمَّا حَضَرَ الْقِتَالُ قَاتَلَ الرَّجُلُ مِنْ أَشَدِّ الْقِتَالِ، [۵] وَكَثُرَتْ بِهِ الْجِرَاحُ، [۶] فَجَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! أَرَأَيْتَ الَّذِي تُحَدِّثُ أَنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ، [۷] قَدْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ مِنْ أَشَدِّ الْقِتَالِ فَكَثُرَتْ بِهِ الْجِرَاحُ

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي مونږ د رسول الله ﷺ سره غزوه حنين کښې شريک ؤو [۲] هلته [جنګ شروع کيدو نه مخکې ميدان جنګ کښې] رسول کريم ﷺ د خپل لښکر په خلقو کښې ديو سړي باره کښې چې ځان ته يې مسلمان وئيل او فرمايل [۳] چې دا سړی دوزخي دی [۴] بيا چې جنګ شروع شو نو هغه سړی ډير بهادري سره وجنګيدی [۵] او د هغه جسم د زخمونو څخه ډک شو او بې تابه شوا [۶] په دې ليدو سره صحابه ؤ کښې يو صاحب راتلو سره د اظهار تعجب په طور عرض وکی يا رسول الله ﷺ د هغه سړي حقيقت حال ما ته وښايي چې د هغه باره کښې تاسو ﷺ فرمايلي وه چې هغه دوزخي دي [۷] او حال دا چې ظاهري حال يې دا دی چې هغه د الله تعالى په لار کښې ډيري بهادري سره جنګيدلي دي او ډير زخمونه يې خوړلي دي دي نه خو د هغه جنتي کيدل معلوميږي.

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب غزوة خيبر (رقم-۴۲۰۳) ومسلم فی کتاب الإيمان/باب غلظ تحريم قتل الإنسان نفسه، وأن من قتل نفسه بشیء عذب به فی النار، وأنه لا يدخل الجنة إلا نفس مسلمة (رقم-۱۷۸ -(۱۱۱) واحمد فی المسند: ۳۰۹/۲

۱ فَقَالَ: (أَمَا إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ) ۲ فَكَادَ بَعْضُ النَّاسِ يَرْتَابُ، ۳ فَبَيْنَمَا هُوَ عَلَى ذٰلِكَ إِذْ وَجَدَ الرَّجُلُ أَلَمَ الْجِرَاحِ، ۴ فَأَهْوَى بِيَدِهِ إِلَى كِنَانَتِهِ، ۵ فَانْتَزَعَ سَهْمًا فَانْتَحَرَ بِهَا، ۶ فَاشْتَدَّ رِجَالٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالُوا: ۷ يَا رَسُولَ اللّٰهِ! صَدَّقَ اللّٰهُ حَدِيثَكَ، ۸ قَدِ انْتَحَرَ فُلَانٌ وَقَتَلَ نَفْسَهُ.

ترجمه: ۱ حضور ﷺ ورتـه وفرمايـل يـادلـره هغـه ددوزخيانو څخـه دى [يعنى حقيقت حال خوهغه دى كوم چې مامخكي خو دلـي دي چې هغـه سړى دومخـي دي اګركـه دهغـه ظاهر حال دهغه خلاف ولي په نظر را نشي خبره داده چې دآخرت متعلق دظاهري اعمالو څه اعتبـار نشته اصـل مـدار حسن اعمـال اوحسن خاتمـه بانـدې دى] ۲ اوبيـا نـزدې وه چې بعضې [ضعيف الايمان] خلق [ميدان جنګ كښې دحضور ﷺ دهغه ارشاد صداقت كښې] دشک شبهې ښكار شى ۳ ليكن هغـه وخت [خلقو وليـدل چې اچانك هغـه سړي دخپلو زخمونـو دتكليـف نـه بې ارامـه كيـدو سـره خپـل لاس تـركش طرف تـه مخكې كـى اويـوتير راښكلو سـره خپلـه سينه كښې يې پيوست كړي ددې پـه ليـدلو] ډير مسلمانان وويرېدل اورسـول كـريم ﷺ تـه راغلـل اوعـرض يـې وكـى ۷ يارسـول الله الله تعـالى ستاسـو داخبـره ريښتيا كړله [چې هغه سړى دوزخي دى] ۸ هغه خپله سينه خو خپله شلولو سره خودكشي كړې ده.

حل اللغات: - ① يَرْتَابُ: أَيْ: يَشُكُّ: شک اوكړي (په فرمان دنبى عليه السلام كښې). ② فَأَهْوَى: أَيْ: قَصَدَ وَمَالَ: قصد ئې اوكړو، وربنكته شو، ③ كِنَانَتِهِ: أَيْ: إِلَى جُعْبَتِهِ: تيـركش يعنى د غـشو تهيلى. ④ فَانْتَزَعَ: أَيْ: فَأَخْرَجَهُ: راويستلو غشي، ⑤ فَانْتَحَرَ: أَيْ: نَحَرَنَفْسَهُ: خپل ځان ئې پرې ځبح كړو.

۱ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (اللّٰهُ أَكْبَرُ ۲ أَشْهَدُ أَنِّي عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُولُهُ، ۳ يَا بِلَالُ قُمْ فَأَذِّنْ: لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا مُؤْمِنٌ، ۴ وَإِنَّ اللّٰهَ لَيُؤَيِّدُ هٰذَا الدِّينَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ)» رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ رسـول الله ﷺ وفرمايـل الله تعـالى ډيـر لـوى دى ۲ زه ګـواهي كـوم چې زه دالله تعالى بنده اودهغه رسول يم [دالفـاظ حضـور ﷺ دهغـه خوشـحالي داظهـار دپـاره وفرمايـل چې دحضور ﷺ وينا ريښتيني شوه هغـه نـه وروستـه حضـور ﷺ حكم وكـى] ۳ اې بلالـه لاړ شهودريږه اوخلق اګاه كړه چې جنت كښې بـه صرف مـؤمن داخليـږي ۴ اوداچې الله تعـالى دادين دفاسق سړى په ذريعه هم مضبوطوي (بخاري).

حل اللغات: - ⑥ لَيُؤَيِّدُ: مضبوطوى.

تسهيلات:

قوله: وَإِنَّ اللّٰهَ لَيُؤَيِّدُ هٰذَا الدِّينَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ،

د رجل د فجور وجه: يعنى دَ يوسـړى بـاره كـښې حضورپاك اوفرمائيـل چه دې بـه دوزخ تـه ځى حالانكه هغه دَ ټولو نه زيات په ميدان جهاد كښې دَ كافرانو په مقابله كښې جنګيدلو.

اوریدونکی حیران شو چه دې به ځنګه دوزخ ته ځی. دغه سړی نوم قزمان وو. دې منافق وواوصرف دَ قومیت په بنیاد باندې جنګیدلو. دَ منافق جهاد هم معتبر نه دې اود قومیت دپاره جهادکول هم صحیح نه دی. دَ دغه سړی انجام خودلوکښې دَمعجزه ظهور اوشو.

قوله: فَانْتَحَرَ:

په روایاتو کښې تعارض: په یوروایت کښې دی چه هغه سړی په توره باندې خپل ځان ذبح کړو اودلته دَ غشی ذکردې دا تضاددې.

د تعارض جواب: اول دغه سړی په غشی باندې خپله مرئی پرې کړه مګر چه کله په دې سره په مرګ کښې تاخیرکیدلو نوبیا هغه په توره باندې خپل ځان قتل کړو. دواړه خبرې صحیح دی هیڅ تضادنشته دې.

قوله: بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ:

په فاجر د دین د نصرت وضاحت: یعنی الله تعالی کله دَدې دین کاردَ یوبې دین سړی نه هم اخلی. جهادخودَدښمن سره دَ جنګیدلونوم دې دکوم تعلق چه بدن سره دې. که په بدنی توګه باندې سړی تیک وی نوهغه کافروژلې شی. کافرچه کله مړشی نودین ته به غلبه حاصله شی. اصل مقصودخودَ دین غلبه ده هغه دَ فاسق بلکه منافق اوکافردَ لاس نه هم حاصلیدې شی. کله چه غلبه حاصله شی نودَ فاسق اوفاجرپه لاس سره دَدین امداد اوشی.

[۵۸۹۳] دنبی کریم ﷺ د خپل مسحور کیدو خبر ورکول

۵۸۹۳-(١)[٢٣] [١] «وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [٢] سُحِرَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حَتَّى إِنَّهُ لَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ [٣] أَنَّهُ فَعَلَ الشَّيْءَ وَمَا فَعَلَهُ. [٤] حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ عِنْدِي، دَعَا اللَّهَ وَدَعَاهُ، [٥] ثُمَّ قَالَ: (أَشَعَرْتِ يَا عَائِشَةُ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ، [٦] جَاءَنِي رَجُلَانِ، جَلَسَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي وَالْآخَرُ عِنْدَ رِجْلِي، [٧] ثُمَّ قَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ: مَا وَجَعُ الرَّجُلِ؟ [٨] قَالَ: مَطْبُوبٌ. قَالَ: وَمَنْ طَبَّهُ؟

ترجمه: [١] او ام المؤمنین بي بي عائشه رضي الله عنها فرمایي [٢] کوم وخت چې رسول کریم ﷺ باندې جادو وشو نودحضور ﷺ داحالت وو چې دځه کار باره کښې دحضور ﷺ خیال وو [٣] چې کړی یې دې حالانکه هغه کار به یې نه وو کړی [اکافي ورځو پورې داحالت وو] [٤] ددې پورې چې یوه ورځ هغه وخت چې حضور ﷺ ما سره وو حضور ﷺ دالله تعالی نه دعا وغوښتله اوبیایې دعا وکړه [٥] بیا حضور ﷺ ماته وفرمایل اې عائشې رضي الله عنها ایا تاته معلومه ده چې الله تعالی ماته هغه خبره خو دلې ده چې مادهغه نه معلومه کړې وه [٦] ادې نه وروسته حضور ﷺ بیان وکړی چې الله تعالی زما دحالت په باره کښې په ماباندې داسې منکشف کړل چې] ماته د سړوپه صورت کښې دوه فرښتې راغلې هغوی کښې یوه زما سرطرفته کیناستله اودویمه

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب بدا الخلق/ باب صفة ابلیس وجنوده..... رقم الحدیث ۳۲۶۸ ومسلم فی کتاب السلام/ باب السحر... رقم الحدیث ۵۸۳۲

پښو طرف ته ۷ بیا هغې کښې یوې دویمې نه ماطرفته اشاره کولو سره پوښتنه وکړه دې سړي ته څه بیماري ده ۸ دویمې جواب ورکړی چې جادو په شوی‌دی بیا اولې پوښتنه وکړه چې چاپه کړیدی.

حل اللغات:- ①أَشَعَرْتِ: أَيْ أَعَلِمْتِ: آیا تاته معلومه ده، تاته پته شته، ②وَجَعٌ: درد، تکلیف، ③مَطْبُوبٌ: أَيْ هُوَ مَسْحُورٌ: جادو پرې شوې دې،

١ قَالَ: لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ الْيَهُودِيُّ. ٢ قَالَ: فِي مَاذَا؟ قَالَ: فِي مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ ٣ وَجُفِّ طَلْعَةِ ذَكَرٍ ٤ قَالَ: فَأَيْنَ هُوَ؟ قَالَ: فِي بِئْرِ ذَرْوَانَ) ٥ فَذَهَبَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي أُنَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ إِلَى الْبِئْرِ. ٦ فَقَالَ: (هَذِهِ الْبِئْرُ الَّتِي أُرِيتُهَا وَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ، ٧ وَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ) فَاسْتَخْرَجَهُ.» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ دویمې جواب ورکړی چې لبید بن اعصم یهودي ٢ اولنی پوښتنه وکړه په څه شي کښې جادو شوي دي دویمې جواب ورکړی په ویښتو کښې هغه ویښته چې ږمونځې نه غورځیږي ٣ اودلوندو خورماو په پوستکي کښې دوړي چاپیره ۴ اولنی پوښتنه وکړه دا جادو کړي شوي څیزونه کوم ځاي کښې پراته دي ؟ دویمې جواب ورکړو دمدینې یو کوهي ذروان کښې ۵ دي نه روسته حضور ﷺ دخپل څو مخصوصو صحابه ﷺ سره هغه کوهي ته تشریف یو وړی ٦ او وې فرمایل داهغه کوهي دي چې ماته ښودل شوي دي ددې کوهي اوبه د نکروزو په شان سري وې ٧ اود خورماو هغه ونې چې په هغه کوهي کښې اچول شوي وې داسې وې لکه دشیطانانو سرونه نوحضور ﷺ هغه ټول څیزونه دهغه کوهي نه راوښکل. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ④مُشْطٍ: اَلَّةٌ يُمْتَشَطُ بِهَا: د ویښتو ګمنزولو آله، یعنی ګمنز. ⑤وَمُشَاطَةٍ: مَا سَقَطَ مِنْ شَعْرِ الرَّأْسِ أَوِ اللِّحْيَةِ عِنْدَ تَسْرِيحِهِ بِالْمُشْطِ: مشاطه هغه ویښتو ته وائی کوم چه د سر یا ږیرې ګمنزولو په وخت اوغورزیږي. ⑥جُفِّ: په شروع کښې چه کله دَ کهجور غونچه راځي نو په هغې کښې غوټئ وی ګلونه وی اودې سره سره په هغې باندې غلاف اوپرده هم راځي نو جف دغه خول اوغلاف ته وائی په جیم باندې ضمه ده او فاء باندې شد دې. ⑦طَلْعَةٍ: وَهُوَ وِعَاءُ طَلْعِ النَّخْلِ: دا غوټۍ او سټرګې ته وائی. ⑧ذَكَرٍ: دا د طلعة دپاره مضاف الیه دې او دا اضافت بیانیه دې، دې نه فَحْلُ النَّخْلِ مراد دې یعنی نال کړي شوي کجوره. ⑨بِئْرِ ذَرْوَانَ: په مدینه کښې د أَبِي زُرَيْقٍ په باغ کښې یو کوهي وو هغه مراد دې، یا ذروان د مدینې نه یوه ګهنټه فاصله کښې دي چرته چه مسجد ضرار جوړ شوې وو هغې کوهی ته بِئْرِ ذَرْوَانَ وائی. ⑩نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ: هغه اوبه چه نکریزې پکښې ګډ کړي شوی وی. ⑪ رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ: عربو به د بدشکله او ویریدونکو مناظرو تشبیه د رُءُوسِ الشَّيَاطِينِ سره ورکوله، دلته دا د کجورو اونې هم ځنګلی وحشتناک او بدشکله ښکاریدې لکه چه رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ وی.

تسهیلات: قوله: سُحِرَ رَسُولُ اللّٰهِ:

نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندې جادو کولو پس منظر: حضورپاك چه کله دَ صلح حدیبیه نه واپس مدینې منورې ته تشریف راوړو نوذوالحجه ۶هجری کښې په حضورپاك باندې جادو اوکړې شو. دَ دغه جادو اثرداسې نه ووچه کوم سره چه په شرعی احکاماتوکښې خلل پریوتلو بلکه دَهغې اثر صرف په دنیاوی او بدنی امورو کښې وو. دَحضورپاك بدن مبارك ډیر ضعیف اوکمزورې شوې وو. اکثر به ورته خیال راتلو چه ما فلانکې کارکړې دې حالانکه حضورپاك به هغه نه وو کړې لکه چه په حضورپاك باندې دَ دغه جادودَ وجې نه دَ هیرې غلبه شوې وه.

د جادوګر پیژندګلو: یویهودی لبیدبن اعصم لونړو دا جادو کړې وو.

په نبی علیه السلام د جادو د مودې په باره کښې تعارض: ① بعضې روایاتوکښې څلوېښت ورځو باندې داثر باقی پاتې کیدو ذکر دې.

② بعضې روایاتوکښې شپږو میاشتو پورې دَاثرباقی پاتې کیدو ذکردې.

③ اوبعضې روایاتوکښې دَ یوکال پورې دَاثرباقی پاتې کیدو ذکردې.

د تعارض جواب: دَ جادو زیات زور ترڅلویښتو ورځوپورې وو اودَ درمیانه درجې اثر ترشپږو میاشتو پورې وو اولږ لږ اثر تریوکال پورې وو.

دحدیث څخه ثابتې شوې مسئلې: ① جادو یوواقعاتی حقیقت دې دکوم نه چه انکار نه شی کیدې. داڅه خیالی تصور نه دې بلکه دې حقیقت سره انبیاء کرام هم متاثرکیدې شی. معتزلو دَ سحرنه انکارکړې دې دادَهغوی دَ بدعاتونه یو بدعت دې اودَهغوی دَ باطل عقیدونه یوباطل عقیده ده.

② انبیاء کرام انسان اوبشر وو. کومه بیماری چه یوانسان متاثر کولې شی هغه انبیاء کرام هم متاثر کوی البته په انبیاء کرامو باندې داسې بیماری نه راځی چه دَ انسان دَپاره دَ شرم نفرت یا حقارت سبب وی. ملاعلی قاری رحمه الله په انبیاء کرامو باندې دَ سحر کیدو باره کښې لیکی "لان السحر انما یعمل فی ابدانهم وهم بشر یجوز علیهم من العلل والامراض ما یجوز علی غیرهم" ملاعلی قاری رحمه الله نور لیکی: "وفائدة الحلول (اي حلول السحر) تنبیه علی ان هذا بشر مثلکم وعلی ان السحر تأثیره حق فانه اذا اثر فی اکمل الانسان فکیف بغیره؟" (مرقات ۱۰/۲۱۷)

قوله: مَنْ طَبَّهُ:

په جادو باندې د طب د اطلاق وجه: یعنی داجادو چاکړې دې؟ مطبوب اوطب، دا طب په معنی دَ علاج دې. جادو ته طب په توګه دَ تفاؤل وئیلې شوې دې چه دَدې علاج لکه چه شوې دې. لکه څنګه چه دَمارخوړلی انسان ته سلیم وائی یعنی دا صحیح سالم اومحفوظ دې.

قوله: الْيَهُودِيُّ:

د جادو گر تعين كښې تعارض اوتطبيق: دَ دغه سړي كردار به خامخاوې اصل محرك په هم دغه خبيث وي مګر هغه خپلې لونړه په دې كارباندې لګولې وي هم په دې وجه قرآن كريم كښې ﴿ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ ﴾ آيت كښې دَ جادو نسبت دَ ښځوطرف ته كړې شوې دې مګر په دې حديث كښې دَ جادو ذمه وارې په دغه سړي باندې اچولې شوې ده.

قوله: طَلْعَةٍ:

د طلعة معنى: داغوټۍ او سترګې ته وائي. دا غوټۍ دَ نر كهجورې په ونه كښې هم وي او ماده كښې هم وي. دا فرق ښكاره كولودپاره اوفرمائيلې شو چه دَ نركهجورې غوټئې غلاف كښې جادو كړې شوې دې نركهجور په جادوكښې استعمال كړې شوې ده.

قوله: بِئْرِذَرْوَانَ:

د ذروان محل وقوع: په يوروايت كښې "بئرذی اروان" هم دې دواړه صحيح دي. مدينه منوره كښې دَ يوسړي ابوزريق په باغ كښې دا كوهې وو. "وهی بئرفی المدينة فی بستان ابی زريق". (مرقات).

قوله: نَخْلُهَا:

د نخل څخه مراد: يعنې دَ كهجورو غونچې ويرونكې وې. دَنخل نه دَ باغ دكهجورو ونې مراد نه دي بلكه هم هغه غونچه مراد ده كومه چه په جادو كښې استعمال كړې شوې وه.

قوله: رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ:

د شيطانانوسرونوسره د تشبيه وجه: يعنې په وحشت دهشت كراهت اوقباحت كښې هغه غونچه دَ شيطان دَ سرونو په شان وه. عرب خلق چه كله دَ يوڅيز سخت قباحت اووحشت بيانوي نودَ هغې تشبيه دَ شيطان سر سره وركوي.

بل دَ شيطان دَ سر اطلاق په مارانو باندې هم كيږي. بهرحال څه چه هم وي مګر يو ويرونكې نظاره خودلې كيږي. په دغه غونچوباندې خپودَ هغه جادو اثر هم وو او تړډيرو وخته پورې په اوبو كښې دَ ډوبيدو اثر هم وو په دې وجه دادَ كراهت او قباحت مجموعه جوړه شوې وه.

د مذكوره واقعې تفصيل: دې واقعه سره متعلق دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما يوروايت هم دې په هغې كښې دا تفصيل دې چه دَ دې كوهي خبر ملاويدو سره حضور پاك حضرت علي رضي الله عنه اوحضرت عمار بن ياسر رضي الله عنهما دغه كوهي طرف ته اوليګلو دې دپاره چه دَ جادو دغه څيزونه راؤباسي. كله چه دې حضراتو دَ كهجورې دغه غونچه دَ كوهي نه راويستله نو دَهغې په خول كښې دَ مومو جوړه شوې يوه جثه اوبت ملاؤ شو دادَ حضورپاك مجسمه وه.

په دغه مسجمه کښې ستني ورتـونبلي شـوې وې او پـه هـره سـتـن بانـدې يـو تـار وو چـه د مجسمې نـه راتـاو کـړې شـوې وو. پـه کـوم کـښې چـه يـولس غـوټې لګـيـدلې وې. حضرت جبرائيل عليه السلام دغه يـولس غوټو بانـدې معوذتين ونيـل شـروع کـړه. د معـوذتين آياتونه هم يولس دی. په يويو آيت باندې حضرت جبرائيل يوه يوه غوټه کولاوولـه او د مجسمې نه ني ستنې هم راويستلې. چنانچه په دې سره به حضورپاك ته داسې آرام ملاويدلو لکه چه بنده کړې شوې رسنی نه حضورپاك خلاصولې شو. ونيلی شی چه حضورپاك پخپله هم دغه کوهی تـه تلې وو مګر دننه نه وو تلې پـه څه فاصله بانـدې وو. حضورپاك د دغه يهـودی خلاف هيڅ کاروائی اونه کړه بلکه دائی اوفرمائيل چه زه فتنه راؤچتول نه غوارم.

په حديث کښې د دوو معجزاتو بيان: ① په دې حديث کښې د فرښتو راتلل او د حضورپاك بيماری خودل بيا د هغه کوهی ننبه خودل د يوقسم معجزې ظهور وو.

② د معوذتين نازليدل او د جبرائيل امين دم کول او د حضورپاك تيك کيدل.

[٥٨٩٤] دخوارجو د ظهور باره کښې پيشن ګونی کول

٥٨٩٤-(۱)[٢٥] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] وَهُوَ يَقْسِمُ قَسْمًا أَتَاهُ ذُو الْخُوَيْصِرَةِ، [٤] وَهُوَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ، قَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! [٥] اعْدِلْ. قَالَ: (وَيْلَكَ فَمَنْ يَعْدِلُ إِذَا لَمْ أَعْدِلْ؟) [٦] قَدْ خِبْتَ وَخَسِرْتَ إِنْ لَمْ أَكُنْ أَعْدِلُ) [۷] فَقَالَ عُمَرُ: ائْذَنْ لِي أَنْ أَضْرِبَ عُنُقَهُ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي [۲] هغه وخت چې مونږ مقام جعرانه کښې رسول کريم صلى الله عليه وسلم سره ؤو [۳] او حضور صلى الله عليه وسلم غزوه حنين کښې حاصل شده مال غنيمت تقسيموی يوسړی چې دهغه نوم ذوالخويصره ؤو [٤] چې د مشهوري قبيلي بني تميم سره يي تعلق لرلي دحضور صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې دراتلو سره يي اوويل يارسول الله [٥] مال غنيمت تقسيمولو کښې دعدل اوانصاف نه کار واخلي حضور صلى الله عليه وسلم په دې اوريدو سره وفرمايل په تا آفسوس دی چې زه عدل اوانصاف نه کوم نوڅوک به يي کوي [٦] که زه دعدل اوانصاف نه کار وانخلم نويقيناً ته به محروم شی اوتاوان کښې به شي [۷] حضرت عمر رضي الله عنه بارګاه رسالت کښې دهغه سړي دا ګستاخانه الفاظو اوريدو سره عرض وکړو يارسول الله صلى الله عليه وسلم اجازت راکړی چې ددې ګستاخ سر والوزم.

حل اللغات:- ① قَسْمًا: دا مصدر دې تقسيمولو نکی څيز ته وائی، وَهُوَ الْغَنِيمَةُ: ددې نه مراد مال غنيمت دې. ② خِبْتَ وَخَسِرْتَ: محروم به شې اوپه تاوان کښې به شې.

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب علامات النبوة فی الإسلام (رقم-٣٦١٠) ومسلم فی کتاب الزکاة/باب ذکر الخوارج وصفاتهم (رقم-١٤٣ - (١٠٦٤) وابن ماجه فی کتاب فی الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل ابن عباس (رقم-١٧١) واحمد فی المسند: ٣/٥٦

[۱] قَالَ: دَعْهُ، فَإِنَّ لَهُ أَصْحَابًا [۲] يَحْقِرُ أَحَدُكُمْ صَلَاتَهُ مَعَ صَلَاتِهِمْ وَصِيَامَهُ مَعَ صِيَامِهِمْ، [۳] يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ تَرَاقِيَهُمْ، [۴] يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ، [۵] يُنْظَرُ إِلَى نَصْلِهِ، إِلَى رِصَافِهِ إِلَى نَضِيِّهِ [٦] وَهُوَ قِدْحُهُ، إِلَى قُذَذِهِ [۷] فَلَا يُوجَدُ فِيهِ شَيْءٌ [۸] قَدْ سَبَقَ الْفَرْثَ وَالدَّمَ [۹] آيَتُهُمْ رَجُلٌ أَسْوَدُ، [۱۰] إِحْدَى عَضُدَيْهِ مِثْلُ ثَدْيِ الْمَرْأَةِ، [۱۱] أَوْ مِثْلُ الْبَضْعَةِ تَدَرْدَرُ، [۱۲] وَيَخْرُجُونَ عَلَى خَيْرِ فِرْقَةٍ مِنَ النَّاسِ».

ترجمه: [۱] حضور ﷺ ورته وفرمايل نه دي په خپل حال پريږده ځکه چې څه خلق به دده تابع وي [۲] چې دهغوی دمونځونو مقابله کښې به تاسو خپل مونځونه اودهغوی دروژو مقابله کښې به تاسو خپلې روژې حقيرې سپکې ګڼې [۳] داخلق به قرآن وايي ليکن قرآن به ددوی حلق نه لاندې نه ځي [۴] اودوی به دين نه داسې اوځي ځرنګه چې تير ښکار شلولو سره بالکل تري اوځي [۵] خواه دهغه د تير (غشی) څوکه وکتل شي چې دهغه دپاسه حصه (واندې) وي [٦] اودا (نضية د غشی د څوکې نه) دهغه د وزر پورې حصې ته اوکتلې شی [۷] نو په هغې کښې چيرته هيڅ هم نه ليدل کيږي [۸] حالانکه هغه تيرد نجاست اووينې نه کيدو سره اوځي (تيريږي) [۹] اوددې سړی ذوالخويصرة دتابعدارو د سردار علامت دادی چې هغه به دتور رنګ سړی وي [۱۰] چې دهغه يو اړخ کښې به دښځې دتيانو په شان راپورته شوی غوښه وی [۱۱] يا به دغوښې يوه ټکړه وي چې زړيږي به [په دې بناء هغه ته به ذوالثديه ويلې شي] [۱۲] اوهغه خلق يعنې دهغه سړی تابعدار به دخلقو يوه بهترينه طبقه [يعنی حضرت علي ﷺ اودهغه دتابعدارو] خلاف بغاوت کوي.

حل اللغات: -(۲) يَحْقِرُ: سپک به ګڼي. (۳) تَرَاقِيَهُمْ: جمع د تَرْقُوَة ده، وَهِيَ الْعِظَامُ بَيْنَ ثُغْرَةِ الْحَلْقِ وَالْعَاتِقِ: دمرئ بهر راوتلې هډوکی ته وائی. (۵) يَمْرُقُونَ: أَيْ: يَخْرُجُونَ: مروق نه دې دوتلو په معنی کښې دي. (٦) الرَّمِيَّةِ: وَهِيَ الصَّيْدُ: دا د مرمية په معنی کښې دې ښکارته وائی. (۷) نَصْلِهِ: د غشی مخ او پل ته وائی (۸) رِصَافِهِ: وَهُوَ عَصَبٌ يُلْوَى فَوْقَ مَدْخَلِ النَّصْلِ: رصاف هغه تسمې ته وائی کوم چه د غشی په مخ اودې د لرګی پيوند باندې تړلې شی. (۹) نَضِيِّهِ: وَهُوَ قِدْحُهُ: د غشی مخ اود دې د وزر په مينځ کښې چه د لرګی کومه حصه ده هغې ته قدح وائی لکه چه قدح د غشی د لرګی پوره حصې ته وائی. (۱۰) قُذَذِهِ: دا د قُذَّةٍ جمع ده، أي رِيشُ السَّهْمِ: دغشی وزرې. (۱۱) الْبَضْعَةِ: أَيْ قِطْعَةِ اللَّحْمِ: دغوښې ټکړه، (۱۲) تَدَرْدَرُ: أَيْ: تَضْطَرِبُ: خوزی به،

[۱] قَالَ أَبُو سَعِيدٍ: أَشْهَدُ أَنِّي سَمِعْتُ هَذَا الْحَدِيثَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] وَأَشْهَدُ أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ قَاتَلَهُمْ وَأَنَا مَعَهُ، [۳] فَأَمَرَ بِذَلِكَ الرَّجُلِ فَالْتُمِسَ، فَأُتِيَ بِهِ، [۴] نَظَرْتُ إِلَيْهِ عَلَى نَعْتِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الَّذِي نَعَتَهُ».

ترجمه: [۱] اوحضرت ابوسعيد ﷺ بيان کوي زه شهادت ورکوم اوماخپله داحديث درسول کريم ﷺ نه اوريدلي دي [۲] اوبيا داشهادت ورکوم چې امير المؤمنين حضرت علي کرم الله وجهه ددې فرقې دخلقو سره چې هغوی طرف ته حضور ﷺ دې حديث کښې اشاره

وفرمايله جنګ وکړو اوزه هغه جنګ کښې حضرت علي ﷺ سره ملګري ووم ۳ حضرت علي ﷺ هغه جنګ کښې فتح ياب شو او د دشمنانو د پسپائي نه وروسته د هغه سړي د تلاش حکم يې وکړ چې د هغه باره کښې رسول کريم ﷺ پيشن ګوئي فرمايلې وه نو مقتولين تلاش کولو سره حضرت علي ﷺ ته هغه سړی راوړل شو ٤ نو ماوليدل چې نبی کريم ﷺ د هغه کوم علامت خودلې ؤ وو په هغه کښې موجود ؤو.

۱ وَفِي رِوَايَةٍ: «أَقْبَلَ رَجُلٌ غَائِرُ الْعَيْنَيْنِ، ۲ نَاتِئُ الْجَبْهَةِ، ۳ كَثُّ اللِّحْيَةِ، ٤ مُشْرِفُ الْوَجْنَتَيْنِ ٥ مَحْلُوقُ الرَّأْسِ، ٦ فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ اتَّقِ اللَّهَ. ۷ فَقَالَ: (فَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ إِذَا عَصَيْتُهُ! ۸ فَيَأْمَنُنِي اللَّهُ عَلَى أَهْلِ الْأَرْضِ وَلَا تَأْمَنُونِي) ۹ فَسَأَلَ رَجُلٌ قَتْلَهُ، فَمَنَعَهُ، ۱۰ فَلَمَّا وَلَّى قَالَ: (إِنَّ مِنْ ضِئْضِئِ هَذَا قَوْمًا يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ ۱۱ لَا يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ، ۱۲ يَمْرُقُونَ مِنَ الْإِسْلَامِ مُرُوقَ السَّهْمِ مِنَ الرَّمِيَّةِ، ۱۳ فَيَقْتُلُونَ أَهْلَ الْإِسْلَامِ ۱٤ وَيَدَعُونَ أَهْلَ الْأَوْثَانِ، ۱٥ لَئِنْ أَدْرَكْتُهُمْ لَأَقْتُلَنَّهُمْ قَتْلَ عَادٍ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ اوپه يو روايت کښې [حضور ﷺ ته د ذوالخويصره د راتګ ذکر په خاي] داسې مذکوردی [هغه وخت چې حضور ﷺ مال غنيمت تقسيموی] يو سړی د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شو چې د هغه سترګې دننه ننوتي وې ۲ تندي يې راپورته شوی ؤو ۳ ږيره يې ګڼه وه، ٤ بارخوګان (اننګی) يې را پورته شوی وو ، ٥ سر يې خريلی وو ٦ هغه اوويل اې محمد ﷺ د الله نه ويريږه [يعنی د الله تعالی اطاعت وکړه او تقسيم کښې د عدل او انصاف نه کار واخله] ۷ حضور ﷺ ورته وفرمايل که زه د الله ﷻ نافرماني وکړم نو بيا څوک به د الله تعالی اطاعت کوي [يعنی زه مقام نبوت او عصمت باندې د فائز کيدو په بناء د ټولو نه زيات ويره کونکي او د ټولو څخه زيات د هغه اطاعت کونکي يم ته ماته د اطاعت کولو څه سبق راکوي] ۸ زه الله تعالی په مخ د زمکې په خلقو کښې د ټولو څخه لوی منم [او مخلوق کښې عدل او انصاف قائمولو د پاره يې زه دي دنياته راليږلی يم] دا صرف ته يې چې ما امين نه ګڼي [او په ما اعتماد نه کوي] ۹ يو صحابي [يعنی حضرت عمر ﷺ د هغه سړي ګستاخي ليدو سره حضور ﷺ نه] د هغه سړي د سر پريکولو اجازت وغوښتل ليکن حضور ﷺ هغه منع کړو ۱۰ او هر کله چې هغه سړی واپس لاړلو نو وې فرمايل د دې سړي د اصل نه به يو قوم پيدا کيږي هغه خلق به قرآن کريم وايي ۱۱ ليکن قرآن کريم به د هغوی د حلق نه لاندې نه تيريږي ۱۲ اسلام [يعنی د کمال اسلام] دائرې [يا د امام وخت د اطاعت] نه به هغوی داسې اوځي څرنګه چې تير د ښکار نه اوځي ۱۳ بيا به هغه خلق [يعنی خارجيان] اهل اسلام خوبه قتل کوي ۱٤ او بت پرست به د هغوی په حال پريږدي [مطلب دا چې کوم خلقو سره جنګ کول زيات اهم وي يعنی کافرو او بت پرستو سره هغوی سره خوبه جنګ نه کوي البته د مسلمانانو خلاف به جنګ و جدل کښې مصروف وي] که زه هغه خلق بيا ووينم نو هغوی به داسې قتل کړم څرنګه چې د عاد قوم خلق قتل شوي ؤو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ⑬غَائِرُ الْعَيْنَيْنِ: أَيْ: غَارَتْ عَيْنَاهُ وَدَخَلَتَا فِي رَأْسِهِ: ورننوتي سترګي. ⑬نَاتِئُ الْجَبْهَةِ: رابهرشوي تندي. ⑮مُشْرِفُ الْوَجْنَتَيْنِ: أَيْ: عَالِي الْخَدَّيْنِ: ډک راپړسيدلې مخ، ⑯مَحْلُوقُ الرَّأْسِ: سر به خرائي يعنى دَ ويښتـه ساتل به جائز نه ګڼړی هميشه به سر خروی. ⑰ضِئْضِئ: أَيْ: مِنْ أَصْلِهِ وَنَسَبِهِ وَعَقِبِهِ: اصل نسل، نسب اوخاندان (تابعدار او منونکی خلق مراد دی).

تسهيلات: قوله: أَتَاهُ ذُو الْخُوَيْصِرَةِ:

د ذوالخويصره پيژندګلو: دا سړې پوخ منافق وو. بنوتميم سره دَده خانداني تعلق وو. هغه دَحضورپاك په تقسيم باندې ډېرسخت اعتراض اوکړو. کله چه دَ حضرت علی ﷺ په زمانه کښې دَخوارجو ظهوراوشو اونهروان او حروراء مقام کښې ډېر زيات خوارج يوځائې شو نوبيا داسړې په پوره توګه راښکاره شو. هم دې سړی خوراج دَ حضرت علی ﷺ خلاف په بغاوت باندې راپاسول او په بنيادی توګه هم دې سړی دَ خوارجو بنياد کيخودو. بياحضرت علی ﷺ هغه په يوجنګ کښې قتل کړو.

د ذوالخويصره د خوارجوسردار کيدوقول: دَ خوارج ظهور دَحضورپاك اوخلفاء ثلاثه په زمانه کښې نه وو شوې بلکه دَحضرت علی ﷺ په زمانه کښې شوې وو. لهذا دا ويناکول صحيح نه دی چه ذوالخويصرة دَخارجيانوسردار وو ځکه چه داسړې اول خارجی نه وو اودَ خارجيانودَ ظهورنه پس که چرته دَهغوی سردار جوړشوې وی نوجوړبه وی. دې سړی په حضورپاك دَ مال غنيمت په تقسيم کښې سخت اعتراضات کړې وو که چرې دې ئې قتل کړې وې نو قتل جائز وو مګرحضوراکرم ﷺ دَخپل کريمانه اخلاقودَ وجې هغه قتل نه کړو. فی الحال داسړې خارجی هم نه وو که چرې خارجی وې نوحضوراکرم ﷺ قسم خوړلې ووکه څوك خارجی ماته ملاؤ شو نوزه به هغه قتل کړم. دا اشاره دَ دغه سړی دَ اولادطرف ته وه اودَ هغه نه پس راتلونکې خارجيانو دَ نسل طرف ته وه. چنانچه حضرت علی ﷺ کاروائی اوکړه.

قوله: خِبْتَ وَخَسِرْتَ:

د خبت اوخسران وجه: خطاب سره کلام دې يعنی که ستاسو داعقيده وی چه زه انصاف نه کوم نوتاسودَدغه عقيدې دَ وجې نه تباه اوبربادشوئی لکه چه تاسو دَ هميشه دَپاره دَعدل نه محروم پاتې شوئی ځکه چه ماسره عدل نشته نوتاسوته به چرته عدل ملاؤشی؟ بل ځائی کښې خوهډوعدل شته نه.

قوله: أَنْ أَضْرِبَ عُنُقَهُ:

اشکال: دَ حضرت عمر ﷺ دَ اجازت غوښتونه باوجود حضورپاك دَ ذوالخويصره دَ قتل نه منع کړو حالانکه حضورپاك پخپله تمنا کوله چه که چرې ماته خوارج ملاؤ شو نوزه به هغوی قتل کوم.

داشکال جواب: دَ مخکښې نه شوې دې چه ذوالخویصره هغه وخت دَ خوارجو په صفونو کښې نه وو ښکاره شوې او نه هغه وخت دَ خوارجو څه زور وو. داسړې پخپله خارجی هم نه وو البته دَ هغه دَ نسل نه خوارج پیدا شو بیا دې دَ هغوی مشرشو. هغه وخت نه پس بیا دَحضرت علی ﷺ دور وو حضور پاك دَ دغه روستو دور باره کښې دَهغه دَ قتل اوفرمائیل.

قوله: يُنْظَرُ إِلَى نَصْلِهِ،

دا دَ مجهول صیغه ده یعنی چه او کتلې شی نو چرته هم دَ غشی یوه حصه په څه څیزسره ککړه نه ښکاری حالانکه هغه دَ وینې او سوټو دَ مینځ نه تیرید وسره اوځی. نو چه څنګه غشې صفا صفا راوځی دا خلق به هم دَاسلام نه دغه شان صفا صفا اوځی.

قوله: الْبَضْعَةِ:

د بضعة وضاحت: دَ غوښې زورندې ټکړې ته وائی یعنی دا به تور سړې وی یو مټ به ئې ناقص وی هغه به دغه شان زورند وی لکه چه دَ ښځې سینه وی یا پرې کړې شوې دَ غوښې ټکړه وی. "تدردر" اي تضطرب تجئ وتذهب داسې به خوزیږی لکه چه یوه غوښه زورندیدو سره وراندې روستو ځی راځی.

قوله: عَلَى خَيْرِفِرْقَةٍ:

د حضرت علی رضی الله عنه د حقانیت دلیل: یعنی دَمسلمانانو دَ دوو ډلو په مینځ کښې دَاختلاف په وخت دَ خوارج دا فرقه خروج کوی مګر دَ دواړو ډلونه دَ ښه ډلې خلاف به خروج کوی. دَ ښه ډلې نه دَ حضرت علی ﷺ جماعت مراد دې دویم فریق دَحضرت معاویه جماعت دې هغه خلق په اجتهادی خطاء باندې وو نو یوه ډله ډیره ښه او بله صرف ښه وی.

قوله: ضِئْضِئِ:

د نسل څخه مراد: یعنی دَ هغه دَ اصل نه او دَ هغه دَ نسل نه به څه خلق راځی دَدغه اصل اونسل نه دَهغه حقیقی اولاد مراد نه دې بلکه دَهغه تابعدار او منونکی مراد دی. دا قسم خلق هم دَدغه سړی په محنت سره روستو پیدا شو نو دا اخبار بالغیب وو هم په دې کښې دَمعجزه ظهور اوشو.

[۵۸۹۵] د نبی علیه السلام په دعا د ابوهریره د مور اسلام راوړل

۵۸۹۵- (¹) [۲۶] ۱ «وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: كُنْتُ أَدْعُو أُمِّي إِلَى الْإِسْلَامِ وَهِيَ مُشْرِكَةٌ، ۲ فَدَعَوْتُهَا يَوْمًا، فَأَسْمَعَتْنِي فِي رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَا أَكْرَهُ، ۳ فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ وَأَنَا أَبْكِي، قُلْتُ: يَا رَسُولَ

---

¹ اخرجه مسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل أبی هریرة الدوسی رضی الله عنه (رقم-۱۵۸ - (۲٤۹۱) واحمد فی المسند:۲/۳۲۰

اللّٰهِ! [۴] ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَهْدِيَ أُمَّ أَبِي هُرَيْرَةَ [۵] فَقَالَ: (اللّٰهُمَّ اهْدِ أُمَّ أَبِي هُرَيْرَةَ). [۶] فَخَرَجْتُ مُسْتَبْشِرًا بِدَعْوَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۷] فَلَمَّا صِرْتُ إِلَى الْبَابِ فَإِذَا هُوَ مُجَافٍ، فَسَمِعَتْ أُمِّي خَشْفَ قَدَمَيَّ

ترجمه: [۱] اوحضرت ابوهریره ﷺ وایي زما مور چې مشرکه وه مابه هغه ته داسلام قبلولو تلقین کولي [۲] یوه ورځ ماهغه ته دمعمول مطابق داسلام قبلولو تلقین وکی نوهغه درسول الله ﷺ په شان مبارك کښې یوه داسې ګستاخانه خبره وکړه چې په ماسخته ناخوښه ولګیده بلکي زه خو اوس دهغه نقل کول هم مناسب نه ګڼم [هغه خبري باندې غمجن کیدو سره چې هغه زما مخکې دومره خراب الفاظ دژبي نه وښکل اودمور کیدو په وجه زه دهغه بي ادبي هم نشم کولی] [۳] زه په ژړا درسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم اوعرض مي وکی یارسول الله ﷺ [۴] اوس خوتاسو ﷺ الله تعالٰی نه دعا وغواړی . چې دابوهریره ﷺ مورته هدایت وکړي [۵] حضور ﷺ دعا وکړله اې الله دابوهریره ﷺ مورته هدایت وکړي [۶] دنبي کریم ﷺ دعا نه ډیر خوشحاله اوامید سره دبارګاه نبوت نه واپس راغلم [۷] کوم وخت چې دمور کورته راورسیدم نوڅه ګورم چې دروازه بنده ده لیکن زما مور زما دقدمونو اواز اوریدلی ؤو.

حل اللغات:- ① فَأَسْمَعَتْنِي : ماته ئې واؤروله، خبره ئې راته اوکړه. ② صِرْتُ : أَيْ: وَاصِلًا: اورسیدم. ③ مُجَافٍ: أَيْ مَرْدُودٌ: یعنی دروازه بنده وه. ④ خَشْفَ: أَيْ: صَوْتَهُمَا: دَ قدم کش کرپ آواز ته وائی.

[۱] فَقَالَتْ: مَكَانَكَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، [۲] وَسَمِعْتُ خَضْخَضَةَ الْمَاءِ، [۳] فَاغْتَسَلَتْ فَلَبِسَتْ دِرْعَهَا، وَعَجِلَتْ عَنْ خِمَارِهَا، [۴] فَفَتَحَتِ الْبَابَ، ثُمَّ قَالَتْ: [۵] يَا أَبَا هُرَيْرَةَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ [۶] فَرَجَعْتُ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَأَنَا أَبْكِي مِنَ الْفَرَحِ [۷] فَحَمِدَ اللَّهَ وَقَالَ خَيْرًا.» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] هغه ددننه نه اواز وکی ابوهریره ﷺ انتظاروکه [یعنی اوس لاکورته مه راځه] [۲] بیاما داوبو غورځیدو اواز واوریدی [۳] زما مور غسل وکی کپړې یي واچولي اوپه تلوار پوړنی یې لانه وو اچولې [۴] دروازه یې خلاصه کړه اوزما لیدو سره یي اوویل [۵] زه ګواهي کوم چې الله نه سوا بل معبود نشته اوګواهي کوم چې محمد ﷺ دالله تعالٰی بنده اورسول دی [۶] ما دالیدو سره چې زما دخوږي مور هدایت نصیب شو اوهغي اسلام قبول کړی واپس دخوشحالی نه اوښکې تویولو سره درسول کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم [۷] حضور ﷺ دالله تعالٰی تعریف وکی اوزما دمور په اسلام یي شکر اداء کی اودخیرخبره یي وکړه. (مسلم).

حل اللغات:- ⑤ خَضْخَضَةً: أَيْ تَحْرِيْكَهُ، وَقِيْلَ: صَوْتُهُ: اوبو لـه حركت وركول، يا د اوبو د شرپيدو آواز تـه وائى. ⑨ دِرْعَهَا: أَيْ قَمِيْصَهَا: كميص، جامې، ⑥ خِمَارِهَا: څادر، پروني.

تسهيلات: قوله: عَجِلَتْ:

د نبى عليه السلام د معجزې ظهور: يعنى دَ لوبتې اچولونه وړاندې بهر راوتله. دَحضرت ابوهريره ﷛ مورته دَ هدايت دعاوکړې شوه اوهدايت ورته ملاؤشو. په دې کښې دَ حضورپاك دَ معجزه ظهوراوشو.

[۵۸۹۶] د ابوهريره ﷛ د حافظې قوى كيدو معجزه

۵۸۹۶-(۲۷)[۱] ① وَعَنْهُ، قَالَ: «إِنَّكُمْ تَقُولُونَ: أَكْثَرَ أَبُوهُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ② وَاللّٰهُ الْمَوْعِدُ، وَإِنَّ إِخْوَتِي مِنَ الْمُهَاجِرِينَ كَانَ يَشْغَلُهُمُ الصَّفْقُ بِالْأَسْوَاقِ، ③ وَإِنَّ إِخْوَتِي مِنَ الْأَنْصَارِ كَانَ يَشْغَلُهُمْ عَمَلُ أَمْوَالِهِمْ، ④ وَكُنْتُ امْرَأً مِسْكِينًا أَلْزَمُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَلَى مِلْءِ بَطْنِي،

ترجمه: ① اوحضرت ابوهريره ﷛ يوه ورځ تابعين مخاطب كولو سره ياخرنګه چې بعضې حضراتو ويلې دې متاخرين صحابه مخاطب كولو سره اوويل تاسو چې داوايې چې ابوهريره ﷛ دحضورﷺ څخه ډير زيات حديثونه نقل كوي ② نو مخكې په دې پوهه شئ چې دالله تعالى وعده برحق ده بياداواوري زه دزياتو حديثونو بيانولو سبب تاسو تـه بنايم چې زما مهاجر ورونـه خوبازار كښې خريدو فروخت مشغول كړى وو ③ اوزما انصار ورونوتـه دهغوى مزكې اوجائيداد فرصت نـه وركوى ④ اوهر چې زه يم نوزه يومفلس اومسكين سړى ووم په مړه خيټه طعام پيداكولو باندې قناعت كولو سره درسول كريم ﷺ په خدمت كښې به پروت ووم.

حل اللغات:- ① وَاللّٰهُ الْمَوْعِدُ: ددې دوه معانې دى، ۱: الله مونږسره وعده كړې ده ږيته بـه اولګى چه څوك رښتوني دې او څوك دروغجن. ۲: أَيْ لِقَاءُ اللّٰهِ الْمَوْعِدُ: الله تعالى سره ملاويدلو وخت مقرردې يعنى ورځ دقيامت ږكه زه څه كمې زياتې كوم الله بـه ئې راسره حساب كتاب كوى. ② الصَّفْقُ: أَيْ: ضَرْبُ الْيَدِ عَلَى الْيَدِ عِنْدَ الْبَيْعِ: په وخت د بيع كښې يو لاس بل لاس ته په زور سره راپريخودل دا په اختلو خرڅولو كښې د بيع منعقد كيدو څخه كنايه وى. ③ أَلْزَمُ: أَيْ: صُحْبَتَهُ وَخِدْمَتَهُ: يعنى هروخت به د نبى عليه السلام سره ووم اودهغوى خدمت به مې كولو.

① وَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَوْمًا: ② «لَنْ يَبْسُطَ أَحَدٌ مِنْكُمْ ثَوْبَهُ حَتَّى أَقْضِيَ مَقَالَتِي هَذِهِ ③ ثُمَّ يَجْمَعَهُ إِلَى صَدْرِهِ فَيَنْسَى مِنْ مَقَالَتِي شَيْئًا أَبَدًا». ⑤ فَبَسَطْتُ نَمِرَةً لَيْسَ عَلَيَّ ثَوْبٌ غَيْرَهَا حَتَّى قَضَى النَّبِيُّ -صَلَّى

[1] اخرجه البخارى فى كتاب العلم/باب حفظ العلم (رقم-۱۱۸) ومسلم فى كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب من فضائل جرير بن عبد الله رضى الله تعالى عنه (رقم-۱۳٦ - ۲٤۷٦) والترمذى فى كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب معاوية بن أبى سفيان رضى الله عنه (رقم-۳۸٤۲) وابن ماجه فى كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل جرير بن عبد الله البجلى (رقم-۱۵۹)

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَقَالَتَهُ، ⑥ ثُمَّ جَمَعْتُهَا إِلَى صَدْرِي، ⑦ فَوَالَّذِي بَعَثَهُ بِالْحَقِّ مَا نَسِيتُ مِنْ مَقَالَتِهِ ذٰلِكَ إِلَى يَوْمِي هٰذَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① بيا يوه ورځ داسې وشوه چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ② که تاسو کښې يو سړی خپله کپړه خوره کړي او هغه وقته پورې يې خوره کړي وي څوپورې چې زه خپله دعا پوره نه کړم ③ او بيا هغه سړی خپله کپړه راغونډولو سره خپلې سينې سره ولګوي نو دا هيڅ کله نشي کيدی چې هغه دي زما حديث کلی طور سره ياجزوي طور سره کله هم هير کړي ④ نو ما فوراً خپل کمبله وغوړول چې د هغه نه علاوه ما سره بله څه کپړه نه وه او هغه مې هغه وقته پورې خوره کړي وه ترڅو چې حضور ﷺ خپله خبره حديث پوره نه کړل ⑥ او بيا هغه راغونډولو سره خپلې سينې سره مې ولګوله ⑦ قسم دي په هغه ذات چې حضور ﷺ يې په حق سره راليږلی دی د هغه نه وروسته ترننه پورې څه چې حضور ﷺ نه اورم هيڅ ارشاد يې نه هيروم. (بخاري مسلم)

حل اللغات: -③ أَقْضِيَ: أَيْ: أُفْرِغَ: پوره کړم، فارغ شم. ⑤ مَقَالَتِي: دخپلې خبرې نه (ددې نه مراد د ياد ساتلو او دحفظ کولو دعا ده يا هغه کلام دې کوم چه نبي عليه السلام شروع کړې وو. ⑥ نَمِرَةٌ: ددې جمع نِمَارٌ ده، أَيْ: شَمْلَةٌ مُخَطَّطَةٌ: برګ څادر، يا کمبل، (نَمِر ورته ځکه وائی چې نمر پړانګ ته وائی او په دې کښې هم لکه د پړانګ سپينې اوتورې کرښې وي)

تسهيلات:

قوله: أَكْثَرَ أَبُو هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.. الخ:

د حضرت ابوهريره ؓ په کم وخت کښې د زياتو احاديثو رانقل کولو وجوهات: حضرت ابوهريره متأخر في الاسلام دي ليکن هغوی احاديث د ټولو نه زيات بيان کړی دی. په دې باندې په صحابه کرامو او تابعينو کښې يوشك موندلې شو چه دومره احاديث حضرت ابوهريره ؓ څنګه بيان کړی دی. حضرت ابوهريره ؓ د دې په بهادرئی سره جواب ورکړې دې. هغوی دوه قسمه جواب ورکړې دې.

(۱) اول جواب دا چه انصار او مهاجرين په خپلو کارونو کښې لګيا وو او زه په اولګه تيرولو سره د حضورپاك په دروازه کښې پروت ووم او احاديث به مې يادول په دې وجه زما احاديث زيات دی.

(۲) دويم جواب ئې دا ورکړې دې يوه ورځ حضورپاك اوفرمائيل چه زه څه وايم چاسره چه څادر وی راؤړئ خور کړئ زه به په هغې باندې دم کوم. هغه سړې دې دغه څادر خپلې سينې سره اولګوی نو هغه به زما حديث کله هم هيرنه کړی. ما داسې اوکړه نو د حضوراکرم ﷺ معجزه ښکاره شوه او زما حافظه داسې تيزه شوه چه د هغې نه پس مې د حضورپاك يو حديث چرته هير نه کړو.

[۵۸۹۷] د جریر رضی الله عنه په حق کښې د دعا قبلیدو معجزه

۵۸۹۷-()[۲۸] ۱ وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ (أَلَا تُرِيحُنِي مِنْ ذِي الْخَلَصَةِ؟) ۳ فَقُلْتُ: بَلَى، وَكُنْتُ لَا أَثْبُتُ عَلَى الْخَيْلِ، ۴ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۵ فَضَرَبَ يَدَهُ عَلَى صَدْرِي حَتَّى رَأَيْتُ أَثَرَ يَدِهِ فِي صَدْرِي، ۶ وَقَالَ: (اللَّهُمَّ ثَبِّتْهُ وَاجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا). ۷ قَالَ: فَمَا وَقَعْتُ عَنْ فَرَسٍ بَعْدُ، ۸ فَانْطَلَقَ فِي مِائَةٍ وَخَمْسِينَ فَارِسًا مِنْ أَحْمَسَ ۹ فَحَرَّقَهَا بِالنَّارِ وَكَسَرَهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]

ترجمه: ۱ او حضرت جریر ابن عبدالله بجلي وايي يوه ورځ رسول کريم ﷺ ماته وفرمايل ۲ ایا ته به ذوالخلصه ماتولو سره ماته راحت وه نه رسوي ۳ ما عرض وکی چې ها دهغه په ماتولو سره تاسو ته به ضرور راحت ورسوم ليکن زما پاره يوه پريشاني داده چې زه دآس په سورلي پوره طور سره قادرنه ووم [اوکله کله به تري راوغورځيدم] ۴ ما نبي کريم ﷺ ته ددي ذکر وکی [چې ذوالخلصه ته رسيدو دپاره په آس سفر کول راځي اوزه دآس په سورلي پوره طور سره قادرنه يم] ۵ حضور ﷺ دي اوريدو سره زما په سينه دومره زور سره لاس مبارک راتيرکړي چې ما دهغه اثر سيني دننه پورې محسوس کړی ۶ او بيا يي زما په حق کښې دادعا وکړله اې الله جرير رضی الله عنه ظاهر اوباطن کښې ثابت اوقايم لري اودي هدايت ښوونکي اوهدايت پيدا کونکي جوړ کړي ۷ حضرت جرير رضی الله عنه وايي دي دعا نه وروسته زه هيڅ کله دآس نه ونه غورځيدم ۸ اوبيا داحمس يونيم سل سواره اخستو سره جرير رضی الله عنه ذوالخلصه ماتولو دپاره روان شو ۹ هلته رسيدو سره هغوی ذوالخلصه ته اور ورته کړي اوهغه يي دړي وړي کړله. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① أَلَا تُرِيحُنِي: دا د إِرَاحَة نه دي، راحت ورکولوته وائی. أَيْ: أَلَا تُخَلِّصُنِي: ته به ماته خلاصي رانکړې (يعنی خلاص به مې نه کړې دهغې په سوزولو يا ورانولو سره). ② ذِي الْخَلَصَةِ: وَهُوَ بَيْتٌ كَانَ لِخَثْعَمَ: دا د خثعم قبيلې مشهوره بت خانه وه دي ته به خلقو كَعْبَةُ الْيَمَامَةِ وئيل. ③ خَلَصَةُ: اِسْمُ طَاغِيَتِهِمُ الَّتِي كَانَتْ فِيهِ: د يو بت نوم دي کوم چه په دغه بت خانه کښې وو ④ لَا أَثْبُتُ: خانه نه شم مضبوطولي، خان نه شم ټينګولي. ⑤ هَادِيًا: نورو ته هدايت ښودونکي. ⑥ مَهْدِيًّا: په خپله هدايت حاصلونکي. ⑦ أَحْمَسَ: أَيْ: الشَّجَاعَةُ: بهادر (يعنی د قريشو شاه زلمی).

[1] اخرجه البخاری کتاب الجهاد والسير/باب حرق الدور والنخيل (رقم-۳۰۲۰) فی ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل جرير بن عبد الله رضی الله تعالی عنه (رقم-۱۳۶ - (۲٤۷۶) والترمذی فی کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب مناقب معاوية بن أبي سفيان رضی الله عنه (رقم-۳۸٤۲) وابن ماجه فی كتاب فی الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل جرير بن عبد الله البجلي (رقم-۱۵۹)

تسهيلات: قوله: مِنْ أَحْمَسَ:

د احمس مصداق: أي من قريش. قريش په ټولو عربو کښې زيات بهادر مشهور وو په دې وجه هغوی دَ احمس په نوم سره ياد کړې شو. بعضې وئيلی دی چه دا دَ حضرت جرير بن عبدالله ﷺ قبيله وه هيڅ تضاد نشته دې.

[۵۸۹۸] د يو کس باره کښې د زمکې نه قبلولو معجزه

۵۸۹۸-() [۲۹] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «إِنَّ رَجُلًا كَانَ يَكْتُبُ لِلنَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَارْتَدَّ عَنِ الْإِسْلَامِ، وَلَحِقَ بِالْمُشْرِكِينَ، [۳] فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (إِنَّ الْأَرْضَ لَا تَقْبَلُهُ). [۴] فَأَخْبَرَنِي أَبُو طَلْحَةَ أَنَّهُ أَتَى الْأَرْضَ الَّتِي مَاتَ فِيهَا فَوَجَدَهُ مَنْبُوذًا، [۵] فَقَالَ: مَا شَأْنُ هَذَا؟ فَقَالُوا: دَفَنَّاهُ مِرَارًا فَلَمْ تَقْبَلْهُ الْأَرْضُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] اوحضرت انس ﷺ وايي [۲] يو سړی چې دنبي کريم ﷺ وحي به يې ليکله مرتد شو اومشرکانو سره يوځاي شو [۳] نبی کريم ﷺ ته چې دهغه باره کښې داطلاع ورسيده نوحضور ﷺ وفرمايل دي به زمکه قبول نه کړي [۴] دحضرت انس ﷺ بيان دی ابوطلحه ﷺ چې زما دمور خاوند ؤو ماته وښودل کوم وخت چې ابوطلحه ﷺ هغه مقام ته ورسيدی کوم ځاي چې هغه سړی مړ اودفن شوی وو نو وي ليدل چې هغه دقبر نه بهر پروت دی [۵] هغه دخلقو نه پوښتنه وکړه ده ته څه شوي دي چې دقبر نه بهر پروت دی خلقو جواب ورکړی مونږ څوځلي داسړی دفن کړی دی ليکن زمکه يې نه قبلوي هر ځلي داسې وشي چې مونږ دی دفن کړو بيا چې راشو نو وينو چې بهر پروت دی اخر تنګ راتلو سره مونږ دده ښخول پريښي دي (بخاري مسلم).

حل اللغات: - ① فَارْتَدَّ: أَيْ: فَعَادَ نَصْرَانِيًّا: مرتد شو (اسلام ئې پريخودو او نصرانی جوړشو). ② مَنْبُوذًا: أَيْ مَطْرُوحًا: راغورزولې شوې (قبر به بهر راغورزولې وو).

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الْأَرْضَ لَا تَقْبَلُهُ،

د زمکې نه قبلول: وئيلی شی دا سړې عيسائی ووبيا مسلمان شو بيامرتد کيدوسره مشرکينوسره ملاشو. حضورپاك اوفرمائيل زمکه به دا سړې قبول نه کړی کيدې شی چه حضورپاك دغه وخت کښې څه بددعا هم کړې وی. اوس دَمرګ نه پس قبر هغه قبول نه کړو. زمکې هغه بهر راګذار کړو. خلقو باربار ښخ کړو خوزمکې به هغه بهر راغورزولو بيا خلقو ښخول پريخودل.

---

[1] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب علامات النبوة فی الإسلام (رقم-۳۶۱۷) ومسلم فی کتاب صفات المنافقين واحکامهم (رقم-۱۴ - (۲۷۸۱) واحمد فی المسند: ۳/ ۱۲۱

[۵۸۹۹] ديهوديانو د قبرونو د احوالو كشف كيدو معجزه

۵۸۹۹-(١) [۳۰] ①وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ②«خَرَجَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَقَدْ وَجَبَتِ الشَّمْسُ، ③فَسَمِعَ صَوْتًا، فَقَالَ: (يَهُودُ تُعَذَّبُ فِي قُبُورِهَا)». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① اوحضرت ابوايوب انصاري ﷺ وايي ② يوه ورځ نبی کريم ﷺ نمر غرق يدو نه وروسته دکور نه اووتلو ③ نويو آواز يي واوريدی هغه اواز اوريدو سره وي فرمايل دايهود دی يعنی دا آواز دهغه يهوديانو دي چې قبر کښې عذاب ورکول کيږي (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① وَجَبَتِ الشَّمْسُ: أَيْ سَقَطَتْ وَغَرَبَتْ: نمبر پريوتلي وو، غروب شوي وو

تسهيلات: قوله فَسَمِعَ صَوْتًا:

د آواز کونکی په مصداق کښې اقوال: ① دا دَ هغه فرښتو آواز وو چه يهوديانوته نی په قبرونوکښې عذاب ورکولو

② دا دَ هغه خلقو آواز ووچاته چه عذاب ورکولې شو. يا دادَ عذاب دَ واقع کيدو آواز وو

په حديث باندې اشکال: په باب إثبات عذاب القبر کښې يو حديث تيرشوې دې په هغې کښې دی چه کله مړی ته په قبر کښې عذاب ورکولې شی نو بغيردَ پيريانو او انسانانو نه نور ټول مخلوق دغه عذاب اورى خو دلته په حديث کښې دی چه حضورپاك دغه آواز اوريدلې دې. نو په ظاهره په دواړو احاديثوکښې تعارض دې؟

د اشکال دوه جوابونه: ① په هغه حديث کښې رسول الله ﷺ مستثنى دې چه کله الله تعالى غواړى نو حضورپاك ته دَ قبر عذاب ورښائى او چه کله نه غواړى نو نه ورښائى

② دَ رسول الله ﷺ يهوديانوته دَ عذاب کيدو آواز اوريدل دادَ رسول الله ﷺ دَمعجزاتو نه دی هم په دې وجه صاحب مشکوة دا په باب المعجزات کښې نقل کړې دې

قوله: يَهُودُ تُعَذَّبُ فِي قُبُورِهَا،

د عذاب قبر خبر ورکولو معجزه: يعنی دَ قبر عذاب اودَ هغې احوال په حضورپاك باندې ښکاره شو. په دې کښې دَ حضورپاك دَ معجزې ظهور اوشو

[۵۹۰۰] سيلی ليدو سره ديومنافق دمرګ خبر ورکولو معجزه

۵۹۰۰-(٢) [۳۱] ①عَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَدِمَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ سَفَرٍ، ②فَلَمَّا كَانَ قُرْبَ الْمَدِينَةِ هَاجَتْ رِيحٌ ③تَكَادُ أَنْ تَدْفِنَ الرَّاكِبَ، ④فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (بُعِثَتْ هٰذِهِ الرِّيحُ لِمَوْتِ مُنَافِقٍ). ⑤فَقَدِمَ الْمَدِينَةَ، فَإِذَا عَظِيمٌ مِنَ الْمُنَافِقِينَ قَدْ مَاتَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الجنائز/باب التعوذ من عذاب القبر (رقم-۱۳۷۵) ومسلم فی کتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب عرض مقعد الميت من الجنة أو النار عليه، وإثبات عذاب القبر والتعوذ منه (رقم-۶۹ - (۲۸۶۹) والنسائی فی كتاب الجنائز/باب عذاب القبر (رقم-۲۰۵۹) واحمد فی المسند: ۴۱۷/۵

[2] اخرجه مسلم فی کتاب صفات المنافقين وأحكامهم (رقم-۱۵ - (۲۷۸۲) واحمد فی المسند: ۳۱۵/۳

ترجمه: [۱] اوحضرت جابر رضي الله عنه وايي يوه ورځ نبی کريم ﷺ دسفر نه مدينې ته واپس راغلو [۲] مدينې ته چې نژدې ورسيدې نوسخته سيلئ راغله [۳] اوسخته هم دومره چې نژدې وو چې سواريه زمکه کښې دفن کړي ايعنې دهغه سيلئ شدت اوتيزي ليدو سره داسې محسوسيده چې هيڅ سوار به په زمکه قائم نشي پاتې دطوفاني سيلئ يوه سخته څپه به يې الوخولو سره يوسې اولري نامعلوم ځاي کښې به يې هلاک کړي[[۴] حضور ﷺ په دې موقع وفرمايل داسيلئ ديومنافق په مرګ راليږل شوي ده [۵] حضور ﷺ چې مدينې ته داخل شو نومعلومه شوه چې دمنافقانو يولوی سردار مړشوي دي (مسلم)

حل اللغات: - ① هَاجَتْ: أَيْ: ثَارَتْ: راوالوته هوا ② تَدْفِنَ الرَّاكِبَ: أَيْ: أَنْ تُوَارِيَهُ: چه راويه نې غورځوی

تسهيلات:

قوله: هَاجَتْ رِيحٌ:

د سختې هوا راالوتل: يعنې داسې سخته طوفاني هوا راوالوتله چه داسې معلوميدله چه يوسوربه هم په سورلئ باندې پرينږدی بلکه دَ سورلئ نه به ئې ښکته راګذارکړي او په زمکه کښې به ئې ورخښ کړي.

قوله: لِمَوْتِ مُنَافِقٍ:

د بدکردارکس په مرګ هوا راالوتل: يعنې داسخته طوفاني هوادَيومنافق دَ مرګ دَوجې راغلې ده هغه داسې سپيره سړې وو چه دَهغه په مرګ باندې هم دَقدرت دَطرفه بدامنئ، وحشت ګندګي اوبدحالي خوريدو قدرتي اظهار وو لکه دَ بدکردارحاکم په راتلوسره چه دَهغه خلاف مظاهره کيږی. وائی چه دَدَغه منافق نوم رفاعه بن دريدوو

د منافق د مرګ خبرورکولو معجزه: حضورپاك مدينې ته دَرسيدونه وړاندې دَمعجزې په توګه دَهغه دَمرګ خبرورکړو داپه اخبار بالغيب کښې دَمعجزې ظهوروو

[۵۹۰۱] د مدينې دحفاظت په باره کښې د معجزې ښکاره کيدل

۵۹۰۱-(۱) [۳۰] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حَتَّى قَدِمْنَا عُسْفَانَ، [۳] فَأَقَامَ بِهَا لَيَالِيَ، [۴] فَقَالَ النَّاسُ: مَا نَحْنُ هَاهُنَا فِي شَيْءٍ، [۵] وَإِنَّ عِيَالَنَا لَخُلُوفٌ مَا نَأْمَنُ عَلَيْهِمْ، [۶] فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالَ: (وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ [۷] مَا فِي الْمَدِينَةِ شِعْبٌ وَلَا نَقْبٌ إِلَّا عَلَيْهِ مَلَكَانِ [۸] يَحْرُسَانِهَا حَتَّى تَقْدَمُوا إِلَيْهَا)

ترجمه: [۱] اوحضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي [۲] مونږ نبی کريم ﷺ سره مکې نه مدينې ته روان شو [دمکې نه تقريبًا (۳۶) ميله فاصله باندې] چې مقام عسفان ته ورسيدو [۳] نوحضور ﷺ هلته څوشپې قيام وکړ [۴] بعضې خلقو [يعنې منافقانو اوضعيف الاسلام

[1] اخرجه مسلم في باب الترغيب في سكن المدينة والصبر على لأوائها(رقم-۴۷۵ - (۱۳۷۴) واحمد في المسند:۲/۳۳۱

خلقو ددي خاي دقيام نه ويرېدو سره) اوويل مونږ دلته بيكاره ولي پراته يو۵ هر كله چې زمونږ اهل وعيال زمونږ نه لرې مدينه كښې تنها دى اومونږ ته دهغوى په باره كښې اطمينان نشته (چې زمونږ دعدم موجودګۍ نه فائده اخستلو سره چيرته دښمن دهغوى لوټ مارته راخكته نشي) ۶ دهغه خلقو داخبره نبی كريم ﷺ ته هم ورسيده حضور ﷺ دي اوريدو سره وفرمايل قسم دي په هغه ذات چې دهغه قبضه كښې زما خان دى ۷ دمدينې هيڅ لار اوهيڅ كوڅه داسې نشته چې په هغه دوه فرښتې مقررنه وي ۸ اوهغه فرښتې به دمدينې دلارو اوكوڅو نګهباني اوحفاظت باندې هغه وقته پورې ماموره وي څو پورې چې تاسو مدينې ته ونه رسيږئ

حل اللغات:- ① خُلُوفٌ: أَنِسَاءٌ بِلَا رِجَالٍ: يواخې ښځې چه سرې ورسره نه وى. ② شِعْبٌ: طَرِيقٌ فِي الْجَبَلِ: د غر لار ته وائي ③ وَلَا نَقْبٌ: أَيْ: طَرِيقٌ بَيْنَ الْجَبَلَيْنِ: د دوه غرونو په مينځ كښې لار يعنى كندو ④ يَحْرُسَانِهَا: أَيْ: يَحْفَظَانِهَا: پهره دارى او حفاظت ئې كوى

۱ ثُمَّ قَالَ: (ارْتَحِلُوا) فَارْتَحَلْنَا وَأَقْبَلْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ، ۲ فَوَالَّذِي يُحْلَفُ بِهِ مَا وَضَعْنَا رِحَالَنَا حِينَ دَخَلْنَا الْمَدِينَةَ ۳ حَتَّى أَغَارَ عَلَيْنَا بَنُو عَبْدِ اللَّهِ بْنِ غَطَفَانَ ۴ وَمَا يَهِيجُهُمْ قَبْلَ ذَلِكَ شَيْءٌ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ دي نه وروسته حضور ﷺ دهغه خاي نه دكوچ كولو حكم وكی اومونږ روانيدو سره مدينې ته ورسيدلو ۲ قسم دي په هغه ذات چې دهغه قسم خوړل كيږي يعنى په الله قسم مونږ مدينې ته رسيدو سره لادخپلو اوښانو نه موخپل سامان خكته كړى نه ؤو ۳ چې اچانك بنو عبدالله بن عطفان پرمونږ اهل مدينه باندې راوختل ۴ حال دا چې زمونږ د راتلوڅخه مخكې څه داسې خبره نه وه پيښه شوى چې هغوى دې جنګ ته راوپاروي. (مسلم)

حل اللغات:- ⑤ ارْتَحِلُوا: كوچ اوكړئ، څئ روان شئ ⑥ أَغَارَ: راوختل يعنى حمله ئې اوكړه (په مونږ مدينې والو باندې) ⑦ وَمَا يَهِيجُهُمْ: مَا يُثِيرُ بَنِي عَبْدِ اللَّهِ: راپورته نه كړل هغوى لره (يعنى د عبدالله بن غطفان د حملې وس ئې اونشو)

تسهيلات:

قوله: خُلُوفٌ: يعنى هغه خلق خالى دى چرته دښمن حمله اونه كړى شعب كندې ته وائى نقب لارې ته وائى. بنوعبدالله. غطفان دیوې قبيلې نوم دي

قوله: مَا يَهِيجُهُمْ:

د نبى عليه السلام د معجزې ظهور: يعنى هغه خلقوته زمونږ د رسيدونه وړاندې په څه تيزباندې راوچت نه كړل دا دحضورپاك معجزه وه.

[۵۹۰۲]باران سره متعلق دقبوليت دعا معجزه

۵۹۰۲-()[۳۳] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «أَصَابَتِ النَّاسَ سَنَةٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] فَبَيْنَا النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَخْطُبُ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ قَامَ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ: [۳] يَا رَسُولَ اللَّهِ! هَلَكَ الْمَالُ، وَجَاعَ الْعِيَالُ، فَادْعُ اللَّهَ لَنَا. [۴] فَرَفَعَ يَدَيْهِ وَمَا نَرَى فِي السَّمَاءِ قَزَعَةً، [۵] فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا وَضَعَهَا حَتَّى ثَارَ السَّحَابُ أَمْثَالَ الْجِبَالِ،

ترجمه: [۱] اوحضرت انس ﷺ وايي درسول كريم ﷺ په زمانه كښې يو خل د باران نه كيدو په وجه قحط راغى [۲] په هغه ورځو كښې نبى كريم ﷺ دجمعې په ورځ خطبه وركوله چې يو باندچې (كليوال) اودريدلو عرض يي وكړو [۳] يارسول الله زمونږ مال اواسباب [يعنى كاشت خاروي اودباغات داوبو نه حاصليدو په وجه] برباد شو اواهل وعيال مود لوږي نه په ژړادي الله تعالى نه زمونږ دپاره دعا وغواړه [۴] ددي په اوريدو سره حضور ﷺ دعا دپاره لاس مبارك اوچت كړل هغه وخت په آسمان باندې دوريځي يوه ټكړه ه مونږ ته په نظر نه راتله [۵] قسم دي په هغه ذات چې دهغه په قبضه كښې زما ساه ده حضور ﷺ دعا ختمولو سره اوس لاس مبارك لاته وو پريښى چې اچانك دغرونو په شان وريځ راپورته شوه

حل اللغات:- ① جَاعَ الْعِيَالُ: بال بچ مو اوږي تږي شو (عيال هغې ته وائى دچا نفقه او خرچه چه په ده لازم وي) ② قَزَعَةً: أَيْ: قِطْعَةً مِنَ السَّحَابِ: د وريځې ټكړه. ③ ثَارَ: أَيْ: سَطَعَ وَظَهَرَ: وريځ راښكاره شوه، خوره شوه.

[۱] ثُمَّ لَمْ يَنْزِلْ عَنْ مِنْبَرِهِ حَتَّى رَأَيْتُ الْمَطَرَ يَتَحَادَرُ عَلَى لِحْيَتِهِ، [۲] فَمُطِرْنَا يَوْمَنَا ذَلِكَ، وَمِنَ الْغَدِ، وَمِنْ بَعْدِ الْغَدِ حَتَّى الْجُمُعَةِ الْأُخْرَى، [۳] وَقَامَ ذَلِكَ الْأَعْرَابِيُّ -أَوْ غَيْرُهُ- فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ [۴] تَهَدَّمَ الْبِنَاءُ، وَغَرِقَ الْمَالُ، فَادْعُ اللَّهَ لَنَا [۵] فَرَفَعَ يَدَيْهِ فَقَالَ: (اللَّهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا). [۶] فَمَا يُشِيرُ إِلَى نَاحِيَةٍ مِنَ السَّحَابِ إِلَّا انْفَرَجَتْ [۷] وَصَارَتِ الْمَدِينَةُ مِثْلَ الْجَوْبَةِ، [۸] وَسَالَ الْوَادِي قَنَاةُ شَهْرًا، [۹] وَلَمْ يَجِئْ أَحَدٌ مِنْ نَاحِيَةٍ إِلَّا حَدَّثَ بِالْجَوْدِ.

ترجمه: [۱] اوحضور ﷺ لا دمنبر نه راكوزشوى نه ؤو ما وليدل چې داوبو قطري دحضور ﷺ په ږيره مباركه كښې څڅيدلي [۲] بيا دهغه جمعې په ورځ باقي حصه كښې اوبه ووريدلو په دويمه ورځ ووريدلو اوپه دريمه ورځ اووريدلو ددي پورې چې دويمې جمعې پورې دهغه باران سلسله جاري وه [اوهركله چې دمسلسل باران په وجه خلقوته نقصان كيدل شروع شوه نوپه دويمه جمعه] [۳] دحضور ﷺ دخطبې په دوران كښې هغه باندچې (كليوال) يا يو دويم سړى اودريدلو اوعرض يي وكې يارسول الله [۴] مكانات غورځيږي مال اواسباب غرقيږي تاسو ﷺ دالله تعالى نه زمونږ دپاره دعا وغواړى [چې اوس باران اودريږي] [۵]

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الجمعة /باب الاستسقاء في الخطبة يوم الجمعة (رقم-۹۳۳) ومسلم في كتاب صلاة الاستسقاء /باب الدعاء في الاستسقاء (رقم-۸ - (۸۹۷) والنسائي في كتاب الاستسقاء /باب رفع الإمام يديه عند مسألة إمساك المطر (رقم-۱۵۲۸) واحمد في المسند: ۳/۲۵۶

حضور ﷺ ددي په اوريدو سره خپل دواړه لاسونه مبارك اوچت كړل او دعايي وكړله اې الله زمونږ په اطرافو كښې [يعنى كروندو او باغاتو باندې] ووروې زمونږ دپاسه [يعنى زمونږ په كورونو باندې يې] مه ورولا ٦ دې دعا نه وروسته حضور ﷺ چې به كوم طرف ته اشاره وكړله وريځ به هغه جانب نه خلاصيده ٧ ددې پورې چې مدينه ديوګول كډهې په شان شوه [يعنى دمدينې دښار بهرنى حصه كښې څلور طرف ته وريځ وه او باران كيدلې او حال دا چې په منځ كښې دمدينې دښار مطلع بالكل صاف وه او دپوره ابادې دپاسه دوريځې هيڅ ټكړه په نظر نه راتله] ٨ او دمدينې بهر نورو اطرافو كښې دمسلسل باران په وجه هغه ناله چې دهغه نوم قناة ؤو يومياشت پورې بهيدله ٩ د اطرافو څخه چې كوم سړې به دمدينې ښار ته راتلو هغه به كثرت سره دباران خبرور كولې.

حل اللغات:- ④ يَتَحَادَرُ: دا تفاعل دې د حُدُور نه، ددې ضد صُعُود راځى. أَيْ يَنْزِلُ وَيَقْطُرُ: د باران څاڅكى رابهيدل (دباران اوبه چه كله په ږيره وغيره څه څيزباندې پريوځى او بهيږى نودې ته تحادر وائى) ⑤ تَهَدَّمَ: أَيْ: خَرِبَ: وران شو، خراب شو. ⑥ حَوَالَيْنَا: ګير چاپيره ځايونه زمونږ. ⑦ نَاحِيَةٍ: أَيْ: جَانِبٍ: طرف. ⑧ الْجَوْبَةِ: أَيِ الْحُفْرَةِ الْمُسْتَدِيرَةِ: ډوغل، ګول او غوندئ كنده. ⑨ قَنَاةُ: دا يا بدل دې يا بيان دې د وادى دپاره، لختې، خوړ. ⑩ بِالْجَوْدِ: أَيِ الْمَطَرِ الْكَثِيرِ: يعنى تولو اونيل چه ډير ښكلې او زبردست باران اوشو.

١ وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: (اللَّهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا، ٢ اللَّهُمَّ عَلَى الْآكَامِ وَالظِّرَابِ ٣ وَبُطُونِ الْأَوْدِيَةِ، وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ) ٤ قَالَ: فَأَقْلَعَتْ، وَخَرَجْنَا نَمْشِي فِي الشَّمْسِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

توجمه: ١ اويو روايت كښې دادى چې حضور ﷺ داسې دعا وكړله اې الله زمونږ اطرافو كښې ووروې په مونږ يې مه ورولا ٢ اې الله غونډيو باندې غرونو باندې ووروې ٣ ناليو كښې دننه او د ونو زرغونيدو په ځاى كښې [يعنى كروندو او باغاتو باندې] يې ووروې ٤ دحضرت انس ﷺ بيان دى ددې دعا نه وروسته دښار بهر اطرافو كښې خوباران كيدى ليكن دآبادې په حصه كښې وريځ بالكل ختمه شوه او مونږ په داسې حال كښې بهر راووتلو چې په نمر كښې روان ؤو (بخاري ومسلم)

حل اللغات:- ⑪ الْآكَامِ: دا جمع ده او دې مفرد اكمة دې غونډئى ته وائى ⑫ الظِّرَابِ: جمع ده او ددې مفرد ظرب. كتف په وزن باندې دې، أَيْ: الْجِبَالِ الصِّغَارِ: ووړكى غرته وائى يعنى غونډئ. ⑬ بُطُونِ الْأَوْدِيَةِ: أَيْ: الْخَالِيَةِ عَنِ الْأَبْنِيَةِ: د واديانو په مينځ كښې علاقې كومې چه دَ آبادئى نه خالى وى. ⑭ مَنَابِتِ الشَّجَرِ: أَيْ: الْمُنْتِجِ لِلثَّمَرِ: مراد ځنګلات دى چرته چه ونې وى دهغې په جرړو كښې باران وى دې دپاره چه ونې ښه وده اوكړى. ⑮ فَأَقْلَعَتْ: ددې دوه معانې دى. ١: أَيْ: كَفَّتِ السَّحَابُ: وريځ باران وورول بند كړل. ٢: أَيْ انْكَشَفَتْ: اووريځ اخوا شوه.

تسهيلات:

قوله: اللّٰهُمَّ حَوَالَيْنَا:

د باران د مطلق بنديدو دعا نه غوښتل: چونکه دا باران به دَ حضورپاك په دعا سره راتلو په کوم کښې چه برکت اورحمت وو. په دې وجه حضورپاك دَ بنديدو دعا نه غوښتله بلکه فرمائيل به ئې چه اې الله په اطراف کښې اووروې په مونږ باندې نه.

قوله: قَنَاةُ:

د قناة په تفسير کښې دوه اقوال: ① اوبه چه کله دَ زمکې لاندې ځي نودَ لختو شکل اختياروي هم دغې ته قناة وائي فارسئ کښې دې ته کاريز وائي. قناة په اصل کښې نيزې ته وائي دا آوبه هم دَ نيزې په شان نيغې ځي.

② قناة دَ يوې وادئ نوم هم کيدې شي.

قوله: فَأَقْلَعَتْ:

په دعا کښې د لاسونو پورته کولو ثبوت: په دې حديث کښې تصريح ده چه دَدعا په وخت لاسونه اوچتول ثابت دي دادَ دعادَ آداب نه دي. ابوطالب دانظاره داسې پيش کړې ده.

وابيض يستسقى الغمام بوجهه ثمال اليتامى عصمة للارامل

بهرحال په دې حديث کښې دَ باران متعلق دَ څو معجزاتو ظهور شوې دې.

[۵۹۰۲] د نبی علیه السلام په فراق کښې داستوانه حنا نه د ژړا معجزه

۵۹۰۳-() [۳۳] ① وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا خَطَبَ اسْتَنَدَ إِلَى جِذْعِ نَخْلَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ، ③ فَلَمَّا صُنِعَ لَهُ الْمِنْبَرُ فَاسْتَوَى عَلَيْهِ، ④ صَاحَتِ النَّخْلَةُ الَّتِي كَانَ يَخْطُبُ عِنْدَهَا ⑤ حَتَّى كَادَتْ أَنْ تَنْشَقَّ، ⑥ فَنَزَلَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حَتَّى أَخَذَهَا فَضَمَّهَا إِلَيْهِ، ⑦ فَجَعَلَتْ تَئِنُّ أَنِينَ الصَّبِيِّ الَّذِي يُسَكَّتُ حَتَّى اسْتَقَرَّتْ، ⑧ قَالَ (بَكَتْ عَلَى مَا كَانَتْ تَسْمَعُ مِنَ الذِّكْرِ)». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① اوحضرت جابر ﷛ وايي ② نبی کريم ﷺ چې به مسجد نبوي ﷺ کښې خطبه ورکوله نود کجوري هغه وچي تني سره څنگ وهلو سره به اودريدلو چې ديوي ستني ستون په طور مسجد کي ولاړه وه ③ بيا چې منبر تيار شو نوحضور ﷺ خطبه ويلو دپاره په هغه منبر اودريدلو ④ نود خورما هغه تنه چې هغه سره به شالگولو سره حضور ﷺ خطبه ورکوله په زوره زوره په ژړا شوله ⑤ او نږدې وه چې هغه دنبي کريم ﷺ دفراق جدايي اذيت دشدت نه وچوي ⑥ نبی کريم ﷺ منبر نه راکوزشو هغه ته ورغلی په لاسونو مبارکو سره يې ونيوله بيادهغه دتسلي دپاره هغه يې غاړې سره ولگوله ⑦ ددې نه وروسته هغه ستني دهغه بچي په شان ژړا شروع کړه چې هغه مختلف حيلو تدبيرونو سره چپ کولی شي اوهغه ژرنه چپ

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الجمعة /باب الخطبة علی المنبر (رقم-۹۱۸)

کیږي اخر هغه ستني ته آرام راغی او هغه چپ شوه [۸] بیا حضور ﷺ د هغه ستني د ژړا سبب دابیان کړي چي دي ستني په دي وجه وژړل چي د الله کوم ذکر يي اوريدی د هغه نه محرومه شوي ده (بخاري)

حل اللغات:- ① جِذْع: أَيْ: أَصْلِهَا وَسَاقِهَا: د ونې تنه. ② سَوَارِي: د سَارِيَةٍ جمع ده، بِمَعْنَى الْأُسْطُوَانَةِ: ستن (کومه چه چت ته اوانړي دپاره ولاړه وی). ③ صَاحَتْ: دَ ژړا دَ وجي نه نی چغي کړي ④ تَنْشَقُّ: أَيْ: بِصَفَيْنِ أَوْقِطَعًا: دَ شليدو په معنی کښي دي يعنی په منځ به اوچوی ⑤ فَضَمَّهَا: أَيْ: إِلَى نَفْسِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نبی عليه السلام خپل خان ته نزدي کړه (يعنی غاړه ني ورکړه چه تسلی ني اوشی ⑥ تَئِنُّ: أَنْ بِأَنْ ضرب يضرب نه دي. ماشوم چه په ژړا ژړا کښي سلګئ: وهی هغي ته أَنِيْن وانی

تسهیلات:

قوله: صَاحَتِ النَّخْلَةُ الَّتِي كَانَ يَخْطُبُ عِنْدَهَا،

د نبی عليه السلام په فراق د ونې ژړا کول: په دغه ونه کښي دَمعجزه ظهور اوشو ونيلی شی چه دا ونه به جنت ته ځی. لږ شان سوچ اوکړئی چه اوچه ونه دَ حضورپاك په فراق کښي ژاړی مګر غافل انسان په غفلت کښي پروت دي

سنگے وہاں کہ دروخاصیتے نیست ، بہ زآدمی کہ درو معرفتے نیست

[۵۹۰۴] د بدعاني قبليدو معجزه

---

(۳۵) [۱] وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- «أَنَّ رَجُلًا أَكَلَ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِشِمَالِهِ [۲] فَقَالَ: (كُلْ بِيَمِينِكَ) [۳] قَالَ لَا أَسْتَطِيعُ. [۴] قَالَ: (لَا اسْتَطَعْتَ). [۵] مَا مَنَعَهُ إِلَّا الْكِبْرُ. [۶] قَالَ: فَمَا رَفَعَهَا إِلَى فِيهِ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

ترجمه: [۱] او حضرت سلمه بن اکوع ﷺ نه روايت دی يوسړي د رسول الله ﷺ مخکي په چپ لاس سره طعام خوړی [۲] حضور ﷺ ورته نصيحت وکړی چي ښي لاس سره خوره [۳] هغه سړی (په دی نصيحت باندي دعمل کولو په ځاي) جواب ورکړی چي زه ښي لاس سره نشم خوړلی [۴] حضور ﷺ (د بد دعا په طورا وفرمايل تاته دي ښي لاس سره خوړلو باندي هيڅ کله قدرت نه وي [۵] (دراصل) هغه سړی غرور کښي راتلو سره ښي لاس سره يي طعام نه خوړلو [۶] راوي وايي د حضور ﷺ د هغه بد دعاپه نتيجه کښي هغه سړی خپل ښي لاس خولي پوري پورته کولو باندي هم قادر نه شو (مسلم)

تسهیلات: قوله: قَالَ: (لَا اسْتَطَعْتَ)

اشکال: په حديث الباب کښي دی چه حضورپاك دَ رحمة اللعالمين کيدو باوجود دَ هغه سړی خلاف څنګه بد دعا اوکړه؟

---

[1] اخرجه مسلم كتاب الأشربة باب آداب الطعام والشراب وأحكامهما (رقم-۱۰۷ - (۲۰۲۱)

داشکال دوه جوابونه: ① هغه سړی دَ حضورپاك نصيحت اوريدو سره دَ صحيح عمل کولو په ځائي دَ خپل غلط عمل دَ دروغو تاويل اوکړو

② هغه دَ څه مجبورئي په وجه نه بلکه دَ تکبر په وجه ئي داسې کول او دَ جاهليت په زمانه کښې مالدارانو او سردارانو خلقو به په التِه لاس سره دَ تکبر په توګه خوراك کولو په دې وجه هغه دَ رسول الله ﷺ په نصيحت باندې ډير په بې باکئی سره دکبر جواب ورکړو چه زما ښې لاس زما خلې ته نه رسيږی نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه راتلونکې وخت کښې به هم ته خپل لاس خلې ته اونه رسولې شې. هغه ډير زيات علاج اوکړو مګر دَ حضورپاك دَ بددعا دا اثر اوشو چه هغه تر مرګه پورې ښې لاس دَ خلې پورې نه شو اوچتولې. دا دَ رسول الله ﷺ معجزه وه.

[۵۹۰۵] دنبی کریم ﷺ دسوریدو په وجه دلټې اوښې د تيزرفتاری معجزه

٥٩٠٥-() [٣٦] ① وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - «أَنَّ أَهْلَ الْمَدِينَةِ فَزِعُوا مَرَّةً، ② فَرَكِبَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَرَسًا لِأَبِي طَلْحَةَ بَطِيئًا ③ وَكَانَ يَقْطِفُ، فَلَمَّا رَجَعَ قَالَ: ④ (وَجَدْنَا فَرَسَكُمْ هَذَا بَحْرًا) ⑤. فَكَانَ بَعْدَ ذَلِكَ لَا يُجَارَى. ⑥ وَفِي رِوَايَةٍ: فَمَا سُبِقَ بَعْدَ ذَلِكَ الْيَوْمِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.[1]

ترجمه: ① اوحضرت انس رضی الله عنه نه روايت دی يو ځل د شپې اهل مدينه دغلو ياد دښمن خطره محسوسولو سره وويريدل [اوژړا فرياد يې شروع کړی] ② نبی کريم ﷺ دصورت حال تحقيق دپاره دابوطلحه رضی الله عنه [په بربنډه شا] آس باندې سوريدو سره هغه طرف ته چې دهغه نه خطره محسوسيده تشريف يو وړی دغه اس ډيرسست رفتار ؤو ③ واړه واړه قدمونه به ئې اخستل چې وروسته راغلی نوابوطلحه رضی الله عنه ته يې وفرمايل ④ مونږ خوستا آس داوبو په شان تيز رفتار اوکشاده قدم پيداکړي ⑤ نودحضور ﷺ دسورلې نه وروسته هغه آس داسې تيز رفتار شو چې هيڅ آس هغه سره تلې نه شو ⑥ اوپه يو روايت کښې دالفاظ دي چې دهغه ورځې نه وروسته هيڅ آس دهغه نه مخکې کيدی نه شو. (بخاري)

حل اللغات:- ① بَطِيئًا: أَيْ: فِي الْجَرْيِ وَالْمَشْيِ: يعنی سست رفتار اس وو ② يَقْطِفُ: أَيْ: يَتَقَارَبُ خُطَاهُ: نيزدې نيزدې قدم کيخودو سره تلونکی اس ته قطوف وائی ③ بَحْرًا: سمندر، دا کنايه ده د تيز رفتارئ نه، يعنی دا اس خودَ سمندر په شان تيز خی يا دَدې رفتارخودَسمندر غوندې يوشان روان دې کله ختميږی نه ④ لَا يُجَارَى: أَيْ: لَا يُقَاوَمُ فِي الْجَرْيِ: دَ مجارات نه دې دَمقابله په معنی کښې دې يعنی يو اس دَ هغه مقابله نه شوه کولې ځکه چه دَ حضورپاك په سوريدو سره په دې کښې دَمعجزه ظهور اوشو.

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسير /باب الفرس القطوف (رقم-۲۸۶۷) ومسلم فی کتاب الفضائل /باب فی شجاعة النبی عليه السلام وتقدمه للحرب (رقم-۴۹ - (۲۳۰۷) وابن ماجه فی کتاب الجهاد /باب الخروج فی النفير (رقم-۲۷۷۲) واحمد فی المسند: ۱۴۷/۳

تسهیلات: قوله: وَجَدْنَاهُ فَرَسَكُمْ هَذَا بَحْرًا،

د حدیث څخه د دوو مسئلو معلومیدل: ① دَ یوځیز په کمال باندې دَ هغې تعریف جائز دې ② په تعریف کښې مبالغه کول هم جائز دی خوچه په محدود دائره کښې وی.

[۵۹۰٦] په قجورو کښې دبرکت معجزه

۵۹۰٦-() [۳۷] [۱] «وَعَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: تُوُفِّيَ أَبِي وَعَلَيْهِ دَيْنٌ» [۲] فَعَرَضْتُ عَلَى غُرَمَائِهِ أَنْ يَأْخُذُوا التَّمْرَ بِمَا عَلَيْهِ، فَأَبَوْا، [۳] فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقُلْتُ: [۴] قَدْ عَلِمْتَ أَنَّ وَالِدِي اسْتُشْهِدَ يَوْمَ أُحُدٍ وَتَرَكَ دَيْنًا كَثِيرًا، [۵] وَإِنِّي أُحِبُّ أَنْ يَرَاكَ الْغُرَمَاءُ، [٦] فَقَالَ لِي: (اذْهَبْ فَبَيْدِرْ كُلَّ تَمْرٍ عَلَى نَاحِيَةٍ، [۷] فَفَعَلْتُ، ثُمَّ دَعَوْتُهُ، [۸] فَلَمَّا نَظَرُوا إِلَيْهِ كَأَنَّهُمْ أُغْرُوا بِي تِلْكَ السَّاعَةَ،

ترجمه: [۱] اوحضرت جابر بن عبدالله ﷺ وایي کوم وخت چې زما پلار وفات شو نو دهغه په ذمه ډیره قرضه وه [۲] ما هغه قرضدارو ته پیشکش وکی چې زمونږ سره خومره خورماوي دي هغه تولي زماد پلار د قرض په بدل کښې واخلي لیکن هغوی زما خبره منلو نه انکار وکی [۳] څکه چې قرض خواه چې یهودیان ؤو هغه خورماوي یي دخپل قرض مقابله کښې ډیري کمي کڼلي اخر زه دنبي کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم اوعرض مي وکی یارسول الله ﷺ [۴] تاسو ﷺ ته معلومه ده چې زما پلار په جنګ احد کښې شهید شوي دي اوهغه څان پسې ډیر قرض پریښې دي [۵] زه غوارم چې قرض خواه تاسو ﷺ ما سره ووینې [یعنی څه داسې صورت وي چې کله قرض خواه ماته راشي نو تاسو ﷺ تشریف فرمایي چې ستاسو ﷺ په لیدو سره ما سره څه رعایت وکړي] [٦] حضور ﷺ دي اوریدو سره ماته وفرمایل لاړ شه اودهرقسم کجورو جدا جدا ډهیری ولګوه [۷] نوما دغه شان وکړل [ما سره چې خومره خورماوي وې تولي مي جدا جدا کورو کې کړلی] اودي نه وروسته مي حضور ﷺ ته دتشریف اوري اوویل [۸] قرض خوا هانو د حضور ﷺ تشریف راوړل ولیدل نوهغه وخت فوراً داسې رویه یي اختیار کړله لکه چې هغوی په ماحاوي شوي وي [یعنی هغوی داګمان وکی چې حضور ﷺ به کلي یاجزوي طور سره مونږته دقرض معاف کولو تلقین وکی یاڅه نورو ورځو پورې دصبر کولو مشوره به راکړي نودحضور ﷺ لیدو سره هغوی زما نه سخته لهجه کښې دقرض دواپسې مطالبه شروع کړله اودمخکې نه یي خپله رویه داسې ظاهره کړه لکه چې هغوی دابنودل غواړي چې دپوره قرض فوري واپسې نه علاوه بل هیڅ خبري ته تیارنه وي]

حل اللغات:- ① غُرَمَائِهِ: قرض خواهان، قرض غوښتونکی. ② فَبَیْدِرْ: دا دَ امرصیغه ده دَ ډهیری جوړولو په معنی کښې دي (بَیْدِرْ: هغه ځاني ته وائی چرته چه خوراک یا غله ډهیری کولې شی یعنی

() اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۴۰۵۳

درمن، ③ أَغْرَوا: دادَ اغراء نه دي چا پسې سپی کولوته اغراء وائی أيْ: لَجّوا فِي مُطَالَبَتِي: يعنی زما په لټون پسې اولګيدل

① فَلَمَّا رَأَى مَا يَصْنَعُونَ ② طَافَ حَوْلَ أَعْظَمِهَا بَيْدَرًا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ جَلَسَ عَلَيْهِ، ③ ثُمَّ قَالَ: (ادْعُ لِي أَصْحَابَكَ). ④ فَمَا زَالَ يَكِيلُ لَهُمْ حَتَّى أَدَّى اللهُ عَنْ وَالِدِي أَمَانَتَهُ، ⑤ وَأَنَا أَرْضَى أَنْ يُؤَدِّيَ اللهُ أَمَانَةَ وَالِدِي ⑥ وَلَا أَرْجِعُ إِلَى أَخَوَاتِي بِتَمْرَةٍ، ⑦ فَسَلَّمَ اللهُ الْبَيَادِرَ كُلَّهَا، ⑧ وَحَتَّى إِنِّي أَنْظُرُ إِلَى الْبَيْدَرِ الَّذِي كَانَ عَلَيْهِ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ⑨ كَأَنَّهَا لَمْ تَنْقُصْ تَمْرَةً وَاحِدَةً». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① حضور ﷺ چې دهغه قرض خواهانو دا رویه ولیده ② نو اهغوی ته څه ویلو څخه بغیرا دتولو نه دلوی ډهیری نه یې چاپیره دري چکره ولګول اوبیاهغه ډهیري باندې کیناستلو ③ او ماته یې وفرمایل خپل قرض خواه راوبله ④ هرکله چې هغوی راغلل نودحضور ﷺ په حکم سره دهغه ډهیري نه په ناپ تول سره قرض خواهوته ورکول شروع کړل ددې پورې چې الله تعالی زما دپلار ټوله قرضه اداکړله ⑤ اګرکه زما دخوشحالي دپاره داڅه کم نه ؤو چې الله تعالی زما دهغه قجورو نه زما دپلار ټوله قرضه اداء کړله ⑥ که خپلو خویندوته ورلو دپاره یوه قجوره هم نه وي بچ شوی ⑦ لیکن الله تعالی خو ادحضور ﷺ معجزي سرها ټول ډهیري محفوظ وساتل ⑧ اوپه کوم ډهیري چې حضور ﷺ ناست ؤو ماهغه طرف ته نظر اوچت کړی ⑨ نوداسي لګیده چې دهغه نه یوه قجوره هم نه ده کمه شوی اوهرکله چې هغه ډهیري نه هیڅ کم نه شو چې هغه نه دقرض خواهو دمطالبي په قدر ورکړل شو نوباقي ډهیري خوبدرجه اولی سالم اومحفوظ پاتې شوا (بخاري)

تسهيلات: قوله: عَلَى غُرَمَائِهِ:

دغرماؤ پيژندګلو: یعنی دَ پلار قرض خواهانوته ما خپل باغ پیش کړومګر هغوی کم ګڼرلوسره انکاراوکړو دا قرض خواه یهودیان وو (مرقات)

قوله: أَغْرَوابي:

داغرو مفهوم: یعنی حضور پاك لیدو سره هغه خلق ماسره ګرم شو اوپه کلام کښې سختی پیداکړه چه تادَ سفارش دا صورت ولې جوړکړو؟ قرض خواه یهودیان وو یا دَدې دپاره ګرم شوچه دَ دومره زیاتو قرض خواهانودپاره دا دومره لږ شان مال دې پښتوکښې دَدې ترجمه داده. لکه دَ سپو په شان ماپسې کړې شو.

قوله: أَعْظَمِهَا بَيْدَرًا:

د نبی علیه السلام د ډیرې زیاتولو دپاره عمل: حضورپاك چه کله اوکتل چه دا یهودې فائدې بدتمیزی کوی نو حضورپاك دَ کهجورو دَ لوئی ډهیری نه چاپیره درې څل راتاؤ شو اوبیاهغې سره کیناستو.

قوله: تَمْرَةً وَاحِدَةً:

د نبي علیه السلام د معجزې ظهور: یعنی ټول قرض ورکړې شو مګر د کهجورو دغه ډهیری کښې داسې بنکاریدل چه د کهجورو یوه دانه هم نه وی کمه شوی څکه چه د حضور پاك برکت سره په دې کښې دَمعجزه ظهور اوشو.

[۵۹۰۷] دغوړو دمشکیزې نه تشیدو معجزه

۵۹۰۷ -(¹) [۳۸] ① وَعَنْهُ، قَالَ: «إِنَّ أُمَّ مَالِكٍ كَانَتْ تُهْدِي لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي عُكَّةٍ لَهَا سَمْنًا، ② فَيَأْتِيهَا بَنُوهَا فَيَسْأَلُونَ الْأُدُمَ وَلَيْسَ عِنْدَهُمْ شَيْءٌ ③ فَتَعْمِدُ إِلَى الَّذِي كَانَتْ تُهْدِي فِيهِ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ④ فَتَجِدُ فِيهِ سَمْنًا، ⑤ فَمَا زَالَ يُقِيمُ لَهَا أُدْمَ بَيْتِهَا حَتَّى عَصَرَتْهُ ⑥ فَأَتَتِ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: (عَصَرْتِيهَا؟). قَالَتْ: نَعَمْ. ⑦ قَالَ: (لَوْ تَرَكْتِيهَا مَا زَالَ قَائِمًا)» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① اوحضرت جابر ﷺ بیان کوي یوه انصاریه صحابیه بي بي ام مالک ﷺ به د حضور ﷺ خدمت کښې یوې مشکیزې کښې دغوړو هدیه لیږله ② هغه مشکیزی کښې دومره برکت راغلی وو چې کله به دبي بي ام مالک ﷺ زامن کورته راتلل اود خوراک دپاره به یې څه سالن غوښتی اوهغه سره به څه سالن موجودنه وو ③ نو هغه به هغه مشکیزې ته ورتله چې په هغه کښې به یې نبی کریم ﷺ ته غوړي لیږل [یعنی هغې به هغه مشکیزه اوچتولو سره هغه کښې غوړي کتل] ④ اوهغې ته به دهغه نه غوړي حاصلیدل ⑤ کافي ورخو پورې داسلسله جاري وه [چې هغه مشکیزې سره لګیدلی غوړي دهغه پوره کور دپاره دسالن ضرورت پوره کوي بیا یوه ورځ داسې وشوه چې ام مالک ﷺ دزیاتو غوړو اخستلو په طمع] هغه مشکیزې کښې چې څه غوړي لګیدلي وه هغه نستیږلو سره ټول یې راوبنکل [دهغه اثر داوسو چې هغه دهغه دبرکت نه محرومه شوه اوکوروالو ته روټۍ خوړلو دپاره چې دکوم شي سهاره وه هغه حاصلیدل بند شوځکه چې حرص اوطمع خویده بلاده چې هغه سره آخر الامرد محرومي نه علاوه هیڅ نه حاصلیږي] ⑥ ام مالک ﷺ دنبي کریم ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه اوداقصه یې ورته بیان کړه حضور ﷺ تري پوښتنه وکړه ایاتاهغه مشکیزه بالکل نستیږلي ده؟ هغې اوویل چې ها ⑦ نوحضور ﷺ ورته وفرمایل که تا مشکیزه داسې نه وی نچوړ کړي نوهمیشه به تاته ددې مشکیزې نه غوړي حاصلیدل [ځکه که هغه مشکیزه کښې څه لږ غوړي هم لګیدلي وې نوهغه کښې به برکت راځکته کیدې او هرکله چه په یوشي کښې برکت راځکته کیږی که هغه شی لږشان هم وي خوزیاتیږي] (مسلم)

حل اللغات:- ① عُكَّةٍ: أي قِرْبَةٍ صَغِيرَةٍ. وړوکي مکشیزه (هِيَ وِعَاءٌ مِنْ جِلْدٍ مُسْتَدِيرٍ: د څرمن نه جوړه شوي وړه شان مشکیزه چه غوړی یا شهد به پکښې اچولې شو). ② سَمْنًا: غوړی. ③ الْأُدُمَ: أَي: الْإِدَامَ: سالن، ترکاري، اینګلي.

(¹) اخرجه مسلم فی صحیح رقم الحدیث ۸/ ۲۲۸۰ واحمد فی المسند رقم الحدیث ۳/ ۳۴۰

تسهیلات:

قوله: فِي عُكَّةٍ لَهَا سَمْنًا،

د غوړو د رپاتیدو معجزه: دَحدیث مطلب دادې چه ام مالك به د غرمني په یوه کسوړه کښې غوړې کیخودل او دَحضورپاك دَپاره به ئې دَ هدیه په توګه رالیګل کله به داسې اوشوچه دَام مالك خامن به راغلل ترکاري به ئې غوښتله نوام مالك به هم دغه کسوړې طرف ته مخ کولو څکه چه دَ سالن اوترکارئې بل څه انتظام نه وو. البته په دغه کېنې کښې دَ معجزې ظهورشوې وو نو په دې کښې به هروخت غوړې ملاویدل. داسلسله هم روانه وه تردې چه یوه ورځ ام مالك دَدې نه ټول غوړې صفاکړل نودَ برکت اومعجزې دا سلسله بنده شوه.

د الله تعالی خصوصی انعام پټ ساتل: علماؤلیکلی دی چه معجزه یوغیبی انتظام د داهم پټ ساتل پکاردی. دَ خوراك څښاك دَ څیزونو جوړه ښکاره کولوسره معجزه موقوف کیږی. دَ خوراك څښاك په څیزونوکښې خو برکت او اضافه کیږی لیکن اصل ماده په خائې ساتل ضروری وی.

قوله: عَصَرْتِيهَا:

دمذکوره جملې مطلب: آیاتادغه کسوړه بالکل نچوړې کړه؟په دې صیغه کښې دَ "ی" لفظ دَ اشباع دَپاره دې اوپه ترکیبهاکښې هم "ی" اشباع دَپاره ده دَدې مفهوم په ترجمه کولوسره واضحه کیږی دَدې تعلق دَ کلام لهجې سره دې.

[۵۹۰۸]طعام کښې دبرکت معجزه

۵۹۰۸-() [۳۰] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: «قَالَ أَبُو طَلْحَةَ لِأُمِّ سُلَيْمٍ: [۲] لَقَدْ سَمِعْتُ صَوْتَ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ضَعِيفًا أَعْرِفُ فِيهِ الْجُوعَ، [۳] فَهَلْ عِنْدَكِ مِنْ شَيْءٍ؟ فَقَالَتْ: نَعَمْ، [۴] فَأَخْرَجَتْ أَقْرَاصًا مِنْ شَعِيرٍ، [۵] ثُمَّ أَخْرَجَتْ خِمَارًا لَهَا فَلَفَّتِ الْخُبْزَ بِبَعْضِهِ [۶] ثُمَّ دَسَّتْهُ تَحْتَ يَدِي وَلَاثَتْنِي بِبَعْضِهِ، [۷] ثُمَّ أَرْسَلَتْنِي إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَذَهَبْتُ بِهِ،

ترجمه: [۱] اوحضرت انس ﷺ وایي یوه ورځ ابوطلحه انصاري ﷺ چې زما پلندر ؤو کورته راتلو سره زما مور سلیم ﷺ ته یي اوویل [۲] نن مادرسول الله ﷺ اواز کښې ډیره کمزوري محسوسه کړه چې هغه سره ماته اندازه وشوه چې حضور ﷺ اوږي دي [۳] ایاتا سره دخوراک څه شی شته ام سلیم ﷺ جواب ورکړی چې شته [۴] بیاهغه داوربشو ځوروتۍ راوښکلي [۵] خپل څادر یي رواخستي اودهغه یوه حصه کښې یي روټۍ اونغښتلي [۶]

[1] اخرجه البخاری کتاب المناقب/باب علامات النبوة فی الإسلام (رقم-۳۵۷۸) فی ومسلم فی کتاب الأشربة/باب جواز استتباعه غیره إلی دار من یثق برضاه بذلک، وبتحققه تحققا تاما، واستحباب الاجتماع علی الطعام (رقم-۱۴۲ - (۲۰۴۰) ومالک فی الموطا کتاب صفة النبی صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی معی الکافر (رقم-۱۰)

اوبلې حصې سره یې زما سرېټ کړې اوبیا پروني کښې انغښتي روټئ یې زما تر لاس لاندې پټې کړې [۷] اوزه یې د رسول کریم ﷺ په خدمت کښې ولیږلم زه هغه ډوډیو سره ورسیدم

حل اللغات:- ① أَقْرَاصًا: داذ قرص جمع ده روټئ ته وائي ② خِمَارًا: وَهُوَمَاتَسْتُرُالْمَرْأَةُبِهِرَأْسَهَا: هغه کپړه چه زنانه پرې سر پټوي یعنی لوپټه ③ فَلَفَّتْ: راوینغښتلې، پټې ئې کړې (روټئ) ④ دَسَّتْهُ: أَيْ: خَبَّأَتْهُ وَأَخْفَتْهُ: دس یدس نصر ینصر نه دباؤ کولو او پټولو په معنی کښې دې خاص کر په موټی کښې زور ورکولو دپاره استعمالیږی ⑤ وَلَاثَتْنِي: أَيْ: عَمَّتْنِي: نصر ینصر نه لوث رانغښتل اوپټکې جوړولو په معنی کښې راخي یعنی پټکې ئې راته اوتړلو

[۱] فَوَجَدْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي الْمَسْجِدِ [۲] وَمَعَهُ النَّاسُ فَقُمْتُ عَلَيْهِمْ، [۳] فَقَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (أَرْسَلَكَ أَبُو طَلْحَةَ؟) . [۴] قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ: (بِطَعَامٍ؟) قُلْتُ: نَعَمْ. [۵] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِمَنْ مَعَهُ: (قُومُوا) . [۶] فَانْطَلَقَ وَانْطَلَقْتُ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ حَتَّى جِئْتُ أَبَا طَلْحَةَ. فَأَخْبَرْتُهُ،

ترجمه: [۱] رسول کریم ﷺ هغه وخت په مسجد کښې تشریف فرماؤو [۲] اوډیر خلق [اچې دهغوی تعداد داتیا ؤو]، حضور ﷺ سره ناست وو ماتولوته سلام وکی [۳] رسول کریم ﷺ دسلام جواب راکولوخخه وروسته زما نه پوښتنه وکړه ایاته ابوطلحه ﷺ راليږلي يې؟ [۴] ماعرض وکی چې هو حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې روټئ درکړي ده راليږلي يې ماوویل چې هو [۵] رسول کریم ﷺ زما جواب اوریدو سره هغه خلقوته چې رسول کریم ﷺ سره ناست وو وفرمایل را پاځي [ادابوطلحه ﷺ کورته ورځو] [۶] ددې نه وروسته حضور ﷺ اوهغه ټول خلق دابوطلحه ﷺ دکور طرف ته روان شو اوزه هم دحضور ﷺ مخکې روان شوم څرنګه چې خادم اوکوربه مخکې مخکې ځي یاپه دې خیال مخکې لاړلو چې مخکې رسیدو سره ابوطلحه ﷺ ته دحضور ﷺ دتشریف اوړي خبر ورکړي.

[۱] فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ: يَا أُمَّ سُلَيْمٍ قَدْ جَاءَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِالنَّاسِ وَلَيْسَ عِنْدَنَا مَا نُطْعِمُهُمْ [۲] فَقَالَتْ: اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. [۳] فَانْطَلَقَ أَبُو طَلْحَةَ حَتَّى لَقِيَ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۴] فَأَقْبَلَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَأَبُو طَلْحَةَ مَعَهُ. [۵] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (هَلُمِّي يَا أُمَّ سُلَيْمٍ! مَا عِنْدَكِ) فَأَتَتْ بِذٰلِكَ الْخُبْزِ،

ترجمه: [۱] ابوطلحه ﷺ اچې حضور ﷺ سره ددومره ډیرو کسانو دراتلو خبر واوریدې نوهغه] اوویل اې ام سلیم ﷺ رسول الله ﷺ تشریف راوړی اوحضور ﷺ سره صحابه ﷺ هم دي حال دا چې امونږ سره ددې څو ډوډیو څخه علاوه چې مونږ دحضور ﷺ په خدمت کښې لیږلي وې دومره ډیرو کسانو باندې دخوړولو دپاره] څه شی نشته [۲] ام سلیم ﷺ جواب ورکړو الله اودهغه رسول ښه پوهیږي [۳] بیا ابو طلحه ﷺ دحضور ﷺ داستقبال دپاره دکور نه بهر ووتې اولاړ کښې رسیدو سره حضور ﷺ سره یې ملاقات وکی [۴] دې نه

وروسته رسول کریم ﷺ دابوطلحه رضي الله عنه کورته تشریف راوړی ⑤ اوکورته رسیدو سره یې وفرمایل اې ام سلیم رضي الله عنها دروټۍ دقسم نه څه چې تا سره وي هغه راوړه ام سلیم رضي الله عنها هغه روټۍ چې هغه سره وې راوړې دحضور ﷺ مخکې یې کښیخو دلې.

حل اللغات: -⑥ هَلُمِّي: أَيْ: عَجِّلِي وَأَحْضِرِي: زر راوړه، حاضر کړه.

① فَأَمَرَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَفُتَّ، ② وَعَصَرَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ عُكَّةً فَأَدَمَتْهُ، ③ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِيهِ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَقُولَ، ④ ثُمَّ قَالَ: (ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ) فَأَذِنَ لَهُمْ، ⑤ فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا، ثُمَّ خَرَجُوا، ثُمَّ قَالَ: ⑥ ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ فَأَذِنَ لَهُمْ، فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا، ثُمَّ خَرَجُوا، ⑦ ثُمَّ قَالَ: ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ، فَأَذِنَ لَهُمْ فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا، ثُمَّ خَرَجُوا. ⑧ ثُمَّ قَالَ: (ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ ثُمَّ لِعَشَرَةٍ) فَأَكَلَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ وَشَبِعُوا، ⑨ وَالْقَوْمُ سَبْعُونَ أَوْ ثَمَانُونَ رَجُلًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضور ﷺ [ابوطلحه رضي الله عنه ته یابل چاته] حکم وکی [چې هغه روټۍ میده کړي] نو هغه روټۍ میده کړل شوې ② او ام سلیم رضي الله عنها دغوړو مشکیزه نچوړولو سره غوړي راوښکل اوهغه یې دسالن په طور کیښودل ③ دې نه وروسته رسول کریم ﷺ دهغه روټۍ سالن په باره کښې هغه وفرمایل څه چې الله تعالی غوښتل ④ بیاحضور ﷺ ماته یا ابوطلحه رضي الله عنه ته یابل چاته حکم وکی چې لس سړي راوغواړه نولس سړي راوغوښتې شول ⑤ هغوی په مړه خیټه طعام وخوړلې بیاچې هغوی لاړل نوحضور ﷺ وفرمایل ⑥ چې لس سړي راوغواړه نولس سړي راوغوښتې شول هغوی په مړه خیټه طعام وخوړلې بیاچې هغوی لاړل ⑦ چې لس سړي راوغواړه نولس سړي راوغوښتې شول هغوی په مړه خیټه طعام وخوړلې بیاچې هغوی لاړل نوحضور ﷺ وفرمایل ⑧ نوحضور ﷺ وفرمایل لس لس کسان رابللو سره پرې خوروې [نولس لس سړي بللو سره موبرې طعام خورولو ددې پورې] چې هغه ټولو لړشان طعام په مړه خیټه وخوړلې ⑨ اوداټول اویا یا اتیا سړي ؤو. (بخاري ومسلم)

حل اللغات: -⑦ فَفُتَّ: أَيْ: جُعِلَ فَتِيتًا أَيْ قِطَعًا صِغَارًا: روټۍ ئې وړه وړه کولو او چوړی کولو سره ماته کړه. ⑧ عَصَرَتْ: نچوړئې کړو مشکیزه د غوړو. ⑨ عُكَّةً: أي قِرْبَةً صَغِيرَةً: وړوکې مکشیزه (هِيَ وِعَاءٌ مِنْ جِلْدٍ مُسْتَدِيرٍ: د څرمن نه جوړه شوې وړه شان مشکیزه چه غوړي یا شهد به پکښې اچولې شو). ⑩ فَأَدَمَتْهُ: أَيْ: جَعَلَتْ إِدَامًا: سالن ئې ترې جوړ کړو (یعنی کوم غوړي ئې چه نچوړ کړل هغه ئې د ماته کړې روټۍ دپاره ئې د سالن په طور پیش کړل).

① وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ أَنَّهُ قَالَ: ② («ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ) فَدَخَلُوا فَقَالَ: ③ (كُلُوا وَسَمُّوا اللَّهَ) فَأَكَلُوا ④ حَتَّى فَعَلَ ذَلِكَ بِثَمَانِينَ رَجُلًا ⑤ ثُمَّ أَكَلَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَأَهْلُ الْبَيْتِ وَتَرَكَ سُؤْرًا». ⑥ وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ قَالَ: "«أَدْخِلْ عَلَيَّ عَشَرَةً" ⑦ حَتَّى عَدَّ أَرْبَعِينَ ثُمَّ أَكَلَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ⑧ فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ هَلْ نَقَصَ مِنْهَا شَيْءٌ؟» ⑨ وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: «ثُمَّ أَخَذَ مَا بَقِيَ فَجَمَعَهُ، ⑩ ثُمَّ دَعَا فِيهِ بِالْبَرَكَةِ فَعَادَ كَمَا كَانَ. فَقَالَ: (دُونَكُمْ هَذَا)».

ترجمه: ① اودمسلم یوروایت کښې داالفاظ دی چې حضور ﷺ وفرمایل ② لس خلق دطعام دپاره راوبلی هرکله چې هغه لس خلق راغلل نوحضور ﷺ هغوی ته وفرمایل ③ دالله تعالی نوم آخستو سره خوری نوهغوی دالله تعالی نوم اخستو سره طعام وخوړلي ④ دغه شان لس لس کولو سره اتیا سړو باندې طعام وخوړل شو ⑤ [هرکله چې ټولو طعام وخوړلي نوآخر کښې] نبی کریم ﷺ اودکور خلقو طعام وخوړلي اوبیاهم پسخورده (جوټه) باقي پاتې شوه. ⑥ اودبخاري یوبل روایت کښې داسې دي حضور ﷺ وفرمایل لس خلق ماته راولی ⑦ دغه شان لس لس خلق کولو سره څلویښت خلق يې شمیر کړل اودهغوی نه وروسته خپله نبی کریم ﷺ طعام وخوړلي ⑧ اومامسلسل کتل چې دطعام نه څه کم شوي دي یانه لیکن ماته قطعًا څه کمي په نظر نه راتلو ⑨ اودمسلم په یو بل روایت کښې داالفاظ هم دی هرکله چې ټول خلق په خیټه ماړه شول نوحضور ﷺ پسخورده (جوټه) اوچتولو سره جمع کړه ⑩ اوهغه کښې دبرکت دعا وکړله نوهغه هغه شان شوه څرنګه چې مخکې وه یعنی کوم مقدار کښې چې مخکې هغه طعام ؤو هغومره اوس هم شو بیا حضور ﷺ وفرمایل داوساتي اوبیا يې وخوري.

حل اللغات: -① سُؤْرًا: أَيْ بَقِيَّةً: پس خورده، باقی پاتې طعام.

تسهیلات:

قوله: وَلَاثَتْنِي بِبَعْضِهِ،

د مذکوره جملې مطلب: حضرت انس رضي الله عنه دا ویناکول غواړی چه موربی بی دَ خپلې لوپټې په یوه حصه کښې روټئی تړلوسره زما په ترخ کښې راؤتړونبله اودَ لوپټې دویم اړخ ئی زما په سرباندې راتاؤ کړو. داسې معلومیږی چه دادَ یخنئی موسم ووبه دې وجه دَ لوپټې نه دَ اغوستنې کارهم واخستلې شو.

قوله: اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ:

د ام سلیم رضی الله عنها ایمانی قوت: دَ ام سلیم رضي الله عنها ایمانی قوت ته اوګورئی لږه شان هم پریشانه نه شوه بلکه ابوطلحه رضي الله عنه ته ئی تسلی ورکړه دادَ رسول الله ﷺ میلمانه دی هغوی پوهه شه اومیلمانه ئی پوهه شه. مونږ ولې پریشان کیږو هم دَهغه دَطرف نه به ټول انتظام کیږی.

قوله: الْذَنْ لِعَشَرَةٍ:

د لسو کسانو پیندې ته دعوت ورکول: دادَ پخوانئی زمانې دَ دعوتونو دستور وو اوس هم په عربو اوقبائلو کښې بلکه زمونږ هم دستور دې چه لس کسان په یولوئی تهال باندې کینولو سره په یوځائی خوراك ورکولې شی. دې ته پینده وائی. بهرحال دَ دوه څلورو کسانو خوراك ۸۰ کسانواوخوړلو اوبیاهم پاتې شو. دغه شان په دې خوراك کښې دَمعجزه ظهور اوشو.

[۵۹۰۹] گوتو مبارکو نه داوبو وتلو معجزه

۵۹۰۹-()[۳۰] ① وَعَنْهُ، قَالَ: «أُتِيَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِإِنَاءٍ وَهُوَ بِالزَّوْرَاءِ، ② فَوَضَعَ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ، ③ فَجَعَلَ الْمَاءُ يَنْبُعُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِهِ، فَتَوَضَّأَ الْقَوْمُ ④ قَالَ قَتَادَةُ: قُلْتُ لِأَنَسٍ: كَمْ كُنْتُمْ؟ قَالَ: ثَلَاثَمِائَةٍ ⑤ أَوْ زُهَاءَ ثَلَاثِمِائَةٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① اوحضرت انس ﷺ وايي په يوه موقع چې نبی کريم ﷺ مدينې ته نزدې زوراء مقام کښې تشريف فرماوو دحضور ﷺ په خدمت کښې داوبو يو لوښی راوړل شو ② حضور ﷺ خپلې ګوتې مبارکې هغه لوښي کښې کيښودلی ③ اودګوتو مبارکو نه يې داوبوفواره بهيدل شروع شو پوره جماعت هغه اوبو سره اودس وکړی ④ دحديث يو راوي حضرت قتاده تابعي چې هغه داروايت دحضرت انس ﷺ نه نقل کړی دی وايي مادحضرت انس ﷺ نه پوښتنه وکړه په هغه موقع تاسو خلق څومره وئ؟ حضرت انس ﷺ جواب راکی دري سوه ⑤ ياندازتًا دري شوه کسان وو. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① الزَّوْرَاءُ: مَوْضِعٌ قَرِيبٌ بِالْمَدِينَةِ: مدينې سره نزدې د يوځائې نوم دې. ② يَنْبُعُ: د نَبَعَ يَنْبُعُ نه چينه جاری کيدو ته وائی. ③ زُهَاءَ: أَيْ: مِقْدَارُهَا: يعنی په اندازه او په مقدار (د دريو سوو برابر)

تسهيلات:

قوله: فَوَضَعَ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ، فَجَعَلَ الْمَاءُ:

د اوبو راوتلو په محل کښې دوه اقوال: ① هم پخپله دَګوتو مبارکو نه اوبه راوتلې وې هم دا قول دَ امام مزنی ﷫ دې اودَ اکثرعلماؤ رجحان هم دې طرف ته دې. دارنګ دَدې تائيد په هغه روايت سره هم کيږی دَ کوم الفاظ چه دادی. «فرأيت الماء من أصابعه» يعنی ما دَ حضورپاك دَګوتو نه اوبه راخوټکيدونکې اوليدلې او په دې کښې دَ څه قسم شك شبه هم نشته دې اودَ حضورپاك دا معجزه دَ حضرت موسٰی ﷺ دَ معجزې نه افضل کيدل هم معلوميږی چه دَهغوی دَ همسا په وهلو سره دکانړی نه دَ اوبو چينې راؤخوټکيدې خودلته دَ رسول الله ﷺ دَګوتو مبارکو نه اوبه راؤوتلې

② په هغه لوښی کښې چه کومې اوبه موجود وې هغه دَلاس مبارك په برکت سره الله تعالی دومره زياتې کړې وې چه دَ حضورپاك دَ مبارکو ګوتو دَ مينځ نه دَ فوارې په شان اوبه راخوټکيدې دکوم تائيد چه دَ راتلونکی روايت نه هم کيږی

[1] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب علامات النبوة فی الإسلام (رقم-۳۵۷۲) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب فی معجزات النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-۶ - (۲۲۷۹) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۶۳۱) واحمد فی المسند: ۱۴۷/۳

[۵۹۱۰] طعام څخه دتسبیح اواز راتو معجزه

۵۹۱۰-() [۳۱] ۱ وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲ «كُنَّا نَعُدُّ الْآيَاتِ بَرَكَةً، وَأَنْتُمْ تَعُدُّونَهَا تَخْوِيفًا. ۳ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي سَفَرٍ. فَقَلَّ الْمَاءُ فَقَالَ: ۴ (اطْلُبُوا فَضْلَةً مِنْ مَاءٍ) ۵ فَجَاءُوا بِإِنَاءٍ فِيهِ مَاءٌ قَلِيلٌ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ، ۶ ثُمَّ قَالَ: (حَيَّ عَلَى الطَّهُورِ الْمُبَارَكِ، وَالْبَرَكَةُ مِنَ اللَّهِ) ۷ وَلَقَدْ رَأَيْتُ الْمَاءَ يَنْبُعُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۸ وَلَقَدْ كُنَّا نَسْمَعُ تَسْبِيحَ الطَّعَامِ وَهُوَ يُؤْكَلُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ اوحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ نه روایت دی هغوی اوویل ۲ مونږ صحابه ﷺ خو ایات دبرکت اوخوشحالي سبب ګڼی او اې خلقو تاسو پوهیږی چې آیات بس دمنکرین صداقت دییر ولودپاره دی ۳ دي نه وروسته حضرت ابن مسعود ﷺ یوه معجزه بیان کړه چې مونږ رسول کریم ﷺ سره یوسفر کښې وو چې په لار کښې داوبو دقلت مسئله پیدا شوه حضور ﷺ حکم وکړ ۴ چاسره چې لوښي کښې لږې اوبه هم بچ شوي وي نو هغه ماته راوړی ۵ نوصحابه ﷺ دحضور ﷺ په خدمت کښې یوداسي لوښی راوړی چې په هغه کښې ډیري لږ اوبه وي حضور ﷺ خپل لاس مبارک هغه لوښي کښې واچوی ۶ او وي فرمایل زر راځئ اوداپاکي اوبابرکته اوبه حاصلي کړئ [اوداهغه برکت دی چې څه ظاهري سبب اوذریعي سره نه بلکي دالله تعالی دطرف نه نازل شوي دي] ۷ اوحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ اوویل هغه وخت درسول کریم ﷺ دګوتو مبارکو نه دفواري په شان اوبه بهیدلي ماخپله ولیدل ۸ اوابن مسعود ﷺ یوه معجزه دابیان کړه چې طعام خوړلو په وخت مونږ دطعام دتسبیح اواز اوریدی . (بخاري)

حل اللغات:- ① تَخْوِيفًا: أَيْ: إِنْذَارًا وَهَلَكَةً: ویره، هلاکت. ② يَنْبُعُ: د نَبَعَ يَنْبُعُ نه چینه جاری کیدو ته وائی ③ يُؤْكَلُ: دا خوراک به خوړلي کیدلو (د خوړلي کیدو په وخت به ئې تسبیح ونیلو)

تسهیلات:

قوله: كُنَّا نَعُدُّ الْآيَاتِ بَرَكَةً،

معجزات برکت ګڼړل: یعنی خلق خومعجزات هم دغې ته وائی په کوم کښې چه تخویف ویره او عذاب وی حالانکه مونږ خلق خو معجزات رحمت اوبرکت ګڼړلو . اوس صورت حال دادې چه عاموخلقو ته هم هغه معجزه فائده ورکوی په کوم کښې چه تخویف وی اوهغه معجزه هغوی رابنکلوسره راولی مګرخواص معجزه ته کتلوسره پخپله راځي اوایمان راوړی څکه چه هغوی دا برکت ګڼړی.

[1] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب علامات النبوة فی الإسلام (رقم-۳۵۷۹) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۶۳۳)

[۵۹۱۱] داوبو زياتيدو يوه بله معجزه

۵۹۱۱-(۱)[۳۲] [۱] وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «خَطَبَنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: [۲] (إِنَّكُمْ تَسِيرُونَ عَشِيَّتَكُمْ وَلَيْلَتَكُمْ، [۳] وَتَأْتُونَ الْمَاءَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ غَدًا) [۴] فَانْطَلَقَ النَّاسُ لَا يَلْوِي أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ. [۵] قَالَ أَبُو قَتَادَةَ: فَبَيْنَمَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَسِيرُ [۶] حَتَّى ابْهَارَّ اللَّيْلُ فَمَالَ عَنِ الطَّرِيقِ، فَوَضَعَ رَأْسَهُ،

ترجمه: [۱] اوحضرت ابوقتاده ﷜ بيان كوي رسول كريم ﷺ ديوسفر په دوران كښې زمونږ مخكي خطبه ووېله اوارشاد يي وفرمايي [۲] چې تاسو به ددي شپې په اوله حصه كې اوآخره حصه كښې يعنى ټوله شپه سفر كوى [۳] اوانشاء الله صباته به تاسو اوبه پيدا كئ [يعنى حضور ﷺ گويا هغه اوبو طرف ته اشاره وفرمايله چې دمعجزي په طور حاصليدونكي وي اودهغه ذكر مخې ته راغي] [۴] ټول خلق دغه شان بې تحاشا روان وو چاته دچا پروانه وه [خكه چې هرسړى باندې بس يوفكر سپور ؤو چې څرنګه به ژرتر ژره اوبوته ورسيږي اودي فكر كښې نه چاسره دچا ديوخاي تللو خيال ؤو اونه څوك دخان سره آخستو سره تللو طرف ته يي خيال كولي بلكې هرسړى جدا جدا روان ؤو] [۵] ابوقتاده ﷜ وايي په دغه شپه رسول كريم ﷺ هم روان ؤو [۶] كوم وخت چې نيمه شپه تيره شوه نوحضور ﷺ د اوده كيدو په اراده دلارې نه اخوا كيدو سره يوي غاړې باندې خكته شو اوسرمبارك اينبودلو سره څملاستي.

حل اللغات:- ① تَسِيرُونَ: سفر او مزل به كوئ، ② عَشِيَّتَكُمْ: أَيْ: أَوَّلَ لَيْلَتِكُمْ: د شپې د شروع نه، ③ لَيْلَتَكُمْ: أَيْ: بَقِيَّتَهَا: باقي شپه، ټوله شپه، ④ لَايَلْوِي: أَيْ: لَايَلْتَفِتُ: توجه به ئې نه كوله (يعنى يوبل ته يا اخوا ديخوا ئې پام او پرواه نه وه، بس مسلسل ئې خپل سفر جارى ساتلې وو) ⑤ ابْهَارَّ: أَيْ: انْتَصَفَ وَتَوَسَّطَ: نيمه شپه شوه (نيمه شپه كله چه ستورى پرقارشروع كړى).

[۱] ثُمَّ قَالَ: (احْفَظُوا عَلَيْنَا صَلَاتَنَا) [۲] فَكَانَ أَوَّلَ مَنِ اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَالشَّمْسُ فِي ظَهْرِهِ، [۳] ثُمَّ قَالَ: (ارْكَبُوا) فَرَكِبْنَا. [۴] فَسِرْنَا حَتَّى إِذَا ارْتَفَعَتِ الشَّمْسُ نَزَلَ، [۵] ثُمَّ دَعَا بِمِيضَأَةٍ كَانَتْ مَعِي فِيهَا شَيْءٌ مِنْ مَاءٍ، [۶] فَتَوَضَّأَ مِنْهَا وُضُوءًا دُونَ وُضُوءٍ. [۷] قَالَ: وَبَقِيَ فِيهَا شَيْءٌ مِنْ مَاءٍ. [۸] ثُمَّ قَالَ: (احْفَظْ عَلَيْنَا مِيضَأَتَكَ فَسَيَكُونُ لَهَا نَبَأٌ) [۹] ثُمَّ أَذَّنَ بِلَالٌ بِالصَّلَاةِ،

ترجمه: [۱] او [اوده كيدوڅخه مخكي يوخادم ته يې] هدايت وفرمايي چې زمونږ دمونځ خيال ساته [چې داسې نه وي ټول خلق بې خبره اوده شي اوسحر وخت ستركي نه غړيدو په سبب مونځ قضاء شي ليكن دغه شان وشوه چې ټول خلق بې خبره شو اودخوب غلبې سره

[1] اخرجه مسلم فى كتاب المساجد/باب قضاء الصلاة الفائتة، واستحباب تعجيل قضائها (رقم-۳۱۱ - (۶۸۱) والترمذى فى كتاب الأشربة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن ساقى القوم آخرهم شربا (رقم-۱۸۹۴) وابن ماجه فى كتاب الأشربة/باب ساقى القوم آخرهم شربا (رقم-۳۴۳۴) واحمد فى المسند: ۴/۳۵۴

سحر وخت ده‌یچا سترګي ونه غړیدي ۲ بیا د تولو نه مخکښي رسول کریم ﷺ بیدار شو هرکله چې نمر د حضور ﷺ په شا مبارکه ولګیدي ۳ حضور ﷺ [تول بیدارولو سره ورته] وفرمایل فوراً [تیار شي اوددي ځاي نه] روان شي نوموږ خلق په تلواري تلواري خپلو سورلو باندې کینا ستلو ۴ او ده‌غه ځاي نه روان شو ددي پورې چې نمر ډیوي نیزي په قدر یادي نه زیات بلند شو نو حضور ﷺ د سورلي نه راکوز شو ۵ بیا اودس لوښي یې وغوښتی چې ماسره وو او په هغه کښې لږ اوبه باقي وې ۶ او هغه سره حضور ﷺ مختصر اودس وکی [یعنی کوم اعضاء چه دري دري ځله وینځل وو داوبو د قلت په سبب یو یو ځل یادوه دوه ځله وینځلو باندې اکتفاء وکړله] ۷ ابو قتاده رضی الله عنه وایي داودس نه وروسته څه لږ اوبه هغه لوښي کښې پاتې شوی وې ۸ حضور ﷺ وفرمایل ددي لوښي اوبه حفاظت سره وساتي ځکه چې ډیر نزدې دي اوبو څخه به بطریق معجزه یوه اهمه او عظیم الشانه خبره ښکاره کیږي چې ده‌غه لویه فائده به تاسو ته رسیږي ۹ دي نه وروسته بلال رضی الله عنه مانځه دپاره اذان وکی

حل اللغات: -⑨ بِمِيضَأَةٍ: أي مَطْهَرَة كَبِيرَة يُتَوَضَّأُ مِنْهَا: د اوسپني غټ لوښي چه هغې څخه به نبی علیه السلام اودس کولو. ⑩ نَبَأٌ: أي: خَبَرٌ عَظِيمٌ: لوئي خبر، لویه فائده یا معجزه.

١ فَصَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَكْعَتَيْنِ، ٢ ثُمَّ صَلَّى الْغَدَاةَ، وَرَكِبَ وَرَكِبْنَا مَعَهُ، ٣ فَانْتَهَيْنَا إِلَى النَّاسِ حِينَ امْتَدَّ النَّهَارُ ٤ وَحَمِيَ كُلُّ شَيْءٍ، وَهُمْ يَقُولُونَ: ٥ يَا رَسُولَ اللّٰهِ! هَلَكْنَا وَعَطِشْنَا، ٦ فَقَالَ: (لَا هُلْكَ عَلَيْكُمْ) ٧ وَدَعَا بِالْمِيضَأَةِ فَجَعَلَ يَصُبُّ، وَأَبُو قَتَادَةَ يَسْقِيهِمْ، ٨ فَلَمْ يَعْدُ أَنْ رَأَى النَّاسُ مَاءً فِي الْمِيضَأَةِ تَكَابُّوا عَلَيْهَا، ٩ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (أَحْسِنُوا الْمَلَأَ، كُلُّكُمْ سَيُرْوَى)

ترجمه: ١ او رسول کریم ﷺ سنت ادا کړل دوه رکعاته ٢ او صحابه رضی الله عنهم سره یې د سحر قضاء مونځ باجماعت اداء کی [ما نځه نه فارغیدو نه وروسته] حضور ﷺ سور شو او موږ هم په خپلو سورلو کینا ستلو [او مخې ته سفر موشروع کړو] ٣ تر دې پورې چې موږ د قافلې هغه خلقو سره یو ځای شو [چې زموږ نه مخکښې تلو سره خکته شوي وه] هغه وخت نمر پورته راختلی وو ٤ چې هغه سره هر شي ته ګرمي رسیده خلقو ونیل شروع کړل ٥ یارسول الله ﷺ موږ خو هلاک شو [یعنی د ګرمي خپیږو او تیزي زموږ بد حال کړی دی او اوبه نشته] ځکه د تندې شدت زیاتیږي ٦ حضور ﷺ وفرمایل ستاسو دپاره هلاکت نشته ٧ بیا حضور ﷺ د اودس د اوبو هغه لوښي طلب کړو او هغه لوښي نه یې اوبه اچول شروع کړل او ابو قتاده رضی الله عنه خلقو باندې څکول شروع کړل ٨ اهل قافله چه څرنګه هغه لوښي نه اوبه غورځیدې او خلق یې په څکولو ولیدل نو د تولو نه مخکښې یو دم راماتې شوه او تر یو بل اوړیدل شروع شو ٩ حضور ﷺ د هغوی بې صبري لیدو سره وفرمایل ښه طریقه اختیار کړي او د اخلاقو نه کار واخلي تاسو تول به دې اوبو سره سیراب شي [نوسمدستي خلقو ښه طریقه اختیار کړه او جدا جدا کیدو سره په وقار او قطار سره ودریدل]

حل اللغات: -⑧ امْتَدَّ: أي: ارْتَفَعَ: راوړده شوه، اوچته شوه. ⑨ حَمِيَ: ګرم شو. ⑩ يَصُبُّ: راړولي او اچولي ني اوبه، ⑪ تَكَابُّوا: أي: تَزَاحَمُوا: په اوبوباندې بهيره جوړولوسره په دې باندې ورپريوتل. ⑫ أَحْسِنُوا الْمَلَأَ: أي: الْخُلُقَ: يعنى اخلاق ښه ساتئ عادتونه ښه ساتئ ⑬ سَيَرْوَى: أي: جَمِيعُكُمْ تَرْوَوْنَ: يعنى تولو تـه بـه اوبه اورسيږي، ټول به خړوب شئ، رواء: ښه خړوب کيدو ته وائي

۞ قَالَ: فَفَعَلُوا، فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَصُبُّ وَأَسْقِيهِمْ، ۞ حَتَّى مَا بَقِيَ غَيْرِي وَغَيْرُ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۞ ثُمَّ صَبَّ فَقَالَ لِيَ: (اشْرَبْ) ۞ فَقُلْتُ: لَا أَشْرَبُ حَتَّى تَشْرَبَ يَا رَسُولَ اللَّهِ! ۞ فَقَالَ: (إِنَّ سَاقِيَ الْقَوْمِ آخِرُهُمْ). ۞ قَالَ: فَشَرِبْتُ وَشَرِبَ، ۞ قَالَ: فَأَتَى النَّاسُ الْمَاءَ جَامِّينَ رِوَاءً». ۞ رَوَاهُ مُسْلِمٌ هَكَذَا فِي (صَحِيحِهِ) وَكَذَا فِي (كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ)، وَ(جَامِعِ الْأُصُولِ). ۞ وَزَادَ فِي (الْمَصَابِيحِ) بَعْدَ قَوْلِهِ: (آخِرُهُمْ) لَفْظَةَ: (شُرْبًا).

ترجمه: ۞ بيا رسول کريم ﷺ اوبه اچول اوما په خلقو اوبه څکول شروع کړل ۞ ددې پورې [چې ټول خلق سيراب شول] اوزما اورسول الله ﷺ نه سوا هيڅوک باقي پاتې نه شو ۞ نو حضور ﷺ اوبه واچولې اوماته يې وفرمايل واخله اوڅکه ۞ ماعرض وکړ زه هغه وقته پورې نشم څکلی څوپورې چې تاسو ﷺ يې ونه څښی ۞ رسول الله ﷺ وفرمايل دخلقو ساقي دهغوی آخري سړی وي [يعنى کوم سړی چې خلقو باندې څکي هغه خپله دټولو څخه وروسته څښی څکه چې دا دآدابو څخه دی چې ساقي ټول اوبه کړي بيا يې خپله څکي] ۞ حضرت ابوقتاده ﷺ وايي دارشاد ګرامي اتباع کښې مااوبه وڅکلې بيا حضور ﷺ اوبه نوش کړلې ۞ ابوقتاده ﷺ وايي دې نه وروسته اهل قافله داوبو ځاي ته داسې حال کښې ورسيدل چې اوبه شوي وو اوراحت يې پيدا کړي ۞ دا روايت مسلم نقل کړی دی او صحيح مسلم کښې داسې منقول دی او کتاب حميدي او جامع الاصول کښې هم دا روايت دی الفاظو سره منقول دی ۞ البته مصابيح کښې إِنَّ سَاقِيَ الْقَوْمِ آخِرُهُمْ نه وروسته شربًا لفظ مزيد دی

حل اللغات: -⑬ جَامِّينَ رِوَاءً: أي: مُسْتَرِيحِينَ: يعنى خلق په ډير راحت اومزه کښې وو

تسهيلات:

نوټ: په حديث کښې د ګرانو ټکو معنى په حل اللغات کښې حل شو، اوحديث مفهوم د تشريحی ترجمې څخه واضح دې

[۵۹۱۲] تبوک کښې په طعام کښې دبرکت معجزه

۵۹۱۲-(¹)[۳۳] ۞ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ۞ «لَمَّا كَانَ يَوْمُ غَزْوَةِ تَبُوكَ، أَصَابَ النَّاسَ الْمَجَاعَةُ. ۞ فَقَالَ عُمَرُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! ادْعُهُمْ بِفَضْلِ أَزْوَادِهِمْ، ۞ ثُمَّ ادْعُ اللَّهَ لَهُمْ عَلَيْهَا بِالْبَرَكَةِ. فَقَالَ: (نَعَمْ). ۞ فَدَعَا

[1] اخرجه مسلم فى كتاب الإيمان/باب من لقى الله بالإيمان وهو غير شاک فيه دخل الجنة وحرم على النار(رقم-۴۵ - (۲۷)واحمد فى المسند:۱۱/۳

بِنِطَعٍ، فَبُسِطَ، ⑥ ثُمَّ دَعَا بِفَضْلِ أَزْوَادِهِمْ، ⑦ فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَجِيءُ بِكَفِّ ذُرَةٍ، ⑧ وَيَجِيءُ الْآخَرُ بِكَفِّ تَمْرٍ، ⑨ وَيَجِيءُ الْآخَرُ بِكِسْرَةٍ، ⑩ حَتَّى اجْتَمَعَ عَلَى النِّطَعِ شَيْءٌ يَسِيرٌ، ⑪ فَدَعَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِالْبَرَكَةِ، ⑫ ثُمَّ قَالَ (خُذُوا فِي أَوْعِيَتِكُمْ) ⑬ فَأَخَذُوا فِي أَوْعِيَتِهِمْ مَا تَرَكُوا فِي الْعَسْكَرِ وِعَاءً إِلَّا مَلَئُوهُ. ⑭ قَالَ: فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا، وَفَضَلَتْ فَضْلَةٌ. ⑮ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ، ⑯ لَا يَلْقَى اللَّهَ بِهِمَا عَبْدٌ غَيْرُ شَاكٍّ فَيُحْجَبَ عَنِ الْجَنَّةِ)». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① اوحضرت ابوهريره ﷜ وايي ② دغزوه تبوک په ورځ دتوږي دکمي په سبب هرکله چې سختي لوږي خلق تنګ کړل ③ نوحضرت عمر ﷜ عرض وکی یارسول الله ﷺ لږ ډيره توښه چې دخلقو سره بچ شوي ده هغه راوغواړي ④ اوبیاپه هغه توښه هغوی دپاره الله تعالی نه دبرکت دعا وکړي حضور ﷺ وفرمايل ښه ⑤ بيا حضور ﷺ دڅرمي دسترخوان راوغوښتي نوهغه خور کړل شو ⑥ اوخلقوته يي دبچ شوی توښي راوړلو دپاره اوويل ⑦ نوخلقو ځيزونه راوړل شروع کړل چايوموټي برابر جواري راوړل ⑧ چا موټي برابر خورماوي راوړی ⑨ چا دروټۍ ټکړه راوړه ⑩ دغه شان په هغه دستر خوان څه لږ ځيزونه جمع شول ⑪ نو رسول کريم ﷺ دنزول برکت دعا وکړله ⑫ بياټولو خلقو ته يي وفرمايل دچاچي خومره زره غواړي دي نه دي خپل لوښي ډک کړي ⑬ نوخلقو خپل خپل لوښي آخستل شروع کړل ددي پورې چې لښکر کښي هيڅ داسې لوښي پاتي نه شو چې ډک نه شو ⑭ حضرت ابوهريره ﷜ وايي بياټول لښکر [چې تقريبًا يولاک مجاهدينو باندي مشتمل ؤو] په ډکه خيټه طعام وخوړلي بياهم ډير طعام پاتې شو ⑮ دي نه وروسته رسول کريم ﷺ وفرمايل زه شاهدي کوم چې الله تعالی نه سوا بل معبود نشته اوداچې بلاشبه زه دالله تعالی رسول يم ⑯ اوياد لری داسې هيڅ کله نشي کيدی چې يوسړی ددي دوو ګواهيو سره چې هيڅ شک شبه پکښي نشته دالله تعالی سره يوځاي شي اوبياهغه جنت ته دتلو نه منع کړل شي (مسلم)

حل اللغات: - ① الْمَجَاعَةُ: أَيْ: جُوعٌ شَدِيدٌ: سخته لوږه ② أَزْوَادِهِمْ: دخوراک څکاک ځيزونه، توښه ③ نِطَعٍ: أَي بِسَاطٍ مِنَ الْأَدِيمِ: دَ څرمن دسترخوان ته نطع وائی ④ ذُرَةٍ: ددي اصل ذُرَوٌ دي، أی كُثْبَةُ حَبٍّ: يو موټی جوار. يعنی يوسړی يوموټي جوارراوړل ⑤ بِكِسْرَةٍ: أَيْ: بِقِطْعَةٍ مِنَ الْخُبْزِ: يعنی چادَ روټۍ يوه ټکړه راوړله يا يو موټي کهجوري راوړي ⑥ غَيْرُ شَاكٍّ: هيڅ شک شبه پکښي نه کوی ⑦ فَيُحْجَبَ: أَيْ: فَيُمْنَعَ: منع کړي شی (دجنت نه).

تسهيلات: **نوټ:** د ګرانوټکوتشريح په حل اللغات کښي شوي ده اوباقی د حديث مفهوم د حديث د تشريحی ترجمي څخه واضح دي.

[۵۹۱۴] د زینب په ولیمه کښې د برکت معجزه؟

۵۹۱۴-()[۳۳] ① وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَرُوسًا بِزَيْنَبَ، ② فَعَمَدَتْ أُمِّي أُمُّ سُلَيْمٍ إِلَى تَمْرٍ وَسَمْنٍ وَأَقِطٍ، ③ فَصَنَعَتْ حَيْسًا فَجَعَلَتْهُ فِي تَوْرٍ فَقَالَتْ: ④ يَا أَنَسُ اذْهَبْ بِهَذَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقُلْ: ⑤ بَعَثَتْ بِهَذَا إِلَيْكَ أُمِّي، وَهِيَ تُقْرِئُكَ السَّلَامَ ⑥ وَتَقُولُ: إِنَّ هَذَا لَكَ مِنَّا قَلِيلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ! فَذَهَبْتُ فَقُلْتُ،

ترجمه: ① او حضرت انس ﷺ وايي د رسول کريم ﷺ ام المؤمنين بي بي زينب ﷺ سره نکاح وشوه ② نو (دواده دشپې نه وروسته) زما مور ام سليم ﷺ خورماوي ، غوړي او کورت پنير راواخستل ③ نو ماليده يې جوړه کړه اويوه پياله کښې واچوله او ماته يې اوويل ④ انس ﷺ دا د رسول کريم ﷺ په خدمت کښې يوسه او ورته اووايه ⑤ چې زما مور دا [حقيره شان] هديه ستاسو ﷺ په خدمت کښې راليږلي ده اوتاسو ﷺ ته يې سلام عرض کړی دی ⑥ او ويلي يې دي چې يارسول الله ﷺ دالږه هديه زمونږ د طرف نه ستاسو دپاره ده [که څه هم ستاسو ﷺ د شان لائقه نه ده ليکن ستاسو د الطاف کريمه نه دا اميد دی چې قبوله به يې کړي] نو ما هغه واخسته د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم او څه چې زما مور ويلي وو عرض مې کړل.

حل اللغات:- ① عَرُوسًا: أي زَوْجًا جَدِيدًا: نوې واده او نکاح ته وانی. ② أَقِطٍ: أي: لَبَنٍ مُجَفَّفٍ: اوچ کړې شوی پۍ يعنی پنير ③ حَيْسًا: هُوَ تَمْرٌ مَعَ سَمْنٍ أَوْ أَقِطٍ: د کجورو، غوړو او پنيرنه، يا اوړه، کجورې اوغوړو نه جوړه شوې حلوه، ④ تَوْرٍ: أي إِنَاءٌ كَالْقَدَحِ: د پيالۍ په شان يو لوښی، کټوری،

① فَقَالَ: (ضَعْهُ) ثُمَّ قَالَ: ② (اذْهَبْ فَادْعُ لِي فُلَانًا وَفُلَانًا وَفُلَانًا) رِجَالًا سَمَّاهُمْ ③ (وَادْعُ مَنْ لَقِيتَ) فَدَعَوْتُ مَنْ سَمَّى وَمَنْ لَقِيتُ، ④ فَرَجَعْتُ فَإِذَا الْبَيْتُ غَاصٌّ بِأَهْلِهِ. ⑤ قِيلَ لِأَنَسٍ: عَدَدُكُمْ كَمْ كَانُوا؟ ⑥ قَالَ: زُهَاءَ ثَلَاثِمِائَةٍ. ⑦ فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَضَعَ يَدَهُ عَلَى تِلْكَ الْحَيْسَةِ، وَتَكَلَّمَ بِمَا شَاءَ اللَّهُ، ⑧ ثُمَّ جَعَلَ يَدْعُو عَشَرَةً عَشَرَةً يَأْكُلُونَ مِنْهُ، ⑨ وَيَقُولُ لَهُمْ: (اذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ، وَلْيَأْكُلْ كُلُّ رَجُلٍ مِمَّا يَلِيهِ)

ترجمه: ① حضور ﷺ [د ير په روڼ تندي سره قبلولو سره] وفرمايل چې دا کيږده اوبيا يې وفرمايل ② فلاني فلاني سړي چې د هغوی نومونه حضور ﷺ راته وښودل ورشه راوله ③ او وګوره لار کښې چې کوم سړی درسره ملاؤ شي هغه هم دځان سره راوله نوزه لاړم اوهغه خلق اوکوم چې په لار کښې راسره ملاؤ شوه هغه مې راوستل ④ کوم وخت چې زه کورته واپس راغلم نو پوره کور دخلقو نه ډک وو ⑤ حضرت انس ﷺ نه پوښتنه وشوه هغه

¹ اخرجه البخاری فی کتاب النکاح/باب الهدية للعروس (رقم-۵۱۶۳) ومسلم فی کتاب النکاح/ باب زواج زينب بنت جحش، ونزول الحجاب، وإثبات وليمة العرس (رقم-۹۴ - (۱۴۲۸) والترمذی فی کتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة الأحزاب (رقم-۳۲۱۸) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب الهدية لمن عرس (رقم-۳۳۸۷) واحمد فی المسند: ۱۱/۳

وخت تاسو څومره خلق وی۞ حضرت انس ﷺ جواب ورکړو دري سوو (۳۰۰) ته نزدې ۞ بیا ماولیدل چې نبی کریم ﷺ هغه مالیده باندې لاس مبارك ایښودلو سره هغه څه اوویل څه چې الله تعالٰی غوښتل [یعنی دخیر اوبرکت دعایې وکړه]۞ ددې نه وروسته حضورﷺ لس لس سړي رابلل شروع کړل اوهغوی [یوبل پسې لس لس سړي راتلل] خوراک به یې تري کولو۞ [اوڅوک چې به طعام دپاره راتلل] حضور ﷺ به ورته وفرمایل دالله تعالٰی نوم آخستو سره خوري اوهرسړی ته دخپل مخ نه خوړل پکار دی [څکه چې دخوراک دامسنون طریقه ده چې دتهذیب اوسړیتوب اظهار تري کیږي اوطعام کښې خیر اوبرکت هم نازلیږي]

حل اللغات:- ۞ غَاصَّ: أَيْ: مُمْتَلِئٌ: ډک وو(کور دخلقو نه ډک وو) ۞ زُهَاءَ: أَيْ: عَدَدًا مِقْدَارُ: د شمیر مقدار او اندازې دپاره استعمال شوې دی.

۞ قَالَ: فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا، ۞ فَخَرَجَتْ طَائِفَةٌ، وَدَخَلَتْ طَائِفَةٌ، حَتَّى أَكَلُوا كُلُّهُمْ. ۞ قَالَ لِي: (يَا أَنَسُ! ارْفَعْ) فَرَفَعْتُ، ۞ فَمَا أَدْرِي حِينَ وَضَعْتُ كَانَ أَكْثَرَ أَمْ حِينَ رَفَعْتُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۞ حضرت انس ﷺ وایي چې ټولو خلقو په ډکه خیټه هغه طعام وخوړلو ۞ دلس سړو جماعت چې به طعام خوړلو نه فارغ شو نودلسو سړو بل جماعت به راتلو ددې پورې چې ټولو خلقو [په ډکه خیټه] هغه طعام وخوړلو ۞ بیا حضور ﷺ ماته وفرمایل انس ﷺ [ټول خلق دطعام نه فارغ شوې دي] اوس داکاسه اوچته کړه ماکاسه اوچته کړه ۞ زه نشم ویلی چې کوم وخت ماکاسه راوړلو سره ایښې وه هغه وخت مالیده زیاته وه یا هغه وخت چې [ټول خلق دطعام نه فارغ شو او] ماهغه اوچته کړه هغه وخت مالیده زیاته وه (بخاري مسلم)

تسهیلات: **قوله:** غَاصٌّ:

په طعام کښې د برکت معجزه: دغه لږه شان مالیده دریو سوو کسانو اوخوړله اوبیا هم پاتې شوه څکه چه په هغې کښې دمعجزه ظهور اوشو. د مالیده واقعه جدا اود حضرت زینب ﷺ د ولیمه واقعه جدا ده. دا مالیده د زلمي او ناوې دعوت ووکوم چه حضرت ام سلیم ﷺ تیار کړې وو

[۵۹۱٤] دلټ اوښ د تیز رفتارۍ معجزه

۵۹۱۳-(۱)[۳۵] ۞ وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ۞ «غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَأَنَا عَلَى نَاضِحٍ قَدْ أَعْيَا، ۞ فَلَا يَكَادُ يَسِيرُ، فَتَلَاحَقَ بِيَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۞ فَقَالَ: (مَا لِبَعِيرِكَ؟) قُلْتُ: قَدْ عَيِيَ، ۞ فَتَخَلَّفَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَزَجَرَهُ فَدَعَا لَهُ، ۞ فَمَا زَالَ بَيْنَ يَدَيِ الْإِبِلِ قُدَّامَهَا يَسِيرُ فَقَالَ لِي: (كَيْفَ تَرَى بَعِيرَكَ؟)

[1] اخرجه البخاري في كتاب البيوع/باب شراء الإمام الحوائج بنفسه وقال ابن عمر رضي الله عنهما: اشترى النبي صلى الله عليه وسلم [ص:٦٢] (رقم-٢٠٩٧) ومسلم في كتاب المساقاة/باب بيع البعير واستثناء ركوبه (رقم-١١٠٠ - (٧١٥)

ترجمه: ① اوحضرت جابر ﷺ وايي ② زه ديوجهاد په سفر كښې درسول كريم ﷺ سره ملګرى ووم اوآبكش اوښ باندې سپور ووم هغه اوښ دومره زيات ستړى شوى وو③ چې څرنګه هغه ته تلل پكار ؤو هغه شان تلو باندې قادرنه ؤو يوخاي ته رسيدو سره زه نبى كريم ﷺ سره ملګري شوم ④ حضور ﷺ وفرمايل ستاپه اوښ څه شوي دي چې په ښه طريقه نه ځي ماعرض وكى ستړى شوي دي ⑤ دي اوريدو سره حضور ﷺ زما داوښ نه شا طرفته راغلى اوايا خوځه شي سره وهلو سره يامحض داواز په ذريعه] هغه يي وشړي او بيا دهغه په حق كښې دتيز روى دعا وكړه ⑥ دهغه اثر داشو چې زما اوښ دټولو نه مخكې شو بياحضور ﷺ پوښتنه وكړه وايه ستا داوښ څه حال دى

حل اللغات: - ① نَاضِحٍ: أَيْ: رَاكِبٌ عَلَى بَعِيرٍ يَسْتَقِي: اوبه راښكونكى راوړونكى اوښ ته ناضح وائى ② أَعْيَا: أَيْ: عَجَزَ عَنِ الْمَشْيِ: دتلونه عاجزشوې وو يعنى ستړې شوې وو ③ فَتَلَاحَقَ: أَيْ: لَحِقَ: حضورپاك دَ شانه راغلو ماسره ملاؤشو ④ فَزَجَرَهُ: أَيْ: بِالضَّرْبِ أَوِالصَّوْتِ: په آواز سره يا چوكه سره ئي اوشړلو

① قُلْتُ: بِخَيْرٍ، قَدْ أَصَابَتْهُ بَرَكَتُكَ. ② قَالَ: (أَفَتَبِيعُنِيهِ بِوُقِيَّةٍ؟). ③ فَبِعْتُهُ عَلَى أَنَّ لِي فَقَارَ ظَهْرِهِ إِلَى الْمَدِينَةِ ④ فَلَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْمَدِينَةَ غَدَوْتُ عَلَيْهِ بِالْبَعِيرِ ⑤ فَأَعْطَانِي ثَمَنَهُ وَرَدَّهُ عَلَيَّ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ما عرض وكى ستاسو ﷺ ددعا له بركته اوس هغه ښه تيزځي ② حضور ﷺ وفرمايل اياته دااوښ په څلويښت درهمه خرڅوي ③ ما عرض وكى زه په دي شرط باندې دا اوښ په تاسو ﷺ خرڅوم چې مدينې پورې به دااوښ زما سورلي كښې وي ④ بيا رسول كريم ﷺ اومونږ خلق مدينې ته راورسيدو نودراتلونكي ورځ په سحر كښې ما اوښ اخستو سره درسول كريم ﷺ په خدمت كښې حاضر شوم [چې اوښ حواله كولو سره فيصله شوي رقم ترې واخلم] ⑤ حضور ﷺ دمعاملې مطابق ماته قيمت عطاء كى ليكن دمهرباني له مخه هغه اوښ يي هم ماته عطاء كړى (بخاري ومسلم)

حل اللغات: - ⑤ وُقِيَّةٍ: هِيَ أَرْبَعُونَ دِرْهَمًا: څلويښت درهمه ⑥ فَقَارَ ظَهْرِهِ: أَيْ: رُكُوبَ: د شا هډوكى ته فقار وائى دلته ترې ركوب يعنى سوريدل مراد دې

تسهيلات: **قوله:** فَقَارَ ظَهْرِهِ:

اشكال: په مذكوره حديث كښې په عقد د بيع كښې مدينې پورې دَ سوريدو شرط دلګولې شوې دې كوم چې د بيع د اصولو څخه خلاف دې نودا بيع څنګه جائز شوه

داشكال دري جوابونه: ① دَ مخكښې وخت واقعه ده كومه چه منسوخ ده

② حضورپاك دَدغه محتاج صحابى دَعزت په توګه سره دَهغه امداد كول غوښتل نوصورةً ئى دَ بيع صورت جوړكړو په حقيقت كښې داهبه وه.

③ دا په صلب عقد كښې نه وو په دې وجه جائز شو

[٥٩١٥] دغزوه تبوک په موقع د معجزو ښکاره کيدل

٥٩١٥ - (¹) [٣٦] [١] وَعَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - غَزْوَةَ تَبُوكَ، [٣] فَأَتَيْنَا وَادِيَ الْقُرَى عَلَى حَدِيقَةٍ لِامْرَأَةٍ، [٤] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (اخْرُصُوهَا) فَخَرَصْنَاهَا، [٥] وَخَرَصَهَا رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَشَرَةَ أَوْسُقٍ وَقَالَ: [٦] (أَحْصِيهَا حَتَّى نَرْجِعَ إِلَيْكِ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ) [٧] وَانْطَلَقْنَا، حَتَّى قَدِمْنَا تَبُوكَ»

ترجمه: [١] اوحضرت ابوحميد ساعدي ﷛ وايي [٢] مونږ درسول کريم ﷺ سره د غزوه تبوک دپاره [دمديني نه] روان شو [٣] کوم وخت چې [مديني نه ددري ورځو په مسافت واقع] وادي قُرى ته ورسيدو نوپه يوباغ تير شو چې ديوي ښځي وو [٤] رسول کريم ﷺ هغه باغ ته رسيدو سره مونږ خلقوته وفرمايل اندازه کولو سره وښايي چې په دي باغ کښې به خومره ميوه وي مونږ ټولو خپله خپله اندازه وښودله [دچا اندازه څه اودچاڅه وه] [٥] بيارسول کريم ﷺ هم اندازه وکړله او وي فرمايل په دي باغ کښې به لس وسق ميوه وي دي نه وروسته هغه ښځي ته يي وفرمايل [٦] کله چې ميوه وشکوي او وزن يي کړي نوهغه وزن يادساته ددي پورې چې مونږ وروسته راشو انشاءالله [٧] دهغه ځاي نه روانيدو سره چې مونږ تبوک ته ورسيدو.

حل اللغات:- ① اخْرُصُوهَا: أَيْ: قَدِّرُوا وَخَمِّنُوا ثَمَرَهَا: په اندازه او تخمينه سره اوښايئ چه په دې کښې به اندازتًا څومره ميوې وی.

[١] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (سَتَهُبُّ عَلَيْكُمُ اللَّيْلَةَ رِيحٌ شَدِيدَةٌ) [٢] فَلَا يَقُمْ فِيهَا أَحَدٌ، [٣] فَمَنْ كَانَ لَهُ بَعِيرٌ فَلْيَشُدَّ عِقَالَهُ). [٤] فَهَبَّتْ رِيحٌ شَدِيدَةٌ. [٥] فَقَامَ رَجُلٌ فَحَمَلَتْهُ الرِّيحُ حَتَّى أَلْقَتْهُ بِجَبَلَيْ طَيِّئٍ. [٦] ثُمَّ أَقْبَلْنَا حَتَّى قَدِمْنَا وَادِيَ الْقُرَى، [٧] فَسَأَلَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْمَرْأَةَ عَنْ حَدِيقَتِهَا [٩] (كَمْ بَلَغَ ثَمَرُهَا؟) فَقَالَتْ عَشَرَةَ أَوْسُقٍ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] نو رسول کريم ﷺ وفرمايل نن شپه به په تاسو سخته سيلئ راځي [٢] هغه وخت دي هيڅ سړی د خپل ځايه نه پاڅي [٣] اوچاسره چې اوښ وي هغه دي په رسئ سره مضبوط وتړي [مطلب داچې سيلی نه دحفاظت پيش نظر هلته دي نه څوک سړی ګرځي راګرځي اونه دي خپل اوښ خلاص ځاي باندي پريږدی نودغه شان وشو] [٤] دشپې دومره سخته سيلئ راغله [٥] چې يوسړی چې دحضور ﷺ دهدايت خلاف دريدلی وو هغه يي والوځوی اود طی غرونوپه منځ کښې يي وغورځوي [٦] مونږ چې غزوه تبوک نه فارغ شو اومديني ته وروسته راتلو او وادي قرى ته راورسيدو [٧] نورسول کريم ﷺ دهغه ښځي نه دباغ په باره کښې پوښتنه وکړه [٩] چې وښايه څومره ميوه وشوه هغي اوويل لس وسقه . بخاري مسلم.

¹ اخرجه البخاري في كتاب الزكاة/باب خرص الثمر (رقم-١٤٨١) ومسلم في كتاب الفضائل/باب في معجزات النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-١١ - (١٣٩٢) واحمد في المسند: ٤٢٤/٥

حل اللغات:- ②سَتَهُبُّ: أَيْ: سَتَمُرُّ: راخي به، رالوځی به. ③فَلْيَشُدَّ: أَيْ: فَلْيَرْبِطْ: اودې تړي، مضبوطه دې اوتړي. ④عِقَالَهُ: مَا يُرْبَطُ بِهِ وَظِيفُ الْبَعِيرِ: هغه رسۍ ته وائي کوم سره چه د اوښ يا اس وغيره خپې تړلې شي د څرن کولو دپاره.

تسهیلات:

قوله: فَهَبَّتْ رِيحٌ شَدِيدَةٌ،

د دوو معجزاتو ظهور: ① دَ باغ دَميوو متعلق دَهغې مقدار خودل.

②دَ شپې وخت کښې دَ سيلئی چليدل په کوم سره چه داسې تباهي اوشوه چه څوك مخې ته راغلو هغه ئې راغورزولوسره والوزولو.

[۵۹۱۶] دمصر دفتح پيشن ګويي

۵۹۱۶-()[۳۷] ①وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ②«(إِنَّكُمْ سَتَفْتَحُونَ مِصْرَ، ③وَهِيَ أَرْضٌ يُسَمَّى فِيهَا الْقِيرَاطُ، ④فَإِذَا فَتَحْتُمُوهَا فَأَحْسِنُوا إِلَى أَهْلِهَا فَإِنَّ لَهَا ذِمَّةً وَرَحِمًا -⑤أَوْ قَالَ: ذِمَّةً وَصِهْرًا -⑥فَإِذَا رَأَيْتُمْ رَجُلَيْنِ يَخْتَصِمَانِ فِي مَوْضِعِ لَبِنَةٍ فَاخْرُجْ مِنْهَا) .⑦قَالَ: فَرَأَيْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ شُرَحْبِيلَ بْنِ حَسَنَةَ وَأَخَاهُ رَبِيعَةَ يَخْتَصِمَانِ فِي مَوْضِعِ لَبِنَةٍ، ⑧فَخَرَجْتُ مِنْهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابوذر ﷛ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ② يقيناً هغه وخت نزدې دې هرکله چې تاسو به مصر فتح کړي ③ اومصر هغه زمکه ده چې هلته دقيراط ذکربه کثرت سره کيږي ④ هرکله چې تاسو مصر فتح کړي نودهغه ځاي خلقو سره نيک سلوک کوي ځکه چې هغوی ته امان دی اوهغوی سره قرابت دي ⑤ يادايي وفرمايل هغوی ته آمان دي اوهغوی سره د خسرګني رشته ده ⑥ اوهرکله چې تاسو خلق ووينی چې هلته دوه سړي ديوي بنختي په ځاي جګړه کوي نو تاسو دهغه ځاي نه راوځي ⑦ حضرت ابوذر ﷛ وايي مادخپل قيام مصرپه دوران کښې عبدالرحمٰن بن شرحبيل ابن حسنه اودهغه ورور ربيعه ديوي خښتي په ځاي جګړه کولو وليدل ⑧ نودمصر د زمکي نه راووتلم. (مسلم)

حل اللغات:- ①الْقِيرَاطُ: وَهُوَ نِصْفُ عُشْرِ دِينَارٍ: د دينار د لسمې حصې نيمه يعنی د دينار شلمه حصه. ② ذِمَّةً: أَيْ: حُرْمَةً وَأَمَانًا: امان ③رَحِمًا: أَيْ: قَرَابَةً: رشته داری (په وجه د هاجره أم إسماعيل عليه السلام ځکه چه هاجره رضی الله عنها د قبط قوم وه). ④صِهْرًا: سخرګنی (په وجه د ماريه رضی الله عنها ځکه چه دا هم د قبط قوم وه).

[1] اخرجه مسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم /باب وصية النبی صلی الله عليه وسلم بأهل مصر (رقم-۲۲۷ - (۲۵۴۳) واحمد فی المسند: ۴/ ۳۲۰

تسهیلات: قوله: سَتَفْتَحُونَ مِصْرَ:

د مصرفتح اود معجزې ظهور: دَ پیشنګوئی په رنړاکښې مصرفتح شواودَمعجزې ظهوراوشو حضرت عمروبن العاص رضی الله عنه دَیرومشقتونونه پس مصرفتح کړې وو.

قوله: فِيهَا الْقِيرَاطُ:

د قیراط په مصداق کښې دوه اقوال: ① یعنی دَحرص اولالچ نه ډکه علاقه ده. هلته به دَمال دومره محبت وی چه دَهرسړی په خله به قیراط قیراط ګردان شروع وی. په دغه خلقو کښې به دَ مال محبت ورلړلې شوې وی. هروخت اوپه هره معامله کښې به بس قیراط قیراط تذکره وی.

② علامه طحاوی رحمه الله چونکه پخپله مصری دې هغه فرمائی چه دې حدیث کښې دَ قیراط نه کنځل مراددی ځکه چه دَ قیراط لفظ دَ کنځلوپه توګه استعمالولې شی دَمصرخلق وائی اعطیت فلاناالقراریط یعنی فلانکی ته ئی کنځلې اوکړې.

قوله: فَإِنَّ لَهَا ذِمَّةً وَرَحِمًا - أَوْقَالَ: ذِمَّةً وَصِهْرًا،

د رحما اوصهر نه مراد: مطلب دا چه په قوم کښې به کنځلې بدې ردې اوفحش خبرې وی دَ ژبې بدزبانی به وی کمینه اورذیل خلق به وی. دَدې کمزورئی سره چه کله تاسو دافتح کړئی نو په هغې کښې زما دَ صله رحمی او سخرګنئی خیال اوساتئی. صله رحمی خودَ حضرت هاجره دَ وجې نه ده اوسخرګنئی دَ ماریه قبطیه دَ وجې نه ده. دادَ حضورپاك وینځه وه هم دَدې نه ابراهیم بن محمد صلی الله علیه وسلم پیدا شوې وو.

قوله: لَبِنَةٍ:

په حدیث د دوه معجزاتو ظهور: خښتې ته وائی یعنی چه کله یوې خښتې سره دوه کسان په جګړه اوګورئی نودَهغه ځائی نه تختئی.

① په دې حدیث کښې یوخودَمصردَ فتح کیدوخبره ده په دې کښې هم دَمعجزې ظهوراوشو

② اوبله خبره حضورپاك دَ جګړې کړې ده هغه هم ابوذر رضی الله عنه اولیدله. په دې کښې دَدویمې معجزې ظهوراوشو

د مصر نه د بن سبا دفتنې راوتل: دَ حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه په دورکښې هم دې مصرنه ابن سباپه مدینه باندې حمله کړې وه اودَحضرت عثمان رضی الله عنه دَشهیدکولو منصوبه ئی جوړه کړې وه. بهرحال مصرسره دَدې چه ام الدنیادې اودَاسلام پخوانې ښاردې مګر عام فتنې هم دَدې نه پیدا شوی دی اوپیدا کیږی به.

[۵۹۱۷] دمنافقانو عبرتناکه انجام پیشن ګوئی

۵۹۱۷-(۱)[۳۸] [۱] وَعَنْ حُذَيْفَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] ((فِي أَصْحَابِي -وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: فِي أُمَّتِي- اثْنَا عَشَرَ مُنَافِقًا لَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ، [۳] وَلَا يَجِدُونَ رِيحَهَا حَتَّى يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ، [۴] ثَمَانِيَةٌ مِنْهُمْ تَكْفِيهِمُ الدُّبَيْلَةُ: [۵] سِرَاجٌ مِنْ نَارٍ يَظْهَرُ فِي أَكْتَافِهِمْ حَتَّى تَنْجُمَ فِي صُدُورِهِمْ)). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] اوحضرت حذیفه ﷺ دنبي کریم ﷺ نه روایت کوي حضور ﷺ وفرمایل [۲] زما صحابه ؤ کښې او په یو روایت کښې دادی چې زما په امت کښې دولس منافقین دي چې په جنت کښې به نه داخلیږي [۳] بلکې دجنت بوی به هم نه کی پیدا ، څو پورې چې دستني په سوري کښې اوښ تیر نشي [۴] اوپه دي دولسو کښې به اته منافقان خو دبیله ختم کړي [یعنی هغوی به هلاک کړي اودهغوی شر اوفتنه به ختمه کړي] [۵] هغه (دبیله) به داور یوه شعله وي چې دهغوی اوږو کښې به پیدا شي اوبیا به سینو یعنی خیټو ته ورسیږي (مسلم)

حل اللغات:- ① يَلِجَ: أَيْ: يَدْخُلَ: چه داخل شی، ② سَمِّ الْخِيَاطِ: أَيْ: ثُقْبِ الْإِبْرَةِ: سَم د سن سوری ته وائی او خیاط د ګنډلو ستن ته وائی. یعنی د ګنډلو د ستن سوره ③ الدُّبَيْلَةُ: دا د دِبْل تصغیر دي. دا یوه زهرژنه پولۍ ده کوم ته چه سره مخه او لمبه وائی ④ تَنْجُمَ: أَيْ: تَظْهَرَ: نجم دَ ظهور په معنی کښې دې یعنی سینې ته په تلو کښې به ښکاره کیږي

[۱] وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ: [۲] (لَأُعْطِيَنَّ هَذِهِ الرَّايَةَ غَدًا) فِي (بَابِ مَنَاقِبِ عَلِيٍّ) رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ. [۳] وَحَدِيثَ جَابِرٍ (مَنْ يَصْعَدُ الثَّنِيَّةَ) فِي (بَابِ الْمَنَاقِبِ) إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالَى.

ترجمه: [۱] اومونږ به دحضرت سهل ابن سعد روایت (لَأُعْطِيَنَّ هَذِهِ الرَّايَةَ غَدًا) دحضرت علي ﷺ په مناقبو کښې [۳] اودحضرت جابر ﷺ روایت من یصدع الثنیة جامع المناقب کښې نقل کړو انشاء الله تعالی.

حل اللغات:- ⑤ الثَّنِيَّةَ: هِيَ الطَّرِيقُ الْعَالِي فِي الْجَبَلِ: په غر کښې اوچتې لارې ته وائی.

تسهیلات: قوله: اثْنَا عَشَرَ مُنَافِقًا:

د نبی علیه السلام د قتلولو دپاره د دولسومنافقانوسازش: دغزوه تبوك نه په واپسئی باندې دولسومنافقانو شپې درسول الله ﷺ د شهید کولودپاره خائی په نښه کړې وو دااشاره هم دهغوی طرف ته ده.

قوله: حَتَّى تَنْجُمَ فِي صُدُورِهِمْ،

د پیشنګوئی ظهور: بهرحال دا طاعوني پولئی ده کوم چه یوآفت اوهلاکت دي داپیشنګوئی چه څنګه اوکړې شوه هم دغه شان واقعه پیښه شوه او د معجزې ظهور اوشو

---

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب وصیة النبی صلی الله علیه وسلم بأهل مصر (رقم- ۲۲۷ - (۲۵۴۳) واحمد فی المسند: ۳۲۰/۴

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۹۱۸] د بحيرا راهب په خوله د نبی علیه السلام د پیغمبری پیش گوئی

۵۹۱۸-()[۳۹] [۱] عَنْ أَبِي مُوسَى -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «خَرَجَ أَبُو طَالِبٍ إِلَى الشَّامِ، وَخَرَجَ مَعَهُ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي أَشْيَاخٍ مِنْ قُرَيْشٍ، [۳] فَلَمَّا أَشْرَفُوا عَلَى الرَّاهِبِ هَبَطُوا، فَحَلُّوا رِحَالَهُمْ، [٤] فَخَرَجَ إِلَيْهِمُ الرَّاهِبُ، [۵] وَكَانُوا قَبْلَ ذَلِكَ يَمُرُّونَ بِهِ فَلَا يَخْرُجُ إِلَيْهِمْ، [٦] قَالَ: فَهُمْ يَحُلُّونَ رِحَالَهُمْ، فَجَعَلَ يَتَخَلَّلُهُمُ الرَّاهِبُ، [۷] حَتَّى جَاءَ فَأَخَذَ بِيَدِ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۸] قَالَ: هَذَا سَيِّدُ الْعَالَمِينَ، هَذَا سَيِّدُ الْعَالَمِينَ، [۹] يَبْعَثُهُ اللهُ رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ.

توجمه: [۱] حضرت ابو موسیٰ اشعري ﷺ بیان کوي [۲] یو ځل ابوطالب د تجارت په غرض د شام سفر وکی نو نبي کریم ﷺ هم ورسره لاړلو [چې هغه وخت د دولسو کالو ؤو] [۳] دا تجارتي قافله د شام ملک [یو مقام بصری] کښې دیو راهب [یعنی عیسایي پادري] سره مقیم شوه او ټولو خپلي کجاوي خلاصي کړي [٤] راهب د هغوی ملاقات ته خپله راغی [۵] حالانکه دي نه مخکې چې کله دا خلق اخوا تیر یدل نو هغه راهب سره به یې قیام کوی هغه چیرته هم بهر راتلو سره د هغوی سره ملاقات نه ؤو کړی [٦] راوي وایي دي خلقو خپلي کجاوي خلاصولي او راهب د هغوی په منځ کښې څوک تلاش کوی [۷] د دي پورې چې هغه راتلو سره د نبي کریم ﷺ لاس مبارک اونیولو [۸] او هغه ونیل دا دي د ټولو جهانونو سردار دادی د ټولو جهانونو د پروردګار رسول [چې د انسانیت عامه د هدایت دپاره] راغلی دی [۹] دا هغه سړی دی چې الله تعالیٰ د ټول جهان دپاره د رحمت او راحت ذریعه جوړولو سره رالیږلي دي

حل اللغات:- ① أَشْيَاخٍ: أَيْ: أَكَابِرِهِمْ: مشران، ② أَشْرَفُوا: أَيْ: طَلَعُوا: اشراف ظاهر کیدو او ښکاره کیدو ته واتي ③ هَبَطُوا: أَيْ: نَزَلُوا: کوز شو، پړاؤ ئې واچولو ④ يَتَخَلَّلُهُمْ: أَيْ: يَمْشِي فِيمَا بَيْنَ الْقَوْمِ: یعنی راهب د دغه قافلې په مینځ کښې ګرځیدو او حضورپاک ئې لټولو.

[۱] فَقَالَ لَهُ أَشْيَاخٌ مِنْ قُرَيْشٍ: مَا عِلْمُكَ؟ [۲] فَقَالَ: إِنَّكُمْ حِينَ أَشْرَفْتُمْ مِنَ الْعَقَبَةِ لَمْ يَبْقَ شَجَرٌ وَلَا حَجَرٌ إِلَّا خَرَّ سَاجِدًا. [۳] وَلَا يَسْجُدَانِ إِلَّا لِنَبِيٍّ [٤] وَإِنِّي أَعْرِفُهُ بِخَاتَمِ النُّبُوَّةِ أَسْفَلَ مِنْ غُضْرُوفِ كَتِفِهِ مِثْلَ التُّفَّاحَةِ، [۵] ثُمَّ رَجَعَ فَصَنَعَ لَهُمْ طَعَامًا [٦] فَلَمَّا أَتَاهُمْ بِهِ، وَكَانَ هُوَ فِي رِعْيَةِ الْإِبِلِ، [۷] فَقَالَ: أَرْسِلُوا إِلَيْهِ فَأَقْبَلَ وَعَلَيْهِ غَمَامَةٌ تُظِلُّهُ. [۸] فَلَمَّا دَنَا مِنَ الْقَوْمِ وَجَدَهُمْ قَدْ سَبَقُوهُ إِلَى فَيْءِ شَجَرَةٍ، [۹] فَلَمَّا جَلَسَ مَالَ فَيْءُ الشَّجَرَةِ عَلَيْهِ،

توجمه: [۱] د قریشو شیخانو چې راهب نه دا واوریدل نو یو شیخ د هغه نه پوښتنه وکړه چې ته د دي نوعمر هلک په باره کښې دا ټولي خبري د کوم ځای نه پیژنې؟ [۲] راهب جواب ورکړو

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی بدء نبوة النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۳۶۲۰)

هر کله چې تاسو د دوو غرونو د منځ واله لاري نه راوتلو سره مخې ته راغلاست نو ما د دي خایه کتل چې هیڅ و نه اوکاڼي داسې نه وو چې په سجده نه وي پریوتلي [۳] او وني اوکاڼي دلویې پیغمبر نه علاوه بل چاته سجده نه کوي [۴] او ما داسرې د هغه مهر نبوت په ذریعه هم پیژندلی دي چې د هغه داوږي د هډوکي لاندي د سیب په شان واقع دی [۵] بیا هغه راهب خپل کورته لاړلو او قافلي والو دپاره یې طعام تیار کړو [۶] او هر کله چې هغه طعام اخستو سره هغوی ته راغی نو حضور ﷺ اوښان څرول [۷] راهب قافلي والوته اوویل داسړی راوغواړی [اخکه چې زما مهمان خصوصي اصل کښې داسړی دی او د هغه په اعزاز کښې ما طعام تیار کړی دی نو په بلنه باندې یا خپله حضور ﷺ تشریف راوړی] او کوم وخت چې حضور ﷺ راتلو نو دوریځې یوي ټکړي په حضور ﷺ سایه (سوري) کړی وه [۸] بیا چې حضور ﷺ خلقوته راورسیدی نو وي لیدل داسې خایونو باندې چیرته چې د ونو سوری وه هغه خلقو قبضه کولو سره ناست وو او حضور ﷺ دپاره څه سایه (سوري) دار خالي ځاي نه وو

حل اللغات:- ⑤ الْعَقَبَة: دعقبه معنی ده غریزه کنده. کنډو ⑥ خَرَّ: أَيْ سَقَطَ: پریوتلو. غورزیدلو ⑦ غُضْرُوف: وَهُوَ رَأْسُ لَوْحِ الْكَتِفِ: د وولی دهډوکی سر. کچه او نری هډوکی ته وانی ⑧ رِعْيَةِ الْإِبِلِ: أَيْ: فِي رِعَايَتِهَا: د اوښانو نګران او حفاظت کونکي. ⑨ فَيْء: أَيْ: إِلَى ظِلِّهَا: سوري. سایه.

[۱] فَقَالَ: انْظُرُوا إِلَى فَيْءِ الشَّجَرَةِ مَالَ عَلَيْهِ. [۲] فَقَالَ: أَنْشُدُكُمُ اللَّهَ أَيُّكُمْ وَلِيُّهُ؟ [۳] قَالُوا: أَبُو طَالِبٍ. فَلَمْ يَزَلْ يُنَاشِدُهُ حَتَّى رَدَّهُ أَبُو طَالِبٍ [۴] وَبَعَثَ مَعَهُ أَبُو بَكْرٍ بِلَالًا وَزَوَّدَهُ الرَّاهِبُ مِنَ الْكَعْكِ وَالزَّيْتِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضور ﷺ یوغیر سایه دار (سوري) ځاي باندې کیناستلو نو سمدستي د ونو د ښاخونو نه یوښاخ په حضور ﷺ سوري وکړی [۲] دا ماجرا لیدو سره هغه راهب [قافلي والوته] اوویل [د ونې سایې ته وګوری چې دي سړي باندې راکوزشوي ده بیا هغه اوویل] زه تاسو خلقوته د قسم درکولو سره درنه پوښتنه کوم چې تاسو کښې کوم سړی ددي نوعمر سړ پرست دی؟ [۳] خلقو اوویل ابوطالب دی په دي اوریدو سره راهب [ډیر وخته پورې ابوطالب په دي خبره پوهولي او] قسم یې ورکولي [چې حضور ﷺ مکې ته واپس ولیږی] آخر ابوطالب حضور ﷺ مکي ته واپس ولیږی [۴] او ابوبکر ﷺ بلال ﷺ حضور ﷺ سره ملګري کړي او راهب د غنمو روټۍ او د روغنِ زیتون توښه حضور ته ﷺ ورکړه (ترمذي)

حل اللغات:- ⑩ يُنَاشِدُهُ: قسمونه ئې ورکول ابوطالب ته ⑪ وَزَوَّدَهُ: د سفر دخوراک څکاک سامان یعنی توښه ⑫ الْكَعْك: وَهُوَ الْخُبْزُ الْغَلِيظُ: ډکې او پیړې روټۍ ته وانی یعنی کیک یا ډبل روټۍ

تسهیلات:

قوله: أَشْرَفُوا: یعنی دَ قریشو قافله چه کله بحیرا راهب مخې ته راغله نو هم په هغه ځانی کښې کوزشو او کجاوې کولاؤ کړې

قوله: مِثْلَ التُّفَّاحَةِ:

د تفاحة مفهوم: دا یوتمثیل دی، یومثال دی حقیقی کلام نه دی یعنی دَخاتم نبوت حجم وړوکی منړی په شان وو

قوله: وَبَعَثَ مَعَهُ أَبُوبَكْرٍ بِلَالًا،

اشکال: یعنی ابوبکر رضی الله عنه حضرت بلال رضی الله عنه رسول الله ﷺ سره واپس مکې ته روان کړو سوال دادی چه حضرت ابوبکر رضی الله عنه دَ حضورپاك نه دوه کاله کشردی هغه وخت ابوبکر رضی الله عنه دَ ۱۱ کالووو اوحضرت بلال رضی الله عنه خوبه کیدی شی هغه وخت پیدا شوی هم نه وی نودَ لیګلورالیګلودَدی خبری څه مطلب دی؟

داشکال جواب: ابن حجر رحمه الله فرمائی باقی حدیث صحیح دی صرف داجمله دَ یوراوی دَ طرف نه درج ده کومه چه مقبول نه ده. دَدی حدیث او واقعه نه دَمستقبل معجزه خو ثابته کیدی شی اودَ حضوراکرم ﷺ د نبوت طرف ته اشاره هم کیدی شی مګر فی الحال چه کوم دا خارق عادت امور مخې ته شوی دی دادَ ارهاصات دَ قبیل نه دی دکوم ذکر چه شوی دی راتلونکی حدیث نمبر (۵۹۱۹) کښې هم ارهاص ذکر دی

[۵۹۱۹] دونو دسلام کولو معجزه

۵۹۱۹-() [۵] [۱] وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِمَكَّةَ، فَخَرَجْنَا فِي بَعْضِ نَوَاحِيهَا، [۳] فَمَا اسْتَقْبَلَهُ جَبَلٌ وَلَا شَجَرٌ إِلَّا وَهُوَ يَقُولُ: السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] اوحضرت علي ابن ابي طالب وايي [۲] زه نبی کریم ﷺ سره مکه کښې ووم یوه ورځ چې مونږ دمکي اطرافو کښې یوطرف ته لاړلو [۳] نوکوم غر (یعنې کاڼی او ونې) چې مخې ته راتله هغې به وئیل السلام علیک یارسول الله (ترمذي دارمي)

تسهیلات:

قوله: فَمَا اسْتَقْبَلَهُ جَبَلٌ وَلَا شَجَرٌ إِلَّا وَهُوَ يَقُولُ..الخ:

دحضرت علی رضی الله عنه د کاڼو او ونو دسلام اوریدلو توجیه: زیات صحیح خودا دی چه حضرت علی رضی الله عنه به دَ کاڼی او ونې دَ سلام آواز اوریدلو په دې اعتبار سره دا واقعه معجزه او کرامت دواړه بنکاره کوی معجزه دَ رسول الله ﷺ په نسبت سره او کرامت دَ حضرت علی رضی الله عنه په نسبت سره یا حضرت علی رضی الله عنه پخپله آواز نه وو اوریدلی بلکه حضورپاك به هغوی ته خودلی وی (التعلیق الصبیح ۲۰۱/۷)

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۶۲۶)

[۵۹۲۰] د براق د تابع کیدو معجزه

۵۹۲۰-(۱) [۵۱] ① وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أُتِيَ بِالْبُرَاقِ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِهِ ② مُلْجَمًا مُسْرَجًا، ③ فَاسْتَصْعَبَ عَلَيْهِ، ④ فَقَالَ لَهُ جِبْرِيلُ: أَبِمُحَمَّدٍ تَفْعَلُ هَذَا؟ ⑤ قَالَ: فَمَا رَكِبَكَ أَحَدٌ أَكْرَمُ عَلَى اللَّهِ مِنْهُ. ⑥ قَالَ: فَارْفَضَّ عَرَقًا». ⑦ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① اوحضرت انس ﷛ نه روایت دی شب معراج کښې چې دنبي کریم ﷺ د سورلي دپاره براق را وستل شو ② چې هغه زین شوی اوقیزي لګیدلی وي ③ اوحضور ﷺ په هغه سوَریدی نوهغه شوخي کول شروع کړل اچې دهغه په وجه حضور ﷺ ته سوَریدل مشکل شول ④ نوجبرائیل ﷺ هغه براق مخاطب کولو سره ورته اوویل اې محمد ﷺ سره دا شوخي کوي اهرکله چې دي نه مخکې تاهیڅ نبي سره شوخي نه ده کړي اوکه مخکینو نبیانو سره دي هم شوخي کړي وی نودوی سره یعنی محمد ﷺ سره شوخي کول بالکل نه دی پکار نو هغوی سره هم شوخي کول هیڅ کله نه وو پکار ځکه چې داهغه ذات ګرامي دی ⑤ چې دالله په نظر کښې دده نه بهتر هیڅوک په تاسور شوی نه دی ⑥ د راوي بیان دی دحضرت جبرائیل ﷺ داخبره اوریدو سره براق خوله خوله شو ⑦ داروایت ترمذي نقل کړی دی اوویلي یې دي چې داحدیث غریب دی.

حل اللغات:- ① أُسْرِيَ بِهِ: چه بوتلې شو نبی علیه السلام رپه شپه دمعراج. ② مُلْجَمًا: أَيْ: مَوْضُوعًا عَلَيْهِ اللِّجَامُ: چه واګې ورته اچولې شوې وې، ③ مُسْرَجًا: أَيْ: مَوْضُوعًا عَلَيْهِ السَّرْجُ: زین یعنی ګدی پرې ایخودې شوې وه ④ فَاسْتَصْعَبَ: أَيْ صَعُبَ عَلَيْهِ رُكُوبُهُ بِاسْتِعْصَابِهِ: براق مستي شروع کړه نو نبی علیه السلام ته په هغې باندې سوریدل او ځان ټینګول مشکل شو ⑤ فَارْفَضَّ عَرَقًا: ددې جملې په اوریدو سره براق خولې خولې شو.

تسهیلات: قوله: فَارْفَضَّ عَرَقًا:

دمعجزې ظهور: په دې کښې د معجزې ظهور اوشو دې نه مخکښې خو براق سرکشی کوله

[۵۹۲۱] د نبی علیه السلام دپاره په کټه کښې سورې کول

۵۹۲۱-(۲) [۵۲] ① وَعَنْ بُرَيْدَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «لَمَّا انْتَهَيْنَا إِلَى بَيْتِ الْمَقْدِسِ قَالَ جِبْرِيلُ بِأُصْبُعِهِ ③ فَخَرَقَ بِهَا الْحَجَرَ، فَشَدَّ بِهِ الْبُرَاقَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① اوحضرت بریده ﷛ وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل ② دمعراج په شپه چې زه بیت المقدس ته ورسیدم نوحضرت جبرائیل ﷺ خپلې ګوتې سره اشاره وکړله ③ اوهغه اشارې په ذریعه کاڼي کښې سورې وشو اوبیا ماهغه سورې کړی کاڼي سره براق وتړی (ترمذي)

حل اللغات:- ① فَخَرَقَ: نو کهلاؤ شو، سورې پکښې اوشو

---

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۶۳۱)

(۲) اخرجه احمد فی المسند: ۳/۱۶٤

تسهیلات: قوله: لَخَرَقَ بِهَا الْحَجَرَ

په اشارې سره په کاڼي کښې سورې کيدل: چونکه سورې دَ خاورې دَ وجې نه بند شوې وو په دې وجه هغه کولاوول شو. که جبرائيل په اشاره سره سورې کولاؤ کړې وی نو دا يوه معجزه وه دکومې تعلق چه حضورپاك سره کيدې شي. علماؤ ليکلی دی چه اوس په دغه خانی کښې دَ پيتلو يوه کړه ده اودا خانی په مسجداقصٰی کښې ګس طرف ته واقع ده. اوس دا خانی دَ زمکې لاندې دې تياره وی رڼرا کولوسره نفل کولې شی. په دې باندې دَ اسرائيلو قبضه ده. دَ جمات انتظام دَمسلمانانو په لاس کښې دې.

[۵۹۲۲] داوښ د شکايت معجزه

۵۹۲۲-(۱) [۵۳] [۱] وَعَنْ يَعْلَى بْنِ مُرَّةَ الثَّقَفِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «ثَلَاثَةُ أَشْيَاءَ رَأَيْتُهَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۳] بَيْنَا نَحْنُ نَسِيرُ مَعَهُ إِذْ مَرَرْنَا بِبَعِيرٍ يُسْنَى عَلَيْهِ [۴] فَلَمَّا رَآهُ الْبَعِيرُ جَرْجَرَ [۵] فَوَضَعَ جِرَانَهُ، فَوَقَفَ عَلَيْهِ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۶] فَقَالَ: (أَيْنَ صَاحِبُ هَذَا الْبَعِيرِ؟) فَجَاءَهُ [۷] فَقَالَ: (بِعْنِيهِ) فَقَالَ: بَلْ نَهَبُهُ لَكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ! [۸] وَإِنَّهُ لِأَهْلِ بَيْتٍ مَا لَهُمْ مَعِيشَةٌ غَيْرُهُ.

توجمه: [۱] حضرت يعلي ابن مره ثقفي ﷺ وايي [۲] ما يو سفرکي درسول کريم ﷺ معجزاتو کښې درې څيزونه وليدل [۳] هغه داسې چې مونږ حضور ﷺ سره روان وو چې اچانك آب کش اوبو راکښوونکي اوښ باندې تير شو [۴] هغه اوښ چې حضور ﷺ اوليدلو نو بربړ يې شروع کړل [۵] او خپل څټ يې په زمکه کيښووی نبی کريم ﷺ هغه سره ودريدلو [۶] او پوښتنه يې وکړه ددې اوښ مالک چيرته دی مالک حاضر شو [۷] نوحضور ﷺ ورته وفرمايل دااوښ په ماخرڅ کړه هغه عرض وکړو يارسول الله زه دا اوښ [اخو خرڅومه نه خوستاسو دزبې مبارکي نه دوتلی الفاظوپه احترام کښې دی] ستاسو خدمت کښې بلا قيمت نذر کوم هسې [۸] دی عرض کولو کښې څه مضائقه نشته چې دا اوښ زما د کور والو دی يعنی زما اوزما داهل وعيال يوه ذريعه معاش دی اوښ نه علاوه نورهيڅ نشته.

حل اللغات:- ① يُسْنَى: أَيْ: يُسْتَقَى: يعنی دَدغه اوښ نه به دَ اوبودَ راښکلوکار اخستلې شو. ② جَرْجَرَ: وَهِيَ صَوْتٌ تَرَدَّدُ الْبَعِيرِ فِي حَلْقِهِ: دَ اوښ آواز چه په مرئ کښې تاويدو سره ئې بهر راوباسی، يعنی د اوښ براری ته وائی. ③ جِرَانَهُ: أَيْ مُقَدَّمَ عُنُقِهِ، وَقِيلَ: بَاطِنُ عُنُقِهِ: سټ ته جران وائی او مرئ ته هم وائی.

[۱] قَالَ: أَمَا إِذْ ذَكَرْتَ هَذَا مِنْ أَمْرِهِ، [۲] فَإِنَّهُ شَكَا كَثْرَةَ الْعَمَلِ وَقِلَّةَ الْعَلَفِ، فَأَحْسِنُوا إِلَيْهِ، [۳] ثُمَّ سِرْنَا حَتَّى نَزَلْنَا مَنْزِلًا، فَنَامَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۴] فَجَاءَتْ شَجَرَةٌ تَشُقُّ الْأَرْضَ حَتَّى غَشِيَتْهُ، [۵] ثُمَّ رَجَعَتْ إِلَى مَكَانِهَا، [۶] فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ذُكِرَتْ لَهُ. [۷] فَقَالَ: (هِيَ شَجَرَةٌ اسْتَأْذَنَتْ رَبَّهَا فِي أَنْ تُسَلِّمَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَأَذِنَ لَهَا).

(۱) اخرجه احمد فی المسند: ۴/ ۱۷۰

ترجمه: [۱] حضور ﷺ دي اوريدو سره ورته وفرمايل هركله چې تاددي اوښ باره کښې حقيقت حال بيان کړو [۲] نو زه هم تاته دا ښودل غواړم چې ما خپل ضرورت دپاره دا اوښ اخستل نه غوښتل بلکي اصل مقصد دی اوښ ته دتنګی اومصيبت نه نجات ورکول ؤوا خکه چې دي اوښ درحقيقت ماته شکايت کړی دی چې دده نه کار زيات اخستل کيږي اوخوراک کم ورکولی شي اکه ته دا اوښ خرخولو سره خان نه جدا کولی نه شي نو داخو کولی شي چې دده سره ښه سلوک کوه ايعنی ده ته خوراک دانه ښه ورکوه اوکار تري کم اخله اګرکه زيات خوراک ورکولو سره زيات کار اخستل تري جائز دی اوکه د زيات خوراک ورکولو وس دی نشته اوزيات کار تري اخلې نو دادظلم خبره ده چې په خوروي کم اوکار تري زيات اخلې [۳] دي نه وروسته حضرت يعلي رضی الله عنه دويمه معجزه بيان کړه چې بيامونږ روان شو ددي پورې چې يوځاي کښې خکته کيدو سره آرام مو کوی اونبي کريم ﷺ اوده شو [۴] اهغه وخت ماوليدل چې] يوه ونه زمکه شلولو سره راغله اوپه حضور ﷺ راکوز شوله [۵] اوبيا خپل خاي ته واپس لاړه [۶] کوم وخت چې رسول کريم ﷺ بيدار شو نوما حضور ﷺ ته دهغه ونی دراتلو او واپس تلو ذکر وکی [۷] حضور ﷺ اپوره واقعه اوريدو سره] وفرمايل داهغه ونه ده چې خپل پروردګار نه يې دي باره کښې اجازت غوښتی وه چې هغه رسول الله ﷺ ته سلام وکړو نو الله تعالی هغه ته اجازت ورکړه اوهغه زما په سلام کولو راغلي وه

حل اللغات: -④ الْعَلَفِ: دځارو خوراک يعنی چاره، ونړه، ⑤ تَشُقُّ: أَيْ: تَقْطَعُهَا: يعنی زمکه څيرونکې ونه راغله سلام ئی اوکړو بيا لاړه.

[۱] قَالَ: ثُمَّ سِرْنَا فَمَرَرْنَا بِمَاءٍ فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ بِابْنٍ لَهَا بِهِ جِنَّةٌ [۲] فَأَخَذَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِمَنْخِرِهِ ثُمَّ قَالَ: [۳] «اخْرُجْ فَإِنِّي مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ» [۴] ثُمَّ سِرْنَا فَلَمَّا رَجَعْنَا مَرَرْنَا بِذَلِكَ الْمَاءِ فَسَأَلَهَا عَنِ الصَّبِيِّ [۵] فَقَالَتْ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا رَأَيْنَا فِيهِ رَيْبًا بَعْدَكَ». رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ).

ترجمه: [۱] احضرت يعلی رضی الله عنه دريمه بيانولو سره] وايي بيامونږ مخي ته ولاړو اويو داسي ابادي ته ورسيدو چې هلته اوبه وي هلته يوي ښځي خپل زوی اخستو سره رسول الله ﷺ ته راغله په هغه هلک ليونتوب خور ؤو ايعنی دڅه جن ياشيطان بد واثراتو کښې ګرفتار ؤوا [۲] حضور ﷺ هغه هلک دپوزي نه نيولو سره هغه اجن ياشيطان] ته يې اوويل [۳] ووځه زه محمد دالله رسول يم [۴] دي نه وروسته مونږ مخې ته سفر پوره کړو واپسي کښې هغه اوبو واله ابادي باندې بيا راتيريدلو نوحضور ﷺ دهغه ښځي نه دهغه د زوی حال معلوم کړی [۵] هغه عرض وکی په هغه ذات مي دي قسم وي چې تاسو ﷺ يې په حق سره راليږلي يې مونږ ستاسو دتلوځخه وروسته استاسو د دعا نه پس] په دي هلک کښې هيڅ دپريشانی خبره نه ده ليدلي ايعنی هغه بالکل ښه شوي دي اوټول بد اثرات تري زائل شوي- دي دا روايت بغوي شرح السنه کښې نقل کړي دي]

حل اللغات: -⑨ جِنَّةٌ: أَيْ جُنُونٌ: ليونتوب ⑦ يُمْغِرُهُ: سپيږمي، د پوزي سورى (يعنى د پوزي د هډوكى نه حضورپاك دا ليوني اونيولو او پيرى ته ني حكم اوكړو چه اوځه) ⑧ رَيْبًا: أَيْ شَيْئًا نَكْرَهُهُ: ناخوښه كار، د پريشانۍ خبره (يعنى د دغه علاج نه پس مونږ په دغه هلك كښې د تشويش هيڅ خبره اونه ليدله)

تسهيلات:

قوله: لِأَهْلِ بَيْتٍ:

د اهل بيت نه مراد: دي نه هغه سړى خپله كورنئى مراداخستي ده لكه چه هغه د نه خرڅولو د وجي دې طرف ته معمولي شان اشاره كړې ده. چونكه دغه اوښ سره متعلق د معجزې ظهور شوې وو په دې وجه حضورپاك مبارك ګنړلوسره د اخستلو اراده اوكړه

قوله: أَمَّا إِذْ ذَكَرْتَ:

د مذكوره جملې مطلب: يعنى تاچه كومه وجه بيان كړې ده دا معقول وجه ده مه خرڅه وه ليكن اوښ شكايت كړې دې چه كار زيات دې ګياكمه ده لهذا كار ترې كم اخله اوګيا زياته وركوه.

د درې معجزاتو ثبوت: ① د اوښ سره متعلق ښكاره شوه

② دويمه د ونې متعلق ښكاره شوه

③ د ليونى هلك سره متعلق ښكاره شوه

[٥٩٢٢] ديويل هلك د شيطاني اثر نه د خلاصيدو معجزه

٥٩٢٢-() [٥٠] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: ② «إِنَّ امْرَأَةً جَاءَتْ بِابْنٍ لَهَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالَتْ: ③ يَا رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِنَّ ابْنِي بِهِ جُنُونٌ، ④ وَإِنَّهُ لَيَأْخُذُهُ عِنْدَ غَدَائِنَا وَعَشَائِنَا ⑤ فَيَخْبُثُ عَلَيْنَا فَمَسَحَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- صَدْرَهُ وَدَعَا، ⑥ فَثَعَّ ثَعَّةً وَخَرَجَ مِنْ جَوْفِهِ مِثْلُ الْجِرْوِ الْأَسْوَدِ يَسْعَى». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① اوحضرت ابن عباس ﷺ وايي ② يوه ورځ يوه ښځه خپل زوى اخستو سره دنبي كريم ﷺ په خدمت كښې حاضره شوه اوهغې اوويل ③ يارسول الله زما په دې زوى دجنون (ليونتوب) اثردى ④ چې دهغه دوره پرې هره ورځ دغرمي په وخت يادشپې دطعام خوړلو په وخت (سهار اودمابنام په وخت) كښې راځي ⑤ حضور ﷺ دې اوريدو سره دهغه هلک په سينه خپل لاس مبارك كېښووى اودعايي ورته وكړله ⑥ نوهغه هلک يولوى قى وكى چې دهغه په ذريعه دهغه دنس نه داسې هيبتناک شى راووتلو لكه چې زغليدونكي تور كوترې وي . (دارمي)

() اخرجه الدارمى فى السنن رقم الحديث ١٩واحمد فى المسند: ٢٥٤/١

حل اللغات:- ① فَنَغْضَتْ: یعنی عبادت به ني کولو ② فَثَعَّ: أَيْ: قَاءَ: قي ني اوکړو ③ الْجِرْوُ: أَيْ: وَلَدُ الْكَلْبِ: د سپی بچي، کوترې (د غوښې پله یعنی توخورې)

تسهیلات: قوله: وَإِنَّهُ لَيَأْخُذُهُ عِنْدَ غَدَائِنَا وَعَشَائِنَا،

په غدا او عشاء کښې دوه احتمالات:

① دَ صبا او بیګاه په وخت یعنی سحر مابنام به هغه باندې دَ لیونتوب دورې راتلې

② دَ سحر دَ خوراك په وخت او دَ مابنام دَ خوراك په وخت به دورې شروع کیدې

قوله: وَخَرَجَ مِنْ جَوْفِهِ مِثْلُ الْجِرْوِ الْأَسْوَدِ يَسْعَى،

د معجزې ظهور: یعنی دَ قی په ذریعه دَ دغه هلك دَ خولې نه تور کوترې بهر رااووتلو هم دغه دَدې هلك بیماری وه په دې واقعه کښې دَ لوئی معجزې ظهور اوشو

[۵۹۲٤] د نبی علیه السلام په رابللو د ونې د راتلو معجزه

﴿۵۵-()﴾[۵۵] ۱ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲ «جَاءَ جِبْرِيلُ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ جَالِسٌ حَزِينٌ، ۳ قَدْ تَخَضَّبَ بِالدَّمِ مِنْ فِعْلِ أَهْلِ مَكَّةَ، ۴ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلْ تُحِبُّ أَنْ نُرِيَكَ آيَةً؟ قَالَ: (نَعَمْ). ۵ فَنَظَرَ إِلَى شَجَرَةٍ مِنْ وَرَائِهِ فَقَالَ: ادْعُ بِهَا، ۶ فَدَعَا بِهَا، فَجَاءَتْ، فَقَامَتْ بَيْنَ يَدَيْهِ فَقَالَ: ۷ مُرْهَا فَلْتَرْجِعْ، فَأَمَرَهَا، فَرَجَعَتْ. ۸ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (حَسْبِي حَسْبِي).» رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ۱ اوحضرت انس ﷺ وایي ۲ حضرت جبرائیل علیه السلام د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شو دغه وخت نبی کریم ﷺ ډیر غمګین ناست وو ۳ اودزخمونو په وینه کښې رنګ شوی کوم چې اهل مکه ورته رسولی ؤو ۴ اوهغه اوویل یارسول الله که تاسو ﷺ خوښوی نوزه تاسو ته ستاسو یوه معجزه ښایم چې ستاسو دنبوت اورسالت علامه به وي (اوهغه سره به تاسو ته تسلي وشي چې دالله تعالی په لاره کښې دا اذیت اوپریشاني برداشت کول ستاسو ﷺ دمراتبو اودرجاتو بلندي کښې داضافي باعث دي) حضور ﷺ ورته وفرمایل ضرور وښایي ۵ نوجبرائیل علیه السلام هغه ونی طرف ته وکتل چې دهغه شاته وه بیاحضور ﷺ ته یي اوویل دا و نه وبلی ۶ حضور ﷺ هغه و نه وبلله نوهغه دحضور ﷺ مخکې دتابعدارو په شان راتلو سره ودریدله حضرت جبرائیل علیه السلام ورته اوویل ۷ اوس دي ته واپس دتلو حکم وکی حضور ﷺ هغه ته دواپسي حکم وکی نوهغه واپس لاړله ۸ رسول کریم ﷺ دي لیدو سره وفرمایل ماته کافي ده ماته کافي ده (دارمي)

حل اللغات:- ① حَزِينٌ: غمجن. ② تَخَضَّبَ: أَيْ: تَلَوَّثَ: په وینه رنګ کیدوته وانی (په غزوه احد کښې د نبی علیه السلام رباعی غاښونه مات شوی وودهغې وینه وه) ③ آيَةً: أَيْ: عَلَامَةً مِنْكَ عَلَى نُبُوَّتِكَ: علامه اونخښه په نبوت د نبی علیه السلام (چه تسلي اوشی اوتاسو سره مینه اومحبت نور هم زیات شی)

[۱]) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحدیث ۲۳ واحمد فی المسند: ۱۱۳/۳

تسهيلات:

قوله: أَهْلِ مَكَّةَ:

دحديث پس منظر: داَهل مكه نه كفار قريش مراد دى. هغوى حضورپاك په جنگ احد كښې په وينورنگ كړې وو علامه سيوطى رحمه الله ليكلى دى چه دَحضورپاك په مخ مبارك باندې كافرانو وياگذاره دَتورې كړې وو مگر الله تعالى دَحضورپاك حفاظت كړې وو.

قوله: هَلْ تُحِبُّ أَنْ نُرِيَكَ آيَةً؟

دونې د نبى عليه السلام خدمت كښې حاضريدل: دَدې واقعې نه پس حضورپاك خفه ناست وو چه په دې كښې حضرت جبرائيل عليه السلام د الله تعالى دَطرف نه دَ تسلئى وركولو دَپاره راغلووئى فرمائيل چه دا ونه راوغواړه. حضورپاك راوغوښتله نوهغه ونه راغله بيائى ورته دَ واپس تلودَپاره اوفرمائيل نو واپس لاړه. حضورپاك اوفرمائيل بس بس كافى دى تسلى اوشوه. په دې واقعه كښې دَ رسول الله ﷺ دَمعجزې ظهور اوشو.

[۵۹۲۵] د كيكر دونې د نبى كريم ﷺ درسالت گواهي وركول

۵۹۲۵-(¹) [۵۲] ⑴ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: «كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي سَفَرٍ ⑵ فَأَقْبَلَ أَعْرَابِيٌّ فَلَمَّا دَنَا قَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ⑶ (تَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ؟). ⑷ قَالَ: وَمَنْ يَشْهَدُ عَلَى مَا تَقُولُ؟ ⑸ قَالَ: (هَذِهِ السَّلَمَةُ) فَدَعَاهَا رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-.

ترجمه: ⑴ اوحضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي مونږ درسول الله ﷺ سره دجهاد په يوسفر كښې وُو ⑵ چې لښكر ته يوباندچي (كليوال) راغى كوم وخت چې رسول كريم ﷺ ته نزدې راورسيدى نوحضور ﷺ ورته وفرمايل ⑶ ايا ته ددې امر شاهدي كوې چې الله نه سوا بل معبود نشته چې يودې اودهغه څوک شريک نشته اودا چې محمد ﷺ دهغه بنده اورسول دى ⑷ باندچي (كليوال) اوويل تاسو ﷺ چې څه وايلي دي (يعنى دنبوت اورسالت دعوىٰ مو كړې ده) ددې شهادت اوشاهدي وركونكي دنوع انساني نه علاوه بل څوک هم شته ⑸ حضور ﷺ ورته وفرمايل داد كيكر و نه چې مخې ته ولاړه ده شاهدي به وكړي بيا حضور ﷺ هغه د كيكر ونه راوبلله،

⑴ وَهُوَ بِشَاطِئِ الْوَادِي، ⑵ فَأَقْبَلَتْ تَخُدُّ الْأَرْضَ حَتَّى قَامَتْ بَيْنَ يَدَيْهِ، ⑶ فَاسْتَشْهَدَهَا ثَلَاثًا، فَشَهِدَتْ ثَلَاثًا. أَنَّهُ كَمَا قَالَ، ⑷ ثُمَّ رَجَعَتْ إِلَى مَنْبِتِهَا». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ⑴ هغه وخت حضور ﷺ د يوي وادي په غاړه ايسار شوى وو ⑵ دكيكر ونه دحضور ﷺ حكم اوريدو سره زمكه شلولو سره راغله اودحضور ﷺ مخې ته ودريده ⑶ حضور ﷺ

¹) اخرجه الدارمي في السنن رقم الحديث ۲۴

هغه ته دري سره شاهدي ورکړلي نو هغې دري سره ګواهي اداکړي چې تاسو ﷺ په هغه دعوی کښې رښتيني يي (اويقينا درب العلمين رسول يي) [۴] دي نه وروسته هغه ونه خپل ځاي ته واپس لاړه (دارمي)

حل اللغات:- ① بِشَاطِئِ: أي طَرَفِهِ: طرف، غاړه ② تَخُدُّ: أَيْ: تَشُقُّهَا أُخْدُودًا: زمکه ني اوشلوله (زمکه څيرلواو کنده جوړولوسره راتلوته واني) ③ مَنْبِتِهَا: أَيْ: مَوْضِعِ نَبَاتِهَا: ځاني د راختلو خپل (يعنی کوم ځاني چه راختلي هم هلته واپس لاړه)

تسهيلات:

قوله: فَشَهِدَتْ ثَلَاثًا،

د نبی علیه السلام په رسالت د ونې شهادت: دَ کومې ونې پانړوته چه قرظ واني دکوم نه چه دَ څرمن دَدباغت کاراخستې شي هم دَهغه ونې نوم سلمه ده دَدې ترجمه دَ جهاؤ ونې سره هم کولې شي او کيکرسره هم کولې شي.

[۵۹۲٦] د ټجورې د ځانګې د نبی علیه السلام د رسالت ګواهی ورکول

-() [٥٤] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [۲] «جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۳] بِمَا أَعْرِفُ أَنَّكَ نَبِيٌّ؟ [۴] قَالَ: (إِنْ دَعَوْتُ هَذَا الْعِذْقَ مِنْ هَذِهِ النَّخْلَةِ يَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ) [۵] فَدَعَاهُ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَجَعَلَ يَنْزِلُ مِنَ النَّخْلَةِ [٦] حَتَّى سَقَطَ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۷] ثُمَّ قَالَ: (ارْجِعْ) فَعَادَ، فَأَسْلَمَ الْأَعْرَابِيُّ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ.

ترجمه: [۱] اوحضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي [۲] يوه ورځ دنبي کريم ﷺ په خدمت کښې يوباندچي (کليوال) راغی اوهغه اوويل [۳] زما دپاره په دي خبره دپوهيدلو اويقين کولو ذريعه څه ده چې ته دالله نبي يي [۴] حضور ﷺ ورته وفرمايل په دي ذريعي سره چې زه اوس د خورماوو دي ونی باندې لګيدلي غنچک راوبلم هغه به دلته راتلو سره شاهدي وکړي چې زه دالله نبي اورسول يم [۵] نوحضور ﷺ هغه غنچک دخورماوو د ونوڅخه راوبلي هغه په جدا کيدو سره راکوزشو [٦] اودنبي کريم ﷺ نزدې په زمکه راپريوتي (اودحضور ﷺ دنبوت اورسالت شاهدي يي ورکړله [۷] بيا حضور ﷺ ورته حکم وکی چې واپس لاړ شه نوهغه غنچک خپل ځاي ته واپس لاړله. دي ليدو سره هغه باندچي (کليوال) باندچي فوراً اسلام قبول کی دا روايت ترمذي نقل کړی دی اوصحيح يي ګرځولی دی

حل اللغات:- ① الْعِذْقَ: وَهُوَ الْعُرْجُونُ بِمَا فِيهِ مِنَ الثَّمَارِيخِ: دکهجوري غونچې اوګوچې ته عذق واني

تسهيلات: **نوټ:** د ګرانوټکوتشريح په حل اللغات کښې شوې ده اوباقی د حديث مفهوم د حديث د تشريحی ترجمې څخه واضح دی.

[1] اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحديث ۳۶۲۸

[۵۹۲۷] د نبي علیه السلام په رسالت د شرمخ ګواهي ورکول

۵۹۲۷-()[۵۸] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «جَاءَ ذِئْبٌ إِلَى رَاعِي غَنَمٍ فَأَخَذَ مِنْهَا شَاةً، [۳] فَطَلَبَهُ الرَّاعِي حَتَّى انْتَزَعَهَا مِنْهُ، [۴] قَالَ: فَصَعِدَ الذِّئْبُ عَلَى تَلٍّ فَأَقْعَى وَاسْتَثْفَرَ، [۵] وَقَالَ: قَدْ عَمَدْتُ إِلَى رِزْقٍ رَزَقَنِيهِ اللَّهُ أَخَذْتُهُ، [۶] ثُمَّ انْتَزَعْتَهُ مِنِّي؟! [۷] فَقَالَ الرَّجُلُ: تَاللَّهِ إِنْ رَأَيْتُ كَالْيَوْمِ ذِئْبٌ يَتَكَلَّمُ! [۸] فَقَالَ الذِّئْبُ: أَعْجَبُ مِنْ هَذَا رَجُلٌ فِي النَّخَلَاتِ بَيْنَ الْحَرَّتَيْنِ [۹] يُخْبِرُكُمْ بِمَا مَضَى وَبِمَا هُوَ كَائِنٌ بَعْدَكُمْ.

ترجمه: [۱] اوحضرت ابوهریره ﷛ وايي یو شرمخ دبزو په یوه رمه کښې چې دهغه شپونکي هم موجود ؤو رانوتي اوهغه نه یې یوه بزه (چیلۍ) وتښتوله شپونکي دهغه تعاقب وکې اوآخر هغه بزه (چیلۍ) یې د شرمخ نه خلاصه کړله دحضرت ابوهریره ﷛ بیان دی بیاهغه شرمخ یوې غونډۍ ته وختلو اوهلته داسې کیناستلو څرنګه چې یوشرمخ دکوناتو په سر کیني اودواړه پښې یې ودرولي خپله لکۍ یې ددواړو پښو په منځ کښې داخله کړه اوشپونکي یې په زور سره مخاطب کولوسره ورته اوویل ماخپل هغه رزق اخستلي چې الله تعالی ماته عطا کړی دی لیکن تا زما رزق زما نه په زور واخستی شپونکي چې شرمخ په خبرو کولو اولیدلو نوحیران پاتې شو نوهغه شرمخ مخاطب کولو سره ورته اوویل قسم په الله څرنګه عجیبه واقعه چې مانن لیدلي ده داسې مې هیڅ کله نه ده لیدلي چې یو شرمخ دسړي په شان خبرې کوي شرمخ ورته اوویل دې نه زیاته عجیبه واقعه خودهغه سړي حضرت محمد ﷺ حال دی چې دخورماوو د و نو شاته ددوه سنګستا نونو منځ کښې یعنی مدینه کښې اوسیږي هغه سړی به تاسو ته هغه خبرې وښايي چې تاسو ته مخکې تیرې شوې وي اوهغه خبرې به درته وښايي چې ستاسو نه وروسته واقع کیدونکي دي

حل اللغات:- ① تَلٍّ: أَيْ: مَكَانٍ مُرْتَفِعٍ: دامفرد دې جمع تلول ده غونډۍ اواوچت ځائ ته وائي ② فَأَقْعَى: بِأَنْ قَعَدَ عَلَى وَرِكَيْهِ وَنَصَبَ يَدَيْهِ: سپي وغیره درنده چه کله په خپله کونه باندې کیني دې ته اقعاء وائي په مانخه کښې داسې کیناستل منع دی ③ اسْتَثْفَرَ: أَيْ: أَدْخَلَ ذَنَبَهُ بَيْنَ رِجْلَيْهِ: د سپي وغیره درنده عادت دې چه کله په کونه کیني نولکې دکونې لاندې کوي اومخې ته ئې رااوباسي د خپو مینځ کښې کوي هم دغه استشفار دې ④ النَّخَلَاتِ: أَيْ: نَخِيلِ الْمَدِينَةِ: د مدینې منورې نخلستان مراد دې ⑤ الْحَرَّتَيْنِ: دمدینې منورې د دوو غرونو په منځ کښې صحرانۍ او کاڼیجنه زمکې طرف ته اشاره ده

[۱] قَالَ: فَكَانَ الرَّجُلُ يَهُودِيًّا، فَجَاءَ إِلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] فَأَخْبَرَهُ، وَأَسْلَمَ، فَصَدَّقَهُ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۳] ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (إِنَّهَا أَمَارَاتٌ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ، [۴] قَدْ أَوْشَكَ الرَّجُلُ أَنْ يَخْرُجَ فَلَا يَرْجِعَ [۵] حَتَّى يُحَدِّثَهُ نَعْلَاهُ وَسَوْطُهُ بِمَا أَحْدَثَ أَهْلُهُ بَعْدَهُ»). رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ).

[۱] اخرجه احمد في المسند:۲/۳۰۶

ترجمه:[۱] حضرت ابوهریره ﷺ وایي هغه سړی (شپونکي) چې یو یهودي ؤو د شرمخ خبري په اوریدو سره دنبي کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو اوحضور ﷺ مخکي د شرمخ واقعه بیانولو سره مسلمان شو . نبی کریم ﷺ دهغه بیان کرده قصه درست تسلیم کړله بیا نبی کریم ﷺ وفرمایل داسې خبري دقیامت نه مخکي یعنی دقرب قیامت علامتونه دي هغه وخت ډیر نزدې دي چې سړی به دخپل کور نه بهر وزي اوهرکله چې واپس کورته راشي نودهغه چوتي اودهغه کوړه وغیره به هغه ته هغه ټولي خبري ښايي چې دهغه کوروالو دهغه په عدم موجود ګي کښې کړي وي . (شرح السنه)

حل اللغات:-⑨أَمَارَاتٌ: أي عَلَامَاتٌ: نخښې،علامات.

تسهیلات: **قوله**: بِمَا هُوَ كَائِنٌ:

د قیامت د ورځې پورې پیشنګوایانې: یعنی دَ راتلونکوخلقواحوال اودآخرت دَ احوالو په ذریعه اوبه ذریعه دَ معجزاتو ټول هرڅه اوخودل. کله چه دَ وحی په ذریعه حضورﷺ ک اوخودل نوهغه علم غیب پاتې نه شو . یوطرف ته دَ قرآن علوم دی په کوم کښې چه دَعلم غیب دَمخلوق نه نفی کړې شوې ده بل طرف ته دَ لیوه اوشرمخ مجمل خبره ده

[۵۹۲۸] کاسي د طعام سره د ډکیدو معجزه

۵۹۲۸-( )[مد][۱]وَعَنْ أَبِي الْعَلَاءِ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ:[۲]«كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- نَتَدَاوَلُ مِنْ قَصْعَةٍ،[۳] مِنْ غُدْوَةٍ حَتَّى اللَّيْلِ،[۴] يَقُومُ عَشَرَةٌ وَيَقْعُدُ عَشَرَةٌ[۵] قُلْنَا: فَمَا كَانَتْ تُمَدُّ؟ قَالَ: مِنْ أَيِّ شَيْءٍ تَعْجَبُ؟[۶] مَا كَانَتْ تُمَدُّ إِلَّا مِنْ هَاهُنَا وَأَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى السَّمَاءِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه:[۱] اوحضرت ابو العلاء تابعي دسمره ابن جندب صحابي ؓ نه روایت کوی هغه بیان وکی دمعجزي ظاهریدو په وخت مونږ ټول نبی کریم ﷺ سره یوی لویي کاسي نه لس لس سړي نمبر په نمبر دسهار نه ترماښامه پورې یعنی پوره ورځ طعام خوړی داسې چې لس سړو به طعام خوړلو نه وروسته پاڅیدل اودهغوی په ځاي به نور لس سړي راتلو سره کینا ستل مونږ دحضرت سمره ؓ نه پوښتنه وکړه آخر هغه څه شی ؤو چې دهغه په ذریعه دکاسي مدد کیدلي یعنی هغه پیاله کښې طعام دکوم شي په ذریعه اودکوم ځاي نه دومره زیاتیدي حضرت سمره ؓ جواب ورکړو ستا دپاره دي کښې دتعجب څه خبره ده ؟ هغه پیاله کښې دطعام ډیریدل دهغه ځاي نه کیدل دي ویلو سره هغه اسمان طرف ته اشاره وکړله .ترمذي دارمي)

حل اللغات:- ①-نَتَدَاوَلُ: نَتَنَاوَبُ أَخْذَ الطَّعَامِ وَأَكْلَهُ: دخوراک دپاره به مو راخستل او خوړلو به مو ②قَصْعَةٍ: أَيْ مِنْ صَحْفَةٍ كَبِيرَةٍ: لويه کاسه ③تُمَدُّ: د مجهول صيغه ده.

( ) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم باب في آيات نبوة النبي صلى الله عليه وسلم وما قد خصه الله عز وجل به (رقم: ۳۶۲۵)

تسهيلات: قوله: نَتَدَاوَلُ مِنْ قَصْعَةٍ مِنْ غُدْوَةٍ حَتَّى اللَّيْلِ،

د يوې کاسې څخه پېښرې مريدل: دګرځولو راګرځولو په معنی کښې دې مګر دلته مطلب داډې چه مونږ خلق د سحرنه ترماښام پورې د يوې کاسې نه چاپيره جمع وو لسوکسانو به خوړله پاسيدل به نونور لس به راتلل دا تداول دې. په دې باندې يوتابعی سوال اوکړو چه دا نور خوراك به دکوم ځائی نه راتلو.

قوله: فَمَا كَانَتْ تُمَدُّ؟

د مکالمې کونکې حضرات: هم دَدغه امداد اوزياتی په معنی کښې دې صحابی جواب ورکړو د آسمان نه به راتلو ځکه چه "وفى السمآء رزقكم" وعده ده. راجح هم دغه دی چه دا سوال او جواب د صحابی اوتابعی په مينځ کښې شوې دې چونکه دا واقعه د حضورپاك په زمانه مبارکه کښې وه په دې وجه دامعجزه اوګرځيده په کوم کښې چه د حضورپاك دمعجزه ظهور اوشو.

[۵۹۲۹] جنګ بدر کښې دقبوليت دعا معجزه

۵۹۲۹-()[۱۰] ① وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- ② أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- «خَرَجَ يَوْمَ بَدْرٍ فِي ثَلَاثِمِائَةٍ وَخَمْسَةَ عَشَرَ ③ قَالَ: (اللَّهُمَّ إِنَّهُمْ حُفَاةٌ فَاحْمِلْهُمْ ④ اللَّهُمَّ إِنَّهُمْ عُرَاةٌ فَاكْسُهُمْ ⑤ اللَّهُمَّ إِنَّهُمْ جِيَاعٌ فَأَشْبِعْهُمْ) ⑥ فَفَتَحَ اللَّهُ لَهُ ⑦ فَانْقَلَبُوا وَمَا مِنْهُمْ رَجُلٌ إِلَّا وَقَدْ رَجَعَ بِجَمَلٍ أَوْ جَمَلَيْنِ وَاكْتَسَوْا، وَشَبِعُوا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ نه روايت دې نبی کريم ﷺ د جنګ بدر په ورځ درې شوه پنځلس سرې آخستو سره ووتلې اودعايې وکړله اې الله زما صحابه ستا په لار کښې جنګ دپاره وتلی دې خپې آبلې پښې دې دوې ته سورلې ورکړې اې الله دوی برېنډ دې ددوی په جسم دتهبند (لنګ) نه علاوه څه بله کپړه نشته دوی ته لباس ورکړې اې الله دوی اوږې دې دوی ظاهرې اوباطنې طور سره په خيټه ماړه کړې چې دوی ته ستا دطاعت اوعبادت طاقت حاصل وې نوالله تعالی حضور ﷺ دمکې دمشرکينو مقابله کښې فتح ياب کې ددښمن اوياسرې ووژل شول او اويا سرې دجنګې قيديانو په طور په لاس ورغلل اودا اسلام مجاهدين داسې حالت کښې راواپس شول چې هغوی کښې هيڅ سرې داسې نه وُو چې هغه سره يو يادوه اوښان نه وې اودټولو لباس هم نصيب شو اوټول په خيټه هم ماړه شول (ابوداود).

حل اللغات:- ① حُفَاةٌ: د حَافٍ جمع ده، وَهُوَ مَنْ لَا نَعْلَ لَهُ: برېنډې خپې مرادی يعنی خپې آبلې، ② عُرَاةٌ: د عَارٍ جمع ده، أَيْ: عُرْيَانٌ: برېنډ بدن مراد دې ③ فَاحْمِلْهُمْ: أَيْ أَعْطِ كُلًّا مِنْهُمُ الْمَرْكُوبَ: په سورولو کښې ددوی مدد اوکړې يعنی هر يوکس ته سورلی ورکړې ④ اكْتَسَوْا: لباس او جامې ورته ملاؤ شوې.

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فی نفل السرية تخرج من العسكر (رقم-۲۷۴۷)

تسهيلات:

قوله: ثَلَاثِمِائَةٍ وَخَمْسَةَ عَشَرَ:

اشكال اودهغې حل: په جنګ بدر کښې ټول شمیر ۳۱۳ وو مګر ممکن ده چه خادمان په شمیر کښې راوستلو سره تعداد ۳۱۵ شوې وي

[۵۹۲۰] د فتحې او هدایت پیشن ګوئي کول

٥٩٢٠-() [۳] ① وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② («إِنَّكُمْ مَنْصُورُونَ وَمُصِيبُونَ وَمَفْتُوحٌ لَكُمْ، ③ فَمَنْ أَدْرَكَ ذَلِكَ مِنْكُمْ فَلْيَتَّقِ اللَّهَ ④ وَلْيَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَلْيَنْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ»). رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت ابن مسعود ﷜ د رسول کریم ﷺ نه روایت کوي چې حضور ﷺ آینده زمانه کښې دواقع کیدونکو واقعاتو پیش خبري او دهغه واقعاتو په نتیجه کښې د حاصلیدونکو فائدو دبشارت په توګه صحابه﷡ مخاطب کولو سره ورته وفرمايل یقیناً تاسو ته به د دښمنانو په مقابله کې مدد او نصرت راشي تاسو ته به د مال غنیمت صورت کښې ډیر څه حاصل شي او ستاسو په لاس به ډیري لوی لوی علاقې او دمال و دولت نه ډک ښارونه فتح شي نو تاسو کښې چې کوم سړی دی څیزونو سره سرفراز شي هغه ته پکار دی چې هغه درجه کمال ته رسیدو دپاره خپل ټول دیني او دنیاوي معاملاتو او مشاغلو کښې الله تعالی نه ویره کوي خلقو ته دنیکي هدایت او تلقین کوي او دخرابو خبرو نه یې دبچ کولو کوشش کوي

حل اللغات: - ① مَنْصُورُونَ: أَيْ: عَلَى الْأَعْدَاءِ: ستاسو مدد به اوکړی شی د دشمن په مقابله کښې یعنی تاسوته به فتوحات ملاویږی ، ② مُصِيبُونَ : أَيْ: لِلْغَنَائِمِ: اوبه رسیږئ یعنی حاصل به شی تاسوته مال غنیمت

تسهيلات:

قوله: وَلْيَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَلْيَنْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ

امر بالمعروف څخه مراد: دامر بالمعروف تفسیر شاه عبدالقادر ﷫ او فخرالدین رازی ﷫ او علامه جصاص ﷫ په خپلو تفاسیرو کښې جهاد سره کړي دي یعنی دَفتوحاتو او غنائم حاصلولو نه پس تاسو امر بالمعروف مه هیروئی ځکه چه دَ فتوحاتو منشاء معروف عام کول او منکر ختمول دی

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۲۲۵۷)واحمد فی المسند:۳۸۹/۱

[۵۹۳۱] دزهرو ملاوشوې غوښې خبر ورکولو معجزه

۵۹۳۱-() [۲] ① وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - ② «أَنَّ يَهُودِيَّةً مِنْ أَهْلِ خَيْبَرَ سَمَّتْ شَاةً مَصْلِيَّةً، ③ ثُمَّ أَهْدَتْهَا لِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ④ فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الذِّرَاعَ ⑤ فَأَكَلَ مِنْهَا وَأَكَلَ رَهْطٌ مِنْ أَصْحَابِهِ مَعَهُ، ⑥ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (ارْفَعُوا أَيْدِيَكُمْ) ⑦ وَأَرْسَلَ إِلَى الْيَهُودِيَّةِ فَدَعَاهَا.

ترجمه: ① اوحضرت جابر ﷺ نه روايت دی اهل خيبر کښې يوې يهودي ښځې پخه کړې بزه (چيلۍ) کښې زهر يوخاي کړل اوبيا هغه يې درسول کريم ﷺ په خدمت کښې بطور هديه پيش کړله رسول کريم ﷺ دهغه بزې (چيلۍ) نه يووړون اخستو سره خپله يې هم خوړل شروع کړل اوحضور ﷺ سره دصحابه ﷺ يوجماعت هم خوړل شروع کړل بيا يودم رسول الله ﷺ وفرمايل لاس ونيسی دي نه هيڅ مه خوری دي نه پس حضور ﷺ دهغه يهود نړې رابللو دپاره يوسړې وليږی هغه راغله

حل اللغات:- ① يَهُودِيَّةً: دَغه ښځې نوم زَيْنَبُ بِنْتُ الْحَارِثِ وو دا دَ مشهورپهلوان مرحب خوروه داد خيبريوه يهودی ښځه وه. ② سَمَّتْ: أَيْ: جَعَلَتْهَا مَسْمُومَةً: زهر ئې پکښې ګډ کړی وو (يعنی غوښه ئې زهر جنه کړې وه) ③ مَصْلِيَّةً: أَيْ مَشْوِيَّةً: په اُور وريته کړې غوښه. ④ رَهْطٌ: أَيْ: جَمَاعَةٌ: ډله. جماعت.

① فَقَالَ: أَسَمَمْتِ هَذِهِ الشَّاةَ؟ ② فَقَالَتْ: مَنْ أَخْبَرَكَ؟ قَالَ: (أَخْبَرَتْنِي هَذِهِ فِي يَدِي) لِلذِّرَاعِ قَالَتْ: نَعَمْ، ③ قُلْتُ: إِنْ كَانَ نَبِيًّا فَلَنْ تَضُرَّهُ، ④ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ نَبِيًّا اسْتَرَحْنَا مِنْهُ ⑤ فَعَفَا عَنْهَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَلَمْ يُعَاقِبْهَا، ⑥ وَتُوُفِّيَ أَصْحَابُهُ الَّذِينَ أَكَلُوا مِنَ الشَّاةِ، ⑦ وَاحْتَجَمَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى كَاهِلِهِ مِنْ أَجْلِ الَّذِي أَكَلَ مِنَ الشَّاةِ، ⑧ حَجَمَهُ أَبُو هِنْدٍ بِالْقَرْنِ وَالشَّفْرَةِ، وَهُوَ مَوْلًى لِبَنِي بَيَاضَةَ مِنَ الْأَنْصَارِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① نوحضور ﷺ ورته وفرمايل اياتا دې بزې (چيلۍ) کښې زهر يوخاي کړې دي ښځې اوويل تاسو ته څرنګه معلومه شوه ستاسو الله تعالی درته خو دلې دي يا مخلوق کښې يوچا؟ حضور ﷺ ورته وفرمايل ماته دي راخو دلې دي چې زماپه لاس کښې دي داخبره حضور ﷺ ورون طرف ته اشاره کولو سره اوويل سا هغه ښځې اشاره کولو سره اوويل هو ما دا بزه (چيلۍ) يعنی غوښه زهر الوده کړې وه آو ما سرچ کړی ؤو که محمد ﷺ نبي وي نوزهر آلوده بزه (چيلۍ) ورته هيڅ نقصان نشی رسولی او که نبي نه وي نودزهرو اثر سره به ختم شي اومونږ ته به تری نجات اوراحت حاصل شي نورسول کريم ﷺ هغه ښځه معاف کړله اوهيڅ سزايي ورنه کړله اوصحابه ؤ ﷺ کښې چې چا دهغه بزې (چيلۍ) غوښه خوړلې وه هغوی کښې يوصحابي حضرت بشر ﷺ مړسو اورسول کريم ﷺ هم دهغه زهر

(۱) اخرجه البخاري في كتاب العتق/باب في العتق وفضله وقوله تعالى: {فك رقبة. أو إطعام في يوم ذي مسغبة. يتيما ذا مقربة} [البلد: ۱۴] (رقم-۲۵۱۷) وابوداود في كتاب الديات/باب فيمن سقى رجلا سما أو أطعمه فمات أيقاد منه (رقم-۴۵۱۰)

آلود بزي (چیلئ) غوښنه خوړلي وه دهغه داثراتو دفع کولو دپاره داوړوپه منځ کښې وینې کښلو دپاره ښکر ولګوي اوابوهند ﷺ چې دهغه اصل نوم یسار حجام ؤو اودیوانصاري قبیلي بنوبیاضه ازادکرده غلام ؤو دښکر اوپلني چاړه په ذریعه وینه وښکل (ابوداؤد دارمي)

حل اللغات: -⑤ اِحْتَجَمَ: دَ زهرو اثرختمولودپاره حضورپاك دَ اوګو په مینځ کښې ښکرې اولګولې یعنی ښکر لګولو سره ئې وینه اوویستله ⑥أَبُوهِنْدٍ: ابوهنددَ بنو بیاضه خاندان آزادکړې شوې غلام وو دده نوم يَسَارٌ الْحَجَّامُ وو ⑦ کَاهِلِهِ: أَيْ: بَيْنَ كَتِفَيْهِ: د اوګو یعنی د اولو په مینځ کښې ځائې ته کاهله وائي. ⑧ الْقَرْنِ: أَيْ: كَانَتِ الْمِحْجَمَةُ قَرْنًا: یعنی کوم څه سره چه وینه اوویستلې شوه هغه ښکر وو یعنی د ښکر په ذریعه ئې وینه اوویستله ⑨ الشَّفْرَةِ: هغه چاړه چه دَ وینې ویستلودپاره په زخم کښې استعمال شی ⑩ الْبِضْعَةُ: السِّكِّينُ الْعَرِيضُ: پلنه چاړه.

تسهیلات:

قوله: فَعَفَا عَنْهَا:

په روایاتو کښې تعارض: حضورپاك دغه ښځه معاف کړه اوس سوال دادې چه بعضې روایاتونه دَدغه ښځې دَقتل کولوذکرملاویږی داتعارض دې.

د تعارض جواب: اول حضورپاك دغه ښځه معاف کړه خوچه کله بشربن علاء ﷺ په دغه زهروسره شهید شو نوبیا قصاصًا حضورپاك دغه ښځه قتل کړه.

[۵۹۳۲] دغزوه حنین دغنیمت حاصلیدو خبر ورکولو معجزه

-٣٣ (١) [٣] ① وَعَنْ سَهْلِ بْنِ الْحَنْظَلِيَّةِ، «أَنَّهُمْ سَارُوا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمَ حُنَيْنٍ، ② فَأَطْنَبُوا السَّيْرَ حَتَّى كَانَ عَشِيَّةً، ③ فَجَاءَ فَارِسٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ. ④ إِنِّي طَلَعْتُ عَلَى جَبَلِ كَذَا وَكَذَا، ⑤ فَإِذَا أَنَا بِهَوَازِنَ عَلَى بَكْرَةِ أَبِيهِمْ. ⑥ بِظُعُنِهِمْ وَنَعَمِهِمُ اجْتَمَعُوا إِلَى حُنَيْنٍ، ⑦ فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَقَالَ: ⑧ (تِلْكَ غَنِيمَةُ الْمُسْلِمِينَ غَدًا إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى) ⑨ قَالَ: (مَنْ يَحْرُسُنَا اللَّيْلَةَ) ⑩ قَالَ أَنَسُ بْنُ أَبِي مَرْثَدٍ الْغَنَوِيُّ: أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ.

ترجمه: ① اوحضرت سهل ابن حنظلیه ﷺ نه روایت دی چې دغزوه حنین په موقع حنین مقام ته تلو دپاره صحابه کرام ﷺ رسول کریم ﷺ سره روان شو نودسفر سلسله اوږده شوه یعنی حصاریدو نه بغیر مسلسل تلو ددي پورې چې شپه راغله نویوخاي ته رسیدو سره چې پړاؤ اچول وو یوسوارسړي درسول کریم ﷺ په خدمت اقدس کښې حاضر شو اوعرض یي وکړی یارسول الله زه په یوداسې اوداسې غر اوختلم اوددښمن جائزه مې اخستله چې اچانك ماولیدل چې هوازن چې مشهوره اوډیره لویه قبیله ده دخپل پلار په اوښ راغلي دي یعنی دقبیلې ټول خلق راغلي دي هغوی سره دهغوی ښځې هم دي اودهغوی څاروي هم

(١) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الجهاد/باب في فضل الحرس في سبيل الله تعالى (رقم-٢٥٠١)

دي اوهغوى تول دحنين په مقام جمع شوي دي حضور ﷺ دي اوريدو سره مسكي شواو وفرمايل انشاء الله دا ټول څيزونه به صباله دمسلمانانو مال د غنيمت وي ددي نه وروسته حضور ﷺ ټول اهل لښكر مخاطب كولو سره وفرمايل نن شپه زمونږ دنګهباني ذمه څوك اخلي يوصحابي حضرت انس ابن ابي مرثد اوويل دا ذمه واري زه اخلم

حل اللغات:- ① فَأَظْعَنُوا: أَيْ: أَطَالُوا وَبَالَغُوا فِيهِ: د سفر سلسله اوږده شوه يعني بغير دمه كولونه ئي مسلسل سفرجاري اوساتلو ② بَكْرَةِ: أَيْ: كُلُّهُمْ مُجْتَمِعِينَ: دا د عربو محاوره ده. د ټولو خلقود راتلو د پاره ئي استعمالوى يعني ټول خاندان او قبيلې والا راغلى وو. ③ بِظُعُنِهِمْ: دا جمع د ظَعِينَة ده، كجاوه يا په كجاوه كښې ناستې ښځې ته وائى خو دلته ترې مراد ښځې دى، أَيْ: بِنِسَائِهِمْ: يعنى سره دخپلو ښځو راغلل. ④ يَحْرُسُنَا: أَيْ: يَحْفَظُ عَسْكَرَنَا: چه زمونږ نګهبانى او نګرانى اوكړى يعنى پهره دارى اوكړى.

> ① قَالَ: (ارْكَبْ) فَرَكِبَ فَرَسًا لَهُ. ② قَالَ: (اسْتَقْبِلْ هَذَا الشِّعْبَ حَتَّى تَكُونَ فِي أَعْلَاهُ) ③ فَلَمَّا أَصْبَحْنَا خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَى مُصَلَّاهُ ④ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ قَالَ: ⑤ (هَلْ حَسَسْتُمْ فَارِسَكُمْ) فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! مَا حَسَسْنَا، ⑥ فَثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ يُصَلِّي يَلْتَفِتُ إِلَى الشِّعْبِ، ⑦ حَتَّى إِذَا قَضَى الصَّلَاةَ قَالَ: ⑧ (أَبْشِرُوا، فَقَدْ جَاءَ فَارِسُكُمْ) ⑨ فَجَعَلْنَا نَنْظُرُ إِلَى خِلَالِ الشَّجَرِ فِي الشِّعْبِ، فَإِذَا هُوَ قَدْ جَاءَ،

ترجمه: ① حضور ﷺ دي اوريدو سره وفرمايل ښه ده بياته سپور شه انس رضي الله عنه چې خپل آس باندې سور شو نوحضور ﷺ ورته فرمائل ته دي غريزه لار باندې تللو سره دهغه غر څوكې ته ورسيږه اوهلته په دښمن نظر ساته بياچي سهار شو نو رسول كريم ﷺ دمونځ كولو ځاي ته تشريف راوړى چې مخكې نه مقرر ؤو حضور ﷺ دسهار سنت دوه ركعاته وكړل اوخپل لښكر مخاطب كولو سره يې وفرمايل ايا تاسو دخپل سور څه كش كرپ اوريدلى دى يعنى تاسو كښې چاهغه په راتلو ليدلى دي يادهغه اواز چا اوريدلى دى چې هغه نه معلوميږي چې هغه په كوم حال كښې دى يوسرى عرض وكى يارسول الله په مونږ كښې هيچادهغه كش كرپ نه دى اوريدلى پدې كښې دسهارد مونځ تكبير وشو اومونځ شروع شو درسول كريم ﷺ داضطراب پريشاني داحال ؤو چې دما نځه په دوران كښې به يې هم دستركو تركوټ انو هغه غريزې لارې طرف ته كتل ددې پورې چې دما نځه نه فارغ شو نو وي فرمايل خوشحاله شي ستاسو هغه سوار راروان دى چې ستاسو نګهباني يې كوله نومونږ خلقو هغه دغريزې لارې په و نو كښې كتل شروع كړل ددې پورې چې هغه سوار راتلونكې وليدل شو

حل اللغات:- ⑤ الشِّعْبُ: وَهُوَ الطَّرِيقُ بَيْنَ الْجَبَلَيْنِ: د دوه غرونو په مينځ كښې لار، غريزه لار. ⑥ هَلْ حَسَسْتُمْ: أَيْ: أَدْرَكْتُمْ بِالْحِسِّ: آيا تاسو محسوس كړو څه كش كرپ؟يعنى څه په پته پوهه شوئ. ⑦ ثُوِّبَ: أَيْ أُقِيمَ: اقامت اوشو. ⑧ خِلَالِ: وَهُوَ الْفُرْجَةُ بَيْنَ الشَّيْئَيْنِ: د دوه څيزونو په مينځ كښې خالى ځائې

۱حَتَّى وَقَفَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲فَقَالَ: إِنِّي انْطَلَقْتُ حَتَّى كُنْتُ فِي أَعْلَى هَذَا الشِّعْبِ، حَيْثُ أَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۳فَلَمَّا أَصْبَحْتُ طَلَعْتُ الشِّعْبَيْنِ كِلَيْهِمَا، ۴فَلَمْ أَرَ أَحَدًا فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۵(هَلْ نَزَلْتَ اللَّيْلَةَ) قَالَ: لَا إِلَّا مُصَلِّيًا أَوْ قَاضِيَ حَاجَةٍ. ۶قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (فَلَا عَلَيْكَ أَنْ لَا تَعْمَلَ بَعْدَهَا)». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ اوبیا هغه راتلو سره درسول کریم ﷺ مخې ته اودریدلو اوبیان یې وکی چې زه دلته دروانیدو سره په غریزې لار تلو سره دغر هغه څوکې ته ورسیدم چیرته دتلو چې راته رسول کریم ﷺ حکم کړی ؤو اوپوره شپه په هغه ځاي کې ولاړ نګراني مې کوله بیاچې سهار شو نوزه دغرپه دواړو لارو اودهغه خواؤ شا کنډونو کښې راغلم چې ددې خبرې په ښه شان اندازه ولګوم چې ددشمن څه خلق اخوادیخوا پټ شوی خونه دي لیکن ماهلته هیڅوک ونه لیدل رسول کریم ﷺ انس بن مرثد ﷺ نه پوښتنه وکړه ایاته دشپې دآس نه خکته شوی یې؟ هغه اوویل صرف ما نځه دپاره یاتقاضي دپاره لرِوخت دپاره خکته شوی ووم ګینی پوره شپه دآس په شاناست نګراني مې کوله حضور ﷺ دي اوریدو سره وفرمایل بیاخودې کښې هیڅ حرج نشته چې دې شپې نه وروسته هیڅ عمل ونه کړی (ابوداؤد)

تسهیلات:

قوله: عَلَى بَكْرَةِ أَبِيهِمْ:

د علی بکرة ابیهم تحقیق: علی، دَمِ په معنی کښې دې. ای مع بکرة ابیهم ملاعلی قاری ﷫ فرمائی "کلمة للعرب یریدون بها الکثرة". "وقال القاضی جاء القوم علی بکرة ابیهم ای جاؤا باجمعهم" بکرة په اصل کښې خواني اوښې ته وائی.

د مذکوره جملې ضرب المثل ګرځیدلو واقعه: ددې متل سبب اوشان داسې دې چه دَ یومقام نه عرب وتل دَهغوی یوکس هم شاته پاتې نه شو تردې چه دَهغوی دَپلار یوه اوښه وه هغه ئې هم اوچته کړه یوړې نو نورو عربوااونیل جاءوا علی بکرة ابیهم یعنی دَپلار اوښه ئې هم ځان سره بوتله.

قوله: وَنَعَمِهِمْ:

د نَعَمِهِمْ هم مصداق: مال اوځناور مراددی. دادَ افغان خانه بدوشو دَ ترک په شان دی په کوم کښې چه هرڅه بارکوی اوړی تردې چه یوبیکاره سپې هم اوچتوی اوړی.

قوله: فَلَا عَلَيْكَ أَنْ لَا تَعْمَلَ بَعْدَهَا,

دعدم عمل مصداق: یعنی دَنن نه پس که په نوافل کښې هیڅ عمل هم اونه کړې نوستابه هیڅ نقصان نه وی. دې عمل نه فرائض مرادنه دی نوافل مراددی. حضورپاك دَ دغه صحابی دَ راتلونه وراندې خبر ورکړو په دې کښې دَمعجزې ظهوروو.

[۵۹۳۳] په تجورو کښې د برکت معجزه

۵۹۳۳-(۱)[۳۳] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «أَتَيْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِتَمَرَاتٍ، [۳] فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ادْعُ اللَّهَ فِيهِنَّ بِالْبَرَكَةِ، [۴] فَضَمَّهُنَّ، ثُمَّ دَعَا لِي فِيهِنَّ بِالْبَرَكَةِ، [۵] قَالَ: (خُذْهُنَّ فَاجْعَلْهُنَّ فِي مِزْوَدِكَ، [۶] كُلَّمَا أَرَدْتَ أَنْ تَأْخُذَ مِنْهُ شَيْئًا فَأَدْخِلْ فِيهِ يَدَكَ فَخُذْهُ وَلَا تَنْثُرْهُ نَثْرًا).

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ﷺ وایي یوه ورځ زه رسول کریم ﷺ ته یوڅو خورماوو اخستو سره ورغلم اوعرض مي وکی یارسول الله ﷺ ته په دي خورماوو کښې دبرکت دعا وکړه حضور ﷺ هغه خورماوي خپل لاس مبارک کښې واخستي یاداچي په هغه یې خپل لاس مبارک کینښووی اوبیا یې زما دپاره هغه خورماوو کښې دبرکت اوهغه خورماوو خوړلو کښې دکثرت اودخیر اودهغه دباقي پاتي کیدودعا وفرمایله اودي نه وروسته یې وفرمایل واخله اوداخورماوي خپل توښه دان کښې کښیږده هرکله چې ته ددي نه څه اخستل غواړي نوتوښه دان کښې خپل لاس اچوه اوراکاږه اوداتوښه دان هیڅ کله مه خلاصوه

حل اللغات:- ① فَضَمَّهُنَّ: أَيْ: فَأَخَذَهُنَّ بِيَدِهِ: په خپل موټی کښې ني واخستي. یا داچه خپل لاس ني په هغي کیخوده ② مِزْوَدِكَ: وَهُوَ مَا يُجْعَلُ فِيهِ الزَّادُ: هغه تهیلئ چه دخوراک څیزونه پکښې اینودي شي ③ وَلَا تَنْثُرْهُ: مه ني څنده، مه کهلاوهه دا تهیلئ

[۱] فَقَدْ حَمَلْتُ مِنْ ذَلِكَ التَّمْرِ كَذَا وَكَذَا مِنْ وَسْقٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، [۲] فَكُنَّا نَأْكُلُ مِنْهُ وَنُطْعِمُ، [۳] وَكَانَ لَا يُفَارِقُ حَقْوِي [۴] حَتَّى كَانَ يَوْمُ قَتْلِ عُثْمَانَ فَإِنَّهُ انْقَطَعَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره ﷺ وایي مادحضور ﷺ دحکم مطابق هغه خورماوي یوتوښه دان کښې کینښووی اوبیا هغه څوخورماو کښې مي دومره برکت اولیدلو چې هغه توښه دان نه راکښلو سره دومره دومره وسق خورماوي خومي د ﷲ په لار کښې خرچ کړي اومونږ یعنی زما دوستان اواحباب به دهغه خورماوو نه خوړلي هغه توښه دان به زما دملا سره تړلی ؤو هغه مي هیڅ وخت نه جدا کوی ددي پورې چې دحضرت عثمان ﷺ دشهید کیدو په ورځ هغه توښه دان زما دملا نه خلاصیدو سره وغورځیدی اوضائع شو (ترمذي)[۱]

حل اللغات:- ④ لَا يُفَارِقُ حَقْوِي: نړی ملا یا د ملا مینځ ته حقوه وانی (اصل کښې حقوه ازار یعنی لنګ ته وانی خو دلته تړې د لنګ تړلو ځاني مراد دي په وجه د اتصال او مجاورت نه

تسهیلات: **قوله:** وَلَا تَنْثُرْهُ

د غیبي مدد ظهور: یعنی داخوره مه تهیلئ څنده مه دمعجزه ظهوردي کوم چه دغیب نظام دي پټ ساتل پکاردی

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب ابی سریرة رضی الله عنه (رقم-۳۸۳۹)

قوله: يَوْمَ قَتْلِ عُثْمَانَ:

د شهادت عثمان په ورځ د تیلۍ ورکیدل: یعني په کومه ورځ چه حضرت عثمان رضی الله عنه شهید کړې شو هغه وخت دا تهیلئی پخپله کټ شوه اورکه شوه پخپله به حضرت ابوهریره رضی الله عنه دافسوس په توګه دا شعرونیلو

للنَّاسِ هَمٌّ وَلِي هَمَّانِ فَقْدُ جِرَابِي وَمَوْتُهُ شَيْخِ عُثْمَانِ

د حضرت عثمان رضی الله عنه د شهادت دوجې نه ډیرزیات برکتونه دامت نه اوچت کړې شو په هغې کښې یوه دا تهیلئی وه

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۹۲٤] د قریشو د قتل منصوبې څخه د خبریدو معجزه

۵۹۳۳-()[۲۵][۱]وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ:[۲]«تَشَاوَرَتْ قُرَيْشٌ لَيْلَةً بِمَكَّةَ،فَقَالَ بَعْضُهُمْ:[۳]إِذَا أَصْبَحَ فَأَثْبِتُوهُ بِالْوِثَاقِ يُرِيدُونَ النَّبِيَّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-[۴]فَقَالَ بَعْضُهُمْ: بَلِ اقْتُلُوهُ.[۵]وَقَالَ بَعْضُهُمْ بَلْ أَخْرِجُوهُ.[۶]فَأَطْلَعَ اللّٰهُ نَبِيَّهُ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-عَلَى ذٰلِكَ،[۷]فَبَاتَ عَلِيٌّ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-عَلَى فِرَاشِ النَّبِيِّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-تِلْكَ اللَّيْلَةَ،

ترجمه:[۱] حضرت ابن عباس رضی الله عنه وايي دمکې قریشو یو خل دشپې وخت دارالندوه کښې خپل مجلس مشاورت منعقد کړو چې په هغه کښې ابلیس شیطان هم دیونجدي شیخ په صورت کښې شریک شو بعضو دامشوره ورکړه چې سهار کیدو سره ددې سړي لاسونه وتړي یعني په رسو تړلو سره یې قید کړې دې سړي نه دهغوی مراد دنبي کریم ﷺ ذات ګرامي ؤو بعضودا رایې ورکړه چې نه بلکې قتل یې کړئ اوبعضوبه حقارت سره دا اوویل چې دې خپل زمکې نه ویستلو سره بهر کړئ یعني جلا وطن یې کړئ الله تعالی د حضرت جبرائیل علیه السلام په ذریعه خپل نبي ﷺ دمکې دقریشو دمشورې اوفیصلې نه اګاه کړل اوحکم یې ورکړو چې حضور ﷺ د نن شپه په خپله بستره حضرت علي رضی الله عنه څملوی

حل اللغات:- ① فَأَثْبِتُوهُ: أَيْ: فَارْبُطُوهُ: اونې تړئ ② الْوِثَاقِ: هُوَمَايُشَدُّبِهِ: کوم څيز سره چه تړل کيږي يعني رسئ.

[۱]وَخَرَجَ النَّبِيُّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-حَتَّى لَحِقَ بِالْغَارِ.[۲]وَبَاتَ الْمُشْرِكُونَ يَحْرُسُونَ عَلِيًّا يَحْسَبُونَهُ النَّبِيَّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-[۳]فَلَمَّا أَصْبَحُوا ثَارُوا عَلَيْهِ،[۴]فَلَمَّا رَأَوْا عَلِيًّا رَدَّ اللّٰهُ مَكْرَهُمْ[۵]فَقَالُوا: أَيْنَ صَاحِبُكَ هٰذَا،قَالَ: لَا أَدْرِي.[۶]فَاقْتَصُّوا أَثَرَهُ فَلَمَّا بَلَغُوا الْجَبَلَ اخْتَلَطَ عَلَيْهِمْ[۷]فَصَعِدُوا الْجَبَلَ،فَمَرُّوا بِالْغَارِ[۸]فَرَأَوْا عَلَى بَابِهِ نَسْجَ الْعَنْكَبُوتِ فَقَالُوا:[۹]لَوْ دَخَلَ هَاهُنَا لَمْ يَكُنْ نَسْجُ الْعَنْكَبُوتِ عَلَى بَابِهِ،[۱۰]فَمَكَثَ فِيهِ ثَلَاثَ لَيَالٍ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه:[۱] اوخپله دې حضرت ابوبکر رضی الله عنه خان سره کړې دهجرت په اراده دې دمکې نه روان شې نوپه دغه شپه حضرت علي رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ په بستره اوده شو اوحضور

[۱]) اخرجه احمد فی المسند: ۳٤۸/۱

ابوبکر ﷺ خان سره کړي اودمکي نه ووتل او غار ثور کښې پټ شول . علي ﷺ اوده شوی وو اودمکي قريشو ټوله شپه په دي خيال چې دلته نبي ﷺ اوده دي د کور نګراني کوله ددي پورې چې سهار شو نو د مکي قريش په هغه بستره چې حضرت علي ﷺ پري اوده ؤو دحضور ﷺ ګمان کولو سره حمله پري وکړله خوهغوی چې هلته دحضور ﷺ په ځای حضرت علي ﷺ اوليدلو اوالله دهغوی بدخواهي په هغوی وروګرځوله نوهغوی ډير پريشان شول اوحضرت علي ﷺ نه يي پوښتنه وکړه چې ستا دا دوست چې دهغه دابستره ده يعنې محمد ﷺ چيرته لاړلو حضرت علي ﷺ جواب ورکړو ماته نه ده معلومه دمکي قريش په صورت حال باندې پوهيدو سره فوراً حرکت کښې راغلل اودحضور ﷺ تلاش کولو اونيولو دپاره دحضور ﷺ د قدمونو په نښه دحضور ﷺ په تعاقب کښې ووتل ددي پورې چې هغه خلق جبل ثورته ورسيدل دهغوی ګمان وو چې حضور ﷺ به پدي غره کښې پټ شوی وي ليکن هغوی چې د غار په خوله دغني خاله وليده نوهغوی اوويل که محمد ﷺ پدي غار کښې داخل شوی وي نو ددي په خولبه دغني (جولاګی) خاله نه وای دغه شان هغه خلق دهغه ځاي نه نااميده کيدو سره وروسته شو اوحضور ﷺ دري شپي ورځي هغه غار کښې پټ وو. (احمد)

حل اللغات:- ③ يَحْرُسُونَ: نګراني ئي کوله، ④ ثَارُوا: أي وَثَبُوا: حمله ئې پري اوکړه. ⑤ مَكْرَهُمْ: بد خواهی دهغه، ⑥ فَاقْتَصُّوا: أي تَتَبَّعُوا: لټون او تلاش ئي کولو (يعنی قريشودحضورپاك دقدم نشانات او علامات لټول). ⑦ اخْتَلَطَ: أي: اشْتَبَهَ أَمْرُ الْأَثَرِ: ګډ وډ شو يعنی دهغوی دخپو نشاناتو په لټون کښې مشتبه اوپه شک کښې شو. ⑧ نَسْجَ: د جولاګی جاله.

تسهيلات: قوله: نَسْجُ الْعَنْكَبُوتِ:

د جولاګی جاله اوچول: جولاګی جاله جوړه کړه، کوترې هګئې واچولې علامه بوصيري ﷫ فرمائي:

فالصدق في الغار والصديق لم يريا	وهم يقولون ما بالغار من ارم
ظنوا الحمام وظنوا العنكبوت على	خير البرية لم تنسج ولم تحم

[۵۹۳۵] دخيبر يهوديانو سره متعلق معجزه

٥٩٣٥-(¹)[٢٢] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ② «لَمَّا فُتِحَتْ خَيْبَرُ أُهْدِيَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - شَاةٌ فِيهَا سُمٌّ ③ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (اجْمَعُوا إِلَيَّ مَنْ كَانَ هَاهُنَا مِنَ الْيَهُودِ). ④ فَجُمِعُوا لَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ⑤ (إِنِّي سَائِلُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَهَلْ أَنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ عَنْهُ؟). ⑥ قَالُوا: نَعَمْ يَا أَبَا الْقَاسِمِ. فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (مَنْ أَبُوكُمْ؟)

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الجزية/باب إذا غدر المشركون بالمسلمين. هل يعفى عنهم (رقم-٣١٦٩) واحمد في المسند:٤٥١/٢

ترجمه: [۱] اوحضرت ابوهریره ﷺ وایي کوم وخت چې خیبر فتح شو نودرسول کریم ﷺ په خدمت کښې یوه پخه بزه (چیلۍ) دهدیې په طور پیش کړل شوه چې په هغه کښې زهر اچول شوی وو رسول کریم ﷺ حکم وکړ دلته خیبر کښې چې څومره یهودیان دي تول ماته راولی نوټول یهودیان جمع کولو سره دحضور ﷺ په خدمت کښې پیش کړل شو رسول کریم ﷺ هغه یهودیانوته وفرمایل زه ستاسو نه دیوې خبرې پوښتنه کوماوهغه داکه تاسو زما دسوال غلط جواب راکړې اوزه دهغه تردید وکړم نو تاسو به زما په خبره باور وکړئ یهودیانو اوویل هو ابو القاسم مونږ به ستاسو دسوال جواب درکړو اوکه تاسو زمونږ دجواب صحیح تردیدوکړي مونږ به په هغه باور وکړو نورسول کریم ﷺ هغوی نه پوښتنه وکړه چې ستاسو پلار یعنی ستاسو جدّ اعلی چې هغه ته دقبیلې پلار ونیل کیږي څوک دي ؟

[۱] قَالُوا: فُلَانٌ. قَالَ: (كَذَبْتُمْ، بَلْ أَبُوكُمْ فُلَانٌ) [۲] قَالُوا: صَدَقْتَ وَبَرِرْتَ. [۳] قَالَ: (فَهَلْ أَنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ عَنْ شَيْءٍ إِنْ سَأَلْتُكُمْ عَنْهُ؟). [۴] قَالُوا: نَعَمْ يَا أَبَا الْقَاسِمِ، [۵] وَإِنْ كَذَبْنَاكَ عَرَفْتَ كَمَا عَرَفْتَهُ فِي أَبِينَا [۶] فَقَالَ لَهُمْ: (مَنْ أَهْلُ النَّارِ؟) [۷] قَالُوا: نَكُونُ فِيهَا يَسِيرًا ثُمَّ تَخْلُفُونَا فِيهَا. [۸] قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (اخْسَئُوا فِيهَا، وَاللَّهِ لَا نَخْلُفُكُمْ فِيهَا أَبَدًا).

ترجمه: [۱] یهودیانو دحضور ﷺ ازمایلو دپاره دخپل جدّ اعلی نوم صحیح ونه ښوده بلکې غلط طور سره یې څه بل نوم آخستو سره اوویل چې فلانی سړی دی حضور ﷺ ورته وفرمایل تاسو غلط وایئ ستاسو پلار خو فلانی سړی دی یهودیانو اوویل تاسو ریښتیا وفرمایل اوپه خاي مو وفرمایل بیاحضور ﷺ هغوی ته وفرمایل که زه در نه څه بل سوال وکړم او ستاسو دغلط جواب تردید کولو سره صحیح خبره درته وښایم نوآیاتاسوبه زما په هغه خبره باور وکړی یهودیانو اوویل هو اې ابوالقاسم که مونږ دروغ اوویل او تاسو ته زمونږ دروغ معلوم شوه څرنګه چې تاسو ته زمونږ دپلار باره کښې زمونږ غلط جواب معلوم شوی وونومونږبه بالکل ستاتصدیق وکړي حضور ﷺ دهغوی نه پوښتنه وکړه نوبیا وښایې دوزخي څوک دی ؟ یهودیانو جواب ورکړو څو ورځې خوبه مونږ خلق یو اوبیاچې مونږ دوزخ نه بهر راووځو نوزمونږ جانشین به تاسو خلق یئ رسول کریم ﷺ ورته وفرمایل اې کم بختو چخې شئ ددوزخ په باره کښې دومره دروغ خبره مه وایئ قسم په الله مونږ به دوزخ کښې هیڅ کله ستاسو جانشین نه یو

حل اللغات:- ① بَرِرْتَ: أَيْ: أَحْسَنْتَ: ښه خبره مو اوکړه ② تَخْلُفُونَا: أَيْ: تَعْقُبُونَنَا: مونږ پسې به تاسو راځئ. ③ اخْسَئُوا: چخې شئ، کورې شئ (د سپي شړلو او دفع کولو د پاره دا لفظ استعمالیږي).

[۱] ثُمَّ قَالَ: (هَلْ أَنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ عَنْ شَيْءٍ إِنْ سَأَلْتُكُمْ عَنْهُ؟). [۲] فَقَالُوا: نَعَمْ يَا أَبَا الْقَاسِمِ. [۳] قَالَ: (هَلْ جَعَلْتُمْ فِي هَذِهِ الشَّاةِ سُمًّا؟) قَالُوا: نَعَمْ. [۴] قَالَ: (فَمَا حَمَلَكُمْ عَلَى ذَلِكَ؟)، [۵] قَالُوا: أَرَدْنَا إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا أَنْ نَسْتَرِيحَ مِنْكَ، [۶] وَإِنْ كُنْتَ صَادِقًا لَمْ يَضُرَّكَ»، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] دي نه وروسته حضور ﷺ هغوی ته وفرمایل که زه ستاسو نه څه بل سوال وکړم او ستاسو د غلط جواب تردید کولو سره صحیح خبره درته وښایم نو آیا تاسو به زما د خبرې باور وکړې یهودیانو اوویل هو ای ابوالقاسم حضور ﷺ د هغوی نه پوښتنه وکړه ښه وښایې ایا تاسو دي بزې (چیلې) کښې زهر اچولی دی ؟ هغوی جواب ورکړو هو حضور ﷺ ترې پوښتنه وکړه تاسو څه شي پردې ذلیل حرکت باندې آماده کړلئ ؟ هغوی اوویل دراصل مونږ سوچ کړې ؤو که ستاسو دعوی دنبوت دروغ وي نو دا زهر به ستاسو د هلاکت سبب جوړ شي او مونږ به ستاسو نه نجات او راحت حاصل کړو او که تاسو خپله دعوی کښې رښتینې یې نو دا زهر تاسو ته هیڅ ضرر نشي رسولی (بخاري)

تسهیلات:

قوله: اخْسَئُوا: حضورپاك نوم په نوم د هغوی د نیکونو بیان اوکړو په کوم سره چه د حضورپاك د معجزه ظهور اوشو.

قوله: قَالُوا: نَكُونُ فِيهَا يَسِيرًا ثُمَّ تَخْلُفُونَا فِيهَا.

د یهودو باطله عقیده: په حدیث الباب کښې دی چه یهودیانو به مسلمانانو ته دا وئیل چه د جنت اصلي مستحق هم مونږ یو که چرې مونږ د څه بدعملئ د وجې نه فرض کړه دوزخ کښې داخل هم شو نو د یو څو ورځو د پاره به یو کله چه مونږ د خپلې سزا موده پوره کړو نو د دوزخ نه به راویستلې شو نو بیا به تاسو مسلمانان د همیشه د پاره په دوزخ کښې واچولئ شئ د یهودیانو د دې قول طرف ته قرآن پاك اشاره اوکړه ﴿لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَعْدُودَةً﴾ (الآیه) دا د یهودیانو باطل اعتقاد او فاسد عقیده وه کومه چه هیڅ اهمیت نه لری

د معجزې ښکاره کیدو باوجود د یهودیانوایمان نه راوړل: باقي د یهودیانو دا وینا چه مونږ د چیلئ په غوښه کښې زهر ملاؤ کړل په دې وجه چه که چرې دې دروغژن نبی وی نو د ده نه به خلق آزاد شی او که چرې رښتونې نبی وی نو هغه ته به زهر څه نقصان اونه رسولې شی په دې صورت کښې به مونږ په نبی باندې ایمان راوړو لیکن حضورپاك ته چه کله څه نقصان اونه رسیدو نو بیا به هم دې یهودیانو د ضد او عناد په وجه ایمان رانوړو او نه دوی د مسلمانانو او د اسلام د دښمنئ نه منع شو

[۵۹۲۶] قیامته پورې د اهمو واقعاتو خبر ورکولو معجزه

۵۹۳۶-()[۶۷][۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ أَخْطَبَ الْأَنْصَارِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمًا [۳] وَصَعِدَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَخَطَبَنَا، حَتَّى حَضَرَتِ الظُّهْرُ، [۴] فَنَزَلَ فَصَلَّى، ثُمَّ صَعِدَ الْمِنْبَرَ، فَخَطَبَنَا،

() اخرجه مسلم في كتاب الفتن وأشراط الساعة /باب إخبار النبي صلى الله عليه وسلم فيما يكون إلى قيام الساعة (رقم - ۲۵ - (۲۸۹۲) واحمد في المسند: ۳۴۱/۵

حَتَّى الْعَصْرِ،٥ ثُمَّ نَزَلَ فَصَلَّى، ثُمَّ صَعِدَ الْمِنْبَرَ، حَتَّى غَرَبَتِ الشَّمْسُ،٦ فَأَخْبَرَنَا بِمَا هُوَ كَائِنٌ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ فَأَعْلَمُنَا أَحْفَظُنَا»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ حضرت عمرو ابن اخطب انصاري رضي الله عنه وايي يوه ورځ نبی کريم ﷺ مونږته دسهار مونځ راکړی اوبيا منبر تـه ختلو سره زمونږ مخکي يي وعـظ ارشـاد وفرمـايي چې دهغه سلسله ماپښينه پورې جاري وه بيامنبر نه خکته شو حضور ﷺ دماپښين مونځ راکړی بيامنبر ته ختلو سره وعظ يي ارشاد فرمايلي ددي پورې چې دمازيګر وخت شو نومنبر نه خکته شو دمازيګر مونځ يي راکړی بيامنبر ته ختلو سره وعظ يي فرمايي اودوعظ داسلسله نمر غرق يدو باندې ختمه شوه ګويا پوره ورځ وعظ کښې تيره شوه ددي وعـظ پـه دوران کـښې حضور ﷺ دهغه ټولو خبروڅخه مونږ اګاه کړلو چې قيامته پورې پيښيدونکي دي دا روايت بيانولو نه وروسته حضرت عمرو بن اخطب رضي الله عنه اوويل پـه مونږ کـښې ددي ټولـو خبرو دټولوڅخه زيات يادلرونکي هغه سړی دی چې نن صبا په مونږ کښې دا ناتردي (مسلم)

دراوي مختصر تعارف:

حضرت عمرو بن اخطب: نام: عمرو، کنيت: ابوخطب جليل القدر صحابی دې، انصاری دې، ديارلسو غزواتو کښې شريک شوی دی، يو موقع باندې حضرت نبی کريم ﷺ ددوی په سر مبارک لاس رانښکلي وو او دعائي فرمائيلي وه،

وفات ددوی عمر يو سل شل (١٢٠) کاله وو او بيا هم ددوی سر مبارک کښې څو سپين ويښته وو. دا هم دحضرت نبی کريم ﷺ د دعا برکت وو

مرويات: دوی نه څلور احاديث مروی دی.

[٥٩٣٧] دوني په ذريعه د جناتو راتلو خبر ورکيدو معجزه

٥٩٣٧-() [٦٨] ١ «وَعَنْ مَعْنِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي قَالَ: سَأَلْتُ مَسْرُوقًا: ٢ مَنْ آذَنَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِالْجِنِّ لَيْلَةَ اسْتَمَعُوا الْقُرْآنَ؟ ٣ قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُوكَ - يَعْنِي - عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ - أَنَّهُ قَالَ: آذَنَتْ بِهِمْ شَجَرَةٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ اوحضرت معـن ابـن عبدالرحمن تـابعي چې دحضرت عبـدالله ابـن مسعود رضي الله عنه لمسی دی وايـي مـادخپـل پـلار حضرت عبـدالرحمن نـه واوريـدل فرمـايـل يـي هرکله چې مادجليل القدر تابعي حضرت مسروق نه پوښتنه وکړه چې په هغه شپه کښې چې جناتو قرآن مجيد واوريدي دهغه جناتو دراتـګ اطلاع نبـی کـريم ﷺ تـه چاورکړي وه نوحضرت مسروق اوويل ماته ستا پلار يعنی حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه بيـان وکـی چې حضور ﷺ ته دجناتو پيريانو دراتلو خبر يوي وني ورکړي وو (بخاري مسلم)

[١] اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب ذكر الجن وقول الله تعالى: {قل أوحي إلى أنه استمع نفر من الجن} [الجن: ١] (رقم ٣٨٥٩) ومسلم في كتاب الصلاة. باب الجهر بالقراءة في الصبح والقراءة على الجن. رقم (١٥٣ - (٤٥٠)

تسهیلات: قوله: مَعْن:

د معن تعارف: دا دَحضرت ابن مسعود ﷛ نمسي دي هغه دِ خپل پلار نه بيان اوكړو دَهغه دَ پلار نوم عبدالرحمن دي.

قوله: آذَنَتْ بِهِمْ شَجَرَةٌ،

نبی علیه السلام ته د ونې خبر ور کول: يعنی مسروق په جواب كښې اووئيل چه ستا پلار عبدالله بن مسعود ﷛ ما ته اوخودل چه يوې ونې حضورپاك ته خبر وركړې وو په كومه كښې چه دَمعجزه ظهورشوي.

[۵۹۳۸] د مقتولينو بدر پيښن ځكولی معجزه

۵۹۳۸-()[۳۴]: ۱ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲ «كُنَّا مَعَ عُمَرَ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ، فَتَرَاءَيْنَا الْهِلَالَ، ۳ وَكُنْتُ رَجُلًا حَدِيدَ الْبَصَرِ، ۴ فَرَأَيْتُهُ وَلَيْسَ أَحَدٌ يَزْعُمُ أَنَّهُ رَآهُ غَيْرِي، ۵ فَجَعَلْتُ أَقُولُ لِعُمَرَ: أَمَا تَرَاهُ؟ ۶ فَجَعَلَ لَا يَرَاهُ، ۷ قَالَ: يَقُولُ عُمَرُ: سَأَرَاهُ وَأَنَا مُسْتَلْقٍ عَلَى فِرَاشِي، ۸ ثُمَّ أَنْشَأَ يُحَدِّثُنَا عَنْ أَهْلِ بَدْرٍ، ۹ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يُرِينَا مَصَارِعَ أَهْلِ بَدْرٍ بِالْأَمْسِ،

ترجمه: ۱ اوحضرت انس ﷛ وايي ديوسفر په موقع مونږ خلقو دحضرت عمر ابن خطاب ﷛ سره دمكي اومديني په منځ كښې په يوځاي پړاؤ اچولی ؤو چې هلته مونږ دنوي مياشتي ليدلو كوشش وكی زه يو تيز نظره سړی ووم نوما مياشت وليده زما نه علاوه بل سړی داسې نه ؤو چې هغه داويلي وې چې هغه مياشت ما ليدلي ده ماحضرت عمر ﷛ ته دمياشتي ښودلو كوشش كولو سره هغوی ته اوويل چې آيا تاسو ته مياشت په نظر نه راځي ګوری هغه ده ليكن هغوی مياشت نه ليده حضرت انس ﷛ وايي زما په بار بار ښودلو چې حضرت عمر ﷛ ته مياشت په نظر رانغله نوهغوی اوويل بس پريږده زه به ډير نزدې په خپله بستره پروت دامياشت به ووينم دي نه وروسته حضرت عمر ﷛ زمونږ مخكي دكافروخه دهغه اهل بدر ذكر شروع كړو چې جنګ بدر كښې وژل شوی ؤو اوبيان يې وكی چې رسول كريم ﷺ دجنګ نه يوه ورځ مخكي دقتليدونكي مشركينو ځايونه مونږ ته وښودل

حل اللغات:- ① حَدِيدَ الْبَصَرِ: تيز نظر والا، ② مُسْتَلْقٍ: پروت به يم، ملاست به يم ③ مَصَارِعَ: أَيْ: مَوَاضِعَ طَرْحِهِمْ: د راغورزيدو او قتل كيدو ځايونه.

۱ يَقُولُ: (هَذَا مَصْرَعُ فُلَانٍ غَدًا إِنْ شَاءَ اللَّهُ) ۲ وَهَذَا مَصْرَعُ فُلَانٍ كَذَا إِنْ شَاءَ اللَّهُ). ۳ قَالَ عُمَرُ: وَالَّذِي بَعَثَهُ بِالْحَقِّ مَا أَخْطَأُوا الْحُدُودَ الَّتِي حَدَّهَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۴ قَالَ فَجُعِلُوا فِي بِئْرٍ، بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ، ۵ فَانْطَلَقَ رَسُولُ اللَّهِ حَتَّى انْتَهَى إِلَيْهِمْ، ۶ قَالَ: (يَا فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ وَيَا فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ! هَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ حَقًّا؟ ۷ فَإِنِّي قَدْ وَجَدْتُ مَا وَعَدَنِي اللَّهُ حَقًّا).

---

[1] اخرجه مسلم فی كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب عرض مقعد الميت من الجنة أو النار عليه، وإثبات عذاب القبر والتعوذ منه (رقم-۷۶ (۲۸۷۳)والنسائی فی كتاب الجنائز/باب أرواح المؤمنين (رقم-۲۰۷۴) واحمد فی المسند:۱/۲۶

ترجمه: ① حضور ﷺ يو يو ځاي طرف ته اشاره كولو سره فرمايل چې ګوري دا هغه ځاي دى چيرته چې به صبا له انشاالله فلانى مشرک وژل کيږي اودا هغه ځاي دى چيرته چې به انشاالله فلانى مشرک وژلى پروت وي ګويا حضور ﷺ داهل اسلام دلاسه دقتليدونكو مشركانو نومونه اخستو اخستو سره دهغوى نښاندهي كړي وه بلكې هغوى كښې دهريوه دپاره جدا جدا ځايونه پورې متعين كولو سره بيان كړى ؤو بيا حضرت عمر رضي الله عنه اوويل قسم دې په هغه ذات چې حضور ﷺ يې په حق سره راليږلى دى رسول كريم ﷺ چې كوم ځايونه متعين كولو سره بيان كړي ؤو قتليدونكي مشركان هغه نه ذره هم اخوا ديخوا نه شول يعنى حضور ﷺ چې دكوم مشرک باره كښې كوم ځاي متعين كولو سره خو دلى هغه قتليدوسره تيک په هغه ځاي وغورځيدل بيا چې دهغه مشركانو لاشونه يودبل دپاسه اچولو سره هغه كوهي كښې وغورځول شو چې اوبو اخستو دپاره په كار نه راتلو نو رسول كريم ﷺ تلو سره هغي كوهي ته راغى اودهغه مشركانو نوم اخستو اخستو سره هغوى يې مخاطب كړل او وي فرمايل اې فلان ابن فلان اواې فلان ابن فلان اياتاسو هغه شى حق اورښتيا پيداكړل چې دهغه ستاسو سره الله اودالله رسول وعده كړې وه ماخوهغه شى حق پيداكړي چې دكم شي ما سره زما الله وعده كړې وه

① فَقَالَ عُمَرُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! كَيْفَ تُكَلِّمُ أَجْسَادًا لَا أَرْوَاحَ فِيهَا؟ ② قَالَ: (مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ لِمَا أَقُولُ مِنْهُمْ، ③ غَيْرَ أَنَّهُمْ لَا يَسْتَطِيعُونَ أَنْ يَرُدُّوا عَلَيَّ شَيْئًا»). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت عمر رضي الله عنه دابيان هم وكى چې ماحضور ﷺ دمشركانو لاشونو ته داسې مخاطب ليدو سره عرض وكى اې رسول الله تاسو داسې جسمونوته څرنګه مخاطب يې چې روحونوڅخه خالي دي ؟ حضور ﷺ وفرمايل زه چې څه وايم هغه تاسو ددوى نه زيات اوريدونكي نه يئ هو هغوى دجواب راكولو قدرت نه لري مطلب داچې زما داخبره څرنګه چې تا اوريدلې ده هغه شان دې تولو هم اوريدلي ده بس فرق دادى چې دجواب وركولو قدرت دوى ته حاصل نه دى ،مسلم،

تسهيلات:

قوله: يَقُولُ عُمَرُ: سَأَرَاهُ وَأَنَا مُسْتَلْقٍ عَلَى فِرَاشِي،

د سپوږمۍ ليدل بلې شپې ته پريښودل: يعنى اوس سپوږمنى وړه ده په نظرنه راځى زه ولې محنت اوكرم صبا بل صبا چه كله غټه شى نوزه به ملاست يم اومخې ته به مې راشى ددې كلام مكمل كيدونه پس بيا حضرت عمر رضي الله عنه د جنګ بدر قصه بيان كړه اود حضورپاک د معجزې ظهورنى بيان كړو يافلان يافلان د بدر د مقتولينونه تقريباً ٢١ يا ٢٢ لوئى لوئى صناديد قريش رانښكلي شو اود بدر په شاړ كوهى كښې اچولې شوي وو. دهغوى د نورتذليل دپاره حضورپاك د كوهى غاړې ته راغلو هغوى سره خبرې اوكړې.

د جنګ بدر باره کښې دحسان بن ثابت اشعار: حضرت حسان رضی الله عنه په خپله قصیده کښې دغه منظر پیش کړې دې یو څو اشعار اوګورئی

فغادرنا اباجهل صریعا وعتبة قد ترکنا بالجبوب

یعنی مونږ ابوجهل راغوزار کړې شوې پریخودو او عتبه مو په کانړېڼه زمکه باندې راغورزولې پریخودو

ینادیهم رسول الله لما قذفناهم کباکب فی القلب

یعنی کله چه مونږ دغه کافران په قلیب بدر کښې اوغورزول نو رسول الله ﷺ هغوی سره داسې خبرې اترې اوکړې

الم تجدوا کلامی کان حقا وامر الله یأخذ بالقلوب

یعنی آیا تاسو زما کلام رښتونې اومونډلو؟ حالانکه دَ الله تعالی حکم خو زړونو ته ورکوزیږی.

فما نطقوا ولو نطقوا لقالوا صدقت وکنت ذارائ مصیب

یعنی دقریشو کافرانو هیڅ خبره اونه کړه که چرې خبرې کولې نو په جواب کښې به نې وئیل چه تاسو رښتیاوئیلی وو او تاسو دَ ټیک رائې مالك یئی

[۵۹۳۹] د درازعمرې خبر ورکولو معجزه

وعن ــ ( )[۷۰] ١ وَعَنْ أُنَيْسَةَ بِنْتِ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، عَنْ أَبِيهَا - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - ٢ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - دَخَلَ عَلَى زَيْدٍ يَعُودُهُ مِنْ مَرَضٍ كَانَ بِهِ، ٣ قَالَ: (لَيْسَ عَلَيْكَ مِنْ مَرَضِكَ بَأْسٌ، ٤ وَلَكِنْ كَيْفَ لَكَ إِذَا عُمِّرْتَ بَعْدِي فَعَمِيتَ؟) . ٥ قَالَ: أَحْتَسِبُ وَأَصْبِرُ. ٦ قَالَ: (إِذًا تَدْخُلِ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ) . ٧ قَالَ: فَعَمِيَ بَعْدَمَا مَاتَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٨ ثُمَّ رَدَّ اللَّهُ عَلَيْهِ بَصَرَهُ ثُمَّ مَاتَ».

ترجمه: ١ اودحضرت زید بن ارقم رضی الله عنه لور بي بي انیسه رضی الله عنها دخپل پلار حضرت زید بن ارقم رضی الله عنه نه روایت کوي چې نبی کریم ﷺ دزید بن ارقم عیادت پوښتنې دپاره تشریف یو وړی چې بیمار شوی وو حضور ﷺ هغه ته تسلي تشفي ورکولو سره وفرمایل ددې مرض تاته هیڅ خوف کول نه دی پکار ځکه چې ته به بالکل ښه شې لیکن هغه وخت به ستاځه حال وي هرکله چې ته زما نه وروسته ژوندی پاتې شې اوستا بینایي لاړه شي زید بن ارقم رضی الله عنه عرض وکی زه به دثواب ارزو مندیم اودخپل رب په حکم به صابر اوراضي یم حضور ﷺ دهغه داجواب اوریدو سره وفرمایل بیاخوبه بې حسابه اوبې کتابه جنت ته ځې راوي که هغه بي بي انیسه رضی الله عنها وي یابل څوک بیان کړی دی چې زید بن ارقم رضی الله عنه دحضور ﷺ دوفات نه وروسته ړوند شوی وو بیا ډیره زمانه وروسته الله تعالی دهغه بینایي دوباره کړله اوبیاهغه وفات شو

[۱]) اخرجه البیهقی فی دلائل النبوة رقم الحدیث ۶/ ۴۷۹

حل اللغات:- ① عُمِّرْتَ: أَيْ: طَالَ عُمُرُكَ: عمر دې زيات شي، ژوندې پاتې شې ② أَحْتَسِبُ: أَيْ: أَطْلُبُ الثَّوَابَ: د ثواب آرزومند به يم ③ وَأَصْبِرُ: أَيْ عَلِمَ حُكْمَ رَبِّ الْأَرْبَابِ: يعنى دخپل رب په حكم به صبر كوم او راضي به يم.

تسهيلات:

قوله: كَيْفَ لَكَ إِذَا عُمِّرْتَ بَعْدِي فَعَمِيتَ؟..الخ:

د نبي عليه السلام د پيشنګوئي ظهور: په حديث الباب کښې ذکر شوې پيشنګوئي تکې په تکې پوره شوه چه حضورپاك دَ حضرت زيد رضي الله عنه دَ بيمارئى دَ تپوس دَ پاره لاړو نو حضرت زيد رضي الله عنه جوړ شو او بيا دَ حضورپاك دَوفات نه پس دَ هغوى نظر ختم شو او بيا دَ څه زمانې نه پس دَ هغوى نظر واپس راغلو او بيا دَ هغوى انتقال اوشو. دا دَ حضورپاك معجزه وه

[۵۹۴۰] نبي عليه السلام باندې دروغ جوړونکی ته دبدعا کولو معجزه

> ۵۹۴۰-() [۱۷] ① وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ②(«مَنْ تَقَوَّلَ عَلَيَّ مَا لَمْ أَقُلْ ③ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ). ④ وَذَلِكَ أَنَّهُ بَعَثَ رَجُلًا، فَكَذَبَ عَلَيْهِ، ⑤ فَدَعَا عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَوُجِدَ مَيِّتًا، ⑥ وَقَدِ انْشَقَّ بَطْنُهُ، وَلَمْ تَقْبَلْهُ الْأَرْضُ». رَوَاهَا الْبَيْهَقِيُّ فِي (دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ).

ترجمه: ① اوحضرت اسامه ابن زيد رضي الله عنه وايې درسول کريم ﷺ ارشاد دی کوم سړی چې قصداً زماطرف ته څه داسې خبره منسوب کړي چې مانه وي کړې نوهغه ته پکار دی چې خپله ټيکانه دوزخ کښې تياره وګڼي اوددې ارشاد ګرامي پس منظر دادی چې يو ځل حضور ﷺ يو سړی څه خلقو طرف ته يايوسړی طرف ته ليږلې ؤو هغه دحضور ﷺ دطرف نه څه دروغ خبره جوړولو سره وکړله هرکله چې حضور ﷺ باندې هغه منکشف شو ياپه څه ذريعې سره حضور ﷺ ته دهغه خبرې اطلاع وشوه حضور ﷺ دهغه سړي په حق کښې بد دعا وکړله نوهغه سړي يوه ورځ داسې حال کښې مرده پيدا شو چې دهغه خيټه شليدلې وه اوهرکله چې هغه دفن کړل شو نو زمکې هغه قبول نه کړو دواړه روايتونه بيهقي دلائل النبوة کښې نقل کړي دي

حل اللغات:- ① تَقَوَّلَ: أَيْ: مَنْ كَذَبَ وَافْتَرَى: څوک په ما دروغ اووائي. څه خبره راباندې اوتړی يعنی دڅه خبرې نسبت راته اوکړی ② مَقْعَدَهُ: دکيناستو يعنى د اوسيدو ځائې

تسهيلات: **قوله:** وَلَمْ تَقْبَلْهُ الْأَرْضُ

د زمکې نه قبلولو د واقعه په تعدد کښې دوه اقوال: حديث الباب په آخر کښې دی چه دَهغه نعش زمکې هم قبول نه کړو دغه شان يو بل حديث مخکښې هم تيرشوې دې چه يو سړې

---
[۱]) اخرجه البيهقي في دلائل النبوة رقم الحديث ۶/ ۲۴۵

دَ حضورپاك دَ بددعا دَ وجې نه زمکې نه وو قبول کړې د بعضو پۀ نیز دا دواړه یوه واقعه ده ② د بعضو په نیزدا جدا جدا واقعات دی اوراجح هم دا قول دې چې دا جدا جدا واقعات دی.

[۵۹٤۱] د په طعام کښې د برکت معجزه

۵۹٤۱-(¹) [۷] ①وَعَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-«أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-جَاءَهُ رَجُلٌ يَسْتَطْعِمُهُ، ② فَأَطْعَمَهُ شَطْرَ وَسْقِ شَعِيرٍ ③ فَمَا زَالَ الرَّجُلُ يَأْكُلُ مِنْهُ وَامْرَأَتُهُ وَضَيْفُهُمَا ④ حَتَّى كَالَهُ فَفَنِيَ فَأَتَى النَّبِيَّ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ⑤ فَقَالَ: (لَوْلَمْ تَكِلْهُ لَأَكَلْتُمْ مِنْهُ وَلَقَامَ لَكُمْ)». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① اوحضرت جابر ﷺ نه روایت دی یوه ورځ درسول کریم ﷺ په خدمت کښې یوسړی حاضر شو اوطعام یې وغوښتی حضور ﷺ هغه ته نیم وسق اوربشې عطاء کړلې هغه وربشې آخستوسره کورکې کښیخو دلې اوبیا ، نه صرف خپله هغه سړي بلکې دهغه ښځې اوهغوی ته تلونکو راتلونکو میلمنو به هم دهغه وربشوځخه اخستلو سره خوړلې لیکن هغه وربشې نه ختمیدی ددې پورې چې یوه ورځ هغه سړی باقیمانده وربشې تول کړلې دهغه اثر داشو چې بیاهغه ډیر ژرختمې شوي دي نه وروسته هغه سړی دنبي کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو اوصورت حال یې عرض کړو حضور ﷺ ورته وفرمایل که تاهغه وربشې نه وې تللې نو تاسو خلقو بههمیشه دهغه وربشو نه اخستلو سره خوړلې اوزما دبرکت په سبب هغه به هم هغه شان تا سره باقي پاتې وې. (مسلم)

حل اللغات:- ① شَطْرَ: أَيْ: نِصْفَ: نیمه حصه. ② وَسْق: هُوَسِتُّونَ صَاعًا: شپیته صاع ③ كَالَهُ: أَيْ: بَقِيَّةَ الْمَأْكُولِ: یعنی باقی وربشې ئې اوتللې. ④ فَفَنِيَ: أَيْ نَفَذَ سَرِيعًا: ډیر زر ختمې شوې.

تسهیلات:

قوله: لَوْلَمْ تَكِلْهُ لَأَكَلْتُمْ مِنْهُ وَلَقَامَ لَكُمْ،

بلا ضرورته یوځیز ناپ تول کولو سره بې برکتی راتلل: په حدیث الباب کښې دی چه دا هم دَ نبی کریم ﷺ معجزه ده چه دَ حضورپاك په برکت په لږه شان غله کښې الله تعالی برکت واچولو چونکه دا سې ځیزونه ناپ کول دَتوکل خلاف دی په دې وجه دَ ناپ کولو په صورت کښې دَ داسې ځیزونو نه برکت ختمیږی

[۵۹٤۲] په مشتبه خوراك د خبریدو معجزه

۵۹٤۲-(²) [۸] ①وَعَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، قَالَ: ②«خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-فِي جَنَازَةٍ، فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ③ وَهُوَ عَلَى الْقَبْرِ يُوصِي الْحَافِرَ يَقُولُ: ④

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الفضائل/باب فی معجزات النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۹ - (۲۲۸۱)واحمد فی السند:۳/۳۳۷

² اخرجه ابوداود فی السنن کتاب البیوع/باب فی اجتناب الشبهات (رقم-۳۳۳۲)

(أَوْسِعْ مِنْ قِبَلِ رِجْلَيْهِ، أَوْسِعْ مِنْ قِبَلِ رَأْسِهِ) ۵ فَلَمَّا رَجَعَ اسْتَقْبَلَهُ دَاعِيَ امْرَأَتِهِ، ۶ فَأَجَابَ وَنَحْنُ مَعَهُ، فَجِيءَ بِالطَّعَامِ،

ترجمه: ۱ اوحضرت عاصم ابن کلیب تابعي دخپل پلار نه اوهغه دیوانصاري صحابي ﷺ نه روایت کوي هغه بیان کوي یوه ورځ مونږ رسول کریم ﷺ سره دیوي جنازي مونځ اودفن کولو کنبې شرکت دپاره لاړو قبرستان ته رسیدو سره مارسول کریم ﷺ اولیدلو چې حضور ﷺ دقبر په غاړه کیناستلو اوګورکن ته فرمایي چې پښو طرف ته قبر کشاده کړه اوسرجانب ته یې نورکشاده کړه بیاچي حضور ﷺ تدفین نه فارغیدو سره واپس تلی نومخې ته ورته یوسړی راغی حضور ﷺ ته یې دمړي دښځي دطرف نه دطعام دعوت ورکړی چې حضور ﷺ قبول کړو حضور ﷺ هغه کورته تشریف یو وړی اومونږ هم ورسره شو ځکه چې یاځو هغه ښځي جماعت سره حضور ﷺ طعام دپاره بللي ؤو یاداچې مونږ خلق دحضور ﷺ طفیل کښي ورسره شو هرکله چې طعام راؤړل شو

حل اللغات: - ① الْحَافِرَ: غاړه، ② أَوْسِعْ: فراخه کړه، کهلاؤ کړه.

۱ فَوَضَعَ يَدَهُ، ثُمَّ وَضَعَ الْقَوْمُ، فَأَكَلُوا، ۲ فَنَظَرْنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَلُوكُ لُقْمَةً فِي فِيهِ، ۳ ثُمَّ قَالَ: (أَجِدُ لَحْمَ شَاةٍ أُخِذَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ أَهْلِهَا). ۴ فَأَرْسَلَتِ الْمَرْأَةُ تَقُولُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ: إِنِّي أَرْسَلْتُ إِلَى النَّقِيعِ -۵ وَهُوَ مَوْضِعٌ يُبَاعُ فِيهِ الْغَنَمُ- ۶ لِيُشْتَرَى لِي شَاةٌ، فَلَمْ تُوجَدْ، ۷ فَأَرْسَلْتُ إِلَى جَارٍ لِي قَدِ اشْتَرَى شَاةً أَنْ يُرْسِلَ بِهَا إِلَيَّ بِثَمَنِهَا، فَلَمْ يُوجَدْ، ۸ فَأَرْسَلْتُ إِلَى امْرَأَتِهِ، فَأَرْسَلَتْ إِلَيَّ بِهَا.

ترجمه: ۱ نوحضور ﷺ طعام طرف ته لاس ورمخکي کړو اوطعام خوړل یې شروع کړل لیکن بیا طعام خوړلو کښي مونږ رسول الله ﷺ اولیدلو چې حضور ﷺ کومه اولنی نمړئ خوله مبارکه کښي اچولي وه هغه یې میده کوله یعنی خپله خوله مبارکه کښي اخوا دیخوا تاوولـه اوس مونږ حیرت سره داکتل چې حضور ﷺ وفرمایل زه داغوښه دیوي داسې بزي (چیلی) محسوسوم چې دهغه دمالک داجازي اورضا نه بغیر اخستل شوي ده هغه ښځي ته دحضور ﷺ ددي خبري علم وشو نوهغه سړی لیږلو سره صورت حال عرض کړو چې یارسول الله مادبزي (چیلی) دپاره یوسړی نقیع ته لیږلي ؤو نقیع دیوځاي نوم دی چیرته چې دبزو خرید وفروخت کیږی لیکن هلته بزه (چیلی) دستیاب نه شوه نوماخپل ګاونډی ته سړي ولیږلو چې هغه یوه بزه (چیلی) ورکي او ورته مي اوویل چې هغه په کوم قیمت بزه (چیلی) آخستي ده په هغه قیمت دي هغه بزه (چیلی) په ماخرڅه کړي لیکن هغه ګاونډی هم خپل کور کښي نه ووبیامادهغه ګاونډی ښځي ته سړی ولیږی اوهغي دغه بزه (چیلی) ماته راولیږله

حل اللغات: - ② يَلُوكُ: إِدَارَةُ الشَّيْءِ فِي الْفَمِ: خوله کښي یوڅیز اړولو راړولو ته لوک وائی یعنی نبی علیه السلام په خوله مبارکه کښي نمړئ تاؤوله راتاؤوله ⑤ النَّقِيعِ: وَهُوَ مَوْضِعٌ يُبَاعُ فِيهِ الْغَنَمُ: نقیع دیوځاي نوم دی چیرته چې د چیلو بزو اخستل خرڅول کیږی.

① فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "② أَطْعِمِي هَذَا الطَّعَامَ الْأَسْرَى». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ.

ترجمه: ① داتفصیل اوریدو سره رسول کریم ﷺ وفرمایل داطعام قیدیانو باندې وخوره.
دا روایت ابوداؤد اودلائل النبوة کښې بیهقي نقل کړی دی.

حل اللغات: - ⑤ الأَسْرَى: د أسیر جمع ده، قیدیان.

تسهیلات:

قوله: أَجِدُ لَحْمَ شَاةٍ أُخِذَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ أَهْلِهَا،

دچلیې د حرمت خبر ورکولو معجزه: یعني دمړي والادکورنه دهغه د بی بی قاصد دخوراك دعوت ورکولودپاره راغلو. حضورپاك هم لاړو اوبوخوصحابه کرام هم لاړل حضورپاك په خله مبارکه کښې نوړئی اچولوسره شخوند وهل شروع کړه خونوړئی تیره نه کړه اوونی فرمائیل چه داغوښه د داسې چیلئی ده چه دمالك د اجازت نه بغیرحاصله کړې شوې ده دکور د بی بی نه معلومه کړې شوه نوهغې دعدم اجازت اعتراف کولوسره وجه هم اوخودله دغه شان دحضورپاك د معجزې ظهوراوشو.

د مړي دکورخوراک کولوحکم: په ((امرأته)) کښې کوم ضمیراګرځی دادمړي طرف ته راګرځی یعنی دمړي والابنځې هم په هغه ورځ په کومه ورځ چه دهغه انتقال شوې وو دخوراك اهتمام کړې وو ملاعلی قاری رحمه الله لیکی چه دمړي دخوراك کولو په سلسله کښې د فقهاء کرام چه کوم اقوال دی هغه ددې حدیث خلاف دی اوداحدیث په ظاهره دهغه اقوالوخلاف دې

د مړي د کور څخه د خوراک کولوپه کراهت کښې اقوال: ① خلاصة الفتاوی کښې په دریمه ورځ دخوراك اهتمام کول اوخلق خوراك ته راغوښتل مباح نه دی
② بزازیه کښې لیکلی دی چه دمړي د وارثانود طرف نه په ړومبي ورځ یا دریمه ورځ اویا په اوومه ورځ خوراك کول مکروه دی
③ ابن همام رحمه الله هم لیکلی دی چه داهل بیت میلمستیاکول مکروه دی. ابن همام رحمه الله داهم لیکلی دی چه دا ضیافت بدعت سیئه دې
④ زیلعی رحمه الله ونیلی دی چه دریوورخوپورې دغم کولودپاره په کیناستوکښې څه مضائقه نشته دې په دې شرط چه دممنوع څیزونوارتکاب نه وی لکه قالین خورول میلمستیا کول. ⑤ د حضرت جریر بن عبدالله په روایت کښې صفاذکردی چه دمړي ضیافت مونږ لکه نوحه په شان حرام ګڼرله

د حدیث د مخالفت څخه جواب: دغه ښځه دمړي والابی بی نه وه بلکه د جنازې نه په

واپسنې باندې دَ يوې بلې ښځې قاصد راغلودَمړي والا دَ ښځې نه وو چنانچه ابوداؤد ج۲ص۱۱۷ باندې دَداعی امرأة لفظ دې چه دَ يوې ښځې قاصدوو لهذا دَ مشکوة په دې روايت کښې دَ يوکاتب نه سهوشوې ده

د مړي د کور څخه دخوراک کولو دوه صورتونه: زمونږ په علاقه پېښور چارسده وغيره کښې د مړي په کور کښې د جنازې اوفاتحې راغلو ميلمنو دپاره د روټۍ انتظام کولې شی اوس ددې دوه صورتونه دی

① د مړي کور والا پخپله د راغلو ميلمنو دپاره د روټۍ انتظام اوکړی نودا مکروه دی

② په بعضې خاندانونوکښې اوپه ګاونډيانو کښې دا طريقه وی دغه شان په بعضې علاقو کښې کميټيانې جوړې شوې وی چې هغوی هره مياشت څه چنده راغونډوی اوچې کله غم پيښ شی نو د هغې د فنډ څخه خرچ کوی نوکه په دې درې وارو طريقو سره يا په بله طريقه سره د مړي جنازې دپآره راتلونکو ميلمنودپاره د خوراک انتظام اوکړې شی نو په دې کښې څخه قباحت نشته بلکه دا عمل به ښه وی ځکه چې په دې کښې د يوبل سره د مينې محبت او همدردۍ اظهار دی.

د دريمې رسم: زمونږ په علاقو کښې په موجوده وخت کښې د دريمې رسم ترقی کړې ده اوباقاعده خلقو ته د دريمې ورځې د روټۍ دعوت ورکولې شی دا ټيک نه ده البته که څوک په خپله په دريمه ورځ د روټې په وخت کښې راشی اود هغوی د روټې انتظام ګاونډيانو يا خپلو خپلوانو کړی وی نوپه دې کښې څخه قباحت نشته

قوله: الْأَسْرَى:

د قيديانو څخه مراد: ددې قيديان هغه کافران مراد ووکوم چې د مسلمانانو په قبضه کښې وو ددې څخه دا معلومه شوه چې په دغه کافرانو قيديانو باندې خوراک خوړل مناسب وو ځکه نبی عليه السلام د حکم ورکړو

[۵۹۴۲] د چيلی د ييوز زياتيدو معجزه

۵۹۴۳-(۱) [ح-] ① وَعَنْ حِزَامِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ حُبَيْشِ بْنِ خَالِدٍ - وَهُوَ أَخُو أُمِّ مَعْبَدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - ② «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حِينَ أُخْرِجَ مِنْ مَكَّةَ ③ خَرَجَ مُهَاجِرًا إِلَى الْمَدِينَةِ، هُوَ وَأَبُو بَكْرٍ، وَمَوْلَى أَبِي بَكْرٍ عَامِرُ بْنُ فُهَيْرَةَ وَدَلِيلُهُمَا عَبْدُ اللَّهِ اللَّيْثِيُّ، ④ مَرُّوا عَلَى خَيْمَتَيْ أُمِّ مَعْبَدٍ، ⑤ فَسَأَلُوهَا لَحْمًا وَتَمْرًا لِيَشْتَرُوا مِنْهَا، ⑥ فَلَمْ يُصِيبُوا عِنْدَهَا شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ، ⑦ كَانَ الْقَوْمُ مُرْمِلِينَ مُسْنِتِينَ،

توجمه: ① اوحضرت حزام ابن هشام دخپل پلار حضرت هشام نه اوهغه دحزام دنيکه دادا يعنی خپل پلار حبيش ﷺ نه چې دام معبد ﷺ ورور دی روايت کوي چې رسول کريم ﷺ

---

[1]) اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحديث ۳۷۰۴

ته د مکي د پرېښودو حکم وشو او هجرت د پاره مديني ته روان شو نو د حضور ﷺ سره حضرت ابوبکر ﷺ او د حضرت ابوبکر ﷺ ازاد کړه غلام عامر ابن فهيره ﷺ او دې دواړو يعنې حضور ﷺ او ابوبکر ﷺ ته لار ښوونکي عبدالله ليثي د دې ځلورو تيريدل د مديني په لار کښې يوځاي دام معبد په دوو خيمو وشول چې هغه صحرا کښې قيام پذيروه دې حضراتو داهل خيمه نه څه غوښته او خورما رانيول وغوښتل ليکن دواړو حضراتو ته دام معبد سره هيڅ شی په لاس نه ورغلي ځکه چې په هغه زمانه کښې عام طور سره خلق د قحط زدگي او بې سرو ساماني ښکار وو

حل اللغات:- ① دَلِيلُهُمَا: أَيْ: مُرْشِدُ: لار ښودونکي ② خَيْمَتَيْ: دخيمة تثنيه ده يعنې دوه خيمې ③ مُرْمِلِينَ: أَيْ: فَاقِدِينَ الزَّادَ: د چادَ لارې خوراکه چه ختمه وي هغه مرمل وي (يعنې دوی سره هم د خوراک هيڅ نه وو) ④ مُسْنِتِينَ: أَيْ أَصَابَهُمُ الْقَحْطُ: يعنې په اوچ کالئ کښې اخته شوی قحط وهلی وو.

[۱] فَنَظَرَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَى شَاةٍ فِي كِسْرِ الْخَيْمَةِ، [۲] فَقَالَ: (مَا هَذِهِ الشَّاةُ يَا أُمَّ مَعْبَدٍ؟) [۳] قَالَتْ: شَاةٌ خَلَّفَهَا الْجَهْدُ عَنِ الْغَنَمِ. [۴] قَالَ: (هَلْ بِهَا مِنْ لَبَنٍ؟) [۵] قَالَتْ: هِيَ أَجْهَدُ مِنْ ذَلِكَ. [۶] قَالَ: (أَتَأْذَنِينَ لِي أَنْ أَحْلُبَهَا؟) [۷] قَالَتْ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي إِنْ رَأَيْتَ بِهَا حَلَبًا فَاحْلُبْهَا. [۸] فَدَعَا بِهَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَمَسَحَ بِيَدِهِ ضَرْعَهَا. [۸] وَسَمَّى اللَّهَ تَعَالَى، وَدَعَا لَهَا فِي شَاتِهَا، فَتَفَاجَّتْ عَلَيْهِ [۹] وَدَرَّتْ وَاجْتَرَّتْ،

ترجمه: [۱] دې کښې اچانك درسول کريم ﷺ نظرپر يوې بزې (چيلۍ) ولګيدې چې دخيمې يوجانب ته تړلې ولاړه وه حضور ﷺ بزې (چيلۍ) ليدو سره پوښتنه وکړه چې ام معبد پدې بزې (چيلۍ) څه شوي دې ام معبد ﷺ جواب ورکړو ددې کمزورۍ دا درمې نه جدا کړې ده يعنې دومره کمزورې ده چې خريدو د پاره نورو بزو سره ورشو (چراګاه) ته تلو باندې قادره نه ده حضور ﷺ پوښتنه آيا دا اولشوم ام معبد ﷺ اوويل کوم مصيبت کښې چې دا مبتلاده په هغه کښې پئي دکوم ځايه دې مطلب داچې يوه ذره دسيدو ورکولو صلاحيت هم په دې کښې موجودنه دې حضور ﷺ ورته وفرمايل اياته ماته اجازت راکوې چې زه ددې پئي ولوشم ام معبد ﷺ اوويل زما مور وپلاردې په تا سو ﷺ قربان وي که تاسو ﷺ ته په دې کښې پئي معلوميږي نوضرور وې لوشې يعنې هرکله چې دې کښې دسره پئي نشته نو تاسو به څه ولوشې رسول کريم ﷺ دااوريدو سره بزه (چيلۍ) راوغوښتله بيا حضور ﷺ دهغه په غلانزه خپل لاس مبارك راکښ کې بسم الله يې وويله او ام معبد ﷺ دپاره دهغه بزې (چيلۍ) په حق کښې دبرکت دعا وکړله نوبزې (چيلۍ) پئي ورکولو دپاره خپلې پښې دحضور ﷺ مخکې کشاده خلاصې کړلې خرنګه چې د شودو (پيو) ورکونکو څاروي عادت وي چې دلوشلو په وخت خپلې دواړه پښې کشاده کوي بيا هغه بزې (چيلۍ) پئي بهيول اوشخوند وهل شروع کړل

حل اللغات:- ⑤ كِسْرِ الْخَيْمَةِ: أَيْ: جَانِبِهَا: دخيمې يو طرف، ارخ ⑥ خَلَّفَهَا: أَيْ تَرَكَهَا: وروستو ئې پرېښودې ده يعنې د تلو نه روستو پاتې شوې ده، ⑦ الْجَهْدُ: أَيِ الْهُزَالُ: كمزوري، ډنګر ⑧ فَتَفَاجَتْ: أَيْ: فَتَحَتْ مَا بَيْنَ رِجْلَيْهَا لِلْحَلَبِ: دَ پېنوور كولو دَپاره ئې دواړه خپې كولاؤ كړې ⑨ دَرَّتْ: أَيْ: أَرْسَلَتِ الدَّرَّ: ډېرو پېنو راپرېښودو ته وائي ⑩ اجْتَرَّتْ: شخوند وهل ئې شروع كړو ،اوښ چه دخيټې نه وابنه راوباسي اوپه هغې شخوند وهي اوبيا ئې تيروي هغې ته جرة وائي،

[۱] فَدَعَا بِإِنَاءٍ يُرْبِضُ الرَّهْطَ، فَحَلَبَ فِيهِ ثَجًّا [۲] حَتَّى عَلَاهَا الْبَهَاءُ ثُمَّ سَقَاهَا حَتَّى رَوِيَتْ، [۳] وَسَقَى أَصْحَابَهُ حَتَّى رَوُوا [۴] ثُمَّ شَرِبَ آخِرَهُمْ، [۵] ثُمَّ حَلَبَ فِيهِ ثَانِيًا بَعْدَ بَدْءٍ، حَتَّى مَلَأَ الْإِنَاءَ [۶] ثُمَّ غَادَرَهُ عِنْدَهَا، وَبَايَعَهَا، [۷] وَارْتَحَلُوا عَنْهَا». [۸] رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ) وَابْنُ عَبْدِ الْبَرِّ فِي (الِاسْتِيعَابِ) وَابْنُ الْجَوْزِيِّ فِي كِتَابِ (الْوَفَاءِ) وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ.

ترجمه: [۱] حضور ﷺ يودومره لوى لوښى وغوښتى چې ديوجماعت خيټه به مړه كړي اوهغه لوښى كښې ښه بهيدونكي پئې او ولوشلې ددې پورې چې د شودو پيو ځګ دلوښي په سر راغلي دي نه وروسته حضور ﷺ پئې مخكې ام معبد ﷺ باندې وڅخو دلې چې هغې ښه ډيري وڅكلې بيايې په هغه ملګرو باندې وڅخو دلې هغوى هم په ښه شان ماړه شول اوبيادټولو نه وروسته حضور ﷺ په خپله وڅكلې ځكه چې دحضور ﷺ ارشاد دى په خلقو څكونكي دټولوځخه وروسته څكې بيا په اولنى ځل دلوشلو نه وروسته لږ وخت وروسته حضور ﷺ دوباره هغه لوښي كښې بزه (چيلۍ) ولوشله چې هغه لوښي دَسيدو نه ډک شو اوهغه پئې حضور ﷺ ام معبد ﷺ سره پرېښودلې چې خپل خاوند ته هم دامعجزه وښايي بياحضور ﷺ ام معبد مسلمانه كړه اودهغې نه روان شو داروايت بغوي شرح السنه كښې ابن عبدالبر استيعاب كښې اوابن جوزي كتاب الوفاء كښې نقل كړى دى اوحديث كښې دواقعې نورهم تفصيل شته

حل اللغات:- ⑪ يُرْبِضُ: أَيْ: يَرْوِيهِمْ وَيُثْقِلُهُمْ: چه ددوى خيټه مړه او درنې ئې كړي او د دروندوالى په وجه وله خوب ورغي ⑫ الرَّهْطَ: ډله، جماعت د دريو نه تر لسو كسانو پورې جماعت ته رهط وائي، ⑬ ثَجًّا: أَيْ: حَلَبًا ذَا سَيَلَانٍ: په زورداره اوپه زيات مقدار سره دَ پېنو راويستلو ته وائي ⑭ عَلَاهَا: أَيْ: ظَهَرَ عَلَى الْإِنَاءِ: د لوښي يا د پښيو دپاسه. ⑮ الْبَهَاءُ: أَي الزَّبَدُ يَعْلُو الشَّيْءَ عِنْدَ غَلَيَانِهِ: دځه ځيز د جوشيدلو او خوټكيدلو په وخت چه كوم زګ راخې هغې ته بهاء وائي. دلتهدَ پېنوويستلو په وخت چه په پېنوباندې ځګ راخې هغه مراد دى ⑯ رَوِيَتْ: دَ خروب كيدلوپه معنى كښې دې ⑰ غَادَرَهُ: أَيْ: تَرَكَهُ: دَ پريخودلوپه معنى كښې دې

تسهيلات: قوله: أُمِّ مَعْبَدٍ:

ام معبد تعارف: دَيوې ښځې كنيت دې چاسره چه حضورپاك دَ هجرت په سفركښې دَ غارثورنه پس كوزشوې وو اودَ هغې په چيلئى كښې دَمعجزې ظهوراوشو.

قوله: غَادَرَهُ:

ام معبد کښې د پیږ پریخودل: دَ برکت دَپاره نبی معجزاتی پیئی دوباره راویستلوسره هغوی کره پریخودل ام معبد مسلمانه شوه خاوندچه کله کورته راغلو پیئی اولیدل نوتپوس نی اوکړوداخه دی؟ ام معبد قصه واؤروله نوهغه اووئیل په الله قسم دا په مکه کښې رابنکاره کیدونکې نبی وو ماارادہ کړې وه چه دَ ده ملګرتیااوکړم مګر هغه وخت اونه شوه اوس که مې هغه اولیدلونو ایمان به راوړم. بل طرف دَاهل مکه په وړاندې یوغیبی آواز په زوره زوره اشعار اولوستل چه اهل مکه واؤریدل

[۸] بَابُ الْكَرَامَاتِ

دَکراماتوبیان

خلاصة الباب:

فيه اثنا عشر حديثاً مشتملة على نحو تسعة من الكرامات:

① ضوء العصا: ١.

② الإخبار الصادق عن المستقبل: ٢.

③ تكثير الطعام: ٣.

④ وجود النور على قبر النجاشي: ٤، ٧، ١٢.

⑤ سماع الصوت من جانب الغيب : ٥، ٨.

⑥ صيرورة الأسد محافظاً لسفينة رضي الله عنه: ٦.

⑦ كثرة الفواكه وريح المسك بسبب دعاء النبي صلى الله عليه وسلم: ٩.

⑧ إجابة دعاء سعيد بن زيد على امرأة: ١٠.

⑨ بلوغ صوت النبي ﷺ إلى بعيد: ١١.

د کرامت لغوی معنی: کرامات جمع ده دَدې مفرد کرامة دې کوم چه دَ اکرام اوتکریم په معنی کښې دې په لغت کښې کرامت عزت عظمت اودَ توقیرپه معنی کښې دې

د کرامت اصطلاحی تعریف: په اصطلاح کښې کرامت دَهغه خرق عادت دکارنوم دې چه دَ یونیکوکار پرهیزګار مؤمن په لاس باندې بنکاره شی لیکن هغه دَ نبوت دعویدارنه وی بلکه دَ سنت تابعداروی.

د قرآن مجید د اولیاء د کراماتو ثبوت: دَاهل سنت والجماعة په دې باندې اتفاق دې چه دَاولیاء الله کرامت حق دې البته معتزله دَ کرامت دَ ظهورنه انکار کوی په قرآن عظیم کښې الله تعالی دَغیرانبیاء دکرامتونو ذکر کړې دې

① دَ آصف بن برخیا کرامت چې د بلقیس تخت ئې په سترګه رپ کښې د حضرت سلیمان علیه السلام په خدمت کښې پیش کړې وو.
② که حضرت خضر علیه السلام نبی اونه ګنړلې شي نو د هغوی کرامات کوم چې په قرآن کښې ذکر دی. دا خبره دې واضحه وی چه حضرت خضر دَ یوخفیه نظام نبی وو دهغوی په لاس بعضې کارونه الله تعالی څرګند کړی وو.
③ دَ اصحاب کهف کرامت چې درې سوه کاله پس دوباره راژوندی شوی وو
④ دَخاوند او چا سرې سره د جنسی تعلق ساتلوڅخه بغیرد بي بي مریم څخه د حضرت عیسی علیه السلام پیدا کیدل

کرامت د ولی په اختیار کښې نه وی: کرامت دَ یوولی په اختیار کښې نه وی کله کله خوصاحب دَ ولایت ته دَ خپل کرامت پته هم نه وی. البته بعضې دا ممکن ده چې بعضې وخت یوکرامت دَ یوولی په اختیار کښې وی مګر په عام توګه باندې داسې نه وی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۹۴۴] د همسا څخه د رڼا کیدو کرامت

۵۹۴۴-()[۱] ① عَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- ② أَنَّ أُسَيْدَ بْنَ حُضَيْرٍ وَعَبَّادَ بْنَ بِشْرٍ تَحَدَّثَا عِنْدَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي حَاجَةٍ لَهُمَا، ③ حَتَّى ذَهَبَ مِنَ اللَّيْلِ سَاعَةٌ، ④ فِي لَيْلَةٍ شَدِيدَةِ الظُّلْمَةِ، ⑤ ثُمَّ خَرَجَا مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَنْقَلِبَانِ، ⑥ وَبِيَدِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عُصَيَّةٌ، ⑦ فَأَضَاءَتْ عَصَا أَحَدِهِمَا لَهُمَا حَتَّى مَشَيَا فِي ضَوْئِهَا،

ترجمه: ① حضرت انس رضی الله عنه بیان کوي یوه ورځ دوه جلیل القدر صحابان حضرت أُسید ابن حُضیر رضی الله عنه او حضرت عبّاد ابن بشر رضی الله عنه دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې ناست ؤ خپلي اهمي معاملي کې خبری یي کولو او هغه خبري دومره اُوږدی شوی چې دهغه سلسله ډیر ساعت یعنی د شپي تر ډیري حصي پورې جاری وه او هغه شپه هم ډیره تیاره (تاریکه) وه کله چې دا دواړه حضرات خپلو کورونو ته دواپس تلو دپاره دنبي کریم صلی الله علیه وسلم نه پاڅیدو سره د باندې ووتل نو هغه وخت دهغو دواړو سره دهر یوه په لاس کې همسا وه هغوئ دواړو نه دیوه په لاس کې همسا روښانه شوه او دهغې په رڼاکي هغوی تلل

حل اللغات: - ① عُصَيَّةٌ: دا د عَصَاة تصغیردې. امسا او کوټی نه وای ② ضَوْئِهَا: رڼا د امسا.

① حَتَّى إِذَا افْتَرَقَتْ بِهِمَا الطَّرِيقُ أَضَاءَتْ لِلْآخَرِ عَصَاهُ، ② فَمَشَى كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا فِي ضَوْءِ عَصَاهُ حَتَّى بَلَغَ أَهْلَهُ، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب منقبة أسید بن حضیر. وعباد بن بشر رضی الله عنهما (رقم-۳۸۰۵) واحمد فی المسند: ۱۳۷/۳

ترجمه: [۱] ددې پورې چې د دواړو لارې جدا شوې یعنې هغوی ځای ته ورسیدل چیرته چې دهریو کور طرف ته جدا جدا لار تللې وه نو د هغه دویم همسا هم روښانه شوه بیا هغوی دواړه دخپلې خپلې لکړې په رڼا کې تلو سره خپل اهل وعیال یعنې خپلو کورونو ته اورسیدل (بخاری رحمه الله)

تسهیلات:

قوله: فَأَضَاءَتْ عَصَا أَحَدِهِمَا لَهُمَا حَتَّى مَشَيَا فِي ضَوْئِهَا،

د همسا څخه د رڼا ښکاره کیدل: یعنې دَ حضورپاك دَمجلس نه واپس کورته راغله هغه وخت دَ یوې همسا نه دَ رڼا کار روان وو نو په دویمه کښې رڼا نه وه دادَې خبرې طرف ته اشاره ده چه اسراف جائز نه دې لیکن چه کله جدا شو نوبل ته دَ رڼا ضرورت شو نودَهغه په همسا کښې هم رڼا راغله اوکرامت ښکاره شو. کرامت دَ یو ولی دَ ولایت اوعظمت دلیل وی دَ خداینې نه.

[۵۹۴۵] دخپل شهید کیدو خبر ورکولو کرامت

۵۹۳۵-() [۲] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: لَمَّا حَضَرَ أُحُدٌ دَعَانِي أَبِي مِنَ اللَّيْلِ، [۲] فَقَالَ: مَا أُرَانِي إِلَّا مَقْتُولًا فِي أَوَّلِ مَنْ يُقْتَلُ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] وَإِنِّي لَا أَتْرُكُ بَعْدِي أَعَزَّ عَلَيَّ مِنْكَ غَيْرَ نَفْسِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۴] وَإِنَّ عَلَيَّ دَيْنًا فَاقْضِ، [۵] وَاسْتَوْصِ بِأَخَوَاتِكَ خَيْرًا. [۶] فَأَصْبَحْنَا فَكَانَ أَوَّلَ قَتِيلٍ، [۷] وَدَفَنْتُهُ مَعَ آخَرَ فِي قَبْرٍ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.[1]

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضی الله عنه وایی، کوم وخت چې جنگ احد پیښ شو، نودشپې زه خپل پلار را وغوښتم او هغه راته اوویل، زما خیال دی، چې په دی جنگ کې دنبی کریم ﷺ کوم صحابه وژل کیږي په هغوی کې دټولو نه اول وژل شوی سړی به زه یم، او په دی کې شك نشته چې زه په ځان پسې هیڅ داسې سړی نه پریږدم چې ماته درتا زیات عزیز وی. سوا درسول کریم ﷺ دذات گرامی نه (یعنې یو دحضور ﷺ ذات گرامی داسې دی چې ماته دټولو خلقو نه زیات عزیزدی، بلکه دخپل ځان نه هم را ته زیات عزیز او محبوب دی) باقی زما پسمانده گانو کې ته یو داسې سړی یې، چې ما ته زیات عزیز یې، نو ددې خصوصی تعلق په بناء تاته وئیل غواړم. چې ځما په ذمه ډیره قرضه ده، هغه زر تر زره اداء کړه. او دخپلو خوندو په حق کې (چې نه ۹ دی) ځما دا وصیت واوره چې دهغوی سره ښه سلوك کوه (حضرت جابر رضی الله عنه وایی) دهغه شپې نه وروسته چې سهار شو، او دجنگ میدان گرم شو، نوځما پلار شهید کیدونکو کې اول سړی وو، او ما هغه دیو بل سړی سره په قبر کې یوځای دفن کې، (بخاری)

[1] اخرجه البخاري فی کتاب الجنائز/باب باب: هل یخرج المیت من القبر واللحد لعلة (رقم-۱۳۵۱)

حل اللغات:- ① أَعَزَّ: زیات عزت والا ② فَاقْضِ: أَيْ سَرِيعًا: یعنی ادا ئې کړه زر ترزره. ③ اسْتَوْصِ: أَيِ اقْبَلْ وَصِيَّتِي: زما وصیت واؤره، اوئې منه.

تسهیلات:

قوله: أَوَّلِ مَنْ يُقْتَلُ:

د عبدالله رضی الله عنه په حوله د کرامت ظهور: یعنی دَ شپې په وخت دَحضرت جابر ﷺ پلار حضرت عبدالله ﷺ خپل ځوئی ته اوونیل چه دَ صبا مقتولینو شهداء نه به ټولو کښې ړومبې هم زه یم اوهم دغه شان اوشو. په دې جمله کښې کرامت ښکاره شو ځکه چه ځه ئې وئیلی وو هم هغه اوشو.

[۵۹۴۶]په طعام کښې برکت کرامت

۵۹۴۶-()[۳] ①وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ②إِنَّ أَصْحَابَ الصُّفَّةِ كَانُوا أُنَاسًا فُقَرَاءَ، ③وَإِنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ④«مَنْ كَانَ عِنْدَهُ طَعَامُ اثْنَيْنِ فَلْيَذْهَبْ بِثَالِثٍ، ⑤وَمَنْ كَانَ عِنْدَهُ طَعَامُ أَرْبَعَةٍ فَلْيَذْهَبْ بِخَامِسٍ أَوْ سَادِسٍ»). ⑥وَإِنَّ أَبَا بَكْرٍ جَاءَ بِثَلَاثَةٍ ⑦وَانْطَلَقَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِعَشَرَةٍ، ⑧وَإِنَّ أَبَا بَكْرٍ تَعَشَّى عِنْدَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ⑨ثُمَّ لَبِثَ حَتَّى صُلِّيَتِ الْعِشَاءُ،

ترجمه: ① او حضرت عبدالرحمٰن ابن ابي بکر ﷺ وايي چې اصحاب صفه مفلس خلق وه (د هغوی دخوړ دونوش انتظام ټولو مسلمانانو دخپل خپل حیثیت او استطاعت مطابق کولي) یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه ﷺ ته وفرمایل کوم سړی سره چې دخپل اهل وعیال د دؤ خلقو طعام وي هغه دي دریم سړی داصحاب صفه نه بوزي او کوم سړی سره چې د څلورو خلقو طعام وي هغه دي پنځه سړی د اصحاب صفه نه بوزي دي آوریدو سره حضرت ابوبکر صدیق ﷺ دري خلق بوتلل او نبي کریم لس ۱۰کسان بو تلل او ابوبکر ﷺ دنبي کریم ﷺ سره طعام وخوړلي او هلته طعام خوړلو نه وروسته هم د حضور ﷺ په خدمت کې حاضرؤ تر دي چې د ماسخوتن مونځ وشو نو هغه دما نخه نه وروسته هم خپل کورو ته نه لاړي بلکه د حضور ﷺ کور ته راغي

①ثُمَّ رَجَعَ فَلَبِثَ حَتَّى تَعَشَّى النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②فَجَاءَ بَعْدَ مَا مَضَى مِنَ اللَّيْلِ مَا شَاءَ اللّٰهُ. ③قَالَتْ لَهُ امْرَأَتُهُ: مَا حَبَسَكَ عَنْ أَضْيَافِكَ؟ ④قَالَ: أَوَمَا عَشَّيْتِيهِمْ؟ ⑤قَالَتْ: أَبَوْا حَتَّى تَجِيءَ، فَغَضِبَ وَقَالَ: ⑥وَاللّٰهِ لَا أَطْعَمُهُ أَبَدًا، ⑦فَحَلَفَتِ الْمَرْأَةُ أَنْ لَا تَطْعَمَهُ، ⑧وَحَلَفَ الْأَضْيَافُ أَنْ لَا يَطْعَمُوهُ. ⑨ قَالَ أَبُو بَكْرٍ: كَانَ هٰذَا مِنَ الشَّيْطَانِ، ⑩فَدَعَا بِالطَّعَامِ، فَأَكَلَ وَأَكَلُوا، ⑪فَجَعَلُوا لَا يَرْفَعُونَ لُقْمَةً إِلَّا رَبَتْ مِنْ أَسْفَلِهَا أَكْثَرُ مِنْهَا.

[1] اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب علامات النبوة في الإسلام (رقم ۳۵۸۱) ومسلم في كتاب الأشربة/باب إكرام الضيف وفضل إيثاره (رقم-۱۷۲ - (۲۰۵۷) والترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب في فضل لا حول ولا قوة إلا بالله (رقم-۳۵۸۱) وابن ماجه في كتاب الأطعمة/باب طعام الواحد. يكفي الاثنين (رقم ۳۲۵۵) واحمد في المسند: ۱۹۸/۱

ترجمه: [۱] او هغه وقته پورې خدمت اقدس کې حاضرو تر څو پورې چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم (تنها يا خپلو ميلمنو سره) طعام نه و خوړلی دغه شان حضرت ابوبکر ؓ چې خپل کور ته اورسيدي نو دشپې څومره حصه چې الله ﷻ غوښته تيره شوی وه او تر هغه وقته پورې نه صرف دهغه اهل وعيال بلکه دهغه ميلمنو هم کور کې ناست د هغه انتظار کوی کور کې د هغوئ داخليدو سره دهغوئ ښځې ورته اوويل څه شی تاسو دخپلو ميلمنو نه منع کړی وئ يعنی تاسو کور ته راتلو کې دومره ځنډيدل ولې وکړه هر کله چې ستاسو ميلمانه طعام خوړلو دپاره ستاسو انتظار کې ناست دي حضرت ابوبکر ؓ اوويل آيا تا تر اوسه پورې ميلمنوته ډوډی نه ده ورکړې ښځې ورته اوويل دی ميلمنو ستاسو راتلو پورې د ډوډوي خوړلو نه انکار کړی و چې طعام کې تاسو هم ورسره شريك شې حضرت ابوبکر ؓ دی آوريدو سره خپل کوروالا باندې سخت غضبناك شو ځکه چې دهغوئ دا خيال راغې چې د کوروالو کوتاهي ده چې هغوئ اصرار کولو سره ميلمنو باندې طعام ولې اونه خوړلي نو هغوئ دخپلې ناراضګئ اظهار کولو دپاره اوويل قسم په الله زه دا طعام هيڅ کله نه خورم بياد هغه ښځې هم قسم وخوړلو چې هغه هم هيڅ کله دا طعام نه خوري او ميلمنو هم قسم وخوړلو چې هغوئ هم هغه طعام يا خو مطلق يا تنها نه خوري بيا څو لمحو نه وروسته حضرت ابوبکر ؓ اوويل زما داسې غضبناك کيدل او قسم خوړل څه مناسب خبره نه وه بلکه دشيطان دوسوسې په سبب وه چې په هغه ماته اوس سخته پښيمانی ده او زه خپل الله ته توبه او استغفار کوم دی ويلو سره هغوئ طعام راوغوښتې او بيا ټولو خلقو يعنی خپله هغه او هغه دکوروالا او دهغه ميلمنو طعام وخوړلو د طعام خوړلو دوران کې داعجيبه خبره په نظر راغله چې حضرت ابوبکر ؓ او دهغوی ميلمنو لوښې نه خولې ته نوړئ اوچتوله دهغې په ځاې به طعام نور زياتيدلو

حل اللغات:- ① أَوَمَا عَشَّيْتِهِمْ": أي مَا أَطْعَمْتِهِمْ عَشَاءَهُمْ: آيا تا تر اوسه پورې دوی ته د ماښام روټئ نه ده ورکړې؟ ② رَبَتْ: أي: زَادَتِ اللُّقْمَةُ: يعنی د پورته نه مونږ خوړله او لاندې نه به خوراك راپيدا کيدو

[۱] فَقَالَ لِامْرَأَتِهِ: يَا أُخْتَ بَنِي فِرَاسٍ مَا هٰذَا!؟ [۲] قَالَتْ: وَقُرَّةِ عَيْنِي إِنَّهَا الْآنَ لَأَكْثَرُ مِنْهَا قَبْلَ ذٰلِكَ بِثَلَاثِ مِرَارٍ، [۳] فَأَكَلُوا، وَبَعَثَ بِهَا إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۴] فَذُكِرَ أَنَّهُ أَكَلَ مِنْهَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۵] وَذُكِرَ حَدِيثُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ: كُنَّا نَسْمَعُ تَسْبِيحَ الطَّعَامِ فِي (الْمُعْجِزَاتِ).

ترجمه: [۱] حضرت ابوبکر ؓ دا حيرت آنګيزه خبره ليدو سره خپله ښځه مخاطب کولو سره ورته اوويل اې دبنوفراس خور! لږ اوګوره دا څه عجيبه معامله ده ښځې ورته اوويل دخپلو سترګو په يخوالی مې قسم زه هم حيرت سره ګورم دا دطعام لوښې څومره چې مخکې ډك و هغې نه سه چنده (يعنی درې چنده) اوس زيات ډك دي بهر حال ټولو په ماړه نس (خيټه) طعام وخوړلو بيا حضرت ابوبکر ؓ هغه طعام د نبي کريم صلى الله عليه

وسلم خدمت کې هم ولیږلو او بیان کیږي چې حضور ﷺ هم دهغې طعام نه وخوړلو (بخاري ﷫ و مسلم ﷫) او دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷛ نه روایت دي كُنَّا نَسْمَعُ تَسْبِيحَ الطَّعَامِ باب المعجزات کې نقل شوی دي

حل اللغات: -④ قُرَّةِ: دا د قُرّ نه ماخوذ دي بَرْد يعنی يخوالی ته وانی ددې نه مراد سُرور او خوشحالی ده هم په دې وجه ونیلې شی چه دَمْعَةُ السُّرُورِ بَارِدَةٌ: د خوشحالئ اوښکې یخې وی

تسهیلات: قوله: أَصْحَابَ الصُّفَّةِ:

د اصحاب صفه تعارف: دادَ حضورپاك دَ مدرسې دَ طالبانو تعارف دې صفه دونکاچه ته وانی نن صبا په مسجد نبوی کښې یو دَمربع شکل خائی هم دَدغې نوم صفه دې دا خائی دَ حضورپاك دَ روضې شاته دې. دامدرسه دَمختلف اغراضو دَپاره قائم کړې شوې وه په ایمرجنسی کښې دا جهادی مدرسه وه طالبان به جهاد له وتـل لکـه دادَ محاذ جنګ دَپـاره انتظارګاه وه. که دَ جنګ زمانه به نه وه نودې طالبانو بـه دَ حضورپاك نـه علم زده کولو دَ خپلې خیتې دَ ساتلو دَپاره به ئی دَ ځنګل نه لرګی پرې کول او بازار کښې بـه ئـی خرځول دَدې طالبانو شمیر بـه ۸۰ اوکله خلورسوو تـه رسیدلو حضرت ابـوهریره ﷛ هـم پـه دغـه خائی کښې طالب علم وو. رسول الله ﷺ دَ محلې په خلقو باندې دَ دوی خوراك مقرر کړې وو چه په کوم کورکښې دَ خومره کسانو خوراك تیاریږی هغه دې خپل ځـان سـره دَ اصحاب صفه نه یو طالب علم هم بوځی اوخوراك دې ورې کوی

د محلې په خلقو وظیفې مقرر کولو ثبوت: په زیربحث قصه کښې حضرت صدیق اکبر ﷛ خپل ځان سره درې بوتلل اونبی کریم ﷺ لس کسان بوتلل دَدې نه دَ نن صبا دَطالبانو وظیفه جمع کول اودَ کورونونه راوړلو فی الجمله ثبوت ملاویږی لکه څنګه چه په مختلفو علاقو وغیره کښې دی سره دَدې چه اصحاب صفه بـه کورونوتـه بـوتلې شـو مګـر پـه محلې والو باندې دهغوی وظیفه مقرروه بهرحال چه کوم ثبوت ملاویږی کافی دې

د محلې په خلقو د طالبانو د روټۍ مقرر کولو یوه مناسبه طریقه: پخواه زمانه کښې به خلقو د طالبانو ډیر قدر اواحترام کولو اوس هغه قدر اواحترام نشته نو د کورونوڅخه د طالبانو دپاره د وظیفې راغونډولو کښې د علم یو قسمت توهین کیږی بعضې وخت د کور پاتې شوې او زړې ترکاریانې طالبانو ته ورکولې شی ددې وجې ما خپلو مقتدیاتو ته وئیلی دی چې په ستاسو د محلې په جمات کښې چې کوم نائب یا طالبان اوسیږی په تاسو باندې به په میاشت کښې صرف یو نوبت راځي تاسو به د دوی دپاره روټۍ راوړې الحمد لله زما مقتدیانو ما سره دا خبره منلې ده او په میاشت کښې په یو یو کور باندې صرف یونوبت او نمبر راځی اوڅخه په خوشحالۍ سره دا عمل روان دې.تاسو هم که پـه خپلـو محلـو کـښې دا طریقه شروع کړه نو ډیره به ښه وی.

قوله: يَا أُخْتَ بَنِي فِرَاسٍ:

د اخت فراس څخه مراد: حضرت ام رومان رضی الله عنها د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه بی بی وه د حضرت عائشه رضی الله عنها مور وه او د بنی فراس قبیلې سره د هغې تعلق وو هم په دې نسبت حضرت ابوبکر رضی الله عنه آواز ورکړو په دې قصه کښې کرامت ښکاره شو

[٥٩٤٧] د نجاشي د قبر څخه د رڼا ښکاره کیدو کرامت

٥٩٤٧-(١) [٣] ١ عَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: ٢ لَمَّا مَاتَ النَّجَاشِيُّ كُنَّا نَتَحَدَّثُ أَنَّهُ لَا يَزَالُ يُرَى عَلَى قَبْرِهِ نُورٌ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ بي بي عائشه رضی الله عنها وايي د نجاشي د وفات نه وروسته زمونږ په منځ کې د دې خبرې چرچاوه چې د نجاشي په قبر هميشه نُور ښکاريږي (ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: أَنَّهُ لَا يَزَالُ يُرَى عَلَى قَبْرِهِ نُورٌ

د نجاشي د قبر څخه د نور شعلې اوچتيدل: نجاشی دَحبشه بادشاه وو مسلمان شوي وو دَصحابه کرامو خدمت ئې کړې وو په وفات باندې حضورپاك جنازه اوکړه فرښتو جنازه مخې ته راوړه کېخوده يا حجابات اوچت کړې شو دَهغوی دَمرګ نه پس دَهغوی دَقبر نه دَ نور شغلې اوچتيدلې دَمدينې منورې خلقو په تګ راتګ کښې دا نور اوليدلو هم داحضرت عائشه صديقه رضی الله عنها بيانوی په دې کښې کرامت ښکاره شو

[٥٩٤٨] د نبی علیه السلام غاسلينوته د غيب څخه آواز اوريدو هدايت

٥٩٤٨-(٢) [د] ١ وَعَنْهَا، قَالَتْ: «لَمَّا أَرَادُوا غُسْلَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ٢ قَالُوا: لَا نَدْرِي أَنُجَرِّدُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مِنْ ثِيَابِهِ كَمَا نُجَرِّدُ مَوْتَانَا أَمْ نُغَسِّلُهُ وَعَلَيْهِ ثِيَابُهُ؛ ٣ فَلَمَّا اخْتَلَفُوا أَلْقَى اللهُ عَلَيْهِمُ النَّوْمَ، ٤ حَتَّى مَا مِنْهُمْ رَجُلٌ إِلَّا وَذَقْنُهُ فِي صَدْرِهِ، ٥ ثُمَّ كَلَّمَهُمْ مُكَلِّمٌ مِنْ نَاحِيَةِ الْبَيْتِ، لَا يَدْرُونَ مَنْ هُوَ؟:

ترجمه: ١ او بي بي عائشه رضی الله عنها وايي دوفات نه وروسته چې د نبي کريم ﷺ جسد اطهر ته دغسل ورکولو اراده وکړه ٢ نو هلته موجود صحابه يا د اهل بيتو په منځ کې داسوال راپورته شو چې آيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم کپړې دې هم داسې وايستل شي لکه څرنګه چې مونږ غسل ورکولو دپاره د مُرده ګانو کپړې خيني کاږو چې صرف ترستر پورته يوه کپړه پريږدو نور يې ټول بدن بربنډ وي يا حضور ﷺ ته، د حضور ﷺ د خصوصيت په بناء، د کالو سره غسل ورکول شي ٣ هر کله چې دې سوال باندې صحابه رضی الله عنهم کې داختلاف رايې اظهار وشو . چې خيني خلقو مړی ته د غسل ور کولو مروج طريقه

[١] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فی النور یری عند قبر الشهيد (رقم-٢٥٢٣)
[٢] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجنائز/باب فی ستر الميت عند غسله (رقم-٣١٤١)

باندې قیاس کولو سره دجسد اطهر نه د کپړو ویستلومشوره ورکړله او بعضې حضراتو جسم پاك بربنډول مناسب ونه ګنړل او دټولو په یو خبره اتفاق اونه شو نو (اچانك) الله تعالی هغه ټولو خلقو باندې خوب راوستې ۞ دې پورې چې هلته هیڅ یو سړی پاتې نه شو چې د هغه زنه د هغه سینه باندې نه وي راغلې (مطلب دا چې خوب ټول غافل کړل) ۞ او بیا هغه خلقو د کور د یو ګوټ نه یو داسې ویونکې آواز واوریدی چې هغه نه هغه خلق بالکل نا واقف وُو.

حل اللغات:- ① أَتَجَرَّدُ: آیا مونږ نې بربنډ کړو، کپړې ترې اوباسو. ② ذَقْنَهُ: د مخ د دواړو طرفونو ږیره چه کوم ځائې یوځائې کیږي هغې ته وائې یعني ذنه.

۞ اغْسِلُوا النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَعَلَيْهِ ثِيَابُهُ، ۞ فَقَامُوا، فَغَسَلُوهُ وَعَلَيْهِ قَمِيصُهُ، ۞ يَصُبُّونَ الْمَاءَ فَوْقَ الْقَمِيصِ وَيُدَلِّكُونَهُ بِالْقَمِيصِ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ).

ترجمه: ۞ هغه اوویل نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته کالو کې د ننه غسل ورکړی ۞ نو هغه ټول خلق دا آواز آوریدوسره هوښیار شو او راپاځیدل او د حضور ﷺ جسم مبارك ته یې کپړو کې د ننه داسې غسل ورکړلو ۞ چې هغه وخت جسم اطهر باندې کوم قمیص وُ په هغه به یې اوبه اچولې او په قمیص به یې بدن مبارك مښلو دا روایت بیهقي د لائل النبوة کې نقل کړی دی.

تسهیلات:

قوله: اغْسِلُوا:

نبی علیه السلام ته د غسل ورکولو خودنه: کوم کس چه په غائبانه توګه باندې لارخودنه کړې وه علماؤ لیکلی دی چه داحضرت خضروو. په صحابه کرامو باندې دَ خوب راتلل اودکور دَ ګوټ نه آواز راتلل داټول کرامات دی. دَدې نسبت که چرې حضورپاك طرف ته اوکړې شي نوَ معجزه ده اوکه چرې دَدې نسبت دَصحابه کراموطرف ته اوکړې شي نو داکرامت دې علماؤ لیکلی دی دَامت دَ یوکس نه دکرامت ښکاره کیدل دَنبی دَپاره دَ معجزې حیثیت لری.

نبی علیه السلام ته جاموسره دغسل ورکولو روایت: په زیربحث حدیث کښې تصریح ده چه حضورپاك ته دَ کپړوسره غسل ورکړې شو سره دَدې چه علامه نووی رحمه الله لیکلی دی چه کپړو سره حضورپاك ته غسل نه دې ورکړې شوې زیربحث حدیث ضعیف دې. بهرحال دادَ علامه نووی رحمه الله خیال دې اودَ هغه تحقیق دې. ملاعلی قاری رحمه الله وغیره په دې باندې هیڅ نه دی لیکلی.

[۵۹۴۹] سفينه رضی الله عنه د پاره د ځنګل زمرې تابع کيدل

۵۹۴۹ - () [۲] ① وَعَنِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ، «أَنَّ سَفِينَةَ مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَخْطَأَ الْجَيْشَ بِأَرْضِ الرُّومِ أَوْ أُسِرَ، ② فَانْطَلَقَ هَارِبًا يَلْتَمِسُ الْجَيْشَ، فَإِذَا هُوَ بِالْأَسَدِ. ③ فَقَالَ: يَا أَبَا الْحَارِثِ! أَنَا مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ مِنْ أَمْرِي كَيْتَ وَكَيْتَ، ④ فَأَقْبَلَ الْأَسَدُ، لَهُ بَصْبَصَةٌ حَتَّى قَامَ إِلَى جَنْبِهِ، كُلَّمَا سَمِعَ صَوْتًا أَهْوَى إِلَيْهِ، ⑤ ثُمَّ أَقْبَلَ يَمْشِي إِلَى جَنْبِهِ حَتَّى بَلَغَ الْجَيْشَ، ثُمَّ رَجَعَ الْأَسَدُ». رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ).

ترجمه: ① او جليل القدر تابعي ابن منکدر رحمه الله بيان کوي يو خل د رسول الله صلى الله عليه وسلم آزاد کړده غلام حضرت سفينه رضی الله عنه رومي علاقه کې د لښکر لاره ترې غلطه شوه، يا د دښمن په لاس ونيول شو ② بيا هغه د دښمن د قبضې نه اوتښتيدي او د خپل لښکر په تلاش پسې شو دې دوران کې (يو ځنګل کې) هغه يو لوئې زمرې سره مخ شو ③ هغه نه صرف داچې يو خطر ناك زمرې ليدو سره خپل اوسان يې بحال اوساتل بلکه هغه يې د هغه د کنيت په ذريعه مخاطب کولو سره ورته اوويل اې ابوحارث! زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم آزاد کړده غلام يم او ماته دا واقعه پيښه شوې ده چې زه نه د خپل لښکر لار ورکه شوې ده يا دا چې د دښمن دلاسه بندي شوې ووم اوس د هغوئ د قبضې نه راتښتيدلي يم او د خپل لښکر تلاش کې سرګردان يم ④ زمرى د دې اوريدو سره لکۍ اوخوزوله (چې د يو ځناور د فرمانبردار کيدو علامت دې) راغې د هغه سره اودريدلو بيا چې ديو طرف نه به د څه خوفناك درنده وغيره آواز راغې نو زمرى به د هغه دفعنې دپاره د هغه آواز طرف ته ورمنډه کړل او بيا به ورپسته راتلو ⑤ دغه شان هغه زمرى (د يو محافظ او رهبر په شان د سفينه رضی الله عنه سره بغل په بغل ورسره تلى تر دې چې سفينه خپل لښکر ته ورسيدى او زمرى واپس ځينې لاړلو (شرح السنة).

حل اللغات:- ① أَخْطَأَ: أَيْ: أَضَلَّ طَرِيقَهُ: لاره ترې غلطه شوه ② هَارِبًا: اوتښتيده. ③ بَصْبَصَةٌ: أَيْ: تَحْرِيكُ ذَنَبٍ: لکۍ ئې خوزوله (دا د ځناورو د عاجزى کولو او تابعدارى علامت دې) ④ أَهْوَى: أَيْ: قَصَدَهُ: قصد او اراده ئې اوکړه (ددفع کولو د زمرى)

تسهيلات:

قوله: أَنَّ سَفِينَةَ أَخْطَأَ الْجَيْشَ،

د حديث پس منظر او مفهوم: د حضرت ام سلمه رضی الله عنها يو غلام وو ام سلمه رضی الله عنها غوښتل چه دې آزاد کړى مګر شرط نى داکيخودو چه د حضورپاك په خدمت کښې به اوسيږې هغه اووئيل چه تاسوما آزاد کړئ او شرط مه لګوئ زه به د شرط نه بغير د حضورپاك په خدمت کښې يم هغه غلام حضرت سفينه رضی الله عنه وه بهرحال حضرت سفينه رضی الله عنه ته آزادى ملاؤ شوه

---

[۱]) اخرجه البغوى فى شرح السنة رقم الحديث ۳۷۳۲

بيا دَ شام په زمکه باندې صحابه کراموسره په يوجهاد کښې دَهرقل فوجيانو يوڅوصحابه کراموسره دا هم ګرفتاره کړه دَ شپې وخت کښې حضرت سفينه رضي الله عنه دَ کافرانو دَقيدنه په څه چل سره راخلاص شو اودَ مسلمانانودَ کيمپ طرف ته راغله دَ شپې تياره وه لار ترې هيره شوه ځنګل ته اورسيده هلته دَ ځناورو ويره ورسره شوه نوحضرت سفينه رضي الله عنه ازمرې سره خبرې اوکړې او صورت حال ئې ورته اوخودلو چه اې ابوالحارث زه دَ رسول الله ﷺ غلام يم لار رانه هيره شوې ده په دې باندې ازمرى لکئى اوخوزوله اودَهغې دَحفاظت دَپاره ئې پهره ورکول شروع کړه کله به وراندې شو اوکله به شاته شو چه څه ځناور ورته نقصان اونه رسوى تردې چه فوجى کيمپ ته ئې رااورسوله دَ کومې نه چه دَ حضورپاك دَ غلام حضرت سفينه رضي الله عنه کرامت ښکاره شو

د حضرت سفينه وجه تسميه: دَحضرت سفينه رضي الله عنه اصل نوم چاته معلوم نه دې دَ جهادپه سفرکښې هغه خپل سامان سره دَ ملګروسامان هم اوچت کړې وو بيابه يويوملګرې وراندې کيدواوخپل سامان به ئې پرې بارکوو اوده به اوچتولو په دې حال کښې حضورپاك اوفرمائيل "انت السفينة" يعنى په سامان اوچتولوکښې خوته جهازاوکشتئى ئې دَدغه وخت نه دَهغې نوم غيب شو اوهم دغه لقب ئې مشهورشو

قوله: لَهٗ بَصْبَصَةٌ حَتّٰى قَامَ إِلٰى جَنْبِهٖ،

د بصبصه معنى: سپې يا ازمرې يا ليوه چه کله دَ تابعدارئى اوخوشحالئى اظهارکوى نوهغه لکئى خوزوى هم دې ته بصبصة وائى يعنى ازمرې لکئى خوزونکې راغلو اودَهغې حفاظت ئې کولو

[۵۹۵۰] د قبر ښکاره کولو سره د باران کيدو خبر ورکولو کرامت

حمد-( )[۶] [۱]وَعَنْ أَبِي الْجَوْزَاءِ، قَالَ: قُحِطَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ قَحْطًا شَدِيدًا، [۲]فَشَكَوْا إِلٰى عَائِشَةَ فَقَالَتْ: انْظُرُوا قَبْرَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۳]فَاجْعَلُوا مِنْهُ كُوًى إِلَى السَّمَاءِ، حَتّٰى لَا يَكُونَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ السَّمَاءِ سَقْفٌ. [۴]فَفَعَلُوا، فَمُطِرُوا مَطَرًا حَتّٰى نَبَتَ الْعُشْبُ، وَسَمِنَتِ الْإِبِلُ، [۵]حَتّٰى تَفَتَّقَتْ مِنَ الشَّحْمِ، فَسُمِّيَ عَامَ الْفَتْقِ، رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او مشهور تابعي ابو الجواز رحمه الله وايي يو ځل دخشك سالۍ په وجه مدينې والا سخت قحط كې مبتلا شو [۲]نو هغوى اُمّ المؤمنين بي بي عائشه رضي الله عنها ته د خپل مُصيبتونو او پريشانيو ذكر اوكړو چې هغه باران دپاره دُعا وكړى، او څه تدبير اوښايي) بي بي عائشې ورته اوويل داسې وكړى چې ناسود نبي كريم صلى الله عليه وسلم قبر مبارك ته رجوع وكړى او دحجرې دبام (چت) نه څه سورى (سوراخ) آسمان طرف ته داسې خلاص پريږدې چې د قبر شريف او آسمان په منځ كې بام (چت) حائل نشي [۳]نو خلقو د بي بي

[۱]) اخرجه البغوى فى السنن رقم الحديث ۵۲

عائشي رضي الله عنها دوينا مطابق عمل وكړي، [۴] بيا چې باران وشو نو دومره شينکي راشنه شو (چې ښه ډير خوړلو سره) أوښان ځرب شوه ددي پورې چې دوازګي د زياتي په وجه د هغوی تشي اوپړسيدل او د هغه کال نوم (فتق) کيښودل شو (دارمي رحمه الله)

حل اللغات:- ① كُوًى: نَقْبُ الْبَيْتِ: دکوټې روشندان يا کړکۍ ته وائي ② نَمَتْ: راوختل، رازرغون شو ③ الْعُشْبُ: أي الْعَلَفُ: واښه، ګيا ④ سَمِنَتْ: څورب شو ⑤ تَفَتَّقَتْ: أي: اِنْتَفَخَتْ خَوَاصِرُهَا: اوپړسيدل تشي د څاروو

تسهيلات:

قوله: فَاجْعَلُوا مِنْهُ كُوًى إِلَى السَّمَاءِ

د عائشي رضي الله عنها د قول په مفهوم کښې دوه اقوال: ① دَ حضرت عائشه رضي الله عنها مطلب داوو چه حضور پاك به دَهغوی په ژوند کښې سفارش پيش کولې شو نو باران به کيدلو اوس چه دَ شفاعت په توګه کله قبر ښکاره کولې شي نو باران به کيږي هم دغه شان اوشو

② دَحضرت عائشه رضي الله عنها مطلب خوداوو چه لکه آسمان دَ حضور پاك قبرته ګوري نو ژاړي به نو باران به کيږي دَ کوم "فما بكت عليهم السماء" نه اشاره ملاويږي چه دَ انبياء اوصلحاء دَپاره آسمان ژاړي

په دې کښې دَحضرت عائشه رضي الله عنها هم کرامت دې اودَ روضهٔ اطهر هم کرامت دې چه په حقيقت کښې دَ نبی معجزه ده.

[۵۹۵۱] د نبی عليه السلام د قبر څخه د پست آواز اوريدل

٥٩٥١-(١) [٨] [١] وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، قَالَ: [٢] لَمَّا كَانَ أَيَّامُ الْحَرَّةِ لَمْ يُؤَذَّنْ فِي مَسْجِدِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ثَلَاثًا وَلَمْ يُقَمْ، [٣] وَلَمْ يَبْرَحْ سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ الْمَسْجِدَ، [٤] وَكَانَ لَا يَعْرِفُ وَقْتَ الصَّلَاةِ إِلَّا بِهَمْهَمَةٍ [٥] يَسْمَعُهَا مِنْ قَبْرِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت سعيد ابن عبدالعزيز رحمه الله (چې جليل القدر تبع تابعينو نه دي چې نه صرف زبردست فقيه ؤ او حديث صحت سره بيانولو کې يې امتيازی حيثيت لرې بلکه ګريان و ترسان بزرګ هم ؤ) بيان يې کوي [۲] چې دواقعه حره ورځو کې دري ورځو پورې مسجد نبوي ﷺ کې نه اذان وشو او نه تکبير وشو [۳] او نه حضرت سعيد ابن مسيب رحمه الله مسجد نه د باندې راوتلای شو ځکه چې هغه ورځو کې مسجد ته تلل راتلل بالکل بند شوی ؤ، [۴] حضرت سعيد ابن مسيب رحمه الله به (هغه د مصيبت په ورځو کې) د مونځ وخت صرف هغه قلار (آهسته) ګنګنړ په شان آواز نه شناخت کولو [۵] چې د حضور ﷺ د قبر مبارك د ننه نه راتلو سره به يې اوريدی (دارمي رحمه الله)

[۱]) اخرجه الدارمي في السنن رقم الحديث ۹۳

حل اللغات:- ① أَيَّامُ الْحَرَّةِ: حره دمدینې هغه زمکې ته وائی چه تور کاڼړی پکښې ډیر دی په دغه ځائې کښې د یزید د شامی فوج او دصحابه کرامو جنګ شوې وو په دې وجه دغه جنګ ته حره وائی اوپه کومو ورځو کښې جنګ شوې هغې ته ایام حره وائی ② لَمْ يُقَمْ: نه اقامت شوې وو (د مونځ دپاره تکبیرهم نه وو ونیلې شوې، ③ لَمْ يَبْرَحْ: لَمْ يُفَارِقْ: نه شو جدا کیدې یعنی نه شو راوتلې ④ بِهَمْهَمَةٍ: أَيْ: بِصَوْتٍ خَفِيٍّ لَا يُفْهَمُ: رو آواز چه څوک پرې نه پوهیږی، ګنګنړ کول.

تسهیلات:

قوله: أَيَّامُ الْحَرَّةِ:

د ایام الحرة پس منظر: یزید بدقسمته دَ شام نه یولښکر لیګلې وو دې دَپاره چه دَ اهل مدینه نه دَ یزید دَپاره بیعت واخلی ګنی په هغوی به حمله کولې شی اومدینه به دړې وړې کړی نو په واقعه حره کښې اهل مدینه سره دَ شامیانو زبردست جنګ اوشو اودَمدینې لوئی لوئی صحابه کرام شهیدان شول. په دې موقع مدینه په تیاروکښې ډوبه شوه نه به دَ ورځې پته لګیده اونه دَ شپې. په دې کښې دَ مونځونو دَ وختونو مسئله پیښه شوه نودَ روضهٔ اطهرنه به دَ مونځ په وخت کښې دَ یوفریاد آواز راؤچتیدو دَ کوم نه چه به اندازه لګیدله چه دَ مونځ وخت شو.

د یزید په باره کښې د علامه آلوسی رحمه الله رائې: علامه آلوسی رحمه الله په خپل تفسیر روح المعانی پاره ۲۶ص ۷۲ باندې دَ یزیددَ ظلمونو ذکر کړې دې او په کربلاکښې دَ شهیدانوسرونه په شام کښې یزیدله دَ لیګلو اودَ یزیددَ خوشحالیدلو یعنی دکفرکلمه ونیل داسې بیان کړی دی. یوڅو اشعار اوګورئی.

لما بدت تلك الحمول واشرفت تلك الرؤس على شفا جيرون

ترجمه: کله چه دَ علاقه جیرون په غاړه باندې دا سورلئی اوپه دې باندې بارکړې شوې دا سرونه ښکاره شو.

نعب الغراب فقلت قل اولا تقل فقد اقتضيت من الرسول ديونی

ترجمه: نوکارغه کائین کائین کولو ما هغه ته ونیل چه ته کائین کائین کوه یا مه کوه ما دَ رسول الله نه دَ خپلو مقتولینوبدله واخستله.

دَعلامه آلوسی رحمه الله خیال دې چه دا اشعارثابت دی لهذا یزید کافردې لیکن دَجمهور علماؤپه نیزیزید فاسق او فاجردې دا اشعار تفسیرمظهری هم ج۵ص۲۷باندې لیکلی دی.

د یزیدد قسطنطنیه په جهاد کښې د شرکت څخه معذرت کول: دَ قسطنطنیه په جهاد کښې حضرت معاویه رضی الله عنه یزید اولیګلو خوهغه بهانه جوړه کړه اوونی ونیل چه زه بیماریم. هلته لښکرته سخت تکلیف اورسیدو نویزیددَ خوشحالئی نه شعرونه اوونیل

لست ابالی بما لاقت جموعهم بفرقدونة من حمی ومن موم

ترجمه په مقام فرقدونه کښې مجاهدينو ته کومه تبه راپيدا شوه اوږ هغوی شونډې اوچاؤدې زما په دې باندې هيڅ پرواه نشته

اذا جلست على الانماط متكئاً بدير مروان عند ام كلثوم

ترجمه کله چه زه په دير مروان کښې په قالينونو باندې ام کلثوم سره ډډه لګولوسره کينم حضرت امير معاويه رضي الله عنه ته چه کله معلومه شوه چه دې دهوکه کولوسره شاته پاتې شوې دې نوهغوی دوباره حکم جاری کړو اوهغه نې دې غزوه ته اوليګلو دې اميرهم پاتې دې خو اعتبار دَ آخرانجام دې ده ته څه حق حاصل وو چه حضرت امام حسين عليه السلام وژلوسره نې حکومت کولو او په بيت الله باندې بمباری کولوسره حکومت حاصل کړو دَحره دا واقعه ۶۳ هجری کښې پيښه شوې وه اوڅه وخت پس بيا يزيدمړشو څه تفصيلات آننده فضائل حسين رضي الله عنه لاندې راځي

[۵۹۵۲] دانس رضي الله عنه دباغ هر کال دوه ځله ميوې کول

> ۵۹۵۲-() [۹] ①وَعَنْ أَبِي خَلْدَةَ، قَالَ: قُلْتُ لِأَبِي الْعَالِيَةِ: ②سَمِعَ أَنَسٌ مِنَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -؟ ③قَالَ: خَدَمَهُ عَشْرَ سِنِينَ، وَدَعَا لَهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ④وَكَانَ لَهُ بُسْتَانٌ يَحْمِلُ فِي كُلِّ سَنَةٍ الْفَاكِهَةَ مَرَّتَيْنِ، ⑤وَكَانَ فِيهَا رَيْحَانٌ يَجِيءُ مِنْهُ رِيحُ الْمِسْكِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابوخلده (تابعي رحمه الله) وايي ما د (بزرګ تابعي) حضرت ابوالعاليه رحمه الله نه پوښتنه وکړه ② آيا حضرت انس رضي الله عنه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه حديثونه آوريدلي دي؟ ③ حضرت ابوالعاليه رحمه الله جواب راکړې، حضرت انس رضي الله عنه ته د حضور ﷺ په خدمت کې د لس ۱۰ کاله پاتي کيدو شرف حاصل شوی دي او هغه ته د حضور ﷺ دُعا قبوله شوی ده ④ د هغه چې کوم باغ ؤ هغه به په کال کې دوه ځله ميوه کوله ⑤ او هغه باغ کې چې کوم ګلونه ؤ هغه نه به د مشکو په شان خوشبويي راتله دا روايت ترمذی رحمه الله نقل کړی دي او ويلي يې دي چې داحديث حسن غريب دي

حل اللغات:- ① يَحْمِلُ : أَيْ: يُثْمِرُ: يعنی ميوې به نې نيولې ② رَيْحَانٌ : يو بوټي دي چه بنانسته خوشبو کوی. د کشمالو بوټي

تسهيلات:

قوله: وَدَعَا لَهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ..الخ:

د انس رضی الله عنه دپاره په مال او اولاد کښې د برکت دعا: رسول الله ﷺ دَ حضرت انس رضي الله عنه دَ پاره په مال دولت او اولاد کښې دَ برکت دعا فرمائيلې وه نودَ حضرت انس رضي الله عنه

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أنس بن مالك رضی الله عنه (رقم-۳۸۳۳)

عمر دَ سلو کالو نه زیات وو. دَهغوی په ژوند کښې دَ هغوی دَ اولاد بیا دَ اولاد دَ اولاد تر سلو پورې رسیدلی وو په کوم کښې چه ۷۳ هلکان او ۲۷ جینکئی وې. اودَ مال برکت په حدیث الباب کښې ذکر دې چه په یو کال کښې به دَهغه باغ دوه ځل میوه ورکوله. په عمر، اولاد او مال کښې برکت دَ رسول الله ﷺ معجزات اودَ حضرت انس رضی الله عنه کرامات دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۹۵۳]د سعید ابن زید رضی الله عنه دبدعالې قبلیدل

۵۹۵۳-() [۱۰] ① عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ سَعِيدَ بْنَ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - ② خَاصَمَتْهُ أَرْوَى بِنْتُ أُوَيْسٍ إِلَى مَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ، وَادَّعَتْ أَنَّهُ أَخَذَ شَيْئًا مِنْ أَرْضِهَا، ③ فَقَالَ سَعِيدٌ: أَنَا كُنْتُ آخُذُ مِنْ أَرْضِهَا شَيْئًا بَعْدَ الَّذِي سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -؟! قَالَ: مَاذَا سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -؟ ④ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -

ترجمه: ① حضرت عروه ابن زبیر بن العوام (چې د پورته درجې تابعینو نه دي او عشره مبشره کې دیو مشهور صحابی حضرت زبیر بن العوام رضی الله عنه زوي دي) بیان کوي ② چې دیوې ښځې اروىٰ بنت أوس حضرت سعید ابن زید ابن عمر و ابن نفیل رضی الله عنه سره جګړه وشوه نو د هغه خلاف فریاد اخستلو سره دمروان ابن حکم عدالت ته ورغله (چې د حضرت معاویه رضی الله عنه د طرف نه د مدینې حاکم ؤ) اروىٰ دعوه وکړه چې سعیدابن زید رضی الله عنه زما یوه توټه زمکه په زور (بدماشي) لاندې کړی ده ③ حضرت سعید رضی الله عنه دا دعوىٰ آوریدو سره بعید از امکان ګرځولو دپاره یې اوویل د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ارشاد آوریدو نه وروسته دا څرنګه کیدی شي چې زه د دې ښځې زمکه لاندې کړم (په زور ونیسم) ④ مروان پوښتنه وکړه تا د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه څه اوریدلي دي حضرت سعید رضی الله عنه ورته بیان وکړو ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا آوریدلي دي

① يَقُولُ: ((مَنْ أَخَذَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ ظُلْمًا طُوِّقَهُ إِلَى سَبْعِ أَرَضِينَ)) ② فَقَالَ لَهُ مَرْوَانُ: لَا أَسْأَلُكَ بَيِّنَةً بَعْدَ هَذَا. ③ فَقَالَ سَعِيدٌ: اللَّهُمَّ إِنْ كَانَتْ كَاذِبَةً فَأَعْمِ بَصَرَهَا وَاقْتُلْهَا فِي أَرْضِهَا ④ قَالَ: فَمَا مَاتَتْ حَتَّى ذَهَبَ بَصَرُهَا ⑤ وَبَيْنَمَا هِيَ تَمْشِي فِي أَرْضِهَا إِذْ وَقَعَتْ فِي حُفْرَةٍ فَمَاتَتْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① که یو سړی دچا یوه لویشت اندازه زمکه هم په زور سره ونیسي نو (د قیامت په ورځ به) الله تعالی د هغه زمکې د اوو ۷ طبقو طوق جوړولو سره د هغه سړی په غاړه کې واچوی ② مروان (دی آوریدو سره) حضرت سعید رضی الله عنه ته اوویل دې دلیل نه وروسته زه د دې څه ضرورت نه لرم چې ستا نه نوره ګواهي طلب کړم ③ خو بیاهم حضرت سعید رضی الله عنه

[1] اخرجه البخاری فی کتاب بدء الخلق /باب ما جاء فی سبع أرضین (رقم-۳۱۹۸) ومسلم فی کتاب المساقاة/باب تحریم الظلم وغصب الأرض وغیرها (رقم-۱۳۹ - (۱۶۱۰) واحمد فی المسند:۱/۱۸۷

دزمکي هغه تکره د هغه ښخي حق کې پریښوده او هغه اوویل اې الله! کـه دا ښـځه دروغجنه ده نو بينايي يي واخلي او د دې په زمکه کې مرگ ورکړې [۴] حضرت عروه رحمه الله بيان کوي د مرگ نه مخکې هغه ښځه ړنده شوی وه [۵] يوه ورځ مذکوره زمکه کې روانه وه اچانك يوه کنده کي وغورځيده او هم هلته مړه شوه. (بخاری رحمه الله و مسلم رحمه الله)

حل اللغات:- ① شِبْرًا: يوه لويشت (ددې نه مراد معمولی مقدار دي). ② طُوِّقَهُ: په غاړه کښې به ورته واچولي شي (دا زمکه). ③ فَأَعْمِ: أي: اجْعَلْ بَصَرَهَا أَعْمَى: يعنی سترگي ئي ړندې کړې.

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ بِمَعْنَاهُ، [۲] وَأَنَّهُ رَآهَا عَمْيَاءَ تَلْتَمِسُ الْجُدُرَ، تَقُولُ: [۳] أَصَابَتْنِي دَعْوَةُ سَعِيدٍ، [۴] وَأَنَّهَا مَرَّتْ عَلَى بِئْرٍ فِي الدَّارِ الَّتِي خَاصَمَتْهُ فِيهَا، فَوَقَعَتْ فِيهَا، فَكَانَتْ قَبْرَهَا.

ترجمه: [۱] او مسلم رحمه الله يو روايت کې چې حضرت محمد رضي الله عنه ابن زيد ابن عبدالله ابن عمر (تابعي) نه د دې روايت هم معنی منقول دي داسې دي [۲] چې محمد رحمه الله ابن زيد يوه ورځ وليدل چې هغه ښځه ړنده شوی وه او ديو ديوال په سهاره (لاس کړولو سره) روانه وه او وئيل يي [۳] چې ماته د سعيد ابن زيد رضي الله عنه بد دُعا رسيدلي ده [۴] او بيا داسې اوسو چې يوه ورځ هغه هغه کوهي (يعني ژوري کندی) سره تيريدله چې هغه مذکوره زمکه کې واقع ؤ ناڅا په هغه کې ولويده او هغه کوهي د هغې قبر جوړ شو

تسهیلات: قوله: وَادَّعَتْ أَنَّهُ أَخَذَ شَيْئًا مِنْ أَرْضِهَا ..الخ:

حضرت سعيدبن زيد رضي الله عنه يودَ لوئی شان والاصحابی دي. دَعشره مبشره نه دي مذکوره ښځي په هغه باندي دعوی کړي وه چه ده زما زمکه په زوره اخستي ده.

قوله: فَأَعْمِ بَصَرَهَا وَاقْتُلْهَا فِي أَرْضِهَا،

د حضرت سعيد بن زيد رضی الله عنه د غيرو قبليدل: يعنی زه منم چه دا حديث يادولو سره هغه زمکه نه وه اخستي (ليکن دَ ضابطه کاروائی ضروری ده يا گواه وی يا قسم وی) په دې باندې حضرت سعيد بن زيد رضي الله عنه هم زمکه ترك کړه اودغه بد قسمته ښځي ته ئي بد دعا اوکړه دَ کوم نتيجه چه دا راووتله چه هم هغه زمکه دَ هغه ښځي قبرجوړ شو او بغير کفن هغه په دغه تياره کنده کوهی کښې پريوتلوسره مړه شوه

[۵۹۵۴] دلري ځخه د لښکر ښکاريدو کرامت

۵۹۵۵-(۱) [۸] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - أَنَّ عُمَرَ بَعَثَ جَيْشًا [۲] وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ رَجُلًا يُدْعَى سَارِيَةَ، فَبَيْنَمَا عُمَرُ يَخْطُبُ، [۳] فَجَعَلَ يَصِيحُ: يَا سَارِيَ! الْجَبَلَ فَقَدِمَ رَسُولٌ مِنَ الْجَيْشِ [۴] فَقَالَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ لَقِينَا عَدُوَّنَا فَهَزَمُونَا، فَإِذَا بِصَائِحٍ يَصِيحُ: يَا سَارِيَ! الْجَبَلَ. [۵] فَأَسْنَدْنَا ظُهُورَنَا إِلَى الْجَبَلِ، فَهَزَمَهُمُ اللَّهُ - تَعَالَى. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ).

[۱]) اخرجه البيهقي في دلائل النبوة رقم الحديث ۶/ ۳۷۰

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر رضي الله عنه را وی دي چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه (د ایران صوبه همدان جنوب کې واقع مقام نهاوند ته) کوم لښکر لیږلي ؤ ② د هغه دیوي حصي دفوج سپه سالار ساریه نومي یو سړی جوړ کړی ؤ (یوه ورځ) چې فاروق اعظم رضي الله عنه (مسجد نبوی ﷺ کې) خطبه ارشاد فرمائیله (او حاضرینو کې اکابر صحابه حضرت عثمان رضي الله عنه او حضرت علی رضي الله عنه نه علاوه نور صحابه او تابعین هم ؤ) ③ نو هغوی (دوران خطبه کې) اچانك په چغه وئیل شروع کړل چې ساریه! دغره طرف ته لاړ شه (یعني د میدان جنګ موجوده مور چې پریښودو سره دغر لمن ته لاړ شه او غر پُشت بان جوړولو سره نوی مورچه جوړه کړه دي آوریدو سره خلقوته ډیر تعجب اوشو اوبیا څو ورځي وروسته لښکر نه چې یو قاصد راغي ④ او هغه د میدان جنګ حالات آورولو سره اوویل چې امیرالمؤمنین! دښمن خو مونږ راګیر کړی ؤ او مونږ شکست سره مخ کیدونکي ؤ چې اچانك زمونږ په غوږونو کې د یو سړی آواز راغي چې په چغه یي اوویل ساریه! دغره طرف ته لاړ شه ⑤ (دا آواز آوریدو سره) مونږ خپله مور چې پریښوده او غره طرف ته تللو سره غر مي خپل پشت پناه جوړ کړلو او بیا الله تعالی دشمنانو ته شکست ورکړلو. دا روایت بیهقي رحمه الله د لائل النبوة کې نقل کړی دي.

حل اللغات:- ① يُدْعَى: أَيْ: يُسَمَّى: آواز به ورته کولي شو، نوم به ورته اخستلي شو ② سَارِيَةَ: أي سَارِيَةَ ابْنِ زَنِيمٍ: دا یو صحابی دي ③ فَهَزَمُونَا: أَيْ: فَغَلَبُونَا أَوَّلًا: هغوی په مونږ باندي غالب راغلل ④ فَأَسْنَدْنَا: مونږ خپل شاته راوستل (یعنی مونږ غر ته شا کړه نو غر زمونږ پناه جوړ شو)

تسهیلات: قوله: يَاسَارِيَ:

حضرت ساری ته آواز: دَ دغه صحابی نوم ساریه وو مګردلته دَترخیم المنادیٰ په توګه دَهغه نوم یاساری اوونیلې شو

قوله: الْجَبَلَ:

د عمر فاروق رضی الله عنه د فرمان پس منظر: یعنی دَ غرطرف ته شه غردَ شا اړخ ته کړه. دَ فارس په معرکوکښې دَقادسیه معرکه اودَ نهاوند معرکه دَ ډیرو مشهورو معرکونه ده. دَ نهاوند په معرکه کښې دښمن دَ شانه حمله کونکې وو حضرت عمرفاروق رضي الله عنه په خطبه کښې دَ منبرنبوی دپاسه کیناستوسره آواز ورکړو دَ غرطرف ته شا کړه یانی اوفرمائیل دَغرطرف نه خطره ده. خلق په دې بې جوړه کلام باندې حیران شو چه دَ جمعې په خطبه کښې دَدې کلام څه مطلب دې؟ خوچه کله دَهغه ځائی نه خلق راغلل او په میدان جنګ کښې دَآواز اوریدو قصه بیان کړه نوبیاحقیقت مخې ته راغلو

د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دری کرامتونه:

په دې یوه واقعه کښې دَ حضرت عمرفاروق رضي الله عنه څومره کرامات ښکاره شو.

① هغوى دَ نهاوند دَميدان جنګ نقشه دَ زرګونه ميله لرې نه اوليدله.
② دَ مديني نه دَهغوى آواز دومره لرې پورې رسيدل.
③ دا چه دَ جنګ نقشه هغوى دَمديني نه بدله کړه دکوم په برکت چه الله تعالى فتح ورنصيب کړه

[٥٩٥٥] د نبي عليه السلام قبر ته روزانه د اويا زره فرښتو راتلو خبر ورکول

٥٩٥٥-(¹) [٣] [١]وَعَنْ نُبَيْهَةَ بْنِ وَهْبٍ، أَنَّ كَعْبًا دَخَلَ عَلَى عَائِشَةَ، [٢]فَذَكَرُوا رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ كَعْبٌ: [٣]مَا مِنْ يَوْمٍ يَطْلُعُ إِلَّا نَزَلَ سَبْعُونَ أَلْفًا مِنَ الْمَلَائِكَةِ حَتَّى يَحُفُّوا بِقَبْرِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٤]يَضْرِبُونَ بِأَجْنِحَتِهِمْ، وَيُصَلُّونَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٥]حَتَّى إِذَا أَمْسَوْا عَرَجُوا وَهَبَطَ مِثْلُهُمْ فَصَنَعُوا مِثْلَ ذَلِكَ، [٦]حَتَّى إِذَا انْشَقَّتْ عَنْهُ الْأَرْضُ خَرَجَ فِي سَبْعِينَ أَلْفًا مِنَ الْمَلَائِكَةِ يَزِفُّونَهُ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه:[١] او حضرت نبيهه ابن وهب (تابعي رحمه الله) بيان کوي چې يوه ورځ حضرت کعب احبار رضي الله عنه د أم المؤمنين بي بي عائشې رضي الله عنها په خدمت کې حاضر شو [٢]او هر کله چې هغه مجلس کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د بعضې صفاتو او خصوصياتو يا د حضور ﷺ دوصال د حالاتو ذکر وشو [٣]نو حضرت کعب رضي الله عنه اوويل هيڅ ورځ داسې نه تيريږي مګر نمرختو سره اويازره ٧٠٠٠٠ فرښتې د آسمان نه راکښته کيږي او هغه فرښتې د رسول الله صلى الله عليه وسلم قبر شريف باندې راګوزشي [٤]او د قبر د پاسه نه ګرد وغبار صاف کولو دپاره يا انوار قبر نه برکت او قُرب حاصلولو دپاره خپل وزرونه په قبر شريف ووهي او رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې درود شريف اووائي [٥]دا دې پورې چې مابنام شي نو هغه فرښتې آسمان ته لاړې شي او (د هغوئ په شان اويا زره ٧٠٠٠٠) نورې فرښتې راکښته کيږي چې دهغه ورځې واله فرښتو په شان سحر پورې دغه شان کوي (يعنې قبر شريف باندې راخوريږي او په هغه خپل وزرونه وهي او د رُو وايي داسلسله (يعنې هره ورځ سهار مابنام دغه شان د اويازره فرښتو راکښته کيدل به هغه وقته پورې وي [٦]هر کله چې د قيامت په ورځ شپيلئ پُوك وهلې شي او قبر شريف شق شي وچوي او حضور ﷺ د قبر نه راپورته کيږي او اويا زره ٧٠٠٠٠) فرښتې خان سره آخستو سره محبوب جيب ته ورسوي (دارمي رحمه الله)

حل اللغات:- ①يَحُفُّوا: أَيْ: يُحِيطُوا: بېرته وي ②عَرَجُوا: أَيْ: صَعِدُوا: پورته خيجي (يعنې آسمان ته) ③هَبَطَ: أَيْ: نَزَلَ: راکوزيږي (دآسمان نه) ④يَزِفُّونَهُ: أَيْ: يَهْدُونَ الْمَحْبُوبَ إِلَى الْحَبِيبِ: محبوب به خپل حبيب ته رسوي؟

¹) اخرجه الدارمي في السنن رقم الحديث ٩٤

تسهيلات:

قوله: فَقَالَ كَعْبٌ:

كعب الاحبار ته فرښتى د نزول علم: كعب احبار رحمه الله دَ تورات حافظ اودَ يهودولونى عالم وو بيادَ حضورپاك دَ وفات نه پس مسلمان شوې وو لهذا تابعى دې صحابى نه دې كه چرې كعب احبار رحمه الله ته دكشف په ذريعه دَهغه فرښتو پته لګيدلې وه نوداد هغوى كرامت دې اوكه چرې دَ پخوانوآسمانى كتابونو نه معلومه شوې ده نوبيا كرامت نه دې بلكه علم دې دا روايت دكراماتو په باب كښې ذكركولونه معلومه شوه چه كعب رحمه الله ته دَ كشف نه معلومه شوه.

قوله: يَزُفُّونَهُ:

د نبى عليه السلام ميدان حشرته د فرشتو په جلوس كښې تلل: يعنى څنګه چه يومحبوب دَ بل محبوب دَپاره دَ جلوس په شكل كښې بوتلې شى هم دغه شان به فرښتې دَ قيامت په ورځ حضورپاك دَالله تعالى طرف ته دَعزت نه ډك جلوس كښې بوځى شى

[۹]بَابُ وَفَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دَنبى كريم صلى الله عليه وسلم دَوفات بيان

خلاصة الباب:

فيه سبعة عشر حديثاً مشتملة على ثماني مسائل:

① ذكر هجرة النبي ﷺ والصحابة: ۱، ۷۔
② إخبار النبي ﷺ عن موته إشارةً أوصريحًا: ۲، ۳، ۵، ۱۳، ۱۵، ۱۶، ۱۷۔
③ ذكر موت النبي ﷺ : ۴، ۶، ۹۔
④ ذكر دفن النبي ﷺ: ۸۔
⑤ سبب موت النبي ﷺ : ۱۰۔
⑥ ذكر ما وقع عند موت النبي ﷺ : ۱۱۔
⑦ اغتمام الصحابة بموت النبي ﷺ ﷺ : ۲، ۱۲۔
⑧ طلب الملك الخيارفي قبض الروح عن النبي ﷺ : ۱۷۔

يوه ضرورى خبره: دلته دا باب دَعنوان نه بغير منعقد شوې دې صاحب مشكوة كله كله داسې كوى چه دا قسم بلاعنوان باب دَ سابقه باب اندې مضمون باندې مشتمل وى ليكن دلته دې باب ته دَ سابقه باب ذيلى مضمون نه شى وېلې كيدې څكه چه سابقه باب په كرامتونوباندې مشتمل دې اودا باب وفات النبى صلى الله عليه وسلم احاديثو باندې مشتمل دې

لهذا ټولو شارحینو ونیلی دی چه دَدې بلاعنوان باب عنوان یقینا هم دغه دې. باب وفات النبی ﷺ. دې نه پس هم یوباب بلا عنوان راځی لیکن دَهغې عنوان پخپله احادیثوته په کتلوسره په پوهه کښې راځی چه دَدې باب عنوان ترکة النبی ﷺ دې لهذا هغه باب دې مذکوره باب سره بالکل ملحق اومناسب دې دَهغې ټول احادیث ترکه سره متعلق دی. هغه باب دَ سابقه باب دَپاره په توګه دَ ذیل دې

د نبی علیه السلام د وفات واقعه: ۲۸صفر ۱۱هجری کښې دَ حضورك پاك دَبیمارئی شروع اوشوه اوخوارلس ورځې بیمار پاتې کیدوسره ۱۲ربیع الاول دَ دوشنبه په ورځ دَحضورپاك وصال اوشو په دې تاریخ کښې څه اختلاف یا تردد نشته دې په دې وجه دَ ربیع الاول نوم وړاندې خلقوکښې په باره وفات مشهورروو دَحضورپاك دَ ولادت باسعادت تاریخ ۸ربیع الاول دې بعضې اهل تحقیق ۹ربیع الاول خودلې دې ۹ربیع الاول دَ تاریخ سند دَ مضبوطیا په لحاظ سره اګرچه راجح دې لیکن دَ عوام الناس عمل ۱۲ربیع الاول متعین کړې دې کُتی په تاریخی لحاظ سره دا تاریخ کمزورې دې

د نبی کریم علیه السلام د پیدائش اووفات د تاریخ په یووالی کښې حکمت: مګر که وفات اوولادت هم په یو تاریخ کښې چرې اوشی نو په دې سره امت مسلمه ته کیدې شی دا پیغام ورکول مقصودوی چه نه دا ورځ دَ ماتم په توګه یادوی اومه دَ جشن په توګه څکه چه کوم سرې دَ حضورپاك په وفات باندې ماتم کول غواړی هغه ته به ونیلی شی ماتم مه کوه په دې ورځ خودَ حضورپاك دَ ولادت خوشحالی هم ده اوکوم سړې چه جشن کول غواړی هغه ته به ونیلی شی چه جشن مه کوه څکه چه په دې ورځ خودَحضورپاك انتقال هم شوې دې بهرحال دَ بیمارئی په دې ورځو کښې حضورپاك پخپله مونځونه نه دی ورکړی بلکه حضرت ابوبکرصدیق ﷺ نی دَ امامت دَپاره مقررکړې. دَ ۱۷ مونځونوامامت حضرت ابوبکرصدیق ﷺ کړې دې

دَ وفات نه وړاندې دَحضورپاك دَغزواتو په سلسله کښې آخری لښکر جیش اسامه روان کړې اوپه خپل لاس مبارك نی دَهغوی جنګی جهنډا ترلې دَامت دَپاره دَحضورپاك آخری جمله دَ مونځ متعلق داوه "الصلوة وماملکت ایمانکم" یعنی دَمونځ پابندی کوئی اوماتحتوباندې ظلم مه کوئی دې نه پس حضورپاك خپل رب سره مناجات اوکړه وئی فرمائیل "اللهم الرفیق الاعلی" دادَ حضورپاك دَ ژبې مبارکې نه وتونکې دَ ژوند آخری کلمه ده

د نبی کریم صلی الله علیه وسلم آخری وصیتونه:

دَحضورپاك په وصیتونو کښې آخری درې وصیتونه دا وو

① دَ جزیره عرب نه یهودیان اوباسئی

② جیش اسامه روان کړئی.

④ وفد هم په دغه اعزاز اواکرام سره رخصت کوئی څنګه اکرام چه زه کوم.

د نبی علیه السلام د تجهیز اوتکفین مراسم: حضورپاك په دریو تاریزو سپینو کپړو کښې کفن کولوسره دفن کړې شو دَ پیراونهې دوه ورځې دَ جنازې کولواهتمام اوکړې شو اودَ چارشنبې په شپه قبرکښې کوز کړې شو دَحضورپاك قبرمبارك دَ لحدپه شکل کښې وو دَ عائشه بی بی په حجره کښې کوم ځائی چه وفات شو هم هغه ځائی کښې دفن کړې شو دَحضورپاك دَ جنازې دَپاره یوامام مقررکړې شوې نه وو بلکه هغوی پخپله امام وو اوخلق به راتلل او انفرادی توګه به نبی جنازه کوله اوتلل به. دَټولو نه اول فرښتې راغلې بیاانسانانوجنازه اوکړه جناتو هم جنازه اوکړه اوبیاتدفین اوشو

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۹۵٦] دا نصارو د نبی علیه السلام په هجرت باندې خوشحالی

۵۹۵٦-() [۱] عَنِ الْبَرَاءِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] أَوَّلُ مَنْ قَدِمَ عَلَيْنَا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ وَابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ، فَجَعَلَا يُقْرِآنِنَا الْقُرْآنَ، [۳] ثُمَّ جَاءَ عَمَّارٌ وَبِلَالٌ وَسَعْدٌ، ثُمَّ جَاءَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فِي عِشْرِينَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۴] ثُمَّ جَاءَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَمَا رَأَيْتُ أَهْلَ الْمَدِينَةِ فَرِحُوا بِشَيْءٍ، فَرَحَهُمْ بِهِ،

ترجمه: [۱] حضرت براء ابن عازب رضی الله عنه (چې د مدینې د انصارو نه مشهور ترین صحابی دې) وایې [۲] د نبوی صلی الله علیه وسلم د هجرت نه مخکې، د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه ؤ کې چې کوم حضرات د ټولو نه مخکې مونږ ته (یعنې مدینې ته) راغلل هغه حضرت مصعب ابن عمیر رضی الله عنه او حضرت ابن اُم مکتوم رضی الله عنه ؤ دې دواړو حضراتو راتلو سره مونږ ته د قرآن تعلیم راکول شروع کړی ؤو [۳] بیا حضرت عمار ابن یاسر رضی الله عنه حضرت بلال ابن رباح رضی الله عنه او حضرت سعد ابن ابی وقاص رضی الله عنه راغلل اوبیا حضرت عمر ابن خطاب رضی الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم شل صحابه رضی الله عنهم سره تشریف راوړی [۴] دوئ نه وروسته نبی کریم صلی الله علیه وسلم د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه سره تشریف راوړی حقیقت دادې په هغه ورځ چې د اهل مدینه نصیب ویښ شوی ؤ مامدینی واله د حضور صلی الله علیه وسلم په تشریف آوري څومره خوشحاله لیدلي ؤ دومره لویه خوشحالی د څه لوی نه لوی خوشحالی په موقع هم ورته نه وه حاصله شوی

[۱] حَتَّى رَأَيْتُ الْوَلَائِدَ وَالصِّبْيَانَ يَقُولُونَ: هَذَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] قَدْ جَاءَ فَمَا جَاءَ حَتَّى قَرَأْتُ: ﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى﴾ [الأعلى: ۱] فِي سُوَرٍ مِثْلِهَا مِنَ الْمُفَصَّلِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] مادې پورې ولیدل چې وړو وړو هلکانو او جینکو د ډیرې خوشحالی نه دانعرې

[1] اخرجه البخاری فی کتاب تفسیر القرآن/باب سورة سبح اسم ربک الأعلی (رقم-۴۹۴۱) واحمد فی المسند: ۴/۲۸۴

وهلي دا د الله ﷻ رسول دي چې زمونږ کلي ته يې تشريف راوړی دی [۲] او ما د حضور ﷺ د تشريف اوړی نه مخکې د مفصل (يعني اوساط مفصل) هم مثل شورتونو نه سورة سبح اسم ربك الاعلى زده کړی ؤ (يا داچې د اوساط مفصل نورو هم مثل شورتونو سره سره سورة سبح اسم ربك الاعلى مې زده کړی ؤ. (بخاری رحمه الله)

حل اللغات:- ① الْوَلَائِدَ: دَ وَلِيدَةٍ جمع ده، وَهِيَ الْجَارِيَةُ الصَّغِيرَةُ: جينکو ته وائی.

تسهيلات: نوټ: د ګرانو ټکو تشريح په حل اللغات کښې شوې ده او باقی د حديث مفهوم د حديث د تشريحی ترجمې څخه واضح دی.

[۵۹۵۷] د صديق اکبر رضی الله عنه فراست

۵۹۵۷-( ) [۲] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ: [۳] (« إِنَّ عَبْدًا خَيَّرَهُ اللّٰهُ بَيْنَ أَنْ يُؤْتِيَهُ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا مَا شَاءَ، وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ، فَاخْتَارَ مَا عِنْدَهُ). [۴] فَبَكَى أَبُو بَكْرٍ قَالَ: فَدَيْنَاكَ بِآبَائِنَا وَأُمَّهَاتِنَا، فَعَجِبْنَا لَهُ،

ترجمه: [۱] او حضرت ابوسعيد خدری رضی الله عنه نه روايت دی رسول الله صلی الله عليه وسلم [۲] د وفات د مرض په ورځو کې يوه ورځ يا څرنګه چې يو روايت کې وضاحت هم دی دوفات نه پنځه ۵ ورځې مخکې منبر باندې تشريف راوړی او مونږ ته يې خطاب کولو سره وفرمايل [۳] الله تعالی يو بنده ته دوو ۲ څيزونو په منځ کې اختيار ورکړی دی که هغه د دې دنيا زيب وزينت اختيار کړی يا هغه شی اختيار کړی چې د الله تعالی سره دی (يعني د آخرت نعمتونه او اجر او ثواب څکه چې اصل او ابدی نعمتونه خو د آخرت دی) [۴] حضرت ابوبکر رضی الله عنه د حضور ﷺ دا ارشاد آوريدو سره يو دم په ژړا شو او عرض يې وکړی يا رسول الله! که زمونږ نذرانه څه په کار راتلی شي مونږ او زمونږ مور او پلار دې په تاسو قربان وي نو مونږ خلقو (يعني هلته موجود صحابه رضی الله عنهم) ته په حضرت ابوبکر رضی الله عنه سخت تعجب وشو (چې آخر په دې موقع د خانونو د نذرانې پيښ کولو باعث څه شی دی)

[۱] فَقَالَ النَّاسُ: انْظُرُوا إِلَى هَذَا الشَّيْخِ يُخْبِرُ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنْ عَبْدٍ [۲] خَيَّرَهُ اللّٰهُ بَيْنَ أَنْ يُؤْتِيَهُ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ، [۳] وَهُوَ يَقُولُ: فَدَيْنَاكَ بِآبَائِنَا وَأُمَّهَاتِنَا! ! [۴] فَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ هُوَ الْمُخَيَّرَ، وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ أَعْلَمَنَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] نيې خلقو خپلو کې يو بل ته داهم اوويل لږ دې مشر سړی ته وګورئ چې د دومره پوخ عمر او عقل لرلو باوجود څرنګه بې موقع خبره کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم خو د يو بنده حال بيانوي [۲] چې الله تعالی هغه ته د دوه څيزونو اختيار ورکړی دی

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب هجرة النبی صلی الله علیه وسلم واصحابه إلی المدينة (رقم-۳۹۰۴) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل أبی بكر الصديق رضی الله عنه (رقم-۲ - (۲۳۸۲)

که د دنيا بهار اختيار کړی که دالله تعالى سره نعمتونه [۳] ودامشر سړی وايي چې يا رسول الله ! مونږ او زمونږ مور او پلار دي په تاسو قربان وي [۴] ليکن وروسته مونږ باندې داسې حال ښکاره شو چې، کوم بنده ته اختيار ورکړی شوی ؤ هغه خپله رسول الله صلى الله عليه وسلم ؤ او ديو بنده نه د حضور ﷺ مراد خپل ذات مبارك ؤ بلاشبه حضرت ابوبكر ﷛ زمونږ ټولو خلقو نه زيات داناؤ (هغوی شروع کې دا راز او پيژندلو چې کوم بنده ته د اختيار ورکولو ذکر کيږي هغه خپله حضور ﷺ دي) (بخاری مسلم)

حل اللغات:- ② زَهْرَةِ: أَيْ: بَهْجَتِهَا وَحُسْنِهَا: ددنيا زيب اوزينت او ښائست ③ فَدَيْنَاكَ: مونږ قربان کوو په تا باندې

تسهيلات: قوله: فَبَكَى أَبُوبَكْرٍ قَالَ: فَدَيْنَاكَ بِآبَائِنَا وَأُمَّهَاتِنَا،

د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د ژړا وجه: دَ سورت نصر په نازليدوباندې رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلوچه الله تعالى دَيوبنده په دنياکښې دَ پاتې کيدو يا اوچتيدو اختيار ورکړې دې داحضوړياك دَخپل ځان متعلق فرمائيل چه حضوړياك په دعوتی مشن جزيرهٔ عرب کښې دَ پوره کيدو مرحلې ته اورسيدو اوس هغه په زمکه باندې دَ باقی پاتې کيدو په ځائې آسمانونوته اوچتول پکاردی دې دَپاره چه رفيق اعلى سره ملاقات اوشی دا اشاره او دقيق اوعميق علم باندې صرف ابوبکرصديق ﷛ پوهه شو لهذا په ژړا شو په دې سره صحابه کرامو ﷡ ته معلومه شوه چه په دوی کښې صديق اکبر ﷛ دَ ټولو نه زيات علم والا دې

[۵۹۵۸] د نبی عليه السلام دآخری مونځ

۵۹۵۸-(۱) [۳] [۱] وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «صَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ -صلى الله عليه وسلم- عَلَى قَتْلَى أُحُدٍ بَعْدَ ثَمَانِ سِنِينَ، [۳] كَالْمُوَدِّعِ لِلْأَحْيَاءِ وَالْأَمْوَاتِ، [۴] ثُمَّ طَلَعَ الْمِنْبَرَ فَقَالَ: [۵] (إِنِّي بَيْنَ أَيْدِيكُمْ فَرَطٌ، [۶] وَأَنَا عَلَيْكُمْ شَهِيدٌ، [۷] وَإِنَّ مَوْعِدَكُمُ الْحَوْضُ [۸] وَإِنِّي لَأَنْظُرُ إِلَيْهِ وَأَنَا فِي مَقَامِي هَذَا،

ترجمه: [۱] او حضرت عقبه ابن عامر ﷛ وايي [۲] چې رسول الله ﷺ د اُحد شهيدانو باندې دهغوی دتدفين نه اته ۸ کاله وروسته مونځ وکړو [۳] ديو داسې سړی په شان چې ژوندو اومړو نه رخصت کيږي [۴] بيا منبرته ختو سره مونږ ته خطاب کولو سره وي فرمايل [۵] زه ستاسو مخکې ستاسو امير منزل يم [۶] زه ستاسو شاهد يم [۷] ستاسو سره کړی وعده پوره کولو ځاي حوض کوثر دي او يقين وکړی [۸] زه داوقت هم خپل منبر باندې ناست حوض کوثر وينم

حل اللغات:- ① كَالْمُوَدِّعِ: په شان دهغه کس چه رخصتی اخلی، ② فَرَطٌ: دا فَعَلٌ په معنی د فَاعِل دې، ميرمنزل يعنی د راتلونکی لښکر دپاره مخکښې نه د سامان انتظام کونکې.

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب غزوة أحد (رقم-۴۰۴۲) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب إثبات حوض نبينا صلى الله عليه وسلم وصفاته (رقم-۳۰ - (۲۲۹۶)

[۱] وَإِنِّي قَدْ أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِ الْأَرْضِ، [۲] وَإِنِّي لَسْتُ أَخْشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِي، [۳] وَلٰكِنِّي أَخْشَى عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا أَنْ تَنَافَسُوا فِيهَا» . [۴] وَزَادَ بَعْضُهُمْ: («فَتَقْتَتِلُوا، فَتَهْلِكُوا [۵] كَمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ») . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] اودي كې څه شك شبه نشته چې ماته دزمكې دخزانو كلياني راكړى شوى دي [۲] وزه دي خبري نه خونه ويريږم چې تاسو به ز ما نه وروسته كفر اوشرك اختيار كړئ [۳] البته ما سره داويره ضرور ده چې دُنيا كې به ستاسو دلچسپى زياته شي [۴] بعضې رواياتو كې دلته دا الفاظ هم نقل كړى دي اودنيا كې ستاسو دلچسپى دحد نه زياتيدو نتيجه به ـ وي چې تاسو به (دملك و دولت او حكومت او اقتدار آخستوكې) ديو بل قتلول شروع كړى اوبيا به ستاسو خلق هم داسې دهلاكت او تباهى ښكار شي [۵] څرنګه چې مخكنى خلق هلاك او تباه شوى و. (بخارى رحمه الله ومسلم رحمه الله)

حل اللغات: - [۳] تَنَافَسُوا: أَيْ تَرْغَبُوا: چه تاسو به دلچسپى اومينه محبت اولرئ.

تسهيلات:

قوله: صَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ عَلٰى قَتْلٰى أُحُدٍ بَعْدَ ثَمَانِ سِنِيْنَ،

د دري ورځو څخه پس په قبرد جنازې د مونځ كولو حكم: دَ تدفين نه پس دَ دريو ورځونه زيات تيريدونه پس په يوقبرباندې دَ جنازه مونځ نه كيږى بل چه دَ چاجنازه شوې وى دَهغه په قبرباندې هم جنازه نه كيږى. دلته چه كوم څه شوى دى دَ حضورپاك دَ خصوصيات نه دى. بعضې عالمانو "صلى" په معنى دَدعااخستې دې نوبيا خوڅه خبره نشته.

قوله: كَالْمُوَدِّعِ لِلْأَحْيَاءِ وَالْأَمْوَاتِ، كَالْمُوَدِّعِ:

د مړو رخصت كولو مطلب: ژوندى رخصت كول خو واضح دى اودَمړو دَ رخصت كولومطلب دادې چه دَمړو په قبرونوباندې راتلل اودَهغوى دَپاره دعاګانې كولودا سلسله اوس ختمه شوه لكه چه هغوى دا تول رخصت كړل

قوله: إِنِّي بَيْنَ أَيْدِيكُمْ فَرَطٌ،

د فرط لغوى تحقيق: هغه سړى ته وائى چه دَ يوراتلونكى كس دَپاره دَ اول نه دَخانى اوسامان انتظام اوكړى دلته مير منزل يعنى دَ لښكرنه وړاندې تلونكى اوانتظام كونكې سړې مراد دې حضورپاك دپوره امت دَپاره په توګه دَ شفيع المذنبين مخكښې تلې دې

قوله: وَأَنَا عَلَيْكُمْ شَهِيدٌ، وَإِنَّ مَوْعِدَكُمُ الْحَوْضُ وَإِنِّي لَأَنْظُرُ إِلَيْهِ وَأَنَا فِي مَقَامِي هٰذَا، فَرَطٌ:

په حديث كښې دشهيد مفهوم: دَشهيد مطلب دادې چې امت كله په پخوانوامتونو باندې ګواهى وركوى نوهغه خلق به جرح كوى او وائى به چه زمونږ په زمانه كښې خوداخلق نه وو په مونږ باندې دَدوى ګواهى غلطه ده. دَ دې جرح دتزكيه دَپاره به حضورپاك ګواهى

ورکوی چه زما امت صحیح ونیلی دی لکه چه قرآن کښې دی ﴿لِتَكُونُوا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا﴾ که چرې دَ شهید معنی حاضر اوناظر وی نو بیاخو دا امت دَخپل نبی نه زیات حاضر اوناظر شو خکه چه امت خو په ټولو انسانانو باندې ګواه دې او نبی مکرم ﷺ صرف په خپل امت باندې ګواه دې

قوله: وَإِنِّي قَدْ أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِ الْأَرْضِ،

دخزانو څخه مراد: یعنی دَدنیاخزانې به زما امت ته ملاؤ شی خکه چه دوی به جهاد کوی نوخزانې به ملاویږی اومال غنیمت به ورته په لاس راځی.

[۵۹۵۹] د نبی علی علیه السلام دژوند آخري لمحات

۵۹۵۹-()[۲] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- قَالَتْ: [۲] «إِنَّ مِنْ نِعَمِ اللّٰهِ عَلَيَّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- تُوُفِّيَ فِي بَيْتِي وَفِي يَوْمِي وَبَيْنَ سَحْرِي وَنَحْرِي، [۳] وَإِنَّ اللّٰهَ جَمَعَ بَيْنَ رِيقِي وَرِيقِهِ عِنْدَ مَوْتِهِ، [۴] دَخَلَ عَلَيَّ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ وَبِيَدِهِ سِوَاكٌ وَأَنَا مُسْنِدَةٌ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۵] فَرَأَيْتُهُ يَنْظُرُ إِلَيْهِ، وَعَرَفْتُ أَنَّهُ يُحِبُّ السِّوَاكَ،

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه ﷞ وايي [۲] الله تعالى چې خپلو کومو انعاماتو سره زه خصوصی طور سره ونوازلم هغه کې يو داهم دي چې رسول اللهﷺ زما کور کې او زما دنمبر په ورځ وفات شو، حضور ﷺ زما دسيني او اوږي په منځ کې خپل خان حق تعالى ته وسپارى [۳] او الله تعالى د حضور ﷺ دوفات په وخت زما او دحضور ﷺ لعاب دهن (د خولي ناړی) جمع کړی وي [۴] د هغه صورت داسوی ؤ چې هغه آخري لمحاتو کې زما عزيز ورور عبدالرحمن ابن ابي بکر ﷛ چې ماته راغي نو د هغه لاس کې مسواك ؤ او رسول الله صلى الله عليه وسلم زما سيني سره ځنګ لګولي ناست ؤو [۵] ما وليدل چې د حضور ﷺ نظر بار بار عبدالرحمن طرف ته يا د هغه دمسواك طرفته پورته کيدي زه په دي خبره پوهيدم چې حضور ﷺ به (عام طور سره يا ذائقي د تبديلئ دپاره خاص طور سره) مسواك ډير خوښوي

حل اللغات:- ① سَحْرِي: أي الصَّدْرُ: سينه (د خيتې نه پورته اوسيني نه لاندې حصه مراد ده)، ② نَحْرِي: هُوَمَوْضِعُ الْقِلَادَةِ مِنْ أَعْلَى الصَّدْرِ: د سيني نه پورته په کوم ځائې چه أميل رازوړند وی هغې ته وائی ③ رِيقِي: أي مَاءُ الْفَمِ: د خولې اوبه يعنی لاړې ④ مُسْنِدَةٌ: تکيه.

[۱] فَقُلْتُ: آخُذُهُ لَكَ؟ فَأَشَارَ بِرَأْسِهِ أَنْ نَعَمْ [۲] فَتَنَاوَلْتُهُ، فَاشْتَدَّ عَلَيْهِ، وَقُلْتُ: أُلَيِّنُهُ لَكَ؟ [۳] فَأَشَارَ بِرَأْسِهِ أَنْ نَعَمْ، فَلَيَّنْتُهُ، فَأَمَرَّهُ [۴] وَبَيْنَ يَدَيْهِ رَكْوَةٌ فِيهَا مَاءٌ، فَجَعَلَ يُدْخِلُ يَدَيْهِ فِي الْمَاءِ فَيَمْسَحُ بِهِمَا وَجْهَهُ، [۵] وَيَقُولُ: (لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ)، ثُمَّ نَصَبَ يَدَيْهِ، [۶] فَجَعَلَ يَقُولُ: (فِي الرَّفِيقِ الْأَعْلَى). حَتَّى قُبِضَ وَمَالَتْ يَدُهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب مرض النبی صلی الله علیه وسلم ووفاته (رقم-٤٤٤٩) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب فی فضل عائشة رضی الله تعالی عنها (رقم-٨٤ - (٢٤٤٣) واحمد فی المسند: ٤٨/٦

ترجمه: [۱] څکه ماتري پوښتنه وکړه چې آيا عبدالرحمٰن نه دا مسواك ستاسو دپاره واخلم حضور ﷺ د سر مبارك په اشاره سره يې وښودل چې هو څيني راوايې خله [۲] ما د عبدالرحمٰن نه مسواك آخستوسره حضور ﷺ ته ورکړی حضور ﷺ وهل وغوښتل د هغه د سخت کيدو په وجه دشواری يې محسوس کړه ماعرض وکړی آيا ستاسو آسانی دپاره دامسواك خپلو غاښونو سره نرم (پوست) [۳] کرم حضور ﷺ د سر مبارك په اشاره سره يې اجازت راکړه نو ما مسواك نرم کړی او حضور ﷺ هغه مسواك خپلو غاښونو مبارکو باندې راتيروی [۴] بالکل آخري لمحات داسې تير شو چې هغه وقت) دحضور ﷺ مخې ته د اوبو يو لوښي ايښودل شوی ؤ هغه ابو کې به حضور ﷺ خپل دواړه لاسونه مبارك اچول او لوندولو سره به يې هغه په خپل مخ مبارك راتير ول [۵] او فرمايل به يې لااله الاالله د مرګ په وخت سختي وي بيا حضور ﷺ ددُعا دپاره يا آسمان طرف ته اشاره کولو دپاره لاس مبارك يې پورته کړي [۶] او دا ونيل يې شروع کړه اې الله! مارفيق اعلیٰ کې شامل کړی تر دې حالـه چې روح مبارك يې پرواز وکړي او دحضور ﷺ لاس مبارك خکته راکوزسو (بخاري رحمه الله)

حل اللغات:- ⑤ أُلَيِّنُهُ: أَيْ: لَيِّنَتُ السِّوَاكَ: آيا زه دا مسواک ستاسو دپاره نرم کرم ⑥ فَأَمَرَّهُ: دا د إمْرَار نه دې، په خله کښې مسواك تاؤ راتاؤ کولو ته وائی ⑦ رَكْوَةٌ: أَيْ: ظَرْفٌ: د اوبو لوښي، پيالۍ، ⑧ سَكَرَاتِ: د سَكْرَة جمع ده، أَيْ: شَدَائِدَ: سختی، تکليفونه، ⑨ الرَّفِيقِ الْأَعْلَى: اې الله، مارفيق اعلیٰ کې شامل کړی، رفيق د لارې ملګری ته وائی (د رفيق اعلیٰ نه مراد هغه ځائې دې چرته چه انبياء کرام اوسيږی يعنی أَعْلَى عِلِّيِّينَ، يا ددې نه مراد مقام محمود دې، يا ددې نه مراد جنت دې. ⑩ مَالَتْ: راکوز شو (لاس د نبی عليه السلام)

تسهيلات:

قوله: إِنَّ مِنْ نِعَمِ اللّٰهِ عَلَيَّ،

د عائشې رضی الله عنها په څلورو خصوصياتو فخر کول:

① د نبی عليه السلام وفات د دوی په حجره کښې شوې وو.

② د نبی عليه السلام وفات د دوی په نوبت کښې شوې وو.

③ د نبی عليه السلام وفات د دوی په غيږ کښې شوې وو

④ د نبی عليه السلام دخولې لياړې د دوی د لياړو سره يوځائې شوې وو.

[۵۹۶۰] پیغمبرانو ته د مرګ او ژوند اختیار ملاویدل

۵۹۶۰-() [ه] ①وَعَنْهَا، قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: ②«مَا مِنْ نَبِيٍّ يَمْرَضُ إِلَّا خُيِّرَ بَيْنَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ». ③وَكَانَ فِي شَكْوَاهُ الَّذِي قُبِضَ أَخَذَتْهُ بُحَّةٌ شَدِيدَةٌ، فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: ④مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ، ⑤فَعَلِمْتُ أَنَّهُ خُيِّرَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① بي بي عائشه رضي الله عنها وايي ما د رسول الله ﷺ نه دا واوريدل ② هر نبي ته د هغه په مرض الموت کې د دنيا او آخرت په منځ کې اختيار ورکول کيږي که هغه څه موده دُنيا کې ژوند اختيار کړي که د عالم آخرت سفر اختيار کړي ليکن هميشه داسې وشو چې هر نبي د دُنيا ژوند رد ولو سره الله رب العزت ته تلل اختيار کړل ځکه چې څه الله سره دي اصل نعمت هغه دي او هغه ته دوام او قرار دي ③ بيا چې حضور ﷺ په مرض الموت مبتلا شو او هغه مرحله راغله چې آواز يې سخت درون شو ځرنګه چې د مرګ په وخت ساه يا بلغم حلق کې ومښلي او په دې وجه آواز کې خرهاري او درون والی پيدا شي نو هغه وخت ما واوريدل چې د حضور ﷺ په ژبه مبارکه دا الفاظ ؤو ④ الٰهي! ما هغه په خلقوکي شامل کړې چې تا پرې فضل او انعام کړی دي چې هغه انبياء صديقين شهداء او صالحين دي (داخلق ښه رفيق دي) دي دُعائيه الفاظو نه ⑤ زه پوهه شوم چې حضور ﷺ ته (دُنياوی ژوند او عالم آخرت نه د يو منتخب کولو) اختيار ورکړی شويدي، او حضور ﷺ دنياوی ژوند پريښودلو سره عالم آخرت منتخب کړی دی . (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① شَكْوَاهُ: أَيْ: فِي مَرَضِهِ: بيماري د نبي عليه السلام ② بُحَّةٌ: هِيَ شَيْءٌ يَعْرِضُ فِي الْحَلْقِ فَيَتَغَيَّرُ لَهُ الصَّوْتُ فَيَغْلُظُ: په حلق کښې توخي شان پيدا کيدل چه آواز ورسره پيړ اوبدل شي

تسهيلات:

قوله: إِلَّا خُيِّرَ بَيْنَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ،

پیغمبرانو څخه د روح قبض کولو اجازت غوښتل: په دنيا کښې چه څومره هم انسانان راغلي دي دَمرګ په وخت فرښته تول رانښکلوسره اوري او هيڅ مهلت نه شي ورکولې صرف انبياء کرام عليهم السلام ته دا اعزاز حاصل دې چه دَمرګ نه مخکښې فرښته دَ الله تعالى پيغام راوړي چه دَ نبي څه خيال دې زما طرف ته راځي که په دنيا کښې پاتې کيدل غواړي؟ ټولو پيغمبرانو دَ الله تعالى طرف ته تلل اختيار کړي دي. دا اجازت صرف يو اعزاز او اکرام دې هم دغه معامله حضورپاك سره هم اوشوه لکه څنګه چه په راتلونکي حديث کښې راځي.

[1] اخرجه البخاري في كتاب تفسير القرآن/باب {فأولئك مع الذين أنعم الله عليهم من النبيين} [النساء: ۶۹] (رقم-۴۵۸۶) ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب في فضل عائشة رضى الله تعالى عنها (رقم-۸۶ - (۲۴۴۴)

[۵۹۶۱] د نبی علیه السلام په وفات د فاطمه رضي الله عنها غم او حزن

۵۹۶۱-(۱) [۲] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «لَمَّا ثَقُلَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - جَعَلَ يَتَغَشَّاهُ الْكَرْبُ. [۳] فَقَالَتْ فَاطِمَةُ: وَاكَرْبَ أَبَاهُ فَقَالَ لَهَا: [۴] (لَيْسَ عَلَى أَبِيكِ كَرْبٌ بَعْدَ الْيَوْمِ). فَلَمَّا مَاتَ قَالَتْ: [۵] يَا أَبَتَاهُ! أَجَابَ رَبًّا دَعَاهُ، يَا أَبَتَاهُ! مَنْ جَنَّةُ الْفِرْدَوْسِ مَأْوَاهُ، يَا أَبَتَاهُ! إِلَى جِبْرِيلَ نَنْعَاهُ. [۶] فَلَمَّا دُفِنَ قَالَتْ فَاطِمَةُ: يَا أَنَسُ! أَطَابَتْ أَنْفُسُكُمْ أَنْ تَحْثُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - التُّرَابَ»؟ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه بیان کوی [۲] دوفات په ورخ چې نبي کریم ﷺ حالت ډیر بدل شو او دمرض د سختی نه به هر ګړی بیهوشي راتله [۳] نو بي بي فاطمي رضي الله عنها به (بي تابه کیدو سره) دا وئیل های زما بابا جان څرنګه سختي نیولي دي [۴] حضور ﷺ چې دا واوریدل نو هغه مخاطب کولو سره ورته یي وفرمایل د نن ورځي نه وروسته ستا بابا جان ته هیڅ سختي نشته مطلب داؤ چې سختي د مرض د شدت دوجي نه ده او د دې سختي احساس او اظهار جسم سره د تعلق لرلو په سبب دي لیکن د نن ورځي نه وروسته هر کله چې دي جسم سره تعلق ختم شي او صرف روحاني او معنوي علائق پاتي شي نو بیا به سکون او سکون وي [۵] او بیا چې حضور ﷺ وفات شو نو د بي بي فاطمي رضي الله عنها د ژبي نه دا الفاظ ووتل اې زما بابا جانه ! الله ﷻ ته خان ته وبللي او تاسو هغه دعوت قبلولو سره خپل پروردګار ته لاړی اې زما بابا جانه ! اې هغه مقدس ذات ! چې د هغه مستقر جنت الفردوس دي اې زما بابا جانه ! مونږ ستاسو دوفات خبر جبرایل علیه السلام ته رسو [۶] وروسته چې حضور ﷺ د فن کړل شو نو بي بي فاطمي رضي الله عنها بي اختیاره کیدو سره اوویل اې انس رضي الله عنه (او اې د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابي) تاسو خلقو دا څرنګه برداشت کړه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې مو خاوري واچولي (بخاري رحمه الله)

حل اللغات:- ① يَتَغَشَّاهُ: أَيْ: يَتَغَطَّى: دَ پټولو په معنی کښې دي (دلته بې هوشه کیدل مراد دی) ② الْكَرْبُ: کرب ناقابل برداشت سخت غم ته وائي. ③ وَاكَرْبَ أَبَاهُ: هایې زما بابا جان څرنګه سختي نیولي دي ④ أَجَابَ رَبًّا دَعَاهُ: اې زما بابا جانه ! الله ﷻ ته خان ته وبللي او تاسو هغه دعوت قبلولو سره خپل پروردګار ته لاړئ. ⑤ مَأْوَاهُ: مستقر او خاني د اوسیدو. ⑥ نَنْعَاهُ: أَيْ: نُظْهِرُ خَبَرَ مَوْتِهِ إِلَيْهِ: مونږ دوفات خبر ورکوو جبرنیل علیه السلام ته ⑦ تَحْثُوا: أَيْ: تَكُبُّوا: تاسو خاوري وارولي.

تسهیلات:

قوله: يَتَغَشَّاهُ الْكَرْبُ:

په هري موالعو کښي دفاطمي اظهار غم: په حضور پاک به چه کله دَ مرض دَ سختوالی نه

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب مرض النبی صلی الله علیه وسلم ووفاته (رقم-۴۴۶۲) ومالک فی الموطا کتاب الجنائز/باب جامع الجنائز (رقم-۴۶) واحمد فی المسند:۱۷۶/۶

رچيدل شروع شو نو فاطمة الزهراء رضي الله عنها به فرياد كولو او فرمائيل به ئې "واكرب اباه" افسوس زما دَ باباجان تكليفه. حضرت فاطمه په دريو مراحلو كښې حضورپاك سره په جدا جدا انداز سره دَ غم اظهار فرمائيلې دې.

① و دَ بيمارئې په مرحله كښې

② دَ وفات په مرحله كښې

③ تدفين په مرحله كښې دَ ډيرزيات غم په انداز كښې اظهار فرمائيلې "لىس على ابيك" حضورپاك حضرت فاطمه رضي الله عنها ته تسلي وركړه چه دَنن نه پس به ستا په پلار باندې هيڅ مصيبت نه راځي دا بدنى بوج دې چه كله ختم شو نودَ هميشه دَپاره به ختم شي

قوله: أَطَابَتْ أَنْفُسُكُمْ:

دنبى عليه السلام د قبر سره دغم اشعار وئيل: يعني اې انس رضي الله عنه ستاسو زړونو دا څنګه برداشت كړه چه په خپل لاسونو باندې مو دَ حضرت په قبر باندې خاورې واچولې. حضرت فاطمه رضي الله عنها دَ حضورپاك دَتدفين نه پس قبر له لاړه او په ژړا ژړا ئې دا شعرونه اوونيل

مأذا على من شم تربة احمد	ان لا يشم مدي الزمان غواليا
صبت على مصائب لواخها	صبت على الايام صرن لياليا

وئيلى شى چه دَ حضرت فاطمه رضي الله عنها په دې سخت غم كښې دَ حضورپاك دَ تره خوئې ابوسفيان بن حارث دَتسلئى په توګه حضرت فاطمه رضي الله عنها سره داسې تعزيت اوكړو

افاطم ان جزعت فذاك عذر	وان لم تجزعي ذاك السبيل
فقبر ابيك سيد كل قبر	وفيه سيد الناس الرسول

يوعاشق رسول شاعر په روضۀ اقدس باندې حاضرى اوكړه نوحضورپاك ئې مخاطب كړو ونې وئيل، ترننه پورې دا اشعار دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم په روضه مباركه باندې ليكلى شوى دى سره دَترجمه اوګورئې:

يا خير من دفنت بالقاع اعظمه	فطاب من طيبهن القاع والاكم

ترجمه: اې رسول الله صلى الله عليه وسلم دَچا بدن مبارك چه په كولاؤ ميدان كښې دفن كړې شوې دې. دَچا په خوشبوئې سره چه ميدان اوغونډئې خوشبوداره شوې.

نفسي الفداء لقبر انت ساكنه	فيه العفاف وفيه الجود والكرم

ترجمه: زما خان دې په دې قبرباندې قربان شى په كوم كښې چه تاسو آرام كوئې. لكه چه په قبركښې شرافت سخاوت اوعظمت موجود دې.

[٥٩٦٢] د نبی علیه السلام مدینې ته په راتلو د خوشحالۍ لوبې

٥٩٦٢-() [٤] [١]عَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢]«لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْمَدِينَةَ [٣]لَعِبَتِ الْحَبَشَةُ بِحِرَابِهِمْ فَرَحًا بِقُدُومِهِ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. [٤]وَفِي رِوَايَةِ الدَّارِمِيِّ قَالَ: مَا رَأَيْتُ يَوْمًا قَطُّ أَحْسَنَ وَلَا أَضْوَأَ مِنْ يَوْمٍ دَخَلَ عَلَيْنَا فِيهِ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٥]وَمَا رَأَيْتُ يَوْمًا كَانَ أَقْبَحَ وَلَا أَظْلَمَ مِنْ يَوْمٍ مَاتَ فِيهِ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -.

ترجمه: [١] حضرت انس رضي الله عنه وايي [٢] کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه کې نزول اجلال فرمایلي ؤ (تشریف راوړی ؤ) [٣] نو ټولو خلقو د بې پناه خوشحالۍ اظهار وکړی ددې پوړې چې حبشیانو (هم جشن مسرت کولو په طور) د نیزه بازۍ کرتب خو دلی ؤ دا روایت ابوداؤد رحمه الله نقل کړی دي [٤] او دارمي رحمه الله چې کوم روایت نقل کړی دي هغه کې داسې دي چې حضرت انس رضي الله عنه اوویل ما دهغه ورځې نه زیاته حسینه او روښانه ورځ هيڅ کله نه وه لیدلې په کومه ورځ چې مدینه کې زمونږ په منځ رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف راوړی [٥] او ما دهغه ورځې نه زیاته خرابه او تیاره (تاریکه) ورځ بله نه وه لیدلې په کومه ورځ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو

حل اللغات:- ① بِحِرَابِهِمْ: د حَرْبَة جمع ده، وَهِيَ رُمْحٌ قَصِيرٌ: وړې نیزې ته وانی ② أَضْوَأَ: أَيْ: نُورًا الظَّاهِرَ: ښانسته او روښانه ورځ. ③ أَقْبَحَ: أَيْ: أَسْوَأَ: خرابه او تیاره ورځ.

[١]وَفِي رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ قَالَ: [٢]لَمَّا كَانَ الْيَوْمُ الَّذِي دَخَلَ فِيهِ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْمَدِينَةَ [٣]أَضَاءَ مِنْهَا كُلُّ شَيْءٍ، [٤]فَلَمَّا كَانَ الْيَوْمُ الَّذِي مَاتَ فِيهِ أَظْلَمَ مِنْهَا كُلُّ شَيْءٍ، [٥]وَمَا نَفَضْنَا أَيْدِيَنَا عَنِ التُّرَابِ وَإِنَّا لَفِي دَفْنِهِ، حَتَّى أَنْكَرْنَا قُلُوبَنَا.

ترجمه: [١] او د ترمذی روایت کې دي حضرت انس رضي الله عنه اوویل [٢] هر کله چې هغه ورځ راغله چې حضور صلی الله علیه وسلم مدینې ته تشریف راوړی [٣] نو دمدینې هر شی (یعنې دروازه او دیوال او نورو) باندې نور وغوړیدی [٤] او هر کله چې هغه ورځ راغله چې حضور صلی الله علیه وسلم وفات شو نو هر شی (د غم او اندوه) تیاره (تاریکۍ) کې غرق شو [٥] او د حضور صلی الله علیه وسلم د دفن کولو نه وروسته مونږ د خپلو لاسونو نه خاوري هم لا نه وي څنډلي بلکه د حضور صلی الله علیه وسلم د دفن کولو کې مشغول ؤ چې خپلو زړونو کې مو دیوبل نه نا آشنایي محسوسه کړی وه نو معنی دا شوه چې زمونږ دزړونو هغه پاکیزګي او نورانیت چې دذات رسالت دمشاهدی او صحبت نتیجه کې حاصلیدل. دهغه سلسله منقطع شوی ده. اوزمونږ زړونو کې دصدق او اخلاص او مهرو وفا هغه وړښې واله کیفیت باقي نه دی پاتې شوی

[١] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی النهی عن الغناء (رقم-٤٩٢٣) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-٣٦١٨) وابن ماجه فی کتاب الجنائز/باب ذکر وفاته ودفنه صلی الله علیه وسلم (رقم-١٦٣١) واحمد فی المسند: ١٦١/٣

حل اللغات: -④ وَمَا نَفَضْنَا: دا د نَفْضِ نه دي، وَهُوَ تَحْرِيكُ الشَّيْءِ لِيَزُولَ مَا عَلَيْهِ مِنَ التُّرَابِ: د څه څيز خنډلو ته وائي چه خاوره ترې اوغورزيږي

تسهيلات:

قوله: حَتّٰى أَنْكَرْنَا قُلُوبَنَا،

د نبي عليه السلام په وفات په روحانيت کښې کمې محسوسول: رسول الله ﷺ وفات سره دومره روحاني اثر اوشو چه د لاسونونه د خاورې څنډلونه مخکښې مخکښې د ژوندو خلقو په زړونوباندې اثر اوشو اود مخکښې په شان روحانيت پاتې نه شو نو نن صبا پنخلس سوه کاله پس به د خلقو څه حال وي؟

[۵۹٦۳] د نبي عليه السلام په تدفين کښې د صحابوٴ اختلاف رائې

٥٩٦٣-() [٨] ①وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: لَمَّا قُبِضَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ②اخْتَلَفُوا فِي دَفْنِهِ. فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- شَيْئًا. ③قَالَ: ((مَا قَبَضَ اللهُ نَبِيًّا إِلَّا فِي الْمَوْضِعِ الَّذِي يَجِبُ أَنْ يُدْفَنَ فِيهِ)). ④ادْفِنُوهُ فِي مَوْضِعِ الْفِرَاشِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.[1]

ترجمه: ① او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي رسول الله چې وفات شو او ②د حضور ﷺ د تدفين په باره کې د صحابه رضي الله عنهم په منځ کې اختلاف را پيدا شونوابوبکرصديق رضي الله عنه وفرمايل چې ماپه دي سلسله کې خپله د رسول الله ﷺ نه يوه خبره آوريدلي وه ③حضور ﷺ فرمايلي ؤ الله تعالى د هر نبي روح هغه ځاي کې قبض کوي چيرته چې هغه نبي وغواړي يا داچې چيرته الله تعالى د هغه نبي دفن کيدل خوښوي ④نو حضور ﷺ هغه ځاي کې دفن کول پکار دي چيرته چې حضور ﷺ د مرګ په بستر باندې ؤ اوچيرته چې حضور ﷺ وفات شوی دي (ترمذی)

تسهيلات:

قوله: اخْتَلَفُوا:

د نبي عليه السلام په مدفن کښې مختلف رائې: يعنی د حضورپاك د تدفين باره کښې د صحابه کرامو رضي الله عنهم په مينځ کښې اختلاف پيدا شو

① نبي عليه السلام په مکه مکرمه کښې دفن کول پکار دی.
② نبي عليه السلام په بيت المقدس کښې دفن کول پکار دی
③ نبي عليه السلام په مدينه کښې بقيع مرقد کښې دفن کول پکار دی.
④ په کوم ځائې کښې چې پيغمبروفات شی هلته دفن کول پکار دی.

[1] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء في دفن النبي صلى الله عليه وسلم حيث قبض (رقم-١٠١٨) ومالك في الموطا في كتاب الجنائز/باب ما جاء في دفن الميت (رقم-٢٧)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۹٦٤] پیغمبر ته د وفات څخه وړاندې د هغه مستقر خودل

۵۹٦٣-(۱) [۹] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ وَهُوَ صَحِيحٌ: [۳] (إِنَّهُ لَنْ يُقْبَضَ نَبِيٌّ حَتَّى يُرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ ثُمَّ يُخَيَّرَ). [۴] قَالَتْ عَائِشَةُ: فَلَمَّا نَزَلَ بِهِ، وَرَأْسُهُ عَلَى فَخِذِي غُشِيَ عَلَيْهِ، [۵] ثُمَّ أَفَاقَ، فَأَشْخَصَ بَصَرَهُ إِلَى السَّقْفِ [٦] ثُمَّ قَالَ: (اَللّٰهُمَّ الرَّفِيقَ الْأَعْلَى). [۷] قُلْتُ: إِذَنْ لَا يَخْتَارُنَا.

ترجمه: [۱] د بي بي عائشي رضي الله عنها بيان دي [۲] د رسول الله صلى الله عليه وسلم مرض الموت کې مبتلا کېدو نه مخکې د خپلې تندرستۍ په زمانه کې به يې فرمايل [۳] د هيڅ نبي روح هغه وقته پورې نه قبض کيږي څو پورې چې جنت کې د هغه مستقر يعنی هغه منازل عاليه چې د هغه دپاره جنت کې مخصوص دي هغه ته ښودلو سره هغه ته اختيار ورنکړو شی چې که اوس لانور دُنيا کې وسيدل غواړی يا که زمونږ بارګار ته راځي، [۴] د دې نه وروسته بي بي عائشي رضي الله عنها بيان وکړی هر کله چې مرض الموت کې د حضور ﷺ دوفات وخت نژدې راغی نو هغه وخت د حضور ﷺ سر مبارك زما په ورانه ؤ او د مرض د شدت نه حضور ﷺ هر کړی بيهوشه کيدی [۵] بیا خل چې هوش کې راغې نو حضور ﷺ چت يعنی آسمان طرف ته نظر پورته کړ يعنی د آسمان وخواته يې وکتله [٦] وي فرمايل الهٰی! زه رفيق اعلٰی خوښوم (مارفيق اعلٰی کې شامل کړی) [۷] ما د حضور ﷺ دا الفاظ آوريدو سره اوويل اوس حضور ﷺ زمونږ يعنی د دُنيا ژوند ناخوښه کړی دي او د عالم آخرت ژوند يې اختيار کړی دي

حل اللغات: - ① غُشِيَ: أَيْ: أُغْمِيَ: بې هوشي پرې راغله ② أَفَاقَ: د بې هوشۍ نه په هوش کښې راتلو ته وائی ③ فَأَشْخَصَ: أَيْ: رَفَعَ بَصَرَهُ: نظر يې اوچت کړو.

[۱] قَالَتْ: وَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَدِيثُ الَّذِي كَانَ يُحَدِّثُنَا بِهِ وَهُوَ صَحِيحٌ فِي قَوْلِهِ: [۲] (إِنَّهُ لَنْ يُقْبَضَ نَبِيٌّ قَطُّ حَتَّى يُرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ ثُمَّ يُخَيَّرَ) [۳] قَالَتْ عَائِشَةُ: فَكَانَ آخِرُ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَ بِهَا النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۴] قَوْلَهُ: (اَللّٰهُمَّ الرَّفِيقَ الْأَعْلَى)». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] څکه چې ماته هغه ارشاد ګرامی رایاد شو چې حضور ﷺ د تندرستۍ په زمانه کې فرمايلي ؤو [۲] چې د هيڅ نبی روح هغه وقته پورې نه قبض کيږي څو پورې چې جنت کې د هغه مستقر ورته ښودلو سره اختيار ورنکړو شی نو د حضور ﷺ آسمان طرف ته کتل يعنی په جنت کې خپل مستقر خاي ليدل ؤ او د اللهم رفيق الاعلٰی الفاظ د حضور ﷺ د دې فيصلې اعلان دي چې د حاصل شوی اختيار لاندې ما د دُنيا ژوند پريښودو سره عالم

[۱] اخرجه البخاری فی كتاب الرقاق/باب من أحب لقاء الله أحب الله لقاءه (رقم-٦٥٠٩) ومسلم فی كتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب فی فضل عائشة رضی الله تعالی عنها (رقم-٨٧ - (٢٤٤٤)

آخرت خوښ کړی دي[۲] بي بي عائشه رضي الله عنها بيان کوي د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د ژبي مبارکي نه چې کوم آخری الفاظ وختل[۴] هغه دا اللهم رفيق الاعلی الفاظ ؤ (بخاری مسلم)

تسهيلات:

نوټ: د ګرانو ټکو تشريح په حل اللغات کښې شوې ده او باقی د حديث مفهوم د حديث د تشريحی ترجمې څخه واضح دې.

[۵۹۶۵] په مرض الوفاة کښې د زهر اثر محسوسول

۵۹۶۵-()[۱۰] [۱]وَعَنْهَا، قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ: [۲](يَا عَائِشَةُ! مَا أَزَالُ أَجِدُ أَلَمَ الطَّعَامِ الَّذِي أَكَلْتُ بِخَيْبَرَ، [۳]وَهَذَا أَوَانُ وَجَدْتُ انْقِطَاعَ أَبْهَرِي مِنْ ذٰلِكَ السُّمِّ») رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي رسول الله ﷺ به خپل دوفات مرض کې (ماته) فرمايل [۲] ې عائشي رضي الله عنها! خيبر کې چې ما کوم زهر آلود طعام خوړلی ؤ د هغه مضر اثرات خو مې هروخت محسوسول [۳] او س دي مرض کې راته داسې معلوميږي چې د هغه زهر و د اثر نه به زما دزړه رګ پريکړل شي. (بخاری)

حل اللغات:- ① أَلَمَ: درد او تکليف ته الم وائی. ② أَوَانُ: أی زَمَانُ: يعنی په دې وخت کښې. ③ انْقِطَاعَ: پريکول، کټ کيدل. ④ أَبْهَرِي: وَهُوَ عِرْقٌ يَتَعَلَّقُ بِهِ الْقَلْبُ: د زړه رګ (چه ددې په شليدو سره مرګ واقع کيږی).

تسهيلات:

قوله: مَا أَزَالُ أَجِدُ أَلَمَ الطَّعَامِ الَّذِي أَكَلْتُ بِخَيْبَرَ

د خيبر د زهرو په وجه د نبی عليه السلام وفات: دجنګ خيبر په موقع باندې يويهودی ښځې د چيلئی په غوښه کښې زهرملاوولو سره حضوراکرم ﷺ باندې خوړلې وو الله تعالی دزهرو اثر نه کولوحکم ورکړو چنانچه ددې اثر يومقرروخت پورې محدود پيمانه باندې موقوف شومګر کله چه د حضورپاك د ژوند ورځې پوره شوې نو الله تعالی ددغه زهرو پوره اثر ظاهرکړو په کوم سره چه دحضورپاك د سا رګ کټ شواووفات شو دغه شان په خاموش زهرو سره د صديق اکبر رضي الله عنه مرګ هم واقع شوداد کامل رفاقت طرف ته اشاره ده

قوله: وَهَذَا أَوَانُ وَجَدْتُ انْقِطَاعَ أَبْهَرِي مِنْ ذٰلِكَ السُّمِّ.

د ابهر رګ په تفسير کښې دوه اقوال: ①دا د هغه رګ نوم دې دکوم تعلق چه زړه سره دې دهغې په کټ کيدو سره سړې مړکيږی دې ته د سا رګ وائی

[1] اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب مرض النبی صلی الله عليه وسلم ووفاته (رقم-۴۴۲۸)وابوداود فی کتاب الديات/باب فيمن سقی رجلا سما أو أطعمه فمات أيقاد منه (رقم-۴۵۱۲) واحمد فی المسند:۱۸/۶

ملاعلي قاري رحمه الله دَدې رګ دويم تفسير داکړې دې چه دا رګ په بدن کښې دَ قدم پورې لاندې تللې دې. بيا دَدې نه واړه واړه رګونه پوره بدن کښې خواره شوی دی.

د رګونو په نومونو کښې دوه اقوال: ① يوقول دا دې چې دا رګ چه کله په دماغو کښې وی نودې ته نامه وائی کله چه دا رګ مرئی ته راځی نودې ته وريد وائی کله چه دا رګ دَمرئی نه لاندې سينې ته رسی نودې ته ابهر وائی. کله چه دا رګ نسکته خپې ته ځی نو دې ته صافن وائی.

② بعضې وئيلی دی چه کله دا رګ سټ کښې وی نو دې ته أبهر وائی. کله چه په مټ او زنګون کښې وی نودې ته اکحل وائی کله چه په خپه کښې وی نودې ته عرق النساء وائی بهر حال هم دغه رګ دَ سا دې.

[۵۹٦٦] مرض الوفاة کښې دَ خط ليکلو اراده کول

۵۹٦٦-(۱) [۸] ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: ۲ «لَمَّا حُضِرَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ۳ وَفِي الْبَيْتِ رِجَالٌ، فِيهِمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، ۴ قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (هَلُمُّوا أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ). ۵ فَقَالَ عُمَرُ: قَدْ غَلَبَ عَلَيْهِ الْوَجَعُ، وَعِنْدَكُمُ الْقُرْآنُ، ٦ حَسْبُكُمْ كِتَابُ اللّٰهِ، فَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْبَيْتِ وَاخْتَصَمُوا،

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي ۲ دَ يوم وفات يعنی دوشنبه(پير) نه درې ورځې مخکې د زيارت (جمعرات) په ورځ هغه وخت چې رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې د شديد مرض غلبه وه ۳ او کور کې د حضور ﷺ دمرض وبستر ته نژدې حضرت عمر خطاب رضي الله عنه سره ډير خلق موجود ؤو ۴ نبی کريم صلى الله عليه وسلم نا به بره وفرمايل راوړی چې زه ستاسو دپاره يو تحرير وليکم چې ددې نه وروسته ستاسو دګمراهي څه سوال پيدا نشی ۵ حضرت عمر رضي الله عنه دې خبرې اوريدوسره هلته موجود خلقو ته اوويل دا وخت حضور ﷺ باندې دمريضی شديده غلبه ده هسې تاسو خلقو سره قرآن مجيد دې ٦ او تاسو ته (صراط مستقيم باندې ګامزن کيدو دپاره) د الله تعالى دا کتاب ډير کافی دې ليکن هغه خلق چې د اهل بيتوڅخه هم ؤ او دنورو صحابه رضي الله عنهم ؤ نه هم او هغه وخت کور کې موجود ؤ دې مسئله کې خاموشی اختيارولو په ځاي خپلو کې بحث مباحثه کول شروع کړل.

حل اللغات:- ① هَلُمُّوا: أي: تَعَالَوْا: راشئ. ② الْوَجَعُ: درد، تکليف.

۱ فَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ: قَرِّبُوا يَكْتُبْ لَكُمْ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-. ۲ وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ مَا قَالَ عُمَرُ: ۳ فَلَمَّا أَكْثَرُوا اللَّغَطَ وَالِاخْتِلَافَ، ۴ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (قُومُوا عَنِّي») ۵ قَالَ عُبَيْدُ اللّٰهِ:

اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب مرض النبي صلى الله عليه وسلم ووفاته (رقم-۴۴۳۲) ومسلم في كتاب الوصية/باب ترک الوصية لمن ليس له شيء يوصي فيه (رقم-۲۰ - (۱٦۳۷) واحمد في المسند:۱/۲۲۲

فَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقُولُ: ٦ إِنَّ الرَّزِيئَةَ كُلَّ الرَّزِيئَةِ مَا حَالَ بَيْنَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَبَيْنَ أَنْ يَكْتُبَ لَهُمْ ذَلِكَ الْكِتَابَ لِاخْتِلَافِهِمْ وَلَغَطِهِمْ.

ترجمه: ١ هغوی کې ځني خلقو داخبره کوله چې د ليکلو سامان راوړلو سره مخې ته اېښودل پکار دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ستاسو دپاره څه تحرير مرتب کړي ٢ او څه خلقو هغه خبره کوله کومه چې حضرت عمر ﷛ کړی وه چې دمرض شدت ليدو سره دا وخت حضور ﷺ ته څه زحمت نه دي ورکول پکار ٣ اوبيا چې د هغه خلقو د اختلاف رايه اظهار زياتيدي او کافي شور وشغب جوړ شو ٤ نو حضور ﷺ وفرمايل بنه اوس تاسو خلق زما نه لاړ شی ما دڅه شی ليکلو اراده ترك کړی ده ځکه چې دکتاب وسنت موجود ګی به ستاسو د رهنمايي دپاره کافي وي) ٥ عبيد الله ﷫ چې حضرت ابن عباس ﷛ نه د دې حديث راويت کوي وايي چې حضرت ابن عباس ﷛ به (دا واقعه بيانولو سره) وئيل مصيبت دي پوره مصيبت چې د دې خلقو د اختلاف او شوربه صورت کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم او دهغوی ﷺ دوصيت نامه ليکلو دارادې په منځ کې حائل شوی ؤ (کاش چې هغه خلقو دغه شان د اختلاف اظهار او شور وشغب نه کولي نو حضور ﷺ به څه داسې وصيت نامه ضرور مرتب فرمايلي وه چې په هره مرحله به يې زمونږ رهنمايي کوله.

حل اللغات: -③ قَرِّبُوا: رانزدې کړئ (يعنی دوات اوقلم راوړئ). ④ اللَّغَط: أي: الصَّوْتُ الَّذِي لَا يُفْهَمُ: داهغه شور ته وائی دکوم مفهوم چه په پوهه کښې نه راځی صرف دَ شور آوازونه اوريدلې شی ⑤ الرَّزِيئَةَ: أَيِ الْمُصِيبَةَ: مصيبت ته رزيه وائی يعنی مکمل مصيبت هغه وخت راغلې وو

١ وَفِي رِوَايَةِ سُلَيْمَانَ بْنِ أَبِي مُسْلِمٍ الْأَحْوَلِ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: ٢ يَوْمُ الْخَمِيسِ، وَمَا يَوْمُ الْخَمِيسِ؟ ٣ ثُمَّ بَكَى حَتَّى بَلَّ دَمْعُهُ الْحَصَى. ٤ قُلْتُ يَا ابْنَ عَبَّاسٍ! وَمَا يَوْمُ الْخَمِيسِ؟ ٥ قَالَ: اشْتَدَّ بِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَجَعُهُ فَقَالَ: ٦ (ائْتُونِي بِكَتِفٍ أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لَا تَضِلُّوا بَعْدَهُ أَبَدًا»). ٧ فَتَنَازَعُوا وَلَا يَنْبَغِي عِنْدَ نَبِيٍّ تَنَازُعٌ.

ترجمه: ١ او دسيلمان ابن مسلم احول ﷫ (چې ثقات او د دين د آئمه ؤ نه دې) روايت کې داسې دي چې حضرت ابن عباس ﷛ اوويل ٢ (آه) د زيارت (جمعرات) ورځ هغه د زيارت ورځ څه عجيبه وه هر کله چې يوه زبر دسته الميه واقع شوی وه) ٣ او دې ويلو سره هغه په ژړاسو او دونه يې وژړل چې هلته پرتې شګې هم د هغه په وښکو سره لندې شوې ٤ ما عرض وکړی (راوی وايي) ابن عباس ﷛ ! د کوم زيارت دورځ ذکر دې او په هغه ورځ څه شوی ؤ چې تاسو دومره آفسوسناك آنداز کې د هغه بيان کوئ ٥ حضرت ابن عباس ﷛ وفرمايل دا دهغه زيارت (جمعرات) ورځې ذکر دې هر کله چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم مريضی ډير خطر ناك صورت حال اختيار کړی ؤ او حضور ﷺ فرمايلی ؤو، ماته دوړی هډوکي راوړی چې زه ستاسو دپاره يوه داسې نوشته وليکم چې د هغه نه وروسته تاسو هيڅ کله ګمراه نه شي ٧ هغه وخت حضور ﷺ سره موجود خلقو داخبره آوريدو سره د

اختلاف او نزاع اظهار شروع کړی حالانکه دیو نبی په مخکې د اختلاف او نزاع اظهار مناسب نه دي

حل اللغات:- ⑥ بَلْ دَمْعُهُ الْحَصَى: بل لمدیدو ته وائی اودمع اوښکو ته وائی اوالحصی وړو کاڼړوته وائی یعنی دَ هغوی په اوښکو کاڼړی لامده شو. ⑦ يَكْتُبُ: د چیلیٖ د اوګی هډوکي.

[۱] فَقَالُوا: مَا شَأْنُهُ؟! أَهَجَرَ؟ [۲] اسْتَفْهِمُوهُ، فَذَهَبُوا يَرُدُّونَ عَلَيْهِ. [۳] فَقَالَ: ((دَعُونِي، ذَرُونِي، [۴] فَالَّذِي أَنَا فِيهِ خَيْرٌ مِمَّا تَدْعُونَنِي إِلَيْهِ)). [۵] فَأَمَرَهُمْ بِثَلَاثٍ: فَقَالَ: [۶] ((أَخْرِجُوا الْمُشْرِكِينَ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ، [۷] وَأَجِيزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مَا كُنْتُ أُجِيزُهُمْ)). [۸] وَسَكَتَ عَنِ الثَّالِثَةِ، أَوْ قَالَهَا فَنَسِيتُهَا، [۹] قَالَ سُفْيَانُ: هَذَا مِنْ قَوْلِ سُلَيْمَانَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] هغوی کې څه خلقو ویلی ؤ چې خبره د حضور ﷺ د کوم حالت غمازه ده؟ آیا حضور ﷺ دُنیا پریږدي [۲] حضور ﷺ نه معلومول پکار دي چې تاسو ﷺ څه وایی او ستاسو ﷺ وینا څه ده؟ او بیا هغوی کې بعضې خلقو حضور ﷺ سره تکرار شروع کړی ؤ. [۳] آخر رسول اکرم ﷺ وفرمایل ما په خپل حالت پریږدي یعنی دا وخت زما مخکې شور ماشور مه کوی او ما نورو خبرو کې مه مبتلا کوئ [۴] څکه چې داوقت زه کوم حالت کې یم د هغه حالت نه بهتر اوافضل دي چې هغه طرف ته تاسو ما متوجه کوی [۵] دي نه وروسته چې خلقو بحث او تکرار ختم کړی او ذات رسالت ته متوجه شو نو حضور ﷺ ورته د دري خبرو حکم وکړو ، [۶] ① یو خو داچې مشرکان د جزیره عرب نه وباسی [۷] ② دویم داچې د نورو ملکونو او حکومتونو کوم قاصدان راشي نو هغه سره دعزت او احترام سلوك کوی څرنګه چې به ما کوی. [۸] ③ او دریمه خبره باندې ابن عباس رضي الله عنه (یا خو دهیرېدو په وجه یا دلنډیدو په خاطر) خاموشی اختیار کړه یا داچې ابن عباس رضي الله عنه هغه دریمه خبره هم بیان کړی وه لیکن ما نه هیره شوه [۹] سفیان ابن عیینه رحمه الله وایی دا الفاظ (چې ابن عباس رضي الله عنه خاموشی اختیار کړه یا داچې ما نه هیره شوه) دسلیمان احول رحمه الله دي. (بخاری رحمه الله و مسلم رحمه الله)

حل اللغات:- ⑧ أَهَجَرَ: آیا پریږدی (نبی علیه السلام دي دنیا لره). ⑨ دَعُونِي: أي اتْرُكُونِي: پریږدئ ما (په خپل حال) ⑩ ذَرُونِي: دا هم د دَعُونِي په معنی کښې دي او دهغې دپاره تاکید دي. ⑪ أَجِيزُوا: أي: أَكْرِمُوا: عزت کوئ.

تسهیلات: قوله: أَكْتُبُ لَكُمْ كِتَابًا:

د خط په مضمون کښې اختلاف: یعنی یو کاغذ راوړئ دې دپاره چه زه ستاسو دپاره یو خط اولیکم دې دپاره چه تاسو ګمراه نه شئ. دامشهور حدیث دې چه دحدیث قرطاس په نوم باندې مشهور دې اوس سوال دادې چه دا لیك دَ کوم څیز سره متعلق وو؟ په دې کښې څو اقوال دی مګر په خلقو کښې مشهورهم دغه دی چه خلافت سره متعلق داتحریر وو سره دَدې چه ملاعلی قاری رحمه الله دې ته ډیر بعیدوئیلي دي.

د خط د مضمون باره کښې د شیعه ګانو دعوی:شیعه ګان ډیر شور کوی چه دلته دَ حضرت علی رضی الله عنه دَپاره دَخلافت وصیت لیکلې شو مګر حضرت عمر رضی الله عنه پرینخودو.

د شیعه ګانو دعوی تردید: ① تیك ده دغه وخت حضرت عمرفاروق رضی الله عنه دَ لیکلونه منع کړو نودې نه پس خو هم رسول الله ﷺ تر دریو ورځوپورې په دنیاکښې موجود وو نوبیاکوم یوځیز مانع جوړشو، دا واقعه دَ جمعرات یعنی زیارت دَ ورځې ده او حضورپاك درې ورځې پس دَ پیر په ورځ وفات شوې وو که چرته دا څه ضروری اوواجب حکم وو نوحضورپاك به روستو بیالیکلې وو

② شیعه ګان خووائی چه حضرت علی رضی الله عنه ته غدیر خم کښې خلافت ملاؤ شوې وو بیا دلته کوم یوخلافت ملاویدونکې وو کوم چه شیعه ګان ژاړی؟

③ دادې چه دَدغه لیك په منع کولوکښې حضرت عمرفاروق رضی الله عنه یوازې خو نه وو په کورکښې دَ اهل بیت نور خلق هم وو نوصرف حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ولې په نښه کولې شی. دَحضرت عمر فاروق رضی الله عنه خو به دا خیال وی چه شریعت مکمل شوې دې قرآن نازل شوې دې دَ احادیثو ذخیره موجود ده اوس هیڅ ضروری کارباقی پاتې نه دې دکوم لیکل چه دې وخت کښې ضروری وی. بل طرف ته حضورپاك ته تکلیف کیدلو دَدې وجې نه عمر فاروق رضی الله عنه منع کړو. په دې نیکه اراده کښې په هغه باندې لعن طعن کول داسې دی لکه چه شاعر اوونیل:

فعين الرضا عن كل عيب كليلة　　ولكن عين السخط تبدي المساويا

ترجمه یعنی چه کله نیت صفا وی نوسترګې دَهرې بدئی نه ړندېږی لیکن که نیت خراب وی نودَسترګو په وړاندې صرف بدئی وی.

④ دادَ خلافت دَ لیکلو معامله وه مګر دَ حضورپاك رائې بدله شوه اودادَ خلافت لیکلو اراده دَ حضرت علی رضی الله عنه دَپاره نه وه بلکه دَحضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه دَپاره وه په کوم چه څومره روایات واضح دلالت کوی لکه "یأبى الله والمؤمنون الا ابابكر" که چرې حضورپاك دَ حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه دَپاره دَ خلافت تحریر لیکلو اودَهغې نه پس شیعه ګانوانکارکولو نوشیعه ګان به ډبل کافران جوړیدل. شیعه روافض له خودَ حضرت عمر فاروق رضی الله عنه شکریه اداکول پکاردی چه هغوی دَ ډبل کافرانو جوړیدونه بچ کړل. اوس دوی هم سنګل کافران پاتې شو بهر حال دَ صحابه کرامو رائې سره دَحضورپاك رائې بدله شوه. هسې خو هم موافقات عمر مشهور دی داهم دَموافقات عمر نه یودې چونکه دَ الله تعالی په نیز دا منظور وو چه دَ خلافت معامله داسې حل شی چه آزادانه توګه باندې پخپله مسلمانان دَدې فیصله اوکړی اوابوبکر رضی الله عنه پخپله مسلمانان خوښ کړی. پخپله حضورپاك اوفرمائیل الله تعالی او مسلمانان دَ ابوبکرصدیق نه بغیر نور څوك نه خوښوی.

دعمر رضی الله په منع کولو اعتراض: دحضوراکرم ﷺ چه کله حکم وو نوعمر فاروق رضی الله عنه ولې انکاراوکړو؟ ولې داناجائز نه وو؟

د اعتراض جواب: حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د رسول الله ﷺ د راحت په غرض سره انکاراوکړو اومنع ئې کړو که چرې دانقصان وي اوناجائز وې نو صلح حديبيه کښې چه کله حضرت علی رضی الله عنه ته حضورپاك دمعاهده دتحرير نه څه الفاظ ورانولو دپاره اوفرمائيل نوحضرت علی رضی الله عنه ولې انکاراوکړو؟ هغه انکارخوددې انکارنه زيات وو د شيعه ګانو په نيز هلته خو هيڅ اونه شو اودلته هرڅه کيږي دا بغض اوعناد ولې دې؟

د ابن عباس د ژړا وجه: د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ژړل د حضورپاك آخری ورځې يـاد راتلوسره وو په دې نه وو چه ليکلې ولې اونه شو اوکيدې شي چه دڅه بل څه وجې نه ئې ژړلې وی د ژړا اسباب خومختلف کيدې شي

قوله: بِكَتِفٍ:

د ليکلودپاره د اوږې د هډوکی استعمال: په هغه زمانه کښې کاغذ نه وو څرمن يـا پوستکی يا لرګی يا کانړی يا هډوکی باندې به ليکل کيدل دلته هم دغه هډوکې مراد دې د چيلئی د متې هډوکې پلن وی کوم چه د ليکلودپاره مناسب وی د اوګې دويم هډوکې هم مراد کيدې شی

قوله: أَهَجَرَاسْتَفْهِمُوهُ:

د مذکوره لفظ د ضبط تحقيق: اهجر لفظ کښې صحيح روايت هم دغه دې چه همزه استفهام موجود دې په دې باندې فتحه ده په هاء باندې هم زبر دې او جيم او راء باندې هم فتحه ده

دهجر په معنی کښې اقوال: ① دد لفظ يو دا مطلب بيانولې شی چه خلقو اوونيل آيا حضرت ګډې وډې خبرې کوی؟ په څه بحرانی کيفيت کښ راګير دې؟ په څه هذيان کښې مصروف دې؟ دا مفهوم د نبی معصوم باره کښې بالکل غلط دې اونه داسې څه نسبت مسلمان د خپل پيغمبر باره کښې کولې شی نوځه به په اميرالمؤمنين سيدنا عمر فاروق رضی الله عنه باندې دا الزام اولګوی يا په يوصحابی باندې څه بهتان اوتړلې شی شيعه ګانو ددې لفظ څخه دا مطلب اخستې دې اوحضرت عمر رضی الله عنه يو مورد اعتراض ګرځولې دې چې دوی نبی عليه السلام ته دا د ګډو وډو ونيلو نسبت کړې دې

د مذکوره قول تضعيف: خودا معنی د شيعه ګانو د شيخينو سره په عداوت او دښمنی باندې مبنی معنی ده هرکله چې يو لفظ په يوصحيح معنی باندې حمل کولو کښې څه بعد نه وی نو ولې غلطه معنی باندې حمل کولې شی ددې لفظ په صحيح معانيو باندې د حمل کولو ګنجائش شته کوم چې لاندې ذکر کولې شی

② دعربو دمحاوزه او عربو ددستور مطابق کلام دي په کوم کښې چه خبرې خوکیږی مګر په پوهه کښې نه راځی داسې کلام کولوکښې دمریض څه توهین اوتحقیر څه اړخ نه وی بلکه دتبې د سختنی د وجې نه بعضې وخت مریض داسې قسم کلام کوی دې ته پښتوکښې ګنګوړه وائی مطلب دادې چه ویونکې وائی چه دڅه پوهیدلو کوشش اوکړه نبی مکرم ګنګوړه فرمائی ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات کښې لیکلی "والمراد به هنا ما یقع من کلام المریض مما لا ینتظم" داکلام په حقیقت کښې د قاضی عیاض دې سره دَدې چه دا هم رد کړې شوې دې مګر دَدې توجیهه نه بهتر توجیهه نشته دې دادَقبُلو خلق ډیر نه پیژنی

③ داکلام په استفهام انکاری باندې محمول دې اودَدې کلام کونکې هغه خلق ږتی او وائی چه آیا نبی مکرم څه غلطه خبره کوی یا دڅه بحرانی کیفیت خبره کوی؟ یـ څه فضول خبره کوی؟ داسې نه ده بلکه دنبی معصوم کلام دې دا واؤرئی او په دې باندې د پوهیدلو کوشش اوکړئی

قوله: يَرُدُّونَ عَلَيْهِ:

د مذکوره قول مطلب: یعنی صحابه او اهل بیت چه په دغه کور کښې موجود وو هغوی به د حضورپاك کلام دهغوی طرف ته واپس راګرخولو چه دَدې کلام ضرورت نشته دې ګوزنی دا دعام اهل بیت او کورکښې د موجود صحابه کرامو خبره ده په دې کښې خو تصریح شته او عمر فاروق خو صرف اشاره کړې ده

[۵۹۶۷] دوحي د نزول د منقطع کیدو غم

۵۹۶۷-() [۳] ① وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ② قَالَ أَبُوبَكْرٍ لِعُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - بَعْدَ وَفَاةِ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ③ انْطَلِقْ إِلَى أُمِّ أَيْمَنَ نَزُورُهَا كَمَا كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَزُورُهَا، ④ فَلَمَّا انْتَهَيْنَا إِلَيْهَا بَكَتْ. فَقَالَا لَهَا: مَا يُبْكِيكِ؟ ⑤ أَمَا تَعْلَمِينَ أَنَّ مَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ترجمه: ① او حضرت انس رضی الله عنه بیان کوي ② د رسول الله صلی الله علیه وسلم دوفات نه وروسته یوه ورځ حضرت ابوبکر رضی الله عنه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ته اوویل ③ راځه چې اُم ایمن رضی الله عنها ته ور شو او د هغه زیارت وکړي څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د هغه ملاقات ته تشریف وړی ④ نو مونږ دري سره ،یعنې زه اوحضرت ابوبکر رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه، اُم ایمن رضی الله عنها ته ورسیدو هغه زمو لیدو سره په ژړاشوه حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضی الله عنه دواړو ورته اوویل ولي ژاړی ⑤ آیا تانه معلومه نه ده چې د الله جل جلاله د رسول صلی الله علیه وسلم دپاره د الله جل جلاله په نزد ،درجات او مراتب او اعزاز د انعام په صورت کې، چې څه دي هغه بهتر نه بهتر دي

حل اللغات:- ① انْطَلِقْ: راځه چه لاړشو

اخرجه مسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل أم أیمن رضی الله عنها (رقم ۱۰۳ (۲۴۵۴)) وابن ماجه فی کتاب الجنائز /باب ذکر وفاته ودفنه صلی الله علیه وسلم (رقم -۱۶۳۵)

[۱] قَالَتْ: إِنِّي لَا أَبْكِي أَنِّي لَا أَعْلَمُ أَنَّ مَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ لِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] وَلَكِنْ أَبْكِي أَنَّ الْوَحْيَ قَدِ انْقَطَعَ مِنَ السَّمَاءِ، [۳] فَهَيَّجَتْهُمَا عَلَى الْبُكَاءِ، فَجَعَلَا يَبْكِيَانِ مَعَهَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] أم یمن رضی الله عنها اوویل زما د ژړا سبب دانه دي چې زه دي خبري نه لاعلمه یم چې د الله تعالیٰ په نزد رسول الله صلی الله علیه وسلم دپاره چې څه دي هغه بهتر نه بهتر دي (خکه چې داخو بالکل ظاهر شی دي او هر سړی پرې پوهیږي) [۲] بلکه زه خکه ژاړم چې آسمان نه دوحي راتلو سلسله ختمه شوی ده (او مونږ دنیا واله د هغه د برکتونو نه محروم شوی یو) [۳] د أم ایمن رضی الله عنها دي الفاظو حضرت ابوبکر رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه باندې هم رقت وغورزوی او هغه دواړه حضرات هم په ژړا شول (مسلم رحمه الله)

حل اللغات:- ③ فَهَيَّجَتْهُمَا: أي: حَمَلَتْهُمَا: نو ما هغوی دواړه په ژړا باندې شروع کړو

تسهیلات:

قوله: تَزُورُهَا:

دام ایمن تعارف: ام ایمن رضی الله عنها دَ حضورپاك رضاعی مور ده اودَحضرت اسامه رضی الله عنه مور بی بی ده. دادَ خواجه بدالله وینخه وه . کله چه دَ بی بی آمنه انتقال اوشو نودَمدینې منورې نه حضورپاك ام ایمن خپل ځان سره کړو مکې مکرمې ته ئی راوړلې وو. دَ ام ایمن رضی الله عنها اصل نوم برکه وو.

شیخین او دام ایمن زیارت ته تلل: دا حضورپاك ته دَمیراث په توګه ملاؤشوه نوحضورپاك هغه آزاده کړه. حضورپاك به دَدې ډیر زیات تعظیم توقیر اوعزت اواحترام کولو هم دَدې احترام دَوجې نه حضرت ابوبکر صدیق حضرت عمر فاروق رضی الله عنهما دَدې احترام کولو اوکله کله به ملاقات له ورتلل. په زیربحث حدیث کښې هم دَدې بیان دي. حضرت ام ایمن رضی الله عنها یوه داسې دَدردنه ډکه جمله اداکړه چه دواړه خلفاء ئی بنه اوژړول اوپخپله ئی هم اوژړل

[۵۹۶۸] د مسجد نبوی ﷺ په منبر آخري خطبه

۵۹۶۸ -(۱) [۳] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ، [۳] وَنَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ، عَاصِبًا رَأْسَهُ بِخِرْقَةٍ، [۴] حَتَّى أَهْوَى نَحْوَ الْمِنْبَرِ، فَاسْتَوَى عَلَيْهِ وَاتَّبَعْنَاهُ، قَالَ: [۵] (وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنِّي لَأَنْظُرُ إِلَى الْحَوْضِ مِنْ مَقَامِي هَذَا) [۶] ثُمَّ قَالَ: (إِنَّ عَبْدًا عُرِضَتْ عَلَيْهِ الدُّنْيَا وَزِينَتُهَا، فَاخْتَارَ الْآخِرَةَ)

ترجمه: [۱] او حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه وایي [۲] رسول الله صلی الله علیه وسلم دوفات په مرض کې (یوه ورځ) د خپلې حجرې نه وتلو سره مسجد نبوی ﷺ ته تشریف راوړی چیرته چې مونږ (دمخکې نه) ناست وو [۳] هغه وخت حضور ﷺ خپل سر مبارك په کپړه

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم باب باب (رقم -۳۶۵۹) واحمد فی المسند: ۹۱/۳

تړلی ؤ څرنګه چې دسردرد والامریض خپل سر تړی، ۴ بیا حضور ﷺ منبر طرف ته لاړلو او په هغه باندې اودریدلو حضور ﷺ سره مونږ هم مخکې کیدو سره د حضور ﷺ مخې ته کینا ستلو هغه وخت حضور ﷺ (حمد وثنا نه وروسته) وفرمایل ۵ قسم دي په هغه ذات چې د هغه قبضه کې زما ساه ده زه داوقت پردي خپل خاي (یعني دي منبر) باندې ولاړ حوضِ کوثر وینم ۶ بیایې وفرمایل یو بنده دي چې د هغه مخکې (فاني) دُنیا او د دنیا (فاني) زیب وزینت پیش شو لیکن هغه (فاني) دُنیا باندې د آخرت (نه فنا کیدونکو) نعمتونو ته ترجیح ورکړله

حل اللغات:- ① عَاصِبًا: أَيْ: رَابِطًا رَأْسَهُ: عاصب دَ اسم فاعل صیغه ده چه په سرباندې کپړه تړونکی سړی ته واني. ② بِخِرْقَةٍ: أَيْ: عِصَابَةٍ: کپړه. ③ أَهْوَىٰ: دَ متوجه کیدو په معنی کښې دې ④ فَلَمْ يَفْطِنْ: پوهه نه شو. ⑤ نَفْدِيكَ: مونږ قربان کوو په تاسو باندې، ⑥ فَذَرَفَتْ: أَيْ سَالَتْ دُمُوعُ أَبِي بَكْرٍ: اوبهیدې اوښکې دابوبکر صدیق رضی الله عنه.

۱ قَالَ: فَلَمْ يَفْطِنْ لَهَا أَحَدٌ غَيْرُ أَبِي بَكْرٍ، ۲ فَذَرَفَتْ عَيْنَاهُ، فَبَكَى، ثُمَّ قَالَ: ۳ بَلْ نَفْدِيكَ بِآبَائِنَا وَأُمَّهَاتِنَا وَأَنْفُسِنَا وَأَمْوَالِنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ! ۴ قَالَ: ثُمَّ هَبَطَ فَمَا قَامَ عَلَيْهِ حَتَّى السَّاعَةِ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ۱ حضرت ابوسعید رضی الله عنه وایي د دې ارشاد ګرامی په رازباندې سواد ابوبکر رضی الله عنه نه بل څوك پوه نه شو ۲ نو (درسول ﷺ دژبې نه دا الفاظ آوریدو سره) د ابوبکر رضی الله عنه د سترګو نه وښکې جاري شوې او په ژړا شو بیا یې اوویل ۳ (نه) داسې دلسوزه خبره مه کوي، مونږ خپل پلرونه خپلې میندې خپل ځانونه او خپل مالونه په تاسو ﷺ صدقه کوؤ ۴ حضرت ابوسعید رضی الله عنه وایي دي نه وروسته حضور ﷺ منبر نه خکته کیدو سره تشریف یوورلو او تر دي وقته پورې بیا هیڅ کله په دې منبر ونه دریدی (یعني په هغه ورځ د حضور ﷺ په منبر دریدل آخري دریدل ؤ. (دارمی رحمه الله)

حل اللغات:- ⑦ هَبَطَ: أَيْ: نَزَلَ: راکوز شو.

تسهیلات:

قوله: فَمَا قَامَ عَلَيْهِ حَتَّى السَّاعَةِ،

د ساعة په مصداق کښې دوه اقوال: ① یعنی دَهغې نه پس تراوسه پورې حضورپاك په دغه منبراونه دریدو په دې صورت کښې به دَساعت ترجمه ګهړئ سره کولې شی

② دې نه پس دَ قیامت پورې حضورپاك په دې منبرباندې نه اودریږی. دا دَحضورپاك آخری قیام او خطبه وه.

[۵۹۶۹] بي بي فاطمي رضي الله عنها ته دوفات پيشن گويي

۵۹۶۹ — () [۳] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [۲] «لَمَّا نَزَلَتْ: ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ﴾ [الفاتحة: - ۳-۴] [۳] دَعَا رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَاطِمَةَ قَالَ: [۴] (نُعِيَتْ إِلَيَّ نَفْسِي) فَبَكَتْ قَالَ: [۵] (لَا تَبْكِي فَإِنَّكِ أَوَّلُ أَهْلِي لَاحِقٌ بِي) فَضَحِكَتْ، [۶] فَرَآهَا بَعْضُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۷] فَقُلْنَ: يَا فَاطِمَةُ رَأَيْنَاكِ بَكَيْتِ ثُمَّ ضَحِكْتِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما بيان كوي [۲] كوم وخت چې سورة اذاجا نصرالله والفتح نازل شو [۳] نو رسول الله صلى الله عليه وسلم بي بي فاطمه رضي الله عنها راوغوښته او ورته يې وفرمايل [۴] ماته زما د مرګ خبر را كول شوى دي بي بي فاطمي رضي الله عنها دي خبري اوريدو سره د حضور ﷺ د دايمي جدايي احساس كولو سره، په ژړا شوله [۵] حضور ﷺ ورته وفرمايل زما لوري ! ژاړې مه زما په اهل بيتو كې به د ټولو نه مخكې ته زما سره يو ځاى شې (دي آوريدو سره د خوشحالى په وجه بي بي فاطمه رضي الله عنها په خندا شوه [۶] هلته موجود) بعضې ازواج مطهراتو بي بي فاطمه رضي الله عنها چې د غسي (مخكې په ژړا او بيا په خندا) وليده [۷] نو پوښتنه يې ځيني وكړه چې فاطمي ' دا څه خبره وه چې مونږ ته مخكې په ژړا او بيا په خندا اوليدلو

حل اللغات:- ① نُعِيَتْ: أَيْ: أُخْبِرْتُ بِأَنِّي أَمُوتُ: يعنى ماته زما د مرګ خبر راكړې شوي دي

[۱] قَالَتْ: إِنَّهُ أَخْبَرَنِي أَنَّهُ قَدْ نُعِيَتْ إِلَيْهِ نَفْسُهُ فَبَكَيْتُ، [۲] فَقَالَ لِي: لَا تَبْكِي فَإِنَّكِ أَوَّلُ أَهْلِي لَاحِقٌ بِي فَضَحِكْتُ. [۳] وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ﴾ [النصر: ۱]، [۴] وَجَاءَ أَهْلُ الْيَمَنِ، هُمْ أَرَقُّ أَفْئِدَةً، وَالْإِيمَانُ يَمَانٍ، وَالْحِكْمَةُ يَمَانِيَةٌ)». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] بي بي فاطمه رضي الله عنها ورته اوويل حضور ﷺ مخكې ماته داوښودل چې حضور ﷺ ته د مرګ خبر وركول شوى دي دي آوريدو سره زه په ژړا شوم [۲] او بيا راته حضور ﷺ وفرمايل چې ژاړه مه زما اهل بيتو كې به ته د ټولو نه مخكې زما سره يو ځاى شې نو زه په خندا شوم [۳] و رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل هر كله چې د الله تعالى مدد او دمكي فتح حاصله شوه [۴] او د يمن خلق راغلل چې د زړونو نرم دي. [۵] ايمان يمنى دي او حكمت هم يمني دي (دارمي رحمه الله)

حل اللغات:- ② أَرَقُّ: أَيْ: أَرْحَمُ قُلُوبًا وَأَلْيَنُ صُدُورًا: نرم اومهربانه زړونو والا. ③ أَفْئِدَةً: جمع د فواد ده .زړونه

تسهيلات: قوله: فَقُلْنَ:

د قلن د قائل مخه مراد: دې نه هم حضرت عائشه رضي الله عنها مراد ده مګر جمع دَ اكرام او احترام په توګه ده داهم احتمال دي چه نورې بيبيانې هم هلته موجود وې

[۱]) اخرجه الدارمى فى السنن رقم الحديث ۷۹

قوله: وَالْإِيمَانُ يَمَانٍ:

د اهل يمن څخه په مراد كښې درې اقوال ① يعنى ايمان خوداهل يمن دې. دې نه هم دَيمن خلق مراددى په هغوى كښې يوڅوخصوصيات دى چه دَخصوصي امتيازدَ وجې نه دَهغوى ايمان ستائيلې شوې دې مگر يادلرئى چه دادَ هغه وخت دَمسلمانانوتعريف دې دَ قيامت پورې راتلونكى يمنيانو تعريف نه دې.

② دَ يمان نه انصارمدينه مراد دى ځكه چه دَهغوى اصل اودَ هغوى نسل دَيمن نه دې. لكه چه دادَ انصارو تعريف دې. بهرحال ړومبې قول حقيقت دې باقى مجاز. په يمن كښې خيردې نن صبا اسامه بن لادن حفظ الله هم دَيمن دې.

③ دويم قول دادې چه دَاهل يمن نه مراد اهل مكه دى اوچونكه دا حديث حضورپاك دَ تبوك په مقام باندې ارشاد اوفرمائيلو اودَ يمن طرف ته ئى اشاره هم اوفرمائيله چه دې طرف ته مكه اومدينه واقع دى نويمن وئيلوسره ئى مكه اومدينه مراد اخستې دى. هسې يمان جانب يمين ته هم وائى اومكه اومدينه په جانب يمين كښې وو په دې وجه دَ يمان نه اهل مكه اواهل مدينه مراد دى. په دې توجيه سره به داحديث هم په پوهه كښې راشى اوتعارض به هم ختم شى. په كوم حديث كښې چه دا الفاظ دى "الايمان فى الحجاز"

قوله: وَالْحِكْمَةُ:

د حكمة څخه مراد: دَ مستقبل باره كښې په ښه سوچ اوفكر فيصله كولوته حكمت وائى حكمت دَ هوښيارتوب عقل او تدبرنوم دې اوحقائق بيخ ته رسول دَعلم اومعرفت نوم دې. دَ يمن په خلقوكښې داخيززيات دې.

[۵۹۷۰] د ابوبكر رضي الله عنه د خلافت په باره كښې وصيت

۵۹۷۰-()[۵] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- أَنَّهَا قَالَتْ: «وَارَأْسَاهُ [۲] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (ذَاكِ لَوْ كَانَ وَأَنَا حَيٌّ فَأَسْتَغْفِرُ لَكِ وَأَدْعُو لَكِ) [۳] فَقَالَتْ عَائِشَةُ: وَاثُكْلِيَاهُ! وَاللهِ إِنِّي لَأَظُنُّكَ تُحِبُّ مَوْتِي، [۴] فَلَوْ كَانَ ذَلِكَ لَظَلِلْتَ آخِرَ يَوْمِكَ مُعْرِسًا بِبَعْضِ أَزْوَاجِكَ

ترجمه: [۱] او بي بي عائشې رضي الله عنها نه روايت دې چې هغه يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناسته وه د خپل سر د درد دسختې ښكاره كيدو سره يې اوويل هاى زما سر (چوى) [۲] رسول الله صلى الله عليه وسلم دې آورديدو سره ورته اوويل (اې عائشې رضي الله عنها) هغه (يعني ستا مرگ) كه داسې صورت كې راغى چې زه ژوندى پاتې شوم نوستا دپاره به (دسيناتوڅخه) د مغفرت او بخښش دُعا غواړم او ستا د درجاتو او مراتبو دبلندى دپاره به هم دُعا كوم [۳] بي بي عائشې رضي الله عنها اوويل هاى زما د سر د درد مصيبته. قسم په الله زما خو

¹ اخرجه البخارى فى كتاب المرضى/باب قول المريض: " إنى وجع. أو وا رأساه. أو اشتد بى الوجع (رقم-۵۶۶۶)

خیال دي چې تاسو زما مرګ خوښوئ [۴] که داسې وشو (چې زه مړه شوم) نو تاسو ﷺ به د
هغه ورځې آخرې حصه کې خپلې بيوي بې بي سره شپه تيرول وفرمايي

حل اللغات:- ① وَارَأْسَاهُ: هائي زما سرخوږدرد نه ماتيږي ② مُعْرِسًا: أَيْ عَرِيسًا: داد عرو نه دي. واده کونکي

> [۱] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (بَلْ أَنَا وَارَأْسَاهُ [۲] لَقَدْ هَمَمْتُ - أَوْ أَرَدْتُ - أَنْ أُرْسِلَ إِلَى أَبِي بَكْرٍ وَابْنِهِ وَأَعْهَدَ، [۳] أَنْ يَقُولَ الْقَائِلُونَ، أَوْ يَتَمَنَّى الْمُتَمَنُّونَ، ثُمَّ قُلْتُ: [۴] يَأْبَى اللّٰهُ وَيَدْفَعُ الْمُؤْمِنُونَ، أَوْ يَدْفَعُ اللّٰهُ وَيَأْبَى الْمُؤْمِنُونَ»). رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل اې عائشې رضي الله عنها دا خبره پريږده او واوره [۲] زما قصد ؤ یا حضور ﷺ دا وفرمايل چې زما اراده وه چې زه ستا پلار ابوبکر رضي الله عنه او د هغه زوی (یعني ستا عزیز ورور عبدالرحمٰن) را وغواړم او د هغوی په حق کې وصیت وکړم چې [۳] بیا څوک ويونکي هيڅ ونه وايي يا حضور ﷺ دا وفرمايل چې متمنی خلق د ابوبکر رضي الله عنه په ځای څان دپاره يا بل چا دپاره د خلافت) د آرزو اظهار ونه کړی بيا ما په خپل زړه کې اوويل [۴] چې خپله به الله تعالی (د ابوبکر نه علاوه د بل چا خلافت) منظور نه کړی او مسلمانان به هم مدافعت کوي يا حضور ﷺ داسې وفرمايل چې خپله به الله تعالی مدافعت کوي او مسلمانان به هم بل څوک نه مني. (بخاری رحمه الله)

تسهیلات:

قوله: وَاثُكْلِيَاهُ:

د مذکوره کلمې د استعمال دوه مواقع: ① ثکل مرګ او هلاکت ته هم وائي او دخوئي ② محبوب ورکيدو ته هم وائي. مطلب داچه هائې زما مصيبت. داکلمه دمصيبت په وخت کښې وئيلی شي

قوله: بَلْ أَنَا وَارَأْسَاهُ:

د نبی علیه السلام مرګ ته اشاره: حضورپاك اوفرمائيل چه په حقيقت کښې خودردنه زما سر ماتيږي. په دې کښې يوه پټه اشاره ده چه په حقيقت کښې خومرګ زما په سرباندې تاويږي. راتلونکی حديث کښې ددې تفصيل دې

دمحب اومحبوب په يووخت په يوتکليف کښې اخته کيدل: ملاعلی قاری رحمه الله ليکلی دی چه دحضورپاك اوحضرت عائشه رضي الله عنها د سر درد په يوځائې شروع کيدوکښې لکه څنګه چه په کمال محبت کښې دمجنون د بدن نه خپل پخپله وينه بهيدله کوم وخت چه ليلا د خپل بدن په رګ کښې نشتر وهلو سره وينه راوويستله لکه څنګه چه په عوامو کښې مشهوره ده.

قوله: وَأَعْهَدُ:

۵ ابوبکر خلافت: یعنی دَ صدیق اکبر رضی الله عنه دَپاره دَ خلافت وصیت اوکړم بیا ما سوچ اوکړو چه الله تعالی اوبیا مسلمانان دَ ابوبکر رضی الله عنه نه بغیر څوك خلیفه نه جوړوی

قوله: أَنْ يَقُولَ

محذوف عبارت: دلته "لا" محذوف دي اي لئلا يقول القائلون اولئلا يتمنى المتمنون

[۵۹۷۱] د مرض وفات ابتداء

٥٩٧١-(١) [٢] ①وَعَنْهَا: قَالَتْ: «رَجَعَ إِلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ذَاتَ يَوْمٍ مِنْ جَنَازَةٍ مِنَ الْبَقِيعِ ② فَوَجَدَنِي وَأَنَا أَجِدُ صُدَاعًا، ③ وَأَنَا أَقُولُ: وَارَأْسَاهُ! قَالَ: "بَلْ أَنَا يَا عَائِشَةُ! وَارَأْسَاهُ! ④ قَالَ: (وَمَا ضَرَّكِ لَوْ مِتِّ قَبْلِي، ⑤ فَغَسَّلْتُكِ وَكَفَّنْتُكِ، ⑥ وَصَلَّيْتُ عَلَيْكِ، وَدَفَنْتُكِ؟) ⑦ قُلْتُ: لَكَأَنِّي بِكَ وَاللَّهِ لَوْ فَعَلْتَ ذَلِكَ لَرَجَعْتَ إِلَى بَيْتِي ⑧ فَعَرَّسْتَ فِيهِ بِبَعْضِ نِسَائِكَ، ⑨ فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ثُمَّ بُدِئَ فِي وَجَعِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ» رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.[1]

ترجمه: ① او بي بي عائشه رضی الله عنها وايي يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم د مديني قبرستان، بقيع کې يوه جنازه دفن کولو سره ماته تشريف راوړی ②نو زه يې دي حالت کې وليدم چې زه د سر په درد مبتلا وم ③او ما وئيل های زما سر چوی حضور ﷺ زه دي حالت کې ليدو سره او زما دا الفاظ آوريدو سره وفرمايل اې عائشې رضی الله عنها ته خان ته څه وايې زه وايم چې زما سر درد کوي ④ بيا ډير محبت سره د مسخرو په طور، حضور ﷺ اوويل دي کې نقصان څه دي که ته زما نه مخکې مړه شوی ⑤نو زه به غسل درکړم او کفن به در کړم ⑥اودجنازی مونځ به درباندې وکړم اودفن به دي کړم ، ⑦دي اوريدو سره ماوويل قسم په الله دا خو ماته ستاسو په باره کې داوس نه په نظر راځي که تاسو داسې وکړل ، يعنی داسې نوبت راغی چې زه ستاسو مخکې مړه شوم او تاسو زما تجهيز او تکفين او تدفين وغيره وکړی نو تاسو دي أمورو نه فارغيدو سره ⑧زما کور ته واپس راتلوسره خپلي څه بلي ښځي سره به شپه تيره کړی ⑨حضور ﷺ زما دا الفاظ آوريدو سره چې زما غيرت او حميت باندې د لالت کوي په خندا شو او بيا ، هغه ورځي نه، د حضور ﷺ د مريضی سلسله شروع شوه چې هغه کې حضور ﷺ وفات شو (دارمي)

حل اللغات:- ① صُدَاعًا: اى وَجَعِ رَأْسِي: دسر درد. ② وَمَا ضَرَّكِ: تاته څه ضرر اونقصان دي ③ فَعَرَّسْتَ: دلته د تعريس نه مراد يا شپه تيرول دی يا دا کنايه ده دجماع نه

تسهيلات: **قوله فَغَسَّلْتُكِ**

د نبی عليه السلام عائشې ته دغسل ورکولو خوشخبری ورکول: اې عائشه زما په ژوند کښې

[1]) اخرجه الدارمى فى السنن رقم الحديث ٨٠

ستا فوت کیدل ستا په حق کښې بهتر دی څکه چه ته به زما په لاس باندې غسل، کفن او دَ جنازې مونځ حاصل کړې

یو اشکال اودهغې جواب: دا دې واضحه وی چه دا دَ رسول کریم ﷺ خصوصیت دې چه حضورپاك خپلو ازواجو مطهراتو ته دَ وفات نه پس غسل اوکفن ورکولې شی څکه چه دَ رسول الله ﷺ په وفات سره دَ هغوی نکاح نه ماتیږی هم په دې وجه ازواج مطهرات دَ رسول الله ﷺ په نکاح کښې پاتې کیدو دَ وجې بله نکاح نه ده کړې خودَ حضورپاك نه علاوه مسئله هم دغه ده چه خاوند دَ خپلې بی بی ته دَ وفات نه پس غسل اوکفن نه شی ورکولې

خاوند ته د غسل ورکولو جواز: او ښځه چونکه دَ خاوند په عدت کښې وی په دې وجه هغه خپل مړ خاوندته غسل هم ورکولې شی اوکفن هم لکه چه حضرت ابوبکر ﷺ ته دَ هغوی بی بی حضرت اسماء بنت عمیس ﷺ غسل ورکړې وو

[۵۹۷۲] د نبی علیه السام په وفات د خضر علیه السلام تعزیت

۵۹۷۲-( ) [۱۷] [۱] وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- [۲] أَنَّ رَجُلًا مِنْ قُرَيْشٍ دَخَلَ عَلَى أَبِيهِ عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ، فَقَالَ: [۳] أَلَا أُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-؟ [۴] قَالَ: بَلَى حَدِّثْنَا عَنْ أَبِي الْقَاسِمِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-! [۵] قَالَ: «لَمَّا مَرِضَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَتَاهُ جِبْرِيلُ فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ! [۶] إِنَّ اللّٰهَ أَرْسَلَنِي إِلَيْكَ تَكْرِيمًا لَكَ، وَتَشْرِيفًا لَكَ، [۷] خَاصَّةً لَكَ يَسْأَلُكَ عَمَّا هُوَ أَعْلَمُ بِهِ مِنْكَ،

ترجمه: [۱] او حضرت امام جعفر صادق ابن محمد خپل والد (حضرت امام باقر ﷫) نه روایت کوي [۲] چې قریشو نه یو سړی د هغه والد حضرت امام علی زین العابدین ابن حسین (لمسی د حضرت علی کرم الله وجهه) په خدمت کې حاضر شو نو حضرت امام علی زین العابدین ﷫ هغه ته اوویل [۳] آیا زه ستامخکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث بیان کړم [۴] هغه سړی اوویل هو زمونږ مخکې د حضرت ابو القاسم (محمد ﷺ) حدیث ضرور بیان کړی [۵] نو امام علی زین العابدین ﷫ ورته بیان وکړی کوم وخت چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مریض شو نو حضرت جبرائیل علیه السلام (پوښتنه کوله او خداوندی پیغام رسولو دپاره) حضور ﷺ ته راغی او عرض یې وکړې ای محمد ﷺ [۶] الله تعالی ستاسو د تکریم او تعظیم دپاره زه ستاسو په خدمت کې رالیږلې یم او دا تعظیم وتکریم (چې د کومې خبرې صورت کې دې هغه صرف) ستا ﷺ دپاره مخصوص دې [۷] او هغه خبره داده چې) الله تعالی ستا نه هغه شی پوښتې چې هغه یې ستا نه زیات پیژني (څکه چې د ظاهر او باطن یو شی د هغه نه پټ نه دې)

حل اللغات:- ① تَكْرِيمًا: د عزت دپاره ② تَشْرِيفًا: أَيْ: تَعْظِيمًا: د احترام دپاره، د عظمت دپاره.

---

۱) اخرجه البیهقی فی دلائل النبوة رقم الحدیث ۷/ ۲۶۷

[۱] يَقُولُ: كَيْفَ تَجِدُكَ، قَالَ: أَجِدُنِي يَا جِبْرِيلُ! مَغْمُومًا، [۲] وَأَجِدُنِي يَا جِبْرِيلُ! مَكْرُوبًا). [۳] ثُمَّ جَاءَهُ الْيَوْمَ الثَّانِي، فَقَالَ لَهُ ذٰلِكَ، [۴] فَرَدَّ عَلَيْهِ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَمَا رَدَّ أَوَّلَ يَوْمٍ، [۵] ثُمَّ جَاءَهُ الْيَوْمَ الثَّالِثَ، فَقَالَ لَهُ كَمَا قَالَ أَوَّلَ يَوْمٍ، [۶] وَرَدَّ عَلَيْهِ كَمَا رَدَّ عَلَيْهِ، [۷] وَجَاءَ مَعَهُ مَلَكٌ يُقَالُ لَهُ: إِسْمَاعِيلُ عَلَى مِائَةِ أَلْفِ مَلَكٍ، [۸] كُلُّ مَلَكٍ عَلَى مِائَةِ أَلْفِ مَلَكٍ، فَاسْتَأْذَنَ عَلَيْهِ، فَسَأَلَهُ عَنْهُ،

ترجمه: [۱] هغه پوښتنه کوي چې تاسو خپل ځان څرنګه پیدا کوي یعنی ستاسو څه حال دي؟ حضور ﷺ وفرمایل جبرائیل! زه خپل ځان غم زده پیدا کونکي بیا وینم [۲] او اې جبرائیل! زه خپل ځان مضطرب او پریشانی کې وینم [۳] حضرت جبرائیل، دا جواب آخستو سره لاړلو او، بیا په دویمه ورځ د حضور ﷺ خدمت کې حاضر شو او هغه الفاظ یې اوویل کوم چې په اولنی ورځ یې ویلي ؤو [۴] نبی کریم صلی الله علیه وسلم هم جواب کې هغه خبره وکړه کومه چې یې مخکې کړې وه [۵] په دریمه ورځ حضرت جبرائیل علیه السلام بیا د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو او هغه الفاظ یې اوویل کوم چې یې مخکې ویلي ؤو [۶] نبی کریم صلی الله علیه وسلم هم هغه خبره وکړه کومه چې مخکې کړې وه [۷] او په هغه ورځ یې د هغه ورځې نه وروسته په یوه بله ورځ حضرت جبرائیل سره یوه بله فرشته هم ورسره وه چې اسمٰعیل یې ورته وئیل چې داسې دیو لاک فریښتو افسره ده [۸] چې په هغوی کې یوه یوه فریشته د یو یو لاک فریښتو افسره ده هغه اسمٰعیل فریښتې د حضور ﷺ خدمت کې د حاضریدو اجازت وغوښتی، حضور ﷺ د جبرائیل نه د هغه فریښتې په باره کې پوښتنه وکړه، او هر کله چې جبرائیل د هغه پوره تعریف وکړی چې دا اسمٰعیل فریښته ده او د هغه داحیثیت دي نو حضور اسماعیل فریښتي ته د حاضریدو اجازت ورکړی

حل اللغات: -۞ مَغْمُومًا: أَيْ: مَهْمُومًا: د غم نه ډک، غمجن. ۞ مَكْرُوبًا: أَيْ: مَحْزُونًا: په تکلیف کښې. پریشانه

[۱] ثُمَّ قَالَ: هٰذَا مَلَكُ الْمَوْتِ يَسْتَأْذِنُ عَلَيْكَ. [۲] مَا اسْتَأْذَنَ عَلَى آدَمِيٍّ قَبْلَكَ، وَلَا يَسْتَأْذِنُ عَلَى آدَمِيٍّ بَعْدَكَ. [۳] فَقَالَ: ائْذَنْ لَهُ، فَأَذِنَ لَهُ، فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، [۴] ثُمَّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ! إِنَّ اللّٰهَ أَرْسَلَنِي إِلَيْكَ، [۵] فَإِنْ أَمَرْتَنِي أَنْ أَقْبِضَ رُوحَكَ قَبَضْتُ، [۶] وَإِنْ أَمَرْتَنِي أَنْ أَتْرُكَهُ تَرَكْتُهُ [۷] فَقَالَ: وَتَفْعَلُ يَا مَلَكَ الْمَوْتِ؟ [۸] قَالَ: نَعَمْ، بِذٰلِكَ أُمِرْتُ، وَأُمِرْتُ أَنْ أُطِيعَكَ،

ترجمه: [۱] او بیا حضرت جبرائیل د څه توقف نه وروسته اوویل چې دا د مرګ فریښته (عزرایل) هم حاضر دي او د حاضري اجازت غواړی [۲] حالانکه هغه فریښته د مرګ نه چیرته د حضور ﷺ نه مخکې اجازت غوښتي دي او نه به د حضور ﷺ نه وروسته د هیڅ چا نه اجازت وغواړی، یعنی دا صرف ستاسو اعزاز او شرف دي، چې هغه ته ستاسو نه د اجازت غوښتو ضرورت شوی دي ګینې په نورو خلقو خو اچانک راځي او روح ځینې قبضه وي [۳] حضور ﷺ وفرمایل هغه ته اجازت ورکړه نو حضرت جبرائیل علیه السلام ملک الموت

ددي اجازت نه خبر کړی او هغه د حضور ﷺ خدمت کې حاضر يدو سره سلام عرض کړی ۴ وبیا يې اوویل ای محمد ﷺ الله تعالٰی زه ستاسو خدمت کې رالیږلی یم ۵ که تاسو دروح قبض کولو حکم راکوی نو قبض به یې کړم ٦ او که تاسو داحکم راکوی چې زه تاسو پریږدم نو زه مو پريږدم ۷ حضور ﷺ ورته وفرمایل اې د مرګ فریشتې ! آیا ته به هغه کوې څه چې زه درته حکم درکړم د مرګ ۸ فریشتې جواب ورکړی بیشکه ماته خو حکم دا راکړی شوی دی (چې تاسو ته اختیار درکړم) او څه چې تاسو فرمايې د هغه اطاعت کوم

۱ قَالَ: فَنَظَرَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِلَى جِبْرِيلَ -عَلَيْهِ السَّلَامُ- ۲ فَقَالَ جِبْرِيلُ: يَا مُحَمَّدُ! إِنَّ اللّٰهَ قَدِ اشْتَاقَ إِلَى لِقَائِكَ، ۳ فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لِمَلَكِ الْمَوْتِ: (امْضِ لِمَا أُمِرْتَ بِهِ) ۴ فَقَبَضَ رُوحَهُ، ۵ فَلَمَّا تُوُفِّيَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَجَاءَتِ التَّعْزِيَةُ ٦ سَمِعُوا صَوْتًا مِنْ نَاحِيَةِ الْبَيْتِ:

ترجمه: ۱ امام علی زین العابد بن وایي نبی کریم صلی الله علیه وسلم د مرګ د فریشتې دا خبره آوریدو سره حضرت جبرائیل ۲ طرف ته وکتل لکه چې هغوی نه یې مشوره وغوښته چې وبنایه ماته څه کول پکار دي حضرت جبرائیل علیه السلام عرض وکړی اې محمد ﷺ! حقیقت خو دادي چې الله تعالٰی ستاسو د ملاقات مشتاق دي ۳ حضور ﷺ چې دا واوریدل نو بلا تأمُل د مرګ فریشتې ته یې وفرمایل د کومې خبرې چې تاته حکم شوی دي په هغه عمل وکړه ۵ نو فریشتې د حضور ﷺ روح مبارك قبض کړی هر کله چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم وصال وشو نو یو تعزیت کونکې اهل بیت ته تسلی ورکولو دپاره راغی ٦ خلقو د کور د یو ګوټ نه آواز راتلو سره واوریدل چې یو سړی وايي

حل اللغات: -۵ اِشْتَاقَ: شوق لری، خوښوی، ۹ اِمْضِ: أي: اُنْفُذْ: نافذ اوکړه، عمل اوکړه، ۵ التَّعْزِيَةُ: تعزیت کونکې، تسلی ورکونکې

۱ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ، ۲ إِنَّ فِي اللّٰهِ عَزَاءً مِنْ كُلِّ مُصِيبَةٍ، ۳ وَخَلَفًا مِنْ كُلِّ هَالِكٍ، ۴ وَدَرَكًا مِنْ كُلِّ فَائِتٍ، ۵ فَبِاللّٰهِ فَاتَّقُوا، ٦ وَإِيَّاهُ فَارْجُوا، ۷ فَإِنَّمَا الْمُصَابُ مَنْ حُرِمَ الثَّوَابَ. ۸ فَقَالَ عَلِيٌّ: أَتَدْرُونَ مَنْ هَذَا؟ هُوَ الْخَضِرُ -عَلَيْهِ السَّلَامُ-». -رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ).

ترجمه: ۱ اې اهل بیتو! کوم خلق چې دلته موجود دي په تاسې دي سلامتیاوي اودالله تعالٰی رحمت دي وي اودهغه برکتونه دي وي ۲ بیشکه دالله تعالٰی په یادولو کې تسلی ده دهرمصیبت څخه ۳ او الله تعالٰی د هر هلاك کیدو شی بدله ورکونکې ۴ او د هر فوت کیدونکې شی تدارك کونکې دي ۵ هر کله چې صورت دادي نو د الله مدد سره تقوٰی حاصله کړی ٦ هغه نه اُمید ساتې ۷ مصیبت زه ده حقیقت کې هغه سړی دي چې دثواب نه محروم کړی شی ۸ حضرت علی ؓ اوویل تاسو خلق پوهیږئ د تعزیت او تسلی الفاظ ویونکې، دا سړی څوك دي دا حضرت خضر علیه السلام دي دا روایت بیهقي ؒ د دلائل النبوة کې نقل کړی دي.

حل اللغات:- ⑧ عَزَاءً: أَيْ تَسْلِيَةً: تسلی، سکون، ⑨ خَلَفًا: أَيْ: عِوَضًا: بدله ورکونکي (قائم مقام ته هم وائی خو دلته عوض مراد دي)، ⑩ دَرَكًا: أَيْ: تَدَارُكًا: بیاموندل، حاصلول ⑪ الْمُصَابُ: مصیبت زده، مصیبت وهلي يعنی چاته چه مصیبت اورسيږي.

تسهیلات:

قوله: أَجِدُنِي يَا جِبْرِيلُ! مَغْمُومًا،

د تکلیف د اظهار حکم: يعنی خپل ځان خفه اودلګير ګنړم لیکن دا شکایت دَالله تعالی په وړاندي دي (إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللهِ) تاهم په هرحال کښي دَالله تعالی شکراداکوم اووايم الحمد لله.

قوله: هَذَا مَلَكُ الْمَوْتِ:

د نبی علیه السلام څخه د روح قبض کولواجازت غوښتل: يعنی دَ روحونو په قبض کولوباندي مقرر فرښتونه عظيم الشان فرښته ده چه دي نه وړاندي چاله نه ده راغلي اونه به بیادَ چادپاره راشي. نه ده دَ چانه دَ دننه راتلواجازت غوښتي دي اونه به دَچانه اجازت اوغواړي. صرف تاسونه دَ راتلواجازت غواړي.

قوله: فَقَالَ عَلِيٌّ:

د علی څخه مراد: دي نه زين العابدين هم مراد کيدي شی او حضرت علی مرتضی ﷺ هم مرادکيدي شی. دويم زيات واضح دي چه هم حضرت علی ﷺ مراددي

قوله: هُوَ الْخَضِرُ:

د خضر علیه السلام په وفات اوحیات کښي مذاهب:

① دَعامو مشانخواوصوفياؤ په نيزهغه ژوندي دي

② نور علماء دَ هغه دَ مرګ قائل دی

داول فريق دليل: دَزير بحث حديث نه واضح کيږي چه حضرت خضر ژوندي دي د اوهغه دَ رجال الغيب دَ کسانونه دي دَ تکويني نظام سره متعلق دي په هغه باندي دَ ظاهری نظام او ظاهری شريعت احکام نه شی نافذکولي

دواړو طرفوته دلائل دی.

د دويم فريق دلائل: ① که چري خضر علیه السلام ژوندي وي نوهغه به حضورپاك سره ملاقات کړي وي په حضورپاك باندي به ئې ايمان راوړلو او په غزواتو کښي به شريکيدلو.

② په يوحديث کښي دی چه حضورپاك فرمائيلی نن چه دَ زمکي په مخ څوك ژوندي هغه به دَ سلوکالونه پس ختم شي. خضر که دغه وخت کښي موجود وي نويقيناًدَ سلوکالونه پس به مړشوي وی.

د اول فريق د طرفه جواب: صوفياء كرام جواب وركوى چه ګورئى دَحضرت خضر علیه السلام دَ ظاهرى نظام سره هيڅ تعلق نشته دې هغه دَ باطن اوتكوينى نظام سرې دې په هغه باندې ظاهرى نصوص نافذ كيدې نه شى

په زمكه او آسمانونوكښې د څلورو پيغمبرانو حيات: ملا على قارى رحمه الله ليكلى دى چه څلور انبياء كرام دې وخت كښې ژوندى دى

دوه آسمانى ژوندى پيغمبران: دوه په آسمانونوكښې دى ① حضرت عيسى علیه السلام ② حضرت ادريس علیه السلام

دوه زمينى ژوندى پيغمبران: اودوه په زمكه باندې دى ① حضرت الياس علیه السلام ② حضرت خضر علیه السلام

[۱۰] باب تركة النبى ﷺ

دَرسول الله ﷺ دَ تركې په بيان كښې

خلاصة الباب:
فيه ستة عشر أحاديث مشتملة على أربع مسائل:
① عدم ترک النبي ﷺ شيئا من الميراث.: ۱، ۲.
② كون ترك النبي ﷺ صدقة: ۲، ۳، ۴.
③ كون النبي ﷺ فرطاً لأمته : ۵.
④ تمنى الأمة الآتية رؤية النبي صلى الله عليه وسلم بعد وفاته: ۶.

د باب وجود او عدم وجود: دلته دا باب دَعنوان نه بغيردې لكه چه دا دَ وفات النبى ﷺ دَ پاره په توګه دَ تابع او په توګه دَتكميل دې ليكن په دې باب كښې څومره احاديث دى دَهغې د ټولو تعلق دَ حضورپاك دَ تركې سره دې په دې وجه شارحينو باب تركة النبى ﷺ باب اوټرلو دلته هم دا طريقه اختيار كړې شوې ده په دې باب كښې فصل ثانى اوفصل ثالث نشته دې

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۹۷۲] د نبى عليه السلام ميراث نه پريخودل

۵۹۷۲-(¹)[۱] ① عَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- قَالَتْ: [۲] «مَا تَرَكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- دِيْنَارًا وَلَا دِرْهَمًا وَلَا شَاةً وَلَا بَعِيْرًا، [۳] وَلَا أَوْصَى بِشَيْءٍ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

¹ اخرجه مسلم فى كتاب الوصية/باب ترک الوصية لمن ليس له شىء يوصى فيه (رقم-۱۸ - (۱۶۳۵))وابن ماجه فى كتاب الحدود/باب من سرق من الحرز(رقم ۲۵۹۵) واحمد فى المسند: ۶/۴۴

ترجمه: [۱] بي بي عائشه رضی الله عنها وايي [۲] رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپل وفات نه وروسته نه څه دينار پريښودل نه څه درهم نه څه بزي (چيلی) او نه اوښ پريښودل [۳] او نه حضور ﷺ د څه شی وصيت وکړی (مسلم رحمه الله)

حل اللغات:- ① بَعِيرًا: اوښ

تسهیلات:

قوله: وَلَا أَوْصَى:

د نبی علیه السلام د مال باره کښې عدم وصيت: يعنی حضور پاك هيڅ داسې وصيت نه دې کړې دکوم تعلق چه مال اوجائيداد سره وی او د دين متعلق حضور پاك په خپل آخری وخت کښې وصيتونه فرمائيلی دی چونکه حضور پاك هيڅ څه مال د خپل خان سره نه وو ايږدلې په دې وجه د وصيت ضرورت نه وو. کوم څه چه حضور پاك سره وو هغه حضور پاك په خپل ژوند کښې صدقه کړې وو صرف يوڅو جهادی وسلې نبی پريخودې وې دغه شان حضور پاك د خپل وفات نه پس هيڅوك وصی نه وومقرر کړې اونه ئې د خلافت د باره څوك خوښ کړې وو. په دې جمله د شيعه ګانو هغه غلطه عقيده رد کول مقصود دی په کوم کښې شيعه وائی چه حضرت علی رضی الله عنه د حضوراکرم ﷺ مالی وصی وو او د خلافت وصيت هم د دوی د پاره کړې شوی وو. شيعه ګان په اذانونو کښې د خپلې دغه غلطې عقيدې ترويج کوی او وائی اشهدان عليا ولی الله ووصی رسول الله.

[۵۹۷٤] د نبی کريم ﷺ په ميراث کښې د اوښې پريخودل

صحيح-() [۲] [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ أَخِي جُوَيْرِيَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «مَا تَرَكَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عِنْدَ مَوْتِهِ دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا [۳] وَلَا عَبْدًا وَلَا أَمَةً وَلَا شَيْئًا [۴] إِلَّا بَغْلَتَهُ الْبَيْضَاءَ وَسِلَاحَهُ [۵] وَأَرْضًا جَعَلَهَا صَدَقَةً». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو ابن حارث رضی الله عنه چې (صحابی دي او) د ام المؤمنين بي بي جويريه رضی الله عنها ورور دي وايي [۲] رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپل وفات په وخت نه څه دينار اودرهم پريښودل [۳] نه څه غلام او وينزي يي پريښودي او نه څه بل شی يي پريښودي [۴] البته د حضور ﷺ يوه سپينه غاتره وه (چي هغه ته به يي دلدل وئيل چي مقوقس حاکم اسکندريه د تحفی په طور د حضور ﷺ په خدمت کې راليږلي وه د حضور ﷺ څه هتيار ؤو [۵] او څه زمکه وه چي هغه هم حضور ﷺ صدقه کړی وه (بخاری رحمه الله)

حل اللغات:- ① بَغْلَتَهُ: اوښه (د نبی عليه السلام)

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الوصايا/باب الوصايا وقول النبی صلی الله عليه وسلم: «وصية الرجل مکتوبة عنده» (رقم-۲۷۳۹) والنسائی فی کتاب الأحباس (رقم-۳۵۹٤)

د راوي مختصر تعارف:

حضرت عمرو بن الحارث: نوم عمرو او دَپلار نوم حارث بن ابی ضرار دې. دَ خزاعه قبیلې سره تعلق لرى اودَ حضرت ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها رور دې. په اهل کوفه کښې دَده شمیر کیدې دې. دَ ده نه همیشه ابووائل شقیق بن سلمه اوابواسحاق سهیعی روایت کوی. حافظ ابن حجر فرمائی چه دا دَ رسول الله ﷺ صحابی رضی الله عنه دې دَدوی نه صرف هم دا یو روایت په بخاری کښې نقل شوې دې.(تقریب) او یو روایت په مسلم کښې هم دې. نودَده ټول دوه احادیث نقل کړې شوی دی.

تسهیلات:

قوله: وَأَرْضًا جَعَلَهَا صَدَقَةً.

د فدک زمکه: دا وقف شوې زمکه وه چه دَ فدك او بنونضیر په علاقه کښې وه دکوم نه چه دَ حضورپاك دَ اهل وعیال خرچه وتله.

د غلامانو په ترکه کښې د نه پریخودو وجه: په حدیث الباب کښې دی چه رسول الله ﷺ په خپله ترکه کښې نه غلامان پریخودی وو او نه وینځې. دَدې وجه داده چه دَ حضورپاك په ژوند مبارك کښې کوم غلامان وغیره وو هغه دَ حضورپاك په ژوندمبارك کښې وفات شوی وو یا حضورپاك هغه آزاد کړې وو.

قوله وَسِلَاحَهُ:

د وسلې څخه مراد: دَ حضورپاك دَ وسلې نه مراد هغه ده کومه چه به خاص دَ حضورپاك په استعمال کښې وو. لکه توره، نیزې، زغرې، دَ اوسپنې ټوپئی، سنګین او نیزه او په یو روایت کښې صرف دَ یوې زغرې ذکر دې کوم چه دَ وفات په وخت کښې حضورپاك پریخودی وه او هغه ئی هم یو یهودی سره ګانړه کیخودې وو. یاد لرئی چه په حدیث کښې چه کوم حصر دې هغه اضافی دې او په دې خبره باندې مبنی دی چه دَ استعمالو کړو او دَ معمولی کورنې سامان لکه لږ ډیر څیزونه اعتبار نه کیږی اونه دغه څیزونه په مال او دولت کښې شمیرکولې شی.

قوله جَعَلَهَا صَدَقَةً

د ها ضمیر په مرجع کښې دوه اقوال:

① بعضې حضراتو دَ جعلها ضمیر دَ ذکرشوو ټولو څیزونو طرف ته راګرځولې دې.

② بعضې حضراتو وینلی دی چه دَ ضمیر مرجع صرف دَ زمکې طرف ته ده چه کومه زمکه دَ حضورپاك په ملکیت کښې وه هغه هم حضورپاك صدقه کړې وه هم دغه قول دَ امام عسقلانی رحمه الله دې.

د نبی علیه السلام په ملکیت کښې څلور قسمه زمکې:

① دَ باغ فدك نیمه حصه

② دَ وادی قری دریمه حصه

③ دَ خیبر پنځمه حصه

④ اودَ بنو نضیر دَ زمکې څه حصه.

د میراث په طور اهل بیتو ته د زمکو نه ملاویدل: دَ دغه ټولو زمکو منفعت رسول الله ﷺ صدقه کړې وو. لهذا دلته صدقه دَ وقف په معنی کښې ده په دې وجه ذکر شوې زمکې دَ حضورپاك دَ وصال سره وقف شوې وې.

① په دې وجه دَ رسول کریم ﷺ دَ وصال نه پس حضرت فاطمه ﷺ او ازواج مطهرات په توګه دَ میراث دَ حضرت ابوبکر ﷺ نه غوښتنه اوکړه نوحضرت ابوبکر ﷺ دَ صحابه کرامو دَمشورې نه پس دَمیراث په توګه دَ ورکولو نه انکار کړې وو.

② حضرت عمر ﷺ دَ دغه زمکو تولیت حضرت عباس او حضرت علی ﷺ له ورکړې وو. روستو چه کله دواړو حضراتو دَ تقسیم درخواست اوکړو نوحضرت عمر ﷺ دَ تقسیم نه انکاراوکړو.

③ دغه شان دَ ټولو خلفاؤ په زمانه کښې دغه زمکې هم وقف پاتې وې.

④ مروان په مذکوره زمکوباندې قبضه اوکړه نو حضرت عمر بن عبدالعزیز ﷺ دَ مروان دَ ظلمونو خاتمه اوکړه او سره هغه زمکې ئې راخلاصې کړې او دوباره ئې وقف کړې

[۵۹۷۵]د نبی کریم ﷺ په ترکه کښې عدم میراث

۵۹۷۵-() [۳] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ②(«لَا يَقْتَسِمُ وَرَثَتِي دِينَارًا، ③مَا تَرَكْتُ بَعْدَ نَفَقَةِ نِسَائِي وَمُؤْنَةِ عَامِلِي فَهُوَ صَدَقَةٌ») مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره ﷺ نه روایت دې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② زما دوفات نه وروسته زما وارثان به دینار نه تقسیموي ③ زما چې څه میراث وي هغه به د ښځو د خرڅ او د عامل د أجرت نه وروسته باقي ټول صدقه وي (بخاری و مسلم)

حل اللغات:- ①مُؤْنَةِ: مؤنة بوج او خرچې ته وائی. ②عَامِلِي: عامل ذمه وار ته وائی.

[۱] اخرجه البخاری کتاب الوصایا/باب نفقة القیم للوقف (رقم-۲۷۷۶) فی ومسلم فی کتاب الجهاد والسیر/باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: «لا نورث ما ترکنا فهو صدقة» (رقم-۵۵ - (۱۷۶۰))وابوداود فی کتاب الخراج والإمارة والفیء/باب فی صفایا رسول الله صلی الله علیه وسلم من الأموال (رقم-۲۹۷۴) ومالک فی الموطا کتاب الکلام/باب ما جاء فی ترکة النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۲۸) واحمد فی المسند:۲/۴۶۴

تسهیلات:

قوله: نَفَقَةِ نِسَائِي:

د وفات النبی نه پس د ازواجو مطهراتو د خرچې انتظام: حضورپاك دَ "صفی" په توګه فدك کښې اودغه شان دَ بنونضير په علاقه کښې څه زمکې اخستې وې د کومې نه چه دَ حضورپاك دَاهل وعيال خرچه وتله اودې نه چه به څه بچ کيدل هغه به مسلمانانو باندې تقسيم کيدل دَ حضورپاك دَ بيبيانو دَپاره دَ هغوی دَوفات نه پس نکاح کول منع وو ځکه چه دَ حضورپاك دَ حيات برزخی اثر په دنيا باندې پريوځی. لهذا دَ ازواج مطهرات حيثيت داسې وو لکه چه هغه په عدت کښې ناستې وې په دې وجه دَهغوی خرچه دَ حضورپاك په ذمه باندې وه.

قوله: وَمُؤْنَةِ عَامِلِي:

د عامل څخه مراد: اودَعامل نه مراد دَ حضورپاك نه پس خلفاء دی لکه ابوبکرصديق رضی الله عنه دَ حضورپاك دَ دې وقف شوې زمکې خيال ساتلو. بيا حضرت عمرفاروق رضی الله عنه خيال ساتلو بيا حضرت عثمان رضی الله عنه دَدې توليت مروان ته حواله کړو بيا په دې کښې څه ذاتی قبضه راغله بيا حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله دا قبضه خلاصه کړه اووقفی جوړه کړه بيا چه څه اوشو هغه الله تعالی ته معلوم دی. دَدې حديث نور تفصيل مناقب عمرفاروق رضی الله عنه کښې ان شاء الله راځی.

[۵۹۷۶] د نبي عليه السلام په ترکه کښې صدقه

۵۹۷۶-(۱) [۲] [۱] وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] "«لَا نُورَثُ، مَا تَرَكْنَاهُ صَدَقَةٌ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوبکر رضی الله عنه وايي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل [۲] مونږ انبياء، چې څه زمکه جائيداد پريږدو هغه کې ميراث نه جاري کيږي بلکه هغه صدقه ده (بخاری رحمه الله و مسلم رحمه الله)

تسهیلات: قوله: لَا نُورَثُ:

د انبياء په مال کښې عدم وراثت: يعنی مونږ دَ انبياء کرامو جماعت نه دَچا وارثان کيږو چه دَميراث مال واخلو اونه زمونږ څوك وارث کيدې شی چه زمونږ دَ مال نه حصه دَ ميراث واخلی مونږ چه کوم څه ترکه پريخوده هغه دَ عام مسلمانانو دَپاره وقف شوې صدقه ده.

حرجه البخاری فی کتاب الفرائض/باب قول النبی صلی الله عليه وسلم: «لا نورث ما ترکنا صدقة» (رقم-۶۷۲۶)
مسلم فی کتاب الجهاد والسير/باب قول النبی صلی الله عليه وسلم: «لا نورث ما ترکنا فهو صدقة» (رقم-۵۶ - (۱۷۶۱)
وابوداود فی کتاب الخراج والإمارة والفیء/باب فی صفايا رسول الله صلی الله عليه وسلم من الأموال (رقم-۲۹۷٤)
ومالك فی الموطا کتاب الکلام/باب ما جاء فی ترکة النبی صلی الله عليه وسلم (رقم-۲۷) واحمد فی المسند: ۱٤۵/۶

حضرت صديق اكبر رضي الله عنه دا حديث هغه وخت په توګه د دليل بيان کړو کوم وخت چه حضرت فاطمه رضي الله عنها د حضورپاك د فدك باغ او اموال د بنی نضير مطالبه اوکړه. د صديق اکبر رضي الله عنه دا فيصله د هغوی ذاتي رائې نه وه بلکه د صحابه کرامو يولوئی ګنړې دا فيصله منظور کړې وه او حديث په دې باندې دلالت کولو

د نبی علیه السلام په مال کښې د عدم وراثت وجه: ملاعلی قاری رحمه الله مرقات کښې يو خائې کښې ليکلی دی چه د حضورپاك په مال کښې ميراث خکه نه چليږی چه حضورپاك حيات دې لکه چه د هغوی د لاس نه مال هډو وتلې نه دې هم د غه وجه ده چه ازواج سره نکاح کول حرام وو

د عدم وراثت د تعميم او تخصيص بحث: ملاعلی قاری رحمه الله دا بحث هم چيړلې دې چه آيا دا حکم د ټولو انبياء کرامو د مال دې يا حضورپاك سره خاص دې راجح او معتدل قول هم دغه دې چه دا د ټولو انبياء کرامو د پاره عام حکم دې. علماؤ ليکلی دی چه د حضورپاك په مال کښې ميراث په دې وجه هم نه جاری کيدلو چه د نبی په مرګ باندې خوشحاله نه شي چه د نبی د مال نه به ميراث ملاؤ شي

[۵۹۷۷] د نبی په مخکښې وفات کيدو کښې د امت خيريت

سےہد-( ) [ه] [۱] وَعَنْ أَبِي مُوسَى -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنَّهُ قَالَ: [۲] «إِنَّ اللَّهَ إِذَا أَرَادَ رَحْمَةَ أُمَّةٍ مِنْ عِبَادِهِ [۳] قَبَضَ نَبِيَّهَا قَبْلَهَا فَجَعَلَهُ لَهَا فَرَطًا وَسَلَفًا بَيْنَ يَدَيْهَا، [۴] وَإِذَا أَرَادَ هَلَكَةَ أُمَّةٍ عَذَّبَهَا وَنَبِيُّهَا حَيٌّ فَأَهْلَكَهَا [۵] وَهُوَ يَنْظُرُ، فَأَقَرَّ عَيْنَيْهِ بِهَلَكَتِهَا حِينَ كَذَّبُوهُ وَعَصَوْا أَمْرَهُ»). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوموسی اشعری رضي الله عنه د نبی کريم صلی الله عليه وسلم نه روايت کوي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲] الله تعالی چې خپلو بنده ګانو کې د کوم اُمت په باره کې د خپل رحمت او مهربانی اراده وکړي [۳] نو د هغه اُمت نبی د اُمت، د مجموعي هلاکت، نه مخکې پورته کوي د غه شان الله تعالی هغه نبی د اُمت امير منزل او پيش رو جوړوي، يعنی که هغه نبي د خپل اُمت نه راضي او خوشحاله وي نو آخرت کې د خپل اُمت شافع وي، [۴] او هر کله چې الله تعالی يو اُمت هلاکول غواړي نو هغه اُمت باندې د هغه نبي په ژوند کې عذاب مسلط کوي نو هغه اُمت د هلاکت او تباهی ښکار کيږي [۵] او هغه نبی د خپل اُمت هلاکت او تباهي په خپلو سترګو سره ويني او خپلې سترګې يرې يخوي يعنی خوشحاليږي ځکه چې هغه اُمت خپل نبي د روغجن کولي او د هغه د احکامو نا فرمانی به يې کوله ،مسلم،

حل اللغات:- ① فَرَطًا وَسَلَفًا: د پيش رو او شفيع په معنی کښې دې ② فَأَقَرَّ: أَيْ: أَبَرَّهُمَا: يخوی يعنی خوشحالوی الله تعالی دواړه سترګې د هغوی،

[۱] اخرجه مسلم في كتاب الفضائل/باب إذا أراد الله تعالى رحمة أمة قبض نبيها قبلها (رقم ۲۴ (۲۲۸۸)

تسهيلات:

قوله فَرَطًا وَسَلَفًا:

دهلاکت و نجات په اعتبار سره د امتونو دوه قسمونه: ① مطلب دا چه کله نبی دَخپل امت نه راضي وي وفات شي نو الله پاك دغه نبي دَ هغه دَ امت دَپاره شفيع جوړوي اوکوم نبي چه دَ خپل امت نه خوشحال نه وي نو الله پاك دَ دغه نبي په مخکښې دَ هغه په امت باندې عذاب نازلوي. کله چه هغه نبي دَ نافرمان امت تباهي په خپلو سترګو سره ګوري نو هغه خوشحاليږي او خپلې سترګې يخوي. دَدې نه معلومه شوه چه مخکينی امتونه دَ انبياء کرام عليهم السلام په مخکښې هلاکولو سره الله تعالى دَ هغه انبياء کرامو سترګې يخې کړې ② خودَ رسول کريم ﷺ په وړاندې دَ هغوی امت ته ئې هدايت ورکړو او تابعدار ئې جوړکړو او دَ رسول الله ﷺ سترګې ئې يخې کړې نولکه څنګه چه نبي کريم ﷺ دَ مؤمنانو دَ سترګو يخوالې دې دغه شان دَ حضورپاك تابعدار امت هم دَ حضورپاك دَ سترګو يخوالې دې. لهذا دَ مخکيې تيرشوي انبياء کرامو دَ سترګو يخوالې څه بل څيز دې او دَ رسول الله ﷺ دَ سترګو يخوالې څه بل دې.

[٥٩٧٨] د راتلونکي امت نبي عليه السلام سره عقيدت

٥٩٧٨-() [٦] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ②«وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ ③لَيَأْتِيَنَّ عَلَى أَحَدِكُمْ يَوْمٌ وَلَا يَرَانِي، ④ثُمَّ لَأَنْ يَرَانِي أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ أَهْلِهِ وَمَالِهِ مَعَهُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1] ⑤[وَهَذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّانِي وَالثَّالِثِ

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره ﷺ وايي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ②قسم دي په هغه ذات چې دهغه په قبضه کې د محمد ﷺ ساه ده ③يوه ورځ به په تاسو باندې داسې راشي چې کوم سړی ما ونه ويني ④وبيا هغه ته به زما ليدل ددې نه زيات خوښ وي چې هغه خپل اهل وعيال اوخپل مال ومتاع وويني. (مسلم ﷺ)

تسهيلات:

قوله: لَيَأْتِيَنَّ:

د نبي عليه السلام سره د امت د محبت مثال: دا خطاب صحابه کرامو ته دې اوبيا پوره امت ته هم دې يعنی يوه زمانه به داسې راځی چه زما دَ وفات نه پس به زما سره محبت کونکی داسې خلق وی چه داخبره به غواړی چه دَهغوی اهل وعيال مال حال ټول هرڅه دې قربان شي مګر دَحضورپاك ديدار هغوی ته نصيب شي.

---

[1] اخرجه مسلم فى كتاب الفضائل/باب فضل النظر إليه صلى الله عليه وسلم وتمنيه (رقم-١٤٢ - (٢٣٦٤) واحمد فى المسند: ٧١/٣

توله: مَعَهُمْ:

په معهم کښې تاکيد: دالفظ دَتاکيدپه توګه لګولې شوې دې يعنې اهل وعيال سره مال هم قربان دې. دې سره موجوده صحابه کرامو ته ترغيب ورکول دی چه دې دولت عظمٰی او نعمت کبرٰی نه دَزيات نه زياته فائده اوچته کړئ اوسستی مه کوئ ګنی صباله به ارمان کوئ.

[۱۱] بَابُ مَنَاقِبِ قُرَيْشٍ وَذِكْرِ الْقَبَائِلِ]

دقريشو مناقب او دقبائلو دذکر بيان

خلاصة الباب:

فيه سبعة وعشرون حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① مدح النبي ﷺ قريشاً والدعاء لهم: ۱، ۲، ۱۱، ۲۳.

② كون الخلافة في قريش: ۳، ۴، ۵، ۲۲.

③ العقوبة بإهانة القريش: ۱۰.

④ مدح بعض القبائل والدعاء لهم: ۷، ۸، ۹، ۱۲، ۱۳، ۱۶، ۱۷، ۲۲، ۲۶.

⑤ ذم بعض القبائل: ۶، ۱۴، ۱۵، ۱۸، ۲۴، ۲۵. هذا من توابع: ۲۴.

⑥ الزجر ببغض العرب والحث بحبهم: ۱۹، ۲۰، ۲۷.

⑦ كون هلاك العرب علامة الساعة: ۲۱.

قوله: مَنَاقِبِ قُرَيْشٍ ،

د مناقب تعريف او معنی: مناقب دَ منقبة جمع ده منقبت هغه فضيلت برزګنی او اوچتوالی ته وائی دکوم په ذريعه چه انسان دَالله تعالی په حضور کښې دَعظمت اوشرافت والا جوړيږی اومخلوق خدا په نيزهم عزت کاميابی اورفعت او لوړ مقام حاصلوی. کوم سړی ته چه دَالله تعالی په حضور دَعزت اوشرافت مقام ملاؤشی هغه دمخلوق په نيزهم اوچت مقام حاصلوی.

فائده: البته دَمخلوق په نيز معززکيدل دَالله تعالی په نيزدَمقبول کيدو دليل نه دې بلکه دَالله تعالی په نيز چه کله دَمقبوليت مقام وی نودَمخلوق په نيزبه هم دَمقبوليت اعتباروی ګنی نه به وی.

د قريش وجه تسميه: قريش دَعربودَ يوې مشهورې معروف قبيلې نوم دې په حقيقت کښې قريش دَسمندر هغه لوئی کب ته وائی چه په سمندرکښې په ټولوکبانوباندې غالب وی. داقبيله هم دَ عربوپه ټولو قبائلوباندې غالب وه. لفظ قريش دَ نضر بن کنانه لقب وو. دَهغوی په اولادکښې چه څومره قبائل وو په هغوی باندې دَ قريشو اطلاق اوکړې شو کوم

عرب چه دَ نضرین کنانه په اولاد کښې نه دی هغه قریش نه دی

قوله: وَذِكْرِ الْقَبَائِلِ،

د قبائل معنی او دې څخه مراد: قبائل جمع ده دَدې مفرد قبیله ده. دلته په دې باب کښې دَحضرت آدم علیه السلام دَ اولاد دَمختلفو قبائلو خصوصیات امتیازات ښه والی اوبدوالی په اجمالی توګه باندې بیان کړې شوې دې

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۹۷۹] قریشو پسې اقتداء

۵۹۷۹-() [۱] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «النَّاسُ تَبَعٌ لِقُرَيْشٍ فِي هَذَا الشَّأْنِ، [۳] مُسْلِمُهُمْ تَبَعٌ لِمُسْلِمِهِمْ، [۴] وَكَافِرُهُمْ تَبَعٌ لِكَافِرِهِمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] په دې خبره کښې خلق د قریشو تابع دې [۳] غیرقریشي مسلمانان د قریشي مسلمانانو [۴] وغیرقریشي کافران دقریشي کافرانو تابع دې. (بخاری مسلم)

حل اللغات:- ① تَبَعٌ: د تابع جمع ده، تابعداری کونکی.

تسهیلات: **قوله:** النَّاسُ تَبَعٌ:

د مذکوره جملې مفهوم او مطلب: یعنی خلق ټول په ټول دَ قریشو تابع دی دَ قریشو مسلمانان دَغیرقریش مسلمانانو سرداران او خلیفه ګان دی اودَ قریشو کافران دَهغوی دکافرانو سرداران دی دَدې مطلب دادې چه کوم وخت قریشو اسلام نه وو قبول کړې نوعرب په دې انتظار کښې وو چه آیا قریش اسلام قبلوی که نه؟ کله چه قریشو اسلام قبول کړو اومکه فتح شوه نوټول عرب په اسلام کښې داخل شو دې نه معلومه شوه چه قریش دکفرپه حالت کښې هم سرداران دی او په حالت دَاسلام کښې هم سرداران دی لکه چه قیادت سیادت حکومت او دَخلافت صلاحیت اواستعداد الله تعالی په قریشو کښې کیخودې دې لهذا غیرقریش ټول دَدوی تابع دی

د خلافت دپاره د قریشی کیدو په شرطیت کښې دوه مذاهب:

① په دې حدیث کښې امامت کبریٰ یعنی حکومت اوخلافت طرف ته اشاره ده چه په دې کښې به خلق دَ قریشو تابع وی حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه دَ انصارو په مخکښې هم په دې حدیث سره په قیادت دَ قریش باندې استدلال فرمائیلې وو چه "الائمة من قریش" په دې

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب قول الله تعالی: {یا أیها الناس إنا خلقناکم من ذکر وأنثی وجعلناکم شعوبا وقبائل لتعارفوا إن أکرمکم عند الله أتقاکم} [الحجرات: ۱۳] (رقم-۳۴۹۵) ومسلم فی کتاب الإمارة/باب الناس تبع لقریش. والخلافة فی قریش (رقم-۲ - (۱۸۱۸) واحمد فی المسند: ۱۰۱/۱

حدیث کښې دَ قریشو تقدم اومقدم کولوترغیب دې چه خلقو له پکاردی چه دَقریشو دَ قیادت خیال اوکړی که چادَ دې خصوصیت خیال اونه ساتلو نودَ دې مطلب دانه دې چه دَغیرقریش قیادت صحیح نه دې قیادت اوخلافت صحیح دې. البته دَ کوم خصوصیات حامل چه یو قریشی کیدې شی غیرقریشی نه شی کیدې. نو په دې حدیث کښې دَ قریشو دَخصوصیات امتیازات اولیاقت ذکردې اودَ قریشو اهمیت او اهلیت اودَهغوی دَ صفتونو ذکردې. دَدې مطلب دانه دې چه غیرقریشی دَدې اهل نه شی ګڼړلې بلکه په حدیث کښې دَ قریش دَ یواستحقاق اوترجیح ذکر دې که چرته په دنیاکښې دَ قریش دوه کسان هم پاتې شی نویودې امیرجوړشی اوبل دې مامورجوړشی داهم دَدې حدیث یوه تشریح ده.

④ نورو علماؤ اوفقهاؤ لیکلی دی چه دَ خلیفه کیدودپاره دَ قریشی کیدل لازمی دې دَغیرقریشی بادشاه جوړول دَ مسلمانانودپاره جائز نه دی ځکه چه په دې باندې اجماع شوې ده. صحابه کرامو هم دغه شان فیصله کړې ده اوفقهاؤ هم داسې لیکلی دی. لهذا دَ قریشی دَ موجودکیدو په صورت کښې غیرقریشی صحیح نه دې. اوکه چرته قریشی موجودنه وی نوبیا دکنانه څوك سړې خلیفه جوړکړئی که هغه ملاؤ نه شی نو بیا دَعرب بنواسماعیل نه څوك خلیفه جوړکړئی اوکه چرته دَهغوی نه هم څوك ملاؤ نه شی نوبیا څوك عجمی سړې راولئی. بهرحال دَ خلیفة المسلمین دپاره قریشی کیدلو شرط ټولو کتابونو اواحادیثوکښې دې البته بعضې شیعه ګان، معتزله، مبتدعه او مودودیانودَ دې شرط نه انکار کړې دې.

[۵۹۸۰] دقریشو سرداری

> ۵۹۸۰-()[۲] ①وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ②«النَّاسُ تَبَعٌ لِقُرَيْشٍ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت جابر نه روایت دې چې نبی کریم ﷺ وفرمایل ②چې خلق په خیر او شر ‹ دواړو حالاتو› کې د قریشو تابع دي .

تسهیلات:

قوله: النَّاسُ تَبَعٌ لِقُرَيْشٍ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ

دخیر اوشر مصداق: -أي الإسلام- دَخیر نه مراد اسلام دې.

قوله: وفی الشر: دَ "شر" نه مراد کفر دې ‹کمافی المرقاة› مطلب دادې چه دَ قریشو کافران دَ نورو کافرانو سرداران او مؤمنان قریش دَ نورو مؤمنانو سرداران دی.

[1] اخرجه مسلم فی کتاب الإمارة/باب الناس تبع لقریش. والخلافة فی قریش (رقم-۲ - (۱۸۱۹) واحمد فی المسند:۳/۳۷۹

[۵۹۸۱] په قريشو كښې د خلافت حقداري

۵۹۸۱-(۱) [۲] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «لَا يَزَالُ هَذَا الْأَمْرُ فِي قُرَيْشٍ مَا بَقِيَ مِنْهُمُ اثْنَانِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضی الله عنه نه روايت دي نبی كريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل [۲] دا امر يعنی خلافت به هميشه قريشو كې وي څو پورې چې هغوی كې دوه خلق هم پاتې وي (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله مَا بَقِيَ مِنْهُمُ اثْنَانِ:

د خلافت دپاره د قريشي كيدو دليل: دَ دې حديث لاندې امام نووي رحمه الله فرمائی چه دَدې په شان نور احاديث په كوم كښې چه دَ خلافت حق دَ قريشو دپاره ذكر كړې شوي دي دَدې خبرې واضح دليل دې چه دَ خلافت منصب دَ قريشو دپاره مخصوص دې. غير قريش خليفة المسلمين جوړول جائز نه دی. هم په دې باندې دَ صحابه كرامو او روستو دَ امت مسلمه اجماع ده.

د نبی عليه السلام د فرمان په حيثيت كښې درې احتمالات. ① امام نووي رحمه الله داهم ليكلی دی چه حضور پاك دَدې ارشاد مبارك په ذريعه دا خبر وركړې دې چه دا حكم به دَ آخري زمانې پورې برابر جاري او نافذ وی تركومې پورې چه په دې دنيا كښې دوه كسان هم باقي وی. نوګويا دا د نبی عليه السلام د طرفه پيشنګوئی ده.

② تحقيقی قول دادې چه داخبر په اصل كښې دَ امر يعنی دَحكم په معنی كښې دې لكه چه حضورپاك دَ خبر په اسلوب كښې داحكم وركړې دې چه په هر مؤمن باندې لازم دی چه هغه قريش خپل سرداران اومنی دَهغوی اتباع اوكړی اودَ هغوی دَ امامت او قيادت نه انحراف اونه كړی.

③ دا هم وئيلې شی چه دَ حضورپاك دا ارشاد مبارك په خپله ظاهري معنی باندې محمول دې مګر "ما اقاموا الدين" الفاظو سره مقيد دې لكه چه راتلونكی روايت كښې دی. په دې صورت، كښې به دَ حديث مطلب دا شی چه دَ خلافت منصب او امارت به تر هغه وخته پورې برابر په قريشو كښې وی تركومې پورې چه قريش دين، عدل او انصاف قائم ساتی. كله چه قريشو دين، عدل او انصاف پريخودو نو خلافت به دَ قريشو نه اوحی.

---

[۱] اخرجه البخاري فی كتاب المناقب/باب مناقب قريش (رقم-۳۵۰۱) ومسلم فی كتاب الإمارة/باب الناس تبع لقريش، والخلافة فی قريش (رقم-۴ - (۱۸۲۰)

[۵۹۸۲] د دين د تابعدارۍ په صورت کښې د قريشو د خلافت مشروعيت

۵۹۸۲-(۱)[۴] [۱] وَعَنْ مُعَاوِيَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۳] «إِنَّ هَذَا الْأَمْرَ فِي قُرَيْشٍ، [۴] لَا يُعَادِيهِمْ أَحَدٌ إِلَّا كَبَّهُ اللهُ عَلَى وَجْهِهِ، مَا أَقَامُوا الدِّينَ» رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت امير معاويه رضي الله عنه وايي [۲] ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا واوريدل [۳] بلا شبه دا امر يعنى منصب خلافت به قريشو کې وي څو پورې چې هغوى په دين قائم وي [۴] او کوم سړى چې د قريشو سره د ښمني او عداوت لري الله تعالى به هغه پرمخې وغورځوي (يعني د ذلت او خوارۍ طوق به د هغه په غاړه کې واچوي . (بخاري)

حل اللغات:- ① كَبَّهُ: أي: أسقطه: پرمخې او اپوته زورندولو په معنى کښې دې (يعني الله پاک به نې پرمخې اپوته په دوزخ کښې اوغورځوي). ② لَايُعَادِيهِمْ: دادَ عداوت اودښمنۍ په معنى کښې دې.

تسهيلات:

قوله: مَا أَقَامُوا الدِّينَ:

د قريشو د خلافت شرط: يعنى دَ قريشو دَخلافت استحقاق دې خبرې سره مشروط دې چه هغوى به شريعت نافذ کوى. دَدين دَ حدودو حفاظت کوى. چونکه دَخلافت اصل مقصد دَدين تنفيذ اودَ اسلام جنډا اوچتول دى. که چرې قريشو داکارپريخودو نوبيابه دَخلافت مستحق پاتې نه شي بلکه هغوى به واجب العزل شي.

د ترک الصلاة بادشاه د معزوله کولو حکم: بعضې رواياتو کښې "ما اقام الصلوة" الفاظ راغلى دى. لهذا شارحينوليکلى دى که يوبادشاه پخپله مونځ نه کوى اودَمونځ کولودَپاره څه نظام هم نه قائم کوى نوهغه هم واجب العزل دې. نوچه تنفيذ دَ شريعت او اقامت الصلوة که چرته په يوبادشاه کښې نه وى نوهغه واجب العزل دې اودَهغه خلاف خروج او بغاوت ضرورى دې.

[۵۹۸۳] په قريشو کښې د دولسو خليفه ګانو راتلل

۵۹۸۳-(۲) [۵] [۱] وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۲] «لَا يَزَالُ الْإِسْلَامُ عَزِيزًا إِلَى اثْنَيْ عَشَرَ خَلِيفَةً [۳] كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ» . [۴] وَفِي رِوَايَةٍ: «لَا يَزَالُ أَمْرُ النَّاسِ مَاضِيًا مَا وَلِيَهُمُ اثْنَا عَشَرَ رَجُلًا [۵] كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ» . [۶] وَفِي رِوَايَةٍ: «لَا يَزَالُ الدِّينُ قَائِمًا حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ [۷] يَكُونُ عَلَيْهِمُ اثْنَا عَشَرَ خَلِيفَةً كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ابن سمره رضي الله عنه وايي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه واوريدل [۲] اسلام ته به دولس ۱۲ خلفاؤ پورې قوت او غلبه حاصليږي [۳] او ټول به قريشو

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب مناقب قریش (رقم-۳۵۰۰)

[۲] اخرجه البخاری فی کتاب الأحکام/باب الاستخلاف (رقم-۷۲۲۲) ومسلم فی کتاب الإمارة/باب الناس تبع لقریش، والخلافة فی قریش (رقم-۷ - (۱۸۲۱) واحمد فی المسند: ۱۰۱/۵

نه وي ④ يو روايت کې داسې دي (حضور ﷺ وفرمايل) د خلقو ديني او مذهبي أمورو کې استقامت ملي او ملکي معاملاتو کې استحکام او عام نظم ونسق کې عدل او انصاف او حق و راستي باندې مبني، د نظام کار سلسله به هغه وقته پورې قائمه وي څو پورې چې د هغوئ دولس حاکمان وي ⑤ او د هغوئ ټولو تعلق د قريشو سره وي ⑥ او يو روايت کې داسې دي (حضور ﷺ وفرمايل) دين به برابر قائم وي تر دې چې قيامت راشي ⑦ ويا په خلقو ددې دولسو خليفه ګانو حکومت قائم وي چې هغه به قريشو نه وي (بخاري ومسلم)

حل اللغات:- ① عَزِيزًا : أَيْ: قَوِيًّا شَدِيدًا: قوت اوغلبه حاصلونکې، يا په ديني او ملکي امورو کښې استقامت او استحکام مراد دې.

تسهیلات:

قوله: اثْنَا عَشَرَ خَلِيفَةً: يعنی قيامت به ترهغه وخته پورې نه راځي ترکومې چه دَ قريشو ۱۲ خليفه ګان ښکاره نه شي. په دې حديث باندې پوهيدل اودَدې مصداق متعين کول کافی مشکل دی.

د دولسو خليفه ګانو په مصداق کښې اقوال: په دې وجه به دَ څه تفصيل ضرورت پيښيږي. لهذا په دې ځان پوهه کول پکاردی چه په دې حديث کښې ذکر شوو دولسو خليفه ګانو نه دامراد نه دې چه هغوی به دَحضورپاك نه پس متصلاً وار په وار راځی ځکه چه دَ حضورپاك نه پس متصلاً خلافت علی منهاج النبوة خودَحديث پيشنګوئی مطابق صرف ديرش کالوپورې پاتې دې. دې نه پس خلافت علی العموم سلسله شروع شوې وه. لهذا په دې حديث کښې دَ ۱۲ خليفه ګانونه مراد داسې خلفاء دی چه دَقيامته پورې به په مختلف وختونو کښې راځی دَچادَ عدل او انصاف چه مشهور وو. هم دَدې په رڼا کښې دلته دَ دې حديث په تشريح کښې يوڅو اقوال دی.

① دَ دغه دولسوخليفه ګانونه مراد هغه خليفه ګان دی کوم چه عادل متقی پرهيزګار وی. تسلسل سره به نه وی بلکه دَقيامت پورې به دا قسم دولس عادل خليفه ګان پوره کيږی نوبيابه قيامت راځی دَ پوهې په اعتبارسره دا قول آسان دې.

② قاضی عياض مالکی رحمه الله فرمائی دَ دولسو خلفاء نه مراد هغه خلفاء دی چه دَ حضورپاك دَزمانې نه پس دَ بنواميه دَ دور پورې دوولس خليفه ګان جوړشوی دی دَهغوی مجموعی حالات ښه وو سره دَدې چه بعضې په هغوی کښې خراب راغلی مګر دَ هغوی اعتبارنشته دې.

③ دَ دغه دولسوخليفه ګانونه هم دَ يوې زمانې داسې خليفه ګان مراد دی چه په اسلامی ښاريو کښې په مختلف ملکونو کښې به حاکمان وی. دهغوی وجود دَ اتفاق اواتحاد سبب نه بلکه دَ بې اتفاقئ اوجګړې سبب به وی. دَ حديث مطلب به داشی چه دَهغوی دَ راتلونه

مخکښې به عدل او انصاف وي مګر دَهغوي دَ راتلونه پس به دَ طوائف الملوکي دور شروع کيږي او اختلافات به وي.

④ دَ دغه دولسو خليفه ګانو نه مراد هغه خليفه ګان دي کوم چه دَ حضرت مهدي نه پس به شروع کيږي هغه به دَمهدي په اولاد کښې وي او يونيم سل کاله پورې به په ډير عدل او انصاف سره حکومت کوي. لکه چه داد قيامت دَعلاماتونه يوه علامه ده چه دَ قرب قيامت په وخت به ښکاره کيږي.

حديث الباب نه د شيعه ګانو استدلال او د هغې جواب:

د شيعه ګانو استدلال: شيعه ګان دخپلو دولسو امامانو دپاره دې حديث څخه استدلال کوي چې په دې کښې د کومو دولسو امامانو ذکر دې هغه زمونږ امامان دي

د استدلال جواب: په حديث شريف کښې دَهغوي دَ دولسو امامانو طرف ته اشاره قدرې نشته دې صرف دَ اثني عشر لفظ دې. هغوي خپل ځان ته اثناعشريه اووئيل او دَ يو اختلافي جماعت بنياد ئې کيخودو. داخلق په دې حديث کښې تحريف کوي اوظلم کوي. حيرانتياخو په دې ده چه دَهغوي په دولسو امامانو کښې حضرت علي رضي الله عنه اوحضرت حسن رضي الله عنه نه علاوه څوك خليفه هم نه شو. کوم سړي چه يوه ورځ هم خلافت نه دې کړې هغه ته خليفه وئيل څومره لوئې دروغ دي. که حقيقت ته اوکتلې شي نودَ روافض دَمذهب بنياد په دروغو کيخودې شوې دې دَ چا قرآن چه تراوسه پورې غائب دې نودَهغوي دين به کوم ځائې وي؟

[٥٩٨٤] دعرب بعضې قبيلو ته دعا

٥٩٨٤-(١) [٦] ①وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ②(«غِفَارُ غَفَرَ اللّٰهُ لَهَا) ③وَأَسْلَمُ سَالَمَهَا اللّٰهُ، ④وَعُصَيَّةُ عَصَتِ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ②(قبيله) غفارته دي الله تعالى مغفرت وفرمايي ③او قبيله اسلم دي الله سلامته ولري ④عصيه (خو هغه قبيله ده) چې د الله جل جلاله او د الله د رسول الله صلى الله عليه وسلم معصيت کې مبتلا شوه. (بخاري رحمه الله و مسلم رحمه الله)

حل اللغات:- ① غِفَارُ: عَلَمُ قَبِيلَةٍ: غفار د يوې قبيلې نوم دې کومې نه چه مشهور صحابي ابوذر غفاري رضي الله عنه هم دې ② أَسْلَمُ: داهم د يوې قبيلې نوم دې ③ عُصَيَّةُ: داهم د يوې قبيلې نوم دې

[1]) اخرجه البخاري فى كتاب المناقب/باب ذكر أسلم وغفار ومزينة وجهينة وأشجع (رقم-٣٥١٣) والترمذى فى السنن رقم الحديث ٣٩٤٨

تسهيلات:

قوله: غِفَارٌ غَفَرَ اللهُ:

بنو غفاره پاره د مغفرت دعا: غفار په غين باندې كسره ده. دعربو يوه مشهوره قبيله ده په كومه كښې چه مشهور صحابى ابوذر غفارى ﷺ پيداشوې وو. حضورپاك دَدې قبيلې دَ نوم مبدء اشتقاق غفران ته كتلوسره دَهغه دپاره دَمغفرت دعا اوكړه. په كال ۲۰۱۹ كښې د عمرې په غرض حرمينو ته الله تعالى بوتلې ووم. هلته د مكې څخه مدينه ته ډرائيور په جدا لاره باندې بوتلوڅه تاريخى مقامات ئې راته خودلى وو په هغې كښې د سړک په غاړه د ابوذرغفارى د قبيلې د كورونو كنډرات ئې راته هم خودلى وو.

قوله: أَسْلَمُ:

دجنګ څخه بغيره د اسلم قبيلې اسلام قبلول: سلامتيبه دې قبيلې دَ جنګ او جهاد نه بغير اسلام قبول كړې وو. حضورپاك دَهغوى دَ نوم مبدأ اشتقاق ته كتلوسره دَهغوى دپاره هم دَ سلامتيا دعا اوكړه.

قوله: عُصَيَّةُ:

د عصيه قبيلې دپاره خيرې كول: دادَ هغه بدبخت قبيلې نوم دې چاچه اويا صحابه قاريان په بيرمعونه كښې په دهوكه سره شهيدان كړې وو. حضورپاك دَهغوى دَنوم مبدأ اشتقاق ته كتلوسره دَهغوى دپاره دَهغوى دَ ګناه دَ وجې نه بددعا اوكړه.

[۵۹۸۵] دعربو د بعضې قبيلو فضيلت

۵۹۸۵-( ) [۲] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] («قُرَيْشٌ وَالْأَنْصَارُ وَجُهَيْنَةُ وَمُزَيْنَةُ وَأَسْلَمُ وَغِفَارُ وَأَشْجَعُ مَوَالِيَّ، [۳] لَيْسَ لَهُمْ مَوْلًى دُونَ اللهِ وَرَسُولِهِ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷺ وايې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل قريش [۲] (مسلمان يعنى اهل مكه او نور) انصار يعنى اهل مدينه) او قبيله جهينه (مسلمانان او قبيله اسلم (مسلمانان) اوقبيله غفار (مسلمانان) او قبيله اشجع (مسلمانان) زما دوست او مدد ګار دي [۳] د هغوى مدد ګار اودوست د الله ﷻ اود رسول الله صلى الله عليه وسلم نه ماسوابل څوک نشته. (بخارى و مسلم)

حل اللغات: - ① مَوَالِيَّ: دَياء متكلم طرف ته مضاف دې دادَمولى جمع ده دَدوست په معنى كښې دې.

[1] اخرجه البخارى فى كتاب المناقب/باب ذكر أسلم وغفار ومزينة وجهينة وأشجع (رقم-۳۵۱۲) ومسلم فى كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب من فضائل غفار، وأسلم، وجهينة، وأشجع، ومزينة، وتميم، ودوس، وطيئ (رقم-۱۸۸ - (۲۵۱۹)

تسهيلات: قوله: مَوَالِيَّ

د مذكوره قبيلې ستائينه: يعنې دا قبائل زما دوستان دي اودوی دوستان صرف الله تعالى اودهغه رسول دي.

[٥٩٨٦] د عربي قبيلو د خيريت ترتيب

٥٩٨٦-() [٨] ① وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② («أَسْلَمُ وَغِفَارُ وَمُزَيْنَةُ وَجُهَيْنَةُ، خَيْرٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ وَمِنْ بَنِي عَامِرٍ وَالْحَلِيفَيْنِ بَنِي أَسَدٍ وَغَطَفَانَ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوبكره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② اسلم غفار مزينه او جهينه دا تولي قبيلي دبنو تميم او بني عامر رضي الله عنهم دواړو حليف قبيلو يعنې بنواسد او غطفان نه بهتر دي. (بخاري رحمه الله مسلم رحمه الله)

حل اللغات: - ① الْحَلِيفَيْنِ: يَعْنِي الْمُتَحَالِفَيْنِ: معاهده اوصلح كونكى دوه قبيلې.

تسهيلات:

قوله: وَمِنْ بَنِي عَامِرٍ:

د بعضې قبيلو په بعضو فوقيت بيانول: يعنې دَ بنوتميم او بنوعامر دواړو قبيلونه اسلم غفار وجهينه اومزينه قبائل بهتر دي بل چه خپل مينځ كښې كومې دوه قبيلې حليف جوړې شوي دي يعني بنواسد اوغطفان دَهغوى نه هم دغه پورته ذكر شوې څلور قبيلې ښه دي ځكه چه هغوى دَ اسلام په قبلولو كښې سبقت اختيار كړې اودَهغوى دَ راتلونكى وخت احوال به هم ښه وي.

قوله: بَنِي أَسَدٍ وَغَطَفَانَ:

د ذالحليفين څخه مراد: من دَ بيان دَپاره دي چه دَ الحليفين دَپاره بيان واقع دي دَجاهليت په زمانه كښې بنواسد او غطفان معاهده شوې وه لهذا الحليفين نه بنواسد او غطفان مراد دي.

[٥٩٨٧] د بنوتميم فضيلت

٥٩٨٨-() [٩] ① «وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ② مَا زِلْتُ أُحِبُّ بَنِي تَمِيمٍ مُنْذُ ثَلَاثٍ سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ فِيهِمْ ③ سَمِعْتُهُ يَقُولُ: (هُمْ أَشَدُّ أُمَّتِي عَلَى الدَّجَّالِ) ④ قَالَ:

[1] اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب ذكر أسلم وغفار ومزينة وجهينة وأشجع (رقم-٣٥١٥) ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب من فضائل غفار، وأسلم، وجهينة، وأشجع، ومزينة، وتميم، ودوس، وطيئ (رقم-١٩٤ - (٢٥٢٢)

[2] (اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب ذكر أسلم وغفار ومزينة وجهينة وأشجع (رقم-٣٥١٥) ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب من فضائل غفار، وأسلم، وجهينة، وأشجع، ومزينة، وتميم، ودوس، وطيئ (رقم-١٩٤ - (٢٥٢٢))

وَجَاءَتْ صَدَقَاتُهُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۵]«هٰذِهٖ صَدَقَاتُ قَوْمِنَا» [۶]وَكَانَتْ سَبِيَّةٌ مِنْهُمْ عِنْدَ عَائِشَةَ، [۷]فَقَالَ: «اعْتِقِيهَا فَإِنَّهَا مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمایي [۲] زه بنوتمیم د هغه وخت نه همیشه عزیز او دوست لرم هر کله چې ما دهغوی د دري خاصو خوبیانو ذکر د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه آوریدلي دي [۳] د هغوی د اولنی خوبي په باره کي، حضور ﷺ نه مي دا واوریدل چي زما په اُمت کي بنوتمیم هغه خلق دي چي د دجال مقابله کي به د ټولو نه زیات سخت او زړه ور ثابت شي [۴] حضرت ابوهریره رضی الله عنه (دهغوی د دویمي خوبی په باره کي دا) بیان وکړی چي (یو ځل د بنی تمیمو د طرف نه) صدقات (یعنی د زکات اموال او څاروي او نور) راغلل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۵] دا زمونږ د قوم د طرف نه راغلی صدقات دي [۶] او (دهغوی دریمه خوبی داسي ښکاره شوه چي) بنی تمیم سره تعلق لرونکي یوه وینزه بي بي عائشي رضی الله عنها سره وه [۷] د هغه په باره کي حضور ﷺ بي بي عائشي رضی الله عنها ته وفرمایل چي دا وینزه آزاده کړه ځکه چي دا دحضرت اسمٰعیل علیه السلام د اولاد نه ده. (بخاری مسلم)

حل اللغات:- ① سَبِيَّةٌ: أَيْ: أَسِيرَةٌ: قید شوي وینزه.

تسهیلات: قوله: مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ:

بنوتمیم په ولد اسماعیل کښې د شمار لووجه: ټول عرب دَحضرت اسماعیل علیه السلام دَ اولاد نه دی مګر دلته دَ بنوتمیم قدر اومنزلت ښکاره کولو په غرض سره حضورپاك هغوی ته "من ولداسماعیل" اوفرمائیل.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

[۵۹۸۸] د قریشو په حق کښې دُعا

۵۹۸۸-(۱) [۱۰] [۱] عَنْ سَعْدٍ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-عَنِ النَّبِيِّ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ: [۲]«مَنْ يُرِدْ هَوَانَ قُرَيْشٍ أَهَانَهُ اللهُ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت سعد رضی الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] کوم سړی چي د قریشو ذلت او خواری او غوښته الله تعالی به هغه ذلیل او خوار کړی. (ترمذی)

حل اللغات:- ① هَوَانَ: أَيْ: ذُلَّهُمْ وَإِهَانَتَهُمْ: ذلت او سپکوالي. ② أَهَانَهُ: أَيْ: أَذَلَّهُ وَأَخْزَاهُ: الله تعالی به ئي ذلیله کړی اوبه ئي شرموی.

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی فضل الأنصار وقریش (رقم-۳۹۰۵) واحمد فی المسند: ۱۷۱/۱

تسهیلات:

قوله: مَنْ يُرِدْهَوَانَ قُرَيْشٍ أَهَانَهُ اللهُ،

د قریشو اهانت څخه ممانعت: دا ارادة دَ باب افعال نه دي او دَشرط دَ وجې نه مضارع مجزوم دي یعنی دَ قریشو تذلیل او سپکاوي مه کونی که هغه حاکم وی او که محکوم وی. که دَدوی سپکاوي کونی نو الله تعالی به ناراض شی او تاسو به ذلیل او رسوا کړی.

[۵۹۸۹] د قریشو د نسلونو دپاره دعا

۵۹۸۹-( ) [۴] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] («اللَّهُمَّ أَذَقْتَ أَوَّلَ قُرَيْشٍ نَكَالًا، [۳] فَأَذِقْ آخِرَهُمْ نَوَالًا»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي رسول الله صلی الله علیه وسلم دا سې دعا وکړه [۲] اي الله تا قریشو باندې ابتداء کې (دغزوه بدر او غزوه احزاب په موقع د شکست او تباهی) عذاب او څکولو (هر کله چې هغوی د حق دین مخالفت او ستاسو رسول سره د عداوت لار اختیار کړې وه) [۳] څو اوس چې هغوی اسلام قبلولو سره او ستا د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت اختیارولو سره دین او مسلمانانو ته تقویت او مدد رسولې دې نو آخر کې هغوی په ورکړې او بخشش سره اولمانځې. (ترمذی)

حل اللغات: - ① أَذَقْتَ: تا اوڅکولو ② نَكَالًا: أَيْ: بَلَاءً وَوَبَالًا: ازمانش او مصیبت د شکست ③ نَوَالًا: أَيْ: إِنْعَامًا وَعَطَاءً: ورکړه او انعامات او فتوحات مراد دی

تسهیلات:

قوله: أَوَّلَ قُرَيْشٍ:

قریشتو ته په اول کښې د سزا ورکولو مطلب: دَقریشو ابتدائی خلق او ابتدائی حصه دَهغه خلقو وه چه بدر ته راغله او هغوی ته عبرتناک سزا ملاؤ شوه

قوله: نَوَالًا:

قریشتو ته په آخر کښې د خوشحالی حاصلیدو دعا: دَقریشو آخری حصې ته دا نعمتونه دَ اسلام دَ غلبه دَ وجې نه ملاؤ شوی وو قریش چونکه دَ بیت الله متولی وو په دې وجه دَهغوی یو مقام وو کله چه ئې دَ کفر نه توبه اوکړه نو دَدعا مستحق شو

---

[1] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب في فضل الأنصار وقريش (رقم-۳۹۰۸) واحمد في المسند: ۱/۲۴۲

[۵۹۹۰] د يمنى قبيلو خويي او د هغوى تعزيف

۵۹۹۰-(۱) [۳] ⓵ وَعَنْ أَبِي عَامِرٍ الْأَشْعَرِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ⓶ «نِعْمَ الْحَيُّ الْأَسْدُ وَالْأَشْعَرُونَ ⓷ لَا يَفِرُّونَ فِي الْقِتَالِ وَلَا يَغُلُّونَ، ⓸ هُمْ مِنِّي وَأَنَا مِنْهُمْ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ⓵ او حضرت ابوعامر اشعرى رضي الله عنه (چي دابوموسى اشعرى رضي الله عنه تره دي) بيان كوي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ⓶ أسد او اشعرى ډيرى ښي قبيلي دي ⓷ دا دواړي قبيلي نه د كفارو مقابله كي دجنګ نه تښتي او نه مال غنيمت كي خيانت كوي ⓸ هغوى زما نه دي او زه د هغوى نه يم دا روايت ترمذى رحمه الله نقل كړى دي او ويلي يي دي چي داحديث غريب دي.

حل اللغات:- ① نِعْمَ: ډير ښه، ② الْحَيُّ: أي: الْقَبِيلَةُ: قبيله، ③ لَا يَفِرُّونَ: تيښته نه كوى (دميدان جنګ نه)، ④ لَا يَغُلُّونَ: أي: وَلَا يَخُونُونَ: خيانت نه كوى.

تسهيلات:

قوله: نِعْمَ الْحَيُّ الْأَسْدُ وَالْأَشْعَرُونَ،

داسد قبيلي تعارف: دَ يمن دَ قبيلي دَ لوئى سردار نوم اسد وو هم دَ دغه سړى په نوم سره اسد قبيله متعارف او مشهوره شوه. هم دي قبيلي ته ازد هم وائى او "ازدشنونة" هم ورته وائى. دَ مديني دَانصارو ټول تعلق هم دي قبيلي سره وو.

د اشعرى قبيلي تعارف: هم په دي قبيله كښي يو بل سردار وو دكوم نوم چه عمرو بن حارثه وو او لقب ئى اشعر وو. هم دغه اشعر طرف ته منسوب خلقو ته اشعرى اشعرون او اشعريون وائى حضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه هم دَدي قبيلي نه وو. لكه چه اسد، ازدشنوه، ازدالله او اشعرون ټول هم دَيوي قبيلي نومونه دى.

[۵۹۹۱] د الله لښكر

۵۹۹۱-(۲) [۳] ⓵ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ⓶ «الْأَزْدُ أَزْدُ اللّٰهِ فِي الْأَرْضِ، ⓷ يُرِيدُ النَّاسُ أَنْ يَضَعُوهُمْ وَيَأْبَى اللّٰهُ إِلَّا أَنْ يَرْفَعَهُمْ، ⓸ وَلَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَقُولُ الرَّجُلُ: ⓹ يَا لَيْتَ أَبِي كَانَ أَزْدِيًّا، وَيَا لَيْتَ أُمِّي كَانَتْ أَزْدِيَّةً» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ⓵ او حضرت انس رضي الله عنه وايي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ⓶ د قبيله ازد خلق د زمكي په مخ باندي د الله ازد (يعني د الله لښكر او د هغه د دين معاون او مدد

[1] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فى ثقيف وبنى حنيفة (رقم-۳۹٤۷) واحمد فى المسند: ٤/۱۲۹

[2] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فى فضل اليمن (رقم-۳۹۳۷)

ګار) دي ③خلق دا قبيله ذليل او خوار کول غواړي او الله تعالى د هغوى بر خلاف د دې قبيلې خلقو ته عزت او بلندي ورکول غواړي ④يقيناً خلقو باندې هغه زمانه راتلونکې ده هر کله چې سړی به دې ويلو باندې په نظر راځي ⑤چې کاش (آرمان) زما پلار ازدي وې او کاش زما مور د قبيله ازد نه وې دا روايت ترمذی رحمه الله نقل کړی دی ا وويلي يې دي چې داحديث غريب دي.

حل اللغات:- ①أَزْدُ: دا مشهوره قبيله ده داد ازد بن غوث نه دی دَ انصار مدينه تعلق هم دې قبيلې سره دي.

قوله: الْأَزْدُ أَزْدُ اللَّهِ فِي الْأَرْضِ،

د ازد قبيلې الله تعالى طرف ته نسبت کښې درې اقوال: امام طيبی رحمه الله فرمائی چه دَ ازد قبيلې نسبت دَ الله تعالى طرف ته کول دَ مختلف وجوهاتو په وجه دی.

① دا خلق دَ مخکښې نه ډير بهادر، په جنګ کښې ثابت قدم پاتې کيدونکی وو دَ اسلام په خورولوکښې دَ انصارو ډير لوئی خدمات دی. په دې اعتبار سره دَدې قبيلې خلق دَ الله تعالى دَ دين او دَ رسول مددګار کيدو په حيثيت سره دَ الله تعالى لښکر ثابت شو په دې وجه دَهغوی فضل اوعزت ښکاره کولو دَپاره دَ هغوی دَ قبيلې نسبت دَ الله تعالى طرف ته اوکړې شو.

② بعضې حضراتو وئيلی دی چه دَ دې اضافت او تخصيص او تشريف دَ پاره دې لکه بيت الله، ناقة الله کښې چه اضافت دې.

③ دَ اضافت نسبت دَ بهادرئی او تکړه والی دَ وجې نه دې. په دې صورت کښې به دا کلام دَ تشبيه په توګه وی. مطلب به دا شی چه دَ قبيله ازد خلق دَ بهادرئی په جنګ کښې دَ الله تعالى ازمری ثابت شوی دی. (مرقاة ايضاً)

قوله: يُرِيدُ النَّاسُ أَنْ يَضَعُوهُمْ،

انصارو ته د الله تعالى د طرفه عزت ملاويدل: کافران به هغوی ذليل کول غواړی مګر الله تعالى به هغوی هميشه غالب او دَ عزت والا ساتی. چنانچه هم دغه شان اوشوه تراوسه پورې دَ انصارو ډير لوئی احترام دې او په آخرت کښې به په درجهٔ اولی وی

قوله: وَلَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ

په آخره زمانه کښې د از قبيلې په عزت اضافه کيدل: يوه زمانه به داسې راشی چه دَ قبيله ازد به دومره زيات عزت وی چه خلق به هغوی ته پسخيږی او تردې چه دَ ډير عزت والا انسان به هم دا وائی چه افسوس مونږ هم ازديان وې. دَدې نه معلومه شوه چه دَ قبيله ازدی به ډير لوئی عزت وی. بهرحال دَ دې نه مراد دينی او اخروی شرافت دې.

[۵۹۹۲] د درې قبيلو په باره کښې د ناخوښۍ اظهار

۵۹۹۲ -( ) [۳] ① وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ② مَاتَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ يَكْرَهُ ثَلَاثَةَ أَحْيَاءٍ: ثَقِيفٍ، وَبَنِي حَنِيفَةَ، وَبَنِي أُمَيَّةَ. ③ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① او حضرت عمران ابن حصين رضي الله عنهما وايي ② رسول الله صلى الله عليه وسلم د درو قبيلو ثقيف بنو حنيفه او بنو أميه نه ناخوښه ددې دنيا نه تشريف يوړې ③ دا روايت ترمذى رحمه الله نقل کړې دې او وېلي يې دى چې دا حديث غريب دې

حل اللغات: - ① أَحْيَاءٍ: جَمْعُ حَيٍّ بِمَعْنَى قَبِيلَةٍ: ددې جمع حيّ راځى قبيلې ته وائى

تسهيلات:

قوله: وَهُوَ يَكْرَهُ ثَلَاثَةَ أَحْيَاءٍ:

د نبى عليه السلام د درې قبيلو د ناخوښۍ وجوهات: ① **ثقيف:** په دې قبيله کښې مشهور ظالم حجاج بن يوسف پيدا شوې وو چا چه يو لاکهـ او شل زره بې ګناه اسنانان ترلوسره قتل کړې وو. اوس مخکښې دَهغوى حالات راځى.

② **بنو حنيفه:** په دې قبيله کښې مشهور کذاب او دَ دروغو دَ نبوت دعويدار مسيلمه کذاب پيدا شو.

③ **بنو أميّة:** په دې قبيله کښې عبدالله بن زياد اويزيد اونور درغوږن پيدا شوى دى دَدغه ناخوښه کسانودَ وجې نه دَحضورپاك دغه قبائل ناخوښه وو.

[۵۹۹۳] په بنو ثقيف کښې د کذاب او سفاك پيښن کونى

۵۹۹۳ -( ) [۵] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «فِي ثَقِيفٍ كَذَّابٌ وَمُبِيرٌ» ③ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عِصْمَةَ: يُقَالُ: الْكَذَّابُ هُوَ الْمُخْتَارُ بْنُ أَبِي عُبَيْدٍ، ④ وَالْمُبِيرُ هُوَ الْحَجَّاجُ بْنُ يُوسُفَ، ⑤ وَقَالَ هِشَامُ بْنُ حَسَّانَ: أَحْصَوْا مَا قَتَلَ الْحَجَّاجُ صَبْرًا ⑥ فَبَلَغَ مِائَةَ أَلْفٍ وَعِشْرِينَ أَلْفًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② د ثقيف قبيله کې به د انتها درجې يو دروغجن سړى پيدا شي او د يو انتها درجې مفسد او هلاکو ③ حضرت عبيدالله ابن عصمه تابعي رحمه الله (د هغه دروغجن سړى دتعين په باره کې وايي چې د علماؤ وينا ده چې دروغجن سړى نه مراد مختار ابن عبيد ④ ومفسد او هلاکوځخه مراد حجاج ابن يوسف (مشهور ظالم) دي ⑤ او د هشام ابن حسان رضي الله عنه (چې د

---

[1] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فى ثقيف وبنى حنيفة (رقم-۳۹۴۳)

[2] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فى ثقيف وبنى حنيفة (رقم-۳۹۴۴) واحمد فى المسند:۲/۲۶

پورته درجي فقیه او حدیث علم کې زبردست مهارت لرونکي یو مشهور متقی او بزرګ دي او د هغه شمیر آئمه حدیث کې کیږي بیان دي چې حجاج ابن یوسف چې څومره خلق (جنګ ومعرکه کې نه) بلکه دغه شان نیولو نیولو سره او قید خانه کې اچولو سره قتل کړی دي ⑥ د هغوی تعداد خلقو شمیرلي دي چې یولاك شل زره ۱۲۰۰۰۰) دي دا روایت ترمذی رحمه الله نقل کړی دي

حل اللغات:- ① مُبِيرٌ: دا د بَوَار نه دي، أَيْ: مُفْسِدٌ وَمُهْلِكٌ: فساد کونکي او هلاکونکي. ② أَحْصَوْا: أَيْ: اضْبُطُوا وَعِدُّوا: ذکرکړی او شمیرکړی ئې دی. ③ صَبْرًا: أَيْ: مَصْبُورًا يَعْنِي مَحْبُوسًا مَأْسُورًا: په نیولو اوقید کولوسره (یعنی په جنګ کښې د قتلونکو تعداد په دې کښې شامل نه دی).

۵۹۹۳—() ① وَرَوَى مُسْلِمٌ فِي (الصَّحِيحِ) حِينَ قَتَلَ الْحَجَّاجُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الزُّبَيْرِ ② قَالَتْ أَسْمَاءُ: «إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-حَدَّثَنَا ③ (أَنَّ فِي ثَقِيفٍ كَذَّابًا وَمُبِيرًا) ④ فَأَمَّا الْكَذَّابُ فَرَأَيْنَاهُ، ⑤ وَأَمَّا الْمُبِيرُ فَلَا إِخَالُكَ إِلَّا إِيَّاهُ» ⑥ وَسَيَجِيءُ تَمَامُ الْحَدِيثِ فِي الْفَصْلِ الثَّالِثِ.

ترجمه: ① او امام مسلم رحمه الله خپل صحیح کې دا روایت نقل کړی دي چې کومه ورځ حجاج ابن یوسف حضرت عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه شهید کړی ② نو بي بي اسماء (چې د حضرت عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه مور او د حضرت ابوبکر رضي الله عنه لور ده) اوویل مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم بیان کړی ؤو ③ چې بنو ثقیف کې به د انتها درجې یو دروغجن سړی پیدا کیږي او یو لوی مفسد او هلاکو ④ هر چې دروغجن سړی دي نو هغه مونږ اولیدلو ⑤ او س پاتې شوه د مفسد اوهلاکو خبره نو زما خیال دي چې اې حجاج! هغه مفسد او هلاکوته یې ⑥ دا پوره حدیث دریم فصل کې را روانږ دي.

حل اللغات:- ① فَلَا إِخَالُكَ: زما خیال نه دي۔

تسهیلات:

قوله: يُقَالُ: الْكَذَّابُ هُوَ الْمُخْتَارُ بْنُ أَبِي عُبَيْدٍ،

د مختار بن عبید ثقفی: دَمختار بن عبید ثقفی تفصیل دې نه مخکښې کتاب الملاحم کښې تیرشوي دي هلته اوګورئ.

قوله: وَالْمُبِيرُ هُوَ الْحَجَّاجُ بْنُ يُوسُفَ،

دحجاج بن یوسف تعارف: حجاج بن یوسف قبیله ثقیف سره تعلق لرلو اول دې دَ عبدالملك بن مروان ګورنر وو. عراق اوخراسان دَ ده نه لاندې وو بیا دې په حجاز باندې هم ګورنرشو. دَعبدالملك نه پس ولیدبن عبدالملك په بادشاهئ کښې هم حجاج ګورنر وو اوظلم ئې کولو بیا په ۹۵ھ کښې دَ ۵۴ کالوپه عمرکښې انتقال شو.

() اخرجه مسلم فی صحیحه رقم الحدیث ۲۲۹/ ۲۵٤٥ واحمد فی المسند رقم الحدیث ۲/ ۸۷

د حجاج د مور د پيړ نه څکلو عجيبه واقعه: ونيلي شي چه کله حجاج پيدا شو نو ده د مور پيني نه څکل. ابليس دَ يو حکيم په شکل کښې راغلو او دَ ده مور ته نې اووئيل چه يوه توره چيلئي ذبح کړه او دَ هغې په وينه کښې حجاج لړ پړ کړه او څه وينه په ده باندې اوڅکه دې به په پينو څکلو راشي. چنانچه مورنې هم داسې اوکړه دَ کوم په وجه چه حجاج دَ انساني وينې عادت شو پخپله به نې وئيل چه ماله هغه وخت خوراك خوند راکوي چه اول څوك قتل کړم.

د عبدالملك د ښځې په خپل خاوند دحجاج په ناسته ويره: يو خل حجاج بن يوسف خليفه عبدالملك سره په کمره کښې يوازې ناست وو. دَ خليفه عبدالملك ښځې خپل خاوند راؤغوښتلو او دَ خطره اظهارئي اوکړو. عبدالملك وئيل هيڅ خطره نشته خپل سرې حجاج سره ناست يم. ښځې وئيل ماته عزرائيل سره کيناستو کښې دومره خطره نشته څومره خطره چه حجاج سره ځان له کيناستو کښې ده.

دحجاج د جيلخانې نقشه: حجاج يولاکهـ او شل زره بې ګناه کسان وژلي دي. څوك چه ئي اول په جيل کښې بند کړل او بيائي خپې لاسونه تړلو سره مړه کړه. دَحجاج دَ جيل به چت نه وو بلکه په ګرمئي او يخنئي کښې به قيديان ښکاره دآسمان لاندې ژوند تيرولو. په جنګونو کښې چه حجاج څومره کسان وژلي دي دَ هغې حساب لګول مشکل دي.

د حجاج د جيل ځخه د پنځو سوزرو نعشونو راوتل: دابومسلم خارساني ځخه وئيلي شي چه ابومسلم خراساني شيعه شپږ لاکهـه انسانان بې ګناه وژلي وو ليکن دَ ظلم په حواله سره حجاج دَ هغه نه ډير وراندې وو. وئيلي شي چه دَ حجاج دَ جيل نه دَ پنځو سو زرو کسانو نعشونه صرف په يو وخت کښې راوتلي وو. دې سرې ډيرزيات صحابه کرام هم شهيدان کړي وو او سيدالتابعين حضرت سعيدبن جبير رحمه الله دَقتل واقعه مشهوره ده.

دابن عمر رضي الله عنه قتلول: حضرت ابن عمر رضي الله عنه چه کله په سولئي باندې زوړند شوې دَ حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه نعش ته تعزيت اوکړو نو حجاج غصه شو او په دهوکه باندې حضرت ابن عمر رضي الله عنه شهيد کړو.

دَ ابن زبير رضي الله عنه دَ شهادت نه پس حجاج حضرت اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنها راؤغوښتله چه زما دفتر ته راشه هغې انکار اوکړو بيا حجاج پخپله لاړو اووئي وئيل چه ما ستا ځوئي څنګه قتل کړو؟ هغې جواب ورکړو تازما دَ ځوئي دنيا برباد کړه اوزما ځوئي ستا آخرت برباد کړو. بيائي دازيربحث حديث واؤرولو. نورتفصيل دمشکاة فصل ثالث کښې موجود دې.

په جمات کښې اوده کس ذبح کول: يو خل په جمات کښې يو سړې پروت وو حجاج دَ هغه په سينه باندې کيناستو هغه ئي ذبح کولو هغه سړي وئيل په قيامت کښې به الله تعالى ته څه جواب ورکوې؟ حجاج دَ يو ساعت دَپاره اخوا شو او سوچ ئي اوکړو او بيا راغلو وئي وئيل چه الله تعالى ته به وايم داسړې په جمات کښې اوده کيدو چه ګناه ده. دې وينا کولو سره ئي

ذبح کړو. دا سړی پخپله ډیر بزدل وو مګر ډیر لوئی ظالم وو.

په قرآن پاک باندې د اعراب لګولو کارنامه: په قرآن کریم کښې اعراب او رکوع ګانې لګولو باندې هغه علماء مامور کړه په دې کښې ئې هم خلق قتل کړل.

د حجاج په مرګ د یو عالم د خوشحالۍ واقعه: یوخل ئې یوعالم ته اووئیل "فرجة"په غین باندې څواعراب راتلې شی هغه وئیل ماته مهلت راکړه حجاج وئیل درې ورځې مهلت دې جواب راکړه ګنې مرګ دې. هغه سړې کلو ته لاړو چه دَدې اعراب پته اولګوی. په ځنګل کښې یو ګډبه دا شعر وئیلو:

ربما تکره النفوس من الامر لها فرجة کحل العقال

دې عالم دَ دغه خالص عربي بدو نه تپوس اوکړو په دې شعر کښې دَ فرجة په فاء باندې څومره حرکات راتلې شی. هغه وئیل دَ فعلة په وزن باندې چه څومره کلمات وی دَهغې په فاء کلمه باندې درېواړه حرکات راتلې شی. عالم دَ خوشحالئ نه ټوپونه اووهل اوبیائی داتپوس اوکړو چه تادا شعر ولې اووئیل؟ هغه سړی اووئیل چه هم اوس خبرراغلو چه حجاج مړشو ما په دې مناسبت سره دا شعر وئیلې دې چه بعضې وخت انسان په ډیر تکلیف اوغم کښې اخته وی لیکن ناڅاپې دَ هغه مصیبت نه داسې خلاص شی لکه چه تړلې شوې اوښ دَ رسئی نه خلاص شی. دغه عالم وئیل چه ماته نه ده معلومه چه زه دَدې لغت په ملاویدوسره ډیر خوشحال شوم که دَ حجاج په مرګ سره ډیرخوشحال شوم.

د حجاج مرض الوفات: کله چه حجاج بیمارشو نودَهغه په خیټه کښې به سوزیدل کیدل. هغه طبیبانو راؤغوښتل یو طبیب تار سره غوښه اوتړله او خیټې ته ئې ورکوزه کړه کله چه ئې رابنکله نوهغې پورې چینجی انختې وو. طبیب وئیل دا ستا بیماری ده. بیا به حجاج خیټه اور ته نیزدې کوله چه ګرمیدو سره چینجی اوتختی.

یوخل حسن بصری رحمه الله هغه له لاړو اوهغه ته ئې اووئیل چه ما ته منع کړې وې چه صحابه کرام مه تنګه وه اوس ستا عذاب شروع شوې دې.

حجاج بن یوسف د جنازې موقع: دَمرګ نه پس چاهم دَهغه جنازه نه کوله صرف حسن بصری رحمه الله دَ جنازې کولو دَپاره تیارشو او وئې فرمائیل چه دَ مرګ په وخت ده استغفار کړې دې هیڅ لرې نه ده چه الله تعالی دې معاف کړی.

دمرګ څخه روسته د خوب کښې لیدل: دَمرګ نه پس چا په خوب کښې اولیدلو او تپوس ئې ترې اوکړو چه الله تعالی درسره څه معامله اوکړه؟ جواب ملاؤ شو چه زه دَ هرمقتول په بدله کښې یویوخل قتل کولې شم لیکن دَ سعیدبن جبیر رحمه الله په بدله کښې زه اویاځل قتل کړې شوم اوبیا راژوندې کړې شوم. تپوس کونکی تپوس اوکړو چه ستا څه ګمان دې. وئیل امیدلرم چه آخر به زما رب ما معاف کړی.

[۵۹۹۵] د ثقیف دپاره د هدایت دُعاء

۵۹۹۵ - ( ) [۹] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ! [۲] أَحْرَقَتْنَا نِبَالُ ثَقِيفٍ، [۳] فَادْعُ اللَّهَ عَلَيْهِمْ قَالَ: [۴] (اللَّهُمَّ اهْدِ ثَقِيفًا)». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ﷺ وايي يوه ورځ خني صحابو ﷺ عرض وکړی يا رسول الله ! [۲] د قبيله ثقيف غشو مونږ وسوزولو [۳] د هغوی دپاره د الله ﷻ نه بد دُعا وغواړی حضور ﷺ وفرمايل [۴] ي الله ! قبيله ثقيف ته د (قبول اسلام او اطاعت احکام) هدايت او توفيق ورکړی (ترمذی ﷫)

حل اللغات:- ① أَحْرَقَتْنَا :اوسوزولو مونږ لره. ② نِبَالُ :دا جمع د نِبل ده، أي: سِهَامُهُمْ: غشی (د بنو ثقيف قبيلې)

تسهیلات:

قوله: اللَّهُمَّ اهْدِ ثَقِيفًا

بنوثقیف ته د خیرو به ځائې دعا کول: دَغزوه حنين نه پس دَ طائف دَ قلعه محاصره شوې وه دَ دتنه نه به دَ ثقيف والو غشي ورول. کله چه مسلمانانوته دَ بنو ثقيف نه ډير تکليف اورسيدو خو رسول الله ﷺ دَ خپل کريمانه او رحيمانه اخلاقو دَ وجې دَبنو ثقيف خلاف دَ بددعا په ځائې دَ بنو ثقيف په حق کښې دعا اوکړه. نودَ حضورپاك دَ دعا په برکت سره بنو ثقيف مسلمانان شوې وو. بيا هم په دوی کښې محمد بن قاسم ﷫ جنګي سپه سالار جوړيدو سره راؤچت شو اودَ اسلام دَ سرلوړنی سبب جوړ شو

[۵۹۹۶] د حمير قبيلې دپاره دُعاء

۵۹۹۶ - ( ) [۱۰] [۱] عَنْ عَبْدِ الرَّزَّاقِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مِينَاءَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَجَاءَهُ رَجُلٌ أَحْسَبُهُ مِنْ قَيْسٍ [۳] فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! الْعَنْ حِمْيَرًا فَأَعْرَضَ عَنْهُ، [۴] ثُمَّ جَاءَهُ مِنَ الشِّقِّ الْآخَرِ، فَأَعْرَضَ عَنْهُ، [۵] ثُمَّ جَاءَهُ مِنَ الشِّقِّ الْآخَرِ، فَأَعْرَضَ عَنْهُ،

ترجمه: [۱] او حضرت عبدالرزاق ابن همام ﷫ (چې جليل القدر عالم او فقيه او کثير التصانيف بزرګ دي. خپل والد مکرم ، حضرت همام ابن الحارث نخعی تابعی ﷫) نه او هغه د حضرت ميناء ﷫ نه او هغه د حضرت ابوهريره ﷺ نه نقل کوی چې هغوی يعنی (حضرت ابوهريره ﷺ) بيان وکړی [۲] يوه ورځ مونږ خلق د نبی کريم صلی الله عليه وسلم په مجلس مبارك کې حاضر ؤ يو سړی حضور ﷺ ته راغی د هغه په باره کې زما ګمان دي

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب فی ثقيف وبنی حنيفة (رقم-۳۹۴۲) واحمد فی المسند: ۳/۳۴۳

[۲] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب فی فضل اليمن (رقم-۳۹۳۹) واحمد فی المسند: ۲/۲۷۸

چي هغه قبيله قيس سره تعلق لرلو ۳ هغه اوويل يا رسول الله ! قبيله حمير باندي لعنت اووايه يعني د هغوئ په حق کې بد دُعا وکړه چې الله تعالی دا قبيله د خپل رحمت نه لري کړي حضور ﷺ (چي دا واؤريدل نو) د هغه سړي نه يې مخ واړولو ۴ هغه سړی بيا دويم طرف نه د حضور ﷺ مخې ته راغلو حضور ﷺ د هغې خوا نه هم مخ واړولو بيا ۵ هغه سړي دويم طرف نه د حضور ﷺ مخې ته راغلو نو حضور ﷺ د هغه طرف نه هم مخ واړولو يعنی حضور ﷺ په هيڅ شان هغه طرف ته متوجه نه شو او د هغه خبري منلو ته تيار نه شو

حل اللغات: - ① الْعَنْ: أَيْ: اُدْعُ عَلَيْهِمْ بِالْبُعْدِ عَنِ الرَّحْمَةِ: لعنت پرې اووايه يعنی د رحمت نه د لرې کيدو خيرې ورته اوکړه ② حِمْيَرًا: صعنعاء يمن مغربی طرف ته يوه قبيله ده دهغې پلاردې دهغه په نوم دا قبيله ياديږی ③ الشِّقِّ: أَي الْجَانِب طرف.

> ۱ فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (رَحِمَ اللَّهُ حِمْيَرًا، ۲ أَفْوَاهُهُمْ سَلَامٌ، ۳ وَأَيْدِيهِمْ طَعَامٌ، ۴ وَهُمْ أَهْلُ أَمْنٍ وَإِيمَانٍ)» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، ۵ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الرَّزَّاقِ وَيُرْوَى عَنْ مِينَاءَ هَذَا أَحَادِيثُ مَنَاكِيرُ.

ترجمه: ۱ او بيا حضور ﷺ وفرمايل الله تعالی دي حمير باندی خپل رحمت نازل کړی ۲ د هغوی خلې سلام دي ۳ د هغوی لاسونه طعام دي ۴ و هغوی اهل امن هم دي او اهل ايمان هم دا روايت ترمذی رحمه الله نقل کړی دي ۵ او ويلي يې دی چې داحديث غريب دي دا روايت مونږ ته د عبدالرازق ابن همام رحمه الله نه علاوه بل هيڅ ذريعي سره معلوم نه دي او ميناء رحمه الله نه نقل کيدونکی روايتونه منکر دي (مطلب داکه عبدالرزاق ابن همام مسلمه فقيه او محدث او قوی ثقه راوی دي خو ميناء رحمه الله يو ضعيف راوی دي

حل اللغات: - ④ سَلَامٌ: أَيْ: ذَاتُ سَلَامٍ: سلامتيا والا، يعني أَنَّهُمْ يُفْشُونَ السَّلَامَ: سلام خورونکی عام کوی ⑤ طَعَامٌ: أَيْ: ذَاتُ طَعَامٍ: خوراک والا يعنی يُطْعِمُونَ الطَّعَامَ: په خلقو خوراک خورونکی

تسهيلات:

قوله: رَحِمَ اللَّهُ حِمْيَرًا، أَفْوَاهُهُمْ سَلَامٌ،

د حمير قبيلې ښه صفات: د ژبونه هروخت دهغوی نه د اسلام خبرې کيدې اويه لاسونو باندې په خلقو خوراك کول او دسترخوانونه ښائسته کول او په زړونو کښې د ايمان چراغونه بړقيدل لهذا دوی د بددعا مستحق نه دی

[۵۹۹۷] د دوس قبيلې دپاره دعا

> ۵۹۹۷ -(۱) [۱۸] ۱ وَعَنْهُ، قَالَ: «قَالَ لِي النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ (مِمَّنْ أَنْتَ؟) قُلْتُ: مِنْ دَوْسٍ. ۳ قَالَ: (مَا كُنْتُ أَرَى أَنَّ فِي دَوْسٍ أَحَدًا فِيهِ خَيْرٌ)». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب مناقب أبي هريرة رضى الله عنه(رقم ۳۸۳۸)

ترجمه: [۱] حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي (يوه ورځ) نبی کريم صلی الله عليه وسلم زما نه پوښتنه وکړه [۲] ته د کومي قبيلي نه يي ما عرض وکړی (د يمن د مشهور قبيله ازد يو شاخ) دوس سره تعلق لرم [۳] حضور صلى الله عليه وسلم (حيرت ظاهر ولو سره وفرمايل ماته ګمان هم نه ؤ چې قبيله دوس کې څوك داسې هم کيدی شي چې هغه کې خير او نيکی وي (ترمذی رحمه الله)

تسهيلات:

قوله: مَاكُنْتُ أَرَى أَنَّ فِي دَوْسٍ أَحَدًا فِيهِ خَيْرٌ

د دوس قبيلې په باره کښې د نبی عليه السلام د سوچ بدليدل: يعنی اې ابوهريره تا ته په کتوسره ماته اندازه اوشوه چه په قبيله دوس کښې څه نا څه خيرشته ګنی دې نه مخکښې خوزما خيال وو چه په دې خلقو کښې هيڅ خير اونيکی نشته دي

[۵۹۹۸] د عربو سره دښمني نبی کريم صلى الله عليه وسلم سره د دښمني مترادف

٥٩٩٨ -() [٩] [۱] وَعَنْ سُلَيْمَانَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "لَا تُبْغِضْنِي فَتُفَارِقَ دِينَكَ [۳] قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! كَيْفَ أُبْغِضُكَ وَبِكَ هَدَانَا اللَّهُ؟ [۴] قَالَ: (تُبْغِضُ الْعَرَبَ فَتُبْغِضُنِي)». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت سلمان رضي الله عنه وايي (يوه ورځ) رسول الله صلی الله عليه وسلم ماته وفرمايل [۲] زما سره د ښمنی مه ساته کنی ته به خپل دين نه جدا شي [۳] ما (دې خبري اوريدوسره حيرانتيا سره عرض وکړی يا رسول الله! دا څرنګه کيدی شي چې زه ستاسو سره د ښمني څه چې د دښمني تصور هم اوساتم حالانکه د الله جل جلاله حبيب يي د خپل پوره أمت محبوب يي او ستاسو په ذريعه الله جل جلاله مونږ ته د اسلام او ښو کارونو سيده لار وښودله [۴] حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل که ته د عربو سره د ښمني کوي نو لکه چې زما سره د ښمني کوي دا روايت ترمذی رحمه الله نقل کړ دي او ويلي يي دي چې داحديث غريب دي

حل اللغات: - ① لَاتُبْغِضْنِي: ما سره بغض. د ښمنی مه ساته ② فَتُفَارِقَ: ګنی ته به دخپل دين نه جدا شي

تسهيلات:

قوله: لَاتُبْغِضْنِي فَتُفَارِقَ دِينَكَ..الخ:

د عربو سره د بغض کولو څخه منع کولو کښې دوه احتمالات:

① حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه د فارس وو او د فارس د ژبې او وطنيت تقاضا وه چه عربو سره دې د هغوی بغض اود ښمنی پيدا شی که هغه په راتلونکی وخت کښې ولې نه وی

② دا هم ممکن ده چه په حضرت سلمان رضي الله عنه کښې څه شك ليدلې شوې وی په دې باندې

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب فی فضل العرب (رقم-۳۹۲۷) واحمد فی المسند:۵/۴۴۰

حضورپاك عربوسره بغض اوعداوت دَ ایمان دَ زوال سبب اوخودلو

قولو عربو سره د بغض کولو ممانعت: دَحدیث نه معلومه شوه چه عربوسره بغض حضورپاك سره بغض دې لهذا هرمسلمان له دَعربو احترام کول پکاردی راقم الحروف عرض کوی چه ما کتلی دی چه کوم خلق دَ دین اسلام دښمنان وی هغوی دَعربو خلاف په بدو خبرو کولوکښې مصروف وی

[۵۹۹۹] عربو سره دهوکه د نبی علیه السلام د شفاعت څخه د محرومتیا سبب

۵۹۹۹-() [۲۰] [۱] وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَنْ غَشَّ الْعَرَبَ لَمْ يَدْخُلْ فِي شَفَاعَتِي، [۳] وَلَمْ تَنَلْهُ مَوَدَّتِي»). [۴] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ حُصَيْنِ بْنِ عُمَرَ، [۵] وَلَيْسَ هُوَ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ بِذَاكَ الْقَوِيِّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] کوم سړی چې عربو سره فریب او دهوکه بازی کوي هغه به زما شفاعت کې نه داخلیږي [۳] اونه به هغه ته زما د دوستی سعادت حاصل شي [۴] دا روایت ترمذی رحمه الله نقل کړی دي او ویلي یي دي چې دا حدیث غریب دي دا روایت مونږ د حصین ابن عمر نه علاوه بل هیڅ ذریعي سره نه پیژنو [۵] او د محدثینو په نز د هغه (حصین ابن عمر) ددي درجي قوي نه دي (ترمذی رحمه الله)

حل اللغات: - (۱) غَشَّ: أَيْ: أَبْغَضَهُمْ: بغض کوی، دهوکه یا خیانت کوی (۲) لَمْ تَنَلْهُ: أَيْ: لَمْ تُصِبْهُ: حاصل به نه شی. نصیب به نه شی هغه ته، (۳) مَوَدَّتِي: أَيْ: مَحَبَّتِي: محبت زما

تسهیلات:

قوله: مَنْ غَشَّ الْعَرَبَ لَمْ يَدْخُلْ فِي شَفَاعَتِي،

د غش څخه مراد: (۱) دَ "غش" مطلب دهوکه اوفراډ هم کیدې شی

(۲) بغض اوعداوت هم کیدې شی. دَعجم نه علاوه هغه ټول خلق عرب دی که هغه په ښاریوکښې اوسیږی اوکه په کلوکښې وی

عربو سره د دهوکې صورتونه: (۱) دهوکه فریب اودغا بازئی ته غش وائی عربوسره دهوکه داده چه هغوی سره په ذاتی توګه باندې خیانت اوکړې شی

(۲) دَهغوی په داخلی پالیسئی کښې ردوبدل کولوسره دکافرانو ملګری جوړکړی یا داسې بین الاقوامی معاهدې اوکړې شی په کوم سره چه عرب دَ غلامئی په زنځیرونوکښې راګیرکړې شی

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی فضل العرب (رقم-۳۹۲۸) واحمد فی المسند: ۷۲/۱

④ په اجتماعی توګه خیانت اوکړي شی. دَهغوی خارجه پالیسی بدلولوسره دکافرانوتابع جوړه کړي شی

قوله: وَلَيْسَ هُوَ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ بِذَاكَ الْقَوِيِّ

د ذاک القوی مطلب: یعنی دَ محدثینو په نیزدا حدیث پوره شان سره قوی نه دې بلکه ضعیف دې. علماؤ لیکلی دی چه فضائل اعمال کښې ضعیف حدیث قبلولې شی. بل

عربو سره د محبت باره کښې بعضې روایات: ملاعلی قاری رحمه الله لیکلی دی چه عربو سره محبت ساتلو متعلق ډیرزیات احادیث دی په کوم سره چه دا حدیث دَحسن په درجه کښې قوی کیږی. مثلاً مستدرك حاکم کښې دی «حب القريش إيمان وبغضهم كفر وحب العرب إيمان وبغضهم كفر فمن أحب العرب فقد أحبني ومن أبغض العرب فقد أبغضني» طبرانی کښې یوحدیث دې «أحبوا قريشا فإنه من أحبهم أحبه الله» او یو مشهور حدیث دې «أحبوا العرب لثلاث» کوم چه راتلونکی حدیث نمبر(۶۰۰۶) کښې راځی. لهذا ملاعلی قاری رحمه الله دَ زیر بحث حدیث متعلق فرمائی "واقل مرتبة اسانیده ان یکون حسنا فالحدیث حسن لغیره" (مرقات. ۱/۳۴۶)

[۶۰۰۰] دعربو دهلاکت پیشن ګویی

۶۰۰۰-() [۳۱] ①وَعَنْ أُمِّ الْحَرِيرِ، مَوْلَاةِ طَلْحَةَ بْنِ مَالِكٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَتْ: ②سَمِعْتُ مَوْلَايَ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -③ «مِنِ اقْتِرَابِ السَّاعَةِ هَلَاكُ الْعَرَبِ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.[1]

ترجمه: ① او بي بي اُم حریر تابعیه رحمها الله چې د یو صحابی حضرت طلحه ابن مالك رضی الله عنه آزاد کړده وینزه ده وایي ② ما د خپل آقا (حضرت طلحه رضی الله عنه) نه واوریدل د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد ګرامي دي ③ د قرب قیامت د علامتونو نه یو علامت د اهل عربو هلاك کیدل دي. (ترمذی رحمه الله)

تسهیلات:

قوله مِنِ اقْتِرَابِ السَّاعَةِ هَلَاكُ الْعَرَبِ.

دعربوسیادت ختمیدل اولیامت: دَ اهل عرب نه مراد یاخو مسلمانان عرب دی یا جنس عرب دی. مطلب دادې چه کله اهل عرب دَدې دنیا نه اوچت شی نو پوهه شئی چه قیامت راغلو. دَدې نه معلومه شوه چه دَ ټولو ملکونو نه به په آخره کښې عرب فناکیږی. دارنګ په دې حدیث کښې اشاره ده چه عربو ته په قیادت او سیاست کښې مقام حاصل دې ټول غیر عرب دَ هغوی تابع دی. (مرقاة. ۱۱/۲۶۷)

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی فضل العرب (رقم-۳۹۲۹)

[۶۰۰۱] د بعضې شرعي منصبونو تقسيم

۶۰۰۰-( ) [۲۲] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] ((«المُلْكُ فِي قُرَيْشٍ وَالقَضَاءُ فِي الأَنْصَارِ، [۳] وَالأَذَانُ فِي الحَبَشَةِ، وَالأَمَانَةُ فِي الأَزْدِ») يَعْنِي اليَمَنَ. [۴] وَفِي رِوَايَةٍ مَوْقُوفًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا أَصَحُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۲] خلافت او بادشاهي قريشو كې ده قضاء انصارو كې ده [۳] آذان حبشانو كې دي او امانت په ازد (يعنى ازد شنوه) كې دي (چې د يمن يوه قبيله ده يا داچې) دازد نه د حضور ﷺ مراد ټول اهل يمن وو [۴] يو روايت كې دا حديث د حضرت ابوهريره رضي الله عنه موقوف حديث په طور منقول دي او ترمذى رحمه الله چې د دې روايت ناقل (نقل كونكي) دي ويلي دي دا خبره زياته صحيح ده (يعنى دسند د اعتبار نه هغه روايت زيات صحيح دي چې د حديث موقوف په طور نقل شوى وي

حل اللغات:- ① المُلْكُ: أي الخِلَافَةُ: خلافت، بادشاهي (يعنى ددې حقدار) ② القَضَاءُ: أي الحُكْمُ الجُزْئِيُّ: قضاء او عدالت. فيصله كول

تسهيلات: قوله: المُلْكُ فِي قُرَيْشٍ.. الخ:

په حديث د صحابو عمل: ① حكومت قريش كښې دې. صحابه كرامو هم داسې فيصله اوكړه او حكومت ئې حضرت صديق اكبر رضي الله عنه ته حواله كړو چه دَ قريشو نه وو

② قضاء او عدالت په انصار كښې دې. صحابه كرامو هم داسې اوكړه او حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه دَ يمن قاضي مقرر شو كوم چه انصارى وو.

③ اذان حبشه كښې دې. صحابه كرامو هم داسې اوكړه او حضرت بلال په منصب دَ اذان مقرر شو چه دَ حبشه وو

④ امانت په ازد كښې دې. ازد قبيله دَيمن مشهوره قبيله ده دې نه مراد اهل يمن دى او دَ يمن ديانت معروف دې

اَلفَصْلُ الثَّالِثُ

[۶۰۰۲] د قريشو په قيدو بند سره د نه قتل كيدو پيش كوئي

۶۰۰۱-( ) [۲۳] [۱] عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُطِيعٍ، عَنْ أَبِيهِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ: [۳] ((«لَا يُقْتَلُ قُرَشِيٌّ صَبْرًا بَعْدَ هٰذَا اليَوْمِ إِلَى يَوْمِ القِيَامَةِ») رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

---

[۱] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فى فضل اليمن (رقم-۳۹۳۶) واحمد في المسند: ۲/ ۳۶۴

[۲]) اخرجه مسلم فى كتاب الجهاد والسير/ باب لا يقتل قرشي صبرا بعد الفتح... رقم الحديث ۴۷۲۷

ترجمه: [۱] حضرت عبدالله ابن مطیع تابعی رحمه الله (چې دسادات قریش نه دي) خپل پلار حضرت مطیع صحابي رضي الله عنه نه چې د هغه اصل نوم عاصي یا عاص ؤ او حضور صلی الله علیه وسلم د هغه نوم بدل کړو او نوم یې مطیع ورباندې کیښودی هغه اوویل [۲] ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د مکې د فتح په ورځ آوریدلي دي فرمائیل [۳] چې نن (د مکې د فتح ورځ) نه وروسته د قیامت د ورځې پورې هیڅ قریش به حبس او قیدولو سره نه ووژل شي (دا جدا خبره ده) چې د خپل دښمن مقابله کې جنګ وجدل کې ووژل شي (مسلم رحمه الله)

حل اللغات:- ① صَبْرًا: أَيْ: مَصْبُورًا يَعْنِي مَحْبُوسًا مَأْسُورًا: په نیولو او قید کولو سره (او که په جنګ کښې یا د دښمن په مقابله کښې ووژلې شي نو دا جدا خبره ده).

تسهیلات:

قوله: لَا يُقْتَلُ قُرَشِيٌّ صَبْرًا بَعْدَ هٰذَا الْيَوْمِ

د قتل صبر نه څه مراد دی: یعني یو قریشی په تړلو سره نه دی قتل کول پکار په دې وجه نن دَ فتح مکه نه پس دَ قیامته پورې یو قریشی صبراً مه قتل کوئی.

د عدم قتل په مفهوم کښې دوه اقوال: ① علامه طیبی رحمه الله فرمائی دلته نفی دَ نهی په معنی کښې ده یعنی چه یو قریشی اول په جیل کښې اچولو سره قید کړې شی او بیا په تړلو سره قتل کړې شی داسې مه کوئی. خو ملاعلی قاری رحمه الله په دې توجیه باندې سخت اعتراض کړې دې خو په ظاهره دَعلامه طیبی رحمه الله خبره حدیث سره زیاته نیزدې معلومیږی

② ملا علی قاری رحمه الله فرمائی په دې حدیث کښې حضورپاك یو پیشنګوئی کړې ده چه داسې به اوس نه کیږی چه یو قریشی دَ اسلام راوړلو نه پس مرتد شی او دَارتداد نه پس هغه قید کولو سره صبراً قتل کړې شی داسې به نه کیږی. ملاعلی قاری رحمه الله دا مطلب خکه اختیار کړې دې چه په تاریخ کښې دا خبره په کثرت سره ملاویږی چه قریشی په تړلو سره قتل کړې شوې وی مګر دا خبره نه ملاویږی چه دَاسلام نه پس یو قریشی مرتد شوې وی او بیا هغه په تړلو سره قتل کړې شوې وی. خو دحدیث د ظاهر څخه د ملاعلی قاری رحمه الله توجیه لرې معلومیږی

[۶۰۰۲] د عبدالله بن عمر ابن زبیر ته په مړو لو خطاب

۶۰۰۲-(۱) [۲۳] [۱] وَعَنْ أَبِي نَوْفَلٍ، مُعَاوِيَةَ بْنِ مُسْلِمٍ، قَالَ: [۲] رَأَيْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ الزُّبَيْرِ عَلَى عَقَبَةِ الْمَدِينَةِ، [۳] قَالَ: فَجَعَلَتْ قُرَيْشٌ تَمُرُّ عَلَيْهِ وَالنَّاسُ، [۴] حَتَّى مَرَّ عَلَيْهِ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - فَوَقَفَ عَلَيْهِ، [۵] قَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكَ أَبَا خُبَيْبٍ! السَّلَامُ عَلَيْكَ أَبَا خُبَيْبٍ! السَّلَامُ عَلَيْكَ أَبَا خُبَيْبٍ. [۶] أَمَا وَاللهِ لَقَدْ كُنْتُ أَنْهَاكَ عَنْ هٰذَا،

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم /باب ذکر کذاب ثقیف ومبیرها (رقم-۲۲۹ - (۲۵۴۵)

ترجمه: [۱] حضرت ابونوفل معاويه ابن مسلم تابعي رحمه الله بيان كوي [۲] ما د حضرت عبدالله ابن زبير رضي الله عنه (لاش) د مديني (لار بانديې واقع د مكې كنډاؤ كې يو (تخت دار بانديې خړيدلې) وليدلو [۳] ابونوفل رحمه الله وايي قريش خلقو هغه لاش ته تلل راتلل شروع كړه او نور خلق به هم ورتلل [۴] ددې پورې چې حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه هم هلته راغي او د لاش مخكې اودريدو [۵] او داسې اوويل السلام عليك اې ابوخبيب! السلام عليك اې ابوخبيب! السلام عليك اې ابوخبيب! [۶] آګاه شه قسم په الله ماته ددې كار نه منع كولې (درې خله دا الفاظ ويلو نه وروسته بيا هغه اوويل)

[۱] أَمَا وَاللَّهِ لَقَدْ كُنْتُ أَنْهَاكَ عَنْ هَذَا، [۲] أَمَا وَاللَّهِ لَقَدْ كُنْتُ أَنْهَاكَ عَنْ هَذَا، [۳] أَمَا وَاللَّهِ إِنْ كُنْتَ مَا عَلِمْتُ [۴] صَوَّامًا قَوَّامًا وَصُولًا لِلرَّحِمِ، [۵] أَمَا وَاللَّهِ لَأُمَّةٌ أَنْتَ شَرُّهَا لَأُمَّةُ سَوْءٍ - [۶] وَفِي رِوَايَةٍ لَأُمَّةٌ خَيْرٌ - ثُمَّ نَفَذَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ [۷] فَبَلَغَ الْحَجَّاجَ مَوْقِفُ عَبْدِ اللَّهِ وَقَوْلُهُ،

ترجمه: [۱] آګاه شه قسم په الله بلاشبهه ته هغه سړى وې چې ما پيژندلې [۲] چې ته ډير زيات روژې نيونكې وې ډير زيات شب بيدار ي كونكې او اهل قرابت سره ډيره زيات احسان اوسلوك كونكې وې، [۳] آګاه شه قسم په الله قسم چې هغه ډله چې د هغه په نظر كې ته ډير خراب يې يقيناً يوه خرابه او بدتره ډله ده [۴] او يو روايت كې (لامة سوء) په ځاى (لامة خير) الفاظ دي اوبيادا الفاظ يې بطوراستهزا اوويل يعنې چې هركله ابن زبيرشر شونودا امت به نو ډير ښه وې؟ ددې نه وروسته حضرت ابن عمر رضي الله عنه هغه ځاى نه لاړلو [۵] بيا چې داخبره حجاج ته ورسيدله چې عبدالله ابن عمر رضي الله عنه (د عبدالله ابن زبير رضي الله عنه لاش ته) ودريدو سره داسې ويلي دي)

[۱] فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ، فَأُنْزِلَ عَنْ جِذْعِهِ، [۲] فَأُلْقِيَ فِي قُبُورِ الْيَهُودِ، [۳] ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَى أُمِّهِ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، فَأَبَتْ أَنْ تَأْتِيَهُ، [۴] فَأَعَادَ عَلَيْهَا الرَّسُولَ لَتَأْتِيَنِّي [۵] أَوْ لَأَبْعَثَنَّ إِلَيْكِ مَنْ يَسْحَبُكِ بِقُرُونِكِ،

ترجمه: [۱] (نو حجاج فوراً) يو سړى راوليږلو او لاش يې د هغه لرګي (يعنې تخت دار) نه خكته كولو [۲] سره د يهوديانو په قبرستان كې يې وغورځوي [۳] بيا حجاج د ابن زبير رضي الله عنه والده بي بي اسماء رضي الله عنها (لور د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه) ته يو سړى وروليږى، او هغه يې طلب كړله) بي بي اسماء هغه ته د ورتللو نه انكار وكړو [۴] حجاج دويم ځل بيا سړى ورواستول ورته يې اوويل يا خو سمدستي په سمه راشه [۵] كينې زه به يو داسې سړى در وليږم چې هغه به دې د سر د كونڅيو نه نيولي په راښكلو راښكلو به دې دلته راولي

حل اللغات: - ① صَوَّامًا: أَيْ: كَثِيرَ الصِّيَامِ: ډيرې روژې نيونكې. ② قَوَّامًا: كَثِيرَ الْقِيَامِ فِي اللَّيْلِ: د شپې ډير اودريدونكې، يعنې عبادتګذار، تهجدګذار. ③ وَصُولًا: دا دمبالغې صيغه ده. أَيْ: مُبَالِغًا فِي الصِّلَةِ: ډير زيات صله رحمي كونكې ④ لَأُمَّةٌ: أَيْ: لَجَمَاعَةٌ: ډله، جماعت. ⑤ نَفَذَ: أَيْ: ذَهَبَ: لاړو. ⑥ جِذْعِهِ: د اونې تنه (هغه تنه چه عبدالله بن زبير پكښې په سولى شوې يعنې پهانسى شوې وو، ⑦

فَأَلِقِيَ: دمجهول صیغه ده، أي: فُطِرِحَ: اوغورزولي شو ⑧ يَسْحَبُكِ: أي: يَجُرُّكِ: دَ وېښتونه نيولو سره رابنکل مراد دي ⑨ بِقُرُونِكِ: دَ قرن جمع ده أي: بِضَفَائِرِ شَعْرِكِ: دَ سردَ وېښتو کمسۍ مراد دي

[١] قَالَ: فَأَبَتْ وَقَالَتْ: وَاللهِ لَا آتِيكَ [٢] حَتَّى تَبْعَثَ إِلَيَّ مَنْ يَسْحَبُنِي بِقُرُونِي [٣] وَقَالَ: فَقَالَ: أَرُونِي سِبْتَيَّ، [٤] فَأَخَذَ نَعْلَيْهِ، [٥] ثُمَّ انْطَلَقَ يَتَوَذَّفُ حَتَّى دَخَلَ عَلَيْهَا [٦] فَقَالَ: كَيْفَ رَأَيْتِنِي صَنَعْتُ بِعَدُوِّ اللهِ؟ [٧] قَالَتْ: رَأَيْتُكَ أَفْسَدْتَ عَلَيْهِ دُنْيَاهُ [٨] وَأَفْسَدَ عَلَيْكَ آخِرَتَكَ،

ترجمه: [١] ابو نوفل رحمه الله وايي بي بي اسماء رضي الله عنها بيا انکار وکړو او حجاج ته يې جواب ورواستوو چې قسم په الله زه تاته هيڅ کله نه درځم [٢] وس خو ته يو داسې سړی پيدا کړه چې هغه ما د سر دکونځو نه نيولي درولي [٣] راوي وايي حجاج چې دا واوريدل نو په ډيره غصه سره يې اوويل زما پيزار راوړی او زما په مخکې يې کيږدی [٤] بيا هغه خپل پيزار په پښو کې واچولو [٥] او په کبر سره تيز تيز تللو سره بي بي آسماء ته ورسيدو [٦] او زهريلا لهجه کې يې هغې ته اوويل ،لږ دا راته اووايه چې تا دي دښمن خدا يعني خپل زوی ابن زبير رضي الله عنه سره په سلوك کولو کې زه څرنګه وليدم؟ [٧] بي بي آسماء ورته اوويل زه خو داسې وينم چې تا د هغه دنيا تباه کړه [٨] او هغه ستا آخرت تباه کړی .يعني دي ظالمانه قتل ته د عذاب دوزخ مستحق جوړ کړی يې

[١] بَلَغَنِي أَنَّكَ تَقُولُ لَهُ: يَا ابْنَ ذَاتِ النِّطَاقَيْنِ! [٢] أَنَا وَاللهِ ذَاتُ النِّطَاقَيْنِ، [٣] أَمَّا أَحَدُهُمَا: فَكُنْتُ أَرْفَعُ بِهِ طَعَامَ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَطَعَامَ أَبِي بَكْرٍ مِنَ الدَّوَابِّ،

ترجمه: [١] او ماته معلومه شوې ده چې تا به زما زوی زبير رضي الله عنه ، د هغه په ژوند کې ، د هغه د شهادت نه وروسته، د د دوؤ کمر بند ښځې زوی سره مخاطب کوی [٢] نو واوره، قسم په الله زه بلا شبه دوه کمر بند واله ښځه يم [٣] داسې دوه کمربند چې هغه کې يو کمربند خو هغه ؤ چې د هغه په ذريعه به ما د حضور صلی الله علیه وسلم او حضرت ابوبکر رضي الله عنه طعام د ځناورو نه محفوظ ساتلي

حل اللغات: -⑩ سِبْتَيَّ: دادَ سبتية تثنيه ده، أي: نَعْلَيَّ: زما پيزار . څپلي. ,سبت هغه څپلۍ ته وائي چه دَ دباغت شوې څرمن نه جوړه کړې شوې وی، ⑪ يَتَوَذَّفُ: أي يُسْرِعُ: يعني نيزدې نيزدې قدم کيخودو سره تيز تيز تګ ته يتوذف وائي ،کبر سره تلو ته هم وائي، ⑫ النِّطَاقَيْنِ: دا د نطاق تثنيه ده، وَهُوَ مَا تَشُدُّ بِهِ الْمَرْأَةُ وَسْطَهَا: زنانه چه په کومه کپړه خپله ملا تړی هغې ته نطاق وائي يعني کمربند

[١] وَأَمَّا الْآخَرُ: فَنِطَاقُ الْمَرْأَةِ الَّتِي لَا تَسْتَغْنِي عَنْهُ، [٢] أَمَا إِنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حَدَّثَنَا: «إِنَّ فِي ثَقِيفٍ كَذَّابًا وَمُبِيرًا» ، [٣] فَأَمَّا الْكَذَّابُ فَرَأَيْنَاهُ [٤] وَأَمَّا الْمُبِيرُ فَلَا إِخَالُكَ إِلَّا إِيَّاهُ [٥] قَالَ: فَقَامَ عَنْهَا فَلَمْ يُرَاجِعْهَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او دويم کمربند دښځې هغه کمر بند ؤ چې هغه نه يوه ښځه بې پرواکيدی نه شي [٢] او ياد لره مونږ ته حضور صلی الله علیه وسلم داحديث ارشاد فرمايلي ؤ چې قبيله ثقيف کې به يود

نهایت درجي دروغجن سړی پیدا کیږي او یو د نهایت درجي مفسد او هلاکو ③ پس هر چې نهایت دروغجن دي نو هغه مونږ ولیدلو ④ وهر چې مفسد دي نو ستا په باره کې زما خیال دي چې هغه مفسد او هلاکو هم ته یې دکوم خبر چې حضور ﷺ ورکړی وو ⑤ د روای ابونوفل رحمه الله بیان دي د اا لفاظ آوریدو سره حجاج د بې بې آسماء نه لاړلو او هغې ته یې هیڅ جواب ورنکړو (مسلم)

تسهیلات: قوله: عَقَبَةِ الْمَدِينَةِ:

د عقبة المدینه څخه مراد: دې نه هغه لارمراد ده چه دَمکې نه مدینې منورې ته خی داخانی په مکه کښې دې په مدینه کښې نه دې.

قوله: أَمَا وَاللّٰهِ لَأُمَّةٌ أَنْتَ شَرُّهَا لَأُمَّةُ سُوْءٍ۔

د مذکوره جملې مطلب: یعنی لامةالنت شرها یعنی هغه خلق دَچاپه نظر کښې چه ته ډیرخراب سړې وې هغه خلق ډیر خراب دی. یعنی دَحجاج بن یوسف خلقو هغه ډیرخراب سړې ګنړلومګر هغوی پخپله خراب دی

قوله: وَفِي رِوَايَةٍ لَأُمَّةٌ خَيْرٌ،

د دویم روایت مطلب: یوروایت کښې لامةخیر الفاظ راغلی دی یعنی کوم خلق چه تاخراب سړې ګنړی هغوی ډیر ښه او پاك خلق دی. یعنی حجاج بن یوسف او دَ هغه پارټی

د ابن عمررضی الله عنه دخبرې مقصود: په دې کلام کښې حضرت ابن عمر رضی الله عنه په حجاج بن یوسف باندې طنزکول غواړی چه ابن زبیر خوداسې خراب سړې وو څوك چه ژوندې پریخودلې نه شو اوچاچه قتل کړې دې هغوی خوپاك خلق وو که نه؟

قوله: قُبُوْرِ الْيَهُوْدِ:

د یهودیانو د قبرونو څخه مراد: دې نه مراد هغه قبرونه دی په کوموکښې چه په هغه زمانه کښې یهودیان دفن کولې شو. دَ اسلام راتلو نه پس هلته دَ یهودیانو وجودپاتې نه شو مسلمانانو روستو بیا حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه دَهغه ځانی نه رااوویستلو او په جنت المعلا کښې یې دفن کړو دَهغوی دَ مور بی بی حضرت اسماء رضی الله عنها قبر هم هغه سره دې

قوله: يَا ابْنَ ذَاتِ النِّطَاقَيْنِ:

د ذات النطاقین څخه دحجاج مراد: یعنی ماته معلومه شوې ده چه ته زما خونی ته ذات النطاقین دَ ښځې دَخوئی په نوم باندې رابلل کوې؟ نطاق کمربندته وائی په عربو کښې به دغه شان دوه کمربند ښځوتړل کومې چه به دَ نورو خادمانې وې. دَ حجاج مطلب هم دغه وو

د ذات النطاقین تسمیه اصلی وجه: مګر حضرت اسماء رضی الله عنها دَ اصل مطلب وضاحت اوکړو په کوم کښې چه دَهغې اعزاز وو په دې باندې به عبدالله بن زبیر رضی الله عنه فخرکولو.

[۶۰۰٤] د خلافت دعوٰی کولو څخه د عبدالله ابن عمر رضی الله عنه انکار

۶۰۰۴-(۱) [۲۵] ۱ وَعَنْ نَافِعٍ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ أَتَاهُ رَجُلَانِ فِي فِتْنَةِ ابْنِ الزُّبَيْرِ، فَقَالَا: ۲ إِنَّ النَّاسَ صَنَعُوا مَا تَرَى، ۳ وَأَنْتَ ابْنُ عُمَرَ، وَصَاحِبُ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَمَا يَمْنَعُكَ أَنْ تَخْرُجَ؟ ۴ فَقَالَ: يَمْنَعُنِي أَنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَيَّ دَمَ أَخِي الْمُسْلِمِ. ۵ قَالَا: أَلَمْ يَقُلِ اللَّهُ تَعَالَى: ﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ﴾ [البقرة: ۱۹۳]

ترجمه: ۱ او حضرت نافع رحمه الله (چې د حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنه آزاد کړده غلام دي) روایت کوي چې حضرت عبدالله ابن زبیر رضی الله عنه سره متعلق د هنګامه آرائي زمانه کې (د هغوی د شهادت نه مخکې) دوه خلق حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنه ته راغلل هغوی اوویل ۲ چې خلقو (دخلافت او امارت په باره کې د اختلاف ونزاع او هنګامه آرائي په صورت کې) چې څه کړي دي هغه تاسو ولیدل ۳ تاسو د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه زوی یي چې خلیفه ؤ او ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابي هم یې (دي اعتبار نه د عبدالملک ابن مروان مقابله کې تاسو ډیر زیات مستحق یې چې د خلافت دعوٰی وکړې چې د هغه د نا اهلیت د ټولو نه لوی ثبوت دادي چې هغه امراؤ او ګور نرانو کې د حجاج ابن یوسف په شان ظالم سړی دي) بیا آخر څه شی مانع دي چې تاسو (دخلافت دعوی او ظالمانو نه د بدله آخستو د اعلان په ذریعه خروج وتل نه کوئ ۴ حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنه (دي آوریدو سره) ورته وفرمایل کوم شی چې زما دپاره مانع دي هغه زما داعلم دي چې د مسلمان ورور وینه (خون) بهیول الله تعالی زما دپاره حرام کړي دي ۵ هغه دواړو اوویل آیا الله تعالی دانه دي فرمایلي چې وقاتلوهم حتی لاتکون فتنه خلقو سره تر دي حاله پورې جنګیږئ تر څو فتنه ختمه شي

حل اللغات:- ① صَنَعُوا: اوني کړو (اختلاف او هنګامه وغیره)

۱ فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: قَدْ قَاتَلْنَا حَتَّى لَمْ تَكُنْ فِتْنَةٌ وَكَانَ الدِّينُ لِلَّهِ، ۲ وَأَنْتُمْ تُرِيدُونَ أَنْ تُقَاتِلُوا حَتَّى تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِغَيْرِ اللَّهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ حضرت ابن عمر رضی الله عنه ورته وفرمایل (د حضور صلی الله علیه وسلم او خلفائی راشدینو په ملګرتیا کې د هغه خلقو سره یقینًا وجنګیدو ددي پورې چې فتنه یعنی د کفر اوشرک خاتمه وشوه او صرف د الله دین اسلام پاتې شو ۲ او (اوس) تاسو داغواړې چې تاسو جنګ وجدال کوئ تر دي چې په مسلمانانو کې فتنه خوره شي او د غیر الله دین قائم شي بخاری

تسهیلات: **قوله**: أَنْ تَخْرُجَ:

عبدالله بن عمر ته د خلافت دعوی کولو مشوره: داد خروج نه دي د بغاوت په معنی کښې دي. په حقیقت کښې د حضرت ابن عمر رضی الله عنه په موجودګئ کښې عبدالملک بن مروان

[۱] اخرجه البخاري في كتاب المناقب باب ذكر أسلم وغفار ومزينة وجهينة وأشجع (رقم-۳۵۱۳)

خلیفه وو اودَ هغه دَطرف نه حجاج بن یوسف گورنرمقررو صحابه کرامو او تابعینو حضرت ابن عمر رضی الله عنه ته مشوره ورکړه چه دَدې ظالم حجاج په مقابله کښې ته خروج ولې نه کوې؟ ستاسو په خروج سره به دَ حجاج ظلم ختم شی اودَ عبدالملك په ځائې به تاسو خلیفه شئی حضرت ابن عمر رضی الله عنه نیغ جواب ورکړو چه داسې نه کیږی دَهغوی نظریه داده چه دکورترمخې پورې چه کله جنګ راشی نوهله دفاع کوه ګنی جنګ مه کوه څه صحابه داسې وو چه دَ دفاع هم قائل نه وو اوڅه صحابه دَحق ملګرتیا کولودپاره میدان جنګ ته دَ وتلو قائل وو دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په مختلف فرامینو باندې صحابه عمل کونکی وو تفصیل لیکلې شوې دې

قوله: صَنَعُوا مَا تَرَى:

د مذکوره جملې مطلب: دَ زیر بحث حدیث خلاصه داده چه خلقو ابن عمر رضی الله عنه ته اوفرمائیل په خلقوکښې چه کومه فتنه راوچته شوې ده اویوشان جګړه روانه ده تاسو دا وینئی بیاتاسو دَحضرت عمرفاروق رضی الله عنه ځوئی یئی ته دَ عبدالله بن زبیر دَخلافت حمایت ولې نه کوې؟ اودَ حجاج خلاف خروج ولې نه کوې؟

قوله: قَدْ قَاتَلْنَا حَتَّى لَمْ تَكُنْ فِتْنَةٌ وَكَانَ الدِّينُ لِلَّهِ،

د عبدالله عمر جواب: حضرت ابن عمر رضی الله عنه دامعذرت اوکړوچه دادَ مسلمانانودَخپل مینځ جګړې دی زه دَ یومسلمان قتل نه غوارم. کوم وخت چه دکافرانو فتنه وه نوهغه مونږ ختمه کړه اوس تاسودَدې دَپاره جنګیږئی چه فتنه نوره هم زیاته شی اودین دَالله په ځائې دَغیرالله شی

[۶۰۰۵] دقبیله دوس په حق کښې دُعا

(۶۰۰۵-(۱)[۳۶] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «جَاءَ الطُّفَيْلُ بْنُ عَمْرٍو الدَّوْسِيُّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ۲ فَقَالَ: إِنَّ دَوْسًا قَدْ هَلَكَتْ، عَصَتْ وَأَبَتْ، ۳ فَادْعُ اللَّهَ عَلَيْهِمْ، فَظَنَّ النَّاسُ أَنَّهُ يَدْعُو عَلَيْهِمْ، ۴ فَقَالَ: (اللَّهُمَّ اهْدِ دَوْسًا وَأْتِ بِهِمْ)». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې طفیل ابن عمرو دوسي رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شو ۲ او عرض یې وکړی یا رسول الله ماته یقین دي چې قبیله دوس هلاك شو، یعني د دي قبیلي خلقو قبول اسلام او اطاعت دین نه انکار کولو سره خان د هلاکت او تباهي مستحق ګرځولي دي، ۳ نو تاسو دي قبیلي دپاره بد دُعا وکړی (چې الله تعالی پري عذاب مسلط کړی، خلقو دا اوریدو سره) خیال وکړی چې حضور صلی الله علیه وسلم به دي قبیلي دپاره بد دُعا وکړي ۴ لیکن حضور صلی الله علیه وسلم خو رحمة للعلمین دي او

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب قصة دوس، والطفیل بن عمرو الدوسی (رقم-۴۳۹۲) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل غفار، وأسلم، وجهینة، وأشجع، ومزینة، وتمیم، ودوس، وطیئ (رقم-۱۹۷-(۲۵۲۴) واحمد فی المسند:۲/۲۴۳

خلقو ته سيدها لار بنودلو سره فلاح ونجات سره كامياب كولو دپاره دي دُنيا ته راوليږلي شو نه چې بد دُعا كولو سره تباه او برباد كولو دپاره، ځكه حضور ﷺ دُعا وفرمايله چې الٰهي! قبيله دوس ته سيدها لار وښائي او د دې قبيلي خلق مديني جانب ته راولي (يعني اسلام قبلولو نه وروسته د هجرت توفيق هم ورعطا كړې يا داچې هغوى د اسلام طور طريقو طرف ته مائل كړې او د هغوى زړونه قبول اسلام طرف ته وګرځوى (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① عَصَتْ: نافرماني ئې اوكړه (اسلام ئې قبول نه كړو) ② أَبَتْ: أي: امْتَنَعَتْ: انكار ئې اوكړو، منع شو (يعني اطاعت ئې اونه كړو)

تسهيلات:

قوله: جَاءَ الطُّفَيْلُ بْنُ عَمْرٍو الدَّوْسِيُّ:

د طفيل بن عمرو تعارف: حضرت طفيل ابن عمرو دوسى رضي الله عنه يو جليل القدر صحابى دې قبيله دوس سره ئې تعلق لرلو او په اهل حجاز كښې شميرلې كيدو په مكه كښې ئې اسلام راوړلو او بيا خپلې قبيلې ته واپس لاړو خو چه كله حضورپاك هجرت اوكړو او مديني منورې ته ئې تشريف راوړلو نو بيا دوى خپله قبيله او وطن پريخودو اوهجرت ئې اوكړو او دَ حضورپاك په خدمت كښې په هغه موقع باندې حاضر شو بيا دَ حضورپاك دَ وصال پورې په مدينه منوره كښې حضورپاك سره وو.

د ذوالنور لقب ملاويد وجه: هغوى ته دَ ذوالنور لقب حاصل وو او هم په دې لقب باندې مشهور شو اودا لقب دَ مشهوريدو وجه دا ده چه كله حضورپاك دوى لره دَ اسلام دَ تبليغ دپاره دَ هغه دَ قبيلې طرف ته روان كړو نو هغوى عرض اوكړو يا رسول الله ﷺ ماته يوه داسې نښه راكړئى دكوم په كتو سره چه خلق زما تصديق اوكړى حضورپاك دعا اوكړه چه يا الله ده ته نور وركړې الله تعالى دعا قبوله كړه او هغه ته ئى دَ دواړو ستركو په مينځ كښې په تندى باندې پرقيدونكى رنړا وركړه هغه عرض اوكړو يا رسول الله زه ويريږم چه خلق دا نور زما په بد شكلئى باندې محمول نه كړى بيا دَ رسول الله ﷺ په دعا سره دغه نور دَهغه همسا ته منتقل شو كله چه به هغه په تياره شپه كښې تلو نو هغه همسا به رنړا كوله

دحضرت طفيل خپله قبيله كښې د اسلام دعوت وركول: كله چه حضرت طفيل رضي الله عنه خپلې قبيلې ته اورسيدو او دَ اسلام دَ تبليغ دعوت ئې وركړو نودَ هغه پلار په اسلام كښې داخل شو ليكن مور او باقى قبيلې والو اسلام قبول نه كړو او حضرت ابوهريره رضي الله عنه هم دَهغوى په تبليغ سره اسلام راوړو. دا حديث دَ حضرت طفيل رضي الله عنه سابقين اسلام كيدو باندې دليل دې. (مرقاة: ٢٧١/١١)

[٦٠٠٦] عربو سره د محبت كولو وجه

٦٠٠٦ -(¹) [٢٧] ١ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ «أَحِبُّوا الْعَرَبَ لِثَلَاثٍ: ٣ لِأَنِّي عَرَبِيٌّ، وَالْقُرْآنُ عَرَبِيٌّ، وَكَلَامُ أَهْلِ الْجَنَّةِ عَرَبِيٌّ») . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: ١ او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ٢ د دري اسبابو په بناء تاسو ته دعربو سره محبت ساتل پكار دي

٣ يو خو په دي وجه چې زه د عربو نه يم (او ظاهره ده چې كوم شى دحبيب طرف ته منسوب وي هغه محبوب كيدل پكار دي دويم په دي وجه چې قرآن عربي ژبه كې دي (يعنى قرآن كريم هغه ژبه كې نازل شوى دي چې دعربو ژبه وه او دهغوى د ژبي اولغت په ذريعه د دې فصاحت او بلاغت منلي شي) او دريم ٣ په دي وجه چې د جنتيانو ژبه عربي ده. دا روايت بيهقي شعب الايمان كې نقل كړى دي.

تسهيلات:

قوله: أَحِبُّوا الْعَرَبَ لِثَلَاثٍ

عربو سره د دري وجې محبت كول: ① نبى عليه السلام عربى دې (او ظاهره ده چې كوم شى دحبيب طرف ته منسوب وي هغه محبوب كيدل پكار دي

② قرآن عربي ژبه كې دي (يعنى قرآن كريم هغه ژبه كې نازل شوى دي چې دعربو ژبه وه او دهغوى د ژبي اولغت په ذريعه د دې فصاحت او بلاغت منلي شي)

③ د جنتيانو ژبه عربي ده.

¹) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ١٦٠٠

[۱۲] باب مناقب الصحابة رضی الله عنهم

دَصحابه کرامو رضی الله عنهم مناقب

خلاصة الباب:

فیه أحد عشر حدیثاً مشتملة علی ثماني مسائل:

① المنع عن سب الصحابة والأمر بإكرامهم: ۱، ۵، ۷، ۱۰.

② كون الصحابة أمنة للأمة: ۲.

③ ذكر الفتوحات للصحابة: ۳.

④ خيرية قرن الصحابة: ۴، ۵.

⑤ سلامة الصحابة عن مس النار: ۶.

⑥ كون حب الصحابة وبغضهم مدار حب النبي ﷺ وبغضه: ۷.

⑦ كون الصحابة سبباً لصلاح الأمة: ۸.

⑧ قيادة الصحابة رضي الله عنهم أجمعين و نورانيتهم للناس: ۹، ۱۱.

د منقبت د اعتبار معیار: دلته داخبره په ذهن کښې ساتل پکار دی چه شرف اوعزت اودَ دغه منقبت اورفعت اعتبار به هله کیږی چه دَالله تعالی په نیز دغه سړی ته دامقام حاصل وی که چرې دَالله تعالی په نیزورته دامقام حاصل نه وی نوصرف دَمخلوق په نیزبه دَدغه شرف او مقام هیڅ اعتبارنه وی. بیا داخبره هم ضروری ده چه دَدې منقبت اوشرف منزلت تعین حضورپاك فرمائیلې وی چه داکاردَ فضیلت سبب دې. دَعوام الناس دَ تعین هیڅ اعتبارنشته دې دې نه وړاندې باب مناقب قریش کښې تفصیل لیکلې شوې دې.

قوله: الصحابة:

دصحابی په تعریف کښې درې شرطونه: داجمع ده دَدې مفرد صحابی دې

① صحابی هغه وی چاچه په حالت دَ بیدارئی کښې رسول الله ﷺ لیدلې وی

② په نبی علیه السلام باندې ئې ایمان راوړې وی

③ دَ وفات پورې په ایمان باندې قائم پاتې وی

دصحابؓ باره کښې عقیده ساتل: صحابه کرام ټول په ټول عادلان دی اودَانجام په اعتبارسره مامون اومحفوظ اوجنتیان دی. دَالله تعالی اودَهغه دَ رسول ﷺ په نیز اودَ قرآن اوحدیث دَتعلیماتو مطابق دَدوی لوئی شان دې

دصحابؓ په فضیلت کښې ترتیب: ① دَټولو نه غوره حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه دې.

② خلفاء راشدین رضی الله عنهم دی

③ بیا عشره مبشره دی ④ بیا اهل بدر دی
⑤ بیا ورپسې بیعت رضوان حدیبیه والا دی.
⑥ بیا اهل قبلتین دی
⑦ بیا دَ فتح مکه نه وړاندې اسلام قبلونکی صحابه کرام دی.
⑧ السابقون الاولون والا هم دَ شان والا صحابه دی.

د سابقون اولون په مصداق کښې څلور اقوال:

① د بیعت عقبه شرکاء سابقون اولون دی.
② دَ واقعه بدر نه وړاندې صحابه دی
③ دَفتح مکه نه وړاندې والا صحابه دی.
④ ټول صحابه سابقین اولین دی.

د صحابه کرامو د عدالت دلائل: ① صحابه کرام نیغ په نیغه دَرسول الله ﷺ شاګردان دی. که چرې صحابه کرامو ته خراب اوونیلې شی نو دابه په حضورپاك باندې اعتراض وی چه په ۲۳ کاله کښې حضورپاك قابل اعتماد شاګردان پیدا نه کړه.

② که چرې صحابه کرامو ته خراب یا العیاذبالله ګمراه اوونیلې شی نودَقیامته پورې به ټول خلق خراب او ګمراه وی ځکه چه که دَ اوبوتالاب ګنده شی نو په نلکو کښې به هم ګنده اوبه راځی.

③ صحابه کرام ټول په ټول عادلان دی او زمونږ دَدین ګواهان دی. هم دَدوی په ذریعه مونږ ته کلمه طیبه او قرآن رسیدلې دې. دَ قرآن په نقل کولو کښې دَ صحابه کرامو پوره طبقه شریکه ده. که چرې دَ صحابه کرامو طبقه بې اعتماده شی نو په قرآن باندې به اعتماد ختم شی. دَ یوځو کسانو په ګواهئی سره دَ قرآن پاك اعتماد بحال کیدې نه شی.

دصحابؓ باره کښې د اهل سنت والجماعت عقیده: هم په دې وجه اهل سنت والجماعت عقیده ده چه صحابه کرام دَ هدایت ستنې وې اودَامت دَپاره دَحق معیار وو. دَ چاچه صحابه کرامو سره بغض دې هغه کافران وو.

دمشاجرات صحابؓ باره کښې سکوت اختیارول: باقی دَ صحابه کرامو په خپل مینځ کښې اختلاف هم راغلې دې په خپل مینځ کښې جنګونه هم کړی دی دا مشاجرات صحابه دی دَهرې ولې نیت ښه وو لکه چه هغه دَ رونړو اختلاف وو بل دریم فریق له په مینځ کښې راتلوسره دَ یورور حمایت اودَ بل رور مخالفت غیرمعقول دې.

بل په اجتهادی غلطئی باندې مواخذه نشته دې. که یو فریق په حق باندې وو نوبل دَ اجتهادی غلطئی ښکار وو. دَ جمهوراهل حق هم دغه مسلك دې.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٦٠٠٧] د صحابو رضی الله عنهم د کنځلو څخه ممانعت

٦٠٠٧-(¹) [١] ①عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ②(«لَا تَسُبُّوا أَصْحَابِي، ③فَلَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا ④مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ وَلَا نَصِيفَهُ») مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت ابو سعيد خدری رضی الله عنه وايي رسول الله ﷺ وفرمايل ② تاسو زما صحابه ؤ ته بد مه وايئ ③ حقيقت دادي که په تاسو کې يو سړی د اُحد دغره برابر سونا (سره زر) د الله په لار کې خرڅ کړی ④ نو د هغه ثواب زما د صحابه ؤ ديو صاع څلورمي حصي د ثواب برابر هم نشي رسيدی اونه دصاع دنيمايي حصي ثواب ته (بخاري و مسلم)

حل اللغات:- ① لَاتَسُبُّوا: کنځل مه کوئ، بد رد مه وايئ. ② مُدّ: د ناپ کولو يو مقدار او پيمانه ده چه د دوه رطلو يعنی د دوؤ پونډونو برابر دي، ③ نَصِيفَهُ: أي: نِصْفَهُ: نيمه حصه دهغې (مُد د غنمو، وريشو وغيره)

تسهيلات:

قوله: لَاتَسُبُّوا أَصْحَابِي:

د مذکوره خطاب په مخاطبينو کښې دوه اقوال: ① دا خطاب دَ صحابه کرامو جماعت ته هم کيدې شی چه تاسو کښې بعضې پاسيدوسره زما بعضې صحابه کرامو ته بدمه وايئی وئيلی شی چه حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه ته حضرت خالد رضی الله عنه يوخل څه سخت کلمات وئيلی ووبه دي باندي حضورپاك دا ممانعت اوفرمائيلو

② راجح اوواضح دادی چه دا خطاب دَ صحابه کرامونه پس راتلونکی ټول امت ته عام دی چه تاسو زما صحابه کراموته کنځلې مه کونی. ځکه چه دَ صحابه کرامو شان ډير اوچت دي

صحابؤته د کنځلو کولو حکم: ① دَ حضورپاك دَدې ارشاد په رڼاکښې شارحين حديث ليکلی دی چه صحابه کرامو ته بد وئيل حرام اودَ غټو فواحشونه دی

صحابؤته د کنځلو کولو په سزا کښې اقوال: ① دَجمهور علماؤ مذهب دادي چه کوم سړي صحابه کرامو ته کنځلې اوکړی هغه ته دَتعزير په توګه سزا ورکړنی.

② قاضی عياض مالکی رحمه الله وئيلی دی چه يوصحابی ته بد وئيل ګناه کبيره او حرام دی داسې سړی ته سزا ورکړنی

③ بعضې مالکيه وئيلی دی هغه قتل کړنی علامه طيبی رحمه الله هم داسې ليکلی دی.

---

¹) اخرجه البخاري فی کتاب المناقب/ رقم الحديث ٣٦٧٣ ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم (رقم-٢٢٢ - (٢٥٤١) واحمد فی المسند: ١١/٣

شیخینو ته کنځلې کولو شرعی حکم: ① دَائمه احناف بعضې علماؤ وئیلی دی چه کوم سړې شیخین ته کنځلې اوکړی هغه واجب القتل دې. الاشباه والنظائر کښې لیکلی دی چه کوم سړې شیخین ته کنځلې کوی یا په هغوی باندې لعنت وائی هغه کافر دې

② کوم سړې چه حضرت علی ﷺ ته په شیخین باندې فضیلت ورکوی هغه مبتدع دې.

③ دَائمه احناف او جمهور فقهاؤ دامسلك دې چه صحابه کرام ته کنځلې کونکې سړی ته به دَتعزیرات لاندې سزا ورکولې شی اودَ تعزیر نوبت دَ قتل پورې هم رسیدې شی.

صدیقی خلافت ته نا جائز ویونکی حکم: ① حضرت شاه عبد العزیز ﷺ لیکلی دی چه په دې کښې هیڅ شك نشته دې چه دَ فرقهٔ امامیه خلق دَحضرت ابوبکرصدیق ﷺ دَخلافت منکردی اودَ فقه کتابونو کښې لیکلی دی چه کوم سړې دَ خلافت صدیق نه انکار اوکړی هغه په اجماع قطعی سره منکر ګرځولې شوې دې اودَ اجماع قطعی منکر کافر کیږی چنانچه فتاویٰ عالمګیری کښې داسې فتویٰ ده "الرافضي اذا کان یسب الشیخین ویلعنهما والعیاذ بالله فهو کافر وان کان یفضل علیا علی ابی بکر لا یکون کافراً لکنه مبتدع ولو قذف عائشة کفر بالله تعالی" (فتاویٰ عالمګیری)

② دَحضرت سهل بن عبد الله تستری ﷺ قول دې چه کوم سړې دَ صحابه کرامو تعظیم اوتوقیر اونه کړی دې سړی ته په حضورپاك باندې ایمان راوړونکې نه شی وئیلې

③ ابن عساکر ﷺ دا روایت نقل کړې دې "ان رسول الله ﷺ قال حب ابی بکر و عمر ایمان وبغضهما کفر"

④ امام ابوزر عهرازی ﷺ فرمائی چه که چرې یو سړې دَ رسول الله ﷺ صحابه کرامو نه دَ چاتنقیص او توهین اوکړی نو بیشکه هغه زندیق دې

⑤ محیط کتاب کښې امام محمد ﷺ دا قول نقل دې چه رافضیانو پسې مونځ کول جائز نه دی ځکه چه هغوی دَ ابوبکرصدیق ﷺ دَ خلافت منکر دی خلاصة الفتاویٰ کښې لیکلی دی چه "من انکر خلافة الصدیق فهو کافر"

⑥ قاضی عیاض ﷺ نور لیکی چه دَامام مالك ﷺ قول دادې چه "من غاظه اصحاب محمد صلی الله علیه وسلم فهو کافر قال الله تعالی لیغیظ بهم الکفار" دَامام مالك ﷺ یو قول داسې هم دې. "فان قال (قائل) کانوا علی ضلال اوکفر قتل".

⑦ قاضی عیاض ﷺ په شفاء کښې لیکلی دی چه دَامام مالك مسلك دې چه "من ابغض الصحابة وسبهم فلیس له فی فئ المسلمین حق" یعنی کوم سړې چه صحابه کرامو سره بغض ساتی اوهغوی ته کنځلې کوی نو دَ مسلمانانو بیت المال او مال غنیمت کښې دَهغه حق نشته دې دا ټول تفصیلات اودَې حواله جات مظاهرحق جدید کښې دی.

[۶۰۰۸] صحابه دامت د سلامتيا سبب

۶۰۰۸-() [۲] [۱] وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: رَفَعَ -يَعْنِي النَّبِيَّ- صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ، [۲] وَكَانَ كَثِيرًا مِمَّا يَرْفَعُ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ. [۳] فَقَالَ: ((النُّجُومُ أَمَنَةٌ لِلسَّمَاءِ، [۴] فَإِذَا ذَهَبَتِ النُّجُومُ أَتَى السَّمَاءَ مَا تُوعَدُ، [۵] وَأَنَا أَمَنَةٌ أَصْحَابِي، [۶] فَإِذَا ذَهَبْتُ أَنَا أَتَى أَصْحَابِي مَا يُوعَدُونَ، [۷] وَأَصْحَابِي أَمَنَةٌ لِأُمَّتِي، [۸] فَإِذَا ذَهَبَ أَصْحَابِي أَتَى أُمَّتِي مَا يُوعَدُونَ)). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] اوحضرت ابوبرده رضي الله عنه خپل والد حضرت ابوموسٰی اشعري رضي الله عنه نه روايت کوي چې هغوی يعنی حضرت ابوموسٰی رضي الله عنه بيان وکی يوه ورځ نبی کريم ﷺ اسمان طرف ته کتل سرمبارك يې اوچت کړو [۲] وحضور ﷺ به اکثر دوحي په انتظار کښې اسمان طرف ته کتل [۳] وبيايې وفرمايل ستوري داسمان دپاره دامن اوسلامتيا باعث دي [۴] کوم وخت چې داستوري لاړ شي نواسمان ته به هغه شی راشي چې موعود اومقدر دی [۵] اوزه دخپلو صحابه ووځ رضي الله عنهم دپاره دامن اوسلامتيا باعث يم [۶] کله چې ددي دنيا نه لاړشم نوزما صحابه رضي الله عنهم ته به هغه شي راشي چې ددوي سره ئي وعده شوې ده [۷] اوزماصحابه زما دامت دپاره دامن اوسلامتي باعث دي [۸] هرکله چې زما صحابه ددنيا نه رخصت شي نوزما امت باندې به هغه شی راشي چې هغوئ دپاره موعود اومقدر دی . (مسلم)

حل اللغات:- ① أَمَنَةٌ: أَمَانٌ وَمَرْحَمَةٌ: رحمت، امن اوسلامتيا ، ② يُوعَدُونَ: چه وعده ئې ورسره شوې ده (فتنې اوفسادونه، مخالفت اوجهګړې وغيره).

تسهيلات: قوله: رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ:

آسمان ته د سر اوچتولو وجه: يعنی حضورپاك به خپل سر دَ آسمان طرف ته دَ الله تعالی دَ وحی اودَ فرښتې دَ نازليدو دَ ډير انتظار په وجه اوچتولو.

قوله: كَثِيرًا مِمَّا

د ما په نوعيت کښې دوه اقوال:

① امام طيبی رحمه الله فرمائی چه من بيانيه دې دَ کثيراً بيان دې

② من زائده وی په دې صورت کښې به داد کان خبر وی. عبارت به داسې شی "أي كان كثيرًا رفع رأسه" رسول الله ﷺ به خپل سر مبارك اکثر (دَ وحی دَ شوق دَ وجې) آسمان طرف ته اوچتولو او ما مصدريه ده جمله معترضه حاليه ده

قوله: فَقَالَ النُّجُومُ أَمَنَةٌ لِلسَّمَاءِ

د ستورو مخفه مراد: ستوری دَ آسمان دَ پاره دَ امن او سلامتيا سبب دي لکه چه دلته دَ

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب بيان أن بقاء النبی صلی الله عليه وسلم أمان لأصحابه، وبقاء أصحابه أمان للأمة (رقم-۲۰۷ - (۲۵۳۱)

ستوری لفظ نمر او سپوږمئی ته هم شامل دی اودَ ستورونه مراد دَ نمر سپوږمئی اودَ ټولو ستور بې نوره کیدل ماتیدل او پریوتل او ختمیدل اودَ قیامت راتلل دی لکه چه قرآن کښې دی ﴿إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ۝ وَإِذَا النُّجُومُ انكَدَرَتْ ۝﴾.

قوله: أَتَى السَّمَاءَ مَا تُوعَدُ.

د آسمان څخه مراد: دَدې نه مراد دَ ستورو بې نوره کیدل او پریوتل اودَ آسمان شلیدل او ټکړې ټکړې کیدل اودَ مالوچو دَ پومبې په شان الوتل دی لکه چه قرآن کریم کښې دی ﴿إِذَا السَّمَاءُ انفَطَرَتْ ۝﴾.

قوله: وَأَنَا أَمَنَةٌ أَصْحَابِي.

نبی علیه السلام ته د امن په نسبت کښې دوه اقوال: امام طیبی رحمه الله فرمائی چه کله دَ "امنة" نسبت دَ حضورپاك طرف ته اوکړې شو نودَدې دوه صورتونه دی

① دا جمله به ئی دَ مبالغې په توګه فرمائیلی وی "نحورجل عدل"

② دَ رسول الله ﷺ دا ارشاد به دَ جماعت په توګه باندې وی په دې صورت کښې به دا ارشاد دَ الله تعالی دَدې فرمان ﴿إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا﴾ په شان شی په دې کښې حضرت ابراهیم علیه السلام ته امت ونیلې شوې دې نو حضورپاك دَ امنةٌ لاصحابه" نه پوره جماعت مراد اخستې دې

قوله: فَإِذَا ذَهَبْتُ أَتَى أَصْحَابِي مَا يُوعَدُونَ،

نبی علیه السلام د امت د امن ذریعه: دې نه مراد فتنه اوفساد ،اختلافات او جګړې، په خپل مینځ کښې جنګ جګړې دی. نو په دې کښې دې طرف ته هم اشاره ده چه دَ اهل خیر وجود دَ شر دَ لارې دَ ټولونه لوئی بندیز دې کله چه اهل خیر اوچت کړې شی نو اهل شر ته موقع ملاویږی چنانچه دَ حضورپاك وجود دَ هغوی دَ صحابه کرامو دَ پاره دَ شر نه دَ حفاظت مکمل ضامن او دیوال وو لیکن چه کله حضورپاك دَدې دنیا نه لاړو نو صورت حال مختلف شو لیکن بیاهم صحابه کرامو دَ رسول الله ﷺ دَ ارشاداتو په رڼا کښې اختلافات راپیدا کیدو نه منع کړل او فتنې او بدئی ئی زیاتې خوریدو ته پرینخودې

قوله: فَإِذَا ذَهَبَ أَصْحَابِي أَتَى أُمَّتِي مَا يُوعَدُونَ

صحابه کرام د امت د امن ذریعه بیا چه کله صحابه کرام هم دَ دې دنیا نه لاړل نو په انوارو او برکتونوکښې نورهم کمې راغلو او دَ تیارو دَ خوریدو نوره موقع ملاؤ شوه دا حقیقت حضورپاك دَ ستورو او آسمانونو دَ مثال په ذریعه دَ مخکښې نه بیان کړې وو چه دا هم داسې دی لکه چه دَ آسمان وجود ترهغه وخته پورې دې ترکومې پورې چه نمر سپوږمئی او ستوری موجود دی کله چه دَ قیامت دَ دهشت دَ وجې نه سپوږمئی نمر اوستوری ختم شی

نو دَ آسمان دَ وجود دَ ختمیدو وخت به راشي نوچه کله دَ آسمان وجود ختم شي نو پوره کائنات به دَ خپل عدم په تیاره کښې ورك شي

د صحابؓ تشبیه د ستورو سره: دغه شان رسول الله ﷺ دَ صحابه کرامو ﷺ دَ خوبیانو دَ وجي نه هغه صحابه دَ ستورو په شان اوګرځول دکوم نه چه کائناتو ته رنړا ملاویږی. کمافي الحدیث ((أصحابي کالنجوم فبأیهم اقتدیتم اهتدیتم)) (مرقاة: ۱۱/۲۷۴)

[۶۰۰۹] دصحابؓو په برکت فتوحات ملاویدل

۶۰۰۹-(۱) [۳] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ فَيَغْزُو فِئَامٌ مِنَ النَّاسِ، [۳] فَيَقُولُونَ: هَلْ فِيكُمْ مَنْ صَاحَبَ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۴] فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، فَيُفْتَحُ لَهُمْ، ثُمَّ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ، فَيَغْزُو فِئَامٌ مِنَ النَّاسِ،

ترجمه: [۱] اوحضرت ابوسعید خدريؓ وايي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] په خلقو به یوه داسې زمانه راشي چې دخلقو یوجماعت به جهاد دپاره ووزي [۳] وبیابه هغه خلق خپلو کښې یوبل نه پوښتنه کوي ایاتاسو کښې څوک داسې سړی هم موجود دی چې هغه ته درسول الله ﷺ دصحبت شرف حاصل شوی وي [۴] هغوی به جواب کښې وایي چې هو زمونږ په منځ کښې درسول الله ﷺ صحابه موجوددی نو هغه خلقو دپاره به دقلعه او ښار دروازې خلاصې شي یعنی دصحابهؓ برکت اوشوکت سره ددښمنانو مقابله کښې به هغوی ته فتح حاصله شي بیابه په هغوی داسې زمانه راشي چې دخلقو یوجماعت به جهاد دپاره ووزي

حل اللغات:- ① فَيَغْزُو: أي: يَقْتُلُ: جهاد به کوی، قتل وقتال به کوی. ② فِئَامٌ: أي: جَمَاعَةٌ: دَانسانانولوئی جماعت ته وائی

[۱] يُقَالُ: هَلْ فِيكُمْ مَنْ صَاحَبَ أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-؟ [۲] فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، فَيُفْتَحُ لَهُمْ، [۳] ثُمَّ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ فَيَغْزُو فِئَامٌ مِنَ النَّاسِ، [۴] فَيُقَالُ: هَلْ فِيكُمْ مَنْ صَاحَبَ مَنْ صَاحَبَ أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-؟ [۵] فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، فَيُفْتَحُ لَهُمْ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] اوبیابه هغوی خپلو کښې یوبل نه پوښتنه کوي ایا ستاسو منځ کښې څوک داسې سړی موجود دی چې هغه ته درسول کریم ﷺ دصحابهؓ دصحبت شرف حاصل شوی وي چې هغه ته تابعي وايي [۲] هغوی به جواب کښې وايي چې هو زمونږ په منځ کښې تابعین موجود دی نو دتابعینو دبرکته د هغوی دپاره به دښار اوقلعه دروازې خلاصې شي [۳] بیابه داسې زمانه راشي چې هغوی به خپلو کښې یوبل نه پوښتنه کوي ایا ستاسو منځ

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب فضائل أصحاب النبی صلی الله علیه وسلم « ومن صحب النبی صلی الله علیه وسلم، أو رآه من المسلمین، فهو من أصحابه» (رقم-۳۶۴۹) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب فضل الصحابة ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم (رقم-۲۰۹ - (۲۵۳۲)) واحمد فی المسند: ۷/۳

کښې څوک داسې سړی هم شته چې هغه دحضور ﷺ دصحابه ؤ دتربیت یافته حضراتو تابعینو دصحبت شرف حاصل کړی وي چې هغه ته تبع تابعین وایي ۴ هغوی به جواب ورکړي چې هو زمونږ په منځ کښې تبع تابعین موجود دي ۵ نودتبع تابعینوله برکته به هغه خلقو دپاره دقلعه اوښار دروازې خلاصې شي. (بخاري مسلم)

۱ وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ: ((يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يُبْعَثُ مِنْهُمُ الْبَعْثُ ۲ فَيَقُولُونَ: انْظُرُوا هَلْ تَجِدُونَ فِيكُمْ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -؟ ۳ فَيُوجَدُ الرَّجُلُ، فَيُفْتَحُ لَهُمْ بِهِ، ۴ ثُمَّ يُبْعَثُ الْبَعْثُ الثَّانِي فَيَقُولُونَ: ۵ هَلْ فِيهِمْ مَنْ رَأَى أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -؟

ترجمه: ۱ اودمسلم یوروایت کښې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمایل په خلقو به یوه داسې زمانه راشي چې هغه وخت به دخلقو نه یولښکر ددشمنانو مقابلې ته جنګ دپاره ولیږل شي ۲ اوبیابه هغه اهل لښکر خپلو کې یوبل نه پوښتنه کوي لږ وګوری چې ستاسو منځ کښې درسول کریم ﷺ دصحابه ﷺ نه څوک موجود دی یانه؟ ۳ تلاش کولو نه وروسته به معلومه شي چې لښکر کښې یوصحابي ﷺ موجود دی نودهغه صحابي ﷺ له برکته به هغه لښکر ته فتح حاصله شي ۴ ددې نه پس یوه زمانه کښې به یودویم لښکر څه دویمې علاقې طرف ته ددښمنانو مقابلې دپاره ولیږل شي اوبیابه هغه اهل لښکر خپلو کښې یوبل نه پوښتنه کوي ۵ لږ وګورئ ستاسو منځ کښې څوک داسې سړی موجود دی یانه چې هغه درسول الله ﷺ صحابه لیدلی وي تلاش کولو باندې به معلومه شي چې لښکر کښې یوداسې سړی یعنې تابعي موجود دی

حل اللغات: - ۳ الْبَعْثُ: په معنی د مفعول سره، أَي: الْمَبْعُوثُ وَهُوَ الْجَيْشُ: دا فوجي دستې ته وائی چه ددښمن طرف ته دَ جنګ دَپاره روانولې شي.

۱ فَيُفْتَحُ لَهُمْ بِهِ ثُمَّ يُبْعَثُ الْبَعْثُ الثَّالِثُ فَيُقَالُ: ۲ انْظُرُوا، هَلْ تَرَوْنَ فِيهِمْ مَنْ رَأَى مَنْ رَأَى أَصْحَابَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -؛ ۳ ثُمَّ يَكُونُ الْبَعْثُ الرَّابِعُ فَيُقَالُ: ۴ انْظُرُوا هَلْ تَرَوْنَ فِيهِمْ أَحَدًا رَأَى مَنْ رَأَى أَحَدًا رَأَى أَصْحَابَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَيُوجَدُ الرَّجُلُ فَيُفْتَحُ لَهُمْ بِهِ)).

ترجمه: ۱ نودهغه تابعي له برکته به لښکر ته فتح حاصله شي بیاددې نه وروسته یوه بله زمانه کښې به یودریم لښکرولیږل شي اوبیابه هغه اهل لښکر خپلو کښې یوبل ته وایي لږ وګورئ ستاسو منځ کښې څوک داسې سړی موجود دی یانه چې هغه یوداسې سړی لیدلی وي چې هغه درسول کریم ﷺ صحابه ﷺ لیدلی وي تلاش کولو څخه وروسته به معلومه شي چې لښکر کښې یوداسې سړی موجود دی نودهغه د برکته به هغه لښکر ته فتح حاصله شي بیابه ددې نه وروسته یوه بله زمانه کښې یوڅلورم لښکر ولیږل شي اوبیابه هغه اهل لښکر خپلو کښې یوبل ته وایي لږ وګوری ستاسو منځ کښې څه داسې سړي موجود دی یانه چې هغه سړي یو داسې سړی لیدلی وي چې هغه درسول کریم ﷺ صحابه

ﷺ لیدونکی څوک سړی لیدلی وي تلاش کولو باندې به معلومه شي چې لښکر کښې یوداسې سړی موجود دی نو دهغه د برکته به هغه لښکر ته فتح حاصله شي

تسهیلات:

قوله: فَيُفْتَحُ لَهُمْ.

د خیر القرون فضیلت: په دې حدیث کښې په دورصحابه کښې بیا په دورد تابعینو کښې بیا په دور د تبع تابعینو کښې د برکت اوفضیلت بیان دې دې نه پس به عموماً اهل خیر نه ملاویږی په دې وجه د هغوی ذکرنشته دې.

قوله: وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ،

په روایتونو کښې اختلاف اوپه هغې کښې تطبیق: پورته دواړو روایتونو کښې دومره فرق دې چه په اول روایت کښې د دریو قرنونو ذکردې اودویم روایت کښې د څلورم قرن ذکرهم دې مګریادلرئی چه په دې کښې خیر اوبرکت د نادر په درجه کښې وو په دې وجه په رومبی روایت کښې د دریو قرنونو بیان باندې اکتفاکړې شوې ده اودا نادر نی نه دې ذکرکړې اودا زیات واضح دی. د مسلم دا روایت شاذ دې

[۶۰۱۰] د دریم قرن څخه روسته د فساد پیدا کیدل

> ۶۰۱۰-(۱) [۳] ① وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - (② «خَيْرُ أُمَّتِي قَرْنِي، ③ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ④ ثُمَّ إِنَّ بَعْدَهُمْ قَوْمًا يَشْهَدُونَ وَلَا يُسْتَشْهَدُونَ، ⑤ وَيَخُونُونَ وَلَا يُؤْتَمَنُونَ، ⑥ وَيَنْذُرُونَ، وَلَا يُوفُونَ ⑦ وَيَظْهَرُ فِيهِمُ السِّمَنُ»). ⑧ وَفِي رِوَايَةٍ («وَيَحْلِفُونَ وَلَا يُسْتَحْلَفُونَ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① اوحضرت عمران ابن حصین ﷺ وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل ② زما دامت بهترین خلق زما دپیري خلق یعنی صحابه ﷺ دي ③ بیا هغه خلق چې هغوی ته متصل دي یعنی تابعین بیا هغه خلق چې هغوی ته متصل دی یعنی تبع تابعین ④ وبیا ددې پیري نه وروسته چې دکومو خلقو زمانه راځي هغوی کښې به داسې خلق هم وي چې خپله به ګواهي ورکوي اوڅوک به دهغوی ګواهي نه غواړي ⑤ داسې خلق به هم وي چې خیانت به کوي اودهغوی په دیانت اوامانت به اعتماد نه کیږی ⑥ داسې خلق به هم وي نذر به مني اوخپل نذر به نه پوره کوي ⑦ وهغوی کښې به چاغ والی پیدا کیږي ⑧ اوپورروایت

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب فضائل أصحاب النبی صلی الله علیه وسلم ، ومن صحب النبی صلی الله علیه وسلم. أو رآه من المسلمین. فهو من أصحابه» (رقم-۳۶۵۰) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب فضل الصحابة ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم (رقم-۲۱٤ - (۲۵۳۵) وابوداود فی کتاب السنة/باب فی فضل أصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم (رقم-٤۶۵۷) والترمذی فی کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی فضل من رأی النبی صلی الله علیه وسلم وصحبه (رقم-۳۸۵۹)

کښې داهم دي او داسي خلق به وي چې بلاضرورته او بلاوجهي قسمونه به خوري حالانکه هغوی نه به قسم نوي اخستل شوی .(بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① قَرْنِي: قرن زماني ته وائی (ددې نه د نبی علیه السلام د ژوند زمانه مراد ده) په دې کښې مزید اقوالو دپاره اوګورئ حدیث نمبر(۶۰۷۴) ② يَلُونَهُمْ: أَيْ يَقْرُبُونَهُمْ: چه نزدې وی دوی ته (یعنی د صحابو زماني ته یعنی تابعین)، ③ يَشْهَدُونَ: په خپله به ګواهي ورکوی (حالانکه ګواهي به ترې نه وی غوښتلې شوې). ④ يَخُونُونَ: خیانت به کوی ⑤ لَا يُؤْتَمَنُونَ: وَلَا يَجْعَلُونَ أُمَنَاءَ: هغوی امانت دار به نه شي جوړولې یا دهغوی په امانت او دیانت به اعتماد نه شی کولې ⑥ يَنْذُرُونَ: أَيْ: يُوجِبُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ أَشْيَاءَ: په ځان به څه ځیز واجب کوی یعنی منخته او نذر به منی ⑦ لَا يُوفُونَ: دا د وَفَاء نه دې، أَيْ: لَا يَقُومُونَ: نه به ئې قائموی، نه به ئې پوره کوی ⑧ السِّمَنُ: دا د سَمِنَ نه مصدر دې، څرب او غټې بدن ته وائی (یعنی ډیر خوراک څکاک به کوی چه دا سبب دې د بدن د غټوالی او دا کنایه ده د دین د غفلت نه) ⑨ يَحْلِفُونَ: ډیر قسمونه به خوری (بغیر ضرورته) ⑩ لَا يُسْتَحْلَفُونَ: د استفعال نه دې، یعنی د قسم غوښتنه او طلب به ترې نه وی شوې

۶۰۱۱-(١) ① وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: ② «ثُمَّ يَخْلُفُ قَوْمٌ يُحِبُّونَ السَّمَانَةَ».

ترجمه: ① او د مسلم په یو روایت کښې دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه منقول داالفاظ دی ② چې بیا دهغه خلقو څخه وروسته به داسې خلق پیدا شي چې چاغ والی غټ والی به خوښوي

حل اللغات:- ① يَخْلُفُ: أَيْ يَعْقُبُهُمْ: وروستو دهغوی به راشی (نور خلق) ② السَّمَانَةَ: غټ والې، څرب والې

تسهیلات: **قوله:** خَيْرُ أُمَّتِي قَرْنِي،

د قرن په مقدار کښې اقوال:

① بعضې سل کاله خودلې دي

② بعضې اتیا کاله خودلې دي

③ دبعضې علماؤ په نیز څلویښت کاله دي

④ د بعضې علماؤ خیال دي چه په قرن کښې هیڅ تحدید او یقین نشته دي بلکه د یو دور نوم قرن دي

دقرون ثلاثه تاریخونه: ① نود حضور پاك دقرن مراد هغه زمانه ده په کوم کښې چه آخری صحابی موجود وو هغه د ۱۲۰ هجری پورې دکال عهد دې

② دې نه پس دویم قرن د تابعین وو چه د ۱۲۰ هجری نه شروع کیږی ۱۷۰ هجری پورې موده باندې مشتمل وو

[1] اخرجه مسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب فضل الصحابة ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم (رقم-۲۱۳ - (۲۵۳٤)

③ دَدې قرن نه پس دَ عمومي خيراوبركت زمانه لاړه اودَ بدعتونو او بدوعقيدو دور شروع شو او په دې كښې دَ خوارج او معتزله زور شو. دَ عقل پرستو زور شو اوباطل فلسفيانو اسلامي دنيا راګيره كړه اودَ خير نوم صرف تش په نوم پاتې شو دروغژن خلق راپيدا شو اوخيټه وروخلقو دين مسخ كړو.

قوله: ثُمَّ إِنَّ بَعْدَهُمْ قَوْمًا يَشْهَدُونَ وَلَا يُسْتَشْهَدُونَ،

د روايتونو په مينځ كښې التعارض: يعنې دګواهئ دَپاره بغيردَ راغوښتو په منډه به راځي. په دې جمله باندې دا اعتراض دې چه په يوحديث كښې پخپله دګواهئ دَپاره پيش كيدونكي سړي ډير لوئي فضيلت بيان كړې شوې دې اودلته مذمت دې دا ښكاره تعارض دې

دتعارض جواب: كه دَچا حق ډوبيږي او يوسړي سره ربښتوني ګواهي شته هغه راځي اوګواهي وركوي په كومې سره چه دَ غريب حق دَ ضائع كيدو نه بچ كيږي. دَدې قسم ګواهئ خو تعريف كړې شوې دې ليكن چه كوم ګواه دَ دروغو ګواهي وركوي اودَ يو حقدار حق ضائع كوي نودَ دغه سړي دَپاره دا وعيددې كوم چه په زيربحث حديث كښې دې

قوله: ثُمَّ يَخْلُفُ قَوْمٌ يُحِبُّونَ السِّمَانَةَ،

د خربوالي دوه قسمونه اود هريو حكم:

① يوچاقوالي او پيروالي خلقي اوطبعي وي هغه مذموم نه دي

② هغه خربوالي كوم چې عام طوز دا خربوالي دَنازونعم عيش اوعشرت دَ وجې پيدا كيږي دلته هم دغه خربوالي مراد دي په كوم سره چه سړي كښې سستي راځي دَحماقت او بلادت په ګيره كښې راځي

ديوحديث مصداق: هم دَدغه خربوالي باره كښې حضورپاك يويهودي عالم ته اوفرمائيل ((ان الله يبغض الحبر السمين)) الله تعالى خرب عالمان نه خوښوي

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٦٠١٢]دصحابو د تعظيم اوتكريم لزوم

٦٠١٢-(¹)[د][١]عَنْ عُمَرَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[٢](«أَكْرِمُوا أَصْحَابِي، فَإِنَّهُمْ خِيَارُكُمْ، [٣]ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، [٤]ثُمَّ يَظْهَرُ الْكَذِبُ حَتَّى إِنَّ الرَّجُلَ لَيَحْلِفُ وَلَا يُسْتَحْلَفُ، وَيَشْهَدُ وَلَا يُسْتَشْهَدُ، [٥]أَلَا مَنْ سَرَّهُ بُحْبُوحَةُ الْجَنَّةِ فَلْيَلْزَمِ الْجَمَاعَةَ، [٦]فَإِنَّ الشَّيْطَانَ مَعَ الْفَذِّ وَهُوَ مِنَ الِاثْنَيْنِ أَبْعَدُ، [٧]وَلَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ ثَالِثُهُمْ، [٨]وَمَنْ سَرَّتْهُ حَسَنَتُهُ وَسَاءَتْهُ سَيِّئَتُهُ فَهُوَ مُؤْمِنٌ») رَوَاهُ النَّسَائِيُّ،

¹ اخرجه الترمذي في السنن كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في لزوم الجماعة (رقم-٢١٦٥) واحمد في المسند:١/٢٦

ترجمه: ۱ حضرت عمر رضی الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ۲ زما داصحابو رضی الله عنهم تعظيم اوتکريم کوي ځکه چې هغوی ستاسو برگزيده اوبزرگ ترين خلق دي ۳ بيا هغه خلق چې هغوی ته نزدې دی يعنی تابعين اوبيا هغه خلق چې تابعينوته نزدې دي يعنی تبع تابعين ۴ اودي نه وروسته به دروغ ظاهر شي ددي پورې چې يوسړی به قسم خوري حالانکه هغه نه به دقسم خوړلو مطالبه نه وي شوي اوگواهي به ورکوي حالانکه هغه ته به دگواهي کولو دپاره نوي وئيل شوي ۵ يادلری کوم سړی چې بالکل دجنت په منځ کښې چې دجنت بهترين ځاي دی اوسيدل غواړی نوهغه ته پکاردی چې جماعت لازم ونيسي ۶ ځکه چې شيطان دهغه سړي ملگري جوړيږي چې خودرايه اودجماعت نه جدا اوتنهاوي شيطان خوددوو کسانو نه هم چې اجتماعيت اواتحاد سره وي لري تښتي ۷ وخبردار هيڅ سړی دي ديوي اجنبي يعنی غير محرم ښځي سره په تنهايي کښې هيڅ کله نه اوسيږي ځکه چې دهغوی دريم ملگری شيطان وي چې دهغوی ددهوکه کولوځخه نه قلاريږي ۸ وکوم سړی ته چې دهغه نيکی خوشحالي اواطمينان وبخښي اودهغه بدی يې غمگين اومضطرب کړي هغه مؤمن دي نسائي اواسناد ددي حديث صحيح دي

حل اللغات:- ① خِيَارُكُمْ: غوره او بهترين خلق په تاسو کښې. ② بُحْبُوحَةُ: أَيْ: وَسَطُهَا: وسط الجنة مراددې ښکلې جنت مراددې يعنی که يوسړې بهترين او ښکلې جنت غواړی نوهغه له پکاردی چه اهل حق سره دې تړلې وی. ③ الفَذِّ: أَيْ الَّذِي تَفَرَّدَ بِرَأْيِهِ: جدا خان له يوازې په معنی کښې دې يعنی دَاهل حق دَ جماعت دَ رائي نه ئی جدا رائې قائمه کړې ده ④ وَسَاءَتْهُ: أَيْ: أَحْزَنَتْهُ: خفه او غمجن کړی هغه لره

۱ وَإِسْنَادُهُ صَحِيحٌ وَرِجَالُهُ رِجَالُ الصَّحِيحِ إِلَّا إِبْرَاهِيمَ بْنَ الْحَسَنِ الْخَثْعَمِيَّ ۲ فَإِنَّهُ لَمْ يُخْرِجْ لَهُ الشَّيْخَانِ وَهُوَ ثِقَةٌ ثَبْتٌ.

ترجمه: ۱ اوددي راويان دبخاري اومسلم راويان دي صرف ابراهيم بن الحسن ۲ چې دي دهغه ځخه شيخينوروايت نه دي کړي خوثقه اومضبوط دي .(اخرجه النسائی)

تسهيلات:

نوټ: د گرانو ټکو تشريح په حل اللغات کښې شوې ده اوباقی د حديث مفهوم د حديث د تشريحی ترجمې ځخه واضح دي

[۶۰۱۲] صحابی اوتابعی ته داور نه رسيدل

۶۰۰۳-() [۱] ۱ وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-، قَالَ: ۲ «لَا تَمَسُّ النَّارُ مُسْلِمًا رَآنِي ۳ أَوْ رَأَى مَنْ رَآنِي». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

[1] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی فضل من رأى النبی صلی الله عليه وسلم وصحبه (رقم-۳۸۵۸)

ترجمه: [۱] اوحضرت جابر رضي الله عنه دنبي كريم ﷺ نه روايت كوي حضور ﷺ وفرمايل [۲] هغه مسلمان ته به ددوزخ اور نه رسيږي چاچي زه ليدلى يم [۳] يا هغه سړي يي ليدلى وي چې هغه زه ليدلى يم (ترمذي)

تسهيلات:

قوله: لَا تَمَسُّ النَّارُ مُسْلِمًا رَآنِي.

دصحابؤ جنتي كيدل: مطلب دادې چاچه دَ ايمان په حالت كښې زه اوليدم او هم په ايمان باندې دَ هغه خاتمه اوشوه نوهغه به دَ دوزخ دَ عذاب څخه محفوظ وى. لهذا كوم خلق چه دَ رسول الله ﷺ نه پس مرتد شو هغوى به دَدې زيرى مستحق نه وى.

قوله: أَوْرَأَى مَنْ رَآنِي،

دتابعينو جنتي كيدل: دغه شان كوموخلقو ته چه په اخلاص سره دَ صحابه كرامو رضي الله عنهم صحبت ملاؤ شو هغوى به هم دَ دوزخ څخه محفوظ وى يعني داسې خلقوته به الله پاك دَ نيكو اعمالو كولو يا بدو اعمالو نه بچ كيدلو يا دَ هغې نه دَ رښتوني توبې كولو توفيق وركړى دَ كوم په وجه چه به هغوى دَ دوزخ نه محفوظ شي.

دعامومسلمانانودپاره زيرې: دَ دې حديث په رڼا كښې خو صحابه كرام او تابعين جنتيان دي ليكن دَ الله تعالى نه اميد دې چه هغه به هرمؤمن دَ رسول الله ﷺ دَ خاطره جنت ته بوځي. چونكه حضورپاك دَ صحابه كرامو رضي الله عنهم او تابعينو باره كښې خوشخبرى وركړه نوهغه مسلمانان چه دَ رسول الله ﷺ دربار كښې حاضر نه شو او نه ئې دَ صحابيت او تابعيت شرف حاصل كړې شو نو حضورپاك دَهغوى دَ تسلئى دَ پاره په يو حديث كښې اوفرمائيل ((طوبى لمن آمن بي ولم يراني رواه احمد)). دغه شان په بل حديث شريف كښې ئې اوفرمائيل ((طوبى لمن رأني وآمن بي مرة وطوبى لمن لم يراني وآمن بي سبع مرات رواه أحمد)) يعني څوك چه ما اوويني او په ما ايمان راوړى هغه ته يوځل مبارك او څوك چه بغير دَ ليدو په ما ايمان راوړى هغه ته اووه ځل مبارك سبحان الله (مرقاة: ۱۱/۲۷۸)

[۶۰۱۴] صحابؤ ته د تكليف رسولو څخه په تاكيد سره ممانعت

۶۰۰۳-(۱)[۴] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «اللَّهَ اللَّهَ فِي أَصْحَابِي، [۳] اللَّهَ اللَّهَ فِي أَصْحَابِي، لَا تَتَّخِذُوهُمْ غَرَضًا مِنْ بَعْدِي، [۴] فَمَنْ أَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّي أَحَبَّهُمْ، [۵] وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِي أَبْغَضَهُمْ، [۶] وَمَنْ آذَاهُمْ فَقَدْ آذَانِي، [۷] وَمَنْ آذَانِي فَقَدْ آذَى اللَّهَ، [۸] وَمَنْ آذَى اللَّهَ فَيُوشِكُ أَنْ يَأْخُذَهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

[۱] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فيمن سب أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-۳۸۶۲) واحمد في المسند: ۴/۸۷

ترجمه:[١] اوحضرت عبدالله ابن مغفل ﷺ وايي رسول كريم ﷺ پوره اُمت ته خطاب كولو سره وفرمايل [٢] الله نه ويرېږى بيا الله نه ويرېږى زما دصحابه ؤ ﷺ په حق كښې [٣] زما نه وروسته صحابه ﷺ دملامتيا نښه مه جوړوى [٤] يادلرى كوم سړى چې هغوى دوست ساتي نوزماپه وجه يي دوست ساتى [٥] اوڅوک چې يي دشمن ساتى نوما سره د دشمني په سبب يي دښمن ساتى [٦] اوكوم سړى چې هغوى ته تكليف ورسوى هغه ګويا ماته تكليف ورسوى [٧] اوچاچي ماته تكليف ورسوى هغه ګويا الله ته تكليف ورسوي [٨] اوكوم سړى چې الله ته تكليف ورسوى نوهغه ورځ لرې نه ده چې الله به هغه ونيسي داروايت ترمذي نقل كړى دى ويلي يې دي چې داحديث غريب دى .

حل اللغات:- ①اللّٰهَ اللّٰهَ: أَيْ: أتَّقُوا اللّٰهَ ثُمَّ اتَّقُوا اللّٰهَ: يعنى زما دَصحابه كرامو باره كښې دَ الله تعالى نه اويرېږئ. ②غَرَضًا: أَيْ: هَدَفًا: غرض نشاني ته وائي يعنى په هغوى باندې اعتراض كولوسره ئې مه په نښه كوئ. ③آذَاهُمْ: تكليف ئې اورسولو صحابه كرامو ته. ④فَيُوشِكُ: د افعال مقاربه نه دې. يعنى نزدې ده.

تسهيلات:

قوله: فَبِبُغْضِي أَبْغَضَهُمْ:

نبى عليه السلام سره د بغض ساتلو نتيجه: يعنى اول ماسره بغض ساتى دَهغې نتيجه او ردعمل اوعكس دا راوځي چه زما صحابه كرامو سره بغض ساتى نوصحابه كرامو سره بغض ساتى دَ حضوراكرم ﷺ سره دَبغض ساتلو نتيجه او اثردې.

[٦٠١٥] دامت كښې دصحابو مثال

٦٠١٥-(١)[٨][١] وَعَنْ أَنَسٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[٢] «مَثَلُ أَصْحَابِي فِي أُمَّتِي كَالْمِلْحِ فِي الطَّعَامِ،[٣] لَا يَصْلُحُ الطَّعَامُ إِلَّا بِالْمِلْحِ»[٤] (قَالَ الْحَسَنُ: فَقَدْ ذَهَبَ مِلْحُنَا فَكَيْفَ نَصْلُحُ؟ رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ).

ترجمه:[١] اوحضرت انس ﷺ وايي رسول كريم ﷺ وفرمايل [٢] زما دامت په منځ كښې زما دصحابه ؤ ﷺ مثال په طعام كښې دمالګي په شان دي [٣] طعام هغه وقته پورې ښه يعنى خوش ذائقه نه وي څوپورې چې هغه كښې مالګه (نمک) نه وي [٤] حضرت حسن بصري داحديث اوريدو سره وفرمايل چې زمونږ نمک (مالګه) لاړل نوبيامونږبه ښه څرنګه شو دا روايت بغوي خپل اسناد سره شرح السنه كښې نقل كړي دي دغه شان ابويعلى هم دا روايت خپل مسند كښې دحضرت انس ﷺ نه بطريق مرفوع نقل كړى دى

[١]) اخرجه البغوى فى شرح السنة رقم الحديث ٣٨٦٣

تسهیلات:

قوله: لَايَصْلُحُ الطَّعَامُ إِلَّا بِالْمِلْحِ

د صحابؤ تشبیه د مالګې سره: دا جمله دَ تشبیه په توګه ده او دَدې تشبیه نه دا لازمیږي چه من کل الوجوه تشبیه وي لکه څنګه چه وئیلی شي "کثرة الملح تنسد الطعام" دا داسې دی لکه دَ نحو باره کښې مقوله ده "النحو في الکلام کالملح في الطعام"

په دوو طریقو سره د تشبیه وضاحت: ① اوس دَ بیانِ تشبیه څخه مراد دادې لکه څنګه چه دَمالګې څخه بغیر خوراك کامل نه وي دغه شان دَ صحابه کرامو څخه بغیر دا امت کامل نه شي کیدې

② یا داسې هم وئیلې شي چه لږه شان مالګه ټول خوراك صحیح کوي هم دغه شان دَ رسول کریم ﷺ صحابه باقي امت محمدیه په مقابله کښې اګرکه لږ وي مګر دَ ټولو اصلاح هم دَ دغه صحابه کرامو رضي الله عنهم په ذریعه سره ده. په دې وجه الله تعالی خپل دې فرمان ﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا كَمَا آمَنَ النَّاسُ﴾ کښې دَ صحابه کرامو ایمان معیار اوګرځولو.

قوله: قَالَ الْحَسَنُ فَقَدْ ذَهَبَ مِلْحُنَا

دحسن بصری تبصره: حضرت حسن بصری رحمه الله دَدې حدیث اوریدوسره چه کوم تاثر بیان کړې دې چه دَ امت دَ بنائسته کیدودَپاره صحابه کرام وو او اوس هغوی دَ دنیا نه رخصت شو اوس دا څنګه وئیلې کیدې شي چه مونږ به بنه او سم شو

د صحابؤ دعدم وجود باوجود دامت بنه کیدو طریقه: ملاعلی قاری رحمه الله په دې خبره باندې ډیره عارفانه خبره کړې ده چه سره دَدې چه دې وخت صحابه کرام موجود نه دی لیکن دَهغوی دَ اقوالو، ارشاداتو او دَ هغوی نقل کړې شوی روایاتو اودَهغوی اوچت کردار اودَ هغوی اوصافو په تابعدارئی سره مونږ بنه کیدې شو څکه چه اصل اعتبار خو هم دَ دغه څیزونو کیږي نه چه دَ اجسامو او صورتونو (مرقاة: ۲۷۹/۱۱)

[٦٠١٦] د بعثت په ورځ د صحابؤ قیادت

> ٦٠١٦-(١) [٩] ١ وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - ٢ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٣ «مَا مِنْ أَحَدٍ مِنْ أَصْحَابِي يَمُوتُ بِأَرْضٍ إِلَّا بُعِثَ قَائِدًا وَنُورًا لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». ٤ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. وَذُكِرَ حَدِيثُ ابْنِ مَسْعُودٍ (لَا يُبَلِّغُنِي أَحَدٌ) فِي بَابِ (حِفْظِ اللِّسَانِ).

ترجمه: ١ اوحضرت عبدالله ابن بریده خپل پلار حضرت ابوموسی اشعري نه نقل کوي ٢ هغوی بیان وکی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٣ زما صحابه رضي الله عنهم کښې چې کوم سړی کومه

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فیمن سب أصحاب النبي صلی الله علیه وسلم (رقم-٣٨٦٥)

زمکه کښې وفات شي هلته به دخپل قبر نه دقيامت په ورځ داسې حال کښې راوچتول کيږي چې د هغه زمکې خلق به جنت طرف ته رابنکولو سره بوتلونکي وي او هغوی دپاره به دجنت لاره ښوونکي وي ④ دا روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دی ⑤ او دحضرت ابن مسعود رضي الله عنه روايت کرده حديث لايبلغني احد الخ چې هغه کښې دصحابه رضي الله عنهم ذکر دی او صاحب مصابيح هغه باب کښې نقل کړی وو وروسته باب حفظ اللسان کښې نقل شوي دي

حل اللغات:- ① قَايِدًا: رابنکلو سره بوتلونکي ② نُورًا: أي: هَادِيًا: رڼا يعنی لاره ښودونکي (د جنت)

تسهيلات:

قوله: إِلَّا بُعِثَ قَايِدًا وَنُورًا لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

دحديث مطلب: چه په کومه زمکه زما يوصحابی وفات شو يا ښخ شو نو د قيامت په ورځ به د دغه زمکې هغه مسلمانان چه د دغه صحابی اتباع، عزت او احترام ئې کولو د هغې په برکت سره به د هغه صحابی په لارخودنه کښې د قبرونو نه د محشر پورې او بيا د محشر نه جنت پورې اورسيږي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۶۰۱۷] صحابو رضي الله عنهم ته د کنځلو کولو وعيد

۶۰۱۷-() [۱۰] ① عَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «إِذَا رَأَيْتُمُ الَّذِينَ يَسُبُّونَ أَصْحَابِي ③ فَقُولُوا: لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى شَرِّكُمْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ② هرکله چې تاسو هغه خلق ووينی چې زما صحابه رضي الله عنهم ته بد وايي ③ نو تاسو اووايئ چې ستاسو په بدترين دی دالله لعنت وي (ترمذي)

تسهيلات:

قوله: لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى شَرِّكُمْ

صحابو ته په کنځلو کولو باندې لعنت ليږل: په دې حديث کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چه صحابه کرامو ته بد ويونکی بدی (لعنت) پخپله هم د هغه طرف ته راګرځی ځکه چه د فتنې او شر والاخو هم هغه وی او صحابه کرام خو د اهل خير ځخه دی او د الله تعالی د رضا او رحمت مستحق دی دابن عدی په روايت کښې د حضرت عائشې رضي الله عنها په حوالې نقل دی

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب فيمن سب أصحاب النبی صلی الله عليه وسلم (رقم-۳۸۶۶)

چه «إن شرار أمتي أجرؤهم على أصحابي» بيشكه زما د امت خراب خلق هغه دي چه زما د صحابه كرامو باره كښي گستاخ دي

صحابؤ ته د بدرد وئيلو باره كښي وعيدي روايات:

① أصحابي» بيشكه زما د امت خراب خلق هغه دي چه زما د صحابه كرامو باره كښي گستاخ دي

② يو مرفوع حديث كښي دي «يكون في آخر الزمان قوم يسمون الروافضة يرفضون الإسلام فاقتلوهم فإنهم مشركون وينتحلون حب أهل البيت وليسوا كذلك إنهم يسبون أبابكر وعمر» چه په آخرى زمانه كښي به يو قوم وى چا ته چه به روافض وئيلې كيږى ځكه چه هغوى به اسلام پريخودې وى هغوى مشركان دى هغوى به خپل ځان ته د اهل بيت محبان وائى مگر وى به دروغژن ځكه چه هغوى به حضرت ابوبكر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه ته كنځلې كوى

دَدې نه معلومه شوه چه دَ صحابه كرامو دښمنان روافض دى او دَ اهل بيتو دښمنان خوارج دى دَ دوى دَ دښمنئى په وجه به دَ صحابه كرامو او اهل بيتو درجات ترقيامته پورې كم نه شى بلكه نور به هم زياتيږى. (مرقاة: ۱۱/۲۸۰)

[٦٠١٨] دصحابه رضي الله عنهم اقتداء دهدايت ذريعه ده

٦٠١٨-(١) [١] [١] وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ «سَأَلْتُ رَبِّي عَنِ اخْتِلَافِ أَصْحَابِي مِنْ بَعْدِي، [٣] فَأَوْحَى إِلَيَّ: يَا مُحَمَّدُ! إِنَّ أَصْحَابَكَ عِنْدِي بِمَنْزِلَةِ النُّجُومِ فِي السَّمَاءِ، [٤] بَعْضُهَا أَقْوَى مِنْ بَعْضٍ، [٥] وَلِكُلٍّ نُورٌ، [٦] فَمَنْ أَخَذَ بِشَيْءٍ مِمَّا هُمْ عَلَيْهِ مِنِ اخْتِلَافِهِمْ [٧] فَهُوَ عِنْدِي عَلَى هُدًى»)

ترجمه: [١] او حضرت عمر ابن الخطاب رضي الله عنه وايي [٢] ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې وې فرمايل چې ما د خپل پروردگار نه دصحابه رضي الله عنهم په منځ كښې د اختلاف باره كښې پوښتنه وكړه چې دشريعت په فروعي مسائلو كښې زما نه وروسته واقع كيږى [٣] نو الله تعالى دوحي په ذريعه زه اگاه كړم چې اې محمد ﷺ حقيقت دادى چې ستا صحابه رضي الله عنهم زما په نزد داسې دي لكه آسمان كښې ستورې څرنگه چې هغه ستورو كښې [٤] اگر كه بعضې زيات قوي يعني زيات روښانه دي [٥] ليكن رڼا په هغوى كښې په هريو كې ده دغه شان صحابه رضي الله عنهم كښې هريو دخپلې خپلې مرتبې او خپل خپل استعداد مطابق نور هدايت لري [٦] نو كوم سړى چې علمي او فقهي مسائلو كښې دهغه اختلاف نه څه شى هم اختيار كړلي [٧] زما په نزد هغه په هدايت دي

[١] قَالَ: وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] «أَصْحَابِي كَالنُّجُومِ، [٣] فَبِأَيِّهِمُ اقْتَدَيْتُمُ اهْتَدَيْتُمْ». رَوَاهُ رَزِينٌ.

[1] رواه رزين

ترجمه: ① حضرت عمر ﷺ وايي اورسول الله ﷺ وفرمايل ② چې زما صحابه ﷺ دستورو په شان دي ③ نو تاسو دهغوی پیروي کوي هغوی کښې چې دکوم يو تاسو پيروي کوي هدايت به پيدا کوي (رزين)

حل اللغات:- ① اقْتَدَيْتُمْ: چه اقتداء ئې اوکړه تاسو (يعنی هغه پسې روان شوئ). ② اهْتَدَيْتُمْ: هدايت به درته حاصل شي (دجنت په لار به روان شئ).

تسهيلات: **قوله:** سَأَلْتُ رَبِّي عَنِ اخْتِلَافِ أَصْحَابِي مِنْ بَعْدِي،

دصحابؤ د اختلاف باره کښې د رسول الله فکر: رسول الله ﷺ ته دَ صحابه کرامو دَخپل مینځ دَ اختلاف باره کښې سخت تشويش وو نوځکه چه حضوپاك دَ خپل رب نه په دې باره کښې سوال کړې دې چه ددې به څه کيږی؟

قوله: أَصْحَابِي كَالنُّجُومِ، فَبِأَيِّهِمُ اقْتَدَيْتُمُ اهْتَدَيْتُمْ

د صحابؤ تشبيه د ستورو سره: الله تعالى ورته اوخودل چه ستاصحابه په شان دَ ستورو دی دَ بعضې ستورو رنړادَ بعضې نه تيزه وی په دې سره په ظاهره اختلاف ښکاری ليکن نور په ټولوکښې دې. لهذا دَخپل مينځ دَ جنګونوباوجود صحابه کرام دَ هدايت ستنې دی. دَدوی دا جنګونه په بدنيتئی باندې نه دی اجتهادی اختلاف دې کوم چه معاف دې. هيڅ بغض عداوت او دښمنی نه ده.

داختلاف باوجود د صحابؤ يوبل سره عقيدت: ① حضرت علی ﷺ او حضرت عائشه ﷺ په جنګ جمل باندې ټول عمر ژړل. چې دا زمونږ څخه لويه غلطی شوې ده چې زمونږ د اختلاف په ډير مسلمانان قتل شول.

② کله چې دَ روم بادشاه دَحضرت علی ﷺ خلاف دَ معاويه ﷺ امداد کول غوښتل نو حضرت معاويه ﷺ خط ليکلوسره اووئيل اې دَ روم سپيه تاکه په حضرت علی ﷺ باندې حمله اوکړه نوستاخلاف به دَ علی دَ لښکرومبې سپاهی معاويه وی. اوزه به تاراګيرکړم او په ځنګل کښې دَ خنزير دَ بچو په څرولو باندې به دې مقررکړم. ياد لره علی زما رور دې. زمونږ دا جنګ يواجتهادی جنګ دې. دَ دوو رونړو تنازعه ده خبردار مينځ ته رانه شې.

③ حضرت ابوهريره ﷺ ټوله ورځ د حضرت علی ﷺ سره يوځائی دَحضرت معاويه ﷺ خلاف جنګيږی اوماښام هم دَ حضرت معاويه ﷺ په دسترخوان باندې کينی. حضرت معاويه ﷺ تپوس اوکړوابوهريره ﷺ دا څه کوې؟ هغوی جواب ورکړه چه داجنګ دَ څه عداوت اوعناد په اعتبار باندې نه دې. زه چونکه حضرت علی ﷺ په حق ګنړم نوهغه سره يم ليکن خوراك تاسره ښه دې په دې وجه دلته راځم

نوټ: واضحه دې وی چه اصحابی کالنجوم والاحديث ته عام علماء ضعيف وئيلې دې اوبعضې قابل قبول وئيلې دې.

[۱۳] باب مناقب ابي بكر رضي الله عنه

دَ حضرت ابوبكر صديق دَ مناقب بيان

خلاصة الباب:

فيه ستة عشر أحاديث مشتملة على نحو اثنى عشرة منقبة:

① هو أمن الناس على النبي صلى الله على وسلم: ۸.
② بقاء خوخة الصديق رضي الله عنه خصوصاً في المسجد النبوي: ۱.
③ أخوة الصديق رضي الله عنه ومحبته للنبي صلى الله عليه وسلم: ۱، ۲، ۱۰.
④ الإشارات إلى خلافة الصديق رضي الله عنه: ۱، ۳، ۴، ۱۱.
⑤ كون الصديق رضي الله عنه أحب الناس إلى النبي صلى الله عليه وسلم: ۵، ۹.
⑥ كون الصديق رضي الله عنه خير الناس في الأمة: ۶، ۷، ۹.
⑦ كون الصديق رضي الله عنه سيد الناس: ۹.
⑧ كون الصديق رضي الله عنه سابقاً على الناس في الفضائل: ۱۲.
⑨ كون الصديق رضي الله عنه هو العتيق: ۱۳.
⑩ كون الصديق رضي الله عنه أول من ينشق عنه الأرض في الأمة: ۱۴.
⑪ كون الصديق رضي الله عنه أول من يدخل الجنة من الأمة: ۱۵.
⑫ فضيلة أعمال الصديق رضي الله عنه على أعمال جميع الأمة: ۱۶.

د ابوبكر رضى الله عنه مختصر تعارف:

دَحضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه نوم عبدالله دي لقب ئې صديق او عتيق دي. دواړه القاب حضورپاك ورکړی وو. دَهغوی کنيت ابوبکر دي. په اتمه پيړئ کښې دَ هغوی نسب حضورپاك سره ملاويږی. هغوی رضي الله عنه تيمي دی. دَحضورپاك نه دوه کاله کشروو هم هغه دوه کاله دَرسول الله ﷺ نه پس ژوندي وو او دَ ۶۳ کالو په عمر کښې وفات شو
رنګ ئې سپين اوبدن ئې کمزوري وو په اتګوباندي ئې غوښه کمه وه تندئی راوتلي شان وو. ډير بوج اوچتونکي او نرم زړه والاوو. دَ ټولونه زيات دَ حضورپاك په ملګرتيا کښې پاتي دي. په ژوند کښې دَحضورپاك وزير وو او دَ وفات نه پس دَحضورپاك جانشين شو دَخليفه رسول مبارك خطاب هم هغوی ته ملاؤشو. دوه کاله دري مياشتې نهه ورځې خلافت ئې اوکړو ۱۴ هجری ۲۲ جمادی الثانی کښې دَمانبام اوماسخوتن په مينځ کښې دَدې فاني دنيانه رخصت شو اودَخپل محبوب په قدمونو کښې دَ قيامته پوري په آرام شو
هغوی دَ قريشودَ اشرافو څخه وو په عرب معاشره کښې دَهرچاخوښ وو. دَ اهل عرب دَ

انساب ماهرو و دَ اوچتې درجې سوداګرو و. ډیر فصیح اوبلیغ وو. دَ جاهلیت په زمانه کښې نې چرېه شراب نه دی څکلی اونه نې کله بت پرستی کړې. دَ وړوکوالی نه نې حضورپاك سره ډیرزيات محبت وو. دَ ټولو نه اول نې په حضورپاك ایمان راوړلې دې اودَ آخری وخت پورې نې دَ مال اوجان قربانی ورکړې.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۶۰۱۹]د نبی علیه السلام په نظرکښې د ابوبکر مقام

۶۰۱۹-(۱)[۱]⃞۱ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ⃞۲(«إِنَّ مِنْ أَمَنِّ النَّاسِ عَلَيَّ فِي صُحْبَتِهِ وَمَالِهِ أَبُوبَكْرٍ - ⃞۳وَعِنْدَ الْبُخَارِيِّ أَبَا بَكْرٍ - ⃞۴وَلَوْكُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيلًا، ⃞۵وَلَكِنْ أُخُوَّةُ الْإِسْلَامِ وَمَوَدَّتُهُ، ⃞۶لَا تُبْقَيَنَّ فِي الْمَسْجِدِ خَوْخَةٌ إِلَّا خَوْخَةَ أَبِي بَكْرٍ»).

ترجمه: ⃞۱ حضرت ابوسعيد خدري رضی الله عنه دنبي كريم ﷺ نه روايت كوي حضور ﷺ وفرمايل ⃞۲ انسانانو كښې دټولوځخه زيات كوم سړی چې ما سره ملګرتيا وكړله اوزماپه خدمت كښې اوزما په خوشنودي كښې يې خپل وخت اوخپل مال هرڅه يې زيات ولګول هغه ابوبكر رضی الله عنه دي ⃞۳ اودبخاري درروايت مطابق ابابكر رضی الله عنه دي ⃞۴ كه مايوڅوك خپل خليل يعنى ريښتني ځاني دوست جوړول غوښتلې نويقيناً ابوبكر رضی الله عنه به مې داسې دوست جوړ كړی ؤو ⃞۵ خواسلامي اخوت اومحبت په خپل ځاي بلند تر دي ⃞۶ مسجد نبوي ﷺ كښې دابوبكر رضی الله عنه دكور دكړكی يادروشندان نه علاوه دي بله څه كړكی ياروشندان باقي پرې نه ښودل شي

حل اللغات:- ① أَمَنَّ النَّاسِ: دَ اسم تفضيل صيغه ده، أَيْ: أَنْعَمُهُمْ: يعنى ماسره دَټولو نه زيات احسان كونكې. يا په ما باندې دټولو نه زيات خرچ كونكې، ② خَلِيلًا: ژور دوست، أى الصَّاحِبُ الْوَادُّ الَّذِي يَفْتَقِرُ إِلَيْهِ: هغه دوست چه په وخت دحاجت هغه ته رجوع كولې شى هغې ته خليل وائى ③ وَمَوَدَّتُهُ: أَيْ: وَمَوَدَّةُ الْإِسْلَامِ: يعنى محبت په وجه داسلام. ④ خَوْخَةٌ: بَابٌ صَغِيرٌ يُنْصَبُ بَيْنَ بَيْتَيْنِ أَوْدَارَيْنِ: خوخة روشندان ته هم وائى كوم چه كوټه كښې د رڼرا دپاره پرېخودلې شى، اوهغه وړې دروازې ته هم وائى په كومې سره چه سړې بهر ته تلې راتلې شى.

⃞۱ وَفِي رِوَايَةٍ: («لَوْكُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا غَيْرَ رَبِّي ⃞۲ لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيلًا»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ⃞۱ اويوروايت كښې دا الفاظ دی چې حضور ﷺ وفرمايل كه ماد الله تعالی نه سوا بل څوك خپل خليل جوړولای ⃞۲ نويقيناً ابوبكر رضی الله عنه به مې خليل جوړ كړی وای

[۱] اخرجه البخاری فی كتاب المناقب/باب فضائل أصحاب النبی صلی الله علیه وسلم ، ومن صحب النبی صلی الله علیه وسلم، أو رآه من المسلمین، فهو من أصحابه» (رقم-۳۶۵۴) ومسلم فی كتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل ابی بكر الصدیق رضی الله عنه (رقم-۲ - (۲۳۸۲) واحمد فی المسند: ۲۷۰/۱

تسهیلات:

قوله: لَوْكُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا غَيْرَ رَبِّي،

د لفظ خلیل تحقیق: دَلفظ خلیل مبدا اشتقاق مختلف دي دا لفظ "خُلة" یعني دَ دوستئي نه هم مشتق دي دکوم معنی چه داسي ژور دَ زړه تعلق وی چه دَ انسان دَ زړه دننه پورې ورننوځي اودَ هغه دَ زړه ظاهري اوباطني احساسات اوخیالات باندي قابض شي. دَ "خُلة" دامفهوم دَ الله تعالی نه سوا دَ بل چا دَپاره مناسب نه دي.

دعدم خلیل نیولو مطلب: په دي وجه حضورپاک دَ حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه دَپاره دَدي نفي اوفرمائیله. اودائي اوفرمائیل چه اسلامي رورولي صدیق سره په درجه دکمال موجود ده که چرې لفظ خلیل دَ خلة دَخاء په فتحه سره وی اوهم دَدغه ماده نه مشتق وی نودا به دَ احتیاج او اعتماد په معنی کښي وی. مطلب به داشی که چرې ما خپل څوك داسي دوست جوړول غوښتل دکوم طرف ته چه په خپلو ضرورتونواوحاجتونوکښي رجوع کوله او په خپل اهم خبرو او ټولو معاملاتوکښي په هغه باندي باورکولو اوهغه مې اسرا جوړوله نوما به ابوبکر جوړولو لیکن په داسي امورو معاملاتو اومهماتو کښي ماته کامل باور اواعتماد صرف یودَ الله تعالی په ذات باندي دي. اوزما اسرا او مرجع صرف هم هغه الله تعالی دي په دي وجه ما په دي معنی کښي ابوبکر خلیل جوړنه کړو او اسلامي رورولي هغه سره دکمال په درجه کښي موجود ده.

قوله: لَاتُبْقَيَنَّ فِي الْمَسْجِدِ خَوْخَةٌ إِلَّاخَوْخَةَ أَبِي بَكْرٍ،

د مذکوره جملې پس منظر: مسجدنبوی سره دَ صحابه کرامو کورونه متصل لګیدلی وو په شروع کښي به صحابه کرامو رضي الله عنهم دَ جمات طرف ته روشندان پریخودي وو دي دَپاره چه دَحضورپاك دَ راتګ پته لګی اودَ هغوی دیدار اوشي اوکه چرې وړه دروازه وی نودَهغې په ذریعه سره جمات ته ټک راتګ اوشي حضورپاك په مرض وفات کښي داسي ټولي کهړکئي بندولوحکم ورکړو صرف دَ صدیق اکبر رضي الله عنه دکهړکئي کولو ساتلواجازت ئې ورکړو دکوم نشان چه ترننه پورې موجوددي اومسجدنبوی کښي باب السلام سره باب رحمت دي دَدي دَپاسه په دیوال باندي اوچت لیکلی دی "هذاخوخة ابي بكر"

په مذکوره جمله کښي دوه مقصودي خبرې: ① دَدي اعلی ارشاد نه دَ صدیق اکبر رضي الله عنه دَ شان اظهار کول هم مقصود وو

② دا اشاره هم وه چه حضرت ابوبکر رضي الله عنه به دَحضوراکرم صلی الله علیه وسلم نه پس خلیفه وی.

د کړکۍ پریښود په خصوصیت کښي تعارض: په نسائي او مسند احمد کښي د حضرت سعدبن ابی وقاص رضي الله عنه په حوالي سره یو روایت نقل دې دَ کوم مفهوم چه دادې حضورپاك دَټولو صحابه کرامو روشندانونه اوکړکئي بندې کړې کومې چه مسجد نبوی طرف ته وې

صرف دَحضرت علی رضي الله عنه کرکئی پریخوده دغه شان یو روایت دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اوحضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه هم مسنداحمداونسائی نقل کړې دې دکثرت طرق په وجه سره حدیث صحیح هم دې لهذا زیر بحث حدیث اودَنسائی اواحمد حدیث کښې تعارض راغلو آیا دا خصوصی حکم صرف دَ صدیق اکبر رضي الله عنه دَپاره وو یا دَحضرت علی رضي الله عنه دَپاره وو؟

د تعارض جواب: علامه ابن حجرعسقلانی رحمه الله په دې باندې اوږدکلام کړې دې اودواړه احادیث صحیح منلونه پس ئې دا جواب ورکړې دې چه دَدې دواړو روایتونو زمانه جدا جدا ده. دَ حضرت علی رضي الله عنه باره کښې چه کوم حدیث دې هغه بالکل دَ شروع دَوخت خبره وه کوم وخت چه حضرت حمزه رضي الله عنه ژوندې وو نوهغوی حضورپاك ته ګیله هم کړې وه چه تاسو دَ تره دَ پاره اجازت ورنه کړو اودَ تره دَخوئی دَپاره دې اجازت ورکړو حضورپاك اوفرمائیل ما هرڅه دَالله تعالی په حکم باندې کړی دی. دې نه پس حضورپاك په مرض وفات کښې دَ انتقال نه درې څلور ورځې مخکښې بیا حکم اوکړو اودَ صدیق اکبر رضي الله عنه نه علاوه ئې دَ چادَپاره دَجمات طرف ته دکړکئی کولاوولو اجازت ورنه کړو لهذا دا خصوصیت صرف دَ صدیق اکبر رضي الله عنه دَپاره دې په کوم کښې چه دَخلافت طرف ته اشاره ده مظاهرحق کښې تفصیل موجود دې.

[۶۰۲۰]په صحابو کښې د ابوبکر رضي الله عنه افضلیت

۶۰۲۰-()[۲] [۱]وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲]قَالَ: («لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيلًا [۳]وَلَكِنَّهُ أَخِي وَصَاحِبِي [۴]وَقَدِ اتَّخَذَ اللَّهُ صَاحِبَكُمْ خَلِيلًا») . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

ترجمه: [۱] اوحضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه دنبي کریم ﷺ نه روایت کوي [۲]حضور ﷺ وفرمایل که ماڅوک خلیل جوړولای نوابوبکر رضي الله عنه به مي خپل خلیل جوړکړي وې [۳]لیکن هغه زما ورور دی اوزما رفیق اوملګری دی [۴]وحقیقت دادی چې ستاسو صاحب یعنی زه الله خپل خلیل جوړ کړی یم (مسلم)

تسهيلات: قوله: وَلَكِنَّهُ أَخِي:

په روایت کښې تفصیل: دَمسنداحمدپه روایت کښې دی لكنه اخي في الدين وصاحبي في الغار. دَحضرت ابن عباس رضي الله عنهما یوروایت په مسندابویعلی کښې داسې نقل دې ابوبكر صاحبي ومونسي في الغار سدوا كل خوخة في المسجد غير خوخة ابي بكر.

---

[1] اخرجه مسلم في كتاب فضائل الصحابة رضي الله تعالى عنهم/باب من فضائل أبي بكر الصديق رضي الله عنه (رقم-۲ - (۲۳۸۲) والترمذي في كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أبي بكر الصديق رضي الله عنه واسمه عبد الله بن عثمان ولقبه عتيق (رقم-۳۶۵۵) وابن ماجه في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل أبي بكر الصديق رضي الله عنه (رقم-۹۴) واحمد في المسند: ۴/۴

[۶۰۲۱] د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په حق کښې د خلافت وصیت

۶۰۲۱ -() [۲] [۱] «وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [۲] قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي مَرَضِهِ: [۳] (ادْعِي لِي أَبَا بَكْرٍ أَبَاكِ، وَأَخَاكِ، حَتَّى أَكْتُبَ كِتَابًا: [۴] فَإِنِّي أَخَافُ أَنْ يَتَمَنَّى مُتَمَنٍّ [۵] وَيَقُولَ قَائِلٌ: أَنَا، [۶] وَلَا. وَيَأْبَى اللَّهُ وَالْمُؤْمِنُونَ إِلَّا أَبَا بَكْرٍ)». رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَفِي (كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ): (أَنَا أَوْلَى) بَدَلَ: (أَنَا وَلَا).

ترجمه: [۱] اوام المؤمنين بي بي عائشه رضی الله عنها وايي [۲] رسول کريم ﷺ خپل مرض وفات کښې يوه ورځ ماته وفرمايل [۳] خپل پلار ابوبکر رضی الله عنه اوخپل ورور عبدالرحمن رضی الله عنه ماته راوغواړه چې زه يوتحرير وليکم [۴] دراصل ماته انديښنه ده که ما دابوبکر رضی الله عنه دخلافت باره کښې ونه ليکل نوچيرته دخلافت څوک ارزومند ارزو ونه کړی [۵] وڅوک ويونکي داونه وايي چې دخلافت مستحق زه يم [۶] دابوبکر رضی الله عنه په موجودګۍ کی هيڅ سړی دخلافت مستحق کيدی نه شی او د ابوبکر رضی الله عنه نه علاوه دبل چا خلافت به نه الله وغواړي اونه څوک اهل ايمان به يي تسليم کړي . (مسلم) اوکتاب حميدي کښې دأَنَا وَلَا په ځاي أَنَا أَوْلَى دخلافت دټولوځخه لوی مستحق زه يم الفاظ دی.

حل اللغات:- ① أَنْ يَتَمَنَّى: چرته آرزو او خواهش اونه کړی (دخلافت) ② مُتَمَنٍّ: څوک خواهش مند، آرزومند ③ أَنَا،وَلَا: دا يولغت دي چه دَ اولی په معنی کښې دي، أي: أَنَامُسْتَحِقٌّ لِلْخِلَافَةِ: يعنی زه زيات مستحق يم چنانچه په کتاب حميدی کښې أنا أولی، صريح الفاظ هم راغلی دی

تسهيلات:

قوله: أَنَا وَلَا:

د ابوبکر د خلافت بلافصل دليل: يعنی خپل پلاراو رور راوغواړه دي دَپاره چه زه يوتحريراوليکم چه زما دَ وفات نه پس دي دَ ابوبکر رضی الله عنه په مقابله کښې دَخلافت پيدا کيدوسره دي دا دعوی نه کوی چه زه دَخلافت دَپاره زيات حقداريم کيدي شی چه حضورپاك دَدي ارادي اظهارخو اوفرمائيلو مګربيائی معامله په الله تعالی اومسلمانانو باندي پريخودله

دَدي حديث نه معلومه شوه چه په واقعه قرطاس کښې هم دَحضورپاك مقصد دَحضرت ابوبکر رضی الله عنه دَخلافت تحرير ليکل وو بيادَحضورپاك اراده بدله شوه داحديث نص صريح دي چه خلافت بلافصل حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته ملاوْ شوي وو

په دي باندي دَ صحابه کرامو اجماع هم شوي وه او دوو کالوپوري حضرت ابوبکر رضی الله عنه خلافت هم اوکړو

[۱] اخرجه مسلم في كتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالى عنهم/باب من فضائل أبي بكر الصديق رضی الله عنه (رقم-١١ - (٢٣٨٧) كتاب السنة/باب في استخلاف أبي بكر رضی الله عنه (رقم-٤٦٦٠) واحمد في المسند: ٤/٤

دحضرت علی رضی الله عنه خلافت صدیقی تسلیمول: حضرت علی رضی الله عنه دهغوی په لاس باندې بیعت هم اوکړو هغوی پسې ئې مونځونه هم اوکړل. هغوی دخلیفه په نوم باندې تسلیم هم کړل اوپه دغه نوم باندې به ئې یادولو هم اودخپل خلافت دعوی ئې هم نه ده کړې، اظهارئې هم اونه کړو. دهغوی نه د څه خفیه وصیت باره کښې پوښتنه هم اوکړې شوه نوهغوی اوفرمائیل ماته هیڅ وصیت نه دې کړې شوې. دَدې نه پس هم که شیعه ګان جګړه کوی چه خلافت دحضرت علی رضی الله عنه حق وو اوهغه وصی جوړکړې شوې وو هغه خلیفه بلافصل وو نوداد دغه حضراتو بې عقلی ده. په ظاهره خو حضرت علی رضی الله عنه سره هیڅ هم نه وو اوکه په باطن کښې څه وو نوشیعه ګان دې هغه اوښائی هسې دمخالفت جوړېدو څه ضرورت دې چه د صحابه کرامو دَ اجماع نه انکارکوی اودا احادیث دروغ ګنړی.

[۶۰۲۲]دحضرت ابوبکر رضی الله عنه حق کښې دخلافت وصیت

۶۰۲۲-()[۳][۱] وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲]«أَتَتِ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - امْرَأَةٌ فَكَلَّمَتْهُ فِي شَيْءٍ[۳] فَأَمَرَهَا أَنْ تَرْجِعَ إِلَيْهِ[۴] قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! أَرَأَيْتَ إِنْ جِئْتُ وَلَمْ أَجِدْكَ؟[۵] كَأَنَّهَا تُرِيدُ الْمَوْتَ.[۶] قَالَ: (فَإِنْ لَمْ تَجِدِينِي فَأْتِي أَبَا بَكْرٍ)» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] اوحضرت جبیر ابن مطعم وایې [۲]یوه ورځ دنبي کریم ﷺ په خدمت کښې یوه ښځه حاضره شوه اوڅه معامله کښې یې دحضور ﷺ سره خبرې وکړې یعنی یاخو هغه دڅه مسئلې پوښتنه وکړه یادڅه حاجت طلبګاره شوه [۳]حضور ﷺ هغه ته حکم وکړ چې څه بل وخت حضور ﷺ ته راشي چې اطمینان سره دهغې خبرې جواب ورکړی یادهغې حاجت پوره کړي [۴]هغه ښځې عرض وکړ یارسول الله ﷺ زما مکان د مدینې نه ډیر لرې دې شاید دوباره راتلو موقع راته حاصله نشي ځکه که وروسته زه راشم اوتاسو ﷺ پیدانکړم نوبیابه څرنګه خبره جوړیږي [۵]راوي وایي دې ویلو نه دهغه ښځې مقصد دحضور ﷺ وفات طرف ته اشاره کول وو یعنی په ظاهره دامعلومیږي چې خدمت اقدس کښې دهغه ښځې دراتلو داواقعه دهغه وخت ده چې حضور ﷺ مرض وفات کښې مبتلاؤو اوهغه ته خدشه وه که زه خو ورځې وروسته راشم نوشاید حضور ﷺ دې دنیاکې موجود نه وي [۶]حضور ﷺ هغې ته وفرمایل که ته ماپیدانکړې نوبیاابوبکر رضی الله عنه ته ورشه

تسهیلات: قوله: فَأْتِي أَبَا بَكْرٍ:

د نبی علیه السلام څخه روسته د فیصلې حقدار: یعنی زمانه پس به ابوبکر رضی الله عنه زماخلیفه وی. مسؤل به هم هغه وی تاسو هغه له ځئ تاسوته به ستاسو حق ملاویږی. دا روایت لکه

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: «لو کنت متخذا خلیلا» (رقم-۳۶۵۹) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل أبی بکر الصدیق رضی الله عنه (رقم-۱۰ - (۲۳۸۶) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۶۷۶)

چه صریحی نص دي چه دَحضورپاك نه پس دَهغوی جانشین حضرت ابوبکر رضی الله عنه وی. امام نووي رحمه الله فرمائی په دې حدیث کښې دَخلافت هیڅ تصریح نشته دې اودا اخبار بالغیب او دَراتلونکی وخت پیشنګوئی ده

دخلافت بلا فصل صریحی روایت: ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی داحدیث دَخلافت طرف ته اشاره ده خو په یوروایت کښې تصریح ده هغه داسې ده چه یوخل یوه ښځه راغله اودَحضورپاك نه ئی څه غوښتل. حضورپاك اوفرمائیل روستوراشه هغې وئیل یارسول الله صلی الله علیه وسلم که چرې تاسو هغه وخت نه وئی هغې اشاره کوله که چرته ستاسو انتقال اوشی نوبیابه څه کیږی؟ حضورپاك اوفرمائیل که چرته تا زه ژوندې اونه لیدلم نوابوبکر له راشه هغه به زمانه پس زما خلیفه وی.

دخلفاء راشدینو خلافت صریحی روایت: ملاعلی قاری رحمه الله دلته یو بل حدیث هم لیکلې دې دکوم خلاصه چه داسې ده یوباندچی راغلو دَحضورپاك په لاس ئی څه اوښان خرڅ کړل اوقیمت باقی پاتې شو. حضرت علی رضی الله عنه هغه باندچی ته اووئیل چه لاړشه دَ حضورپاك نه تپوس اوکړه که چرې تاسو موجود پاتې نه شوئی نوداقرض به څوك خلاصوی؟ حضورپاك دَباندچی په جواب کښې اوفرمائیل چه ابوبکر رضی الله عنه به ئی اداکوی. حضرت علی رضی الله عنه هغه باندچی دوباره اولیګلوچه ابوبکر رضی الله عنه نه وی نوقرض به څوك اداکوی؟ وئی فرمائیل حضرت عمر رضی الله عنه له راشه هغه به ئی اداکړی. حضرت علی رضی الله عنه بیا باندچی وراولیګلو چه که حضرت عمر رضی الله عنه نه وی نوڅوك به ئی اداکوی؟ حضورپاك اوفرمائیل حضرت عثمان له راشه هغه به ئی اداکړی. حضرت علی رضی الله عنه باندچی بیا وراولیګلو چه که چرې حضرت عثمان رضی الله عنه مړ شو نوبیابه ئی څوك اداکوی؟ حضورپاك اوفرمائیل چه ابوبکر عمر اوعثمان مړه شی نوبیا ته هم مړ شه ستا څه کار دې؟ دا روایت اسماعیلی رحمه الله په خپل معجم کښې نقل کړې دې. (مرقات: ۱۰/۳۷۴)

[۶۰۲۳] د نبی علیه السالم ابوبکر رضی الله عنه سره د ټولو څخه زیات محبت

۶۰۲۳-(۱)[ه] [۱]«وَعَنْ عَمْرِوبْنِ الْعَاصِ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-[۲]أَنَّ النَّبِيَّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-بَعَثَهُ عَلَى جَيْشِ ذَاتِ السَّلَاسِلِ،[۳]قَالَ: فَأَتَيْتُهُ، فَقُلْتُ، أَيُّ: النَّاسِ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟[۴]قَالَ: (عَائِشَةُ). قُلْتُ: مِنَ الرِّجَالِ؟ قَالَ: (أَبُوهَا). [۵]قُلْتُ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: (عُمَرُ)[۶]فَعَدَّ رِجَالًا،[۷]فَسَكَتُّ مَخَافَةَ أَنْ يَجْعَلَنِي فِي آخِرِهِمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] اوحضرت عمرو ابن العاص رضی الله عنه نه روایت دی [۲]رسول کریم صلی الله علیه وسلم هغه دیولښکر امیر کماندر جوړولو سره ذات السلاسل دیوخاي نوم دی ته ولیږلو [۳]هغه بیان کوي چې

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب ذهاب جریر الی الیمن(رقم-۴۳۵۹) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل ابی بکر الصدیق رضی الله عنه (رقم-۸ - (۲۳۸۴) وابن ماجه فی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل ابی بکر الصدیق رضی الله عنه (رقم-۱۰۱)

دلښکر د روانګی نه مخکي یاواپس راتلوځخه وروسته زه د حضور ﷺ خدمت کښې حاضر شوم نو ما پوښتنه وکړه چې ستاسو ﷺ د ټولوځخه زیات د چاسره محبت دی [۴] حضور ﷺ وفرمایل د عائشې رضي الله عنها سره چې ښځو کښې هغه محمد ﷺ ته د ټولوځخه زیاته عزیزه اومحبوبه وه ماعرض وکی زما سوال د خلقو باره کښې وو چې خلقو کې د ټولوځخه زیات عزیز اومحبوب ستاسو ﷺ په نزد څوک دی حضور ﷺ وفرمایل د عائشې پلار رضي الله عنه یعنی ابوبکر رضي الله عنه [۵] ما پوښتنه وکړه هغوی نه وروسته بیاڅوک تاسو ﷺ ته عزیز اومحبوب دی حضور ﷺ وفرمایل عمر رضي الله عنه [٦] دي نه وروسته زما د پوښتنې مطابق حضور ﷺ د متعدد و خلقو ذکر وکی [۷] او بیا د دې خوف نه خاموش شوم چې چیرته زما نوم د ټولوځخه آخر کښې را نشي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① جَيْش: لښکر، جنګی دسته، ② ذَاتِ السَّلَاسِل: رَمْلٌ يَنْعَقِدُ بَعْضُهُ بِبَعْضٍ: سلاسل داسې زمکې ته وائي چه ځائې په ځائې پکښې د شګو ډیری وی یعنی شګلنه زمکه، او هم په دې وجه دغه زمکې ته ذات السلاسل اووئیل شو. ③ فَعَدَّ: نو اوشمیرل (یعنی نبی علیه السلام د بعضې نورو کسانو نومونه واخستل)

تسهیلات:

قوله: قَالَ: أَبُوهَا،

دابوبکر مقام او عظمت: حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه حضورپاك په غزوه ذات السلاسل کښې د لښکر امیر جوړکړې وو. په واپسئی باندې هغه د صحابه کرامو په طبقه کښې خپل مقام معلومول غوښتل نوحضورپاك نه ئې داسې سوال اوکړو ځنګه چه په دې حدیث کښې دې کله چه هغه ته داسې جواب ملاؤ شو نوهغه خاموش شو.

[٦٠٢٤] دابوبکر صدیق رضي الله عنه دافضلیت شهادت د حضرت علي رضي الله عنه په ژبه

٦٠٢٣-(¹) [٦] [١] وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْحَنَفِيَّةِ، قَالَ: قُلْتُ لِأَبِي، [٢] أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ بَعْدَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -؟ [٣] قَالَ: أَبُو بَكْرٍ قُلْتُ: ثُمَّ مَنْ؟ [٤] قَالَ: عُمَرُ. وَخَشِيتُ أَنْ يَقُولَ: عُثْمَانُ قُلْتُ: ثُمَّ أَنْتَ؟ [٥] قَالَ: مَا أَنَا إِلَّا رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت محمد ابن حنفیه رضي الله عنه چې د بي بي فاطمي زهرا رضي الله عنها نه علاوه د دویمې بي بي نه د حضرت علي رضي الله عنه فرزند دی وایي ما د خپل والد ماجد حضرت علي رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه [٢] چې نبی کریم ﷺ نه وروسته کوم سړی د ټولوځخه بهتر اوافضل دی [٣] نوهغوی وفرمایل حضرت ابوبکر رضي الله عنه بیا ترې ما پوښتنه وکړه چې حضرت ابوبکر رضي الله عنه نه وروسته کوم سړی د ټولوځخه بهتر اوافضل دی [٤] وي فرمایل حضرت عمر رضي الله عنه محمد ﷺ

¹ اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب قول النبي صلى الله عليه وسلم: «لو كنت متخذا خليلا» (رقم-٣٦٧١) وابوداود في كتاب السنة/باب في التفضيل (رقم-٤٦٢٩)

ابن حنفيه رضي الله عنه وايي چې ما سره خدشه شوه كه ماپوښتنه وكړه چې د حضرت عمر رضي الله عنه نه وروسته كوم سړى بهتر اوافضل دى نوچيرته هغوى دا ونه وايي چې حضرت عثمان رضي الله عنه نوما د سوال عنوان بدلولو سره داسې اوويل چې بيا د حضرت عمر رضي الله عنه نه وروسته د ټولو څخه بهتر اوافضل تاسويي ⑤ هغوى دي خبري اوريدو سره وفرمايل زه خو بس د مسلمانونو فرد يم (بخاري)

تسهيلات:

قوله: قَالَ: أَبُوبَكْرٍ

د ابوبكر رضى الله عنه افضليت د على رضى الله په خوله: دَ صديق اكبر رضي الله عنه دَ فضيلت اعتراف پخپله حضرت على رضي الله عنه كوى. دَدې نه پس نۍ دَ يوشيعه خپې كلكولو موقع پرينخوده. حضرت على رضي الله عنه داهم اوفرمائيل چه كله رسول الله ﷺ حضرت ابوبكر رضي الله عنه زمونږ دَدين امام جوړكړو نوهغوى زمونږ دَ دنيا هم امام دي.

[٦٠٢٥] د صحابو رضي الله عنهم په مينځ كښې د حضرت ابوبكر رضي الله عنه افضليت

٦٠٢٥-() [٤] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: ② كُنَّا فِي زَمَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَا نَعْدِلُ بِأَبِي بَكْرٍ أَحَدًا، ③ ثُمَّ عُمَرَ، ثُمَّ عُثْمَانَ، ④ ثُمَّ نَتْرُكُ أَصْحَابَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَا نُفَاضِلُ بَيْنَهُمْ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. ⑤ وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ، قَالَ: كُنَّا نَقُولُ وَرَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حَيٌّ: ⑥ أَفْضَلُ أُمَّةِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بَعْدَهُ أَبُوبَكْرٍ، ثُمَّ عُمَرُ، ثُمَّ عُثْمَانُ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ.[1]

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي ② مونږ يعنى صحابه د نبي كريم ﷺ زمانه كښې صحابه رضي الله عنهم كښې هيڅوک د حضرت ابوبكر رضي الله عنه برابرنه ګڼلې اوټولو صحابه ؤ باندې به موهغوى ته فضيلت وركولو ③ د هغوى نه وروسته د حضرت عمر رضي الله عنه برابر مو هيڅوک نه ګڼلې اوهغوى نه وروسته د حضرت عثمان رضي الله عنه برابر موهيڅوک نه ګڼلې ④ وبيا د حضرت عثمان رضي الله عنه نه وروسته د نبي كريم ﷺ صحابه به مو په خپل حال پريښودل چې د هغوى منځ كښې چاته په چامو فضيلت نه وركولو (بخاري) ⑤ او د ابوداؤد په روايت كښې داسې دي چې حضرت ابن عمر رضي الله عنه اوويل مونږ د نبي كريم ﷺ حيات مبارك كښې وئيل ⑥ چې د نبي كريم ﷺ امت كښې د حضور ﷺ نه وروسته د ټولو څخه افضل حضرت ابوبكر رضي الله عنه دى بيا عمر رضي الله عنه او بيا حضرت عثمان رضي الله عنه

حل اللغات:- ① لَا نَعْدِلُ: أَيْ: لَا نُسَاوِي: مونږ به برابر نه ګڼرلو. ② لَا نُفَاضِلُ: أَيْ: لَا نُوقِعُ الْمُفَاضَلَةَ: مونږ به فضيلت نه وركولو يعنى يوصحابى به موبه بل باندې افضل نه ګڼرلو.

[1] اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب مناقب عثمان بن عفان أبي عمرو القرشي رضي الله عنه (رقم-٣٦٩٧) وابوداود في كتاب السنة/باب في التفضيل (رقم-٤٦٢٨) والترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٧٠٧)

تسهيلات:

قوله: لَانُفَاضِلُ بَيْنَهُمْ

دعدم تفاضل مطلب: دَدې جملې مراد دادې چه کوم صحابه کرامو يوشان خصوصيت اومرتبه لرله په هغوی کښې مونږ چاته فضيلت نه ورکوو ګنی ترکومې پورې چه دَ بعضو صحابه کرامو افضليت په بعضې باندې معلوميږی دَ هغې نه خو انکارنه شی کولې لکه دَ اهل بدر، احد، بيعت رضوان او اهل علم صحابه رضي الله عنهم چه په يو بل باندې فضيلت لری. دَدې تفصيل وړاندې تيرشوي دې چه څوك دَچا نه افضل دې.

د حضرت علی رضی الله عنه د عدم ذکر دوه وجوهات: ① بعضې شارحين فرمائی چه دَ سړو نه مراد هغه شيوخ او دَ زيات عمر والاصحابه کرام رضي الله عنهم دی چه دَ رسول الله ﷺ په دربارکښې ئی دَ اصحاب الرائې او اصحاب مشوره حيثيت لرلو او هغه څوك چا سره چه به حضورپاك مخې ته راتلونکو معاملاتو او مسائلو کښې مشوره کوله نو چه ترکومې دَ حضرت علی رضي الله عنه تعلق دې نوهغه دَ رسول الله ﷺ په زمانه کښې ځوان او کم عمر وو او حضرت ابوبکر رضي الله عنه حضرت عمر رضي الله عنه او حضرت عثمان رضي الله عنه شيوخ وو

② دَ حضرت علی رضي الله عنه شمير په اهل بيت کښې دې په دې وجه ابن عمر رضي الله عنه دَ حضرت علی رضي الله عنه ذکر اونه کړو بلکه دا ذکرئی اوکړو چه په صحابه کرامو کښې به مونږ دا ترتيب لرلو اهل بيت هم خاص حيثيت لری اودَ يوخاص نسبت دَ وجې هغوی مخصوص فضيلت لری کوم چه دَ هغوی نه علاوه بل چاته حاصل نه دې. لهذا دلته دا اعتراض نه دی کول پکار چه دَ حضرت عثمان رضي الله عنه نه پس دَ حضرت علی رضي الله عنه ذکر ولې اونه کړې شو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٦٠٢٦] دابوبکر رضي الله عنه داحسانا نو اعتراف د نبی کریم په ژبه

٦٠٢٦ -() [٨] [١] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «مَا لِأَحَدٍ عِنْدَنَا يَدٌ إِلَّا وَقَدْ كَافَيْنَاهُ، مَا خَلَا أَبَا بَكْرٍ، [٣] فَإِنَّ لَهُ عِنْدَنَا يَدًا يُكَافِيهِ اللهُ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [٤] وَمَا نَفَعَنِي مَالُ أَحَدٍ قَطُّ: مَا نَفَعَنِي مَالُ أَبِي بَكْرٍ، [٥] وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيلًا [٦] أَلَا وَإِنَّ صَاحِبَكُمْ خَلِيلُ اللهِ»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [٢] داسې هيڅ سړی نشته چې هغه مونږ ته څه راکړي وي يازمونږ امداد يي کړی وي اومونږ دهغه برابر يازياته بدله نه وي ورکړي علاوه دابوبکر رضي الله عنه نه [٣] داحقيقت دی چې ابوبکر رضي الله عنه زمونږ سره دعطا

[1] اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أبي بكر الصديق رضى الله عنه واسمه عبد الله بن عثمان ولقبه عتيق (رقم-٣٦٥٥)

اوامداد کوم عظیم الشان سلوک کړی دی د هغه بدله یعنی کامله بدله به د قیامت په ورځ الله تعالی هغوی ته عطا کوي ④ د هیڅ سړي مال ماته دومره فائده نه ده رسولي څومره چې دابوبکر رضی الله عنه مال راته رسولي ده ⑤ که ماڅوک خپل خلیل یعنی خالص دوست جوړولای نو یقیناً ابوبکر رضی الله عنه به مې خلیل جوړ کړی وای ⑥ یادلري ستاسو صاحب د الله حقیقي دوست دي (ترمذي)

حل اللغات:- ① يَدٌ: أَيْ: عَطَاءٌ وَإِنْعَامٌ: څه نې راکړې وی یا نې زمونږ مدد کړې وی (دَ ید نه مراد هرهغه څیز دې دَ کوم نه چه فائده حاصلولې شي. په دې اعتبارسره دالفظ مال اودولت، خان او آل اولاد ټولو ته شامل دې) ② كَافَيْنَاهُ: برابر جزاء او بدله ورکولو ته وائی.

تسهیلات:

قوله: مَا لِأَحَدٍ عِنْدَنَا يَدٌ إِلَّا وَقَدْ كَافَيْنَاهُ، مَا خَلَا أَبَا بَكْرٍ

د ابوبکر د فضیلت اعتراف د رسالت په ژبه: "أي عطاء وإنعام" په دې کښې هیڅ شك نشته چه دَ الله تعالی اودَ هغه دَ رسول خوشحالی حاصلولو دَپاره حضرت ابوبکر رضی الله عنه خپل ټول خان مال او هرڅه دَ الله په لارکښې خرچ کړې وو اودَ دې ارشاد مبارك په ذریعه دَ حضرت ابوبکر رضی الله عنه هغه عظیم سلوك طرف ته شاره اوکړې شوه. کوم چه هغوی حضرت بلال رضی الله عنه دَ کافرانونه اخستو سره دَ الله تعالی دَ رسول دَ خوشحالئی په لار کښې دَ آزادولو په صورت کښې کړې وو.

قوله: وَمَا نَفَعَنِي مَالُ أَحَدٍ قَطُّ.

د ابوبکر رضی الله عنه د مالی قربانۍ عظیم مثال: دَدې دَ ټولو نه لوئی دلیل هغه واقعه ده چه کله حضورپاك په غزوه تبوك کښې صحابه کرامو ته دَ مالی امداد دَ پاره وئیلي وو نوحضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه دَ کور ټول مال حال او سامان راغونډکړو او دَ حضورپاك په خدمت کښې نی پیش کړې وو اودَ کور والودَپاره نی صرف دَ الله اودَ هغه دَ رسول نوم پریخودې وو او په بدن باندې نی هم دَ بوجئی داسې لباس راتاؤ کړې وو چه ازغی نی پرې لګولی وو او دَ هغې نه نی خرقه شان جوړه کړې وه ترڅو چه الله پاك ټولو فرښتوته دَ بوجئی لباس اغوستلو حکم کړې وو اوحضرت جبرائیل علیه السلام دَ بوجئی لباس اغوستلې وو او دَ حضرت ابوبکر رضی الله عنه دَ پاره نی دَ الله تعالی سلام او رضا راوړلې وه هم په دې مناسبت سره دَ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه یو لقب "ذوالخلال" هم دې.

[٦٠٢٧] ابوبکر رضی الله عنه ته د صحابو رضی الله عنهم د سیادت حصول

٦٠٢٧-( ) [٩] [١] وَعَنْ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: أَبُوبَكْرٍ سَيِّدُنَا [٢] وَخَيْرُنَا وَأَحَبُّنَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] اوحضرت عمر فاروق رضی الله عنه نه روایت دی هغوی وفرمایل حضرت ابوبکر رضی الله عنه دحسب اونسب داعتبار نه زمونږ سردار دی [٢] دعلم وعمل اوکار خیر داعتبار نه زمونږ تولوښه افضل دی اورسول کریم ﷺ ته دتولوښه زیات خوږ دی (ترمذي)

حل اللغات: - ① سَيِّدُنَا: أَيْ: نَسَبًا وَحَسَبًا: سردار دي زمونږ دنسب اوحسب په اعتبارسره، ② خَيْرُنَا: أَيْ: أَفْضَلُنَا مَعْرِفَةً وَكَسْبًا: زمونږ دتولو نه افضل دي دعلم او عمل په اعتبار سره هم او د کار خیر په اعتبارسره هم. ③ أَحَبُّنَا: أَيْ: حُضُورًا وَغَيْبًا: په مونږ تولوکښې زیات ګران او محبوب دي که هغه په مونږ کښې موجود وی اوکه نه وی.

تسهيلات:

نوټ: د ګرانوټکوتشریح په حل اللغات کښې شوې ده اوباقی د حدیث مفهوم د حدیث د تشریحی ترجمې ښه واضح دی.

[٦٠٢٨] درسول الله ﷺ دغار ملګری

٦٠٢٨-( ) [١٠] [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - «عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ لِأَبِي بَكْرٍ: [٢] (أَنْتَ صَاحِبِي فِي الْغَارِ، وَصَاحِبِي عَلَى الْحَوْضِ)». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] اوحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دی رسول کریم ﷺ یوه ورځ حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته داسې وفرمایل [٢] ته زما یارِ غار یعنی دغار رفیق اوملګری یې اوحوض کوثر باندې به زما مصاحب یې (ترمذي)

تسهيلات:

قوله: أَنْتَ صَاحِبِي فِي الْغَارِ..الخ:

ابوبکر رضی الله عنه ته د رسالت د دوو مواقعو د ملګرتیا شرف حاصلیدل: حدیث الباب کښې دی چه حضرت ابوبکر رضی الله عنه دَ رسول کریم ﷺ دَ غارثور ملګرې وو او په آخرت کښې دَ حوض کوثرهم ملګرې دې. لقوله تعالی ﴿ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا﴾

دصدیق دصحابیت څخه د انکار حکم: دَ مفسرینو په دې خبره باندې اجماع ده چه "لصاحبه" نه مراد حضرت ابوبکر رضی الله عنه دې. هم په دې وجه علماؤ ونیلی دی "من أنکر صحبة أبي بکر کفر لأنه

[١] اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أبي بكر الصديق رضى الله عنه واسمه عبد الله بن عثمان ولقبه عتيق (رقم-٣٦٥٦)

[٢] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٦٧٠)

أنكر النص الجلي" (مرقاة: ١١/٧٨٦). باقي دَ حضورپاك دَ دې ارشاد مطلب دا وو چه اې ابوبكر ته زما داسې دوست اوملګرې ئې چه الله تعالی ستا دَ دوستئی ګواهي ورکړې ده. غالبًا هم په دې وجه دَ يار غار لفظ دَ رښتوني او پوخ دوست په معنی کښې محاورة استعماليږي.

[٦٠٢٩] دَ ابوبكر رضی اللہ عنہ دَ افضيلت دليل

٦٠٢٩-(١) [٢] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] «لَا يَنْبَغِي لِقَوْمٍ فِيهِمْ أَبُوبَكْرٍ أَنْ يَؤُمَّهُمْ غَيْرُهُ». [٣] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] اوبي بي عائشه رضی اللہ عنہا وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [٢] كوم قوم اوجماعت كښې چې ابوبكر رضی اللہ عنہ موجود وي هغوی دپاره موزون نه دی چې دهغوی امامت دابوبكر رضی اللہ عنہ نه علاوه بل سړی وكړي [٣] دا روايت ترمذي نقل كړی دی او وېلي يې دي چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات:- ① أَنْ يَؤُمَّهُمْ: چه امامت اوكړي صحابو ته (بغير د ابوبكر رضی اللہ عنہ نه)

تسهيلات:

قوله: لَا يَنْبَغِي لِقَوْمٍ فِيهِمْ أَبُوبَكْرٍ أَنْ يَؤُمَّهُمْ غَيْرُهُ

د امام کبری دپاره د ابوبکرد استحقاق دليل: په حديث الباب كښې دَدې خبرې دَ پاره واضح دليل دې چه حضرت ابوبكر رضی اللہ عنہ په ټولو صحابه كرامو رضی اللہ عنہم كښې دَ ټولو ښه افضل دې كله چه داخبره ثابته شوه نو دا خبره هم ثابته شوه چه دَ حضورپاك نه پس دَ خلافت اصل مستحق هم ابوبكر رضی اللہ عنہ وو اودا خبره مناسب نه ده چه دَ فاضل په موجودګئ كښې دې مفضول خليفه جوړ كړې شي. (مرقاة)

[٦٠٣٠] دعمر ښه د ابوبكر رضی اللہ عنہ وړاندې كيدل

٦٠٣٠-(٢) [٣] [١] وَعَنْ عُمَرَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنْ نَتَصَدَّقَ، [٢] وَوَافَقَ ذَلِكَ عِنْدِي مَالًا، فَقُلْتُ: الْيَوْمَ أَسْبِقُ أَبَابَكْرٍ إِنْ سَبَقْتُهُ يَوْمًا. [٣] قَالَ: فَجِئْتُ بِنِصْفِ مَالِي. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٤] (مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ؟) فَقُلْتُ: مِثْلَهُ.

ترجمه: [١] اوحضرت عمر فاروق رضی اللہ عنہ بيان كوي په يوه موقع رسول كريم ﷺ دصدقې يعنی دالله په لار كښې دخپل خپل مال څه حصه پيش كولو مونږته حكم وكړ [٢] او دحضور ﷺ داحكم دمال داعتبار نه زما موافق پريوتی (يعنی حسن اتفاق سره هغه وخت ما سره ډير مال وسامان وو) نوماخپل زړه كښې اوويل كه زه په څه ورځ دابوبكر رضی اللہ عنہ نه مخكې كيدی شم نوهغه ورځ نن ده چې دخپل مال دزياتي اوفراخي نه فائده اوچتولو سره زيات نه زيات

---

[1] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٦٧٣)

[2] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الزكاة/باب فى الرخصة فى ذلك (رقم-١٦٧٨) والترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٦٧٥)

مال د ﷺ لار کښې پيش کړم اودي معامله کښې به هغوی وروسته پريږدم ۳حضرت عمر رضي الله عنه وايي ماخپل نيم مال راوړلو سره دحضور ﷺ خدمت کښې پيش کړلو ۴رسول کريم ﷺ دومره زيات مال اواسباب ليدو سره زما نه پوښتنه وکړه په کورکي دي څه پريښي دي؟ ماوويل ددي په اندازه مي کوروالو دپاره پريښي دي يعنی نيم مال مي ورته پريښي دی

۱وَأَتَى أَبُو بَكْرٍ بِكُلِّ مَا عِنْدَهُ. فَقَالَ: (يَا أَبَا بَكْرٍ؟ مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ؟) . ۲فَقَالَ: أَبْقَيْتُ لَهُمُ اللَّهَ وَرَسُولَهُ. ۳قُلْتُ: لَا أَسْبِقُهُ إِلَى شَيْءٍ أَبَدًا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:۱ دي نه وروسته حضرت ابوبکر رضي الله عنه راغی اوهغوی سره چې څه وو هغه ټول مال واسباب راوړلو سره دحضور ﷺ خدمت کښې پيش کړل حضور ﷺ تري پوښتنه وکړه کوروالو دپاره دي څه پريښي دي ۲حضرت ابوبکر رضي الله عنه عرض وکی هغوی دپاره مي الله اودهغه رسول پريښي دي ۳حضرت عمر رضي الله عنه وايي ماپه خپل زړه کښې اوويل په ابوبکر رضي الله عنه زه هيڅ کله فضيلت نه شم وړلې . (ترمذي ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: فَقَالَ: أَبْقَيْتُ لَهُمُ اللَّهَ وَرَسُولَهُ.

په شيخينو کښې د ابوبکر دافضليت وجه: په حديث الباب کښې دی چه حضرت عمر رضي الله عنه دَ خپل ټول مال نيمه حصه راوړله کيدې شی چه هغه ماليت دَ مقدار په لحاظ سره دَ حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه دَ مال اسباب څخه زيات وو ليکن په دې اعتبار سره چه حضرت عمر رضي الله عنه خپل نيم مال خودَ کور والو دَپاره پريخودې وو او حضرت ابوبکر رضي الله عنه دَ کور والو دَ پاره هيڅ هم پرينخودل. نودَ الله تعالى نبی دَ سوال انداز هم عجيبه اختيارکړو چه دا تپوس نی اونه کړو چه څومره دې راوړې دې بلکه دا تپوس نی اوکړو چه په کور کښې دې څه پريخودل؟ نو حضرت ابوبکر رضي الله عنه اووئيل چه هرڅه مې راوړی دی او حضرت عمر رضي الله عنه نيم سامان راوړې وو نو دَدې خبرې په رڼا کښې دَ افضليت مقام هم حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته حاصل شو.

دابوبکررضی الله عنه د جواب دوه مطلبونه:① لکه چه دَدې جواب په ذريعه حضرت ابوبکر رضي الله عنه دَ خپل دَ دې يقين اظهار کړې دې چه دَ الله اودَ هغه دَ رسول خوشحالی او رضا زما اوزما دَ اهل و عيال دَپاره دَ ټولو نه لويه سرمايه ده اودَ دې په مقابله کښې دَ دنيا مال دولت هيڅ حيثيت نه لری په دې وجه ما ټول هرڅه راوړی دی

② دَدې مطلب دادې چه څه ما سره وو هغه ټول مې راوړی دی په کور کښې مې دَ الله تعالى فضل اواحسان اودَ هغه رزاقيت اودَ هغه دَ رسول امداد پريخودو نوچه حضرت عمر رضي الله عنه دَ حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه دا قربانی اوليدله نو وئی فرمائيل چه ما کله هم دَده نه وړانديوالي حاصل نه کړې شو او نه ئی کولې شم.

[٦٠٣١] دعتيق الله لقب سبب

٦٠٣١-(١) [٣] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - [٢] «أَنَّ أَبَا بَكْرٍ دَخَلَ عَلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٣] فَقَالَ: (أَنْتَ عَتِيقُ اللهِ مِنَ النَّارِ). [٤] فَيَوْمَئِذٍ سُمِّيَ عَتِيقًا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] اوبي بي عائشي رضي الله عنها نه روايت دى [٢] يوه ورځ حضرت ابوبكر رضي الله عنه درسول كريم ﷺ په خدمت كښې حاضر شو [٣] نوحضور ﷺ هغوى ته وفرمايل ته ددوزخ دعذاب نه دالله تعالى ازاد كړه يې [٤] نودهغه ورځې نه دهغوى يونوم عتيق وګرځول شو. (ترمذي)

تسهيلات: قوله: أَنْتَ عَتِيقُ اللهِ:

دعتيق په وجه تسميه كښې دوه اقوال: ① عتيق نه مراد آزاد دې. د حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه لقب عتيق هم مشهور دې. دَدې نوم دَ تسميې وجه بعضې حضراتو دا بيان كړې ده چه عتيق دَ حسن اوجمال، دَ شرافت او نجابت اودَ صاحب خير په معنى كښې راځي اودا ټول خوبيانې دَ حضرت ابوبكر رضي الله عنه په ذات كښې موجود وې په دې وجه به هغوى ته عتيق وئيلې كيدو.

② زياته راجحه وجه هم هغه ده كومه چه په حديث الباب كښې بيان كړې شوې ده چې ته د جهنم د اور څخه آزاد يې.

[٦٠٣٢] دنبي عليه السلام څخه روسته دابوبكر حشر

٦٠٣٢-(٢) [٣] [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] («أَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الْأَرْضُ، ثُمَّ أَبُو بَكْرٍ، ثُمَّ عُمَرُ، [٣] ثُمَّ آتِي أَهْلَ الْبَقِيعِ فَيُحْشَرُونَ مَعِي، [٤] ثُمَّ أَنْتَظِرُ أَهْلَ مَكَّةَ حَتَّى أُحْشَرَ بَيْنَ الْحَرَمَيْنِ») رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] اوحضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [٢] دې خلقو كښې به دټولوڅخه اولنى سړى زه يم چې د زمكې نه به راپورته كيږم يعنى دقيامت په ورځ چې ټول مخلوق دخپلو قبرونو نه راپورته كيدو سره ميدان حشرته راشي نودټولوڅخه مخكې به زما قبر اوچوي اودخپل قبر نه به راپورته كيدونكې دټولو نه اولنى سړى زه يم زما نه وروسته به ابوبكر رضي الله عنه اوهغوى نه وروسته به حضرت عمر رضي الله عنه دخپلو خپلو قبرونو نه راپورته كيږى [٣] بيابه زه دبقيع قبرستان دفن شوو ته راشم اوهغوى به دخپلو قبرونو نه راپورته كولو سره ما سره به جمع شي [٤] اوبيابه زه داهل مكه انتظار كوم ددې پورې چې زه به دحرمينو يعنى داهل مكه اواهل مدينه په منځ كښې ميدان حشرته ورسول شم (ترمذي)

---

[١] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٦٧٩) وابن ماجه في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل عبد الله بن مسعود رضى الله عنه (رقم-١٣٧)

[٢] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٦٩٢)

تسهيلات:

قوله: أَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الْأَرْضُ:

په دوباره راژوندي كيدو كښې دصحابه كرامو ترتيب: په حديث الباب كښې دي چه دَ ټولو نه مخكښې به رسول الله ﷺ دَ قبر نه پاڅيږي دَ حضورپاك نه پس دَ ټولو نه مخكښې پاڅيدونكي حضرت ابوبكر صديق وي او بيا به حضرت عمر رضي الله عنه او بيا به حضورپاك جنت البقيع ته اورسي هلته به اهل بقيع دَ نبي عليه السلام په وړاندې دَ خپلو خپلو قبرونونه بهر راتلو سره جمع كيږي. دغه شان به باقي اهل مكه دَ رسول الله ﷺ انتظار كوي.

يو حديث كښې دي چه دَ حضورپاك نه وړاندې به حضرت موسى عليه السلام دَ قبر نه پاڅيږي. دَدې متعلق بحث وړاندې دَ سوال اوجواب لاندې تيرشوې دې.

[۶۰۳۳] جنتته اولنى داخليدونكى امتى

٦٠٣٣-() [٥] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ②«(أَتَانِي جِبْرِيلُ فَأَخَذَ بِيَدِي، ③فَأَرَانِي بَابَ الْجَنَّةِ الَّذِي يَدْخُلُ مِنْهُ أُمَّتِي ④(قَالَ أَبُو بَكْرٍ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! وَدِدْتُ أَنِّي كُنْتُ مَعَكَ حَتَّى أَنْظُرَ إِلَيْهِ ⑤فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (أَمَا إِنَّكَ يَا أَبَا بَكْرٍ أَوَّلُ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي)». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.[1]

ترجمه: ① اوحضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي يوه ورځ رسول كريم ﷺ وفرمايل ② جبرائيل عليه السلام ماته راغى اوزما لاس يې په خپل لاس كښې اونيولو ③ وبياماته يې دجنت هغه دروازه وښودله چې په هغه به زما دأمت خلق جنت كښې داخليږي ④ حضرت ابوبكر رضي الله عنه دا ارشاد اوريدو سره عرض وكړى يارسول الله ﷺ زما زړه كښې دحسرت نه ډك داخواهش ګرځي چې كاش هغه وخت زه ستاسو ﷺ سره واى نوزما به هم دجنت دروازه ليدل نصيب شوى وى. ⑤ حضور ﷺ ورته وفرمايل اې ابوبكر اګاه شه چې زماپه أمت كښې كوم خلق جنت كښې داخليږي هغوى كښې به دټولوڅخه اولنى سړي ته يې (ابوداؤد)

تسهيلات: قوله: فَأَرَانِي بَابَ الْجَنَّةِ:

دجنت په رؤيت كښې دوه احتمالات: ① يا خودا واقعه دَ معراج دَ شپې ده ② يا دَ بل څه وخت ده كله چه رسول الله ﷺ ته دَ جنت دروازه اوخودلې شوه.

قوله: أَمَا إِنَّكَ يَا أَبَا بَكْرٍ

دمذكوره جملې مفهوم: دَدې الفاظو څخه دَ حضورپاك مراد دا وو چه اې ابوبكر دَ جنت دروازه كتلو څه تمنا كوې ستا دَپاره خوهغه څيزمقدر دې كوم چه دَدې نه ډير اوچت او افضل دې. (مرقاة: ۱۱/۲۸۹).

[1] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب السنة/باب فى الخلفاء (رقم-۴۶۵۲)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٦٠٢٤] د ابوبکر رضي الله عنه دوه بې عظیم الشان عملونه

۶۰۳۴-() [۳] [۱] عَنْ عُمَرَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- ذُكِرَ عِنْدَهُ أَبُوبَكْرٍ فَبَكَى [۲] وَقَالَ: وَدِدْتُ أَنَّ عَمَلِي كُلَّهُ مِثْلُ عَمَلِهِ يَوْمًا وَاحِدًا مِنْ أَيَّامِهِ، وَلَيْلَةً وَاحِدَةً مِنْ لَيَالِيهِ، [۳] أَمَّا لَيْلَتُهُ «فَلَيْلَةٌ سَارَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَى الْغَارِ فَلَمَّا انْتَهَيَا إِلَيْهِ [۴] قَالَ: وَاللَّهِ لَا تَدْخُلُهُ حَتَّى أَدْخُلَ قَبْلَكَ، فَإِنْ كَانَ فِيهِ شَيْءٌ أَصَابَنِي دُونَكَ، [۵] فَدَخَلَ فَكَسَحَهُ، وَوَجَدَ فِي جَانِبِهِ ثُقْبًا، فَشَقَّ إِزَارَهُ، وَسَدَّهَا بِهِ، [۶] وَبَقِيَ مِنْهَا اثْنَانِ فَأَلْقَمَهُمَا رِجْلَيْهِ،

ترجمه: [۱] سیدنا عمر فاروق رضي الله عنه نه روایت دی یوه ورځ دهغوی مخکې د حضرت ابوبکر رضي الله عنه ذکر وشو نوهغه دهغوی پاکیزګي اوبلند قدر یادولو سره په ژړاسو [۲] بیا یې اوویل ما ته ارزو ده چې کاش زما دپوره ژوند اعمال دقدر وقیمت داعتبار نه دحضرت ابوبکر رضي الله عنه صرف دهغه ورځې دعمل برابروي چې دحضور صلی الله علیه وسلم دزمانه حیات دورځو نه یوه ورځ ده یادهغوی دهغه یوې شپې دعمل برابر وي چې دحضور صلی الله علیه وسلم دزمانه حیات دشپوځخه یوه شپه وه [۳] هر چې دهغوی شپه ده نوداهغه شپې ذکردی چې په هغه کښې هغوی رسول کریم صلی الله علیه وسلم سره سفر هجرت باندې روان شو اوغار ثور دهغوی اولنی منزل جوړ شوی وو هرکله چې حضور صلی الله علیه وسلم اوحضرت ابوبکر رضي الله عنه هغه غار ته ورسیدل اوحضور صلی الله علیه وسلم غار کښې داخلیدل وغوښتله [۴] نوحضرت ابوبکر رضي الله عنه ورته اوویل قسم په الله تاسو به غار کښې نه داخلیږی ددې پورې چې مخکې زه دننه ورسم که دې کښې څه موذي شی لکه مار لړم وغیره وي اوهغه ضرر رسوي نوماته به ضرر ورسوي نه چې تاسو صلی الله علیه وسلم ته او دې ویلو سره [۵] حضرت ابوبکر رضي الله عنه دحضور صلی الله علیه وسلم نه مخکې غارکې داخل شو اوهغه ځنډلو سره یې صافه کړه هغوی دغار یوګوټ کښې څو سورې شوراخ هم لیدلی وو هغه کښې زیات شورې یې دخپل تهبند (لنګ) شلولو سره بند کړل [۶] ودوه سوریان په دې وجه باقي پاتې شوي وه چې دهغه دبندولو دپاره دتهبند (لنګ) دټکروځخه هیڅ نه وو بچ شوی دهغه خوله کښې دخپلو دواړو پښو پوندی لګولو سره کیناستلو چې دڅه زهر یلا اوموذي ځناور دراوتلو څه لار باقي پاتې نشي

حل اللغات:- ① وَدِدْتُ: أَيْ أَحْبَبْتُ: زه خوښوم. زړه مې غواړی. ② سَارَ: أَيْ سَافَرَوَهَاجَرَ: تللې وو. هجرت ني کړې وو ③ فَكَسَحَهُ: أَيْ كَنَسَهُ: جارو وهل اوصفاکولوته کسحه ونیلې شوې ده ④ ثُقْبًا: د ثُقْبَة جمع ده، بِمَعْنَى الْخَرْقِ وَالْجُحْرِ: چاودلی خانې او سورې ته ثقب وانی ⑤ فَشَقَّ: اونې شلولو (خپل لنګ). ⑥ سَدَّهَا: بنده نې کړه دغه سوره، ⑦ فَأَلْقَمَهُمَا: أَيْ جَعَلَ رِجْلَيْهِ كَاللُّقْمَتَيْنِ: یعنی دخپې غتې ګوته نې نوری جوړه کړه په دغه دوو سوروکښې نې ورکړه دې دپاره چه سورې بندې شي.

[1] رواه رزين

[۱] ثُمَّ قَالَ لِرَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - : ادْخُلْ، [۲] فَدَخَلَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَوَضَعَ رَأْسَهُ فِي حِجْرِهِ وَنَامَ [۳] فَلُدِغَ أَبُو بَكْرٍ فِي رِجْلِهِ مِنَ الْجُحْرِ وَلَمْ يَتَحَرَّكْ مَخَافَةَ أَنْ يَنْتَبِهَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۴] فَسَقَطَتْ دُمُوعُهُ عَلَى وَجْهِ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۵] فَقَالَ: (مَا لَكَ يَا أَبَا بَكْرٍ؟)

ترجمه: [۱] بیا هغوی رسول کریم ﷺ ته عرض وکړی چې اوس دننه تشریف راوړی [۲] نو نبي کریم ﷺ غار کښې داخل شو او خپل سر مبارك يې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په غیږ کښې ایښودو سره اوده شو [۳] دې دوران کښې دیوې غاري دننه نه مار حضرت ابوبکر رضی الله عنه په پښه وچیچی لیکن هغوی دغه شان ناست وو او ودې ویرې نه خپل ځاي نه يې حرکت هم ونه کړو چې چیرته حضور ﷺ راویښ نشی [۴] آخر شدت تکلیف نه د هغوی د سترګو نه بې اختیاره اوښکې ووتلې چې د رسول کریم ﷺ په مخ مبارك وڅڅیدلی چې هغه سره د حضور ﷺ سترګې مبارکې وغړیدې [۵] حضور ﷺ چې د هغوی سترګو کښې اوښکې ولیدلو نو پوښتنه يې وکړه ابوبکر رضی الله عنه په تا څه شوې دي ؟

حل اللغات: - ⑧ فَلُدِغَ: نو اوچیچلې شو (ابوبکر صدیق رضی الله عنه). ⑨ مَا لَكَ: یعنی ولې ژاړې؟ دسترګو نه د اوښکې ولې بهیږی؟ ⑩ الْجُحْرِ: چاودلی ځاي او سوري ته وائی.

[۱] قَالَ: لُدِغْتُ، فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي، فَتَفِلَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَذَهَبَ مَا يَجِدُهُ»، [۲] ثُمَّ انْتَقَضَ عَلَيْهِ، وَكَانَ سَبَبَ مَوْتِهِ [۳] وَأَمَّا يَوْمُهُ، فَلَمَّا قُبِضَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ارْتَدَّتِ الْعَرَبُ [۴] وَقَالُوا: لَا نُؤَدِّي زَكَاةً فَقَالَ: لَوْ مَنَعُونِي عِقَالًا لَجَاهَدْتُهُمْ عَلَيْهِ [۵] فَقُلْتُ: يَا خَلِيفَةَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ! تَأَلَّفِ النَّاسَ وَارْفُقْ بِهِمْ [۶] فَقَالَ لِي: أَجَبَّارٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَخَوَّارٌ فِي الْإِسْلَامِ؟ [۷] إِنَّهُ قَدِ انْقَطَعَ الْوَحْيُ وَتَمَّ الدِّينُ أَيَنْقُصُ وَأَنَا حَيٌّ؟ رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: [۱] هغوی عرض وکړی زما مور وپلار دې په تاسو ﷺ قربان وي څه زهریلا شي یعنی مار چیچلی یم حضور ﷺ دي اوریدو سره د خپلې خولې لاړې مبارکې (لعاب دهن) د هغوی په چیچل شوی پښه ولګولې نو کوم تکلیف چې هغوی ته محسوسیدې هم سمدستې دفع شو [۲] د هغه مار هغه زهر وو چې په حضرت ابوبکر رضی الله عنه دوباره اثر انداز شو او د هغه په سبب د هغوی مرګ واقع شو [۳] او د هغوی هغه ورځ چې د هغه باره کښې زما ارزوده چې کاش زما د ټول عمر اعمال د هغوی صرف د هغه ورځې برابر وګرځې هغه ورځ وه چې رسول الله ﷺ د دې دنیا نه رحلت وفرمایې او بعضې عرب قبائل مرتد شوی وو [۴] او د هغه قبائلو خلقو ویلې وو چې مونږ زکاة نه ادا کوو په دې موقع د حضرت ابوبکر رضی الله عنه وینا وه که داخلق زکاة کښې د اوښ د پښې ترلو په قدر رسی راکولو څخه هم انکار کوي نو یقیناً زه به ورسره جهاد کوم [۵] ما د هغوی دا فیصله اوریدو سره ورته عرض کړی وو اې خلیفه رسول الله ﷺ دا ډیره نازکه موقع ده تاسو ته د خلقو سره محبت او نرم سلوك کول پکار دی [۶] حضرت ابوبکر رضی الله عنه

ډیري تکړه لهجې کښې ماته جواب راکړي اياته خپله په زمانه جاهليت کښې غيور اوبهادر اوقوي اوغصه وروی او اوس زمانه اسلام کښې بزدل اوپست همت شوی ⑦ داحقيقت مه هیروه چې دوحي سلسله منقطع شوي ده اودين كامل شوي دي په دي صورت کښې چې دين دي كمزوري اوناقص شي داسي زه خپل ژوند کښې هيڅ کله کونکي نه يم (رزين)

حل اللغات:- ① فَتَفِلَ: أَيْ: بَزَقَ: حضورپاك توكانړي مباركې په ټك وركړې شوی خانی باندي اولګولې ② أَنْ يَنْتَبِهَ: د باب افتعال نه، أَيْ أَنْ يَسْتَيْقِظَ: چه رابيدار به شي ③ انْتَقَضَ: أَيْ رَجَعَ: واپس شو، ختم شو ④ ارْتَدَّتْ: مرتد شو، ددين اسلام نه واپس شو ⑤ عِقَالًا: أَيْ حَبْلًا صَغِيرًا: وړې رسئ ته عقال وئيلې شي. په يوروايت کښې دَعناقا لفظ دي يعنی که دَچیلئ بچې هم منع کوی په زکوة کښې ئې نه ورکوی نوزه به هغه سره جهاد کوم ⑥ تَأَلَّفِ: أَيْ: اطْلُبْ أُلْفَتَهُمْ: خلقوسره محبت نه كار واخله، ⑦ ارْفُقْ: أَيْ: الْطُفْ بِهِمْ: نرمي ورسره اوكړه (سختی ورسره مه كوه)، ⑧ أَجَبَّارٌ: أَيْ: أَنْتَ شُجَاعٌ مُتَهَوِّرٌ: يعنی دَاسلام قبلولونه وړاندي ته ډير بهادر او نه ويريدونكي اودَ همت نه ډك وي ⑨ خَوَّارٌ: أَيْ: جَبَانٌ وَعَطُوفٌ: يعنی اوس دَ اسلام قبلولونه پس بزدل كمزوري او بې همت كيږې؟

تسهيلات:

قوله: فَلَيْلَةٌ سَارَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-إِلَى الْغَارِ،

د غار ثور تعارف او مصداق: دې غارنه غارثورمراددي چه دَمكې مكرمې نه په كافی فاصله باندي يومشكل ترين اوچت غر باندي دي. ما داغاراوليدلو بلكه په دغه غرباندې دوه غارونه دی يودَمكې طرف ته په غرباندې واقع دې مشهور هم دغه دې مګريوغاردويم طرف ته هم په دغه غرباندې واقع دې چه دَدوو غټوكانړو په مينځ كښې دې. اودَ بره نه ښكته كوزيدل دی چرته چه دوه كسان په ګرانه باندې كيناستې شی. په دې غارباندې يولونی كانړې دَ غونی په شان ښكاری كيدې شی هم دَدې وجې نه دې ته غارثوروائی ثورپه عربی كښې غونی ته وائی. دَمكې نه دَهجرت په شپه حضورپاك دغه غرته تلوسره دريو ورخوپورې پټ وو.

قوله: ثُمَّ انْتَقَضَ عَلَيْهِ، وَكَانَ سَبَبَ مَوْتِهِ،

دابوبكره مرګ په كيفيت كښې نبی عليه السلام سره موافقت: يعنی دَ زهرواثرښكاره شو او حضرت ابوبكر رضی الله عنه هم دَ دغه زهرودَ وجې نه وفات شو. دَصديق اكبر رضی الله عنه عجيبه شان ته اوګورئ چه حضورپاك سره ئې پوره موافقت اورفاقت دې تردې چه دَمرګ په كيفيت كښې هم موافقت پيداشو.

قوله: فَلَمَّا قُبِضَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-ارْتَدَّتِ الْعَرَبُ

د نبي كريم عليه السلام په وفات د مختلفو فتنو پيدا كيدل: دَرسول الله ﷺ دَ وفات نه پس په جزيرهٔ عرب كښې تقريبًا اويافيصد خلق دَ اسلام نه اوړيدلي وو په دوی كښې مختلف قسم خلق وو.

① يوقسم خلق خوهغه وو چه دين ئې پريخودو كافران شو اوكافرانو سره ملاؤشو.

② دويم قسم هغه خلق وو چه دَ دروغو مدعيان نبوت په اتباع كښې مرتدشو.

③ دريم قسم هغه خلق وو چه دَ زكوة دَادا كولونه ئې انكار اوكړو يابالكل منكرشو ياصديق اكبر رضی الله عنه ته ئې نه وركول غوښتل. هم دَدغه قسم خلقو باره كښې دَ حضرت عمر فاروق اوصديق اكبر رضی الله عنهما اختلاف پيداشو. حضرت عمر فاروق رضی الله عنه اوفرمائيل چه داخلق كلمه وائي مونځ كوی دين منی صرف زكوة نه وركوی تاسو نرمی اوكړئی.

قوله: لَوْمَنَعُونِي عِقَالًا لَجَاهَدْتُهُمْ عَلَيْهِ

د مرتدينو خلاف د ابوبكر رضی الله عنه اقدام: صديق اكبر رضی الله عنه اوفرمائيل چه كوم خلق په مونځ او زكوة كښې فرق كوی دَهغوی خلاف به توره اوچتولوسره جنګيږم. حضرت صديق اكبر رضی الله عنه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ښه اورټلو او دَ بزدل كيدو پيغورئې وركړو

دابوبكررضی الله عنه استقامت: دَ وحی سلسله دَحضورپاك په وفات سره منقطع شوې ده. دَ دين تكميل شوې دې. اوس كه خلق دَ اسلام دَ يوحكم هم ماتول كوی اوزه ژوندې يم نوداسې به نه كيږی. ماسره كه څوك نه څی نوزه به مرتدينوسره يوازې جنګيږم. صديق اكبر رضی الله عنه دَمرتدينوخلاف لويه كاروائی اوكړه اوتقريبًا دَ يوكال په موده كښې دين اسلام په جزيرهٔ عرب كښې بيا هغه شان قائم شوځنګه چه حضورپاك پريخودې وو. حضرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه مونږ په شروع كښې دَ صديق اكبر رضی الله عنه خبره عجيبه اوګڼړله ليكن په آخره كښې مونږ هم دَ دغه رائې تعريف اوكړو. حضرت ابوهريره رضی الله عنه به فرمائيل دَمرتدينو په مقابله كښې صديق اكبر رضی الله عنه دَ نبيانو په مقام باندې ولاړوو. ځان له وو خو كلك ولاړ وو. قام في الردة مقام الانبياء

[۱۴] باب مناقب عمر ﷺ

دحضرت عمر ﷺ دمناقبو او فضائلو بیان

خلاصة الباب:

فيه ثمانية عشر حديثاً مشتملة على خمس عشرة منقبة لعمر رضي الله عنه:

① كون عمررضي الله عنه محدثاً: ١-
② كون عمررضي الله عنه خاف منه الشيطان: ٢، ١٢، ١٣-
③ كون عمررضي الله عنه صاحب غيرة: ٣-
④ كون عمررضي الله عنه كامل الدين: ٤-
⑤ كون عمررضي الله عنه كامل العلم: ٥-
⑥ الإشارة إلى خلافة عمررضي الله عنه من النبي وقوته فيها: ٦-
⑦ إجراء الحق على لسان عمررضي الله عنه وقلبه: ٧، ٨-
⑧ حصول العزة للإسلام بإيمان عمررضي الله عنه : ٩، ١٥-
⑨ كون كون عمررضي الله عنه خير الأمة: ١٠-
⑩ كون عمررضي الله عنه نبياً إن كان مقدراً: ١١-
⑪ موافقات عمرمع الله تعالى : ١٤، ١٥-
⑫ كون عمررضي الله عنه أرفع درجة في الأمة: ١٦-
⑬ كون عمررضي الله عنه أجدرَ وأجودَ: ١٧-
⑭ رضاء النبي صلى الله عليه وسلم عن عمررضي الله عنه: ١٨-
⑮ إصابة رأيه في شان أبي بكر: ١٥ -

دعمر رضی الله عنه نوم اونسب: دهغوی مبارک نوم عمر دي لقب فاروق دي او کنیت ابوحفص دي لقب او کنیت دواړه د رسول الله ﷺ ورکړي شوی دی نهمه پیړنی کښې د هغوی نسب حضورپاک سره ملاویږی په نهمه پیړنی کښې دکعب دوه خامن وو یو مُرّه او بل عدی حضورپاک دمُرّه داولاده دي او حضرت عمر ﷺ دعدی داولاده دي په دي وجه هغوی عدوی دی دحضرت عمر ﷺ ولادت دواقعه فیل نه دیارلس کاله پس شوي وو دیارلس کاله دحضورپاك نه کشر دي په شپږم نبوی باندي هغوی اسلام قبول کړي. دوی نه وړاندي څلویښت سړو او یوولس ښځو اسلام قبول کړي وو

دهغوی رنګ سورسپین وو په انتګوباندي غوښنه کمه وه قد مبارک ئی اوږد وو ډیر بهادر او طاقتور وو د اسلام نه وړاندي چه څومره په کفر کښې سخت وو د اسلام نه پس هم هغه شان سختوالي داسلام دپاره هم وو دهغوی د اسلام قبلولوسره په مکه کښې مسلمانانوته

ډیر قوت حاصل شو. دَنبی مکرم ﷺ په زمانه کښې دَ وزارت په منصب وو. په عهدصدیقی کښې دَ قضاء دَ وزارت په منصب باندې هم فائزپاتې دې. دَصدیق اکبر رضي الله عنه دَ وفات نه پس دَمسلمانانوخلیفه جوړشو. انتخاب پخپله صدیق اکبر رضي الله عنه کړې.

په خلافت فاروقی کښې د اسلام اشاعت:دَخلافت دوران کښې چه څومره خدمت او اشاعت هغوی کړې دې بل چانه دې کړې اوڅومره فتوحات چه هغوی ته حاصل شوی دَهغې مثال په اسلام کښې نه ملاوېږی. دَ شام دَزمکې نه واخله ترمصرپورې اودَمصر نه واخل دیاربکر پورې اودَ دیاربکرنه واخله عراق ایران اوفارس پورې مشرق اومغرب جنوب اوشمال ټولوعلاقوباندې ئی دَ الله تعالی دَدین جهنډا اوخوزوله. یوزر شپږ دیرش ښارېې سره دَ مضافاتو فتح کړې. کومه علاقه چه به دَاسلام لاندې راتله زر به ئی ورته حکم ورکولو چه په دې کښې جمات جوړکړئی. څلور زره عام جماتونه ئی جوړکړل او نهه سوه جامع مسجدونه ئی قائم کړل. په عدل اوانصاف کښې دَهغوی مثال نه وو. نادارە محتاجان مظلومان اودَ بې کسو خیال ساتلودَپاره به ئی دَ شپې

ګشت کولو اوپه موقع باندې به ئی امداد کولو. په بیت المال کښې به ئی داسې احتیاط کولو دکوم مثال چه په دنیا کښې نشته دې.

د عمر رضی الله عنه شهادت:حضورپاك سره په ټولو غزواتو کښې شریك شوې. هغوی دَتکوین دَ خلقونه وو چاته چه به نیغ په نیغه دَ الله تعالی دَ طرف نه الهامات کیدل. هغوی په کشف اوکراماتو کښې مشهور وو. دَهغوی خلافت دَاسلام او مسلمانانو دَ پاره سبب دَبرکت او ذریعه دَ رحمت وو. دَحضرت عمر رضي الله عنه موافقات دَ شلو پورې دی. لس کاله شپږ میاشتې او پنځه ورځې خلافت ئی کړې اوبیا دَسحر په مونځ کښې دَ مسجدنبوی په محراب کښې۲۷ذی الحجه په سحر مغیره بن شعبه رضي الله عنه غلام ابولؤلو مجوسی ایرانی په هغوی باندې حمله اوکړه په کوم سره چه هغوی سخت زخمی شو اویکم محرم الحرام کال ۲۴هجری ۶۳کالو په عمرکښې دَدې فانی دنیانه داربقاء طرف ته رخصت شو اودَرسول الله ﷺ او صدیق اکبر رضي الله عنه په قدمونوکښې دفن شو.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۶۰۳۵] حضرت عمر رضي الله عنه محدث وو

۶۰۳۵-(۱) [۱] [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ([۲] «لَقَدْ كَانَ فِيمَا قَبْلَكُمْ مِنَ الْأُمَمِ مُحَدَّثُونَ [۳] فَإِنْ يَكُ فِي أُمَّتِي أَحَدٌ فَإِنَّهُ عُمَرُ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب مناقب عمر بن الخطاب أبي حفص القرشي العدوی رضی الله عنه (رقم-۳۶۸۹) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل عمر رضی الله تعالی عنه (رقم-۲۳ -(۲۳۹۸))والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۶۹۲)

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره ﷺ وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] ستاسو نه مخکې د سابقه امتونو خلقو کښې به محدث وو [۳] که زما امت کښې څوک سړی محدث وي نوهغه به بس عمر ﷺ وي. (بخاري مسلم) محدث ونیل کیږي هغه انسان ته چې څه د خیر خبرې متعال پروردګار په ذهن کې الهام په طریقه اچوی.

حل اللغات: - ① مُحَدَّثُونَ: دَباب تفعیل نه دَاسم مفعول صیغه ده. دلته دَ "مُلْهَمْ" په معنی کښې دې کوم چه دَ الهام نه دې یعنی هغه سړې دَ چاپه زړه کښې چه دَالله تعالی دَطرف نه نیغ په نیغه نیکه خبره واچولې شی.

تسهیلات:

قوله: لَقَدْ كَانَ فِيمَا قَبْلَكُمْ مِنَ الْأُمَمِ مُحَدَّثُونَ

د محدث په تفسیر کښې اقوال: ① محدث هغه سړی ته وانی دَ چا ظن او ګمان چه په یو اختلافی نزاعی مسئله کښې هغه طرف اختیاروی کوم چه صحیح او ټیک وی یعنی دَهغه رائې همیشه دَحق طرف ته ځي اوهم حق سره پاتې کیږی.

② دَمحدَث اطلاق په هغه سړي باندې کیږی چاسره چه فرښتې کلام کوی دَ وحی په توګه باندې نه بلکه صرف دَ خبرو اترو دَحد پورې کلام کوی بعضې روایاتو کښې دَمحدثون په ځائې متکلمون لفظ دَدې تائید کوی. په دې دریوارو معنو کښې چه کومه معنی هم واخلې حضرت عمرفاروق ﷛ دَهغې مصداق وو.

③ محدث هغه سړې دَ چاپه زړه کښې چه دَالله تعالی دَطرف نه نیغ په نیغه نیکه خبره واچولې شی. بیاهغه سړې دَ ایمانی نور په ذریعه دغه خبره نورو ته رسوی.

دحضرت عمر په تکوینی امور کښې برخه: علماء باطن وانی چه حضرت عمرفاروق ﷛ "رجالِ تکوین" څخه وو مطلب دا چه په تکوینیات باندې هغه ته ډیر عبور حاصل وو یعنی دَ غیب دَ نظام دَافراد نه وو لکه څنګه چه حضرت خضر ﷤ اودَ هغه دَجماعت خلق رجال تکوین نه دی. دَحضرت عمر فاروق ﷛ باره کښې دَحضورپاک داارشاد چه عمر محدث دې اوزمانه پس که څوك نبی وې نو هغه به عمر وې داهم دَدغه رجال تکوین طرف ته اشاره ده په عملی توګه باندې هم عمرفاروق ﷛ تکوینیات کښې عمل دخل کړې دې لاندې مونږ بعضې واقعاتو ته اشاره کوو کومې چې تولې اشارې دی چه حضرت عمرفاروق ﷛ دَرجال تکوین نه وو او هغوی مُوَلِّقَ من الله وو دَ الله تعالی توفیق هغوی سره شامل حال وو چه په هرساعت نی دَ هغوی لارخودنه کوله

د عمر رضی الله عنه د تکوینی امورو بعضې مثالونه: ① په نهاوند کښې ساریه کماندرته دَمسجدنبوی دَمنبر څخه خپل جرنیل ته "یاساریة الجبل" نعره لګول او په میدان جهاد کښې د ساریه رضی الله عنه د حضرت عمر رضی الله عنه دا آواز اوریدل.

④ دَمصر نه بحيرهٔ قلزم ته خط ليکل او د درياب ددې خط څخه روسته نه وچيدل
⑤ دحضرت عمر رضي الله عنه د رائې موافق د قرآن پاک شل حکمونه نازليدل
⑥ دَحضورپاک دافرمائيل چه الله تعالى دَعمر ژبه او زړه باندې حق جاري کړې دې
⑦ د شيطان د هغه لارې څخه تختيدل په کومه لار چې عمر رضي الله عنه روان وی
⑧ دَ صحابه کرامو داعقيده لرل چه سکينه دَحضرت عمر ﷺ په ژبه باندې کلام کوی

قوله: فَإِنْ يَكُ فِي أُمَّتِي أَحَدٌ فَإِنَّهُ عُمَرُ،

د مذکوره جملې مفهوم: دَدې کلام نه په ظاهرى توګه تردد او شک واضحه کيږی مګر يادلرنی داکلام دَ شک په توګه نه دې بلکه په دې کښې دَ حضرت عمر ﷺ باره کښې مبالغه اوتاکيد دې چه په دې امت کښې ملهمين ډيردی مګر عمرفاروق ﷺ ته په دې کښې خصوصی امتيازحاصل دې داکلام په داسې طرز دې چه يوسړې اووائی که په انسانانو کښې زما څوك دوست دې نو هغه فلانکې دې په دې سره دَ نورو دوستانونفی مقصودنه وی بلکه دَمذکوره سړی اختصاص مقصودوی

[٦٠٣٦]د حضرت عمر ﷺ نه دشيطان ويره

()[۲] ١ وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ٢ «اسْتَأْذَنَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ٣ وَعِنْدَهُ نِسْوَةٌ مِنْ قُرَيْشٍ يُكَلِّمْنَهُ وَيَسْتَكْثِرْنَهُ ٤ عَالِيَةً أَصْوَاتُهُنَّ، ٥ فَلَمَّا اسْتَأْذَنَ عُمَرُ قُمْنَ فَبَادَرْنَ الْحِجَابَ، ٦ فَدَخَلَ عُمَرُ وَرَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَضْحَكُ، ٧ فَقَالَ: أَضْحَكَ اللَّهُ سِنَّكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ!

ترجمه: ١ اوحضرت سعد ابن ابي وقاص ﷺ بيان کوي ٢ يوه ورځ حضرت عمر ابن خطاب ﷺ دحجره نبوي په دروازه ودريدو سره درسول کريم ﷺ خدمت کښې دحاضريدو اجازت يې طلب کړو ٣ هغه وخت حضور ﷺ سره دقريشو خوښخې يعنی ازواج مطهرات ناستې خبرې يې کولې دهغوی دخبرو موضوع هغه خرچه کښې داضافې مطالبه وه کومه چې حضور ﷺ هغوی ته رسوله ٤ وهغوی خبرې هم په زور زور سره کولې ٥ هرکله چې حضرت عمر ﷺ اجازت طلب کولو سره دننه داخليدو نوهغه ښځې پتيدو دپاره حضور ﷺ نه پاڅيدلو سره دپردې نه شاته شوی ٦ حضرت عمر ﷺ چې دننه داخل شو نو وې ليدل چې رسول کريم ﷺ مسکې کيدې ٧ حضرت عمر ﷺ حضور ﷺ په مسکا ليدو سره اووېل ﷺ دې ستاسو غاښونه هميشه په خندا لرې يعنی دغاښو ښکاره ول دمسکا خوشحالې علامت وې زما دعا ده چې الله تعالى دې هميشه تاسو ښاد اوآباد خوشحاله

[1] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب مناقب عمر بن الخطاب أبی حفص القرشی العدوی رضی الله عنه (رقم-۳۶۸۳) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالى عنهم/باب من فضائل عمر رضی الله تعالى عنه (رقم-۲۲ - (۲۳۹۶) واحمد فی المسند: ۱۷۸/۱

لري ليکن آخر هغه کومه خبره ده چې تاسويي داوقت په خندا کړی يې ؟

حل اللغات:- ① يَسْتَكْثِرْنَهُ: په معنی دکثرت سره، (دلته ددي نه دوه مطلبه دي: د رعايت د لحاظ نه بغير ئې زياتي خبري کولې يا د زياتي نفقي مطالبه ئې کوله) ② عَالِيَةً: أي رَافِعَاتٍ: اوچتونکی وو (آوازونو لره) ③ فَبَادَرْنَ: أي سَارَعْنَ: جلتي اوکړه تولو.

[۱] فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (عَجِبْتُ مِنْ هٰؤُلَاءِ اللَّاتِي كُنَّ عِنْدِي، [۲] فَلَمَّا سَمِعْنَ صَوْتَكَ ابْتَدَرْنَ الْحِجَابَ) [۳] قَالَ عُمَرُ: يَا عَدُوَّاتِ أَنْفُسِهِنَّ! [۴] أَتَهَبْنَنِي وَلَا تَهَبْنَ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-؟ [۵] فَقُلْنَ: نَعَمْ، أَنْتَ أَفَظُّ وَأَغْلَظُ [۶] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (إِيهٍ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ! [۷] وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا لَقِيَكَ الشَّيْطَانُ سَالِكًا فَجًّا قَطُّ إِلَّا سَلَكَ فَجًّا غَيْرَ فَجِّكَ) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضور ﷺ ورته وفرمايل ماته په دي خبره خندا راغله چې هغه ښځي اول خوما سره ناستي وي شور يې کوی [۲] و چې کله ستا اوازيې و اوريدي نودويرې نه دپردي شاته وتښتيدي [۳] حضرت عمر ﷺ چې داواوريدل نوهغو ښځو مخاطب کولو سره يې اوويل اې دخپل خان دښمنو ښځو [۴] داڅرنګه چپه خبره ده چې زما نه خودومره دخوف اظهار چې زما اواز اوريدو سره دويرې نه دپردي شاته پټيږي اودرسول الله ﷺ نه يوه ذره هم نه ويريږي چې ورسره ناستي شور موجوړ کړی وو [۵] هغه ښځو جواب ورکړو هو ستا نه خوويريدل پکاردی ځکه چې ته ډيرسخت خو ډير سخت ګويي حال دا چې رسول الله ﷺ ډير خوش مزاجه اوخوش خلق دی څرنګه چې الله تعالی فرمايلي دي (ايت) [۶] رسول کريم ﷺ ورته وفرمايل ابن خطاب دوي پريږده بله څه خبره مکوه هغه ښځو چې کوم جواب درکړی دی هغه ته داهميت ورکولو څه ضرورت نشته [۷] قسم دی په هغه ذات چې دهغه په لاس کښې زما ساه ده ته هغه سړی يې که شيطان تا ووينې نوهغه دلار نه اخوا کيدو سره دويمه لار به اختيار کړي په کومه چې ته خې . (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ④ أَتَهَبْنَنِي: د هَيْبَت په وجه دچا عزت او احترام کولو ته وائی. أي أَتُوَقِّرْنَنِي: يعنی مانه ويريږي او تختي پټيږي اودَ حضورپاك نه ويره نه کوئ اوشور کوئ؟ ⑤ أَفَظُّ: أي سَيِّءُ الْكَلَامِ: سخت کلامی کونکي دا دَ سختي وينا کولو په معنی کښې دي ⑥ أَغْلَظُ: أي: شَدِيدُ الْقَلْبِ: سخت زړه. يعنی د سخت خُلق اوسخت خونی په معنی کښې دي ⑦ إِيهٍ: دا اسم فعل دي په معنی د امر سره، په دي سره د زيادت طلب کولې شی. أي اسْتَزِدْ عَلَى مَا أَنْتَ عَلَيْهِ: چه کوم کلام تادي ښځوسره کړي دي هغه جاري اوساته او په هغې باندې زياتوالي اوکړه (د نورو معانيو دپاره لاندي شرح اوګوری) ⑧ سَالِكًا: أي: ذَاهِبًا: تلونکي. ⑨ فَجًّا: أي: طَرِيقًا وَاسِعًا: فراخه لاره. ⑩ قَطُّ: دا اسم ظرف صيغه ده، راخي دپاره د تاکيد دنفی په زمانه ماضي کښې، معنی ئې ده هيڅ کله هم.

[۱] وَقَالَ الْحُمَيْدِيُّ: زَادَ الْبَرْقَانِيُّ بَعْدَ قَوْلِهِ: يَا رَسُولَ اللهِ: مَا أَضْحَكَكَ.

ترجمه: [۱] اوحميدي خپل کتاب جامع بين الصحيحين کښې ويلي دي چې برقاني چې

دخوارزم ديوكلي برقان اوسيدونكي وو اومشهور محدث دی دحضرت عمر ﷺ داالفاظ هم نقل کړی دی چې یارسول الله ﷺ کوم شی تاسو خندولی یئ ؟

تسهیلات:

قوله: أَنْتَ أَفَظُّ وَأَغْلَظُ: يعنی ته سخت خونی هم ئی او سخته وينا كونكي هم اورسول الله ﷺ داسې نه دي

اشکال: دغه بنځو فظاظت اوغلاظت کښې دَ اسم تفضیل صیغه استعمال کړې ده دکوم نه چه معلومیږی چه دَ حضورپاك په خونی او كلام كښې هم څه سختی وه حالانکه دَ قرآن اوحدیث دَ اعلان مطابق حضورپاك خوډیر نرم خونی وو؟

داشکال جواب: دلته دَاسم تفضیل صیغه دَ اصل فعل معنی کښې استعمال کړې شوې ده حضورپاك سره دَدې تقابل نه دې یعنی فظاظت اوسختی په حضورپاك كښې نشته دې اسم تفضیل په اصل فعل کښې استعمالیږی. لکه "العسل احلی من الخل. الصیف احرمن الشتآء" حالانکه په سرکه کښې هیڅ خوږوالې نه وی اودَ یخنئی په موسم کښې هیڅ ګرمی نه وی.

قوله: إِيهٍ يَاابْنَ الْخَطَّابِ!.

د لفظ إِيهٍ ضبط: دالفظ دَهمزه کسره سره دې اویاء ساکن ده اوهاء باندې دَ زیر په صورت کښې تنوین دې اوکله په هاء باندې سکون هم وی اوکلمه "ايها" هم وئیلې شوې ده لکه عبدالله بن زبیر ﷜ فرمائی:

ايهًاوالاله لك شكاةظاهرعنك عارها

د لفظ إِيهٍ په مفهوم کښې مختلف اقوال: ① علامه توریشتی ﷫ هم داسې لیکلی دی که چرې دا لفظ إِيهٍ وی نواسم فعل امر په معنی کښې وی یعنی نوره اضافه اوکړه خوکه دا لفظ ايهًا وی نودا کف کف دَبندولودَپاره استعمالیږی. علامه فرمائی زیربحث حدیث کښې لفظ ايهًا کیدل پکاردی چه بس بس منع شه منع شه په معنی کښې به وی ای کف یاابن الخطاب دَعلامه توریشتی ﷫ انداز بهتر معلومیږی

② ملاعلی قاری ﷫ مرقات کښې لیکلی دی چه دَدې کلمه ترجمه داسې ده "حدث حديثا ولا تلتفت الى جوابهن" د دې عبارت مطلب دادې چه حضورپاك حضرت عمرفاروق ﷜ ته اوفرمائیل عمر! دَدې بنځودَ خبرو دَجواب پرواه مه کوه مه دَدوی طرف ته توجه مه ورکوه بلکه څه بله خبره اوکړه

③ ملاعلی قاری ﷫ دا هم لیکلی دی چه "وقيل هواسم فعل يطلب له ازيادة اي استزدعلى ماانت عليه من التصلب" د دې عبارت مطلب دادې چه حضورپاك حضرت عمر ﷜ ته اوفرمائیل چه کوم کلام تادې بنځوسره کړې دې هغه جاری اوساته او په هغې باندې زیاتوالې اوکړه ځکه چه

سما شان دومره اوچت شان دې چه په کومه لاره نه تيريږي په هغې باندې شيطان نه شي تيريدې بلکه هغه بله کولوسره بله لاره اختياروي ابوزيد سروجي دا لفظ د انت په معنی کښې استعمال کړې دې چنانچه هغه اوونيل "ايه بلا تمويه اي انت الحديث بلاکذب"

② قاموس الوحيد کښې دا لفظ اسم فعل ګرځولوسره ددې معنی دا ليکلې ده "او وايه" ليکن که دا لفظ تنوين سره اهًا شی نوداکف کف بس بس په معنی کښې دې

[٦٠٣٧] په جنت کښې دعمر رضی الله عنه محل

٦٠٣٧ - (١) [٣] [١] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «دَخَلْتُ الْجَنَّةَ فَإِذَا أَنَا بِالرُّمَيْصَاءِ امْرَأَةِ أَبِي طَلْحَةَ، [٣] وَسَمِعْتُ خَشَفَةً، فَقُلْتُ مَنْ هَذَا؟ فَقَالَ: هَذَا بِلَالٌ. [٤] وَرَأَيْتُ قَصْرًا بِفِنَائِهِ جَارِيَةٌ، فَقُلْتُ لِمَنْ هَذَا؟ قَالُوا: لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، [٥] فَأَرَدْتُ أَنْ أَدْخُلَهُ فَأَنْظُرَ إِلَيْهِ فَذَكَرْتُ غَيْرَتَكَ» [٦] فَقَالَ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَعَلَيْكَ أَغَارُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]

ترجمه: [١] اوحضرت جابر رضی الله عنه بيان کوي رسول کريم ﷺ وفرمايل [٢] د معراج په شپه کښې هرکله چې زه جنت کې داخل شوم نواچانک مې وليدل چې رميصاء زوجه ابوطلحه رضی الله عنه موجود ده [٣] بياما دقدمونو اواز واوريدی پوښتنه مې وکړه داکوم سړی دې چې د هغه دتلو اواز راځي ماته جبرائيل عليه السلام ياخه بلې فريشتې يادجنت داروغه وښودل چې دابلال رضی الله عنه دی دې نه وروسته يوځاې ته رسيدو سره مايوعاليشان محل اوليدلو چې د هغه يوګوټ کښې ياصحن کښې يوه خوانه ښځه يعنی دجنت حوره ناسته ده ماپوښتنه وکړه دامحل دچادی اودقسم دانعمتونه چې دې محل کښې دي اوددې محل چاپيره دی دچاد پاره دی ماته جنتيانو يادهغه محل متعين فرشتو وښودل چې دامحل دخپل ټول ساز وسامان اونعمتونو سره دعمر ابن خطاب رضی الله عنه دی [٥] دې اوريدو سره ما وغوښتل چې محل ته ورسم اوده دننه يې هم وګورم ليکن بيا اې عمره رضی الله عنه ماته ستا دغيرت خيال راغی چې ستا محل کښې داخليدل ستا دغيرت اوحميت منافي نه وي ځکه مادننه ورتلوڅخه پرهيز وکی [٦] حضرت عمر رضی الله عنه چې دا واوريدل نوعرض يې وکی يارسول الله زما مور پلار دې په تا سو ﷺ قربان وي ايازه به ستاسو ﷺ په مقابل کی غيرت کوم ؟ (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① خَشَفَةً: أي صَوْتًا: آواز. دلته د ګرځيدونکي د پيزار آواز ته مراد دې ② قَصْرًا: عاليشان محل. ③ بِفِنَائِهِ: جوانب او اطراف دهغې محل ④ أَغَارُ: د غَيْرَةٌ نه د متکلم صيغه ده. زه به غيرکوم

[1] اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب مناقب عمر بن الخطاب أبي حفص القرشي العدوي رضي الله عنه (رقم ٣۶٧٩) ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضي الله تعالى عنهم/باب من فضائل عمر رضي الله تعالى عنه (رقم ٢١ - (٢٣٩٥)) واحمد في المسند: ٣٨٩/٣

تسهيلات: قوله: بِالرُّمَيْصَاءِ:

د حضرت رميصاء تعارف: ام سليم ﷺ ته رميصاء وائي اوغميصاء هم ورته وائي. داد حضرت انس ﷺ مور وه. اول د مالك بن نضر ﷺ په نكاح كښې وه د كوم نه چه حضرت انس ﷺ پيدا شو. په احد كښې چه كله مالك بن نضر ﷺ شهيد شو نو بيا هغې سره ابوطلحه ﷺ نكاح كښې وه. د لوئې شان والا ښځه ده د حضور اكرم ﷺ رضاعي ترور وه.

[۶۰۲۸] په خوب كښې د قميص تعبير

۶۰۲۸-(۱) [۴] ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُ النَّاسَ يُعْرَضُونَ عَلَيَّ، ③ وَعَلَيْهِمْ قُمُصٌ، مِنْهَا مَا يَبْلُغُ الثُّدِيَّ، وَمِنْهَا مَا دُونَ ذَلِكَ، ④ وَعُرِضَ عَلَيَّ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَعَلَيْهِ قَمِيصٌ يَجُرُّهُ). ⑤ قَالُوا: فَمَا أَوَّلْتَ ذَلِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: (الدِّينَ)» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① اوحضرت ابوسعيد خدري ﷺ وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ② يوه ورځ هركله چې زه اوده ووم خوب كښې وينم چې زما د اُمت څه خلق زما مخكې پيش كول كيږي ③ هغوى تولو قميصونه اغوستي دي چې هغوى كښې دبعضې قميصونه خو د هغوى سينې پورې وو او دبعضې قميصونه دهغه نه هم واړه وه ④ بيا چې عمر بن خطاب ﷺ زما مخې ته پيش شو نو دهغه قميص دومره اوږد وو چې د زمكې سره موښتى ⑤ بعضې صحابه ﷺ دې خبرې اوريدو سره پوښتنه وكړه يارسول الله ﷺ دعمر ﷺ د دې اوږد قميص تعبير تاسو ﷺ څه بيان كړې وې فرمايل دين اومذهب. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① يُعْرَضُونَ: پيش كولې شي.

تسهيلات:

قوله: فَمَا أَوَّلْتَ ذَلِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: (الدِّينَ)

په عالم مثال كښې د قميص مثال: په عالم مثال كښې د قميص مثال دين دې. د حضرت عمر ﷺ د خلافت زمانه اوږده وه په دې وجه د دين د تولو نه زيات خدمت هم هغوى كړې وو او قميص ئې اوږدوو دا قسم فضائل جزئې وى كلي نه وى.

[۶۰۲۹] د حضرت عمر ﷺ علمي عظمت

۶۰۲۹-(۲) [۵] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ② «

[۱] اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب مناقب عمر بن الخطاب أبي حفص القرشي العدوى رضى الله عنه (رقم-۳۶۹۱) ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب من فضائل عمر رضى الله تعالى عنه (رقم-۱۵ - (۲۳۹۰)

[۲] اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب مناقب عمر بن الخطاب أبي حفص القرشي العدوى رضى الله عنه (رقم-۳۶۸۱) ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب من فضائل عمر رضى الله تعالى عنه (رقم-۱۷ - (۲۳۹۲) والترمذي في كتاب الرؤيا عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب في رؤيا النبي صلى الله عليه وسلم اللبن والقمص (رقم-۲۲۸۴) واحمد في المسند: ۲/۱۰۸

(بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ أُتِيتُ بِقَدَحِ لَبَنٍ، فَشَرِبْتُ ۲ حَتَّى إِنِّي لَأَرَى الرِّيَّ يَخْرُجُ فِي أَظْفَارِي، ۳ ثُمَّ أَعْطَيْتُ فَضْلِي عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ) ۵ قَالُوا: فَمَا أَوَّلْتَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: (الْعِلْمَ)». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ اوحضرت ابن عمر ﷺ وايي مادرسول كريم ﷺ نه واوريدل ۲ زه اوده وم چې خوب كښې د شودو (پيؤ) نه ډكه پياله ماته راكړې شوه ماهغه پښې وڅكلې ۳ بيا ما وليدل چې د ډيروالي په سبب د هغه پيئو تري اوتازګي زما د نوكانو څخه راوځي ۴ بيا ما خپل بچ شوى پښې عمر بن خطاب ﷺ ته د څښلو دپاره وركړلې ۵ بعضې صحابه دې خبرې اوريدو سره عرض وكې يارسول الله د دې پيئو تعبير كښې تاسو ﷺ څه فرمايې؟ وې فرمايل علم (بخاري ومسلم)

حل اللغات:- ① بِقَدَحٍ: غټه پيالۍ، ② الرِّيَّ: أَيْ أَثَرَ اللَّبَنِ: دپيئو اثر يعنى تر وتازګي (اوبه كولو اوخروب كولوته ري واني)، ③ فَضْلِي: أَيْ: سُؤْرِي الْكَثِيرَ: زياتى جوټه شوى پئ، ④ فَمَا أَوَّلْتَهُ: تاسو څه تعبير اوباسئ؟

تسهيلات:

قوله: فَمَا أَوَّلْتَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: (الْعِلْمَ)،

د پيؤ تعبير په علم سره: عالم مثال كښې دَعلم مثال دَ پيئو دې. دې قسم فضيلت ته شارحين جزئى فضيلت واني. كلى فضيلت دَحضرت صديق اكبر ﷺ دې

[۶۰۴۰] دحضرت عمر متعلق د نبى كريم ﷺ يو خوب

۶۰۴۰-() [۲] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ۲ «بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُنِي عَلَى قَلِيبٍ عَلَيْهَا دَلْوٌ؟ ۳ فَنَزَعْتُ مِنْهَا مَا شَاءَ اللَّهُ، ۴ ثُمَّ أَخَذَهَا ابْنُ أَبِي قُحَافَةَ فَنَزَعَ مِنْهَا ذَنُوبًا أَوْ ذَنُوبَيْنِ وَفِي نَزْعِهِ ضَعْفٌ، وَاللَّهُ يَغْفِرُ لَهُ ضَعْفَهُ، ۵ ثُمَّ اسْتَحَالَتْ غَرْبًا فَأَخَذَهَا ابْنُ الْخَطَّابِ، ۶ فَلَمْ أَرَ عَبْقَرِيًّا مِنَ النَّاسِ يَنْزِعُ نَزْعَ عُمَرَ حَتَّى ضَرَبَ النَّاسُ بِعَطَنٍ»).

ترجمه: ۱ اوحضرت ابوهريره ﷺ وايي مادرسول الله ﷺ نه واوريدل ۲ زه اوده ووم چې په خوب كښې مې وليدل چې زه بغير غاړې يو كوهي باندې يم چې هلته يوه بوقه هم ايښودل شوى ده ۳ ما دبوقې په ذريعه هغه كوهې نه اوبه راوښكلې څومره چې الله تعالى وغوښتې ۴ زما نه وروسته ابن ابي قحافه يعنى ابوبكر ﷺ بوقه واخسته اوكوهي نه يې اوبه راوښكلې ليكن هغوى يوې يادوو بوقو نه زياتې اوبه راونه كښلې هغه سست اوكمزوري شو اودهغه سستې اوكمزوري دى الله تعالى معاف كړى ۵ بيا هغه بوقه په يوه غټه بدله شوه اوعمر ابن خطاب ﷺ هغه واخسته ۶ حقيقت دادى چې ماهيڅ خوان اوقوي دهغه په شان ندې ليدلې چې دهغه غټې بوقې په ذريعه اوبه راوكاږي نوهغه دومره اوبه راوښكلې

[1] اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب مناقب عمر بن الخطاب أبي حفص القرشي العدوي رضي الله عنه (رقم-۳۶۸۱) ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضي الله تعالى عنهم/باب من فضائل عمر رضي الله تعالى عنه (رقم-۱۷ - (۲۳۹۲)

چې نه صرف ټول خلق په اوبه شول او هغوی اوښان هم اوبه کړل بلکې خلقو داوبو د فراخۍ په سبب هغه ځاي کې داوښانو دناستې ځاي جوړ کړی

حل اللغات: - ① قَلِيب: أَيْ: بِئْرٌ لَمْ تُطْوَ: هغه کوهی ته وائی چه دهغې غاړې يعنی منډير نه وی، دنکاچه ورته نه وی جوړه شوې. ② ذَنُوبًا: وَهُوَ الدَّلْوُ: بوکې ته وائی چه اوبه پرې راويستلې شی (که هغه د اوبونه ډکه وی او که تشه وی). ③ اسْتَحَالَتْ: أَيْ: انْقَلَبَتِ الدَّلْوُ: يعنی بدله شوه بوقه، ④ غَرْبًا: أَيْ دَلْوًا عَظِيمَةً: غټه بوقه (کومه چه د څرمن نه جوړه وی، دې ته چرس هم وائی). ⑤ عَبْقَرِيًّا: أَيْ رَجُلًا قَوِيًّا: طاقتور، مضبوط او پهلوان سړې. ⑥ بِعَطَنٍ: وَهُوَ مَبْرَكُ الْإِبِلِ: د اوښانو د تړلو ځائې، باړه يعنی غوجل.

تسهيلات: قوله: قَلِيب:

د قليب په مفهوم کښې دوه اقوال: ① يعنی وران کوهې دلته مطلق کوهې مراد دې

② دَ وران کوهی ذکر کولو سره دې طرف ته اشاره ده چه پرعزم او دَ حوصله والا خلق وران مقام آبادولو سره ډير څه حاصلولې شی.

قوله: أَوْذَنُوبَيْنِ:

د ..او.. کلمې په تحقيق کښې دوه اقوال: ① د "او" کلمه د شک دپاره استعمال شوې ده يعنی دوه ډولچې راويستلې. دا شك دَ راوی دَ طرف نه دې

② دَ "او" لفظ دَبل په معنی کښې دې. په دې جمله کښې دَ حضرت صديق اکبر ﷛ دَ دوو کالو خلافت ته اشاره ده.

قوله: وَفِي نَزْعِهِ ضَعْفٌ:

په مذکوره جمله کښې دوه توجيهات: ① په دې جمله سره دَصديق اکبر ﷛ تنقيص مقصود نه دې او نه په هغوی باندې دَحضرت عمر فاروق ﷛ فضيلت بيانول مقصود دی بلکه اصلاً دَ صديق اکبر ﷛ دَخلافت دَ زمانې قلت طرف ته اشاره ده او دَ حضرت عمر ﷛ دَ خلافت دَ مودې دَ کثرت او طوالت طرف ته اشاره ده

② په دې جمله کښې دې طرف ته اشاره کيدې شی چه دَ صديق اکبر ﷛ دَخلافت په زمانه کښې به دَخلقو دَ ارتداد فتنه راخی په کوم سره چه دَدين او حکومت د کمزورنی طرف ته اشاره اوکړې شوه. بهرحال دَ حضرت عمر ﷛ دَ خلافت زمانه چونکه اوږده وه په دې وجه په هغې کښې دَالله تعالی مخلوق او دين اسلام ډيرزيات خدمت اوشو

٦٠٣١-([1]) وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا-قَالَ: ۲ (ثُمَّ أَخَذَهَا ابْنُ الْخَطَّابِ مِنْ يَدِ أَبِي بَكْرٍ، فَاسْتَحَالَتْ فِي يَدِهِ غَرْبًا، ۳ فَلَمْ أَرَ عَبْقَرِيًّا يَفْرِي فَرِيَّهُ، ۴ حَتَّى رَوِيَ النَّاسُ وَضَرَبُوا بِعَطَنٍ) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[1] اخرجه البخاری فی کتاب التعبير /باب نزع الماء من البئر حتی يروی الناس (رقم-۷۰۱۹) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم /باب من فضائل عمر رضی الله تعالی عنه (رقم-۱۷ - (۲۳۹۲)) واحمد فی المسند ۲۷/۲

ترجمه: [۱] او دابن عمر ﷺ روایت کښې داسې دی [۲] چې بیا دابوبکر ﷺ دلاس نه هغه بوك عمر ابن خطاب ﷺ واخسته چې د هغوی لاس ته رسیدو سره غټه بوقه جوړه شوه [۳] حقیقت دادی چې ماهیڅ خوان اوقوي تر سری داسې ندي لیدلی چې اوبو راکښلو په دي کار کښې دعمر ﷺ په شان چست وچالاك اوکار والاوي [۴] نو هغوی دومره اوبه راوښکلې چې خلق یې اوبه کړل او داوبو دفراخي په سبب خلقو هغه خاي داوښانو دناستي خاي جوړ کړی.
(بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① يَفْرِي فَرِيَّهُ: أَيْ يَعْمَلُ عَمَلَهُ: دير کار کونکې، چه په کار کښې تکړه او چست وی. عجیبه اوحیرانونکی کار ته وائی

تسهیلات: **قوله:** يَفْرِي فَرِيَّهُ:

د مذکوره جملې مطلب: مفهوم داچه ما دَ اوبو راویستو په کار کښې دَعمر په شان مضبوط اوقوی اوحیرانونکې کار کونکې تکړه او تازه بل څوك نه دي لیدلې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۶۰۴۲] دعمر ﷺ په ژبه اوزړه د حق جاری والې

۶۰۴۲-(۱) [۷] [۱] عَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] («إِنَّ اللَّهَ جَعَلَ الْحَقَّ عَلَى لِسَانِ عُمَرَ وَقَلْبِهِ»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن عمر ﷺ وایې چې رسول کریم ﷺ وفرمایل الله تعالی [۲] دعمر ﷺ په ژبه او دهغوی په زړه باندې یې حق اوصداقت جاري کړی دی (ترمذي)

حل اللغات: - ① جَعَلَ الْحَقَّ: أَيْ: أَظْهَرَهُ وَوَضَعَهُ: حق ئې ښکاره کړې او جاری کړې ئې دې.

۶۰۴۳-(۲) [۱] وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: [۲] («إِنَّ اللَّهَ وَضَعَ الْحَقَّ عَلَى لِسَانِ عُمَرَ يَقُولُ بِهِ»).

ترجمه: [۱] اودابوداؤد یو روایت کښې چې حضرت ابوذر ﷺ نه دی داسې دی چې حضور ﷺ وفرمایل [۲] الله تعالی دعمر ﷺ په ژبه حق ایښی دی ځکه هغه حق خبره کوي حق نه علاوه بله څه خبره دهغوی دژبې نه نه وزي

تسهیلات:

قوله: إِنَّ اللَّهَ جَعَلَ الْحَقَّ عَلَى لِسَانِ عُمَرَ وَقَلْبِهِ

دعمر رضی الله عنه د ژبې حقانیت: یعنی حضرت عمر فاروق ﷺ دَ رجال تکوین نه وو په

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الرؤیا عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی الذی یکذب فی حلمه (رقم-۲۲۸۲) واحمد فی المسند: ۵۳/۲

[۲] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الخراج والإمارة والفیء/باب فی تدوین العطاء (رقم-۲۹۶۲)

تکويني امورو کښې دَهغوی ډيره تجربه وه. چنانچه الله تعالی دَهغوی په ژبه او زړه باندې حق جاري کړې وو. دَ حق خاني دَ هغوی په ژبه اوزړه او دماغوکښې ساتلې وو. دَدې حديث نه پس راتلونکې حديث کښې هم دا قسم تکويني خبره کړې شوې ده. چنانچه حضرت علي ﷺ فرمائي چه مونږ دا خبره لرې نه ګڼړله چه يو فرښته دَحضرت عمر ﷺ په ژبه باندې کلام کوي.

حضرت ابن مسعود ﷺ فرمائي چه ما حضرت عمر ﷺ ته اوکتل نو داسې محسوس شوه لکه چه څوك فرښته دَ حضرت عمر ﷺ دَدواړو سترګو په مينځ کښې ناسته ده چه هغوی ته دَ صحيح لارې رهنمائي کوي.

[٦٠٤٤] دحضرت عمر ﷺ خبرو سره به خلقوته سکينه اوطمانيت حاصليدې

۶۰۴۴-(۱) [۸] وَعَنْ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] مَا كُنَّا نُبْعِدُ أَنَّ السَّكِينَةَ تَنْطِقُ عَلَىٰ لِسَانِ عُمَرَ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ).

ترجمه: [۱] او حضرت علي کرم الله وجهه فرمايي [۲] مونږ اهل بيت يا جماعت صحابه به داخبره بعيده نه ګڼله چې دحضرت عمر ﷺ په ژبه سکينت او طمانيت جاري کيږي دا روايت بيهقي دلائل النبوة کښې نقل کړی دی. [اخرجه البيهقي]

حل اللغات:- ① نُبْعِدُ: د إِبْعَاد نه دې، أي مَا كُنَّا نَعُدُّ بَعِيدًا: مونږ به لرې او ناممکن نه ګڼړله ② السَّكِينَةَ: أَيْ: مَا بِهِ تَسْكُنُ النَّفْسُ: کوم سره چه نفس ته سکون او تسلي ملاويږي. ③ تَنْطِقُ: أَيْ: تَجْرِي: خبرې کوي، جاري کيږي.

تسهيلات: قوله: أَنَّ السَّكِينَةَ:

د سکينه په مفهوم کښې دوه اقوال: ① يعنی "سکينة" څخه مراد دا دې چه دَ حضرت عمر ﷺ دَ خلې نه وتلې کلمات چه کله اوريدونکی اوري نو هغوی ته سکون او تسلي حاصليږي او دَ هغې طرف ته زړه مائل کيږي او په هغې باندې اعتماد کولې شي

② "سکينة" څخه مراد هغه فرښته هم کيدې شي چه حق اوموزون خبره په زړه کښې اچوي او بيا به هم هغه خبره دَ حضرت عمر ﷺ دَ خلې نه ادا کيدله

[٦٠٤٥] دحضرت عمر ﷺ د اسلام راوړلو دپاره د نبي عليه السلام دعا

۶۰۴۵-(۲) [۹] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] قَالَ: «(اللَّهُمَّ أَعِزَّ الْإِسْلَامَ بِأَبِي جَهْلِ بْنِ هِشَامٍ، أَوْ بِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ) [۳] فَأَصْبَحَ عُمَرُ، فَغَدَا عَلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَأَسْلَمَ، [۴] ثُمَّ صَلَّى فِي الْمَسْجِدِ ظَاهِرًا». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

[۱]) اخرجه البيهقی فی دلائل النبوة رقم الحديث ۶/ ۳۶۹ والبغوی فی شرح السنة ۱۴/ ۸۶

[۲] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۶۸۳) وابن ماجه فی کتاب فی الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل عمر رضی الله عنه (رقم-۱۰۵)

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس ﷺ د نبي کریم ﷺ نه روایت کوي [۲] یوه شپه حضور ﷺ دعا وکړله الهي د ابوجهل ابن هشام یا د عمر بن الخطاب په ذریعه اسلام سربلند او غالب کړي یعنی دي دواړو کښې یو ته د مسلمان جوړیدو توفیق ورکړي چې د هغه په سبب د اسلام دین ته طاقت نصیب شي [۳] نو په بله ورځ چې سحر شو عمر ابن الخطاب ﷺ د رسول کریم ﷺ خدمت کښې حاضریدو سره مسلمان شو [۴] او بیا حضور ﷺ مسجد حرام کښې علانیه مونځ وکړ (احمد ترمذي)

حل اللغات:- ① أَعِزَّ: أَيْ: قَوِّهِ وَانْصُرْهُ: عزت ورکړې (یعنی د اسلام مدد اوکړې او قوت ورکړې)

تسهیلات: قوله: اَللّٰهُمَّ أَعِزَّ الْإِسْلَامَ

د عمرینو د اسلام دپاره دعا: یعنی اسلام ته د ابوجهل بن هشام په ذریعه یا د عمر بن الخطاب ﷺ په ذریعه قوت، نصرت او عزت ورکړه.

قوله: ثُمَّ صَلَّى فِي الْمَسْجِدِ ظَاهِرًا،

د حضرت عمر رضی الله عنه د اسلام اوړولو واقعه: په دلائل نبوت کښې د حضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دي چه ابوجهل اووئیل چه کوم سړي محمد ﷺ (نعوذبالله) اووژنی هغه ته به سل اوښان او زر چاندی ورکوم. عمر بن الخطاب د دې کار د پاره تیار شو په لاړ روان وو چه یو سړی سره ئې ملاقات اوشو نو هغه ته ئې خپل مقصد ذکر کړو هغه ورته اووئیل چه اول دې د خپلې خور او اوښی خبر واخله. نو حضرت عمر ﷺ د خپلې خور او اوښی کور ته لاړو او هغوی دواړو هغه وخت د سورت طه تلاوت کولو د حضرت عمر ﷺ په خپلې خور باندې د تشدد مشهوره واقعه ده. کوم وخت چه حضرت عمر بن خطاب ﷺ د کتاب الله یوه پاڼره اولیدله او هغوی (اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى) پورې اولوستلو نو عمر ﷺ اووئیل چه اوس به زه د الله تعالی نه سوا د بل چا عبادت نه کوم

بل طرف ته حضورپاک توله شپه بیدار وو او په دعا کښې ئې الله تعالی نه غوښتل. بل طرف ته حضرت عمر بن خطاب ﷺ ته حضرت خباب بن ارت ﷺ اووئیل چه د هغه د خور په کور کښې پټ شوی وو ای عمر تاته دې مبارک وی چه حضورپاک توله شپه بیدار وو او د الله تعالی نه ئې ستا د پاره دعا غوښتله چه ای الله اسلام ته په عمر یا ابوجهل عزت ورکړې او زه امید کوم چه د حضورپاک دعا ستا د پاره وراندیوالي کړې دي

په دربار رسالت کښې د حضرت عمر رضی الله عنه حاضري: بیا حضرت عمر ﷺ برینده توره واخستله او د حضورپاک په خدمت کښې حاضر شو هغه وخت به حضورپاک په دارارقم کښې اوسیدو او مسلمانانو به هلته په پټه د الله عبادت کولو. کوم وخت چه حضرت عمر ﷺ د حضورپاک په خدمت کښې حاضر شو نو حضورپاک پخپله د هغه د استقبال د پاره بهر اووتلو او د اسلام دعوت ئې ورکړو چه ای عمر معبودان باطله پریږده د اسلام طرف ته راشه

کامیابی هم په دې کښې ده چه اسلام قبول کړې گنی په تاباندې به هم دَدنیا اوآخرت دَ ذلت او رسوايئی هم هغه عذاب نازل شی کوم چه په ولید بن مغیره باندې نازل شو. عمر بن خطاب ﷺ دا جلالی آواز اوریدو سره په رچیدو شو دَ رچیدونکو اوړو او رپیدونکو لاسونونه ئی توره پریوتله او ناڅاپی ئی دَ خلې نه دا الفاظ اووتل "أشهدأن لا إله إلا الله وأن محمد رسول الله"

داسلام قبلولوڅخه روسته په ښکاره د عبادت شروع: بیا دَ مانخه وخت راغلو نوحضرت عمر ﷺ اوفرمائیل چه په پټه به عبادت نه کیږی اوس به ښکاره عبادت کیږی. دې نه پس حضرت عمر ﷺ ټول مسلمانان بوتلل او بیت الله ته اورسیدل او هلته ئی ښه په ښکاره مونځ اوکړو. دَدې نه معلومه شوه چه دَ حضرت عمر ﷺ په ذریعه اسلام ته تقویت او غلبه حاصله شوه. هم په دې وجه حضرت عمر ﷺ ته مراد رسول هم وئیلی شی.

[٦٠٤٦]دابوبکر په خوله دعمر ﷺ دفضیلت

٦٠٤٦-() [١٠] [١]وَعَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ عُمَرُ لِأَبِي بَكْرٍ: [٢]يَا خَيْرَ النَّاسِ بَعْدَ رَسُولِ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [٣]فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَمَا إِنَّكَ إِنْ قُلْتَ ذٰلِكَ، فَلَقَدْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَقُولُ: [٤]«مَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ عَلَى رَجُلٍ خَيْرٍ مِنْ عُمَرَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه:[١] اوحضرت جابر ﷺ وايي یوه ورځ سیدنا عمر فاروق ﷺ ابوبکر صدیق ﷺ په دې الفاظو سره مخاطب کړې [٢]اې هغه ذات گرامي چې درسول الله ﷺ نه وروسته دټولو انسانانو نه بهتریې [٣]سیدنا ابوبکر صدیق ﷺ دې اوریدو سره ورته وفرمایل عمر ﷺ که ته زما باره کښې داوایې چې حضور ﷺ نه وروسته دټولوڅخه بهتر انسان زه یم نوته خپله باره کښې هم پوهه شه مادرسول الله ﷺ نه دا اوریدلې دې [٤]نمر په یوداسې سړي نه دې راختلې چې دعمر ﷺ نه بهتروي دارروایت ترمذي نقل کړي دې او ویلي یې دي چې داحدیث غریب دی.

تسهیلات: قوله: مَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ عَلَى رَجُلٍ خَيْرٍ مِنْ عُمَرَ

اشکال: دَدې حدیث نه معلومیږی چه دآسمان لاندې حضرت عمر ﷺ دَ ټولو نه افضل دې حالانکه دَ امت اجماع ده چه "افضل البشر بعد الانبياء بالتحقيق ابوبكر الصديق" دې؟

داشکال دوه جوابونه: ① دَ حضرت عمر ﷺ دا افضلیت دَ هغوی دَ عدالت سیاست او تدبیر اوتدبر سره متعلق دې لکه چه دا جزئی فضیلت دې دَ صدیق اکبر ﷺ فضیلت کلی دې.
② دا افضلیت او اوچتوالې دَحضرت صدیق اکبر ﷺ دَدور نه پس دَحضرت عمر ﷺ دور سره متعلق دې لکه چه عمر ﷺ په خپل دورکښې دَټولو نه افضل وو.

[١] اخرجه الترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٦٨٤)

[٦٠٤٧] دحضرت عمر رضی الله عنه لوئی منقبت

٦٠٤٧-() [٥] [١] وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] «لَوْ كَانَ بَعْدِي نَبِيٌّ لَكَانَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] او حضرت عقبه ابن عامر رضی الله عنه وايي رسول کريم ﷺ وفرمايل [٢] که زما نه وروسته بل څوک نبي وې نو هغه به عمر رضی الله عنه وو دا روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يې دي چې داحديث غريب دی.

تسهيلات:

قوله: لَوْ كَانَ بَعْدِي نَبِيٌّ لَكَانَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ

عمر رضی الله عنه کښې د نبوت د استعداد وجوه: څنګه وړاندې په تفصيل سره ليکلي شوي دي چه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دَغيبي نظام اوتکوينيات سرې وو دلته چه دَهغوی کوم منقبت بيان کړې شوې دې په هغې کښې دې طرف ته اشاره ده کيدې شی چه دَاستعداد په حواله سره حضرت عمر رضی الله عنه دَ نبوت دَ سلسله سړې وو مګر نوې نبوت ختم شوې دې په دې وجه به نبی نه راځي اوکله چه حضرت عمر رضی الله عنه دَ حضورپاك نه پس نبی نه شی جوړيدې نودَ بل چا خوهډو سوال نه پيدا کيږي. لهذا غلام احمد قادياني دروغژن او دجال دې.

[٦٠٤٨] دشيطان د عمر رضی الله عنه څخه ويريدل

٦٠٤٨-() [٣] [١] وَعَنْ بُرَيْدَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: «خَرَجَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي بَعْضِ مَغَازِيهِ [٢] فَلَمَّا انْصَرَفَ جَاءَتْ جَارِيَةٌ سَوْدَاءُ. [٣] فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ! إِنِّي كُنْتُ نَذَرْتُ إِنْ رَدَّكَ اللهُ صَالِحًا أَنْ أَضْرِبَ بَيْنَ يَدَيْكَ بِالدُّفِّ وَأَتَغَنَّى [٤] فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (إِنْ كُنْتِ نَذَرْتِ فَاضْرِبِي، [٥] وَإِلَّا فَلَا) فَجَعَلَتْ تَضْرِبُ،

ترجمه: [١] او حضرت بريده اسلمي رضی الله عنه بيان دی يو ځل رسول کريم ﷺ جهاد ته تشريف وړی وو [٢] کوم وخت چې حضور ﷺ واپس تشريف راوړی نو يوه توررنګی جينۍ چې ياخو ترو رنګی وه ياحبشي النسل وه خدمت اقدس کښې حاضره شوه [٣] وهغه اوويل يارسول الله مانذر منلی دی که الله تعالی تاسو دجهاد دسفر نه فتح اوسلامتي سره واپس راوستی نوزه به ستاسو ﷺ په مخکې دريا (تنبل) وهم اودفتح اوسلامتيا دخوشحالي سندري به وايم [٤] حضور ﷺ هغه ته وفرمايل که تا واقعي نذر منلی دی نودريا (تنبل) وغږوه [٥] ګينی داسې مه کوه هغه انجلۍ (منځی) واقعي نذر منلی وو څکه تنبل غږول يې شروع کړل

¹ اخرجه الترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-٣٦٨٦) واحمد فی المسند: ١٥٤/٤
² اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-٣٦٩٠) واحمد فی المسند: ٣٥٣/٥

حل اللغات:- ①بِالدُّفِّ: هُوَ مَا يُطَبَّلُ بِهِ: د غږولو آله، طمبل، دوړیږ ②وَأَتَغَنَّى: د واحد متکلم صیغه ده، یعني سندري او لوبې به وائم.

①فَدَخَلَ أَبُو بَكْرٍ وَهِيَ تَضْرِبُ، ثُمَّ دَخَلَ عَلِيٌّ وَهِيَ تَضْرِبُ، ثُمَّ دَخَلَ عُثْمَانُ وَهِيَ تَضْرِبُ، ②ثُمَّ دَخَلَ عُمَرُ فَأَلْقَتِ الدُّفَّ تَحْتَ اسْتِهَا ثُمَّ قَعَدَتْ عَلَيْهَا، ③فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (إِنَّ الشَّيْطَانَ لَيَخَافُ مِنْكَ يَا عُمَرُ! ④إِنِّي كُنْتُ جَالِسًا وَهِيَ تَضْرِبُ، فَدَخَلَ أَبُو بَكْرٍ وَهِيَ تَضْرِبُ، ثُمَّ دَخَلَ عَلِيٌّ وَهِيَ تَضْرِبُ، ثُمَّ دَخَلَ عُثْمَانُ وَهِيَ تَضْرِبُ، ⑤فَلَمَّا دَخَلْتَ أَنْتَ يَا عُمَرُ أَلْقَتِ الدُّفَّ)». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① دي کښې ابوبکر ﷺ مسجد نبوي کښې داخل شو لیکن هغه انجلۍ تنبل وهلو کښې مشغوله وه بیا علي ﷺ راغی او هغې هغه وخت هم تنبل غږوله بیا عثمان ﷺ راغی بیا هم هغه خپل تنبل غږول جاري وساتل ②بیا چې عمر ﷺ راغی نو هغې د هغه د هیبت نه په چابکي سره تنبل د خپلو کوناټو لاندې کړه او د کوناټو په زور داسې کیناستلو چې تنبل لاندې پټه شي او د عمر ﷺ نظر په ونه لګیږي ③په دې رسول کریم ﷺ وفرمایل عمر ﷺ ستا نه خو شیطان هم خوفزده وي ④دې انجلۍ زما په موجودګۍ کښې تنبل غږول بیا ابوبکر ﷺ راغی نو هغه وخت یې هم غږوی بیا علي ﷺ راغي نو هغه وخت یې هم تنبل غږوی بیا عثمان ﷺ راغی نو هغه وخت یې هم تنبل غږول خو ای عمره ﷺ هر کله چې ته راغلي نو دې انجلۍ دریا (تنبل) پټه کړه دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی.

حل اللغات:- ②فَأَلْقَتِ: اوئې غورزولو طمبل، ②اسْتِهَا: أَيْ أَلْيَتِهَا: کوناټې د هغې.

تسهیلات:

قوله: بِالدُّفِّ: فصیح لغت کښې دَ دف په دال باندې زبر ونیلی کیږي او فاء ساکن ده. دلته دَدې حدیث دَ مضمون نه په ذهن کښې دوه سوالونه پیدا کیږي؟

اول اشکال: دلته دَدې حدیث دَ مضمون نه په ذهن کښې دا سوال پیدا کیږي چې دف یعنی تنبل وهل څه عبادت نه دي دَدې نذر او منخته څنګه اوکړې شوه؟ نذر خو دَ هغه څیز منلې شي د کوم مثال چه په عبادات او ماموراتو کښې موجود وي؟

د اول اشکال جواب: چونکه معامله دَ جهاد وه نو جهاد له تلل فتح حاصلول د ښمن تختول دَ الله تعالی په زمکه باندې دَ الله تعالی قانون نافذ کول دا ټول عبادتونه دي. په دې وجه دَدې نذر صحیح ګرځولې شوې دی او دَ یو حد پورې دف اونغاره غږول او نذر پوره کول برداشت کړې شوي. دا معامله دَ ناجائز نه وتلو سره دَ مباح په زمره کښې راغله.

دویم اشکال: دلته دَدې حدیث دَ مضمون نه په ذهن کښې دا سوال پیدا کیږي چې دف اونغاره غږول په لهو او لغو کارونو کښې شمیرلې کیږي نو دَ حضورپاک په مخکښې څنګه دا کار اوکړې شو؟

۵ دویم اشکال جواب: دَ جهاد په خوشحالئی کښې دَ حضورپاك صحيح سالم واپس کيدل اوفتح حاصلولو په خوشحالئی کښې دف غږول دَ لهولعب نه خارج شو اوهغه وينځې په يوبنه بنياد او اخلاص سره دَا کار اوکړو په دې وجه دَ يوحد پورې برداشت کړې شو. ليکن دَحضرت عمر رضی الله عنه دَ راتلو وخت کښې کيدې شي دَ دغه اباحت وخت ختم شوې وو په دې وجه حضورپاك دَ حضرت عمر رضی الله عنه دَ شان باره کښې اوفرمائيل چه تا نه شيطان ويريږی اوبله لار اختياروی

[۶۰۴۹] دعمر رضی الله عنه څخه دانسي او جني شيطانا نو تيښته

۶۰۳۹ -() [۳] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - جَالِسًا، [۲] فَسَمِعْنَا لَغَطًا وَصَوْتَ صِبْيَانٍ. [۳] فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَإِذَا حَبَشِيَّةٌ تَزْفِنُ وَالصِّبْيَانُ حَوْلَهَا، [۴] فَقَالَ: (يَا عَائِشَةُ! تَعَالَيْ فَانْظُرِي) [۵] فَجِئْتُ فَوَضَعْتُ لَحْيَيَّ عَلَى مَنْكِبِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ إِلَيْهَا. مَا بَيْنَ الْمَنْكِبِ إِلَى رَأْسِهِ. [۶] فَقَالَ لِي: (أَمَا شَبِعْتِ؟ أَمَا شَبِعْتِ؟)

ترجمه: [۱] اوبي بي عائشه رضی الله عنها وايي [۲] يوه ورځ رسول کريم ﷺ ما سره ناست وو [۳] چانك يو دشور نه ډك اواز زمونږ غوږونو ته راغي بيامونږ دبچو شور واوريدی [۴] رسول کريم ﷺ دي پوهيدو دپاره چې داڅه شوردی اودريدلو حضور ﷺ وليدل چې بهر يوه حبشي ښځه توپونه وهي رقص کوي اودهغه څلور طرف ته بچي ولاړدي تماشه ګوري [۵] حضور ﷺ زه مخاطب کولو سره وفرمايل اې عائشي راسه داتماشه ته هم وګوره نوزه راپاڅيدم حضور ﷺ سره ودريدم اوخپل اننګې مې دحضور ﷺ اوږه اېښودلو سره دحضور ﷺ داوږې اودسرپه منځ کښې مې دهغه ښځې تماشه کتله [۶] لږ لږ ساعت وروسته به حضور ﷺ زما نه پوښتنه کوله اياته مړه شوی نه يې ايا اوس لاستا زړه موړ شوی نه دی

حل اللغات:- ① لَغَطًا: أي: صَوْتًا شَدِيدًا لَا يُفْهَمُ: داسې زور آور اوتيز آواز ته لغط وائی په کوم سره چه څه خبره په پوهه کښې نه راځی صرف شور وی ② تَزْفِنُ: دَ ضرب يضرب نه دَمؤنث صيغه ده، أي: تَرْقُصُ: سخته ديکه ورکول اوتوپونه وهل او لته وهلو ته زفن وائی اوګډا ته هم وائی مګر دلته به دَ ګډا معنی صحيح نه وی ③ لَحْيَيَّ: د لَحْي تثنيه ده، أي مَنْبَتَ الْأَسْنَانِ: دمخ هغه حصه کوم ځائې چه غانبونه راځيجی، اننګی، ژامه ④ أَمَا شَبِعْتِ؟: آيا مړه نه شوې، (يعنی په تماشه کولو دې زړه موړ نه شو)

[۱] فَجَعَلْتُ أَقُولُ: لَا، لِأَنْظُرَ مَنْزِلَتِي عِنْدَهُ، [۲] إِذْ طَلَعَ عُمَرُ فَارْفَضَّ النَّاسُ عَنْهَا، [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - (إِنِّي لَأَنْظُرُ إِلَى شَيَاطِينِ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ قَدْ فَرُّوا مِنْ عُمَرَ). [۴] قَالَتْ: فَرَجَعْتُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.

[۱] اخرجه الترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۶۹۱)

ترجمه:[۱] اومابه جواب ورکوی نه اوس لاړه نه یم مړه شوی دراصل مادا معلومول غوښتل چې دحضور ﷺ په زړه کښې زما څه مقام دی اوحضور ﷺ ما سره څومره محبت کوی [۲] بیاناڅاپه عمر ﷛ راښکاره شو نوهغه خلق چې دهغې ښځې تماشه یې کتله محض دهغه دهیبت نه یا دهغه دویرې نه چې عمر ﷛ به دا تماشه کتل خوښه نه کړي دهغه لیدو سره تس نس شول [۳] دې لیدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل زه وینم چې دانسانانو اوجناتو شیطانان دعمر ﷛ دخوف نه څرنګه اخوا دیخوا تښتي [۴] بیبي عائشه ﷛ وایي دې نه وروسته زه هم ذهغه خایه لرې شوم داروایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یې دي چې داحدیث حسن صحیح غریب دی .

حل اللغات:-⑤مَنْزِلَتِي :أَيْ: نِهَايَةُ مَرْتَبَتِي: زما مرتبه اومقام، (او ماسره د نبي علیه السلام مینه اومحبت)، ⑨فَارْفَضَّ :أَيْ:تَفَرَّقَ النَّظَّارَةُ: تس نس شوه دغه نظاره، ⑥فَرُّوا: تختي، منډې وهي.

تسهيلات:

قوله: إِذْطَلَعَ عُمَرُفَارْفَضَّ النَّاسُ عَنْهَا،

د جمال او جلال مشاهده: په دې حدیث کښې چه کوم څه بیان کړې شوی دی ممکن دی چه دَ جواز په حد کښې څه تماشه وه یا دَ جهاد مشق وو. په دې وجه حضورپاك هم اوکتلو او حضرت عائشه ﷞ ته ئې هم اوخودلو. په حضورپاك باندې دَ جمال اوکمال رنګ غالب وو نوتماشه روانه وه. په حضرت عمر ﷛ باندې دَ رعب او جلال غلبه وه او هسې هم دا لویه اوس دَ ضرورت نه زیاتیدله په دې وجه دَ حضرت عمر ﷛ په راتلو سره ټول هرڅه ګډوډ شو

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۶۰۵۰] دعمر ﷛ درې موافقات قرآنی

۶۰۵۰-(۱) [۱] عَنْ أَنَسٍ وَابْنِ عُمَرَ، أَنَّ عُمَرَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ- قَالَ: [۲] وَافَقْتُ رَبِّي فِي ثَلَاثٍ: [۳] قُلْتُ: يَارَسُولَ اللَّهِ لَوِ اتَّخَذْنَا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى؟ [۴] فَنَزَلَتْ: ﴿وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى﴾ [البقرة: ۱۲۵]. [۵] وَقُلْتُ: يَارَسُولَ اللَّهِ، يَدْخُلُ عَلَى نِسَائِكَ الْبَرُّوَالْفَاجِرُ، فَلَوْأَمَرْتَهُنَّ يَحْتَجِبْنَ؟

ترجمه:[۱] حضرت انس ﷛ اوحضرت ابن عمر ﷛ وایي چې حضرت عمر ﷛ وفرمایل [۲] درې خبرو کښې زما د پروردګار حکم زما درایې مطابق نازل شو [۳] ولنې خوداچې ماعرض کړی وو یارسول الله که مقام ابراهیم دمونځ کولو ځای جوړ کړل شي نوبهتر به وي یعنی دکعبې دطواف نه وروسته چې دوه رکعاته کیږی که هغه مقام ابراهیم سره کیږی نوبهتر به [۴] وي نودا آیت نازل شو (وَاتَّخِذُوامِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى) اومقام ابراهیم دمونځ کولو

[۱]) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۴۰۲ واحمد في المسند رقم الحديث ۱/ ۲۳

خاي جوړ کړی [۵] او دویمه خبره داچې ما عرض کړی وو یارسول الله ﷺ ستاسو دازواج مطهراتو مخکې نیک اوبد هرقسم خلق راځي اوداخبره زه ستاسو دشان عظمت مناسب نه ګڼم که تاسو ازواج مطهراتو ته پرده کښې داوسیدو حکم ورکړی چې دغیر محرمو خلقو مخکې دهغوی راتلل بندسي نوبهتربه وي

حل اللغات:- ① وَافَقْتُ: د واحد متکلم صیغه ده، موافقت اوکړو ما، ② الْبَرُّ: دا د بَارٌ نه دي. وَهُوَ الصَّالِحُ: نیک او دیندار سړی ته وائي. ③ الْفَاجِرُ: أي الْفَاسِقُ: نافرمان، بدعمله

[۱] فَنَزَلَتْ آيَةُ الْحِجَابِ، [۲] وَاجْتَمَعَ نِسَاءُ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي الْغَيْرَةِ، [۳] فَقُلْتُ: ﴿عَسَىٰ رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبْدِلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ﴾ [التحريم: ۵]، فَنَزَلَتْ كَذَٰلِكَ.

ترجمه: [۱] نوزما په دې عرض کولو دپردې آیت نازل شو [۲] او دریمه خبره داچې کوم وخت دنبي کریم ﷺ بیبیانو درشک وغیرت واله معامله باندې اتفاق کړی وو [۳] نوما هغوی تولې مخاطب کولو سره ورته ویلي وو که حضور ﷺ تاسو له طلاق درکړی نودهغوی پروردګار به ډیر ژر ستاسو بدله کښې هغوی ته ستاسو نه بنې بیبیانې ورکړي نوزما دې الفاظو اومفهوم کښې آیت نازل شو

حل اللغات:- ④ الْغَيْرَةِ: غیرت،

۶۰۵۰-() [۱] وَفِي رِوَايَةٍ لِابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - [۲] قَالَ: قَالَ عُمَرُ: وَافَقْتُ رَبِّي فِي ثَلَاثٍ: [۳] فِي مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ، وَفِي الْحِجَابِ، وَفِي أُسَارَى بَدْرٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] اوحضرت ابن عمر ﷺ یوبل روایت کښې داسې دي [۲] دهغوی بیان دی چې حضرت عمر ﷺ وفرمایل دري خبرو کښې زما دپروردګار حکم زما درایې مطابق نازل شو [۳] یوخو مقام ابراهیم دمونځ ادا کولو ځاي ګرځولو باره کښې دویم دحضور ﷺ دبیبیانو دپردې باره کښې اودریم دبدر قیدیانو باره کښې . (بخاري ومسلم)

تسهیلات:

قوله: وَافَقْتُ رَبِّي:

د موافقت ربي معنی: دموافقت مطلب دادې چه کومه خبره اوکوم حکم دَ الله تعالی په نیز دَ غیب پرده کښې مقرر وو اودَ الله تعالی دَ مرضئی او اراده موافق وو دَهغې دَ بنکاره کیدونه مخکښې دَحضرت عمر ﷺ په زړه باندې دَهغې ظهور اوشو اوحضرت عمر ﷺ دَهغې اظهار اومطالبه اوکړه. بیا الله تعالی هم دَحضرت عمر ﷺ دَمرضئی مطابق هغه حکم دَوحی په ذریعه حضورپاك ته اوخودلو. دَدې معامله نه هم واضح کیږی چه حضرت عمر ﷺ دَ تکوینیات دَ خلقو نه وو.

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل عمر رضی الله تعالی عنه (رقم-۲٤ - (۲۳۹۹)

د عمر رضی الله عنه د الله په حق کښې ادب او احترام: دلته چه دَ حضرت عمر ﷺ ادب ته اوکتلې شی نو عقل حیرانیږی ځکه چه هغوی "وافقنی ربی" نه دی فرمائیلی حالانکه حقیقت هم دغه شان وو مګر دَ ادب په توګه هغوی اوفرمائیل وافقت ربی یعنی ما په یو څو امورو کښې دَ خپل رب دَ مرضئ مطابق خبره کړې اوزما رائې زما دَ رب رائې سره موافق شوې.

قوله: فِي ثَلَاثٍ:

د ثلاث په قید کښې عدم حصر: دلته دَ دریو خبرو ذکر دې. دَدې نه حصر بیانول مقصود نه دی بلکه په دې حدیث کښې دَ موقع اومحل په اعتبارسره دَ دریو بیانول مطلوب وو ګنی موافقات عمر دَ پنځلسو نه زیات دی. علماء امت په موافقات عمر باندې ډیر کتابونه لیکلی دی. علامه سیوطی ﷺ دَ شلو موافقات عمر ذکر کړې دې.

قوله: فِي الْغَيْرَةِ:

د سورة تحریم واقعې ته اشاره: په دې لفظ کښې دَ عسل واقعه طرف ته اشاره ده کومه چه مشهوره واقعه ده. په دې کښې دَ سورت تحریم دَ شروع آیاتونه نازل شوی. حضرت عمر ﷺ دَ آیاتونو دَنازلیدلو نه مخکښې دَ ازواج مطهرات په وړاندې چه کوم څه واوړول دَ قرآن آیت هم هغه شان نازل شو. دغه شان دَافك په واقعه کښې حضرت عمر ﷺ اووئیل "سبحانك هذا بهتان عظیم" روستو بیا دَ قرآن آیت دغه شان نازل شو.

[٦٠٥٢] څلور احکام اود عمر رضی الله عنه موفقت

٦٠٥٢-() [٥] [١] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] فُضِّلَ النَّاسَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ بِأَرْبَعٍ: بِذِكْرِ الْأُسَارَى يَوْمَ بَدْرٍ، أَمَرَ بِقَتْلِهِمْ، [٣] فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: ﴿لَوْلَا كِتَابٌ مِنَ اللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ [الأنفال: ٦٨] [٤] وَبِذِكْرِهِ الْحِجَابَ، أَمَرَ نِسَاءَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ يَحْتَجِبْنَ، [٥] فَقَالَتْ لَهُ زَيْنَبُ: وَإِنَّكَ عَلَيْنَا يَا ابْنَ الْخَطَّابِ وَالْوَحْيُ يَنْزِلُ فِي بُيُوتِنَا؟

ترجمه: [١] اوحضرت ابن مسعود ﷺ وایي [٢] حضرت عمر ابن خطاب ﷺ ته په نورو دڅلور خبرو په سبب خصوصي فضیلت حاصل دی یوه خبره خودجنګ بدر دقیدیانو بابت دهغوی رایې وه دهغوی داوینا وه چې هغه قیدیان دې قتل کړی شی [٣] والله تعالی داآیت نازل کړو (ایت) که الله تعالی یوه نوشته مقرر کړې نه وې چې دخطا اجتهادې مرتکب به مستوجب عذاب نه وي یاداچې اهل بدر مغفور دی نوکوم امر چې تاسو اختیار کړی دی دهغه باره کښې به په تاسو څه لویه سزا واقع کیده [٤] دویمه خبره دپردې بابت کښې دهغوی مشوره ورکول وو هغه دنبي کریم ﷺ ازواج مطهرات پرده کښې اوسیدوته متوجه کړې وې [٥] اودهغه توجه ورکولو باندې ام المؤمنین بي بي زینب ﷺ هغه ته ویلې وه چې اې عمر

[1] (اخرجه احمد فی المسند: ۱/۴۵۶)

ابن خطاب ﷺ پرده كښي داوسيدو خبره ته مونږ ته كوي حالانكه وحي زمونږ كوركي نازليږي

حل اللغات:- ① كِتَابٌ: أي: مَكْتُوبٌ أَوْحُكْمٌ: دكتاب نه مراد مكتوب يعني حكم ليكل دی په لوح محفوظ كښي،

[۱] فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالَى: ﴿وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ﴾ [الأحزاب: ۵۳] [۲] وَبِدَعْوَةِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (اللّٰهُمَّ أَيِّدِ الْإِسْلَامَ بِعُمَرَ). [۳] وَبِرَأْيِهِ فِي أَبِي بَكْرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- كَانَ أَوَّلَ نَاسٍ بَايَعَهُ. رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] اوبيا الله تعالى داوحي نازله كړه (ايت) اوهركله چې تاسو دازواج مطهراتو نه څه شی غواړی نودپردي نه يي آخوا غواړی [۲] دريمه خبره هغه دعاوه چې دهغه په حق كښي نبی كريم ﷺ غوښتلي وه چې الٰهي دعمر ﷺ په ذريعه اسلام ته تقويت وركړي [۳] اوڅلورمه خبره دابوبكر ﷺ په حق كښي دهغوی رايي وه هغوی دحضرت ابوبكر ﷺ دخليفه اول جوړولو تجويز پيش كولو سره ډيرنازك وخت كښي دټولو مسلمانانو بروخت رهنمايي وكړله اودخپل زبردست قوت اجتهاد په ذريعه هغوی دخلافت اول اهل اومستحق ګڼلو سره دټولوڅخه اول هغوی دابوبكر ﷺ په لاس بيعت وكی اوبيا دهغوی پيروي كښي نورو ټولو خلقو خلافت صديق باندې بيعت وكړو (احمد)

حل اللغات:- ② مَتَاعًا: اسباب، څيزونه. ③ أَيِّدْ: أي: أَعِزَّةً: عزت وركړي (يعنی داسلام مدد اوكړي اومضبوط ئې كړي)

تسهيلات: قوله: الْأُسَارَى يَوْمَ بَدْرٍ:

د جنګ بدر د قيديانو باره كښي دعمررضی الله عنه رائې: په ۲ هجرى كښي چه كله دَ جنګ بدرواقعه پيښه شوه نوالله تعالی مسلمانانوته فتح عظيم ورنصيب كړه. لوئی لوئی اوبيا كافران مړه كړې شول او اوياګرفتاركړې شول. په مدينه منوره كښي دَدې قيديانوباره كښي حضورپاك دَصحابه كرامونه مشوره اوغوښتله چه دوی نه فديه اخستلوسره پريخودې شی كه قتل كړې شی. حضرت عمرفاروق ﷺ اوفرمائيل يارسول الله داخلق دكافرانومشران دی ته زماهَ خاندان خلق زما په لاس كښي راكړه دې دَپاره چه زه هغوی قتل كړم بلكه دَهرخاندان والادې خپل خپل رشته داران قتل كړی. دغه شان به په كافرانوباندې دَاسلام رعب كينی اودكفرجرړه به پريږي شی.

دجنګ بدر دقيديانوباره كښي د صحابؤ رايه: دَحضرت عمرفاروق ﷺ برعكس دَعامو صحابه كرامو او حضورپاك رائې داوه چه دوی نه فديه واخلی او پريخودې شی. الله تعالی حضورپاك ته دَ فديه اخستلو اوقتل كولو كښي اختياروركړې وو مګرشرط داووچه وراندې كال كښي به ستاسو اوياكسان وژلې شی. په دې باندې حضرت عمر ﷺ سخت

ناراض وو مګر د عام صحابه کرامو په رائې باندې عمل اوکړې شو
په کوم چه الله تعالى د سختې ناراضګئى اظهار اوکړو او د حضرت عمر ﷺ د رائې موافق ئې حکم راؤليګلو چه داسې کول پکار وو. حضور پاك اوفرمائيل که عذاب راغلې وې نو د عمر نه بغير به څوك بچ شوې نه وې.

قوله: لَوْلَا كِتَابٌ مِنَ اللهِ

د كتاب من الله په تفسير كښې اقوال: ① كتاب من الله يعنى په لوح محفوظ کښې ليکلې شوې وو چه د مجتهد په غلطئى باندې مواخذه نه وى
② اهل بدر د اول نه معاف دى د دوى مواخذه به نه کيږى
③ الله تعالى د دواړو خبرو اجازت ورکړې وو چه فديه واخلئى يائې قتل کړئى په دې وجه عذاب رانغلو ګنى عذاب رابنکاره شوې وو. د قرآن پاك آيت دې

﴿ مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُوْنَ لَهٗ أَسْرٰى حَتّٰى يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ ۚ تُرِيْدُوْنَ عَرَضَ الدُّنْيَا ۖ وَاللهُ يُرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ۗ وَاللهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝ لَوْلَا كِتٰبٌ مِّنَ اللهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيْمَآ أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝ ﴾

قوله: وَبِرَأْيِهِ فِي أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

دابوبكر د خلافت په بيعت د عمر رضى الله عنه ابتداء: يعنى د عمر فاروق ﷺ رائې وه چه د حضور پاك نه پس خليفه ابوبكر صديق ﷺ کيدل پکار دى. هغوى په سقيفه بنى ساعده کښې يو څو دلائل ورکړه اوبيائې د حضرت صديق اکبر ﷺ لاس اونيولو بيعت ئې اوکړو بيا ټولو بيعت اوکړو.

[۶۰۵۳] د عمر ﷺ په جنت کښې اوچت مقام

۶۰۵۳-(¹)[۸] ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «ذَاكَ الرَّجُلُ أَرْفَعُ أُمَّتِي دَرَجَةً فِي الْجَنَّةِ». ③ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ: وَاللهِ مَا كُنَّا نُرَى ذَلِكَ الرَّجُلَ إِلَّا عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ ④ حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت ابوسعيد خدري ﷺ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ② د غه سړى زما په امت کښې د جنت بلند ترمقام اومرتبه لرونکي دي ③ د ابوسعيد ﷺ بيان دى چې هغه سړي چې د هغه ذکر رسول الله ﷺ دي حديث کښې وفرمايي باره کښې په الله قسم چې زمونږ خيال دي نه علاوه بل څه نه وو چې دي نه د حضرت عمر ﷺ ذات مراد دى ④ و حضرت عمر ﷺ چې خوږوري دي دنياکي وو مونږ په دي خيال قائم وو. (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① أَرْفَعُ: لوړې مقام والا، اوچتې مرتبې والا. ② مَضَى لِسَبِيلِهِ: أَيْ: مَاتَ: په خپله لار روان شو يعنى وفات شو.

---

¹) اخرجه ابن ماجة رقم الحديث ۱۰۷۷

تسهیلات:

قوله: مَا كُنَّا نُرَى ذٰلِكَ الرَّجُلَ إِلَّا عُمَرَبْنَ الْخَطَّابِ

د مذکوره قول مطلب: دَ حضرت ابوسعید ﷺ دَدي قول حاصل دادي چه مونږ به دا ګنړل چه دَ دجال مقابله کونکې به حضرت عمر ﷺ وی اودَ دجال په لاس به حضرت عمر ﷺ قتل کیږی مګر چه کله عمر ﷺ شهید شو نو بیا په مونږ باندې واضحه شوه چه دَ دجال دَ لاس نه به دَ حضرت عمر ﷺ نه علاوه بل یوکس شهید کیږی.

[٦٠٥٤] نیکو کارونو کښې دټولو نه زیات سرګرم

٦٠٥٥-() [١٧] ① وَعَنْ أَسْلَمَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: سَأَلَنِي ابْنُ عُمَرَ بَعْضَ شَأْنِهِ -يَعْنِي عُمَرَ- ② فَأَخْبَرْتُهُ، ③ فَقَالَ: مَا رَأَيْتُ أَحَدًا قَطُّ بَعْدَ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مِنْ حِينِ قُبِضَ كَانَ أَجَدَّ وَأَجْوَدَ حَتَّى انْتَهَى مِنْ عُمَرَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.[١]

ترجمه: ① اوحضرت اسلم (چې دحضرت عمر فاروق ﷺ ازاد کرده غلام اوتابعي دي وايي چې حضرت ابن عمر ﷺ یوه ورځ زما نه دحضرت عمر فاروق ﷺ څه احوال اوخصائل معلومول وغوښتل ② نوما هغوی ته ډیري خبري وخو دلي ③ نو هغه او ویل چې درسول اکریم ﷺ درحلت نه وروسته ما دحضرت عمر ﷺ نه زیات هیڅ سړی نه دی لیدلی چې دخپل ژوند آخري لمحو پوري نیکو کارونو کې دټولوڅخه زیات سرګرم اودټولوڅخه زیات نیک وي (بخاري)

حل اللغات:- ① أَجَدَّ: أَيْ: أَجْهَدَ فِي الدِّينِ: یعنی په دین کښې دَټولو نه زیات کوشش کونکې حضرت عمر ﷺ وو ② أَجْوَدَ: أَيْ: أَحْسَنَ فِي طَلَبِ الْيَقِينِ: یعنی په نیکو کارونو کښې د زړه په محنت او ښکلی یقین سره کار کول

تسهیلات:

قوله: وَعَنْ أَسْلَمَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ.

دحضرت اسلم تعارف: حضرت اسلم ﷺ دَحضرت عمر ﷺ غلام اوخاص خادم وو. هم په دې وجه حضرت ابن عمر ﷺ دهغوی نه دَ خپل والدماجد حضرت عمر ﷺ خصوصی احوال پيژندل غوښتل ځکه چه اکثر خادم ته هغه څه معلوم وی چه خونی ته معلوم نه وی

قوله: فَقَالَ:

د فقال د قائل مصداق: دَدې قال فاعل اسلم ﷺ دي اودا جمله دَ اخبرته تفصيل دې. بعضې نسخوکښې قال دې که چرې دا لفظ فقلت وي نوکنت به آسان وي. بهرحال پوره بيان د اسلم دي

---

[١] اخرجه البخاري في كتاب المناقب /باب مناقب عمر بن الخطاب أبي حفص القرشي العدوي رضي الله عنه (رقم-٣٦٨٧)

قوله: حَتّٰی انْتَهٰی مِنْ عُمَرَ:

د مذکوره مفهوم: په دې جمله باندې د پوهیدلو دپاره به اصل عبارت ته کتلې شي اصل عبارت داسې دی. "مارأيت احداً احد واجود من عمر حتى انتهى عمر اي مضى لسبيله."

اشکال ددې حدیث څخه معلومیږي چې په صحابو کښې د ټولو څخه افضل حضرت عمر وو

د اشکال دوه جوابونه: ① دا ټول فضائل جزئي دي جزئي فضیلت د عمر فاروق ﷺ دی اوعام فضیلت د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ دی

② د حضرت عمر ﷺ دا فضیلتونه هغه زمانې سره تړلي دي کوم وخت چه د حضرت ابوبکر ﷺ انتقال شوی وو ملاعلي قاري ﷫ "قال السيوطي اي في زمن خلافته لاخرج ابوبكر."

[٦٠٥٥] عمر رضي الله عنه ته تسلي ورکول

٦٠٥٥ [۱۸] [۱] وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: لَمَّا طُعِنَ عُمَرُ جَعَلَ يَأْلَمُ، فَقَالَ لَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ وَكَأَنَّهُ يُجَزِّعُهُ: [۲] يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، وَلَا كُلَّ ذٰلِكَ؟، لَقَدْ صَحِبْتَ رَسُولَ اللّٰهِ، فَأَحْسَنْتَ صُحْبَتَهُ، ثُمَّ فَارَقَكَ وَهُوَ عَنْكَ رَاضٍ، [۳] ثُمَّ صَحِبْتَ أَبَا بَكْرٍ فَأَحْسَنْتَ صُحْبَتَهُ، ثُمَّ فَارَقَكَ وَهُوَ عَنْكَ رَاضٍ، [۴] ثُمَّ صَحِبْتَ الْمُسْلِمِينَ فَأَحْسَنْتَ صُحْبَتَهُمْ، وَلَئِنْ فَارَقْتَهُمْ لَتُفَارِقَنَّهُمْ وَهُمْ عَنْكَ رَاضُونَ،[1]

ترجمه: [۱] اوحضرت مسور ابن مخرمه ﷺ وايي [۲] حضرت عمر فاروق ﷺ چې دابو لؤلؤ خنجر سره زخمي شو نودبې آرامی اظهار يې کوی يعنی دهغوی پوښتنه کونکوته داسې لګیده لکه چې فاروق اعظم ﷺ دزخم دسخت تکلیف نه بې ارامي کوي چې دهغه اظهاريې دکراه وغیره صورت کښې کوي حضرت ابن عباس ﷺ داصورت حال لیدو سره ګویا حضرت عمر ﷺ ته تسلي اوتشفي ورکړله [۳] و ورته يې اوويل امير المؤمنين ددې بې قراری اوبې ارامی اظهار ستاسو دشان سره مناسب نه دی تاسو خوهغه هستي يې چې درسول الله ﷺ دصحبت اورفاقت شرف درته حاصل شوي دي اوديرښه صحبت درته حاصل شوي دي په دې طور چې تاسو درفاقت رسول کامل حق ادا کړې اوټول تر آداب وشرائط پوره کولو سره دحضور ﷺ د صحبت اوخدمت نه فیضاب شوئ اورسول کریم ﷺ داسې حالت کښې ستاسو نه جدا شو چې ستاسو نه راضي اوخوشحاله وو چې دهغه ثبوت دا ارشاد درسول دی چې وي فرمايل که زما نه وروسته څوک نبي وې نوهغه به عمر ﷺ وو [۴] بيا دابوبکر ﷺ رفاقت ملګرتيا اومجالست تاسو ته نصيب شو اوهغوی سره هم ستاسو ملګرتيا ډيره ښه وه ددې پورې چې هغوی ستاسو نه جدا شول نو ستاسو نه خوشحاله وو ددې ثبوت دادی چې هغوی تاسو خپل جانشين منتخب کړلی اوبيا دخپل خلافت په زمانه کښې تاسو ته دمسلمانانو دخدمت اورفاقت موقع حاصله شوه اودهغوی

[1] اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب مناقب عمر بن الخطاب أبي حفص القرشي العدوي رضي الله عنه (رقم-٣٦٩٢)

دخدمت اورفاقت فریضه هم تاسو دیربنه شان سره ادا کړله چې مسلمانانو سره عدل اوانصاف او رعیت سره ښه سلوک اوکامیاب ترینې حکمرانې کښې ستاسو دنوم شهرت خلور ګوټه دنیاکې خور شو اوس که تاسو دمسلمانانو نه جدا کیږی نوداسې حال کښې جدا کیږی چې ټول مسلمانان ستاسو نه راضي اوخوشحاله دي

حل اللغات:- ① طُعِنَ: دمجهول صیغه ده، أي طَعَنَهُ أبُولُؤلُؤَة: زخمي کړې شو (ابولؤلؤ دمغیره بن شعبه غلام ووهغه حضرت عمر رضی الله عنه په نیزه زخمي کړې وو. ② یَأْلَمُ: أي: يُظْهِرُ أثَرَ أَلَمِهِ بِالْأَنِينِ وَنَحْوِهِ: الم دردته وائي یعنی حضرت عمرفاروق رضی الله عنه دَ زخم دَوجې نه سخت تکلیف او دَ فریاد اظهارکولو. ③ یُجَزِّعُهُ: أي يَنْسُبُهُ إلَى الْجَزَعِ وَيَلُومُهُ عَلَيْهِ: حضرت ابن عباس رضی الله عنهما حضرت عمرفاروق رضی الله عنه په دې تکلیف اودرد باندې ملامته کولو.

[۱] قَالَ: أَمَّا مَا ذَكَرْتَ مِنْ صُحْبَةِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَرِضَاهُ فَإِنَّمَا ذَلِكَ مَنٌّ مِنَ اللَّهِ مَنَّ بِهِ عَلَيَّ، [۲] وَأَمَّا مَا ذَكَرْتَ مِنْ صُحْبَةِ أَبِي بَكْرٍ وَرِضَاهُ، فَإِنَّمَا ذَلِكَ مَنٌّ مِنَ اللَّهِ مَنَّ بِهِ عَلَيَّ. [۳] وَأَمَّا مَا تَرَى مِنْ جَزَعِي، فَهُوَ مِنْ أَجْلِكَ وَمِنْ أَجْلِ أَصْحَابِكَ، [۴] وَاللَّهِ لَوْ أَنَّ لِي طِلَاعَ الْأَرْضِ ذَهَبًا لَافْتَدَيْتُ بِهِ مِنْ عَذَابِ اللَّهِ قَبْلَ أَنْ أَرَاهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] فاروق اعظم رضی الله عنه دې اوریدو سره وفرمایل اې ابن عباس رضی الله عنهما تا دحضور صلی الله علیه وسلم دصحبت اودهغوی درضا اوخوشنودې چې کوم ذکر کړی دی نوبلاشبه دا دالله تعالی یودیر لوی احسان دی چې هغه محض خپل فضل وکرم سره په ماکړې دي [۲] دغه شان تا د حضرت ابوبکر رضی الله عنه دصحبت اورفاقت او دهغوی دخوشنودې چې کوم ذکر کړی دی نوهغه هم دالله تعالی یولوی احسان دی چې دهغه په ذریعه هغه محض خپل فضل وکرم سره زه سرفراز کړم [۳] باقې شوه زمابې صبرې اوبې قرارې چې ته وینې نوددې تعلق دزخم تکلیف او درد اوبې ارامې سره نه دی بلکې درحقیقت داستا اوستا ددوستانو اوملګرو په سبب دی [۴] قسم په الله که ماسره دټولې زمکې برابر سونا سره زر وې نوزه به هغه دالله تعالی د عذاب بدله کښې قربان کړم دې نه مخکې چې زه الله یاد الله عذاب ووینم. صحیح البخاری

حل اللغات:- ④ مَنٌّ: أي: مِنَّةٌ عَظِيمَةٌ: لوئې احسان، انعام، ⑤ طِلَاعُ الْأَرْضِ: أي مَا يَمْلَؤُهَا: چه زمکه دکوی (دومره مال چه زمکه پرې ډکیږی)

تسهیلات:

قوله: طُعِنَ عُمَرُ:

د حضرت عمر رضی الله عنه د شهادت مختصر واقعه: مختصرقصه داسې ده چه مدینه منوره کښې مغیره بن شعبه رضی الله عنه یومجوسي غلام وو دکوم نوم چه فیروز وو اوکنیت ابولؤلؤ وو هغه شکایت کړې وو چه زما آقا مغیره بن شعبه رضی الله عنه په ماباندې زیات ټیکس لګولې دي. حضرت عمر رضی الله عنه هغه نه تپوس اوکړه چه ته کارڅه کوې؟ هغه ډیرې پیشې

اوهنرونه اوخودل. عمرفاروق رضي الله عنه اوفرمائيل تيكس دومره زيات نه دې ته ډير ماهر کاريګر ئې او ستا امدن زيات دې. مااوريدلى دى چه ته ډيره ښه ميچن جوړوې زما دپاره يوه ميچن جوړه کړه. ابولؤلؤ چونکه غصه وونوهغه اوونيل ښه ده زه به ستادپاره داسې ميچن جوړه کړم چه دنيا به ئې ياد لري. حضرت عمر رضي الله عنه چه دا واوريده نوونې فرمائيل "هذدني العبد" دې غلام خوماته د مرګ درکه راکړه. بيا د سحريه مونځ کښې ابولؤلؤ په حضرت عمر رضي الله عنه باندې حمله اوکړه دادچارشنبه ورځ وه ۲۷ذوالحجه ۲۳هجرى تاريخ وو درې ورځې هغوى زخمى وو او په اول محرم ۲۴هجرى هغوى د شهادت جام نوش کړو. دغه وخت دهغوى عمر ۶۳ کاله وو.

قوله: لَمَّا طُعِنَ عُمَرُ جَعَلَ يَأْلَمُ،

د يألم په معنى كښې دوه اقوال: ① عام شارحينو هم دغه مطلب بيان کړې دې زه هم دا منم ليکن د دې پوره حديث په کتلو اود دې په مضمون کښې غور کولونه معلوميږى چه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د امورخلافت اودې کښې د حقوق الله اوحقوق العباد باره کښې د بې آرامئ اظهار کولو. حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په مکمل توګه هغوى ته تسلى ورکړه.

قوله: وَكَأَنَّهُ يُجَزِّعُهُ:

د مذكوره جملې دوه مطلبونه: ① عام شارحينو ليکلى دى چه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما حضرت عمرفاروق رضي الله عنه په دې تکليف اودرد باندې ملامته کولو

② شيخ عبدالحق رحمه الله دذې مطلب دا بيان کړې دې چه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د حضرت عمرفاروق رضي الله عنه درد اوپريشانى ختموله او تسلى ورکوله. دا مطلب زيات واضح دې اود دې حديث بالکل موافق دې.

قوله: وَلَا كُلُّ ذٰلِكَ:

حضرت عمر ته تسلى وركول: ① يعنى اې اميرالمؤمنين ددې تولو پريشانو هيڅ ضرورت نشته دې نه دا بې قراره اود مستقبل ويره ستاسو د شان سره برابر ده. تاسو خوهغه هستى يئ چه دحضورپاك ملګرتيامو کړې ده

② د حضرت ابوبکر رضي الله عنه ملګرتيا مو کړې ده هغه دواړه تاسو نه راضى دى

③ بيا تاسو دمسلمانانوخدمت کړې د وفات نه پس به ان شاء الله ټول مسلمانان هم تاسو نه راضى اوخوشحال وى لهذا د پريشانئى ضرورت نشته دې

قوله: فَإِنَّمَا ذٰلِكَ مَنٌّ مِنَ اللّٰهِ مَنَّ بِهِ عَلَيَّ،

د عمر رضى الله عنه عاجزى: يعنى دحضورپاك خدمت يا د صديق اکبر رضي الله عنه خدمت داخود الله تعالى د طرف نه صرف احسان وو کوم چه په ما اوشو ماته چه کومه پريشانى ..

هغه ستاسو خلقو دوجې ده

قوله: فَهُوَ مِنْ أَجْلِكَ وَمِنْ أَجْلِ أَصْحَابِكَ،

① حضرت عمر فاروق ﷺ چې دابو لؤلؤ خنجر سره زخمي شو نودبي آرامی اظهار يې كوى يعنى دهغوى پوښتنه كونكوته داسې لګيده لكه چې فاروق اعظم ﷺ دزخم دسخت تكليف نه بي ارامي كوي چې دهغه اظهاريې دكراه وغيره صورت كښې كوي

② حافظ فضل محمد صاحب فرمائی عام شارحينوليكلى دى چه حضرت عمرفاروق ﷺ فرمائی زما دَ مرګ نه پس به دَفتنو دروازې كولاؤ شى لهذا ماسره ستاسو خلقو فكردې په دې وجه دَ بې آرامئ او اضطراب په كيفيت كښې يم چه ستاسو به څه كيږى؟

قوله: لَوْأَنَّ لِي طِلَاعَ الْأَرْضِ ذَهَبًا لَافْتَدَيْتُ بِهِ مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ قَبْلَ أَنْ أَرَاهُ

د مذكوره جملې مطلب: دا دَ طلوع څخه دې يعنى چه ماسره دومره سره زر وى دكومې نه چه دَزمكې مخ ډك شى. زه دَ الله تعالى دَ عذاب نه مخكښې مخكښې هغه خرچ كړم مګرچه دَعذاب شكل اونه ګورم.

د مرګ په وخت كښې د حضرت عمر فاروق اشعار: ملاعلى قارى ليكلى دى دَ حضرت عمر فاروق سر دَهغوى دَ ځوئى ابن عمر ﷺ په غيږكښې وو او هغوى دَ الله تعالى سره مناجات كښې دا شعرونيلو:

ظَلُوْمٌ لِنَفْسِيْ غَيْرَأَنِّيْ مُسْلِمٌ ・ أُصَلِّيْ صَلٰوةً كُلَّهَا وَصَوْمٌ

ترجمه ما په خپل ځان باندې ډير ظلم كړې دې مګر بياهم زه مسلمان يم خپل ټول مونځونه كوم اوروژه ساتم

د عمر فاروق ويره او اميد: حضرت عمرفاروق ﷺ دَ ويرې او اميد يو اوچته نمونه وه. فرمائى كه چرې په قيامت دا اعلان اوشى چه ټول انسانان به جنت ته ځى او يوسړې به دوزخ ته ځى نوماته به خطره وى چه چرته هغه زه شم اوكه چرې دا اعلان اوشى چه ټول انسان به دوزخ ته ځى صرف يوسړې به جنت ته ځى نوزما اميد دې چه هغه سړې به هم زه يم شيعه روافض دَحضرت عمر ﷺ دا ويره او اميد جذبه ته اودَهغه اخلاص ته په غلط نظر سره كتلى دى او هغه ئى دَ طعن موجب ګرځولو كوشش كړې دې رښتيا دى:

فَعَيْنُ الرِّضَاءِ عَنْ كُلِّ عَيْبٍ كَلِيْلَةٌ ・ وَلٰكِنَّ عَيْنَ السُّخْطِ تُبْدِيْ الْمَسَاوِيَا

ترجمه سړې چه كله دَ چانه خوشحال وى نوستركې دَهر عيب نه ړندې وى مګر ناراض ستركې ته صرف بدى ښكارى.

[۱۵] باب مناقب ابی بکر و عمر

دحضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنهما منقبونه

خلاصة الباب:

فيه اثنا عشر حديثاً مشتملة على عشر منقبات للشيخين:

① ذكر الشيخين مع النبي صلى الله عليه وسلم: ۱، ۲.

② كون الشيخين من أهل الجنة: ۳، ۸.

كون الشيخين سيدا كهول أهل الجنة: ۴.

③ حكم النبي صلى الله عليه وسلم بإقتداء الشيخين: ۵.

④ تبسم الشيخين للنبي صلى الله عليه وسلم: ۶.

⑤ بعث الشيخين مع النبي صلى الله عليه وسلم من القبور يوم القيامة: ۷.

⑥ كون الشيخين كالسمع والبصر: ۸.

⑦ كون الشيخين وزيرى النبي صلى الله عليه وسلم : ۹.

⑧ الإشارة إلى خلافة الشيخين: ۱۰.

⑨ ذكر حسنات الشيخين من النبي صلى الله عليه وسلم: ۱۲.

دصاحب مشکاة اسلوب: دصاحب مشکوة په مناقب کښې داطريقه ده چه هغوی انفرادی مناقب متعلق صحابی سره بيان کړی دی ليکن دا مناقب حديث مشترکه هم وی صاحب مشکوة مشترکه مناقب په جدا ابواب کښې راجمع کړی دی. چنانچه صديق اکبر رضی الله عنه او عمر فاروق رضی الله عنهما دَ انفرادی مناقب نه فارغيدو سره اوس دَدواړو مشترکه مناقب بيانوی دا يوبنه ترتيب دي.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۶۰۵۶] دابوبکر او عمر د يقين معيار

۶۰۵۲ -(۱) [۱] ۱ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ۲ «(بَيْنَمَا رَجُلٌ يَسُوقُ بَقَرَةً إِذْ أَعْيَا، فَرَكِبَهَا، ۳ فَقَالَتْ: إِنَّا لَمْ نُخْلَقْ لِهٰذَا، إِنَّمَا خُلِقْنَا لِحِرَاثَةِ الْأَرْضِ. ۴ فَقَالَ النَّاسُ: سُبْحَانَ اللّٰهِ، بَقَرَةٌ تَكَلَّمُ!). ۵ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (فَإِنِّي أُومِنُ بِهِ أَنَا وَأَبُوبَكْرٍ وَعُمَرُ) وَمَا هُمَا ثَمَّ.

[1] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الحروف والقراءات (رقم-۳۹۸۷) والترمذي في كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أبي بكر الصديق رضي الله عنه واسمه عبد الله بن عثمان ولقبه عتيق (رقم-۳۶۵۸) وابن ماجه في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل أبي بكر الصديق رضي الله عنه (رقم-۹۶) واحمد في المسند: ۲۶/۳

ترجمه: ۱ حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ يوسړی خپله غوا شړلو سره بوتله تلو تلو کښې چې هغه ستړی شو نوغوا باندې سور شو ۳ غوا ورته اوويل زمونږ تخليق دی کار يعني سورلۍ دپاره نه دی شوی مونږخو دزراعت اوکاشتکاري کار دپاره پيدا شوی يو ۴ خلقو يعنی دمجلس حاضرين دااوريدو سره داظهار تعجب په طور اوويل سبحان الله غوا هم خبري کوي حالانکه هغه بې زبانه څاروي دي ۵ په دي رسول کريم ﷺ وفرمايل زه په دي خبره ايمان راوړم اوابوبکر ﷺ اوعمر ﷺ هم ايمان راوړی اوحضرت ابوبکر ﷺ او حضرت عمر ﷺ هغه مجلس کښې موجود نه وو

حل اللغات:- ① يَسُوقُ: أي: يَدْفَعُهَا مِنْ وَرَائِهَا: شړله ئې. ② أَعْيَا: أي تَعِبَ الرَّجُلُ: ستړې شو سړې. ③ لِحِرَاثَةِ: أي إِثَارَتِهَا لِزِرَاعَتِهَا: د زميندارئ او کرونډې دپاره. ④ أُومِنُ: ايمان راوړم. يقين لرم

۱ وَقَالَ: (بَيْنَمَا رَجُلٌ فِي غَنَمٍ لَهُ إِذْ عَدَا الذِّئْبُ عَلَى شَاةٍ مِنْهَا، فَأَخَذَهَا، ۲ فَأَدْرَكَهَا صَاحِبُهَا، فَاسْتَنْقَذَهَا، ۳ فَقَالَ لَهُ الذِّئْبُ: فَمَنْ لَهَا يَوْمَ السَّبُعِ، يَوْمَ لَا رَاعِيَ لَهَا غَيْرِي؟ ۴ فَقَالَ النَّاسُ: سُبْحَانَ اللَّهِ ذِئْبٌ يَتَكَلَّمُ!. ۵ فَقَالَ أُومِنُ بِهِ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ) وَمَا هُمَا ثَمَّ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ اوحضرت ابوهريره ﷺ بيان وکی چې يو سړی دخپلو بزو درمې منځ کښې وو اچانك يوشرمخ راغی اودرمي نه يې يوه بزې (چيلۍ) وتښتوله ۲ دبزې (چيلۍ) مالك دشرمخ تعاقب کولو سره خپله بزې (چيلۍ) يې د هغه نه خلاصه کړله ۳ شرمخ هغه ته اوويل تاخو خپله بزه (چيلۍ) زما نه خلاصه کړه ليکن داراته اووئيلو چې د سبع په ورځ دبزو حفاظت کونکي به څوك وي زماڅخه علاوه ۴ خلقو داواقعه اوريدو سره اظهار تعجب وکی اوهغوی اوويل سبحان الله شرمخ اوخبري دي وکړي ۵ حضور ﷺ وفرمايل زه په دې ايمان راوړم اوابوبکر ﷺ اوعمر ﷺ هم ايمان راوړی حالانکه هغه وخت حضرت ابوبکر ﷺ اوحضرت عمر ﷺ کښې هيڅوك هم هلته موجود نه وو (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ⑤ عَدَا الذِّئْبُ: أي: حَمَلَ ذِئْبٌ: شرمخ اوتختوله (دا دعدوان او تجاوزنه دې يعنی ليوه په چيلوباندې حمله اوکړه). ⑥ فَاسْتَنْقَذَهَا: أي: اسْتَخْلَصَهَا: خلاصه ئې کړه چيلۍ (د شرمخ نه).

تسهيلات:

قوله: فَإِنِّي أُومِنُ

څپل يقين سره د شيخينو يقين يو ځائې کول: داشرط په محذوف باندې متفرع دې کوم چه جزاء واقع دې يعنی که خلق دَ غوا په خبروباندې تعجب اوکړی نوکوی دې. زه ابوبکر اوعمرفاروق په دې خبرو باندې ايمان لروچه دامعجزه ښکاره شوې ده حضورپاك خپل يقين سره دَ شيخينويقين يوځائې کړو دادَډير قرب اودَ ايمانې قوت. دَ تسلئې اواعتماد طرف ته اشاره ده اوهم په دې کښې دَ شيخين فضيلت دې

قوله: يَوْمَ السَّبُعِ:

د يوم السبع په مصداق کښې څلور اقوال دي: ① په دې کلمه کښې په باء باندې پيش هم دې اوسکون هم که چرې پيش وی نودغه ورځ نه دڅه داسې فتنې والا ورځ مراد ده په کوم کښې چه انسان د فتنو دوجې نه خپل مال حال پريږدی اوتختی به اوټول ځناور به د ليوه ګانو په رحم وکرم باندې پاتې شی

② دڅې نه څه داسې ورځ مراد ده په کومه چه ټول خلق مړه شی او چيلئی يوازې پاتې شی

③ بعضې ونيلی دی چه د "السبع" د اهل جاهليت د اخترونونه يوه د اختر ورځ وه په کوم کښې چه خلق اختر له وتلوسره ځناور خالی پريخودل. په دې صورت کښې د سبع په باء باندې سکون هم ونيلی شوې دې.

④ دې نه د قيامت ابتدائی احوال مراد دی دکوم د وجې نه په ويره کښې انسان اوحيوان يوځائی شی ﴿وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ﴾ کښې هم دې ته اشاره ده ملاعلی قاری رحمه الله دا توجيه کمزورې ګرځولې ده.

[۶۰۵۷] د شيخينو نبی عليه السلام سره ملګرتيا

۶۰۵۷-() [۶] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: إِنِّي لَوَاقِفٌ فِي قَوْمٍ ② فَدَعَوُا اللَّهَ لِعُمَرَ وَقَدْ وُضِعَ عَلَى سَرِيرِهِ ③ إِذَا رَجُلٌ مِنْ خَلْفِي قَدْ وَضَعَ مِرْفَقَهُ عَلَى مَنْكِبِي ④ يَقُولُ: يَرْحَمُكَ اللَّهُ، إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ يَجْعَلَكَ اللَّهُ مَعَ صَاحِبَيْكَ، ⑤ لِأَنِّي كَثِيرًا مَا كُنْتُ أَسْمَعُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: («كُنْتُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، وَفَعَلْتُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، وَانْطَلَقْتُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، وَدَخَلْتُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، وَخَرَجْتُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ»). ⑥ فَالْتَفَتُّ فَإِذَا عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① اوحضرت ابن عباس رضی الله عنه وايي چې دحضرت عمر فاروق رضی الله عنه دوفات په ورځ هغه وخت زه هم دهغه خلقو منځ کښې ولاړ وم ② هرکله چې دحضرت عمر رضی الله عنه جسد خاکي لمبولو دپاره تخته مرګ باندې ايښودل شوي وو اوخلق يعنی دحضرت عمر رضی الله عنه نزدې ملګرې اورشته دار ولاړوو اودهغه په حق کښې يې دعايي خير اومغفرت کول ③ په دې دوران کښې اچانك مامحسوسه کړه چې زما شاته ولاړ يوسړی خپله څنګل زما په اوږه ايښې ده ④ بيا هغه سړی حضرت عمر رضی الله عنه مخاطب کولو سره وئيل شروع کړل دالله تعالی رحمت دی په تاسو نازل شي بيشکه زه پوره اميد لرم چې الله تعالی به په قبر کښې ياجنت کښې تاسو د خپلو دواړو دوستانو يعنی حضور صلی الله عليه وسلم اوحضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه سره يوځاي لري ⑤ ځکه چې مابه درسول الله صلی الله عليه وسلم دژبې مبارکې نه اکثر دا الفاظ اوريدل چې زه

[1] اخرجه البخاری فی کتاب احاديث الأنبياء/باب حديث الغار(رقم -۳۴۷۷) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل عمر رضی الله تعالی عنه (رقم- ۱۴ - (۲۳۸۹)وابن ماجه فی کتاب فی الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل ابی بکر الصديق رضی الله عنه (رقم ۹۸)

فلانی خاي وم اوابوبکر ﷺ اوعمر ﷺ هم ما سره وو ما امور عبادت یا معمولات ژوند کښې فلانی کار وکی اوابوبکر ﷺ اوعمر ﷺ هم زما شریک کار وو زه فلانی مقام ته لاړم اوابوبکر ﷺ اوعمر ﷺ هم ما سره وو زه فلانی مکان یافلانی خاي نه بهر راووتم اوابوبکر ﷺ اوعمر ﷺ هم ما سره وو [٦] ماچي ورروسته تاویدو سره وکتل نودا الفاظ ویونکي علي بن ابي طالب ﷺ وو. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① مِرْفَقُهُ: څنګله خپله، ② فَالْتَفَتُّ: أَيْ: إِلَى وَرَائِي: شاته مې اوکتل

تسهيلات:

قوله: كُنْتُ وَأَبُوبَكْرٍ:

نحوی اشکال: په دې تولوجملوکښې دَاسم ظاهر په اسم ضمير باندې عطف شوې دې حالانکه نحات ضمير متصل باندې دَ اسم ظاهر عطف ته ضمير منفصل دَ تاکيدنه بغير جائز نه وائی بلکه دا ضعيف ګرځوی. او په اشعارکښې ګنجائش شته.

د اشکال جواب: علامه مالکی ﷫ فرمائی چه داسې عطف نظم اوشر دواړو صورتونوکښې دَ راجح قول مطابق جائز دې. (مرقات).

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۶۰۵۸] جنت کښې دشيخينو اعلی مقام

۶۰۵۸-()[۳] [۱] عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: («إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ لَيَتَرَاءَوْنَ فِي عِلِّيِّينَ، [۲] كَمَا تَرَوْنَ الْكَوْكَبَ الدُّرِّيَّ فِي أُفُقِ السَّمَاءِ، [۳] وَإِنَّ أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ مِنْهُمْ وَأَنْعَمَا»). رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ)، وَرَوَى نَحْوَهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوسعيد خدري ﷺ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل جنتي خلق به عليين واله ډيري بلندي باندې داسې ويني [۲] څرنګه چې تاسو دآسمان په غاړه ډير روښانه ستوري ويني [۳] اوابوبکر ﷺ اوعمر ﷺ په عليين والاؤ کښې دي بلکې دي دخپل اعزاز اورتبې داعتبار نه هغوی نه زيات دی داروايت بغوي خپل اسناد سره شرح السنه کښې نقل کړی دی اودغه شان روايت ابوداؤد ترمذي اوابن ماجه هم نقل کړی دی

حل اللغات:- ① لَيَتَرَاءَوْنَ: دا د رُؤْيَة نه دې دباب تفاعل نه. اصل کښې يَتَرَاءَوْنَ دي. أَيْ: يَرَى بَعْضُهُمْ بَعْضًا: بعضې خلق به بعضې خلق اوګورى ② عِلِّيِّينَ: د اووم آسمان څخه پورته د يو مقام نوم دې. ③ الدُّرِّيّ: أَيْ: الْمُضِيءُ: روښانه خليدونکی ستوری.

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الحروف والقراءات (رقم-۳۹۸۷) والترمذی فی كتاب المناقب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب مناقب أبي بكر الصديق رضی الله عنه واسمه عبد الله بن عثمان ولقبه عتيق (رقم-۳۶۵۸) وابن ماجه فی كتاب فی الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل أبي بكر الصديق رضی الله عنه (رقم-۹۶) واحمد فی المسند: ۲۶/۳

تسهیلات:

قوله: وَأَنْعَمَا:

دانعماؤوه مطلوبه: ① یعنی په اعلی علیین کښې دواړه دَ ټولو نه مخکښې په اعلی مقام باندې فائزوی

② مطلب دادې چه دا دواړه به دَ جنت په نعمتونو کښې داخلیږی. "ای دخلافی النعیم" لکه څنګه چه عرب وائی "اشأم ای دخل فی الشام".

تسهیلات:

قوله: فِي عِلِّيِّينَ:

دعلیین په مفهوم کښې دوه اقوال: ① یعنی هغه مقام او منزل کوم چه په ډیره انتهائی درجه باندې اوچت دې چرته چه دَ نیکانو بندګانو ارواح وی.

② یا علیین دَ یو دفتر نوم دې چرته چه دَ نیکانو خلقو اعمال رسولې شی

په جنت کښې دشیخینو مقام: نو علیین دَ جنت دَ درو څخه یوه داسې اوچته درجه ده لکه چه آسمان دَ زمکې نه اوچت دې او علیین والا به دَ نورو جنتیانو ته داسې ښکاری لکه چه دَ زمکې والو ته ستورې ښکاری او هغه جنت والا به خپل مینځ کښې یو بل ته ښائی چه اوګوره هغه ابوبکر او عمر رضي الله عنهما دی. چونکه ابوبکر او عمر رضي الله عنهما به دَ ټولو علیین والو نه افضل وی. کله چه دوی دَ جنت دَ ښکته درجو طرف ته اوګوری نو لاندې درجو کښې به داسې رڼړا خوره شی لکه څنګه چه په زمکه باندې دَ څوارلسمې شپې دَ سپوږمئ نه خوریږی.

[۶۰۵۹] د جنت د مشرانو سرداران

۶۰۵۹-() [۳] ①وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ②(«أَبُوبَكْرٍ وَعُمَرُ سَيِّدَا كُهُولِ الْجَنَّةِ مِنَ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ ③إِلَّا النَّبِيِّينَ وَالْمُرْسَلِينَ»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① اوحضرت انس رضي الله عنه وايي رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمایل ②جنت کښې چې څومره هم پوخ عمر والاوي ښایي هغه مخکنو کښې وي یاوروستنو کښې دهغوی ټولو سرداربه ابوبکر رضي الله عنه اوعمر رضي الله عنه وي ③شواد نبیانو اورسولانو څخه. (ترمذي)

حل اللغات: - ①سَيِّدَا: د سيد تثنيه ده، سرداران، ②كُهُولِ: د كَهْل جمع ده، مَنْ جَاوَزَ الثَّلَاثِينَ: دَ دیرشو کالو دَ عمر نه چه کوم سړې واوړی هغه ته کهل وائی دَ زیات عمر خلق مراددی.

---

[۱] اخرجه الترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۶۶٤) واحمد فی المسند: ۲/ ۸۰

تسهیلات:

قوله: أَبُوبَكْرٍ وَعُمَرُ سَيِّدَا كُهُولِ الْجَنَّةِ،

اشکال: په جنت کښې خو به ټول خلق ځوانان وی نو دَ زیات عمر خوبه څوك نه وی نو دَهغوی دَ سردار کیدو څه مطلب دې؟

داشکال جواب: دَ زیات عمر والونه به هغه خلق مراد وی چه دَدې دنیانه په زیات عمر کښې رخصت شوی وی ابوبکرصدیق رضی الله عنه او حضرت عمرفاروق رضی الله عنه به دَدې ټولو سرداران وی دې نه معلومه شوه چه کوم خلق په ځوانئی کښې دَ دنیا نه رخصت شوی وی نوشیخین به په طریقه اولی دَ هغوی سرداران وی

قوله: مِنَ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ،

د اولین اوآخرین مصداق: دې نه دَ پخوانو امتونو دا قسم خلق مراد دی او "الاخرین" نه دَدې امت خلق مراد دی سوا دَ انبیاء کرامو نه که هغه دَ پخوانو امتونو انبیاء وی یا راتلونکی حضرت عیسی علیه السلام وی

٦٠٦٠-()[١] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ -عَنْ عَلِيٍّ- رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ.

ترجمه: [١] ابن ماجه دا روایت دحضرت علي رضی الله عنه نه نقل کړی دی

[٦٠٦١] د شیخینو خلافت ته اشاره

٦٠٦١-()[د][١] وَعَنْ حُذَيْفَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] ((«إِنِّي لَا أَدْرِي مَا بَقَائِي فِيكُمْ؟ [٣] فَاقْتَدُوا بِاللَّذَيْنِ مِنْ بَعْدِي أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ»)). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] اوحضرت حذیفه رضی الله عنه وایي رسول کریم ﷺ یوه ورځ وفرمایل [٢] ماته نه ده معلومه چې ستاسو منځ کښې زما ژوند اوس څومره باقي پاتې شوي دي اوس څه ورځې نوري ژوند مقدر دی یاوخت موعود نزدې راغلی دی نواګاه کول مناسب ګڼم [٣] چې تاسو خلق زما نه وروسته ددې دوو خلقو پیروي کوي چې یوبل نه وروسته به زما جانشین اوخلیفه وي اوهغه ابوبکر رضی الله عنه اوعمر رضی الله عنه دي (ترمذي)

حل اللغات:- ① بَقَائِي: زما ژوندی پاتې کیدل ② فَاقْتَدُوا: تابعداری کوئ

نوټ: د ګرانوټکوتشریح په حل اللغات کښې شوې ده اوباقی د حدیث مفهوم د حدیث د تشریحی ترجمې څخه واضح دې

---

[1] اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل أبي بكر الصديق رضی الله عنه (رقم-٩٥)
[2] اخرجه الترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٦٦٣) وابن ماجه في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل أبي بكر الصديق رضی الله عنه (رقم-٩٧) واحمد في المسند:٣٨٢/٥

[٦٠٦٢] د شيخينو نبي عليه السلام سره يو بل خصوصي ربط

٦٠٦٢-() [١] ① وَعَنْ أَنَسٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ② إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ لَمْ يَرْفَعْ أَحَدٌ رَأْسَهُ غَيْرُ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ، ③ كَانَا يَتَبَسَّمَانِ إِلَيْهِ وَيَتَبَسَّمُ إِلَيْهِمَا، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① اوحضرت انس ﷛ بيان كوي ② رسول كريم ﷺ چې به مسجد كښې داخليدى نو دادب نه به دټولو نظرونه خكته كيدل ياداچې دحضور ﷺ دهيبت نه چاخپل سرنه شو پورته كولاى سوال دابوبكر ﷛ اوعمر ﷛ نه ③ صرف دادوه صحابه ﷛ وه چې مخ مبارك طرف ته دنظر پورته كولو تاب يې لرلو دادواړه به حضور ﷺ ليدو سره مسكي كيدل اوحضور ﷺ به دهغوى ليدو سره مسكي كيدى داروايت ترمذي نقل كړى دى او ويلي يې دي چې داحديث غريب دى.

تسهيلات:

قوله: لَمْ يَرْفَعْ أَحَدٌ رَأْسَهُ غَيْرُ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ،

دعاشق اومعشوق يوه نظاره: مطلب دا چه دَ رسول الله ﷺ دَ هيبت دَ وجې نه به صحابه كرامو ﷢ ادبًا خپل سرونه نه اوچتول خو شيخينوبه دَ كمال محبت او بې تكلفئ دَ وجې رسول كريم ﷺ طرف ته به كتل او مسكى كيدل به او حضورپاك به دَ محبت په اظهار كښې دَهغوى طرف ته كتل او مسكې كيدو.

[٦٠٦٣] په ميدان حشر كښې د شيخينو نبي عليه السلام يو ځائې حشر

٦٠٦٣-() [٢] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- ② «أَنَّ النَّبِيَّ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-خَرَجَ ذَاتَ يَوْمٍ وَدَخَلَ الْمَسْجِدَ ③ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، أَحَدُهُمَا عَنْ يَمِينِهِ، وَالْآخَرُ عَنْ شِمَالِهِ، وَهُوَ آخِذٌ بِأَيْدِيهِمَا، فَقَالَ (هَكَذَا نُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ)». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① حضرت ابن عمر ﷛ روايت كوي ② يوه ورځ نبى كريم ﷺ خپلې حجرې شريفې نه راووتلو مسجد نبوي كښې داسې داخل شو ③ چې ابوبكر ﷛ اوعمر ﷛ كښې يوصاحب دحضور ﷺ ښي طرف ته وو اودويم صاحب يې چپ طرف ته وو اوحضور ﷺ ددواړو لاسونه خپلو لاسونو كښې نيولي ④ وه هغه وخت حضور ﷺ وفرمايل دقيامت په ورځ به مونږ دغه شان پاځيږو يعنې مونږ دري واړه به دخپلو قبرونو نه دغه شان يوځاي پاځيږو اولاس اچولي دحشر ميدان ته به ورسيږو داروايت ترمذي نقل كړى دى او ويلي يې دي چې داحديث غريب دى.

---

[1] اخرجه الترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٦٦٨)

[2] اخرجه الترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٦٦٩) وابن ماجه فى كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل أبى بكر الصديق رضى الله عنه (رقم-٩٩)

حل اللغات:- ① هَكَذَا نُبْعَثُ: أَيْ: نُخْرَجُ مِنَ الْقُبُورِ: داسې به راپاڅیږو (یعنی د قبرونو نه به راپاڅو).

نوټ: د ګرانو ټکو تشریح په حل اللغات کښې شوې ده او باقی د حدیث مفهوم د حدیث د تشریحی ترجمې ښځه واضح دې.

[٦٠٦٤] د شیخینو دوه خصوصیات

۶۰۶۴-(¹)[۸] ① وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَنْطَبٍ، ② «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَأَى أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ ③ فَقَالَ: (هَذَانِ السَّمْعُ وَالْبَصَرُ)». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ مُرْسَلًا.

ترجمه: ① او د حضرت عبدالله ابن حنطب تابعي روایت کښې دي ② چې یوه ورځ نبی کریم ﷺ حضرت ابوبکر ﷺ او حضرت عمر ﷺ لیدو سره وفرمایل ③ دا دواړه په منزله د غوږ او سترګي دي دا روایت ترمذي بطریق ارسال نقل کړی دی.

تسهیلات:

قوله: هَذَانِ السَّمْعُ وَالْبَصَرُ:

د هذان السمع والبصر جملې په تشریح کښې اقوال: ① دا دواړه زما د پاره سترګي او غوږونه دی زه د دوی په ذریعه اورم او ګورم یعنی دا زما مطیع او تابعدار وزیر او مشیر دی. دا مطلب زیات بهتر دې محاوره هم دغه شان ده.

② لکه څنګه چه د بدن په اندامونو کښې د تولونه ښکلې اندام سترګه او غوږ دي دغه شان د دین اسلام د پاره حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر فاروق ﷺ په منزله د سترګي او غوږ ښکلې او مفید ثابتیږی لکه چه په دین کښې د هغوی حیثیت په بدن کښې د سترګي او غوږ په شان دي.

③ ابوبکر صدیق او عمر فاروق ﷺ په کائنات کښې غور کولو سره حق اوری او حق ته ګوری

[٦٠٦٥] د نبی علیه په زمکه کښې دوه وزیران

۶۰۶۵-(²)[۹] ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «مَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا وَلَهُ وَزِيرَانِ مِنْ أَهْلِ السَّمَاءِ، ③ وَوَزِيرَانِ مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ، ④ فَأَمَّا وَزِيرَايَ مِنْ أَهْلِ السَّمَاءِ فَجِبْرِيلُ وَمِيكَائِيلُ، ⑤ وَأَمَّا وَزِيرَايَ مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ فَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ»... رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه: ① حضرت ابوسعید خدري ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل هیڅ نبي داسې نه دی تیر شوی چې د هغه دوه وزیران اسمان والاؤ نه او دوه وزیران زمکې والاؤ نه نه وي نو آسمان والاؤ نه زما دوه وزیران خو جبرائیل ﷺ او میکائیل ﷺ دي او زمکې والاؤ نه

¹ اخرجه الترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۶۷۱)
² اخرجه الترمذي في السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۶۸۰)

زما دوه وزيران ابوبكر ﷺ اوعمر ﷺ دي (ترمذي)

حل اللغات:- ①وَزِيرَانِ: دا د وَزِيرٌ تثنيه ده، وزيرته وائي ددې معنى مُوَازِد ده يعنى بوج اوچتونكي، دې هم د بادشاه بوج اوچتوى څكه ورته وزير وائي.

تسهيلات:

قوله: وَزِيرَانِ مِنْ أَهْلِ السَّمَاءِ،

د نبي عليه السلام آسماني وزيران: دَ آسمان والو نه مراد فرښتې دي. په دغه دوو فرښتو كښې يو جبرائيل عليه السلام او بل ميكائيل عليه السلام دى. دا دواړه دَهر نبي او رسول وزيران مقرريږي. دَدوى كار دَ عالم ملكوت نه دَ هغه نبي او رسول امداد كول وي.

قوله: وَزِيرَايَ مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ.

د نبي عليه السلام زميني وزيران: په دنياكښې دَ رسول ﷺ دوه وزيران حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه دى دَ دوى كار هم دَ خپل نبي او رسول امداد اونصرت كول دي.

[٦٠٦٦] په خوب كښې د خلافت پورته كيدو اشاره

٦٠٦٦ -() [١٠]①وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - ②«أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ③رَأَيْتُ كَأَنَّ مِيزَانًا نَزَلَ مِنَ السَّمَاءِ، فَوُزِنْتَ أَنْتَ وَأَبُو بَكْرٍ، فَرَجَحْتَ أَنْتَ، ③وَوُزِنَ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ فَرَجَحَ أَبُو بَكْرٍ، ④وَوُزِنَ عُمَرُ وَعُثْمَانُ، فَرَجَحَ عُمَرُ; ⑤ثُمَّ رُفِعَ الْمِيزَانُ، ⑥فَاسْتَاءَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَعْنِي فَسَاءَهُ ذَلِكَ. ⑦فَقَالَ: (خِلَافَةُ نُبُوَّةٍ، ثُمَّ يُؤْتِي اللَّهُ الْمُلْكَ مَنْ يَشَاءُ)» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① اوحضرت ابي بكره ﷺ نه روايت دى درسول كريم ﷺ خدمت كښې حاضريدو سره يوسړي عرض وكى ② يارسول الله ماخوب ليدلى دى چې ګويا يوترازو تله آسمان نه راكوزشوه اوهغه ترازو كښې تاسو ﷺ اوابوبكر ﷺ اوتللي شوي نو ستاسو ﷺ وزن زيات شو ③ بيا ابوبكر ﷺ اوعمر ﷺ وتلل شول نودابوبكر ﷺ وزن زيات شو ④ بيا عمر ﷺ اوعثمان ﷺ وتلل شول نودعمر ﷺ وزن زيات شو ⑤ دي نه وروسته ترازو په بره يو وړل شو، ⑥ رسول كريم ﷺ دهغه سړي دي خوب سره غمجن شو يعنى هغه خوب حضور ﷺ غمجن كړو ⑦ بيا حضور ﷺ وفرمايل داخلافت نبوت دى دي نه وروسته چې الله تعالى څوك غواړي ملک به ورته وركوي (ترمذي وابوداؤد)

حل اللغات:- ①مِيزَانًا: تله، ②فَاسْتَاءَ: أَيْ لَحَزِنَ: غمجن شو نبي عليه السلام ③فَسَاءَهُ: أَيْ: فَأَحْزَنَ النَّبِيَّ: يعنى نبي عليه السلام ئې غمجن كړو

[1] اخرجه ابوداود في السنن كتاب السنة/باب في الخلفاء (رقم-٤٦٣٤) والترمذي في كتاب الرؤيا عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في رؤيا النبي صلى الله عليه وسلم الميزان والدلو (رقم-٢٢٨٧) واحمد في المسند: ٥/٥٠

تسهیلات:

قوله: فَأَسْتَاءَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،

د نبی علیه السلام د خفگان وجه: دَ خوب لیدونکی دَخوب نه دا معلومه شوه چه دَ خلافت علی منهاج النبوة دور دَ عمر فاروق رضی الله عنه په وفات او شهادت باندې ختم شی په دې باندې حضورپاك غمګین شو او په دې باندې هم غمګین شو چه دَعمرفاروق دَ شهادت نه پس به دَ فتنو دور شروع شی.

دخلافت درې اصطلاحات: دَ خلفاء راشدین دَ خلافت دَپاره شاه ولی الله رحمه الله دا اصطلاح استعمال کړې ده چه

① دَ حضورپاك زمانه ئې په عهدنبوت سره یاده کړې ده.

② دَ حضورپاك دَ وفات نه پس دَحضرت ابوبکرصدیق او حضرت عمر رضی الله عنهما دور ته ئې خلافت علی منهاج النبوة په طریقه خاص سره یاده کړې ده

③ دَحضرت عثمان اوحضرت علی رضی الله عنهما خلافت ئې خلافت علی منهاج النبوة په طریق عام سره یاد کړې دې

④ دې نه پس "ملك عضوض" په نوم سره یاکړې دې. دَدې ملك عضوض نه دَحضرت معاویه رضی الله عنه خلافت اوبیا دَ عمر بن عبدالعزیز رحمه الله خلافت مستثنی ګرځولې دې.

په حدیث الباب کښې اشاره: په دې حدیث کښې دَ خلافت الفاظو سره دَ حضرت صدیق اکبر او عمرفاروق رضی الله عنهما خلافت علی منهاج النبوة طرف ته اشاره ده.

[۶۰۶۷] دشیخینو داهل جنت څخه کیدو بشارت

٦٠٦٧-(¹)[٥] [١]عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [٢]«(يَطَّلِعُ عَلَيْكُمْ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ)، [٣]فَاطَّلَعَ أَبُو بَكْرٍ، [٤]ثُمَّ قَالَ: (يَطَّلِعُ عَلَيْكُمْ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ)، فَاطَّلَعَ عُمَرُ» [٥] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] حضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی نبی کریم ﷺ یوه ورځ وفرمایل [٢] ګوري اوس به ستاسو مخکې یوجنتی سړی راشي [٣] نو ابوبکر رضی الله عنه راغی [٤] بیا وفرمایل اوس به ستاسو مخې ته یو جنتی سړی راشي نوبیا حضرت عمر رضی الله عنه راغی [٥] دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یې دي چې داحدیث غریب دی

حل اللغات: - ① يَطَّلِعُ: أي يُشْرِفُ: رابنکاره به شی، رابه شی.

¹ اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-٣٦٩٤)

تسهیلات:

قوله: يَطَّلِعُ عَلَيْكُمْ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ..الخ:

په حدیث الباب کښې د شیخینو د خصوصیت وجه: دَجنت بشارت په مختلفو احادیثو کښې دَ ډیرو صحابه کرامو دَپاره راغلې دې په دې حدیث کښې چونکه دا زیرې دَ حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه دَ پاره په یو خائې ذکردې په دې وجه دا حدیث دلته نقل کړې شو.

[۶۰۶۸] د ابوبکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه د نیکو موازنه

۶۰۶۸-()[۳] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- قَالَتْ: «بَيْنَا رَأْسُ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي حِجْرِي فِي لَيْلَةٍ ضَاحِيَةٍ [۲] إِذْ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَلْ يَكُونُ لِأَحَدٍ مِنَ الْحَسَنَاتِ عَدَدُ نُجُومِ السَّمَاءِ؟ قَالَ: (نَعَمْ، عُمَرُ). [۳] قُلْتُ: فَأَيْنَ حَسَنَاتُ أَبِي بَكْرٍ؟ قَالَ: (إِنَّمَا جَمِيعُ حَسَنَاتِ عُمَرَ كَحَسَنَةٍ وَاحِدَةٍ مِنْ حَسَنَاتِ أَبِي بَكْرٍ)» رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: [۱] او ام المؤمنین بی بی عائشه رضي الله عنها بیان کوي د سپوږمی یوه شپه کښې چې دحضور ﷺ سرمبارك زما په غیږ کښې وو [۲] ما عرض وکی یارسول الله ایا دچا دونه نیکي هم شته څومره چې دآسمان ستوري دي حضور ﷺ وفرمایل هو هغه عمر رضي الله عنه دی چې د هغه نیکی دآسمان دستورو برابردی [۳] بیا ما عرض وکی اوداابوبکر رضي الله عنه دنیکیو څه حال دی حضور ﷺ وفرمایل دعمر رضي الله عنه ټولي نیکي دابوبکر رضي الله عنه دنیکیو څخه دیوي نیکی برابر دي (رزین)

حل اللغات:- ① حِجْرِي: حجر غیږ ته وائی ② ضَاحِيَةٍ: أَيْ: مُقْمِرَةٍ: د سپوږمئ والا شپه. روښانه شپه.
③ حَسَنَاتِ: د حسنة جمع ده. نیکئ، نیک اعمال.

تسهیلات:

قوله: كَحَسَنَةٍ وَاحِدَةٍ

دحسنة واحدة مصداق: دَ حضرت عمر رضي الله عنه دَ ټول ژوند نیکئی دَ حضرت ابو بکر رضي الله عنه دَ یوې نیکې برابر اوګرځولې شوې ددې یوې نیکی څخه د غار ثور د شپې نیکی مراد ده په دې سره دَ حضرت ابوبکر رضي الله عنه فضیلت ښکاره کړې شو

[۱] رواه رزین

[۱۶] باب مناقب عثمان رضي الله عنه

د حضرت عثمان رضي الله عنه د مناقبو بيان

خلاصة الباب:

فيه ثلاثة عشر حديثاً مشتملة على تسع مناقبات:

① ذكر زيادة عثمان رضي الله عنه حياءً: ۱-

② كون عثمان رضي الله عنه رفيق النبي صلى الله عليه وسلم في الجنة: ۲-

③ المغفرة لعثمان رضى الله عنه بعد الصدقات الكثيرة: ۳، ۴-

④ وضع النبي صلى الله عليه وسلم يده اليمنى على يده اليسرى عثمان رضي الله عنه في بيعة الرضوان: ۵، ۱۱-

⑤ زيادة إنفاق عثمان رضي الله عنه في سبيل الله تعالى: ۳، ۴، ۶-

⑥ البشارة من النبي صلى الله عليه وسلم بشهادة عثمان رضي الله عنه: ۶-

⑦ كون عثمان رضي الله عنه على هدى: ۷، ۱۳-

⑧ وصية النبي صلى الله عليه وسلم لعثمان رضي الله عنه في شأن الخلافة: ۸، ۱۰، ۱۲-

⑨ كون عثمان رضي الله عنه مقتولاً ظلماً: ۹-

دعثمان رضى الله عنه نوم اونسب: دَهغوى نوم عثمان دې اودَ پلارنوم ئې عفان دې لقب ئې ذوالنورين دې. پنځمه پيړۍ کښې حضورپاك سره نسب ملاويږي. هغوى دَ نبى كريم ﷺ نيزدې خپلوان وو.

د عثمان رضى الله عنه مختصر تعارف:

دَهغوى پيدائش دَ واقعهٔ فيل نه شپږ كاله روستوشوې. دَصديق اكبر رضي الله عنه په محنت سره مسلمان شوې. دَهغوى قد درميانه وو اورنګ ئې سپين زيرته مائل وو. په مخ مبارك باندې دَ دانو يرخو نبښې وې. دَهغوى رضي الله عنه سينه كولاؤ او ږيره مباركه ئې ګنړه وه. دَ اسلام نه اول هم هغوى په قريشوكښې ډير معزز ګڼړلې شو. په حياء كښې هغه خپل مثال پخپله وو. په سخاوت كښې هغوى ضرب المثل وو. دَ نبى كريم ﷺ دوه لونړه مباركې حضرت رقيه رضي الله عنها او حضرت ام كلثوم رضي الله عنها يوبل پسې دَهغوى په نكاح كښې راغلې. دَ حضرت عمرفاروق رضي الله عنه نه پس هغوى دَخلافت دَپاره خوښ كړې شو اودولس ورځې كم دولس كاله دَ خلافت منصب ته ښكلاوركولونه پس ۱۸ ذوالحجه ۳۵ هجرى كښې په ډير مظلوميت سره دَ باغيانو په لاس شهيد شو. اودَمدينې منورې په مشهور قبرستان جنت البقيع كښې دفن شو. دَهغوى قبرمبارك بالكل واضحه ښكارى. هريوزائردَدې زيارت كولې شي.

دَاسلام دَقبلولونه وړاندې نی کله هم شرابو ته لاس نه دې لګولې. نه نی چرته زنا کړې او نه نی چرته بت ته مخامخ سجده کړې. دَ حیاغلبه وه. دَ غسل دَپاره به نی چه کپړې ویستلې نوکمره به نی بنده کړه غسل خانه کښې به نی په ناسته غسل کولو دَ اوډریدو جرات نی نه شو کولې. دَ اسلام په بیعت کښې چه کله حضور پاك سره لاس اولګیدلو نوترمرګه پورې نی هغه لاس شرم ګاه سره نه دې لګولې. په ټولو غزواتو کښې حضور پاك سره شریك پاتې دې. په جنګ بدر کښې دَحضور پاك په حکم باندې شاته پاتې شو مګر بدری شمیر شو. په اسلام باندې خپل ذاتی ډیر بې حسابه مال بې دریغ خرچ کړو. دَ مسجدنبوی توسیع اودَ بئررومه اخستل اودَ جیش عسره په تیارئی کښې خپل ډیر زیات مال دَالله تعالی په رضا کښې لټاؤ کړو. دَ فاروق اعظم نه پس نی دین اسلام راټینګ کړو اودَ فارس اطراف اودَ افریقې په حدود کښې ډیر غزوات اوکړه اوډیرې زیاتې علاقې دَاسلام دَ جهنډې لاندې راغلې. شاه ایران یزګرد دَهغوی په زمانه کښې اووژلې شو. دَهغوی شمیر په عشره مبشره کښې کیږی. دَهغوی خلافت دَ شروع شپږ کاله ډیر په سکون سره روان پاتې شو بیا عبدالله بن سبا یهودی په منافقانه پروپیګنډو کښې دَ مصر خلق راغلل اودَ بلواګانو یوه ډله مدینې منورې ته راغله. څلویښت ورځې نی دَ هغوی دَ کورنه ګیره واچوله اوبیا ۱۸ ذوالحجه ۳۵ هجری هغوی په خپل کور کښې ۸۸ کالو په عمر کښې دَ ستې دَ طرف نه ذبح کړو. دَکوم په وجه چه دَالله تعالی دَ غضب توره دَتیکی نه بهرشوه چه تراوسه پورې په امت باندې چلیږی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۶۰۶۹] دعثمان رضی الله عنه څخه دفرشتو حیا کول

۶۰۶۹-() [۱] [۱] عَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُضْطَجِعًا فِي بَيْتِهِ، كَاشِفًا عَنْ فَخِذَيْهِ - أَوْ سَاقَيْهِ - [۳] فَاسْتَأْذَنَ أَبُو بَكْرٍ، فَأَذِنَ لَهُ وَهُوَ عَلَى تِلْكَ الْحَالِ، فَتَحَدَّثَ، [۴] ثُمَّ اسْتَأْذَنَ عُمَرُ، فَأَذِنَ لَهُ وَهُوَ كَذَلِكَ، فَتَحَدَّثَ، [۵] ثُمَّ اسْتَأْذَنَ عُثْمَانُ فَجَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَسَوَّى ثِيَابَهُ، فَلَمَّا خَرَجَ

ترجمه: [۱] ام المؤمنین بي بي عائشه رضی الله عنها بیان کوي [۲] یوه ورځ رسول کریم ﷺ خپل کور کې خپل ورون یا پنډۍ خلاصې پروت وو [۳] چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه د حاضریدو اجازت وغوښتی حضور ﷺ هغه دننه راوغوښتی او هغه حالت کښې پروت وو حضرت ابوبکر رضی الله عنه څه وقته پورې ناست وو خبرې یې کولې [۴] بیا حضرت عمر رضی الله عنه د حاضریدو اجازت وغوښتی حضور ﷺ هغه دننه راوبللې او هغه شان پروت وو حضرت عمر رضی الله عنه څه وقته

[1] اخرجه مسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم /باب من فضائل عثمان بن عفان رضی الله عنه (رقم-۲۷ (۲۴۰۲) واحمد فی المسند:۱/۷۱

پورې ناست حضور ﷺ سره يې خبرې کولې ⑤بيا حضرت عثمان رضي الله عنه د حاضرېدو اجازت وغوښتې او اجازت حاصلېدو باندې دننه داخل شو نو رسول کريم ﷺ راپورته کېدو سره کيناستلو او خپلې کپړې يې درستې کړلې يعنې ورنونه اوپنډۍ يې پټې کړلې کوم وخت چې حضرت عثمان رضي الله عنه او خدمت اقدس کښې ناست خلق لاړل

حل اللغات:- ①مُضْطَجِعًا: ملاست وو. ②كَاشِفًا: ښکاره. ③فَخِذَيْهِ: د فخذ تثنيه ده، دواړه ورونونه ،پتونان، (دواړه پتونان ښکاره کېدل د بې پرواه کيناستو طرف ته اشاره ده) ④سَاقَيْهِ: دا د ساق تثنيه ده، دواړه پنډۍ ⑤سَوَّى: برابرې يعنې سمې نې کړې،

> ①قَالَتْ عَائِشَةُ: دَخَلَ أَبُوبَكْرٍ فَلَمْ تَهْتَشَّ لَهُ وَلَمْ تُبَالِهِ، ②ثُمَّ دَخَلَ عُمَرُ فَلَمْ تَهْتَشَّ لَهُ وَلَمْ تُبَالِهِ، ③ثُمَّ دَخَلَ عُثْمَانُ فَجَلَسْتَ وَسَوَّيْتَ ثِيَابَكَ ④فَقَالَ: (أَلَا أَسْتَحْيِي مِنْ رَجُلٍ تَسْتَحْيِي مِنْهُ الْمَلَائِكَةُ؟). ⑤وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: (إِنَّ عُثْمَانَ رَجُلٌ حَيِيٌّ، وَإِنِّي خَشِيتُ إِنْ أَذِنْتُ لَهُ عَلَى تِلْكَ الْحَالَةِ أَنْ لَا يَبْلُغَ إِلَيَّ فِي حَاجَتِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①نو بيا بي عائشې رضي الله عنها عرض وکړې يارسول الله ﷺ حضرت ابوبکر رضي الله عنه دننه راغې نو تاسو نه څه حرکت وکړې او نه مود هغوی پروا وکړه بلکې هغه شان پراته وي او خپلې کپړې موهم درستې نه کړلې ②دغه شان حضرت عمر رضي الله عنه دننه راغې نو تاسو هغه وخت هم نه حرکت وکړې او نه مو د هغه پروا وکړه ③خو څه وخت چې حضرت عثمان رضي الله عنه دننه داخل شو نو تاسو فوراً پورته کېدو سره کيناستئ او خپلې کپړې مو درستې کړلې ④حضور ﷺ وفرمايل ايا زه د هغه سړي نه حيا نه کړم چې د هغه نه فرښتې هم حيا کوي ⑤ويو روايت کښې دا الفاظ دی چې حضور ﷺ وفرمايل حقيقت دا دی چې عثمان رضي الله عنه ډېر حيا دار سړی دی ما محسوسه کړه چې زه عثمان رضي الله عنه دې حالت کښې راوبلم چې زما ورنونه ياپنډې خلاصې وې او هغه به زما نه خپل مقصود پوره نه کړي يعنې که هغه ما دې حالت کښې وويني نو د غلبه ادب شرم وحيا نه به ما سره نه کېنې او کوم مقصد د پاره چې دلته راغلې دې د هغه پوره کولو نه بغيره به واپس لاړ شي (مسلم)

حل اللغات:- ⑥فَلَمْ تَهْتَشَّ: أَيْ لَمْ تَتَحَرَّكْ: هيڅ حرکت دې اونه کړو. اونه خوزيدې. ⑦حَيِيٌّ: په وزن د فَعِيلٌ. أَيْ كَثِيرُ الْحَيَاءِ: ډېر حيادار. ⑧خَشِيتُ: زه اوبريدم (يعنې ما محسوسه کړه)

تسهيلات:

قوله: كَاشِفًا عَنْ فَخِذَيْهِ:

د كاشفا عن فخذيه مطلب: د دې مطلب دا نه دې چه حضور پاک پنډۍ بالکل ښکاره وې حضور پاک خو پخپله پنډو ته عورت ونيلو سره د پټولو حکم ورکړې دې

قوله: تَسْتَحْيِي مِنْهُ الْمَلَائِكَةُ:

د فرشتو د حياء واقعه: وائی چه يو خل په مدينه منوره کښې د يوې قضيه په موقع باندې د حضرت عثمان رضي الله عنه سينه مبارکه ښکاره شوه نو فرښتې شاته شوې حضور پاک حضرت

عثمان رضي الله عنه ته دَ سينې پټولو حکم ورکړو نوفرښتې واپس راغلې. دَ حضورپاك په تپوس باندې فرښتو اووئيل چه دَدوى دَسينې ښکاره کيدودَ وجې نه دَدوى نه دَ حياء کولو دَپاره مونږ اخوا شو. دَ حضورپاك دَ اهتمام يوه وجه خوهم دغه دَحضرت عثمان رضي الله عنه حياء وه

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۶۰۷۰] د عثمان رضي الله عنه نبي عليه السلام سره جنت کښې خاص رفاقت

۶۰۷۰ -( ) [۲] [۱] عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «لِكُلِّ نَبِيٍّ رَفِيقٌ، [۳] وَرَفِيقِي - يَعْنِي فِي الْجَنَّةِ - عُثْمَانُ»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت طلحه ابن عبيد الله رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] دَ هر نبي يورفيق يعنى مهربان ملګري اودوست وي [۳] اوزما رفيق (يعنى په جنت کښې) عثمان رضي الله عنه دى دا روايت ترمذي نقل کړى دى.

حل اللغات:- ① رَفِيقٌ: أَيْ: خَاصٌّ: خاص ملګرى.

تسهيلات: قوله: وَرَفِيقِي - يَعْنِي فِي الْجَنَّةِ - عُثْمَانُ،

درفاقت خصوصى امتياز: حضرت عثمان رضي الله عنه که دَ حضورپاك په رفاقت کښې په جنت کښې وى نودا دَ هغوى ډير لوئى ذاتى اعزاز دې دَدې مطلب دانه دې چه دَحضورپاك به بل څوك رفيق نه وى. دااعزازات، نوازشات او دَتمغو جداجدا تقسيم دې يوه تمغه دَبلې تمغې منافى نه ده.

۶۰۷۱ - ( ) [۱] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ، وَهُوَ مُنْقَطِعٌ.

ترجمه: [۱] اوابن ماجه هم داروايت دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه نقل کړى دى اوترمذي ويلې دي چې داحديث غريب دى اوددې اسناد قوي نه دى اودامنقطع دى

[۶۰۷۲] په غزوه تبوک - کښې د عثمان رضى الله مالى قربانى

۶۰۷۲ -( ) [۱] وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ خَبَّابٍ، قَالَ: [۲] «شَهِدْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ يَحُثُّ عَلَى جَيْشِ الْعُسْرَةِ، [۳] فَقَامَ عُثْمَانُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، عَلَيَّ مِائَةُ بَعِيرٍ بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ، [۴] ثُمَّ حَضَّ عَلَى الْجَيْشِ، فَقَامَ عُثْمَانُ، قَالَ: عَلَيَّ مِائَتَا بَعِيرٍ بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ، [۵] ثُمَّ حَضَّ، فَقَامَ عُثْمَانُ، فَقَالَ: عَلَيَّ ثَلَاثُمِائَةِ بَعِيرٍ بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ،

[۱] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فضل أبي بن كعب رضى الله عنه (رقم-۳۸۹۸) واحمد فى المسند: ۱/ ۷۴

[۲] اخرجه ابن ما جه فى السنن كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل أبى بكر الصديق رضى الله عنه (رقم-۱۰۹)

[۳] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۷۰۰) واحمد فى المسند: ۴/ ۷۵.

ترجمه: ① او حضرت عبد الرحمن ابن خباب ﷺ بيان کوي ② هغه وخت زه هم دنبي کريم ﷺ مجلس مبارك کښې حاضر وم کوم وخت چې حضور ﷺ دجيش العسرة (يعنی د سختۍ جنګ مراد تري د تبوك غزا ده) دمالي امداد دپاره خلقوته جوش (ترغيب) ورکوي ③ حضرت عثمان ﷺ دحضور ﷺ دجوش نه ډك تقرير اوريدو سره اودريدلو او عرض يې وکی يارسول الله دالله تعالی په لار کښې په کار راتللو دپاره سل اوښان سره دهغوی دجهولونو اوپالانونو زه په خپله ذمه اخلم يعنی دي جنګ دپاره زه دالله په لار کي سل اوښان مع سازو سامان پيش کوم ④ دي نه وروسته هغه مجلس کښې ياپه څه بله موقع حضور ﷺ بياخلق هغه جنګ دپاره دامداد اومعاونت طرف ته متوجه اوراغب کړل نوحضرت عثمان ﷺ اودريدلو اوعرض يي وکی چې دمخکنو سل اوښانو نه علاوه مزيد دوه شوه اوښان مع دهغوی دجهولونو اوپالانونو يعنی پوره ساز وسامان سره دالله په لار کښې په خپله ذمه اخلم ⑤ بيا دريمه موقع هم داسې وه چې نبی ﷺ خلقو ته ترغيب ورک وه نوبيا حضرت عثمان ﷺ اودريدلو اوعرض يي وکی چې دري شوه اوښانو سره دهغوی دجهولونو اوپالانونو يعنی پوره پوره سامان سره دالله په لار کښې پخپله ذمه اخلم

حل اللغات:- ① يَحُثُّ: أَيْ يُحَرِّضُ: راپارول ني، جوش او ترغيب ني ورکولو ② جَيْشِ الْعُسْرَةِ: جيش لښکرته وائی اوالعسرة دتنګۍ په معنی کښې دي، ③ بَعِيرٍ: اوښ ④ أَحْلَاسِهَا: أَيْ: مَعَ جِلَافِ: دَ حلس جمع ده دَ اوښ دَ دولنی اوکجاوي لاندې چه کوم څادر وی هغه مراد دي کوم ته چه جهول وائی ⑤ أَقْتَابِهَا: أَيْ رِحَالِهَا: دَ قتب جمع ده کجاوي ته وائی اوښ سره دَ سازوسامان مراد دي ⑥ حَضَّ: أَيْ حَثَّ وَحَرَّضَ: دجوش پيدا کولو دپاره ني ترغيب ورکړو.

① فَأَنَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَنْزِلُ عَنِ الْمِنْبَرِ ② وَهُوَ يَقُولُ: «مَا عَلَى عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ هَذِهِ، مَا عَلَى عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ هَذِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① عبد الرحمن ابن خباب ﷺ وايي چې ماداليدل چې رسول کريم ﷺ منبر نه ښکته شو ② او فرمايل يي چې ددي عمل نه وروسته اوس عثمان ﷺ څه چې کوي دهغه نه به ورته هيڅ نقصان نه وي دوه خله يي داوفرمايل (ترمذي)

تسهيلات: قوله: وَهُوَ يَحُثُّ عَلَى جَيْشِ الْعُسْرَةِ،

د جيش العسره مصداق او وجه تسميه: دې نه غزوه تبوك مراد ده چه دَ يوي مياشتې په مسافت باندې وه دَ سختې ګرمنی موسم وو دَ لرې سفر وو په مدينه کښې دَ ميوو اوفصلونو دَ پرې کولو زمانه وه اوعام اعلان هم شوې وو ډيرش زره لښکر وو دَ سورلو مسئله وه دَ خپلو مسئله وه دَ خوراکی څيزونو مسئله وه بل طرف ته دري لاکهو روميانو سره مقابله وه په دې وجه حضور پاك په ډير اهتمام سره دَ څنده بار بار اپيل اوکړو او حضرت عثمان ﷺ اعزاز حاصل کړو

قوله: قَالَ: عَلَيَّ مِائَتَا بَعِيرٍ بِأَحْلاَسِهَا وَأَقْتَابِهَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ،

دائی دَ نذر دَپاره استعمال کړو چه په مابانديې نذر دي چه دومره به ورکوم. ابوعمرو رضي الله عنه اوفرمائيل چه حضرت عثمان رضي الله عنه په دې غزوه کښې ۹۵۰ اوښان ورکړه او ۵۰ اسونه ئې ورکړه دې دپاره چه زر پوره شي.

قوله: مَا عَلَى عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ هَذِهِ،

د غزوه تبوک د مالي قرباني انعام: دادَ دربار نبوی نه حضرت عثمان رضي الله عنه ته اعزازی تمغه ملاؤ شوه چه که دَ نن نه پس حضرت عثمان رضي الله عنه څه عمل هم اونه کړی نوده ته به هيڅ نقصان نه وی يعنی دَ حضرت عثمان رضي الله عنه مخکينی او روستونی ټولې خطاګانې معاف دی. دَدې نه دَحضرت عثمان رضي الله عنه دَحسن خاتمه اوجنتی کيدو بشارت دې.

دعمل نه کولو څخه مراد: علماؤ ليکلی دی چه دې اعمالو نه نفلی اعمال مراد دی چه دَ فرائضو نه علاوه که حضرت عثمان رضي الله عنه ترمرګه پورې څه نفلی نيکی اونه کړی نو څه پرواه نشته دا نيکی دَ ټولو نوافلو په ځائی ده. صحابه کرام دَدې اعزازاتو نه پس په اعمالو کښې کمزورې شوې نه وو بلکه دَهغوی اعمال به نور هم تيزيدل. دې حديث ته په کتلوسره دَ هغه خلقو سترګې کولاويدل پکاردی چه په حضرت عثمان رضي الله عنه باندې قسم قسم اعتراضات کوی حالانکه دَحضرت عثمان رضي الله عنه غلطيانې دَ مخکښې نه ختمې کړې شوی دی.

[۶۰۷۲]په جيش العسرة کښې د عثمان رضی الله عنه کارنامه

۶۰۷۲-()[۳] [۱]وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: [۲]«جَاءَ عُثْمَانُ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِأَلْفِ دِينَارٍ فِي كُمِّهِ حِينَ جَهَّزَ جَيْشَ الْعُسْرَةِ، فَنَثَرَهَا فِي حِجْرِهِ، [۳]فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُقَلِّبُهَا فِي حِجْرِهِ [۴]وَيَقُولُ: (مَا ضَرَّ عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ الْيَوْمِ) مَرَّتَيْنِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] اوحضرت عبدالرحمٰن ابن سمره رضي الله عنه وايي [۲]هغه وخت چې جيش عسره يعنی دتبوک دلښکر دجهاد سامان تيار اوجمع کيدي حضرت عثمان رضي الله عنه يوهزار دينار دخپل قميص په لستوڼي کښې نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته راوړل اودحضور صلی الله عليه وسلم په غيږ کښې يي کيښودل [۳] ماوليدل چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم هغه دينارونه خپلې غيږې کښې اړولو رااړولو سره کتل [۴]وفرمايل يي دنن ورځ دي مالي ايثار نه وروسته که عثمان رضي الله عنه نه څه ګناه سرزدهم شي نوهغه ته به څه نقصان نه وي دا الفاظ حضور صلی الله عليه وسلم دوه خله ارشاد وفرمايل (احمد)

حل اللغات:- ① كُمِّهِ: کُم لستوڼری ته وائی. ② جَهَّزَ: أَيْ: رَتَّبَ: چه سامان تياريدلو او جمع کيدلو، ③ فَنَثَرَهَا: أَيْ: كَبَّهَا: راخورې ئې کړې، راوائې ړولې، ④ يُقَلِّبُهَا: اړول رااړول ئې دنانير، ⑤ مَا ضَرَّ: أي لَمْ يَضُرَّ: هيڅ ضرر او نقصان نه رسوی.

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۷۰۱) واحمد فی المسند:۵/۶۳

تسهيلات:

قوله: بِأَلْفِ دِينَارٍ فِي كُمِّهِ

په حديثونو کښې تعارض: ماقبل روايت کښې دَ شپږو سوو اوښانو ذکر دې او دلته دَ يو زردينار ورکولو ذکر دې په دې کښې تعارض دې

د تعارض جواب: دې کښې تعارض نشته خکه چه کيدې شي چه حضرت عثمان رضي الله عنه اول اوښان په خدمت کښې وړاندې کړې وی اوبيا روستو ئې دينار هم پيش کړې وی. په دې حديث کښې هم هغه زيرې ورکړې شوې دې کوم چه په ماقبل حديث کښې اورولې شوې وو

[٦٠٧٤] د رسول الله لاس د عثمان رضي الله عنه د لاس په ځائې

٦٠٧٤-()[٥] [١] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «لَمَّا أُمِرَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِبَيْعَةِ الرِّضْوَانِ [٢] كَانَ عُثْمَانُ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- رَسُولَ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِلَى مَكَّةَ، [٣] فَبَايَعَ النَّاسُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (إِنَّ عُثْمَانَ فِي حَاجَةِ اللَّهِ وَحَاجَةِ رَسُولِهِ) [٤] فَضَرَبَ بِإِحْدَى يَدَيْهِ عَلَى الْأُخْرَى، [٥] فَكَانَتْ يَدُ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لِعُثْمَانَ خَيْرًا مِنْ أَيْدِيهِمْ لِأَنْفُسِهِمْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] اوحضرت انس رضي الله عنه وايي کوم وخت چې رسول الله ﷺ صحابه رضي الله عنهم ته دبيعة الرضوان حکم ورکړو [٢] نوهغه وخت حضرت عثمان درسول الله ﷺ دخصوصي نماينده په حيثيت سره مکې ته تلې وو [٣] حضور ﷺ دخلقو نه دجان نثاري بيعت اخستلې اوهرکله چې ټولو مسلمانانو بيعت وکړ اوحضرت عثمان رضي الله عنه هلته موجود نه وو نورسول کريم ﷺ وفرمايل عثمان رضي الله عنه دالله ددين اودالله درسول په کار باندې تلې دې [٤] اودې ويلو سره خپل يولاس يې بل لاس باندې ووهې [٥] نودرسول کريم ﷺ هغه لاس چې دحضرت عثمان رضي الله عنه دطرف نه وو دباقي ټولو صحابه رضي الله عنهم دلاسونو نه زيات بهتر اوافضل وو کوم چې دهغوی دخپل طرف نه وو (ترمذي)

حل اللغات: - ① بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ: په صلح حديبيه کښې چه د وونې لاندې کوم بيعت شوې ووهغې ته بيعت رضوان وائي. ددوی په باره کښې لقد رضي الله آيت نازل شوې په دې و جه ورته بيعت رضوان وائي

تسهيلات:

قوله: لَمَّا أُمِرَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِبَيْعَةِ الرِّضْوَانِ..الخ:

د بيعت رضوان پس منظر: په صلح حديبيه کښې حضورپاک حضرت عثمان رضي الله عنه دَ سفيربه توګه قريشو له ليګلې وو قريشو هغه دَ څه وخت دپاره ګيرکړو اوبل طرف ته مشهوره کړې شوه چه حضرت عثمان رضي الله عنه شهيد کړې شو دَهغه دَ بدله دپاره حضورپاک دکيکر دَ يوې

---

[1] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب (رقم-٣٧٠٢)

ونې لاندې دَ یونیم زر صحابه کرامو نه بیعت واخستو حضرت عثمان رضي الله عنه چونکه نه ووپه دې وجه حضورپاك دَهغه دَپاره هم بیعت واخستومګر خپل یو لاس ئې دَ حضرت عثمان رضي الله عنه لاس اوګرځولو او بیعت ئې واخستو حضورپاك دَحضرت عثمان رضي الله عنه دَپاره دا بیعت څکه واخستو چه دَهغه ډیر لوئې فضیلت راتلونکې وو حضورپاك په دې احتمال باندې بیعت واخستو چه که هغه ژوندې وی نوچه هغه هم په دې بیعت کښې شریك شی اودَ بیعت رضوان فضیلت ورته حاصل شی چنانچه هم دغه شان اوشو یوصحابی فرمائی چه مونږ دَ حضورپاك په لاس باندې دَ مرګ بیعت کړې وو

[۶۰۷۵] دعثمان رضی الله عنه باغیا نوته جرآت مندا نه خطاب

۶۰۷۵ - ( ) [۲] [۱] وَعَنْ ثُمَامَةَ بْنِ حَزْنٍ الْقُشَيْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: شَهِدْتُ الدَّارَ [۲] حِينَ أَشْرَفَ عَلَيْهِمْ عُثْمَانُ فَقَالَ: أَنْشُدُكُمُ اللَّهَ وَالْإِسْلَامَ [۳] هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَدِمَ الْمَدِينَةَ وَلَيْسَ بِهَا مَاءٌ يُسْتَعْذَبُ غَيْرَ بِئْرِ رُومَةَ؟ [۴] فَقَالَ: ((مَنْ يَشْتَرِي بِئْرَ رُومَةَ يَجْعَلُ دَلْوَهُ مَعَ دِلَاءِ الْمُسْلِمِينَ بِخَيْرٍ لَهُ مِنْهَا فِي الْجَنَّةِ؟)) [۵] فَاشْتَرَيْتُهَا مِنْ صُلْبِ مَالِي، وَأَنْتُمُ الْيَوْمَ تَمْنَعُونَنِي أَنْ أَشْرَبَ مِنْهَا حَتَّى أَشْرَبَ مِنْ مَاءِ الْبَحْرِ؟ [۶] فَقَالُوا: اللَّهُمَّ نَعَمْ.

ترجمه: [۱] اوحضرت ثمامه ابن حزن قشیري بیان کوي زه هغه وخت دحضرت عثمان رضي الله عنه په مکان کښې موجود وم هرکله چې هغه دمفسدانو اوباغیانو یولوی جماعت په محاصره کښې آخستی وو اودننه ورتلو سره دحضرت عثمان رضي الله عنه قتلول یې غوښتل [۲] حضرت عثمان رضي الله عنه دپورته نه په کتلو سره هغه باغیان مخاطب کړل او ورته یې وفرمایل زه دالله اواسلام واسطه ورکولو سره ستاسو خلقوڅخه پوښتنه کوم [۳] یا تاسو ته معلومه ده چې کله رسول الله ﷺ دمکې نه په هجرت کولومدینې ته تشریف راوړی وو نوهغه وخت مدینه کښې درومه کوهي نه علاوه دخوږو اوبو کوهي نه وو [۴] اوبیا چې حضور ﷺ وفرمایل کوم سړی دی چې رومه کوهي واخلي اوخپله بوقه دمسلمانانو بوقې سره جوړه کړی ددې نیکی چې داکوهي خرید کولو سره وقف کړي دې هغه ته به ددې کوهي په سبب جنت حاصلیږي [۵] نوهغه زه وم چې دحضور ﷺ په ارشاد خپل اصل اوخالص مال باندې مې داکوهي واخستي اونن تاسو ماددې کوهي داوبو څکلوڅخه منع کوي ددې پورې چې زه دسمندر یعنی دسمندر په شان ترخې اوبوڅکلو باندې مجبور کیږم [۶] خلقو دې اوریدو سره اوویل هو اې الله مونږته ددې علم دی چې عثمان رضي الله عنه داکوهي خرید کولو سره وقف کړی وو

حل اللغات: - ① شَهِدْتُ: أي: حَضَرْتُ: حاضرشوم ② أَشْرَفَ: أي: اطَّلَعَ: د پورته نه راښکاره شو ③ أَنْشُدُكُمْ: أي: أَسْأَلُكُمْ: زه ستاسو نه تپوس کوم. پوښتنه کوم. یا قسم درکوم ④ يُسْتَعْذَبُ: أي: يَعْذُبُ: چه اوبه

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۷۰۳) والنسائی فی کتاب الأحباس/باب: وقف المساجد (رقم-۳۶۰۸)

ني خوړې وی. ⑤بِئرِرُومَةَ: وادي عقيق اصفر کښې دَ يو يهودی کوهې وو، کوم چه حضرت عثمان په زر درهمه واخستلو او وقف ئې کړو. ⑥دِلَاء: دَ دَلو جمع ده، بوقې ته وائی دلته دا کنایه ده د وقف عام نه. ⑦صُلبِ مَالِي: أَيْ: مِنْ أَصْلِهِ أَوْخَالِصِهِ: خپل خالص او پاک مال.

[۱]فَقَالَ أَنْشُدُكُمُ اللّٰهَ وَالْإِسْلَامَ، [۲]هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ الْمَسْجِدَ ضَاقَ بِأَهْلِهِ [۳]فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «مَنْ يَشْتَرِي بُقْعَةَ آلِ فُلَانٍ [۴]فَيَزِيدُهَا فِي الْمَسْجِدِ بِخَيْرٍ لَهُ مِنْهَا فِي الْجَنَّةِ؟» [۵]فَاشْتَرَيْتُهَا مِنْ صُلْبِ مَالِي، فَأَنْتُمُ الْيَوْمَ تَمْنَعُونَنِي أَنْ أُصَلِّيَ فِيهَا رَكْعَتَيْنِ؟ [۶]قَالُوا اللّٰهُمَّ نَعَمْ. [۷]قَالَ: أَنْشُدُكُمُ اللّٰهَ وَالْإِسْلَامَ، هَلْ تَعْلَمُونَ [۸]أَنِّي جَهَّزْتُ جَيْشَ الْعُسْرَةِ مِنْ مَالِي؟ قَالُوا: اللّٰهُمَّ نَعَمْ.

ترجمه: [۱] بيا حضرت عثمان رضی اللہ عنہ وفرمايل زه دالله او اسلام واسطه درکولو سره ستاسو نه پوښتنه کوم ايا تاسو ته معلومه ده [۲]چې کوم وخت مسجد نبوي ﷺ دمونځ کونکو دزياتيدو په سبب تنګيدلي [۳]نورسول کريم ﷺ وفرمايل کوم سړی دي چې دفلاني سړی داولاد نه زمکه خريد کړی [۴]ودهغه په ذريعه مسجد له توسيع ورکړي وقف کونکي ته به ددي زمکي په سبب جنت حاصليږي [۵]نودازه وم چې هغه زمکه مي په خپل اصل اوخالص مال سره خريد کړله اونن تاسو مادي زمکي نه لاڅه اصل مسجد کې ددوه رکعاته مونځ کولوڅخه منع کوي [۶]خلقو دي اوريدو سره اوويل هو اي الله مونږ ته ددي علم دی [۷]بيا حضرت عثمان رضی اللہ عنہ وفرمايل زه دالله او اسلام واسطه درکولو سره ستاسو نه پوښتنه کوم ايا تاسو ته معلومه ده [۸]چې هغه زه وم چې دجيش عسرة يعنی غزوه تبوک کښې تلونکي لښکر تياري مي په خپل مال سره کړي وه اوزمادي مالي خدمت باندې حضور ﷺ زما په حق کښې چې کوم وقيع الفاظ ارشاد فرمايلی وو هغه زما حسن حال اوحسن مآل باندې دلالت کوي خلقو دي اوريدو سره اوويل هو اي الله مونږته معلومه ده

حل اللغات:- ⑧ضَاقَ: تنګ شو، کم شو. ⑨بُقْعَةَ: د زمکې يوې حصې ته وائی.

[۱]قَالَ: أَنْشُدُكُمُ اللّٰهَ وَالْإِسْلَامَ، هَلْ تَعْلَمُونَ [۲]أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ عَلَى ثَبِيرِ مَكَّةَ وَمَعَهُ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَأَنَا، فَتَحَرَّكَ الْجَبَلُ حَتَّى تَسَاقَطَتْ حِجَارَتُهُ بِالْحَضِيضِ، [۳]فَرَكَضَهُ بِرِجْلِهِ قَالَ: «اسْكُنْ ثَبِيرُ، فَإِنَّمَا عَلَيْكَ نَبِيٌّ وَصِدِّيقٌ وَشَهِيدَانِ»؛ [۴]قَالُوا: اللّٰهُمَّ نَعَمْ. قَالَ: اللّٰهُ أَكْبَرُ، شَهِدُوا وَرَبِّ الْكَعْبَةِ أَنِّي شَهِيدٌ، ثَلَاثًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: [۱] بيا حضرت عثمان رضی اللہ عنہ وفرمايل زه دالله او اسلام واسطه درکولو سره ستاسو نه پوښتنه کوم ايا تاسو ته دامعلومه ده [۲]چې يوه ورځ رسول کريم ﷺ دمکې په ثبير غره ولاړ وو اوحضور ﷺ سره حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ حضرت عمر رضی اللہ عنہ اوزه هم وم [۳]وهرکله چې هغه غر باندې دحضور ﷺ وجود مبارک ليدو سره د ډيرې خوشحالۍ د جوش نه په خوزيدو شو اودهغه خوزيدو سره کاڼي لاندې طرف ته اورغړيدل په غورځيدو شو [۴]نوحضور ﷺ غره ته لغته ورکړه ورته يې وفرمايل قلار شه حرکت مه کوه داوقت په تاباندې يونبي دی

يو صديق دی او دوه حقيقي شهيدان دي خلقو دي اوريدو سره اوويل هو اې الله مونږ ته ددي علم دي اوبيا حضرت عثمان رضی الله عنه دالله اکبر نعره ولګوله اوهغه اوويل دي خلقو زما دخبرو تصديق کړي دي دکعبي په رب قسم زه يقيناً شهيديم دا الفاظ هغوی درې ځله وفرمايل. (ترمذي نسايي دارقطني)

حل اللغات: -⑩ثَبِير: جَبَلٌ بِمَكَّةَ: په مکه کښې د يو غر نوم دې. ⑪بِالْحَضِيضِ: أَيْ أَسْفَلَ الْجَبَلِ: د غر نه ښکته زمکې طرف ته. ⑫فَرَكَضَهُ: أَيْ: ضَرَبَهُ: اوئې وهلو (په خپه باندې، لته ئې ورکړه).

تسهيلات:

قوله: شَهِدْتُ الدَّارَحِينَ أَشْرَفَ عَلَيْهِمْ عُثْمَانُ،

دواقعه دار پس منظر: دَ حضرت عثمان رضی الله عنه دَ خلافت رومبی شپږ کاله په ښه ښکلې طريقه سره تيرشو بيا دَهغوی نه هغه ګوته په بئر ادريس کښې پريوتلو سره ورکه شوه کومه چه دَ حضورپاك وه اودَ حضرات شيخين نه پس دَ حضرت عثمان رضی الله عنه لاس ته راغلې وه. دَ خلافت په باقی شپږو کالو کښې قسم قسم بې اتفاقئی شروع شوې.

دعبدالله بن سبا پروپيګنډه: عبدالله بن سبا يهودی به دَ دروغو الزامونه لګولو سره دَهغوی دَ ګورنرانو نه خلق بدګمانه کول. په مکه اومدينه کښې چه دَهغه پر پيګنډه ناکام شوه نودې شام ته لاړو بيا کوفه ته لاړو مګر په يوځائی کښې هم هغه ته څه خاطرخوا کاميابی ملاؤ نه شوه. بيا داخبيث مصرته لاړو اوهلته دَهغه پروپيګنډه کاميابه شوه. هغه يوه جنګی دسته تياره کړه اومدينې ته ئې روانه کړه. دَ بلوه کونکو په دې ډله کښې محمدبن ابی بکر هم وو اول مذاکرات اوشو او کامياب شو. دَ مصر ګورنر عبدالله بن ابی سرح اخواکړې شو اودَ ګورنرئی پروانه ئې دَ محمدبن ابی بکر په لاس کښې ورکړه چه دَهغه په رسيدو باندې هغه دَمصر ګورنرمقرر کړې شی.

د مروان بن حکم سازش: بل طرف ته مروان بن حکم يو سازشی سړې وو هغه دَ حضرت عثمان رضی الله عنه په اس باندې دَهغه غلام سورولوسره مصر ته روان کړو اودَمصر ګورنرعبدالله بن ابی سرح په نوم باندې ئې اوليکل چه څنګه محمدبن ابی بکر مصرته اورسی هغه قتل کړه. په لاره کښې دا غلام اونيولې شو په معلوماتو کولوکښې دَهغه دَلاس نه يوخط ملاؤ شو په کوم چه دَ حضرت عثمان رضی الله عنه دَ ګوتې مهر وو.

د مروان سازش ښکاره کيدل: محمدبن ابی بکر خپلو ملګروته اووئيل چه اوس واپس لاړشئی دَدې خبرې تحقيق به کوو. چنانچه دابلوا کونکی مدينې ته واپس راغله اودَحضرت عثمان رضی الله عنه نه ئې تپوس اوکړو دا اس دَچادې؟ وئې فرمائيل زما دې. دا غلام دَ چا دې؟ وئې فرمائيل زما دې. دامهردَ چادې؟ وئې فرمائيل زما دَ ګوتې دې. داخط دَچا دې؟ په خدائی قسم ماته نه معلومه چه داخط دَ چادې؟ کله چه دَمدينې منورې دَخلقودَخط

نمونې حاصلې کړې شوې نومعلومه شوه چه داخط مروان بن حکم لیکلې دې. بلوایانو اوونیل چه مروان مونږ ته حواله کړئ

د عثمان رضی الله عنه د کور محاصره کول: حضرت عثمان رضی الله عنه نرم مزاج شخصیت وو وئې فرمائیل زه داسې نه شم کولې په دې باندې هغه بلوایانو دَهغوی دکور محاصره اوکړه. څلویښت ورځو پورې اوبه دانه بنده کړه او محاصره ئې جاری اوساتله په دې دوران کښې حضرت عثمان رضی الله عنه څو خل بلوایانو او نورو خلقو ته دَکوردَ کهړکئی نه کتلوسره خطاب اوکړو او په خپل خان باندې دَ لګولو شوو الزامونو معقول جواب ورکړو زیر بحث روایت هم دَدغه خطاب یوه حصه ده مګر په دې کښې حضرت عثمان رضی الله عنه خپل منقبت، بشارت اوخپل حیثیت اوبیا شهادت واضح کړې دې. خوبلوایانو اوباغیانو هغوی راګیراوساتلو اودَ څلویښت ورځو محاصره نه پس محمدبن ابی بکر اونورِ بلوا کونکی دکور شاتنی دیوال کښې کندر کولوسره دننه داخل شو او هغوی شهید کړل

قوله: وَلَيْسَ بِهَا مَاءٌ يُسْتَعْذَبُ غَيْرُبِئْرِرُومَةَ؟

د بیر روما کوهی اخستل اووقف کول: حضرت عثمان رضی الله عنه دغه کوهې واخستلو اودَ مسلمانانودپاره ئې وقف کړو یهودی به دَدې کوهی اوبه په مسلمانانوباندې ګرانې خرخولې

[۶۰۷۶] د عثمان د حقانیت پیشنګوئی

۶۰۷۶-( ) [ع] [۱] وَعَنْ مُرَّةَ بْنِ كَعْبٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] وَذَكَرَ الْفِتَنَ فَقَرَّبَهَا، فَمَرَّ رَجُلٌ مُقَنَّعٌ فِي ثَوْبٍ [۳] فَقَالَ: (هَذَا يَوْمَئِذٍ عَلَى الْهُدَى) فَقُمْتُ إِلَيْهِ فَإِذَا هُوَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ. [۴] قَالَ: فَأَقْبَلْتُ عَلَيْهِ بِوَجْهِهِ فَقُلْتُ: هَذَا؟ [۵] قَالَ: (نَعَمْ)» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: [۱] اوحضرت مره ابن کعب رضی الله عنه وایې مادرسول الله ﷺ نه دوه ارشاده په خپلو غوږونو سره واوریدل [۲] چې هغه کښې حضور ﷺ دخپل زمانه نبوت نه وروسته دواقع کیدونکو د فتنودك حادثاتو بطور پیشینګویې ذکر فرمایلې وو حضور ﷺ دهغه فتنو تعلق یې بالکل نزدې زمانه کښې قائم کړې یعنی دایې هم وفرمایل چې دافتنې مستقبل نزدې کښې واقع کیدونکې دې اوعین هغه وخت چې دحضور ﷺ ددې ارشاداتو سلسله جاري وه یوسړي په سرکپړه اچولې مخې ته تیر شو [۳] نوحضور ﷺ هغه طرف ته اشاره کولو سره وفرمایل داسړی به دې پرفتن او د شر اوفساد په ورځو کې په حق باندې وي حضرت مره رضی الله عنه وایې دحضور ﷺ دا الفاظ اوریدو سره زه دخپل ځای نه پاڅیدم اوهغه سړی طرف

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۷۰۴) وابن ماجه فی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل أبی بکر الصدیق رضی الله عنه (رقم-۱۱۱) واحمد فی المسند:۳۵/۵

ته ورمخکي شوم چې وګورم داسرې څوک دی نو ومې لیدل چې هغه حضرت عثمان ابن عفان رضي الله عنه دی [۴] د حضرت مره رضي الله عنه بیان دی بیامادحضرت عثمان رضي الله عنه مخ تاوولو سره حضور ﷺ ته وښودل اوپوښتنه مي تري وکړه چې آیا دا صاحب دی چې دهغوی باره کښې تاسو ﷺ فرمایلي دي چې هغه پرفتن ورځو کښې به داسرې په حق وي [۵] نوحضور ﷺ وفرمایل هو داروایت ترمذي اوابن ماجه نقل کړی دی اوترمذي ویلي دي چې داحدیث حسن صحیح دی

حل اللغات:- ① اَلْفِتَنَ: د فتنة جمع ده، فتنې یعنی شر اوفساد (چه دانسان ازمانښ ورسره کولی شي)، ② مُقَنَّعٌ: أَيْ مُسْتَتِرٌ فِي ثَوْبٍ: خان ني په کپړه کښې ګیرکړي وو یعنی دسر نه ني کپړه تاؤکړې وه. ③ فَأَقْبَلْتُ: ور وامې ړولو، اومې ګرځولو.

تسهیلات:

قوله: هَذَا يَوْمَئِذٍ عَلَى الْهُدَى.

دعثمان د حقانیت دلیل: په دې حدیث کښې په امت مسلمه باندې د راتلونکو فتنو پیشنګوني کړې شوې ده دکوم شروع چه به د حضرت عثمان رضي الله عنه د دور څخه کیږي او په دې کښې به هغه ثابت قدم پاتې وی تردې چه شهید به شي.

[۶۰۷۷] عثمان رضی الله عنه ته د خلافت نه پریخودو حکم کول

۶۰۷۷-() [۸] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] (يَا عُثْمَانُ، إِنَّهُ لَعَلَّ اللَّهَ يُقَمِّصُكَ قَمِيصًا، [۳] فَإِنْ أَرَادُوكَ عَلَى خَلْعِهِ فَلَا تَخْلَعْهُ لَهُمْ» [۴]. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ - وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ فِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ طَوِيلَةٌ.

ترجمه: [۱] اوام المؤمنین بي بي عائشه رضي الله عنها وایي یوه ورځ رسول کریم ﷺ حضرت عثمان رضي الله عنه ته وفرمایل [۲] اې عثمان رضي الله عنه دي کښې شک نشته چې الله تعالی به شاید تاته یوقمیص یعنی قمیص دخلافت واغوندوي [۳] که خلق ستاهغه قمیص اوخکل غواړي اوتاپه دي مجبوروي نودهغوی په وجه هغه قمیص هیڅ کله مه اوباسه [۴] دارروایت ترمذي اوابن ماجه نقل کړی دی اوترمذي ویلي دي ددي حدیث ضمن کښې یوطویله دردناکه قصه ده.

حل اللغات:- ① يُقَمِّصُكَ: أَيْ يُلْبِسُكَ: در اغوستوی به تاته، ② قَمِيصًا: أَيْ خُلْعَةُ الْخِلَافَةِ: د کمیص نه مراد خلافت دي (یعنی عثمان ته به الله پاک خلافت ورکوی)، ③ خَلْعِهِ: أَيْ نَزْعِهِ: اوښکل او ویستل کمیص دخلافت لره

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۷۰۵) وابن ماجه فی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل أبي بکر الصدیق رضی الله عنه (رقم-۱۱۲) واحمد فی المسند: ۷۵/۶

تسهیلات:

قوله فَإِنْ أَرَادُوكَ عَلَى خَلْعِهِ فَلَا تَخْلَعْهُ لَهُمْ:

د منصب نه پریخودو حکم: په حدیث الباب کښې رسول الله ﷺ حضرت عثمان رضی الله عنه مخاطب کولو سره اوفرمائیل چه الله پاك کله تاته خلافت درکړی او بیا ستا دَ دغه خلافت په زمانه کښې داسې ظالمان فاسدان خلق راپیدا شی چه تا دَ خلافت په پریخودو باندې مجبوره کړی نو ته دَ خپل خلافت واګې مضبوطې اونیسه او هغوی ته ئی مه حواله کوه ځکه چه ته به په حقه باندې یې او هغوی به په باطل باندې که چرې ته هغه وخت دَ فاسدانو په مطالبه باندې دَخلافت نه لاس واخلې نوخلق به شك کوی چه ته هډو په حق باندې وې نه

دعثمان رضی الله د نبی علیه السلام په حکم عمل کول: چنانچه دَ حضرت عثمان رضی الله عنه دَ خلافت په زمانه کښې هم داسې اوشو چه سازشی عناصرو دَ هغوی نه په زور سره مطالبه اوکړه لیکن هغوی خلافت پرینخودو بلکه دَ رسول خدا حکم ئی پوره کړو او شهادت ته ئی ترجیح ورکړه

[۶۰۷۸] دعثمان رضی الله عنه د شهادت پیشن ګویي

۶۰۷۸-( ) [۹] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: «ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِتْنَةً [۲] فَقَالَ: (يُقْتَلُ هَذَا فِيهَا مَظْلُومًا) لِعُثْمَانَ». [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، غَرِيبٌ إِسْنَادًا.[1]

ترجمه: [۱] اوحضرت ابن عمر رضی الله عنه وایي یو ورځ رسول کریم ﷺ مستقبل نزدې کښې دواقع کیدونکو پرفتن حادثاتو ذکر وکړو [۲] ودحضرت عثمان رضی الله عنه په حق کښې یې وفرمایل چې داسې به هغه حادثاتو کې مظلومانه طور سره ووژلی شي شهید شی [۳] دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یې دي چې داحدیث داسنادو داعتبار نه حسن غریب دی.

تسهیلات:

دې د حدیث د ترجمې څخه مطلب ښکاره دي

[۶۰۷۹] دارشاد نبوي ﷺ په تعمیل کښې یې دصبر وتحمل لمن نیولي وه

۶۰۷۹-( ) [۱۰] [۱] وَعَنْ أَبِي سَهْلَةَ، قَالَ: «قَالَ لِي عُثْمَانُ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- يَوْمَ الدَّارِ: [۲] إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَدْ عَهِدَ [۳] إِلَيَّ عَهْدًا وَأَنَا صَابِرٌ عَلَيْهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[2]

ترجمه: [۱] ابوسهله فرمایی چی عثمان رضی الله عنه هغه ورځ چی په کومه ورځ هغوی شهید کړل شووفرمایل [۲] حضور ﷺ ماته یو صیت کړی وو یعنی دایی ویلی وو چی خلافت ترك نه کړی

[1] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۸) واحمد في المسند:۲/۱۱۵

[2] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب(رقم-۳۷۱۱)

[۲] او څه په هغه وصيت صبر کولو والايم يا په هغه ظلم وستم صبر کوم کوم چې راپيښيږي ترمذي وايي چې داحديث حسن صحيح دی.

تسهيلات: قوله: يَوْمَ الدَّارِ:

د يوم الدار څخه مراد: دَ دي نه مراد هغه ورځ ده په کومه ورځ چه دَ حضرت عثمان رضي الله عنه مظلومانه شهادت واقع شوي وو او دار ورته په دې وجه اووئيلې شو چه ظالمانودَ حضرت عثمان رضي الله عنه دَ کور نه سخته ګيره اچولې وه او په کور کښې دننه ورداخل شو حضرت عثمان رضي الله عنه ئې شهيد کړو.

قوله: وَأَنَا صَابِرٌ عَلَيْهِ:

دحضرت عثمان رضی الله عنه صبراوتحمل: دَ حضورپاك دَ فرمان په وجه حضرت عثمان رضي الله عنه په مقابل باندې توره اوچته نه کړه سره دَدې چه بعضې صحابه کرامو رضي الله عنهم هغوی ته دَ حالاتو په رڼړا کښې مشوره ورکړې وه چه تاسو دَهغوی خلاف توره اوچته کړئی او مونږ ته حکم راکړئی چه دَ دغه باغيانو خلاف جهاد اوکړو ځکه چه دې وخت مسلمانان په ګنړ شمير کښې موجود دی او داخلق تاسو سره دَ مقابلې طاقت نه لري. ليکن حضرت عثمان رضي الله عنه دَ هغوی مشوره قبوله نه کړه بلکه دَ صبر او تحمل لمن ئې کلکه اونيوله او مدينة الرسول ئې دَ قتل و غارت نه بچ اوساتلو تردې چه دَ شهادت جام ئې نوش کړو.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۶۰۸۰] دعثمان رضي الله عنه مخالفينوته دابن عمر رضي الله عنه چپ کونکي جواب

۶۰۸۰-([۱]) [۱] عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَوْهَبٍ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ مِصْرَ يُرِيدُ حَجَّ الْبَيْتِ [۲] فَرَأَى قَوْمًا جُلُوسًا، [۳] فَقَالَ: مَنْ هَؤُلَاءِ الْقَوْمُ؟ قَالُوا: هَؤُلَاءِ قُرَيْشٌ. [۴] قَالَ: فَمَنِ الشَّيْخُ فِيهِمْ؟ قَالُوا: عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ. [۵] قَالَ: يَا ابْنَ عُمَرَ، إِنِّي سَائِلُكَ عَنْ شَيْءٍ فَحَدِّثْنِي: هَلْ تَعْلَمُ أَنَّ عُثْمَانَ فَرَّ يَوْمَ أُحُدٍ؟ قَالَ: نَعَمْ. [۶] قَالَ: هَلْ تَعْلَمُ أَنَّهُ تَغَيَّبَ عَنْ بَدْرٍ وَلَمْ يَشْهَدْهَا؟ قَالَ: نَعَمْ.

ترجمه: [۱] اوحضرت عثمان ابن عبدالله ابن موهب تابعي بيان کوي چې يومصري سړی دحج بيت الله شريف په اراده مکې ته راغی [۲] هغه يوځاي کښې څه خلق ناست وليدل [۳] نوپوښتنه يي وکړه داکوم خلق دي هغه ته وښودل شوه چې دااکابر قريش دي [۴] بياهغه پوښتنه وکړه ددوی شيخ يعنی دعلم وفضل داعتبار نه په دوی کښې دټولو نه لوی سړی څوک دی ؟ خلقو جواب ورکړو عبدالله ابن عمر رضي الله عنه [۵] بياهغه مصري حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه طرف ته متوجه کيدو سره اوويل اې ابن عمر رضي الله عنه زه ستاسو نه څو سوالات کول

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الإجارة/باب الصلاة علی من ترک دينا (رقم-۲۳۹۸)والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۷۰۶)

او: هغه جواب غواړم ایا تاسو ته معلومه ده چې عثمان ﷛ داحد دجنګ په ورځ تښتیدلي وو حالانکه دکفارو دمقابلي نه تښتیدل ډیره بده خبره ده حضرت ابن عمر ﷛ جواب ورکړو هو ډاسې شوی وو چې په هغه ورځ عثمان ﷛ د مور چې نه لرې شوی وو [۶] بیا هغه سړي پوښتنه وکړه ایا تاسو ته معلومه ده چې عثمان ﷛ دبدر په جنګ کښې غائب وو اومعرکه کښې شریک نه شو چې دهغه په بنا هغه ته هغه اعزاز حاصل نه شو چې هغه سره اهل بدر سرفراز شو حضرت ابن عمر ﷛ جواب ورکړو هو عثمان ﷛ جنګ بدرکي شریک نه وو

حل اللغات: - ① الشَّيْخ: أَي: العَالِمُ الْمُعْتَبَرُ: مشر یعنی لوئي عالم.

[۱] قَالَ: هَلْ تَعْلَمُ أَنَّهُ تَغَيَّبَ عَنْ بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ فَلَمْ يَشْهَدْهَا؟ قَالَ: نَعَمْ. [۲] قَالَ: اللَّهُ أَكْبَرُ. قَالَ ابْنُ عُمَرَ: تَعَالَ أُبَيِّنْ لَكَ [۳] أَمَّا فِرَارُهُ يَوْمَ أُحُدٍ فَأَشْهَدُ أَنَّ اللَّهَ عَفَا عَنْهُ، [۴] وَأَمَّا تَغَيُّبُهُ عَنْ بَدْرٍ فَإِنَّهُ كَانَتْ تَحْتَهُ رُقَيَّةُ بِنْتُ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَكَانَتْ مَرِيضَةً، [۵] فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (إِنَّ لَكَ أَجْرَ رَجُلٍ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا وَسَهْمَهُ). [۶] وَأَمَّا تَغَيُّبُهُ عَنْ بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ فَلَوْ كَانَ أَحَدٌ أَعَزَّ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْ عُثْمَانَ لَبَعَثَهُ،

ترجمه: [۱] بیا هغه سړي اوویل ایا تاسو ته معلومه ده چې عثمان ﷛ حدیبیه کښې دبیعت رضوان په موقع غائب وو اوهغه بیعت کښې شریک نه شو حضرت ابن عمر ﷛ ورته اوویل هو عثمان ﷛ بیعت رضوان کښې شریک شوی نه وو [۲] هغه سړي چې دراصل دحضرت عثمان ﷛ باره کښې خراب خیالات لرل هرکله چې هغه ولیدل چې حضرت ابن عمر ﷛ دهغه دیوي یوي خبري تصدیق کړی دی نودذي حیرت اوخوشحالي اظهار په طور چې عثمن ﷛ باندې وارد کیدونکي اعتراضات ددومره عظیم اومعتبرسړي په ذریعه ثبت شوي دي هغه زور دار اواز کښې اوویل الله اکبر نوحضرت ابن عمر ﷛ ورته وفرمایل دراصل ته داحمقانه خیالاتو ښکار شوی یې کومي خبري چې ته دعثمان ﷛ دتنقیص دلیل ګڼي اودهغه واقعاتي تصدیق تازما نه کړي دي هغه داسې نه دی ځرنګه چې ته یې ګڼې حقائق څه نوردي اوکه په هغه حقائقو ته پوهیدل غواړې نوراځه زه یې تاته په وضاحت سره ښایم [۳] دجنګ احد په ورځ دعثمان ﷛ دتښتیدو باره کښې خوزه ګواهي ورکوم چې دهغوی داخبره الله تعالى معاف کړي ده اوداتولوته معلومه ده چې کومه خبره معاف شوي وي په هغه دعیب جوړي یادتنقیص بنیاد ایښودل بیخي حماقت دی [۴] وجنګ بدر کښې چې عثمان ﷛ شریک شوی نه وو نودهغه وجه داپیښه شوي وه چې بي بي رقیه ﷛ بنت رسول الله ﷺ دهغوی نکاح کښې وه اوهغه ورځو کې هغه سخته ناروغه وه نورسول الله ﷺ عثمان ﷛ جنګ بدرته دتلوڅخه منع کړی وو [۵] وهغوی ته یې فرمایلي وه چې تاته به هم هغه شان ثواب اوحصه حاصلیږي کومه چې دي جنګ کښې شریکیدونکي یوسړی ته حاصلیږي [۶] وس پاتې شو بیعة الرضوان کښې دعثمان ﷛ نه

شریکیدل نومخکي داحقیقت په نظرکي وساته که صحابه ؤ رضي الله عنهم کښې بل سړی دخانداني طاقت او وجاهت داعتبار نه مکه کښې دعثمان رضي الله عنه نه زیات عزت او اثر لرونکي څوک وي

حل اللغات: -② بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ: په صلح حدیبیه کښې چه د ونې لاندې کوم بیعت شوې ووهغې ته بیعت رضوان وائی، ددوی په باره کښې لقد رضی الله آیت نازل شوې په دې و جه ورته بیعت رضوان وائی ③ أُبَيِّنْ: زه بیانوم، حقائق درته ښکاره کوم ④ تَحْتَهُ: أَيْ: تَحْتَ عَقْدِهِ: یعنی دحضرت عثمان رضي الله عنه په نکاح کښې وه ⑤ سَهْمَهُ: حصه دهغه (یعنی دهغې برابر)

[۱] فَبَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عُثْمَانَ وَكَانَتْ بَيْعَةُ الرِّضْوَانِ بَعْدَمَا ذَهَبَ عُثْمَانُ إِلَى مَكَّةَ، [۲] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِيَدِهِ الْيُمْنَى: («هَذِهِ يَدُ عُثْمَانَ») [۳] فَضَرَبَ بِهَا عَلَى يَدِهِ، وَقَالَ: (هَذِهِ لِعُثْمَانَ). [۴] ثُمَّ قَالَ ابْنُ عُمَرَ: اذْهَبْ بِهَا الْآنَ مَعَكَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] نوحضور ﷺ به یقینا هغه خپل خصوصي نمائینده جوړولو سره اهل مکه ته لیږلی وو لیکن دخانداني عزت اواثررسوخ داعتبار نه بل سړی دمکي والؤ نظر کښې دحضرت عثمان رضي الله عنه نه زیات قابل توجه نه وو بلکي صحابه رضي الله عنهم خودي ویلو سره دي مشن باندې دتلوڅخه معذرت کړی وو چې هلته زمونږ دحامیانو اوعزیزانو څه جماعت نشته چې زمونږ حفاظت وکړي څکه رسول کریم ﷺ عثمان رضي الله عنه مکي ته ولیږلو او دعثمان رضي الله عنه مکي ته تلوڅخه وروسته دبیعت رضوان واقعه پیښه شوه [۲] بیا دبیعت رضوان په وخت رسول کریم ﷺ خپل ښي لاس طرف ته اشاره کړلو سره فرمایلي وه چې زما دالاس دعثمان رضي الله عنه دلاس قائم مقام دی [۳] اوبیا حضور ﷺ خپل هغه ښي لاس خپل چپ لاس باندې وهلو سره وفرمایل دابیعت دعثمان رضي الله عنه دطرف نه دی [۴] دي نه وروسته حضرت ابن عمر رضي الله عنه هغه مصري سړی ته اوویل ستا دسوالاتو جواب کښې اوس چې ماڅه ویلي دي هغه خان سره یوسه ، مطلب دا چې داستاسوالونه زمونږدپاره مضرندي بلکه ستادپاره ضرر رسان دي بخاری

تسهیلات:

قوله: أَمَّا فِرَارُهُ يَوْمَ أُحُدٍ فَأَشْهَدُ أَنَّ اللَّهَ عَفَا عَنْهُ،

دعثمان رضی الله عنه په جنګ احد کښې کردار: حضرت عثمان رضي الله عنه یواځې دَ جنګ احد په ورځ دَ مخصوص ځائی څخه نه وو خوزیدلي بلکه حالات داسې جوړ شوی وو چه سوا دَ لسو دولسو کسانو نه دَ ټولو حضراتو خپې خوځیدلي وې ځکه چه کافرانو دَ شانه حمله کړې وه او بیا دَ الله تعالی دَ طرفه دَ هغې دَ معافئی اعلان هم شوې وو کما فی القرآن ﴿إِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوْا مِنكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا وَلَقَدْ عَفَا اللَّهُ عَنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ﴾ په حدیث کښې دَ دریو سوالونو دَ جوابونه حضرت ابن عمر رضي الله عنه ورکړل دکوم وضاحت چه ښکاره دي

قوله: ثُمَّ قَالَ ابْنُ عُمَرَ اذْهَبْ بِهَا الْآنَ مَعَكَ:
د مذکوره قول مطلب: دَدې جملې نه دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما مقصد دا وو چه که ستاسو معلومات راجمع کول وو نودا خبرې هم خان سره یوسئې اودا معلومات خپل خان سره جمع کړئې او ستاسو په زړونو کښې چه دَ حضرت عثمان رضی الله عنه باره کښې کوم بغض او عناد او بدګمانئې دی دَ هغې نه خپل خان پاك صفا کړئې.

[۶۰۸۱] د عثمان د نبی علیه السلام په وصیت عمل کول

۶۰۸۰-()[۳] [۱]وَعَنْ أَبِي سَهْلَةَ مَوْلَى عُثْمَانَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲]«جَعَلَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يُسِرُّ إِلَى عُثْمَانَ، وَلَوْنُ عُثْمَانَ يَتَغَيَّرُ»، [۳]فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ الدَّارِ قُلْنَا: أَلَا تُقَاتِلُ؟ [۴]قَالَ: لَا، إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَهِدَ إِلَيَّ أَمْرًا، فَأَنَا صَابِرٌ نَفْسِي عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] اودحضرت عثمان رضی الله عنه ازاد کرده غلام حضرت ابوسهله رضی الله عنه وایي [۲] دیوي ورځي واقعه ده نبی کریم صلی الله علیه وسلم حضرت عثمان رضی الله عنه سره پټي پټي خبري کولي اوهغه خبري اوریدو اوریدو سره دحضرت عثمان رضی الله عنه دمخ رنګ به متغیر کیدو هغه وخت خودا راز چاته ښکاره نه شو چي ستا زمانه کښې به څرنګه فتني اوفسادونه پیدا کیږي څرنګه څرنګه مفسده کار روایي به کیږی ستا مخالفین اومعاندین به په څرنګه ظالمانه طریقي سره تاقتلول غواړي اودهغوی دلاسه به تاته شهادت حاصلیږي اودي سره حضور صلی الله علیه وسلم هغه ته تلقین او وصیت کولي چي په هغه فتنو اوهنګامو کي دصبر لمن هیڅ کله مه پریږده او سخت نه سخت حالاتو کښې هم مشتعل کیږه مه بلکي خپل مظلومیت بر قرار ساته [۳] هرکله چي دکور دمحاصري ورځ راغله اومفسدانو دمکان محاصره کولو سره دحضرت عثمان رضی الله عنه ژوند ختمول وغوښتل نومونږ حضرت عثمان رضی الله عنه ته عرض وکړ چي آیا دي مفسدانو خطرناك عزائم ختمولو دپاره مونږ لره مناسب نه دی چي مونږ دي خلقو سره جنګ وکړو [۴]حضرت عثمان رضی الله عنه جواب راکړ نه زه جنګ هیڅ کله نه غواړم ځکه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته دیوي خبري وصیت کړی وو اوزه دحضور صلی الله علیه وسلم هغه وصیت باندي صابر اوشاکریم

حل اللغات:- ① يَوْمُ الدَّارِ: دعثمان رضی الله عنه د کور د محاصري او ګیرولو ورځ مراد ده.
نوټ: د حدیث د ترجمي څخه مطلب ښکاره دي

[۶۰۸۲] د نبی علیه السلام صحابؤ ته د عثمان رضی الله عنه د اطاعت حکم

۶۰۸۲-()[۳] [۱]وَعَنْ أَبِي حَبِيبَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّهُ دَخَلَ الدَّارَ وَعُثْمَانُ مَحْصُورٌ فِيهَا، [۲]وَأَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ يَسْتَأْذِنُ عُثْمَانَ فِي الْكَلَامِ، فَأَذِنَ لَهُ، [۳]فَقَامَ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، [۴]ثُمَّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب(رقم-۳۷۱۱)
[2]) اخرجه البیهقی فی دلائل النبوة رقم الحدیث ۶/ ۳۹۳

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۵] « (إِنَّكُمْ سَتَلْقَوْنَ بَعْدِي فِتْنَةً وَاخْتِلَافًا - أَوْ قَالَ: اخْتِلَافًا وَفِتْنَةً - [۶] فَقَالَ لَهُ قَائِلٌ مِنَ النَّاسِ: فَمَنْ لَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ أَوْ مَا تَأْمُرُنَا بِهِ؟ [۷] قَالَ: (عَلَيْكُمْ بِالْأَمِيرِ وَأَصْحَابِهِ) وَهُوَ يُشِيرُ إِلَى عُثْمَانَ بِذَلِكَ». رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي (دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ).

ترجمه: [۱] اوحضرت ابوحبیبه ﷺ تابعي نه روایت دی چې هغه حضرت عثمان ﷺ ته هغه وخت ورغلی وو کوم وخت چې حضرت عثمان ﷺ په هغه کورکي محصور کړل شوی وو [۲] هغه واوریدل چې حضرت ابوهریره ﷺ دحضرت عثمان ﷺ نه یاخوپله دهغوی په خدمت کښې دځه عرض کولو یادکور محاصره کونکو مفسدانو مخکې دځه خبرو کولو اجازت غوښتی حضرت عثمان ﷺ هغه ته اجازت ورکړو چې وایه ځه ونیل غواړې [۳] بیاحضرت ابوهریره ﷺ اودریدلو اوځرنګه چې دخطبې اوتقریر قاعده ده مخکې هغه دالله تعالی حمد وثنا بیان کړه [۴] وبیایي اوویل یوه ورځ مادرسول الله نه واوریدل [۵] چې زما نه وروسته به تاسو خلق دفتنو اودباهمي اختلافاتو ازمائش سره مخ شی یاحضور ﷺ مخکې داختلافاتو اوبیادفتنو لفظ ارشاد وفرمایل هغه ارشاد اوریدو سره [۶] هلته موجود خلقو کښې یوسړي پوښتنه وکړه یارسول الله بیادهغه فتنو اواختلافاتو زمانه کښې مونږ له ځه کول پکاردی یعنی هغه وخت مونږله دکوم سړي حمایت اوپیروي کول پکاردی چې هغه سره زمونږ ددین ودنیا فائده وي اومونږ دخرابي اونقصان نه بچ شو [۷] حضور ﷺ ورته وفرمایل امیراودهغه جماعت لازم ونیسي اوامیر لفظ باندې زور ورکولو سره حضرت عثمان ﷺ طرف ته اشاره وکړله دادواړه روایتونه بیهقي دلائل النبوة کښې نقل کړي دي

حل اللغات: - ① مَحْصُورٌ: ګیر کړي شوي. ② سَتَلْقَوْنَ: مخامخ به شئ، مبتلا به شئ

تسهیلات:

قوله: وَهُوَ يُشِيرُ إِلَى عُثْمَانَ

دعثمان د خلافت اشاره: رسول کریم ﷺ دَ حضرت عثمان ﷺ طرف ته اشاره کولوسره دا ثابت کړی دی چه هغه وخت به دَمسلمانانو امیر حضرت عثمان ﷺ وی په دې وجه مسلمانانو له په هرحالت کښې دَ هغه تابعداری کول پکاردی دا پیشنګوئی ده کومه چه دَ حضورپاك معجزه ده.

[۱۷] باب مناقب هؤلاء الثلثة رضی الله عنهم

د دریو سرو (یعنی خلفاء ثلاثه) د مناقبو بیان

خلاصة الباب:

فيه أربعة أحاديث مشتملة على أربع مسائل:

① البشارة بشهادة الثلاثة رضي الله عنهم: ١-

② البشارة للثلاثة رضي الله عنهم بالجنة: ٢-

③ ذكر الشيخين وعثمان رضي الله عنهم معاً: ٣-

④ الإشارة من النبي صلى الله عليه وسلم إلى خلافة الثلاثة رضي الله عنهم: ٤-

په مناقبو کښې د صاحب مشکاة نهج:

بعضې احادیث هغه دی په کوم کښې چه دَمشترکه مناقب بیان دې صاحب مشکوة کمال کړې دې چه ګډوډ مناقب ئې نه دی راجمع کړی بلکه اول ئې انفرادی ذاتی مناقب بیان کړل بیائې دَمشترکه مناقب بیان اوکړو چنانچه په زیربحث باب کښې هم دغه شان دَحضرت ابوبکرصدیق ﷺ حضرت عمر ﷺ اوحضرت عثمان ﷺ خلفاء ثلاثه مناقب مشترکه احادیث راجمع کړې شوی دی کوم چه پیش خدمت دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۶۰۸۲] داحد غر د خوشحالی څخه حرکت کول

۶۰۸۳ - ( ) [۱] ①عَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - ②«أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - صَعِدَ أُحُدًا، وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ، ③فَرَجَفَ بِهِمْ، فَضَرَبَهُ بِرِجْلِهِ، ④فَقَالَ: (اثْبُتْ أُحُدُ، فَإِنَّمَا عَلَيْكَ نَبِيٌّ وَصِدِّيقٌ وَشَهِيدَانِ)». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① حضرت انس ﷺ روایت کوي ② چه یوه ورځ نبی کریم ﷺ حضرت ابوبکر ﷺ حضرت عمر ﷺ اوحضرت عثمان ﷺ دمدینې مشهور غر احدته وختل ③ نوهغه دډیرې خوشحالی نه په خوزیدو شو حضور ﷺ په هغه خپله پښه مبارکه ووهل ④ اوورته یې وفرمایل اُثْبُتْ أُحُدُ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ نَبِيٌّ وَصِدِّيقٌ وَشَهِيدَانِ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ اې احد قلار شه مه خوزه په تاباندې یونبي دی یوصدیق دی اودوه شهیدان دي (بخاري).

حل اللغات: - ①صَعِدَ: أي طَلَعَ: اوختلو ②فَرَجَفَ: أي تَحَرَّكَ: په خوزیدو شو ③اثْبُتْ: اودریږه. مه خوزه

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب مناقب عمر بن الخطاب أبی حفص القرشی العدوی رضی الله عنه (رقم-۳۶۸۶) وابوداود فی کتاب السنة/باب فی الخلفاء (رقم-۴۶۵۱) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی مناقب عثمان بن عفان رضی الله عنه. وله کنیتان. یقال: أبو عمرو. وأبو عبد الله (رقم-۳۶۹۷)واحمد فی المسند:۵/۳۳۱

قوله: وَشَهِيدَانِ

د شهیدان څخه مراد: دلته شهیدان تثنیه ده د دې څخه حضرت عمر رضی الله عنه مراد دې دې ابولولو مجوسی غلام شهید کړې وو اود دویم شهید څخه حضرت عثمان رضی الله عنه مراد دې دوی په خپل دور خلافت کښې په خپل کور کښې باغیآن شهید کړې وو نودا حدیث مبارک هم د نبی علیه السلام په معجزه باندې مشتمل دې خکه چې د دې دوارو د شهادت پیشن ګویی په کښې ده.

[۶۰۸۴]خفاء ثلاثو ته د جنت زیرې

۶۰۸۳-()[۲] [۱]وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي حَائِطٍ مِنْ حِيطَانِ الْمَدِينَةِ، [۲]فَجَاءَ رَجُلٌ فَاسْتَفْتَحَ، فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۳](افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ) [۴]فَفَتَحْتُ لَهُ، فَإِذَا أَبُو بَكْرٍ، فَبَشَّرْتُهُ بِمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَحَمِدَ اللَّهَ، [۵]ثُمَّ جَاءَ رَجُلٌ فَاسْتَفْتَحَ، فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ) فَفَتَحْتُ لَهُ، [۶]فَإِذَا عُمَرُ، فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَحَمِدَ اللَّهَ،

ترجمه: [۱] اوحضرت ابوموسی اشعري ﷛ وايي يوه ورځ زه دنبي کريم ﷺ سره دمديني يوباغ کښې وم [۲] چانك يوسړی دبهر نه راغی دهغه باره کښې هغه وقته پورې موږ ته هيڅ معلوم نه وو چې کوم سړی دی بياهغه دباغ دروازي دخلاصولو غوښتنه وکړه [۳]نبی کريم ﷺ ماته وفرمايل ورشه دروازه کولاوه که اوراتلونکي سړی ته دجنت يعنی دجنت داعلی درجاتو بشارت ورکړه [۴]زه ورتلو سره دروازه مي خلاصه کړه څه ګورم چې هغه ابوبکر ﷛ دي مادرسول الله ﷺ دوينا مطابق هغوی ته دجنت بشارت واوری اوهغوی ددې نعمت عظمی بشارت اوريدو سره دالله شکر ادا کړو لږ وخت [۵]وروسته بيا يوسړی راغی دروازه کولاويدو دپاره يې اوويل رسول کريم ﷺ ماته وفرمايل ورشه دروازه کولاوه که اوراتلونکي سړي ته دجنت خوشخبري ورکړه [۶]ورتلو سره مادروازه کولاوه کړه نو ومې ليدل چې هغه عمر ﷛ وو مادنبي کريم ﷺ دوينا مطابق هغوی ته دجنت زيري ورکړو اوهغوی هم دابشارت اوريدو سره دالله تعالی شکر ادا کړو

حل اللغات:- ① حَائِطٍ: أي: بُسْتَانٍ: باغ، حائط اصل کښې ديوال ته وائی خو هغه باغ ته هم وائی کوم نه چه ګير چاپيره ديوال وی دلته ترې باغ مراد دې، ② فَاسْتَفْتَحَ: أي طَلَبَ الْفَتْحَ: دېرانستلومطالبه ئې کوله

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب مناقب عمر بن الخطاب أبي حفص القرشي العدوی رضی الله عنه (رقم-۳۶۹۳) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل عثمان بن عفان رضی الله عنه (رقم ۲۸ (۲۴۰۳) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۷۱۰) واحمد فی المسند: ۴/۴۰۶؛

[۱] ثُمَّ اسْتَفْتَحَ رَجُلٌ، فَقَالَ لِي: [۲] (افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ عَلَى بَلْوَى تُصِيبُهُ) [۳] فَإِذَا عُثْمَانُ، فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَحَمِدَ اللهَ، [۴] قَالَ: اللهُ الْمُسْتَعَانُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بیا لږ وخت وروسته یوبل سړی راتلو سره دروازه کولاویدو دپاره اوویل رسول کریم ﷺ راته [۲] وفرمایل ورشه دروازه کولاوه که اوراتلونکي سړي ته د هغه عظیم آفات اومصائبو څخه وروسته دجنت بشارت ورکړو چې دهغه به هغه خپل ژوند کي مبتلاوي ماورتلو سره دروازه کولاوه کړه [۳] نو ومې لیدل چې هغه حضرت عثمان ﷺ وو ماهغوی ته هم هغه خبر واورول کوم چې نبی کریم ﷺ فرمایلي وه حضرت عثمان ﷺ داخبر اوریدو سره مخکې خودالله تعالی شکریه ادا کړه [۴] وبیایې اوویل دالله نه مدد طلب کول پکار دي یعنې زه دالله نه دمدد طلبګاریم چې ددې آفاتو اومصائبو په وخت به هغه ماته صبر اواستقامت ورکړي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ③ بَلْوَي: أَيْ: بَلِيَّةٍ عَظِيمَةٍ: لوئې آفات او مصائب، آزمائشونه، ④ اللهُ الْمُسْتَعَانُ: أَيِ الْمَطْلُوبُ مِنْهُ الْمَعُونَةُ: یعنی د الله نه دمدد اونصرت طلبګار یم (چه ددغه آفاتو په وخت ماته دصبر اواستقامت توفیق راکړی).

تسهیلات:

قوله: (افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ)

د حدیث څخه د دوو خبرو معلومیدل: ① په حدیث الباب کښې رسول الله ﷺ په حضرت عثمان ﷺ باندې راتلونکی تکلیفونه او مصیبتونه په توګه دَ پیشنګوئی بیان اوفرمائیل او په صبر کولو باندې ئی ورته دَ جنت زیرې ورکړو.

② دارنګ دَ مذکوره حضراتو باغ ته دَ تشریف راوړلو خاص ترتیب په حقیقت کښې دَ دغه حضراتو په ترتیب سره خلافت او دَ آخرت اوچتو درجاتو او مرتبو طرف ته اشاره ده.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۶۰۸۵] په عهد رسالت کښې د خلفاء ثلاثو عظمت

۶۰۸۵-(¹) [۳] عَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: كُنَّا نَقُولُ وَرَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حَيٌّ: [۲] أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ- رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن عمر ﷺ بیان کوي درسول کریم ﷺ په حیات کښې به مونږ داسې وئیل [۲] ابوبکر ﷺ اوعمر ﷺ اوعثمان ﷺ الله دي دهغوی نه راضي وي (ترمذي)

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب السنة /باب فی الخلفاء (رقم-۴۶۲۸) والترمذی فی السنن رقم الحدیث ۳۸۰۷ واحمد فی المسند ۲/ ۱۴

تسهيلات:

قوله: أَبُوبَكْرٍ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ:

په خلفاء ثلاثو کښې د مراتبو ترتیب: دَ حدیث الباب حاصل دادي چه مذکوره دریواړه خلیفه ګانو چونکه دَ رسول الله ﷺ په دربارکښې دَ ټولو نه زیات نیزدیکت او منزلت لرلو په دې وجه به دَهغوی دَ اوصافو او محاسنو په تذکره کښې دَ مذکوره ترتیب خیال ساتلې شو رسول کریم ﷺ چه به زمونږ دا ترتیب اوریدو نو خاموش کیدلو به لهذا دې سره دَ خلفاؤ دَ مذکوره مراتبو تقریر او تائید هم اوشو

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٦٠٨٦] دخلفاء ثلاثه ﷺ دترتیب خلافت غیبي اشاره

٦٠٨٢-()[٣] ① عَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② "«أُرِيَ اللَّيْلَةَ رَجُلٌ صَالِحٌ ③ كَأَنَّ أَبَا بَكْرٍ نِيطَ بِرَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَنِيطَ عُمَرُ بِأَبِي بَكْرٍ، وَنِيطَ عُثْمَانُ بِعُمَرَ ④" قَالَ جَابِرٌ: فَلَمَّا قُمْنَا مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ⑤ قُلْنَا: أَمَّا الرَّجُلُ الصَّالِحُ فَرَسُولُ اللَّهِ، وَأَمَّا نَوْطُ بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ ⑥ فَهُمْ وُلَاةُ الْأَمْرِ الَّذِي بَعَثَ اللَّهُ بِهِ نَبِيَّهُ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.[1]

ترجمه: ① حضرت جابر ﷺ نه روایت دی یوه ورځ نبی کریم ﷺ وفرمایل ② نن شپه یونیک سړی ته خوب کښې وښودل شوه ③ چې ځرنګه ابوبکر ﷺ رسول کریم ﷺ سره پیوست شوي دي دغه شان عمر ﷺ ابوبکر ﷺ سره پیوست لګیدلی دی اوعثمان ﷺ عمر ﷺ سره پیوست لګیدلی دی ④ حضرت جابر ﷺ وایي هرکله چې مونږ خلقو دي خبري اوریدوسره درسول کریم ﷺ دمجلس مبارك نه لاړلو ⑤ نو دخپل اجتهاد اوظن مطابق مونږ خپلو کښې اوویل چې نیک سړی نه مراد خوخپله درسول کریم ﷺ ذات ګرامي دی اوباته شوه دبعضې بعضې سره پیوست لګیدل ⑥ نو دادی طرف ته اشاره ده چې دادري واړه حضرات یعنی ابوبکر ﷺ عمر ﷺ اوعثمان ﷺ به دمذکوره ترتیب مطابق یوبل پسې دهغه مشن سربراه وي چې هغه دپاره الله تعالی خپل نبی کریم ﷺ دي دنیاته رالیږلی دی (ابوداود)

حل اللغات: - ① نِيطَ: أَيْ عُلِّقَ: وریوري اینښتي دي. رازوړند دي (داترتیب دَخلافت طرف ته اشاره ده) ② وُلَاةُ: سربراهان. ذمه واران. ③ الْأَمْر: أَيْ: أَمْرِ الدِّينِ: کوشش او محنت ددین

تسهيلات:

نوټ: د تشریحی ترجمې څخه مطلب واضح دې باقی ګران الفاظ په حل اللغات کښې حل شوی دی

[1] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب السنة /باب فی الخلفاء (رقم-٤٦٣٦)

[۱۸] باب مناقب علي بن ابي طالب رضي الله عنه

د حضرت علي رضي الله عنه د مناقبو بيان

خلاصة الباب

فيه أحد وعشرون حديثاً مشتملة على خمس عشر منقبة لعلي رضي الله عنه:

① قرب علي رضي الله عنه من النبي ﷺ: ۱، ۴، ۶، ۲۰۔
② كون محبة علي رضي الله عنه وبغضه من علامات الإيمان والنفاق: ۲، ۱۴۔
③ حب علي رضي الله عنه والرسول ﷺ وحبهماله: ۳، ۸۔
④ كون علي رضي الله عنه ولي كل مؤمن: ۴۔
⑤ ذكر ولاية علي رضي الله عنه: ۵، ۱۷۔
⑥ أخوة علي رضي الله عنه مع النبي ﷺ: ۷۔
⑦ إعطاء النبي ﷺ علياً رضي الله عنه: ۹۔
⑧ كون علي رضي الله عنه باب الحكمة: ۱۰۔
⑨ مناجات الرسول ﷺ مع علي رضي الله عنه بأمر الله تعالى: ۱۱۔
⑩ خصوصية علي رضي الله عنه ببعض الأحكام: ۱۲، ۱۹، ۲۰۔
⑪ تمنى النبي ﷺ لقاء علي رضي الله عنه: ۱۳۔
⑫ كون سب علي رضي الله عنه سب النبي ﷺ: ۱۰
⑬ كون علي رضي الله عنه مثل عيسى عليه السلام: ۱۶۔
⑭ تزويج النبي رضى الله عنه فاطمة رضى الله عنها إياه: ۱۸
⑮ حصول الشفاء لعلي رضي الله عنه بدعاء النبي ﷺ: ۳، ۲۱۔

د حضرت علي مختصر تعارف:

د څلورم خليفه مبارک نوم حضرت علي رضي الله عنه دي کنيت ابوالحسين او ابوتراب دي او لقب اسدالله، حيدر او المرتضى دي ابوتراب کنيت د رسول الله ﷺ د طرف نه ورکړې شوې دې. د هغوى نسب حضورپاک سره ډېر نيزدې دې ځکه چه هغوى د حضورپاک د تره خوئ دې او د ابوطالب خوئ دې هغوى د پلار او مور دواړو د طرف نه هاشمي دې د هغوى پلار ابوطالب خو مسلمان نه شو ليکن د هغوى مور بي بي فاطمه بنت اسد مسلمانه شوې وه او د مديني طرف ته ئې هجرت هم کړې وو حضرت علي رضي الله عنه د وړوکوالي نه د حضورپاک په پالنه او د تربيت په غيږ کښې پاتې دې. حضورپاک هغه د ځپل بچي په شان پاللي دې

اوبیائی حضرت فاطمه الزهری رضي الله عنها سره نکاح کولوسره دَ خوم ولئی عزت هم ورکړو.
حضرت علی رضي الله عنه په صحابه کراموکښې دَټولو نه زبات فصیح اودَ اوچتې درجې خطیب وو او په تکړه والی اوبهادرنی کښې دَټولونه ممتازمنلې شوې وو.

دَ حضرت علی رضی الله عنه خلافت او شهادت: ۳۵هجری کښې دَحضرت عثمان رضي الله عنه دَ شهادت نه پس په خلافت باندې کیناستو اودرې ورځې کم پنځو کالوپورې په مسند دَ خلافت پاتې کیدوسره ۶۳کالوپه عمرکښې۱۸رمضان ۴۰هجری کښې دَ عبدالرحمن بن ملجم خارجی په لاس باندې په کوفه کښې دَسحرپه وخت دَ شهادت جام نوش کړو اودَ همیشه دَپاره ئې خلافت راشده رخصت کړو. په کوفه نجف کښې دَهغوی قبرستان خودلې شی. په نجف کښې اګرچه دَهغوی مزار جوړشوې دې مګر دَدې حقیقت هم دومره دې کوم چه په حیوة الحیوان کښې لیکلې شوې دې.
یوخل هارون الرشیدپه دې ځائی تیریدلو یوبوډاسړې یوقبرسره ناست وو ژړلې هارون الرشید تپوس اوکړو نوهغه بوډا اووئیل دادَحضرت علی رضي الله عنه قبردې هارون الرشیددَدې دَمرمت او حفاظت حکم ورکړو.

دَ علی رضی الله عنه قد او حلیه: دَهغوی قد ټیټ ووبدن ئې چاق وو. ږیره ئې لویه اوګڼه وه. پوره سینه به ئې دَ ږیرې لاندې راتله. دَهغوی رنګ غنم رنګې وو. دَحضرت فاطمه بی بی رضي الله عنها په ژوند کښې دَهغوی بله نکاح نه وه شوې. دَ حضرت فاطمه الزهری رضي الله عنها نه دَهغوی دوه خامن حضرت حسن او حضرت حسین رضي الله عنهما وو اودوه لونړه ئې وې. دَغزوه تبوک نه علاوه په ټولو غزواتو کښې حضورپاك سره شریك شوې اوډیرې لوئی کارنامې ئې سرته رسولی دی. حضورپاك ته حضرت علی رضي الله عنه غسل ورکړې. دَحضرت ابوبکر رضي الله عنه په دورخلافت کښې دَ هغوی وزیر اومشیرپاتې دې. او په اسلامی قضاء باندې پاتې دې دَخپلې لور ام کلثوم نکاح ئې حضرت عمرفاروق رضي الله عنه سره کړې او په خپل دور خلافت کښې ئې دا فرمان جاری کړو چه کوم سړې ماله په ابوبکر او عمر رضي الله عنهما باندې فوقیت راکړی نوزه به په هغوی باندې دَ بهتان لګولوحد جاری کوم په حضرت عثمان رضي الله عنه باندې چه کله باغیانوحمله اوکړه نوحضرت علی رضي الله عنه مکمل دفاع اوکړه اوحضرات حسنین رضي الله عنهما ئې په حفاظت باندې اولګول دَهغوی په دورخلافت کښې دَمسلمانانودَخپل مینځ جنګونودَ وجې نه کافرانوسره بیرونی جنګونه موقوف کړل حضرت علی رضي الله عنه په دغه ټولو جنګونوکښې په حق باندې وو. دَ مقابل طرف نه اجتهادی غلطی شوې چه ان شاء الله معاف به شی. او خوارج خو باغیان او اهل النار وو حضرت علی رضی الله نه ډیر پرهیزګار تهجدګذار اوشپې رونړه وونکې وُو. په ژړا ژړابه ئې شپه تیروله. خپله ږیره به ئې نیولوسره وئیل اې دنیا ته غداره ئې اوزما مخې ته سفرډیر اوږددې افسوس اوارمان

دمعاویه او علی رضی الله عنهما د اشعارو مکالمه: سفراوږد دې او خرچه د سفرکمه ده. هم دغه شان به سحرشو هغوی د عشره مبشره نه وو

یوخل حضرت معاویه رضی الله عنه په کوم کښې چه حضرت معاویه رضی الله عنه په حضرت معاویه رضی الله عنه هغوی ته یوخط اولیکلو په کوم کښې چه حضرت معاویه رضی الله عنه په خپل فضیلت کښې حضورپاک سره خپل قرب بیان کړې وو هغوی ورله په اشعارو کښې جواب ورکړو د ناظرینو دخوند اومزې دپاره هدیه ناظرینوته وړاندې کوم

حُكِيَ أَنَّ مُعَاوِيَةَ كَتَبَ إِلَى عَلِيٍّ فَقَالَ يَا أَبَا الْحَسَنِ إِنَّ لِيْ فَضَائِلَ، أَنَا صِهْرُ رَسُوْلِ اللهِ وَكَاتِبُهُ لِلْوَحْيِ فَقَالَ عَلِيٌّ وَاللهِ مَا أَكْتُبُ إِلَيْهِ إِلَّا شِعْرًا فَكَتَبَ:

مُحَمَّدُنِ النَّبِيُّ أَخِيْ وَصِهْرِيْ　　وَحَمْزَةُ سَيِّدُ الشُّهَدَاءِ عَمِّيْ

وَجَعْفَرُ الَّذِيْ يُمْسِيْ وَيُضْحِيْ　　يَطِيْرُ مَعَ الْمَلَائِكَةِ ابْنُ عَمِّيْ

وَبِنْتُ مُحَمَّدٍ سَكَنِيْ وَعُرْسِيْ　　مَشُوْبٌ لَحْمُهَا بِدَمِيْ وَلَحْمِيْ

وَسِبْطَا أَحْمَدَ ابْنَايَ مِنْهَا　　فَمَنْ مِنْكُمْ لَهُ سَهْمٌ كَسَهْمِيْ

سَبَقْتُكُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ طُرًّا　　غُلَامًا بَلَغْتُ أَوَانَ حِلْمِيْ　　(شرح وقایه ۲/۳۳۰)

فَقَالَ مُعَاوِيَةُ أَخْفُوْا هٰذِهِ الْأَشْعَارَ مِنْ أَهْلِ الشَّامِ لِئَلَّا يَمِيْلُوْا إِلَى عَلِيٍّ.

بهرحال دحضرت علی رضی الله عنه فضائل ډیرزیات دی. ددې دوه وجوهات دی یودا چه دحضرت علی رضی الله عنه په شان کښې خوارج وغیره غلط قسم خبرې اوکړې قسم قسم پیغورونه ئې اوکړل په دې وجه صحابه کرامو بنه په ښکاره دهغوی ټول فضائل عام کړل نواحادیث محفوظ شو دویمه وجه داده چه شیعه او روافض دحضرت علی رضی الله عنه په فضائلو کښې د دروغو روایتونه جوړوی بهرحال په ماشومانو کښې د ټولونه اول حضرت علی رضی الله عنه د اتو کالو په عمرکښې اسلام قبول کړې وو

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۶۰۸۷] نبی کریم پاک سره په قرب منزلت کښې تشبیه

۶۰۸۷ - (۱) [۱] [۱] عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِعَلِيٍّ: [۲] «أَنْتَ مِنِّيْ بِمَنْزِلَةِ هَارُوْنَ مِنْ مُوْسٰى، إِلَّا أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه وايي رسول کريم ﷺ حضرت علي رضی الله عنه ته وفرمايل [۲] په دنيا او په آخرت کښې قرابت اومرتبه کښې اوديني مددګار کيدو اعتبار نه ته زمادپاره داسې يې څرنګه چې موسیٰ علیه السلام دپاره هارون علیه السلام وو بس فرق دادی چې زما نه وروسته څوک نبي نه وي (بخاري مسلم) (اخرجه البخاری و مسلم)

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب مناقب علی بن أبی طالب القرشی الهاشمی أبی الحسن رضی الله عنه (رقم-۳۷۰۶) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل عثمان بن عفان رضی الله عنه (رقم-۲۸-۲۴۰۳) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۷۲۴) وابن ماجه فی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل علی بن أبی طالب رضی الله عنه (رقم-۱۱۵) واحمد فی المسند:۱/۱۷۷

تسهیلات:

قوله: أَنْتَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى،

د حدیث شان ورود او پس منظر: حضورپاك چه كله د غزوه تبوك دپاره روان شو نوهغوی حضرت عبدالله بن ام مكتوم ﷺ په مدینه باندې خپل نائب مقرركړو چونكه د تبوك سفراوږد وو په دې وجه د حضورپاك د اهل وعيال د خيال ساتلو ضرورت وو حضورپاك د خپل اهل و عيال د خيال ساتلودپاره حضرت علی ﷺ مقرركړو په دې باندې منافقانو اعتراض اوكړوچه علی ﷺ رور گڼړی نوشاته ئې اوساتلو دې دپاره چه د سفرد مشقت نه بچ شی اوبل د مرګ د خطرې نه لرې شی كله چه حضرت علی ﷺ ته د دې علم اوشو نوهغه پریشان شو اوهسې هم هغه پریشان وو چه د جهاد د میدان نه ئې شاته پریخودو فرمائی چه زه به كله مدینې منورې ته بهروتلم نوچه معذوره خلق به ښكاريدل يا به ښځې او بچی وو يا منافقان به ګرځيدل نو په دې حالت سره به هغه پريشانه كيدواو ژړل به ئې حضورپاك له لاړو حضورپاك د مدينې نه لرشان بهر مقام جرف كښې اسلامی فوج ته تربيت وركولوكښې مصروف وو.

علی رضی الله عنه ته تسلی وركول: حضرت علی ﷺ د خپلې پريشانئ اظهار اوكړويه كوم چه حضورپاك حضرت علی ﷺ ته تسلی وركړه او په جواب كښې ئې اوفرمائيل چه آيا ته په دې باندې خوشحال نه ئې چه ته زمانه شاته پاتې كيدوكښې داسې ئې لكه چه حضرت موسی ﷺ د معراج الهی دپاره تلې وو اوهارون ﷺ ئې شاته پريخودې وو دا منافقان دروغژن دی مونږ ستاد شان كمولودپاره يا ستاد خان بچ كولودپاره ته شاته نه ئې پريخودې په دې كلام كښې د حضرت علی ﷺ هغه فضيلت طرف ته اشاره ده چه په قرب منزلت كښې حضرت علی ﷺ رسول الله ﷺ خپل رور ګرځولې دې اودا تشبيه هم په دې قرب منزلت كښې ده مګر په دې كښې شك كيدې شوچه حضرت علی ﷺ هم د حضرت هارون ﷺ په شان نبی جوړشی د دې وهم لرې كولودپاره حضورپاك ارشاد اوفرمائيلو چه دا تشبيه صرف په اخوت يعنی رورولئ كښې ده نبوت كښې نه ده ځكه چه مانه پس څوك نبی نشته دې.

د حديث څخه په خلافت علی استدلال: د دې حديث نه شيعه شنيعه او رافضه مرفوضه په ډير زور او شور سره دا استدلال كوی چه په دې كښې د حضرت علی ﷺ د خلافت خبره كړې شوې ده چه د حضورپاك نه پس به علی خليفه بلافصل وی نورو خلفاؤ د حضرت علی ﷺ نه خلافت غصب كړې امت مزاحمت اونه كړو لهذا ټول ګمراه شو علی خو د تقيه نه كار واخستو باقی ټول كافران شو.

د استدلال جوابونه: ① دلته تشبيه صرف په قرب منزلت كښې ده نه چه په نبوت كښې ده

اونه په خلافت کښې ده ځکه چه دَ حضرت هارون علیه السلام دَ حضرت موسٰی علیه السلام نه څلویښت کاله مخکښې انتقال شوې وو حضرت هارون علیه السلام چه نه روستو پاتې شو اونه دَ یوې لمحه دَپاره خلیفه جوړشو نو په دې سره دَحضرت علی رضی الله عنه دَخلافت طرف ته څنګه اشاره کیدې شی معلومه شوه چه رافضی دروغژن دی

④ شیعه ګان وائی حضرت علی رضی الله عنه ته په غدیر خُم کښې خلافت ورکړې شوې وو هغه وخت هغه خلیفه جوړشوې ووکه هغه دَ مخکښې نه خلیفه وو نو په دې موقع باندې هغه ته کوم یوخلافت ورکړې شو؟ معلومه شوه چه شیعه ګان دروغژن دی

③ دَدې حدیث ارشاد فرمائیلونه پس حضورپاك کافی موده په دنیا کښې حیات ووډ حضورپاك په ژوند کښې خونه حضرت علی رضی الله عنه خلیفه شو اونه کیدې شو، معلومه شوه چه شیعه ګان دروغژن دی.

④ که چرې دغه شان دَخلافت تصریح اووصیت دَحضرت علی رضی الله عنه دَپاره وو نوهغوی له دَحضورپاك نه پس دَدې دعوی کول پکاروو اوعوامو ته خودل پکاروو چه خلافت زما حق دې تاسو زمانه زما حق مه غصب کوئی ګنی زه به دَخپل حق دَپاره تاسو سره جنګ اوکړم کله چه دَ حضرت علی رضی الله عنه دَ طرف نه په خان له یا عام مجلسونوکښې دَدې خبرې طرف ته اشاره قدرې هم نه ده شوې نو نن صبا شیعه ګان دا عظیم بهتان او دا لوئی طوفان ولې په سر اوچت کړې دې؟ معلومه شوه چه شیعه ګان دروغژن دی.

د خلافت وصیت په عدم اظهار کښې د شیعه ګانو نظریه: شیعه ګان دا وائی چه حضرت علی رضی الله عنه تقیه کړې ده

د شیعه ګانو د نظریه تغلیط: عرض دادې چه په دومره لویه مسئله کښې اودَ شریعت دومره لوئی حکم که چرې حضرت علی رضی الله عنه غوندې بهادر دَ ویرې نه پټ کړې او په خپله سره نی دَ خپلو ملګرو په مجلس کښې هم دَدې اظهارنه شو کولې نوداسې علی خودَخلافت مستحق هم نه وو اونعوذبالله هغه خودَ لوئی ګناه مرتکب شوې هم دې بیا که چرې داسې وه نو حضرت علی رضی الله عنه دَ خپل خلیفه برحق کیدو په زمانه کښې ولې تقیه اونه کړه اودَ حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه نه پس کله هغه خلیفه برحق څلورم جوړشو نوهغوی په دې حق باندې جنګ جمل ولې اوکړو؟ اوهغوی په دغه حق باندې جنګ صفین ولې اوکړو په کوم کښې چه په زرګونو مسلمانان مړه شو؟ معلومه شوه چه شیعه ګان شیطانان دی او صرف دَ شیطان دَپاره شیطانی کوی

په مذکوره استدلال د ملا علی قاری تبصره: ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات کښې دَدې حدیث په شرح کښې لیکلی دی چه دَ شیعه روافض دا اعتراض دَدې قابل نه دې چه دَدې جواب ورکړې شی اودَدې حدیث په بنیادباندې شیعه ګانو ټولو صحابه کرامو ته کافران وئیلی

دی لهذا دَ شیعه ګانو په کافر کیدو کښې هیڅ شك نشته دې. عبارت اوګورئې:

"وَلاَ شَكَّ فِيْ تَكْفِيْرِ هٰؤُلاَءِ لِأَنَّ مَنْ كَفَّرَ الْأُمَّةَ كُلَّهَا وَالصَّدْرَ الْأَوَّلَ خُصُوْصًا فَقَدْ أَبْطَلَ الشَّرِيْعَةَ وَهَدَمَ الْإِسْلاَمَ وَلاَ حُجَّةَ فِيْ الْحَدِيْثِ لَهُمْ" (مرقات: ۱۰/۴۵۵)

[۶۰۸۸] د علي رضي الله عنه سره محبت او ایمان

۶۰۸۸-(۱) [۲] [۱] وَعَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ، قَالَ: «قَالَ عَلِيٌّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-: [۲] وَالَّذِي فَلَقَ الْحَبَّةَ وَبَرَأَ النَّسَمَةَ، إِنَّهُ لَعَهْدُ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِلَيَّ: [۳] أَنْ لَا يُحِبَّنِي إِلَّا مُؤْمِنٌ، وَلَا يُبْغِضَنِي إِلَّا مُنَافِقٌ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] اوحضرت زربن حبیش تابعي وایي سیدنا علي وفرمایل [۲] قسم دي په هغه ذات چې دانه یي چولي ده (زرغونه کړي ده) اوذی روح یې پیدا کړیده درحقیقت نبي امي ﷺ ماته یقین راکړی وو [۳] چې څوک کامل مؤمن وي هغه به ما سره یعنی علي رضي الله عنه سره محبت ساتي اوڅوک چې منافق وي هغه به ما سره عداوت ساتي. (مسلم)

حل اللغات: - ① فَلَقَ: أَيْ شَقَّهَا: چولي ئې ده، څیرلې ئې ده (یعنی زرغونه کړې ئې ده). ② الْحَبَّةَ: دانه، غله یعنی تخم. ③ بَرَأَ: أَيْ خَلَقَ: پیدا کړې ئې دې. ④ النَّسَمَةَ: أَيْ ذَاتِ رُوحٍ: هر ساه لرونکې، ذی روح. ⑤ لَعَهْدُ: تاکیدی حکم اوپخې خبرې ته وائي.

تسهیلات: قوله: أَنْ لَا يُحِبَّنِي:

دعلی رضی الله په حق کښې دوه ډلې: ① دَحضرت علی رضي الله عنه معامله عجیبه اومشکل پاتې ده اوترنته پورې هم هغه شان مشکله ده. هغه داسې چه دَانسانانویوفریق هغه دَ خپل مقام نه ښکته راګذارکړو اوپه هغوی باندې هرقسم زیاتې اوکړو دا خوارج دی چه دَ منافقانو یوقسم دې هغوی حضرت علی رضي الله عنه ته ترکافره پورې اووئیل او کنځلې ئې ورته کولې.

② یوفریق هغوی دومره زیات اوخیژول چه هغه ئې د خدائې په مقام باندې اودرولو او دَحضرت علی رضي الله عنه په وفادارانو کښې یوه ډله داسې راپیدا شوه چه حضرت علی رضي الله عنه دَ خدائې مقام ته اورسولو چه نن صبا دَ شیعه او روافض په نوم پیژندلې شي.

د شریعت اعتدال لاره: شریعت مطهره دَهغوی باره کښې یومعتدل لار اوخودله چه هغوی سره محبت ساتئي اوپه هغوی باندې زیاتې مه کوئي.

د علی رضی الله عنه تشبیه د عیسی علیه السلام سره: په زیربحث حدیث کښې هم دَدغه کمې زیاتې په مینځ کښې دَلارې خودنه کړې شوې ده په دې باب کښې وړاندې حدیث نمبر (۶۱۰۲) راځي په هغې کښې خو په واضحه توګه حضورپاك فرمائیلي دی اې علي!

---

[1] اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان/باب الدلیل علی أن حب الأنصار وعلی رضی الله عنهم من الإیمان وعلاماته، وبغضهم من علامات النفاق (رقم-۱۳۱ - (۷۸) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۷۱۷) والنسائی فی کتاب الإیمان وشرائعه/باب علامة الإیمان (رقم-۵۰۱۸) واحمد فی المسند: ۸۴/۱

ستا مثال د حضرت عیسیٰ علیہ السلام په شان دې چه په هغوی باندې یهودو بهتان اوتړلو اوزیاتې ئې اوکړو اونصاری د ومره زیات وړاندې کولو سره پیش کړو چه د الله تعالیٰ مقام ته ئې اورسولو.

[۶۰۸۹] دعلی رضی الله عنه په لاس د خیبر قلعه فتح کیدل

۶۰۸۹-()[۳] ۱ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ يَوْمَ خَيْبَرَ: ۲ "«لَأُعْطِيَنَّ هَذِهِ الرَّايَةَ غَدًا رَجُلًا يَفْتَحُ اللَّهُ عَلَى يَدَيْهِ، يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيُحِبُّهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ. ۳ فَلَمَّا أَصْبَحَ النَّاسُ غَدَوْا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كُلُّهُمْ يَرْجُونَ أَنْ يُعْطَاهَا. ۴ فَقَالَ: "أَيْنَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ؟". فَقَالُوا: هُوَ يَا رَسُولَ اللَّهِ يَشْتَكِي عَيْنَيْهِ. ۵ قَالَ فَأَرْسِلُوا إِلَيْهِ".

ترجمه: ۱ اوحضرت سهل بن سعد ساعدي رضی الله عنه نه روایت دی رسول کریم ﷺ د غزوه خیبر په ورځ وفرمایل ۲ صبا به زه دا بیرغ (چې د کماندانی علامه ده) یو داسې سړی ته عطا کوم چې د هغه په لاس به الله تعالیٰ فتح ورکړي او هغه سړی الله او د الله رسول دوست لري، او الله او د هغه رسول هغه دوست لري، ۳ نو ټول صحابه رضی الله عنهم دې انتظار او شوق کښې ټوله شپه په ویښه تیره کړه چې ګورو صباله به دا سرفرازي د چا په حصه کښې راځي کوم وخت چې سهار شو نو هر سړی دی ارزو سره د رسول کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شو چې جنډه به هغه ته حاصلیږي ۴ حضور ﷺ ټول صحابه رضی الله عنهم باندې نظر اچولو سره وفرمایل علي رضی الله عنه ابن ابي طالب چیرته دی دراصل حضرت علي رضی الله عنه دسترګو په خوږ کښې مبتلا شوی وو او په دې وجه هغه وخت حاضر نه وو صحابه رضی الله عنهم عرض وکړی یارسول الله دسترګو خوږ هغه پریشان کړی دی او ددې عذر په بنا دلته موجود نه دی ۵ حضور ﷺ وفرمایل هغه راوغوښتی

حل اللغات:- ① لَأُعْطِيَنَّ: خامخا به ورکوم. ② الرَّايَةَ: أي: الْعَلَمَ: جهنډا (دا دجنګ په دوران کښې د کماندر او مشر علامت وی). ③ غَدَوْا: أي: أَتَوْهُ وَقْتَ الْغَدْوَةِ: دسحریه وخت کښې راتلل مراد دی.

۱ فَأُتِيَ بِهِ فَبَصَقَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي عَيْنَيْهِ فَبَرَأَ حَتَّى كَأَنْ لَمْ يَكُنْ بِهِ وَجَعٌ، ۲ فَأَعْطَاهُ الرَّايَةَ فَقَالَ عَلِيٌّ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أُقَاتِلُهُمْ حَتَّى يَكُونُوا مِثْلَنَا؟ ۳ قَالَ: "انْفُذْ عَلَى رِسْلِكَ حَتَّى تَنْزِلَ بِسَاحَتِهِمْ، ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ، وَأَخْبِرْهُمْ بِمَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ مِنْ حَقِّ اللَّهِ فِيهِ، ۴ فَوَاللَّهِ لَأَنْ يَهْدِيَ اللَّهُ بِكَ رَجُلًا وَاحِدًا خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ يَكُونَ لَكَ حُمْرُ النَّعَمِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ نو حضرت علي رضی الله عنه راوستل شو رسول کریم ﷺ خپل لعاب دهن د هغوی په

---

[۱] اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب غزوة خيبر (رقم-۴۲۱۰) ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضي الله تعالى عنهم/باب من فضائل علي بن أبي طالب رضي الله عنه (رقم-۳۴ - (۲۴۰۶) والترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۷۲۴) وابن ماجه في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل عثمان رضي الله عنه (رقم-۱۱۳) واحمد في المسند: ۳۳۱/۱

سترګو کښې واچول نو دهغوی سترګې يودم داسې ښې شوې لکه چې په هغه کښې څه تکليف اوخرابې دسره نه وه ⑵ دې نه وروسته حضور ﷺ هغوی ته جنډه ورکړلې حضرت علي رضي الله عنه په دې سرفرازې سره ډير خوشحاله شو اوهغه اوويل يارسول الله زه به هغه خلقو دښمنانو سره هغه پورې جنګيږم څوپورې چې هغوی زمونږ په شان مسلمانان نشي ⑶ حضور ﷺ وفرمايل څه خونرمې اوبردبارې سره ددښمنانو علاقې ته ورشه بيادتولوڅخه مخکې هغوی ته داسلام دعوت ورکړه اوهغوی ته دالله هغه حقوق وښايه چې اسلام په هغوی عائد کوې بياکه هغوی اسلام قبول نه کړو نوجزيه ترينه طلب کړه که جزيه باندې صلح کولوڅخه انکار وکی نوآخر کښې دهغوی خلاف دجنګ اعلان وکړه اوهغوی سره هغه وقته پورې جنګ کوه څوپورې چې مسلمانان نشي ⑷ نو اې علي رضي الله عنه قسم په الله داخبره که الله تعالى ستاپه ذريعه يوسړي ته هم هدايت وکړي نوستادپاره دحاصليدونکو سرواوښانو اوڅوپايو نه زياته بهتر دي . (بخاري مسلم)

حل اللغات: -④ فَبَصَقَ: أَي: أَلْقَى بُزَاقَهُ: خپلې لاړې مبارک ئې پکښې واچول ⑤ وَجَعٌ: درد او تکليف. ⑥ انْفُذْ: أَي امْضِ: لاړشه. ⑦ عَلَى رِسْلِكَ: أَي رِفْقِكَ وَلِينِكَ: په نرمى او بردبارى سره (لاړشه). ⑧ بِسَاحَتِهِمْ: أَي فِنَاءِهِمْ: آبادى دهغوى. ⑨ حُمْرُ النَّعَمِ: حُمر سورته وائى او نعم څارووته وائى دلته ترې اوښان مراد دى. يعنى حُمْرُ الْإِبِلِ: سره اوښان (دا به د عربو په نزد ډير قيمتى ګڼړلې کيدل)

⑴ وَذَكَرَ حَدِيثَ الْبَرَاءِ، قَالَ لِعَلِيٍّ: "«أَنْتَ مِنِّي وَأَنَا مِنْكَ»" فِي بَابِ "بُلُوغِ الصَّغِيرِ".

ترجمه: ⑴ اوحديث دبراء رضي الله عنه چې نبي ﷺ علي رضي الله عنه ته وفرمايل ته زماڅخه يې اوزه ستاڅخه يم په باب بلوغ الصغير کې ذکرشوي دي.

تسهيلات:

قوله: قَالَ يَوْمَ خَيْبَرَ:

حضرت علي رضي الله عنه خيبر فتح کول: په کال ۷ هجری کښې دغزوه خيبر واقعه پيښه شوې وه پنځلس سوا صحابه کرامو په دې غزوه کښې حصه اخستې وه په خيبرکښې د يهوديانو ډير مضبوطې قلعه ګانې او مضبوط ځايونه وو يومياشت پورې حضورپاک اوصحابه کرام په مورچوکښې وو په دې قلعه ګانوکښې قلعه قموص يوه مضبوطه ډيره سخته قلعه وه ډيرخل صحابه کرامودې دماتولوکوشش اوکړو مګر قلعه فتح نه شوه. په دې موقع باندې حضورپاک اوفرمائيل چه زه به صباله جهنډا د داسې سرى په لاس کښې ورکوم چه دهغه په لاس به الله تعالى دا قلعه فتح کړى هغه سړې الله تعالى محبوب ساتى او الله تعالى هغه سړې محبوب ساتى. هرصحابى د جهنډې د حاصلولو خواهش اوکړو مګر حضورپاک دا عظيم اعزاز د حضرت علي رضي الله عنه په لاس کښې ورکړو. حضرت علي رضي الله عنه لاړو اوقلعه قموص ئې فتح کړه او د فاتح خيبر لقب ئې حاصل کړو.

قوله: يَكُونُوامِثْلَنَا:

مثلیث صرف په ایمان کښې: دَدې مطلب دادې چه هغه خلق زمونږ په شان مسلمانان شی اويهوديت پريخودو سره مسلمانان شی په مثلنا کښې تشبيه صرف مسلمان کيدو کښې ده په ايمانی کيفيت کښې نه ده ځکه چه دَدې کيفيت تعلق دَانسان خپل خپل اخلاص سره ده حضرت علی رضی الله عنه په دې جمله کښې دا اراده اوکړه چه دَدعوت نه بغير په توره وهلو سره تول قتل کړم اوترکومې پورې چه هغوی مسلمانان کيږی نه چه روستونه شم يعنی په توره سره دعوت وی په ژبه سره نه وی.

کافرانوباندې د حملې کولو ترتيب: ① حضورپاك په جواب کښې اوفرمائيل "ثم ادعهم" يعنی اول دَ اسلام دعوت ورکړه که چرې قبول ئی نه کړو نو بيا دَ جزئيه دعوت ورکړه که چرې قبول ئی نه کړو

② نو بيا په ميدان کښې دَ جنګيدلودَپاره تيارشه. بيا حضورپاك دَ دعوت فائده دا بيان کړه که چرې ستا په لاس باندې يو سړې هم په هدايت باندې راغلو نودا ستادَ پاره دَ سرو اوښانونه زيات بهتر دی.

د خيبر يهوديانو ته د دعوت حيثيت: هرمسلمان له پوهيدل پکاردی چه دَ خيبريهوديانوته دَاسلام دعوت اول رسيدلې وو په ميدان جهاد کښې دَ نوی سر نه داسې دعوت ورکول دَمستحب په درجه کښې دی کوم چه دَجهاد دَ آداب نه دی. حضرت علی رضی الله عنه چونکه يودم دَحمله کولو اراده ښکاره کړې وه په دې وجه حضورپاك هغه ته دَ جهاد دَ آدابو نه دَ دعوت ادب اوخودلو. که چرې دلته دعوت واجب وې نو حضورپاك تقريبًا ۲۵ ورځې په خيبر کښې جنګيدلو هغوی دا دعوت مخکښې ولې ورنه کړو؟ چه نن حضرت علی رضی الله عنه دَدعوت ورکولوحکم ورکوی اصل حقيقت هم دغه دې چه دَخيبر يهوديانوته واجب دعوت رسيدلې وو دا استحبابی دعوت وو کله ورکولې شی کله نه شی ورکولې.

دصحابؤ په لاس د خيبر فتح: په دې حديث کښې شيعه ګان هم غلطی کوی اووانی چه خيبرصرف حضرت علی رضی الله عنه فتح کړې دا غلطه ده. حضرت علی رضی الله عنه صرف يوه اهم قلعه قموص فتح کړې وه باقی يونيم زر صحابه کرامو دَ يوې مياشت پورې جنګ کړې وو زخميان شوی اوشهيدان شوی وو بيا هغوی ته دَ غنيمت دَمال نه حصه ملاؤ شوې وه. دا څنګه وئيلی شی چه صرف حضرت علی رضی الله عنه خيبر فتح کړې وو. حضرت علی رضی الله عنه خو په جنګ احد کښې هم وو هلته عارضی ماتې څنګه خوړلې وه؟ دغه شان دَحنين په جنګ کښې هم وو هلته څنګه عارضی ماتې اوخوړلې شوه؟ غلطه خبره مه کوئی. دَ حضرت علی رضی الله عنه لوئی شان دې مګر هغه ته خدائی مه وائی دَ خدائی بنده ورته وائی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۶۰۹۰] دكمال قرب اوتعلق اظهار

۶۰۹۰-(¹) [۳] ۱ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ۲ «إِنَّ عَلِيًّا مِنِّي وَأَنَا مِنْهُ، ۳ وَهُوَ وَلِيُّ كُلِّ مُؤْمِنٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ حضرت عمران ابن حصين رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ۲ حقيقت دادى چې علي رضي الله عنه زما نه دى اوزه دعلي رضي الله عنه نه يم ۳ وهغه علي رضي الله عنه دټول اهل ايمان دوست اومددگار دى (ترمذي)

حل اللغات:- ① عَلِيًّا مِنِّي وَأَنَا مِنْهُ: علي رضي الله عنه زما څخه دى (يعنى په نسب سخرگنى) اوپه تقديه د اسلام او مينه محبت وغيره كنبې ② وَلِيُّ: أي: حَبِيبُهُ: محبوب، دوست اومددگار.

تسهيلات: قوله: وَأَنَا مِنْهُ:

د مذكوره جملې مطلب: دې جملې سره حضورپاك حضرت علي رضي الله عنه سره كمال قرب تعلق اودَ اخلاص يوشان والې او په حسب نسب كنبې دَ اشتراك طرف ته اشاره كړې ده مطلب دا چه حضرت علي رضي الله عنه سره زما قرابت هم دې مصاهرت هم دې محبت هم دې

بيا دا ياد ساتئى چه داجمله حضورپاك صرف دَحضرت علي رضي الله عنه دَپاره نه ده فرمائيلې بلكه دَ سلمان فارسي رضي الله عنه دَپاره هم ده.

قوله: وَهُوَ وَلِيٌّ:

حديث كنبې د ولى مطلب: دَ ولى ډيرمعانې راځى په كوم كنبې چه يوه دَمحبوب هم ده دَحضرت علي رضي الله عنه دَ پاره هم دغه معنى استعمال كړې شوې ده دې سره حديث كنبې هم دا لفظ هم دَدې محبوب په معنى كنبې استعمال كړې شوې دې

[۶۰۹۱] د نبى دوستانه د على دوستانه

۶۰۹۱-(²) [د] ۱ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ قَالَ " «مَنْ كُنْتُ مَوْلَاهُ فَعَلِيٌّ مَوْلَاهُ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ اوزيد بن ارقم رضي الله عنه نه روايت دى نبى كريم ﷺ وفرمايل ۲ زه چې دچادوست يم علي رضي الله عنه هم دهغه دوست دى (احمد اوترمذي)

حل اللغات:- ① مَوْلَاهُ: مِنَ الْوَلِيِّ ضِدِّ الْعَدُوِّ: ددې معنى دوست ده. دكوم ضد چه دشمن راځى

¹ اخرجه الترمذى فى السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب على بن أبى طالب رضى الله عنه. يقال وله كنيتان: أبو تراب، وأبو الحسن (رقم-۳۷۱۲) واحمد فى المسند: ۴/۴۳۷

² اخرجه الترمذى فى السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب على بن أبى طالب رضى الله عنه. يقال وله كنيتان: أبو تراب، وأبو الحسن (رقم-۳۷۱۳) واحمد فى المسند: ۴/۳۶۸

تسهیلات:

قوله: مَنْ كُنْتُ مَوْلَاهُ فَعَلِيٌّ مَوْلَاهُ

د ولی دوه معانی: ① کوم سړی لره چه زه دوست ساتم هغه لره علی رضی الله عنه هم دوست ساتی.
② کوم سړي چه زما حامی او مددګار او دوست دې نوحضرت علی رضی الله عنه هم دَ هغه حامی مددګار او دوست دې. دَدې نوره تشریح وړاندې هم راځی.

[۶۰۹۲] زما معاهدات علی رضی الله عنه سرته رسولې شی

۶۰۹۲-() [۲] [۱] وَعَنْ حُبْشِيِّ بْنِ جُنَادَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«عَلِيٌّ مِنِّي وَأَنَا مِنْ عَلِيٍّ، [۳] وَلَا يُؤَدِّي عَنِّي إِلَّا أَنَا أَوْ عَلِيٌّ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] اوحضرت حبشي بن جناده رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] علي رضی الله عنه زما نه دی اوزه دعلي رضی الله عنه نه یم [۳] زما دطرف نه دنبذ عهد ذمه واري دي هیڅوک نه اداکوي علاوه زما اودعلي رضی الله عنه نه ترمذي اواحمد داروایت دابوجناده نه نقل کړی دی.

حل اللغات: - ① لَا يُؤَدِّي: أَيْ نَبْذَ الْعَهْدِ: معاهده اومعامله دې نه پوره کوی.

تسهیلات:

قوله: وَلَا يُؤَدِّي عَنِّي:

د علی رضی الله عنه د خپل طرفه ذمه وارجوړول: په دې حدیث کښې هم حضورپاک حضرت علی رضی الله عنه سره خپل کمال قرب بیان کړې دې اودَ "لایؤدی" سره دَدې حقیقت طرف ته اشاره کړې ده کوم چه دَعربو دستور وو چه کوم سړی به څه معاهده یا معامله کوله نوهغه پخپله هم هغه سړی ختمولې شوه یا دَهغه څوك نیزدې خپلوان ختمولې شوه. رسول الله صلی الله علیه وسلم دَخپلو معاملاتو او معاهداتودَ ختمولو او جوړولو ذمه واری حضرت علی رضی الله عنه باندې اچولې وه.

په معاهداتو کښې دعلی د نیابت څو مثالونه: ① دَهجرت په شپه حضورپاك حضرت علی رضی الله عنه خپل شاته پریخودو چه دَاماتنونو دَحواله کولومعاملات سرته اورسولې شی.
② بیا قریشوسره چه کومې معاهدې شوې وې دَهغې دَختمولو یا دَتجدید کولودَاعلان دَپاره حضرت علی رضی الله عنه دَ صدیق اکبر رضی الله عنه نه پس روان کړو په دغه سفرکښې حضرت علی رضی الله عنه امیرالحج نه وو بلکه صرف دَاعلان کولودَپاره مکې ته راغلې وو. امیر الحج خو هم هغه شان حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه وو.

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب علی بن أبی طالب رضی الله عنه. یقال وله کنیتان: أبو تراب، وأبو الحسن (رقم-۳۷۱۶) وابن ماجه فی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل علی بن أبی طالب رضی الله (رقم-۱۱۹)واحمد فی المسند: ۱۶۴/۴

[٦٠٩٣] د نبی علیه السلام او علی رضی الله عنه مواخاة

٦٠٩٣-(١)[٧] ①وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: «آخَى رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بَيْنَ أَصْحَابِهِ، ②فَجَاءَ عَلِيٌّ تَدْمَعُ عَيْنَاهُ، ③فَقَالَ: آخَيْتَ بَيْنَ أَصْحَابِكَ، وَلَمْ تُؤَاخِ بَيْنِي وَبَيْنَ أَحَدٍ. ④فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (أَنْتَ أَخِي فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ)» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① اوحضرت ابن عمر رضی الله عنهما بیان کوي چې رسول کریم ﷺ دخپل صحابه رضی الله عنهم په منځ کښې ورور ولي قائمه کړه ②نوحضرت علي رضی الله عنه حضور ﷺ ته راغی اوسترګوخه یې اوښکي جاري وې ③اوعرض یې وکړ یارسول الله تاسو دخپلو صحابه رضی الله عنهم منځ کښې ورور ولي قائمه کړه لیکن زما ورور ولي مې دچاسره قائمه نه کړه دي اوریدو سره رسول کریم ﷺ هغوی ته وفرمایل ته زما وروریې په دنیاکې هم اوآخرت کښې هم داروایت ترمذي نقل کړي دی او ویلي یې دي چې داحدیث حسن غریب دی

حل اللغات:- ①آخَى: أَيْ جَعَلَ الْمُؤَاخَاةَ فِي الدِّينِ: دینی ورور ولی ئې قائم کړه ②تَدْمَعُ: اوښکې ئې بهیدلې

تسهیلات: قوله: أَنْتَ أَخِي فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ:

د میثاق مواخاة کښې دعلی رضی الله عنه اسلامی ورور: رسول کریم ﷺ چه کله د انصارو او مهاجرینو په مینځ کښې د رورولئی سلسله قائم کړه نوحضرت علی رضی الله عنه د هغه یو څو صحابه کرامو نه یو وو د چا چه هیچا سره رورولی نه وه قائم شوې په دې باندې حضرت علی رضی الله عنه خفه شو په دې وجه هغه په ژړا د حضورپاك په خدمت کښې حاضر شو چه تاسو نورو صحابه کرامو لکه حضرت ابوبکرصدیق، خارجه بن زبیر انصاری رضی الله عنهما په مینځ کښې او د حضرت عمر رضی الله عنه او حضرت عتبان بن مالك رضی الله عنه په مینځ کښې او حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه او حضرت ثابت بن منذر رضی الله عنه په مینځ کښې رورولی قائمه کړې شوه لیکن د یو انصاری صحابی مو زما سره مواخاة قائم نه کړو.

په دې باندې حضورپاك اوفرمائیل چه زه ستا رور موجود یم نو بیا تا له څه ضرورت دې چه ستا چاسره رورولی قائمه کړم. دا لکه چه په توګه د زیری او تسلئی دی په دې سره هم کمال اتحاد او د قرب طرف ته اشاره ده

[٦٠٩٤] علي د الله د محبوب ترین بنده مصداق ګرځیدل

٦٠٩٤-(٢)[٨] ①وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «كَانَ عِنْدَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- طَيْرٌ، ②فَقَالَ: "اللَّهُمَّ ائْتِنِي بِأَحَبِّ خَلْقِكَ إِلَيْكَ يَأْكُلُ مَعِي هَذَا الطَّيْرَ" ③فَجَاءَهُ عَلِيٌّ، فَأَكَلَ مَعَهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-٣٧٢٠)
[2] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-٣٧٢١)

ترجمه: [۱] اوحضرت انس رضي الله عنه بيان کوي يوه ورځ دنبي کريم ﷺ مخې ته پخه کړي مرغي ايښودل شوي وه [۲] حضور ﷺ دعا وغوښتله اې الله ستا مخلوقاتو کې چې څوک تاته زيات محبوب وي هغه ماته راوليږې چې ما سره ددې مرغي غوښه وخوري [۳] نوحضرت علي رضي الله عنه راغی اوهغوی حضور ﷺ سره هغه مرغي وخوړه دا روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يې دي چې داحديث غريب دی.

حل اللغات:- ① طَيْرٌ: مرغی، (چه وريته کړي يا پخ کړي شوي وه)

تسهيلات:

قوله: ائْتِنِي بِأَحَبِّ خَلْقِكَ إِلَيْكَ يَأْكُلُ مَعِي هَذَا الطَّيْرَ

علی د الله تعالی محبوب بنده ثابتيدل: محبوب کيدل يوبل څيز دي اوبه مقام کښې اوچتيدل يوبل څيز دي. دحضرت علي رضي الله عنه محبوب کيدو مطلب دانه دي چه دهغه نه علاوه بل څوك خليفه جوړول منع وو. دا د شيعه شنيعه دخرافات نه دی. آخر داحديث هم دي چه په انسانانو کښې حضورپاك ته عائشه رضي الله عنها محبوب وه او په سړو کښې دهغې پلار حضرت صديق اکبر رضي الله عنه محبوب وو.

[٦٠٩٥] په ورکړه کښې د نبی عليه السلام علی سره خصوصی کردار

٦٠٩٥-(١) [٩] [۱] «وَعَنْ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: كُنْتُ إِذَا سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَعْطَانِي [۲] وَإِذَا سَكَتُّ ابْتَدَأَنِي». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] اوحضرت علي رضي الله عنه وايي ماچې رسول کريم ﷺ نه کله هم څه شی غوښتی دی نوماته يې راکړي دي [۲] وکله چې به زه خاموش وم يعنی غوښتلو نه به مې حجاب کولو نوحضور ﷺ به خپله راکولو داروايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يې دي چې داحديث غريب دی.

حل اللغات: -① سَكَتُّ: چپ اوخاموش به ووم،څه به مې نه غوښتل،② ابْتَدَأَنِي: يعنی اول به ئې ماته راکول.

تسهيلات:

قوله: كُنْتُ إِذَا سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د سوال په مصداق کښې دوه احتمالات: ① که چرې د سوال نه مراد پښتنه وی نو د عطا نه مراد به جواب ورکول وی

② که چرې د سوال نه مراد څه غوښتل وی نو د عطا يعنی ورکړې نه مراد مالی ورکړه ده.

¹ اخرجه الترمذي في السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم باب (رقم-٣٧٢١)

قوله: وَإِذَا سَكَتُّ ابْتَدَأَنِي،

د ابتدائی په مفهوم کښې دوه احتمالات: ① مطلب دا چه کله به زه خاموش پاتې کيدم هيڅ تپوس به مې نه کولو نو رسول الله ﷺ به پخپله ماسره خبرې شروع کولې دې دپاره چه زه د څه پښتنه اوکړم

② يا که چرته ما به څه نه غوښتل نو رسول کريم ﷺ به بغير د غوښتلو ماله راکول. په حديث الباب کښې د حضرت علی رضی الله عنه مقصد رسول الله ﷺ سره خپل قرب بيانول دی چه د حضورپاك ما سره دومره محبت وو چه زما د هرقسم ضرورياتو به ئې پخپله خيال ساتلو.

[۶۰۹۶] حضرت علي رضی الله عنه دعلم اوحکمت دروازه ده

۶۰۹۶-() [۱۰] ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«أَنَا دَارُ الْحِكْمَةِ، وَعَلِيٌّ بَابُهَا»". ③ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَقَالَ: رَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ شَرِيكٍ وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنِ الصُّنَابِحِيِّ، ④ وَلَا نَعْرِفُ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ أَحَدٍ مِنَ الثِّقَاتِ غَيْرَ شَرِيكٍ.

ترجمه: ① اوحضرت علي رضی الله عنه وايي درسول کريم ﷺ ارشاد دی ② زه دحکمت اودانايي کوريم اوعلي رضی الله عنه ددې کور دروازه ده ③ داروايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يي دي چې داحديث غريب دی هغوی داهم اوويل چې بعضې راويانوداحديث دشريک تابعي نه نقل کړی دی ليکن دهغوی ددې حديث اسنادو کښې دصنابحي ذکر نشته ځکه چې دهغوی دنورو روايتونوسلسله اسنادکي دهغه دنوم ذکر راځي او دا روايت دشريک نه علاوه دبل چا نه مونږ نه پيژنو.

حل اللغات:- ① دَارُ الْحِكْمَةِ: د حکمت او دانايئ کور.

تسهيلات:

قوله: أَنَا دَارُ الْحِكْمَةِ، وَعَلِيٌّ بَابُهَا،

دعلی رضی الله عنه د علمی حيثيت تشبيه د ښار دروازې سره: په دې حديث کښې د حضرت علی رضی الله عنه فضيلت بيان کړې شوې دې په علم اوقضاء کښې الله تعالی حضرت علی رضی الله عنه ته يولوړ مقام ورکړې وو ليکن د دې مطلب دانه دې چه هم حضرت علی رضی الله عنه يوه دروازه وه اوباقی د چرته نه د علم د حصول د پاره بل څه لار نه وه ځکه چه د علم يوه دروازه نه ده ځودروازې کيدې شی په دغې کښې حضرت علی رضی الله عنه هم يوه دروازه وه او نور صحابه کرام هم وو. آخر حضرت ابن مسعود رضی الله عنه حضرت معاذ رضی الله عنه اوحضرت ابی بن کعب رضی الله عنه هم د قرآن په اعلی ماهرينوکښې شميرکړې شوی دی. د حضرت ابوبکر رضی الله عنه باره کښې دی

---

[۱] (اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم /باب (رقم-۳۷۲۳))

[۶۰۹۷] د نبی علیه السلام علی رضی الله عنه سره پټې خبرې

۶۰۹۷ - ( ) [۸] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: دَعَا رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلِيًّا يَوْمَ الطَّائِفِ فَانْتَجَاهُ، [۲] فَقَالَ النَّاسُ: لَقَدْ طَالَ نَجْوَاهُ مَعَ ابْنِ عَمِّهِ، [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "«مَا انْتَجَيْتُهُ، وَلَكِنَّ اللّٰهَ انْتَجَاهُ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.[1]

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضی الله عنه بیان کوي د غزوه طائف په ورځ رسول الله ﷺ حضرت علي رضی الله عنه راوبللې او دهغه سره یې په غوږ کښې خبرې شروع کړې یعنی داسې په نظر راتلو چې څه خاص مسئله باندې یې هغه سره پټې پټې خبرې کولې او دهغه خبرو سلسله چې اوږده شوه [۲] نو منافقینو یا صحابه رضی الله عنهم کښې عام خلقو اوویل دخپل اکا (تره) د زوی سره خو رسول الله ډیر وخته پورې په غوږ کښې خبرې کړې دي [۳] رسول الله ﷺ چې دا واوریدل نو وي فرمایل چې دعلي سره ماسر ګوشي نه ده کړې بلکې الله تعالی ورسره سرګوشي کړېده

حل اللغات: - ① فَانْتَجَاهُ: دباب افتعال نه دي، ماخوذ دي د نَجْوَى نه، أَيْ فَـارَّهُ: پټې او د راز خبرو ته وانې.

تسهیلات: قوله: فَقَالَ النَّاسُ:

د الناس په مصداق کښې دوه اقوال:

① یعنی دَ حضورپاك متعلق داسې بې هوده خبرې کونکې منافقان وو.

② نوی نوی مسلمانان شوی صحابه کرام وو.

علی رضی الله عنه سره د جنګی حکمت عملی خبرې کول: حضورپاك چه دَ حضرت علی رضی الله عنه په غوږ کښې څه خبره فرمائیله دَهغې متعلق هغوی اووئیل چه دا دَ الله دَ حکم څنګه تعمیل کوی چه بعضې خبرې پټې پټې حضرت علی رضی الله عنه ته رسوی او داسې خبرې کوی چه دَ مجلس دَ آدابو خلاف دی. اوس رسول الله ﷺ دَ حضرت علی رضی الله عنه په غوږ کښې څه خبرې کړې وې. په دې سلسله کښې به دا وبناکول زیات مناسب وی چه حضرت علی رضی الله عنه سره په غوږ کښې خبرې کولو مقصد په اصل کښې دَ هغه غزوې متعلق څه داسې نقطې او دَ راز خبرې خودل وو دَ کومو تعلق چه دَدین په ضمن کښې راتلونکې دنیاوی انتظام اومعاملاتو سره وو. دَ هغې دَ ټولو په مخکښې ذکرکول دَ جنګی پالیسئی خلاف وو دَدې مطلب قطعی دانه دې چه دَ الله تعالی دَ طرف نه نازل شوې دَ دین څه خبره یا دَ دینی امورو متعلق څه احکام دَ ټولو خلقو نه پټ رسول کریم ﷺ حضرت علی رضی الله عنه ته بښودلی دی.

قوله: مَا انْتَجَيْتُهُ

د الله په دربار کښې د حضرت علی رضی الله عنه مقام: چه حضرت علی رضی الله عنه ته په غوږ کښې دَ راز خودلو حکم الله تعالی ورکړې دې لهذا زه دَ خپل طرف نه ده ته په غوږ کښې خبرې نه

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۷۲۶)

کوم بلکه دَ الله تعالی په حکم باندې عمل کوم ځکه چه زما هیڅ وینا دَ وحی نه بغیر نه وی.

[۶۰۹۸] دجنابت په حالت کښې په مسجد نبوی کښې علی رضی الله ته رخصت

۶۰۹۸-() [۳] ①وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لِعَلِيٍّ: ② "يَا عَلِيُّ، لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ يُجْنِبُ فِي هَذَا الْمَسْجِدِ غَيْرِي وَغَيْرَكَ» "، ③قَالَ عَلِيُّ بْنُ الْمُنْذِرِ: فَقُلْتُ لِضِرَارِ بْنِ صُرَدٍ: مَا مَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ؟ ④قَالَ: لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ يَسْتَطْرِقُهُ جُنُبًا غَيْرِي وَغَيْرَكَ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① اوحضرت ابوسعید رضی الله عنه وايي رسول کريم ﷺ حضرت علي رضی الله عنه ته فرمايلي وه ② ای علي رضی الله عنه زما اوستا نه سوا چاله جائزنه دي چې هغه دجنابت ياناپاکي حالت کښې مسجد نبوي ﷺ ته راشي ③ دعلي ابن منذر بيان دی چې مادضرار ابن صرد نه پوښتنه وکړه ددي حديث څه مطلب دی ④ نوهغوی راته وښودل ددي معنی داده چې زما اوستا نه سوا هيڅ سړی دپاره جائز نه دي چې هغه دجنابت يعنی ناپاکي په حالت کښې مسجد گزرگاه جوړ کړي اودهغه دننه څې راځي داحديث ترمذي نقل کړي دي او ويلي يې دي چې داحديث غريب دی.

حل اللغات:- ① يُجْنِبُ: دجنابت په حالت کښې تيريدل مراد دی. ② يَسْتَطْرِقُهُ: چه لاره جوړه کړی مسجد نبوی کښې.

تسهیلات: قوله: لَا يَحِلُّ:

په جنابت کښې په جمات کښې د تیریدو د رخصت وجه: مطلب دادې چه دَ جنابت په حالت کښې صرف زه اوعلی رضی الله عنه دَجمات په لاره تیریدې شو دَ بل چادَپاره دا حلال نه دی چه حالت دَ جنابت کښې مسجدنبوی کښې تیرشی. چونکه دَ حضوراکرم ﷺ اودَ حضرت علی رضی الله عنه دَ تیریدو لار په مسجدنبوی کښې وه دَباقی خلقو نه وه په دې وجه داخصوصی اجازت ورکړې شو. هم دغه وجه ده چه دا اجازت صرف مسجدنبوی سره خاص کول "مسجدی" اوفرمائيلې شو. دويم يوجمات ته تلل جائز نه دی ځکه چه دا مجبوری بل ځائی کښې نه وه.

[۶۰۹۹] د نبی علیه السلام د علی د لیدو پورې د ژوند دعا

۶۰۹۹-(¹) [۳] ①«وَعَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- قَالَتْ: بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- جَيْشًا فِيهِمْ عَلِيٌّ، ②قَالَتْ: فَسَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَهُوَ رَافِعٌ يَدَيْهِ يَقُولُ: ③" اللَّهُمَّ لَا تُمِتْنِي حَتَّى تُرِيَنِي عَلِيًّا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

¹ اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب (رقم-۳۷۲۷)
² اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب (رقم-۳۷۳۷)

ترجمه: [۱] اوبي بي ام عطيه رضي الله عنها وايي يو ځل رسول كريم ﷺ څه جنګي مهم باندې يولښكر وليږلو چې هغه كښې حضرت علي رضي الله عنه هم شامل وو [۲] دبي بي ام عطيه رضي الله عنها بيان دې په هغه موقع چې حضور ﷺ لښكر رخصت كولي يادلښكر دواپسي ورځ نزدې وه ما رسول كريم ﷺ لاس پورته كولو سره دادعا كول ترې واؤريدل [۳] الهي ماته هغه وقته پورې مرګ مه راولې څوپورې چې ته علي رضي الله عنه سلامتيا سره واپس راتلو سره ماته ونه ښايې (ترمذي)

حل اللغات: - ① رَافِعٌ يَدَيْهِ: يعنى د دعا دپاره ني خپل دواړه لاسونه پورته كړى وو ② لَا تُمِتْنِي: أَيْ لَا تَقْبِضْ رُوحِي: ما مه مړكوې، زما روح مه قبض كوې، ③ تُرِيَنِي: أَيْ: تُبَصِّرَنِي: چه ماته اوښائې

تسهيلات:

قوله: اَللّٰهُمَّ لَا تُمِتْنِي حَتّٰى تُرِيَنِي عَلِيًّا،

د دعا په محل كښې درې اقوال: ① رسول كريم ﷺ دا دعا حضرت على رضي الله عنه لره په لښكر كښې دَ روانولو په وخت غوښتې وه

② رسول كريم ﷺ خودا دعا حضرت على رضي الله عنه لره جهاد ته دَ روانيدو نه پس غوښتې وه

③ رسول كريم ﷺ خودا دعا حضرت على رضي الله عنه لره دَ لښكردَ واپسۍ خبر چه كله راؤرسيدو نوهغه وخت نې غوښتې وه.

بهرحال دَ حديث الباب نه معلوميږي چه دَ رسول الله ﷺ حضرت على رضي الله عنه سره دَ كمال درجې محبت وو

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۶۱۰۰] د علي رضي الله عنه محبت د نفاق او ايمان معيار ګرځول

-۶۱۰۰ ( ) [۳] [۱] عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] " «لَا يُحِبُّ عَلِيًّا مُنَافِقٌ وَلَا يُبْغِضُهُ مُؤْمِنٌ» " [۳] رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، غَرِيبٌ إِسْنَادًا.

ترجمه: [۱] بي بي ام سلمه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] علي رضي الله عنه سره منافق محبت نه لري او كامل مؤمن علي رضي الله عنه سره بغض اودښمني نه لري [۳] دا روايت احمد اوترمذي نقل كړى دى اوترمذي ويلي دي چې دا حديث باعتبار اسناد غريب دى

تسهيلات:

قوله: لَا يُحِبُّ عَلِيًّا مُنَافِقٌ وَلَا يُبْغِضُهُ مُؤْمِنٌ

په محبت كښې د شريعت د اصولو خيال ساتل: يعنى حضرت على رضي الله عنه سره محبت ساتل دَ هريو مسلمان دَ ايمان علامت دي دلته داخبره ياد ساتل پكار دى چه دَ محبت ساتلو دَپاره

[۱] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۷۱۷) واحمد فى المسند: ۲۹۲/۶

شریعت خپل یو معیار مقرر کړې دې هم په دغه معیار باندې چه کله محبت وی هغه به د ایمان علامت وی هغه محبت هیڅ کله مطلوب نه دې چه د شریعت د قواعدو منافي وی. لکه څنګه چه د شیعه ګانو روافضو مصنوعي محبت دې چه حضرت علي رضی الله عنه د الوهیت په درجه باندې ورخیژوی د هغه نه امداد غواړي بلکه هغوی د نبیانو نه اوچت منی هغوی وصی رسول الله منی اوپته نه لګی چه کوم کوم خرافات وائی او د هغه په نقش قدم یعنی شریعت باندې تګ نه کوی

[۶۱۰۱] علي رضی الله عنه ته کنځل نبی ته د کنځلو مترادف

۶۰۹۲-( ) [۵] [۱] وَعَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] " «مَنْ سَبَّ عَلِيًّا فَقَدْ سَبَّنِي». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] او بي بي ام سلمه رضی الله عنها وايي چی رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړی چې د حسب ونسب د اعتبار نه علي رضی الله عنه ته بد اوویل هغه در حقیقت ما ته بد وویل (احمد)

حل اللغات: - ① سَبَّ: کنځل نې اوکړل، بد رد نې اوونیل

تسهیلات:

قوله: مَنْ سَبَّ عَلِيًّا فَقَدْ سَبَّنِي

د حدیث محمل: یعنی حضرت علی رضی الله عنه ته کنځل کول رسول الله ﷺ ته د کنځلو مترادف دی او حضور پاك ته کنځلې کول کفر دې لهذا علی رضی الله عنه ته کنځلې کول کفر دې که یو سړې دا کنځلې حلال ګنړی نو دا کفر دې

② که چرې ګناه نې ګنړی نو دا ګناه کبیره ده بیا دا کلام وعید او شدید، تغلیظ او تشدید باندې محمول دې په یو بل حدیث کښې دی مَنْ سَبَّ أَصْحَابِيْ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ او په یو بل حدیث کښې دی مَنْ سَبَّ الْأَنْبِيَاءَ قُتِلَ وَمَنْ سَبَّ أَصْحَابِيْ جُلِدَ

[۶۱۰۲] د علی رضی الله عنه باره کښې افراط او تفریط

۶۰۹۳-( ) [۶] [۱] وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] " «فِيكَ مَثَلٌ مِنْ عِيسَى، أَبْغَضَتْهُ الْيَهُودُ حَتَّى بَهَتُوا أُمَّهُ، وَأَحَبَّتْهُ النَّصَارَى حَتَّى أَنْزَلُوهُ بِالْمَنْزِلَةِ الَّتِي لَيْسَتْ لَهُ ". [۳] ثُمَّ قَالَ: يَهْلِكُ فِيَّ رَجُلَانِ: مُحِبٌّ مُفْرِطٌ يُقَرِّظُنِي بِمَا لَيْسَ فِيَّ، وَمُبْغِضٌ يَحْمِلُهُ شَنَآنِي عَلَى أَنْ يَبْهَتَنِي». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] او حضرت علي رضی الله عنه وایي (یوه ورځ) رسول الله ﷺ ماته وفرمایل [۲] په تا کي د عیسی علیه السلام سره یو قسم مشابهت دی یهودیانو عیسی علیه السلام سره بغض او عناد وساتی نو دومره زیات یې وساتی چې د هغه مور بي بي مریم رضی الله عنها باندې د زنا بهتان وتړی

---

[1] اخرجه احمد فی المسند: ۳۲۳/۶

[2] اخرجه احمد فی المسند: ۱۶۰/۱

اوعیسایانو هغه سره محبت او وابستګي قائمه کړه نودومره زیاته اوډغلو سره یې قائمه کړه چې هغه یې هغه مقام اومرتبې ته ورسول چې هغه دپاره ثابت نه ده یعنی هغه یې الله یاابن الله وګرځولي ۳داحدیث بیانولو نه وروسته حضرت علي رضی الله عنه اوویل ماته یقین دی چې ددي ارشاد نبوي ﷺ مطابق دحضرت عیسیٰ علیه السلام په شان زما باره کښې بهٔ هم دوه سرې یعنی دوه ډلې داسې هلاک یعنی ګمراه شي چې هغوی کښې به یوه خو زما سره محبت لري اوهغه محبت کښې به دحدځخه متجاوز شی مابه دهغه خوبیانو اولوییو حامل ګرځوي چې په ماکي به نه وي اویوه ډله به ما سره بغض اوعناد لري زما دښمني نه مغلوب کیدو سره په مابه بهتان تړي (احمد)

حل اللغات:- ① بَهَتُوا: أي أَنَّهُمُ افْتَرَوْا عَلَيْهَا: دروغ ئې پرې اوتړل، د زنا الزام ئې پرې اوتړلو ② أَنْزَلُوهُ: اوئې رسولو (عیسی علیه السلام ته ئې ابن الله اووئیل) ③ الْمَنْزِلَةِ: مقام او مرتبه، ④ مُفْرِطٌ: أي: مُبَالِغٌ عَنِ الْحَقِّ: د حد نه تیریدونکي او زیاتي کونکي، ⑤ يُقَرِّظُنِي: أي: يَمْدَحُنِي: مدح او تعریف به کوی زما، ⑥ يَحْمِلُهُ: أي: يَبْعَثُهُ: راپاره کوی به هغه لره، ⑦ شَنَآنِي: أي: عَدَاوَتِي: دشمنی زما سره، مخالفت زما.

تسهیلات:

قوله: فِيكَ مَثَلٌ مِنْ عِيسَى،

په محبت کښې د اعتدال لار اختیارول: محبت هم هغه معتبردې کوم چه معتدل وی اودَ شریعت قاعده اوقانون مطابق وی. بعضې شخصیاتوسره خلقو داسې معامله کړې ده چه یوفریق دَ محبت په جوش کښې راتلوسره هغه دَ عابددَمقام نه اوچت کړو اودَمعبود په مقام باندې راوستلویدرولو اوبل فریق دَعداوت په جذبه کښې راتلوسره دَعابداو بندګئی دَ درجې نه هم راښکته ګذارکړو.

د عیسی علیه السلام باره کښې دوه ډلې: ① حضرت عیسیٰ علیه السلام سره یهودو اونصاریٰ هم دغه شان افراط اوتفریط والامعامله اوکړه. یهودیانو ورته دبغض په وجه ولد زنا اووئیل او عیسایانو ورته دفرط محبت دوجې ابن الله اووئیل.نودواړه ډلې د افراد اوتفریط ښکار شوې.

قوله: مُحِبٌّ مُفْرِطٌ يُقَرِّظُنِي بِمَا لَيْسَ فِيَّ،

حضرت علی رضی الله عنه پخپله بیاددې نورتفصیل اووضاحت اوکړو چه زما باره کښې به دوه ډلې هلاکیږی

يُقَرِّظُنِي دادَ باب تفعیل تقریظ نه دې ای یمدحنی یعنی زمابه دَحدنه زیات تعریف کونکی شی اوزما شان دَ انبیاء او عام صحابه کرامو نه زیاتولوسره پیش کونکی به یا مادَ الوهیت درجې ته رسونکی شی کوم ځیزونه چه زمادَ شان برابر نه دی هغه به زماطرف ته منسوب کونکی شی.

قوله: وَمُبْغِضٌ يَحْمِلُهُ شَنَآنِي عَلَى أَنْ يَبْهَتَنِي

شَنَآنِي: يعنی په زړه کښې زمانفرت اوبغض لرونکی تردې چه په ما باندې به بهتان لګونکی شی دا خوارج اوناصبی دی چه په بغض اوعداوت کښې ګمراه شو اهل سنت والجماعت د اعتدال په لار باندې محفوظ اوسالم پاتې شو.

د علی رضی الله قول د مسند احمد په روایت کښې: په مسند احمد کښې امام احمد رحمه الله یوروایت نقل کړې دې دکوم الفاظ چه دادی. قَالَ عَلِيٌّ يُحِبُّنِي أَقْوَامٌ حَتَّى دَخَلُوا النَّارَ فِي حُبِّي وَيُبْغِضُنِي أَقْوَامٌ حَتَّى دَخَلُوا النَّارَ فِي بُغْضِي د حضرت علی رضی الله عنه یوه دعاهم امام احمد رحمه الله داسې نقل کړې ده قَالَ عَلِيٌّ اللَّهُمَّ الْعَنْ كُلَّ مُبْغِضٍ لَنَا وَكُلَّ مُحِبٍّ لَنَا غَالٍ. په دې روایاتو سره به شیعه ګان په ډیرمشکل کښې پریوځی که چرې هغوی عقل لری.

[٦١٠٣] دغدیر خم واقعه

٦١٠٣-() [۱۷] [۱] وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، وَزَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَمَّا نَزَلَ بِغَدِيرِ خُمٍّ [۳] أَخَذَ بِيَدِ عَلِيٍّ فَقَالَ: "أَلَسْتُمْ تَعْلَمُونَ أَنِّي أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ؟" قَالُوا بَلَى، [٤] قَالَ: "أَلَسْتُمْ تَعْلَمُونَ أَنِّي أَوْلَى بِكُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ نَفْسِهِ؟" قَالُوا: بَلَى.

ترجمه: [۱] حضرت برا بن عازب رضی الله عنه اوزید بن ارقم رضی الله عنه نه روایت دی [۲] رسول الله صلی الله علیه وسلم چې غدیر خم کښې پړاؤ واچوی نوحضور صلی الله علیه وسلم صحابه رضی الله عنهم جمع کړل اوځرنګه چې یوروایت کښې دي داوبنانو دپالانونو کتو منبر جوړولو سره په هغه اودریدلو [۳] وبیا دحضرت علي رضی الله عنه لاس خپل لاس کښې آخستو سره یي وفرمایل اې زما اصحابو په دې خوتاسو پوهیږئ چې داهل ایمانو په نزد زه دهغوی دځانونوځخه هم ورته زیات عزیزیم ټولو عرض وکی چې هو [٤] دې نه وروسته حضور صلی الله علیه وسلم داسې وفرمایل تاسو خوپوهیږئ چې زه دیویومؤمن په نزد دهغه دځان نه هم زیات عزیز اومحبوب یم صحابه رضی الله عنهم عرض وکی چې هو

حل اللغات:- ① غَدِيرِ خُمٍّ: په مکه مکرمه کښې دجحفه مقام نه درې میله فاصله کښې یوځائی دې هغې ته غدیرخم وائی ② أَوْلَى: افضل او غوره، زیات عزت والا.

[۱] قَالَ: "اللَّهُمَّ مَنْ كُنْتُ مَوْلَاهُ فَعَلِيٌّ مَوْلَاهُ، اللَّهُمَّ وَالِ مَنْ وَالَاهُ، [۲] وَعَادِ مَنْ عَادَاهُ" فَلَقِيَهُ عُمَرُ بَعْدَ ذَلِكَ [۳] فَقَالَ لَهُ: هَنِيئًا يَا ابْنَ أَبِي طَالِبٍ، أَصْبَحْتَ وَأَمْسَيْتَ مَوْلَى كُلِّ مُؤْمِنٍ وَمُؤْمِنَةٍ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] بیا حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل اې الله دکوم سرې چې زه دوست یم علي رضی الله عنه دهغه دوست دی الهي ته هغه سرې دوست وساتې چې علي رضی الله عنه دوست لرې [۲] وته هغه سرې خپل دښمن وګرځوې چې علي رضی الله عنه سره دښمني ساتي دې واقعې نه وروسته حضرت عمر

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب علی بن أبی طالب رضی الله عنه. يقال وله كنيتان: أبو تراب، وأبو الحسن (رقم-٣٧١٣) وابن ماجه فی كتاب فی الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل علی بن أبی طالب رضی الله (رقم-١١٦) واحمد فی المسند: ٤/٢٨٠

رضي الله عنه چې حضرت علي رضي الله عنه سره یوځای شو ③ نو هغوی ته یې ووېل اې د ابن ابي طالب مبارک دې وي تاته خوشحاله شې وخت کښې هم او ماښام وخت کښې هم یعنې هر آن هر لمحه د هر مسلمان سړي او ښځې دوست او محبوب یې. احمد

حل اللغات:- ④ وَالِ: محبت او ساتې، دوست ني جوړ کړې. ⑤ عَادِ: دشمني ورسره وکړې، دشمن ني اوګرځوې. ⑧ هَنِيئًا: أي طُوبىٰ لَكَ: مبارک شه، خوشحاله شې. ⑨ أَصْبَحْتَ: صبا کړو تا اوګرځیدې په وخت د صبا کښې ⑥ أَمْسَيْتَ: ماښام کړو تا اوګرځیدې په وخت د ماښام کښې

تسهیلات:

قوله: بِغَدِيرِ خُمٍّ:

د غدیر خم مصداق: که مکرمه او مدینه منوره په مینځ کښې یو مقام حجفه دې کوم چه نن صبا رابغ ونیلې شي هم د غه رابغ سره څواکې یوځای دې چه هغې ته غدیرخم وائي د شرع د پخوانی بدر د لارې نه تیرېدو سره د مکې مکرمې نه تقریباً نس کم سل کلومیتره فصله بانديې واقع دې "من كنت مولاه فعلي مولاه" د دې قسم الفاظ دې نه وړاندې حديث نمبر (۳۰) کښې هم تیرشوی دی دا حدیث د حضرت علي رضي الله عنه په فضیلت کښې دې په دې کښې یو لفظ اولی دې او دویم لفظ مولی دې

په خلافت علي بلافصل دپاره د شیعه ګانو استدلال: شیعه په دې روایت کښې لفظ مولی اولی بالخلافت او خلیفه په معنی کښې اخلي او وائي چه حضرت علي رضي الله عنه خلیفه هم وو یعنې د حضور پاک نه پس د هغوی خلافت وو خلفاء ثلاثه او صحابه کرامو د هغوی دا حق غصب کړو شیعه وائي چه دا حدیث په خلافت علي باندې نص صریح او دلیل قطع دې آیا واقعي داسې ده؟

د استدلال څلور جوابونه: ① که د مولی معنی فرض کړه حاکم او خلیفه ده نو بیا به د دې حدیث ترجمه داسې کولې شي چه حضور پاک فرمائي چه زه د چا خلیفه یم علي هم د هغه خلیفه دې اې الله ته هم د هغه سړی والی جوړ شه چه د علي والي اوحکم دې حالانکه دا ترجمه غلطه ده دا نقصان هم په دې سره شوې چه مولی د حاکم او خلیفه په معنی کښې واخستې شو که چرې مولی د محب او محبوب په معنی کښې واخستې شي نو د پوره حدیث مطلب به صحیح پاتې شي

② کله چې په دې لفظ کښې د ولایت علي او حاکمیت علي تصریح او وضاحت وو نو حضرت علي رضي الله عنه د خلفاء ثلاثه په دور کښې کله هم د دې نه د خلافت د پاره استدلال ولې ونه کړو؟ حالانکه حضرت عثمان رضي الله عنه سره خو په شوری کښې باقاعده انتخاب شوې وو هغه وخت خو د حدیث د پیش کولو هډو ضرورت هم نه وو او څه رکاوټ هم نه وو معلومه

شوه چه په لفظ مولی کښې دَخلافت مفهوم نشته دې

④ دَ ولایت علی دَ ثبوت دَپاره دَ شیعه دَاصول اوقواعد مطابق دَنص قطعی اوحدیث متواتر ضرورت وی حالانکه داحدیث متواترنه دې اونه قطعی نص دې. ځکه چه دَاهل لغت نه چا هم دَمولی معنی دَخلافت نه ده اخستې

⑤ لفظ مولی په ډیرومعنوکښې استعمالیږی مثلاً مالك ناصر محب رب آقا دوست آزادکړې غلام اودَ تره دَځوئی دَپاره دالفظ وئیلی شی اوس دلته په دې حدیث کښې دَدې معانی نه محب اومحبوب معنی اخستل دَتولونه زیات واضحه او دَحدیث دَ سیاق اوسباق سره ډیره نیزدې ده. اودَ نورو روایاتوسره هم موافق ده چرته چه دحضرت علی رضی الله عنه سره دَمحبت ساتلو حکم دې مطلب داشو چه حضورپاك فرمائی چه کوم سړې ماسره محبت ساتی هغه دې علی سره هم محبت اوساتی اې الله کوم سړې چه علی سره محبت لری ته هم هغه سره محبت اولره. اوکوم سړې چه علی سره بغض ساتی ته هم هغوی سره بغض اوساته په دې مطلب کښې دَ چااختلاف کیدې شی؟

علی رضی الله عنه سره دمحبت کولود تاکید وجه: البته دَمحب او محبوب معنی په دې کښې پرته ده اوهم دَدغه محبت تذکره حضورپاك کړې ده. ځکه چه په راتلونکی واقعاتوکښې دَ حضرت علی رضی الله عنه ذات متنازع جوړیدونکې وو اودَ خوارج اومنافقانو دَطرف نه دَهغوی سره دَ عداوت فضا پیداکیدونکې وه دَ کوم دَ وجې نه چه حضورپاك دَ اول نه تنبیه اوفرمائیله بهرحال دَ دین اسلام باره کښې دَ شیعه ګانو علم غلط شوې دې اودَعلم په غلط کیدوسره سړې ګمراه کیږی خو په عملی غلطنی سره سړې صرف ګناهګار کیږی

[٦١٠٤] علی رضی الله عنه سره د فاطمه زهرا رضی الله عنها نکاح

٦١٠٣-(١) [١٨] ① وَعَنْ بُرَيْدَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ② «خَطَبَ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ فَاطِمَةَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "إِنَّهَا صَغِيرَةٌ" ③ ثُمَّ خَطَبَهَا عَلِيٌّ فَزَوَّجَهَا مِنْهُ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① اوحضرت بریده رضی الله عنه وایي ② حضرت ابوبکر رضی الله عنه اوحضرت عمر رضی الله عنه فاطمي رضی الله عنها سره دنکاح پیغام ورکړو نورسول الله ﷺ ورته وفرمایل چې هغه کمسن (کم عمره) ده ③ وبیاچې حضرت علي رضی الله عنه فاطمي رضی الله عنها سره دخپلې نکاح پیغام ورکړو نوحضور ﷺ هغوی سره دفاطمي رضی الله عنها نکاح وکړله (نسایی)

حل اللغات:- ① خَطَبَ: دنکاح پیغام ورکړو. ② فَزَوَّجَهَا: نوپه نکاح ني ورکړه (واده ني ورله ورسره اوکړو)

[١] اخرجه النسائی فی السنن کتاب الجهاد/باب: تزوج المرأة مثلها فی السن (رقم ٣٢٢١)

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ خَطَبَهَا عَلِيٌّ فَزَوَّجَهَا مِنْهُ

فاطمې سره د علي رضی الله عنه نکاح حکم ورکولې په تفصيلي روایاتو کښې دی چه کله دَ فاطمه رضی الله عنها رشته حضرت ابوبکر رضی الله عنه او حضرت عمرفاروق رضی الله عنه سره اونه شوه نودې دوارو حضرت علي رضی الله عنه تيارکړو چه ته لاړشه دَنکاح پيغام ورکړه. حضرت علي رضی الله عنه چه کله دَنکاح پيغام ورکړونو حضورپاک ﷺ اوفرمانيل چه دَالله تعالى هم دغه حکم دې چه زه دَفاطمه نکاح حضرت علي سره اوکړم. بيا حضورپاک دَدوارو نکاح اوکړه. په دې حديث کښې دَحضرت علي رضی الله عنه دَ فضيلت اوشان بيان دې. بعضې رواياتو کښې دی چه ام ايمن رضی الله عنها حضرت علي رضی الله عنه ته ترغيب ورکړې وو. بهرحال دَالله تعالى حکم هم دغه ووچه دَ حضرت فاطمه رضی الله عنها نکاح دې حضرت علي رضی الله عنه سره اوشي

[۶۱۰۵] مسجد کښې د علي رضی الله عنه د دروازې پريخودلو اجازت

۶۱۰۵-(۱) [۱۹] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَمَرَ بِسَدِّ الْأَبْوَابِ إِلَّا بَابَ عَلِيٍّ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] اوحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دی [۲] رسول الله ﷺ مسجد نبوي ﷺ کښې دننه دحضرت علي رضی الله عنه ددروازې نه علاوه نوري ټولي دروازې بندي کړلي دا روايت ترمذي نقل کړي دي او ويلي يي دي چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات:- (۱) سَدِّ الْأَبْوَابِ: دروازې بندول.

تسهيلات:

نوټ: دلته يو تعارض دې هغه تعارض او دهغې جواب د فضائل ابوبکرصديق رضی الله په مناقبو کښې ذکرشوې دې هغې ته رجوع اوکړئ

[۶۱۰۶] د علي رضی الله عنه سحر وختي په دربار رسالت کښې حاضري

۶۱۰۶-(۲) [۲۰] [۱] وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: كَانَتْ لِي مَنْزِلَةٌ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَمْ تَكُنْ لِأَحَدٍ مِنَ الْخَلَائِقِ، [۲] آتِيهِ بِأَعْلَى سَحَرٍ فَأَقُولُ: السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللَّهِ، [۳] فَإِنْ تَنَحْنَحَ انْصَرَفْتُ إِلَى أَهْلِي، وَإِلَّا دَخَلْتُ عَلَيْهِ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] اوحضرت علي رضی الله عنه نه روايت دی هغوی بيان وکی درسول الله ﷺ په نظر کښې ماته يوداسي قدر اومنزلت حاصل وو چې خلقت کښې بل چاته حاصل نه وو [۲] زه به حضور

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۷۳۲) واحمد فی المسند: ۱/۱۷۵

[۲] اخرجه النسائی فی السنن کتاب السهو التنحنح فی الصلاة (رقم-۱۲۱۳)

ﷺ ته سحر دوخته بالکل تياره کښې ورتلم مخکې به دروازه باندې ودريدم طلب اجازت دپاره به مې وئيل السلام عليک يانبي الله [۲] ووائې که حضور ﷺ به زما سلام اوريدو سره غاړه تازه کړله نومابه داګڼلو سره چې داوقت حضور ﷺ څه مشغوليت کښې دې اوڅه شرعي ياعرفي رکاوټ داسې دی چې دهغه په سبب ماته دننه ورتلل نه دی پکار خپل کورته به واپس راتلم اوکه حضور ﷺ به غاړه تازه نه کړله نوزه به بې تکلفه حضور ﷺ ته ورتلم. (نسايي)

حل اللغات:- ① مَنْزِلَةٌ: أَيْ: مَرْتَبَةُ قُرْبٍ: مقام او مرتبه، نزديکت، ② الْخَلَائِقِ: دخلق جمع ده، يعنی ټول مخلوق، ③ بِأَعْلَى سَحَرٍ: أَيْ: بِأَوَّلِ أَوْقَاتِهِ: سحروختی (د شپې آخری حصه)، ④ تَنَحْنَحَ: غاړه به ئې تازه کړله، ⑤ انْصَرَفْتُ: أَيْ: رَجَعْتُ: واپس به راتلم.

تسهيلات:

قوله: فَأَقُولُ: السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللَّهِ،

د سلام علی الاهل مسئله: په حديث الباب کښې دی چه کورته دَ داخليدو په وخت کوم سلام کولې شی دَهغې په جواب کښې دَ کور په خلقو باندې سلام ضروری دې. دَ دې تشريح مطابق به وئيلی شی چه حضورپاك به اول دَ حضرت علی رضی الله عنه سلام اوريدو سره جواب ورکولو او بيا به ئی غاړه تازه کوله اودَ چا په نيز چه په کور کښې دَ داخلې دَ سلام جواب ورکول ضروری نه دی نودَ هغوی په نيز دا تفصيل هم ضروری نه دې.

[۶۱۰۷] دعلی رضی الله باره کښې د نبی عليه السلام مستجابه دعا

۶۱۰۷-(١) [٣١] [١] وَعَنْهُ، قَالَ: «كُنْتُ شَاكِيًا، فَمَرَّ بِي رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَأَنَا أَقُولُ: [٢] اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ أَجَلِي قَدْ حَضَرَ فَأَرِحْنِي، وَإِنْ كَانَ مُتَأَخِّرًا فَارْفَعْنِي، [٣] وَإِنْ كَانَ بَلَاءً فَصَبِّرْنِي. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "كَيْفَ قُلْتَ؟ [٤]" فَأَعَادَ عَلَيْهِ مَا قَالَ، فَضَرَبَهُ بِرِجْلِهِ، وَقَالَ: "اللَّهُمَّ عَافِهِ - أَوِ اشْفِهِ -" شَكَّ الرَّاوِي [٥] قَالَ: فَمَا اشْتَكَيْتُ وَجَعِي بَعْدُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: [۱] اوحضرت علي رضی الله عنه بيان کوي يو ځل زه سخت مريض شوم اوحسن اتفاق سره حضور ﷺ په ماتيريدلو هرکله چې دمرض دشدت نه بې تابه کيدو سره په اوچت اواز دادعا مې کوله [۲] الهي که زما دمرګ وخت راغلې وی نو ماته (مرګ راکولو سره دمرض داذيت نه) نجات اوابدي سکون راته راکړې اوکه اوس وخت نه دي راغلې نوصحت بحال کولو سره ماته راحت اوآرام يعنی دصحت اوتندرستي خوشحالي راکړې [۳] اوکه دابيماري امتحان اوازمائش دي نوماته دصبر اوآزمائش برداشت کولو قوت راکړې چې زه دبې تابی

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب فی دعاء المريض (رقم-۳۵۶۴)

اوبي قراري اظهار ونه كړم رسول الله ﷺ چې زما نه دادعا واوريده نو وي فرمايل چې تا څه دعا غوښته ④ما ددعا الفاظ دحضور ﷺ مخکي بيارا وګرځول حضور ﷺ ددعا الفاظ اوريدو څخه وروسته خپلي پښي سره علي رضي الله عنه ته ډيکه ورکړه اوبيا داسي دعايي وفرمايله الهي علي رضي الله عنه ته عافيت ورکړې يادايي وفرمايل چې ده ته شفا ورکړې دا دراوي اظهار شک دی ⑤حضرت علي رضي الله عنه وايي دحضور ﷺ نه وروسته بيا ماته هغه بيماري هيڅ کله لاحق نشوه دا روايت ترمذي نقل کړي دي او ويلي يې دی چې دا حديث حسن صحيح دی.

حل اللغات:- ① شَاكِيًا: أَيْ: مَرِيضًا: بيمار شوم. ② أَجَلِي: أَيْ: انْتِهَاءُ عُمْرِي: آخري وخت، نيته ② فَأَرِحْنِي: نو راحت راکړې ماته (يعنی مرګ راولې چه ددې بيماری نه خلاصه شم). ③ فَارْفُقْنِي: أَيْ: وَسِّعْ لِي فِي الْمَعِيشَةِ: ژوند مې فراخه کړې (يعنی ښه صحت راکړې او آرام راته نصيب کړې). ⑤ فَصَبِّرْنِي: أَيْ: أَعْطِنِي الصَّبْرَ: صبر راکړې. ⑥ عَافِهِ: عافيت يعنی صحت ورکړې علی رضي الله عنه ته. ⑦ اشْفِهِ: شفا ورکړې علی رضي الله عنه ته (بيماری ئې ښه کړې.

تسهيلات:

قوله: فَضَرَبَهُ بِرِجْلِهِ.

په پښه دوهلو غرض: په خپه حرکت ورکول (ډيکه ورکول) دا دَ يوکار په غفلت باندې دَ تنبيه کولو دَ وجې نه کيږي.

[۱۹] باب مناقب العشرة المبشرة رضي الله عنهم

د عشره مبشره د مناقبو بیان

خلاصة الباب:

فيه ستة وعشرون حديثاً مشتملة على مناقبهم:

① منقبة أبي بكر رضي الله عنه: ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۲۵، ۲۶.

② منقبة عمر رضي الله عنه: ۹ ، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۲۵، ۲۶.

③ منقبة عثمان رضي الله عنه: ۱ ، ۶، ۱۰، ۱۱، ۱۲ .

④ منقبة علي رضي الله عنه: ۱۰، ۱، ۱۱، ۱۲، ۲۵، ۲۶.

⑤ منقبة زبير رضي الله عنه: ۱، ۳، ۴، ۱۰، ۱۱، ۱۵.

⑥ منقبة طلحة رضي الله عنه: ۱، ۲، ۱۰، ۱۱، ۱۳، ۱۴، ۱۵.

⑦ منقبة سعد بن زيد رضي الله عنه: ۱۱.

⑧ منقبة عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه: ۱، ۱۱، ۲۲، ۲۳، .

⑨ منقبة أبي عبيدة بن الجراح رضي الله عنه: ۸، ۹، ۱۱، ۱۲، ۲۴.

⑩ منقبة سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه: ۱، ۵، ۶، ۷، ۱۰، ۱۱، ۱۶، ۱۷.

د ترجمة الباب تسهيل:

قوله: العشرة المبشرة

دعشره مبشره مفهوم: عشره لسوته وائی او المبشرة زيری اوخوشخبرنی په معنی کښې دې مطلب دا چه هغه لس خوش قسمت اوخوش نصيب نفوس قدسيه چاته چه دَهغوی په ژوندکښې حضورپاك دَ جنت خصوصي بشارت اوروليې وو

دفضيلت په اعتبار سره د صحابۀ فضائل: په دې سلسله کښې صاحب مشکوة ټول احاديث راجمع کولوسره دَ يوعنوان لاندې درج کړی دی چه ډير ښکلي انداز دی په دې ترتيب کښې پټه دا اشاره پرته ده چه دصحابه کرامو په جماعت کښې دَټولونه غوره خلفاء راشدين اوبيا عشره مبشره دی

دعشره مبشرۀ نومونه: ① حضرت ابوبکر ② حضرت عمرفاروق ③ حضرت عثمان ④ حضرت علی ⑤ حضرت طلحه ⑥ حضرت زبير ⑦ حضرت عبدالرحمن بن عوف ⑧ حضرت سعدبن ابی وقاص ⑨حضرت سعيدبن زيد ⑩حضرت ابوعبيده بن جراح رضی الله عنهم

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۶۱۰۸] د خلافت مستحق صحابه

۶۱۰۸-(¹) [۱] ① عَنْ عُمَرَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: مَا أَحَدٌ أَحَقَّ بِهٰذَا الْأَمْرِ مِنْ هٰؤُلَاءِ النَّفَرِ الَّذِيْنَ تُوُفِّيَ رَسُوْلُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَهُوَ عَنْهُمْ رَاضٍ، ② فَسَمَّى عَلِيًّا، وَعُثْمَانَ، وَالزُّبَيْرَ، وَطَلْحَةَ، وَسَعْدًا، وَعَبْدَ الرَّحْمٰنِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① حضرت عمر فاروق رضی الله عنه نه روایت دی هغوی (دخپل وفات په وخت ارباب حل وعقد او اصحاب شوری ته دخلافت دمستحقینو باره کښې وصیت کولو سره) فرمایلي وه دي امر یعنی دمنصب خلافت ددي خلقوځخه زیات څوک مستحق نه دی چې هغوی نه رسول الله صلی الله علیه وسلم راضي اوخوشحاله ددي دنیا نه تشریف یو وړی ② اوبیا حضرت عمر رضی الله عنه دانومونه واخستل ① علي رضی الله عنه ② عثمان رضی الله عنه ③ زبیر رضی الله عنه ④ طلحه رضی الله عنه ⑤ سعد رضی الله عنه ⑥ عبدالرحمٰن رضی الله عنه (بخاري)

حل اللغات:- ① النَّفَر: ټولګي، جماعت (د دریو نه تر لسو پورې جماعت ته نفر وائي).

تسهیلات:

قوله: مَا أَحَدٌ أَحَقَّ بِهٰذَا الْأَمْرِ مِنْ هٰؤُلَاءِ النَّفَرِ الَّذِيْنَ

د خلیفه دانتخاب دپاره د کمیټې انعقاد: په حضرت عمرفاروق رضی الله عنه باندې چه کله د قتل حمله اوشوه نوهغوی د خپل ځان نه پس د خلافت دپاره د شپږو کسانو یوه شوری جوړه کړه چه په دوی کښې دې څوک یو خلیفه خوښ کړی ځکه چه د دې خلقو نه حضورپاک راضی وو. هغوی خپل ځوئی حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما ته د مبصر په توګه د کیناستو اجازت ورکړو مګر د څه رائې اخستلو یا ورکولو یا د انتخاب په څه معامله کښې د هغه شرکت منع کړو هغوی یوځو مسلح کسان د شوری د کمرې نه بهر اودرول اوورته ئې اوفرمائیل چه ترکومې پورې د خلافت تشکیل نه کیږی چاته د بهر راتلو اجازت مه ورکوئی

[۶۱۰۹] په غزوه احد کښې د طلحه رضی الله عنه قربانی

۶۱۰۹-(²) [۲] ① وَعَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِيْ حَازِمٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: رَأَيْتُ يَدَ طَلْحَةَ شَلَّاءَ ② وَقٰى بِهَا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

[1] اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب قصة البيعة، والاتفاق على عثمان بن عفان وفيه مقتل عمر بن الخطاب رضى الله عنهما (رقم-۳۷۰۰)

[2] اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب {إذ همت طائفتان منكم أن تفشلا والله وليهما وعلى الله فليتوكل المؤمنون} [آل عمران: ۱۲۲] (رقم-۴۰۶۳) وابن ماجه في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل طلحة بن عبيد الله رضي الله عنه (رقم-۱۲۸)

ترجمه: ۱ اوحضرت قيس بن ابي حازم تابعي رحمه الله وايي ما دحضرت طلحه رضي الله عنه هغه لاس اوليدلو چې د يركاله وروسته هم بالكل بيكاره اوشل وو ۲ هغه په دې لاس دغزوه احد په ورځ نبي كريم ﷺ د كفارو د حملو څخه بچ كړې وو (بخاري)

حل اللغات:- ① شَلَّاءَ: وَهُوَنَقْصٌ فِي الْكَفِّ: چه په تلې يعنې لاس كښې داسې نقصان وي چه څه كار پرې نه شي كولې هغې ته شل وائي. ② وَقَى: أَيْ: حَفِظَ: حفاظت ئې كړې وو. بچ كړې ئې وو.

تسهيلات:

قوله: رَأَيْتُ يَدَ طَلْحَةَ شَلَّاءَ،

د نبي عليه السلام په حفاظت كښې د طلحه لاسونه شليدل: په دې حديث كښې دَ حضرت طلحه رضي الله عنه دَ هغه خان قرباني كولو ذكر دې كوم چه هغوى په جنگ احد كښې پيش كړې وو او هغوى رسول الله ﷺ سره دَ محبت ثبوت په داسې طرز وركړو چه حضور پاك ئې دَ غشو دَ باران نه بچ كولو تردې چه لاسونه ئې شل شو او په ټول بدن ئې دَ اتياؤ نه زيات زخمونه جوړ شو. صحابه كرامو رضي الله عنهم چه به كله هم دَ جنگ احد ذكركولو نو وئيل به ئې چه هغه خودَ حضرت طلحه رضي الله عنه دَ خان قرباني كولو ورځ وه. حضرت طلحه رضي الله عنه پخوانې اسلام والا دې دَ غزوه بدر نه علاوه ئې په ټولو غزواتو كښې شركت كړې دې. په جنگ جمل ۳۶ هجرى كښې ئې دَ ۶۴ كالو په عمر كښې شهادت حاصل كړو. په بصره كښې خښ دې او دَ عشره مبشره نه دې.

[۶۱۱۰] دحضرت زبير رضي الله عنه فضيلت

٣١١٠-() [٣] ١ وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: «قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "مَنْ يَأْتِينِي بِخَبَرِ الْقَوْمِ؟" يَوْمَ الْأَحْزَابِ. ٢ قَالَ الزُّبَيْرُ: أَنَا ٣ فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوَارِيًّا، وَحَوَارِيَّ الزُّبَيْرُ"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ اوحضرت جابر رضي الله عنه وايي دغزوه احزاب يعنې غزوه خندق په موقع يوه ورځ نبي كريم ﷺ وفرمايل كوم سړى دى چې ددښمن خلقو خبر ماته راوړى ۲ زبير رضي الله عنه اوويل زه به راوړم ۳ بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل دهرنبي حواري يعنې خاص دوست اومددگاروي اوزما حواري زبير رضي الله عنه دى (بخاري ومسلم)

حل اللغات:- ① يَوْمَ الْأَحْزَابِ: دې نه دَ جنگ خندق واقعه مراد ده ② حَوَارِيًّا: أَيْ: نَاصِرًا مُخْلِصًا: خالص دوست او مددگار

[1] اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسير/باب فضل الطليعة (رقم-٢٨٤٦) ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضي الله تعالى عنهم/باب من فضائل طلحة. والزبير رضي الله عنهما (رقم-٤٨ - (٢٤١٥) والترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٧٤٤) وابن ماجه في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل الزبير رضي الله عنه (رقم-١٢٢) واحمد في المسند: ٣١٤/٣

تسهیلات:

قوله: "مَنْ يَأْتِينِي بِخَبَرِ الْقَوْمِ؟" يَوْمَ الْأَحْزَابِ.

د قریشو خبر راوړو مطالبه: د قریشو کافرانو تقریبًا د یوې میاشتې پورې د مدینې منورې نه محاصره کړې وه حضورپاك غوښتل چه یوصحابی لاړشی او د کافرانو پټ خبر راوړی دې د پاره چه مونږ ته معلومه شی چه د دوی څه ارادې دی. حضورپاك د دې مقصد د پاره اعلان اوکړو چه څوك د تلو د پاره تیار دې؟ سخت د یخنۍ ورځې وې. د شپې وخت وو تیاره وه. د دښمن خطره وه نو بار بار اعلان باندې به حضرت زبیر رضی الله عنه پاسیدو او د تلو د پاره به تیاریدو. د حضورپاك اراده د بل چا د لیګلووه نو حضرت زبیر رضی الله عنه به ئې کینولو او بیا به ئې اعلان کولو.

د خبر راوړو د پاره د حذیفه بن یمان رضی الله عنه انتخاب: په آخره کښې حضورپاك د حضرت حذیفه بن یمان رضی الله عنهما نوم واخستو او هغه ئې روان کړو او د حضرت زبیر رضی الله عنه په تعریف او اعزاز کښې اوفرمائیل چه دا زما حواری دې. حواری خاص دوست ته وائی. د حضرت عیسی علیه السلام خاص دوستانو ته حواریان وائی. حضرت زبیر رضی الله عنه په جنګ جمل کښې شهید شوې وو او په بصره کښې د هغوی قبر دې. ابن جرموز ملعون هغه شهید کړې وو

[۶۱۱۱] زبیر رضی الله عنه د نبی علیه السلام فداك أبي وأمي وئیل

٣-()[٣] [١] وَعَنِ الزُّبَيْرِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ؟ «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "مَنْ يَأْتِي بَنِي قُرَيْظَةَ فَيَأْتِينِي بِخَبَرِهِمْ؟ [٣] فَانْطَلَقْتُ، فَلَمَّا رَجَعْتُ [٤] جَمَعَ لِي رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَبَوَيْهِ فَقَالَ: "فَدَاكَ أَبِي وَأُمِّي». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت زبیر رضی الله عنه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [٢] څوک دي چې د بني قریظه یهودیانو ته لاړ شي او د هغوی باره کښې ضروري معلومات ماته راوړی [٣] نو د حضور صلی الله علیه وسلم دا ارشاد اوریدو سره زه روان شوم او هرکله چې د هغوی په باره کښې معلومات حاصلولو سره واپس راغلم [٤] نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل مور و پلار دواړه په ما جمع کړل حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل زما مور پلار دې په تا صدقه قربان وي (بخاري ومسلم)

حل اللغات: - ① فَدَاكَ: قربان دې شی په تا باندې (دې نه مراد تعظیم دې)

تسهیلات: قوله: فَانْطَلَقْتُ:

د زبیر د بنو قریظة د جاسوسۍ د پاره تلل: د بنو قریظه په واقعه کښې حضرت زبیر رضی الله عنه د

---

[١] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب تزویج النبی صلی الله علیه وسلم خدیجة وفضلها رضی الله عنها (رقم-٣٨٢٠) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل طلحة، والزبیر رضی الله عنهما (رقم-٤٩ - ٢٤١٦) والترمذی فی کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب الزبیر بن العوام رضی الله عنه (رقم-٣٧٤٣) وابن ماجه فی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل الزبیر رضی الله عنه (رقم-١٢٣)

خبر راوړلو د پاره تلې وو لیکن په غزوه احزاب کښې حضرت حذیفه رضي الله عنه تلې وو حضرت زبیر رضي الله عنه ته حضورپاک اجازت نه وو ورکړې بنوقریظه سره د جنګ واقعه د جنګ خندق نه پس پیښه شې وه

[۶۱۱۲] د حضرت سعد بن مالک رضي الله عنه فضیلت

۳-( )[۵] ۱ وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «مَا سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - جَمَعَ أَبَوَيْهِ لِأَحَدٍ إِلَّا لِسَعْدِ بْنِ مَالِكٍ، ۲ فَإِنِّي سَمِعْتُهُ يَقُولُ يَوْمَ أُحُدٍ: "يَا سَعْدُ، ارْمِ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ اوحضرت علي کرم الله وجهه وایي مادنبي کریم ﷺ نه دچا دپاره خپل مور پلار جمع کول قربان کول نه دي اوریدلي علاوه دسعد بن مالک رضي الله عنه نه ۲ هرکله چې دجنګ احد په ورځ (سعد رضي الله عنه کافران حضور ﷺ ته درسیدوځخه منع کولو دپاره ځوانمردی سره نیزي ویشتلو ویشتلو سره هغوی یې په شا کول) مادحضور ﷺ نه دا فرمایل واوریدل سعد چلوه تیر چلوه زما مور پلار دي په تا صدقه وي (بخاري ومسلم)

حل اللغات:- ① جَمَعَ أَبَوَيْهِ: أَيْ: فِي الْفِدَاءِ: چه جمع کړې ئې وی مور پلار (یعنی اکثربه نبی علیه السلام صرف دپلار یا صرف د مور د فداء کولو ذکر فرمائیلو خو دلته ئې مور پلار دواړه ذکرکړی دی)
② ارْمِ: اوله. چلوه غشې

تسهیلات: **قوله:** جَمَعَ أَبَوَيْهِ لِأَحَدٍ

اشکال: ددې ځخه وړاندې حدیث نمبر(۳) کښې ذکرشو چې نبی علیه السلام زبیر رضی الله عنه ته فداک ابی وامی ونیلو وو اوپه دې روایت کښې علی رضی الله عنه فرمائی چې نبی علیه السلام د سعد بن مالک ځخه علاوه بل هیڅ چا ته فداک ابی وامی نه دی ونیلي

داشکال جواب: علی رضی الله عنه دا نفی دخپل علم مطابق کړې ده هغوی ته به د زبیر په باره کښې د دې وینا علم نه وو ځکه ئې داسې فرمائیلی دی

[۶۱۱۳] دالله په لار کښې اولنی تیر چلونکی

۳-( )[۶] ۱ وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲ إِنِّي لَأَوَّلُ الْعَرَبِ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

[1] اخرجه البخاري في كتاب المغازي /باب {إذ همت طائفتان منكم أن تفشلا والله وليهما وعلى الله فليتوكل المؤمنون} [آل عمران: ۱۲۲] (رقم -۴۰۵۹) ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضي الله تعالى عنهم /باب في فضل سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه (رقم -۴۱ (۲۴۱۱)

[2] اخرجه البخاري في كتاب المناقب /باب مناقب سعد بن أبي وقاص الزهري وبنو زهرة أخوال النبي صلى الله عليه وسلم وهو سعد بن مالك (رقم -۳۷۲۸) ومسلم في كتاب الزهد والرقائق (رقم -۱۲ - (۲۹۶۶) والترمذي في كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء في معيشة أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم (رقم -۲۳۶۵) وابن ماجه في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم /باب فضل سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه (رقم -۱۳۱) واحمد في المسند: ۱۷/۱

ترجمه: [۱] او حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه وايي [۲] زه اولنی عرب مسلمان يم چاچي دالله تعالی په لار کښې تير ويشتلي دي (بخاري ومسلم)

تسهيلات:

قوله: إِنِّي لَأَوَّلُ الْعَرَبِ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

د سعد بن ابی وقاص منقبت: حضرت سعدبن ابی وقاص رضي الله عنه دعشره مبشره نه دي د حضورپاك په رشته کښې ماماوو دعراق فاتح دې د کوفه گورنروو کوم څه چه خلقو په هغوی باندې بې ځایه اعتراضات اوکړه. حضرت عمرفاروق رضي الله عنه د تفتیش دپاره راؤغوښتو هغوی دځپلو يوڅو خصوصياتو ذکراوکړو هم ددغه خصوصياتونه يوداوو چه زه رومبې سړې يم چه د الله تعالی په لارکښې جهاد کښې په کافرانوباندې غشې چلولې وو مونږ د اسلام دپاره ډيرمشقتونه اوچت کړی دی. نن دا خلق په ماباندې په اسلام کښې د کوتاهئی الزام لګوی. که چرې داسې وی نوبياخوزما تباهی ده. بهرحال په ۱ هجری کښې دعبيدبن حارث لښکر د اسلام رومبې لښکروو. حضورپاك په خپل لاس مبارك باندې دهغه دپاره جنګی جهنډا اوتړله او شپیته کسان ئې جهادله اوليګل په هغې کښې حضرت سعد رضي الله عنه رومبې غشې په کافرانوباندې اوچلولو.

قوله: فَدَاكَ أَبِي وَأُمِّي:

په اسلام کښې اولنې تیرانداز: حضورپاك د بعضې صحابه کرامودپاره فداك ابی لفظ استعمال کړې دې ليکن د امی لفظ ئې نه دې استعمال کړې. د حضرت سعد رضي الله عنه او حضرت زبير رضي الله عنه دپاره ئې دامی لفظ استعمال کړې دې. په دې وجه دا حضرات دادخپل خان دپاره لوئی اعزاز ګرځوی.

[۶۱۱۴] د رجل صالح مصداق

-() [۶] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: «سَهِرَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَقْدَمَهُ الْمَدِينَةَ لَيْلَةً [۲] فَقَالَ: " لَيْتَ رَجُلًا صَالِحًا يَحْرُسُنِي [۳] " إِذْ سَمِعْنَا صَوْتَ سِلَاحٍ فَقَالَ: [۴] " مَنْ هَذَا؟ " قَالَ: أَنَا سَعْدٌ [۵] قَالَ: " مَا جَاءَ بِكَ؟ " قَالَ: وَقَعَ فِي نَفْسِي خَوْفٌ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۶] فَجِئْتُ أَحْرُسُهُ، [۷] فَدَعَا لَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ثُمَّ نَامَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] اوبي بي عائشه رضي الله عنها بيان کوي رسول کريم ﷺ يو ځل يو غزا نه مدينې ته واپس راتلو سره ددين ددښمنانو نه دخطري په سبب دشپې اوده نه شو [۲] وبيا حضور ﷺ وفرمايل کاش چې يونيک بخت سړی نن شپه زما نګهباني کړي وي [۳] حضور ﷺ دافرمايلي وه چې

---

۱ اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسیر/باب الحراسة فی الغزو فی سبیل الله (رقم-۲۸۸۵) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب فی فضل سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه (رقم-۳۹ - (۲۴۱۰) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۷۵۶) واحمد فی السند: ۳۹۱/۱

اچانك مونږ د هتیارو وسلو اواز واوریدی لکه چې یوه توره اولینده سنبال کړي بهر څوک ده پهره باندې وي او د هغه هتیار کړ کړ کوي [۴] حضور ﷺ داواز اوریدو سره پوښتنه وکړه څوک دي ؟ جواب وشو زه سعد ﷺ یم [۵] حضور ﷺ پوښتنه ورنه وکړه دومره شپه تیره شوی دلته ته څرنګه راغلی ؟ سعد ﷺ اوویل زما زړه کښې د رسول الله ﷺ په نسبت خوف پیدا شو چې چیرته د دین دښمنان تاسو ته ضرر ونه رسوی [۶] نوزه دلته حاضر شوی یم چې ستاسو نګهباني وکړم [۷] دې اوریدو سره حضور ﷺ سعد ﷺ ته دعاګاني وکړي او اطمینان سره اوده شو (بخاري ومسلم)

حل اللغات:- ① مَقْدِمَهُ: أَيْ: وَقْتَ قُدُومِهِ: په واپس راتلو کښې، ② يَحْرُسُنِي: أَيْ: يَحْفَظُنِي: چه زما نګرانی اونګهبانی اوکړی (یعنی نن شپه پهره ورکړی چه زه په اطمینان سره آرام اوکړم) ③ سِلَاح: وسله (توره وغیره).

قوله: مَقْدِمَهُ الْمَدِينَةَ لَيْلَةً

دَ قدوم مدینه څخه مراد: اوس دلته په دې خبره هم پوهه شنی چه په حدیث کښې قدوم مدینه نه نبی ﷺ مدینې ته اولنې تشریف راوړل چه دَ هجرت نه پس شوی مراد نه دې څکه چه هغه وخت حضرت عائشه ﷺ حضور اکرم ﷺ کره نه وه. نه حضرت سعدبن ابی وقاص ﷺ وو، بلکه دَ یو سفروغیره تشریف راوړل مراد دی.

قوله: إِذْ سَمِعْنَا صَوْتَ سِلَاحٍ

د سعدبن ابی وقاص د راتلو وجه: په صحیح مسلم کښې دَ لیث په طریق کښې دا هم ذکر دی چه رسول الله ﷺ دَ سعدبن ابی وقاص نه تپوس اوکړو چه ولې راغلې نی؟ نو هغه جواب ورکړو "**وقع في نفسي خوف على رسول الله صلى الله عليه وسلم، فجئت احرسه، فدعا له رسول الله صلى الله عليه وسلم**" (۱)

زما په زړه کښې دَ رسول الله ﷺ متعلق دا اندیښنه پیدا شوه نو زه دَ هغوی دَ حفاظت دَ پاره حاضرشوې یم. نو رسول الله ﷺ هغه ته دعاګانې اوکړې.

اشکال: په قرآن کریم کښې خو الله تعالی دا فرمائیلی دی (**والله يعصمك من الناس**) اوالله تعالی به دَ خلقو دَ شر نه دَ ستاسو ﷺ حفاظت کوی نو دَ الله تعالی دَ خصوصی حفاظت اونګرانئی کښې دَ کیدلو باوجود دَ نور حفاظت څه ضرورت دې؟

دَاشکال جوابونه: ① علامه ابن بطال ﷫ دَ دې پورتنی سوال باره کښې جواب ورکړیدې چه په حدیث کښې دا مذکوره واقعه دَ قرآن کریم دَ دې پورتنی آیت نه وړاندې ده. حدیث (۲) کښې راغلی دی چه کله دا پورتنې آیت نازل شو نو نبی کریم ﷺ دَ شپې خپل

۱) (صحیح مسلم کتاب فضائل الصحابة باب فضل سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه رقم (۶۲۳۱)-
۲) (وقد روی الترمذی من طریق عبدالله بن شقیق عن عائشه رضی الله عنهاقالت:کان النبی صلی الله علیه وسلم ....

حفاظت پرېخودې وو. (۱)

علامه ابن بطال رحمه الله د قول خلاصه دا ده چه په حدیث باب اودغه شان نورو احادیثوکښې چه نبی اکرم ﷺ د حفاظت او نګرانئ ذکر کړېدې هغه په دې پورتنی آیت سره منسوخ دی. (۲)

② علامه قرطبی رحمه الله فرمائی چه د باب حدیث ته د منسوخ ونیلو هډو ضرورت نشته خکه چه په آیت مبارک کښې څه داسې خبره نشته چه د حراست او حفاظت نفی کوی لکه چه الله تعالی خپل دین په نورو ادیانو باندې غالب ظاهرولوسره د دې خبرې نفی نه کوی چه قتال اوکړنی او د هغې د پاره لښکر تیار کړنی. (۳)

نویه دې صورت کښې عصمة نه مراد فتن.ګمراهی اودخان د ضائع کیدو نه حفاظت دې. (۴)

د نبی اکرم ﷺ محافظین صحابه کرام: په روایاتوکښې د نبی کریم ﷺ حفاظت کونکی صحابه کرامو تعداد تقریباً د شلو پورې مروی دی. په کوموکښې چه د بعض صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین نومونه دا دی:

① حضرت سعدبن معاذ. ② محمدبن مسلمه. زبیر. ③ ابوایوب الانصری.

④ ذکوان بن عبدقیس. ⑤ درع السلمی. ⑥ محجن بن ادرع. ⑦ عبادبن بشیر.

⑧ عباس بن عبدالمطلب ⑧ او ابوریحانه رضی الله عنهم اجمعین. (۵)

[۶۱۱۵] حضرت ابوعبیده ته دامین الامت خطاب ملاویدل

۶۱۱۵-(۱)[۸] ① وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «لِكُلِّ أُمَّةٍ أَمِينٌ وَأَمِينُ هَذِهِ الْأُمَّةِ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

.... يحرس حتى ينزلت هذه الاية ﴿والله يعصمك من الناس﴾ فاخرج رسول الله صلى الله عليه وسلم رأسه من القبة. فقال لهم: أيها الناس انصرفوافقد عصمني الله. الجامع للترمذي كتاب تفسيرالقران باب.ومن سورة المائدة رقم (۳۰۴۶)-

۱) (شرح ابن بطال(ج۱۰ص۸۲) -

۲) (فتح الباری (ج۶ص۸۲)

۳) (حواله بالاوعمدة القاری(ج۱۴ص۱۷۰)-

۴) (فتح الباری (ج۶ص۸۲) -

۵) (شرح القسطلانی (ج۱۰ص۸۶) وحاشية السهارنفوری علی صحیح البخاری (ج۲ص۱۰۷۴)-

۶ اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب قصة أهل نجران (رقم-۴۳۸۲) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب فضائل أبی عبیدة بن الجراح رضی الله تعالی عنه (رقم ۵۳ (۲۴۱۹)والترمذی فی کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب معاذ بن جبل. وزید بن ثابت. وابی. وأبی عبیدة بن الجراح رضی الله عنهم (رقم-۳۷۹۶) وابن ماجه فی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل أبی عبیدة بن الجراح رضی الله عنه (رقم-۱۳۶) واحمد فی المسند:۱۸/۱

ترجمه: [۱] اوحضرت انس ﷺ وائي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] دهر أمت يوامين وي چې هغه دالله تعالى اودالله تعالى دبنده ګانو حقوقو كښې اودخپل نفس په باره كښې خيانت نه كوي اوددې امت امين ابوعبيده بن الجراح ﷺ دى (بخاري ومسلم)

حل اللغات: - ① أمِينٌ: أيْ: ثِقَةٌ مُعْتَمَدٌ: امانتدار، اعتماد او اعتبار والا

تسهيلات:

قوله: وَأَمِينُ هَذِهِ الْأُمَّةِ أَبُوعُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ

د حضرت ابو عبيده رضى الله عنه تعارف: دَ حضرت ابوعبيده نوم عامربن عبدالله بن الجراح دې. خپل پلارئې په جنګ بدركښې قتل كړې وو. په دې باندې ورته "امين هذه الامة" لقب ملاؤ شو. دَ حضرت عمر ﷺ په دورخلافت كښې دَشام په ملك كښې په طاعون عمواس كښې وفات شوې وو.

[٦١١٦] د ابوعبيده ﷺ فضيلت

٦١١٦-()[٩][۱]وَعَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: سَمِعْتُ عَائِشَةَ وَسُئِلَتْ: [۲]مَنْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مُسْتَخْلِفًا لَوِاسْتَخْلَفَهُ؟ [۳]قَالَتْ: أَبُوبَكْرٍ. [۴]فَقَالَ: ثُمَّ مَنْ بَعْدَ أَبِي بَكْرٍ؟ قَالَتْ: عُمَرُ. قِيلَ: مَنْ بَعْدَ عُمَرَ؟ قَالَتْ: أَبُوعُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] اوحضرت ابن ابي ملكيه تابعي وايي ماد بي بي عائشي ﷺ نه هغه وخت واوريدل هركله چې هغه نه پوښتنه وشوه [۲]چې فرض كه، كه رسول الله ﷺ خلافت دپاره صراحةً څوك منتخب كولى نوستا نظر انتخاب به په چاپريوتي [۳]بي بي عائشي ﷺ جواب كښې اوويل حضرت ابوبكر ﷺ [۴]بياپوښتنه وشوه دابوبكر نه وروسته به يې څوك منتخب فرمايل بي بي عائشي ﷺ اوويل عمر ﷺ بيا پوښتنه ور نه وشوه دحضرت عمر ﷺ نه وروسته دچانمبر راخي؟ بي بي عائشي ﷺ اوويل دابوعبيده بن الجراح ﷺ (مسلم)

حل اللغات: - ① مُسْتَخْلِفًا: أيْ: جَاعِلًا خَلِيفَةً لَهُ: چه خان دپاره ئې خليفه جوړكړى

تسهيلات:

قوله: مَنْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مُسْتَخْلِفًا لَوِاسْتَخْلَفَهُ؟ قَالَتْ: أَبُوبَكْرٍ..الخ:

دابوبكر صديق رضى الله عنه د خلافت تجزيه:

په دې عبارت كښې حضرت عائشه دخلافت په باره كښې خپله تجزيه بيانوى كه نبى عليه السلام په خپل ژوند كښې څوك خليفه جوړول نوحضرت ابوبكر صديق ﷺ به ئې جوړ

---

[۱] اخرجه مسلم في كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب من فضائل طلحة. والزبير رضى الله عنهما (رقم-٥٠-٢٤١٧) وابوداود في كتاب السنة/باب في الخلفاء (رقم-٤٦٥١) والترمذى في كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أبي الأعور. واسمه سعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل رضى الله عنه (رقم-٣٧٥٧) وابن ماجه في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضائل العشرة رضى الله عنهم (رقم-١٣٤)

کړي وو علماء کرامو ليکلي دي چه د ابوبکر ﷺ په خلافت باندې د نبی علیه السلام د مرض الوفات واقعه هم دلالت کوی ځکه چه په هغې کښې نبی علیه السلام د امامت صغری دپاره صرف دحضرت ابوبکر صدیق ﷺ نوم پیش کړې وو او دا ئې هم فرمائیلي وو چه الله تعالی د ابوبکر صدیق د امامت نه سوا د بل چا د امامت نه انکار کوی علماء ليکي چه هرکله نبی علیه السلام په خپل ژوند کښې د امامت صغری دپاره د ابوبکر صدیق انتخاب کړې وو نود امامت کبری هم ابوبکر صدیق مستحق وو.

ابوعبیده او د خلافت استحقاق: خلاصه دا شوه چه حضرت ابوعبیده بن الجراح ﷺ هم دَ خلافت اهل وو او دې به دَ اصحاب شورٰی نه هم گنړلې شو دارنگ واضحه دې وی چه رسول کریم ﷺ په مرض الوفات کښې خپله مصله او امامت حضرت ابوبکر ﷺ ته حواله کړې وه مگر قولي خليفه ئې نه وو جوړکړې. په حدیث الباب کښې قولي خليفه جوړول مراد دی چه که چرې رسول کریم ﷺ په خپل قول سره څوک خليفه جوړولو نو مذکوره حضراتو نه به ئې جوړولو.

[۶۱۱۷] په حرا غر باندې د بعضې صحابو ودریدل او د غر خوزیدل

۶۱۱۷-(١)[١٠] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-«أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-كَانَ عَلَى حِرَاءٍ هُوَ وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ، وَعُثْمَانُ، وَعَلِيٌّ، وَطَلْحَةُ، وَالزُّبَيْرُ، ٢ فَتَحَرَّكَتِ الصَّخْرَةُ، ٣ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اهْدَأْ فَمَا عَلَيْكَ إِلَّا نَبِيٌّ أَوْ صِدِّيقٌ أَوْ شَهِيدٌ». ٤ وَزَادَ بَعْضُهُمْ: وَسَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ، وَلَمْ يَذْكُرْ عَلِيًّا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ اوحضرت ابوهريره ﷺ نه روایت دی یوه ورځ رسول کریم ﷺ حضرت ابوبکر ﷺ حضرت عمر فاروق ﷺ حضرت عثمان ﷺ حضرت علي ﷺ حضرت طلحه ﷺ اوحضرت زبير ﷺ حرا غر باندې ولاړ وه ٢ چې دهغوی دپښو لاندې کاڼي حرکت شروع کړو ٣ رسول کریم ﷺ هغه کاڼي مخاطب کولو سره ورته وفرمايل قلار شه په تاباندې څوک نور ولاړ نه دي یانبي دی یاصدیق دی یاشهید دي ٤ اوبعضې راویانو دسعد بن ابي وقاص ﷺ اضافه کړې ده اودحضرت علي ﷺ ذکرېې نه دی کړی (مسلم)

حل اللغات: - ① حِرَاءٍ: د يو غر نوم دې. ② الصَّخْرَةُ: کاڼې. ③ اهْدَأْ: أي: اسْكُنْ: اودريږه، (خوزه مه)

تسهيلات: **قوله:** أَوْ شَهِيدٌ.

په حرا غر ولاړه صحابه او شهادت: دَ شهيدنه مراد حضرت عمر، حضرت عثمان، حضرت علي، حضرت طلحه او حضرت زبير ﷺ دی دې ټولو حضراتو ته دَ شهادت مرګ نصيب شوې دې.

[1] اخرجه مسلم في كتاب فضائل الصحابة رضي الله تعالى عنهم/باب من فضائل طلحة، والزبير رضي الله عنهما (رقم-۵۰-۲۴۱۷) وابوداود في كتاب السنة/باب في الخلفاء (رقم-۴۶۵۱) والترمذي في كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أبي الأعور، واسمه سعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل رضي الله عنه (رقم-۳۷۵۷) وابن ماجه في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضائل العشرة رضي الله عنهم (رقم-۱۳۴)

① حضرت طلحه رضي الله عنه په جنګ جمل کښې

② حضرت زبير رضي الله عنه په جنګ صفين کښې شهيد کړې شو. دواړه حضرات سره دَدې چه دَ جنګ دروان کښې خو قتل کړې شوې نه دی ليکن دَ جنګ نه بهر ظلمًا وژلې شوې وو. او په ظلم سره وژلې شوې هم شهيد وی

③ بعضو حضرت سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه هم په شهداؤ کښې شامل کړې دې. ليکن په دې باندې چا اشکال کړې دې چه هغه خو په وادی عقيق کښې په خپل محل کښې دننه مړ شوې وو نو هغوی ته څنګه شهيد اووئيلې شو؟ جواب دادې چه هغوی ته شهيد تغليبًا وئيلې شوې دی يا دَ هغوی وفات په داسې مرض کښې شوې وو په کوم کښې چه څوک مبتلا شي او مړشي نوهغه مړ هم شهيد وی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٦١١٨] دلسو جنتي صحابوذکر

٦١١٨-() [١] ① عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ②«أَبُو بَكْرٍ فِي الْجَنَّةِ، وَعُمَرُ فِي الْجَنَّةِ، وَعُثْمَانُ فِي الْجَنَّةِ، وَعَلِيٌّ فِي الْجَنَّةِ، وَطَلْحَةُ فِي الْجَنَّةِ، وَالزُّبَيْرُ فِي الْجَنَّةِ، وَعَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ فِي الْجَنَّةِ، وَسَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ فِي الْجَنَّةِ، وَسَعِيدُ بْنُ زَيْدٍ فِي الْجَنَّةِ، وَأَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ فِي الْجَنَّةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① حضرت عبدالرحمٰن بن عوف رضي الله عنه نه روايت دې نبی کريم ﷺ وفرمايل ② ① ابوبکر رضي الله عنه جنت کښې دي ② عمر رضي الله عنه جنت کښې دي ③ عثمان رضي الله عنه جنت کښې دی ④ علي رضي الله عنه جنت کښې دی ⑤ طلحه رضي الله عنه جنت کښې دی ⑥ زبير رضي الله عنه جنت کښې دی ⑦ عبدالرحمٰن بن عوف رضي الله عنه جنت کښې دی ⑧ سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه جنت کښې دی ⑨ سعيدبن زيد رضي الله عنه په جنت کې دي ⑩ او ابوعبيده بن الجراح رضي الله عنه په جنت کې دي. (ترمذي)

تسهيلات:

قوله: أَبُو بَكْرٍ فِي الْجَنَّةِ، الخ

په يوه موقع د جنت زيرې حاصلونکی صحابه: دَ حديث الباب په بنياد مذکوره جليل القدر صحابه کرامو رضي الله عنهم ته عشره مبشره وئيلې شی. دَدې ټولو حضراتو په حق کښې دَ جنت زيرې په يو ځائی حديث کښې بيان کړې شوې دی ګني دا خبره نه ده چه دَ جنت دغه شان مخصوص زيرې دَ هغوی نه علاوه دَ بل چا دَ پاره نقل نه دې بلکه دَ رسول کريم ﷺ هر يو صحابی جنتی دې لکه چه قرآن کښې دی. ﴿وَكُلًّا وَعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى﴾ دَ مذکوره نومونو ترتيب

---

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب مناقب عبد الرحمن بن عوف بن عبد عوف الزهری رضی الله عنه (رقم-٣٧٤٧) واحمد فی المسند:١/١٩٣

پخپله دَ رسول الله ﷺ دَ طرف نه دي او هم په دي ترتیب سره دَ مذکوره حضراتو مرتبې او درجې دی.

۶۱۱۹-() [۱] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ.

ترجمه: [۱] او ابن ماجه داروایت دسعید ابن زید رضی الله عنه نه نقل کړی دی

[۶۱۲۰] دبعضي صحابو رضی الله عنهم امتیازی صفات

۶۱۲۰-() [۲] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] «أَرْحَمُ أُمَّتِي بِأُمَّتِي أَبُو بَكْرٍ، وَأَشَدُّهُمْ فِي أَمْرِ اللّٰهِ عُمَرُ، وَأَصْدَقُهُمْ حَيَاءً عُثْمَانُ، [۳] وَأَفْرَضُهُمْ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ، وَأَقْرَؤُهُمْ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ وَأَعْلَمُهُمْ بِالْحَلَالِ وَالْحَرَامِ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ، [۴] وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَمِينٌ وَأَمِينُ هَذِهِ الْأُمَّةِ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضی الله عنه دنبي کریم ﷺ نه روایت کوي حضور ﷺ وفرمایل [۲] زما په امت کښي ابوبکر رضی الله عنه زما دامت دخلقو په حق کښي دټولوڅخه زیات مهربان او دټولوڅخه لوی درد مند دی چې هغه ډیر لطف او مهرباني او درد مندي سره خپل الله طرف ته بلنه کوي او هغوی دفلاح ونجات په لار لګوي او زما دامت په خلقو کې عمر رضی الله عنه دالله ددین په معاملات کې دټولوڅخه زیات سخت دی چې ډیري سختي او مضبوطي سره امر بالمعروف او نهي عن المنکر فریضه انجام کوي او زما دامت خلقو کښي عثمان رضی الله عنه دټولوڅخه زیات ریښتیني حیادار دي [۳] وزما دامت خلقو کښي دټولوڅخه زیات په میراث پوه زید بن ثابت رضی الله عنه دی او زما امت کښي دټولوڅخه زیات قرآن ویونکي او دټولوڅخه لوی ماهر تجوید قرآن کې ابي ابن کعب رضی الله عنه دي او زما امت کښي حلال وحرام دټولو نه زیات پیژندونکی معاذ بن جبل رضی الله عنه دي [۴] ودهر امت یو امین وي او ددي امت امین ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه دي احمد وترمذي او ترمذي ویلي دي چې داحدیث حسن صحیح دی

حل اللغات:- ① أَرْحَمُ: أَيْ: أَكْثَرُهُمْ رَحْمَةً: ډیر زیات مهربانه، دردمند ② أَشَدُّهُمْ: أَيْ: أَقْوَاهُمْ: ډیر سخت. ③ فِي أَمْرِ اللّٰهِ: أَيْ: فِي دِينِ اللّٰهِ: دالله تعالی په دین کښي. دهغه په احکامو کښي. ④ أَفْرَضُهُمْ: أَيْ: أَكْثَرُهُمْ عِلْمًا بِالْفَرَائِضِ: دمیراث په مسائلو کښي زیات پوهه. ⑤ أَقْرَؤُهُمْ: أَيْ: أَعْلَمُهُمْ: ډیر پوهه په لوستلو دقرآن کښي

[۱] وَرُوِيَ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ قَتَادَةَ، مُرْسَلًا وَفِيهِ: "وَأَقْضَاهُمْ عَلِيٌّ".

---

[1] اخرجه ابن ما جه في السنن كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضائل العشرة رضي الله عنهم (رقم-۱۳۳)
[2] اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب معاذ بن جبل. وزيد بن ثابت، وأبي، وأبي عبيدة بن الجراح رضي الله عنهم (رقم-۳۷۹۰) وابن ماجه في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضائل زيد بن ثابت (رقم-۱۵۴) واحمد في المسند: ۲۸۱/۳

ترجمه:[۱] اوداحدیث معمر هم قتاده نه بطریق ارسال نقل کړی دی اودمعمر دی روایت کښې دا الفاظ هم شته چې زما دامت په خلقو کښې دحق مطابق فیصله کونکې علي ﷺ دي.

تسهیلات: قوله: أَرْحَمُ أُمَّتِي بِأُمَّتِي أَبُوبَكْرٍ...الخ:

په دې حدیث کښې چه دکومو صحابه کرامو ذکر دې په هغوی کښې څه په عشره مبشره کښې نه دی مګر دَ خصوصی امتیازاتو په حواله سره دَهغوی نومونه په دې باب کښې راغلی دی.

قوله: وَأَفْرَضُهُمْ زَيْدُبْنُ ثَابِتٍ:

د زیدبن ثابت په علم الفرائض کښې مهارت: یعنی دَ ټولو نه لوئی فرائض دان زید بن ثابت ﷺ دې یعنی فرائض او علم میراث دَ فنی اوتحقیقی مضبوطیا سره په زیدبن ثابت ﷺ کښې ډیر زیات دې. بیشکه زید بن ثابت ﷺ دَ لویو فقهاؤ صحابه کرامو نه وو اودَ علم فرائض ماهر ګڼړلې شو. دَ کاتب وحی او جامع قرآن کیدو عزت هم دوی ته حاصل وو

قوله: وَأَقْرَؤُهُمْ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ:

ابی بن کعب رضی الله عنه د اقرأ خطاب ملاویدل: اودَټولو نه لوئی دَ قرآن دَ تجوید ماهر ابی بن کعب ﷺ دې کومو شپږو صحابه کرامو چه دَ حضورپاك په زمانه کښې قرآن کریم یاد کړې وو په هغوی کښې یو دوی هم دی. روایاتو کښې راځی چه یو ځل حضورپاك هغوی ته اوفرمائیل چه الله تعالی فرمائی چه دا سورت زمونږ په وړاندې اولوله. ابی تپوس اوکړو چه آیا الله تعالی زما نوم اخستې دې؟ حضورپاك اوفرمائیل چه او الله تعالی ستا نوم اخستې دې. دې اوریدو سره ابی ﷺ په ژړا شو او دَ هغوی سره حضورپاك هم په ژړا شو. دَهغوی وفات په ۱۹ هجری په مدینه منوره کښې شوې دې

قوله: وَأَعْلَمُهُمْ بِالْحَلَالِ وَالْحَرَامِ مُعَاذُبْنُ جَبَلٍ:

یعنی حلال اوحرام دَ ټولو نه زیات پیژندونکې حضرت معاذ بن جبل ﷺ دَ انصار نه دې. هم د دوی د فقهاهت په وجه نبی علیه السلام دوی یمن ته ګورنر لیږلې وو اود دوی د اجتهاد کولوتصویب ئې کړې وو

قوله: وَأَقْضَاهُمْ عَلِيٌّ

علی رضی الله عنه د عدالت په میدان کښې: دَ حق مطابق دَ ټولو نه ښه فیصله کونکې حضرت علی ﷺ دې. بیشکه حضرت علی ﷺ دَ دې امت دَ ټولو نه لوئی قاضی دې په فیصله کولو کښې دَهغوی په شان څوك نه وو. هم په دې وجه به حضرت عمر ﷺ دَهغوی دَ مشورې اودَ هغوی دَ فتوې نه بغیر څه حکم او فیصله نه جاری کوله. که چرې حضرت علی ﷺ به موجود نه وو نو حضرت عمر ﷺ به دَ فیصلې دَ پاره کاروائی روستو کوله.

[۶۱۲۱] د طلحه رضی الله عنه دپاره د جنت بشارت

۳-( )[۳][۱] وَعَنِ الزُّبَيْرِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: «كَانَ عَلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمَ أُحُدٍ دِرْعَانِ، [۲] فَنَهَضَ إِلَى الصَّخْرَةِ فَلَمْ يَسْتَطِعْ، [۳] فَقَعَدَ طَلْحَةُ تَحْتَهُ حَتَّى اسْتَوَى عَلَى الصَّخْرَةِ، [۴] فَسَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "أَوْجَبَ طَلْحَةُ"». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت زبیر رضی الله عنه وايي د جنګ احد په ورځ د نبي کريم ﷺ په جسم مبارك دوه زغري وې [۲] د جنګ د دوران په موقع حضور ﷺ يوه ګاره باندې ختل وغوښتل چې د دښمن د لښکر جائزه واخلي او د اسلام مجاهد ينو ته د بلندي نه ښکاره شي ليکن د دواړو زغرو د بوج په وجه پورته ختلو کښې کامياب نه شو [۳] طلحه رضی الله عنه چې د حضور ﷺ کاڼړي ته د ختلو کوشش کول او بيا کامياب نه کيدل او ليدل نو فوراً حضور ﷺ نه لاندې کيناستلو چې حضور ﷺ دهغه په شا ختلو سره کاڼړي ته ورسيدلو [۴] او بيا رسول الله ﷺ نه دا فرمايل واوريدل طلحه رضی الله عنه جنت واجب کړي (ترمذي)

حل اللغات:- ① دِرْعَانِ: د درع تثنيه ده، زغري. ② فَنَهَضَ: أي: فَقَامَ مُنْتَهِضًا: دخبر اخستلو دپاره ختلو طرف ته متوجه شو ③ الصَّخْرَةِ: غټ کاڼړي. ④ أَوْجَبَ: يعنی طلحه رضی الله عنه جنت واجب کړو

تسهيلات:

قوله: يَوْمَ أُحُدٍ دِرْعَانِ

په غزوه احد کښې د نبی علیه السلام دوه زغرې: د الله تعالی دَ دې فرمان ﴿خُذُوا حِذْرَكُمْ الآيه وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ الآيه﴾ دَ زيات نه زيات تعميل او فرمائيلو "فإنها تشمل الدرع قوت" درع وغيره اخستلو ته هم شامل دې. هم په دې وجه حضورپاك دَ غزوه احد په ورځ دوه زغري اچولي وې او دَ دې آيت تفسير ئې په دې الفاظو سره او کړو «الاان القوة في الرمي».

قوله: يَقُولُ أَوْجَبَ طَلْحَةُ

د قربانۍ بدله کښې د جنت زيرې ملاويدل: مطلب دا چه حضرت طلحه رضی الله عنه په جنګ احد کښې دَ ډيرې قربانئ ثبوت ورکړو دَ کوم ذکر چه ماقبل کښې شوې دې چه لاسونه ئې هم شل شو او په بدن ئې دَ اتياؤ نه زيات دَ زخمونو نښې هم وې دې هم دَعشره مبشره نه دې کمامر

په غزوه احد کښې د نبی علیه السلام تکليفونه: ملاعلی قاری رحمه الله دَ جنګ احد په ورځ په حضورپاك باندې تيرشوی تکليفونو او مصيبتونو ذکر کړي

① دَ حضورپاك دښمن عتبه بن وقاص په حضورپاك باندې غشي اوويشتلو دَ کوم په وجه

---

[۱] اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أبي محمد طلحة بن عبيد الله رضي الله عنه (رقم-۳۷۳۸) واحمد في المسند:۱/۱۶۵

چه دَ حضورپاك غابنى مبارك شهيد شو

② دَ احد په مقام كافرانو كندي اوكنستلي اودَ پاسه ئى په كمزورو جارو سره ډكي كړي چه څوك په دي باندي خپه ايږدى نو ورپريوځى به. دغه شان په يوه كنده كښي حضورپاك پريوتلو او په تندى باندي ئى دَ اوسپني دَ توپئى دوه كړئى ورخښي شوي. حضرت على ﷺ او حضرت طلحه ﷺ بن عبيدالله حضورپاك راوُچت كړو اودَ كندي نه ئى بهر راوُويستلو.

د نبى عليه السلام د بدن وينه څكل: دَحضورپاك دَ تندى مبارك نه چه كومه وينه بهيدله هغه صحابه كرامو لاندي غورزيدو ته نه پرينخوده بلكه ابوسعيد خدرى ﷺ اوڅكله په دي باندي حضورپاك اوفرمائيل چاچه زما وينه اوڅكله هغه پوري به دَ دوزخ اور نه لګى. (مرقاة: ۱۱/۳۶۲)

[۶۱۲۲] دطلحه ﷺ د شهادت پيشنګوئى

۳۲-()[۳] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: «نَظَرَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-إِلَى طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ [۲] قَالَ: "مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ يَمْشِي عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ وَقَدْ قَضَى نَحْبَهُ فَلْيَنْظُرْ إِلَى هَذَا". [۳] وَفِي رِوَايَةٍ: مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى شَهِيدٍ يَمْشِي عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.[1]

ترجمه: [۱] اوحضرت جابر ﷺ وايي يوه ورځ رسول كريم ﷺ طلحه بن عبيد الله ﷺ طرف ته دمحبت ډک نظر سره وكتل [۲] او وي فرمايل دكوم سړي چې خواهش وي چې هغه انسان ووينې چې زمكه باندې ګرځي ليكن حقيقت كښې هغه خپل وخت پوره كړي دى نوهغه ته پكاردى چې هغه هغه انسان طلحه ﷺ ووينې [۳] ويوروايت كښې داسې دى چې حضور ﷺ وفرمايل څوک چې دداسې شهيد ديدار كول غواړي چې په زمكه ګرځي نوهغه دې طلحه بن عبيدالله ﷺ ته وګوري (ترمذي)

حل اللغات:- ① قَضَى: پوره ئې كړو. ② نَحْبَهُ: أَيْ: نَذْرَهُ: منخته، نذر(ددې نه مراد مرګ دې يعنى شهادت ئې غوښتلو اوهغه ئې حاصل كړو).

تسهيلات: قوله: وَقَدْ قَضَى نَحْبَهُ:

دشهادت په مفهوم كښې دوه اقوال: ① يعنى كوم سړې چه يوژوندې شهيد ليدل غواړى هغه دې طلحه ته اوګورى. چونكه په جنګ احد كښې دَ حضرت طلحه ﷺ په بدن باندې دومره زخمونه لګيدلى وو چه دَ بدن هيڅ لويه وړه حصه سالم نه وه پاتې شوې. دومره په كثرت سره زخمى كيدو نه پس لګه چه هغه دَ ژوندى ګرځيدو والا شهيد دې.

---

[1] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أبى محمد طلحة بن عبيد الله رضى الله عنه (رقم-۳۷۳۹) وابن ماجه فى كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل طلحة بن عبيد الله رضى الله عنه (رقم-۱۲۵)

(۲) حنبی علیه السلام د حضرت طلحه ﷺ د شهادت پیشنګوئی وکړه چې دې به په راروان وخت کښې شهید کیږی هم دغه شان اوشوه چې دوی په جنګ جمل کښې شهید شو

[۶۱۲۳] جنت کښې د طلحه ﷺ اوزبیر ﷺ نبی علیه السلام سره ګاونډی توب

۶۱۲۳-(۱) [۵] [۱]وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «سَمِعَتْ أُذُنِي مِنْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ يَقُولُ: [۲] "طَلْحَةُ وَالزُّبَيْرُ جَارَايَ فِي الْجَنَّةِ». [۳]رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] اوحضرت علي ﷺ وایي زما غوږونو درسول الله ﷺ دخولي مبارکي نه واوریدل [۲]طلحه ﷺ اوزبیر ﷺ به جنت کښې زما ګاونډیان وي [۳]دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یې دي چې داحدیث غریب دی.

حل اللغات:- ①فِي رَسُولِ اللّٰهِ: أَيْ: مِنْ فِيهِ: فِي په معنی د فم سره یعنی درسول الله ﷺ د خولي مبارکې نه، (دا مبالغه ده، یعنی چه په خپلو سترګو مې کتلو سره آوریدلی دی) جَارَايَ: د جار تثنیه ده او ي د متکلم ته مضاف دي، یعنی دواړه به زما ګاونډیان وی (دا کنایه ده د قرب نه)

تسهیلات:

قوله: طَلْحَةُ وَالزُّبَيْرُ جَارَايَ فِي الْجَنَّةِ

نبی علیه السلام سره قرب او نزدیکت: دَدې الفاظو په ذریعه کنایتًا هغه کمال قرب او تعلق ښکاره کړې شوې دې کوم چه دَدې دواړو حضراتو او دَ نبی کریم په مینځ کښې وو

[۶۱۲۴] سعد ﷺ دپاره دوه دعا

۶۱۲۴-(۲) [۱]وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- [۲]«أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ يَوْمَئِذٍ، يَعْنِي: يَوْمَ أُحُدٍ: "اللّٰهُمَّ اشْدُدْ رَمْيَتَهُ [۳]وَأَجِبْ دَعْوَتَهُ». رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [۱] اوحضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ نه روایت دی [۲]چې رسول الله ﷺ دهغه په حق کښې دغزوه احد په ورځ داسې دعا وکړله خداونده دسعد ﷺ تیر آندازي کښې شدت اوقوت ورکړې [۳] ودهغه دعا قبوله کړي (شرح السنه)

حل اللغات:- ①اشْدُدْ: أَيْ قَوِّ: طاقت ورکړې، ②رَمْيَتَهُ: أَيْ رَمْيَهُ: ویشتلو دغشو د سعد ﷺ نه، ③أَجِبْ: قبوله کړي (دعا دده)

تسهیلات: قوله: اللّٰهُمَّ اشْدُدْ رَمْيَتَهُ وَأَجِبْ دَعْوَتَهُ

سعد دپاره د دربار رسالت څخه دوه دعاګانې: ① دَ هغه په غشو ویشتلو کښې برکت

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب أبی محمد طلحة بن عبید الله رضی الله عنه (رقم-۳۷۴۱)

[۲]) اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحدیث ۳۹۲۲

واچوي چه په هغې سره ډیر کافران هلاك شي او دَ هغه ننبه صحيح وی
④ دي مستجاب الدعوات جوړ کړي.
په دواړو دعاګانو کښې مناسبت: دَ غشو ویشتلو دَ سختنې اوقوت سره دَ اجابت دعا ذکر په دې مناسبت سره وو چه په عرف کښې دَ غشي او دعا په مینځ کښې ژور تعلق دې تیر بهدف کیدل- دا مشهور متل دې نولکه چه مطلب به ئې دا شي چه دَ حضرت سعد ﷺ مستجاب الدعوات جوړيدل لکه چه دَ هغه دَ غشي اثر وو کوم چه هغه دَ الله تعالی په لار کښې دَ تیولو نه مخکښې چلولي وو.

٦١٢٥-( ) [١٧] ① وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② «اللَّهُمَّ اسْتَجِبْ لِسَعْدٍ إِذَا دَعَاكَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت سعد ﷺ بن ابي وقاص نه روایت دی رسول کریم ﷺ دعا فرمایلي وه ② خداونده سعد ﷺ چې ستا نه دعا وغواړي نو هغه قبوله کړي (ترمذي)
حل اللغات:- ① اسْتَجِبْ: أي الدُّعَاءَ: یعنی دعا ئې قبوله کړې
نوټ: ددې حدیث وضاحت حدیث نمبر (۶۱۲۴) کښې تیرشو

[٦١٢٦] سعد ﷺ ته دطاقتور ځوان لقب ورکول

٦١٢٦-( ) [١٨] ① وَعَنْ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ «مَا جَمَعَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَبَاهُ وَأُمَّهُ إِلَّا لِسَعْدٍ، ② قَالَ لَهُ يَوْمَ أُحُدٍ" ارْمِ فَدَاكَ أَبِي وَأُمِّي ③ " وَقَالَ لَهُ: "ارْمِ أَيُّهَا الْغُلَامُ الْحَزَوَّرُ". » رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت علي ﷺ وايي رسول کریم ﷺ خپل مور پلار دسعد ﷺ نه علاوه بل هیڅ دپاره نه دي جمع کړي ② دغزوه احد په ورځ هغه مخاطب کولو سره ورته فرمایلي وه تیر چلوه زما مور پلار دي په تاصدقه وي ③ ویه هغه ورځ سعد ﷺ مخاطب کولو سره یي ورته داسې فرمایلي وو تیر چلوه اې طاقتورځوانه (ترمذي)
حل اللغات:- ① الْغُلَامُ الْحَزَوَّرُ: أي: الشَّابُّ الْقَوِيُّ: غلام ځوان هلک ته وائی. او حَزَوَّر د زمری بچی ته وائی کوم چه بلوغ ته نزدې وی خو دلته ددې نه مراد ځوان طاقت ور او بهادر هلک مراد دې ځکه چه سعد دغه وخت د بلوغ دحد نه اوختې وو، د اوولسو کالو وو

تسهیلات:

نوټ: دې حدیث سره متعلق یو اشکال اودهغې جواب وړاندې د حدیث نمبر (٦١١٣) په شرح کښې تیرشوي دي.

[1] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب سعد بن أبى وقاص رضى الله عنه. واسم أبى وقاص: مالك بن وهيب (رقم-٣٧٥١)
[2] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٧٥٣)

[۳۷] د نبی علیه السلام سعد رضی الله عنه ته د ماما نسبت کول

۳۷-()[۸] ۱ وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «أَقْبَلَ سَعْدٌ فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ "هَذَا خَالِي فَلْيُرِنِي امْرُؤٌ خَالَهُ» . ۳ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ: كَانَ سَعْدٌ مِنْ بَنِي زُهْرَةَ، وَكَانَتْ أُمُّ النَّبِيِّ مِنْ بَنِي زُهْرَةَ ۴ فَلِذَلِكَ قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " هَذَا خَالِي ". ۵ وَفِي " الْمَصَابِيحِ ": " فَلْيُكْرِمَنَّ " بَدَلَ " فَلْيُرِنِي ".

ترجمه: ۱ اوحضرت جابر ﷜ وايي يوه ورځ سعد بن ابي وقاص ﷜ دحضور ﷺ مجلس مبارك ته راغی ۲ نونبي كريم ﷺ هغه طرف ته اشاره كولو سره وفرمايل دازما مامادى كه څوك داسې ماما لري نوماته دي وښايي ۳ داروايت ترمذي نقل كړى دى او ويلي يې دي چې سعد ﷜ دقريشود يوي قبيلي بني زهره نه وو ۴ ودحضور ﷺ صاحب مورمحترمه هم دبني زهره نه وه په دې اعتبار حضور ﷺ دهغوى باره كښې وفرمايل چې دازما ماما دى ۵ ومصابيح كښې دفليرني نوهغه دى ماته وښايي په ځاي فليكرمن نوهغه دي دخپل دي ماما تكريم كوي الفاظ نقل كړى دى

حل اللغات:- ① خَالِي: أَيْ: مِنْ قَوْمِ أُمِّي: زما ماما (سعد بن ابی وقاص د نبی علیه السلام د مور دخاندان نه وو څكه ني ورته ماما اوونيل) ② فَلْيُرِنِي: أَيْ فَلْيُبَصِّرْنِي: راته دې اوښائی ③ فَلْيُكْرِمَنَّ: د امر غائب مؤكد صيغه ده، د إِكْرَام نه.

تسهيلات: قوله: وَكَانَتْ أُمُّ النَّبِيِّ مِنْ بَنِي زُهْرَةَ

سعد بن ابي وقاص ته د ماما ويلو وجه: دا دَ ښځې نوم دې چه دَ كلاب بن مرة بن كعب بن لوى بن غالب ښځه وه دَ هغې اولاد ته بنو زهره ويلې شي. اودا دَ قريشو يو مشهوره څانګه وه دَ حضورپاك دَ مور بی بی حضرت آمنه ﷺ او دَ حضرت سعد بن ابی وقاص ﷜ نسبی تعلق هم دَدې څانګې سره وو او په دې اعتبارسره حضرت آمنه ﷺ او حضرت سعد بن ابی وقاص ﷜ خور او رور شو. هم په دې وجه حضرت سعد بن ابی وقاص ﷜ ته رسول الله ﷺ ماما اوونيل

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۶۱۲۸] د الله په لار كښې د سعد رضی الله عنه قربانيانې

۶۱۲۸-(۱)[۲۰] ۱ عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ قَالَ: «سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - يَقُولُ: ۲ إِنِّي

[1] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۷۵۲)

[2] اخرجه البخاری فی كتاب المناقب/باب مناقب سعد بن ابی وقاص الزهری وبنو زهرة أخوال النبی صلی الله عليه وسلم وهو سعد بن مالك (رقم-۳۷۲۸) ومسلم فی كتاب الزهد والرقائق (رقم-۱۲ - (۲۹۶۶) والترمذی فی كتاب الزهد عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی معيشة أصحاب النبی صلی الله عليه وسلم (رقم-۲۳۶۵) واحمد فی المسند: ۱۷٤/۱

لَأَوَّلُ رَجُلٍ مِنَ الْعَرَبِ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، [٣] وَرَأَيْتُنَا نَغْزُو مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَمَا لَنَا طَعَامٌ إِلَّا الْحُبْلَةُ وَوَرَقُ السَّمُرِ، [٤] وَإِنْ كَانَ أَحَدُنَا لَيَضَعُ كَمَا تَضَعُ الشَّاةُ مَا لَهُ خِلْطٌ، [٥] ثُمَّ أَصْبَحَتْ بَنُو أَسَدٍ تُعَزِّرُنِي عَلَى الْإِسْلَامِ، لَقَدْ خِبْتُ إِذًا وَضَلَّ عَمَلِي، وَكَانُوا وَشَوْا بِهِ إِلَى عُمَرَ، [٦] وَقَالُوا: لَا يُحْسِنُ الصَّلَاةَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت قيس بن ابي حازم تابعي وايي ما حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ نه واوريدل [٢] يقيناً زه په عربو كښې اولنى سړى يم چاچې د الله په لار كښې اولنى تير وچلوى [٣] ومونږ هغه زمانه ليدلي ده كله چې مونږ به رسول الله ﷺ سره په جهاد كښې مصروف وو اوزمونږسره به دخوراک هيڅ شى نه وو صرف دكيكر پلني چې دلوبيا مشابه وي اودكيكر پاڼي به حاصليدى چې مونږ به خوړلي او دلوړې اور به مويخوى [٤] ودي كښې څه مبالغه نشته چې مونږ به دبزې (چيلۍ) دپچو په شان و چې تقاضې كوله چې هغه كښې به د لوندوالي نوم هم نه وو [٥] اوس هغه زمانه هم وينو چې بنوا سد ماته داسلام يعنى مونځ باره كښې نصيحت ياتنبيه كوي اوزه اوس هم دبنو اسد دنصيحت محتاج اوددين په باره كښې دهغوى نه كمتريم نوبيادي كښې خوڅه شک شبه نشته چې زه بيا نامراد شوم اوزما كړى اعمال برباد شول [٦] داصل كې دوي حضرت عمر ﷺ ته دسعد ﷺ خلاف چغل خوري او شكايت كړى وو او ورته يي ويلي وه چې هغه مونځ په ښه طريقه نه كوي (بخاري ومسلم)

حل اللغات:- ① نَغْزُو: مونږ جهاد كولو. ② الْحُبْلَةَ: ثَمَرُ السَّمُرِ: دَ كيكر په ونه كښې يوقسم بې كاره پهلى وى د لوبيا په شان، كوم چه دَ انسان دَ خوراك نه وى هغه مراد دى. ③ وَرَقَ السَّمُرِ: دكيكر پاڼې مراد دى ④ لَيَضَعُ: أَيْ يَخْرُجُ مِنْهُ: د راوتلو په معنى كښې دي دډک اودس ماتى دپاره استعمال شوې دي (يعنى تقاضه به مو كوله) ⑤ خِلْطٌ: أَيْ: لَا يَخْتَلِطُ بَعْضُهُ بِبَعْضٍ: يوبل سره به اينختې نه وو يعنى اوچ به وو ⑥ تُعَزِّرُنِي: أَيْ تُوَبِّخُنِي: تنبيه اونصيحت راته كوى (توبيخ ربټلو او ملامته كولو ته وائى) ⑦ خِبْتُ: أَيْ خَسِرْتُ: په تاوان كښې يم. ⑧ وَشَوْا: أَيْ نَمُّوا وَسَعَوْا: چغل خورى او شكايت ئې كړې وو

تسهيلات:

قوله: إِنِّي لَأَوَّلُ رَجُلٍ مِنَ الْعَرَبِ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ،

د اسلام اولنئى فوجى دسته: دا دَ سريهٔ عبيدبن حارث ﷺ طرف ته اشاره ده داداَسلام اولنئى فوجى دسته وه كومه چه حضورپاك په ١هجرى كښې دَابوسفيان په قافله دَحمله كولودَپاره ليګلې وه. حضورپاك په خپلو مباركولاسونوباندې جنګى جهنډا اوتړله. په شپيتوسړو باندې مشتمل دې سريه كښې حضرت سعد ﷺ هم وو. په دې موقع كافرانو سره باقاعده جنګ خوانه شو مګر حضرت سعد ﷺ اسلامى تاريخ اوجهادفى سبيل الله ميدان كښې په كافرانوباندې اولنې غشې اوچلولو هم دَهغه خصوصيت ذكر حضورپاك دلته فرمائى.

سعد او د كوفې كورنرى: دَدې نه مخكښې مې هم اشاره كړې ده دلته څه تفصيل ليكم چه

حضرت سعد ﷛ حضرت عمرفاروق ﷛ د کوفه گورنر مقرر کړې وو د کوفې څه خلقو د طرف نه په حضرت سعد ﷛ باندې اعتراضات کړې شوي وو دغه بدباطن خلق وو هغوی اووئیل چه حضرت سعد ﷛ په مونځونو کښې سستي کوی او د مال غنیمت په تقسیم کښې انصاف نه کوی جهادله نه ځی حضرت عمرفاروق ﷛ هغه مدینې منورې ته راؤغوښتلو ورته ئې اوفرمائیل حضرت سعد تانه شکایتونه دی تردې چه د مانځه شکایت هم راغلې دې؟

سعد رضی الله عنه او د ځان صفائی پیش کول: حضرت سعد ﷛ په خپله صفائی کښې د خپلو یوڅو کارنامو تذکره اوکړه اوبیائې اوفرمائیل چه که د دغه خلقو الزامات صحیح وی نوبیا خوزما دا اعمال ضائع شو حضرت عمرفاروق ﷛ اوفرمائیل ستاباره کښې زما ګمان هم دا وو لکه څنګه چه ته صفائی پیش کوې لیکن د اهل کوفه نه به زما نمائنده کور په کور تپوس کوی دې دپاره چه حقیقت حال واضح شی چنانچه دوه سرکاری اهل کار حضرت سعد ﷛ سره کوفه ته روان شو اوکور په کور ئې د حضرت سعد ﷛ متعلق تپوس اوکړو ټولو د حضرت سعد ﷛ ډیر تعریف اوکړو

د سعد رضی الله عنه یو بوډا ته خیرې کول: مګر یو بوډا اوئیل چه کله تاسو خلق قسم راکولو سره تپوس کوئی نوزه به اووایم چه حضرت سعد ﷛ په مونځونو کښې او د مال غنیمت په تقسیم کښې ګړبړکوی په دې باندې حضرت سعد ﷛ اوئیل چه که ت دا اعتراض د مشهورتیا حاصلولو دپاره کړې وی نوزه ستادپاره په بددعاکښې وایم اې الله د دې سړی عمر اوږد کړې اودې په اولګو تندوکښې راګیرکړې اودې ذلیل اوخوارکړې

د درې واړه خیرو قبلیدل: دا دریواړه بددعاګانې دغه سړی پورې اولګیدې عمرئې دومره زیات شو چه د سترګ اوریځې ئې په سترګوباندې راپریوتلې کله چه به ئې چا سره خبرې کولې نو په لاسونوباندې به ئې اوریځې اوچتولې اوورته به ئې کتل په اولګو تندوکښې ئې ژوند تیریدو مرګ ورله نه راتلو مګر هم په دې حالت کښې په زمکه باندې رابنکونکې وړې وړې جینکئی نیولې اوخپل بدن پورې به ئې مرلې اوذلیل اوخواریدو کله چه به چا د هغه نه تپوس کولو چه شرم اوکړه دا څه کوې؟ نوونیل به ئې څه اوکړم؟ د سعد بددعا پورې لګیدلې ده

قوله: ثُمَّ أَصْبَحَتْ بَنُو أَسَدٍ تُعَزِّرُنِي عَلَى الْإِسْلَامِ

د مذکوره جملې پس منظر: زیر بحث حدیث کښې "اصبحت بنواسد تعزرنی" الفاظو کښې هم دې قصې ته اشاره ده تعزرنی زجر توبیخ اورټلو په معنی کښې دې عامو مسلمانانوله پکاردی چه هغوی دې بغیرد څه وجې د جماتونو په امامانوباندې اعتراضونه نه کوی دبعضې زره خفه کولو سره تباهی راځی

[٦١٢٩] دسعد ﷺ په خپل اسلام راوړلو باندې افتخار كول

۶۱۲۹-(۱) [۲۱] [۱] وَعَنْ سَعْدٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: رَأَيْتُنِي وَأَنَا ثَالِثُ الْإِسْلَامِ، [۲] وَمَا أَسْلَمَ أَحَدٌ إِلَّا فِي الْيَوْمِ الَّذِي أَسْلَمْتُ فِيهِ، [۳] وَلَقَدْ مَكَثْتُ سَبْعَةَ أَيَّامٍ وَإِنِّي لَثَالِثُ الْإِسْلَامِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت سعد ﷺ اوويل زه دخپل ځان باره كښې دنوروڅخه زيات پوهيږم د اسلام فهرست كښې زما لمبر دريم دى [۲] وزما نه مخكې مشرف په اسلام كيدوهغه دوارو نه هم هيڅ سړى هغه ورځې نه دائره اسلام كښې داخل شوى نه وو په كومه ورځ چې ما اسلام قبول كړى وو [۳] وبيا او وه ورځې پورې زه داسلام دريمه حصه جوړشوى ووم (بخاري)

حل اللغات: - ① ثَالِثُ الْإِسْلَامِ: د اسلام دريمه حصه، ② مَكَثْتُ: أَيْ لَبِثْتُ: يعنى وخت مې تير كړو.

تسهيلات:

قوله: رَأَيْتُنِي وَأَنَا ثَالِثُ الْإِسْلَامِ،

د سعد رضى الله عنه په قول باندې اشكال: دَ حضرت سعد ﷺ نه مخكښې حضرت خديجه ﷺ او حضرت صديق اكبر ﷺ اسلام قبول كړې وو. حضرت سعد ﷺ دريم سړې دې چاچه اسلام قبول كړو اوبيا دَ اووه ورځو پورې څوك مسلمان نه شو لكه چه حضرت سعد ﷺ ثلث اسلام يعنى دريمه حصه اسلام وو.

داشكال جواب: حضرت سعد ﷺ دَ خپلو معلوماتو په اعتبارسره داسې اوفرمائيل اوَ د آزادو خلقو په اعتبار سره ئې داسې اوفرمائيل گنې يوڅو غلامان هم دَ هغوى نه محكښې مسلمانان شوى وو بياخو دَهغوى نمبر دريم نه شي جوړيدې اوداهم ممكن دى چه حضرت عمار ﷺ وغيره احرار هم دَهغوى نه مخكښې مسلمان شوې وى لهذا بيا به هم هغه جواب وى چه هغوى دَخپل علم په بنياد باندې څه اوفرمائيل هغه ئې صحيح فرمائيلى دى

[٦١٣٠] نبى عليه السلام سره د عبدالرحمن بن عوف ﷺ مالى قربانى

۶۱۳۰-(۲) [۲۲] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] كَانَ يَقُولُ لِنِسَائِهِ: "إِنَّ أَمْرَكُنَّ مِمَّا يُهِمُّنِي مِنْ بَعْدِي، [۳] وَلَنْ يَصْبِرَ عَلَيْكُنَّ إِلَّا الصَّابِرُونَ الصِّدِّيقُونَ [۴]" قَالَتْ عَائِشَةُ: يَعْنِي الْمُتَصَدِّقِينَ، [۵] ثُمَّ قَالَتْ لِأَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ: سَقَى اللّٰهُ أَبَاكَ مِنْ سَلْسَبِيلِ الْجَنَّةِ، [۶] وَكَانَ ابْنُ عَوْفٍ تَصَدَّقَ عَلَى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ بِحَدِيقَةٍ بِيعَتْ بِأَرْبَعِينَ أَلْفًا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او بى بى عائشه ﷺ وايى [۲] يوه ورځ رسول ﷺ خپلو بيبيانو ته وفرمايل ستاسو معامله څه ددې نوعيت ده . چې ما . خما دوفات نه وروسته په فكر كې اچوى [۳] او

---

[1] اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب مناقب سعد بن أبي وقاص الزهري وبنو زهرة أخوال النبي صلى الله عليه وسلم وهو سعد بن مالك (رقم-۳۷۲۷) وابن ماجه في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه (رقم-۱۳۲)

[2] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۷٤۹) واحمد في المسند: ۷۷/۶

ستاسو خرچه باندی هغه کسان صبر کوی چی صابر ین دی او صدیقین دی ، ④بی بی عائشه ؓ وایی، چی (صابرینو او صدیقینو څخه) د حضور ﷺ مراد هغه خلق دی چی صدقه ورکونکی او دخیر کارکونکی دی ، ⑤بیا بی بی عائشی رضی الله عنها د حضرت عبدالرحمن بن عوف ؓ زوی د حضرت ابوسلمه تابعی مخکی د هغه د پلار بزرگوار زبردست مالی ایثار باندی اظهار تشکر او د جذبه منت گزاری سره ، اوویل الله ﷻ دی ستا پلار د جنت د سلسبیل نه سیراب کړی ، ⑥او حضرت عبدالرحمن بن عوف ؓ د حضور ﷺ د ازواج مطهراتو دخرچی د پاره یو باغ ورکړی وو ، چی په څلویښت زره (۴۰۰۰۰) دیناره خرڅ شوی وو .

حل اللغات:- ①يَحْنُو: أَيْ يُوقِعُنِي فِي الْهَمِّ: په سوچ او فکر کښې مې اچوی. ②الصِّدِّيقُونَ: یعنی صدقه کونکی خلق مراد دی دا لفظ دَ صدقه نه دې دَ صدق نه نه دې. ③سَقَى اللَّهُ: او دې څکوی الله پاک، سیراب دې کړی الله پاک، ④سَلْسَبِيلِ: وَهِيَ عَيْنٌ فِي الْجَنَّةِ: سلسبیل په جنت کښې یوه چینه ده، د هغې نوم دې.

تسهیلات:

قوله: سَلْسَبِيلِ الْجَنَّةِ:

د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه سخاوت: حضرت عبدالرحمن بن عوف ؓ لوئی سوداګر او لوئی فیاض، دنیاترک کونکې صحابی وو. دَ حضورپاک دَ وفات نه پس په ازواج مطهرات باندې په ارت مټ ډیر مال خرچ کړو. دَ څلویښتو زر دینارو قیمتی باغ ئی ازواج مطهرات ته ورکړو بلکه ترمذی کښې دی څلور لاکهه درهم یا دینارو باغ هغوی ازواج مطهرات دَمصارف دَپاره وقف کړې وو. په یوروایت کښې دی چه دَ حضورپاک په زمانه کښې حضرت عبدالرحمن بن عوف ؓ یوځل دَ خپل ټول مال نیم اودَ نقد نه څلور زره دیناره یا درهم دَحضورپاک مخې ته راوړل پیش ئی کړل. بیا ئی پنځه اسونه راوستل دَ جهاد دَپاره ئې ورنی کړل. بیائی دَ الله تعالی په لار جهاد کښې یونیم زر اوښې راوستلې پیش ئی کړې.

عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه ته د الله تعالی سلام رالیږل: یوروایت کښې دی چه یوځل هغوی یونیم لاکه دینار په صحابه کرامو باندې تقسیم کړل. بیا چه دَ شپې وخت راغلو نو هغوی قلم کاغذ راواخستو دَخپل مال یوفهرست ئی جوړ کړو چه دا مال دَ انصار او مهاجرینو دَپاره دې. کله چه دَمال حساب اوشو نو هغوی دَخپل بدن د کپړو باره کښې لیکلی دی چه قمیص فلانکی ته ورکړئی پټکې فلانکی ته ورکړئی دغه شان ټول مال هغه دَ الله تعالی دَ رضا دَپاره تقسیم کړو او اوده شو. سحر چه کله دَمانځه دَپاره لاړو نو حضورپاک له جبرائیل امین راغلو اووئی فرمائیل چه یارسول الله الله تعالی فرمائی چه

عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه ته زما سلام اووایه اودَ هغه نه هغه فهرست واخله قبول نی کړه کوم چه هغه دَ شپې جوړکړې دې اوبیا دا فهرست هغه ته واپس کړه او ورته اووایه چه الله تعالی ستا مال قبول کړو اوس ته دَ الله تعالی دَ طرف نه په دغه مال باندې نګران اووکیل نی چرته چه غواړې خرچ کوه اوهغه ته دَ جنت زیرې واوره وه. حضرت عبدالرحمن بن عوف دیرش زره غلامان آزاد کړې وو. هم دَ دې فیاضئی دَ وجې نه حضرت عائشه رضی الله عنها حضرت عبدالرحمن بن عوف ته دعاګانې کوی اوحضورپاك خاص دعا اوکړه چه دې سره حدیث کښې ذکر ده.

[٦١٣١] د نبی علیه السلام عبدالرحمٰن بن عوف رضی الله عنه ته خصوصی دعا کول

٦١٣١-() [٢٣] ١ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: «سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ لِأَزْوَاجِهِ: ٢ "إِنَّ الَّذِي يَحْثُو عَلَيْكُنَّ بَعْدِي هُوَ الصَّادِقُ الْبَارُّ، ٣ اللَّهُمَّ اسْقِ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ مِنْ سَلْسَبِيلِ الْجَنَّةِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.[1]

ترجمه: ١ اوبې بې ام سلمه رضی الله عنها وایې مادرسول کریم ﷺ نه خپلو بیبیانوته دافرمایل واوریدل ٢ حقیقت دادی چې زما دوفات نه وروسته چې کوم سړی موتې ډکولو سره په تاسو به خرچ کوي یعنی په پوره فراخ دلی اوکامل سخاوت سره ستاسو اخراجاتو کښې به خپل مال خرچ کوي هغه صادق الایمان صاحب احسان دی ٣ خداونده عبدالرحمٰن بن عوف رضی الله عنه دجنت دنهر سلسبیل نه سیراب کړی (احمد)

حل اللغات:- ① يَحْثُو: أَيْ: يَجُودُ وَيَنْثُرُ: دَ سخاوت او قربانی کولو په معنی کښې دې ② الصَّادِقُ: چه په ایمان کښې صادق او رښتونې وی. ③ الْبَارُّ: أَيْ صَاحِبُ الْإِحْسَانِ: نیکی کونکې ④ اسْقِ: اوڅکوې، خړوب کړې.

تسهیلات:

قوله: اللَّهُمَّ اسْقِ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ مِنْ سَلْسَبِيلِ الْجَنَّةِ

د دعا کلماتو د قائل باره کښې دوه اقوال: ① بعضې حضراتو وئیلی دی چه مذکوره دعائیه کلمات دَ ام سلمه رضی الله عنها دی

② بعضې حضراتو وئیلی چه دا دعائیه کلمات هم په توګه دَ پیشنګوئی دَ حضورپاك الفاظ دی چه عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه به زما بیبیانو سره ډیر لوئی احسان فرمائی په دې وجه حضورپاك دَهغوی په حق کښې دعا اوکړه

[1] اخرجه احمد فی المسند: ٦/٢٩٩

[٦١٣٢] د ابوعبیده ﷺ د امانت شهادت ورکول

٦١٣٢ - ()[٣٣][١]وَعَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢]«جَاءَ أَهْلُ نَجْرَانَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! ابْعَثْ إِلَيْنَا رَجُلًا أَمِينًا، [٣]فَقَالَ: "لَأَبْعَثَنَّ إِلَيْكُمْ رَجُلًا أَمِينًا حَقَّ أَمِينٍ [٤]" فَاسْتَشْرَفَ لَهَا النَّاسُ، قَالَ: فَبَعَثَ أَبَا عُبَيْدَةَ ابْنَ الْجَرَّاحِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] اوحضرت حذیفه بن الیمان ﷺ (چې د کبارو صحابه ؤ نه دی او د حضور ﷺ محرم راز وو) وایي [٢] د نجران خلقو د رسول کریم ﷺ خدمت کښې حاضر یدو سره عرض وکی یارسول الله ﷺ مونږ ته حاکم او قاضي جوړ ولو سره یو داسي سړی راولیږی چې امانت دار وي یعنی زمونږ حقوقو کښې څه خیانت نه کوي [٣] حضور ﷺ ورته وفرمایل یقینا زه به یو داسي سړی حاکم او قاضي جوړ ولو سره تاسو ته دراولیږم چې امین دي او ددي لائق دي چې هغه ته امانت دار او ویل شي [٤] دي اوریدو سره خلقو ددي شرف د حصول تمنا او انتظار کولي ګورو چې کوم سړی ددي منصب شرف او امتیاز حاصلوي حضرت حذیفه ﷺ وایي چې حضور ﷺ ابوعبیده بن الجراح ﷺ ولیږل. (بخاري ومسلم)

حل اللغات:- ① أَمِينًا: امانت دار چه د چا په حقوقو کښې خیانت نه کوی ② حَقَّ أَمِينٍ: چه د امانت داری لائق او مستحق وی. ③ فَاسْتَشْرَفَ: أَيْ: طَمِعَ: خلقو طمع شروع کړه.

تسهیلات:

قوله: جَاءَ أَهْلُ نَجْرَانَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د نجران څخه مراد: نجران په یمن کښې د یو ځائی نوم دې کوم چه په ۸هجری کښې فتح کړې شوې وو او یو قول دادې چه نجران، د حجاز او د شام په مینځ کښې د یو ځائی نوم دې

[٦١٣٣] د نبی علیه السلام څخه د خلفاء باره کښې تپوس

٦١٣٣ - ()[٣٥][١]وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «قِيلَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ: مَنْ نُؤَمِّرُ بَعْدَكَ؟ [٢]قَالَ: إِنْ تُؤَمِّرُوا أَبَا بَكْرٍ تَجِدُوهُ أَمِينًا زَاهِدًا فِي الدُّنْيَا رَاغِبًا فِي الْآخِرَةِ، [٣]وَإِنْ تُؤَمِّرُوا عُمَرَ تَجِدُوهُ قَوِيًّا أَمِينًا لَا يَخَافُ فِي اللّٰهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ، [٤]وَإِنْ تُؤَمِّرُوا عَلِيًّا - وَلَا أُرَاكُمْ فَاعِلِينَ - تَجِدُوهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا يَأْخُذُ بِكُمُ الطَّرِيقَ الْمُسْتَقِيمَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] اوحضرت علي ﷺ وایي چا سوال وکی یارسول الله ﷺ ستاسو نه وروسته مونږ څوک خپل امیر او سربراه جوړ کړو ؟ [٢] حضور ﷺ ورته وفرمایل که تاسو زما نه وروسته

---

[1] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب مناقب أبی عبیدة بن الجراح رضی الله عنه (رقم ٣٧٤٥) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب فضائل أبی عبیدة بن الجراح رضی الله تعالی عنه (رقم-٥٥ - (٢٤٢٠) والترمذی فی کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب معاذ بن جبل. وزید بن ثابت. وأبی. وأبی عبیدة بن الجراح رضی الله عنهم(رقم-٣٧٩٦) وابن ماجه فی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل أبی عبیدة بن الجراح رضی الله عنه (رقم-١٣٥) واحمد فی المسند: ٣٩٨/٥

[2] اخرجه احمد فی المسند: ١٠٩/١

ابوبکر ﷺ خپل امیر اوسربراه جوړ کړی نوهغه به امانت دار دنیا نه بې پروا اوآخرت طرف ته راغب پیدا کوې [۲] که عمر ﷺ خپل امیر اوسربراه جوړ کړی نوهغه به بارِ امانت پورته کولو کښې ډیر مضبوط امین دملامت کونکو دملامت نه بې خوف پیدا کوې [۳] وکه علي ﷺ خپل امیر اوسربراه جوړ کړی خوزماپه خیال کښې به تاسو هغه داختلاف اونزاع نه بغیر خپل امیر اوسربراه جوړونکي نه یئ خوکه جوړیې کړی نوهغه به راه راست ښوونکي یعنی مکمل مرشد هم پیدا کوې اوکامل هدایت یافته هم چې تاسو به په صراط مستقیم روان کړی (احمد)

حل اللغات:- ① تُؤَمِّرُ: أَيْ تَجْعَلُهُ أَمِيرًا عَلَيْنَا: چه مونږ ئې خپل امیر او سربراه جوړ کړو ② زَاهِدًا: چه د دنیا سره مینه نه کوی د دنیا نه به بې پرواه وی. ③ رَاغِبًا: شوق او مینه لرونکې وی (د آخرت په کارونوکښې). ④ لَا يَخَافُ: أَيْ لَا يُرَاعِي أَحَدًا: دچا نه ویریږی نه، دچا رعایت او لحاظ نه ساتی ⑤ فِي اللهِ: أَي فِي أَمْرِ الدِّينِ: د الله په احکاماتو کښې، ددین په کارونو کښې. ⑥ لَوْمَةَ: ملامتیا، ⑦ لَائِمٍ: ملامته کونکې، ⑧ هَادِيًا: أَيْ: مُرْشِدًا لِلنَّاسِ: نورو ته لاره ښودونکې (د جنت) ⑨ مَهْدِيًّا: أَيْ مُهْتَدِيًا فِي نَفْسِهِ: په خپله هدایت حاصلونکې.

تسهیلات:

قوله: وَلَا أُرَاكُمْ فَاعِلِينَ:

دولا اراکم فاعلین جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: په دې جمله کښې دَحضرت علی ﷺ په خلافت باندې یوه تبصره ده

① مطلب داچه تاسو به حضرت علی ﷺ بغیردَ جګړې نه خلیفه نه جوړوئی نوپه دې ضمن کښې دَ حضرت عثمان ﷺ دَ خلافت طرف ته اشاره اوشوه چه دَ حضرت علی ﷺ اودَ حضرت عثمان ﷺ دَخلافت دَ انتخاب په موقع به تاسوعلی خلیفه نه جوړوئی بلکه حضرت عثمان ﷺ به جوړوئی

② تاسوبه زمانه پس متصل بلافصل به حضرت علی ﷺ خلیفه نه جوړوئی ځکه چه دَالله تعالی په تقدیر کښې داسې مقرردی چه ابوبکرصدیق او حضرت عمرفاروق ﷺ به اول خلیفه جوړیږی ځکه که حضرت علی ﷺ خلیفه جوړشی نودَهغه عمر اوږددې هغه به ترهغه وخته پورې خلیفه وی چه حضرت ابوبکر صدیق اوحضرت عمرفاروق ﷺ به مړه شی نودوی ته به دَخلافت موقع ملاؤنه شی حالانکه دَ هغوی خلافت مقررشوې دې لهذا زما خیال نه بلکه یقین دې چه تاسو به علی اول خلیفه نه جوړوئی لهذا خلیفه بلافصل حضرت ابوبکرصدیق ﷺ به وی دې نه پس به عمرفاروق خلیفه جوړیږی بیا حضرت عثمان او په آخره کښې به حضرت علی ته خلافت ملاویږی

[۶۱۳۴] د نبی علیه السلام په ژبه د څلورو خلفاؤ فضائل

۳۳-(۱) [۳۱] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «رَحِمَ اللَّهُ أَبَا بَكْرٍ، زَوَّجَنِي ابْنَتَهُ، [۳] وَحَمَلَنِي إِلَى دَارِ الْهِجْرَةِ، وَصَحِبَنِي فِي الْغَارِ، وَأَعْتَقَ بِلَالًا مِنْ مَالِهِ، [۴] رَحِمَ اللَّهُ عُمَرَ يَقُولُ الْحَقَّ وَإِنْ كَانَ مُرًّا، تَرَكَهُ الْحَقُّ وَمَا لَهُ مِنْ صَدِيقٍ. [۵] رَحِمَ اللَّهُ عُثْمَانَ تَسْتَحْيِيهِ الْمَلَائِكَةُ، [۶] رَحِمَ اللَّهُ عَلِيًّا، اللَّهُمَّ أَدِرِ الْحَقَّ مَعَهُ حَيْثُ دَارَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت علي ﷺ وايي رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] الله تعالى دې ابوبكر ﷺ باندې خپل رحمتونه نازل كړي هغه دخپلې لور عائشه ﷺ نكاح ما سره وكړله [۳] خپلې اوښې باندې سورولوسره زه يې دار هجرت مدينې ته راوستم دهجرت دسفر په دوران كښې دثورغار كښې ما سره وو او خپل مال سره بلال ﷺ خريد كولو سره ازاد يې كړلې اوزما په خدمت كښې يې راكړي [۴] الله تعالى دې په عمر ﷺ رحمتونه نازل كړي هغه چې كومه خبره كوي كه په چاترخه لګيږي اوحق ګويي هغه دې حدته ورسول چې دهغه هيڅوک دوست نشته [۵] الله تعالى دې په عثمان ﷺ خپل رحمتونه نازل كړي هغه نه خوفرشتې هم حيا كوي [۶] والله تعالى دې په علي ﷺ رحمتونه نازل كړي اې الله علي ﷺ دحق سره لرې چې چيرته علي ﷺ وي هلته حق وي داروايت ترمذي نقل كړى دى او ويلي يې دي چې داحديث غريب دى.

حل اللغات:- ① حَمَلَنِي: أَيْ: عَلَى بَعِيرِهِ: سور ني كړم (په خپله اوښه باندې)، ② صَحِبَنِي: زما ملګرتيا ني اوكړه (په غار ثوركښې په واقعه دهجرت كښې)، ③ أَعْتَقَ: آزاد ني كړو (بلال دغلامۍ نه)، ④ مُرًّا: أَيْ صَعْبًا عَلَى الْخَلْقِ: تريخ چه په خلقو بد لګى، ⑤ أَدِرِ الْحَقَّ: د إِدَارَة نه د امر صيغه ده، أَيِ اجْعَلِ الْحَقَّ دَائِرًا وَسَائِرًا: يعنى ته حق دده څخه ګيرچاپيره كړه چې حق دې نه پريږدى چې چرته علي څى حق وريسې وى.

تسهيلات:

قوله: رَحِمَ اللَّهُ عَلِيًّا، اللَّهُمَّ أَدِرِ الْحَقَّ مَعَهُ حَيْثُ دَارَ

على الله رضى الله عنه دحقانيت مواقع: دَ حضرت على ﷺ په ژوند كښې يوڅو دَ جګړې صورتونه راغلى دى په كوموكښې چې د اهل سنت والجماعت په نيز دوى په حق وو

① دَ جنګ جمل دې په دې كښې على ﷺ په حق باندې ووپه مقابله كښې لوئى لوئى صحابه په اجتهادى خطاء باندې وو

② دَ جنګ صفين واقعه پيښه شوه په هغې كښې هم حضرت على ﷺ په حق باندې وو مقابله كونكى خلق په اجتهاد باندې وو.

---

[۱] اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب علي بن أبي طالب رضي الله عنه، يقال وله كنيتان: أبو تراب، وأبو الحسن (رقم-۳۷۱۴)

④ خوارج سره دَ اوږدو جنګونو سلسله روانه شوه په هغې کښې هم حضرت علی ﷛ په حق باندې وو اومد مقابل خوارج په باطل باندې وو.

په عجيبه انداز دعلی رضی الله عنه د حقانيت دعا: زير بحث حديث کښې چه څنګه حضورپاك دَحضرت علی ﷛ دَپاره دعا غوښتې ده هم هغه شان دَهغوی ژوند تيرشو په دې حديث کښې دَحضرت علی ﷛ حقانيت په عجيبه مؤثر انداز سره بيان کړې شوې دې. دا نۀ ده وئيلې چه علی ﷛ دې حق سره ګرځی بلکه دا ئې فرمائيلی چه چرته علی وی حق به هلته په تاويدو سره دَعلی طرف ته ورځی. سبحان الله څومره لوئی اعزاز دې.

[۲۰] باب مناقب أهل بيت النبى ﷺ

د نبی کريم ﷺ د کوروالاو د مناقبو بيان

خلاصة الباب:

فيه تسعة و اربعون حديثاً مشتملة على أحد عشرة مسئلة:

① تعين بعض أهل البيت صراحةً أو إشارة: ۱، ۲، ۴، ۷، ۱۳، ۱۵، ۱۷، ۲۲۔

② فضيلة إبراهيم رضى الله عنه: ۳۔

③ لفضيلة فاطمة رضى الله عنها: ۴، ۵، ۲۰، ۲۱، ۲۸، ۴۳۔

④ الوصية فى شأن أهل البيت وحبهم: ۶، ۱۸، ۱۹، ۴۸، ۴۹۔

⑤ لفضيلة جعفر رضى الله عنه: ۷، ۲۷، ۲۸۔

⑥ لفضيلة الحسن والحسين رضى الله عنهما: والدعاء لهما و ذكر شأنهما: ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۲۰، ۲۹، ۳۰، ۳۱، ۳۲، ۳۳، ۳۴، ۳۵، ۳۶، ۳۷، ۳۸، ۴۴، ۴۵، ۴۶، ۴۷۔

⑦ لفضيلة عبدالله بن عباس رضي الله عنهما: ۱۳، ۱۴، ۲۴، ۲۵، ۲۶۔

⑧ لفضيلة أسامة بن زيد رضي الله عنه: ۱۵، ۱۶، ۱۹، ۴۱، ۴۲، ۴۳۔

⑨ لفضيلة زيد بن حارثة رضى الله عنه: ۱۷، ۳، ۴۰۔

⑩ لفضيلة علي رضى الله عنه: ۲۰، ۲۱، ۴۳۔

⑪ لفضيلة عباس رضى الله عنه: ۲۲، ۲۳، ۲۴۔

دصاحب مشكاة نهج: يادلرئی چه صاحب مشکوة دَمذکوره عنوان لاندې دَعموم اوخصوص دواړونه کاراخستې دې.

① بعضې روايات هغه دی دکوم نه چه معلوميږی چه بنوهاشم په اهل بيت نبی ﷺ کښې داخل دی.

② دغه شان هغوی دَ دې باب لاندې څه هغه احاديث هم نقل کړی دی چه په خصوصی توګه باندې صرف حضرت علی حضرت فاطمه حضرت حسن اوحضرت حسين ﷛ سره

خاص دی. دَ کوم نه چه اندازه کيږی چه اهل بيت هم دغه خلور دی عام بنوهاشم نه دی.

④ هم دَ دې عنوان لاندې صاحب مشکوة دَحضرت زيد او حضرت اسامه رضي الله عنهما ذکرهم کړې دې. دکوم نه چه معلوميږی په اهل بيت النبی ﷺ کښې ډير وسعت دې او اهل محبت او اهل قرابت هم په دې کښې داخل دی.

⑤ صاحب مشکوة دَ ازواج مطهرات دپاره جدا عنوان قائم کړې دې اودَهغوی نی خانله تذکره کړې ده دې

په دې تضاد او اختلاف کښې تطبيق: دَدې ټولو متفرقاتو او څه تضاداتو دَ متفق کولو دپاره علماء کرامو فرمائيلی دی چه لفظ بيت درې حيثيتونه او درې اطلاقات دی

د بيت درې اطلاقات: ① اول بيت نسب دې دَ بنوهاشم يعنی عبدالمطلب اولاود دَ حضورپاك دپاره اهل بيت نسب دی کوم ته چه کورنئی اوخاندان ونيلی شی.

② دويم بيت ولادت دې دَ حضور پاك اولادته اهل بيت ولادت وئيلې شی. په کوم کښې چه حضرت علی رضي الله عنه حضرت فاطمة الزهری رضي الله عنها اوحضرت حسن اوحضرت حسين رضي الله عنهما دَ ټولونه ورانديې دی. سره دَدې چه حضرت علی رضي الله عنه په اهل بيت نسب کښې هم راځی ليکن علماء کرامو دوی په بيت ولادت کښې شمير کړې دې. داسلسله دَ ولادت ده يادلرنی چه دَ شهرت دَ وجې نه هم دَدغه څلورونوم په خصوصی توګه باندې په سلسله ولادت کښې اخستلې شی ګنی دَ حضورپاك نورې درې لونړه وغيره ټول په اهل بيت ولادت کښې داخل دی لکه چه حضرت زينب رضي الله عنها حضرت رقيه رضي الله عنها اوحضرت ام کلثوم رضي الله عنها دی.

③ اودريم بيت سکنی دې دَ رسول الله ﷺ ازواج مطهرات ته اهل بيت سکنی وئيلی شی کوم چه کوروالا وئيلی شی. ټولې ازواج مطهرات په دې بيت سکنی کښې داخل دی سره دَدې چه دَ اهل بيت رومبې مصداق ازواج مطهرات او هم دَ کور والا دی ليکن دَدې قسم تقسيم نه قرآن کريم او احاديث کښې استعمال شوې لفظ اهل بيت مفهوم په آسانئی سره په پوهه کښې راځی (خلاصه ازمظاهرحق)

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٦١٢٥] په څلورو صحابو د اهل بيت اطلاق

٦١٢٥ - (١) [١] ① عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ② «لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: ﴿نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ﴾ [آل عمران: ٦١] ③ دَعَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلِيًّا وَفَاطِمَةَ وَحَسَنًا وَحُسَيْنًا فَقَالَ: "اللَّهُمَّ هَؤُلَاءِ أَهْلُ بَيْتِي» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[1] اخرجه مسلم فی كتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالى عنهم/باب من فضائل علی بن أبي طالب رضی الله عنه (رقم-٣٢-٢٤٠٤) والترمذی فی كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة آل عمران (رقم-٢٩٩٩)

ترجمه: ① حضرت سعد ابن ابي وقاص ﷜ بیان کوي کوم وخت چې دا آیت ﴿قُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ﴾ نازل شو نورسول الله ﷺ علي ﷜ فاطمه ﷜ حسن ﷜ اوحسین ﷜ راوبلل او وي فرمایل خداونده دازما اهل بیت دي (مسلم)

حل اللغات:- ① نَدْعُ: مونږ به راوغواړو، رابه ولو ② أَهْلُ بَيْتِي: زما دکور خلق

تسهیلات:

قوله: نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ

د ایت شان نزول: دَ حضور پاك په مبارکه زمانه کښې دَ نجران یوځو عیسائی پادریان حضورپاك سره دَ بحث مباحثه اومناظرې دَپاره مدینې ته راغلې وو ځو ورځې بحث روان وو په دې دوران کښې الله تعالی آیت مباهله راؤلیګلو اوحضورپاك ته حکم ورکړې شو چه دغه پادریانوته دَمباهله دعوت ورکړه چنانچه حضورپاك دَخپل کور نه حضرت حسن اوحسین ﷠ اوبي بي فاطمه ﷞ اوحضرت علی ﷜ خان سره کړواوهغوی ته ئې دَ مباهله دعوت ورکړو دَهغوی پادریان هم میدان ته راغلل خوچه کله ئې حضورپاك سره دا نورانی مخونه اولیدل نودَهغوی مشر اووئیل خبردار مباهله مه کوئی ځکه چه دا خلق که دَالله تعالی نه دا دعااوکړی چه فلانکې غردې دَخپل ځائی نه اخواشی نوغریه تکړې تکړې شی کوشش اوکړئی چه معاهده اوشی جزئیه قبوله کړئی او واپس لاړشئی چنانچه هم دغه اوشو جزئیه منلوسره عیسایان واپس لاړل حضورپاك اوفرمائیل که چرې دې خلقو مباهله کړې وې نوټول به مسخ شوی ووا او اور به دوی سیزلې وې هیره کړې به ئې وو

اهل بیت دمباهله په میدان کښې: دَدې مباهله په وخت حضورپاك حضرت حسن حسین اوعلی اوفاطمه ﷡ ته اشاره کولوسره اوفرمائیل چه دا زما اهل بیت دی پورته چه دَاکوم لیکل اوشو چه دَاهل بیت درې اطلاقات دی نودا دَ اهل بیت ولادت والا اطلاق شو نبه سوچ کړئ

[٦١٣٦] داهل بیتو طهارت

٦١٣٦-(١) [٢] ① وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: ② «خَرَجَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- غَدَاةً وَعَلَيْهِ مِرْطٌ مُرَحَّلٌ مِنْ شَعْرٍ أَسْوَدَ، ③ فَجَاءَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ فَأَدْخَلَهُ، ثُمَّ جَاءَ الْحُسَيْنُ فَدَخَلَ مَعَهُ، ④ ثُمَّ جَاءَتْ فَاطِمَةُ فَأَدْخَلَهَا، ثُمَّ جَاءَ عَلِيٌّ فَأَدْخَلَهُ ⑤ ثُمَّ قَالَ: ﴿إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا﴾ [الفاتحة: ٣٣-٣٣٢٥]» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[1] اخرجه مسلم في كتاب فضائل الصحابة رضي الله تعالى عنهم /باب فضائل أهل بيت النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-٦١ - (٢٤٢٤) وابوداود في كتاب اللباس /باب في لبس الصوف والشعر (رقم-٤٠٣٢) والترمذي في كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء في فضل فاطمة رضي الله عنها (رقم-٣٨٧١) واحمد في المسند: ١٦٢/٦

ترجمه: ① اوبې بې عائشه رضی الله عنها بیان کوي ② یوه ورځ په سهار کښې حضور ﷺ راووتلو هغه وخت د حضور ﷺ په بدن مبارك د تورو وېښتو یو کمبل وو چې په هغه داوښ دکجاوړ تصویرونه جوړ شوي وه ③ دې کښې حسن ابن علي رضی الله عنه راغی او حضور ﷺ هغه خپل کمبل کښې دننه کړو بیا حسین رضی الله عنه حضور ﷺ هغه هم حسن رضی الله عنه سره کمبل کښې دننه کړو ④ بیا فاطمه رضی الله عنها راغله هغه یې هم هغوی سره کمبل کښې دننه کړه بیا علي رضی الله عنه راغی هغه یې هم هغوی سره کمبل کښې دننه کړه ⑤ بیا حضور ﷺ دا آیت اوونیلو ﴿إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا﴾ (ایت) یعنی اې اهل بیتو الله تعالی غواړي چې تاسو دګناهونو اودبدیو دپلیتی اوغیر اخلاقي اوغیر انساني خبرو میل کچیل کښې آلوده کیدو نه بچ کړي ځرنګه چې اکثر خلق آلوده کیږي او تاسو داسې پاک صاف وساتي ځرنګه چې پاک صاف کیدل پکار دي. (مسلم)

حل اللغات:- ① مِرْطٌ: كِسَاءٌ يَكُونُ مِنْ خَزٍّ وَصُوفٍ فِيهِ عَلَمٌ: د تورو وېښتو او وړۍ نه جوړ شوي څادر چه په هغې کښې نښې وي. ② مُرَحَّلٌ: یعنی څادر چه د کجاوې تصویرونه پرې جوړ وو (اوکه په جیم سره شي نود کتوئ تصویرونه مراد دي كما في رواية). ③ لِيُذْهِبَ: چه لرې کړي، ختم کړي. ④ الرِّجْسَ: هرقسم ګناه، پلیتي. ⑤ يُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا: تاسو دګناهونو څخه پاک صفا اوساتي.

تسهیلات: **قوله:** لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ

په آیت کښې د اهل بیت مصداق: په حدیث الباب کښې دَ ذکرشوې آیت مصداق دَدې خبرې واضح دلیل دې چه په دې ارشاد کښې دَ حضورپاك ازواج مطهراتو هم په اهل بیت کښې شامل دي څکه چه دَدې آیت نه مخکښې آیت کښې ﴿يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِنَ النِّسَاءِ﴾ په ذریعه ازواج مطهراتو ته خطاب اوکړې شو اودَدې آیت نه پس والا آیت ﴿وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَىٰ فِي بُيُوتِكُنَّ﴾ کښې هم خطاب ازواج مطهرات ته دې.

اشکال: که چرې دَ مذکوره آیاتونو دَ سیاق اوسباق نه دغه خبره معلومیدله نو بیا په آیت کښې ﴿عَنكُمُ الرِّجْسَ﴾ دَ مذکر ضمیر ولې راوړلې شو دَمؤنث ضمیر راوړل پکار وو؟

داشکال جواب: دَ مذکر ضمیر خو یا دَ اظهار عظمت دَپاره راوړلې شو یا دَ اهل بیت دَ سرو دَ فوقیت او اوچتوالی طرف ته اشاره مقصود وه

[٦١٣٧] د ابراهیم بن محمد دپاره په جنت کښې مرضعه

٦١٣٧-(٣) [٣] ① وَعَنِ الْبَرَاءِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «لَمَّا تُوُفِّيَ إِبْرَاهِيمُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② إِنَّ لَهُ مُرْضِعًا فِي الْجَنَّةِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

[1] اخرجه البخاري في كتاب الجنائز/باب ما جاء في عذاب القبر (رقم-١٣٧٢) وابن ماجه في كتاب الجنائز/باب ما جاء في الصلاة على ابن رسول الله صلى الله عليه وسلم وذكر وفاته (رقم-١٥١١) واحمد في المسند: ٤/ ٣٠٠

ترجمه:① او حضرت برا بن عازب رضي الله عنه وايي كوم وخت چې دبي بي ماريه قبطيه رضي الله عنها دخيټې نه دحضور ﷺ فرزند ابراهيم عليه السلام دتي په عمر كښې وفات شو ② نو رسول كريم ﷺ وفرمايل ابراهيم عليه السلام جنت كښې رسول شوي دي او جنت هغه دپاره يوه پئې وركونكې يعنى دايه مقرر شوي ده چې دهغه دسيدو وركولو زمانه به پوره كوي. (بخاري)

حل اللغات:- ① مُرْضِعًا: پئ، شودې وركونكې ښځه، دا ينړه.

تسهيلات:

قوله: لَمَّا تُوُفِّيَ إِبْرَاهِيمُ.

دابراهيم پيژندګلو: حضرت ابراهيم دَ ماريه قبطيه دَ بطن نه پيدا شوي وو رسول الله ﷺ ته دَمصر بادشاه مقوقس دَ عطيه په توګه يوه وينځه وركړې وه دَهغې نوم ماريه قبطيه وه هم دَ دغه وينځې دَ بطن نه ابراهيم پيدا شوي وو. دَشپاړلس اوولس مياشتو په عمر كښې دَ هغه انتقال شوي وو هم دَهغه متعلق حضور پاك فرمائي چونكه دَ هغه دَ پينوڅكلو زمانه وه لهذا الله تعالى دَهغه دَپاره يو دَ پئ وركونكې مقرر كړه چه ابراهيم ته په جنت كښې پئ وركوي. دَدې حديث نه معلومه شوه چه جنت دَ اوس نه موجود دې او پاك خلق اوس هم جنت ته داخلولې شي.

[٦١٢٨] د نبى عليه السلام بي بي فاطمې رضي الله عنها سره پټې خبرې كول

٣٨-() [٣] ① وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: «كُنَّا - أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عِنْدَهُ ② فَأَقْبَلَتْ فَاطِمَةُ مَا تَخْفَى مِشْيَتُهَا مِنْ مِشْيَةِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، ③ فَلَمَّا رَآهَا قَالَ: "مَرْحَبًا بِابْنَتِي" ④ ثُمَّ أَجْلَسَهَا، ثُمَّ سَارَّهَا، فَبَكَتْ بُكَاءً شَدِيدًا، ⑤ فَلَمَّا رَأَى حُزْنَهَا سَارَّهَا الثَّانِيَةَ، فَإِذَا هِيَ تَضْحَكُ، ⑥ فَلَمَّا قَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَأَلْتُهَا عَمَّا سَارَّكِ؟

ترجمه:① اوبي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې دنبي كريم ﷺ بيبياني دحضور ﷺ دمرض الموت نه څه مخكې يادا ايام مرض الموت په دوران كښې يوه ورځ حضور ﷺ سره ناستې وې ② چې فاطمه رضي الله عنها راغله دهغه دتګ وضع اوهيئت درسول كريم ﷺ دتګ دوضع اوهيئت نه ذره هم مختلف نه وو يعنى دحضور ﷺ دتلو آنداز سره دومره مشابه وو چې هيڅ ددې دواړو تګ كښې امتيازنه شوكولى ③ بهرحال حضور ﷺ چې فاطمه رضي الله عنها راتلونكې وليده نو وې فرمايل زما لوري مرحبا په خير راغلې بيا حضور ﷺ هغه خپله خواكې كينوله ④ او پټې پټې يې هغه سره خبرې وكړې دې كښې فاطمه رضي الله عنها په ژړا شوه او په زوره زوره يې وژړل ⑤ حضور ﷺ وليدل چې فاطمه رضي الله عنها ډيره غمجنه شوې ده نو بيا يې هغه سره غوږ كښې خبرې وكړې نو فاطمه رضي الله عنها

---

[1] اخرجه البخاري كتاب الاستئذان/باب من ناجى بين يدى الناس. ومن لم يخبر بسر صاحبه. فإذا مات أخبر به (رقم-٦٢٨٥) في ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب فضائل فاطمة بنت النبي عليها الصلاة والسلام (رقم-٩٨ (٢٤٥٠) وابن ماجه في كتاب الجنائز/باب ما جاء في ذكر مرض رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-١٦٢١)

یو دم په خندا شوه [٦] بیا چې رسول الله استنجا وغیره دپاره یا ما نخه دپاره دهغه خای نه لاړلو نو ما د فاطمې ﷺ نه پوښتنه وکړه چې ستا سره حضور ﷺ پټې پټې څه خبرې کولې

حل اللغات:- ① مِشْيَتُهَا: أي مَشْيَتُهَا: د بی بی فاطمې رضی الله عنها د تلو او ګرځیدو انداز او هیئت مراد دې. ② مَرْحَبًا: مرحب مصدر میمی دې بمعنی وسعت [أي أصاب القوم رحبا وسعة] دا لفظ هم د دې فعل مخدوف په وجه منصوب دې [رحب يرحب رحبا ومرحبا] د دې معنی وسعت او فراختیا ده ③ سَارَّهَا: أي كَلَّمَهَا سِرًّا: یعنی غلې غوندې په غوږ کښې څه خبره او کړه ④ حُزْنَهَا: غم او خفګان د بی بی فاطمې رضی الله عنها.

[١] قَالَتْ: مَا كُنْتُ لِأُفْشِيَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ سِرَّهُ، فَلَمَّا تُوُفِّيَ [٢] قُلْتُ: عَزَمْتُ عَلَيْكِ بِمَا لِي مِنَ الْحَقِّ لِمَا أَخْبَرْتِنِي. [٣] قَالَتْ: أَمَّا الْآنَ فَنَعَمْ؟ [٤] أَمَّا حِينَ سَارَّنِي فِي الْأَمْرِ الْأَوَّلِ فَإِنَّهُ أَخْبَرَنِي [٥] "إِنَّ جِبْرِيلَ كَانَ يُعَارِضُنِي الْقُرْآنَ كُلَّ سَنَةٍ مَرَّةً، وَإِنَّهُ عَارَضَنِي بِهِ الْعَامَ مَرَّتَيْنِ، [٦] وَلَا أُرَى الْأَجَلَ إِلَّا قَدِ اقْتَرَبَ، [٧] فَاتَّقِي اللَّهَ وَاصْبِرِي، فَإِنِّي نِعْمَ السَّلَفُ أَنَا لَكِ".

ترجمه: [١] فاطمې ﷺ جواب راکی د رسول الله ﷺ راز زه ښکاره ونکې نه یم هغه وخت خو زه خاموش شوم لیکن کله چې حضور ﷺ وفات شو د دې دنیا نه پرده وفرمایله [٢] نو یوه ورځ ما فاطمې ﷺ ته اووېل چې د یوې مور په حیثیت سره یا د یني اخوت او با همي محبت او تعلق لرلو د اعتبار نه په تا چې زما کوم حق دی د هغه واسطه او قسم درکولو سره درته و نیل غواړم چې زه ستا نه د دې نه علاوه نور هیڅ نه غواړم چې ماته د هغه غوږ کښې د خبرو باره کښې وښایه چې په هغه ورځ حضور ﷺ ستا سره کړي وي [٣] فاطمې ﷺ اووېل هو اوس چې حضور ﷺ د دې دنیا نه تشریف وړی دی د هغه راز ظاهرولو کښې څه حرج نه کېلې سره زه درته ښایم [٤] چې حضور ﷺ په اولنی خل ما سره غوږ کښې خبرې کړې وي نو هغه کښې یې ماته دا فرمایلي وه [٥] چې جبرائیل ﷺ به ما سره کالو سر کښې یو وار یعنی رمضان کښې د قرآن دوره کوله لیکن سږ کال رمضان کښې هغه ما سره دوه خله دوره وکړله [٦] او د دې مطلب ما د را وښکل چې زما د مرګ وخت نږدې راغلی دی [٧] نو ای فاطمې ﷺ زه تا ته وصیت کوم چې الله نه ویره کوه یعنی تقوی باندې قائمه اوسه یا دا چې خو مره در نه کیدی شي زیاته تقوی او پرهیزګاري اختیاروه او د الله اطاعت او عبادت کښې مشغوله اوسیږه او معصیت نه بچ کیدو دپاره کوم تکلیف او مشقت چې اوچتول وي او کوم آفت او حادثه چې پیښه شي خصوصا زما د مرګ په سانحه صبر کوه بلاشبه زه ستا دپاره بالخصوص بهتر پیش رویم

حل اللغات:- ⑤ لِأُفْشِيَ: د إِفْشَاء نه دې. أي أُذِيعَ وَأُظْهِرَ: چه زه نې ښکاره کړم ⑥ عَزَمْتُ: أي: أَقْسَمْتُ: یعنی زه تاته د الله تعالی قسم درکوم ⑦ يُعَارِضُنِي: أي يُدَارِسُنِي: لوستلو به نې ما سره ریوبل سره اړول او موازنه کول مراد دی. ⑧ الْأَجَلَ: أي: النِّهَايَةُ: آخری وخت، نیته. ⑨ نِعْمَ السَّلَفُ: أي: الْفَرَطُ: ښه پیش رو. مخکښې تلونکې او انتظام کونکې

[۱] فَبَكَيْتُ، [۲] فَلَمَّا رَأَى جَزَعِي سَارَّنِيَ الثَّانِيَةَ [۳] فَقَالَ: "يَا فَاطِمَةُ" أَلَا تَرْضِينَ أَنْ تَكُونِي سَيِّدَةَ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ أَوْ نِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ؟". [۴] وَفِي رِوَايَةٍ: فَسَارَّنِي فَأَخْبَرَنِي أَنَّهُ يُقْبَضُ فِي وَجَعِهِ، [۵] فَبَكَيْتُ، [۶] ثُمَّ سَارَّنِي [۷] فَأَخْبَرَنِي أَنِّي أَوَّلُ أَهْلِ بَيْتِهِ أَتْبَعُهُ، [۸] فَضَحِكْتُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] (داخوهغه خبره وه چې دهغه اوریدو سره اودحضور ﷺ دجدایي احساس کولو سره، زه په ژړا شوم [۲] وبیاچې حضور ﷺ زه زیاته پریشانه اوبې صبره ولیدم نودوباره ما سره غوږ کښې خبري وکړي [۳] وهغه وخت یې دا وفرمایل اې فاطمه ﷺ ایاته په دې خبره خوشحاله نه یې چې ته به جنت کښې دټولو ښځو یاخاص طور سره ددې امت دښځو سرداره جوړه شې دې (اوریدو سره زه خوشحاله شوم) [۴] ویوروایت کښې دبې بې فاطمې ﷺ دا الفاظ منقول دي چې حضور ﷺ په اولنی خل ما سره غوږ کښې خبري وکړي نوهغه کښې یې دافرمایلي وه چې حضور ﷺ به په دې بیماري کښې وفات کیږي [۵] اودې اوریدو سره زه په ژړا شوم [۶] بیاپه دویم خل چې حضور ما سره غوږ کښې خبري وکړي [۷] نوهغه کښې ماته داخو دلې وه چې دحضور ﷺ په اهل بیتو کښې به دټولوځه مخکې زه حضور ﷺ سره یوځاې کیږم (یعنی داتسلي یې راکړي وه چې پریشانه کیږه مه زما دوفات نه روسته به ډیر ژرته هم ددې دنیا نه رخصت کیدو سره ماته راشې) نودې اوریدو سره زه په خندا شوم (بخاري ومسلم)

حل اللغات:-[۱۰] جَزَعِي: أَيْ: قِلَّةَ صَبْرِي: ژړا او فریاد، بې صبری، [۱۱] سَيِّدَةَ: سرداره، مشره

تسهیلات: قوله: عَزَمْتُ عَلَيْكِ:

د نبی علیه السلام د پټې خبرې معلومات کول: یعنی زه تاته دَ الله تعالی قسم درکوم اودَمورولی په واسطه هم درته قسم درکوم چه ماته اوښایه چه حضورپاك درته څهٔ فرمائیلي وو اوس خودَ حضورپاك دَ وفات سره راز هم راز پاتې نه شو

قوله: سَيِّدَةَ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ:

د اهل بیت د دریو زنانو په فضیلت کښې اختلاف: دَحضرت فاطمه ﷺ حضرت عائشه ﷺ اوحضرت خدیجه ﷺ په خپل مینځ کښې فضیلت کښې دَعلماؤ مختلف اقوال دی چه په دوی کښې علی الاطلاق کومه افضل ده؟ علامه سیوطی لیکلی دی چه دَحضرت فاطمه ﷺ اوحضرت عائشه ﷺ په افضلیت کښې دَعلماؤ درې مسلکه دی

① دَ ټولو نه راجح مسلك دادې چه حضرت فاطمه ﷺ دَ حضرت عائشه ﷺ نه افضل ده دَامام مالك ﷺ نه چه کله دَدې افضلیت باره کښې تپوس اوکړې شو نو هغوی اوفرمائیل چه حضرت فاطمه ﷺ دَ حضورپاك دَ غوښې ټکره ده اوزه دَ پیغمبر دَ غوښې په ټکره باندې چاته فضیلت نه شم ورکولې.

② بعضې علماؤ دَ دوارو مرتبه يو شان ګرځولې ده.
③ اوبعضې علماؤدې باره کښې سکوت اختيارکړې دې.
علامه سبکی رحمه الله او نورو علماؤ دَدې بيبيانو باره کښې ليکلی دی چه معتبر مسلك داد ې چه حضرت فاطمه رضي الله عنها دَ ټولو نه افضل ده بيا حضرت خديجه رضي الله عنها ده او بيا حضرت عائشه رضي الله عنها ده
④ بعضې نوروعلماؤ يوه ښه خبره ليکلې ده چه په اصل کښې حيثيتونه او اعتبارات مختلف دی هم دَدغه حيثيات او اعتبارات په بنياد باندې فضيلت ورکولو کښې مختلف تعبيرات راغلی دی. حضرت خديجه رضي الله عنها اقدم ايمانًا ده. حضرت عائشه رضي الله عنها اشدها حبًا دی او حضرت فاطمه بضعة جسداً ده.
د فاطمه رضي الله عنها اولاد: دَحضرت فاطمه رضي الله عنها نکاح ٢هجری کښې شوې وه اوحسن حسين اومحسن اوزينب اورقيه او ام کلثوم دَهغوی دَ بطن نه پيدا شو. روستو دَام کلثوم نکاح حضرت عمر رضي الله عنه سره اوشوه نوحضرت عمرفاروق رضي الله عنه دَ حضرت علی رضي الله عنه خوم دې سره دَدې چه شيعه ګان به سوزيږی.

[٦١٣٩] دفاطمې غوصه کول د نبی عليه السلام غصه کول

٣٠-() [٥] ① وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«فَاطِمَةُ بَضْعَةٌ مِنِّي، فَمَنْ أَغْضَبَهَا أَغْضَبَنِي» ". ③ وَفِي رِوَايَةٍ: "يُرِيبُنِي مَا أَرَابَهَا، ④ وَيُؤْذِينِي مَا آذَاهَا". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت مسور ابن مخرمه نه روايت دی چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ② فاطمه خما د غوښې ټکره ده چاچې فاطمه خفه کړه هغه زه خفه کړم ③ او په يوه روايت کې دا الفاظ هم دی کوم شی چې فاطمې ته بد معلوميږي هغه ماته هم بد معلوميږي ④ او کوم شی چې فاطمې ته تکليف ورکوي هغه ماته هم تکليف راکوي (بخاري مسلم)
حل اللغات:- ① بَضْعَةٌ: أَيْ قِطْعَةُ لَحْمٍ: د غوښې يوه حصه او ټکره. ② أَغْضَبَهَا: خفه نې کړه، غصه نې کړه فاطمه رضی الله عنها. ③ يُرِيبُنِي: أَيْ يُقْلِقُنِي: بد معلوميږی ماته، په شک کښې اچوی ما لره.
④ يُؤْذِينِي: تکليف راکوی ماته

تسهيلات: قوله: فَمَنْ أَغْضَبَهَا أَغْضَبَنِي،
د حديث شان ورود: حضرت علی رضي الله عنه دَ ابوجهل لور سره دَ نکاح اراده کړې وه. په دې

---

[١] اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب مناقب فاطمة عليها السلام وقال النبي صلى الله عليه وسلم: «فاطمة سيدة نساء أهل الجنة» (رقم-٣٧٦٧) ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضي الله تعالى عنهم/باب فضائل فاطمة بنت النبي عليها الصلاة والسلام (رقم-٩٤ - (٢٤٤٩) وابوداود في كتاب النكاح/باب ما يكره أن يجمع بينهن من النساء (رقم-٢٠٧١) والترمذي في كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في فضل فاطمة رضي الله عنها (رقم-٣٨٦٩)

باندي حضورپاك په عام خطبه كښې دا كلام فرمائيلي وو دانكاح منع نه وه مگر حضورپاك اوفرمائيل دَالله تعالى دَ دښمن لور اودَ الله تعالى دَ رسول لور په يو ځائى په يوه نكاح كښې جمع كول مناسب نه دى او په دې كښې دَ فاطمه په فتنه او ازميښت كښې دَ پريوتلو خطره ده. دَحضورپاك زړه ته دَ درد رسيدو خطره ده نودَدې عارضى امورو دَ وجې حضورپاك منع كړو گنى په اسلام كښې منع نه وه.

[٦١٤٠]امت ته داهل بيتو باره كښې تاكيد

۳۰-() [٦] ① وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ② «قَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمًا فِينَا خَطِيبًا بِمَاءٍ يُدْعَى: خُمًّا، بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ، فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ. ③ وَوَعَظَ وَذَكَّرَ ④ ثُمَّ قَالَ: " ⑤ أَمَّا بَعْدُ. أَلَا أَيُّهَا النَّاسُ! إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ، ⑥ يُوشِكُ أَنْ يَأْتِيَنِي رَسُولُ رَبِّي ⑦ فَأُجِيبَ، ⑧ وَأَنَا تَارِكٌ فِيكُمُ الثَّقَلَيْنِ: أَوَّلُهُمَا كِتَابُ اللَّهِ، فِيهِ الْهُدَى وَالنُّورُ، ⑨ فَخُذُوا بِكِتَابِ اللَّهِ وَاسْتَمْسِكُوا بِهِ " ⑩ فَحَثَّ عَلَى كِتَابِ اللَّهِ ⑪ وَرَغَّبَ فِيهِ،

توجمه: ① او حضرت زيد بن ارقم وايي ② رسول الله ﷺ يوه ورځ د مكي او مديني په منځ كې اوبو والامقام باندې چې هغه ته يي خم وئيل خطاب عام د پاره زمونږ مخكې ودريدو سره مخكې د ﷺ حمد او ثناء وكړه ③ بيا خلقو ته يي (د ښوخبرو او نيكو خبرو او نيكو اعمالو) نصيحت وفرمايه هغوئ ته يي(د الله د ثواب او عذاب ياد وركى او د غفلت اوكوتاهي خلاف ئي) آگاه كړل ④ بيايي وفرمايل ⑤ اې خلقو! زه ستاسو په شان يو انسان يم (دې امتياز سره چه ﷺ ستاسو د هدايت د پاره زه خپل رسول جوړولو سره راليږلى يم او په ما وحي راځي) ⑥ هغه وخت نزدې دى چې ځما د پروردگار استازى (يعنى ملك الموت عزرائيل مادې دنيا نه بوتللو د پاره يا خو تنها جبرائيل سره) راشي ⑦ او زه د خپل پروردگار حكم قبول كړم ⑧ زه ستاسو په منځ كې هغه عظيم او نفيس څيزونه پريږدم چې په هغه كې يوكتاب الله دى چې په هغه كې هدايت (يعنى د دين دنيا فلاح او كاميابي ته د بوتلونكې راه راست) بيان دى او نور دى ⑨ نو تاسو كتاب الله مضبوط ونيسئ(يعنى د خپل مسائلو حل د دې په رڼا كې تلاش كئ) داخپل رهنما او مستدل جوړ كئ (دا يادولو سره خپلو سينو كې يي محفوظ كئ او د دې ع لوم ومعارف حاصل كئ) ⑩ (غرض داچې حضور ﷺ خلقوته) د كتاب الله په حقله ښه جوش (ترغيب) وركړى ⑪ او هغه طرف ته يي راغب كړل

حل اللغات:- ① يُدْعَى: أي: يُسَمَّى: نوم ورته اخستلې شو ② خُمًّا: په مكه مكرمه كښې دجحفه مقام نه درې ميله فاصله كښې يوځائى دې هغې ته غدير خم وائى ③ ذَكَّرَ: أَيْ: نَبَّهَهُمْ مِنْ نَوْمِ غَفْلَتِهِمْ: د غفلت او كوتاهئ خلاف ئې خبردار كړل ④ الثَّقَلَيْنِ: أَيِ: الْأَمْرَيْنِ الْعَظِيمَيْنِ: دوه لوئې او ضرورى

[1] اخرجه مسلم فى كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب من فضائل على بن أبى طالب رضى الله عنه (رقم-۳٦-(۲٤۰۸) واحمد فى المسند:۳/۱٤

خیزونه. (اصل کښې ثقل هغه بار او بوج ته وائی کوم چه په خاروی باندې بار کړې شوې وی چونکه په دې احکامو باندې عمل کول په انسانانو باندې بار کړې شوی دی ځکه ورته ثقلین اوونیلی شو) ⑤الهُدَى: أي: الهِدَايَة: هدایت یعنی د گمراهۍ نه په سمه لار راتلل. ⑥النُّور: رنړا یعنی د زړه رنړا کومه چه دنیا کښې د ایمان او استقامت سبب گرځی اوپه قیامت کښې به هم د رنړا سبب وی. ⑦خُذُوا: اونیسئ (دا قرآن) یعنی یاد ئې کړئ او عمل پرې اوکړئ. خپل مسائل او فیصلې په قرآن کوئ ⑧فَحَثَّ: أي: فَحَرَّضَ: ترغیب ئې ورکړو، جوش ئې رابیدار کړو په صحابه کرامو کښې. ⑨رَغَّبَ: أي: ذَكَرَ المُرَغِّبَاتِ: ترغیب ئې ورکړو، په خلقو کښې ئې شوق او مینه رابیداره کړه.

[۱]ثُمَّ قَالَ: [۲]وَأَهْلُ بَيْتِي، [۳]أُذَكِّرُكُمُ اللَّهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي، [۴]أُذَكِّرُكُمُ اللَّهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي» ". [۵]وَفِي رِوَايَةٍ: " «كِتَابُ اللَّهِ هُوَ حَبْلُ اللَّهِ، [۶]مَنِ اتَّبَعَهُ كَانَ عَلَى الْهُدَى، [۷]وَمَنْ تَرَكَهُ كَانَ عَلَى الضَّلَالَةِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] بیایې وفرمایل [۲](او دې دوه عظیم خیزونو کې دویم شی) ځما اهل بیت دی [۳] زه تاسو ته د الله هغه عذاب یادوم چې ځما د اهل بیتو (د حقوقو په آدائیگۍ کې د کوتاهۍ او تقصیر) په سبب به وي [۴] زه دوباره تاسو ته د الله هغه عذاب رایادوم چې ځما د اهل بیتو (د حقوقو په آدائیگۍ کې د کوتاهۍ) په سبب به وي [۵] او په یوه روایت کې دی چې (په هغه کې د کتاب الله په ځای دا الفاظ دي) کتاب الله د الله رسئ ده [۶] کوم سړی چې د کتاب الله اطاعت کوي (یعنی په هغه ایمان راوړی هغه یادوی اخلاص سره د هغه علم حاصلوی او په هغه عمل کوي .) نو هغه به په حق وي [۷] او کوم سړی چې هغه پریږدي (یعنی نه خو باندې ایمان راوړی نه یې یادوی نه د هغه علم او عمل کې مخلص وي) نو هغه به گمراه وي. (مسلم)

حل اللغات:- ⑩أُذَكِّرُكُمْ: أي: أُحَذِّرُكُمُوهُ: زه تاسو ویروم (په حق د اهل بیتو کښې چه دهغوی د عزت او احترام حفاظت به کوئ. ⑪حَبْلُ اللَّهِ: أي: مَا يُوَصِّلُ الْعَبْدَ إِلَى رَبِّهِ: د الله رسئ، د کوم په ذریعه چه بنده خپل رب ته رسیدې شی

نوټ: په حدیث کښې د گرانو لغاتو حل شوې دې باقی مضمون آسان دې

[۶۱٤۱] جعفر رضی الله عنه ته د ابن ذالجناحین لقب ورکول

۶۱۳۰-( ) [۷] [۱]وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - أَنَّهُ كَانَ إِذَا سَلَّمَ عَلَى ابْنِ جَعْفَرٍ قَالَ: [۲]السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا ابْنَ ذِي الْجَنَاحَيْنِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن عمر وایي چې هغه به کله د حضرت جعفر بن ابي طالب خوی عبد الله ته سلام کوی نو داسې به یې وئیل [۲] اې د دوو وزرو والا خویه! په تا دې سلامتیا وي (بخاري)

حل اللغات:- ①ذِي الْجَنَاحَيْنِ: دوؤ وزرو والا نبی علیه السلام ولیدل چه جعفر په جنت کښې د فرشتو سره الوځی نو د ذی الجناحین لقب ئې ورته ورکړو.

[۱] اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب مناقب جعفر بن أبي طالب الهاشمي رضي الله عنه (رقم-۳۷۰۹)

تسهیلات:

قوله: السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا ابْنَ ذِي الْجَنَاحَيْنِ،

د ذو جناحین وجه تسمیه: رومیانوسره په اتم هجري کښې مقام موته باندې جنګ موته شوې وو په دې مشهور جنګ کښې د حضرت زید بن حارثه ﷺ د شهادت په وجه روستو امیر کیدو په حیثیت جنګي جهنډا د حضرت جعفر ﷺ په لاس کښې وه یو کافر په هغه باندې حمله اوکړه اولاس ئې ترې پرې کړو هغه جهنډا دویم لاس کښې اونیوله کافر هغه هم پرې کړو هغوی جهنډا په خله او سینه کښې راګیره کړه هغه کافر د هغه په شا باندې حمله اوکړه په کوم سره چه د هغه بدن دوه ټکړې شواو شهید شو الله تعالی هغه ته په جنت کښې دوه وزرې ورکړې د کوم په ذریعه چه هغه په جنت کښې الوتلو هم په دې اعتبارسره هغه ته "ذوالجناحین" یعنی د دوو وزرووالاوائي دلته د جعفر خوئي عبدالله مراد دې

[٦١٤٢] حسن بن علی د نبي علیه السلام په اوږو باندې

٦١٣٢ - ( ) [٨] [١] وَعَنِ الْبَرَاءِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ عَلَى عَاتِقِهِ يَقُولُ: [٣] "اللَّهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُ فَأَحِبَّهُ"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت براء وایي [٢] ما یوه ورځ حضور ﷺ داسې حال کې اولیدلو چې حسن ابن علي ﷺ د حضور ﷺ په اوږه سپور وو او حضور ﷺ وفرمایل [٣] اې الله زه ده سره ډیر محبت کوم ته هم دده سره محبت وکړه. (بخاري مسلم)

تسهیلات:

قوله: وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ عَلَى عَاتِقِهِ،

دحسن رضی الله عنه مختصر تعارف: په حدیث الباب کښې دی چه د حضورﷺ دا دعا قبوله شوه کله چه الله تعالی او د هغه رسول ﷺ حضرت حسن ﷺ محبوب جوړ کړو نو په هر مسلمان باندې لازم دی چه هغه دې حضرت حسن ﷺ سره محبت اوساتي دې د جنتي خوانانو سردار دې د دوی کنیت ابومحمد دې د دوی پیدائش ۳ هجری ۱۵ رمضان المبارك باندې شوې او ۵۵ هجری کښې فوت شوې دې او بعضې حضراتو د دوی د وفات کال کښې مختلف اقوال لیکلی دی ① ۵۸هجری ② ۴۹ هجری ③ ۴۴هجری

دحسین رضی الله عنه مختصر تعارف:

د حضرت حسن ﷺ کشر رور حضرت حسین ﷺ کنیت ابو عبدالله دې دې په کال ۴هجری د شعبان د میاشتې په پنځم تاریخ باندې پیدا شوې او د حضرت حسن ﷺ نه

[١] اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب مناقب الحسن والحسين رضى الله عنهما (رقم-٣٧٤٩) ومسلم فى كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب فضائل الحسن والحسين رضى الله عنهما (رقم-٥٩ - (٢٤٢٢) والترمذي فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٧٨٣)

صرف لس میاشتې درې ورځې کشر وو. ۱۰ محرم ۶۱ هجری د جمعې په ورځ د کربلا په زمکه کښې هغوی ؓ شهید کړې شو یو روایت کښې دی چه سنان بن انس نخعی هغوی ؓ لره شهید کړل او بعضو وئیلی دی شمر ذی الجوشن شهید کړو او د ابن زیاد نه ئې انعام اوغوښتلو

[٦١٤٢] حسن سره د نبی کریم ﷺ مینه

۳۲-()[۹] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «خَرَجْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي طَائِفَةٍ مِنَ النَّهَارِ [۳] حَتّٰى أَتٰى خِبَاءَ فَاطِمَةَ [۴] فَقَالَ: "أَثَمَّ لُكَعُ؟ أَثَمَّ لُكَعُ؟" [۵] يَعْنِي حَسَنًا [۶] فَلَمْ يَلْبَثْ أَنْ جَاءَ يَسْعٰى [۷] حَتّٰى اعْتَنَقَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا صَاحِبَهُ [۸] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۹] "اللّٰهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُ فَأَحِبَّهُ [۱۰] وَأَحِبَّ مَنْ يُحِبُّهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ؓ وائي [۲] زه د رسول الله ﷺ سره د ورځې یوه حصه کې ووتم [۳] هر کله چې حضور ﷺ د بي بي فاطمې ؓ کورته ورسیدی [۴] نو پوښتنه یې وکړه آیا دلته وړوکې ماشوم شته آیا دلته کاکې شته؟ [۵] د حضور ﷺ مراد حضرت حسن وو، چې د هغه تلاش کولو ته حضور ﷺ راغلی وو [۶] اوس لا حضور ﷺ خو لمحې تیرې کړې وې چې حسن په منډه راغلې [۷] بیا حسن حضور ﷺ سره او حضور ﷺ هغه سره غاړه په غاړه شول [۸] بیا رسول الله ﷺ وفرمایل [۹] خدایه! زه د ده سره محبت کوم ته هم د ده سره محبت وکړې [۱۰] او هغه سړي سره هم محبت وکړې چې د ده سره محبت کوي (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① خِبَاءَ: أَيْ بَيْتَهَا: کور د بی بی فاطمې رضی الله عنها. ② أَثَمَّ: أَيْ أَهُنَاكَ: آیا شته دې دلته. ③ لُكَعُ: الصَّبِيُّ الصَّغِيرُ: وړوکی ماشوم ته وائی (د ډیر رحمت او شفقت په وجه ئې ورته داسې نوم واخستلو) ④ اعْتَنَقَ: غاړه ئې ورکړه (یو بل ته)

تسهیلات:

قوله: فَقَالَ: "أَثَمَّ لُكَعُ؟ أَثَمَّ لُكَعُ؟

د لفظ لکع تحقیق او استعمال: د اصل لغت په اعتبار سره خو لکع د الف لام په ضمه او کاف زبر سره غلام ته وائی بیا په احمق او خسیس باندې د دې اطلاق اوشو بیا په وړو ماشومانو کښې هم استعمالیدلو دلته د شفقت په توګه د وړوکی ماشوم د پاره استعمال شوې دې یعنی دلته وړوکې دې منونې دې

اخرجه البخاری فی کتاب البیوع/باب ما ذکر فی الأسواق (رقم-۲۱۲۲) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب فضائل الحسن والحسین رضی الله عنهما (رقم-۵۷ - (۲٤۲۱) وابن ماجه فی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل الحسن والحسین ابنی علی بن أبی طالب رضی الله عنهم (رقم-۱٤۲) واحمد فی المسند: ۲٤۹/۲

[٦١٤٤] امام حسن نبي عليه السلام سره په منبر باندې

۳۳-()[۱۰] [۱] وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَلَى الْمِنْبَرِ [۳] وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ إِلَى جَنْبِهِ [۴] وَهُوَ يُقْبِلُ عَلَى النَّاسِ مَرَّةً وَعَلَيْهِ مَرَّةً، [۵] وَيَقُولُ: "إِنَّ ابْنِي هَذَا سَيِّدٌ، [٦] وَلَعَلَّ اللّٰهَ أَنْ يُصْلِحَ بِهِ بَيْنَ فِئَتَيْنِ عَظِيمَتَيْنِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوبكره ﷺ بيان كوي [۲] يوه ورځ ما رسول الله ﷺ په داسې حال كې په منبر باندې خطبه ويلو كې اوليدلو [۳] چې حسن ابن علي د حضور ﷺ بنې يا چپه اړخ كې وو [۴] كله به حضور ﷺ (په وعظ او نصيحت كې مخاطب كولو) خلقو طرف ته كتل او كله به (د ميني محبت نه ډك نظر سره) حسن بن علي طرف ته كتل [۵] او فرمايل يې خما داخوى سيد دى [٦] اميد ساتل پكار دي چه الله تعالى د ده په ذريعه د مسلمانانو دوو لويو ډلو كې صلح وكړي. (بخاري)

حل اللغات:- ① يُقْبِلُ: متوجه كيدلوبه، كتل به ئې، ② فِئَتَيْنِ: د فئة تثنيه ده، دوه ډلې يوه ډله د اميرمعاويه ﷺ او دويمه دحضرت علي ﷺ (دحضرت علي ﷺ نه پس حضرت حسن ﷺ خليفه شو اوحضرت اميرمعاويه ﷺ سره ئې صلح اوكړه).

تسهيلات:

قوله: وَلَعَلَّ اللّٰهَ أَنْ يُصْلِحَ بِهِ،

د پيشنګوئي ظهور: دا دَصلح نه جوړدي. دَ حضورپاك دَارشاد مطلب دادې چه حسن ﷺ څه معمولي هستي نه ده دا لوئي سردار دې. دَده په وجه به ان شاء الله دَ مسلمانانو په دوو لويو جماعتونوكښې صلح كيږي اوذې به پخپله صلح كوي. دا پيشنګوئي هغه وخت پوره شوه كله چه حضرت علي ﷺ شهيد كړې شو اوحضرت حسن ﷺ خلافت باندې كيناستو. تقريبًا شپږ مياشتو پورې دوى خليفه وو بيا هغوى حضرت مغاويه ﷺ سره صلح اوكړه اودَ خلافت نه ئې لاس واخستو اومسلمانان دَ يوې جهنډې لاندې راجمع شو حضرت حسن ﷺ سره څلويښت زره مسلح مسلمانان راپاسيدلي وو اودَ هرقسم جنګ او مقابله عهدنى كړې وو ليكن حضرت حسن ﷺ اوفرمائيل دَدې امت دَ وينې يو څاڅكې هم نه تويول غواړم بغيردَ څه مجبورئى او بغيردَ څه لالچ نه ئې خلافت پريخودو اومسلمانان ئې رايوځائې كړل اګرچه دَ هغه زماني منافق قسم شيعه ګانو دې اقدام ته دَنفرت په نظر سره اوكتل او حضرت حسن ﷺ ته ئې بدې ردې اووئيل اومخامخ راغله وئې ونيل "السلام عليك

---

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الصلح/باب قول النبي صلى الله عليه وسلم للحسن بن علي رضي الله عنهما: وابني هذا سيد، ولعل الله أن يصلح به بين فئتين عظيمتين» وقوله جل ذكره: {فأصلحوا بينهما} [الحجرات: ۹] (رقم-۲۷۰٤) وابوداود في كتاب السنة/باب ما يدل على ترك الكلام في الفتنة (رقم-٤٦٦۲) والترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۷۷۳) والنسائي في كتاب الجمعة/باب مخاطبة الإمام رعيته وهو على المنبر (رقم-۱٤۱۰)

باعار المؤمنين" حضرت حسن رضي الله عنه په ډير صبر او تحمل سره او فرمائيل "اختار العار على النار" ته پورې شيعه ګان د دې معاهدې د وجې د حضرت حسن رضي الله عنه خخه ناراض دی او کيدې شي چه روستو هم د دغه معاهده شيعه ګانو هغه ته زهر ورکولو سره شهيد کړو او ترننه پورې نې د هغوی په حمايت کښې يوجلوس هم اونه ويستلو خکه چه په حقيقت کښې دوی په دې خوشحال دی

قوله: بَيْنَ فِئَتَيْنِ عَظِيمَتَيْنِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ،

دمعاويه رضى الله عنه په ولله دمسلمان اطلاق: په دې حديث کښې د حضرت على رضي الله عنه او حضرت معاويه رضي الله عنه دواړو جماعتونو ته حضورپاك د مسلمانانو عظيم جماعتونه ګرځولي دی دکوم نه چه اندازه کيږی د دواړو طرفونه مسلمانان وو حضرت على رضي الله عنه په حق وو او حضرت معاويه رضي الله عنه په اجتهادی خطاباندې وو.

[٦١٤٥] حسن او حسين د نبى عليه السلام د باغ ګلان

د-۳-() [٥] ① وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي نُعْمٍ، قَالَ: ② «سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - ③ وَسَأَلَهُ رَجُلٌ عَنِ الْمُحْرِمِ، ④ قَالَ شُعْبَةُ أَحْسِبُهُ، يَقْتُلُ الذُّبَابَ؟ ⑤ قَالَ: أَهْلُ الْعِرَاقِ يَسْأَلُونِي عَنِ الذُّبَابِ. ⑥ وَقَدْ قَتَلُوا ابْنَ بِنْتِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ⑦ وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " هُمَا رَيْحَانَتَيَّ مِنَ الدُّنْيَا» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① حضرت عبد الرحمن بن ابي نعم وايي ② ما د حضرت عبد الله ابن عمر نه واوريدل ③ هر کله چې (اهل کوفه نه) يو سړی د محرم په باره کې پوښتنه کړي وه ④ (دا روايت حضرت عبد الرحمن نه روايت کونکی راوي) حضرت شعبه وايي خما خيال دی چې پوښتنه کونکی د مچ وژلو حکم معلوم کړی وو ⑤ په دې حضرت ابن عمر وفرمايل د عراق (يعنى کوفي خلق) زما نه د مچ وژلو په باره کې شرعي حکم معلوموي ⑥ حالانکه دوی د رسول الله ﷺ د لور خوی و وژلې ⑦ چې د هغه متعلق رسول الله ﷺ دا فرمايلي وه چې دا دواړه خما د دنيا دوه ګلان دي (بخاري)

حل اللغات:- ① اَلْمُحْرِمِ: چه احرام ئې تړلې وی. ② اَلذُّبَابَ: مچ. ③ رَيْحَانَتَيَّ: د ريحان تثنيه ده. يو قسم خوشبودار ګل دې. کشمالو خوی. راحت. رحمت. روزی. آرام او سهولت ته او هر خوشبودار ګل ته هم ريحان وائی.

[1] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب مناقب الحسن والحسين رضی الله عنهما (رقم-۳۷۵۳) والترمذی فی کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب مناقب أبی محمد الحسن بن علی بن أبی طالب والحسين بن علی بن أبی طالب رضی الله عنهما (رقم- ۳۷۷۰)

تسهيلات:

قوله: وَسَأَلَهُ رَجُلٌ عَنِ الْمُحْرِمِ،

د کوفی تپوس او د ابن عمر جواب: حدیث الباب کښې دی چه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما هغه کوفی ته ښه ژور جواب ورکړو. کوفی دا سوال کړې وو که چرته مونږ کښې څوك دَ احرام په حالت کښې مچ اووژنی نو په هغه باندې به دم راځی که نه؟ په دې باندې حضرت ابن عمر رضی الله عنهما جواب ورکړو چه دا کوفې والا زما نه دَمچ وژلو باره کښې دَ شرعی حکم تپوس کوی لکه چه دا ظاهروی چه مونږ دَ شریعت ډیر منونکی یو حالانکه دا هغه خلق دی چا چه ډیر په بې دردئی سره دَ رسول الله ﷺ نمسې شهید کړې دې حالانکه دَ هغه متعلق حضور پاك فرمائیلی وو چه دا دواړه زما دَ دنیا گلونه دی.

قوله: رَيْحَانَيَّ

د ريحان معانی: دَدې مختلف معانی راځی. رزق ته هم وائی خوشبو ته هم ریحان وئیلې شی. دغه شان راحت، روزی، رحمت، آرام او سهولت او هم په دې مناسبت سره خوئی ته هم ریحان وائی ځکه چه په خوئی سره هم زړه ته راحت او دَ سترگو یخوالې حاصلیږی.

[٦١٤٦] رسول ﷺ سره د حسنينو جسمانی مشابهت

٦١٤٦-(۱) [۳] ① وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ② لَمْ يَكُنْ أَحَدٌ أَشْبَهَ بِالنَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنَ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ، ③ وَقَالَ فِي الْحُسَيْنِ أَيْضًا: ④ كَانَ أَشْبَهَهُمْ بِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① حضرت انس رضی الله عنه وايي ② درسول الله ﷺ سره د ټولو نه زيات مشابهت لرونکی د حسن بن علي رضی الله عنه نه علاوه بل څوك نه وو ③ او حضرت انس د حضرت حسين په باره کې هم اوويل ④ چې هغه هم درسول الله ﷺ سره زيات مشابه وو. (بخاري)

حل اللغات: - ① أَشْبَهَ: دَ باب افعال نه دَفعل ماضی صیغه ده چه دَ شابه په معنی کښې دې یعنی زیات مشابه، په شکل اوصورت کښې یوشان.

تسهيلات:

قوله: لَمْ يَكُنْ أَحَدٌ أَشْبَهَ بِالنَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنَ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ،

نبی علیه السلام سره د حسنينو مشابهت: دَحدیث الباب حاصل دادې چه حضرت حسن او حضرت حسین رضی الله عنهما دَرسول کریم ﷺ هم شکل وو حضرت حسن رضی الله عنه دَ پورته نیمې حصې کښې او حضرت حسین رضی الله عنه په ښکته نیمې حصې کښې دَ سرور کائنات ﷺ په شان وو

[1] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب مناقب الحسن والحسین رضی الله عنهما (رقم-۳۷٤۸) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۷۷۸)

[٦١٤٧] د ابن عباس ﷺ د پاره د علم او حکمت دعا

٣٧-()[٣][١]«وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [٢] ضَمَّنِي النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِلَى صَدْرِهِ فَقَالَ: [٣] "اللَّهُمَّ عَلِّمْهُ الْحِكْمَةَ» ". [٤] وَفِي رِوَايَةٍ: "عَلِّمْهُ الْكِتَابَ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت ابن عباس ﷺ بيان کوي [٢] رسول الله ﷺ زه خپلې سينې مبارکې سره لګولو سره وفرمايل [٣] خداونده! ده ته حکمت ورکړې [٤] او په يوه روايت کې د دعا دا الفاظ راغلي دي چې خداونده! ده ته د کتاب الله علم ورکړې (بخاري)

حل اللغات:- ① ضَمَّنِي: أَيْ أَخَذَنِي: سينې سره ئې يوځاني کړم، په غيږکښې ئې اونيولم ② الْحِكْمَةَ: أَيْ: إِتْقَانَ الْعِلْمِ وَالْعَمَلِ: پوخ او زور علم او عمل ته حکمت وائی (پخه خبره، پوهه، عقلمندي، حاضرجوابی، په حق او باطل کښې فرق کول دې ټولو باندې د حکمت اطلاق کيږي).

تسهيلات:

قوله: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا-

د ابن عباس مختصر تعارف:

ابن عباس ﷺ دَ هجرت نه درې کاله مخکښې پيدا شوې وو او کله چه دَ حضورپاك وصال اوشو نوهغه وخت دَ ابن عباس ﷺ عمر ديارلس کاله وو. هغه جبرائيل ﷺ دوه ځل ليدلي وو. حضورپاك دَهغه دَ پاره مذکوره دعا اوکړه. هغه په مقام طائف ٦٨هجرى کښې دَ ٧١ کالو په عمر کښې وفات شو.

قوله: ضَمَّنِي النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِلَى صَدْرِهِ،

دعلم منبع: په دې سره دې خبرې طرف ته اشاره مقصود ده چه دَعلم منبع اومصدر او دَ حکمت مخزن اومعدن هم دغه سينه مبارکه ده.

قوله: اللَّهُمَّ عَلِّمْهُ الْحِكْمَةَ

د حکمت په مصداق کښې اقوال: ① دَ حکمت نه مراد حقائق دَ څيزونو پيژندل او په هغه څيز باندې دَ عمل کولو دې کوم چه دَده لائق وى
② دَ حکمت نه مراد صحت کردار او صحيح رائې ده
③ حکمت هغه نور دې چه په وسوسه او نور کښې فرق اوکړى
④ زر جواب ورکول حکمت دې (مرقاة ١١/٣٨٢)

[١] اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب ذكر ابن عباس رضى الله عنهما (رقم-٣٧٥٦) والترمذى فى كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب عبد الله بن عباس رضى الله عنهما (رقم-٣٨٢٤) وابن ماجه فى كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل الأنصار (رقم-١٦٦)

[٦١٤٨] ابن عباس ته په دين كښې د فهم دعا

۳۸ - (¹) [۳] [۱] «وَعَنْهُ، قَالَ: [۲] إِنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - دَخَلَ الْخَلَاءَ [۳] فَوَضَعْتُ لَهُ وَضُوءًا، [۴] فَلَمَّا خَرَجَ قَالَ: [۵] "مَنْ وَضَعَ هٰذَا؟" [٦] فَأُخْبِرَ [۷] فَقَالَ: "اللّٰهُمَّ فَقِّهْهُ فِي الدِّينِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او دوئ ابن عباس نه روايت دی [۲] رسول الله ﷺ بيت الخلاء د قضائي حاجت په خاي كې داخل شو [۳] نو ما د حضور ﷺ اودس د پاره اوبه كيښودلې [۴] بيا چې حضور ﷺ بهر راووتلو نو وي فرمايل [۵] دا اوبه چا ايښې دي [٦] حضور ﷺ خبر شو [۷] نو وي فرمايل اي الله! ده (ابن عباس) ته د دين پوهه وركړه. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① الْخَلَاءَ: أَيْ مَكَانَ الْبُرَازِ: بيت الخلاء، د اودس ماتى خاني. ② وَضُوءًا: أَيْ مَاءَ الْوُضُوءِ: د اودس اوبه. ③ فَقِّهْهُ: أَيِ اجْعَلْهُ فَقِيهًا عَالِمًا: پوهه ژور عالم ئې جوړ كړې ④ فِي الدِّينِ: أَيْ أُصُولِهِ وَفُرُوعِهِ: د دين د اصول او فروع، كليات او جزياتو علم.

تسهيلات:

قوله: دَخَلَ الْخَلَاءَ فَوَضَعْتُ لَهُ وَضُوءًا،

دحديث پس منظر: په حديث الباب كښې مذكوره واقعه هغه وخت پيښه شوې وه كوم وخت چه حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دَ خپلې ترور ميمونه رضي الله عنها ام المؤمنين په كور كښې وو دې دَ پاره چه دَ حضورپاك دَ تهجد دَمونځ طريقه زده كړى اودَ حضورپاك دَ خدمت سعادت هم حاصل كړى.

چنانچه په مذكوره خدمت پوره كولو باندې رسول الله ﷺ خوشحاله شو او ابن عباس رضي الله عنهما ته ئې مذكوره دعا اوكړه چه اې الله ابن عباس رضي الله عنهما ته داسې علم وركړې په كوم سره چه دې دَ دين اصول اوفروع اودَ هغې كليات او ضروريات په ښه شان سره اوپيژنى او چه دهٔ ته دَ اوچتې درجې علمى مهارت او فقاهت اودَ دين پوهه حاصله شى.

قوله: اللّٰهُمَّ فَقِّهْهُ فِي الدِّينِ،

د دعا دقبليدو نتائج: باقى دَ فقه نه مراد دَ دين مكمل پوهه ده. دَدغې دعا نتيجه دا راؤوتله چه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما رئيس المفسرين اوگرځيدو او لوئى لوئى صحابه كرامو رضي الله عنهم به په مسائلو كښې هغوى ته رجوع كوله. امام نووى رحمه الله فرمائى چه په دې حديث كښې دَ فقه فضيلت ثابتيږى او دَ غائبانه دعا مستجاب كيدل واضح كيږى.

---

¹ اخرجه البخارى فى كتاب الوضوء/باب وضع الماء عند الخلاء (رقم-١٤٣) ومسلم فى كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب من فضائل عبد الله بن عباس رضى الله عنهما (رقم-١٣٨ - (٢٤٧٧)

[٦١٤٩] اسامه او حسن سره د نبی علیه السلام محبت

۶۱۴۹ - ( ) [۱۵] [۱] وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ كَانَ يَأْخُذُهُ وَالْحَسَنَ، فَيَقُولُ: [۲] «اللَّهُمَّ أَحِبَّهُمَا فَإِنِّي أُحِبُّهُمَا». [۳] وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ: [۴] «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَأْخُذُنِي فَيُقْعِدُنِي عَلَى فَخِذِهِ، [۵] وَيُقْعِدُ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ عَلَى فَخِذِهِ الْأُخْرَى، [۶] ثُمَّ يَضُمُّهُمَا، ثُمَّ يَقُولُ: [۷] اللَّهُمَّ ارْحَمْهُمَا فَإِنِّي أَرْحَمُهُمَا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] اسامه بن زید نه منقول دی چې حضور ﷺ اسامه او امام حسن نیولی وفرمایل [۲] اي الله ددي دواړو سره محبت وکړي چې زه هم دي دواړو سره محبت کوم [۳] او په یوه روایت کې دی چې اسامه اوویل [۴] رسول الله ﷺ به زه نیولو سره په خپل ورون مبارك کینولم [۵] او حضرت حسن بن علي به يې دويم ورون مبارك باندې کینولو، او وبه يې فرمایل [۷] اي الله! په دي دواړو رحم وکړي زه هم په دوئ مهربانه یم. (بخاري)

تسهیلات:

قوله: وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا .. الخ:

د اسامه بن زيد تعارف: دحضرت اسامه رضي الله عنه پلار حضرت زید بن حارثه رضي الله عنه د حضورپاك آزاد کړې شوي غلام او د حضورپاك متبنی (په خوئی نیولې) وو. حضورپاك دهغوی نکاح خپلې خاص خادمې (برکه) ام ایمن رضي الله عنها سره کړې وه. دا بی بی د هغوی د پلار عبدالله بن عبدالمطلب آزاده کړې شوې وه. د هغې نه د حضرت زید بن حارثه رضي الله عنه خوئی اسامه رضي الله عنه پیدا شوي وو د حضورپاك د حضرت زید رضي الله عنه اود هغه خوئی اسامه رضي الله عنه سره ډیره مینه وه.

اسمه او حسن د رسالت په زنګونانو: حضرت اسامه د چا مور پلار باندې چه د غلامئ دور تیرشوي وو د خپل نمسی سره په خپل پتون مبارك باندې کینول او دعاګانې کول که یو طرف ته د حضورپاك شان رحیمی واضح کوی نو بل طرف ته د دغه دواړو حضراتو اوچتوالی. جلالت د شان او عظمت د حضورپاك په دغه طرز عمل سره ښکاره کیږی.

داسامه بن زيدوفات: د رسول الله ﷺ د وصال او د دنیا نه د رخصت کیدو په وخت د اسامه رضي الله عنه عمر شل کاله وو هغه په وادئ القراء کښې اوسیدلو او هم هلته د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت نه پس هغوی وفات شو د بعضې قول دې چه هغوی ۵۴ هجری کښې وفات شوی دی او علامه ابن عبدالبر رحمه الله هم دې قول ته ترجیح ورکړې ده.

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب ذکر أسامة بن زید (رقم-۳۷۳۵) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۷۳۵) واحمد فی المسند: ۲۶۹/۵

[۶۱۵۰] اسامه بن زید د لښکر امیر جوړول

۶۱۵۰-() [۸] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَعَثَ بَعْثًا [۲] وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ، [۳] فَطَعَنَ بَعْضُ النَّاسِ فِي إِمَارَتِهِ، [۴] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: إِنْ كُنْتُمْ تَطْعَنُونَ فِي إِمَارَتِهِ فَقَدْ كُنْتُمْ تَطْعَنُونَ فِي إِمَارَةِ أَبِيهِ مِنْ قَبْلُ، [۵] وَأَيْمُ اللّٰهِ إِنْ كَانَ لَخَلِيقًا لِلْإِمَارَةِ، [۶] وَإِنْ كَانَ لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ، [۷] وَإِنَّ هَذَا لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ بَعْدَهُ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت عبد الله بن عمر نه روایت دی حضور ﷺ یو فوج ولیږی [۲] او په هغه یې اسامه بن زید امیر لښکر جوړ کی [۳] ځنې خلقو د هغه په امارت طعنه زنې وکړه [۴] رسول الله ﷺ وفرمایل که تاسو خلقو د ده اسامه په امارت معترض شوی نو دې نه مخکې تاسو د ده د پلار زید په امارت هم طعنه زنې او اعتراض کړی وو [۵] او قسم په الله هغه زید د امارت قابل هم وو [۶] او ټولو خلقو نه ماته زیات محبوب او عزیز ترهم وو [۷] او هغه نه وروسته دا اسامه هم ماته د ټولو خلقو نه زیات محبوب او عزیز تردی (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① بَعَثَ: أَيْ: أَرْسَلَ: اوني لیږلو ② بَعْثًا: أَيْ: جَيْشًا: لښکر، جماعت ته بعث وائی ③ أَمَّرَ: أَيْ جَعَلَ أَمِيرًا: امیرنې جوړ کړو ④ فَطَعَنَ: طعنه او الزام لګول. ⑤ لَخَلِيقًا: أَيْ: لَجَدِيرًا: لائق وو. قابل وو.

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ نَحْوُهُ وَفِي آخِرِهِ: "[۲] «أُوصِيكُمْ بِهِ، فَإِنَّهُ مِنْ صَالِحِيكُمْ» ".

ترجمه: [۱] او د مسلم په یوه روایت کې داسې دي او د هغه په آخر کې دومره اضافه هم [۲] چې خلقو زه تاسو ته وصیت کوم چې یقینًا دی ستاسو د نیکو خلقو نه دی.

حل اللغات:- ⑥ أُوصِيكُمْ: وصیت کوم. حکم درکوم،

تسهیلات:

قوله: وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ،

د حضرت زید تعارف: حضرت زید بن حارثه رضی الله عنه ظالمانو مور پلار نه پټولو سره غلام جوړ کړې وو او مکې ته ئې راوستې وو اوخرڅ کړې ئې وو. کله چه د حضرت خدیجه رضی الله عنها لاس ته راغلو نو هغې د تحفه په توګه حضورپاك ته ورکړو. هغه د حضورپاك په خدمت کښې وو چه د هغه خپلوانو ته پته اولګیده او هلته راغله او د حضورپاك نه ئې اوغوښتو چه دا غلام نه دې بیا هم مونږ تاسو ته معاوضه درکوو. تاسو دا پرېږدئی حضورپاك اوفرمائیل که چرې هغه پخپله خې نو زما اجازت دې مفت کښې بوځئ مګر زه په ده باندې جبر نه شم کولې. حضرت زید رضی الله عنه خپلوانو ته اووئیل زه نه ځم هغوی وئیل چه دلته په غلامئ باندې

---

[1] اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب مناقب زيد بن حارثة مولى النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-۳۷۳۰) ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضي الله تعالى عنهم/باب فضائل زيد بن حارثة وأسامة بن زيد رضي الله عنهما (رقم-۶۳ - (۲۴۲۶) والترمذي كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب زيد بن حارثة رضي الله عنه (رقم-۳۸۱۶) في واحمد في المسند:۲/۲۰

خوبن نی اوهلته آزادی ده او مورپلار دې دی څه خبره کوی؟ هغه اوونیل د حضورپاك غلامي دبادشاهئي نه بهتر ده هغه خلق لاړل

زید متبنی جوړول: د حضرت زید رضي الله عنه نه حضورپاك دومره خوشحال شو چه هغه ئی آزاد هم کړو او خپل متبنی یعنی په خوئی باندې هم اونیولو اوهمیشه ئی هغه د جهاد امیر جوړولوسره رخصت کولو په ۸هجری کښې هغه امیرجوړولوسره غزوه موته ته اولیګلو اوهلته دې شهید شو دهغه خوئی اسامه وو هغه ئی دموته مقام باندې رومیانوسره د جهادپاره امیر جوړولوسره روان کړو.

داسامه په امارت اعتراض: په دې باندې څه خلقو اعتراض اوکړو چه دې وړوکې هم دې او ناتجربه کار هم دې دې ئی په غټوغټو خلقو باندې څنګه امیرجوړکړو په دې موقع باندې حضورپاك اوفرمائیل "ان کنتم تطعنون" یعنی که نن ستاسو دده په امارت او قیادت باندې اعتراض دې نود ده د پلار په امارت باندې هم تاسو اعتراض کړې وو اسامه د امارت قابل دې اوزما ده سره محبت دې. وړاندې په حدیث نمبر(۶۱۴۳) کښې پوره تفصیل راخی هغه وخت دحضرت اسامه رضي الله عنه عمر ۱۷ کاله وو.

[۶۱۵۱] د زید بن محمد ویلو مما نعت

۶۱۵۱-(۱) [۱۰] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: [۲] «إِنَّ زَيْدَ بْنَ حَارِثَةَ مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مَا كُنَّا نَدْعُوهُ إِلَّا زَيْدَ بْنَ مُحَمَّدٍ، [۳] حَتَّى نَزَلَ الْقُرْآنُ: ﴿ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ﴾ [الأحزاب: ٥] » مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۴] وَذُكِرَ حَدِيثُ الْبَرَاءِ قَالَ لِعَلِيٍّ: [۵] " أَنْتَ مِنِّي " فِي " بَابِ بُلُوغِ الصَّغِيرِ وَحَضَانَتِهِ ". مَا كُنَّا نَدْعُوهُ إِلَّا زَيْدَ بْنَ مُحَمَّدٍ، حَتَّى نَزَلَ الْقُرْآنُ: ﴿ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ﴾ [الأحزاب: ٥] » مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [٦] وَذُكِرَ حَدِيثُ الْبَرَاءِ قَالَ لِعَلِيٍّ: " أَنْتَ مِنِّي " فِي " بَابِ بُلُوغِ الصَّغِيرِ وَحَضَانَتِهِ ".

ترجمه: [۱] د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روایت دی وایې [۲] مونږ به هغه ته زید بن محمد ویلو سره بللې [۳] د دې پورې چې په قرآن کریم کې دا آیت نازل شو تاسو هغه د هغه د پلار د نوم نسبت سره رابلې (بخاري مسلم) [۴] او د حضرت براء حدیث چې په هغه کې حضور ﷺ حضرت علي ته وفرمایل [۵] أنتَ مِنّي ته زما نه یې بلوغ صغیر او د هغه د حضانت په باب کې تیر شوي دي

تسهیلات:

قوله: مَا كُنَّا نَدْعُوهُ إِلَّا زَيْدَ بْنَ مُحَمَّدٍ

د زید بن محمد ویلو رواج: په حدیث الباب کښې دی چه زید بن حارثه رضي الله عنه لره به صحابه

---

[1] اخرجه البخاري فی کتاب تفسیر القرآن/باب {ادعوهم لآبائهم هو اقسط عند الله} [الأحزاب: ٥](رقم-٤٧٨٢) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب فضائل زید بن حارثة وأسامة بن زید رضی الله عنهما (رقم-٦٢ - (٢٤٢٥)

کرامو ﷺ زید بن محمد ﷺ په نوم رابللو خکه چه رسول الله ﷺ هغه خونی جوړ کړي وو. په عربو کښې رواج وو چه کله به چا خپل غلام خوئی جوړ کړو نو بيا به هم دَ دغه په خلې وبونکی خونی دَ پاره وراثت جاری کیدلو اودَ هغه نِی بی به نی خپله اینګور ګڼړله اودَ هغې به نی خپل طرف ته نسبت کولو او صحابه کرامو هم په دغه اصولو باندې زید بن محمد ﷺ رابللو.

زید بن محمد وئیلو څخه ممانعت: بیا چه کله حضرت زید ﷺ خپلې بی بی زینب بنت جحش ته طلاق ورکړو او بیا هغه دَ رسول الله ﷺ په نکاح کښې راغله نو خلقو خبرې شروع کړې چه محمد ﷺ خو خپلې اینګور سره نکاح کړې ده. نودَ جاهلیت دَ مذکوره تولو خبرو په تردید کښې دَ سورت احزاب آیاتونه نازل شو ﴿اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَآىِٕهِمْ، وَمَا جَعَلَ اَدْعِيَآءَكُمْ اَبْنَآءَكُمْ، فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنٰكَهَا، مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ﴾ دې نه پس خلقو دَ زید بن محمد په ځائې زید بن حارثه وئیل شروع کړل. دَ حدیث باب او قرآنی آیاتونو نه معلومه شوه چه همیشه دَانسان نسبت دَ هغه دَ حقیقی پلار طرف ته کول پکار دی

الفصل الثاني

[۶۱۵۲] داهل بیتو خیال ساتلو حکم

۶۱۵۲-() [۸] [۱] عَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ: [۲] «رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-فِي حَجَّتِهِ يَوْمَ عَرَفَةَ وَهُوَ عَلَى نَاقَتِهِ الْقَصْوَاءِ يَخْطُبُ، فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: [۳] "يَا أَيُّهَا النَّاسُ" إِنِّي تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا [۴] إِنْ أَخَذْتُمْ بِهِ لَنْ تَضِلُّوا: [۵] كِتَابَ اللهِ، وَعِتْرَتِي أَهْلَ بَيْتِي» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت جابر ﷺ نه منقول دی هغوئ اوویل [۲] ما د رسول الله ﷺ نه د حج په موقعه د عرفې په ورځ خپلې قصواء نوم اوښې باندې خطبه ورکولو سره واوریدل وي فرمایل [۳] خلقو! زه ستاسو په منځ کې هغه شی پریږدم [۴] که تاسو دا مضبوطې سره ونیسئ نو هیڅ کله به ګمراه نه شئ [۵] یعنی د ﷺ کتاب او خما اولاد خما اهل بیت (ترمذي)

حل اللغات:- ① حَجَّتِهِ: أَيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ: یعنی په حجة الوداع. ② الْقَصْوَاءِ: دا د نبی علیه السلام د اوښې لقب وو. (اصل کښې قصواء هغه اوښې ته وئیلی شی دکومې دَ غوږ چه یو ګوټ پرې شوې وی)
③ عِتْرَتِي: اولاد زما، اهل بیت زما

تسهيلات:

قوله: وَهُوَ عَلَى نَاقَتِهِ الْقَصْوَاءِ يَخْطُبُ

د قصواء وجه تسمیه: هغه اوښې ته وئیلی شی دکومې دَ غوږ چه یو ګوټ پرې شوې وی. دَ

---

[۱] اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أهل بيت النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-۳۷۸۶) واحمد في المسند: ۳/۱۴

حضورپاك دَ اوښې غوږ پیدائشي توګه باندې داسې وو دَدې دَ تسمیه وجه دا کیدې شي چه دَ حضورپاك اوښه نیزه وه او تر لرې لرې پورې به په داسې تیز رفتارئ سره تلله چه نورې اوښې به هغې ته نه شوې رسیدلې په دې وجه ورته قصواء ونیلې کیدله

قوله وَعِتْرَتِي

دَاهل بیتوه احترام حکم: دَدې ډیر معانې راځي مثلاً قوم، اقارب، دَ یو نیکه اولاد، کور والا رسول کریم ﷺ ((عترتي أهل بیتي)) فرمائیلو سره تعین اوکړو چه دَعترت نه مراد زما اهل بیت دی لهذا اهل بیتو دَ نیولو نه مراد دَهغوی احترام کول، دَ هغوی په روایاتو باندې اعتماد کول، دَ هغوی په هدایاتو باندې عمل کول، دَهغوی حقوق اداکول دی. دَدې دا مطلب هیڅ کله نه دې چه صرف اهل اونیسئ باقي صحابه کرامو لره پریږدئ ((أصحابي کالنجوم فبأیهم اقتدیتم اهتدیتم)) په رڼا کښې ټول صحابه کرام دَ هدایت ستوری دی: صحابه کرامو تابعداری کول دَ هدایت ذریعه ده

[٦١٥٢] د دوو خیزونو د پریخودو حدیث

(٦١٥٢) [٥] [١] وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "إِنِّي تَارِكٌ فِيكُمْ مَا إِنْ تَمَسَّكْتُمْ بِهِ لَنْ تَضِلُّوا بَعْدِي، [٣] أَحَدُهُمَا أَعْظَمُ مِنَ الْآخَرِ: [٤] كِتَابُ اللَّهِ حَبْلٌ مَمْدُودٌ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ، [٥] وَعِتْرَتِي أَهْلُ بَيْتِي، [٦] وَلَنْ يَتَفَرَّقَا حَتَّى يَرِدَا عَلَيَّ الْحَوْضَ، [٧] فَانْظُرُوا كَيْفَ تَخْلُفُونِي فِيهِمَا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.[1]

ترجمه: [١] حضرت زید بن ارقم نه روایت دی هغوئ اوویل چی رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] زه په تاسو کې دوه خیزونه پریښودلو سره (در نه خم زما نه وروسته) چې د خوبوري تاسو هغه نیولی وي هیڅ کله به ګمراه نشي [٣] هر یو په هغه کې ددویم نه عظیم تر دی [٤] یوخو د الله کتاب دی او د ﷺ د آسمان نه زمکي طرف ته راځړول شوي رسي ده [٥] او دویم خما اولاد خما کور والا دی [٦] او هغوئ به جدا جدا نه وي ددې پورې چې حوض کوثر باندې ماته راورسي [٧] نو تاسو خلق سوچ وکئ چې تاسو به زما نه وروسته هغوئ سره څه معامله کوئ او څرنګه به ورسره پیش راځئ (ترمذي)

حل اللغات:- ① حَبْلٌ: رسئ، پړې، ② مَمْدُودٌ: راوږده کړې شوې، ③ عِتْرَتِي: اولاد زما، اهل بیت زما ④ یَرِدَا: اوبو دپاره ګودر ته تلو ته وائی ⑤ کَیْفَ تَخْلُفُونِي: چه تاسو به زمانه روسته څه معامله کوئ؟

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب أهل بیت النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۳۷۸۸)

تسهيلات:

قوله: أَحَدُهُمَا أَعْظَمُ مِنَ الْآخَرِ:

د مذكوره جملې مطلب: "أحدهما" څه مراد قرآن كريم دې. "اخر" نه مراد اهل بيت دى يعنى قرآن په عظمت كښې د اهل بيت نه لوئى دې. دا مطلب نه دې چه په دې دواړو كښې هريو د بل نه لوئى دې. دارنګ دلته هم په اهل بيت كښې ازواج مطهرات او اولاد ټول شامل دى.

قوله: حَبْلٌ مَمْدُودٌ:

د رسئ سره د مشابهت وجه: لكه څنګه د پورته نه زوړنده شوې رسئى د ترقئى ذريعه هم وى او د تنزلئى هم. هم په دې رسئى سره پورته ختلې هم شى او راكوزيدې هم شى دغه شان په قرآن پاك باندې عمل كولو سره ترقى (كاميابى) او قرآن پريخودو سره تنزلى (ناكامى) ملاويږى. قرآن د الله تعالى امان دې چا چه قرآن اونيولو د الله په امان كښې راغلو. د دې نه هم معلومه شوه چه قرآن د اهل بيت نه غوره دې څكه چه قرآن د الله تعالى رسئى ده.

قوله وَلَنْ يَتَفَرَّقَا حَتَّى يَرِدَا عَلَيَّ الْحَوْضَ.

د قرآن او عترة په مينځ كښې د عدم تفرق په مفهوم كښې دوه اقوال: ① كتاب الله او عترت رسول دا به چرته هم د يو بل نه جدا نه شى. اهل بيت به هميشه په قرآن باندې عمل كونكى وى او قرآن به هميشه د هغوى په زړه اودماغو كښې وى.

② قرآن، اهل بيت به زمانه جدا نه شى تردې چه دواړه به زما سره حوض كوثر ته اورسى او سره د هغه خلقو سفارش به اوكړى چاچه د دې دواړو حقوق په ښه شان سره اداكړې وى. د دې دواړو د سفارش په بدله كښې به څه د خلقو سره ښه سلوك كوم او د هغوى سفارش به كوم.

[٦١٥٤] د څلورو كسانو سره د محبت او عداوت حكم

٦١٥٣ - ( ) [٢٠] [١] وَعَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ لِعَلِيٍّ وَفَاطِمَةَ وَالْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ: " [٢] «أَنَا حَرْبٌ لِمَنْ حَارَبَهُمْ [٣] وَسِلْمٌ لِمَنْ سَالَمَهُمْ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت زيد بن ارقم ﷺ نه روايت دى رسول الله ﷺ د علي فاطمه حسن او حسين په حق كې وفرمايل [٢] چاچې د دوئ سره جنګ وكړى زه به هغه سره جنګ كوم [٣] او چاچې دوئ سره مصالحت وساتى زه به د هغه سره مصالحت ساتم. (ترمذي)

حل اللغات: - ① حَرْبٌ: أَيْ: مُحَارِبٌ: جنګ كونكې، ② سِلْمٌ: أَيْ مُسَالِمٌ وَمُصَالِحٌ: مصالحت كونكې، روغه او صلح كونكې.

---

[١] اخرجه احمد فى المسند: ٢/٤٤٢

تسهیلات:

قوله أَنَا حَرْبٌ لِمَنْ حَارَبَهُمْ

دحدیث مذکوره څخه د ر افضیانو استدلال: چه دَهغوی سره جنگ کونکو سره خه جنگیدونکي یم. دَ حدیث الباب نه روافض استدلال کوی او حضرت عائشه رضی الله عنها حضرت معاویه رضی الله عنه اودَدي دوارو ملګرو ته کافر وائی چه هغوی چونکه حضرت علی رضی الله عنه سره جنگ کړي وی او دَ حضرت علی رضی الله عنه سره جنگ لکه چه دَ رسول الله ﷺ سره جنگ دي او دَ رسول کریم ﷺ سره جنگ کفر دي.

داستدلال څخه جوابونه: ① دَحضرت علی رضی الله عنه اوحضرت عائشه رضی الله عنها صلح شوي وه دغه شان حضرت معاویه رضی الله عنه اوحضرت حسن رضی الله عنه صلح اوکړه. نوچه کله صلح اوشوه نوجنگ ختم لهذا دوی سره صلح دَ رسول کریم ﷺ سره صلح ده لهذا اعتراض باقی پاتې نه شو

② دَ لفظ حرب نه هرځائی کښې کفر مراد نه وی بلکه دَ حرب لفظ دَ غضب دَ اظهار دَپاره هم استعمالیږی لکه چه قرآن کښې دَ سود خورو دَپاره ﴿ فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ ﴾ دي. او حدیث کښې دی «من عادي وليا فقد أذنته بالحرب» دَ الله تعالی ولی سره دښمنی الله تعالی سره دښمنی ده.

③ دَدښمنۍ جنگ ته حرب وائی او دَ دغه حضراتو جنگ دَ دښمنۍ اوعناد په توګه نه وه بلکه دَ رائي اختلاف وو. هم دغه وجه ده چه حضرت علی رضی الله عنه په حق وو او معاویه رضی الله عنه په اجتهادی خطاء باندې وو. مجتهد مخطی هم دَ اجر مستحق وی.

[٦١٥٥] دعلي رضی الله عنه اوبي بي فاطمه رضی الله عنها سره د نبی علیه السلام محبت

٦١٥٥-(١) [٢٠] [١] وَعَنْ جُمَيْعِ بْنِ عُمَيْرٍ، قَالَ: [٢] «دَخَلْتُ مَعَ عَمَّتِي عَلَى عَائِشَةَ، [٣] فَسَأَلْتُ: أَيُّ النَّاسِ كَانَ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-؟ [٤] قَالَتْ: فَاطِمَةُ. [٥] فَقِيلَ: مِنَ الرِّجَالِ؟ [٦] قَالَتْ: زَوْجُهَا إِنْ كَانَ مَا عَلِمْتُ صَوَّامًا قَوَّامًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.»

ترجمه: [١] او حضرت جمیع بن عمیر تابعي وايي [٢] یوه ورځ زه خپلي عمه (دپلار خور سره) د ام المؤمنین بي بي عائشه رضی الله عنها په خدمت کې حاضر شوم [٣] نو ما ځني پوښتنه وکړه رسول الله ﷺ د ټولو نه زیات محبت چاسره لرلو؟ [٤] بي بي عائشه رضی الله عنها جواب راکړو فاطمي سره [٥] بیا مي ځني پوښتنه وکړه او په سړو کې (د ټولو نه زیات محبت چاسره وو) [٦] بي بي عائشه رضی الله عنها وفرمایل د فاطمي خاوند علي مرتضی سره، ځکه ماته پته ده چه علی رضی الله عنه ډیر روژه دار او تهجد ګذار وو (ترمذي)

---

[١] اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في فضل فاطمة رضي الله عنها (رقم-٣٨٧٤)

حل اللغات:- ① عُتُبٌ: ترور (د پلار خور). ② صَوَّامًا: د صائم نه د مبالغې صیغه ده، یعنی ډیرې روژې نیونکې، ③ قَوَّامًا: د قائم نه د مبالغې صیغه ده، ډیر قیام اللیل یعنی تهجد کونکې.

تسهیلات:

قوله: قَالَتْ فَاطِمَةُ:

دعائشې رضی الله عنه منصف مزاجی: دحضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها دمنصف مزاجئ اندازه اولګوئ چه حضرت فاطمه رضی الله عنها اوحضرت علی رضی الله عنه نی د حضورپاك دپاره دټولو نه زیات محبوب اوګرځول حالانکه هغې داهم ویئلی شو چه حضورپاك ته دټولو نه زیات محبوب زه یم او زما پلار وو اود اخبره په خپل ځائی باندې صحیح هم وه خکه چه په صحیح حدیث کښې هم داشان راغلی دی مګر حضرت عائشه رضی الله عنها د ډیر انصاف او وسعت قلبی مظاهره کولو سره اودې اعزاز حقدار ئې حضرت علی رضی الله عنه اوحضرت فاطمه رضی الله عنها اوګرځول.

په حدیث کښې اشکال: اوس سوال دادې چه دې حدیث اوهغه حدیث کښې تعارض دې په کوم کښې چه د سوال کونکی په جواب کښې حضورپاك اوفرمائیل ماته دټولو نه په ښخوکښې حضرت عائشه رضی الله عنها محبوب ده او په سړو کښې دهغې پلار محبوب دې

داشکال جواب: اصل خبره خود حضورپاك ده. حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها خو په خپله اندازه سره فرمائیلی دی. هغې له هم دغه شان وئیل پکاروو لهذا په دې کښې هیڅ تعارض نشته دې باقی د چا محبوب کیدل بل څیز دې اومقام اومرتبې والاکیدل بل څیز دې. ډیر زیات خلق محبوب وی مګر مرتبه د نورو اوچته وی.

[۶۱۵۶] عباس ته تکلیف نبی علیه السلام ته تکلیف ورکول دی

۶۱۵۶-()[۲۲] ① وَعَنْ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ بْنِ رَبِيعَةَ، «أَنَّ الْعَبَّاسَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- دَخَلَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مُغْضَبًا وَأَنَا عِنْدَهُ، ② فَقَالَ: "مَا أَغْضَبَكَ؟" ③ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مَا لَنَا وَلِقُرَيْشٍ إِذَا تَلَاقَوْا بَيْنَهُمْ تَلَاقَوْا بِوُجُوهٍ مُبْشَرَةٍ. ④ وَإِذَا لَقُونَا لَقُونَا بِغَيْرِ ذَلِكَ؟ ⑤ فَغَضِبَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حَتَّى احْمَرَّ وَجْهُهُ،

ترجمه: ① حضرت عبد المطلب بن ربیعه بیان کوي یوه ورځ زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې ناست وم چې حضرت عباس د قهر نه ډك راغې(یعنی چا داسې حرکت کړی وو یاداسې خبره یې کړې وه چې حضرت عباس ته په هغه باندې سخت قهر راغې او د هغه قهر په حالت کې هغه حضور ﷺ ته راغې) حضور ﷺ ځنې پوښتنه وکړه څه خبره ده چې هغه ته دومره په قهر کړی یې ③ حضرت عباس اوویل اې د الله رسوله! زمونږ (یعنی بني

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب أبی الفضل عم النبی صلی الله علیه وسلم وهو العباس بن عبد المطلب رضی الله عنه (رقم-۳۷۵۸)

هاشم) او باقي قريشو په منځ کې څه بيګانګي ده چې هرکله هغوئ قريش خپلو کې يوخاي کيږي نويه روڼ تندي سره يوخاي کيږي[٤] او هرکله چې زمونږ سره يوخاي کيږي نو هغه شان نه يوخاي کيږي [٥]رسول الله ﷺ چې د حضرت عباس نه دا خبره واوريده نو د قريشو په خرابه رويه باندې سخت په قهرشو ددې پورې چې د قهر د شدت نه د حضور ﷺ مخ مبارك سورشو

حل اللغات:- ① مُغْضَبًا: دغصې نه ډک، ② تَلَاقَوْا: د ملاقات او خپلو کښې د ملاويدو په معنى کښې دې ③ مُبْشَرَةٍ: دا د إِبْشَار نه دې، أي مُسْفِرَةٍ: خوشحاله، روڼ تندى.

[١] ثُمَّ قَالَ: "وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ [٢] لَا يَدْخُلُ قَلْبَ رَجُلٍ الْإِيمَانُ حَتَّى يُحِبَّكُمْ لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ" [٣] ثُمَّ قَالَ: "أَيُّهَا النَّاسُ! مَنْ آذَى عَمِّي فَقَدْ آذَانِي، [٣] فَإِنَّمَا عَمُّ الرَّجُلِ صِنْوُ أَبِيهِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَفِي "الْمَصَابِيحِ" عَنِ الْمُطَّلِبِ.

ترجمه: [١] بيا (حضرت عباس ﷺ ته مخاطب کيدو سره يې) وفرمايل قسم دى په هغه ذات چې د هغه په لاس کې خما ځان دى [٢] د يوسړي په زړه کې ايمان نه داخليږي چې هغه تاسو اهل بيت د الله او د الله د رسول محبت او خوشنودي حاصلولو د پاره دوست نه ساتي [٣] بيا يې وفرمايل خلقو! پوهه شئ کوم سړى چې خصوصًا خما تره ته تکليف ورکى هغه ګويا ماته تکليف راکى [٣] ځکه چې تره د پلار په مثل دى ترمذي او مصابيح کې د عبد المطلب بن ربيعه په ځاي مطلب بن ربيعه دى هرکله چې صحيح عبد المطلب بن ربيعه دى چې ترمذي نقل کړى دى.

حل اللغات:- ④ آذي: تکليف ني اورسولو، ⑤ صِنْوُ: أَيْ مِثْلُهُ: په مثل، په شان (د يوې جرړې نه چه د کجورې دوه يا درې تيغې راوخى نو دې کښې هريو ته د بل صنو يعنى مثل وائى لهذا په دې وجه پلار او تره د يوبل مثل دى).

تسهيلات:

قوله: مُغْضَبًا وَأَنَا عِنْدَهُ

دعباس رضى الله عنه د غصې وجه: دَدې مطلب دادې چه چا حضرت عباس ﷺ ته په څه کار يا څه خبره باندې غصه وروستې وه. هغه هم دَ دغه غصې په حالت کښې دَ نبى کريم ﷺ په خدمت کښې حاضرشو دامطلب نى هيڅ کله نه دې چه هغه دَ رسول کريم ﷺ غصه وو او مجلس ته راغلو

قوله: مَا لَنَا وَلِقُرَيْشٍ

د مذکوره جملې مطلب: چه قريش په هاشميانو اوغيرهاشميانو کښې فرق کوى او مونږ بنو هاشم لره خپل غير ګڼرى او مونږ سره چه کله ملاوېږى مخ ئى وران کړې وى نو ملاوېږى.

قوله: لَا يَدْخُلُ قَلْبَ رَجُلٍ الْإِيمَانُ

دایمان په مصداق کښې دوه اقوال: ① دلته دَ ایمان نه مراد مطلق ایمان مراد دې او په دې صورت کښې به ارشاد مبارك په ډیر سخت وعید باندې محمول کولې شي

② دَ دې نه کامل ایمان مراد دې دَ باقي حدیث تشریح واضح ده

قوله: مَنْ آذَى عَمِّي فَقَدْ آذَانِي، چا چه زما تره تنگ کړو او ده سره ئې دشمني اوکړه نو دا داسې ده چې هغه زه تنگ کړم او ما سره ئې دشمني اوکړه.

اشکال: یو ځل دَ حضرت عباس رضی الله عنه او دَ حضرت علي رضی الله عنه دَحضرت عمر فاروق رضی الله عنه په زمانه کښې په یو باغ باندې جګړه راغله نو حضرت علي رضی الله عنه دَ حدیث الباب په زد کښې راځي څکه چه دَ حضرت علي رضی الله عنه دَ حضرت عباس رضی الله عنه سره اختلاف کړې وو

داشکال جواب: دَ دښمنئ یا دَ جنگ په توګه نه وو لهذا په عداوت سره تنګول بیل څیز دې او اختلاف بیل څیز دې.

قوله فَإِنَّمَا عَمُّ الرَّجُلِ صِنْوُ أَبِيهِ،

د صنو مفهوم: "صنو" په اصل کښې هغه جرړې ته وائي دکومې چه ډیر بناخونه وي چونکه پلار او تره هم دَ یو نیکه اولاد وي په دې وجه تره ته دَ پلار صنو اوئیلې شو. مطلب دادې چه دَ تره ادب اواحترام تکلیف او آرام احساس دَ پلار په شان کوه.

[٦١٥٧] د حضرت عباس فضیلت

٦١٥٧-() [٢٣] ١ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ٢ «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " الْعَبَّاسُ مِنِّي وَأَنَا مِنْهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.[1]

ترجمه: ١ او حضرت ابن عباس رضی الله عنه وایي ٢ چې رسول کریم ﷺ وفرمایل عباس زما نه دی او زه د هغه نه یم. (ترمذي)

تسهیلات:

قوله: الْعَبَّاسُ مِنِّي وَأَنَا مِنْهُ،

د مذکوره جملې په مفهوم کښې درې اقوال: ① زما دَ اقاربو څخه دې

② دَ اهل بیت څخه دې

③ زما دَ متصلین څخه دې

دَدې باره کښې علماء لیکي چه دَ فضل، شرف او نبوت په اعتبارسره دَ حضورپاك ذات مبارك اصل دې. لیکن دَ نسب او تره کیدو په اعتبار سره حضرت عباس رضی الله عنه اصل دې. دَ حضورپاك دا ارشاد دکمالِ محبت او تعلق دَ یووالي او دَ اخلاص نه کنایه ده لکه څنګه چه

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-٣٧٥٩)

حضورپاك دحضرت علی ﷺ باره کښي فرمائيلي وو چه (اي علي) زه تا نه يم او ته زما نه ئې.

۱ عباس مختصر تعارف: حضرت عباس ﷺ ابن عبدالمطلب د حضورپاك تره دي د هغه پيدائش د فيل د واقعي نه يو کال وړاندې شوې دې دهغه مور قبيله نمر بن قاسط سره تعلق لرلو. هم هغې د ټولو نه مخکښې په کعبه باندې د ريښم او د قسم قسم قيمتي کپړو غلاف اچولې وو.

مشهوره ده چه په وړوکوالي کښي چه کله دې ورك شوې وو نو مورنې دا منخته کړې وه که زما بچې ملاؤ شو نو زه به په بيت الله باندې غلاف خوروم. حضرت عباس ﷺ د حضورپاك د تره کيدو باوجود د حضورپاك غيرمعمولي ادب کولو.

عباس رضی الله عنه او د نبی علیه السلام ادب کول: نقل دی چه د هغه نه چا سوال اوکړو چه ته مشر ئې که رسول الله ﷺ. نوهغه جواب ورکړو چه "هوأكبروأناأسن" چه مشر خو هم هغه دې ليکن عمر زما زيات دې.

رسول الله ﷺ د غزوه بدر په موقع باندې فرمائيلي وو خبردار عباس څوك قتل نه کړي هغه په زور په کافرانوکښې راوستلې شوې دې. دهغوی وفات ۳۶هجری دې د ۱۲[1] رجب په ورځ شوې دې. هغه وخت د هغوی عمر ۸۸ کاله وواو په جنت البقيع کښې خښ شوې دې دهغوی نور هم ذاتي ديني او دنياوي کمالات دی.

[۶۱۵۸] ابن عباس ﷺ اودهغوی د اولاد دپاره

۶۱۵۸-(۱)[۳] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: [۲] «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لِلْعَبَّاسِ: "[۳] إِذَا كَانَ غَدَاةَ الِاثْنَيْنِ فَأْتِنِي أَنْتَ وَوَلَدُكَ حَتَّى أَدْعُوَ لَهُمْ بِدَعْوَةٍ يَنْفَعُكَ اللَّهُ بِهَا وَوَلَدَكَ" [۴] فَغَدَا وَغَدَوْنَا مَعَهُ، [۵] وَأَلْبَسَنَا كِسَاءَهُ [۶] ثُمَّ قَالَ: " اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلْعَبَّاسِ وَوَلَدِهِ مَغْفِرَةً ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً لَا تُغَادِرُ ذَنْبًا، اللَّهُمَّ احْفَظْهُ فِي وَلَدِهِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس وايي [۲] يوه ورځ رسول الله ﷺ خما پلار حضرت عباس ته وفرمايل [۳] چې د پير دوشنبي په ورځ ته خپل اولاد سره ماته راسه چې زه ستاسو د پاره دعا وکړم چې د هغه په سبب ﷺ تاته او ستا اولاد ته نفع ورسوي [۴] نو دوشنبي ورځ چې راغله د سهار په وخت کې حضرت عباس او هغه سره مونږ ټول د هغه اولاد د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو [۵] حضور ﷺ خپل څادر مبارك مونږ ټولو باندې واچوی [۶] و بيا دعايې وفرمايله خداونده! عباس او د هغه اولاد وبخښې او د ظاهر او باطن داسې بخښش ورته ورکړې چې هيڅ ګناه باقي باندې نه پرېږدي الهي عباس د هغه اولاد کې قائم او محفوظ ولرې (ترمذي)

[1] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم /باب (رقم-۳۷۶۲)

حل اللغات:- ① غَدَاةَ الإِثْنَيْنِ: د دوشنبې یعنی د پیر ورځ سحر، ② كِسَاءَةً: خپل څادر، ③ مَغْفِرَةً ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً: ښکاره او پټ ګناهونه ورته معاف کړې ④ لَاتُغَادِرُ: أَيْ: لَاتَتْرُكُ: چه پرې نږدی دغه بخښش (هيڅ يوه ګناه)

① وَزَادَ رَزِينٌ: "وَاجْعَلِ الْخِلَافَةَ بَاقِيَةً فِي عَقِبِهِ" ② وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① او رزین د دې دعاء په آخر کې دا الفاظ هم نقل کړی دی چې امارت او بادشاهي هم د هغه په اولاد کې باقي وساتې ② ترمذي ويلي دي داحديث غريب دی

حل اللغات:- ⑤ عَقِبِهِ: دهغه نه وروسته یعنی دهغه په اولاد کښې

تسهيلات:

قوله: "وَاجْعَلِ الْخِلَافَةَ بَاقِيَةً فِي عَقِبِهِ

د بنوعباس دخلافت دعا: په حديث الباب کښې دی چه حضورپاك د حضرت عباس رضی الله عنه او د هغه د اولاد باره کښې دعا فرمائيلي وه چه عباس او د هغه اولاد اوبخښې او په يو روايت کښې د دعاپه آخرکښې دا الفاظ هم ارشاد فرمائيلی چه امارت او بادشاهی دهغه په اولاد کښې باقي اوساتې یعنی د اوږدې مودې پورې اولاد عباسی ته د حکمرانئی تخت او مشری او دولت ورکړې.

نو دادعا قبوله شوه او د څو صدو پورې د خلافت اوحکمرانئی اعزاز بنوعباس کښې پاتې وو او په اصل کښې دا د امت دپاره يو لارخودنه وه چه د خلافت او امارت استحقاق اولاد عباس ته حاصل دې او په دې سره حضرت عباس رضی الله عنه ته تسلی او د هغوی دمقام او مرتبې بيان هم اوشو

[٦١٥٩] ابن عباس رضی الله عنه او جبريل عليه السلام ليدل

٦١٥٩-(۱) [د٥] ① «وَعَنْهُ أَنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ مَرَّتَيْنِ، ② وَدَعَا لَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَرَّتَيْنِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دی هغه دوه خله حضرت جبرائيل عليه السلام اوليدلو ② او رسول الله ﷺ د هغه په حق کې دوه خله دعا وفرمايله (ترمذي)

تسهيلات:

قوله: أَنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ مَرَّتَيْنِ،

دجبريل عليه السلام ابن عباس د ليدلو يوه موقعه: ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې چه زه اوزما پلار رسول الله ﷺ له راغلو کله چه مونږ د حضورپاك نه واپس راغلو نو ما خپل پلار

[1] اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب عبد الله بن عباس رضی الله عنهما (رقم-٣٨٢٢)

ته اوونيل چه ما حضورپاك سره يو داسې سړې اوليدلو چه دَهغه په شان دَ بنكلې مخ والا مې څوك نه دې ليدلې نو ما هغه ته اوونيل چه دَ هغه مخ بنائسته وو كه دَ حضورپاك مخ نو هغه اوونيل چه دَ هغه مخ نو مونږ حضورپاك له واپس راغلو. بيا زما پلار اوونيل اې دَ الله رسول هغه سړې چه تاسو سره وو هغه چرته دې د عبدالله گمان دې چه دَهغه مخ ستاسو دَ مخ نه زيات پرقيدونكې وو. حضورپاك اوفرمائيل چه هغه خو جبرائيل عليه السلام وو كوم وخت چه تاسو دواړه ماله راغلې وئې نو حضرت حبرائيل عليه السلام مانه تپوس اوكړو اې محمد دا څوك دى ما وئيل دا زما دَ تره ځوئ عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دې جبرائيل اوفرمائيل چه دا دَ خير محل دې. ما اوونيل اې روح الله ته دَ ده دَپاره دعا اوكړه نوحضرت جبرائيل عليه السلام دعا اوكړه "اللهم بارك عليه اللهم اجعل منه كثيراً طيباً" (مرقاة: ۱۱/۳۷۹)

دجبريل عليه السلام ابن عباس د ليدلو دويمه موقعه: په دويم ځل كوم چه علامه سيوطي رحمه الله په جمع الجوامع كنبې نقل كړى دى چه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نقل كړى دى چه يوه ورځ ما ډيرې سپينې كپړې اغوستلې وې حضورپاك په خواكې تير شوم نو ما اوليدل چه حضورپاك دحيه كلبى رضي الله عنه سره خبرې كولې خو په حقيقت كنبې هغه دحيه كلبى نه وو بلكه دَهغوى په صورت كنبې حضرت جبرائيل عليه السلام وو. ليكن هغه وخت ماته معلومه نه وه زه دَ هغه خائې نه تير شوم نو حضرت جبرائيل عليه السلام حضورپاك ته اوفرمائيل يا رسول الله كه چرې دې ابن عباس مونږ ته سلام كړې وې نو ما به دَ سلام جواب وركړې وې. ابن عباس رضي الله عنهما خو په ډيرو سپينو كپړو كنبې دې مگر دې نه پس به دَ ده اولاد په تورو كپړو اچولو باندې مجبوره كيږى. كله چه حضرت جبرائيل آسمان ته لاړو نو حضورپاك دَهغه خائې نه واپس راغلو او ماته ئې اوفرمائيل چه په مونږ باندې تيريدو وخت كنبې تامونږ ته سلام ولې نه وو كړې. ما عرض اوكړو چه يا رسول الله ﷺ تاسو هغه وخت دحيه كلبى سره په خبرو اترو او په سرگوشئى كنبې مصروف وئى ما بنه اونه گنړل چه تاسو زما دَ سلام جواب راكړئى اودغه شان زه ستاسو په خبروكنبې ركاوټ جوړ شم. نو بيا حضورپاك ماته اوونيل چه هغه دحيه كلبى نه وو بلكه جبرائيل عليه السلام وو ابن عباس رضي الله عنهما دا روايت نقل كړې دې او ترمذى وئيلى دى چه دا واقعه دوه ځل پيښه شوې

اشكال: حضورپاك له به دَ جبرائيل عليه السلام راتګ دَ دحيه كلبى په شكل كنبې كيدلو نو جبرائيل عليه السلام خو به نورو صحابه كرامو رضي الله عنهم هم ليدلو نودَ ابن عباس رضي الله عنهما ذكر ئې په خاص توګه ولې اوكړو؟

داشكال جواب: دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ليدل په عالم ملكوت كنبې وو او دَ نورو صحابه كرامو ليدل په عالم ناسوت كنبې وو. په يو روايت كنبې دى چه حضورپاك حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ته اوفرمائيل چه دَ نبى او رسول نه علاوه چا هم جبرائيل ليدلې دې دَ هغه نظر

تلې دې اې ابن عباس ستا نظر به هم لاړشي ليکن دَمرګ په وخت به ستا نظر واپس راځي چنانچه ابن عباس رضي الله عنهما په بوډاوالی کښې نابينا شوې وو او په رواياتو کښې نقل دی چه کوم وخت دَهغوی وفات اوشو او هغوی ته کفن واچولې شو نو ناڅاپې يوه سپينه مرغئی رابنکاره شوه اودَ هغه نعش خواله راغله او په کفن کښې داخله شوه خلقو بنه اولټوله او اخواديخوا ئې اوکتل ليکن دَ هغه سپينې مرغئی پته اونه لګيدله آخر دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما آزاد کړې شوی غلام عکرمه رحمه الله اوونيل تاسو خلق عجيبه يئی هغه واقعتًا مرغئی نه وه بلکه دا دَ هغوی بينائی وه دکوم باره کښې چه حضورپاك فرمائيلی وو چه دَمرګ په ورځ به واپس راځي.

[۶۱۶۰] ابن عباس رضي الله عنه ته د حکمت دورکړې دُعا

۶۱۶۰-( )[۲۶]⟨۱⟩«وَعَنْهُ،⟨۲⟩أَنَّهُ قَالَ: دَعَالِي رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنْ يُؤْتِيَنِي اللَّهُ الْحِكْمَةَ مَرَّتَيْنِ» .رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:⟨۱⟩ حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی ⟨۲⟩هغه بيان وکړو رسول الله ﷺ زما دپاره دوه ځله دا دعا وکړه چه الله ﷻ ما ته حکمت راکړي. (ترمذي)

حل اللغات:- ① الْحِكْمَةَ: أَيْ: إِتْقَانَ الْعِلْمِ وَالْعَمَلِ: پوخ او ژور علم اوعمل يا د شريعت د اصول او فروعو علم ته حکمت وائی (پخه خبره، پوهه، عقلمندی، حاضرجوابی ، په حق او باطل کښې فرق کول دې ټولو باندې د حکمت اطلاق کيږی). ② مَرَّتَيْنِ: دوه ځله (يعنی دوه ځله ئې راته دعا اوفرمائيله يوځل په لفظ دحکمت او دويم ځل په عبارت د فقه سره، خو دا دواړه دعاګانې په جدا جدا مجلسونو کښې وې).

تسهيلات: قوله: أَنْ يُؤْتِيَنِي اللَّهُ الْحِكْمَةَ مَرَّتَيْنِ،

دحکمت څخه مراد: حکمت نه مراد دَ قرآن اوحديث نه دَ مسائل شرعيه اوفرعيه استنباط قوت ورکول يعنې دَ قرآن مجيد علم اودَ حديث شريف باريکو ته دَ ذهن رسيدل چنانچه دَ حضورپاك دعا دَ حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په حق کښې بعينه قبوله شوه او رئيس المفسرين او صاحب علم جوړ شو.

[۶۱۶۱] جعفر رضي الله عنه ته دابوالمساکين لقب ورکول

۶۱۶۱-( )[۲۷]⟨۱⟩وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ:⟨۲⟩«كَانَ جَعْفَرٌ يُحِبُّ الْمَسَاكِينَ وَيَجْلِسُ إِلَيْهِمْ، وَيُحَدِّثُهُمْ وَيُحَدِّثُونَهُ،⟨۳⟩وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يُكَنِّيهِ بِأَبِي الْمَسَاكِينِ.» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب مناقب عبد الله بن عباس رضی الله عنهما (رقم-۳۸۲۳)

[2] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب مناقب جعفر بن أبی طالب أخی علی رضی الله عنه (رقم-۳۷۶۳)

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷺ وايي [۲] چې جعفر بن ابي طالب به مساکينو سره ډير زيات محبت لرلو د هغوئ سره به کينا ستى پاڅيدی او د هغوئ سره به يې د دلجوئي او غم خواري خبري کولي او مساکين به هغه ته د خپل غم درد خبري کولي [۳] او رسول الله ﷺ به دي بناء د هغه کنيت ابوالمساکين ايښى وو (ترمذي)

حل اللغات:- ① يُكَنِّيهِ: اَب يا اِبن ته نسبت کولو سره چه نوم کيخودې شى هغې ته کنيت وائى لکه اب المساکين، ابو تراب وغيره

تسهيلات:

قوله: يُكَنِّيهِ بِأَبِى الْمَسَاكِين

د ابوالمساکين لقب وجه تسميه: په حديث الباب کښې دى چه سره ددې چه ټول صحابه کرامو او اهل بيت ﷺ به د مسکينانو سره محبت کولو اوهغوى سره به ئې تعلق لرلو مگر حضرت جعفر ﷺ ډير زيات مسکينان خوښونکې وو اوهغوى سره به ئې زياته ناسته پاسته کوله. په دې مناسبت رسول کريم ﷺ دهغوى کنيت ابوالمساکين کيخودو لکه چه حضرت على ﷺ کنيت ئې ابو تراب کيخودې وو.

[٦١٦٢] د حضرت جعفر ﷺ فضيلت

٣٣ - ()[٣٨] [١] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [٢] «رَأَيْتُ جَعْفَرًا يَطِيرُ فِي الْجَنَّةِ مَعَ الْمَلَائِكَةِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] ما جعفر په جنت کې فرښتو سره آلوتونکي ليدلى دى دا روايت ترمذي نقل کړى دى او ويلي يې دي چې داحديث غريب دى

تسهيلات:

قوله: يَطِيرُ فِي الْجَنَّةِ مَعَ الْمَلَائِكَةِ

په جنګ موته کښې دجعفر شهادت: حضرت جعفر ﷺ په جنګ موته کښې دَ اسلامى لښکر کمانډر وو اودَ اسلام جنډا دَهغوى په لاس کښې وه په دې جنګ کښې هغوى شهيد شوې وو

په اصل کښې په دې جنګ کښې دَ اسلامى لښکر کمانډر حضرت زيد بن حارثه ﷺ وو ليکن دَ جنګ په دوران کښې

دَهغه شهيد کيدو نه پس اسلامى لښکر کمانډرى اودَ اسلام جنډا دَ حضرت جعفر ﷺ لاس

---

[۱] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب جعفر بن أبي طالب أخى على رضى الله عنه (رقم-٣٧٦٣)

ته راغله نو حضرت جعفر رضي الله عنه په کمال بهادرئی سره دَ الله په لاره کښې اوجنګیدو. اول ئې یو لاس پرې کړې شو بیائې دویم لاس هم لاړو اوبیا خپې هم قربان شوې. تردې چه شهید شو هلته خو په میدان جنګ کښې حضرت جعفر رضي الله عنه شهید شو بل طرف ته په مدینه منوره کښې حضورپاك ته په حالت دَ مکاشفه کښې یا په خوب کښې اوخودلې شو چه دَ حضرت جعفر رضي الله عنه دوه وزرې دی چه په وینوکښې لړپړ دی او هغه دَ خپلو وزرو په ذریعه باندې دَ فرښتو سره په جنت کښې الوزی ګرځی

[٦١٦٣]د جنت د ځوانانو سرداران

٦١٦٣-() [٢٩] [١]وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: [٢]قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "«الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوسعید وایي[٢] چې رسول کریم ﷺ وفرمایل حسن او حسین دواړه د جنت د ځوانانو سرداران دي. ترمذی.

تسهیلات:

قوله: سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ:

د جنت د سردارۍ په مفهوم کښې دوه اقوال: ① عام خیال دې طرف ته ځی چه کوم خلق په ځوانئی کښې شهیدان شوی دی حضرت حسن رضي الله عنه اوحضرت حسین رضي الله عنه به دَهغوی سرداران وی علامه طیبي رحمه الله هم دغه خبره لیکلې ده.

② بعضې نور علماء فرمائی چه دَ حدیث مطلب دادې چه په جنت کښې به ټول خلق ځوانان وی دَدغه ټولو جنتیانو سرداران به حسن رضي الله عنه اوحسین رضي الله عنه وی. داخبره ډیره ښه ده

په دویم قول اشکال: مګرپه دې باندې دا اعتراض دې چه حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه اوحضرت عمر فاروق رضي الله عنه هم دَ ډیر عمر دَخلقو سرداران ګرځولی شوی دی نواوس تضادپیدا شو چه کوم یو به سردار وی.

د اعتراض جواب: دَدې جواب دادې چه دا اعزازات دی ډیرو خلقو ته به اعزاز ورکولې شی لهذا په سوونوخلق هم سرداران کیدې شی هغوی هم سرداران دی هیڅ منافات نشته دې یعنی د بعضې جنیاتو سرداران به حسنین وی او د بعضو به شیخین وغیره وی.

[1] اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أبي محمد الحسن بن علي بن أبي طالب والحسين بن علي بن أبي طالب رضي الله عنهما (رقم-٣٧٦٨)

[٦١٦٤] حسنين د نبي عليه السلام د نياوي ګلونه

۶۱۶۴-(۱) [۳۰] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- [۲] أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "«إِنَّ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ هُمَا رَيْحَانَيَّ مِنَ الدُّنْيَا»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ [۳] وَقَدْ سَبَقَ فِي الْفَصْلِ الْأَوَّلِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر ﷺ نه روايت دى [۲] چې رسول كريم ﷺ وفرمايل حقيقت دادى چې حسن او حسين خما ددنيا دوه ګلان دي (ترمذي) [۳] دا روايت اول فصل كې تير شوي دي

حل اللغات:- ① رَيْحَانَيَّ: د ريحان تثنيه ده، يو قسم خوشبودار ګل دي، كشمالو (خوى، راحت، رحمت، روزى، آرام او سهولت ته او هر خوشبودار ګل ته هم ريحان وائى)

تسهيلات:

حسنينو ته د ګلونو وئيلو وجه: په حديث الباب كښې دى لكه چه په باغ كښې دَ باغ مالك ته ټول ګلونه ګران وى چونكه اولاد ته هم ګلونه وائى هم دغه شان دنيا اودَ دنيا په ټولو خيزونو كښې رسول الله ﷺ ته حضرات حسنين كريمين ﷺ دير ګران او خواږه وو

[٦١٦٥] حسنين د نبي عليه السلام په غيږ كښې

۶۱۶۵-(۲) [۳۱] [۱] وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [۲] «طَرَقْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ذَاتَ لَيْلَةٍ فِي بَعْضِ الْحَاجَةِ [۳] فَخَرَجَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَهُوَ مُشْتَمِلٌ عَلَى شَيْءٍ لَا أَدْرِي مَا هُوَ [۴] فَلَمَّا فَرَغْتُ مِنْ حَاجَتِي قُلْتُ: [۵] مَا هٰذَا الَّذِي أَنْتَ مُشْتَمِلٌ عَلَيْهِ؟ [۶] فَكَشَفَهُ [۷] فَإِذَا الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ عَلَى وَرِكَيْهِ [۸] فَقَالَ: "هٰذَانِ ابْنَايَ وَابْنَا ابْنَتِي [۹] اللّٰهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُمَا فَأَحِبَّهُمَا وَأَحِبَّ مَنْ يُحِبُّهُمَا»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت اسامه بن زيد ﷺ وايي [۲] زه يو ځل د شپې خپل څه ضرورت د پاره د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر شوم [۳] نو حضور ﷺ د خپل كور دننه نه داسې حال كې بهر تشريف راوړى چې څه شى يې ځان نه چاپيره كړى وو او زه نه پوهيدم چې هغه څه شى وو [۴] بيا چې ما خپل ضرورت حضور ﷺ ته عرض كړ نو پوښتنه مې وكړه [۵] چې دا څه شى دى چې حضور ﷺ ځان نه چاپيره كړى دى [۶] حضور ﷺ هغه شى خلاصولو [۷] څه ګورم چې هغه حسن او حسين دى چې د حضور ﷺ په دواړو ورنومباركو وه (يعنى حضور ﷺ هغوئ دواړه غيږ كې اخستو سره ځادركي پټ كړى وو) [۸] بيا حضور ﷺ وفرمايل دا دواړه (حكماً) خما ځامن دي او (حقيقتاً) خما د لور ځامن دى [۹] خداونده! زه دا دواړه محبوب لرم ته هم دوئ محبوب لري اوځوك چې ددي دواړو سره محبت كوي هغه سره محبت وكه (ترمذي)

[۱] اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أبي محمد الحسن بن علي بن أبي طالب والحسين بن علي بن أبي طالب رضي الله عنهما (رقم-۳۷۷۰)

[۲] اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أبي محمد الحسن بن علي بن أبي طالب والحسين بن علي بن أبي طالب رضي الله عنهما (رقم-۳۷۶۹)

حل اللغات:- ① طَرَقْتُ: دا د طَرْق نه دي، إِتْيَانُ بِاللَّيْلِ يعنی دشپې راتلو ته وائی، أی أَتَيْتُهُ: يعنی زه د شپې نبی علیه السلام ته راغلم ② مُشْتَمِلٌ: أَيْ: مُحْتَجِبٌ: خان نه ئې چاپیره کړې وو، خان ئې پکښې پټ کړې وو. ③ فَكَشَفَهُ: أَيْ: أَزَالَ مَاعَلَيْهِ: يعنی حجاب او پرده ئې ترې لرې کړه. ④ وَرِكَيْهِ: د ورک تثنيه ده، پندې، ورون.

تسهیلات: قوله ابْنَايَ:

د حدیث نه د دوو مسئلو معلومتیا: ① يعنی دا حکمًا زما خامن دی او په حقیقت کښې زما دَ لور خامن دی زما دوی سره دَ خامنو په شان محبت دې. دا حدیث دَدې خبرې دلیل جوړیدې شی چه دَنسب شرف دَ مور دَ طرف نه هم ثابتیږی ځکه چه دَ آل لفظ دَ خوئی او دَ لور دواړو اولاد دَپاره استعمالیږی.

② دارنګ دَ حدیث الباب نه مقصود بالخصوص حضرت اسامه رضي الله عنه ته او بالعموم پوره امت ته دا رغبت ورکول دی چه زما حسن او حسین رضي الله عنهما سره محبت کوئی اودَهغوی محبوبیت دَ الله تعالی دَ محبوبیت ذریعه ده.

[۶۱۶۶] شهادت حسین او د أم سلمه خوب

۶۱۶۶ -() [۳۲] [۱] وَعَنْ سَلْمٰى، قَالَتْ: [۲] دَخَلْتُ عَلٰى أُمِّ سَلَمَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - وَهِيَ تَبْكِي [۳] فَقُلْتُ: مَا يُبْكِيكِ؟ [۴] قَالَتْ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَعْنِي فِي الْمَنَامِ - وَعَلٰى رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ التُّرَابُ فَقُلْتُ: مَالَكَ يَارَسُولَ اللّٰهِ؟ [۵] قَالَ: "شَهِدْتُ قَتْلَ الْحُسَيْنِ آنِفًا" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] بی بی سلمٰی (چې د ابورافع زوجه ښځه ده) بیان کوي [۲] یوه ورځ زه د ام المؤمنین بي بي سلمه په خدمت کې حاضره شوم څه ګورم چې هغه ژاړي [۳] ما ځني پوښتنه وکړه ولي ژاړی [۴] هغه جواب راکړو ما رسول الله ﷺ په خوب کې اولیدلو چې د هغوئ سر مبارك او ږیره ګرد آلود (د خاورو) وه ما پوښتنه وکړه یارسول الله! تاسو ګرد الود ولي یاست؟ [۵] وي فرمایل زه اوس د حسین قتل ګاه کې موجود وم او هلته مي لیدل چې ځما د جګر ټکړه (یعنی لمسی ظالمانو څومره بي دردي سره) شهید کی دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یي دي چې دا حدیث غریب دی.

قوله: رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- تَعْنِي فِي الْمَنَامِ-

دام سلمه د وفات په کال کښې دوه اقوال: د ام سلمه رضی الله عنها وفات په کال ۵۹ هجری کښې شوې وو. او بعضې عالمانو د دوی د وفات کال ۶۳ هجری لیکلې دې

خوزیات صحیح قول هم اولني دې ځکه چې د شهادت حسین رضی الله عنه د شهادت کال ۶۱ هجری ده. نوکه د ام سلمه رضی الله عنها د وفات کال باره کښې که دویم قول صحیح اوګرځولی

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب أبی محمد الحسن بن علی بن أبی طالب والحسین بن علی بن أبی طالب رضی الله عنهما (رقم-۳۷۷۱)

شی نو په دې حدیث به څخه اشکال رانشی
خو که اول قول صحیح اوګرځولې شی نو بیا اشکال راځی خو چې په دې کښې تاویل اوکړې شی نو دا اشکال هم ختمیږی هغه داسې چې د حضرت حسین رضی الله عنه د شهادت واقع کیدو څخه وړاندې حضرت ام سلمه رضی الله عنها ته په خوب کښې دا واقعه خودلې شوې وه نو په دې صورت کښې به د «انفا» دا توجیه کولې شی چې دې لفظ استعمال د صورت حال د تحقیق دپاره شوې دې، کوم چې د حسین رضی الله عنه د شهادت په صورت کښې نبی علیه السلام ته د هغه وخت په خوب کښې خودلې شوې وو

[٦١٦٧] حسنینو سره د نبی علیه السلام د ټولو څخه زیات محبت

٦١٦٧-(١)[٣٣] [١] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] «سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَيُّ أَهْلِ بَيْتِكَ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ [٣] قَالَ: "الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ" [٤] وَكَانَ يَقُولُ لِفَاطِمَةَ: "ادْعِي لِي ابْنَيَّ" [٥] فَيَشُمُّهُمَا [٦] وَيَضُمُّهُمَا إِلَيْهِ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] حضرت انس ﷺ بیان کوي [٢] رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه اهل بیتو کې څوک تاسو ته زیات عزیز او محبوب دی [٣] حضور ﷺ وفرمایل حسن او حسین [٤] او انس دابیان هم وکی حضور ﷺ به څه وخت چې حسن او حسین په کور کې ونه لیدل ،نو بي بي فاطمې ته به یې فرمایل چې څما دواړه ځامن راو غواړه ،بیا چې هغوی حسن او حسین به راغلل [٥] نو حضور ﷺ به د هغه دواړو جسمونه بویول ،څکه چې هغوی د حضور ﷺ ګلونه وو، [٦] او هغوی به یې خپلې غاړې سره لګول ترمذي دا روایت نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی

حل اللغات:- ① ادعي: أي: اطلبي: راوغواړه، راوبله. ② فَيَشُمُّهُمَا: حَسُّ الْأَنْفِ یعنی په پوزه ئې بوئی کړل ،څکه چه حسن او حسین دواړو ته ریحان فرمائیلې شوی دی ③ يَضُمُّهُمَا: خپلې سینې سره به ئې لګول

نوټ: په حدیث کښې د ګرانو لغاتو حل شوې دې باقی مضمون آسان دې

[٦١٦٨] د خطبې په دوران کښې د حسنینو راوچتول

٦١٦٨-(٢)[٣٤] [١] وَعَنْ بُرَيْدَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَخْطُبُنَا، [٣] إِذْ جَاءَ الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ عَلَيْهِمَا قَمِيصَانِ أَحْمَرَانِ يَمْشِيَانِ وَيَعْثُرَانِ [٤] فَنَزَلَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مِنَ الْمِنْبَرِ فَحَمَلَهُمَا وَوَضَعَهُمَا بَيْنَ يَدَيْهِ، [٥] ثُمَّ قَالَ: "صَدَقَ اللَّهُ (إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ) [٦] نَظَرْتُ إِلَى هَذَيْنِ الصَّبِيَّيْنِ يَمْشِيَانِ وَيَعْثُرَانِ فَلَمْ أَصْبِرْ حَتَّى قَطَعْتُ حَدِيثِي وَرَفَعْتُهُمَا"». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

---

[1] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب مناقب أبی محمد الحسن بن علی بن أبی طالب والحسين بن علی بن أبی طالب رضی الله عنهما (رقم-٣٧٧٢)

[2] اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الصلاة/باب الإمام يقطع الخطبة للأمر يحدث (رقم-١١٠٩) والترمذی فی كتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٧٧٤)

ترجمه: [۱] او حضرت بريده بيان كوي [۲] يوه ورځ رسول الله ﷺ زمونږ مخكې خطبه ارشاد فرمايله [۳] چې اچانك حسن او حسين راغلل دواړو سره قميصو نه اغوستي وو او د كم سنۍ او ناطاقتۍ په سبب، داسې راتلل چې په زمكه به غورځيدل او دريدل [۴] حضور ﷺ د هغوئ په ليدو سره د منبر نه راكوزشو او هغوئ دواړه خپل په غيږ كې آخستو سره يې كينول [۵] بيا يې وفرمايل حق فرمايلي دي چې: انما اموالكم واولادكم فتنة [۶] ما دا دواړه بچي وليدل چې تلي نښي او غورځيدو پاڅيدو سره راځي نو د هغوئ محبت كې زما نه صبر ونه شو او ماخپله خبره (ديني وعظ ونصيحت او د بيان احكام ومسائل سلسله) منقطع كړله او منبر نه راخكته كيدو سره مې دوئ په غيږ كې واخستل (ترمذي ابوداود نسائي) **حل اللغات:-** ① يَعْثُرَانِ: پرمخې پريوتو ته عثرواني دلته هم دغه مراد دې يعنى كله په روانه راځي كله پريوځي لكه چه ماشومان وي. ② قَطَعْتُ حَدِيثِي: يعنى خبره مې نيمګړې پريخوده

تسهيلات:

قوله: فِتْنَةٌ:

په اولاد باندې د فتنې اطلاق: دَ فتنه اطلاق په مختلف معانوكښې كيږي دَمحبت په توګه په اولاد باندې هم دَدې اطلاق كيږي لكه څنګه چه دلته شوى دى

[۳۱۲۹] حسين سره د محبت كونكو دپاره دعا

۳۱۲۹ - ()[۳۰] [۱] وَعَنْ يَعْلَى بْنِ مُرَّةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [۲] «حُسَيْنٌ مِنِّي وَأَنَا مِنْ حُسَيْنٍ، [۳] أَحَبَّ اللَّهُ مَنْ أَحَبَّ حُسَيْنًا، [۴] حُسَيْنٌ سِبْطٌ مِنَ الْأَسْبَاطِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت يعلي ابن مره وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] حسين زما نه دى او زه د حسين نه يم [۳] دي هغه چا سره محبت وساتي چاچې حسين سره محبت وساتي [۴] حسين دا سباطو نه يو سبط دى. (ترمذي) [اخرجه الترمذی[1]]

تسهيلات:

قوله: حُسَيْنٌ سِبْطٌ مِنَ الْأَسْبَاطِ:

د سبط لغوى تحقيق: په سين زيردې اوباء ساكن ده بناخ ته هم وائى او اولاد ته هم وائى قبيله ته هم وائى پوره امت ته هم وائى يعنى حسين اګرچه يودې ليكن دا دَامتونو نه پوره امت دې. دَده نسل به خوريږي دلته دا معنى زيادته راجح معلوميږي

---

[1] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۷۷۵) وابن ماجه فی كتاب فی الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل الحسن والحسين ابنى على بن أبى طالب رضى الله عنهم (رقم-۱۴۴)

[۶۱۷۰] دحسنینو نبی علیه السلام سره مشابهت

۶۱۷۰-() [۳۶] [۱] وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] الْحَسَنُ أَشْبَهَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَا بَيْنَ الصَّدْرِ إِلَى الرَّأْسِ، وَالْحُسَيْنُ أَشْبَهَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَا كَانَ أَسْفَلَ مِنْ ذَلِكَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت علي کرم الله وجهه نه روایت دی هغوئ اوویل [۲] حسن خود رسول کریم ﷺ د سر نه واخله د سینې حصې پورې مشابه دی او حسین د رسول الله ﷺ سره سینې نه لاندې د جسم باقي حصه (یعنی پنډې او پښو وغیره کې) مشابه دی (ترمذي)

حل اللغات: - ① أَشْبَهَ: د باب افعال نه د فعل ماضی صیغه ده چه د شابه په معنی کښې دې یعنی زیات مشابه، په شکل او صورت کښې یو شان.

تسهیلات:

قوله: الْحَسَنُ أَشْبَهَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

دحسنینو خپل نیکه سره مشابهت: یعنی حضرت حسن رضی الله عنه چونکه مشرور نو په مشابهت کښې هغه ته پورته والا حصه ملاؤ شوه او حضرت حسین رضی الله عنه کشر وو نو هغه ته ښکته نئی حصه په خپو کښې مشابهت حاصل شوې دي نه معلومه شوه چه دا دواړه خامن خپل موریلار سره مشابه نه وو بلکه نیکه سره مشابه وو.

[۶۱۷۱] د فاطمې رضی الله عنها او حسنینو جنت د سرداری زیری

۶۱۷۱-() [۳۷] [۱] «وَعَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] قُلْتُ لِأُمِّي: دَعِينِي آتِي النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأُصَلِّي مَعَهُ الْمَغْرِبَ وَأَسْأَلُهُ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لِي وَلَكِ، [۳] فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَصَلَّيْتُ مَعَهُ الْمَغْرِبَ، فَصَلَّى حَتَّى صَلَّى الْعِشَاءَ، [۴] ثُمَّ انْفَتَلَ [۵] فَتَبِعْتُهُ، [۶] فَسَمِعَ صَوْتِي، [۷] فَقَالَ: "مَنْ هَذَا؟ حُذَيْفَةُ؟" قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ: "مَا حَاجَتُكَ؟

ترجمه: [۱] او حضرت حذیفه بن الیمان بیان کوي [۲] یوه ورځ ما خپلې مور ته اوویل که ماته اجازت راکوئ نو زه به نن ماښام مونځ د رسول الله ﷺ سره وکړم او بیا به حضور ﷺ ته درخواست وکړم چې هغوئ ما او ستا د پاره د بخښش او مغفرت دعا وغواړي [۳] نو خما مور ماته اجازت راکړه، اوزه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم او د ماښام مونځ مې وسره وکړ، حضور ﷺ ماښام ما نخه نه وروسته نفلونه کول (ددې پورې چې د ماسختن مونځ يې وکړو [۴] او کوم وخت چې حضور ﷺ ما نخه نه فارغیدو سره کور طرف ته روان شو [۵] نوزه وریسې شوم [۶] حضور ﷺ خما اواز، یعنی خما د قدمونو یا د چوټو اواز واوریدی یا داچې ما د چاسره څه خبره وکړه چې د هغه اواز هم، واوریدی [۷] نو پوښتنه یې وکړه څوک دی؟ (چې دا وخت خپل کورته د تلو په خای په ماپسې راروان دی) آیا حذیفه

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۷۷۹)
[۲] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۷۸۱)

يې؟ ما اوونيل آو (زه يم). رسول الله ﷺ اوفرمائيل : څه خبره ده؟

حل اللغات:- ① انْفَتَلَ: أي: انْصَرَفَ: واپس شو، روان شو(کور طرف ته)

غَفَرَ اللّٰهُ لَكَ وَلِأُمِّكَ، [۲] إِنَّ هٰذَا مَلَكٌ لَمْ يَنْزِلِ الْأَرْضَ قَطُّ قَبْلَ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ، [۳] اسْتَأْذَنَ رَبَّهُ [۴] أَنْ يُسَلِّمَ عَلَيَّ [۵] وَيُبَشِّرَنِي بِأَنَّ فَاطِمَةَ سَيِّدَةُ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ، [۶] وَأَنَّ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] الله دي تا او ستا دمور عفو او بخشش وکړي ، [۲] گوره دا يوه فرشته ده چې ددې شپې نه مخکې هيڅ کله زمکې ته نه وه راکوزشوې [۳] دې فرشتي د خپل پروردګار نه د دې خبرې اجازت اخستی دی [۴] چې زمکې ته راځکته کيدو سره ماته سلام وکړي [۵] او ماته دا خوشخبري واوروي چې فاطمه دجنتي ښځوسرداره ده [۶] او حسن اوحسين د جنتي ځوانانو سرداران دي دا روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يې دي چې داحديث غريب دی

تسهيلات:

قوله: دَعِيني آتِي النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

دحذيفه رضی الله عنه د اجازت غوښتلو وجه: په حديث الباب کښې دی چه حضرت حذيفه ﷺ دَ خپلې مور نه اجازت ځکه اوغوښتلو چه دَحضرت حذيفه ﷺ کور دَمسجد نبوی نه په څه فاصله باندې وو. اودَ هغوی مور خو يا دَ خپل يوازيوالی دَ وجې يا دَ حذيفه ﷺ دَ احتياط دَ وجې هغه دَ خپل کور نه لرې تلو نه منع کولو.

قوله: مَا حَاجَتُكَ:

حذيفه او مور دپاره د مغفرت دعا: د حذيفه د جواب ورکولو څخه وړاندې نبی عليه السلام د هغه د هغه د مور دپاره دمغفرت دعا اوکړه نو دا هم د نبی عليه السلام يوه معجزه شوه

د مابنام اوماسخوتن په مينځ کښې د عبادت فضيلت: دَدې حديث نه دَمابنام او ماسخوتن په مينځ کښې نوافل کښې مشغوليدو فضيلت ثابتيږی کوم ته چه دَ مشائخو په نيز "إحياء ما بين العشائين" وئيلې شی. چنانچه اکابرين امت دا عبادت اختيار کړې دي

[۶۱۷۲] ښه سورلی او ښه سور

۶۱۷۲-( )[۳۸] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حَامِلًا الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ عَلَى عَاتِقِهِ، [۲] فَقَالَ رَجُلٌ: نِعْمَ الْمَرْكَبُ رَكِبْتَ يَا غُلَامُ! [۳] فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "وَنِعْمَ الرَّاكِبُ هُوَ"». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس ﷺ بيان کوي يوه ورځ رسول الله ﷺ حسن بن علي خپلې

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم - ۳۷۸۴)

اوړي باندې کینولی وو ۲چې یوسړي اوویل اې خوش نصیبه ماشومه! څرنګه ښه سورلی باندې سپور یې ۳رسول الله ﷺ په دې اوریدو سره وفرمایل او هغه سوار هم څومره ښه دی (ترمذي)

حل اللغات:- ①حَامِلًا: اوچت کړی نې وو، سواره کړی نې وو ②نِعْمَ الْمَرْكَبُ: څومره ښه سورلی ده (یعنی نبی علیه السلام) ③نِعْمَ الرَّاكِبُ: څومره ښه سورلی ده (یعنی حسن رضي الله عنه).

تسهیلات:

قوله: وَنِعْمَ الرَّاكِبُ:

د راکب او مرکب عظمت: ویونکی سړی فضیلت حضورپاك سره خاص کړو چه دا مرکب اوسورلی ډیر ښکلې دی څکه چه داد الله تعالی رسول دې په کوم چه اې حسن ته سورنی حضورپاك دا فضیلت د حضرت حسن رضي الله عنه طرف ته منتقل کړو اوونی فرمائیل چه مرکوب سره سره دا راکب او سور حسن رضي الله عنه هم بهترین او ډیر ښکلې دې

[۶۱۷۳] د نبی علیه السلام محبت ته په خپل محبت ترجیح ورکول

۶۱۷۳-( )[۳۹] ۱«وَعَنْ عُمَرَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّهُ فَرَضَ لِأُسَامَةَ فِي ثَلَاثَةِ آلَافٍ وَخَمْسِمِائَةٍ، ۲وَفَرَضَ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ فِي ثَلَاثَةِ آلَافٍ. ۳فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ لِأَبِيهِ: لِمَ فَضَّلْتَ أُسَامَةَ عَلَيَّ؟ فَوَاللَّهِ مَا سَبَقَنِي إِلَى مَشْهَدٍ. ۴قَالَ: لِأَنَّ زَيْدًا كَانَ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مِنْ أَبِيكَ، وَكَانَ أُسَامَةُ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مِنْكَ ۵فَآثَرْتُ حِبَّ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَلَى حِبِّي». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت عمر فاروق نه روایت دی هغوی په خپله زمانه خلافت کې د اسامه بن زید سالانه تنخواه دري زره پنځه سوه ۳۵۰۰ درهم مقرر کړي وه ۲او د خپل فرزند عبد الله دري زره درهم په دي ۳عبد الله خپل پلار ته عرض وکړو تاسو اسامه ته په ماولې ترجیح ورکړه چې خما تنخواه د هغه نه پنځه سوه درهمه کمه مقرره کړله حالانکه په الله قسم چې اسامه هیڅ میدان کې په ماسبقت او کامیابی نه ده حاصله کړي ۴حضرت عمر ورته وفرمایل د دې وجه داده چې د اسامه پلار زید رسول الله ﷺ ته ستا ترپلار یعنی خما نه زیات عزیز او محبوب وو او خپله اسامه رسول الله ﷺ ته ستا نه زیات عزیز او محبوب وو ۵نو ما د رسول الله ﷺ محبوب اسامه ته په خپل محبوب یعنی په تاباندې ترجیح ورکړله (ترمذي)

حل اللغات:- ①فَرَضَ: أَيْ: قَدَّرَ: مقرر نې کړه، ②مَشْهَدٍ: أَيْ: مَحْضَرٍ: ځائې د حاضریدو (دې نه مراد میدان جهاد دي) ③فَآثَرْتُ: أَيْ: اخْتَرْتُ: غوره مې کړو، ترجیح مې ورکړه

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب زید بن حارثة رضی الله عنه (رقم-۳۸۱۳)

تسهیلات:

قوله: فَرَضَ لِأُسَامَةَ فِي ثَلَاثَةِ آلَافٍ وَخَمْسِمِائَةٍ:

دحدیث پس منظر: په حدیث الباب کښې دی چه حضرت عمر رضی الله عنه په خپل دورخلافت کښې دَ مشهورو صحابه کرامو رضی الله عنهم دَ معاش دَپاره دکال وظیفه مقررکړې وه. چنانچه دَ ابن عمر رضی الله عنه دکال وظیفه دَحضرت اسامه رضی الله عنه په مقابله کښې کمه وه. چونکه دَ وظیفې کمې زیاتې دَ درجاتو دکمی زیاتی دَ وجې نه وی په دې وجه ابن عمر رضی الله عنه سوال اوکړو دَ ابن عمر رضی الله عنه دا سوال دَحضرت اسامه رضی الله عنه سره دَ حسد یا مال دَ حرص او هوس دَ وجې هیڅ کله نه وو بلکه دَ افادې او استفادې په نیت سره وو.

قوله فَوَاللَّهِ مَا سَبَقَنِي إِلَى مَشْهَدٍ:

د مشهد څخه مراد: دې نه مراد دَ خیر مجلس دې که هغه علمی وی اوکه جهادی اوکه دَ حج وی مطلب دا وو چه داسې هیڅ یو مجلس دَخیر نه دې تیرشوې په کوم کښې چه حضرت اسامه شریك شوې وی او زه نه یم شریك شوې بلکه زما شمیر په سابقینو کښې کیږی نو حضرت عمر رضی الله عنه جواب ورکړو چه ما په خپل محبوب باندې دَ رسول کریم ﷺ محبوب ته ترجیح ورکړې ده.

[٦١٧٤] دزید نبی علیه السلام ته په خپل وروربا ندې ترجیح ورکول

> ۶۱۷۴-(۱) [۳۰] «[۱]وَعَنْ جَبَلَةَ بْنِ حَارِثَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲]قَدِمْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! ابْعَثْ مَعِي أَخِي زَيْدًا. [۳]قَالَ: "هُوَ ذَا فَإِنِ انْطَلَقَ مَعَكَ لَمْ أَمْنَعْهُ" [۴]قَالَ زَيْدٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ: وَاللَّهِ لَا أَخْتَارُ عَلَيْكَ أَحَدًا. [۵]قَالَ: فَرَأَيْتُ رَأْيَ أَخِي أَفْضَلَ مِنْ رَأْيِي». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت جبله بن حارثه بیان کوي [۲]زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرېدو سره عرض مې وکړو یا رسول الله! خما وروو زید ما سره ولیږئ [۳]حضور ﷺ ورته وفرمایل دا زید موجود دی او د خپلې مرضي مختار دی که تا سره تلل غواړي نو زه دې دي نه نه منع کوم [۴]زید په دې اورېدو سره اوویل یارسول الله! قسم په الله زه ستاسو صحبت او په خدمت کې د پاتې کېدو په سعادت چاته ترجیح نه ورکوم که هغه وروو یا والدین وي [۵]جبله وايي ماچې د زید دا مضبوطه فیصله واورېده نو ومې منله چې خما د وروو عقل خما د عقل نه زیات دی. (ترمذي)

حل اللغات:- ①قَدِمْتُ: راغلم، حاضر شوم، ②فَإِنِ انْطَلَقَ: که تلل غواړی، که خی

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب زید بن حارثة رضی الله عنه (رقم-۳۸۱۵)

تسهیلات:

قوله: اِبْعَثْ مَعِي أَخِي زَيْدًا..الخ:

دحدیث پس منظر: حضرت زید ؓ دیمن اوسیدونکي وو په وړوکوالی کښې د اتو کالو په عمرکښې خلقو هغه راپټ کړو اود مکې په بازارکښې غلام جوړولوسره خرڅ کړو د حضرت خدیجه ؓ وراره حکیم بن حزام د حضرت خدیجه ؓ دپاره واخستو کله چه دحضرت خدیجه ؓ نکاح حضورپاك سره اوشوه نوهغې د خادم په توګه حضرت زید ؓ د حضورپاك په خدمت کښې پیش کړو حضرت زیدبن حارثه ؓ دحضورپاك په خدمت کښې دغلامئ ژوندون تیرولو د هغه والدینو دهغه دپاره ډیرزیات ژړل هغوی ته معلومه نه وه چه زید چرته دې

د زید د پلار قصیده: د حضرت زید ؓ پلار ثابت د فریاد په توګه یوه قصیده اوونیله یوڅو اشعار دا ی

بَكَيْتُ عَلَى زَيْدٍ وَلَمْ أَدْرِ مَا فَعَلَ　　　أَحَيٌّ فَيُرْجَى أَمْ أَتَى دُونَهُ الْأَجَلُ

ترجمه زه په زیدباندې ژاړم مګر ماته معلومه نه ده چه هغه ژوندې دې که مړشوې دې

فَوَاللهِ مَا أَدْرِي وَإِنِّي لَسَائِلٌ　　　أَغَالَكَ بَعْدِي السَّهْلُ أَمْ غَالَكَ الْجَبَلُ

ترجمه په الله تعالی قسم ماته هیڅ معلومه نه ده مګر زه تپوسونه کوم چه تاله په میدانی علاقه کښې مرګ راغلې که په غریزه علاقه کښې مرګ راغلې دې

وَيَا لَيْتَ شِعْرِي هَلْ لَكَ الدَّهْرَ أَوْبَةٌ　　　فَحَسْبِي مِنَ الدُّنْيَا رُجُوعُكَ لِي بَجَلْ

ترجمه اې افسوس چه ماته دا معلومه شی چه په ژوند کښې به کله ته واپس راشې ماته خود دنیا په ټولو نعمتونوکښې ستا ژوندې راواپس کیدل کافی دی

د زید خپل پلارته جواب ورکول: د پلار دا شعرونه چه کله زید ؓ واوریدل نو په جواب کښې هغه دا لاندینی شعرونه اوونیل

أَحِنُّ إِلَى أَهْلِي وَإِنْ كُنْتُ نَائِيًا　　　بِأَنِّي قَعِيدُ الْبَيْتِ عِنْدَ الْمَشَاعِرِ

ترجمه زه سره ددې چه لرې یم اوبیت الله سره مقیم یم مګر بیاهم دکور خلق رایادیږی

فَإِنِّي بِحَمْدِ اللهِ فِي خَيْرِ أُسْرَةٍ　　　كِرَامِ مَعَدٍّ كَابِرًا بَعْدَ كَابِرِ

ترجمه اود الله تعالی په فضل سره زه دمعدبن عدنان په بهترین او معزز کورنئ کښې مقیم یم

فَكُفُّوا مِنَ الْوَجْدِ الَّذِي قَدْ شَجَاكُمْ　　　وَلَا تُعْمِلُوا فِي الْأَرْضِ نَصَّ الْأَبَاعِرِ

ترجمه نوتاسو خلق ددې غم نه منع شئ په کوم کښې چه تاسو اخته ئی او په زمکه کښې زما د لټولو دپاره اوښ مه زغلوئ

د زید پلارته د زید اشعار رسیدل: دالله تعالی کړه داسې وو چه دا شعرونه دَ هغه پلار ته اورسیدل په شعرونوکښې هغه خودلي وو چه زه حرم سره نیزدې حصار یم نوبیا دَحضرت زید ﷺ رور جبله بن حارثه مکې ته راغلو اوحضرت زید نې اوغوښتلو لکه څنګه چه مخکښې لیکلې شوې دی حضرت زید دَتلونه انکار اوکړو حضورپاك هغه خپل خوئی جوړ کړو اوحضرت زینب سره نې دَ هغه نکاح اوکړه هغه رشته ماته شوه نوبیا حضورپاك دَ هغه نکاح ام یمن سره اوکړه دَهغې نه حضرت أسامه ﷺ پیدا شو بیا حضورپاك حضرت زید ﷺ امیر جوړ کړو او غزوه موته دَپاره نې روان کړو هلته حضرت زید ﷺ په ۸هجری کښې دَ ۵۵کالو په عمرکښې شهید کړې شو.

[۶۱۷۵] په مرض الوفاة کښې د اسامه په مخ د شفقت لاس رابنکل

۶۱۷۵-() [۳۱] [۱]وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [۲]لَمَّا ثَقُلَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - هَبَطْتُ وَهَبَطَ النَّاسُ الْمَدِينَةَ، [۳]فَدَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَقَدْ أُصْمِتَ فَلَمْ يَتَكَلَّمْ، [۴]فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَضَعُ يَدَيْهِ عَلَيَّ وَيَرْفَعُهُمَا، فَأَعْرِفُ أَنَّهُ يَدْعُو لِي. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت اسامه بن زید بیان کوي [۲]هغه ورځو کې چې رسول الله ﷺ مرض وفات کې ډیر زیات کمزوری شوی وو زه او نور خلق په مدینه کې خکته شو [۳]زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم هغه وخت حضور ﷺ باندې خاموشي خوره وه (یعنی د شدت مرض او ضعف په سبب د ګویائي طاقت یې باقي نه وو پاتې شوی نو څما په لیدو سره حضور ﷺ ژبې مبارکې سره هیڅ ونه ونیل بیا هم رسول الله ﷺ داضرور وکړل) [۴]چې خپل دواړه لاسه به یې په ما اینښودل بیابه یې اوچتول د نور ولایت او ظهور فراست په سبب زه پوهه شوم چې حضور ﷺ څما په حق کې دعا فرمایې دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلې یې دي چې داحدیث غریب دی.

حل اللغات:- ① ثَقُلَ: أَيْ: ضَعُفَ: کمزوری شوې وو (دَ مرض الموت په وخت دَ سختۍ طرف ته اشاره ده ② هَبَطْتُ: أَيْ: نَزَلْتُ: زه ښکته شوم (دَملاقات اوپوښتنې دَپاره راتلل او کوزیدل مراددی) ③ أُصْمِتَ: اعْتُقِلَ لِسَانُهُ: ژبه نې بنده شوه (یعنی دَ مرض دَ سختۍ نه حضورپاك باندې بې هوشی راغلې وه او خبرې نې بند کړې وې)

تسهیلات: **قوله**: أُصْمِتَ:

د حدیث پس منظر: دادَ یوحالت واقعه ده ګنې په دویم حالت کښې حضورپاك دَ حضرت أسامه ﷺ دَ پاره جنګی جنډا تړلوسره رخصت کړې وو اودا آخری ملاقات وو لیکن شیخ

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب أسامة بن زید رضی الله عنه (رقم-۳۸۱۷) واحمد فی المسند: ۲۰۱/۵

عبدالحق رحمه الله په اشعة اللمعات کښي ليکلی دی چه د حضرت أسامه رضي الله عنه لښکر د مديني نه لږ شان بهر ډيره شوي وو او د حضورپاك په بيمارئ کښي سختي راغله نو هغه وخت حضرت أسامه د پوښتني د پاره حاضرشوي وو داد هغه وخت خبره ده چه د مرض د سختئ د وجي نه اوس حضورپاك كلام نه شو كولي

قوله: وَيَرْفَعُهُمَا:

د لاس پورته کولو طرف: يعني لاس به ئی د آسمان طرف ته اوچتولو او اشاره به ئی کوله د کوم نه چه ما اندازه اوکړه حضور پاك ماته دعافرمائی

[۶۲۷۰] عائشي رضی الله عنها ته د اسامه سره د محبت کولو حکم کول

۶۲۷۰-()[۳۳] (١) «وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- قَالَتْ: (٢) أَرَادَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنْ يُنَحِّيَ مُخَاطَ أُسَامَةَ. (٣) قَالَتْ عَائِشَةُ: دَعْنِي حَتَّى أَكُونَ أَنَا الَّذِي أَفْعَلُ. (٤) قَالَ: "يَا عَائِشَةُ أَحِبِّيهِ فَإِنِّي أُحِبُّهُ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: (١) او ام المؤمنين بي بي عائشه رضي الله عنها بيان کوي (٢) يوه ورځ رسول الله ﷺ د اسامه په ماشوم توب کي د هغه پوزه صاف کول او غوښتل ځرنګه چي د بچو پوزه صاف کوي نو ما دا خبره خلاف أدب ګڼلو سره چي ځما موجودګي کي د اسامه پوزه حضور ﷺ صفا کړي (٣) عائشه وائی ما عرض وکړو يا رسول الله تاسو دا کار پريږدئ دا به زه وکرم (٤) نو حضور ﷺ وفرمايل اي عائشه رضي الله عنها! ته اسامه سره محبت ساته ځکه چي زه دي عزيز او محبوب لرم. (ترمذي)

حل اللغات:- ① يُنَحِّي: أي: يُزِيلَ: لري کول ني. ② مُخَاطَ: وَهُوَ مَا يَسِيلُ مِنَ الْأَنْفِ: د پوزي فترو او ګندګئ ته مخاط وائی. ③ دَعْنِي: أي: اتْرُكْنِي: ما پريږده (چه زه ني اوکرم)

تسهيلات:

قوله: أَنْ يُنَحِّيَ مُخَاطَ أُسَامَةَ:

د اسامه رضی الله عنه پوزه پاکول: حضرت اسامه رضي الله عنه د وړوکوالی په حالت کښي وو د رسول کريم ﷺ په غيږ کښي وو چه د هغه پوزه راؤبيدله نو رسول کريم ﷺ په خپل لاس مبارك باندي صفاکول غوښتل نوحضرت عائشه رضي الله عنها عرض اوکړو چه زه ئی صفاکوم بيا حضورپاك حضرت عائشه رضي الله عنها دي طرف ته متوجه کړه چه اګرچه د اسامه سره ستا طبعًا محبت او انسيت نه وی خو په دي وجه چه د محبوب محبوب هم محبوب وی اسامه عزيز او محبوب اوساته ځکه چه زه دي عزيز اومحبوب ساتم

[1] اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أسامة بن زيد رضي الله عنه (رقم-۳۸۱۸)

[۶۱۷۷] د نبي علیه السلم اسامه سره د محبت اظهار کول

۶۱۷۷-(۱) [۳۳] [۱] «وَعَنْ أُسَامَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] كُنْتُ جَالِسًا، إِذْ جَاءَ عَلِيٌّ وَالْعَبَّاسُ يَسْتَأْذِنَانِ، [۳] فَقَالَا لِأُسَامَةَ: اسْتَأْذِنْ لَنَا رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَلِيٌّ وَالْعَبَّاسُ يَسْتَأْذِنَانِ. [۴] فَقَالَ: "أَتَدْرِي مَا جَاءَ بِهِمَا؟" قُلْتُ: لَا"، قَالَ: "لَكِنِّي أَدْرِي، ائْذَنْ لَهُمَا" [۵] فَدَخَلَا، فَقَالَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- جِئْنَاكَ نَسْأَلُكَ أَيُّ أَهْلِكَ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ قَالَ: "فَاطِمَةُ بِنْتُ مُحَمَّدٍ"

ترجمه: [۱] او حضرت اسامه بیان کوي [۲] یوه ورځ زه د حضور ﷺ په دروازه ناست وم چې حضرت علي او حضرت عباس راغلل د حضور ﷺ په خدمت کې د حاضرۍ د اجازت طلبګار وو [۳] هغه دواړو اسامه ته اوویل چې هغه ورځو کې د لړ عمر وو چې ته زمونږ د پاره د حاضرۍ اجازت طلب کړه زه کورته دننه ورتلو سره عرض مې وکړ یارسول الله: حضرت علي او حضرت عباس د حاضرۍ د اجازت طلبګار دی [۴] حضور ﷺ دې خبرې اوریدو سره زما نه پوښتنه وکړه تاته معلومه ده چې هغه دواړه کوم مقصد د پاره راغلي دي؟ ما عرض وکړو ماته معلومه نه ده حضور ﷺ وفرمایل لیکن زه پوهیږم ورشه هغوئ دننه راولـه [۵] دواړه حضرات دننه راغلل او هغوئ اوویل یارسول الله: مونږ ستاسو په خدمت کې دا سوال راوړلو سره راغلي یو چې ستاسو اهل بیتو کې کوم سړی ستاسو په نزد زیات محبوب دی حضور ﷺ وفرمایل څما لور فاطمه بنت محمد ﷺ ماته زیاته عزیزه او محبوبه ده

[۱] قَالَا: مَا جِئْنَاكَ نَسْأَلُكَ عَنْ أَهْلِكَ قَالَ: "أَحَبُّ أَهْلِي إِلَيَّ مَنْ قَدْ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتُ عَلَيْهِ: أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ" [۲] قَالَا: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: ثُمَّ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ" [۳] فَقَالَ الْعَبَّاسُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! جَعَلْتَ عَمَّكَ آخِرَهُمْ؟ [۴] قَالَ: "إِنَّ عَلِيًّا سَبَقَكَ بِالْهِجْرَةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَذُكِرَ أَنَّ عَمَّ الرَّجُلِ صِنْوُ أَبِيهِ فِي كِتَابِ الزَّكَاةِ.

ترجمه: [۱] هغه دواړو حضراتو عرض وکړو زمونږ د سوال تعلق ستاسو کور والاوو یعنی ستاسو اولاد ازواجو سره نه دی بلکه ستاسو نور اقاربو او متعلقینو سره دی حضور ﷺ وفرمایل څما کور والاوو نه هغه سړی څما په نزد زیات عزیز او محبوب دی چه ﷺ باندې خپل انعام او فضل کړی دی په ایمان سره او ماهم په هغه انعام او احسان کړي دی په آزادولو سره او هغه اسامه بن زید دی [۲] حضرت علي ﷺ او حضرت عباس پوښتنه وکړه اسامه نه وروسته تاسو ته څوک زیات محبوب او عزیز دی حضور ﷺ وفرمایل بیا علي بن ابي طالب په [۳] دې اوریدو سره حضرت عباس اوویل یارسول الله: تاسو خپل تره یعنی زه خپل کور والو کې په آخر کې واچولم [۴] حضور ﷺ ورته وفرمایل علي په هجرت کې په تا سبقت کړی دی (ترمذي) او روایت انّ عمّ الرّجل صنو ابیه د حضرت عباس منقبت کې مخکې په کتاب الزکوٰة کې نقل شوي دي.

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب أسامة بن زید رضی الله عنه (رقم-۳۸۱۷)

تسهیلات: **قوله:** مَا جِئْنَاكَ نَسْأَلُكَ:

نبی علیه السلام ته زیات محبوب خلق: یعني مونږ ستاسو دَ اولاد دَ محبوبیت باره کښې سوال نه کوو بلکه ستاسو دَ نورو خپلو خپلوانو باره کښې معلومات کوو چه په هغوی کښې تاسو ته دَ ټولو نه زیات محبوب څوك دې؟ حضورپاك اوفرمائیل اُسامه ﷺ اوبیا علی ﷺ په دې باندې حضرت عباس ﷺ اوفرمائیل چه تاسو خپل تره شانه اوغورزولو حضورپاك اوفرمائیل حضرت علی ﷺ تاسو نه مخکښې هجرت کړې دې په دې وجه وړاندې شو.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۶۱۷۸] دَ ابوبکر رضی الله عنه حسن رضی الله عنه په خپله اوږه کینول

۶۱۷۸-(۱) [۳۳] [۱] عَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «صَلَّى أَبُو بَكْرٍ الْعَصْرَ ثُمَّ خَرَجَ يَمْشِي وَمَعَهُ عَلِيٌّ، [۲] فَرَأَى الْحَسَنَ يَلْعَبُ مَعَ الصِّبْيَانِ، فَحَمَلَهُ عَلَى عَاتِقِهِ [۳] وَقَالَ: بِأَبِي شَبِيهٌ بِالنَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَيْسَ شَبِيهًا بِعَلِيٍّ، [۴] وَعَلِيٌّ يَضْحَكُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت عقبه بن حارث بیان کوي چې حضرت ابوبکر صدیق خپله زمانه خلافت کې یا د هغه نه مخکې یوه ورځ د مازیګر مونځ کولو سره بهر راووتلو او چیرته تلو د پاره روان شو هغه وخت د هغوی سره حضرت علي هم وو [۲] په لار کې حضرت ابوبکر چې حسن اولیدلو چې دوړو سره یې لوبې کولی نو اوچتولو سره خپله اوږه باندې کینولو [۳] او د خوش طبعي له مخه یې اوویل خما پلار دې په تا قربان شي دا حسن درسول الله ﷺ سره ډیر مشابه دي علي سره نه دی [۴] په دې اوریدو سره حضرت علي د اظهار خوشی په طور وخندل. (بخاري)

تسهیلات: **قوله:** لَيْسَ شَبِيهًا بِعَلِيٍّ:

نبی علیه السلام سره د حسن مشابهت: یعني حضرت حسن ﷺ دَ خپل نیکه حضرت محمد ﷺ په شان دي دَ حضرت علی ﷺ په شان نه دي دي نه معلومه شوه چه دَ حضورپاك او حضرت علی ﷺ په مینځ کښې بدنی مشابهت نه وو

[۶۱۷۹] د حسین رضی الله عنه په مخ پورې د ابن زیاد توقې کول

۶۱۷۹-(۲) [۳۵] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: أُتِيَ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ زِيَادٍ بِرَأْسِ الْحُسَيْنِ، فَجُعِلَ فِي طَسْتٍ، [۲] فَجَعَلَ يَنْكُتُ وَقَالَ فِي حُسْنِهِ شَيْئًا، [۳] قَالَ أَنَسٌ: فَقُلْتُ: وَاللَّهِ إِنَّهُ كَانَ أَشْبَهَهُمْ بِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَكَانَ مَخْضُوبًا بِالْوَسِمَةِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب مناقب الحسن والحسین رضی الله عنهما (رقم-۳۷۵۰)

[۲] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب مناقب الحسن والحسین رضی الله عنهما (رقم-۳۷۴۸) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۷۷۸)

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه بيان کوي کوم وخت چې د حضرت حسين سرمبارک تن پاک نه جدا کولو سره د عبيد الله بن زياد مخې ته يولگن (تالي) کې کيخودل شو [۲] نو هغه بدبخت خپلې لښتې سره د هغه سرمبارک وهل شروع کړل (يعنې د حضرت حسين په حقله د خپل نفرت او حقارت ښکاره کولو د پاره د لښتې په سربار بار پوزې وغيره باندې وهې بې هغه د هغوی د حسن په باره کې څه اوويل [۳] حضرت انس وايي مې د هغه شقي دا حرکت ليدو سره او د هغه الفاظو اوريدو سره ورته اوويل قسم په الله دا هغه مقدس انسان دی چې اهل بيتو کې د ټولو نه زيات د رسول الله ﷺ مشابه وو هغه وخت د حضرت حسين سرمبارک وسمه سره رنګ شوی وو (بخاري)

حل اللغات:- ① طَسْتٍ: لوښي، خانک يا لگن ② يَنْكُتُ: أي: يَضْرِبُ: وهلو ئې. ③ مَخْضُوبًا: رنګ کړې شوې وو. خضاب لګولې شوې وو. ④ الْوَسِمَةِ: نَبْتٌ يُخْضَبُ بِهِ وَيَمِيلُ إِلَى السَّوَادِ: يوقسم وابنه دی چه په هغې سره خضاب کولې شي رنګ ئې توروالي ته مائل وي

> [۱] وَفِي رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ قَالَ: كُنْتُ عِنْدَ ابْنِ زِيَادٍ فَجِيءَ بِرَأْسِ الْحُسَيْنِ، [۲] فَجَعَلَ يَضْرِبُ بِقَضِيبٍ فِي أَنْفِهِ وَيَقُولُ: مَا رَأَيْتُ مِثْلَ هَذَا حُسْنًا، [۳] فَقُلْتُ: أَمَا إِنَّهُ كَانَ مِنْ أَشْبَهِهِمْ بِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او د ترمذي په روايت کې داسې دي حضرت انس بيان وکړو هغه وخت زه ابن زياد سره موجود وم چې د حضرت حسين سرمبارک د هغه مخې ته راوړل شو [۲] ابن زياد به هغه په پوزه باندې په لښتې سره وهې او وئيل به يې داسې حسن ماهيڅ کله نه دی ليدلی [۳] مې ورته اوويل تاته معلومه ده دا هغه سړی دی چې رسول الله ﷺ سره د ټولو نه زيات مشابه وو ترمذي ويلي دي دا حديث صحيح حسن غريب دی

حل اللغات:- ⑤ قَضِيبٍ: لښته، چوکه

تسهيلات:

قوله: أَتَى عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ زِيَادٍ بِرَأْسِ الْحُسَيْنِ،

د ابن زياد په لاس د حسين رضي الله عنه شهادت: دَ يزيد دَ طرف نه عبد الله ابن زياد دَ بصره ګورنر وو مګر يزيد دَ حضرت امام حسين رضي الله عنه دَ مقابله دَپاره په خاص توګه عبيد الله ابن زياد فورې دَ بصره نه اخوا کړو اودَ کوفه ګورنرئې جوړ کړو چه ابن زياد په ذاتي دلچسپئ سره حسين رضي الله عنه قتل کړی دابدبخت کوفه ته راغلو اول ئې مسلم بن عقيل شهيد کړو اوپه قصرامارت باندې قبضه اوکړه اودې نه پس ئې دَ فوج مشرې لاس کښې اخستوسره حضرت امام حسين رضي الله عنه دکربلا په ميدان کښې شهيد کړو دَ حضرت امام حسين رضي الله عنه سر دَ تن نه جدا کولوسره په پليټ کښې کيخودو او ابن زياد ته ئې پيش کړو دَدې بدبخت په لاس کښې يوه چوکه وه هغه ئې دَ حضرت امام حسين رضي الله عنه په پوزه او سترګه

کښې ورخښوله اودَ مزاق په توګه نې ووئیل چه ښائسته دې؟ حسین ډیر ښائسته دې؟ ښه هغه ښائسته دادې؟ په دې باندې حضرت انس رضی الله عنه هغه اوړتلو.

قوله: فِي حُسْنِهِ شَيْئًا:

د ابن زیاد مرګ: دَدې لفظ هم دغه مطلب دې چه دَ مسخرو په توګه هغه دَ حضرت حسین رضی الله عنه په حسن کښې څه بکواس کولو. وئیلې شی څه موده پس ابن زیاد مختار بن عبید قتل کړو اودَ هغه سر ئې راوړو دَخلقو مخې ته ئې هم دَ دغه جمات په دونکاچه باندې کیخودو ناڅاپې شور شو چه راغلو راغلو کله چه اوکتلې شو نو یومار راغلو اودَ ابن زیاد په پوزه کښې ورننوتلو اوبیا راؤوتلو. دوه درې ځل داسې اوشو خلق اوتختیدل.

دحضرت حسین رضی الله عنه د قاتل اشعار: په حضرت حسین رضی الله عنه وار کونکی قاتل نوم سنان ابن انس نخعی دې. دغه بدبخت چه کله دَ امام حسین سردَ تن نه جدا کړو دَ ابن زیاد مخې ته ئې کیخودو نودا شعر ئې اووئیل:

أوقِرْ رِكَابِيْ فِضَّةً وَذَهَبًا　　　إِنِّيْ قَتَلْتُ الْمَلِكَ الْمُحَجَّبَا

قَتَلْتُ خَيْرَ النَّاسِ أُمًّا وَأَبًا

ترجمه زما سورلی دَ سرو زرو اوسپینو زرو نه ډکه کړه ما ډیر محفوظ بادشاه قتل کړو چه په حسب اونسب کښې دَ ټولو نه بهتر وو.

د یزید اشعار: وئیلې شی چه کله دَامام حسین رضی الله عنه سر دَ یزید په مخکښې کیخودې شو نویزیددا شعر اووئیل:

نُفَلِّقُ هَامًا مِنْ رِجَالٍ أَعِزَّةٍ　　　فَلَيْنَا وَكَانُوْا أَعَقَّ وَأَظْلَمَا

ترجمه مونږ دَ عزت دارو خلقو کهوپړئی الوزو خکه هغوی زمونږ په حق کښې بې حده نافرمان او لوئی ظالم وو.

په یزید د لعنت باره کښې د امام احمد بن حنبل مذهب: دَ سورة محمد آیت نمبر ۲۳ تفسیر کښې علامه روح المعانی رحمه الله یزید اوقاتلان حسین رضی الله عنه باره کښې ډیرڅه لیکلی دی. هغوی لیکی چه دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله ځوئی عبدالله دَخپل پلار احمد بن حنبل رحمه الله نه پوښتنه اوکړه چه په یزید باندې لعنت وئیل څنګه دی؟ امام احمد رحمه الله په جواب کښې اوفرمائیل په کوم سړی چه الله تعالی په خپل کتاب کښې لعنت وئیلې دې په هغه باندې ولې لعنت اونه وئیلې شی. ځوئی اووئیل پلاره ما خو پوره قرآن لوستلې دې په هغې کښې خو په یزید باندې چرته هم لعنت نشته دې. امام احمد رحمه الله اوفرمائیل چه دَالله تعالی ارشاد دې ﴿فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوْا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوْا أَرْحَامَكُمْ۝ أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمٰٓى أَبْصَارَهُمْ۝﴾ په دې آیت کښې الله تعالی فساد کونکو اوصله رحمی

ماتونکوباندې لعنت فرمائیلې دې اویزیدچه کوم څه حضرت امام حسین رضی الله عنه سره کړی دَهغې نه لوئی فساد څه کیدې شی اودَدې نه زیاته صله رحمی ماتیدل چرته کیدې شی.
[روح المعانی ج۹ص۷۲]

په یو فاسق فاجر کس باندې یقین سره لعنت وئیل:

علامه روح المعانی رحمه الله نور لیکی چه دې نه معلومه شوه چه په یوسړې معین اونامزدکولوسره لعنت لیګل جائزدی مګر په دې کښې څه اختلاف دې نو دَ جمهورو په نیز په یو معین سړی باندې لعنت لیګل جائزنه دی که هغه فاسق وی یا غیرفاسق اوکه هغه ژوندې وی اوکه مړشوې وی خوچه دَهغه مرګ په کفرباندې یقینی نه وی اودَچامرګ چه په یقینی توګه باندې په کفرشوې وی په هغه لعنت لیګل جائزدی لکه ابوجهل وغیره مګر شیخ الاسلام علامه بلقینی رحمه الله دې طرف ته تلې دې چه په یوفاسق فاجرسړی باندې یقین سره لعنت لیګل جائزدی په ډیرواحادیثو کښې دَدې شواهد موجوددی

په یزید باندې لعنت وئیلو کښې اقوال: ① علامه آلوسی رحمه الله لیکی چه مونږ به دَ علامه بلقینی رحمه الله دَ تحقیق په رڼاکښې په یزیدلعنت لیګلوکښې هیڅ ترددنه کوو څکه چه دَ یزدصفات خبیثه اودکبائرارتکاب دَحدنه زیات دی هغه دَ خپل اقتدارپه وخت اهل مکه اواهل مدینه سره چه څه کړی اودَ امام حسین علیه السلام په قتل نی چه کوم دَ خوشحالئی اظهارکړې دې اودَهغوی دَ کور والو ئی چه کوم توهین کړې دې په هغه باندې دَ لعنت کولودَپاره کافی دی

② علامه مزید لیکی چه په یزیدباندې لعنت ونیل اودَ هغه په کفرباندې دَ علماء دَ یوجماعت تصریحات موجوددی هم دَدوی نه حافظ ابن الجوزی رحمه الله دې اودَ هغوی نه وړاندې قاضی ابویعلی رحمه الله دې

③ علامه تفتازانی رحمه الله ونیلی دی چه مونږ دَ یزیدپه لعنت کښې اودَهغه په ایمان کښې هیڅ توقف نه کوو په هغه باندې اودَهغه په اعوان اوانصار باندې دې دَالله تعالی لعنت وی

④ علامه آلوسی رحمه الله نور لیکی چه دَ یزیدپه لعنت باندې دَ علامه سیوطی رحمه الله تصریح هم موجودده

⑤ دَ ابن وردی په تاریخ کښې او کتاب الوافی بالوفیات کښې لیکلی دی چه کله دَ عراق نه دَحضرت امام حسین علیه السلام پس ماندګان بنځې اوبچی ګرفتاریزیدله راؤرسیدل نویزیددَ هغوی دکتلودَپاره مقام جیرون پورې بهر راغلو دَحضرت حسین اودَ علی بن حسین بچی بنځې ګرفتاروې دَامام حسین اودَهغه دَملګرو سرونه په نیزوکښې اوچت کړې شوی وو یوکارغه دَ کائی کائی آواز شروع کړو په دې باندې یزیددا شعر اوونیل:

لَمَّا بَدَتْ تِلْكَ الْحُمُوْلُ وَأَشْرَفَتْ   تِلْكَ الرُّؤُسُ عَلٰى شَفَا جَيْرُوْنَ

ترجمه کله چه دا سورلنی رانيزدې کيدوسره رابنکاره شوې او مقام جيرون په غاړه باندې په نيزو باندې اوچت کړې شوې سرونه راغله

نَعِبَ الْغُرَابُ فَقُلْتُ قُلْ أَوْلَا تَقُلْ   فَقَدِ اقْتَضَيْتُ مِنَ الرَّسُوْلِ دُيُوْنِيْ

ترجمه نوبو کارغه دَ نحوست آواز اوکړو ما کارغه ته اووئيل چه که ته وائې او که نه وائې ما دَ رسول نه دَخپلو مقتولينو بدله واخستله

علامه روح المعاني رحمه الله فرمائی دَ بدر په جنګ کښې دَ يزيدنيکه عتبه وغيره وژلې شوې وو يزيدپه دې اشعارو کښې هم دَهغه بدلې ذکر کړې دې علامه ليکی چه که دا اشعار صحيح ثابت شی نو په دې سره به يزيدکافرشی دغه شان څه نور شعرونه هم يزيدونيلی دی په هغې سره به هم يزيدکافر کيدل ثابت شی [روح المعاني ج۹ ص۷۲]

په يزيد باندې لعنت وئيلو کښې د اهل سنت اقوال: بهرحال دَ جمهورعلماء اهل سنت داموقف دې چه دَ يزيدپه کفرباندې مړه کيدل يقينی نه دی لهذا په هغه باندې دَ مرګ نه پس لعنت ليګل جائزنه دی

① علامه روح المعانی رحمه الله په خپل تحقيق کښې نورفرمائی چه بل طرف ته امام غزالی رحمه الله دې طرف ته تلې دې چه په يزيدباندې لعنت ليګل حرام دی بلکه دَمسلمانانو دعاګانې هغه سره دی ځکه چه هغه مسلمان کيدوسره مړشوې دې

خو علامه سفارينی رحمه الله دَامام غزالی رحمه الله قول ردکړې دې او علامه روح المعانی دَ علامه سفارينی قول خوښ کړې دې په کوم کښې چه هغوی دَامام غزالی رحمه الله قول ردکړې دې

② شيخ الاسلام علامه ابن تيميه رحمه الله ليکلی دی چه دَامام احمدبن حنبل رحمه الله په نيز په يزيدباندې لعنت ليګل مکروه دی

③ بل خوا ابوبکر بن العرابی المالکی دَ يزيدډير حمايت کړې دې اوليکی "ان الحسين قتل بسيف جده" يعنی دَحضورپاك دَ فرمان مطابق دَ بغاوت لاندې حسين قتل کړې شو دَدې کلام په وجه علامه آلوسی رحمه الله په يزيدباندې دَتنقيدکولونه زيات په سخت اندازکښې ابن عربی باندې تنقيدکړې دې (ابن عربی دَدې تنقيد مستحق هم دې)

د علامه آلوسی د بحث خلاصه: علامه آلوسی رحمه الله دَدې پوره تفصيل داسې خلاصه راويستوسره ليکلی دی چه څه دَ يزيدباره کښې وئيلی شوی دی دَ هغې خلاصه داده چه بعضې حضرات دَ يزيدباره کښې وائی چه هغه مسلمان دې په هغه باندې لعنت ليګل صحيح نه دی خوهغه دَ اهل بيت باره کښې دَ معصيت مرتکب شوې دې هغه دَدې مجرم دې دَ علماء دويمه طبقه وائی چه يزيد مسلمان دې مګر په کراهت سره په هغه باندې لعنت ليګل جائزدی يا بغيرکراهت نه هم جائزدی دريمه طبقه وائی چه يزيد کافراوملعون دې په هغه باندې لعنت جائزدې څلورمه طبقه وائی چه يزيدپاك صفادې هغه چه څه کړی دی

هغه څه ګناه نه ده.

علامه آلوسی بغدادی رحمه الله لیکی زه خودا وایم چه زما په غالب ګمان کښې یزید خبیث دَ رسول کریم ﷺ دَ رسالت تصدیق نه وو کړې اوهغه چه دَ کومو مکروهو افعالوارتکاب کړې وو لکه دَ بیت الله اودَ هغې دَ اوسیدونکوسره نی چه څه کړی وو اومدینې اواهل مدینې سره نی چه څه اوکړه اودَ نبی پاك اهل بیت سره نی چه څه اوکړه او په ذاتی توګه چه هغه دکومو قبائحو مرتکب کیدو دادَهغه په عدم تصدیق باندې دَدې نه لونی دلیل دې چه یوسړې دَ قرآن پاك پاڼړې په ګندګئی او غلاظت کښې اوغورزوی اوکافرشی زما لړشان هم شك نه دې بلکه یقین دې چه دَ یزیددا کافرانه افعال دَهغه زمانې دَ بزرګ او دَ اوچتې درجې دَمسلمانانونه پټ نه وولیکن هغوی څکه صبراوکړو چه هغوی مغلوب اومجبورړوو اوهغوی د صبرنه بغیرڅه کول هم نه دې دَپاره چه دَالله تعالی مقرر کړې شوې حکم خپل انجام ته اورسی.

اوکه چرې دا اومنلې هم شی چه یزید خبیث مسلمان وو کافرنه وو نوهغه داسې مسلمان وو چه په خپل څان باندې دَ ګناهونودومره انبارونه راجمع کړې ووکوم چه په ژبه سره بیانولې نه شی. زه خو ښه په ښکاره په یزیدباندې دَ لعنت وئیلو قائل یم او په هغه باندې په خصوصی تعیین سره لعنت جائزمنم اوظاهرهم دغه دی چه یزیددَ دغه کبائر دَ ارتکاب نه پس هیڅ توبه نه ده کړې اودَهغه دَتوبې احتمال دَهغه دَ ایمان دَ احتمال نه زیات کمزورې دې په دې لعنت کښې یزیدسره ابن زیاد ابن سعداودَهغه جماعت برابر شریك دې. "فلعنة الله عزوجل علیهم اجمعین وعلی انصارهم واعوانهم وشیعتهم ومن مأل الیهم الی یوم الدین" [روح المعانی ج۹ ص۷۲]

علامه روح المعانی نور لیکی که یوسړې په یزیدباندې په خصوصی توګه لعنت وئیلونه ویرېږی نوهغه دې په اجمالی توګه سره داسې لعنت لیکی "لعن الله من رضی بقتل الحسن ومن آذی عترة النبی صلی الله علیه وسلم" دغه شان عموم سره لعنت کولوکښې دَ چا اختلاف هم نشته دې اویزیدبه دَدې عموم رومبې مصداق جوړېږی. احواله بالا.

دوه ضروری خبرې: ①حافظ فضل محمد صاحب په توضیحات شرح مشکاة کښې فرمائی دَ علامه روح المعانی رحمه الله تحقیق دَ ناظرین مخې ته دې په دې باندې دَ هیڅ تبصرې ضرورت نشته دې البته دَ دوو خبروطرف ته اشاره کول غواړم یوداچه دَمرګ نه پس په چاباندې لعنت لیګل اونه لیګل دَهغه متعلقه سړی په خاتمه باندې مبنی ده. که هغه سړې په کفرباندې مړوی نولعنت جائزدې اوکه چرې په ایمان باندې مړوی نو لعنت لیګل جائزنه دی. جمهورامت په دې باندې قائم دې چه دَیزیدخاتمه په کفرباندې یقینی نه ده لهذا لعنت لیګل صحیح نه دی.

② دویمه خبره دا په ذهن کښې یاد ساتل پکاردی چه دکوم سړی په کافرکیدو اونه

کافر کیدو کښې دَ علماء اختلاف پیداشی نو دَ هغه سړی فاسق او فاجر کیدل یقینی کیږی دَ یزید معامله هم دغه شان ده. دَدې مثال پیش کولې شی چه دَ کوم سړی نبی کیدو او نه کیدو کښې دَ علماؤ اختلاف شی نو هغه سړې په کامل توګه باندې ولی وی لکه چه دَ حضرت لقمان معامله ده لهذا دَ یزید فاسق او فاجر کیدل یقینی دی او دَ حضرت لقمان ولی کیدل یقینی دی

یو اشکال: دلته یو شك داپیدا کیږی چه یزید دَ معاویه رضی الله عنه خوئی دې حضرت معاویه رضی الله عنه دې ولی عهد جوړ کړې وو لهذا یزید ته بد ونیل جائز نه دی؟

د اشکال دوه جوابونه: ① دا شك غلط دې ځکه چه ډیر انبیاء کرام داسې تیر شوی دی دَچا خامن چه کافران شوی وو په دې سره دَ هغه په پلار باندې هیڅ طعن نه شی راتلې لکه دَ نوح علیه السلام خوئی کنعان کافر وو او کافر مړ شو. یزید کیدې شی چه اول ښه وو او دَ بادشاه جوړیدو نه پس خراب شوې وی په دې کښې دَ حضرت معاویه رضی الله عنه څه قصور دې؟ دویمه شبه داپیش کولې شی چه دَ بخاری شریف په یو حدیث کښې دَ غزوه قسطنطنیه دَ شریکو خلقو دَ پاره دَ مغفرت بشارت ورکړې شوې دې او په دغه غزوه کښې یزید شریك وو لهذا دَ هغه خو لوئی مقام دې. دَدې جواب دادې چه دَ دغه حدیث دا بشارت په دغه غزوه کښې دَ شریکو مجاهدینو په راتلونکی وخت کښې صالح پرهیزګار او متقی پاتې کیدو سره مشروط دی ګنی فرض کړه یو سړې په دغه غزوه کښې شریك شو او بیا روستو مرتد شو نو آیا هغه به هم مغفورلهم یعنی په مغفرت حاصلونکو شمیرلې شی؟

② چه کله حضرت معاویه دَ قسطنطنیه لښکر روان کړو نو یزید ته ئی حکم او کړو چه ته هم لاړ شه هغه بهانه او کړه چه زه بیمار یم اولاړ نه شو روستو چه کله لښکر والو ته سخت تکلیف شو نو یزید په خوشحالئی کښې شعرونه اوونیل

مَا إِنْ أُبَالِي بِمَا لَاقَتْ جُمُوعُهُمْ　　　بِالْفَرْقَدُونَةِ مِنْ حُمَّى وَمِنْ مُومِ

ترجمه زما هیڅ پرواه نشته دې چه دَ مجاهدینو دا جماعت په مقام فرقدونه کښې په دوی باندې تبه راغله او په بدن کښې پولئی راؤوتلې

إِذَا اتَّكَأْتُ عَلَى الْأَنْمَاطِ مُرْتَفِقًا　　　بِدَيْرِ مُرَّانَ عِنْدِي أُمُّ كُلْثُومِ

ترجمه کله چه زه په دیر مرام مقام کښې ام کلثوم سره دَ مخمل په غلیچو کښې ډډه لګولې ناست یم

دَ یزید دغه شعرونه چه کله معاویه رضی الله عنه ته اورسیدل نو هغوی یزید په زور په دغه غزوه کښې دَ شرکت دَپاره روان کړو لکه چه یزید دَ غزوه قسطنطنیه ته دَ تلو هډو قائل نه وو نو بشارت ورته څنګه ملاؤ شو؟ بهرحال په کربلا کښې چه امام حسین علیه السلام سره څه او کړې شو هغه دَ اسلام په سپین څادر باندې یو بدنما داغ دې دَ کوم نه چه یزید

خلاصیدې نه شی. نن نه یزید شته اونه دَهغه حکومت اودَقتل حسین وینه دَهغه په سټ پرته ده. که دَ رسول الله ﷺ نمسی حکومت هم غوښتلو نو دَ یزید څه حق وو چه هغه په حکومت باندې کلکیدلو دادَ یزیدلو یه غلطی وه. علامه اقبال اوونیل

قتل حسین اصل میں مرگ یزید ہے اسلام زندہ ہوتا ہے ہر کربلا کے بعد

یعنی دَحسین قتل په اصل کښې دَ یزید مرګ دې ځکه چه اسلام خوژوندې کیږی دَهرې کربلا نه پس.

[٦١٨٠] نبی علیه السلام ته د شهادت حسین پیشنګوئی کیدل (؟) جاری

٦١٨٠—(¹) [٣٦] ① «وَعَنْ أُمِّ الْفَضْلِ بِنْتِ الْحَارِثِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - أَنَّهَا دَخَلَتْ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! ② إِنِّي رَأَيْتُ حُلُمًا مُنْكَرًا اللَّيْلَةَ قَالَ: "وَمَا هُوَ؟" ③ قَالَتْ: إِنَّهُ شَدِيدٌ قَالَ: "وَمَا هُوَ؟" ④ قَالَتْ: رَأَيْتُ كَأَنَّ قِطْعَةً مِنْ جَسَدِكَ قُطِعَتْ وَوُضِعَتْ فِي حِجْرِي. فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "رَأَيْتِ خَيْرًا، تَلِدُ فَاطِمَةُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ غُلَامًا يَكُونُ فِي حِجْرِكِ".

ترجمه: ① او بي بي ام فضل بنت حارث چې د حضرت عباس زوجه ښځه او د حضور ﷺ دآکابنځه ده (روایت کوي (چې هغه د حضور ﷺ په خدمت کې یوه ورځ حاضریدو سره اوویل یارسول الله! ② نن شپه مایو بیرونکی خوب لیدلی دی رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه هغه څه دی ③ ام فضل عرض وکړو سخت بیرونکی دی نه خو هغه زه بیانول خوښوم او نه به تاسو هغه اوریدو سره خوښ شی حضور ﷺ ورته وفرمایل ماته خو یي واوروه آخر هغه څه دی ④ ام فضل اوویل ما ولیدل چې ګویا ستاسو د جسم مبارك نه یوه ټکړه پرې شوې ده او خما په غیږ کې اینښودل شوي ده ⑤ په دي اوریدو سره رسول الله ﷺ وفرمایل تا ډیر ښه او مبارك خوب لیدلی دی د دې تعبیر دادی چې انشاء الله د فاطمې به یوخوی پیدا شي او هغه هلك به ستا په غیږ کې درکول شي (ځکه چې د خاندان په ښځو کې ستا قرابت زیات دی او ته به د هغه هلك زیات په ښه طور سره تربیت وکړي)

حل اللغات:- ① حُلُمًا: مَا يَرَاهُ النَّائِمُ: خوب ته وائي (خاص کر چه کله خوب خراب وی). ② مُنْكَرًا: أَيْ: مُهَوِّلًا: ویرونکې او هیبت ناك. ③ إِنَّهُ شَدِيدٌ: أَيْ: صَعْبٌ سَمَاعُهُ: یعنی دومره ویرونکی اوسخت دې چه زه ئی بیانولې نه شم ④ قِطْعَةً: ټکړه، حصه. ⑤ حِجْرِي: أَيِ الْحِضْنِ: حِجر په کسرې د حاء سره غیږ ته وائی، او په فتحې د حاء سره یعنی حَجر دَ التَّرْبِيَة یعنی پاللو په معنی کښې راځی دلته غیږ مراد ده ⑥ تَلِدُ: خیګوی به، پیدا به شی

① فَوَلَدَتْ فَاطِمَةُ الْحُسَيْنَ، فَكَانَ فِي حِجْرِي كَمَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -. ② فَدَخَلْتُ يَوْمًا عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَوَضَعْتُهُ فِي حِجْرِهِ، ثُمَّ كَانَتْ مِنِّي الْتِفَاتَةٌ ③ فَإِذَا عَيْنَا رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تُهْرِيقَانِ الدُّمُوعَ، قَالَتْ: فَقُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللّٰهِ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي، مَا لَكَ؟ ④ قَالَ: "أَتَانِي جِبْرِيلُ -

¹) اخرجه البیهقی فی دلائل النبوة

عَلَيْهِ السَّلَامُ- فَأَخْبَرَنِي أَنَّ أُمَّتِي سَتَقْتُلُ ابْنِي هَذَا، فَقُلْتُ: هَذَا؟ فَقَالَ: نَعَمْ ⑤ وَأَتَانِي بِتُرْبَةٍ مِنْ تُرْبَتِهِ حَمْرَاءَ»".

ترجمه: ① نو د فاطمي خوى حسين پيدا شو او څرنګه چې رسول الله ﷺ فرمايلي وه هغه هلك خما په غيږ کې راکول شو ② بيا يوه ورځ زه رسول الله ﷺ ته ورغلم او حسين د حضور ﷺ په غيږ کې ورکولو سره لږ دويم طرف ته متوجه شوم (او بيا راتاويدو سره چې ما حضور ﷺ طرف ته نظر وکړ) ③ نو څه ګورم چې د رسول الله ﷺ د سترګو مبارکو نه اوښکې جاري دي ام فضل وايي زه ويريدو سره مې خپنې پوښتنه وکړه اې د الله نبي! خما مور وپلار دي په تاسو قربان يې تاسو ته څه وشوه چې ژاړئ ④ حضور ﷺ وفرمايل اوس ماته جبرائيل ﷺ راغلى وو هغه ماته خو دلې دى چې خما امت يعنى مسلمانانو نه به د بعضو خلقو يوجماعت خما د خوى ډيري ظالمانه طريقي سره ډير نزدې قتل کړي ما ډير په حيرت سره پوښتنه وکړه آيا داخوى؟ حضور ﷺ وفرمايل هو داخوى ⑤ بلکه جبرائيل ماته د هغه زمکې د خاورې نه څه خاوره راخستو سره راغلى وو چيرته چې خما د دې ځګر ټکړي خون وينه به بهيول کيږي او هغه خاوره سُرخ سره وه

حل اللغات:- ⑦ اِلْتِفَاتَةٌ: أي: وَقَعَتْ مِنِّي مُلَاحَظَةٌ: يعنى زما نظر بل طرف ته لاړو ⑧- تُهْرِيقَانِ: أي تَسِيلَانِ: يعنى دواړو سترګو اوښکې بهيولې. ⑨ مِنْ تُرْبَتِهِ: أي: مِنْ تُرَابِهِ الَّذِي يُقْتَلُ بِهِ: هغه خاوره په کومه چه به حضرت حسين ﷺ قتل کولې شي. ⑩ حَمْرَاءَ: سره (يعنى هغه خاوره سره وه)

تسهيلات:

قوله: سَتَقْتُلُ ابْنِي:

د نبى عليه السلام د پيشنګوئي صداقت: دحضورپاك دا پيشنګوئى ټکې په ټکى ټيك شوه اود يزيدپه حکم باندې عبيدالله ابن زياد دمصر نه راغلو اود کوفې ګورنرجوړشو اوهغه په ذاتى شوق او بغض اوعداوت د وجې نه حضرت امام حسين شهيد کړو د هغوى اتياملګرى هم هغوى سره په ميدان کربلاکښې شهيدان کړې شو د اسلام په سپين خادرباندې د امام حسين قتل يوبدبنکاريدونکې داغ دې کوم چه د يزيدپه ستې باندې پروت دې

قتل حسین اصل میں مرگ یزید ہے اسلام زندہ ہوتا ہے ہر کربلا کے بعد

يعنى دحسين قتل په اصل کښې د يزيد مرګ دې ځکه چه اسلام خوژوندې کيږى دهرې کربلا نه پس

د حضرت امام حسين ﷺ د شهادت نه پس يو هاتف غيبى دا اشعار واورول

مَاذَا تَقُولُونَ إِنْ قَالَ الرَّسُولُ لَكُمْ مَاذَا فَعَلْتُمْ وَأَنْتُمْ آخِرُ الْأُمَمِ

ترجمه که چرې تاسونه رسول ﷺ دا سوال اوکړى چه دا تاسو حسين سره څه اوکړه حالانکه تاسو په بهترين امت کښې وئ

بِعِتْرَتِيْ وَأَوْلَادِيْ بَعْدَ مُفْتَقِدِيْ　　مِنْهُمْ أُسَارَي وَمِنْهُمْ ضَرَجُوْا بِدَمِ

ترجمه زما دَ وفات نه تاسو زما اهل بيت او زما اولاد سره دا څه اوکړه؟ چه په هغوی کښې خو څه راګيردی اوڅه په خپلو وينوکښې لت پت پراته دی

[۶۱۸۱] شهادت حسين او د ابن عباس خوب

۶۱۸۱-() [۴۰] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِيمَا يَرَى النَّائِمُ ذَاتَ يَوْمٍ بِنِصْفِ النَّهَارِ، [۲] أَشْعَثَ أَغْبَرَ، بِيَدِهِ قَارُورَةٌ فِيهَا دَمٌ، فَقُلْتُ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي، مَا هٰذَا؟ [۳] قَالَ: "هٰذَا دَمُ الْحُسَيْنِ وَأَصْحَابِهِ، وَلَمْ أَزَلْ أَلْتَقِطُهُ مُنْذُ الْيَوْمِ" فَأُحْصِي ذٰلِكَ الْوَقْتَ فَأُجِدُ قُتِلَ ذٰلِكَ الْوَقْتِ. رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي "دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ" وَأَحْمَدُ الْأَخِيرَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس نه روايت دی د هغوئ بيان دی يوه ورځ په غرمه کښې ما رسول الله ﷺ داسې اوليدلو لکه څوك اوده چې څوك وينې (يعنی په خوب کښې مې اوليدلو) [۲] چې د حضور ﷺ ويښته مبارك پريشانه او ګرد آلود دي او د حضور ﷺ په لاس مبارك کښې يوبوتل دی چې د وينو نه ډك دی ما عرض وکړو څما مور پلار دې په تاسو قربان وي داڅه دي يعنی څه حادثه پيښه شوي ده چې تاسو دومره پريشانه حاله او ګرد آلود يئ او يوبوتل د وينې خون نه ډك دی [۳] حضور ﷺ وفرمايل دا د حسين او د هغه د ملګرو وينه ده چې زه يې نن قتل ګاهِ حسين نه دسهار نه تراوسه پورې په يوه بوتل کښې جمع کوم حضرت ابن عباس وايي چې د دې خوب نه وروسته زما سترګې راوغړيدی [۴] او بيا مې د وخت ياد ساتی کوم وخت چې ما داخوب ليدلی وو (هرکله چې د قتلِ حسين خبر راغې نو ماوليدل چې د شهادتِ حسين الميه په هغه ورځ او هغه وخت پيښه شوي وه هرکله چې ما مذکوره خوب ليدلی وو دا دواړه روايتونه بيهقي دلائل النبوت کښې او دا دويم روايت احمد هم نقل کړی دی.

حل اللغات:- ① أَشْعَثَ: ددې جمع شُعْثَاء ده، وَهُوَ الْمُتَفَرِّقُ مِنَ الشَّعْرِ: سربېرويښتو والا انسان ته وائی ② أَغْبَرَ: ددې جمع غُبْرًا ده. وَهُوَ الَّذِي الْتَصَقَ الْغُبَارُ بِأَعْضَائِهِ: ګرد چن چه په اندامونو ئې خاورې دوړې لګيدلې وی ③ قَارُورَةٌ: شيشه، بوتل ④ أَلْتَقِطُهُ: زه اچوم دا وينه (دا دحضور کلام دې کوم چه په خوب کښې شوې دې) ⑤ فَأُحْصِي: أَيْ: حَفِظَ تَارِيخَ ذٰلِكَ الْوَقْتِ: يعنی ما دغه وخت ياد اوساتلو، کوم وخت چې ما خوب ليدلې وو) ⑥ فَأُجِدُ: دمضارع صيغه ئې راوړې ده دې دپاره چه په دې سره يوعجيبه او حيرانونکې کيفيت مخې ته راشی (أَيْ: فَوَجَدْتُهُ: يعنی ما اوموندله دا حادثه خاص په هغه وخت کله چه ما داخوب ليدلې وو)

---
[۱] اخرجه احمد في المسند: ۲۴۲/۱

تسهیلات:

قوله: فَأُحْصِي ذٰلِكَ الْوَقْتَ:

دشهادت حسین باره کښې دابن عباس خوب لیدل: داد حضرت ابن عباس رضی الله عنهما کلام دې هغوی فرمائی چه کوم وخت ماخوب اولیدلو دهغې تاریخ ما یاداوساتلو بیاچه کله د امام حسین دشهادت خبر راغلو نومعلومه شوه چه هم په هغه تاریخ باندې هغه شهید کړې شوې وو کوم وخت چه ما خوب لیدلې وو.

[۶۱۸۲] اهل بیتو سره د نبی علیه السلام په وجه محبت ساتل

۶۱۸۲-(۱)[۳۸] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۲] «أَحِبُّوا اللَّهَ لِمَا يَغْذُوكُمْ مِنْ نِعَمِهِ، [۳] فَأَحِبُّونِي لِحُبِّ اللَّهِ، وَأَحِبُّوا أَهْلَ بَيْتِي لِحُبِّي»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضی الله عنه وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] تاسو د الله سره محبت ساتئ خکه چې هغه تاسو ته خپل نعمتونو نه رزق رسوي او ستاسو پرورش کوي [۳] او په دې بناء تاسو د رسول الله ﷺ سره محبت لرئ او خما اهل بیت خما د محبت په وجه عزیز او محبوب لرئ (ترمذي)

حل اللغات:- ① أَحِبُّوا اللَّهَ: محبت کوئ د الله تعالی سره، ② يَغْذُوكُمْ: أَيْ يَرْزُقُكُمْ: هغه تاسو ته رزق درکوی ③ لِحُبِّ اللَّهِ: یعنی د الله تعالی سره دمحبت په بنیاد باندې ماسره محبت ساتئ خکه چه زه دهغه رسول یم ④ أَهْلَ بَيْتِي: او زما د محبت د وجې نه زما اهل بیت سره محبت ساتئ خکه چه زه ستاسو رسول یم

تسهیلات: نوټ: په حدیث کښې د گرانولغاتوحل شوې دې باقی مضمون آسان دې

[۶۱۸۳] د اهل بیت تشبیه د نوح علیه السلام کشتی سره

۶۱۸۳-(۲)[۳۹] [۱] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّهُ قَالَ وَهُوَ آخِذٌ بِبَابِ الْكَعْبَةِ: [۲] «سَمِعْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: "[۳] أَلَا إِنَّ مِثْلَ أَهْلِ بَيْتِي فِيكُمْ مِثْلُ سَفِينَةِ نُوحٍ، مَنْ رَكِبَهَا نَجَا، وَمَنْ تَخَلَّفَ عَنْهَا هَلَكَ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوذر رضی الله عنه نه روایت دی چې یوه ورخ هغه د کعبې دروازه نیولو سره دابیان وکړو [۲] ما د رسول الله ﷺ نه دا واوریدل [۳] یادلرئ ستاسو په حق کې خما د اهل بیتو هغه اهمیت دی کوم چې دنوح علیه السلام د کشتۍ دې چې څوک د نوح کشتۍ کې سور شو هغه نجات خلاصون پیدا کی او کوم سړی چې هغه په کشتۍ کې سوریدو نه پاتې شو هغه هلاک شو (احمد)

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحدیث ۳۷۸۹
[۲] لم اجده

حل اللغات:- ① سَفِينَة: كشتئ، ② نَجَا: نجات يعنى خلاصون ئې بياموندلو، ③ تَخَلَّفَ: روسته پاتې شو، په كشتئ كښې د سوريدو نه روسته پاتې شو،

تسهيلات:

قوله: مِثْلُ سَفِينَةِ نُوحٍ:

داهل بيتو د نوح عليه السلام كشتئ سره د تشبيه وجه: دَ اهل بيت تشبيه دَ نوح ﷺ كشتئ سره ځكه وركړې شوې ده چه دَحضرت نوح ﷺ كشتئ خپلې ټولې سورلئ دَ الله تعالى په حكم سره بچ يوړلې او د كشتئ مخالفين ټول غرق شو دلته هم چه كوم خلق اهل بيت سره عقيدت لرى هغوى به بچ شي اوځوك چه دَعقيدت په دې كشتئ كښې نه كينى هغه به غرق كيږى

د اهل بيت سره محبت او تعلق مطلب: ليكن دلته دَ اهل بيت سره دَمحبت او تعلق لرلو مطلب دا دې چه دَدين اسلام دَحكم مطابق تعلق وى دَخپلو خواهشاتو مطابق تعلق نه وى لكه چه دَ شيعه ګانو محبت دې چه په حقيقت كښې محبت او عقيدت نه دې بلكه يو قسم عداوت دې. دَ پوره شريعت نه ئې انكار اوكړو او دَ اهل بيت محبت ئې د دې دپاره ډهال جوړ كړو

كشتئ دپاره د رڼا ضرورت: حضور پاك دَ اهل بيت تشبيه كشتئ دَ نوح سره وركړې ده او دَ صحابه كرامو تشبيه ئې دَ آسمان ستورو سره وركړې ده په دې كښې اشاره ده چه كشتئ به هله په صحيح رخ باندې ځى كله چه دَ ستورو نه رهنمائى حاصله كړې شى يعنى اهل بيت او صحابه كرامو دواړو سره محبت اولرى

د تبليغيانو غلطه تشبيه: بل طرف ته تبيلغ والاهم وائى چه زمونږ جماعت كشتئ نوح ده ځوك چه دې كښې راغلو بچ شو ګنې غرق شو دَدوى دا وينا غلطه ده ځكه چه دوى پخپله كشتئ نوح جوړنه شو كوم يو قرآن او حديث دوى ته كشتئ نوح وئيلې دې؟ داخو صرف دَهغوى خواهشات دى او بې خايه خپل تعريفات دى حقيقت څه بل څه دې

دحديث وضاحت د ملا على قارى په خط: دَملاعلى قارى ﷫ يو څو الفاظ هم اوګورئ چه دَدې حديث په تشريح كښې هغه ليكلى دى

"وَتَوْضِيحُهُ أَنَّ مَنْ لَمْ يَدْخُلِ السَّفِينَةَ كَالْخَوَارِجِ هَلَكَ مَعَ الْهَالِكِينَ فِي أَوَّلِ وَهْلَةٍ وَمَنْ دَخَلَهَا وَلَمْ يَهْتَدِ بِنُجُومِ الصَّحَابَةِ كَالرَّوَافِضِ ضَلَّ وَوَقَعَ فِي ظُلُمَاتٍ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِنْهَا" يعنى دَدې حديث وضاحت دا دې چه كوم خلق په دې كشتئ كښې كينه ناستل هغه هلاك شو؟ ليكن كوم خلق چه دَاهل بيت په كشتئ كښې كيناستل مګر دَصحابه كرامو دَ ستورونه ئې رهنمائى حاصله نه كړه نو هغوى هم په داسې تياروكښې ډوب شو چه وتل ئې ممكن نه دى

۲۱ باب مناقب ازواج النبي ﷺ

د نبي ﷺ د ازواج مطهراتو د مناقبو بيان

خلاصة الباب

فيه اثناعشر حديثاً مشتملة على اربع مسائل

① فضيلة خديجة رضي الله عنها: ۱، ۲، ۳، ۷.

② فضيلة عائشة رضي الله عنها: ۴، ۵، ۶، ۸، ۱۱، ۱۲.

③ فضيلة صفية رضي الله عنها: ۹.

④ فضيلة مريم رضي الله عنها: ۱۰. أوردها إما إصالة على توجيه واحد أو طرداً على توجيه آخر

د ازواج مطهرات دپاره د جدا باب دانعقاد وجه: ازواج مطهرات بيت سکنی قسم اهل بيت کښې داخل دی صاحب مشکوة د مناقب اهل بيت نه پس په مستقل باب کښې د ازواج مطهرات ذکر کړې دې ددې مطلب دانه دې چه ازواج مطهرات د اهل بيت څخه خارج دی د اهل بيت رومبي مصداق خو ازواج مطهرات دی ليکن دازواج دمناقب سلسله لږه شان اوږده وه جدا احاديث وو په دې وجه صاحب مشکوة په اهتمام سره د جدا عنوان لاندې دهغې ذکر اوکړو

په اسلام کښې د ښځوه حقوقو وجه: رسول الله ﷺ خو ودونه کړی وو اوخپل امت ته نی د څلورو ودونو اجازت ورکړې دې لهذا په دې امت کښې د ښځو د حقوق وضاحت اوددې اهتمام د نورو امتونو نه زيات دې حضرت عيسی عليه السلام واده نه ووکړې لهذا دهغوی په مذهب کښې د ښځودحقوق هغه تفصيل نه شي ملاويدې کوم تفصيل چه د حضورپاك په امت کښې ملاويدې شی

د نبي عليه السلام د بيبيانو شمار: د حضورپاك د ټولو بيبيانو شمير يولس وو اودحضورپاك د وفات په وخت نهه بيبيانې موجود وې دحضورپاك ټولې بيبيانې يولس وې دهغوی نومونه دادی

① حضرت خديجه رضي الله عنها دې سره دحضورپاك نکاح په مکه مکرمه کښې شوې وه د هجرت نبوی نه درې کاله وړاند هم په مکه کښې وفات شوې

② حضرت سوده رضي الله عنها دې سره دحضورپاك نکاح په مکه کښې شوې وه ۵۴ هجری کښې د دې انتقال شوې

③ حضرت عائشه رضي الله عنها په لسم هجری کال دې سره دحضورپاك نکاح په مکه کښې شوې وه او په مدينه کښې په اول هجری کښې رخصتی شوې ۵۷ هجری کښې ددې انتقال په مدينه منوره کښې شوې حضرت عائشه رضي الله عنها د سيدنا حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه لور وه

④ حضرت حفصه ﷺ سره دَحضورپاك نكاح ۳هجري كښې مدينه كښې شوې او ۴۵ هجري كښې دَدې انتقال شوې

⑤ حضرت زينب بنت خزيمه ﷺ دې سره دَحضورپاك نكاح په ۳هجري كښې اوشوه او يوځوميا شتې پس دَدې انتقال اوشو

⑥ حضرت ام سلمه ﷺ دې سره دَحضورپاك نكاح ۴هجري كښې شوې اودَ حضرت ام سلمه ﷺ انتقال ۵۹هجري كښې شوې اودَ يوقول مطابق ۶۲هجري كښې شوې

⑦ حضرت زينب بنت جحش ﷺ دې سره دَحضورپاك نكاح ۵هجري كښې شوې اودَدې انتقال ۲۰هجري كښې شوې

⑧ حضرت ام حبيبه بنت ابى سفيان ﷺ دې سره دَ حضورپاك نكاح دَ حبشه نجاشى بادشاه په ذريعه شوې. نجاشى څلور زره درهم وركولو سره نكاح اوكړه ۴۴هجري كښې دَ ام حبيبه ﷺ په مدينه كښې انتقال شوې.

⑨ حضرت جويريه ﷺ په غزوه بنى المصطلق كښې قيد كيدوسره راغله په ۶هجري كښې دا غزوه شوې. حضورپاك دا آزاده كړه او په ۶هجري كښې دې سره نكاح اوكړه. دَدې دَ خاندان په سوونوخلق غلامان وو صحابه كرامو ټول آزاد كړل چه دَحضورپاك دَ سخر كښې خلق جوړشوى دى په ۵۶هجري كښې دَحضرت جويريه ﷺ انتقال شوې

⑩ حضرت ميمونه ﷺ دَحضرت ابن عباس ﷺ ترور وه په ۷هجري كښې دې سره دَحضورپاك نكاح شوې. مكې اومدينې مينځ كښې وادى فاطمه سره مقام سرف كښې نكاح اوشوه هم په دې خانى كښې شب زفاف اوشو اوهم په دغه خانى ۶۱هجري كښې دَهغې انتقال اوشو هم په دغه خائى دَ سړك په غاړه دَهغې قبر جوړدې په كال ۲۰۱۴ كښې چې حج ته تلې ووم نو د دوى قبر مو ليدلې وو.

⑪ حضرت صفيه بنت حيى بن اخطب ﷺ ۷هجري كښې غزوه خيبر كښې قيد شوه حضورپاك هغه آزاده كړه اوبيائى هغې سره دَخيبرنه په واپسئى په لار كښې نكاح اوكړه ۵۲هجري كښې دَهغې انتقال اوشو په دې يولسو ازواج مطهرات كښې صرف دوه يعنى خديجة الكبرىٰ ﷺ او زينب بنت خزيمه ﷺ انتقال دَحضورپاك په موجودګئى كښې شوې دَ باقى نهوانتقال دَحضورپاك دَانتقال نه پس شوې

د نبى كريم صلى الله عليه وسلم وينځې: دَازواج مطهرات نه علاوه دَحضورپاك څلور وينځې هم وې په دوى كښې دَ يوې نوم حضرت ماريه قبطيه وه دَدويمې نوم حضرت ريحانه وو او دوه نورې وې

د كثرت ازواجو بحث د منهاج څخه نقل كول دى

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۶۱۸۴] دامت محمدی غوره ميرمن خديجة الكبرىٰ

۶۱۸۴ - (۱) [۱] ۱ عَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُوْلُ: ۲ «خَيْرُ نِسَائِهَا مَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ، وَخَيْرُ نِسَائِهَا خَدِيْجَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۳ وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ أَبُوْ كُرَيْبٍ: وَأَشَارَ وَكِيْعٌ إِلَى السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ.

ترجمه: ۱ حضرت علي ﷺ وايي ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل ۲ چې وی‌لے مريم بنت عمران دخپلي زماني اودخلقو د ټولو نه ښه ښځه ده او خديجه بنت خويلد په دي امت کې د ټولو نه ښه ښځه ده (بخاري مسلم) ۳ او په يوه روايت کې ابوکريب دا بيان وکړو چې حضرت وکيع چې دحفاظ حديث نه دی او د امام مالك او د هغوی هم عصرو هم پله دی آسمان او زمکي طرف ته اشاره کولو سره يي وښودل چې د دي حديث مطابق دا دواړه ښځي خپلو خپلو امتونو کې د ټولي د ښځو نه اشرفي او افضلي دي

تسهيلات:

قوله: خَيْرُ نِسَائِهَا مَرْيَمُ:

اشكال: دلته په مضاف اليه کښې دمؤنث ضميردې دکوم مرجع چه مخکښې نشته دې نودا اضمار قبل الذکردې.

داشكال دوه جوابونه: ① دملاعلی قاری ﷫ دکلام نه ددې دوه جوابونه معلوميږی دا ضمير د دنيا طرف ته راجع اودنيا ددې الفاظونه ده دکوم طرف ته چه اضمار قبل الذکرجائز دي نواصل عبارت داسې دي "خيرنساءالدنيااي في زمانهامريم" د خپل زماني په ښځوکښې حضرت مريم د ټولوښځونه افضل وه

② ملا علی قاری ﷫ فرمائي "خيرنساها" خبرمقدم دي اومريم مبتداء مؤخرده اصل عبارت داسې دي "مريم خيرنساءزمانها" دغه شان اضمار قبل الذکراعتراض ختم شو

ملاعلی قاری ﷫ داخوښ کړې دي په دې سره هغه سوال هم ختم شوچه حضرت مريم له د ټولي دنيا په ښخوباندې فضيلت ورکړې شو نود حضرت خديجة الکبری ﷝ فضيلت چرته لاړو؟ ځکه چه کله دخپلې خپلې زمانې د فضيلت خبره شوه نوځه اعتراض پاتې نه شو

د درې ميرمنو په افضليت کښې د تطبيق صورت: ملاعلی قاری ﷫ د دغه بيبيانو په مينځ

---

[1] اخرجه البخاري فى كتاب أحاديث الأنبياء، باب {وإذ قالت الملائكة يا مريم إن الله اصطفاك وطهرك واصطفاك على نساء العالمين... (رقم ۳۴۳۲) ومسلم فى كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم باب فضائل خديجة أم المؤمنين رضى الله تعالى عنها (رقم ۶۹ - (۲۴۳۰) والترمذى فى كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم، باب فضل خديجة رضى الله عنها (رقم ۳۸۷۷)

کښې دَ فضیلت فیصله په یوروایت سره هم کړې ده هغه روایت دادې "خَدِيجَةُ خَيْرُ نِسَاءِ عَالَمِهَا وَمَرْيَمُ خَيْرُ نِسَاءِ عَالَمِهَا وَفَاطِمَةُ خَيْرُ نِسَاءِ عَالَمِهَا" (ترمذی ونسائی مرسلاً) یعنی خدیجه رضي الله عنها په خپله زمانه کښې دَ ټولو ښځو نه بهتروه، مریم بی بی خپله زمانه کښې دَټولو ښځونه بهتروه اوفاطمه رضي الله عنها دَخپلې زمانې په ښځو کښې دَټولو نه بهتروه

قوله: وَأَشَارَ وَكِيعٌ إِلَى السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ:

د اشکال ختمولو ته اشاره: په دې سره راوی هم دَدغه اشکال لرې کولوطرف ته اشاره کړې ده چه وکیع دَ آسمان اوزمکې طرف ته اشاره اوکړه چه دا ضمیر آسمان اوزمکه یعنی دَدنیا او زمانې طرف ته راګرځی.

[۵۸۶۱] خدیجې رضی الله عنها ته د الله تعالی او جبریل علیه السلام سلام

۵۸۶۱-() [۲] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «أَتَى جِبْرِيلُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] فَقَالَ: " يَا رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- هَذِهِ خَدِيجَةُ قَدْ أَتَتْ مَعَهَا إِنَاءٌ فِيهِ إِدَامٌ أَوْ طَعَامٌ [۳] فَإِذَا أَتَتْكَ فَاقْرَأْ عَلَيْهَا السَّلَامَ مِنْ رَبِّهَا وَمِنِّي، [۴] وَبَشِّرْهَا بِبَيْتٍ فِي الْجَنَّةِ مِنْ قَصَبٍ، [۵] لَا صَخَبَ فِيهِ وَلَا نَصَبَ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وایي چې حضرت جبرائیل رسول الله ﷺ ته راغي [۲] او هغه اوویل یارسول الله! اوس خدیجه مکې نه روانیدو سره غارِ حرا ته راځي هغه سره یولوښې دی چې په هغه کښې سالن او روټۍ ده یا طعام دی [۳] هرکله چې هغه تاسو ته راورسیږي نو تاسو د هغه د پروردګار د طرف او خما د طرف نه هم هغه ته سلام اووائې [۴] او هغه ته په جنت کښې د یومحل خوشخبري واوروي چې دګول ملغلري دی [۵] او په هغه محل کښې نه شور شته نه تکلیف او تکان. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① إِدَامٌ: سالن. اینګلې. ② قَصَبٍ: أَيْ لُؤْلُؤٍ مُجَوَّفٍ: یعنی دَ لونی شان والا محل زیرې ورکړه چه دګول اوخولدار ملغرې نه به جوړوی ③ لَاصَخَبَ: لا د نفی جنس ده. صخب چغې سورې اوشور زوګ ته وائی ④ لَانَصَبَ: تعب اوتکان ته نصب وائی دا څیزونه به هلته نه وی

تسهیلات:

نوټ: په حدیث کښې د ګرانولغاتوحل شوې دې باقی مضمون آسان دې

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب تزویج النبی صلی الله علیه وسلم خدیجة وفضلها رضی الله عنها (رقم-۳۸۲۰) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب فضائل خدیجة أم المؤمنین رضی الله تعالی عنها (رقم-۷۱ - (۲۴۳۲) والترمذی فی کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فضل خدیجة رضی الله عنها (رقم-۳۸۷۶) واحمد فی المسند: ۲۳۱/۲

[۶۱۸۶]د خدیجې رضي الله عنها خصوصات

۶۱۸۶-(۱)[۳]«وَعَنْ عَائِشَةَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهَا-قَالَتْ: مَا غِرْتُ عَلَى أَحَدٍ مِنْ نِسَاءِ النَّبِيِّ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-مَا غِرْتُ عَلَى خَدِيجَةَ[۲]وَمَا رَأَيْتُهَا، وَلَكِنْ كَانَ يُكْثِرُ ذِكْرَهَا،[۳]وَرُبَّمَا ذَبَحَ الشَّاةَ ثُمَّ يُقَطِّعُهَا أَعْضَاءً، ثُمَّ يَبْعَثُهَا فِي صَدَائِقِ خَدِيجَةَ،[۴]فَرُبَّمَا قُلْتُ لَهُ: كَأَنَّهُ لَمْ تَكُنْ فِي الدُّنْيَا امْرَأَةٌ إِلَّا خَدِيجَةُ[۵]فَيَقُولُ: "إِنَّهَا كَانَتْ، وَكَانَتْ، وَكَانَ لِي مِنْهَا وَلَدٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي د رسول الله ﷺ ببيانو کې چې څومره غيرت او رشك ما بي بي خديجې رضي الله عنها سره کوي دومره مې بل هيڅ بي بي سره نه کوي [۲]حالانکه ما بي بي خديجه ليدلې هم نه وه البته حضور ﷺ به هغه ډېره يادوله[۳] اکثره به داسې کيدل چې حضور ﷺ به بزه (چيلۍ) ذبحه کړه او هغه به يې ټکړې ټکړې کړه نو بيابه يې هغه غوښه هغه ښځو ته ليږله چې د بي بي خديجې ملګرې به وې[۴] اکثره وختونو کې به ما حضور ﷺ ته وئيل چې تاسو خو د بي بي خديجې په حقله دومره محبت کوی لکه چې په دنيا کې يوې خديجې نه علاوه دومره خو بيووالا بله ښځه هيڅکله نشته[۵]حضور ﷺ به خما د دې خبرې په جواب کې فرمايل هغه خو واقعي داسې وه او داسې وه او بيا خما اولاد هم د هغې نه وو (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ①مَا غِرْتُ: دَ غيرت حميت اوذلت دکارونونه دانکار په معنی کښې دي ②يُقَطِّعُهَا: أي يُكَثِّرُ قَطْعَهَا: ټکړې ټکړې به ئې کړه. ③صَدَائِق: د صَدِيقَة جمع ده. محبوبه او ملګرې ته وائي ④وَلَدٌ: دا د وَلَد جمع ده.اولاد ته وائي.

تسهيلات:

قوله: مَا غِرْتُ عَلَى خَدِيجَةَ:

د کلمه ،،ما،، نوعيت: په اول جمله کښې چه کوم لفظ "ما" دې هغه دَنفی په معنی کښې دې اودويمه جمله کښې "ما" موصوله يا مصدريه دې "اي ما غرت مثل الذي غرتها اومثل غيرتي عليها"

قوله: إِنَّهَا كَانَتْ وَكَانَتْ:

د مذکوره جملې مطلب: يعنی خديجه رضي الله عنها هم داسې وه دَهغې به څه وايئی ته چه څه وايئی خديجه رضي الله عنها هم دغه شان وه حضورپاك داجمله دَ تاکيد دپاره دوباره راوړی "اي كانت صوامة قوامة محسنة مشفقة"

---

[۱] اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب تزويج النبي صلى الله عليه وسلم خديجة وفضلها رضى الله عنها (رقم-۳۸۱۸) ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب فضائل خديجة أم المؤمنين رضى الله تعالى عنها (رقم-۷۵ (۲۴۳۵) والترمذي في كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فضل خديجة رضى الله عنها (رقم-۳۸۷۵)
[۲] وابن ماجه في كتاب النكاح/ الغيرة (رقم-۱۹۹۷)

قوله: مِنْهَا وُلِدَ:

د خدیجې څخه د نبی علیه السلام اولاد: په دې جمله کښې په نفسیاتی انداز کښې حضور پاك حضرت عائشه رضی الله عنها ته جواب ورکړې دې چه څه هم وی د خدیجه رضی الله عنها څخه زما اولاد دې ستا خو یو بچې هم نشته دې دحضور پاك ټول اولاد د حضرت خدیجه رضی الله عنها څخه وو

[۶۱۸۷] پۀ عائشې رضی الله عنها د جبریل علیه السلام سلام

۶۱۸۷-( ) [۳] [۱] وَعَنْ أَبِي سَلَمَةَ، أَنَّ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- قَالَتْ: [۲] قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: «يَا عَائِشَةُ! هَذَا جِبْرِيلُ يُقْرِئُكِ السَّلَامَ". [۳] قَالَتْ: وَعَلَيْهِ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ، [۴] قَالَتْ: وَهُوَ يَرَى مَا لَا أَرَى». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوسلمه تابعي نه روایت دی ام المؤمنین بي بي عائشې صدیقې رضی الله عنها اوویل [۲] یوه ورځ ماته رسول الله ﷺ وفرمایل اې عائشې دا جبرائیل دی دلته خم مخې ته دی په تا سلام وایي [۳] عائشې رضی الله عنها د هغه سلام جواب کې اوویل وعلیه السلام ورحمة الله او په جبرائیل علیه السلام دی هم د ﷺ سلامتي او رحمت نازل وي [۴] بي بي عائشه رضی الله عنها وایي حضور ﷺ هغه یعنی جبرائیل لیدی او ما هغه نه لیدی (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① هُوَيَرَي: یعنی حضور اکرم ﷺ هغه څه وینی چه زه ني نه شم لیدلي

تسهیلات: قوله: هَذَا جِبْرِيلُ يُقْرِئُكِ السَّلَامَ:

پۀ عائشه رضی الله عنها د جبریل علیه السلام براه راست سلام: حضور پاك د دې سلام د رسولو واسطه جوړ شو دا جدا مصلحت دې او حضرت جبرائیل علیه السلام د سلام کولو الا جوړ شو دا جدا فضیلت دې حضرت خدیجه رضی الله عنها ته جبرائیل سلام پخپله اونه کړو بلکه پیغمبر نې ورکړو او حضرت عائشه رضی الله عنها ته نې پخپله سلام اوکړو بنکاره هم دغه ده چه د الله تعالی د طرف نه به جبرائیل امین ته د سلام کولو حکم ملاو شوې وی د دې نه اندازه لګولې شی چه د حضرت عائشه رضی الله عنها څومره اوچت مقام دې

[۶۱۸۸] د واده څخه وړاندې عائشې رضی الله عنها لره په خوب کښې لیدل

۶۱۸۸-( ) [د] [۱] «وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- قَالَتْ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "أُرِيتُكِ فِي الْمَنَامِ ثَلَاثَ لَيَالٍ، [۲] يَجِيءُ بِكِ الْمَلَكُ فِي سَرَقَةٍ مِنْ حَرِيرٍ، [۳] فَقَالَ لِي: هَذِهِ امْرَأَتُكَ، [۴] فَكَشَفْتُ عَنْ وَجْهِكِ

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب فضل عائشة رضی الله عنها (رقم ۳۷۶۸) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب فی فضل عائشة رضی الله تعالی عنها (رقم ۹۱ (۲۴۴۷) والترمذی فی کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب من فضل عائشة رضی الله عنها (رقم ۳۸۸۱) والنسائی فی کتاب عشرة النساء/باب حب الرجل بعض نسائه أکثر من بعض (رقم-۳۹۵۳)

[۲] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب تزویج النبی صلی الله علیه وسلم عائشة. وقدومها المدینة. وبنائه بها (رقم ۳۸۹۵) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب فی فضل عائشة رضی الله تعالی عنها (رقم-۷۹ - (۲۴۳۸)

الثَّوْبَ، فَإِذَا أَنْتِ هِيَ، ۵ فَقُلْتُ: إِنْ يَكُنْ هَذَا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ يُمْضِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او بي بي عائشه ﷞ يوه ورځ ماته وفرمايل دري شپې مسلسل ته ماته په خوب کې راوستل شوې ۲ د هغه صورت دا وو چې يوې فرښتې به ډيري شانداري کپړه کې ستا تصوير خما مخې ته راوستی ۳ او ماته به يې ونيل دا تصوير ستا د کېدونکی ښځې دی ۴ او هركله چې به ما د هغه تصوير پرده اوچتولو سره ستا مخ ليدی نو هو بهو به ستا مخ وو ۵ بيا به ما د هغه فرښتې په جواب کې ونيل که داخوب د الله د طرف نه وی نو هغه به خپله داپوره کوي (يعنی دا معامله به تکميل ته هم هغه ورسوي او دې ښځې سره به خما د نکاح اسباب پيدا کړي) (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ۱ سَرَقَةٍ: أَيْ قِطْعَةٍ: د کپړي يوه ټکره، ۲ يُمْضِهِ: دا د إمضاء نه دي. أَيْ يُنْفِذْهُ: پوره به ني کری، (زما په نکاح کښې به ني راولی)

تسهيلات: **قوله:** فَإِذَا أَنْتِ هِيَ:

دعائشي رضي الله عنها تصوير ليدل: يعنی يو تصوير ماته په ريښمی کپړا کښې راوړلي شو اوخودلي شو. ماچه کله کپړا کولاو کړه نو هغه تصوير هم ستا وو

[۶۱۸۹] د والودپاره دعائشي ﷞ د نوبت انتظار کول

۶۱۸۹ - (۱) [۱] ۱ وَعَنْهَا، قَالَتْ: ۲ «إِنَّ النَّاسَ كَانُوا يَتَحَرَّوْنَ بِهَدَايَاهُمْ يَوْمَ عَائِشَةَ، ۳ يَبْتَغُونَ بِذَلِكَ مَرْضَاةَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۴ وَقَالَتْ: إِنَّ نِسَاءَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كُنَّ حِزْبَيْنِ: ۵ فَحِزْبٌ فِيهِ عَائِشَةُ وَحَفْصَةُ وَصَفِيَّةُ وَسَوْدَةُ، ۶ وَالْحِزْبُ الْآخَرُ أُمُّ سَلَمَةَ وَسَائِرُ نِسَاءِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -

ترجمه: ۱ او بي بي عائشه ﷞ بيان کوي ۲ خلقو به دي خبري ته ترجيح ورکوله چې هغوئ خپلي هديي او تحفي په هغه ورځ پيش کړي هركله چې دبي بي عائشي ﷞ دنمبر ورځ وي (يعنی د حضور ﷺ په خدمت کې هديي او تحائف تحفي راوړونکو به د هغه ورځې انتظار کوی په کومه ورځ چې به حضور ﷺ ما سره تشريف فرماوو) ۳ او دي نه د هغوئ مقصد صرف د رسول الله ﷺ زيات نه زيات رضا او خوشنودي حاصلول وو ۴ بي بي عائشه ﷞ وايي د حضور ﷺ بيبياني دوو دلو کې تقسيم وي او په هغه کې هريوتولي يوشان مزاج يوشان رايه او يوشان طرز معاشرت او اختلاط لرونکو بيبيانو باندې مشتمل وو ۵ يوتولي خو هغه وه چې په هغه کې عائشه ﷞ حفصه صفيه او سوده وي ۶ او دويم تولي هغه وو چې په هغه کې ام سلمه او د رسول الله ﷺ باقي تولي بيبياني وي

[1] اخرجه البخاري فى كتاب الهبة وفضلها والتحريض عليها/باب من أهدى إلى صاحبه وتحرى بعض نسائه دون بعض (رقم-۲۵۸۱) ومسلم فى كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب فى فضل عائشة رضى الله تعالى عنها (رقم-۸۲-۲۴۴۱) والترمذي فى كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب من فضل عائشة رضى الله عنها (رقم-۳۸۷۹)

حل اللغات:- ① يَحْرَوْنَ: دا د تحري نه دي، بمعنى اللايق الأحق والأولى: لائق او حقدار ته وائي ② حِزْبَيْنِ: د حزب تثنيه ده، أي: طائفتين: دوه ډلې

[۱] فَكَلَّمَ حِزْبُ أُمِّ سَلَمَةَ، فَقُلْنَ لَهَا: [۲] كَلِّمِي رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يُكَلِّمُ النَّاسَ [۳] فَيَقُولُ: مَنْ أَرَادَ أَنْ يُهْدِيَ إِلَى رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَلْيُهْدِهِ إِلَيْهِ حَيْثُ كَانَ. [۴] فَكَلَّمَتْهُ، فَقَالَ لَهَا: "لَا تُؤْذِينِي فِي عَائِشَةَ؟ [۵] فَإِنَّ الْوَحْيَ لَمْ يَأْتِنِي وَأَنَا فِي ثَوْبِ امْرَأَةٍ إِلَّا عَائِشَةَ". [۶] قَالَتْ: أَتُوبُ إِلَى اللهِ مِنْ أَذَاكَ يَا رَسُولَ اللهِ!

ترجمه: [۱] نو دام سلمه ﷺ ډلې يوه ورځ ام سلمه سره خبري وکړې [۲] او ورته يې اوويل چې ته رسول الله ﷺ ته عرض وکړه [۳] چې تاسو خلقوته دا وفرمايي که څه هديه او تحفه پيش کول وي نو هغوئ دې دعائشې د نمبر د ورځې تخصيص نه کوي بلکه پيش کوي دې که تاسو کوم ځاي کې يې (خواه هغه دعائشې کور وي يا د بلې بي بي چې د عائشې ﷺ او نورو بيبيانو په منځ کې هغه امتياز لرې شي چې د هغه سره هغه بيبيانو ته غيرت محسوس کيږي) [۴] بي بي ام سلمه په دې باره کې حضور ﷺ سره خبره وکړه نو حضور ﷺ ورته وفرمايل ته ماته د عائشې ﷺ په باره کې تکليف مه رسوه [۵] ته شايد نه پوهيږې چې هغه وخت ماته وحي نه راځي کله چې زه د يوبلې بي بي لحاف يا څادر کې يم ماسوا د عائشې ﷺ نه [۶] په دې اوريدو سره بي بي ام سلمه ﷺ اوويل يارسول الله: زه د الله په حضور کې دې خبرې نه توبه کاږم چې تاسو ته تکليف ورسوم يا د څه داسې کار اراده وکړم چې تاسو ته د تکليف رسولو باعث وي

[۱] ثُمَّ إِنَّهُنَّ دَعَوْنَ فَاطِمَةَ فَأَرْسَلْنَ إِلَى رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] فَكَلَّمَتْهُ، فَقَالَ: "يَا بُنَيَّةُ! أَلَا تُحِبِّينَ مَا أُحِبُّ؟". [۳] قَالَتْ: بَلَى. قَالَ: "فَأَحِبِّي هَذِهِ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۴] وَذُكِرَ حَدِيثُ أَنَسٍ "فَضْلُ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ" فِي بَابِ "بَدْءِ الْخَلْقِ" بِرِوَايَةِ أَبِي مُوسَى.

ترجمه: [۱] بيا د ام سلمه د ډلې ښځو فاطمه راوغوښتله او هغه يې د رسول الله ﷺ په خدمت کې ولېږله چې په دې باره کې هغه حضور ﷺ سره خبري وکړي [۲] نو فاطمې ﷺ په دې باره کې حضور ﷺ سره خبره وکړه (او کيدی شي چې هغه ددې خبرې نه ناخبره وه چې دې نه مخکې ام سلمه د حضور ﷺ په خدمت کې حاضره شوي ده او حضور ﷺ هغه ته کومو الفاظو کې جواب ورکړی دی) بهرحال حضور ﷺ د فاطمې ﷺ خبري اوريدو سره هغه ته وفرمايل اې ځما لورې! آيا ته هغه چاسره محبت نه ساتې چاسره چې زه محبت ساتم [۳] فاطمې ﷺ اوويل ولې نه يقيناً زه هرهغه ذات سره محبت ساتم او ساتم به د چاسره چې تاسو محبت ساتئ حضور ﷺ ورته وفرمايل بيا ته عائشې ﷺ سره محبت ساته او د څه داسې خبرې ذکر مه کوه چې هغه عائشې ﷺ ته ناخوښه وي. (بخاري مسلم) [۴] او د حضرت انس روايت کرده حديث: **فضل عائشة على النساء كفضل الثريد على سائر الاطعمة** باب بدء الخلق کې د ابوموسیٰ روايت نه نقل شوي دي.

حل اللغات: -③دَعَوْنَ: أَيْ: طَلَبْنَهَا: راوي غوښتله، ④فَأْحِبِّي: د امر صيغه ده، يعنې نو بس محبت ساته

تسهیلات: قوله: يَتَحَرَّوْنَ:

د عائشې رضی الله عنها د نمبر انتظار کول: تحري سوچ اوفکر اودّ ښه ځيزلټون ته وائي مراد انتظار دي چه عام خلق خپلي تحفه اوتحائف ليګلوکښي به دّ حضرت عائشه رضي الله عنها دّ نمبر انتظارکولو دي دپاره چه پيغمبر عليه السلام ډير خوشحاله شي

د يو شان مزاج کيدو په اعتبار باندې د ازواجو مطهراتو دوه ډلې:

قوله: حِزْبَيْنِ:

د حديث مطلب: مطلب دادې چه شوق اويوشان مزاج کيدو په اعتبارباندې دّ ازواج مطهرات دوه ډلې وې دادّ څه دښمنئي يا حسد په بنيادباندې نه وې بلکه دّدينې اودنيوي فائدې دّ حاصلولو دپاره خپل پخپله داسې تقسيم جوړشوې وو او چونکه ازواج مطهرات دّ بشريت په صفت باندې متصف وې او په خپل مينځ کښې بنې هم وې نوچه که بشريت څه ځيز دي اودا سړې پريخودې نه شي نو په کورني نظام کښې دا دوه ډلې جوړيدل څه عيب نه دې چنانچه په اول فريق کښې حضرت عائشه رضي الله عنها حضرت حفصه رضي الله عنها حضرت سوده رضي الله عنها اوحضرت صفيه رضي الله عنها په دوی کښې دّ حضرت عائشه رضي الله عنها حيثيت ښکاره وو او په دويم فريق کښې حضرت ام سلمه رضي الله عنها حضرت زينب رضي الله عنها حضرت ام حبيبه رضي الله عنها حضرت ميمونه رضي الله عنها اوحضرت جويريه رضي الله عنها وې په کوموکښې چه حضرت ام سلمه رضي الله عنها ښکاره وه مګر اصل خبره به حضرت زينب سره کيدله.

قوله: وَسَائِرُ نِسَاءِ:

د سائر نساء مصداق: سائر دّ باقي نورو په معنی کښې دې دّ باقي ازواج مطهرات تعداد پنځه وو ليکن په دغه دوو ډلوکښې حضرت زينب بنت حزيمه شريکه نه وه دّهغې وفات هم زر شوې وو لهذا "سائرنساء" نه مراد دّ فريق ثاني ازواج دی دّدې حديث دّ ظاهرنه چه کوم معلومات کيږی هغه دادې چه دّ دويم فريق مطالبه دا وه چه خلق خپلې هديه ګانې دّ حضرت عائشه رضي الله عنها نمبر سره مه خاص کوئی خکه چه په دې سره دّ باقي ازواج مطهرات په قدروقيمت باندې څه نه څه فرق پريوتلې شي اوهسې په احساس کمترئی کښې دّ پريوتلو خطره هم ده

قوله: فَإِنَّ الْوَحْيَ لَمْ يَأْتِنِي وَأَنَا فِي ثَوْبِ امْرَأَةٍ إِلَّا عَائِشَةَ:

د عائشې په بستره کښې د وحی راتلل: ليکن حضورپاك دا ټول مفروضات رد کړل اود حضرت عائشه رضي الله عنها عظيم فضيلت ئې بيان کړو چه دا دومره پاکه بی بی ده چه دې سره په يوه بستره کښې کيدو سره په ما باندې وحی راځي

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۶۱۹۰] د دنیا څلور افضل ترینې ښځې

۳۰ -(۱) [۸] [۱] عَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «حَسْبُكَ مِنْ نِسَاءِ الْعَالَمِينَ مَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ، وَخَدِيجَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ، وَفَاطِمَةُ بِنْتُ مُحَمَّدٍ، وَآسِيَةُ امْرَأَةُ فِرْعَوْنَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] د ټول جهان په ښځو کې د څلورو ښځو مناقب پیژندل ستا د پاره کافي دي او هغه دي ۱ مریم بنت عمران يعنې د حضرت عیسی علیه السلام مور محترمه ۲ خدیجه رضی الله عنها بنت خویلد ۳ فاطمه رضی الله عنها بنت محمد ۴ بي بي آسيه د فرعون ښځه (ترمذي)

حل اللغات: - ① حَسْبُكَ أي يَكْفِيك: كافي دی تاله

تسهيلات:

قوله مَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ:

د ټولې دنيا په ښځو کښې افضلې ښځې: علامه سيوطي رحمه الله په نقايه کښې ليکي چه زمونږ دا عقيده ده چه د ټول جهان په ښځو کښې د ټولو نه افضل حضرت بي بي مريم او حضرت بي بي فاطمه ده او په ازواج مطهرات کښې د ټولو نه افضل حضرت خديجه رضی الله عنها او حضرت عائشه رضی الله عنها ده

د ازواج مطهراتو په افضليت کښې څلور اقوال:

① حضرت خديجه رضی الله عنها د ټولو نه افضل ده

② حضرت عائشه رضی الله عنها افضل ده

③ امام مالک رحمه الله مطلقًا حضرت فاطمه رضی الله عنها افضل ګرځولې ده. امام سبکي رحمه الله نه چا تپوس اوکړو نو هغوی اوفرمايل زمونږ عقيده او اختيار کړې شوې قول دا دې چه د ټولو نه افضل فاطمه رضی الله عنها ده بيا حضرت خديجه رضی الله عنها ده او بيا حضرت عائشه رضی الله عنها ده

④ د بخاري محشي ليکلي دي چه زه خودا وايم چه په دې مسئله کښې خاموشي بهتر ده ځکه چه دلته څه قطعي دليل نشته دې کوم چه دی نو هغه ظنيات يعنې ګمان دې کوم چه متعارض دي لهذا فيصله کول ګران دی

[۶۱۹۱] نبی علیه السلام ته په ریښمو کښې د عائشې رضی الله عنها تصویر ورښودل

۳۱ -(۲) [۸] [۱] «وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - [۲] أَنَّ جِبْرِيلَ جَاءَ بِصُورَتِهَا فِي خِرْقَةِ حَرِيرٍ خَضْرَاءَ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] فَقَالَ: "هَذِهِ زَوْجَتُكَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

أخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم باب فضل خديجة رضي الله عنها (رقم ٣٨٧٨)

أخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم باب من فضل عائشة رضي الله عنها (رقم ٣٨٨٠)

ترجمه: [۱] او دبي بي عائشي رضي الله عنها بيان دى [۲] چي حضرت جبرائيل عليه السلام شين وريښمي کپړه باندې د هغې بي بي عائشه رضي الله عنها تصوير رسول الله ﷺ ته په خوب کې ښودلو د پاره راوړی [۳] او ورته يې اوويل دا ستاسو زوجه ښځه ده په دنيا کې هم او په آخرت کې هم. (ترمذي)

حل اللغات: - ① خِرْقَةٍ: أَيْ: قِطْعَةٍ: د کپړې يوه ټکړه (چه د شنو ريښمو وه).

تسهيلات:

قوله: فِي خِرْقَةِ حَرِيرٍ خَضْرَاءَ..الخ:

د حرير د رنګ تعين: وړاندې په حديث نمبر (۶۱۸۸) کښې د مطلق حريرذکر وو د رنګ ذکر په کښې نه وو او په دې روايت کښې د شنو ريښمو ذکر دې نو معلومه شوه چې په هغه روايت کښې چې د مطلق حرير ذکر دې دهغې څخه صرف سپين ريښم مراد نه دى بلکه شنه ريښم ترې مراد دې. اودا هم کيدې شي چې دا خوب دوه ځله ليدلې شوې وى يو ځل په مطلق کپړه کښې او په دويم ځل په شنو ريښمو کښې وى.

[۶۱۹۲] صفيه رضى الله عنها ته تسلى ورکول

-() [۹] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «بَلَغَ صَفِيَّةَ أَنَّ حَفْصَةَ قَالَتْ: بِنْتُ يَهُودِيٍّ [۲] فَبَكَتْ، فَدَخَلَ عَلَيْهَا النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهِيَ تَبْكِي، [۳] فَقَالَ: "مَا يُبْكِيكِ"؟ فَقَالَتْ: قَالَتْ لِي حَفْصَةُ: إِنِّي ابْنَةُ يَهُودِيٍّ [۴] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "إِنَّكِ لَابْنَةُ نَبِيٍّ، وَإِنَّ عَمَّكِ لَنَبِيٌّ، وَإِنَّكِ لَتَحْتَ نَبِيٍّ [۵] فَفِيمَ تَفْخَرُ عَلَيْكِ؟". ثُمَّ قَالَ: "اتَّقِي اللَّهَ يَا حَفْصَةُ!». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه بيان کوي يو وار ام المؤمنين بي بي صفيه ته معلومه شوه چې ام المؤمنين بي بي حفصي هغه ته د يهودي لور ويلي دي [۲] نو هغه په ژړا شوه کوم وخت چې رسول الله ﷺ هغه ته تشريف راوړی نو هم هغه ژړل [۳] حضور ﷺ ځني پوښتنه وکړه ولې ژاړې؟ هغې ورته اوويل خما په باره کې حفصي رضي الله عنها ويلي دي چې زه د يهودي لوريم [۴] په دې اوريدو سره رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ته د هغه په وينا غم مه کوه حقيقت خو دادى چې ته د پيغمبر لور يې ستا تره هم پيغمبر وو او اوس د يو پيغمبر (يعنى خما ښځه يې) [۵] بيا هغه په تا باندې په څه فخر کوي بيا حضور ﷺ حفصه متنبه کړه چې اې حفصه د ﷲ نه ويريږه. (ترمذي ونسائي)

حل اللغات: - ① ابْنَةُ نَبِيٍّ: د پيغمبر لور (دا د هارون لور وه او د موسى عليه السلام وريره وه، يا د اسحاق عليه السلام لور وه او د اسماعيل عليه السلام وريره وه. ② عَمُّكِ لَنَبِيٌّ: ستا تره هم نبى وو (يعنى موسى عليه السلام يا اسماعيل عليه السلام). ③ لَتَحْتَ نَبِيٍّ: ته د پيغمبر ﷺ په نکاح کښې يې. ④ فَفِيمَ تَفْخَرُ: د مونث غائب صيغه ده، په څه څيز فخر کوى حفصه رضي الله عنها.

[۱] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فى فضل أزواج النبى صلى الله عليه وسلم (رقم-۳۸۹٤)

تسهيلات:

قوله: بِنْتُ يَهُودِيٍّ:

د صفيه پلار: حضرت صفيه رضي الله عنها په جنګ خيبر کښې د حضورپاك لاس ته راغلې وه. حضورپاك دا آزاده کړه او په ازواج کښې داخل کړه. په بنوکښې خپل مينځ کښې تاو تريخ وي يو غيراختياري بشري معامله ده. حضرت صفيه دې ته بنت يهودي اووئيل خکه چه د دې پلار حيي بن اخطب يومشهور يهودي سردار وو چه د حضرت هارون عليه السلام د اولاد څخه وو. لکه څنګه چه حضرت صفيه رضي الله عنها د خپل ذات په اعتبارسره د يوسردار خاندان معزز بي بي وه دغه شان صفيه رضي الله عنها په ديني اعتبارسره هم د يوجامع شخصيت مالکه وه د حضرت حفصه رضي الله عنها نسبي پيغور ورکولو باندې

د صفيه خانداني شرافت: حضورپاك د حضرت صفيه رضي الله عنها د زړه ساتلو دپاره اوخاطر دپاره اوفرمائيل چه تاسره خوهغه اعزازات دي چه بل چاسره نشته دې ته د يونبي هارون عليه السلام لورئي دويم نبي موسى عليه السلام وريره يئي دريم نبي محمد ﷺ بي بي ئي اوس په تاباندې د دوی په کوم څيزکښې فخرپاتې شو؟ وئيلی شي حضرت صفيه رضي الله عنها په ترکارئي پخولوکښې هوښياره وه.

[۶۱۹۲] د بي بي مريم بنت عمران د سرداری ذکر

---(۰)[۰] ① وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - دَعَا فَاطِمَةَ عَامَ الْفَتْحِ ② فَنَاجَاهَا، فَبَكَتْ، ثُمَّ حَدَّثَهَا فَضَحِكَتْ، ③ فَلَمَّا تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَأَلْتُهَا عَنْ بُكَائِهَا وَضَحِكِهَا. ④ قَالَتْ: أَخْبَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ يَمُوتُ فَبَكَيْتُ، ⑤ ثُمَّ أَخْبَرَنِي أَنِّي سَيِّدَةُ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ إِلَّا مَرْيَمَ بِنْتَ عِمْرَانَ، فَضَحِكْتُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او د بي بي ام سلمه رضي الله عنها بيان دی چې د مکې د فتح په موقع يوه ورځ رسول الله ﷺ بي بي فاطمه رضي الله عنها خپل نزدې وبلله ② او هغه سره يې پټې پټې څه خبرې وکړې فاطمه هغه خبرې اوريدو سره په ژړا شوه بيايې په غوږ کې د خبروپه اندازکې خبرې وکړې نو هغه په خندا شوه ③ بياچې رسول الله ﷺ وفات شو نو يوه ورځ ما د هغې نه د ژړا او بيا د خندا سبب معلوم کړو ④ نو هغې اوويل مخکې خو رسول الله ﷺ د خپل مرګ په باره کې زه آګاه کړم چې په هغه اوريدو سره زه په ژړا شوم ⑤ بيا حضور ﷺ ماته وښودل چې زه د مريم بنت عمران نه ماسوا د جنت د ټولو ښځو سرداره يم نو زه په خندا شوم. (ترمذي)

حل اللغات: - ① فَنَاجَاهَا: أَيْ كَلَّمَهَا بِالسِّرِّ: پټې پټې خبرې ئي ورسره اوکړې

---

[۱] اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في فضل فاطمة رضى الله عنها (رقم-۳۸۷۳)

تسهیلات:

قوله: دَعَا فَاطِمَةَ عَامَ الْفَتْحِ فَنَاجَاهَا،

د راوی سهو: په دې حدیث کښې ذکرشوې واقعه دَ فتح مکه سره تړل دَ راوی سهو ده ځکه چه دا واقعه یا خودَ حجة الوداع دَ زمانې ده یا دَ مرض الموت دَ زمانې ده. حدیث سره متعلق بحثونه وړاندې تیرشوی دی

اشکال: دَدې حدیث دې باب سره څه مناسبت نه ښکاری په دې کښې دَ حضرت فاطمه ﷛ دَ منقبت ذکر دې دکوم ذکر چه اهل بیت باب کښې کول پکار وو نه چه دَ ازواج مطهرات دَ مناقب سره

داشکال جواب: په دې باره کښې بعضې حضراتو وئیلی دی چه دا روایت په ضمنی توګه باندې فصل دوم لاندې راغلې دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۶۱۹۴] د صحابه کرامو د عائشې ﷝ څخه تپوسونه کول

۶۱۹۴ - ( ) [۱] [۱] عَنْ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «مَا أُشْكِلَ عَلَيْنَا أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حَدِيثٌ قَطُّ [۲] فَسَأَلْنَا عَائِشَةَ إِلَّا وَجَدْنَا عِنْدَهَا مِنْهُ عِلْمًا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوموسی اشعري وايي مونږ اصحاب رسول الله ﷺ ته به چې کله د یو حدیث یادیني مسائلو سره متعلق څه خبره کې څه اشکال پیښ شو [۲] نومونږ به بي بي عائشه ﷝ ته رجوع کوله او مونږ ته به د هغه حدیث یا مسئلي متعلق کافي علم دبي بي عائشي ﷝ نه حاصلیدی دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي يي دي چې دا حدیث حسن صحیح غریب دی

حل اللغات: - ① مَا أُشْكِلَ عَلَيْنَا: أي: مَا اشْتَبَهَ: څه شبه او اشکال به راپیدا شو، په بله نسخه کښې دا لفظ مَا اشْكَلَ دي. بیابه ني معنی داسې وی. أي مَا أَغْلَقَ: څه مشکل یا ګرانه مسئله به راپیښه شوه،

تسهیلات:

قوله: إِلَّا وَجَدْنَا عِنْدَهَا مِنْهُ عِلْمًا:

په مسائلو کښې عائشې رضی الله عنها ته رجوع کول: دَ رسول کریم ﷺ صحابه کرامو ﷡ ته به کله هم په څه مسئله کښې مشکل پیښیدو نوهغوی به حضرت عائشه ﷝ ته حاضریدل نودغه مشکل مسئلې باره کښې به حضرت عائشه ﷝ سره څه حدیث

[۱] اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب من فضل عائشة رضي الله عنها (رقم-۳۸۸۳)

ملاویدو یا به دَ یو حدیث نه دَ هغه مسئلې استنباط ملاویدلو څکه چه حضرت عائشه رضي الله عنها دَ قرآن اوحدیث دَعلومو جامع عالمه وه لویه فقیهه وه په دې وجه حضوریاک په یوه موقع باندې اوفرمائیل چه دَ عائشه رضي الله عنها نه علم حاصلوئی هغې سره نیم علم دې

[۳۰] دعائشې رضي الله عنها فصاحت

۳۰ - ( )[۳] [۱] وَعَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ، قَالَ: [۲] مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَفْصَحَ مِنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت موسی بن طلحه تابعي وايي [۲] ما د عائشې رضي الله عنها نه زیات فصیح هیڅوک نه دی لیدلی دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي يې دي چې دا حدیث حسن صحیح غریب دی

حل اللغات:- ① أَفْصَحَ: د ډیر فصاحت او بلاغت والا

تسهیلات:

قوله: مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَفْصَحَ مِنْ عَائِشَةَ:

دعائشې علمی کمالات: دا حدیث هم دَ عائشه رضي الله عنها دَ فضیلت سره متعلق دې چه حضرت عائشه رضي الله عنها دَ قرآن او حدیث دَ علومو عالمه کیدو سره سره لویه شاعره. په علم انساب کښې کامل او فصاحت اوبلاغت کښې بې مثال عالمه وه او دا ټول هر څه دَ رسول کریم ﷺ په قربت کښې دَ پاتې کیدو اثر وو

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم باب من فضل عائشة رضی الله عنها (رقم ۳۸۸٤)

[۲۲] باب جامع المناقب

دمناقبو جامع بیان

خلاصة الباب:

فيه أحد وسبعون حديثاً مشتملة على فضيلة سبعة وثلاثين صحابياً و أربع جماعات

① فضيلة عبدالله ابن عمر رضي الله عنه: ١۔
② فضيلة عبدالله بن مسعود رضي الله عنه: ٢، ٣، ٤، ٥، ٧، ٣٨، ٣٦، ٣٧، ٤٥، ٦٠۔
③ فضيلة سالم رضي الله عنه: ٤۔
④ فضيلة أبي بن كعب رضي الله عنه: ٤، ٩۔
⑤ فضيلة معاذ بن جبل رضي الله عنه: ٤، ٩، ٣٨۔
⑥ فضيلة عمار بن ياسر رضي الله عنه: ٥، ٣٥، ٣٧، ٣٩، ٤٠، ٤١، ٦٠، ٦١۔
⑦ فضيلة حذيفة رضي الله عنه: ٥، ٣٧، ٤٦۔
⑧ فضيلة بلال رضي الله عنه: ٦، ٧، ١٩، ٦٠، ٦٤، ٦٥۔
⑨ فضيلة سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه: ٧، ٢٧۔
⑩ فضيلة أبي موسى الأشعري رضي الله عنه: ٨۔
⑪ فضيلة زيد بن ثابت رضي الله عنه: ٩۔
⑫ فضيلة أبي زيد رضي الله عنه: ٩۔
⑬ فضيلة مصعب بن عمير رضي الله عنه: ١٠، ٦٠۔
⑭ فضيلة سعد بن معاذ رضي الله عنه: ١١، ١٢، ٤٢۔
⑮ فضيلة أنس رضي الله عنه: ١٣۔
⑯ فضيلة عبدالله بن سلام رضي الله عنه: ١٤، ١٥، ٤٥۔
⑰ فضيلة ثابت بن قيس رضي الله عنه: ، ٣٨١٦۔
⑱ فضيلة سلمان رضي الله عنه: ١٧، ١٨، ٣٧، ٣٩، ٤٥، ٥٨، ٦٠، ٦٣۔
⑲ فضيلة أبي هريرة رضي الله عنه: ١٨، ٣٧۔
⑳ فضيلة صهيب رضي الله عنه: ١٩۔
㉑ فضيلة حاطب أبي بلتعة رضي الله عنه: ٣٠، ٥٧۔
㉒ فضيلة أسيد بن حضير رضي الله عنه: ٣٨۔
㉓ فضيلة معاذ بن عمرو رضي الله عنه: ٣٨۔
㉔ فضيلة أبي ذر رضي الله عنه: ٤٣، ٤٤، ٦٠، ٦٣۔
㉕ فضيلة أبي الدرداء رضي الله عنه: ٥٠۔

⑩ فضيلة محمد بن مسلمة رضي الله عنه: ۴۷.
⑪ فضيلة عبدالله بن زبير رضي الله عنه: ۴۸.
⑫ فضيلة معاوية رضي الله عنه: ۴۹.
⑬ فضيلة عمرو بن العاص رضي الله عنه: ۵۰.
⑭ فضيلة أبي جابربن عبدالله رضي الله عنه: ۵۱.
⑮ فضيلة جابر رضي الله عنه: ۵۲.
⑯ فضيلة براء بن مالك رضي الله عنه: ۵۳.
⑰ فضيلة حمزة رضي الله عنه: ۶۰.
⑱ فضيلة مقداد رضي الله عنه: ۶۰، ۶۳.
⑲ فضيلة خالد رضي الله عنه: ۶۲، ۶۷.
⑳ فضيلة أبي طلحة رضي الله عنه: ۶۶
㉑ فضيلة أم سليم رضي الله عنها: ۶، ۶۶.
㉒ فضيلة الأنصار وقبائلهم: ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۴، ۲۵، ۲۶، ۲۷، ۲۸، ۲۹، ۳۴، ۵۴، ۵۵، ۵۶، ۶۸، ۶۹.
㉓ فضيلة الأعاجم : ۵۹.
㉔ فضيلة أصحاب بدر وأسماء هم : ۲۰، ۳۱، ۳۲، ۷۰، ۷۱.
㉕ فضيلة أصحاب الحديبية رضي الله عنهم: ۳۲، ۳۳. وتركنا الصحابة الذين سبق ذكرهم في أبواب المناقب:

د ترجمة الباب تشريح او تفسير: يعني دكوم سړي چه كومه خوبي او فضيلت وي هغه به په دې باب كښې بيانولې شي. چنانچه دځه خاص تخصيص نه بغيريه په دې باب كښې دمهاجرينو دَ فضيلت خبره كيږي. دَانصارودَفضيلت بيان به كيږي. عشره مبشره خلفاء راشدين اهل بيت او ازواج مطهرات اونوروم‌شهورو صحابه كرامو ﷺ تذكره به كيږي. لكه دَ ټولو صحابه كرامو او اهل بيت دَ اجتماعي مناقب بيان دې. داباب ډير اوږددې او په دې كښې ټول اويا احاديث راجمع دي.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۶۱۹۶] د عبدالله بن عمر رضى الله عنه د نيكئ دليل

۶۱۹۶ - ()[۱] ①«عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ② رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ فِي يَدِي سَرَقَةً مِنْ حَرِيرٍ ③ لَا أَهْوِي بِهَا إِلَى مَكَانٍ فِي الْجَنَّةِ إِلَّا طَارَتْ بِي إِلَيْهِ ④ فَقَصَصْتُهَا عَلَى حَفْصَةَ، فَقَصَّتْهَا عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ -

[۱] اخرجه البخاري في كتاب التعبير/باب الإستبرق ودخول الجنة في المنام (رقم-۷۰۱۵) كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب عبد الله بن عمر رضي الله عنهما (رقم-۳۸۲۵)

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -٥ فَقَالَ: "إِنَّ أَخَاكِ رَجُلٌ صَالِحٌ - أَوْ إِنَّ عَبْدَ اللّٰهِ رَجُلٌ صَالِحٌ -». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حضرت عبد الله ابن عمر وايي ٢ ما يوه ورځ په خوب کې وليدل چې ګويا خما په لاس کې د وريښمو د کپړې يوه ټکړه ده ٣ او زه د هغه وريښمي کپړې په ذريعه د جنت کوم محل طرف ته تلل غواړم هغه ټکړه ما آولوخولو سره هلته رسوي (يعنى ماته داسې ولګيده چې هغه ټکړه زما د پاره وزر جوړشوي دي او زه چې د جنت کوم بلندي درجې او محل ته تلل غواړم د هغه وزر په ذريعه الوتو سره هلته رسم) ٤ بيا ما داخوب خپلې خورام المؤمنين بي بي حفصه ته بيان کی او هغه د دې ذکر رسول الله ﷺ ته وکی ٥ نو حضور ﷺ وفرمايل حقيقت دادی چې ستا ورور نيک سړي دی يا دا الفاظ يې وفرمايل چې عبد الله نيک سړي دی. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① خِرْقَةٌ: أَيْ: قِطْعَةٍ: د کپړې يوه ټکړه (چه د ريښمو وه). ② لَا أَهْوِي: أَيْ لَا أَقْصِدُ: قصد به مې نه وو کړې. ③ طَارَتْ: أَيْ تُبَلِّغُنِي: طارت د الوتلو په معنى کښې دې، هلته رسول ترې مراد دې. ④ فَقَصَصْتُهَا: مادا قصه بيان کړه حفصې ﷞ ته. ⑤ فَقَصَّتْهَا: نودا قصه حفصې ﷞ بيان کړه نبی ﷺ ته.

تسهيلات:

قوله: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ

د عبدالله بن عمر تعارف: عبدالله بن عمر ﷛ دا قريشی العدوی دې. دې خپل پلار سره په وړوکوالی کښې مکه مکرمه کښې په اسلام راوړو د غزوه خندق نه پس په ټولو غزواتو کښې شريک شوي دې علم هوښيارتوب، زهد، ورع او تقوی کښې کامل منلې شو حضرت جابر بن عبدالله ﷛ به فرمايل "مامنا أحد إلا مالت به الدنيا ومال إليها ما خلا عمرو ابن عبدالله" حضرت نافع ﷫ فرمائی چه ابن عمر ﷛ د مرګه پورې زر غلامان يا د دې نه زيات آزاد کړل. په اول درجه کښې د سنت تابعدار وو د هغوی د سنت تابعدارئی داحال وو چه حج ته د تلو په وخت چرته چه حضورپاک قيام کړې وو هم هلته به دوی قيام فرمائيلو تردې چه د سفر دروان کښې رسول کريم ﷺ د قضاء حاجت د پاره حصارشوي هلته به ابن عمر ﷛ هم حصاريدو عرفات وغيره کښې به د حاجيانو نه مخکښې رسيدلو. نقل دی چه يوه ورځ حجاج بن يوسف د سحر يا مازيګر په مونځ کښې تاخير اوکړو نو عبدالله بن عمر ﷛ هغه ته اوونيل چه مونځ کوه ګنی نمر به ستا انتظارنه کوی. کله چه حجاج دا خبره واؤريده نو وئی ونيل چه زړه مې غواړی چه سترګې دې راؤباسم يا ئی دا اوونيل چه زړه مې غواړی چه سر دې قلم کړم عبدالله ابن عمر ﷛ چه دا واؤريدل نو وئی ونيل که چرې نه داسې اوکړې نوهيڅ لرې نه ده ته خو يو نادان حاکم ئی دې نه پس حجاج يو سړی ته حکم وکړو چه د ابن عمر ﷛ نيزه واخله او هغه خالی لاس کړه او بيا هغه په ده باندې کانړې اووړول بلکه په يو زهرژن څيز سره ئی د هغه د خپې په شاه باندې يومضبوط زخم

اولګولو. هم دَدې په وجه حضرت عبدالله ﷠ یو څو ورځې بیمار وو او بیا وفات شو. دا واقعه دَ ابن زبیر دَ حادثې دَ شهادت نه درې میاشتې پس ۷۳ هجری کښې پیښیه شوې وه هغه وخت دَ حضرت ابن عمر ﷠ عمر ۸۴ کال وو او هغوی په ذی طوی کښې خښ کړې شو. (مرقاة: ۱۱/۴۰۸)

قوله: رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ

د ابن عمر د نبی علیه السلام څخه د تپوس نه کولو وجه: ابن عمر ﷠ خوب اولیدلو چه دَهغه په لاس کښې یو سپین ریښمین رومال دې. جنت کښې چه چرته تلل غواړی هغه رومال دوی لره الوزوی او هلته ئې رسوی. ابن عمر ﷠ خپل داخوب دَ رسول کریم ﷺ دَ هیبت دَ وجې نه دَنیغ په نیغ عرض کولو په ځائې خپلې خور اُم المؤمنین حضرت حفصه ﷞ ته عرض کړو هغې رسول کریم ﷺ ته خوب واورولو او دَ تعبیر تپوس ئې اوکړو

دعبدالله بن عمر دخوب تعبیر: نو حضورپاك اوفرمائیل چه ریښمین رومال دَهغه اعمال دی اودَ رومال سپینوالې دَهغه اخلاص دې. دَ ریښمین رومال صفائی دَ هغه دَ زړه صفائی ده په دې وجه عبدالله بن عمر ﷠ نیك صالح مخلص دیندار دې. دارنګ واضحه دې وی چه دَ نبی خوب وحی وی دغه شان دَ نبی تعبیرهم وحی وی. لهذا دَ ابن عمر ﷠ متقی صالح کیدل دَ الله تعالی په وحی ثابت شو لکه څنګه چه حضرت یوسف ﷤ دَ تعبیر تپوس کونکو ته اوفرمائیل ﴿قُضِيَ الْأَمْرُ الَّذِي فِيهِ تَسْتَفْتِيَانِ﴾ چه ما کوم تعبیر خودلې دې دَ هغې به فیصله کیږی. دَدې نه هم معلومه شوه چه دَنبی تعبیر هم وحی وی.

[۶۱۹۷] په سیرت کښې د ابن مسعود ﷛ نبی علیه السلام سره مشابهت

۶۱۹۷-(۱) [۲] [۱] وَعَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: إِنَّ أَشْبَهَ النَّاسِ دَلًّا وَسَمْتًا وَهَدْيًا بِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَابْنُ أُمِّ عَبْدٍ [۲] حِينَ يَخْرُجُ مِنْ بَيْتِهِ إِلَى أَنْ يَرْجِعَ إِلَيْهِ، [۳] لَا نَدْرِي مَا يَصْنَعُ فِي أَهْلِهِ إِذَا خَلَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت حذیفه وایې چې په وقار میانه روی او درست روی کې درسول الله ﷺ سره د ټولو نه زیات مشابهت لرونکی سړی د اُم عبد خوی دی [۲] د هغه وخت نه چې دخپل کور نه بهر راوځي او ترهغه وقته پورې چې خپل کورته ځي [۳] د کور والو په منځ کې یعنی په کور کې داهل وعیال سره یا تنها هغه کوم حال کې وي دا مونږ ته معلومه نه ده (بخاري)

حل اللغات:- ① دَلًّا: أَيْ طَرِيقَةً: طریقه خوښی او عادت ته وائی. قاضی عیاض ﷬ فرمائی چه دلته د سنجیدګی اووقار په معنی کښې دې ② سَمْتًا: أَيْ: سِيرَةً: سیرت اوعادت ته وائی مګر قاضی

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب التعبیر /باب من رأی النبی صلی الله علیه وسلم فی المنام (رقم-۶۹۹۷) والترمذی فی کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب عبد الله بن مسعود رضی الله عنه (رقم-۳۸۰۷)

عیاض ﷫ دَ قول مطابق دلته په تولو اموروکښې میانه روی مراد ده. ③هَدْيًا: أَيْ: هِدَايَةً وَدَلَالَةً: سیرت حالت هدایت او رهنمائی ته وائی. دَ قاضی عیاض ﷫ دَ قول مطابق دلته دا لفظ دَحسن سیرت سره په نیغه لار دَتللو په معنی کښې دی. ④لِابْنِ أُمِّ عَبْدٍ: وَالْمُرَادُ بِهِ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْعُودٍ: ددی نه مراد عبدالله بن مسعود ﷜ دی، د دوی دَ مور کنیت أم عبد وو. ⑤خَلَا: یواځې وی یعنی چه بل څوک ورسره نه وی.

تسهیلات:

قوله: دَلًّا وَسَمْتًا وَهَدْيًا:

د مذکوره الفاظو ترادف: شارحین حدیث لیکی چه دا دریواړه الفاظ دَمعنی اومفهوم په اعتبارسره یوبل سره نیزدې دی اوپه عام توګه دَ یوبل په ځائی باندې وئیلی کیږی.

قوله: حِينَ يَخْرُجُ مِنْ بَيْتِهِ إِلَى أَنْ يَرْجِعَ إِلَيْهِ:

د مذکوره جملې مفهوم: دا جارمجرور دَدې نه اول اشبه لفظ سره متعلق دی. په دې جمله سره حضرت حذیفه ﷜ دا خودل غواړی چه په دې صفاتوکښې حضورپاک سره مشابهت ترهغه وخته پورې مسلسل جاری کیدلو کوم وخت پورې چه هغه زمونږ مخکښې وو اوترکومې چه هغوی په خپل کورکښې نه داخلیدلو لیکن چه کله به په خپل کورکښې داخلیدلو اوخالی پاتې کیدلو نودَدې نه پس مونږ نه پوهیدلو چه هغه په خپل کورکښې څنګه اوسیږی؟ آیا هم په هغه صفاتوباندې به باقی پاتې کیدو که نه؟ دادَ غیب خبره ده په دې باندې هم الله تعالی بهتر پوهیږی مګر ظاهری ژوندون دَهغوی ډیر زیات پاکیزه اودَ نبی مشابه وو.

[۶۱۹۸] په عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د اهل بیتو ګمان کول

۶۱۹۸-(۱)[۳] ①وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ②قَدِمْتُ أَنَا وَأَخِي مِنَ الْيَمَنِ، فَمَكَثْنَا حِينًا مَا نَرَى إِلَّا أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ مَسْعُودٍ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ بَيْتِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ③لِمَا نَرَى مِنْ دُخُولِهِ وَدُخُولِ أُمِّهِ عَلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوموسیٰ اشعری ﷛ وایی ② چې زه او خما وورور د یمن نه مدینې منورې ته راغلو نو دلته د نبوت باندې یوه موده مقیم وو په دې دوران کې مونږ همیشه داخیال کوی چې عبد الله ابن مسعود د رسول الله ﷺ د کور والو نه یوسړی دی ③ ځکه چې مونږ به هغه او د هغه والده مور د رسول الله ﷺ په خدمت کی وخت بې وقته تلونکی راتلونکی لیدل. (بخاري مسلم)

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب مناقب عبد الله بن مسعود رضی الله عنه (رقم-۳۷۶۳) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل عبد الله بن مسعود وأمه رضی الله تعالی عنهما (رقم-۱۱۰ - (۲۴۶۰)) کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فیمن سب أصحاب النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۳۸۶۳)

حل اللغات:- ①قَـیِمْتُ:د واحد متکلم صیغه ده، د واپس راتلو په معنی کښې دې یعنی راغلم زه. ②فَمَكَثْنَا: أَيْ فَلَبِثْنَا: وخت تیر کړو مونږ، ایسار شو. ③حِینًا: أَيْ زَمَانًا كَثِيرًا: ډیره موده.

تسهیلات:

قوله: عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ بَيْتِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -..الخ:

دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه مختصر تعارف: حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه کنیت ابوعبدالرحمن وو هذلی دې دَ صاحب السواد والسواك په لقب سره مشهور وو. هغوی په شروع کښې اسلام قبول کړې وو. بعضې حضرات وائی چه شپږم مسلمان دې. دَ هغوی نه مخکښې صرف پنځو کسانو اسلام قبول کړې وو. دَاسلام قبلولو نه پس حضورپاك هغه خپل ځان سره ساتلې وو او خپل ډیر خدمتونه ئی هغه ته حواله کړې وو. حضورپاك به خپل مسواك او نعلین شریفین هغه سره کیخودلې. حضورپاك هغه ته دَ جنت زیرې هم ورکړې وو. دې دَ کوفې قاضی اودَ هغه ځائی دَ بیت المال مشر وو. اودَ خلافت عثمانی دَ ابتدائی زمانې نه په دغه منصب باندې مقرر وو. بیا مدینې ته راغلې وو او په مدینه منوره کښې ۳۲هجری کښې وفات شو او په جنت البقیع کښې ښخ شو. دَ هغوی عمر څه دَ پاسه شپیته کاله وو.

[۶۱۹۹] د څلورو صحابو څخه د قرآن زده کولو حکم

۶۱۹۹-() [۳] [۱]وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - [۲]أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۳] «اسْتَقْرِئُوا الْقُرْآنَ مِنْ أَرْبَعَةٍ: مِنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَسَالِمٍ مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ، وَأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، وَمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص نه روایت دی [۲] چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۳] قرآن ددې څلورو سړو نه حاصلوئ او د دوئ نه یې وایې ۱ دعبد الله ابن مسعود رضی الله عنه ۲ د ابوحذیفه دآزاد کرده غلام سالم نه ۳ دابي بن کعب نه ۴ اود معاذ بن جبل څخه. (بخاري مسلم) [اخرجه البخاری ومسلم][1]

تسهیلات:

قوله: اسْتَقْرِئُوا الْقُرْآنَ مِنْ أَرْبَعَةٍ:

په قراءت کښې د څلورو صحابؤ مهارت: یعنی دَ دغه څلورو صحابه کرامو نه دَ قرآن کریم تلاوت دَ هغې مضامین دَ هغې احکام اودَ هغې رازونه په خصوصی توګه سره زده کړئ. روایاتو کښې راځی چه دا حضرات حافظ قرآن وو. هغوی دَ رسول کریم ﷺ نه قرآن زده

[1] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب مناقب عبد الله بن مسعود رضی الله عنه (رقم-۳۷۶۰) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل عبد الله بن مسعود وأمه رضی الله تعالی عنهما (رقم-۱۱۸ - (۲٤٦٤)

کړي وو دارنګ دَدي څلورو تخصيص ئی ځکه اوکړو چه دې حضراتو خپل خان دَ قرآن زده کولو دپاره فارغ کړي وو یا دې حضراتو خپل ځان دَ قرآنی تعلیماتو دپاره فارغ کړي وو. یا مطلب دادي چه زما دَ وفات نه پس دې څلور واړو تـه دَ تعليم قرآن پـه سلسله کښې تقدم حاصل دې اودا چه دا څلور واړه غټ قاریان دی.

[۶۲۰۰] دابن مسعود رضی الله عنه عمار رضی الله عنه او حذيفه علمی مقام

۶۲۰۰-()[ه][۱]وَعَنْ عَلْقَمَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲]«قَدِمْتُ الشَّامَ، فَصَلَّيْتُ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ قُلْتُ: اللَّهُمَّ. يَسِّرْ لِي جَلِيسًا صَالِحًا، [۳]فَأَتَيْتُ قَوْمًا، فَجَلَسْتُ إِلَيْهِمْ، [۴]فَإِذَا شَيْخٌ قَدْ جَاءَ حَتَّى جَلَسَ إِلَى جَنْبِي، [۵]قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: أَبُو الدَّرْدَاءِ، [۶]قُلْتُ: إِنِّي دَعَوْتُ اللَّهَ أَنْ يُيَسِّرَ لِي جَلِيسًا صَالِحًا، فَيَسَّرَكَ لِي، [۷]فَقَالَ: مَنْ أَنْتَ؟

ترجمه:[۱] او حضرت علقمه تابعي بيان کوي [۲]زه چې د شام ملك تـه ورسيدم (او د دمشق جامع مسجد کې حاضر شوم) نو هلته مي دوه رکعاته مونځ وکی بیا مي دعا وغوښتله چې اي الله! ماته يونيك همنشين ميسر کړي [۳]بيا زه يومسجد کې ناست وم [۴]چې اچانك يو بزرګ راغي او ځما په خواکي کينا ستی [۵] ماخلقو نه پوښتنه وکړه دا بزرګ څوك دی هغوئ راتـه وښودل دا مشهور صحابي حضرت ابودرداء دی [۶] پـه دې اوريدو سره د خوشحالي نه حضرت ابودرداء ته مي اوويل چې ما د الله تعالى څخه دعا غوښتي وه چې ماته يونيك همنشين ميسر کړي نو الله تعالى ستاسو په شان نيك همنشين راتـه ميسر کی [۷]په دې اوريدو سره حضرت ابودرداء زما نه پوښتنه وکړه ته څوك يې او د کوم ځای نه راغلی يې؟

حل اللغات:- ① يَسِّرْ: أي: سَهِّلْ: آسان کړي، په آسانئ سره راکړي.

[۱]قُلْتُ: مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ، [۲]قَالَ: أَوَلَيْسَ عِنْدَكُمُ ابْنُ أُمِّ عَبْدٍ صَاحِبُ النَّعْلَيْنِ وَالْوِسَادَةِ وَالْمِطْهَرَةِ، [۳]وَفِيكُمُ الَّذِي أَجَارَهُ اللَّهُ مِنَ الشَّيْطَانِ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ؟ يَعْنِي: عَمَّارًا، [۴]أَوَلَيْسَ فِيكُمْ صَاحِبُ السِّرِّ الَّذِي لَا يَعْلَمُهُ غَيْرُهُ، حُذَيْفَةُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه:[۱] ماجواب ورکړو زه د کوفي اوسيدونکی يم او د هغه ځاي نه راغلی يم [۲] حضرت ابودرداء اوويل آيا ستاسو سره په کوفه کې ابن ام عبد يعنی عبد الله ابن مسعود نشته چې هغه ته د رسول الله ﷺ د پنړو بالخ (تکيه) ساتلو شرف حاصل وو [۳] آيا ستاسو سره هغه صاحب نشته چې هغه تـه د خپل پيغمبر پـه ژبـه مبارکـه دشيطانه پناه او امان ورکړی دی يعنی عمار [۴] او آيا تاسو کې هغه صاحب نشته چې هغه ته د رسول الله ﷺ د هغه صاحب راز کيدو شرف حاصل دی چې هغه نه ماسوا بل چاته نه دی معلوم يعنی حذيفه. (بخاري)

[۱] اخرجه البخاري فی كتاب المناقب/باب مناقب عمار وحذيفة رضی الله عنهما (رقم-۳۷۴۲) والترمذی فی كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب عبد الله بن مسعود رضى الله عنه (رقم-۳۸۱۱) والنسائی فی كتاب الصلاة/باب المحاسبة على الصلاة (رقم-۴۶۵)

حل اللغات:- ④ صَاحِبُ النَّعْلَيْنِ: د پيزار والا (عبدالله بن مسعود به د نبي عليه السلام د پيزار اخستلو او سمولو خدمت كولو ځكه ورته صاحب النعلين ونيلى شوى دى دغسې د بالخت اود اوبو وغيره انتظام به هم دوى كولو) ③ الوِسَادَةِ: بالخت، تكيه، ② المَطْهَرَةِ: إِنَاءٌ يُتَطَهَّرُ بِهِ: د اوبو لوښي كوم كښې چه به د اودس دپاره اوبه ساتلې شوې لكه لوټه وغيره ⑤ أَجَارَهُ اللهُ: أَيْ: أَنْقَذَهُ وَخَلَّصَهُ: بچ كړې او خلاص كړې وو هغه لره الله پاك (يعنى عمار) ⑥ صَاحِبُ السِّرِّ: رازدار، راز پټ ساتونكې (يعنى حذيفه).

تسهيلات:

قوله: أَوَلَيْسَ فِيكُمْ:

د نزدې عالم څخه علم حاصلول اول بيا بهر: حضرت ابودرداء په خپل جواب كښې دغه سائل ته اووئيل په كوفه كښې دومره لوئې هستئې موجود دى دهغوى په موجودګئې كښې زما مجلس غنيمت ګنړل زما په پوهه كښې نه راځي. هغه ډير لوئې خلق دى تاله دهغوى نه فيض حاصلول پكاردى. په دې جواب كښې د متعلق دپاره دا ادب خودلې شوې دې چه هغه د ټولو نه مخكښې دخپل كلى اوخپل ښار د لوئې عالم نه علم حاصل كړې اوبيا د بل ځائې سفراوكړى.

[٦٢٠١] په جنت كښې د ام سليم اوبلال ليدل

٣٠-()[٦] ١ وَعَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-أَنَّ رَسُولَ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ: ٢ «أُرِيتُ الْجَنَّةَ فَرَأَيْتُ امْرَأَةَ أَبِي طَلْحَةَ، ٣ وَسَمِعْتُ خَشْخَشَةً أَمَامِي فَإِذَا بِلَالٌ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ او حضرت جابر نه روايت دى چې رسول كريم وفرمايل ٢ ماته جنت وښودل شو نو ما په هغه كې د ابو طلحه ښځه وليده ٣ بيا ما ځان نه مخكې د قدمونو اواز واوريدى څه ګورم چې بلال دى چې مخكې مخكې په جنت كې روان دى. (مسلم)

حل اللغات:- ① أُرِيتُ: د مجهول صيغه ده، راته اوښودلې شو ② خَشْخَشَةً: أَيْ صَوْتًا يَحْدُثُ مِنْ تَحَرُّكِ الْأَشْيَاءِ الْيَابِسَةِ وَاصْطِكَاكِهَا: د اوچ څيز د حركت آواز ته خشخشه وائى لكه د اوسپنې يا پيزار وغيره، دلته دبلال د خپو د پيزار آواز مراد دې.

تسهيلات:

قوله: امْرَأَةَ أَبِي طَلْحَةَ.

د ابوطلحه د بى بې تعارف: دې نه مراد د ابى طلحه بى بى حضرت ام سليم ده چه دحضرت انس مور بى بى ده. ددې دنوم باره كښې مختلف اقوال دى. ددې رومبې نكاح مالك بن نضر سره شوې وه اوهم د هغه نه حضرت انس پيدا شوې وو. مالك بن

[١] اخرجه مسلم فى كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب من فضائل أم سليم، أم أنس بن مالك، وبلال، رضى الله عنهما (رقم-١٠٦-(٢٤٥٧))واحمد فى المسند: ٣٦٠/٥

نضر مشرك وو او هم دَ شرك په حالت کښې مړ شو. دَ هغې نه پس ام سليم ﷞ مسلمانه شوه او هغې دَ حضرت طلحه ﷛ سره نکاح اوکړه. اول حضرت طلحه ﷛ غيرمسلم وو. حضرت ام سليم ﷞ اول دَ هغه دَ نکاح پيغام ردکړې وو. ليکن بيائى حضرت طلحه ﷛ ته دَ اسلام دعوت ورکړو نو ابوطلحه ﷛ اسلام قبول کړو. بيا هغې حضرت طلحه ﷛ سره نکاح اوکړه.

قوله: خَشْخَشَةٌ أَمَامِي:

بلال په جنت کښې: مطلب دا چه په شپه دَمعراج په جنت کښې ما خپلې مخې ته دَ حضرت بلال ﷛ دَ قدمونو کشارې واوريدو چه بلال زما نه وړاندې روان دې. دارنګ رسول کريم ﷺ ته هغه نقشه اوخودلې شوه چه په قيامت کښې به دَ رسول کريم ﷺ جنت ته دَ تلو په وخت وى کښې بلال ﷛ دَ حضورپاك دَ جنتى سورلئى واګې نيولې او په خادمانه شان سره به دَ رسول الله ﷺ نه مخکښې مخکښې روان وى.

قوله: فَإِذَا بِلَالٌ:

دبلال مختصر تعارف: دا دَ رسول الله ﷺ مشهور مؤذن دې اودَ حضرت ابوبكر ﷛ آزاد کړې شوې غلام دې. رسول الله ﷺ سره په ټولو غزواتوکښې شريك شوې دې. په مکه کښې دَ ټولو نه مخکښې دَ اسلام اعلان دوى کړې وو او دوى ۲۰هجرى کښې په دمشق کښې وفات شو. دوى چه کله اسلام قبول کړې وو نو اميه بن خلف به ورته قسم قسم تکليفونه ورکول ليکن دَ الله تعالى کړه داسې اوشو چه دَ جنګ بدر په ورځ اميه بن خلف موذى کافر هم دَ حضرت بلال ﷛ دَ لاسه جهنم ته اورسيدو.

[۶۲۰۲]دضعيفا نومسلمانانو مقام او مرتبه

۶۲۰۲-(۱) [۷] ⑴ وَعَنْ سَعْدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سِتَّةَ نَفَرٍ، ⑵ فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: اطْرُدْ هَؤُلَاءِ لَا يَجْتَرِئُونَ عَلَيْنَا. ⑶ قَالَ: وَكُنْتُ أَنَا وَابْنُ مَسْعُودٍ وَرَجُلٌ مِنْ هُذَيْلٍ. وَبِلَالٌ وَرَجُلَانِ لَسْتُ أُسَمِّيهِمَا، ⑷ فَوَقَعَ فِي نَفْسِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَقَعَ، فَحَدَّثَ نَفْسَهُ، ⑸ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: ﴿وَلَا تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ﴾ [الأنعام: ۵۲]» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ⑴ او حضرت سعد بن ابي وقاص چې عشره مبشره نه دى بيان کوي چې رسول الله ﷺ سره مونږ شپږ سړي وو ⑵ د مکي مشرکينو کي بعضي سردارانو د رسول الله ﷺ نه مطالبه وکړه (که تاسو غواړئ چې مونږ تاسو ته راشو ستاسو دعوتي خبري واورو او د اسلام د قبوليت په باره کي سوچ وکړو) نو خپلو ملګرو نه هغه خلق چې آزاد کرده غلامان

---
۱ اخرجه مسلم فى كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم باب فى فضل سعد بن أبى وقاص رضى الله عنه (رقم ۴۶ (۲۴۱۳)

دي او زمونږ په معاشره کښې بي وقعت او بي حیثیت منلی شي خپل مجلس نه لري کړه چې داخلق زمونږ برابر کې دناستي او زمونږ سره خبرو اترو کې د شریکیدو فائده اخستو سره مونږ باندې جرې اوزړه ور نشي [۳] حضرت سعد ﷺ وايي هغه شپږ سړو کې يوخو زه وم يوعبد الله بن مسعود وو يوسړی د قبيله هذيل وو او دوه سړي نور وه چې د هغوئ نومونه زه نه بنايم [۴] بهرحال د هغه سردارانو مطالبه اوريدو سرهد رسول الله ﷺ په خيال کې هغه خبره راغله کومه چې الله غوښتله چې راشي بيا رسول الله ﷺ په دي باره کې په سوچ کې وو چې [۵] دا آيت نازل شو: ولاتطرد الذين يدعون ربهم بالغداة والعشي يريدون وجهه يعنی داخلق د ځان نه مه لري کوه چې سهار مابنام خپل رب يادوي او ددي عبادت او ذکر نه د دوئ مقصد د خپل رب خوشنودي نه ماسوا نور هيڅ نه دي. (مسلم)

حل اللغات:- ① اطْرُدْ: د امر صيغه ده، أيْ: أبعِدْ: اوني شړه، (دخان نه ئي لري کړه). ② لَا يَجْتَرِئُونَ: أيْ لَا يَكُونُ لَهُمْ جَرَاءَةٌ عَلَيْنَا: چه دوی جرأت او زړه ورتيا نه لري په مونږ (يعنی مونږ سره دخبرو او دمخامخ کيدو). ③ الْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ: أُرِيدَ بِهِمَا طَرَفَا النَّهَارِ: د ورځې دواړه طرفونه مراد دی يعنی سحر او مابنام.

تسهيلات:

قوله: اطْرُدْ هٰؤُلَاءِ لَا يَجْتَرِئُونَ عَلَيْنَا:

د مشركانو مطالبه: يعنی كه ستاسو به خواكې داخلق وی اومونږ تاسو سره دايمان متعلق خبرې اترې كوو نو داخلق به هم خبرې كوی اوكه خبرې كوی هم نه ولې بيابه هم مونږ سره برابر ناست وی. مونږ نه غواړو چه دا سپك خلق مونږ سره خبرې يا مجلس كښې په يوځائی دكيناستو جرات اوكړی.

قوله: وَرَجُلَانِ لَسْتُ أُسَمِّيهِمَا:

د رجلان مصداق: دوه كسان نورهم وو خوزه دهغوی نوم نه اخستل غواړم. علماء ليكلی دی چه دا دوه كسان حضرت خباب اوحضرت عمار ﷺ وو. حضرت سعد ﷺ د څه مصلحت د وجې نه دهغوی نومونو اخستلونه اعراض اوكړو.

قوله: فَوَقَعَ فِي نَفْسِ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د نبی عليه السلام په زړه كښې خيال پيدا كيدل: يعنی دحضورپاك په زړه مبارك كښې داخيال تيرشوكه د دې فقيرانو په اخواكولو اوشړلوسره د قريشو دا سرداران مسلمانان كيدې شی نوآيادوی دمجلس نه جداكولې شی كه نه؟ اوداسې كول پكاردی كه نه؟ په دې موقع باندې دقرآن پاك دا آيت نازل شو ﴿وَلَا تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ ۖ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِنْ شَيْءٍ وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِمْ مِنْ شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ الظّٰلِمِينَ﴾.

[٦٢٠٣]د ابوموسٰی د خوش آوازی تعریف

٦٢٠٣-() [٨] ١وَعَنْ أَبِي مُوسَى -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ لَهُ: "٢يَا أَبَا مُوسَى لَقَدْ أُعْطِيتَ مِزْمَارًا مِنْ مَزَامِيرِ آلِ دَاوُدَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت ابوموسٰی اشعري نه روایت دی رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل ٢ اې ابوموسٰی تاته داسې خوش اوازي درکړې شوي ده چې د داود ﷺ د خوش اوازي یوه حصه ده. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① مِزْمَارًا: أَيْ صَوْتًا حَسَنًا وَلَحْنًا طَيِّبًا: په اصل کښې مزمار دَ سندرو هغه ساز ته وائی کوم چه شپیلۍ د تنبل اوډولکې سره وی خو دلته صرف خوش الحانی اوخوږ آواز مراد دې کوم ته چه سُر یا سرود وائی.

تسهیلات:

قوله: مِنْ مَزَامِيرِ آلِ دَاوُدَ:

د آل کلمې زیادت: په دې جمله کښې آل زائد دې کوم ته چه مقحم وائی. زائد ځکه دې چه خوږ آواز الله تعالی حضرت داؤد علیه السلام ته ورکړې ووآل داؤد ته ئی نه وو ورکړې.

[٦٢٠٤]د قرآن پاک څلور جمع کونکی حافظان

٦٢٠٤-() [٩] ١وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «جَمَعَ الْقُرْآنَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَرْبَعَةٌ: ٢أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ، وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ، وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ، وَأَبُو زَيْدٍ. ٣قِيلَ لِأَنَسٍ: مَنْ أَبُو زَيْدٍ؟ قَالَ: أَحَدُ عُمُومَتِي». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت انس رضی الله عنه وایي د رسول الله ﷺ په زمانه کې چې کومو څلورو صحابه وقرآن جمع کی (یعنی پوره قرآن یي حفظ یاد کی) ٢ هغه دادی: ١ ابي بن کعب ٢ معاذ بن جبل ٣ زید بن ثابت ۴ او ابوزید ٣ حضرت انس نه پوښتنه وشوه چې ابوذید څوک دی نو هغه اوویل خماپه ترونوکي یو دی. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① عُمُومَتِي: أَيْ: أَعْمَامِي: دَعم طرف ته منسوب دې مراد تره دې.

[1] اخرجه البخاری فی کتاب فضائل القرآن/باب حسن الصوت بالقراءة للقرآن (رقم-٥٠٤٨) ومسلم فی کتاب صلاة المسافرین وقصرها/باب استحباب تحسین الصوت بالقرآن (رقم-٢٣٥ - (٧٩٣) والترمذی فی کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب أبي موسی الأشعری رضی الله عنه (رقم-٣٨٥٥) والنسائی فی کتاب الافتتاح/باب تزیین القرآن بالصوت (رقم-١٠١٩) وابن ماجه فی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فی ذکر الخوارج (رقم-١٧٦) واحمد فی المسند: ٣٤٩/٥

[2] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب مناقب [ص:٣٧] زید بن ثابت رضی الله عنه (رقم-٣٨١٠) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل أبي بن کعب. وجماعة من الأنصار رضی الله تعالی عنهم (رقم-١١٩ - (٢٤٦٥) واحمد فی المسند:١٣٤/٥

تسهیلات:

قوله: جَمَعَ الْقُرْآنَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ:

په څلورو حافظانو کښې عدم حصر: يعنى قرآن په مکمل توګه باندې چاچه حفظ کړې وو هغه څلور کسان وو داد څه خاص مشهورتيا دَ وجې وئيلى شوى دى ګنى دَ حضورپاك په زمانه کښې دَ صحابه کرامو لوئى شمير خلق دَ قرآن کريم حافظان وو په دې کلام کښې حصرهم نشته دې اونه دَدې مفهوم مخالف اخستې شى چه بل څوك حافظ نه وو دَ صحيح احاديثونه ثابته ده چه کوم اويا صحابه کرام او قاريان په بير معونه کښې شهيدان کړې شوې وو هغه دَ قرآن حافظان وو. په جنګ يمامه کښې په سوونو صحابه حافظان شهيدا شوې وو. بل خلفاء راشدين ﷺ حفاظ قرآن وو دلته حصرنه دې.

[۶۲۰۵] د مصعب بن عمير ﷺ د غريبى ژوند

۶۲۰۵-( ) [۱۰] ۱ وَعَنْ خَبَّابِ بْنِ الْأَرَتِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «هَاجَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- نَبْتَغِي وَجْهَ اللَّهِ تَعَالَى، فَوَقَعَ أَجْرُنَا عَلَى اللَّهِ ۲ فَمِنَّا مَنْ مَضَى لَمْ يَأْكُلْ مَنْ أَجْرِهِ شَيْئًا، مِنْهُمْ: مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ: قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ، ۳ فَلَمْ يُوجَدْ لَهُ مَا يُكَفَّنُ فِيهِ إِلَّا نَمِرَةٌ، فَكُنَّا إِذَا غَطَّيْنَا رَأْسَهُ خَرَجَتْ رِجْلَاهُ، وَإِذَا غَطَّيْنَا رِجْلَيْهِ خَرَجَ رَأْسُهُ».

ترجمه: ۱ او حضرت خباب بن ارت وايى د رسول الله ﷺ سره زمونږ هجرت کول د نبى کريم ﷺ د رضا او خوشنودي د جذبى نه علاوه نور څه مقصد نه لرلو زمونږ د دې عمل اجر او ثواب د نبى کريم ﷺ په نزد محض د هغه فضل وکرم سره دنيا او آخرت کې ثابت او قائم شو ۲ بيا په مونږ کې بعضې خلق خو هغه دي چې د دنيا څه هم اجر او انعام پيدا کيدو نه بغير دنيا نه رخصت شو چې په هغوئ کې يو مصعب بن عمير دى هغه د احد په ورځ شهيد شو ۳ او د هغه د پاره څه داسې کپړه ميسر نه شوه چې په هغه کې هغه پوره طور سره کفن شى د هغه په جسم دشرمخ د څرمن په شان سپين او تور کرښو والاصرف يو کمبل وو او هغه هم دومره مختصر چې مونږ به هغه کمبل سره د کفن کولو په وخت د مصعب سر پټوى نو پښې به يې ښکاره پاتې کيدى او که پښې به موور پټولي نو سربه يې بربنډ پاتې کيدى

حل اللغات: - ① وَجْهَ اللَّهِ تَعَالَى: أَيْ: رِضَاهُ: دالله تعالى رضا او خوشنودى، ② فَوَقَعَ: أَيْ: ثَبَتَ: قائم شو، ثابت شو ③ نَمِرَةٌ: أَيْ: كِسَاءٌ غَلِيظٌ فِيهِ خُطُوطٌ بِيضٌ وَسُودٌ: پير څادر چه په هغې کښې تورې اوسپينې کرښې وى يعنى برګ پير څادر، شرئ: نمرة پړانګ ته وائى د پړانګ دڅرمن په شان برګ وو څکه ورته نمرة اووئيلى شو، ④ غَطَّيْنَا: پټ به کړو مونږ،

---

[1] اخرجه البخارى فى كتاب المناقب/باب هجرة النبى صلى الله عليه وسلم وأصحابه إلى المدينة (رقم-۳۸۹۷) ومسلم فى كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب من فضائل سعد بن معاذ رضى الله عنه (رقم-۱۲۶ - (۲۴۶۸) والترمذى فى كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب مصعب بن عمير رضى الله عنه (رقم-۳۸۵۳) واحمد فى المسند: ۱۱۲/۵

۱ فَقَالَ النَّبِيُّ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- "غَطُّوا بِهَا رَأْسَهُ، وَاجْعَلُوا عَلَى رِجْلَيْهِ مِنَ الْإِذْخِرِ". ۲ وَمِنَّا مَنْ أَيْنَعَتْ لَهُ ثَمَرَتُهُ فَهُوَ يَهْدِبُهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ نو (د هغه د کفن کولو سلسله کې زمونږ داپریشاني لیدو) رسول الله ﷺ وفرمایل چې کمبل سره یې سر پټ کې او پښو باندې ورته اذخر واښه واچوئ ۲ او په مونږ کې بعضې خلق هغه دي چې د هغوئ میوه پخه شوه او هغوئ هغه میوه شوکوي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ⑤ الْإِذْخِر: هُوَ حَشِيْشَةٌ طَيِّبَةُ الرَّائِحَةِ، یو قسم خوشبودار واښه دی (پښتو کښې ورته سرګړې وائي) ⑥ أَيْنَعَتْ: أَيْ نَضِجَتْ: دباب افعال نه ایناع د میوو پخیدو ته وائي مراد دفوائد اومنافع حاصلول دي. ⑦ يَهْدِبُهَا: ضرب اونصرنه د میوو شوکولو په راغونډولو سره پرې کولوته وائي

تسهیلات: قوله: مِنْهُمْ: مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ:

د حضرت مصعب تعارف: حضرت مصعب بن عمیر قریشي عبدري رضی الله عنه د اکابرصحابه کرامو نه دې بالکل په شروع کښې اسلام قبول کړې وو. د حبشه طرف ته ئې هجرت کړې وو بیائې دویم هجرت د مدینې منورې طرف ته اوکړو. د حضورپاك په حکم باندې مدینې ته لاړو اوهلته ئې دین اسلام خور کړو. د حضورپاك د راتلونه مخکښې ئې د جمعه مونځ ادا کړو. په مکه کښې به ئې د بادشاهانو په شان لباس اچولو. د اسلام قبلولونه پس ئې د فقیرانو په شان ژوند اختیارکړو. په جنګ احد کښې د حضورپاك په حفاظت کښې ولاړوو چه شهید کړې شو.

قوله: وَاجْعَلُوا عَلَى رِجْلَيْهِ مِنَ الْإِذْخِرِ:

د اذخر تعریف: دا یوقسم واښه دی چه لوهارئې په خپله بهټئې کښې د کوئلې اور تیزولو د پاره ایږدي. خلق ئې په قبرونو کښې د مړو لاندې ایږدي او په جماتونو کښې د مونځ ګذارو د پاره اچوي پښتو کښې دې ته بروزه وائي. کیدې شي هم دغه وي.

[۶۲۰۶] د سعد بن معاذ رضی الله عنه دپاره د عرش خوزیدل

۶۲۰۶-(۱) [۷] ۱ وَعَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَقُولُ: ۲ «اهْتَزَّ الْعَرْشُ لِمَوْتِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ». ۳ وَفِي رِوَايَةٍ: «اهْتَزَّ عَرْشُ الرَّحْمٰنِ لِمَوْتِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت جابر رضی الله عنه وایي ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل ۲ د سعد بن معاذ په مرګ عرش وخوزیدی ۳ او په یوه روایت کې داسې دي چې د سعد بن معاذ په مرګ د رحمن عرش وخوزیدی. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① اهْتَزَّ: أَيْ تَحَرَّكَ: اهتزاز خوزیدو او تاویدو ته وائي

---

[1] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب هجرة النبی صلی الله علیه وسلم وأصحابه إلی المدینة (رقم-۳۸۰۳) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل سعد بن معاذ رضی الله عنه (رقم-۱۲۴ - (۲۴۶۶)) والترمذی فی کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب سعد بن معاذ رضی الله عنه (رقم-۳۸۴۹) وابن ماجه فی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل سعد بن معاذ (رقم-۱۵۷) واحمد فی المسند: ۲۰۹/۳

تسهیلات:

قوله: **اهْتَزَّعَرْشُ الرَّحْمَنِ:**

د عرش د حرکت وجه: دَ حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه په شهادت باندې عرش دَ خوشحالئې نه تاویدلو چه اوس به دَ سعد مبارك روح پورته آسمانونوته راځي. دَدې نه دَحضرت سعد رضی الله عنه لوئی شان معلومیږی. دې دَ انصار سردار وو. جنګ خندق کښې دې په غشي لګیدلې وو. دَ بنوقریظه باره کښې فیصله هم حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه کړې وه. په ۵هجری کښې شهید شو او په بقیع غرقد کښې دفن کړې شو. دَدوی په جنازه کښې اویا زره فرښتې راغلې وې.

[۶۲۰۷] په جنت کښې د سعدبن معاذ د رومالو نو تعریف

۶۲۰۷-() [۳] [۱] وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ: «أُهْدِيَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حُلَّةُ حَرِيرٍ [۲] فَجَعَلَ أَصْحَابُهُ يَمَسُّونَهَا وَيَتَعَجَّبُونَ مِنْ لِينِهَا، [۳] فَقَالَ: أَتَعْجَبُونَ مِنْ لِينِ هَذِهِ لَمَنَادِيلُ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ فِي الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِنْهَا وَأَلْيَنُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت براء بن عازب رضی الله عنه (چې د صحابه و رضی الله عنهم د مشاهیرو نه دی) بیان کوي چې د یو ملك د بادشاه د طرف نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې د یوې وریښمي کپړې جوړه بطور هدیه پیش شوه [۲] نو د حضور صلی الله علیه وسلم صحابه رضی الله عنهم په هغه جوړه لاس ګرځولو ګرځولو سره د هغه نرمي او پوست والی باندې د تعجب او حیراني اظهار کول شروع کړل [۳] حضور صلی الله علیه وسلم هغوئ ته وفرمایل تاسو د دې کپړې په نرمي او پوست والی څه تعجب کوئ په جنت کې چې سعد رضی الله عنه ته کوم دسمالونه حاصل شوي دي هغه دي نه زیات نرم او پاسته دی. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① حُلَّةٌ: جوړه، کپړه، ② يَمَسُّونَهَا: أَيْ: يَلْمَسُونَهَا وَيَمْسَحُونَهَا: په هغه جوړه نې لاس ګرځولو د هغې نرمي او پوست والی باندې ئې د تعجب او حیراني اظهار کولو. ③ لِينِهَا: أَيْ: نُعُومَتِهَا وَرِقَّتِهَا: پوستوالې او نرم والې دهغې کپړې، ④ مَنَادِيلُ: د منديل جمع ده، رومال ته وائی (کوم سره چه لاسونه یا پوزه پاکولې شی).

تسهیلات:

قوله: أُهْدِيَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حُلَّةُ حَرِيرٍ

نبی علیه السلام ته د عجمی باچا د طرفه د جوړې هدیه: دا جوړه یو عجمیَ بادشاه دَ رسول

[1] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب هجرة النبی صلی الله علیه وسلم وأصحابه إلی المدینة (رقم-۳۸۰۲) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل سعد بن معاذ رضی الله عنه (رقم-۱۲۶ - (۲۴۶۸) والترمذی فی کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب سعد بن معاذ رضی الله عنه (رقم-۳۸۴۷) وابن ماجه فی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل سعد بن معاذ (رقم-۱۵۷) واحمد فی المسند:

الله ﷺ په خدمت اقدس كښې دَ هديه په توګه راليږلې وه. صحابه كرامو ﷡ داسې عجيبه اوحيرانونكې قيمتى كپړا اول نه وه ليدلې په دې وجه دَ خوشحالئى دَ وجې حيران شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه تاسو په دې جوړه باندې ولې تعجب كوئى دَ سعد بن معاذ ﷛ دَ لاس اومخ اوچولو رومالونه دَدې جوړې نه زيات ښائسته او نرم دي. چه دَ هغه دَ رومالونو دا كيفيت دې نودَ هغه اغوستونكې كپړې به څنګه وى؟ په دې حديث كښې دَ حضرت معاذ ﷛ دَ جنتى كيدو زيرې وركړې شوې دي.

[۶۲۰۸]د حضرت انس ﷛ په حق كښې مستجابه دعا

۶۲۰۸ -() [۳][۱]«وَعَنْ أُمِّ سُلَيْمٍ أَنَّهَا قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَسٌ خَادِمُكَ ادْعُ اللَّهَ لَهُ.[۲]قَالَ: اللَّهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهُ وَوَلَدَهُ، وَبَارِكْ لَهُ فِيمَا أَعْطَيْتَهُ".[۳]قَالَ أَنَسٌ: فَوَاللَّهِ إِنَّ مَالِي لَكَثِيرٌ وَإِنَّ وَلَدِي وَوَلَدَ وَلَدِي لَيَتَعَادُّونَ عَلَى نَحْوِ الْمِائَةِ الْيَوْمَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] او بي بي ام سليم ﷝ نه چې د حضرت انس ﷛ مورده روايت دى چې هغه خپل خوى انس ﷛ وړوكوالي كې د حضور ﷺ خدمت بابركت كې پيش كړو نو هغه وخت يې عرض وكړو يارسول الله! دا انس ﷛ دى چې تاسو خادم جوړولو دپاره يې ستاسو خدمت اقدس كې پيش كوم ده ته (د حصول ايمان او ستاسو د بابركت صحبت او خدمت په سبب د آخرت اجر وانعام خو به حاصليږي پاتې شوه د دنياوي خوشحالي او بركت خبره په دې باره كې ده) ته دعا وفرمايي[۲]نو حضور ﷺ ورته دا دعا وفرمايله خدايه! د انس ﷛ مال زيات كى د ده اولاد زيات كړي او د خپل طرف نه چې كوم نعمتونه تاده ته وركړى دى په هغه كې بركت واچوي[۳]حضرت انس ﷛ وايي قسم په الله د حضور ﷺ د دې دعا په سبب ځما مال ډير زيات او ډيربركت سره دى او ځما بلاواسطه اولاد او ځما د اولاد اولاد نن په شمير كې سلو ته نژدې دى. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① لَيَتَعَادُّونَ: أَيْ: يَزِيدُونَ فِي الْعَدَدِ: دَ تجاوز او د زيات تعداد په معنى كښې دې.

تسهيلات:

قوله: عَلَى نَحْوِ الْمِائَةِ الْيَوْمَ:

د حضرت انس رضى الله عنه د اولاد تعداد: يعنى نن زما اولاد دَ سلونه زيات دې. حضرت انس ﷛ چه كوم وخت دا شمير خودلې دې دَدې نه پس هم دَهغوى دَ اولاد سلسله جارى وه. چنانچه په يوروايت كښې هغوى پخپله فرمائى الله تعالى چه ماته كوم صلبى اولاد راكړې دې دَهغې شمير ۱۲۵دې دې نه علاوه دوه لونړه دى. يوبل روايت كښې حضرت انس ﷛

[1] اخرجه البخارى فى كتاب الدعوات/باب دعوة النبى صلى الله عليه وسلم لخادمه بطول العمر. وبكثرة ماله (رقم-۶۳۴۴) ومسلم فى كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب من فضائل أنس بن مالك رضى الله عنه (رقم-۱۴۱ -(۲۴۸۰) والترمذى فى كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أنس بن مالك رضى الله عنه (رقم-۳۸۲۹)

فرمائی بصره کښې دَ حجاج بن یوسف دَ راتلو نه وړاندې ما په خپل اولاد کښې ۱۲۰ په خپلولاسونو ښاندې دفن کړی وو او دَ مال دَ کثرت باره کښې فرمائی چه دَ میوو دومره کثرت اوشو چه زما باغونو به په کال کښې دوه خل میوه ورکوله. دَ حضرت انس ﷺ دَ اولاد تعداد بیانولو کښې دَ راویانو په مینځ کښې اختلاف دې په دې وجه دَ پریشانئ ضرورت نشته دې.

[۶۲۰۹] دحضرت انس ﷺ په حق کښې مستجابه دعا

۶۲۰۹-()[۳][۱] وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ «مَا سَمِعْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ لِأَحَدٍ يَمْشِي عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ [۲] إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ إِلَّا لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ وایي ما د عبد الله بن سلام ﷺ نه علاوه د یو بل سړي په باره کې چې په زمکه باندې ګرځي د رسول الله ﷺ نه دا فرمایل نه دي اوریدلي [۲] چې هغه جنتي دی. (بخاري مسلم)

تسهیلات:

قوله: إِلَّا لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ:

د مذکوره جملې مطلب: یعنی دَ عبد الله بن سلام ﷺ نه علاوه ژوندې اوسلامت بنده ګرځیدونکې راګرځیدونکې یو سړې به هغه وخت نه وی چاته چه حضور پاک دَ جنت زیرې ورکړې وی.

اشکال: دَ عبد الله بن سلام ﷺ نه علاوه ډیر صحابه کرام داسې دی چاته چه دَ جنت زیرې هم دَهغوی په ژوند ورکړې شوې وو خاص کر عشره مبشره خو مشهوردی نو حضرت سعدبن معاذ ﷺ دَ حضرت عبد الله بن سلام ﷺ حصرکولو سره دَ نورو ذکرولې اونه کړو؟

داشکال جواب: کیدې شی هغه وخت عشره مبشره ته دَ جنت زیرې نه وو ملاؤ شوې اوعبد الله بن سلام ﷺ ته ملاؤ شوې وو. دویم جواب دادې چه دَ عبد الله بن سلام ﷺ دَ جنت بشارت اجمالی اواستنباطی دې دادَ عشره مبشره په شان صریحی بشارت نه دې. دې سره راتلونکی حدیث په قصه کښې دَ استنباطی بشارت تفصیل دې لهذا دَعشره مبشره بشارت سره تعارض نشته دې.

[۶۲۱۰] دخوب په ذریعه عبد الله بن سلام ﷺ ته دجنت زیرې

۶۲۱۰-()[۱۵][۱] وَعَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا فِي مَسْجِدِ الْمَدِينَةِ [۲] فَدَخَلَ رَجُلٌ عَلَى وَجْهِهِ أَثَرُ الْخُشُوعِ

[1] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب مناقب عبد الله بن سلام رضی الله عنه (رقم-۳۸۱۲) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل عبد الله بن سلام رضی الله عنه (رقم-۱٤۷ - (۲٤۸۳)

[2] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب مناقب عبد الله بن سلام رضی الله عنه (رقم-۳۸۱۲) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل عبد الله بن سلام رضی الله عنه (رقم-۱٤۷ (۲٤۸٤) واحمد فی المسند: ٤۵۲/۵

۳ فَقَالُوا هٰذَا رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ تَجَوَّزَ فِيهِمَا ثُمَّ خَرَجَ وَتَبِعْتُهُ ۴ فَقُلْتُ إِنَّكَ حِينَ دَخَلْتَ الْمَسْجِدَ قَالُوا هٰذَا الرَّجُلُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ. ۵ قَالَ: وَاللّٰهِ مَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ أَنْ يَقُولَ مَا لَا يَعْلَمُ فَسَأُحَدِّثُكَ لِمَ ذَاكَ: رَأَيْتُ رُؤْيَا عَلٰى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-

ترجمه: ۱ او حضرت قیس بن عباد چې یو ثقه تابعي رحمه الله دی بیان کوي زه یوه ورځ د مدینې په مسجد کې ناست وم ۲ یو صاحب مسجد ته راغي چې د هغه د مخ نه خشوع (یعنی وقار وسکون او د قربت الهي نور ښکاره وو په مسجد کې چې کوم صاحبان موجود وو) ۳ په هغوئ کې بعضو اوویل چې دا صاحب د جنت والو څخه دي هغه تحیة المسجد یا څه نور دوه رکعاته مونځ وکړ او دواړه رکعاته یې مختصر وکړل بیا د مسجد نه بهر اووتلو زه هم د مسجد نه وتلو سره هغه پسي وروسته وروسته روان شوم او یوځای ته رسیدو سره ۴ هغه ته مي اوویل چې کوم وخت تاسو په مسجد کې داخل شوی وي نو بعضې خلقو ویلي وه چې دا صاحب جنتي دی په دي باره کې تاسو ماته د څه ښودلو زحمت وکړئ ۵ هغه صاحب اوویل په الله قسم چې زه د دي تصدیق نشم کولی ځکه چې یو سړی د پاره دا مناسب نه دی چې هغه هغه خبره وکړي چې هغه باندې نه پوهیږي او زه تاته د دي عدم تصدیق وجه ښایم خبره دا شوي وه چې د حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه کې یوه ورځ ما یو خوب لیدلی وو

حل اللغات:- ① أَثَرُ الْخُشُوعِ: أَيِ السُّكُونِ وَالْوَقَارِ: د خشوع خضوع آثار، یعنی د تقوی او د الله تعالی د ویرې اثر ښکاره وو. ② تَجَوَّزَ فِيهِمَا: أَيْ: اخْتَصَرَ: یعنی اختصار سره زر زر ئې دوه رکعته مونځ اوکړو. ③ وَتَبِعْتُهُ: زه هم ورپسې روسته روسته روان شوم. ④ خُضْرَتِهَا: ترو تازګی او شینکئ د هغې باغیچې،

۱ فَقَصَصْتُهَا عَلَيْهِ وَرَأَيْتُ كَأَنِّي فِي رَوْضَةٍ ذَكَرَ مِنْ سَعَتِهَا وَخُضْرَتِهَا ۲ وَسَطَهَا عَمُودٌ مِنْ حَدِيدٍ أَسْفَلُهُ فِي الْأَرْضِ وَأَعْلَاهُ فِي السَّمَاءِ، فِي أَعْلَاهُ عُرْوَةٌ فَقِيلَ لِيَ ارْقَهْ فَقُلْتُ لَا أَسْتَطِيعُ ۳ فَأَتَانِي مِنْصَفٌ فَرَفَعَ ثِيَابِي مِنْ خَلْفِي فَرَقِيتُ حَتّٰى كُنْتُ فِي أَعْلَاهُ فَأَخَذْتُ بِالْعُرْوَةِ ۴ فَقِيلَ اسْتَمْسِكْ فَاسْتَيْقَظْتُ وَإِنَّهَا لَفِي يَدِي

ترجمه: ۱ او هغه خوب ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بیان کړی وو ما په خوب کې لیدلي وو چې زه ګویا یو باغ کې یم بیا هغه صاحب د هغه باغ د وسعت او کشادګي او تروتازګي او شادابي ذکر وکړی ۲ او هغه اوویل ما ولیدل چې د هغه باغ په منځ کې د اوسپنې یوه ستن وه چې د هغه لاندې سر په زمکه کې دننه دی او د هغه برسیره سر آسمان کې دی او د هغه ستنې برسیره یوه حلقه ده بیا ماته اوویل شوه چې پورته وخیژه ما ورته اوویل زه د ختلو طاقت نه لرم ۳ بیا یو خادم ماته راغي چې هغه د وروسته نه خما کپړې پورته کړي او زه پورته وختم ددي پورې چې د هغه ستنې آخري بلندي ته ورسیدم او هغه حلقه مي ونیوله ۴ بیا ماته اوویل شوه چې دا حلقه مضبوطه ونیسه بیا خما سترګي وغړیدي په داسي حال کې چې هغه حلقه خما په لاس کې وه

حل اللغات:- ⑤عَمُودٌ: ستن، اډانره، ⑥عُرْوَةٌ: أَيْ: حَلْقَةٌ: لاسکی ته وائی یعنی دَ دغه ستن دَپاسه حصه کښې یولاسکې کړئ اوحلقه وه. ⑦ارْقَهْ: دا دَسمع یسمع، رَقِيَ يَرْقَى نه دَامر صیغه ده، یعنی په دغه ستن وراوخيژه. ⑧مِنْصَفٌ: په میم باندې زیردې نون ساکن او صاد باندې زیردې کم عمرخوان غلام ته وائی (چه په میم باندې زبر شی نو خادم ته وائی). ⑨اسْتَمْسِكْ: أَيْ: بَالِغْ فِي الْمَسْكِ: مسک په معنی د نیولو سره ده، دې کښې مبالغه ده یعنی مضبوط اونیسه.

[۱]فَقَصَصْتُهَا عَلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲]فَقَالَ تِلْكَ الرَّوْضَةُ الْإِسْلَامُ وَذَلِكَ الْعَمُودُ عَمُودُ الْإِسْلَامِ وَتِلْكَ الْعُرْوَةُ الْوُثْقَى [۳]فَأَنْتَ عَلَى الْإِسْلَامِ حَتَّى تَمُوتَ وَذَلِكَ الرَّجُلُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلَامٍ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] هرکله چې د حضور ﷺ مخکې ما داخوب بیان کې [۲]نو حضور ﷺ د هغه خوب تعبیر کې راته وفرمایل هغه باغ چې تاډیر وسیع او کشادګي او تروتازه ګي سره اولیدلو دین اسلام دی او هغه ستن د اسلام ستن ده یعنی د اسلام احکام او ارکانو نه عبارت دی چې په هغه د مسلماني بنا ده او هغه حلقه چې تا ولیده او ودې نیوله عروه وثقی ده [۳]نو په دې خوب کې دې طرف ته اشاره ده چې ته به د خپل ژوند آخري لمحې پورې په اسلام ثابت یې او قیس بن عباد وایي چې هغه صاحب حضرت عبد الله بن سلام رضی الله عنه وو. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ⑩الْعُرْوَةُ الْوُثْقَى: مضبوطه رسئ ته وائی.

تسهیلات:

نوټ: په حدیث کښې د ګرانولغاتوحل شوې دې باقی مضمون آسان دې.

[۶۲۱۱] حضرت ثابت بن قیس رضی الله عنه ته د جنت بشارت

۶۲۱۱-() [۱۱][۱]وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: «كَانَ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ خَطِيبَ الْأَنْصَارِ [۲]فَلَمَّا نَزَلَتْ ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ﴾ [الحجرات: ۲] إِلَى آخِرِ الْآيَةِ [۳]جَلَسَ ثَابِتٌ فِي بَيْتِهِ وَاحْتَبَسَ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۴]فَسَأَلَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَعْدَ بْنَ مُعَاذٍ، فَقَالَ: مَا شَأْنُ ثَابِتٍ أَيَشْتَكِي؟

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضی الله عنه بیان کوي چې ثابت بن قیس بن شماس رضی الله عنه د انصارو خطیب وو (یعنی په انصارو کې داهغه سړی وو چې د هغه خبره اتره به د فصاحت او بلاغت نه ډکه وه او د نثر منل شوي ادیب او خطیب وو) [۲] هرکله چې دا آیت نازل شو يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ الایة ترجمه: اې ایمان والاوو خپل اوازونه د نبي په اواز باندې مه پورته کوي الخ [۳]نو ثابت رضی الله عنه خپل کورکې کینا ستې او د نبي ﷺ په خدمت کې تلل راتلل یې بند کړل [۴]رسول الله ﷺ یوه ورځ سعد بن معاذ رضی الله عنه نه چې د انصارو سردار

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان/باب مخافة المؤمن أن یحبط عمله (رقم-۱۸۷ - (۱۱۹)

وو پوښتنه وکړه ثابت رضي الله عنه ته څه شوي دي؟ (چې هغه تلل راتلل بند کړي دي او نه معلومېږي) آيا هغه ناجوړ دی؟ (سعد رضي الله عنه چپ وو هغه څه جواب ورنه کی ځکه چې خپله هغه ته د ثابت رضي الله عنه په باره کې معلومه نه وه او تحقيق کولو نه بغير جواب کولو نه قاصر وو)

حل اللغات:- ① احْتَبَسَ: أي: نَفْسَهُ: بند ئې کړو خپل ځان (يعنې ثابت رضي الله عنه د نبي عليه السلام په خدمت کښې تلل راتلل ئې بند کړل) ② أَيَشْتَكِي؟: أي: مَرَضًا أَوْوَجَعًا: آيا بيمار دې يا څه بل تکليف دې ثابت رضي الله عنه ته.

① فَأَتَاهُ سَعْدٌ فَذَكَرَ لَهُ قَوْلَ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ② فَقَالَ ثَابِتٌ أُنْزِلَتْ هَذِهِ الآيَةُ وَلَقَدْ عَلِمْتُمْ أَنِّي مِنْ أَرْفَعِكُمْ صَوْتًا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَأَنَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ ③ فَذَكَرَ ذَلِكَ سَعْدٌ لِلنَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بَلْ هُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① نو هغه تحقيق حال د پاره ثابت رضي الله عنه ته ورسيدی او د هغه مخکې د رسول الله صلى الله عليه وسلم الفاظ نقل کړل چې حضور صلى الله عليه وسلم ستا پوښتنه کوي او وې فرمايل آيا ثابت رضي الله عنه بيمار دی چې مونږ ته نه راځي ② ثابت رضي الله عنه په دې اوريدو سره اوويل دا آيات: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَرْفَعُوٓا۟ أَصْوَٰتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ ٱلنَّبِىِّ﴾ الخ نازل شوي دي چې د حضور صلى الله عليه وسلم مخکې بلند اواز خبرو اترو نه منع کوي او ته پوهيږې چې په تاسو کې د ټولو نه زيات ځما اواز د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اواز نه پورته دی نو زه خو دوزخي يم ③ سعد رضي الله عنه راتلو سره رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د ثابت رضي الله عنه الفاظ نقل کړل نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل داسې نه ده بلکه ثابت رضي الله عنه خو جنتي دی. (مسلم)

تسهيلات:

قوله: كَانَ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ خَطِيبَ الْأَنْصَارِ..الخ:

د ثابت بن قيس مختصر تعارف: ثابت بن قيس بن شماس رضي الله عنه د صحابه کرامو خطيب وو په قدرتی توګه د هغوی آواز اوچت وو لهجه ئې هم درنه وه. په دې وجه د دې آيت د نازليدلو نه پس هغه ويريدو او کورکښې کيناستو وئيل چه زه خو تباه شوم. په دې باندې حضور پاک د جنت زيرې ورکړو. په دې حديث کښې په ظاهره دا اشکال دې چه حضرت معاذ رضي الله عنه ځوک چه د دې حديث راوی دې په کال ٥ هجری کښې وفات شوې وو اودا آيت په ٩ هجری کښې نازل شوې دې نودا واقعه هغه څنګه بيانوی؟ د دې جواب دادې چه د آيت دا ټکړه اول نازل شوې وه ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُقَدِّمُوا۟ بَيْنَ يَدَىِ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾ [سورة الحجرات: ۱] چه کومه حصه ده اودې نه پس په ٩ هجری کښې نازل شوې ده.

[۶۲۱۲]د حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه فضيلت

۶۲۱۲-() [۱۷] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ «كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذْ نَزَلَتْ سُورَةُ الْجُمُعَةِ فَلَمَّا نَزَلَتْ ﴿وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ﴾ [الجمعة: ۳] .[۲] قَالُوا: مَنْ هَؤُلَاءِ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: وَفِينَا سَلْمَانُ الْفَارِسِيُّ.[۳] قَالَ: فَوَضَعَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَدَهُ عَلَى سَلْمَانَ [۴] ثُمَّ قَالَ لَوْكَانَ الْإِيمَانُ عِنْدَ الثُّرَيَّا لَنَالَهُ رِجَالٌ مِنْ هَؤُلَاءِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضی الله عنه بيان وکړو مونږ رسول الله ﷺ سره ناست وو چې اچانك سورة جمعه نازل شو او کوم وخت چې دا آيت راغې وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ او په هغوئ كې څه نور خلق هغه دي چې اوس لا هغوئ سره نه دي يوځاي شوي [۲] نو صحابه رضی الله عنهم پوښتنه وکړه يارسول الله! هغه کوم خلق دي چې اوس لا هغوئ سره نه دي يوځاي شوي او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي هغه وخت زمونږ په منځ کې سلمان فارسي رضی الله عنه هم وو [۳] رسول الله ﷺ د صحابه وو داسوال اوريدو سره خپل لاس مبارك په سلمان رضی الله عنه باندې کيښوو [۴] اوبيايې وفرمايل که ايمان ثريّا ستوري باندې هم وي نو بلاشبه په دې خلقوکې به ډيرو هغه پيدا کړي او حاصل کړي وو. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① لَمَّا يَلْحَقُوا: چه اوس لا نه دي يو ځائې شوي هغوی. ② الثُّرَيَّا: کهکشان ستوروته ثريا وائی په اوچتوالی کښې دې سره تشبيه ورکولې شی.

تسهيلات: قوله: إِذْ نَزَلَتْ:

د سورة جمعې پوره آيت: يعنی دَ سورت جمعه آيت نمبر ۳ چه کله نازل شو په کوم کښې چه دَ راتلونکی خلق دَ صحابه کرامو په صفاتوکښې شامل کړې شوی دی پوره آيت داسې دې ﴿وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾ په دې باندې صحابه کرامو تپوس اوکړو چه يا رسول الله دابه کوم خلق وی کوم چه زمونږ په صفاتوکښې شامل کړې شوی دی؟ حضورپاك دَحضرت سلمان رضی الله عنه طرف ته اشاره اوکړه چه دَده په اولاد کښې به داخلق وی

د حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه تعارف: دَحضرت سلمان فارسی رضی الله عنه يوښار رامهرمز اوسيدونکوسره تعلق لرلو دَمذهب په اعتبار سره مجوسيان وو دَهغه پلار لونی جاګيردار اودَ ايران دَ آتشکده نګران وو دَهغه اسلامی نوم سلمان دې اوکنيت ابوعبدالله دې. دَ پلاردَمذهب نه ئی نفرت وو اوتختيدو اويهودی شو بيا عيسائی شو دَ حق په لټون کښې دَخپل عيسائی استاذ نه معلومات کولو. هغه ده ته اوئيل چه اوس هدايت دَدنيانه رخصت شوې دې. دَ هدايت نوې مينار به دَ حجاز نه روښانه کيږی ته مدينې ته لاړشه اوهلته دَ نبی

[1] اخرجه البخاری فی کتاب تفسير القرآن/باب قوله: {وآخرين منهم لما يلحقوا بهم} [الجمعة: ۳] (رقم-۴۸۹۷) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالى عنهم/باب فضل فارس (رقم-۲۳۱ - (۲۵۴۶) والترمذی فی کتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة محمد صلى الله عليه وسلم (رقم-۳۲۶۱)

آخرزمان دَ راتلو انتظار کوه. دَ هغه دَنبوت نښنه خو يو مهرختم نبوت دې اودويمه نښنه ئې داده هغه به صدقه نه قبلوى. مدينې منورې

د سلمان فارسى غلام جوړيدل: تـه دَتلو وخت کښې په لاره يوڅوظالمانو هغـه راګيرکړو اوغلام ئې جوړکړو رائې وستلو اودَمدينې په يهوديانوئې خرڅ کړو. پخپله فرمائى چه زه دَ لسو آقاګانو په لاس باندې خرڅيدو سره بدل شوې يم. حضورپاك هغه په اهل بيت کښې شامل کړو هغه به خپل ځان ته سلمان الاسلام وئيلو. حضورپاك لـه راغلو صدقه ئې راوړه حضورپاك پخپله اونه خوړله په صحابه کرامو ئې اوخوړله. په دويمه ورځ ئې تحفه راوړله نوحضورپاك پخپلـه هم اوخوړلـه او پـه نورو بانـدې ئـې هم اوخوړلـه. سلمان فارسـى ﷺ مهرنبوت هم اوليدلو اومسلمان شو.

سلمان فارسى مكاتب جوړيدل: دَهغه آقا يهودى هغه مکاتب جوړکړو مگر بدل کتاب ئې داکيخودو چه دَ کهجورو سل ونې اولګوه چه کله په هغې کښې ميوه راشـى تـه آزاد ئې. په دې خوډيره مـوده لګيدلـه پـه دې وجـه حضورپاك پـه خپـل لاس بانـدې ونـې اولګـولې نـو پـه يوکال کښې ميوه راغله سلمان آزاد شو. وئيلى شى دَ هغه پوره عمر درې سوا کاله وو. هغه دَ حضـرت عيسـىٰ عليه السلام يوصـحابى حوارى هم ليـدلې دې. بعضـې وائـى چـه دَ دوه نـيم سـوو کالو په عمرکښې په مدائن کښې وفات شوې دې.

[٦٢١٣] دابوهريره ﷺ دپاره د خلقو په زړونو کښې د محبوبيت دعا

> ٦٢١٣ - () [٨١] [١] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] «اللّٰهُمَّ حَبِّبْ عُبَيْدَكَ هَذَا يَعْنِي أَبَا هُرَيْرَةَ وَأُمَّهُ إِلَى عِبَادِكَ الْمُؤْمِنِينَ وَحَبِّبْ إِلَيْهِمَا الْمُؤْمِنِينَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره ﷺ وايي حضور ﷺ دعـا وفرمايلـه [٢] اي الله! خپـل وړوکې بنده يعنى ابوهريره ﷺ او د ده مور د خپل مؤمن بنده ګانو محبوب جوړکړي او اهل ايمان د دوئ محبوب جوړکړي. (مسلم)

حل اللغات:- ① عُبَيْدَكَ: وړوکی بنده (د ډیر شفقت دوجې نه ئې دتصغیرلفظ استعمال شوی).

تسهيلات:

قوله: اللّٰهُمَّ حَبِّبْ عُبَيْدَكَ هَذَا يَعْنِي أَبَا هُرَيْرَةَ وَأُمَّهُ إِلَى عِبَادِكَ:

ابوهريره رضى الله عنه د امت په نظر کښې: په حديث الباب کښې دى چه دَ رسول کريم ﷺ دَ دعاپه برکت سره ابوهريره ﷺ دَ صحابه کرامو دَ سترګو ستورې جوړشو. الله پاك هغه ته دومره مال ورکړو چه په ريښمينو کپړو سره به ئې څپلئى پاکولې. په جنګ صفين کښې حضرت على ﷺ سره هم وو اوحضرت معاويه ﷺ سره ئې هم تعلق وو. مونځ به ئې

[١] اخرجه مسلم فى كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب من فضائل أبى هريرة الدوسى رضى الله عنه (رقم-١٥٨ - (٢٤٩١) واحمد فى المسند: ٢/٣٢٠

حضرت علی ﷺ سره کولو او خوراك به نی حضرت معاویه ﷺ سره خوړلو. ونیل به نی چه مونځ دَ حضرت علی ﷺ سره مزیدار دي او خوراك دَ حضرت معاویه ﷺ مزیدار دي.

[٦٢١٤] دکمزورو مسلمانانو خفه کول او دالله تعالی غصه

۶۲۱۴-( ) [۱۹] [۱] وَعَنْ عَائِذِ بْنِ عَمْرٍو «أَنَّ أَبَا سُفْيَانَ أَتَى عَلَى سَلْمَانَ وَصُهَيْبٍ وَبِلَالٍ فِي نَفَرٍ [۲] فَقَالُوا: مَا أَخَذَتْ سُيُوفُ اللَّهِ مِنْ عُنُقِ عَدُوِّ اللَّهِ مَأْخَذَهَا [۳] فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ أَتَقُولُونَ هَذَا لِشَيْخِ قُرَيْشٍ وَسَيِّدِهِمْ فَأَتَى النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأَخْبَرَهُ [۴] فَقَالَ يَا أَبَا بَكْرٍ لَعَلَّكَ أَغْضَبْتَهُمْ لَئِنْ كُنْتَ أَغْضَبْتَهُمْ لَقَدْ أَغْضَبْتَ رَبَّكَ [۵] فَأَتَاهُمْ فَقَالَ يَا إِخْوَتَاهُ أَغْضَبْتُكُمْ قَالُوا: لَا، يَغْفِرُ اللَّهُ لَكَ يَا أَخِي». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

ترجمه: [۱] او حضرت عائذ بن عمرو ﷺ نه روایت دی د امیر معاویه ﷺ پلار ابوسفیان چې مدینې ته راغې او یوه موقع باندې د صحابه ﷺ یو جماعت سلمان فارسي ﷺ صهیب رومي ﷺ او بلال حبشي ﷺ مخکې تیر شو [۲] نو هغه دریو سړو حضراتو ابوسفیان لیدو سره اوویل آیا د الله ﷻ د هغه بنده ګانو توررو چې د الله ﷻ په تعمیل کې سرګرم اوسیږي ادائې حق کې د دې دښمن خدا څټ لاتراوسه پورې نه دی الوخولی [۳] حضرت ابوبکر ﷺ چې دا واوریدل نو هغه دري سره حضرات مخاطب کولو سره یې ورته اوویل تاسو د قریشو د دې لوی سړي په باره کې داسې خبره کوئ چې د خپل قوم سردار هم دی بیا حضرت ابوبکر ﷺ د رسول الله ﷺ په خدمت کې راغې او حضور ﷺ ته یې د دې واقعې اطلاع وکړه [۴] حضور ﷺ (ټول تفصیل اوریدو سره) وفرمایل اې ابوبکر ﷺ! تاشاید هغه دري سره ناراض کړي وي اوکه تا هغوئ ناراضه کړي وي نوقسم په الله تا خپل پروردګار ناراض کی [۵] حضرت ابوبکر (په دې اوریدو سره وربیدی او فوراً تیزي سرد) هغه دریو سړو ته ورغلی او ورته یې اوویل اې خما ورونو! آیا تاسو زما نه ناراضه شوی خونه یئ هغه دریو سړو جواب ورکړو نه اې خما وروره! الله دې تا معاف کړي مونږ ستا نه ناراضه شوی نه یو. (مسلم)

حل اللغات:- ① نَفَرٍ: أَيْ: جَمَاعَةٌ: جماعت، (ولې (د نفر اطلاق د دریو سړو نه تر لس سړو پورې جماعت باندې کیږي). ② سُيُوفُ اللَّهِ: تورې دالله (یعنې دَ الله تعالی دَجهاد دَپاره چه کومې تورې استعمالیږي هغې ته سیوف الله وئیلې شوی دی). ③ شَيْخِ: مشر او سردار مراد دي.

تسهیلات:

قوله: مَا أَخَذَتْ سُيُوفُ اللَّهِ:

دحدیث پس منظر: یعنې دَمسلمانانو په لاسونوکښې چه دَ الله تعالی دَجهاد دَپاره کومې تورې تیارې دی آیا تردې وخته پورې دَالله تعالی دَدښمن ابوسفیان سټ هغې نه دې

[1] اخرجه مسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم /باب من فضائل سلمان، وصهیب، وبلال رضی الله تعالی عنهم (رقم-۱۷۰ - (۲۵۰٤) واحمد فی المسند: ٥/٦٤

الوزولې؟ صحابه کرامو داخبره هغه وخت اوکړه کوم وخت چه ابوسفيان دمکې مکرمې نه دصلح حديبيه دتجديد دپاره مدينې منورې ته راغلې وو. هغه وخت ابوسفيان مسلمان شوې نه وو. هغه وخت دغه فقيرانو دجهاد جذبې لاندې دا جمله اووئيله

دابوبکر رضی الله عنه خفګان: په دې باندې حضرت ابوبکر رضی الله عنه خفګان ښکاره کړو او بيا لاړو حضورپاك سره ئې ددې تذکره اوکړه. حضورپاك اوفرمائيل که چرې تا دا غريبانان اوفقيران خفه کړی دی نوياد ساته چه تا خپل رب ناراض کړې دې. په دې باندې حضرت صديق اکبر رضی الله عنه هغوی له لاړو معذرت کولو سره ئې معافي اوغوښتله. هغوی په ربښتونی زړه سره معاف کړو په دې سره ددغه په خاوړو ناستوخلقوشان واضحه شو ربښتيا دی.

[٦٢١٥]دانصارو سره محبت اودايمان نښه

٦٢١٥-(۱)[۲۰][۱]وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ[۲]«آيَةُ الْإِيمَانِ حُبُّ الْأَنْصَارِ[۳]وَآيَةُ النِّفَاقِ بُغْضُ الْأَنْصَارِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] او حضرت انس رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روايت کوي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل[۲]د ايمان يعنی د کمال ايمان نښه ټول انصارو سره محبت ساتل دی[۳]او د نفاق نښه انصارو سره بغض او دښمنې ساتل دي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① آيَةُ الْإِيمَانِ: أَيْ: عَلَامَةُ كَمَالِهِ: دکامل ايمان نښه او علامت.

تسهیلات:

قوله: آيَةُ الْإِيمَانِ حُبُّ الْأَنْصَارِ

دانصارو محبت دايمان نښه ګرځيدو وجه: د اسلام راوړلو نه مخکښې دوه قبيلې اوس اوخزرج وې. دوی په خپل مينځ کښې ډير زيات د يو بل دښمنان وو. وئيلې شی چه د هجرت د وخت پورې مسلسل شپږ شلې کالو پورې ددې دوو قبيلو په مينځ کښې جنګ روان وو ليکن چه کله دواړو اسلام قبول کړو نود دواړو دښمنی په محبت کښې بدله شوه. خان اخستونکی خان قربانونکی جوړشو او د وينو تږی وينه ورکونکی جوړ شو. نبی کريم صلی الله علیه وسلم دې دواړو قبيلو ته د انصار لقب ورکړو. دوی د حضورپاك د خان اومال دواړو په اعتبارسره امداديان جوړ شو. چونکه هغوی د حضورپاك محبت اخستو سره د ټولو عربو اوعجمو دښمنی اخستې وه په دې وجه ضروری وه چه دهغوی محبت د ايمان علامت اود هغوی عداوت د کفر او نفاق علامت اوګرځولې شی

---

[1] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب حب الأنصار (رقم-۳۷۸٤) ومسلم فی کتاب الإيمان/باب الدليل على أن حب الأنصار وعلی رضی الله عنهم من الإيمان وعلاماته، وبغضهم من علامات النفاق (رقم-۱۲۸ - (۷٤) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب فی فضل الأنصار وقريش (رقم-۳۹۰۰) والنسائی فی کتاب الإيمان وشرائعه/باب علامة الإيمان (رقم-٥٠١۹) واحمد فی المسند: ۷۰/۳

[٦٢١٦] د انصارو محبت د الله تعالى د محبت ذريعه

٦٢١٦-(¹) [٢١] [١] وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ [٢] «الْأَنْصَارُ لَا يُحِبُّهُمْ إِلَّا مُؤْمِنٌ وَلَا يَبْغَضُهُمْ إِلَّا مُنَافِقٌ [٣] فَمَنْ أَحَبَّهُمْ أَحَبَّهُ اللَّهُ وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ أَبْغَضَهُ اللَّهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت براء بن عازب انصاري رضي الله عنه وايي ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل [٢] انصارو سره هغه څوك محبت ساتي چې كامل مؤمن وي او انصار شره هغه سړى دښمني ساتي چې حقيقي منافق يا مجازي منافق يعنى فاسق وي [٣] كوم سړى چې انصار محبوب لري الله جل جلاله هغه محبوب لري او كوم سړى چې انصارو سره دښمني ساتي الله جل جلاله هغه سره دښمني ساتي. (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: الْأَنْصَارُ لَا يُحِبُّهُمْ إِلَّا مُؤْمِنٌ..الخ:

انصارو سره بغض دالله تعالى د دشمنۍ سبب: انصارو سره به محبت هم هغه كس كوي څوك چه كامل مؤمن وي او انصارو سره به بغض هم هغه كوى چه دَعقيدې يا دَ عمل منافق وى. ځكه چه اګرچه ايمان دَ زړه څيز دې مګر دَ دې ظاهرى علامات په بدن كښې موجود دى.

دَ حديث الباب نه هم دَ انصار صحابه كرامو عظمت معلوميږى. دارنګ دَ حديث الباب نه دينى محبت او دينى عداوت مراد دې دنياوى اختلاف مراد نه دې.

[٦٢١٧] د انصارو خوشحالولو دپاره حيرانكونكى جمله

٦٢١٧-(²) [٢٢] [١] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ «إِنَّ نَاسًا مِنَ الْأَنْصَارِ قَالُوا حِينَ أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَمْوَالِ هَوَازِنَ مَا أَفَاءَ [٢] فَطَفِقَ يُعْطِي رِجَالًا مِنْ قُرَيْشٍ الْمِائَةَ مِنَ الْإِبِلِ [٣] فَقَالُوا يَغْفِرُ اللَّهُ لِرَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يُعْطِي قُرَيْشًا وَيَدَعُنَا وَسُيُوفُنَا تَقْطُرُ مِنْ دِمَائِهِمْ. [٤] فَحُدِّثَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِمَقَالَتِهِمْ

ترجمه: [١] او حضرت انس رضي الله عنه وايي د انصارو بعضې خلقو هغه وخت دشكوى اظهار وكى هركله چې الله جل جلاله خپل رسول ته د قبيله هوازن هغه مال غنيمت عطا كى كوم چې وركول وو [٢] اوحضور ﷺ قريشوكې څو څو خلقو ته سل سل اوښان وركول شروع كړل [٣] نو په انصاروكې هغه بعضې خلقواويل الله جل جلاله دي رسول الله ﷺ وبخښي حضور ﷺ قريشو

¹ اخرجه البخارى فى كتاب المناقب/باب حب الأنصار (رقم-٣٧٨٣) ومسلم فى كتاب الإيمان/باب الدليل على أن حب الأنصار وعلى رضى الله عنهم من الإيمان وعلاماته، وبغضهم من علامات النفاق (رقم-١٢٨ - (٧٤) وابن ماجه فى كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل الأنصار (رقم-١٦٣) واحمد فى المسند: ٩٤/٤

² اخرجه البخارى فى كتاب فرض الخمس/باب ما كان النبى صلى الله عليه وسلم يعطى المؤلفة قلوبهم وغيرهم من الخمس ونحوه (رقم-٣١٤٧) ومسلم فى كتاب الزكاة/باب إعطاء المؤلفة قلوبهم على الإسلام وتصبر من قوى إيمانه (رقم-١٣٢ - (١٠٥٩) واحمد فى المسند: ١٦٦/٣

ته خو دومره زيات ورکوي او مونږ ته زيات نه راکوي حالانکه زمونږ د توزو نه د دښمن وينه څڅي ۴ هرکله چې د رسول الله ﷺ په علم کې د دې خلقو شکوه راوستل شوه

حل اللغات: - ① أَفَاءَ اللهُ: أي: أَعْطَاهُ: مال غنيمت ورکړو الله تعالى. ② فَطَفِقَ: أي: فَأَخَذَ وَشَرَعَ: شروع ئې اوکړه (د مال غنيمت دورکولو). ③ تَقْطُرُ: أي تَنْقِطُ: څڅولې او بهيولې. ④ فَحُدِّثَ: أي: فَأُوحِيَ: بيان کړې شو، وحى ورته اوکړې شوه.

۱ فَأَرْسَلَ إِلَى الْأَنْصَارِ فَجَمَعَهُمْ فِي قُبَّةٍ مِنْ أَدَمٍ وَلَمْ يَدْعُ مَعَهُمْ أَحَدًا غَيْرَهُمْ ۲ فَلَمَّا اجْتَمَعُوا جَاءَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ۳ فَقَالَ مَا حَدِيثٌ بَلَغَنِي عَنْكُمْ، فَقَالَ فُقَهَاؤُهُمْ: أَمَّا ذَوُو رَأْيِنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ فَلَمْ يَقُولُوا شَيْئًا ۴ وَأَمَّا أُنَاسٌ مِنَّا حَدِيثَةٌ أَسْنَانُهُمْ قَالُوا يَغْفِرُ اللَّهُ لِرَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يُعْطِي قُرَيْشًا وَيَدَعُ الْأَنْصَارَ وَسُيُوفُنَا تَقْطُرُ مِنْ دِمَائِهِمْ،

ترجمه: ۱ نو حضور ﷺ ټول انصار راوغوښتل او خپله هغه خيمي کې يې راجمع کړل کومه چې د څرمن جوړه شوي وه هغوئ سره يې نور خلق راونه بلل ۲ هرکله چې ټول انصار راجمع شول نو رسول الله ﷺ هغوئ ته تشريف راوړی ۳ او ورته يې وفرمايل څه خبره ده چې ستاسو د طرف نه ماته رارسول شوي ده هغه انصاروکي چې کوم عقلمند او دانا خلق وه هغوئ اوويل يارسول الله! په مونږ کې عقلمند او ذي رايي خلقو هيڅ نه دي ويلي ۴ هو په مونږ کې څه نوعمر او ځوانانو ناپوهي سره داخبره ضرور کړي ده چې الله ﷻ دې رسول الله ﷺ وبخښي چې قريشو ته خو دومره زيات عطاکوي او مونږ انصارو ته زيات نه راکوي حالانکه زمونږ د تورو نه د دښمن وينه څاڅي

حل اللغات: - ⑤ قُبَّةٍ: أي: خَيْمَةٍ: خيمه، ⑥ أَدَمٍ: أي: جِلْدٍ: څرمن، ⑦ ذَوُو رَأْيِنَا: أي: أَصْحَابُ عُقُولِنَا وَفُهُومِنَا: عقلمند اوهوښيار خلق. ⑧ حَدِيثَةٌ: أي: جَدِيدَةٌ: نوې، جديد، ⑨ أَسْنَانُهُمْ: د سِنّ جمع ده، د عمر په معنى کښې دې، د حديث السن نه مراد الشُّبَّانُ يعنى ځوانان دې.

۱ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِنِّي أُعْطِي رِجَالًا حَدِيثِي عَهْدٍ بِكُفْرٍ أَتَأَلَّفُهُمْ ۲ أَمَا تَرْضَوْنَ أَنْ يَذْهَبَ النَّاسُ بِالْأَمْوَالِ وَتَرْجِعُونَ إِلَى رِحَالِكُمْ بِرَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ۳ قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ رَضِينَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ بيا رسول الله ﷺ وفرمايل حقيقت دادی چې کوم خلق اوس اوس لږ ورخې مخکې کافران وه هغوئ ته زه ددې مال نه ورکوم او داسې چې د هغوئ زړونه اسلام ته رامائل کړم، يعنى هغوئ ته د زيات ورکولو واحد مقصد تاليف قلوب دی چې هغوئ په اسلام باندې قائم پاتې شي دې نه علاوه بل هيڅ مقصد نه دی، ۲ او اې انصارو! آيا تاسو په دې راضي نه يې چې ستاسو نه علاوه هغه خلق چې مؤلفة القلوب دي مال او اسباب اخستو سره واپس ځي او تاسو خلق رسول الله ﷺ اخستو سره خپلو مکانونو ته واپس لاړشئ ۳ انصارو د حضور ﷺ دا په اثر ارشاد اوريدو سره اوويل هو يارسول الله! مونږ په

دي راضي يو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: -⑩حَـدِيثٌ عَهْـدٍ: اوسنی حالت، موجوده وخت، ددې نه مراد نوی مسلمانان شوی اصحاب دی دکومو چه دکفر زمانه بالکل نزدې وه. ⑪أَتَأَلَّفُهُمْ: أَيْ: أَطْلُبُ أُلْفَتَهُمْ بِالْإِسْلَامِ: زه غواړم چه ددوی داسلام سره مینه محبت زیات شی (ځکه ورته زیات مال ورکوم). ⑫رِحَـالِكُمْ: أَيْ: مَنَـازِلِكُمْ: خپلو کورونو ته.

تسهیلات:

قوله: مِنْ أَمْوَالِ هَوَازِنَ مَا أَفَاءَ:

په جنګ حنین کښې د مال غنیمت مقدار: دجنګ حنین په مال غنیمت کښې د نقدو مالونو نه علاوه شلویښت زره چیلئی ملاؤ شوې وې او بیا ۲۴ زره اوښان په لاس راغلي وو او شپږ زره سړی ګرفتار شوی وو. جعرانه مقام باندې حضورپاك چه کله دا مال تقسیم کړونو بعضې نوی مسلمان شوی قریشوته ئې ډیر څه ورکړه. ابوسفیان ته ئې سل اوښان ورکړه هغه د خپل ځوئی معاویه دپاره غوښتې وو نوحضورپاك سل اوښان نور ورکړه. بیا هغه د دویم ځوئی دپاره اوغوښتل نوحضورپاك هغه ته سل اوښان نور ورکړه. کله چه د انصار ځوانانومجاهدینو دا شفقت اومهربانی اولیدله نوحیران پاتې شو چه دکوموخلقو په وینوباندې زمونږ توري رنګین دی اوسه پورې لا اوچې شوې هم نه دی اوحضورپاك مونږ پریږدی اوپه هغوی باندې احسان کوی. دا شکایت حضورپاك ته اورسیدو نوحضورپاك ټول په یوځائی راجمع کړه اویوبلیغ خطبه ئې ورکړه اوحقیقت حال ئې واضح کړو. په دې باندې انصاروپه چغوچغو اوژړل. حضورپاك هغوی ته دا هم اوخودل چه په تاسو باندې به بیا هم نوروخلقوته ترجیح ورکولې شی مګر تاسو صبر اوکړئی ترهغه وخته پورې چه په حوض کوثر باندې ماسره ملاقات اوکړئی. د انصاروسره متعلق په احادیثوکښې ددې خطبه څه جملې به روستو راځی عجیبه خطبه وه.

[٦٢١٨] دانصارو درې خصوصیات

۶۲۱۸-(¹) [۲۳]①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -②«لَوْلَا الْهِجْرَةُ لَكُنْتُ امْرَأً مِنَ الْأَنْصَارِ وَلَوْ سَلَكَ النَّاسُ وَادِيًا وَسَلَكَتِ الْأَنْصَارُ وَادِيًا أَوْ شِعْبًا لَسَلَكْتُ وَادِيَ الْأَنْصَارِ وَشِعْبَهَا،③ الْأَنْصَارُ شِعَارٌ وَالنَّاسُ دِثَارٌ④ إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ بَعْدِي أَثَرَةً فَاصْبِرُوا حَتَّى تَلْقَوْنِي عَلَى الْحَوْضِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل② که هجرت نه وی

¹ اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب غزوة الطائف في شوال سنة ثمان، قاله موسى بن عقبة (رقم-٤٣٣٠) ومسلم في كتاب الزكاة/باب إعطاء المؤلفة قلوبهم على الإسلام وتصبر من قوي إيمانه (رقم-١٣٩ - (١٠٦١) والترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب في فضل الأنصار وقريش (رقم-٣٨٩٩) وابن ماجه في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل الأنصار (رقم-١٦٤) واحمد في المسند: ٥٧/٣

نو زه به هم انصارو کې يوسړی وم که خلق يو وادي کې يعنی حسي اويا معنوي لار باندې ځي او انصار څه دويمي لار باندې ځي نو زه به په هغه لاره باندې ځم کومه چې د جماعت انصار لاره ده ③ انصار خو د شعار لاندې کپړې په شان دی او نور خلق د دثار پورته کپړې په شان دي ④ اې انصارو تاسو به زما نه وروسته ووينئ چې داسې امراء به راشي چې نورو خلقوته به د دنيا او مال په باره کې په تاسو باندې ترجيح ورکوي ، نو تاسو صبر کوئ ددې پورې چې ما سره په حوض کوثر يوځاى شي.

حل اللغات:- ① سَلَكَ: ځی، روان شی، ② وَادِيًا: أَيْ: طَرِيقًا: لار (حسی لار وی او که معنوی) ③ شِعْبًا: شعب کندې ، کنډو ته وائی دَدې جمع شعوب ده. ④ شِعَارٌ: وَهُوَ الثَّوْبُ الَّذِي يَلِي شَعْرَ الْبَدَنِ: دا د شعر نه دې وبښتوته وائی. دَبدن وبښتوسره لګيدلې کپړا مراد ده چه په عام توګه بنين وی يا قميص وی ⑤ دِثَارٌ: وَهُوَ الثَّوْبُ الَّذِي فَوْقَ الشِّعَارِ: دادَ دثر نه دې پيړې کپړې ته وائی چه دَعام کپړو دَپاسه اغوستلې شی لکه کوټ واسکټ يا څادر وغيره. ⑥ أَثَرَةً: أَيْ: اسْتِئْثَارًا: ترجيح ورکول. غوره کول.

تسهيلات:

قوله: لَوْلَا الْهِجْرَةُ لَكُنْتُ امْرَأً مِنَ الْأَنْصَارِ:

دنبی عليه السلام عاجزی: دلته حضور ﷺ دځان دپاره ياخو د تواضع او کسر نفسی آړخ اختيار کی ، او دانصارو دلجوئی دهغوی رفعت او منزلت يې ښکاره وفرمايی .

قوله: لَسَلَكْتُ وَادِيَ الْأَنْصَارِ وَشِعْبَهَا،

د مذکوره جملې په تشريح کښې دوه اقوال: ① په هغه زمانه کښې به دا کيدل ، چې د څه قافلې يا قبيلې سردار به کومی دری يا کنډ اوته دننه کيدو سره تيريدل غوښتل ، نو ټوله قافله او ټوله قبيله به هغه پسې پسې هغه دری يا کنډاؤ کی داخليدل او بيا دهغه ځايه د تيريدلو پس ټول به خپل منزل يا فراخي لاری باندی روانيدل نو حضور ﷺ وفرمايل که چيری داسې وی ، چې ټول خلق دوو ډلو کی تقسيمېدو سره يو منزل طرف ته روان شی ، په هغوی کې يوه ډله انصارو باندی مشتمل وی ، او دويمه ډله باقی خلقو باندی او دهغه دواړو ډلو لار جدا جدا وی ، نو زه به دويمه ډله پريښودلو سره په هغه لار ځم کومه چې انصارو اختيار کړی وی ، په دی صورت کی دا وئيل کيږي چې ددې ارشاد ګرامی مقصد دانصارو په حقله دحضور ﷺ کمال تعلق او ارتباط او په هغوی دحضور ﷺ د کمال عنايت او شفقت اظهار دی .

② د وادی او شعب کومی معنی دلته مراد دی هغه د دوی رايی ده ، مطلب دا چی په يوه معامله کی دخلقو منځ کی رايی او دمسلك داختلاف اظهار وی ، نو زه به هغه رايی او مسلك اختياروم ، کوم چی دانصارو اختيار کړده وی ، او دهغوی موافقت به کوم ، په دی صورت کی بيا دا وئيل کيږي چی په دی ارشاد ګرامی نه دحضور ﷺ مقصد انصارو سره

دحسن موافقت او مرافقت اظهار كول دى ، ځكه چې انصارو ته هم دحضور ﷺ دا وېناوه چې په تاسو بلا استحقاق فضيلت وركول شي نو تاسو صبر كوئ ددې پورې چې ما سره په حوض كوثر يوځاي شي. (بخاري)

قوله: الْأَنْصَارُ شِعَارٌ وَالنَّاسُ دِثَارٌ:

دثار سره د تشبيه مقصد: دَدې كلام مقصد دادې چه انصار دَ قرب منزلت په اعتبار سره حضورپاك ته دَ ټولو نه زيات نيزدې دى لكه چه انصار دَ حضورپاك زړه او ګردې دى اوباقى خلق دَ ظاهرى بدن دَ اندامونو په شان دى.

[۶۲۱۹] انصارو سره د كمال قرب او تعلق اظهار

۶۲۱۹ -() [۲۳] [۱] وَعَنْهُ قَالَ «كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمَ الْفَتْحِ [۲] فَقَالَ مَنْ دَخَلَ دَارَ أَبِي سُفْيَانَ فَهُوَ آمِنٌ وَمَنْ أَلْقَى السِّلَاحَ فَهُوَ آمِنٌ» [۳] فَقَالَتِ الْأَنْصَارُ أَمَّا الرَّجُلُ فَقَدْ أَخَذَتْهُ رَأْفَةٌ بِعَشِيرَتِهِ وَرَغْبَةٌ فِي قَرْيَتِهِ وَنَزَلَ الْوَحْيُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي دمكي د فتح په ورځ مونږ خلق د رسـول الله ﷺ ملګرتيا كې وو [۲] په هغه ورځ حضور ﷺ اعلان كړى وو چې مشركينو كې كوم سړى د ابوسفيان په كوركي داخل شي هغه په امن كې دى او مشركينو كې چاچي اسلحه وغورځوله هغه په امن كې دى [۳] بعضې انصارو دا اعلان اوريدو سره خپلو كې اوويل چې دې سړي يعنى حضور ﷺ باندې د خپل قوم په حقله مروت او مهربانى او خپل كلى والاو يعنى اهل مكه په حقله د رغبت او شوق جذبه طبعي طور سره غالبه راغلي ده نو رسول الله ﷺ باندې وحي نازلي شوې چې د هغه په ذريعه حضور ﷺ خبر شو چې انصار داسې داسې وايي

حل اللغات:- ① رَأْفَةٌ: أَيْ: شِدَّةُ رَحْمَةٍ: مهربانى، نرمى. ② رَغْبَةٌ: أَيْ: مَحَبَّةٌ: محبت، شوق.

[۱] قَالَ قُلْتُمْ أَمَّا الرَّجُلُ فَقَدْ أَخَذَتْهُ رَأْفَةٌ بِعَشِيرَتِهِ وَرَغْبَةٌ فِي قَرْيَتِهِ [۲] كَلَّا إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ هَاجَرْتُ إِلَى اللَّهِ وَإِلَيْكُمْ. [۳] الْمَحْيَا مَحْيَاكُمْ وَالْمَمَاتُ مَمَاتُكُمْ.

ترجمه: [۱] په دې حضور ﷺ انصار راوبلل او هغوئ ته يې وفرمايل تاسو داسې داسې ويلي دي چې دې سړى باندې د خپل قوم د مروت مهربانى او د خپل كلي والو په حقله د رغبت او شوق جذبه غالب راغلي ده [۲] نه داسې نه ده حقيقت دادى چې زه د الله جل جلاله بنده او د الله جل جلاله رسول يم ماد الله جل جلاله طرف ته (يعنى د الله جل جلاله په حكم سره او د الله جل جلاله داجر او انعام حاصلولو د پاره) او ستاسو طرف ته (يعنى ستاسو دد يار وطن طرف ته) هجرت كړى دى [۳] وس خو ځما ژوند ستاسو ژوند سره دى او ځما مرګ هم ستاسو مرګ سره دى

[1] اخرجه مسلم فى كتاب الجهاد والسير/باب فتح مكة (رقم-۸۶ - (۱۷۸۰)

حل اللغات: ① اَلْمَحْيَا مَحْيَاكُمْ: زما ژوند ستاسو ژوند دي. ② اَلْمَمَاتُ مَمَاتُكُمْ: زما مرګ ستاسو مرګ دي.

[۱] قَالُوا: وَاللّٰهِ مَا قُلْنَا إِلَّا ضِنًّا بِاللّٰهِ وَرَسُولِهِ. [۲] قَالَ: فَإِنَّ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ يُصَدِّقَانِكُمْ وَيَعْذِرَانِكُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] په دي اوریدو سره هغه انصارو د معذرت اظهار کولو سره عرض وکړو په الله قسم چي مونږ داخبره صرف خکه وکړه چي الله او د الله رسول سره مونږ ته بخل وو [۲] حضور ﷺ وفرمایل الله او د هغه رسول ستاسو تصدیق کوي او تاسو درست ګڼي او ستاسو دا معذرت قبلوي. (مسلم)

حل اللغات: - ⑤ ضِنًّا: أَيْ: شُحًّا وَبُخْلًا: بخل، کنجوسي، حرص.

تسهیلات:

قوله: مَنْ دَخَلَ دَارَ أَبِي سُفْيَانَ فَهُوَ آمِنٌ:

د حدیث پس منظر: په ۸ هجري کښي نبي کریم ﷺ دَ خپلو لسو زرو مجاهدینو صحابه کرامو سره دَمکي دَفتح کولو دَپاره تشریف راوړو. ابوسفیان ته اندازه وه چه مکي والا مقابله نه شي کولي. په دي وجه هغه دَ صلح دَپاره دَ مذاکراتو اودَخپل قوم قریش دَ بچ کولو دَپاره دَ رسول الله ﷺ طرف ته راروان شو. حضرت عباس رضی الله عنه هغه دَ حضورپاك په اوښه باندي سورکړو اومکي سره نیزدي یوځائی مرالظهران پوري هغه بوتلوچرته چه حضورپاك ډیره اچولي وه. کله چه ابوسفیان په زباني توګه باندي اسلام قبول کړو نوحضرت عباس رضی الله عنه اوفرمائیل یا رسول الله ﷺ داسړي شان شوکت خوښونکي دي دَقوم مشرهم دي ده ته څه اعزاز ورکړه دي دَپاره چه دي خپل قوم ته اوښولي چه دَهغوی دَ بچ کولودَپاره ابوسفیان داکارنامه اوکړه. هم په دي موقع باندي حضورپاك اوفرمائیل "من دخل دار ابي سفيان فهو آمن" یعنی څوك چه دَابوسفیان په کورکښي داخل شو هغه به امن کښي وي.

قوله: وَمَنْ أَلْقَى السِّلَاحَ فَهُوَ آمِنٌ،

د وسلي په غورځولو امن ملاویدل: ابوسفیان ونیل دا امن کافي نه دي زما پوره قوم زما په کورکښي نه شي راتلي نوبیاحضورپاك اوفرمائیل "من اغلق عليه الباب فهو امن" یعنی چاچه دکوردروازه بنده کړه هغه په امن کښي دي. چاچه وسله اوغورزوله هغه په امن کښي دي. بیاابوسفیان اووئیل چه اودا امن مکمل دي. په دي باندي انصارو اووئیل چه حضورپاك قومي خانداني اومعاشرتي محبت کښي راګیردي اوس خو مونږ پاتي شو. حضورپاك خپلو خلقوله لاړو. په دي باندي حضورپاك جواب ورکړو زما مرګ اوزما ژوند نن نه پس تاسو سره دي. ژوندبه هم تاسوسره تیروم اومرګ به هم تاسوسره راځي.

قوله: إِلَّا ضِنًّا بِاللّٰهِ:

د مذکوره جملي مطلب: یعنی مونږ داجمله دَ څه دنیاوی مقصد اوغرض دَپاره نه ده وئیل

بلکه دَ حرص لاندې مو ونیلې ده چه تاسو زمونږ نه جدا نه شئی اودې عظیم نعمت نه مونږ محروم پاتې نه شو.

[۶۲۲۰] د نبی علیه السلام انصارو سره د محبت اظهار

۶۲۲۰-(۱) [۲۵] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَأَى صِبْيَانًا وَنِسَاءً مُقْبِلِينَ مِنْ عُرْسٍ [۳] فَقَامَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۴] فَقَالَ اللَّهُمَّ أَنْتُمْ مِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ اللَّهُمَّ أَنْتُمْ مِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ يَعْنِي الْأَنْصَارَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی [۲] یوه ورځ رسول الله ﷺ د انصارو بچی او ښځې د یو واده وغیره د دعوت طعام نه واپس راتلونکي ولیدل [۳] نو نبي ﷺ د هغوئ په لارکې یا د هغوئ سره یوځای کیدو د پاره یو ځای ښاندې اودریدلو [۴] او هغوئ مخاطب کولو سره یې وفرمایل خداونده! زه تا ګواه کولو سره د انصارو دي ښځو او بچوته وایم چې اې انصارو! په ټولو خلقوکې تاسو ځما په نزد محبوب ترین یئ خداونده! زه تا ګواه کولو سره وایم چې اې انصارو! په ټولو خلقوکې تاسو ځما په نزد محبوب ترین یئ د حضور ﷺ مراد د أَنْتُمْ نه ټول انصار وو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: -① مُقْبِلِينَ: أَيْ:رَاجِعِينَ: واپس راتلونکی. ② عُرْسٍ: أَي طَعَامُ الْوَلِيمَةِ: د واده روټی، ولیمه

تسهیلات:

قوله: رَأَى صِبْيَانًا وَنِسَاءً مُقْبِلِينَ مِنْ عُرْسٍ:

د نبی علیه السلام انصارو ته خطاب: دَ واده دَدعوت نه دَ انصار ماشومان او ښځې راتلې. حضورپاک مخامخ اودریدو اوئی فرمائیل "اللهم انتم" په دې جمله کښې التفات دې اصل عبارت داسې دې "اللَّهُمَّ أَنْتَ تَعْلَمُ صِدْقِيْ فِيمَا أَقُوْلُ فِيْ حَقِّ الْأَنْصَارِ" دَ دې جملې نه پس حضورپاک په توګه دَ التفات انصار مخاطب کړه اووئی فرمائیل "أَنْتُمْ مِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ".

[۶۲۲۱] انصارو سره د احسان کولو وصیت

۶۲۲۱-(۲) [۲۶] [۱] وَعَنْهُ قَالَ «مَرَّ أَبُو بَكْرٍ وَالْعَبَّاسُ بِمَجْلِسٍ مِنْ مَجَالِسِ الْأَنْصَارِ وَهُمْ يَبْكُونَ [۲] فَقَالَا مَا يُبْكِيكُمْ فَقَالُوا ذَكَرْنَا مَجْلِسَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنَّا فَدَخَلَ أَحَدُهُمَا عَلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأَخْبَرَهُ بِذَلِكَ [۳] فَخَرَجَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَقَدْ عَصَبَ عَلَى رَأْسِهِ حَاشِيَةَ بُرْدٍ فَصَعِدَ الْمِنْبَرَ وَلَمْ يَصْعَدْ

---

[1] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب قول النبی صلی الله علیه وسلم للأنصار: «أنتم أحب الناس إلی» (رقم-۳۷۸۵) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل الأنصار رضی الله تعالی عنهم (رقم-۱۷۴ - (۲۵۰۸)

[2] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: «اقبلوا من محسنهم وتجاوزوا عن مسیئهم» (رقم-۳۷۹۹) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل الأنصار رضی الله تعالی عنهم (رقم ۱۷۶ - (۲۵۱۰) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی فضل الأنصار وقریش (رقم ۳۹۰۴) واحمد فی المسند:۱۸۸/۳

بَعْدَ ذٰلِكَ الْيَوْمِ فَحَمِدَ اللّٰهَ تَعَالٰى وَأَثْنٰى عَلَيْهِ

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضی الله عنه بیان کوي د حضور ﷺ د مرضِ وفات په دوران کې یوه ورځ حضرت ابوبکر رضی الله عنه او حضرت عباس رضی الله عنه د انصارو یو مجلس باندې تیر شو نو وې لیدل چې هغه اهل مجلس ناست ژړل یې [۲] هغه دواړو حضراتو د هغوئ نه پوښتنه وکړه تاسو ولې ژاړئ هغوئ اوویل زمونږ په منځ کې د رسول الله ﷺ مجلس مونږ ته را یاد شو په دې اوریدو سره هغه دواړو کې یو صاحب حضرت ابوبکر رضی الله عنه یا حضرت عباس رضی الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او حضور ﷺ یې دې خبرې نه آگاه کې (چې د انصارو جماعت ستاسو مجلس مبارك یادولو سره ژاړي) [۳] نو رسول الله ﷺ په دې حالت کې حجرې مبارکې نه بهر تشریف راوړې چې دسر درد د کمولو د پاره دخادر یو ځاك د پټې په طور سرمبارك باندې تړلې وو بیا خطبې ورکولو د پاره منبر باندې کېنا ستې چې د هغه ورځې نه وروسته بیا حضور ﷺ ته منبرته ختل نصیب نه شو مخکې حضور ﷺ د الله جل جلاله حمد او د هغه کامله ثناء بیان کړه

حل اللغات:- ① عَصَبَ: أَيْ: رَبَطَ وَشَدَّ: په سرباندې پټئ تړل او کپړا راتاوولو ته وائي. ② حَاشِيَةَ: یعنی دخپل څادر غاړه ئی دَ پټئی په توگه په سرمبارك باندې تړلې وه (چه د سر درد ورسره قلار شي) ③ بُرْدٍ: څادر.

[۱] ثُمَّ قَالَ أُوصِيكُمْ بِالْأَنْصَارِ فَإِنَّهُمْ كَرِشِي وَعَيْبَتِي. [۲] وَقَدْ قَضَوُا الَّذِي عَلَيْهِمْ وَبَقِيَ الَّذِي لَهُمْ [۳] فَاقْبَلُوا مِنْ مُحْسِنِهِمْ وَتَجَاوَزُوا عَنْ مُسِيئِهِمْ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] بیا یې وفرمایل اې مهاجرو! زه تاسو ته د انصارو په باره کې وصیت کوم چې د دوئ سره د رعایت او حمایت او حسن سلوك رویه اختیاروئ ځکه چې انصار ځما جاعت ،صحابه ،اصحاب راز اومحبوب او ځما جامه داني دي [۲] په دې کې شك نشته چې په هغوئ کوم حق وو هغه هغوئ اداکړی دی او څه چې د هغوئ حق دي یعنی اجر او ثواب او د جنت سرفرازي هغه د الله سره باقي دی [۳] نو د هغوئ د نیکو خلقو عذر چې د خپل څه خطا یا کوتاهي سلسله کې بیان کړي قبلوئ یې او د هغوئ د خرابو خلقو د خرابو کارونو نه چې د هغه عذر پیش کولو نه هغوئ عاجزه وي درگذر معافي کوئ (بخاري)

حل اللغات:- ④ كَرِشِي: أَيْ: بِطَانَتِي: یعنی انصار زما باطن دی په کوم کښې چه زړه گرده او کولمې تول هرڅه راخی ⑤ عَيْبَتِي: عيبة اصل کښې صندوقچه او منگی ته وائی په کوم کښې چه ضروری سامان کیخودې شی. دلته ددې ډیرې معانې کیدې شی بعضې دادی: زما خاص خلق، خاص جماعت او ملگری، دمحبت لائق خلق، رازدار. ⑥ قَضَوْا: أَيْ: أَدَّي الْأَنْصَارُ: پوره کړو انصارو (خپل حق یعنی وفا ئې اوکړه)

تسهیلات:

قوله: ذَكَرْنَا مَجْلِسَ النَّبِيِّ:

د مذکوره جملې مطلب: یعنې کوم وخت چه حضورپاك بیمارشوي نه وو مونږ ټول به یوځائې کیناستو. اوس د بیمارئې د وجې نه حضورپاك د کور نه بهر نه شي راتلې. د حضورپاك مجلس چه کله رایادشو نوژړا راغله.

قوله: كَرِشِي:

د کرش څخه مراد: په کاف زبر راء باندې زیردې په یوه نسخه کښې په کاف باندې کسره ده او راء ساکن ده. "ای بطانتی" یعنې انصار زما باطن دی په کوم کښې چه زړه گرده او کولمې ټول هرڅه راځي. دا د عربي محاوره لاندې خاص الخاص. رازدار او نیزدیکت طرف ته اشاره کیږي.

قوله: وَعَيْبَتِي:

د مذکوره ټکي مفهوم: عرب خلق عیبه ونیلو سره زړه او سینه مراداخلي په کوم سره چه رازدارئې طرف ته اشاره کیږي. ځکه چه د انسان راز د هغه په زړه او سینه کښې وي

[٦٢٢٢] مالګې سره د انصارو تشبیه

٦٢٢٢-() [٢٧] ۞وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «خَرَجَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ۞ حَتَّى جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ۞ ثُمَّ قَالَ: أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ النَّاسَ يَكْثُرُونَ وَيَقِلُّ الْأَنْصَارُ حَتَّى يَكُونُوا فِي النَّاسِ بِمَنْزِلَةِ الْمِلْحِ فِي الطَّعَامِ۞ فَمَنْ وَلِيَ مِنْكُمْ شَيْئًا يَضُرُّ فِيهِ قَوْمًا وَيَنْفَعُ فِيهِ آخَرِينَ فَلْيَقْبَلْ مِنْ مُحْسِنِهِمْ وَلْيَتَجَاوَزْ عَنْ مُسِيئِهِمْ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه:۞ او حضرت ابن عباس ﷺ بیان کوي رسول الله ﷺ د خپلې بیمارۍ په دوران کې چې په هغه کې وفات راتلو یوه ورځ حجرې مبارکې نه بهر راووتلو۞ منبر باندې تشریف فرماسو اول حضور ﷺ د الله ﷻ حمد او ثناء بیان کړل۞ بیا یې وفرمایل پوهه شئ: د خلقو یعنې مسلمانانو تعداد ورځ په ورځ زیاتیږي چې په هغه کې معتد به حصه خپل خپل وطن پریښودلو سره د هجرت په نیت به مدینې ته راځي او د انصارو تعداد به کم شي ددې پورې چې په نوروخلقوکې به د انصارو تناسب طعام کې د مالګې برابر پاتې شي۞ نو اې مهاجرینو په تاسو کې چې کوم سړی د څه اقتدار مالك جوړ شي او د هغه په سبب هغه څه خلقوته یعنې نیکو کارو خلقوته فائده رسولړ او څه خلقوته یعنې بدکارو خلقوته د نقصان رسولو اختیار لري نو هغه سړي ته پکار دی چې د انصارو د نیکو کارو نیکې قبوله کړي

[1] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب علامات النبوة فی الإسلام (رقم-٣٦٢٨) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل الأنصار رضی الله تعالی عنهم (رقم-١٧٦ - (٢٥١٠) واحمد فی المسند: ٢٨٩/١

او د هغوئ د بدکارو د بدي نه درګذر معافي وکړي. (بخاري)

حل اللغات:- ① يَقِلُّ: کم به شي، کميږي به (تعداد او ډله د انصارو). ② وَلِيَ: دا د وِلَايَةٌ نه دي، څه عهده او اقتدار ملاويدل مراد دی

تسهيلات:

قوله: وَيَقِلُّ الْأَنْصَارُ:

دانصارو د کميدو دوه وجوهات: ① چونکه انصار دَ نصرت نه دي او دَ نصرت نه دَمحمد عربي ﷺ او مهاجرينو نصرت مراد دي. نوانصار کيدل يوداسي صفت دي چه چانه دا صفت حاصل شو بس هم هغه ته حاصل شو. کوموخلقوچه دَحضورپاك نصرت کړي وو هغه خلق په دغه زمانه کښې خاص وو دَ بل چا په نصرت سره دَ انصارو صفت نه شي حاصليدلي په دي وجه چه دَ انصارنه به څوك مرکيدو دَهغوی ډله کميږي يووخت به داسي راشي چه دَانصار نه به څوك باقي پاتي نه شي

② په دي حديث کښې جهاد کښې دَ انصار خلق زيات شهيد کيدو طرف ته اشاره وی اوواقعي انصار په هره يوه معرکه کښې ګڼر شمير کښې شهيدان شوی دی

پاتي شو مهاجرين نوهجرت يو زماني سره خاص نه دي لهذا مهاجرين کميږی نه دَ قيامت پوري چه څوك هجرت کوی دَمهاجر په صفت سره متصف کيږی.

قوله: فَمَنْ وَلِيَ:

انصارو سره د ښيګړي وصيت: يعني په تاسو کښې که يوسړي صاحب اقتدار وی او هغه دَ نفع اونقصان په حيثيت کښې شي نوهغه له پکار دی چه انصارسره ښه سلوك اوکړی هغوی ته معافي اوکړی.

[٦٢٢٣] دا نصارو دري نسلونه دعا

٦٢٢٣-(١) [٢٨] [١] وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ وَلِأَبْنَاءِ الْأَنْصَارِ وَأَبْنَاءِ أَبْنَاءِ الْأَنْصَارِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت زيد بن ارقم ﷺ وايي رسول الله ﷺ دعا وفرمايله [٢] اي الله! انصار او د انصارو خامن او د انصارو لمسي وبخښي (مسلم)

[١] اخرجه البخاري في كتاب تفسير القرآن/باب قوله: {هم الذين يقولون: لا تنفقوا على من عند رسول الله حتى ينفضوا} [المنافقون: ٧] . ينفضوا: يتفرقوا {ولله خزائن السموات والأرض ولكن المنافقين لا يفقهون} (رقم-٤٩٠٦) ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضي الله تعالى عنهم/باب من فضائل الأنصار رضي الله تعالى عنهم (رقم-١٧٢ - ٢٥٠٦) والترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب في فضل الأنصار وقريش (رقم-٣٩٠٩) وابن ماجه في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل الأنصار (رقم-١٦٥)

تسهیلات: قوله: اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ وَلِأَبْنَاءِ الْأَنْصَارِ:

دانصارو په اولاد دوه اقوال: په حدیث الباب کښې دریونسلونو ته دعاکړې شوې ده.

(ا)پخپله انصار صحابه کرام دی (ب)دَ انصارو خامن تابعین (ج) دَ تابعینو خامن تبع تابعین شو

پس حضورپاك دَ دریوارو دَپاره دعا اوکړه کوم چه دَخیرالقرون مصداق دی

② دا هم ممکن ده چې د ابناء الانصار څخه دَ قیامته پورې هغوی نسلونه مراد وی په کوم کښې چه دَ خامنو سره لونړه هم شامل دی.

[۶۲۲۴]دا انصاروبهترینې قبیلې

۶۲۲۴-(١) [۲۹] ①وَعَنْ أَبِي أُسَيْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ«- ②خَيْرُ دُورِ الْأَنْصَارِ بَنُو النَّجَّارِ ثُمَّ بَنُو عَبْدِ الْأَشْهَلِ ثُمَّ بَنُو الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ ثُمَّ بَنُو سَاعِدَةَ ③وَفِي كُلِّ دُورِ الْأَنْصَارِ خَيْرٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:① او حضرت ابواسید رضي الله عنه وايي چې رسول کریم ﷺ وفرمايل② د انصارو بهترین کور (یعنی د هغوئ افضل قبائل) بنو نجار بیا بنو عبد الاشهل بیا بنو حارث بن خزرج بیا بنو ساعده دي③ اود انصارو ټولوقبیلو کې خیر او نیکي ده. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ①دُور: د دار جمع ده، کورونه یا قبیلې.

تسهیلات:

قوله: وَفِي كُلِّ دُورِ الْأَنْصَارِ خَيْرٌ:

دانصارو د قبیلوفضیلت: دَانصارو په ټولو قبیلو کښې تعمیم بعد التخصیص دې. اول خو حضورپاك دَ خاص خاص قبیلو ذکر اوکړو بیا ئی په مجموعی توګه دَ ټولو قبیلو باره کښې اوفرمائیل چه هم دَ انصارو ټولوقبیلو ته دَ خیر ښیګړې فضیلت حاصل دی اودَ هغوی ټولې قبیلې دَ اهل مدینه دَ نورو قبیلونه افضل دی

په حدیث کښې دخیر دوه معانی: امام عسقلانی رحمه الله فرمائیلی دی چه اول کوم دَ خیر لفظ دې هغه خو دَافضل په معنی کښې دې اودویم خیر دَفضل په معنی کښې مستعمل شوې دې. مطلب دا شو چه دَ انصارو ټولو قبیلو ته خیر او فضل حاصل دې ·لیکن دَ مرتبو په اعتبارسره په دې کښې تفاوت دې چه اول څلور قبیلې دَ انصارو دَ زیات فضیلت والا دی. کیدې شی چه دغه څلورو قبائلو دَ دینِ عالی نصرت اودَ رسول کریم ﷺ خاص خدمت کړې وی.

[١] اخرجه البخاري فی کتاب المناقب/باب فضل دور الأنصار (رقم-۳۷۸۹) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب فی خیر دور الأنصار رضی الله عنهم (رقم-۱۷۹ - (۲۵۱۱) والترمذی فی کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی أی دور الأنصار خیر (رقم-۳۹۱۱)

[٦٢٢٥] د حاطب بن ابي بلتعه د معافي واقعه

٦٢٢٥-(¹) [٣٠] [١] وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: «بَعَثَنِي رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنَا وَالزُّبَيْرَ وَالْمِقْدَادَ وَفِي رِوَايَةٍ وَأَبَا مَرْثَدٍ بَدَلَ الْمِقْدَادِ [٢] فَقَالَ: انْطَلِقُوا حَتَّى تَأْتُوا رَوْضَةَ خَاخٍ [٣] فَإِنَّ بِهَا ظَعِينَةً مَعَهَا كِتَابٌ فَخُذُوهُ مِنْهَا [٤] فَانْطَلَقْنَا تَتَعَادَى بِنَا خَيْلُنَا حَتَّى أَتَيْنَا إِلَى الرَّوْضَةِ فَإِذَا نَحْنُ بِالظَّعِينَةِ [٥] فَقُلْنَا أَخْرِجِي الْكِتَابَ قَالَتْ: مَا مَعِي مِنْ كِتَابٍ. [٦] فَقُلْنَا لَتُخْرِجِنَّ الْكِتَابَ أَوْ لَتُلْقِيَنَّ الثِّيَابَ،

ترجمه: [١] او حضرت علي كرم الله وجهه بيان كوي چې رسول الله ﷺ ما ته زبير رضي الله عنه ته او مقداد رضي الله عنه ته او په يوه روايت كې د مقداد رضي الله عنه په ځاي د ابو مرثد رضي الله عنه ذكر وكې د روانګي حكم وكې [٢] او وي فرمايل تاسو خلق تيز رفتاري سره سفر كولو سره روضه خاخ ته ورشئ [٣] هلته به يوه ښځه بيا مومي چې د اوښ په سورلي په كجاوه به ناسته وي هغه سره يو خط دی تاسو خلق هغه خط هغه نه آخستو سره راوړئ [٤] نو مونږ فوراً روان شو او خپل آسونه تيز رفتاري سره زغلولو سره روضه خاخ ته ورسيدو او هغه ښځه مو رالاندي كړه [٥] مونږ هغه ښځي ته اوويل راوړه هغه خط رااوباسه او مونږ ته يي حواله كړه هغه ښځي اوويل ما سره هيڅ خط نشته [٦] مونږ لږ تيز كيدو سره ورته اوويل ته خط رااوباسه يا به مونږ ستا نه كپړي ايسته كړو يعنی كه ته خط نه راوكاږي نو مونږ به مجبوراً تا برېنډه كوو چې هغه خط پيدا شي

حل اللغات:- ① رَوْضَةَ خَاخٍ: وَهِيَ مَوْضِعٌ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ: د مديني منورې او مكې په مينځ كښې د يو ځاې نوم دې. ،خومديني ته نزدې دې. ② ظَعِينَةٌ: كومه ښځه چه په اوښ باندې سوره شي او په سفر باندې اوځی هغې ته ظعينة وائی. ③ تَتَعَادَي: أَيْ: تَتَسَابَقُ: د منډو ترړو په معنی كښې راغلې دې. ④ لَتُلْقِيَنَّ الثِّيَابَ: أَيْ: لَتَرْمِينَّ وَتَتَجَرَّدِنَّ: كپړې به درنه اوباسو او برېنډه به دې كړو.

[١] فَأَخْرَجَتْهُ مِنْ عِقَاصِهَا، [٢] فَأَتَيْنَا بِهِ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَإِذَا فِيهِ: مِنْ حَاطِبِ بْنِ أَبِي بَلْتَعَةَ إِلَى نَاسٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ يُخْبِرُهُمْ بِبَعْضِ أَمْرِ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [٣] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَا حَاطِبُ مَا هَذَا؟! [٤] فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ لَا تَعْجَلْ عَلَيَّ إِنِّي كُنْتُ امْرَأً مُلْصَقًا فِي قُرَيْشٍ وَلَمْ أَكُنْ مِنْ أَنْفُسِهِمْ [٥] وَكَانَ مَنْ مَعَكَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ لَهُمْ قَرَابَةٌ يَحْمُونَ بِهَا أَمْوَالَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ بِمَكَّةَ [٦] فَأَحْبَبْتُ إِذْ فَاتَنِي ذَلِكَ مِنَ النَّسَبِ فِيهِمْ أَنْ أَتَّخِذَ فِيهِمْ يَدًا يَحْمُونَ بِهَا قَرَابَتِي [٧] وَمَا فَعَلْتُ كُفْرًا وَلَا ارْتِدَادًا عَنْ دِينِي وَلَا رِضًا بِالْكُفْرِ بَعْدَ الْإِسْلَامِ

ترجمه: [١] بيا هغه ښځي هغه خط د خپلي كونځې نه راوښكلو، مونږ ته يي حواله كړ،

---

¹ اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسير/باب الجاسوس (رقم-٣٠٠٧) ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضي الله تعالى عنهم/باب من فضائل أهل بدر رضي الله عنهم وقصة حاطب بن أبي بلتعة (رقم-١٦١ - (٢٤٩٤) وابوداود في كتاب الجهاد . باب في حكم الجاسوس إذا كان مسلما(رقم-٢٦٥٠) والترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب في فضل الأنصار وقريش (رقم-٣٩٠٥) واحمد في المسند:٨٠/١

او مونږ هغه خط اخستو سره رسول الله ﷺ ته راغلو هغه خط خلاصولو سره وکتل شو نو په هغه کې لیکلي وه د حاطب بن ابي بلتعه د طرف نه اهل مکه وو کې د مشرکینو په نوم بیا مخکې حاطب د مکي مشرکینو ته د رسول الله ﷺ د بعضي اقداماتو او منصوبو په باره کې معلومات فراهم کړي وو ۳ رسول الله ﷺ (حاطب طلب کې) او هغه ته یې وفرمایل اې حاطب! داخه دي؟ ماته وښایه داخه حرکت تا کړي دی او ولې دي کړي دی؟ ۴ حاطب اوویل یا رسول الله! خما په باره کې تادی مه کوئ یعنې خما پوره خبرو اوریدو نه بغیر د دې حرکت په بدله کې خما متعلق د کفر او سزا فیصله مه کوئ دراصل زه یوداسې سړی یم چې د قریشو خلقوسره د بهر نه راتلو سره یوځاې شوی یم (یعنې قریشو سره خما څه نسبي او قرابتي تعلق نشته بلکه د بهر نه راغلی په هغوئ کې شریك شوی یم او محض د هغوئ حلیف یم) ۵ هرکله چې ستاسو سره کوم نور مهاجرین دي هغوئ مکي والاو سره قرابت لري او د مکي مشرکین د هغه قرابت لحاظ کولو سره په مکه کې د هغه مهاجرینو د مال وجائیداد او د هغوئ د اهل وعیال حفاظت کوي (نو په دې بناء چې خما او د مکي د مشرکینو په منځ کې نسبي او قرابتي تعلق معدوم دی) ۶ ما وغوښتل چې د هغوئ د پاره څه داسې کارنامه و کړم چې د هغه په بدله کې هغوئ په مکه کې خما د قرابتدارو حفاظت کوي ۷ تاسو ته د زړه په صدق سره یقین درکوم چې ما دا حرکت په دې وجه نه دی کړی چې زه د سرد په دائره ایمان او اسلام کې داخل شوی نه یم او کافریم او نه په دې وجه چې زه مخکې خو مسلمان شوی وم لیکن اوس د دائره اسلام نه وتلی یم او مرتد شوی یم او نه په دې وجه چې د اسلام نه وروسته اوس کفر ماته ښه لګي اود نورِ ایمان نه تعلق ماتولو سره د کفر تیارې ته تلل غواړم

حل اللغات: - ⑤عِقَاصِهَا: عقاص دَ عَقِيصَة جمع ده، وَهِيَ الشَّعْرُ الْمَضْفُورُ: دَ سر دَ چوټۍ دَ وېښتو ګوچې ته واني یعني کمڅۍ ⑨مُلْصَقًا: أَيْ حَلِيفًا: د بهرنه راتلو سره یو ځاني شوي یم، ⑥يَحْمُونَ: يَحْفَظُونَ وَيُرَاعُونَ: حفاظت ئې کوي او لحاظ ئې ساتي، ⑧فَاتَنِي: فوت شوې دې زمانه. یا ماته حاصل نه دي (یعني ماته د قریشوسره قرابت اورشته نه ده حاصل) ⑨يَدًا: دَدې جمع ایادی ده. أَيْ: صَنِيعَةً: احسان اوانعام ته واني

۱ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - : إِنَّهُ قَدْ صَدَقَكُمْ ۲ فَقَالَ عُمَرُ: دَعْنِي يَا رَسُولَ اللَّهِ أَضْرِبْ عُنُقَ هَذَا الْمُنَافِقِ. ۳ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - : إِنَّهُ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ اللَّهَ اطَّلَعَ عَلَى أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ: اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ قَدْ وَجَبَتْ لَكُمُ الْجَنَّةُ. " ۴ وَفِي رِوَايَةٍ قَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ﴾ [الممتحنة: ۱]» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ (د حاطب داپوره بیان اوریدو سره) رسول الله ﷺ صحابه و ته وفرمایل په دې کې شك نشته چې حاطب ستاسو مخکې بالکل ریښتیا بیان کړی دی (حقیقت حال

هغه دی چې هغه خو دلی دي ›[۲] لیکن عمر فاروق ﷛ اوویل یارسول الله! ماته اجازت راکړئ چې زه د دې منافق څټ ووهم[۳] رسول الله ﷺ ورته وفرمایل داسې سوچ مه کوه او په دي حقیقت نظر لره چې حاطب غزوه بدر کې شریك شوي دي(په دي حضرت عمر ﷛ اوویل که دي غزوه بدر کې شریك شوي دي نو شریك شوي دي وي اوس خو ده جاسوسي کولو سره د غداري ارتکاب کړی دی او د واقعي سزا مستوجب شوي دي) بیا ورته حضور ﷺ وفرمایل او تاته د حقیقت حال څه علم دی(یعنی ته داخبره څرنګه کولی شي چې حاطب مستوجب قتل دی) ممکنه ده الله ﷻ اهل بدر خپل خصوصي نظر کرم او مغفرت سره نوازلی وي د بدر د غازیانو په حقله الله ﷻ فرمایلي دي تاسو چې څه غواړئ کوئ حقیقت خودادی چې جنت ستاسو د پاره واجب شوي دي [۴] او په یوه روایت کې ستاسو د پاره جنت واجب شوي دي په ځاي دادی چې تاسو مي بخښلي یي دي نه وروسته الله ﷻ حاطب او د داسې خلقو د مذموم حرکت خلاف متنبه کولو د پاره دا آیت نازل کی چې د هغه ترجمه داده اې ایمان والاوو څما او خپل دښمنان یعنی هغه خلق چې زه یې دښمن لرم او تاسو ورسره دښمني لري هغوئ خپل دوستان مه جوړوئ الخ. (بخاري مسلم)

تسهیلات: قوله: وَأَبَامَرْثَدٍ:

په روایاتو کښې تعارض: یوروایت کښې دی چه حضورپاك حضرت مقداد ﷛ وراولیګو. په دویم کښې دی چه حضورپاك ابومرثد ﷛ اولیګلو نودا په ظاهر تعارض دي.

د تعارض جواب: حضورپاك څلورکسان روان کړي وو یعنی حضرت علی، حضرت زبیر، حضرت مقداد اوحضرت ابومرثد ﷡. نو په بعضې روایاتوکښې دَ ابومرثد ﷛ ذکر دې دَمقداد ﷛ نشته دې اوبعضې کښې دَحضرت مقداد ﷛ ذکردې دَ ابومرثد ﷛ نشته دې. دا تعارض نه دې روایت بیانونکو کله څوك ذکرکړې دې اوکله ئی نه دې ذکرکړې.

قوله: لَتُخْرِجِنَّ الْكِتَابَ أَوْلَتُلْقِيَنَّ الثِّيَابَ:

د صحابؤ د نبي علیه السلام په قول د یقین معیار: دغه ښځې دَ خط کیدو نه انکار اوکړو نوصحابه کرامو هغې ته اوویل چه خط راؤباسه ګنی مونږ به تا بربنډه کړو څکه چه دَحضورپاك فرمان دروغ کیدې نه شی ته دروغ واینې. دې نه معلومیږی چه دَ صحابه کرامو ایمان څومره مضبوط وو چه دَحضورپاك دَ فرمان په مخکښې هیڅ یوڅیز قبلولو ته هډو تیارنه وو

قوله: فَأَخْرَجَتْهُ مِنْ عِقَاصِهَا:

په روایاتو کښې تعارض: په دې روایت کښې د عقاصها لفظ راغلې دې او په بل روایت کښې دی چه "اخرجته من حجزتها" یعنی دَخپلې شاته حصې دبر سره دَ نرمې ملا نه ئی خط راویستلو. په دواړو روایتونوکښې په ظاهره تعارض دې.

دتعارض جواب: دَ دغه بنځي اورېده ويښته وو هغې اول داخط دَ ويښتو په چوټيه کښې اوترلو اوبيا ئې دا دَ کمربند لاندې دباؤ کړو نودواړه اطلاق صحيح دی که عقاصها اووائی اوکه حجزتها اووائی.

قوله: بِبَعْضِ أَمْرِرَسُولِ اللَّهِ: .

په مکې د حملې کولواراده پټه ساتل: دَفتح مکه په موقع باندې حضورپاك خپله اراده دومره پټه اوساتله چه حضرت عائشه رضی الله عنها ته هم پته نه وه چه حضورپاك چرته جهاد له ځی؟ بلکه دَ مدینې په لارو باندې څوکئی کینولې وې چه څوك سړې دَ مکې والو په مخکښې دَ حضورپاك دَمهم متعلق راز ښکاره نه کړی ځکه چه که قریشوته اول پته لګیدله نوهغوی به ښه تیارې کولو نوښه جنګ به کیدلو او ډیره زیاته وینه به توئیدله. حضورپاك غوښتل چه په بې خبرئی کښې په قریشو باندې حمله اوکړې شی دې دَپاره چه دَ کم نه کم وینه تونی شی اودَ حرم شریف تقدس په ځائی پاتې شی.

دامرنه مراد: امر رسول نه مراد دادې چه حضرت حاطب رضی الله عنه په اندازه سره اوخودل چه رسول الله په څه مهم باندې ځی کیدې شی چه په مکه باندې حمله وی نویاد لرئی تاسو دَحق دا سیلاب منع کولې نه شئی مګر زه تاسو خبروم چه دَخپل بچاؤ انتظام اوکړئی.

قوله: فَقَالَ: اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ قَدْ وَجَبَتْ لَكُمُ الْجَنَّةُ:

اهل بدر ته د ګناهونو د معافۍ اعلان: یعنی حاطب رضی الله عنه بدری صحابی نه دې اوکیدې شی چه الله تعالی دَ اول نه معلومه کړه چه دَاهل بدر اعمال ګمراه کن نه شی کیدې نوالله تعالی اوفرمائیل چه ما ته اوبخښلې چه څه غواړې کوه. الله تعالی ته معلومه وه چه دې به څه غلط کار نه کوی. دَ جواب خلاصه داده چه اهل بدر داسې شهزادګان دی چه الله تعالی دَهغوی هر ناز اوانداز هیر کړې دې بس دَ هغوی دَمحبوبیت په مخکښې په زرګونو ګناه معاف دی.

[٦٢٢٦] په فرشتو کښې د اهل بدر د شرکاء فضیلت

٦٢٢٦-() [٣١] [١] وَعَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ قَالَ: «جَاءَ جِبْرِيلُ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: [٢] مَا تَعُدُّونَ أَهْلَ بَدْرٍ فِيكُمْ؟ [٣] قَالَ: مِنْ أَفْضَلِ الْمُسْلِمِينَ أَوْكَلِمَةً نَحْوَهَا [٤] قَالَ وَكَذَلِكَ مَنْ شَهِدَ بَدْرًا مِنَ الْمَلَائِكَةِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت رفاعه بن رافع رضی الله عنه بیان کوي جبرائیل علیه السلام رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغې او پوښتنه یې وکړه [٢] چې غزوه بدر کې شریکیدونکی تاسو په خپل منځ کې د کومې طبقې

[١] اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب شهود الملائکة بدرا (رقم-٣٩٩٢) وابن ماجه فی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل أهل بدر (رقم-١٦٠)

خلقو نه شمير كوئ [۳]حضور ﷺ ورته وفرمايل مونږ هغوئ د ټولو نه اعلى او د ټولو نه ښه مسلمانانو كې شميرو يا حضور ﷺ دغه شان څه نورو الفاظو كې جواب وركړو او ښكاره داده چې حضور ﷺ به داسې فرمايلي وي هم افضل المسلمين، يعنى هغه اصحاب بدر د ټولو نه اعلى او د ټولو نه ښه مسلمانان دي[۴] حضرت جبرائيل عليه السلام دي خبري اوريدوسره اوويل دغه شان د هغه فرشتو په باره كې مونږ ګڼو چې غزوه بدر كې د اهلِ اسلام د مدد د پاره شريك شوى وي. (بخاري)

حل اللغات:- ① مَاتَعُدُّونَ :أيْ مَاتَعْتَبِرُونَ:په كومه طبقه كښې ئې شميرئ. دڅه فضيلت او مرتبې اعتبار پرې كوئ.

تسهيلات:

قوله: مَاتَعُدُّونَ أَهْلَ بَدْرٍفِيكُمْ؟

د بدر شريكو فرشتو فضيلت: دَ حضرت جبرائيل عليه السلام مقصد دا وو چه په غزوه بدركښې شريك مسلمانان دَ نورو مسلمانانو نه افضل دى. دغه شان زمونږ خيال هم دغه دې چه مونږ فرښتوكښې كومې فرښتې په غزوه بدر كښې شريكې شوې دى هغه دَ هغه ټولو فرښتو نه غوره دى چه په دغه غزوه كښې نه وې شريكې شوې. په دې حديث شريف كښې په غزوه بدر كښې دَ شريكيدونكو خاص فضيلت بيان كړې شوې دې.

[۶۲۲۷] د اصحاب بدر او حديبيه فضيلت

۶۲۲۷-(۱) [۳۲] [۱]وَعَنْ حَفْصَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-«إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ لَا يَدْخُلَ النَّارَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ أَحَدٌ شَهِدَ بَدْرًا وَالْحُدَيْبِيَةَ.[۲] قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَيْسَ قَدْ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: " ﴿وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا﴾ [مريم:۷۱] ".[۳]قَالَ: فَلَمْ تَسْمَعِيهِ يَقُولُ: " ﴿ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوا﴾ [مريم:۷۲] ".[۴]وَفِي رِوَايَةٍ لَا يَدْخُلُ النَّارَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ أَحَدٌ الَّذِينَ بَايَعُوا تَحْتَهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[۱] او ام المؤمنين بي بي حفصه رضي الله عنها بيان كوي رسول الله ﷺ وفرمايل زه اميد لرم چې كوم سرى بدر او حديبيه كې شريك شوي دي هغه به انشاء الله د دوزخ په اور كې نه داخليږي[۲] ما دي خبري اوريدوسره عرض وكړو يارسول الله! آيا الله تعالى دانه دى فرمايلي چې په تاسو كې هيڅ سرى داسې نشته چې په دوزخ به نه وارد كيږي [۳]حضور ﷺ وفرمايل آيا تا دا نه دي اوريدلي چې الله تعالى دي نه وروسته داهم فرمايلي دي چې بيابه مونږ هغه خلق دوزخ ته تلو نه بچ كړو چې هغوئ تقوىٰ اختيار كړه [۴]او په يوه روايت كې

---

[۱] اخرجه مسلم فى كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب من فضائل أصحاب الشجرة أهل بيعة الرضوان رضى الله عنهم (رقم-۱۶۳ - (۲۴۹۶) وابوداود فى كتاب السنة/باب فى الخلفاء (رقم-۴۶۵۳) والترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فى فضل من بايع تحت الشجرة (رقم-۳۸۶۰) وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب ذكر البعث (رقم-۴۲۸۱)

داسې دي حضور ﷺ وفرمایل اصحاب شجره کې به هیڅ سړی انشاء الله د دوزخ په اور کې نه داخليږي او اصحاب شجره نه مراد هغه خلق دي چې د حديبيه په مقام د ونې لاندې بیعت کړی وو (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① وَارِدُهَا: أَيْ مَارُّبِهَا: ور تيريږی به، حاضريږی به هغې دوزخ ته. ② أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ: دَصلح حديبيه په موقع چه دَ کومې ونې لاندې بيعت شوې وو هغه دَ کيکر ونه وه دَ کيکرداونه په قرآن كريم كښې تحت الشجرة په نوم سره ياده کړې ده، دې بيعت ته بيعت رضوان هم وائی.

تسهیلات:

قوله: أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ:

د اصحاب الشجرة څخه مراد: دلته هم دَ صلح حديبيه د بيعت اوبيعت كونكوذكردې. دا بيعت هغه وخت واخستې شو كوم وخت چه حضورپاك ته اووئيلې شوچه حضرت عثمان رضي الله عنه اهل مكه گرفتاركړې دې او بيائی قتل کړې دې. حضورپاك دَانتقام اخستلو او كافرانوسره په جنگيدلوباندې دَ صحابه كرامو نه بيعت واخستلو روستومعلومه شوه چه حضرت عثمان رضي الله عنه صحيح سالم دې. دَدې بيعت لوئی فضيلت دې حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فرمائی چه "بايعناه على الموت" يعنى مونږ په دې باندې بيعت کړې وو چه دَعثمان رضي الله عنه بدله به اخلو کنې دَ خان بازی به لگوو.

[۶۲۲۸] داهل حديبيه فضيلت

۶۲۲۸-()[۲۳] ①«وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: كُنَّا يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ أَلْفًا وَأَرْبَعَمِائَةٍ، ② قَالَ لَنَا النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْتُمُ الْيَوْمَ خَيْرُ أَهْلِ الْأَرْضِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]

ترجمه: ① او حضرت جابر رضي الله عنه وايي د حديبيه په ورځ زمونږ تعداد يوهزار او څلور سوه ۱۴۰۰ وو ② او زمونږ متعلق رسول الله ﷺ فرمايلي وه نن ورځ تاسو په زمكې والو كې د ټولو نه ښه خلق ياست. (بخاري مسلم)

تسهیلات:

قوله: أَنْتُمُ الْيَوْمَ خَيْرُ أَهْلِ الْأَرْضِ:

په صحابؤ كښې فرق مراتب: دَدې حديث لاندې امام سيوطی رحمه الله ليكلی دی چه صحابه كرامو رضي الله عنهم كښې ① دَ ټولو نه افضل خلفاء اربعه دی. ② بيا عشره مبشره ③ بيا اهل بدر ④ بيا اهل احد ⑤ بيا اهل حديبيه.

[1] اخرجه البخاري فى كتاب المغازى/باب غزوة الحديبية (رقم-٤١٥٤) ومسلم فى كتاب الإمارة/باب استحباب مبايعة الإمام الجيش عند إرادة القتال، وبيان بيعة الرضوان تحت الشجرة (رقم-٧١ - (١٨٥٦)

[٦٢٢٩] د اصحاب بدر مرتبه

٦٢٢٩-(¹)[٣٣] ① وَعَنْهُ قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مَنْ يَصْعَدِ الثَّنِيَّةَ ثَنِيَّةَ الْمُرَارِ ② فَإِنَّهُ يُحَطُّ عَنْهُ مَا حُطَّ عَنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ فَكَانَ أَوَّلَ مَنْ صَعِدَهَا خَيْلُنَا خَيْلُ بَنِي الْخَزْرَجِ، ثُمَّ تَتَامَّ النَّاسُ ③ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: كُلُّكُمْ مَغْفُورٌ لَهُ إِلَّا صَاحِبَ الْجَمَلِ الْأَحْمَرِ ④ فَأَتَيْنَاهُ فَقُلْنَا تَعَالَ يَسْتَغْفِرْ لَكَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ⑤ قَالَ: لَأَنْ أَجِدَ ضَالَّتِي أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لِي صَاحِبُكُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت جابر ﷛ بيان كوي د حديبيه د سفر په دوران كې رسول الله ﷺ چې دا وفرمايل چې ټولو نه مخكې چې كوم خلق هغه ثنية المرار باندې وختل ② نو دهغه نه دومره ګناهونه معاف شي څومره چې د بني اسرائيلو ګناه معاف شوى وي نو د ټولو نه مخكې چې كوم خلق هغه ثنية المرار باندې وختل هغه زمونږ آسونه يعنى د قبيله خزرج آس سوار وو هغوئ نه وروسته مخكې وروسته ټول خلق وختل ③ نو رسول الله ﷺ وفرمايل تاسو ټول وبخښل شوئ علاوه د هغه سړي نه چې شور اوښ والا دې (يعنى د منافقانو سردار عبد الله بن ابي) ④ د حضور ﷺ دا ارشاد اوريدو سره مونږ هغه سور اوښ والا سړي (يعنى عبد الله بن ابي) ته ورغلو او هغه ته مو اوويل زمونږ سره راځه چې مونږ رسول الله ﷺ ته ستا په حق كې هم دبخښش او مغفرت درخواست وكړو ⑤ خو هغه بدبخت اوويل حقيقت دادى چې زه خپل ورك شوى شى پيدا كړم نو دا خما په نزد د هغه خبرې نه زيات خوښ او عزيز دى چې ستاسو صاحب زما د پاره بخښش او مغفرت وغواړي. (مسلم)

حل اللغات:- ① يَصْعَدُ: دا د صعود نه دې د ختلو په معنى كښې دې. ② ثَنِيَّةَ: هِيَ الطَّرِيقُ الْعَالِي فِي الْجَبَلِ: د دووغرونو په مينځ كښې اوچتې لارې ته ثنية وائى. ③ الْمُرَار: وَهُوَ مَوْضِعٌ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْحُدَيْبِيَةِ مِنْ طَرِيقِ الْمَدِينَةِ: د مكې او حديبيه په مينځ كښې د مدينې په لار كښې د يو ځائى نوم دې. (دا كنده هم دغه ځائى طرف ته منسوب ده. په دې وجه ورته ثنية المرار اوونيلې شو) ④ يُحَطُّ: أَيْ يُوضَعُ عَنْهُ: رجيږي. غورځيږي (يعنى معاف كيږي) ⑤ صَاحِبَ الْجَمَلِ الْأَحْمَرِ: د سور اوښ د مالك مغفرت به نه كيږي (يعنى عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أُبَيٍّ رَيِيسُ الْمُنَافِقِينَ) ⑥ ضَالَّتِي: خپل ورك شوي څيز (يعنى اوښ يا اس وغيره)

① وَذُكِرَ حَدِيثُ أَنَسٍ قَالَ لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ «إِنَّ اللَّهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ فِي بَابٍ بَعْدَ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ».

ترجمه: ① او د حضرت انس ﷛ حديث قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ إِنَّ اللَّهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَءَ عَلَيْكَ فضائل قرآن نه وروسته والا باب كې نقل شوي دي (يعنى صاحب مصابيح دا حديث هلته دى باب كې نقل كړى وو ليكن دې حديث كې د قرآن كريم ذكر وو ځكه مؤلف مشكوٰة دا هلته نقل كړ).

¹) اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم رقم الحديث ٣٨٦٣ ومسلم في صحيح رقم الحديث ٢٨٨٠

تسهیلات:

قوله: مَنْ يَصْعَدِ الثَّنِيَّةَ ثَنِيَّةَ الْمُرَارِ:

د حدیث پس منظر: په شپږمه هجری کښې حضورپاك دعمرې دپاره مکې ته روان شو. خوچه کله دوی د حدیبیه مقام ته اورسیدل نود قریشوکافرانودوی دعمرې کولونه منع کړل. دا ځان له یو تفصیلی قصه ده. لیکن په زیربحث حدیث کښې چه کومه تذکره ده هغه دا چه ثنیة المرار یوسخته تیریدونکې اوچته غونډئی وه. حضورپاك ته اندیښنه وه چرته دَدې شاته د قریشوکافرانو مورچه نه وی جوړه کړې اوناځاپی حمله کولوسره نقصان اونه کړی. په دې وجه حضورپاك دترغیب په توګه اود انعام په توګه دا اوفرمائیل که په دغه غونډئی څوك اوخیژی اود دښمن حال احوال معلوم کړی نودهغه به دومره ګناهونه ختم شی څومره ګناهونه چه د بنی اسرائیلو معاف شوې وو.

قوله: فَإِنَّهُ يُحَطُّ عَنْهُ مَا حُطَّ عَنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ:

د بنی اسرائیلو دګناهونومعاف کیدو سره د تشبیه ورکولومطلب: په تاریخ کښې دَدې هیڅ پته نه لګی. نوعلماء کرامو جواب ورکړې دې چه بنی اسرائیلوته الله تعالی په اریحا ښارکښې دَداخلیدلوحکم ورکړې وو اوفرمائیلې وو چه که تاسوبه عاجزئی او سادګئی سره توبه کونکی د حطة نعره لګولوسره سر ښکته داخل شئی نو وعده ده چه ستاسو ګناه به معاف کړم. بنی اسرائیلو په دغه وعده باندې عمل اونه کړو اوبه اریحاکښې داخلیدو وخت کښې د سجدې په ځائی په کوناتو خوئیدونکی داخل شو اود حطة په ځائی د حنطة الفاظ ونیل شروع کړه الله تعالی هغوی ته سزا ورکړه.

دلته حضورپاك ماحط عن بنی اسرائیل په الفاظوسره دهغوی د ګناه معاف کیدوطرف ته اشاره کړې ده چه که بنی اسرائیلودغه وعده پوره کړې وه نودهغوی ټول ګناهونه به معاف کیدل مګرهغوی داسې اونه کړل اووعده خلافی ئی اوکړه. لهذا په تاسوکښې چه کوم یوسړې ثنیة المرار باندې ختلوسره د دښمن حال احوال معلوم کړی دهغه ټول ګناهونه به معاف کړې شی.

قوله: ثُمَّ تَتَامَّ النَّاسُ:

د مذکوره جملې مطلب: دا صیغه د تمام په معنی کښې ده. ای تتابع یعنی دې نه پس خلقو په ګنړشمیرکښې اتباع کولوسره لاړل. حضورپاك زیرې ورکړو چه که څوك په دې کښې لاړل ټول په ټول دهرې ګناه نه پاك شو.

صاحب الجمل الاحمر نه څوک مراد دی:

قوله: إِلَّا صَاحِبَ الْجَمَلِ الْأَحْمَرِ:

د صاحب الجمل الاحمر څخه مراد: دَ سور اوښ دَمالك نه رئیس المنافقین عبد الله بن ابی ابن سلول مراد دی. حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی مونږ هغه ته اووئیل چه راشه او دَحضور پاك نه دَ استغفار دعا اوغواړه. په جواب کښې عبد الله بن ابی ابن سلول اووئیل زما اوښه ورکه شوې ده زه هغه لټوم که چرې ماته زما ورکه شوې اوښه ملاؤشوه نو هغه زما دَپاره دَدې نه زیاته بهتره ده چه ستاسو نبی زما دَپاره استغفار اوکړی.

قوله: صَاحِبُکُمْ:

د کافرانو د اصطلاح استعمال: چه هغه وخت کومه اصطلاح وه دا به کافرانو استعمالوله. هغوی به مسلمانانو ته وئیل چه دا نبی ستاسو مشر دې او لوئی دې زمونږ نه دې. دې منافق هم هغه دَ کافرانو اصطلاح استعمال کړه.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٦٢٣٠] د شیخینو او ابن مسعود رضی الله عنه فضیلت

٦٢٣٠-() [٣٥] [١] عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ [٢] «اقْتَدُوا بِاللَّذَيْنِ مِنْ بَعْدِي مِنْ أَصْحَابِي أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ [٣] وَاهْتَدُوا بِهَدْيِ عَمَّارٍ [٤] وَتَمَسَّكُوا بِعَهْدِ ابْنِ أُمِّ عَبْدٍ. [٥] وَفِي رِوَايَةِ حُذَيْفَةَ: مَا حَدَّثَكُمُ ابْنُ مَسْعُودٍ فَصَدِّقُوهُ) بَدَلَ (وَتَمَسَّكُوا بِعَهْدِ ابْنِ أُمِّ عَبْدٍ») رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [٢] تاسو د هغه دواړو پیروي کوئ چې څما د صحابه رضی الله عنهم نه دی او زما نه وروسته به خلیفه وي او هغه ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه دی [٣] د عمار بن یاسر رضی الله عنه سیرت او د هغه نقش قدم اختیارولو سره سیده لاري باندې خي [٤] او د ام عبد د خوی عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه عهد مضبوط ونیسئ [٥] او په یوه دویم روایت کې چې حضرت حذیفه رضی الله عنه نه روایت دی د ام عبد د خوی عهد مضبوط ونیسئ په ځاي دا الفاظ دي چې: ابن مسعود رضی الله عنه تاسو ته کوم حدیث بیان کړي او د دین احکام او مسائلو سره متعلق کومي خبري درته بنایي په هغه کې هغه ریشتني ګڼئ. (ترمذي)

حل اللغات:- ① اقْتَدُوا: اقتداء او تابعداری کوئ (یعنی زمانه پس دَ شیخین اقتدا کوئ). ② اهْتَدُوا: أي سِيرُوا: روان شئ. څئ یعنی تابعداری کوئ (د اقتداء او اهتداء معنی یوه ده. خو فرق صرف دادې چه اقتداء عام ده قول او فعل دواړو ته شامل ده. او اهتداء خاص ده فعل سره). ③ تَمَسَّكُوا: مضبوط اونیسئ یعنی عمل اوکړئ ④ بِعَهْدِ: أي بِوَصِيَّةٍ: دَعهد نه وصیت او نصیحت او دینی احکام او مسائل مراد دی.

[١] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب عمار بن یاسر وکنیته أبو الیقظان رضی الله عنه(رقم-٣٧٩٩) وابن ماجه فی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل أبی بکر الصدیق رضی الله عنه(رقم-٩٧)

تسهيلات:

قوله: اقْتَدُوا بِاللَّذَيْنِ مِنْ بَعْدِي مِنْ أَصْحَابِي أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ:

د ابوبکراوعمر رضی الله عنهما خلافت ته اشاره: حضورپاك په څو اشارو اوبعضې تصريحاتو کښې دَ حضرت صديق اکبر اوحضرت عمر رضي الله عنهما خلافت بيان کړې دې. په دې حديث کښې هم واضحه اشاره ده.

قوله: بِعَهْدِ ابْنِ أُمِّ عَبْدٍ:

د عبدالله مسعود رضی الله عنه عظمت: په يوبل حديث کښې دی "ماحدثکم ابن ام عبد فصدقوة". يوروايت کښې دی چه حضورپاك فرمائيلی "رضيت لامتي مارضي به ابن ام عبد" دَ زير بحث حديث دَدې قسم نورو روايتونو دَ وجې نه حضرت امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله خپل اجتهادی مسائل او دَ فقه بنياد دَحضرت ابن مسعود رضي الله عنه روايات او دَهغه په ترجيحاتو باندې کيخودې دې. حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دَ شيخين خلافت بغير دَ شك شبه کولوقبول کړې وو.

[٦٢٣١] د عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه د امارت استحقاق

> ٦٢٣١-() [٣٦] [١] وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[٢] «لَوْ كُنْتُ مُؤَمِّرًا مِنْ غَيْرِ مَشُورَةٍ [٣] لَأَمَّرْتُ عَلَيْهِمُ ابْنَ أُمِّ عَبْدٍ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.[1]

ترجمه: [١] او حضرت علي کرم الله وجهه بيان کوي چې په يوه موقعه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي وه [٢] که ما د مشوري نه بغير څوك امير او حاکم جوړولای [٣] نوبه خلقو امير او حاکم به مي د أمّ عبد خوی يعنی عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه جوړ کړی وو. (ترمذي ابن ماجه)

حل اللغات:- ① مُؤَمِّرًا: امير جوړونکې، أَيْ: جَاعِلَ أَحَدٍ أَمِيرًا: يعنی که ما څوک امير. حاکم جوړولې.

تسهيلات:

قوله: لَوْ كُنْتُ مُؤَمِّرًا مِنْ غَيْرِ مَشُورَةٍ:

د عبدالله بن مسعود د رائې د صحت دليل: يعنی که دَعام مشوره نه بغيرڅوك په يوکارباندې اميرمقررکولو نودَ ابن مسعود رضي الله عنه دکمالاتو اوصفاتو په رڼاکښې به ئی هغه اميرجوړولو.

دحديث په مطلب اشکال: دَ حضورپاك دَ وفات نه پس خلفاء اربعه اميران جوړ کړې شو. حضرت ابن مسعود رضي الله عنه کله هم اميرنه دي جوړشوې نودَ زير بحث حديث څه مطلب دې؟

[1] اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب عبد الله بن مسعود رضي الله عنه (رقم-٣٨٠٩) وابن ماجه في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل عبد الله بن مسعود رضي الله عنه (رقم-١٣٧)

۱۵اشکال جواب: حضورپاك دَخپل وفات نه پس دَ امارت طرف ته اشاره نه ده کړې بلکه په دې کښې امیرعام په ځائې دَ یوبل امارت طرف ته اشاره ده لکه څنګه چه جهادی مهمات اوغزواتو په تشکیل کښې یو کس امیرجوړولې شی. مطلب دادې چه که عام مشوره نه وې نوزما رائې به دا وې چه هم ابن مسعود رضی الله عنه دَ جماعت امیر جوړ کړنی.

[٦٢٣٢] د ابن مسعود رضی الله عنه فضیلت د ابوهریره رضی الله عنه په ژبه

٦٢٣٢-(ا) [٣٧] [١] وَعَنْ خَيْثَمَةَ بْنِ أَبِي سَبْرَةَ قَالَ: [٢] أَتَيْتُ الْمَدِينَةَ فَسَأَلْتُ اللَّهَ أَنْ يُيَسِّرَ لِي جَلِيسًا صَالِحًا فَيَسَّرَ لِي أَبَا هُرَيْرَةَ، فَجَلَسْتُ إِلَيْهِ [٣] فَقُلْتُ: إِنِّي سَأَلْتُ اللَّهَ أَنْ يُيَسِّرَ لِي جَلِيسًا صَالِحًا فَوُفِّقْتَ لِي. [٤] فَقَالَ: مِنْ أَيْنَ أَنْتَ؟ قُلْتُ: مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ، جِئْتُ أَلْتَمِسُ الْخَيْرَ وَأَطْلُبُهُ. [٥] فَقَالَ: أَلَيْسَ فِيكُمْ سَعْدُ بْنُ مَالِكٍ مُجَابُ الدَّعْوَةِ؟

ترجمه: [١] او حضرت خیثمه بن ابي سبرة رحمه الله چې کبار تابعین او ثقاتو کې دي بیان کوي [٢] چې زه کوم وخت مدیني ته راغلم نو ما د الله نه دعا وغوښتله چې ماته یونیك هم نشین میسر حاصل شي (یعني ماته یوداسي نیك بخت حاصل شي چې د هم نشین جوړیدو کامل استعداد او صلاحیت لري او د هغه د هم نشیني نه استفاده کیدی شي) نو حق تعالی د حضرت ابوهریره په شان هستي زما دپاره میسر وفرمایله چې د هغه صحبت او هم نشیني ما اختیار کړه او د استفادي په غرض د هغه په خدمت کې حاضري مي کوله، [٣] ما یوه ورځ هغه ته عرض وکړو چې ما د الله جل جلاله نه دعا غوښتي وه چې ماته یو هم نشین حاصل شي او الله جل جلاله خما دعا قبلولو سره ستاسو په شان همنشین ماته عطا کی [٤] حضرت ابوهریره رضی الله عنه زما نه پوښتنه وکړه ته د کوم ځاي اوسیدونکی یي ماعرض وکړو زه د کوفي اوسیدونکی یم او کوفي نه دلته ځکه راغلی یم چې د نیك او بابرکت همنشین په ذریعه د خیر لټونکي او خپل نفس د پاره د خیر طلبګار یم په دي اوریدو سره [٥] حضرت ابوهریره رضی الله عنه وفرمایل ایا ستاسو په منځ کې یعني ستاسو په ښار کې سعد بن مالك رضی الله عنه نشته چې مستجاب الدعوات دی

حل اللغات:- ① فَوُفِّقْتَ: أَيْ جُعِلْتَ أَنْتَ مُوَافِقًا: یعني ته زما دپاره موافق او میسرکړې شوې، ته ماته ملاؤ شوې ② أَلْتَمِسُ: تلاش کوم، طلب کوم. ③ الْخَيْرَ: أَيِ: الْعِلْمَ الْمَقْرُونَ بِالْعَمَلِ: دَ خیر نه مراد هغه علم دې چه عمل هم ورسره وی یعني علم سره د عمل نه.

[١] وَابْنُ مَسْعُودٍ صَاحِبُ طَهُورِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَنَعْلَيْهِ؟ [٢] وَحُذَيْفَةُ صَاحِبُ سِرِّ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -؟ [٣] وَعَمَّارٌ الَّذِي أَجَارَهُ اللَّهُ مِنَ الشَّيْطَانِ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -؟ [٤] وَسَلْمَانُ صَاحِبُ الْكِتَابَيْنِ؟ يَعْنِي: الْإِنْجِيلَ وَالْقُرْآنَ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] آیا ستاسو په منځ کې عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه نشته چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د

---

[١] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب عبد الله بن مسعود رضى الله عنه (رقم-٣٨١١)

خادم خاص حیثیت سره سفر او حضر کې د رسول الله ﷺ مسواك او څپلی مبارکي او تکیه او بتك وغیره به یې د خان سره ساتل [۲] آیا په تاسو کې حذیفه رضی الله عنه نشته چې منافقینو وغیره سره متعلق د رسول الله ﷺ صاحب راز وو[۳] آیا په تاسو کې د عمار رضی الله عنه په شان هستي نشته چې الله جل جلاله د خپل رسول ﷺ د ژبې مبارکي په ذریعه د شیطان نه امن او تحفظ ورته ورکړي وو[۴] او آیا ستاسو په منځ کې سلمان فارسي رضی الله عنه نشته چې د دوو کتابونو یعنی انجیل او قرآن منونکی دی هرکله چې د خیر او برکت او علم وفضل لرونکی لوی لوی هستي ستاسو په ښار کې موجود دی نو محض د صحبت او همنشیني په ذریعه طلب خیر او استفاده علم له خاطره خپل ښار پریښودلو سره دلته د راتلو ضرورت نه وو. (ترمذي)

حل اللغات: -[۴] أَجَارَهُ اللهُ: أَيْ: أَنْقَذَهُ وَخَلَّصَهُ: بچ کړي او خلاص کړي وو هغه لره الله پاك (یعنی عمار رضی الله عنه).

تسهیلات:

قوله: أَلْتَمِسُ الْخَيْرَ:

د خیر مصداق: دَ خیر نه مراد هغه علم دې چه عمل سره مقرون وی. کوم چه الله تعالی په خپل کلام پاك کښې دَحکمت په لفظ سره تعبیر کړې دې. ﴿وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا﴾

قوله: وَسَلْمَانُ صَاحِبُ الْكِتَابَيْنِ:

د صاحب الکتابین مطلب: سلمان فارسی رضی الله عنه اول په انجیل باندې ایمان راوړې وو او په هغې به ئی عمل کولو کله چه قرآن نازل شو نو په هغې باندې ئی ایمان راوړو لکه چه سلمان فارسی رضی الله عنه دَ دواړو کتابونو منونکې شو.

[۶۲۳۳] د بعضې صحابو رضی الله عنهم فضیلت

۶۲۳۳-()[۳۸][۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[۲] «نِعْمَ الرَّجُلُ أَبُو بَكْرٍ نِعْمَ الرَّجُلُ عُمَرُ نِعْمَ الرَّجُلُ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ نِعْمَ الرَّجُلُ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ نِعْمَ الرَّجُلُ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ نِعْمَ الرَّجُلُ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ نِعْمَ الرَّجُلُ مُعَاذُ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه:[۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل[۲] ابوبکر رضی الله عنه هم ډیر ښه سړی دی عمر رضی الله عنه هم ډیر ښه سړی دی ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه هم ډیر ښه سړی دی اسید بن حضیر رضی الله عنه هم څه ډیر سړی دی ثابت بن قیس بن شماس هم ډیر ښه سړی دی معاذ بن جبل رضی الله عنه هم ډیر ښه سړی دی عمرو بن الجموح هم ډیر ښه سړی دی دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی.

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب معاذ بن جبل، وزید بن ثابت، وأبی، وأبی عبیدة بن الجراح رضی الله عنهم(رقم-۳۷۹۵)

تسهيلات:

قوله: نِعْمَ الرَّجُلُ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ:

د اسيد بن حضير رضی الله عنه مختصر تعارف: اسيد بن حضير دَ انصار مدينه نه دي اودَ قبيله اوس سره تعلق لری دَ بدر او احد په غزواتوکښې شريك شوې دې په مدينه کښې ۲۰ هجری کښې وفات شو.

قوله: نِعْمَ الرَّجُلُ مُعَاذُ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ:

د عمرو بن الجموح رضی الله عنه مختصر تعارف: سيدنا معاذبن عمرو الجموح دې هم دَ انصار مدينه نه دې. دوی دَ قبيله خزرج سره تعلق لرلو. دې هم په بيعت عقبه کښې خپل پلار سره حاضر وو او بدری دې. دوی خپل رور معاذ بن عفراء سره يو ځائی ابوجهل قتل کړو. دَ دوی انتقال دَحضرت عثمان رضي الله عنه په خلافت کښې شوې دې په حديث الباب کښې حضرت سرورکائنات صلى الله عليه وسلم دَ ډيروصحابه کرامو رضي الله عنهم منقبت او فضيلت بيان کړې دې

[۶۲۳٤] د درې صحابو داخليدو ته د جنت شوق

> ۶۲۳۳- ()[۳۹] ⑴ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ: ⑵ «إِنَّ الْجَنَّةَ تَشْتَاقُ إِلَى ثَلَاثَةٍ عَلِيٍّ وَعَمَّارٍ وَسَلْمَانَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ⑴ او حضرت انس رضي الله عنه بيان کوي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل ⑵ حقيقت دادی چې جنت د دريو سړو ډير مشتاق دی او هغه علي رضي الله عنه عمار سلمان فارسي رضي الله عنهم دی (ترمذي)

حل اللغات:- ① تَشْتَاقُ: أي: اشْتِيَاقًا كَثِيرًا: ډير زيات شوق لری

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الْجَنَّةَ تَشْتَاقُ:

دجنت په مصداق کښې دوه اقوال: ① لکه چه دا دريواړه کسان داسې جنتيان دی چه جنت پخپله هم دَدوی مشتاق دې اودَدوی انتظارکوی لکه چه ټول جنتيان دَ جنت طلب کونکی دی خودا دريواړه دَ جنت مطلوب دی

② بعضې ونيلی دی چه دَ جنت دَمشتاق کيدو نه مراد اهل جنت يعنی ملائکه او دَ حورو او غلمان مشتاق کيدل دی.

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب مناقب سلمان الفارسی رضی الله عنه (رقم-۳۷۹۷)

[٦٢٣٥]د حضرت عمار رضي الله عنه فضيلت

٦٢٣٥-()[٣٠]١ وَعَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: «اسْتَأْذَنَ عَمَّارٌ عَلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -٢ فَقَالَ: "ائْذَنُوا لَهُ مَرْحَبًا بِالطَّيِّبِ الْمُطَيَّبِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:١ او حضرت علي كرم الله وجهه بيان كوي چې يوه ورځ عمار رضي الله عنه د حضور ﷺ خدمت اقدس كې د حاضري اجازت طلب كړه ٢ نو رسول الله ﷺ وفرمايل دى دننه راولئ پاك او پاكيزه ته پخير راغلې (يعنى په خير راغلى يې ورته وفرمايل) (ترمذي)

حل اللغات:- ① مَرْحَبًا: مرحب مصدر ميمى دې بمعنى وسعت [أي أصاب القوم رحبا وسعة] دا لفظ هم ددې فعل مخذوف په وجه منصوب دې. ارحب يرحب رحبا ومرحبا (ددې معنى وسعت او فراختيا ده ② بِالطَّيِّبِ الْمُطَيَّبِ: دې كښې مبالغه ده، يعنى ډير زيات پاك، ③ الطَّيِّبِ چه د ذات په اعتبار سره پاكيزه وى، ④ الْمُطَيَّبِ چه د صفاتو. عاداتو او اخلاقو په اعتبار سره پاكيزه وى. (يعنى حضرت عمار رضي الله عنه ظاهراً او باطنًا پاكيزه انسان دې.)

تسهيلات:

نوټ: په حديث كښې د ګرانو لغاتو حل شوې دې باقى مضمون آسان دې

[٦٢٣٦] سخت كار ته غاړه وركول او عمار رضي الله عنه

٦٢٣٦-()[٣١]١ وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -٢ «مَا خُيِّرَ عَمَّارٌ بَيْنَ أَمْرَيْنِ إِلَّا اخْتَارَ أَشَدَّهُمَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:١ او بي بي عائشه رضي الله عنها بيان كوي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ٢ عمار رضي الله عنه ته چې كله دوو كارونو كې د يو كار اختيار وركول شو نو هغه هميشه سخت ترين او مشكل كار اختيار كړ. (ترمذي)

حل اللغات:- ① أَمْرَيْنِ: د امر تثنيه ده، دوه كارونه، ② أَرْشَدَهُمَا: أَيْ: أَصْلَحَهُمَا: ډير ښه يا آسان (په يو روايت كښې أَشَدَّهُمَا دې. ددې معنى دا أَيْ أَصْعَبَهُمَا: مشكل او سخت كار.

تسهيلات:

قوله: أَرْشَدَهُمَا:

تعارض: په يو روايت كښې "ايسرهما" دې يعنى آسان كار به ئې اختيارولو په دې دواړو روايتونو كښې په ظاهره تعارض معلوميږي.

[١] اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب عمار بن ياسر وكنيته أبو اليقظان رضى الله عنه(رقم-٣٧٩٨) وابن ماجه في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل عمار بن ياسر (رقم-١٤٦)

[٢] اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب سعد بن معاذ رضى الله عنه (رقم-٣٨٤٧)

دتعارض جواب: "اشدهما" تعلق دحضرت عمار ؓ ذات سره دې چه هغه دزيات ثواب د حاصلولو په غرض سره د يرزيات سخت كار دخپل ذات دپاره اختيارولو ليكن د نورو اشخاصو په اعتبارسره به ئې آسان كار اختيارولو دې دپاره چه دنورو خلقودپاره هغه كار د مشقت سبب جوړنه شي.

[۶۲۳۷]فرشتې اود سعدبن معاذ ؓ جنازه پورته كول

۶۲۳۷-()[۳۲]①وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: لَمَّا حُمِلَتْ جِنَازَةُ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ②قَالَ الْمُنَافِقُونَ: مَا أَخَفَّ جِنَازَتَهُ،③وَذٰلِكَ لِحُكْمِهِ فِي بَنِي قُرَيْظَةَ فَبَلَغَ ذٰلِكَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -④«فَقَالَ إِنَّ الْمَلَائِكَةَ كَانَتْ تَحْمِلُهُ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:① او حضرت انس ؓ بيان كوي هركله چې د حضرت سعد بن معاذ ؓ جنازه اوچتولو سره خلق روان شول (او هغوئ ته هغه جنازه سپكه معلومه شوه)② نو منافقانو اوويل چې د ده جنازه څومره سپكه ده③ او دومره سپكه د هغه فيصلې په وجه ده چې هغه د بنوقريظه باره كې كړې وه④ د منافقانو داخبره چې رسول الله ﷺ ته ورسيده: نو رسول الله ﷺ وفرمايل د هغه جنازه فرشتو پورته كړې وه. (ترمذي)

حل اللغات:- ① حُمِلَتْ: أَيْ: لَمَّا حَمَلَهَا النَّاسُ: يعنى كله چه اوچته كړې شوه ② مَا أَخَفَّ: څومره سپكه ده (يعنى دحقارت اوسپكاوى په نظرسره ئې اوكتل).

تسهيلات: قوله: لِحُكْمِهِ فِي بَنِي قُرَيْظَةَ:

د حديث پس منظر: بنوقريظه په مدينه كښې اوسيدونكې د بااثر يهوديانو د يوې قبيلې نوم دې. دحضرت سعد بن معاذ ؓ د هغه خلقو سره پخوانى تعلقات وو. د جنګ خندق نه پس چه كله د دغه يهوديانو نه محاصره اوشوه نوهغوى حضرت سعدبن معاذ ؓ خپل حكم اومنلو چه دې كومه فيصله اوكړى مونږ ته به منظور وى. هغوى راغله اود تورات مطابق ئې فيصله واوروله چه ښځې بوډاګان او ماشومان غلامان جوړ كړې او جنګ كونكې خوانان قتل كړئ. كله چه دا فيصله نافذ شوه نومنافقان ډير ناراض شو. كله چه د حضرت سعدبن معاذ ؓ انتقال اوشو اوجنازه اوچته كړې شوه نومنافقانو وئيل د حضرت سعد ؓ جنازه درنه نه ده بلكه سپكه ده لكه چه دده په ايمان كښې فرق راغلې دې ځكه چه هغه دبنوقريظه باره كښې كومه فيصله كړې وه هغه ظالمانه فيصله وه. ددې خبرې د اطلاع په جواب كښې حضورپاك اوفرمائيل چه جنازه ځكه سپكه معلوميږى چه فرښتو جنازه اوچته كړې ده. وئيلې شى د دوى په جنازه كښې اويا زره فرښتې راغلې وې.

¹ اخرجه الترمذى فى السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أبى ذر الغفارى رضى الله عنه (رقم-۳۸۰۱) وابن ماجه فى كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل أبى ذر (رقم-۱۵۶) واحمد فى المسند:۲/۱۷۵

[۶۲۲۸] دابوذر رضي الله عنه د صداقت ستائنه

۶۲۲۸ - (۱) [۳۳] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَا أَظَلَّتِ الْخَضْرَاءُ وَلَا أَقَلَّتِ الْغَبْرَاءُ أَصْدَقَ مِنْ أَبِي ذَرٍّ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه وايي ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل [۲] د ابوذر رضي الله عنه نه زيات د رينښتني ژبي سړي باندې نه شين آسمان سايه (سوري) کړيده او نه غبار الود (په ښاورو ککړ) زمکي د هغه نه زيات رينښتني سړی پورته کی. (ترمذي)

حل اللغات:- ① أَظَلَّتِ: دَ سوری کولومعنی کښې دې. ② الْخَضْرَاءُ: شين آسمان ته خضراء وائي. ③ أَقَلَّتِ: دادَ باب افعال نه دې، أَيْ حَمَلَتْ وَرَفَعَتْ: چه پورته کړی دی (دې زمکې يعنی په زمکه چه څه هم دی) ④ الْغَبْرَاءُ: أَيِ الْأَرْضُ: دَ دوړو زمکې ته غبراء وائی. ⑤ أَصْدَقَ: أَيْ: أَكْثَرَ صِدْقٍ: زيات رښتونی ته اصدق وائی.

تسهيلات:

قوله: أَصْدَقَ مِنْ أَبِي ذَرٍّ:

د حضرت ابوذر رضی الله عنه تعارف: ابوذرغفاری رضي الله عنه دَدې امت دَټولو نه زيات زاهد اوتارك الدنيا انسان وو. هغه به دَ يووخت نه بل وخت دَپاره خوراك ساتل جائزنه ګڼړل. په دې باندې به ئې خلق په چوکه وهل. دَاسلام نه مخکښې دَ حنفاء نه وو. حضرت اميرمعاويه رضي الله عنه سره په شام کښې څه موده پاتې دې. حضرت امير معاويه رضي الله عنه حضرت عثمان ته درخواست اوکړو چه دې مدينې ته راؤغواړی. کله چه حضرت ابوذرغفاری رضي الله عنه مدينې ته راغلونوحضرت به صحابه کرامو اوتابعينوسره دَزهدباره کښې جګړه کوله. حضرت عثمان رضي الله عنه هغوی ته دَمدينې نه يوخوميله بهر زبده مقام ته دَ تللو اووئيل هغوی لاړل اوهم هلته وفات شو اوهم هلته دفن دې. هغوی په زهد کښې دَ حضرت عيسٰی علیه السلام په شان وو.

[۶۲۲۹] په زهد کښې د ابوذررضی الله عنه عيسی عليه السلام سره مشابهت

۶۲۲۹-(۲) [۳۳] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] «مَا أَظَلَّتِ الْخَضْرَاءُ وَلَا أَقَلَّتِ الْغَبْرَاءُ مِنْ ذِي لَهْجَةٍ أَصْدَقَ وَلَا أَوْفَى مِنْ أَبِي ذَرٍّ [۳] شِبْهِ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ يَعْنِي فِي الزُّهْدِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوذر رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] څه داسې ويونکي

[1] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أبي ذر الغفاری رضی الله عنه (رقم-۳۸۰۱) وابن ماجه فی كتاب فی الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل أبي ذر (رقم-۱۵۶) واحمد فی المسند:۱۷۵/۲

[2] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب أبي ذر الغفاری رضی الله عنه (رقم-۳۸۰۲) وابن ماجه فی كتاب فی الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل أبي ذر (رقم-۱۵۶) واحمد فی المسند:۱۷۵/۲

باندې نه خو شين آسمان سورى وكړه او نه زمكې هغه پورته كړى چې ابوذر رضي الله عنه نه زيات ريښتني وي او الله او درسول الله د حق د ابوذر رضي الله عنه نه زيات اداكونكى وي[۳] هغه ابوذر رضي الله عنه چې د عيسى بن مريم مشابه دى يعنى په زهد كې (ترمذي)

حل اللغات:- ① ذِي لَهْجَةٍ: ذِي نُطْقٍ: خبرې كونكې (لهجة لسان يعنى ژبې ته هم وائى يعنى صاحب اللسان او خبرې په لسان كيږى نومطلب ئې شو صاحب كلام يعنى خبرې كونكې) ② أَصْدَقَ: أَيْ: أَكْثَرَ صِدْقٍ: زيات رښتوني ③ أَوْفَى: زيات وفا كونكې (يعنى خپله وعده اولوظ پوره كونكې) ④ الزُّهْدِ: مصدر دې، دنيا سره ډير زړه نه لګول يعنى د دنيا نه بې رغبته كيدل.

تسهيلات: قوله: وَلَا أَوْفَى مِنْ أَبِي ذَرٍّ شِبْهِ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ يَعْنِي فِي الزُّهْدِ:

عيسى عليه السلام سره په مشابهت كښې دوه اقوال: په دې حديث كښې د ابوذر رضى الله دويم صفت دا بيان شوې دې چې د آسمان دلاندې او زمكې دپاسه د ابوذررضى الله عنه پشان څوک پيدا شوې نه دى چې د عيسى عليه السلام سره مشابه وى.اوس د عيسى عليه السلام سره مشابهت په څه كښې دې نو په دې كښې دوه اقوال دى.

① دعيسى عليه السلام سره دابوذر رضى الله عنه مشابهت په زهد في الدنيا كښې وو اودا خبره رښتيا هم ده څكه چې ابوذر رضى الله عنه د نبى عليه السلام د وفات څخه روسته دوى د زهد اوګوشه نيشنى ژوند اختيار كړې وو آن تردې چې وفات ئې هم په صحرا كښې شوې وو.

② عيسى عليه السلام سره مشابهت په عاجزى كښې دې.اودا صفت هم په حضرت ابوذر رضي الله عنه كښې على وجه الكمال موجود وو.دا د هغوى د سيرت كتلو څخه معلوميږى.

[٦٢٤٠] د څلورو صحابوٓ د علم فوقيت

٦٢٤٠-(١)[٣٥] [١] وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ لَمَّا حَضَرَهُ الْمَوْتُ [٢] قَالَ الْتَمِسُوا الْعِلْمَ عِنْدَ أَرْبَعَةٍ عِنْدَ عُوَيْمِرٍ أَبِي الدَّرْدَاءِ، وَعِنْدَ سَلْمَانَ، وَعِنْدَ ابْنِ مَسْعُودٍ، [٣] وَعِنْدَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ الَّذِي كَانَ يَهُودِيًّا فَأَسْلَمَ "[٤] «سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ إِنَّهُ عَاشِرُ عَشَرَةٍ فِي الْجَنَّةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه نه روايت دى د هغه د مرګ وخت چې نزدې شو (نو وصيت يې وكړو) [٢] چې علم څلور سړو نه حاصلوئ عويمر رضي الله عنه نه چې د هغه كنيت ابودرداء رضي الله عنه دى سلمان فارسي رضي الله عنه نه او عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه [٣] اوعبدالله بن سلام رضي الله عنه نه چې مخكې يهودي وو او بيا اسلام يې قبول كړى [٤] ما رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې هغه عبد الله بن سلام د جنت د لس سړو نه لسم سړى دى. (ترمذي)

حل اللغات:- ① الْتَمِسُوا الْعِلْمَ: تلاش كړئ، طلب كړئ (علم د كتاب اوسنة يا علم د حلال اوحرام).

[1] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب عبد الله بن سلام رضى الله عنه (رقم-٣٨٠٤) واحمد فى المسند: ٢٤٣/٥

تسهيلات:

قوله: عَاشِرُ عَشَرَةٍ:

د عاشر عشرة په مفهوم کښې درې اقوال: ① په لسو کسانو کښې لسم کس دې. دَدې جملې مطلب دادې چه عبد الله بن سلام رضي الله عنه لکه چه لس کسان کوم چه عشره مبشره دی په هغوی کښې دَ یو په شان دې.

② عبد الله بن سلام رضي الله عنه په جنت کښې داخلیدونکو نه لسم سړې دې

③ دَیهودو کوم لوئی لوئی سرداران جنت ته ځی په هغوی کښې به یو عبد الله بن سلام رضي الله عنه وی

[٦٢٤١] د حذیفه رضي الله عنه او ابن مسعود رضي الله عنه فضیلت

٦٢٤١ - ()[٣٦]«-① وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ: لَوِ اسْتَخْلَفْتَ؟ ②قَالَ: إِنِ اسْتَخْلَفْتُ عَلَيْكُمْ فَعَصَيْتُمُوهُ عُذِّبْتُمْ ③وَلَكِنْ مَا حَدَّثَكُمْ حُذَيْفَةُ فَصَدِّقُوهُ وَمَا أَقْرَأَكُمْ عَبْدُ اللَّهِ فَاقْرَءُوهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت حذیفه بن الیمان رضي الله عنه بیان کوي یوه ورځ څو صحابه رضي الله عنهم اوویل یارسول الله! که تاسو پخپله صحابه وو نه څوك خپل خلیفه مقرر کړی وی نو ښه به وه یا دا معنٰی ده چې یارسول الله! که تاسو خپله څوك خپل خلیفه مقررولی نو هغه به څوك وو؟② حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل که زه څوك په تاسو باندې خپل خلیفه مقرر کړم او بیا تاسو د هغه نافرماني وکړئ نو په عذاب کې به ونیول شئ③ بیاهم زه تاسو ته وصیت کوم چې حذیفه رضي الله عنه تاسو ته څه اووائي یا کوم حدیث بیان کړي نو هغه ریښتني وګڼئ او عبد الله بن مسعود رضي الله عنه چې تاسو ته څه اووائي هغه اووایئ. (ترمذي)

حل اللغات:- ① لَوِ اسْتَخْلَفْتَ؟: ددې دوه مطلبه کیدې شی: ۱: که تاسو په صحابه ؤ کښې څوك خپل خلیفه مقرر کړې وې نو ښه به وه. ۲: که تاسو خپله څوك خپل خلیفه مقررولی نو هغه به څوك وو؟

② فَعَصَيْتُمُوهُ: بیا تاسو دهغه خلیفه نافرمانی اوکړئ

تسهيلات:

قوله: لَوِ اسْتَخْلَفْتَ:

د حدیث مطلب: یعنی صحابه کرامو سوال اوکړو چه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم که چرې تاسو دَخپل خان نه پس څوك خپل خلیفه مقررکړې نودابه ښه وی حضورپاك دَ اسلوب حکیم لاندې جواب ورکړو ستاسو دا سوال ښه نه دې اونه تاسو له په دې کښې دَ پریوتلو ضرورت شته. دادَ الله تعالی په لاس کښې دی هغه به په مناسب وخت کښې چه څوك مقرر کوی تاسو به هغه منلی اوستاسو به په هغه باندې اتفاق اوشی لیکن فرض کړه که څوك دَ اوس نه

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب مناقب حذیفة بن الیمان رضی الله عنه (رقم-۳۸۱۲)

خلیفه مقرر کړم او روستو ستاسو رائې دَهغه خلاف شی نوتاسو به په سخت عذاب کښې راګیرشئی. په دې وجه په دې سوال کښې مه پریوځئی مه دَ خلافت خبره کوئی بلکه دَ الله تعالی کتاب او دَ رسول الله ﷺ په مضبوطیاسره اونیسئی. کتاب او سنت خپلولو کښې دَ حذیفه او عبدالله بن مسعود رضی الله عنهما اقتدا کوئی. دَدې دوو تخصیص څکه او کړې شو چه حضرت حذیفه رضی الله عنه صاحب سر رسول الله وو او حضرت ابن مسعود رضی الله عنه په احکام شریعت کښې ممتاز حیثیت لرلو. په دې کښې دَ دواړو دَ فضیلت ذکر دې.

[۶۲۴۲] د محمد بن مسلمه رضی الله عنه د فتنو څخه حفاظت

۶۲۴۲-(۱) [۴۷] [۱] وَعَنْهُ قَالَ «مَا أَحَدٌ مِنَ النَّاسِ تُدْرِكُهُ الْفِتْنَةُ إِلَّا أَنَا أَخَافُهَا عَلَيْهِ [۲] إِلَّا مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ [۳] لَا تَضُرُّكَ الْفِتْنَةُ» رَوَاهُ أبوداؤد.

ترجمه: [۱] او حضرت حذیفه رضی الله عنه وایي هر کله چې دنیاوي بدآمني او انتشار او د مسلمانانو په منځ کې د اختلاف او افتراق فتنه خلق راګیر کړي نو ما سره خوف دی چې هیڅ سړی به د هغه د اثر نه محفوظ پاتې نشي [۲] علاوه د محمد بن مسلمه رضی الله عنه نه څکه چې ما د رسول الله ﷺ نه محمد بن مسلمه ته دا فرمایل اوریدلي دي [۳] چې فتنه به تاته ضرر نه رسوي دا روایت ابوداود نقل کړی دی او په دې باره کې سکوت اختیار کړی دی بیا هم نوموړي محدث عبد العظیم منذري رحمه الله داحدیث ثابت کړی دی.

حل اللغات:- ① تُدْرِكُهُ: راګیر کړی هغه لره، رالاندې کړی، ② الْفِتْنَةُ: آزمائش (دنیوی امتحانات).

تسهیلات:

قوله: أَنَا أَخَافُهَا عَلَيْهِ إِلَّا مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ:

د محمد بن مسلمه تعارف: حضرت محمد بن مسلمه رضی الله عنه انصاری خزرجی اشهلی، دَ اوچتې پایې صحابی دې. هغوی په مدینه منوره کښې دَحضرت مصعب بن عمیر رضی الله عنه په لاس باندې اسلام قبول کړې وو. دَ تبوك نه علاوه په ټولو غزواتو کښې شریك شوې دې او بعضې حضراتو لیکلی دی چه حضورپاك دَ غزوه تبوك په موقع باندې هم دې په مدینه کښې خپل خلیفه پریخودې وو. دَ حضورپاك په حکم باندې هغوی دَ خپل مینځ دَ اختلافاتو او دَ انتشار دَهرې فتنې نه خپله لمن بچ اوساتله. کله چه به هم داسې ناقابل برداشت موقع راتله حضرت محمدبن مسلمه رضی الله عنه به چرته ګوټ کښې کیناستو. او دغه شان به دَ فتنې اوفساد دَ شر او ضرر نه محفوظ پاتې کیدو. په اختلاف دَ روایاتو ۴۳ هجری یا ۴۶ هجری کښې وفات شو.

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب السنة/باب ما یدل علی ترک الکلام فی الفتنة (رقم-۴۶۶۳)

[٦٢٤٣] نبی علیه السلام او د عبد الله بن زبیر رضی الله عنهما تحنیک

٦٢٤٣ -() [٣٨] ① وَعَنْ عَائِشَةَ، «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَأَى فِي بَيْتِ الزُّبَيْرِ مِصْبَاحًا، ② فَقَالَ: يَا عَائِشَةُ مَا أُرَى أَسْمَاءَ إِلَّا قَدْ نُفِسَتْ ③ وَلَا تُسَمُّوهُ حَتَّى أُسَمِّيَهُ ④ فَسَمَّاهُ عَبْدَ اللَّهِ وَحَنَّكَهُ بِتَمْرَةٍ بِيَدِهِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او بي بي عائشه رضی الله عنها بيان کوي چې يوه شپه خلاف معمول رسول الله ﷺ د زبير په کورکي چراغ (ډيوه) بل اوليدله ② نو وي فرمايل اې عائشه رضی الله عنها خما خيال کې د بي بي اسماء رضی الله عنها بچى پيدا شوي دي ځکه چې د هغه په نزد ولادت نزدې وو او دا وقت خلاف معمول د چراغ (ډيوه) بليدل د دې خبرې علامه ده ③ تاسو خلق د دې بچي نوم مه ايږدئ تردې پورې چې زه يې نوم کيږدم ④ نو حضور ﷺ د هغه بچي نوم عبد الله کيښووى او د خرما په ذريعه د هغه تحنيك يې وکړو. (ترمذي)

حل اللغات: - ① مِصْبَاحًا: أَيْ: سِرَاجًا: ډيوه، چراغ، ② نُفِسَتْ: أَيْ: وَلَدَتْ وَصَارَتْ ذَاتَ نِفَاسٍ: ماشوم ئې شوې دې دنفاس بيمارى ئې شروع شوې ده (د حضرت اسماء رضی الله عنها) ③ حَنَّكَهُ: إِذَا مَضَغْتَ تَمْرًا أَوْ غَيْرَهُ، ثُمَّ دَلَكْتَهُ بِحَنَكِهِ: دَ تحنيك معنى ده کهجوره چوپولو سره دَماشوم په خله کښې ورکول يا په حلق پورې مږل.

تسهيلات:

قوله: وَحَنَّكَهُ بِتَمْرَةٍ بِيَدِهِ

د نو مولود تحنيک کول: کهجوره يا بل خوږ څيز په خله کښې چوپولو سره دَ نوى پيدا شوى ماشوم په خله کښې ورکول يا دَهغه تالو پورې لګول مستحب دى. دَدې حديث نه ملعومه شوه چه چاکره بچې پيدا شى نوهغه له پکار دى چه يو نيك صالح سړى باندې دَ هغه ماشوم نوم کيږدى او کهجوره يا شات او يا بل څه خوږ څيز سره دَهغه تحنيك اوکړى چه هغې سره دۀ ته برکت حاصل شى.

د عبدالله بن زبير پيدائش: حضرت زبير بن عوام رضی الله عنه دَ حضورپاك دَ ترور حضرت صفيه رضی الله عنها خوئى او دَ حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه خوم دې. دَ حضرت عائشه رضی الله عنها خور حضرت اسماء رضی الله عنها دَهغه په نکاح کښې وه. دَ لوئى قدر اومنزلت لرونکې صحابى دې او په عشره مبشره کښې هم دې.

حضرت عبدالله دَ حضرت زبير رضی الله عنه او دَ حضرت اسماء رضی الله عنها خوئى دې. سرکاردوعالم ﷺ دَهغوى کنيت دَهغوى دَ نيکه حضرت ابوبکر رضی الله عنه په کنيت باندې کيخودې وو اودَهغه نوم ئى هم دَنيکه په نوم باندې کيخودې وو.

[1] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب عبد الله بن الزبير رضى الله عنه(رقم-٣٨٢٦) واحمد فى المسند:٩٦/٦

نبی علیه السلام اوعبدالله بن زبیر تحنیک: دَ هجرت نه پس په مدینه کښې چه دَمهاجرینو کوم ځامن پیدا شو په هغوی کښې دَ ټولو نه وړومبې حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه ۱ھ کښې پیدا شوې وو. کله چه دې پیدا شو نوحضرت ابوبکر رضي الله عنه دَ ده په غوږ کښې اذان اوکړو. حضرت اسماء رضي الله عنها دې حضور پاك له راوستلو او دَ حضورپاك دَ برکت نه ډکه غیږ کښې ئې ورکړو. حضورپاك کهجوره راؤغوښتله او په خله کښې ئې اوچوپوله او بیائې دَهغه خله کښې ورکړه بیا ئې خپل مبارك لعاب دَ هغه په خله کښې ورکړل او دَهغه تحنیك ئې اوکړو. دغه شان دَعبدالله رضي الله عنه په خیټه کښې چه کوم څیز دَ اول نه داخل شو هغه دَ حضورپاك مبارك لعاب دهن وو. دې نه پس حضورپاك دَهغه دَپاره دَ خیراوبرکت دعا اوکړه.

[٦٢٤٤]معاویه رضی الله عنه ته د نبی علیه السلام دعا

٦٢٤٤-() [٣٩] [١]وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي عَمِيرَةَ عَنِ «النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -[٢] أَنَّهُ قَالَ لِمُعَاوِيَةَ:[٣] اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا وَاهْدِ بِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:[١] او حضرت عبد الرحمٰن بن ابي عميره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت کوي[٢] چې حضور ﷺ د حضرت معاويه رضي الله عنه په حق کې داسې دعا وکړله[٣] اې الله دې راه راست ښوونکی او راه راست پیدا کونکی جوړ کړي او دده په ذريعه خلقوته هدايت وکړي.(ترمذي)

حل اللغات:- ① هَادِيًا: أَيْ: مُرْشِدًا لِلنَّاسِ: نورو ته لاره ښودونکي (د جنت). ② مَهْدِيًّا: أَيْ مُهْتَدِيًا فِي نَفْسِهِ: په خپله هدايت حاصلونکي. ③ وَاهْدِ بِهِ: اوهدايت ورکړې په معاويه سره (د خير اود شر لار واضحه کولو ته هدايت واثې).

تسهیلات:

قوله: اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا وَاهْدِ بِهِ:

د معاویه رضی الله عنه دپاره د نبی علیه السلام درې دعاګانې: دَدې په شان یو حدیث مخکښې تیرشوې دې هلته پوره تفصیل په وضاحت سره شوې دې. بهرحال په حدیث الباب کښې هم رسول کریم ﷺ دَ معاویه رضي الله عنه دَ پاره درې دعاګانې کړې دی.

① امیرمعاویه دې خلقو ته هدایت ورکړی

② پخپله دې په هدایت باندې وی.

③ معاویه دې مکمل اواکمل دَ هدایت ذریعه وی. یو روایت کښې دی چه حضورپاك دعا اوکړه اې الله معاویه ته دَ کتاب اوحساب علم ورکړه. دې دَ عذاب نه بچ کړې. ده له په ښاریو باندې تسلط ورکړې. او په یو روایت کښې ئې فرمائیلی دی اې معاویه کله چه ته بادشاه جوړشې نو په خلقو باندې سختی مه کوه نرمی کوه.

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب معاویة بن أبی سفیان رضی الله عنه (رقم-٣٨٤٢) واحمد فی المسند: ٢١٦/٤

دمعاویه رضی الله عنه مختصرتعارف: دَحضرت علی ﷺ دَ وفات نه پس کله چه دَ سیدناحضرت حسن ﷺ او حضرت امیرمعاویه ﷺ په مینځ کښې صلح اوشوه نو ټول عالم اسلام حضرت معاویه ﷺ دَوخت خلیفه اومنلو او تقریبًا تر شلو کالو پورې امیرمعاویه ﷺ دَ ټولې اسلامی دنیا امیر اوخلیفه وو دَ رجب میاشت ۶۰هجری کښې دَهغوی انتقال اوشو په خپله آخری زمانه کښې به حضرت معاویه ﷺ دا ارمان کولو چه افسوس زه دَ قریشو دَ یو معمولی کس په شان ذی طویٰ کښې پروت وې اودَدې حکومت او خلافت هیڅ څیز مې نه لیدلو. حضرت معاویه ﷺسره دَ حضورپاك دَ تبرکاتو نه یو څادر، تهبد او یوقمیص اودَدې نه علاوه ویښته مبارك او نوکونه مبارك هم وو. په خپل آخری وخت کښې حضرت معاویه ﷺ وصیت کړې وو چه دَرسول کریم ﷺ په قمیص سره ماله کفن راکړئی او تهبند زما لنګ جوړکړئی او ویښته مبارك او څه نوکونه زما په مخ او پوزه باندې کیږدئی او څه زما دَ سجدو په ځائی باندې اوتړئی.

[۶۲۴۵] دعمروبن العاص دایمان ګواهی

۶۲۳۵-() [۵۰] ⓵ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ⓶ «أَسْلَمَ النَّاسُ وَآمَنَ عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ» ⓷ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ.[1]

ترجمه: ⓵ اوحضرت عقبه بن عامر ﷺ وایي چی رسول الله ﷺ وفرمایل ⓶ خلقو خو اسلام قبول کی او عمرو بن العاص ﷺ ایمان راوړی ⓷ دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یي دي چې داحدیث غریب دی او د دې اسناد قوي نه دی.

حل اللغات:- ① أَسْلَمَ: اسلام ئې قبول کړو (یعنی خلقو دجنګ نه پس ایمان ته غاړه کیښوده). ② آمَنَ: ایمان ئې راوړو (یعنی عمرو بن العاص ﷺ بغیر دجنګ نه په خپله رضا ایمان قبول کړو).

تسهیلات:

قوله: أَسْلَمَ النَّاسُ وَآمَنَ عَمْرُوبْنُ الْعَاصِ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① نورو خلقوسره خوجنګونه شوی نوبیا هغوی چرته مسلمانان شوی لیکن عمروبن العاص ﷺ خوبه رضا اورغبت سره پخپله مسلمان شوې. ② نورو خلقو ته دَ ایمان اواسلام دعوت ورکړې شوې لیکن عمرو بن العاص ﷺ دَ اسلام حقانیت اومحمدعربی ﷺ په نبوت باندې پوهه شو او په زړه کښې ئی دَ قبولیت اوایمان یوه جذبه راپیدا شوه او په منډه منډه مدینې ته راغلو اوایمان ئی قبول کړو.

---

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب عمرو بن العاص رضی الله عنه (رقم-۳۸٤٤) واحمد فی المسند: ٤/۱۵۵

دحدیث پس منظر: ونیلی شی چه د حبشه نجاشی هغوی ته اونیل چه حیرانتیاده ای عمرو! محمد ﷺ خوهم ستا د تره خوئی دې او ته د هغه د حقیقت لوحقانیت نه تراوسه پورې ناخبر وې؟ دمکې کافرانو حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه سفیرجوړولوسره حبشه ته لیګلې وو چه دمکې نه حبشه ته تختیدلې مسلمانان واپس راولې. هلته چه عمرو بن العاص رضي الله عنه په خپل مشن کښې ناکام شو نود الله تعالی د طرف نه د هغه په زړه کښې د ایمان نور په غورزنګونو شو او هغه ایمان راوړو. دغه شان هغه علی وجه البصیرة ایمان په دل وجان سره قبول کړو او په ډیره ښکلې طریقه سره حضورپاک سره د اسلام باره کښې خبرې اترې اوکړې. کیدې شی چه هم دې طرف ته اشاره وی چه نورو خلقو اسلام قبول کړو مګر عمروبن العاص رضي الله عنه ایمان راوړو.

[٦٢٤٦] دجابر رضي الله عنه پلارسره د الله تعالی بې حجابه خبرې کول

٦٢٤٦ - (١)[٥] ①«وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ لَقِيَنِي رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② فَقَالَ: يَا جَابِرُ، مَا لِي أَرَاكَ مُنْكَسِرًا؟③ قُلْتُ: اسْتُشْهِدَ أَبِي وَتَرَكَ عِيَالًا وَدَيْنًا. ④ قَالَ: أَفَلَا أُبَشِّرُكَ بِمَا لَقِيَ اللَّهُ بِهِ أَبَاكَ؟ قُلْتُ: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ. ⑤ قَالَ: مَا كَلَّمَ اللَّهُ أَحَدًا قَطُّ إِلَّا مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ ⑥ وَأَحْيَا أَبَاكَ فَكَلَّمَهُ كِفَاحًا، قَالَ: يَا عَبْدِي تَمَنَّ عَلَيَّ أُعْطِكَ.

ترجمه: ① او حضرت جابر رضي الله عنه بیان کوي یوه ورځ رسول الله ﷺ سره خما ملاقات وشو ② نو حضور ﷺ راته وفرمایل اې جابر! څه وجه ده چې زه تا غمجن وینم؟ ③ ما عرض وکړو یارسول الله! خما پلار غزوه احد کې شهید شوي دي او هغه یوه لویه کورني او قرضه پرینبي ده ګویا خما د پریشاني څواسباب پیداشوي دي ④ حضور ﷺ وفرمایل آیا زه تاته د هغه معاملې خبر درکولو سره تا خوشحاله نه کړم چې الله جل جلاله ستا پلار سره کړیده ما عرض وکړو چې هو یارسول الله! ماخوشخبري سره ضرور ونوازئ ⑤ حضور ﷺ وفرمایل الله جل جلاله چې کله هم چا سره کلام کړی دی د پردې حجاب د شا نه یې کړی دی ⑥ خو ستا پلار الله جل جلاله ژوندی کی او بیا هغه سره یې روبرو کلام وفرمایلې (یعنی د الله جل جلاله او ستا د پلار په منځ کې نه څه حجاب حائل وو او نه څه دویمه واسطه) او ورته یې وفرمایل اې خما خاص بنده! خما د فضل وکرم په سهاره ارزو وکړه (یعنی د کوم شي چې خواهش وي هغه زما نه وغواړه زه به یې تاته عطا کړم په دې اوریدو سره ستا پلار ګویاشو)

حل اللغات: - ① مُنْكَسِرًا: يَعْنِي: مَهْمُومًا حَزِينًا: یعنی خفه، غمجن او دلګیر زړه. ② عِيَالًا: بال بچ، اهل وعیال ③ كِفَاحًا: أَيْ مُوَاجِهًا عِيَانًا: مخامخ خبرو اترو ته وائی. ④ تَمَنَّ: آرزو او خواهش اوکړه

[١] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب: ومن سورة آل عمران (رقم-٣٠١٠) وابن ماجه فی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فیما أنکرت الجهمیة (رقم-١٩٠) واحمد فی المسند:٣/٣٦١

١قَالَ: يَا رَبِّ تُحْيِينِي فَأُقْتَلُ فِيكَ ثَانِيَةً.٢ قَالَ الرَّبُّ - تَبَارَكَ وَتَعَالَى -: إِنَّهُ قَدْ سَبَقَ مِنِّي أَنَّهُمْ لَا يُرْجَعُونَ فَنَزَلَتْ "﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا﴾ [آل عمران:١٦٩]» "الْآيَةَ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:١ اې څما ربه! زه خو بس داغواړم چې ما ژوندی کولو سره دنيا ته بيا ولېږه چې ستا په لار کې جهاد کولو سره يوواربيا ووژل شم (او ستا رضا او خوشنودي مزيد حاصلولو د پاره يوه بله وسيله هم راته حاصله شي)٢ الله ﷻ ورته وفرمايل په دې باره کې دا حقيقت ياد ساتل پکار دي چې څما دا حکم د مخکې نه نافذ دي چې څوك مړه شوي دي دنياته به واپس نه راځي (او بيا ستا د پلار او د أحد د نورو شهداوو په حق کې) دا آيت نازل شو چې د هغه ترجمه داده او کوم خلق چې د الله ﷻ په لار کې قتل شوي دي هغوئ باندې د مړو خيال مه کوئ الخ. (ترمذي)

حل اللغات:-⑤تُحْيِينِي: په معنی ددعا سره دې، أَيْ:أَحْيِنِي: ماله ژوند راکړه (چه ستا په لارکښې جهاد اوکړم).

تسهيلات:

قوله: وَأَحْيَا أَبَاكَ فَكَلَّمَهُ كِفَاحًا:

د عبدالله سره د الله تعالی خبرې کول: يعني ستا پلار چه په احد کښې شهيدشوې دې الله تعالی هغه ژوندې کړو اوبغيرد واسطه اوبغيرد قاصد هغه سره کلام اوکړو.معلومه شوه چه دَ احدشهيدانوسره الله تعالی کلام اوکړو مګر دَ پردې نه شاته ئې اوکړو. آيا صرف دَ حضرت جابر رضي الله عنه پلار عبدالله رضي الله عنه ئې پرده کښې دننه راؤغوښتلو اومخامخ ئې کلام اوکړو.

[٦٢٤٧] جابر رضي الله عنه دپاره پنځه ويشت ځله د مغفرت دعا غوښتل

٦٢٤٧ -(١) [٥٣]١وَعَنْهُ قَالَ: «اسْتَغْفَرَ لِي رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَمْسًا وَعِشْرِينَ مَرَّةً» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:١ او حضرت جابر رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ څما د پاره پنځويشت ځله د مغفرت دعا غوښتلې ده. (ترمذي)

تسهيلات: قوله: خَمْسًا وَعِشْرِينَ مَرَّةً:

د دعا په عدد کښې دوه احتمالات:① يو احتمال دادې چه هم يو ځل رسول الله ﷺ دَ حضرت جابر رضي الله عنه دَ پاره دَ مغفرت دعاپنځه ويش ځل اوغوښتله

② دويم احتمال دادې چه په مختلف وختونو او مختلف مواقع کښې پنځه ويش ځل دَمغفرت دعا اوغوښتله.

[١] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب جابر بن عبد الله رضى الله عنهما (رقم-٣٨٥٢)

[٦٢٤٨] د براء بن مالك رضي الله عنه منقبت

٦٢٣٨-(١) [٥٣] ١ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ «كَمْ مِنْ أَشْعَثَ أَغْبَرَ ذِي طِمْرَيْنِ لَا يُؤْبَهُ لَهُ ٣ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللّٰهِ لَأَبَرَّهُ مِنْهُمُ الْبَرَاءُ بْنُ مَالِكٍ»، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ.

ترجمه: ١ او حضرت انس رضي الله عنه وايي چې رسول كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل ٢ څومره خلق دي چې په ظاهره خو ببرسري په ګرځی او دوي زړي كپړي اغوستونكي وي او د خپل ظاهري حالت په سبب داسې حقير ګڼلی شي چې نه څوك د هغوئ پروا كوي او نه هغوئ طرف ته توجه كوي ٣ ليكن د هغوئ د باطن داحال وي كه هغوئ د الله په بهروسه قسم واخستی نو الله جل جلاله د هغوئ قسم رينبتيا كوي (يعنی كه هغه خلق قسم اخستو سره اووائي چې الله جل جلاله به داسې وكړي نو الله جل جلاله د هغوئ د قسم لحاظ ساتي او هغه شان كوي يا كه هغوئ د خپل څه كار په باره كې قسم اخستو سره اووائي چې مونږ به فلانی كار كوو نو الله جل جلاله د هغه ذرائع او اسباب ورته مهيا كوي او هغوئ ته د هغه كار كولو توفيق او طاقت وركوي) او داسې خلقو نه يو براء بن مالك رضي الله عنه هم دی دا روايت ترمذي رحمه الله او دلائل النبوت كې بيهقي نقل كړی دی

حل اللغات:- ① أَشْعَثَ: د دي جمع شُعْثٌ ده، وَهُوَ الْمُتَفَرِّقُ مِنَ الشَّعْرِ: سر ببرو ويښتو والا انسان ته وائی. ② أَغْبَرَ: د دي جمع غُبْرًا ده، وَهُوَ الَّذِي الْتَصَقَ الْغُبَارُ بِأَعْضَائِهِ: ګرد جن چه په اندامونو ئې خاوري دوړي لګيدلي وی ③ ذِي طِمْرَيْنِ: أَيْ صَاحِبِ ثَوْبَيْنِ خَلَقَيْنِ: شليدلي زړو كپړو ته وائی. دلته دوه زړي كپړو نه قميص او پرتوګ يا لنګ مراد دي. ④ لَا يُؤْبَهُ: د باب فتح نه يا د باب افعال نه دي، أَيْ لَا يُبَالَى بِهِ: څوك ئې هيڅ پرواه نه ساتي، هيڅ حيثيت نه وركوی. ⑤ لَأَبَرَّهُ: أَيْ لَأَمْضَاهُ: پوره ئې كړی يعنی قسم ورله الله تعالى رشتونې كړی (او حانث پكښې نه شي).

تسهيلات: قوله: لَا يُؤْبَهُ لَهُ:

دالله تعالى د نيكانو بندګانو يوصفت: يعنی چه داسې سړي وی چه په معاشره كښې هغه ته څوك اهميت نه وركوی بې نام او خراب حال وی هيڅ شمير كښې نه وی ليكن د الله تعالى په نيز د هغه دومره لوړ مقام وی كه چرې هغه پخپله قسم اوخوری نو الله تعالى هغه دغه قسم كښې رښتونې او برى الذمه جوړوی. هم د داسې كسانو نه يو براء بن مالك رضي الله عنه دي.

د براء بن مالك تعارف: حضرت براء بن مالك رضي الله عنه د حضرت انس رضي الله عنه حقيقی رور دي. د فضلاء صحابه كرامو نه دي. د عربو په نوموړو بهادرانو پهلوانانو كښې د هغه شمير كيږی احد او د دي نه پس په ټولو غزواتو كښې رسول الله صلى الله عليه وسلم سره شريك شوي. الله تعالى هغه ته دومره بهادری او طاقت وركړي وو چه په يوجنګ كښې هغه يوازې سل كافران جهنم ته رسولی وو. په جنګ يمامه كښې د اهم قلعه د فتح كولو د پاره هغه خپل ځان مسلح كړو او د

[1]) اخرجه الترمذي في السنن كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب مناقب جابر بن عبد الله رضي الله عنهما (رقم-٣٨٥٤) والبيهقي في دلائل النبوة رقم الحديث ٦/ ٣٦٨

مالوچو په بورئى كښې بند كړو اودَمنجنيق په ذريعه سره هغه قلعه ته دننه وراوغورزولو. هغه دننه اوجنګيدو او قلعه ئې فتح كړه. هغوى په ۲۰ هجرى شهيدشوې وو.

[۶۲۴۹]اهل بيت او انصار

۶۲۴۹-() [۵۴]۱وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲«أَلَا إِنَّ عَيْبَتِيَ الَّتِي آوِي إِلَيْهَا أَهْلُ بَيْتِي، ۳وَإِنَّ كَرِشِيَ الْأَنْصَارُ فَاعْفُوا عَنْ مُسِيئِهِمْ وَاقْبَلُوا عَنْ مُحْسِنِهِمْ» "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.

ترجمه:۱ او حضرت ابوسعيد خدري ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل۲ پوهه شئ خما خاص خلق او خما صاحب راز او امين چې د هغوئ په منځ كې زه تيكانه حاصلوم خما اهل بيت دى او خما ولي۳ او دوست انصار دى نو تاسو د دې انصارو خطاكارو د خطاګانو نه چشم پوشي كوئ او د هغوئ د نيكو كارو عذر قبلوئ دا روايت ترمذي نقل كړى دى او ويلي يې دي چې داحديث حسن صحيح دى.

حل اللغات:- ①عَيْبَتِيَ: أيْ: خَاصَّتِي: زما خاص خلق، رازدار ملګرى. ②آوِي: أيْ: أمِيلُ وَأَرْجِعُ: يعنى زه رجوع كوم، ځائې نيسم. (چاته چه په وخت دضرورت اوحاجت كښې رجوع كولي شي)، ③كَرِشِيَ: أيْ: بِطَانَتِي: يعنى انصار زما باطن دى په كوم كښې چه زړه ګرده او كولمې ټول هرڅه راځى.

تسهيلات: **قوله**: فَاعْفُوا عَنْ مُسِيئِهِمْ وَاقْبَلُوا عَنْ مُحْسِنِهِمْ:

دحديث الباب مخاطبينو كښې درې احتمالات:

① حديث الباب كښې خطاب ټول امت ته دې ② ياخلفاؤ ③ يا امراؤ ته خطاب دې

دانصاروباره كښې خصوصي وصيت: چه كه يو انصارى سړې دَ چا په ذاتى معامله كښې څه زياتې اوكړى اوهغه انصارى معذرت اوكړى نو دَ هغه معذرت قبول كړئى كه چرې هغه عذر اونه كړى نوبيا هم دَ هغه نيكئى مخې ته كړئى او هغه معاف كړئى اوهغه ته درګزر اوكړئى ځكه چه دا زمونږ دَ رسول ﷺ كوربانه دى. په دې حديث كښې هم دَ رسول كريم ﷺ دَ اهل بيتو او انصارو دَمحبت ذكر دې.

[۶۲۵۰]مؤمن اودانصارو سره بغض نه ساتل

۶۲۵۰-() [۵۵]۱وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ۲«لَا يُبْغِضُ الْأَنْصَارَ أَحَدٌ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ»۳، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

---

[1] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فى فضل الأنصار وقريش (رقم-۳۹۰۴) واحمد فى المسند:۸۹/۳

[2] اخرجه مسلم فى كتاب الإيمان/باب الدليل على أن حب الأنصار وعلى رضى الله عنهم من الإيمان وعلاماته، وبغضهم من علامات النفاق (رقم-۱۳۰ - (۷۶) والترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فى فضل الأنصار وقريش (رقم-۳۹۰۶) واحمد فى المسند: ۳۰۹/۱

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] څوک چې په الله او د قیامت په ورځ باندې ایمان لري هغه انصارو سره بغض او عداوت نه لري [۳] دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث حسن صحیح دی.

تسهیلات:

نوټ: په حدیث کښې د ګرانو لغاتو حل شوې دې باقي مضمون آسان دې.

[٦٢٥١] د ابوطلحه رضی الله عنه د قوم فضیلت

٦٢٥١-(١) [٥٦] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ، «عَنْ أَبِي طَلْحَةَ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] أَقْرِئْ قَوْمَكَ السَّلَامَ [۳] فَإِنَّهُمْ مَا عَلِمْتُ أَعِفَّةٌ صُبُرٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضی الله عنه خپل میرني شوئیلي پلار حضرت ابوطلحه رضی الله عنه نه روایت کوي د هغه بیان دی رسول الله ﷺ ماته فرمایلي وه [۲] چې ته خپل قوم ته زما سلام ورسوه [۳] ځکه چې د ځویوري ماته علم دی هغوئ پاکباز او صابر خلق دي. (ترمذي)

حل اللغات:- ① أَعِفَّةٌ: دَ عَفِيف جمع ده پاك خلق مراد دی چه دَ هرقسم سوال اوفحاشئي نه پاك وی. ② صُبُرٌ: دادَ صَابِر جمع ده میدان جهاد وغیره مشکلاتو کښې ثابت قدم او صبر کونکی خلق مراد دی.

تسهیلات:

قوله: مَا عَلِمْتُ:

د ما علمت نحوی تحقیق: په جمله کښې موصوله دې اودا جمله معترضه ده په "انهم" کښې ضمیر جمع دې دا حرف دَ ان دَپاره اسم دې او اعفة خبر دې.

[٦٢٥٢] د اهل بدر فضیلت

٦٢٥٢-(٢) [٥٧] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ: «أَنَّ عَبْدًا لِحَاطِبٍ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] يَشْكُو حَاطِبًا إِلَيْهِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَيَدْخُلَنَّ حَاطِبٌ النَّارَ. [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ: كَذَبْتَ، لَا يَدْخُلُهَا فَإِنَّهُ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا وَالْحُدَيْبِيَةَ»». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دی چې یوه ورځ د حاطب بن ابي بلتعه غلام د نبي ﷺ په خدمت کې راغې [۲] او حضور ﷺ ته یې د حاطب خلاف سخت شکایت وکی او هغه اوویل یارسول الله! (حاطب په ما ډیره سختي کوي) ځکه هغه به ضرور دوزخ ته ځي [۳] رسول الله ﷺ په دي اوریدو سره ورته وفرمایل ته دي خپله خبره کې چې حاطب رضی الله عنه به

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی فضل الأنصار وقریش (رقم-٣٩٠٢) واحمد فی المسند: ١٥٠/٣

[۲] اخرجه مسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل أهل بدر رضی الله عنهم وقصة حاطب بن أبی بلتعة (رقم-١٦٢ - (٢٤٩٥) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فیمن سب أصحاب النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-٣٨٦٥) واحمد فی المسند:٣٢٥/٣

ضرور دوزخ ته ځي دروغجن يي حاطب به دوزخ ته نه ځي ځکه چې هغه بدر او حديبيه کې شريك شوي دي. (مسلم)

حل اللغات:- ①يَشْكُو: شکايت ئې اوکرو.

تسهيلات:

قوله: يَشْكُو حَاطِبًا:

د غلام خپل مالک څخه شکايت کول: غلام داويناکول غوښتل چه حاطب به دوزخ ته ځي ځکه چه هغه دَ کافرانو دَپاره دَمسلمانانو جاسوسی کړې وه او هغه په ما باندې ظلم کوي. نو رسول کريم ﷺ اوفرمائيل چه هغه دوزخ ته نه شي تللې ځکه چه هغه په جنګ بدر او حديبيه کښې شريك شوي دې اودَ هغه باره کښې الله تعالى فرمائيلى دى چه دَ دې نه پس چه کوم عمل کوې نو ستا به مواخذه نه کيږي. په دې وجه الله تعالى دَهغه دَ جاسوسئ قصور معاف کړې دې اوترکومې پورې چه په تاباندې دَ ظلم خبره دد نو هغه ظلم نه شي کولې ته په غلطه ئې.

د شرکاء بدرته د الله تعالى مغفرت: په جنګ بدر او صلح حديبيه کښې چه کوم صحابه کرام موجود وو دَهغوی باره کښې يقينی او قوی اميد دې چه هغوی به دَ دوزخ دَ اور نه محفوظ وی چونکه حضرت حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه هم په بدر او حديبيه کښې شريك وو دَهغه باره کښې يقين سره وينا کول چه هغه به دوزخ ته ځی دروغ دی.

[۶۲۵۳]سلمان فارسي رضی الله عنه او اهل فارس

> ۶۲۵۳ -(۱) [۵۸]① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ: ﴿وَإِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُمْ﴾ [محمد: ۳۸]② قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَنْ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ ذَكَرَ اللَّهُ إِنْ تَوَلَّيْنَا اسْتُبْدِلُوا بِنَا، ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَنَا، ③ فَضَرَبَ عَلَى فَخِذِ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ، ثُمَّ قَالَ: هَذَا وَقَوْمُهُ، ④ وَلَوْ كَانَ الدِّينُ عِنْدَ الثُّرَيَّا لَتَنَاوَلَهُ رِجَالٌ مِنَ الْفُرْسِ»، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي يوه ورځ رسول الله ﷺ دا آيت وان تتولو يستبدل قوما غيركم ثم لايكونوا امثالكم تلاوت کی ② نو بعضې صحابه رضی الله عنهم عرض وکړو يارسول الله! هغه کوم خلق دي چې د هغوئ په باره کې الله جل جلاله فرمايلي دي که مونږ روګرداني وکړه نو هغوئ به زمونږ په ځاي ودرول شي او هغوئ به زمونږ په شان نه وي ③ په دي اوريدو سره حضور ﷺ د سلمان فارسي رضی الله عنه په ورنو خپل لاس مبارك ووهی او وي فرمايل هغه دا دي او دده قوم دي. ④ که دين د ثريا په بلندي هم وي نو دوئ اهل فارسو نه څومره خلق به دهغه ځاي نه دحاصلولو نه منع نشي. (ترمذي)

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی فضل العجم (رقم-۳۹۳۳)

حل اللغات:- ① يَسْتَبْدِلْ: په بدل كښې به راولى، ② أَمْثَالَكُمْ: په شان ستاسو. ③ اسْتُبْدِلُوابِنَا: هغوى به زمونږ په بدل كښې راوستلې شى. ④ الثُّرَيَّا: كهكشان ستوروته ثريا وائى په اوچتوالى كښې دې سره تشبيه وركولې شى. ⑤ الْفُرْسِ: مَنْ بَلَدُهُ فَارِسُ: د فارس اوسيدونكى.

تسهيلات:

قوله: فَضَرَبَ عَلَى فَخِذِ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ..الخ:

دې حديث كښې دَحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله فضيلت ثابت كيدې شى ځكه چه امام ابوحنيفه رحمه الله دَاهل فارس نه وو.

قوله: لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُمْ:

د نافرمانۍ په صورت كښې د بل قوم د راوستلو اعلان: په دې كښې حضرات صحابه كرامو ته خطاب دې كه چرې تاسو خلق دَ دين خدمت نه كوئى نو ستاسو په ځائى به الله پاك دَ بل قوم نه دَ دين خدمت واخلى. ستاسو دين ته ضرورت دې دَدين تاسو ته ضرورت نشته دې. بيا صحابه كرامو سوال اوكړو چه هغه به كوم خلق وى چه زمونږ نه پس به دين سنبال كړى نو حضورپاك حضرت سلمان فارسى رضي الله عنه اودَ هغه قوم طرف ته اشاره اوكړه.

قوله: مِنَ الْفُرْسِ:

د فرس په مصداق كښې څلور اقوال: ① دې څخه مطلق عجم يعنى غير عرب مراد دى.
② دې څخه هغه خلق مراد دى دَ چا ژبه چه فارسى وه
③ دې څخه هغه خلق مراد دى دَ چا چه نسلى او وطنى تعلق دَ فارس (ايران) سره وو
④ دې څخه سيدالائمه امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله مراد دې.

دعجمو خدمات: كه په تاريخ باندې نظر واچولې شى نود خيرالقرون څخه روسته چې د دين اسلام كوم خدمت بالخصوص داحاديثو كوم خدمت عجمى كړې دې دا عربو نه دې كړې صحاح سته راواخله ددې مصنفين عجم دى. دغه شان په نورو مختلفو اليه فنونوكښې عجمو د خپل قابليت شمع روښانه كړې ده.

[٦٢٥٤] په عجميانو د نبى عليه السلام اعتماد

٦٢٥٣-(١) [٥١] [١] وَعَنْهُ «قَالَ: ذُكِرَتِ الْأَعَاجِمُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ: لَأَنَا بِهِمْ أَوْبِبَعْضِهِمْ أَوْثَقُ مِنِّي بِكُمْ أَوْبِبَعْضِكُمْ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي يوه موقع باندې د رسول الله صلى الله عليه وسلم مخكې د عجمي خلقو ذكر وشو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [٢] چې د دې دين د حفاظت او دياتـداري په معامله كې ددې عجمي خلقو ياپه دوئ كې بعضې خلقو باندې تاسو اهل عربو نه يا

[١] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب فى فضل العجم (رقم-٣٩٣٢)

ستاسو د بعضي خلقو نه زيات اعتماد او بهروسه لرم. (ترمذي)

حل اللغات:- ① اَلْأَعَاجِمُ: د عجم اوسيدونكي (غير عرب). ② أَوْثَقُ: أَيْ: أَرْجَى فِي الْإِعْتِمَادِ: زيات اعتماد والا.

تسهيلات: قوله: أَوْبِبَعْضِهِمْ:

په عجمو د نبی علیه السلام اعتماد: كښې او دَشك دپاره دي راوی ته شك دې چه حضورپاك كوم يولفظ استعمال كړې وو؟ مطلب دا چه زه دټول اهل ايمان عجم باره كښې يا دبعضي باره كښې دومره په اميديم او په هغوی باندې زما دومره يقين او اطمينان دې چه په تاسو عربو باندې دومره نشته.

د خطاب مخاطبين: علامه طيبي رحمه الله فرمائی چه دَ رسول الله ﷺ دَ دې كلام مخاطب بعضي عرب وو چه يوخاص قبيلې سره ئې تعلق لرلو. حضورپاك دَ جهاد په يوه موقع باندې دغه خلقو ته په جهاد كښې دمال خرچ كولوحكم وركړو نو هغه خلقو دمال په خرچ كولوكښې سستي اوكړه په دې باندې حضورپاك دا كلام اوكړو. لهذا دا كلام دَعامو صحابه كرامو باره كښې نه دې بلكه دَ يوخاص طبقه باره كښې دې. دَعام صحابه كرامو شان خوخه بل رنګ دې هغوی په حضورپاك باندې قربان وو دَهغوی په مقابله كښې دَبل چا تصور كيدې شي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٦٢٥٥] د نبی كريم ﷺ څلوارلس نقباء

٦٢٥٥ -( ) [٦٠] ① عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ سَبْعَةَ نُجَبَاءَ رُقَبَاءَ ③ وَأُعْطِيتُ أَنَا أَرْبَعَةَ عَشَرَ. ④ قُلْنَا: مَنْ هُمْ؟ ⑤ قَالَ: أَنَا وَابْنَايَ، وَجَعْفَرٌ، وَحَمْزَةُ، وَأَبُوبَكْرٍ، وَعُمَرُ وَمُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ، وَبِلَالٌ، وَسَلْمَانُ، وَعَمَّارٌ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ، وَأَبُوذَرٍّ، وَالْمِقْدَادُ»، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① حضرت علي كرم الله وجهه بيان كوي ② د هرنبي اووه ډير مخصوص اوبرګزيده ترين خلق او د هغه په هرحالت كې نګهباني او حفاظت كونكي ورته عطاكيدل ③ ليكن ماته داسې څوارلس (يعنی دوچند عطاشوي دي) ④ راوي وايي (چې حضرت علي رضي الله عنه مونږته د حضور ﷺ دا ارشاد نقل كې) نو مونږ ځني پوښتنه وكړه چې هغه څوارلس كوم كوم دي ⑤ حضرت علي رضي الله عنه جواب راكړو يوخو زه يم او ځما دواړه ځامن حسن او حسين دی جعفر بن ابي طالب دی حمزه بن عبد المطلب دی ابوبكر رضي الله عنه دی عمر رضي الله عنه دی مصعب بن عمير رضي الله عنه دی بلال رضي الله عنه دی سلمان فارسي رضي الله عنه دی عمار دی عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه

---

[1] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٧٨٤) واحمد فی المسند: ١/١٤٨

دی ابوذر رضی الله عنه دی او مقداد رضی الله عنه دی (ترمذي)

حل اللغات:- ① نُجَبَاءَ: دَ نَجِيبٌ جمع ده، أي المُخْتَارُ: برگزیده اوخاص خاص خلقو ته وائی. ② رُقَبَاءَ: دا دَ رقيب جمع ده، أي الحَافِظُ: نگران اومحافظ ته وائی.

تسهیلات:

نوټ: په حدیث کښې د گرانولغاتوحل شوې دې باقی مضمون آسان دې.

[۶۲۵۶] د عمار رضی الله عنه دالله تعالی دشمن

۶۲۵۶-()[۱۱] ۱ وَعَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ قَالَ: كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ كَلَامٌ ۲ فَأَغْلَظْتُ لَهُ فِي الْقَوْلِ، فَانْطَلَقَ عَمَّارٌ يَشْكُونِي إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۳ فَجَاءَ خَالِدٌ وَهُوَ يَشْكُوهُ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۴ قَالَ: فَجَعَلَ يُغْلِظُ لَهُ وَلَا يَزِيدُهُ إِلَّا غِلْظَةً ۵ وَالنَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَاكِتٌ لَا يَتَكَلَّمُ،

ترجمه: ۱ او حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه وايي په يوه موقع يوه معامله کې څما او عمار بن ياسر رضی الله عنه په منځ کې خبري وشوي ۲ ما د هغه خلاف يوه سخته خبره وکړه نو عمار څما خلاف شکایت ورلو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کې ورسيدی او هغه حضور ﷺ ته شکايت کوی ۳ چې په دې کې خالد هم راورسيدی ۴ د راوي بيان دی چې دربار رسالت کې خپل شکايت اورولو سره خالد ته قهر راغې او هغه عمار ته بدرد وئيل شروع کړل او د هغه سخت کلامي او درشت گوئي کې اضافه کيدله ۵ هغه وخت رسول الله ﷺ چپ چاپ ناست اوريدلي (يې يوحرف يې د ژبې نه نه اوښکلو داصورت حال ليدو سره خالد سخت گوئي کې اضافه کيدله او حضور ﷺ خاموش ناست وو)

حل اللغات:- ① فَأَغْلَظْتُ: سخته خبره مې ورته اوکړه،

۱ فَبَكَى عَمَّارٌ وَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَا تَرَاهُ! ۲ فَرَفَعَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَأْسَهُ ۳ وَقَالَ: «مَنْ عَادَى عَمَّارًا عَادَاهُ اللَّهُ وَمَنْ أَبْغَضَ عَمَّارًا أَبْغَضَهُ اللَّهُ». ۴ قَالَ خَالِدٌ: فَخَرَجْتُ فَمَا كَانَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ رِضَا عَمَّارٍ فَلَقِيتُهُ بِمَا رَضِيَ فَرَضِيَ.

ترجمه: ۱ عمار د غصي نه د صبر لمن پريښودله او بي اختياره په ژړا شو او په ژړا کې يې اوويل يارسول الله! آيا تاسو نه وينئ چې خالد څه کوي او ستاسو مخکې ماته څه څه وايي ۲ رسول الله ﷺ په دې اوريدو سره خپل سرمبارك پورته کی ۳ او وي فرمايل کوم سړی چې عمار سره د ژبې دښمني ساتي الله به هغه دښمن لري اوکوم سړی چې عمار رضی الله عنه سره د زړه بغض لري الله به د هغه سره بغض لري ۴ حضرت خالد وايي د حضور ﷺ دا ارشار گرامي اوريدو سره څما هوش په ځاي شو او ما دافيصله کولو سره د حضور ﷺ د مجلس نه بهر راووتم چې څرنگه کيدی شي عمار خوشحاله اوراضي کړم او هغه وخت هيڅ شي څما په

[۱] اخرجه احمد في المسند: ۴/۹۰

نظر کې د عمار د راضي کولو او خوشحالولو نه زیات خوښ او ښه نه وو، بیا داسې وشوه چې ما د عمار د خوشحالولو او راضي کولو دپاره هغه سره داسې سلوك اورویه اختیار کړله چې هغه زما نه راضي او خوشحاله شو یعنی ما د هغه نه معافي وغوښتله هغه سره غاړه په غاړې شوم هغه سره په تواضع او انکساري سره پیش راغلم او هغه ته مې تحفې تحائف ولیږلې او دې تولو خبرو د هغه ناراضګي او د هغه قهر زائل کړله او هغه زما نه بالکل خوشحاله شو.

حل اللغات: -④عَادَى: د عداوت نه دې، دشمنی کوی.

تسهیلات:

قوله: فَأَغْلَظْتُ لَهُ فِي الْقَوْلِ:

د خالد د سختئ مطلب: دَحدیث الباب په مذکوره واقعه کښې په حضرت عمار رضی الله عنه باندې دَحضرت خالد رضی الله عنه دَ سختئ نه مراد کنځلې یا تهمت نه بلکه په سخته لهجه او اندازسره خبره کول مراد دی لکه څنګه چه په غصه کښې آواز اوچت شی اودا جګړه نه په څه ذاتی معامله کښې وه اونه په دینی معامله کښې. دارنګ په حدیث باب کښې په مذکوره واقعه باندې په حضرت خالد رضی الله عنه باندې دَ بې ادبئ اعتراض څکه نه شي کیدې چه دې خو یا دَ دربار نبوی دَ آدابو نه خبر نه وو یا دغه وخت دَ آداب نبوی متعلق دَ آیات نزول نه وو شوې.

قوله: فَبَكَى عَمَّارٌ:

د عمار رضی الله عنه راضی کول: حضرت عمار رضی الله عنه دَ خپلې بې وسئ دَحضرت خالد رضی الله عنه په سختئ او دَ رسول کریم صلی الله علیه وسلم په خاموشئ لیدو په ژړا شو. نو حضورپاك دَ حضرت عمار رضی الله عنه باره کښې داسې فضائل بیان کړل چه دَحضرت خالد رضی الله عنه دَ زړه دنیا بدله شوه او هغه حضرت عمار رضی الله عنه راضی کړو.

[٦٢٥٧] خالد ته د سیف الله لقب ورکول

> ٦٢٥٧- ()[٦٣][١]وَعَنْ أَبِي عُبَادَةَ أَنَّهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [٢]«خَالِدٌ سَيْفٌ مِنْ سُيُوفِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ [٣]وَنِعْمَ فَتَى الْعَشِيرَةِ». رَوَاهُمَا أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوعبیده رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه واوریدل [٢] خالد د الله بزرګ وبرتـ د تـوری نه یـوه تـوره ده [٣] هغه د خپلې قبیلې بنې مخزوم چې د قریشو یوښاخ دی بهترین خوان دی دا دواړه روایتونه احمد نقل کړي دي.

حل اللغات: - ①فَتَى الْعَشِيرَةِ: یعنی خالد رضی الله عنه دَخپلې قبیلې بنی مخزوم بهترین خوان دې.

[1] اخرجه احمد فی المسند: ٤/٩٠

تسهیلات:

قوله: وَنِعْمَ فَتَى الْعَشِيرَةِ:

د خالده قبیلې تعارف: بنو مخزوم دَقریشو یوشاخ دي. دَحضرت خالد رضي الله عنه تعلق بنی مخزوم سره وو حضرت عکرمه رضي الله عنه هم مخزومی دي.

قوله: خَالِدٌ سَيْفٌ مِنْ سُيُوفِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ

خالد رضی الله عنه ته د الله توره وئیل: دَ پورته حدیث مطابق دا گمان نه دی کول پکار چه نعوذ بالله حضرت خالد رضي الله عنه دَ حضرت عمار رضي الله عنه سره بغض لرلو. که چرې داسې خبره وه نو حضرت خالد رضي الله عنه به هم هغه وخت حضرت عمار نه راضی کولو او نه به ئی پوخلا کولو. بلکه دا چه دَ صحابه کرامو متعلق دَ الله تعالى فرمان دي ﴿رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ﴾ چه هغوی په خپل مینځ کښې رحم دل دی. دارنګ صاحب مصابیح دَ تیرشوی حدیث نه پس دَ حضرت خالد رضي الله عنه دَ شان متعلق حدیث ذکر کولو سره لکه چه دغه وهم لرې کړو چه خالد رضي الله عنه دَ الله په تورو کښې یوه توره ده. دَ دې مطلب دا دې چه څوك چه الله تعالى دَ مشرکانو خلاف دَ تیکی نه بهر راویستې وی او دَ کافرانو په سرونو باندې ئی مسلط کړې وی هغه یو صحابی سره ذاتی بغض څنګه ساتلې شی؟ یا دا معنی ده چه الله تعالى حضرت خالد رضي الله عنه صاحب شمشیر جوړ کړې دې. بهر حال په دې حدیث کښې دَ حضرت خالد رضي الله عنه دَتکړه توب او بهادرئی تعریف کړې شوې دې چاسره چه دَ الله تعالى تائید، نصرت او امداد شاملِ حال دې.

[۶۲۵۸] څلورو صحابو سره د محبت ساتلو حکم خداوندی

۶۲۵۸-(۱) [۳۰] [۱] وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] «إِنَّ اللَّهَ - تَبَارَكَ وَتَعَالَى - أَمَرَنِي بِحُبِّ أَرْبَعَةٍ وَأَخْبَرَنِي أَنَّهُ يُحِبُّهُمْ. [۳] قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، سَمِّهِمْ لَنَا؟ قَالَ: عَلِيٌّ مِنْهُمْ، [۴] يَقُولُ ذَلِكَ ثَلَاثًا وَأَبُو ذَرٍّ، وَالْمِقْدَادُ، وَسَلْمَانُ، أَمَرَنِي بِحُبِّهِمْ»، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت بریده رضي الله عنه وایي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] الله جل جلاله ماته څلورو سړو سره علی الخصوص د محبت کولو حکم کړی دی او دایي راته خو دلی دی چې الله سبحانه وتعالى هم دې څلورو سړو سره محبت کوي [۳] دا ارشاد اوریدو سره صحابه رضي الله عنهم عرض وکړو یارسول الله! مونږ ته هم د هغه څلورو نومونه وښایي چې مونږ هم د هغوئ سره په دې بناء محبت کوو چې الله او د هغه رسول هغوئ سره محبت کوي حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل په هغوئ کې یو خو علي رضي الله عنه دی [۴] دا الفاظ حضور صلی الله علیه وسلم درې خله وفرمایل (چې خلق پوهه شي چې دې څلورو کې افضل علي رضي الله عنه دی یا هغه طرف ته اشاره کولو د پاره دا الفاظ یې

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۷۱۸) وابن ماجه فی کتاب فی الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل سلمان، وأبي ذر، والمقداد (رقم-۱۴۹)

دري خله وفرمايل چې څومره محبت مجموعي طور سره باقي دريو سره ساتلې شي هغومره تنها علي رضي الله عنه سره ساتل پکار دی، يو ابوذر رضي الله عنه دی يو مقداد رضي الله عنه دی او يوسلمان رضي الله عنه دی الله ﷻ ماته حکم کړی دی چې زه دي څلورو سرو سره محبت ساتم، او دايي راته خو دلي دي چې هغه هم دي څلورو سره محبت ساتي، دا روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يې دي چې دا حديث حسن غريب دی

تسهيلات:

قوله: أَمَرَ بِحُبِّ أَرْبَعَةٍ:

په محبت الهی کښې عدم حصر: دَ حديث الباب حاصل دادې چه الله پاك هرمؤمن متقى خصوصًا هرصحابى سره محبت ساتى كمافى القرآن ﴿يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ﴾ مګر دَ الله پاك دې څلورو حضراتو سره خصوصى محبت دې

[٦٢٥٩] ابوبكر رضي الله عنه اوبلال دعمر په عدالت كښې

٦٢٥٩-()[٣] [١] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: كَانَ عُمَرُ يَقُولُ: "[٢] أَبُوبَكْرٍ سَيِّدُنَا وَأَعْتَقَ سَيِّدَنَا يَعْنِي بِلَالًا" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت جابر رضي الله عنه بيان کوي حضرت عمر فاروق رضي الله عنه به فرمايل [٢] ابوبكر رضي الله عنه زمونږ سردار دی اوهغه زمونږ سردار آزاد کړی دی(يعنی بلال رضي الله عنه) (بخاري)

حل اللغات:- ① سَيِّدُنَا: أَيْ خَيْرُنَا وَأَفْضَلُنَا: زمونږ سردار دې (يعنی په مونږ ډير غوره او فضيلت والادې)

تسهيلات:

قوله: أَبُوبَكْرٍ سَيِّدُنَا وَأَعْتَقَ سَيِّدَنَا يَعْنِي بِلَالًا:

ابوبكراوبلال رضى الله عنهما ته سردارن وئيل: په حديث الباب كښې دی چه دَ حضرت عمرفاروق رضي الله عنه مراد دې طرف ته اشاره كول وو چه حضرت بلال رضي الله عنه هم دَ اهل اسلام دَ سردارانو نه يو سردار دې دارنګ په حديث الباب كښې حضرت عمر رضي الله عنه دَ حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه په باره كښې سيد حقيقًا فرمائيلی دی او دَ حضرت بلال رضي الله عنه باره كښې تواضعًا فرمائيلی دی څكه چه حضرت عمر رضي الله عنه دَ حضرت بلال رضي الله عنه نه افضل دې. بعضې حضرات فرمائی چه دَ سيادت نه افضليت نه لازميږی.

[٦٢٦٠] د بلال رضي الله عنه دابوبكر رضي الله عنه څخه مطالبه

٦٢٦٠-()[٤] [١] وَعَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ: أَنَّ بِلَالًا قَالَ لِأَبِي بَكْرٍ: [٢] إِنْ كُنْتَ إِنَّمَا اشْتَرَيْتَنِي لِنَفْسِكَ فَأَمْسِكْنِي، وَإِنْ كُنْتَ إِنَّمَا اشْتَرَيْتَنِي لِلَّهِ فَدَعْنِي وَعَمَلَ اللَّهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت قيس بن ابي حازم تابعي نه روايت دی چې حضرت بلال رضي الله عنه حضرت

[١] اخرجه البخاري في كتاب أحاديث الأنبياء/باب ما ذكر عن بني إسرائيل (رقم-٣٤٥٤)
[٢] اخرجه البخاري في كتاب أحاديث الأنبياء/باب ما ذكر عن بني إسرائيل (رقم-٣٤٥٥)

ابوبکر صدیق ﷺ ته ویلي وه که تاسو د خپل ځان د پاره زه خرید کړی وم نو ما د ځان سره وساته (او په کوم خدمت چې غواړې ما مامور کی)⑦ لیکن که تاسو محض د الله ﷻ د رضا اوخوشنودي دپاره زه خرید کړی وم نو بیا ما د الله د کار د پاره آزاد پریږدئ. (بخاري)

حل اللغات:- ①فَأَمْسِكْنِي: نود ځان سره مي اوساته. ②فَدَعْنِي: أي: فَاتْرُكْنِي: نو ما پریږدئ، آزاد مي کړئ. ③وَعَمَلَ اللهِ: ددې دوه مطلبه دی، ۱: هغه عمل چه زه ئې غوره ګڼم دالله تعالی دپاره. ۲: هغه کارچه الله تعالی ئې زما دپاره خوښوی.

تسهیلات:

قوله: إِنْ كُنْتَ إِنَّمَا اشْتَرَيْتَنِي لِنَفْسِكَ فَأَمْسِكْنِي:

د حدیث پس منظر: په دې حدیث دَ پوهیدلودپاره په یوپس منظر اومختصر شان قصه باندې پوهیدل ضروری دی. حضرت بلال ﷺ په مکه مکرمه کښې غلام وو کله چه هغه مسلمان شو نودَ هغه آقاګانو هغه ته ډیرې زیاتې سزاګانې ورکړې. اُمیه بن خلف به تولــه شپه هغه وهلو او دَ ورځې به ئې په ګرموشګو اوګرموقوتکانړو باندې سملولو او په سینه به ئې ورته غټ کانړې کیخودلو اوچاپیره به ئې ترې اور بلولو اوغوښتنه به ئې ترې کوله چه اسلام پریږده. حضرت ابوبکر ﷺدَ حضرت بلال ﷺ په ځائی غلام ورکولو سره حضرت بلال ﷺ دَ هغه دَ آقاګانونه واخستلو اوبیائی آزادکړو. حضرت بلال ﷺ دَ رسول الله ﷺ په خدمت کښې لګیا وو او په مسجدنبوی کښې په اذان باندې مامورشو کله چه: حضورپاك انتقال اوشو نوحضرت بلال ﷺ وئیل اوس دَمحبوب نه بغیر دَ محبوب په ښارکښې اوسیدل ګران دی. په دې وجه دَ مدینې منورې دَ در و دیوال نه لرې چرته په یوځائی کښې به ژوندتیروم په دې غرض سره هغه شام ته دَ تلو اراده اوکړه چه هلته به جهاد هم کوم او ژوندبه هم تیروم بل طرف ته صدیق اکبر ﷺ هغه دَ شام دَ تلو نه منع کولوخکه چه دَ اذان دَپاره دې دَټولو نه زیات موزون هم وو اودَ رسول الله ﷺ مؤذن هم وو. په دې موقع حضرت بلال ﷺ حضرت صدیق اکبر ﷺ ته اوفرمائیل که چرې تازه دَخپل ذات دَپاره اخستې ووم نوما دلته په مدینه کښې حصارکړه اوکه دَالله تعالی دَ رضادَپاره دې اخستې ووم نوما دَالله تعالی دَ کارونو پوره کولودَپاره آزاد پریږده چه چرته خم چه لاړشم اودَ الله تعالی په زمکه کښې جهاد کوم. حضرت صدیق اکبر ﷺ هغه ته اجازت ورکړو اوبلال ﷺ اسلامی لښکرسره دَ دمشق طرف ته لاړو او په ۱۸ هجری یا ۲۰هجری کښې هم هلته انتقال شو.

[۶۳۶۱] د ابوطلحه رضی الله عنه په کور کښې د نبی علیه السلام میلمه

۳۳-() [۳۱] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: إِنِّي مَجْهُودٌ. ② فَأَرْسَلَ إِلَى بَعْضِ نِسَائِهِ فَقَالَتْ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا عِنْدِي إِلَّا مَاءٌ، ③ ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَى أُخْرَى فَقَالَتْ مِثْلَ ذَلِكَ، وَقُلْنَ كُلُّهُنَّ مِثْلَ ذَلِكَ، ④ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: مَنْ يُضِيفُهُ يَرْحَمُهُ اللَّهُ. ⑤ فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ - يُقَالُ لَهُ أَبُو طَلْحَةَ - فَقَالَ: أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ،

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي يوه ورځ د رسول الله ﷺ په خدمت کې يو سړی راغې او هغه اوويل زه ډير پريشانه حال او تکليف او مشقت کې ګرفتار يم يعني فقر او افلاس راګير کړی يم او د لوږې نه پريشانه حال کيدو سره په دې اميد دلته راغلی يم چې تاسو راته خوراک د پاره څه عطا کړئ ② په دې اوريدو سره حضور ﷺ يو سړی خپلې يوې بي بي ته وليږی او ورته يې اوويل که په کور کې څه موجود وي نو د دې مصيبت زده سړي د پاره يې راوليږئ هغوئ جواب ورکړو قسم دی په هغه ذات چې تاسو يې په حق سره پيغمبر راليږلي يې ما سره د اوبو نه ماسوا د خوراک څکاک نور هيڅ شی موجود نشته ③ بيا حضور ﷺ دويمې بي بي کره سړی وليږی هغه هم هغه جواب ورکړو کوم چې مخکې بي بي ورکړی وو او دغه شان حضور ﷺ خپلو ټولو بيبيانو ته سړی وليږی او ټولو نه دغه شان جواب راغې ④ بيا رسول الله ﷺ حاضرين مجلس مخاطب کولو سره وفرمايل څوک چې داسړی ميلمه جوړ کړي په هغه به الله خپل خاص رحمت نازل کړی ⑤ په دې اوريدو سره انصارو کې يو سړی ابوطلحه رضی الله عنه اودريدلو او هغه اوويل يارسول الله: داسړی زه خپل ميلمه کوم

حل اللغات:- ① مَجْهُودٌ: أَيْ فَقِيرٌ أَصَابَهُ الْجُهْدُ: يعنې زه بې وسه مجبوره او مصيبت وهلی فقير يم

① فَانْطَلَقَ بِهِ إِلَى رَحْلِهِ فَقَالَ لِامْرَأَتِهِ: هَلْ عِنْدَكِ شَيْءٌ؟ ② قَالَتْ: لَا إِلَّا قُوتُ صِبْيَانِي. قَالَ: فَعَلِّلِيهِمْ بِشَيْءٍ وَنَوِّمِيهِمْ ③ فَإِذَا دَخَلَ ضَيْفُنَا فَأَرِيهِ أَنَّا نَأْكُلُ فَإِذَا أَهْوَى بِيَدِهِ لِيَأْكُلَ فَقُومِي إِلَى السِّرَاجِ كَيْ تُصْلِحِيهِ فَأَطْفِئِيهِ ④ فَفَعَلَتْ، فَقَعَدُوا وَأَكَلَ الضَّيْفُ، وَبَاتَا طَاوِيَيْنِ، ⑤ فَلَمَّا أَصْبَحَ غَدَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -،

ترجمه: ① بيا ابوطلحه رضی الله عنه هغه سړی خان سره کور ته بوتلو کور ته رسيدو سره هغه خپلې ښځې ام سليم رضی الله عنها نه پوښتنه وکړه ستا سره څه طعام شته ② د هغه ښځې اوويل بس دومره دی چې د بچو ضرورت به يوحده پوره کړي ابوطلحه رضی الله عنه هغه ته اوويل بچی په څه طريقه اوده وساته ③ او هرکله چې زمونږ ميلمه طعام د پاره کور ته راشي او دسترخوان باندې کيني نو ته داسې ښکاره کړه چې ګويا مونږ هغه سره هغه طعام خورو او څرنګه چې

[1] اخرجه البخاري فی كتاب المناقب/باب قول الله: {ويؤثرون على أنفسهم ولو كان بهم خصاصة} [الحشر: ۹] (رقم-۳۷۹۸) ومسلم فی كتاب الأشربة/باب إكرام الضيف وفضل إيثاره (رقم-۱۷۲ - (۲۰۵٤)) والترمذی فی كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة الحشر (رقم-۳۳۰٤)

زمونږ میلمه نوړئ اوچتولو د پاره خپل لاس مخکښې کی نو ته دي ظاهرولو سره لکه چې د چراغ (ډیوې) بتئ تیك کولو د پاره او د هغه د رڼا زیاتولو اراده ده چراغ (ډیوې) طرف ته ورشه او ورو شان پوکي ورکولو سره یا څه بلي طریقي سره چراغ (ډیوه) مړه کی چې تیاره شي او میلمه باندې دابنکاره نشي چې مونږ طعام نه خورو[٤] نو د هغه ښځي دغه شان وکړل او داسې وشوه چې دسترخوان باندې کینا ستل نو هغه دري سره یعنی ابوطلحه رضي الله عنه د هغه ښځه او میلمه لیکن طعام صرف میلمه وخوړلي هغه دواړو ښځه خاوند په لوږه شپه تیره کړه[٥] بیاچې سهار شو او ابوطلحه رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو

حل اللغات:-② قُوتٌ: گذاره حال رزق، ③ فَعَلِّلِيهِمْ: أَيْ أَلْهَاهُ: ماشومان بچی اوغولوه، څه تسلی ورکولو سره نې اوده کړه. ④ أَهْوَي: أَيْ: قَصَدَ: قصد او اراده اوکړی یعنی دخوراک دپاره لاسونه راوړده کړی. ⑤ السِّرَاج: ډیوه، چراغ، ⑥ فَأَطْفِيهِ: چراغ گل کړه، ډیوه مړه کړه، ⑦ طَاوِيَيْنِ: أَيْ جَائِعَيْنِ: یعنی ښځه خاوند نهر خالي خیټه اوده شو.

[١] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَقَدْ عَجِبَ اللَّهُ أَوْ ضَحِكَ اللَّهُ مِنْ فُلَانٍ وَفُلَانَةٍ. [٢] وَفِي رِوَايَةٍ مِثْلُهُ وَلَمْ يُسَمِّ أَبَا طَلْحَةَ، وَفِي آخِرِهَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى "﴿وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾ [الحشر: ٩]»" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] نو حضور صلى الله عليه وسلم ته بذریعه کشف یابذریعه وحي داټوله قصه معلومه شوي وه څکه حضور صلى الله عليه وسلم وفرمایل د فلانې سړی یعنی د ابوطلحه رضي الله عنه او د فلانې ښځي (یعنی د ابو طلحه د ښځي ام سلیم رضي الله عنها) داکار الله تعالی ډیر خوښ کی یادایي وفرمایل چې د هغه دواړو دي کار باندې الله جل جلاله ته خندا ورغله مراد دا چې الله جل جلاله دي عمل باندې هغه دواړو نه ډیر خوشحاله شو [٢] د ابوهریره رضي الله عنه په یودویم روایت کې چې لفظًا او معنًا د دې روایت په شان دی د ابوطلحه رضي الله عنه ذکر نشته (یعنی په هغه کې یقال له ابوطلحه الفاظ نشته) او د هغه روایت په اخر کې داهم دی چې دي واقعي نه وروسته دا آیت نازل شو ویؤثرون علی انفسهم ولوکان بهم خصاصة او هغه خلق خپل خان باندې نوروته یعنی خپلو میلمنو یا یو حاجتمند له ترجیح ورکوي که څه هم هغوئ خپله حاجتمند او اوږي وي الخ (بخاري مسلم)

حل اللغات:-⑧ يُؤْثِرُونَ: ترجیح ورکوی، غوره کوی، ⑨ خَصَاصَةٌ: أَيْ حَاجَةٌ وَمَجَاعَةٌ: حاجت مند وی، اوږي وی

تسهيلات: قوله: فَعَلِّلِيهِمْ:

د مذکوره جملې مطلب: یعنی نهر بچي غولولوسره اوده کړه او خوراک دَمیلمه دپاره راوړه. اوبیا دَ تیك کولو په بهانه سره ډیوه مړه کړه اوخوراك په میلمه باندې اوخوره وه نوهم داسې اوکړه.

قوله: عَجِبَ اللّٰهُ أَوْضَحِكَ اللّٰهُ:

الله تعالی ته دعجب یا ضحک نسبت: دا دواړه الفاظ دَ متشابهات نه دی دې نه دَالله تعالی خوشحالول مراد دی. دَدې حدیث نه معلومیږی چه دا دَزمانه حجاب دَ حکم راتلونه مخکښې زمانه وه په کوم کښې چه دا قصه پیښه شوه.

[۶۳۶۲] خالد رضی الله عنه بن ولید ته د سیف الله لقب ملاویدو موقع

۶۳۶۲-() [۶۷] ① وَعَنْهُ قَالَ: نَزَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَنْزِلًا فَجَعَلَ النَّاسُ يَمُرُّونَ، ② فَيَقُولُ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «مَنْ هَذَا يَا أَبَا هُرَيْرَةَ؟ فَأَقُولُ: فُلَانٌ. ③ فَيَقُولُ: نِعْمَ عَبْدُ اللّٰهِ هَذَا، وَيَقُولُ: مَنْ هَذَا؟ فَأَقُولُ: فُلَانٌ. فَيَقُولُ: بِئْسَ عَبْدُ اللّٰهِ حَتَّى مَرَّ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ فَقَالَ: مَنْ هَذَا؟ فَقُلْتُ: خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ. ④ فَقَالَ: نِعْمَ عَبْدُ اللّٰهِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ سَيْفٌ مِنْ سُيُوفِ اللّٰهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.[1]

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي دیوه سفر په دوران کې مونږ خلق رسول الله ﷺ سره یومقام باندې پړاو وکی نو هغه وخت هرکله چې رسول الله ﷺ خپله خیمه کې دننه آرام فرمایلي او زه د خیمې نه ووتم خلق به د رسول الله ﷺ د خیمې نه بهر اخوا دیخوا تلل راتلل ② رسول الله ﷺ به چې کله د خیمې نه د یوسړی د تیریدلو اواز واوریدی نو پوښتنه به یې کوله اې ابوهریره! تیریدونکی سړی څوک دی نو ما به حضور ﷺ ته ښودلو چې فلانی سړی دی ③ بیا به حضور ﷺ د هغه سړي نوم اوریدو سره فرمایل چه دا د الله نیك بنده دی او فرمائیل به ئې چه دا څوک دې؟ ما به اوونیل چې فلانې دې. نو حضور ﷺ به به اوفرمائیل چې دابد سړي دي دا سلسله دغه شان جاري وه ددې پورې چې کوم وخت خالد رضی الله عنه بن ولید تیر شو او حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې داڅوک دي ؟ماوویل چې خالد دی ④ رسول ﷺ د هغه نوم اوریدو سره وفرمایل خالد رضی الله عنه بن ولید د الله نیك بنده دی د الله د تورو نه یوه توره دد. (ترمذي)

حل اللغات:- ① يَمُرُّونَ: خلق به تیریدل راتیدل. تلل راتلل به

تسهیلات:

قوله: نِعْمَ عَبْدُ اللّٰهِ:

د عبدالله تعریف کول: دَ حضورپاك دا فرمان به چرته دَ یو منافق باره کښې وی ګنی دَ یومسلمان باره کښې داسې فرمان نبوی اګرچه هغه کس په څومره خرابه لار باندې ولې نه وی بعید دې دَ دې نه علاوه دَ هغه وخت اهل ایمان کښې داسې خراب خلق وو هم نه چه حضورپاك دَ چا په حق کښې داسې خبره اوکړی اوکه چرته څوك داسې وو هم نو شاذونادر به وی چرته.

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مناقب خالد بن الولید رضی الله عنه (رقم-۳۸۴۶)

[٦٢٦٣] انصارو دپاره دعا

٦٢٦٣-(١) [٦٨] ١ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ: «قَالَتِ الْأَنْصَارُ: ٢ يَا نَبِيَّ اللَّهِ لِكُلِّ نَبِيٍّ أَتْبَاعٌ وَإِنَّا قَدِ اتَّبَعْنَاكَ ٣ فَادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَ أَتْبَاعَنَا مِنَّا فَدَعَا بِهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ او زيد بن ارقم رضي الله عنه وايي په يوه موقع باندې انصارو عرض وكړو ٢ يارسول الله! خرنګه چې د هرنبي څه تابعدار وي پس دغه شان مونږ خلق ستاسو رېښتني او پاخه تابعدار يو ٣ تاسو دعا وكئ چې الله جل جلاله زمونږ تابعدار هم زمونږ نه كړي نو حضور ﷺ هغوئ د پاره دعا وكړله (بخاري)

حل اللغات:- ① أَتْبَاعٌ: تابعداری کونکی.

تسهيلات:

قوله: فَادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَ أَتْبَاعَنَا مِنَّا..الخ:

د مذكوره جملې په مفهوم كښې دوه اقوال: ① په حديث الباب كښې دى چه كوم مناقب اوفضائل حضورپاك زمونږ په حق كښې ارشاد فرمائيلى دى دَ هغې دَ فضل اوشرف او دَ هغې دَ بركتونو لاندې دې زمونږ جانشين او موالى هم راشي

② دَ انصارو مطلب دا وو چه تاسو دعا اوكړئ چه الله تعالى خنګه مونږ ته ستاسو دَ تابعدارى اودَ خوشحالئ دَ خدمت زياته حصه راكړې ده دغه شان زمونږ دَ تابعدار يعنى زمونږ لاندې خلق او زمونږ اولاد هم واقعى زمونږ په شان ستاسو رېښتونى تابعدار او رېښتونى منونكى جوړكړې.

[٦٢٦٤] انصار د زياتو شهيدانو خاوندان

٦٢٦٤-(٢) [٦٩] ١ وَعَنْ قَتَادَةَ قَالَ: مَا نَعْلَمُ حَيًّا مِنْ أَحْيَاءِ الْعَرَبِ أَكْثَرَ شَهِيدًا أَعَزَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ الْأَنْصَارِ قَالَ: ٢ وَقَالَ أَنَسٌ: قُتِلَ مِنْهُمْ يَوْمَ أُحُدٍ سَبْعُونَ، وَيَوْمَ بِئْرِ مَعُونَةَ سَبْعُونَ، وَيَوْمَ الْيَمَامَةِ عَلَى عَهْدِ أَبِي بَكْرٍ سَبْعُونَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت قتاده تابعي رحمه الله نه روايت دى هغه وفرمايل د عربو قبائلو نه د يوې قبيلې يا قام په باره كې مونږ ته دا علم نشته چې د هغوئ د شهيدانو تعداد د انصارو د شهيدانو نه زيات وي (او د قيامت په ورځ به انصار دټولو نه زيات باعزته منلى شي) ٢ د حضرت انس رضي الله عنه بيان دى چې د احد په جنګ كې اويا انصار شهيدان شول بير معونه كې اويا انصار چې قراء وو شهيدان شول او د يمامه جنګ كې چې د عهد ابوبكر رضي الله عنه په خلافت كې د مسيلمه كذاب خلاف وشو اويا انصار شيهدان شول. (بخاري)

[١] اخرجه البخاري في كتاب المغازي رقم الحديث ٣٧٨٧

[٢] اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب من قتل من المسلمين يوم أحد (رقم-٤٠٧٨)

حل اللغات:- ①حَيًّا: أي: قَبِيلَةً: قبیله، قوم. ②أَعَزَّ: أي: شَهِيدًا: چه شهید شوی وی. ③بِئْرِمَعُونَةَ: دا هغه کوهی نوم دې چرته چې د هذیل قبیلې خلقو په دهوکه سره قاریان بوتلی وو اوبیا ئې دې کوهی سره قتل کړی وو. ④يَوْمَ الْيَمَامَةِ: دا هغه ورځ وه چې دنبی علیه السلام د وفات څخه روسته مسیلمه کذاب دنبوت دعوی کړې وه او ابوبکرصدیق رضی الله عنه دهغوی د مقابلې دپاره لښکرلیږلې وو.په کومه ورځ چې دغه جنګ شوې وو.هغې ته یوم الیمامه وائی.

تسهیلات:

قوله: أَكْثَرَ شَهِيدًا أَعَزَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ الْأَنْصَارِ:

انصار او د ټولو څخه زیات شهدان: په حدیث الباب کښې دی چه دَ قیامت په ورځ به هغه قبیله دَ زیات عزت والا وی دَ چا شهیدان چه زیات وی. حضرت قتاده رضي الله عنه فرمائی چه زمونږ دَعلم مطابق دَ ټولو نه زیات دَ شهیدانو تعداد دَ انصارو دې لکه چه دَ حدیث الباب دَ ترجمې نه واضح دی.

[۶۲۶۵] دبدری صحابو وظیفه

۶۲۶۵-() [۵۰] [۱]وَعَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ قَالَ: عَطَاءُ الْبَدْرِيِّينَ خَمْسَةُ آلَافٍ، [۲]وَقَالَ عُمَرُ: لَأُفَضِّلَنَّهُمْ عَلَى مَنْ بَعْدَهُمْ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت قیس بن ابي حازم تابعي رحمه الله وایي کوم خلق چې د بدر په جنګ کې شریك شوي وه هغوئ کې د هرهرسړي وظیفه پنځه پنځه زره درهم وه چې بیت المال نه به ورته اداء کیدله[۱] [۲] او حضرت عمر رضي الله عنه فرمایلي وه زه د بدر جنګ کې شریکیدونکو ته مرتبه کې په نورو ټولو خلقو باندې ترجیح ورکوم. (بخاري)

حل اللغات:- ①عَطَاءُ: بخشش، حصه د غنیمت. ②الْبَدْرِيِّينَ: أي: الَّذِينَ حَضَرُوا قِصَّةَ بَدْرٍ: هغه صحابه چه په جنګ بدر کښې شریک شوی وو.

تسهیلات:

قوله: عَطَاءُ الْبَدْرِيِّينَ:

بدریانو دپاره پنځه ذره درهم وظیفه: صدیق اکبر رضي الله عنه په بدر کښې شریك مجاهدینو دَپاره دَ بیت المال نه دکال پنځه زره درهم وظیفه مقرر کړې وه. دا وظیفه دَ نورو نه زیاته وه دې دَپاره چه دَ اهل بدر فضیلت ثابت شی. دې نه پس حضرت عمر فاروق رضي الله عنه هم دې فضیلت ته عملی جامه اچول په ځائی اوساتل بلکه په قولی توګه ئی دَدې اعلان هم اوکړو اواراده ئی اوکړه چه زه به دا فضیلت په ځائی ساتم.

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب المغازی (رقم-۴۰۲۲)

تَسْمِيَةُ مَنْ سُمِّيَ مِنْ أَهْلِ بَدْرٍ فِي الْجَامِعِ الْبُخَارِيِّ

دَاهل بدر نه دَهغه یوڅو صحابه کرامو نومونه کوم چه بخاری کښې ذکر دی

قال الله تعالی: ﴿وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنْتُمْ أَذِلَّةٌ﴾ (آل عمران: ۱۲۳)

د غزوه بدر پس منظر: په کال ۲ هجری کښې دَ بدر واقعه پیښه شوې وه. دَ قریشو یوه تجارتی قافله دَشام نه مکې طرف ته واپس راروانه وه. حضورپاك ۳۱۳ صحابه کرام ځان سره واخستل او دَ دغه قافلې دَ نیولو دَپاره دَبدر طرف ته روان شو. په تادئی سره دَ وتلو دَ وجې نه دغه صحابه کرامو سره جنگی سامان دَ نشت برابر وو. باقاعده دَ یوجنګ صورت نه وو په دې وجه ئی هم دَوسله اهتمام اونه کړې شو. صرف قافله رانیول وو خو قافلې په چالاکئی سره خپل ځان بچ کړو اودَ قریشو کافرانو ته ئی خطرناك پیغام اولیګلوچه مونږ لوټ شو. که چرې قافله بچ کول غواړئی نو زر راؤرسئی مسلمانانو زمونږ لاره بنده کړې ده.

دابوجهل اعلان: ابوجهل اعلان اوکړو او یو زر لښکرئی سره دَ سازوسامان واخستو او دَبدر طرف ته روان شو. دواړه فوجونه مخامخ شو اَو قافله په بله لاره باندې بچ اووتله. اوس یوباقاعده مسلح لښکرسره دَدې بې سروسامان یوڅوسوو صحابه کرامو مقابله سرله راغله.

د مسلمانانو فتح: مقابله چه کله اوشوه نو الله تعالی دَ مسلمانانو امداد اوکړو هغوی له ئی غلبه ورکړه او اویا کافران اووژلې شو او اویا ګرفتار کړې شو. یوڅو صحابه کرام هم شهیدان شو. کومو صحابه کرامو چه په جنګ بدر کښې حصه واخسته هغوی ته اهل بدر وائی دَهغوی ډیرلوئی شان دې. هم په دې وجه محدثین په ډیر اهتمام سره دَهغوی نه دَ یوڅو نومونه یا دَټولو نومونه په خپلو کتابونو کښې درج کوی. صاحب مشکوة هم داسې کړی دی.

دَ اهل بدر شمار: په جنګ بدر کښې دَ شریك صحابه کرامو په تعداد کښې څه اختلاف دې. بعضې علماؤ دَهغوی شمیر ۳۱۵ خودلې دې بعضې روایاتو کښې ۳۱۷ تعداد خودلې دې. بعضې دَ ۳۶۵ ذکر کړې دې او بعضې روایاتو کښې ۳۱۴ ذکر دې. مګر په الاستیعاب کښې لیکلی دی چه راجح قول دادې چه دَ اصحاب بدر تعداد ۳۱۳ دې. امام بخاری رحمه الله په صحیح بخاری کښې دَاهل بدر نه صرف ۴۵ نومونه ذکر کړی دی. حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه حضورپاك په اهل بدر کښې شمیر کړې دې. هغه دَ حضورپاك دَ لوربی بی دَ خدمت دَپاره په مدینه کښې دَحضورپاك په حکم سره شاته پاتې شوې وو.

دَ بدریانو دَ نومونو خواص: الله تعالی دَ اهل بدر په نومونو کښې عجیبه خاصیت او عجیبه برکت کیخودې دې. وئیلی شی چه دَدې نومونو دَ ذکر کولو نه پس الله تعالی دعا قبلوی. بعضې علماؤ لیکلی دی چه څومره اولیاء الله ته دَ اهل بدر دَ نومونو په برکت سره ولایت

ملاؤ شوي دي داهم يوحقيقت دې چه دَ اهل بدر دَ نومونو په برکت سره کومو بيمارانو دَ خپل صحت دپاره دعا غوښتې ده الله تعالى ورته صحت ورکړې دې. دې نه علاوه نور هم خواص دی. صاحب مظاهرحق دَ دعاپه انداز سره دَ اهل بدر ۳۱۴ نومونه مظاهرحق کښې ذکرکړې دی. اوبيانی په آخره کښې جدا دعا هم نقل کړې ده. دَ اهل بدرپه نومونوباندې مشتمل ورې ورې کتابچې هم چهاپ شوی دی.

د بدري صحابه کرامو نومونه:

(۱) النبی محمدبن عبدالله الهاشمی صلی الله علیه وسلم (۲) عبدالله ابن عثمان

(۳) ابوبکر الصدیق القرشی (٤) عمربن الخطاب العدوی

(۵) عثمان بن عفان القرشی خلفه النبی صلی الله علیه وسلم علی ابنته رقیة وضرب له بسهمه

(۶) علی ابن ابی طالب الهاشمی (۷) ایاس بن بکیر

(۸) بلال ابن رباح مولی ابی بکر الصدیق (۹) حمزة بن عبدالمطلب الهاشمی

(۱۰) حاطب بن ابی بلتعة حلیف لقریش (۱۱) ابوحذیفة بن عقبة بن ربیعة القرشی

(۱۲) حارثة بن الربیع الانصاری قتل یوم بدر وهو حارثة بن سراقة کان فی النظارة

(۱۳) خبیب ابن عدی الانصاری (١٤) خنیس بن حذافة السهمی

(۱۵) رفاعة بن رافع الانصاری (۱۶) رفاعة بن عبدالمنذر

(۱۷) ابولبابة الانصاری (۱۸) زبیر بن العوام القرشی

(۱۹) زید ابن سهل (۲۰) ابوطلحة الانصاری

(۲۱) ابو زید الانصاری (۲۲) سعد ابن مالک الزهری

(۲۳) سعد ابن خولة القرشی (٢٤) سعیدبن زیدبن عمروبن نفیل القرشی

(۲۵) سهل بن حنیف الانصاری (۲۶) ظهیر بن رافع الانصاری

(۲۷) واخوه عبدالله بن مسعود الهذلی (۲۸) عبدالرحمن بن عوف الزهری

(۲۹) عبیدة بن الحارث القرشی (۳۰) عبادة ابن الصامت الانصاری

(۳۱) عمرو بن عوف حلیف بنی عامر بن لوی (۳۲) عقبة بن عمرو الانصاری

(۳۳) عامربن ربیعة العنزی (٣٤) عاصم بن ثابت الانصاری

(۳۵) عویم بن ساعدة الانصاری (۳۶) عتبان بن مالک الانصاری

(۳۷) قدامة بن مظعون　　(۳۸) قتادة بن النعمان الانصاری

(۳۹) معاذ بن عمرو بن الجموح　　(۴۰) معوذ بن عفراء

(۴۱) واخوه مالک ابن ربيعة　　(۴۲) ابواسيد الانصاری

(۴۳) مسطح بن اثاثة بن عباد بن اللمطلب ابن عبدمناف (۴۴) مرارة بن الربيع الانصاری

(۴۵) معن بن عدی الانصاری　　(۴۶) مقدادبن عمروالکندی حليف بنی زهرة

(۴۷) هلال بن امية الانصاری رضی الله عنهم

په فهرس کښې حقيقة اوحکما د بدری صحابه کرامو شموليت: ملاعلی قاری رحمه الله ليکلی دی چه په دې باب کښې دَ هغه اصحاب بدر دَ نومونو ذکر دې دَ چا چه حقيقتًا يا حکمًا بدری کيدو ذکر په صحيح بخاری کښې راغلې دې. اوداَ (حقيقتًا يا حکمًا قيد) ځکه دې چه په دې زمره کښې دَ حضرت عثمان غنی رضی الله عنه نوم شامل کول صحيح اومنلې شی. (کوم چه دَ حضورپاك په حکم سره حقيقتًا خو په جنګ بدر کښې شريك شوې نه وو ليکن حکمًا هغه هم بدری منلې شی) په دې باب کښې دَ هغه بدری صحابه کرامو رضی الله عنهم نومونه نشته دې چه نه خو بخاری په خپل دې باب کښې بيان کړی دی او نه دَ سر نه دَهغوی ذکر په بخاری کښې راغلې دې. دَدې مطلب دا شو چه امام بخاری رحمه الله دَ اصحاب بدر په فهرست باندې مشتمل په دې باب کښې صرف دَ هغه بدری صحابه کرامو نومونه ذکر کړی دی دَ کوم متعلق چه په صحيح بخاری کښې صراحت سره ذکر شوې دې چه هغوی په جنګ بدر کښې شرکت کړې دې. که پخپله هغه صحابه کرامو دَ خپل خان متعلق په صراحة سره بيان کړې وی يا نورو په جنګ بدر کښې دَهغوی شريکيدل په صراحت سره روايت کړې وی. دغه شان دَ هغه بدری صحابه کرامو نومونه په دې باب کښې ذکر شوی نه دی دَ کومو ذکرچه په صحيح بخاری شريف کښې راغلې دې. مګر په داسې صراحت سره نه دی راغلی چه هغوی په جنګ بدر کښې شريك وو.

دَدې وضاحت په رنړاکښې په دې خبره باندې حيرانتيا او اشکال موقع نه پاتې کيږی چه دَمخصوص بدری صحابه کرامو په فهرست باندې مشتمل په دې باب کښې يو جليل القدر بدری صحابی حضرت ابوعبيدة الجراح رضی الله عنه مبارك نوم نه دې ذکرکړې شوې. حضرت ابوعبيده رضی الله عنه بيشکه په بدر کښې شريك وو او په دې باندې دَ ټولو محدثينو او اصحاب سير اتفاق دې.

دَ دې نه علاوه په بخاری شريف کښې په ډيرو ځايونو کښې دَ دوی ذکر هم راغلې دې مګر دَ بخاری په يو روايت کښې په صراحت سره بيان نه دې شوې چه هغه په جنګ بدر کښې شريك وو.

[۲۳] باب ذکر الیمن والشام وذکر اویس القرنی

د یمن او شام او د اویس قرنی د ذکر باب

خلاصة الباب:

فيه سبعة عشر حديثاً مشتملة على أربع مسائل:

① ذكر اويس القرني رحمه الله : ١۔

② مدح أهل اليمن والدعاء لهم: ٢، ۶، ٧، ١١۔

③ ذم المشرق : ٣، ۴، ۵۔

④ ذكر الشام والترغيب إليه والدعا لأهله: ۶، ٨، ٩، ١١، ١٢، ١٣، ١۴، ١۵، ١۶، ١٧۔

قوله: الیمن:

د یمن تعارف او مصداق: یمن هغه ښاریو او کلوته وئیلې شي چه دَمکې مکرمې نبی طرف ته واقع دی. نن صبا یمن دَ یو مستقل ملك په حیثیت سره پیژندلې شي چه دَجزیره نمائې عرب په جنوب کښې واقع دې. اوسره دَدې چه موجوده یمن په هغه ټولو خطوباندې مشتمل نه دې په کوم چه پخوانئی زمانه کښې یمن محیط وو لیکن اوس هم دَ پخوانئی زمانې ډیرې مرکزی لوئې حصې په یمن کښې شامل دی. دَ یمن طرف ته چه کله دَ یوځیز نسبت کیږی نووائی یمنی، یمان، یمانی.

قوله: الشام:

د کافرانو سازش: شام په هغه ښارونو او کلوباندې مشتمل یو مشهور ملك دې چه دَبیت الله نه کُس طرف ته واقع دی نن صبا شام ته سوریا او سیریا وئیلی شی دَدنیا دکافرانو داکوشش دې چه دَاسلام تاریخی مقاماتو نومونه دَ ذهنونونه اوباسی. ځکه دَشام سوریا نوم کیخودو دَ حبشه ایتهوپیا دَ جبل الطارق نوم جبرالټر او دَ قسطنطنیه نوم ئی استنبول کیخودو.

قوله: قرن:

د قرن مصداق: په یمن کښې دَ یو کلی نوم قرن دې. قاف او راء دواړو باندې زبر دې. هم دا کلې دَحضرت اوویس قرنی نیکونو نه یو سړی قرن بن رومان آباد کړې وو. اویس قرنی هم دې کلی طرف ته منسوب دې. یوبل ځائی قرن المنازل دې کوم چه په طائف کښې واقع دې اودَ اهل نجد دَپاره میقات دې. دکوم په قاف چه زبر او راء ساکن ده. دَاویس قرنی دې سره تعلق نشته دې. که چالیکلې دې نو هغه غلط فهمی ده.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۶۲۶۶] د حضرت اویس قرني رحمه الله فضیلت

۶۲۶۶ -(¹) [۱] ① عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «إِنَّ رَجُلًا يَأْتِيكُمْ مِنَ الْيَمَنِ يُقَالُ لَهُ أُوَيْسٌ لَا يَدَعُ بِالْيَمَنِ غَيْرَ أُمٍّ لَهُ، ③ قَدْ كَانَ بِهِ بَيَاضٌ فَدَعَا اللّٰهَ فَأَذْهَبَهُ إِلَّا مَوْضِعَ الدِّينَارِ أَوِ الدِّرْهَمِ ④ فَمَنْ لَقِيَهُ مِنْكُمْ فَلْيَسْتَغْفِرْ لَكُمْ» ⑤ وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ⑥ «إِنَّ خَيْرَ التَّابِعِينَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ أُوَيْسٌ وَلَهُ وَالِدَةٌ وَكَانَ لَهُ بَيَاضٌ فَمُرُوهُ فَلْيَسْتَغْفِرْ لَكُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه نه روایت دي رسول الله ﷺ وفرمایل ② یوسړی به یمن نه تاسو ته راشي د هغه نوم به اویس وي هغه به یمن کښې د مور نه ماسوا بل هیڅوك پرې نږدي ③ د هغه په بدن کې به سفیدي یعنی د برص بیماري وي هغه الله جل جلاله نه دعا وغوښته نو الله جل جلاله د هغه د بدن نه سفیدي ختم کړه هو صرف د یو درهم یا یو دینار په قدر سفیدي باقي پاتې شوي وه ④ په تاسو کې چې کوم سړی هغه اویس رحمه الله سره یو ځای شي نو هغه ته پکار دی چې هغه نه د ځان د پاره د مغفرت یا دعا وغواړي ⑤ او په یوه روایت کې داسې دی حضرت عمر رضي الله عنه بیان وکړو چې ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل ⑥ په تابعینو کې ښه سړی هغه دی چې د هغه نوم اویس رحمه الله دی د هغه یوه مورده او د هغه بدن باندې د برص یوه نښه ده نو تاسو د هغه نه ځان د پاره دعاني مغفرت وغواړئ. (مسلم)

حل اللغات:- ① خَیْرَ التَّابِعِیْنَ: په تابعینو کښې افضل تابعی (یعنی اویس قرنی).

تسهیلات: قوله: بَیَاضٌ:

د اویس قرنی په بدن د یو درهم برابر سپینوالي: یعنی دَهغه په بدن باندې دَبرګی مرض بیماری وه پوره بدن ئی سپین وو هغه دَالله تعالی نه دعا وغوښتله نو دَ یو دینار یا درهم خانی سپین پاتې شو دې دَپاره چه دَ الله تعالی شکرئی په خیال کښې وی دَدې دَپاره هم چه دَهغه دَ پیژند ګلو دَپاره نشانی پاتې شی. دَحضور پاك نشاندهی سره حضرت عمر رضي الله عنه هغه هم په دغه سپین داغ باندې اوپیژندلو.

قوله: خَیْرَ التَّابِعِیْنَ:

په تابعینو کښې افضل تابعی: حضورپاك هغه په تابعینو کښې دَټولو نه افضل اوګرځولو خکه چه دا داسې تابعی دې چه دَحضورپاك په زمانه کښې مسلمان شوې وو دَعذر دَ وجې نه حاضر نه شو. نور علماؤ لیکلی دی حضورپاك خپله جبه دَ هدیه په توګه هغه له لیکلې وه.

اشکال: په عالمانو کښې مشهوره دا ده چې په تابعینو کښې د ټولو څخه افضل تابعی

¹ اخرجه مسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل أویس القرنی رضی الله عنه(رقم-۲۲۳ (۲۵۴۲)

سعيدبن مسيب وو اود دې حديث څخه معلوميږي چې افضل تابعي اويس قرني دې.

د اشكال جواب: دا ممكن ده چه حضورپاك اويس قرني رحمه الله ته ثواب او فضيلت دَ عبادت دَوجې افضل تابعين فرمائيلې وي او سعيدبن مسيب رحمه الله چه دَ افضل تابعينو نه دې هغه دَ كثرت علم په اعتبارسره افضل وي.

د حضرت عمر رضي الله عنه او د حضرت اويس قرني رحمه الله ملاقات:

جلال الدين سيوطي رحمه الله په جمع الجوامع دَ اويس بن عامر قرني سره متعلق ډيرڅه ليكلي دي زه خاص خاص خبرې دلته نقل كوم دَدې حديث په رڼا كښې حضرت عمرفاروق رضي الله عنه مسلسل په دې لټون او تلاش كښې ووچه اويس قرني رحمه الله سره ملاقات اوشي. يوځل دَحضرت عمر رضي الله عنه او اويس قرني رحمه الله ملاقات اوشو سوال جواب اوشو او خبرې اترې ئې داسې اوكړې.

عمرفاروق رضي الله عنه: آيا ته اويس بن عامرئې؟

اويس قرني رحمه الله: اوجي. زه هم هغه يم.

عمرفاروق رضي الله عنه: آيا ته قبيله مراد سره تعلق لرې او قرني ئې؟

اويس قرني رحمه الله: او صيبه!

عمرفاروق رضي الله عنه: آيا په تا برګې مرض وو؟

اويس قرني رحمه الله: اوجي.

دې نه پس حضرت عمر رضي الله عنه دَرسول الله صلى الله عليه وسلم پوره حديث واؤرولو چه اويس قرني رحمه الله سره متعلق وو په كوم كښې چه دَدعا كولو خبره وه. حضرت عمر رضي الله عنه چه كله دَدعاء مغفرت درخواست اوكړو نو اويس قرني رحمه الله اووئيل اې اميرالمؤمنين تاسو څه فرمايئ؟ زما په شان سړې به ستاسو دَ پاره دَمغفرت دعا كوي؟ حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل يقيناً ته به زما دَپاره دَمغفرت دعا غواړې.

نوبيا حضرت اويس رحمه الله دَ فاروق اعظم رضي الله عنه دَپاره دَمغفرت دعا اوغوښتله. دې نه پس حضرت عمر رضي الله عنه دَ اويس قرني رحمه الله نه پوښتنه اوكړه اوس وايه چرته تلل غواړې؟ هغه وئيل زه كوفې ته تلل غواړم. حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل آيا ستاسو باره كښې دَكوفې حاكم ته څه ليكل اوكړم؟

حضرت اويس رحمه الله اوفرمائيل اې اميرالمؤمنين ما په خپل نامعلوم حال باندې پريږده.

دَ اويس قرني باره كښې بل روايت: په يو بل روايت كښې دي چه حضرت عمر رضي الله عنه فرمائي يوځل ما ته حضورپاك آواز اوكړو زه حاضرشوم نو وئې فرمائيل اې عمر! زما په امت كښې به يو سړې وي چاته چه به اويس وئيلې شي ته چه هغه ته اوګورې نو خدائي به دريادشي كله چه ته هغه سره ملاؤشې نو زما سلام ورته وايه او دَهغه نه دَځان دَپاره دَمغفرت دَدعا

درخواست اوکړه. هغه به الله تعالی ته دَدومره زیاتوخلقو سفارش کوی لکه چه دَ ربیعه اومضر خلق دی.

حضرت عمرفاروق رضی الله عنه فرمائی دَحضور پاك دَ ارشاد نه پس زه دَدغه سړی په لټون کښې شوم مګرماته په عهدنبوی کښې دغه سړې ملاؤنه شو.

بیامادَ صدیق اکبر رضی الله عنه په دورحکومت کښې اولټولو مګرماته ملاؤنه شو.

بیاچه کله زمادَ امارت وخت شو نوما هغه نور په تیزئی سره لټول شروع کړو تردې چه د دَنیادَمختلفو ملکونو ښارونو قافلونه ماپوښتنه کوله آیا په تاسوکښې څوک داسې سړې هم شته چه دَهغه نوم اویس وی. قبیله مرادسره دَهغه تعلق وی اودَقرن اوسیدونکې وی؟

هم په دغه لټون کښې یوسړې ماته یوځل اووئیل اې امیرالمؤمنین ته چه دکوم سړی باره کښې تپوس کوې هغه زما دَ تره څوئی دې لیکن هغه خودومره عاجزغریب دې اودَدومره درجې پورې کم تر اوبې حیثیت سړې دې چه ستاسوغوندې عظیم انسان دَهغه باره کښې پوښتنه کول ستاسودَ شان سره نه ښائی.

حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائیل چه ته کومې دَسپاکوی کلمې دَهغه باره کښې وایې داستادَ پاره دَ هلاکت سبب دې. حضرت عمر رضی الله عنه فرمائی چه مادغه سړی سره هم دا خبرې اترې کولې چه دَلرې نه په اوښ یوسور ښکاره شو په اوښ باندې زړه کجاوه وه په مینځ کښې یوسړې ناست وو دَجادَ بدن چه څه حصه په زړو شلیدلوکپړو کښې پټه وه اوځه ښکاره وه.

دَ هغه په کتلوسره زما خیال راغلوچه هم دغه سړې اویس قرنی دې. ماورمنډه کړه اوهغه له لاړم چه ته اویس قرنی ئې؟ هغه جواب راکړو اوجې. مااووئیل رسول الله ﷺ تاته سلام رالیګلې دې دغه سړی اووئیل وعلی رسول الله السلام وعلیك یاامیرالمؤمنین. دې نه پس ماهغه ته اووئیل دَ رسول الله ﷺ حکم دې چه ته زمادَ پاره دَمغفرت دعااوکړې. دې نه پس زمادا معمول شو چه هر کال به مې دَ حج په موقع اویس سره ملاقات کولو خپل احوال او اسرار به مې هغه ته بیانول اوهغه به خپل احوال اواسرار ماته بیانول.

[۶۲۶۷] داهل یمن فضیلت

۶۲۶۷ - (۱) [۲] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ قَالَ: «أَتَاكُمْ أَهْلُ الْيَمَنِ [۲] هُمْ أَرَقُّ وَأَلْيَنُ قُلُوبًا [۳] الْإِيمَانُ يَمَانٍ وَالْحِكْمَةُ يَمَانِيَةٌ وَالْفَخْرُ وَالْخُيَلَاءُ فِي أَصْحَابِ الْإِبِلِ [۴] وَالسَّكِينَةُ وَالْوَقَارُ فِي أَهْلِ الْغَنَمِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوي (کوم وخت چې د یمن نه ابوموسٰی اشعري رضی الله عنه او د هغه د قوم خلق خدمت رسالت کې حاضر شول) نو حضور ﷺ ورته وفرمایل تاسو ته د یمن خلق راغلي دي [۲] چې تاسو ته د راتلونکو نورو خلقو په نسبت

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب قدوم الأشعریین [ص:۱۷۳] وأهل الیمن (رقم-۴۳۸۸) ومسلم فی کتاب الإیمان/باب تفاضل أهل الإیمان فیه، ورجحان أهل الیمن فیه (رقم-۸۴ - (۵۲) واحمد فی المسند: ۲/۲۵۲

زیات رقیق القلب او زیات نرم دل دی۳ ایمان د یمن دی او حکمت هم یمني دی او فخر یعنی د خپل مال ومنصب په ذریعه خپله لویي کول او تکبر کول په اوښانو والا کې دی۴ او اطیمنان او تحمل او وقار په بزو والاو کې دی. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ①أَرَقُّ: دَ رقیق نه دې نرم شفیق باریك او ښکلې معنی کښې دې. ②وَأَلْیَنُ: نرم زړه والا، مهربانه (هم ظاهری هم باطنی). ③الإِیْمَانُ یَمَانٍ: یمن طرف ته ایمان نسبت دې یعنی د یمن خلق ایمانداری دی ④الحِکْمَةُ یَمَانِیَةٌ: د حکمت څخه علم مراد دې یعنی د یمن خلقو کښې علم دې ⑤الفَخْرُ: أَيِ: الإِفْتِخَارُ: فخر او لوئی کول. ⑥الخُیَلَاءُ: غرور او تکبر. ⑦السَّکِیْنَةُ: أَيِ: التَّأَنِّي: اطمینان، تسلی. ⑧الوَقَارُ: أَيِ: الحِلْمُ وَالأُنْسُ: تحمل اوبرداشت، محبت کول.

تسهیلات: قوله: وَالحِکْمَةُ یَمَانِیَةٌ

دحکمت څخه مراد: دَحکمت نه مراد علم دې یعنی دَهغه زمانې اهل یمن داسې وو. دَ قیامته پورې دَاهل یمن دَپاره دا فضیلت نشته دې. بعضې لږ شان خلق به اوس هم داسې وی چه په دغه صفاتو سره به متصف وی.

نوټ: باب بدء الخلق اوباب وفات النبي ﷺ کښې او په نورو مقاماتو کښې دَدې حدیث تشریح او توضیح شوې ده.

[۶۲۶۸] دکډبه خلقو تعریف

۶۲۶۸-() [۳] ۱ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ «رَأْسُ الْکُفْرِ نَحْوَ الْمَشْرِقِ، ۳ وَالْفَخْرُ وَالْخُیَلَاءُ فِي أَهْلِ الْخَیْلِ وَالْإِبِلِ وَالْفَدَّادِیْنَ أَهْلِ الْوَبَرِ، ۴ وَالسَّکِیْنَةُ فِي أَهْلِ الْغَنَمِ». مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل ۲ د کفر سر مشرق طرف ته دی ۳ فخر او تکبر اسونو والاوو اوښانو والاو او بزګرانو کې دی چې د اوښ د وېښتانو په خیمو کې اوسیږي یعنی هغه خلق چې آبادیو نه لرې جنګلاتو او صحراګانو کې اوسیږي او داسې خلق به هغه زمانه کې زیات تر د اوښانو د وېښتانو نه جوړې شوې خیمو کې اوسیدل ۴ او نرمي او مسکیني بزو والاو کې وه. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ①رَأْسُ الْکُفْرِ: أَيْ: مُعْظَمُهُ وَمَنْشَؤُهُ: یعنی دَ کفر څوکه او دَ کفر سر اولیډر اوسرغنه مشرق کښې دې، یا دا چه کفر د مشرق د طرفه راوخی. ②نَحْوَ: طرف، ③الفَدَّادِیْنَ: أَيْ: الفَلَّاحِیْنَ: زمیندار خلق (چغې صورې وهونکې صحرائی ځنګلی خلق مراد دی). ④أَهْلِ الْوَبَرِ: أی شَعْرُ الإِبِلِ: یعنی دَ اوښانودَ وېښتو په خیمو کښې اوسیدونکې جټ خلق به وی. وَالْمُرَادُ بِهِمْ سُکَّانُ الصَّحَارِي: (دَدې نه هم هغه صحرائی ځنګلی خلق مراد دی).

---

[1] اخرجه البخاری کتاب بدء الخلق/باب: خیر مال المسلم غنم یتبع بها شعف الجبال (رقم-۳۳۰۱) فی ومسلم فی کتاب الإیمان/باب تفاضل أهل الإیمان فیه، ورجحان أهل الیمن فیه (رقم-۸۵ - (۵۲) والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الدجال لا یدخل المدینة (رقم-۲۲۴۳) ومالک فی الموطا فی کتاب الاستئذان/باب ما جاء فی أمر الغنم (رقم-۱۵) واحمد فی المسند:۴۱۸/۲

تسهیلات: قوله: رَأْسُ الْكُفْرِ:

د رأس الكفر مصداق: دَ مدینې منورې نه چه کومې علاقې دَمشرق طرف ته راخی هغه فارس ایران او روس وغیره دی. هم په دې علاقو کښې د یاجوج ماجوج مرکز دې اوهم دَدغه علاقونه به دَ دجال خروج کیږی.

[۶۲۶۹] د مدینې څخه مشرق طرف د فتنو مرکز

۶۲۶۹-(۱)[۳] [۱] وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] قَالَ: «مِنْ هَاهُنَا جَاءَتِ الْفِتَنُ نَحْوَ الْمَشْرِقِ، [۳] وَالْجَفَاءُ وَغِلَظُ الْقُلُوبِ فِي الْفَدَّادِينَ أَهْلِ الْوَبَرِ عِنْدَ أُصُولِ أَذْنَابِ الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ فِي رَبِيعَةَ وَمُضَرَ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابومسعود انصاري رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوي [۲] چې یوه ورځ حضور ﷺ مشرق طرف ته د لاس مبارك اشاري کولو سره وفرمایل چې فتنې دې خاې نه راغلي دي [۳] او بد زباني او د زړه سختوالي په خیمو کې اوسیدونکو خلقو کې وی چې خپل خاروي څرولو د پاره د اوښانو او غواګانو لکئ پسي لګیدلي دي داخلق ربیعه او مضر قبائلو کې دی. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① اَلْجَفَاءُ: دا د وفا ضد دې، بې وفا او بې لوظه ته وائی خو دلته ددې نه مراد سخت ژبې شاړ شبر خلق مراددی یعنی کلی وال خلق. ② غِلَظُ الْقُلُوبِ: سخت زړه خلق، ③ أُصُولِ: جرړې ته وائی ④ أَذْنَابِ: د ذَنَب جمع ده، لکئ ته وائی.

تسهیلات: قوله: وَغِلَظُ الْقُلُوبِ:

دزړونو دسختوالی وجه: دَتعلیم اوتهذیب د عدم په به دَهغوی زړونه سخت وی. دا صفت به دهغه زمیندارانوخلقو وی چه چغې صورې وهونکی به وی. په څناورو باندې چغې وهی او دَ څناورو دَ ویښتونه جوړو شوو خیموکښې به اوسیږی. اودَ غواګانو غوایانو او اوښانو لکو پورې به اینختې وی. دا صحرابی ځنګلی خلق ربیعه څخه به هم وی او دَ قبیله مضر څخه به هم وی.

[۶۲۷۰] حجازیان د ایمان خاوندان

۶۲۷۰-(۲)[۵] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «غِلَظُ الْقُلُوبِ وَالْجَفَاءُ فِي الْمَشْرِقِ [۳] وَالْإِيمَانُ فِي أَهْلِ الْحِجَازِ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضي الله عنه وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د زړه سختوالي او سخت ګوئي مشرق کې ده خکه چې د کفر او فتنو مصدر او مرکز د دې طرف علاقې دی [۳] او ایمان حجاز والو کې دی. (مسلم)

[۱] اخرجه البخاری کتاب المناقب/باب باب (رقم-۳۴۹۸) فی ومسلم فی کتاب الإیمان/باب تفاضل أهل الإیمان فیه ورجحان أهل الیمن فیه (رقم-۸۱ - (۵۱) والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم باب (رقم-۲۲۶۸) ومالک فی الموطا فی کتاب الاستئذان/باب ما جاء فی المشرق (رقم-۲۹) واحمد فی المسند:۱۲۱/۲

[۲] اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب قدوم الأشعریین [ص:۱۷۳] وأهل الیمن (رقم-۴۳۸۹) واحمد فی المسند:۳۳۲/۳

تسهیلات:

قوله: وَالْإِيمَانُ فِي أَهْلِ الْحِجَازِ:

د اهل حجاز په مصداق کښې دوه اقوال: ① دَاهل حجاز نه مراد مکه مدینه او طائف او دَدې سره متعلق ښارونه او آبادئی دی
② دَ اهل حجاز څخه مراد انصار دی. اودَدوې نوم حجاز په دې اعتبارسره وئیلې شوې دې چه دا دَنجد اوتهامه په مینځ کښې حائل دی دَ نجد معنی اوچته زمکه او دَ تهامه معنی ده ښکته زمکه

[۶۲۷۱] دشام او یمن دپاره د برکت دعا

۶۲۷۱-() [۲] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي شَامِنَا اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي يَمَنِنَا. [۳] قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَفِي نَجْدِنَا. [۴] قَالَ: اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي شَامِنَا اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي يَمَنِنَا. [۵] قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَفِي نَجْدِنَا، فَأَظُنُّهُ قَالَ فِي الثَّالِثَةِ: [۶] هُنَاكَ الزَّلَازِلُ وَالْفِتَنُ وَبِهَا يَطْلُعُ قَرْنُ الشَّيْطَانِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وایي یوه ورځ رسول الله ﷺ داسې دعا وکړله [۲] خدایه! زمونږ ملك شام کې برکت واچوي او خدایه! زمونږ ملك یمن کې برکت راکړې [۳] په دې اوریدو سره صحابه رضي الله عنهم عرض وکړو یارسول الله! زمونږ نجد په باره کې هم دعا وفرمایه (چې مونږته د دې علاقې د طرف نه هم برکت راکړي) [۴] رسول الله ﷺ بیاوفرمایل خدایه! زمونږ ملك شام کې برکت واچوي زمونږ یمن کې برکت راکړي [۵] صحابه رضي الله عنهم دوباره عرض وکړو یا رسول الله! او زمونږ نجد په باره کې هم دا دعا وفرمایې راوي وایي خما گمان دا دی چې په دریم ځل حضور ﷺ بیا هغه الفاظو کې دعا وکړه [۶] او د نجد په باره کې یې وفرمایل هلته به زلزلې وي فتنې وي او د هغه ځاي نه به د شیطان ښکر ښکاره کیږي. (بخاري)

حل اللغات:- ① يَطْلُعُ: أَيْ: يَظْهَرُ: ښکاره کیږی به. ② قَرْنُ الشَّيْطَانِ: أَيْ: حِزْبُهُ: قَرْن ښکر ته وائی یعنی د شیطان ښکر (خو ددې نه دشیطان ډله او دهغه ملگری مراد دی)

تسهیلات: قوله: نَجْدِنَا:

دنجد مصداق: دَریاض دَ اطرافو اکثر علاقې په نجد کښې راځی. دادَ حجاز نه دَ مشرق طرف ته واقع دی. دَ شیطان دَ ښکرنه دَ شیطان جماعت مراد دې. چه فتنه خورونکې جماعت دې

قوله: اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي شَامِنَا:

د شام مصداق: دَ شام نه مراد دَ فلسطین زمکه ده چه دَ انبیاء کرامو آخری آرام گاه ده.

په شام کښې د برکت څخه مراد: په شام کښې دَ برکت څخه مراد دَهغه ځائی په برکتونو کښې زیاتوالې دې چه اهل مدینه او ټولو مؤمنانوته حاصل شی.

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الفتن/باب قول النبي صلى الله عليه وسلم: «الفتنة من قبل المشرق» (رقم-۷۰۹٤) والترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۹۵۳)

قوله: اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي يَمَنِنَا:

په یمن کښې د برکت څخه مراد: دغه شان په یمن کښې دَبرکت ظاهری او باطنی دواړه برکتونه مراد دی اودَ یو قول مطابق دغه دواړو ملکونودپاره دَدعا ظاهری داعیه دا هم ده چه اهل مدینه دَپاره به غله او نور دَخوراك څیزونه هم دَدې دواړو ملکونونه راتلل.

قوله: قَالَ فِي الثَّالِثَةِ هُنَاكَ

د هناك څخه مراد: "هناك" نه مراد دَ نجد طرف دې اودَ نجددَ طرف نه مراد هم دَ حجاز مشرقی طرف دې. دکوم ذکر چه په ماقبل حدیث کښې دَ "نحوالمشرق" دَ الفاظو سره راغلې دې.

قوله: الزَّلَازِلُ:

د زلزلو څخه مراد: ① دَ زلزلې څخه ظاهری زلزلې مراد دی کومې چې هرڅوک پیژنی چې زمکه خوزیدل شروع شی.

② د زلزلو څخه باطنی زلزلې مراد دی. مطلب دا دې چه دَ هغه ځائی دَ خلقو روحانی آرام او سکون ختمیدل

قوله: وَالْفِتَنُ وَبِهَا يَطْلُعُ قَرْنُ الشَّيْطَانِ

د فتنو څخه مراد: اودَ فتنو نه مراد هغه آفتونه او مصیبتونه دی په کوم سره چه په دین کښې ضعف اوکمزوری پیدا شی او په نیکئی او ایماندارئی کښې کمې راشی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۶۲۷۲]د اهل یمن په باره کښې دعا

۶۲۷۲-(۱) [۷] [۱]عَنْ أَنَسٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] نَظَرَ قِبَلَ الْيَمَنِ فَقَالَ: [۳] اَللّٰهُمَّ أَقْبِلْ بِقُلُوبِهِمْ وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَمُدِّنَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت انس رضی الله عنه د حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه نه روایت کوي [۲] چې یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم یمن طرف ته نظر پورته کی [۳] او بیا داسې دعایې وفرمایله خدایه! د اهلِ یمن زړونه متوجه کړه راوګرزوه او زمونږ صاع او زمونږ مد کې زمونږ د پاره برکت راکړې. (ترمذي)

حل اللغات:- ① أَقْبِلْ: دا د إقبال نه د امر صیغه ده. أی اجْعَلْ قُلُوبَهُمْ مُقْبِلَةً إِلَيْنَا: یعنی اې الله ته د یمن دخلقو زړونه زمونږ طرف ته متوجه کړه. ② صَاع: یو صاع د څلور مد برابر وی. بیا یو مد د یو رطل او د رطل ددریمې حصې برابر وی. او رطل د دولسو اوقیو برابر وی. او یوه اوقیه د څلوینښتو دراهمو برابر وی.

تسهیلات: قوله: اَللّٰهُمَّ أَقْبِلْ بِقُلُوبِهِمْ

دیمن دپاره ددعا وجه: حضورپاك دَ اهل یمن دَپاره "دعاڅکه اوکړه چه دَ اهل مدینه غله

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۹۵۴) واحمد فی المسند:۵/۱۸۵

وغيره به ديمن نه راتله او هم په دې وجه نى دهغوى په صاع اومد كښې د بركت دعا اوكړه.

قوله: وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَمُدِّنَا:

په صاع اومد كښې د بركت دپاره د دعا وجه: صاع اومد دوه پيمانې دى دكوم په ذريعه چه د غلې لين دين كيږى. په صاع كښې تقريبًا درې نيم سيره غله راځي اومد ددې څلورمه حصه ده اودلته صاع او مد كښې د بركت دعا فرمائيلې شوې ده لكه چه ظرف مضروف مراد اخستې شوې دې.

[۶۲۷۳] په شام باندې د فرښتو وزرې خورول

۶۲۷۳-(۱) [۸] [۱] وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «طُوبَى لِلشَّامِ» [۳] قُلْنَا: لِأَيِّ ذَلِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ [۴] قَالَ: «لِأَنَّ مَلَائِكَةَ الرَّحْمَنِ بَاسِطَةٌ أَجْنِحَتَهَا عَلَيْهَا». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] خوش بختي ده اهل شام ته [۳] مونږ پوښتنه وكړه په څه وجه يارسول الله! [۴] حضور ﷺ وفرمايل په دې وجه چې د رحمٰن فرښتې د شام زمكې او د هغه اوسيدونكو باندې خپلې وزرې خورې كړې دي چې هغه زمكه او د هغه خلق د كفر نه محفوظ شي (او ترمذي رحمه الله د رحمٰن فرښتې د لفظي تركيب دې طرف ته اشاره كوي چې دلته فرښتو نه مراد د رحمت فرښتې دي). (احمد ترمذي)

حل اللغات:- ① طُوبَى: د طَابَ نه مصدر دې، وَالْمَعْنَى لَكَ أَصَبْتَ خَيْرًا: خير اوخوشحالي دې وى تالره. ② بَاسِطَةٌ: خورې كړې وى (دپاره دحفاظت). ③ أَجْنِحَتَهَا: جمع د جناح ده ،وزرې

تسهيلات:

قوله: مَلَائِكَةَ الرَّحْمَنِ:

د وزرو خورلو څخه مراد: دَ دې نه دَ رحمت فرښتې مراد دى چه فرښتو خپلې وزرې خورې كړې دى. دادې خبرې نه كنايه ده چه دَ شام په ملك كښې اوسيدونكو ابدال باندې يا په اهل شام باندې دَ الله تعالى رحمت راخور شوې دې. دَ فرښتو دَ وزرو نه مراد صفات او دَ ملائكه طاقت دې. باقى دَ فرښتو وزرې دَ دنيا دَ خلقو په متو باندې قياس كول نه دى پكار. (التعليق الصبيح: ۴۰۴/۷).

[۶۲۷۴] د حضر موت ذكر

۶۲۷۴-(۲) [۹] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «سَتَخْرُجُ نَارٌ مِنْ نَحْوِ حَضْرَمَوْتَ أَوْ مِنْ حَضْرَمَوْتَ تَحْشُرُ النَّاسَ». [۳] قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَالَ: «عَلَيْكُمْ بِالشَّامِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] ډير نزدې د حضرموت د طرف نه يادايي وفرمايل د حضر موت نه به يو اور ښكاره شي او هغه اور به

[1] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۹۵۴) واحمد فى المسند:۱۸۴/۵

[2] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء لا تقوم الساعة حتى تخرج نار من قبل الحجاز (رقم-۲۲۱۷)واحمد فى المسند:۱۱۹/۲

خلق جمع کړي او شړلو سره به یې بوځي په دې اوریدو سره [۳] صحابه رضي الله عنهم عرض وکړو یارسول الله! بیا زمونږ په باره کې څه حکم دی؟ یعنې هغه وخت مونږ ته څه کول پکار دي او چیرته تلل پکار دي حضور ﷺ وفرمایل تاسو ته شام ته تلل پکار دي. (ترمذي)

حل اللغات:- ① حَضْرَمَوْتَ: د یمن د یوښار یا قبیلې نوم دی.

تسهیلات:

قوله: مِنْ نَحْوِ حَضْرَمَوْتَ: دا الفاظ ئې ارشاد اوفرمائیلي یا دمن حضرموت الفاظ ئې ارشاد اوفرمائیل. لکه چه راوی ته شك دی. د اور نه مراد یا خو په حقیقتًا اور دی یا ددې نه شر اوفتنې مراد دی.

قوله: عَلَيْكُمْ بِالشَّامِ: تاسو له دې وخت کښې شام ته تلل پکاردی ځکه چه دغه وخت به شام فرښتو په ګیره کښې اخستې وی په دې وجه به هلته نه اور ځی او نه شر اوفساد. دغه شان یو حدیث ماقبل کښې د قیامت په علاماتو کښې تیر شوی دی. الحاصل دلته داخبره کول زیاته صحیح ده چه دلته د حضر موت د طرف نه راښکاره کیدونکی کوم اور ذکر دی هغه په حقیقت کښې اور نه دی بلکه فتنې او شر مراد دی.

[٦٢٧٥] د شام فضیلت

٦٢٧٥-(١) [٥] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [٢] «إِنَّهَا سَتَكُونُ هِجْرَةٌ بَعْدَ هِجْرَةٍ [٣] فَخِيَارُ النَّاسِ إِلَى مُهَاجَرِ إِبْرَاهِيمَ» [٤] وَفِي رِوَايَةٍ «فَخِيَارُ أَهْلِ الْأَرْضِ أَلْزَمُهُمْ مُهَاجَرَ إِبْرَاهِيمَ وَيَبْقَى فِي الْأَرْضِ شِرَارُ أَهْلِهَا [٥] تَلْفِظُهُمْ أَرَضُوهُمْ تَقْذَرُهُمْ نَفْسُ اللَّهِ تَحْشُرُهُمُ النَّارُ مَعَ الْقِرَدَةِ وَالْخَنَازِيرِ [٦] تَبِيتُ مَعَهُمْ إِذَا بَاتُوا وَتَقِيلُ مَعَهُمْ إِذَا قَالُوا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه وایي ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل [٢] د هجرت نه وروسته به هجرت وي [٣] نو بهترین سړی به هغه وي چې هغه هغه ځاي ته هجرت کولو سره لاړ شي چیرته چې حضرت ابراهیم علیه السلام هجرت کړی وو (یعنی ملك شام ته او دلته هغوئ هغه وخت په هجرت راغلي وه هرکله چې هغوئ خپل آبائي ملك عراق نه ترك وطن کړی وو) [٤] او په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې په مخ د زمکې به بهترین خلق هغه دي چې دي ځاي ته هجرت کول په ځان بنه لازم ونیسي چیرته چې حضرت ابراهیم علیه السلام هجرت کړی وو یعنی د شام ملك ته او هغه وخت به مخ د زمکې باندې د هغه بدترخلق یعنی کفار او فجار پاتې شي [٥] چې هغوئ به د هغوئ د ملك نه اوباسي د الله ذات به هغوئ پلیت ګڼي او اور به هغوئ د خنزیرانو او بیزوګانو سره یوځای کولو سره شړي [٦] او هغه اور به د هغه سره شپه تیروي چیرته چې د هغوئ شپه راشي او هغوئ سره به قیلوله آرام کوي چیرته چې هغوئ قیلوله کوي. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① فَخِيَارُ النَّاسِ: غوره او بهترین سړي په خلقو کښې، ② أَلْزَمُهُمْ: أَيْ: أَكْثَرُهُمْ لُزُومًا: هغوی سره کیدل په ځان لازم اوګڼري. ③ تَلْفِظُهُمْ: دا صیغه د ضرب یضرب نه ده ددې ماده لفظ دی، أَيْ: تَرْمِيهِمْ: د غورزولو او یستلو په معنی کښې دي ④ أَرَضُوهُمْ: دا جمع ده او ددې مفرد ارض دی

(١) اخرجه ابوداود فی السنن رقم الحدیث ٢٤٨٢ واحمد فی المسند ٢/ ١٩٩

زمکې ته وائي. يعني زمکه به هغه خلقوته ځائي نه ورکوي بلکه اخواکوي به ئې. ⑤تَقْذَرُهُمْ: دَ سمع يسمع نه، دَ کراهت او قباحت په معنى کښې دې. ⑥نَفْسُ اللَّهِ: أَيْ: ذَاتُهُ: دادَ متشابهات نه دې مراددالله تعالى ذات دې يعني الله تعالى به هغه خلق نه خوښوي بلکه هغوی نه به نفرت کوي. ⑦الْقِرَدَةِ: بيزوګان، ⑧تَبِيتُ: دَ شپې تيرولو په معنى کښې دې. ⑨تَقِيلُ: دادَ قيلوله نه جوړدې، وَهِيَ الِاسْتِرَاحَةُ بِالنَّهَارِ: قيلوله يَنى د ورځې آرام کولوته وائي.

تسهيلات:

قوله: فَخِيَارُ النَّاسِ إِلَى مُهَاجَرِ إِبْرَاهِيمَ:

په آخره زمانه کښې شام ته د هجرت فضيلت: دَدې حديث مفهوم اومطلب دادې چه ډير زربه دَحق اوباطل په معرکوکښې مسلسل هجرتونه وي بنه خلق به هغه وي چه دَشام طرف ته هجرت کوي چرته چه حضرت ابراهيم عليه السلام دَ عراق نه هجرت فرمائيلې وو. دَخوخلقو دَهجرت نه پس کافرانوسره سخت شرير اوخراب خلق پاتې شي هغوی به دَحق دَپاره نه هجرت کوي او نه به دَ حق په طرف اودريدو سره کافرانوسره جهاد کوي. بلکه ذليل جوړيدوسره به کافرانو سره وي. زمکه به هغوی ذليل ګنړلوسره اخوادېخوا غورزوي اودَالله تعالى ذات به دَهغوی نه نفرت کوي. بيابه يواځې رواشي اوکافران چه خنزيران او بيزوګان دی هغوی سره به دغه اشرار اومنافقان يوځائي کولوسره ګډوډ کړي.

قوله: النَّارُ مَعَ الْقِرَدَةِ وَالْخَنَازِيرِ

د قردة اوخنازيرپه مصداق کښې دوه احتمالات:

① دَ بيزوګانو او ليوه ګانوه ځخه کافران مراد اخستې شي

② دَ بيزوګانو او ليوه ګانوه ځخه حقيقي ځناور مرادکيدې شي.

قوله: تَبِيتُ مَعَهُمْ إِذَا بَاتُوا وَتَقِيلُ مَعَهُمْ إِذَا قَالُوا:

د فتنې ځخه نه جدا کيدل: دې نه مراد دادې چه دَدغه خلقو دَفتنې اوفساد اور به هغوی سره لګيدلې وی که ورځ وی اوکه شپه وی. دَ فتنې دَ اور نه مراد فتنه ده. کله چه دا منافقان خلق دکافرانو اخلاق خپل کړی نوکافرانوسره به په فتنوکښې اخته شي. دَدوی به داخيال وی چه فتنه په ملك کښې ده بهربه نه وی نودَ وطن پريخودودَپاره به اوځي خودغه فتنه به دَ هغوی ځان نه پريږدی بلکه دوی سره سره به ځي.

[٦٢٧٦] آخره زمانه کښې شام ته دهجرت کولو حکم

٦٢٧٦ — (¹) [٥] ①وَعَنِ ابْنِ حَوَالَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ②«سَيَصِيرُ الْأَمْرُ أَنْ تَكُونُوا جُنُودًا مُجَنَّدَةً ③جُنْدٌ بِالشَّامِ وَجُنْدٌ بِالْيَمَنِ وَجُنْدٌ بِالْعِرَاقِ، فَقَالَ ابْنُ حَوَالَةَ: خِرْ لِي يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنْ أَدْرَكْتُ ذَلِكَ، ④فَقَالَ: عَلَيْكُمْ بِالشَّامِ فَإِنَّهَا خِيَرَةُ اللَّهِ مِنْ أَرْضِهِ يَجْتَبِي إِلَيْهَا خِيَرَتَهُ مِنْ عِبَادِهِ، ⑤فَأَمَّا إِنْ أَبَيْتُمْ فَعَلَيْكُمْ بِيَمَنِكُمْ وَاسْقُوا مِنْ غُدُرِكُمْ ⑥فَإِنَّ اللَّهَ - عَزَّ وَجَلَّ - تَوَكَّلَ لِي بِالشَّامِ وَأَهْلِهِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ.

¹) اخرجه ابوداود فى السنن رقم الحديث ٢٤٨٣ واحمد فى المسند ٤/ ١١٠

ترجمه: [۱] حضرت ابن حواله ﷛ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] هغه زمانه نزدې ده هرکله چې د دين او ملت به دا نظام وي چې ستاسو د مسلمانانو به جداجدا څو لښکرجوړ شي [۳] يو لښکر به په شام کې وي يو لښکر به په يمن کې او يو لښکر په عراق کې په دې اوريدو سره ابن حواله عرض وکړو يارسول الله! که هغه زمانه کې زه وم نو وفرمايي چې زه کوم لښکر اختيار کړم [۴] حضور ﷺ ورته وفرمايل ته شام اختيار کړه ځکه چې د شام زمکه د الله د زمکو نه برگزيده زمکه ده يعنې الله ﷻ په آخره زمانه کې د دينداړو اوسيدو د پاره د شام زمکه خوښه کړې ده [۵] بيا که ته شام اختيارول قبول نه کړې نو خپل يمن اختيار کړه او گوره چې تاسو شام ته لاړ شي نو خپله او خپلو حيوانانو باندې د خپلو حوضونو نه اوبه چښوي [۶] حقيقت دادی چې الله ﷻ محض خما په وجه خما د امت په حق کې دا ذمه اخستې ده چې هغه به د کفارو د فتنې او فساد او د هغوی د غلبې نه شام او اهل شام مامون او محفوظ ساتي. (احمد ابوداود)

حل اللغات:- ① سَيَصِيرُ: زر ده چه رابه شی (هغه زمانه). ② الأَمْرُ: ددې نه مراد يا اسلام دې يا کفارو سره جنگ (جهاد) دې. ③ مُجَنَّدَةً: أَيْ: مَجْمُوعَةً: د يو جماعت او يو موټي په معنی کښې دې (چه تاسو تول به په کلمه د اسلام راجمع يئ). ④ خِيَرَةُ اللهِ: أَيْ: مُخْتَارَةٌ: دالله تعالی غوره او خوښه. ⑤ أَبَيْتُمْ: أَيْ: امْتَنَعْتُمْ: يعنی که تاسو د شام د تللو نه انکاراوکړئ، يعنی هلته د تلو قصد نه کوئ. ⑥ يَجْتَبِي: أَيْ: يَجْمَعُ: راجمع کوی، راولي. ⑦ اسْقُوا: اوڅکوئ، څروب کړئ. ⑧ غُدُرِكُمْ: أَيْ: حِيَاضِكُمْ: حوضونه، تالابونه.

تسهيلات: قوله: أَنْ تَكُونُوا جُنُودًا مُجَنَّدَةً:

دامت په درې ډلو کښې تقسيمېدل: يعنی د امر اسلام يا امر جنگ انجام او نتيجه به دا رااوځي چه تاسو مسلمانان به په دريو ډلو او دريو لښکرو کښې تقسيم شئ.

① يوه ډله به په شام کښې وی ② دويمه به عراق کښې وی.

③ دريم به يمن کښې جوړيږی.

حضرت ابن حواله ﷛ تپوس اوکړو يارسول الله ﷺ زه کوم يو کيمپ ته لاړ شم؟ يجتبی اجتباء د خوښولو په معنی کښې راځی دلته جمع کول مراد دی يعنی الله تعالی به خپل نيکان خلق د شام طرف ته راجمع کوی.

قوله: عَلَيْكُمْ بِالشَّامِ:

شام ته دهجرت کولو حکم: او واسقوا من غدرکم په مينځ کښې واقع ده. مطلب دا چه د شام طرف ته هجرت اوکړه او د هغې د حوضونو نه اوبه اوڅکه.

قوله: تَوَكَّلَ:

دشام دخلقو حفاظت خداوندی: تکفل په معنی کښې دې يعنی الله تعالی به د شام او د هغې د اوسيدونکو حفاظت فرمائی. خلاصه دا چه د هجرت او سکونت د پاره د تولونه اول شام بهتر دې گنی بيا يمن اختيار کړه. د عراق نوم مه اخله. غدر جمع ده د دې مفرد غدير دې حوض ته وائی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٦٢٧٧] د شام په خلقو د علی ﷛ د لعنت کولو څخه انکار

۶۲۷۷ -() [۳] [۱] عَنْ شُرَيْحِ بْنِ عُبَيْدٍ، قَالَ: [۲] «ذُكِرَ أَهْلُ الشَّامِ عِنْدَ عَلِيٍّ وَقِيلَ: الْعَنْهُمْ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ. [۳] قَالَ: لَا إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۴] الْأَبْدَالُ يَكُونُونَ بِالشَّامِ وَهُمْ أَرْبَعُونَ رَجُلًا [۵] كُلَّمَا مَاتَ رَجُلٌ أَبْدَلَ اللَّهُ مَكَانَهُ رَجُلًا [۶] يُسْقَى بِهِمُ الْغَيْثُ وَيُنْتَصَرُ بِهِمْ عَلَى الْأَعْدَاءِ [۷] وَيُصْرَفُ عَنْ أَهْلِ الشَّامِ بِهِمُ الْعَذَابُ».

ترجمه: [۱] حضرت شريح بن عبيد تابعي ﷬ روايت کوي [۲] چې يوه موقع باندې د سيدنا علي ﷛ مخکې د اهل شام ذکر وشو او هغوئ ته اوويل شوه اې امير المؤمنين! شام والو باندې لعنت اووايې! [۳] حضرت علي ﷛ ورته اوويل نه زه اهل شام باندې لعنت نشم ويلی حقيقت خو دادی ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي [۴] ابدال په شام کې دی او هغه څلويښت سړي دي [۵] هر کله چې په هغوئ کې يو سړی وفات شي نو الله ﷻ د هغه په ځاې دويم سړی مقرروي [۶] د دې ابدالو د وجود له برکته باران کيږي د دوئ مدد سره د دين د دښمنانو نه بدله اخستی شي [۷] او د دوئ له برکته اهل شامو نه سخت عذاب دفع کولی شي.

حل اللغات: - ① اَلْعَنْهُمْ: لعنت اووايئ په شام والو باندې. ② اَلْأَبْدَالُ: دَ بدل جمع ده دَ اولياء الله يو ډلې ته أبدال وائي. ③ أَبْدَلَ اللَّهُ: په بدل کښې راولی الله پاک (بل سړی). ④ اَلْغَيْثُ: أي: اَلْمَطَرُ: باران. ⑤ يُنْتَصَرُ: مدد کولې شی، ⑥ يُصْرَفُ: لرې کولې شی، دفع کولې شی.

تسهيلات:

قوله: اَلْأَبْدَالُ يَكُونُونَ بِالشَّامِ:

د ابدال وجه تسميه: ابدال جمع ده اودَ دې مفرد بدل دې. لکه څنګه چه ابرار جمع ده او مفرد ئې بر دې چونکه داخلق دَ يوبل په مرتبه باندې فائز کيدوسره بدليږی په دې وجه دوی ته ابدال اوونيلې شو.

قوله: اَلْعَنْهُمْ:

د حديث پس منظر: دَحضرت علی ﷛ اوحضرت معاويه ﷛ يواوږدجنګ شوې دې. حضرت علي ﷛ په حق باندې وو اودَمعاويه ﷛ نه اجتهادی غلطی شوې وه. حضرت معاويه ﷛ دَ اوږدې مودې راسې دَ شام دَملك ګورنرپاتې وو. هغه دَحضرت علی ﷛ نه مطالبه کړې وه چه دَعثمان ﷛ قاتلان مونږ ته حواله کړه دې دَپاره چه مونږ دَهغوی نه قصاص واخلو. حضرت علی ﷛ فرمائيلې وو چه اول تاسو خلق بيعت اوکړئ بيا دَ قصاص مطالبه اوکړئ. بهرحال دَحضرت علی ﷛ څه ملګرو هغوی ته اوونيل چه دَ اهل شام دَپاره يوه زورداره بددعا اوکړه دې دَپاره چه ټول په ټول هلاك شی. حضرت علی ﷛ دَخيروکولونه انکاراوکړو اوبيائی دَ شام په تعريف کښې يوحديث نقل کړو په کوم کښې چه دَ ابدال ذکرراغلې دې.

[۱] اخرجه احمد فی المسند: ۱۱۲/۱

دابدالو مرکز: په زير بحث حديث کښې رسول الله ﷺ د ابدال د حقيقت طرف ته اشاره فرمائيلې ده. اول خو حضور پاك د ابدال مسکن او د هغوی مرکزی مقام خودلې دې چه داخلق به په شام کښې وی. د دې مطلب دانه دې چه د شام نه علاوه به په بل ځائې کښې نه وی بلکه د دې مطلب دا دې چه د دوی مرکزی هيډکوارټر او اکثری جماعت به په شام کښې وی.

د ابدال مخفه مراد: دا د الله تعالى د غيبى نظام خلق وی د دوی زيات تر تعلق تکوينيات سره وی. ابدال د خلقونه په عام توګه پټيږی په دې وجه دوی ته رجال الغيب هم وائی. حضرت خضر عليه السلام د دې نظام مشر دې. حضور پاك په دې حديث کښې د هغوی د جماعت نظم ونسق طرف ته هم اشاره کړې ده چه دا څلوېښت سړی وی. دغه څلوېښتونه چه کله هم څوك مړکيږی نو الله تعالى د عام اولياء الله نه يو بدل جوړولو سره دغه د څلوېښتو شميرپوره کوی.

دابدالو کارونه: د دغه نفوس قدسيه په ذريعه او د هغوی په وجود سره د الله تعالى نه د باران دعا غوښتلې کيږی او د دښمن په مقابله کښې د کاميابئی دعا غوښتلې کيږی او الله تعالى امداد کوی. د دوی په برکت سره د اهل شام نه لوئی لوئی فتنې او عذاب اخوا کيږی. دا حديث امام احمد بن حنبل رحمه الله په مسند احمد کښې نقل کړې دې.

د انتظامی امورو دپاره په انسانانو کښې انتخاب: ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات کښې د دې نه علاوه يو حديث د ابن عساکر رحمه الله په حواله سره نقل کړې دې په هغې کښې د ابدال پوره تفصيل دې ترجمه او ګورئی: ابن عساکر رحمه الله د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه يو روايت نقل کړې دې چه مرفوع حديث دې.

① الله تعالى په خپل مخلوق کښې درې سوا داسې سړی پيدا کړی دی د چا د زړه صفت چه د حضرت آدم عليه السلام د زړه په صفت دې.

② بيا الله تعالى څلوېښت سړی پيدا کړی دی د چا قلوب چه د حضرت موسى عليه السلام د قلب په صفت دی.

③ دغه شان الله تعالى اووه کسان داسې مقرر کړی دی د چا قلوب چه د حضرت ابراهيم عليه السلام د قلب په صفت دی.

④ بيا الله تعالى پنځه کسان داسې مقرر کړی دی د چا قلوب چه د حضرت جبرائيل عليه السلام د قلب په صفت باندې دی.

⑤ بيا الله تعالى درې داسې کسان پيدا کړی دی د چا قلوب چه د حضرت ميکائيل عليه السلام د قلب په صفت دی.

⑥ بيا الله تعالى دې ټولونه يو سړې داسې مقرر کړو د چا قلب چه د حضرت اسرافيل عليه السلام د قلب په صفت باندې دې. (لکه چه دا د ټولو اميروی)

د نيابت سلسله: ① کله چه د دغه آخری يو انتقال کيږی نو الله تعالى د دغه دريو د جماعت نه يو ته ترقی ورکولو سره د دريو په جماعت کښې بدلی کوی

② او کله چه د پنځو د جماعت نه د چا انتقال کيږی نو الله تعالى د اوو د جماعت نه چا ته

ترقی ورکولوسره دهغه ځائی بدل کړی.

③ اوکله چه داووه د جماعت نه څوك انتقال شی نو الله تعالی د څلویښتو د جماعت نه یوته ترقی ورکولوسره دهغه ځائی بدل کړی.

④ اوکله چه د څلویښتو د جماعت نه د چا انتقال کیږی نو الله تعالی د دریو سوو د جماعت نه یوته ترقی ورکولوسره دهغه ځائی بدل کړی

⑤ اوکله چه د دریو سوو والا د جماعت نه څوك انتقال شی نو الله تعالی د عام اولیاء الله نه چاته ترقی ورکولوسره دهغه ځائی بدل کړی.

د ابدالو کلیزه اجتماع: ابدال سره متعلق د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما حدیث هم دې په دې وجه د دې نه انکار مناسب نه دې. وئیلې شی چه په کال کښې یو ځل د دوی اجتماع په حجاز کښې کیږی او د هغوی استاذی د دنیا مختلف مقاماتو کښې د مخلوق خدا په خدمت کښې مقرر کیږی. دا د عام انسانانو په شان انسانان دی خو د دوی یو ځان له نظام دې.

[۶۲۷۸] د دمشق د انتخاب ترغیب

۶۲۷۸-() [۱۳] ۱ وَعَنْ رَجُلٍ مِنَ الصَّحَابَةِ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ۲ «سَتُفْتَحُ الشَّامُ فَإِذَا خُيِّرْتُمُ الْمَنَازِلَ فِيهَا ۳ فَعَلَيْكُمْ بِمَدِينَةٍ يُقَالُ لَهَا دِمَشْقُ ۴ فَإِنَّهَا مَعْقِلُ الْمُسْلِمِينَ مِنَ الْمَلَاحِمِ وَفُسْطَاطُهَا ۵ مِنْهَا أَرْضٌ يُقَالُ لَهَا الْغُوطَةُ». رَوَاهُمَا أَحْمَدُ.

ترجمه: ۱ اصحابو رضی الله عنهم کې یو سړي نه روایت دی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ۲ هغه زمانه نږدې ده هرکله چې د شام د ملك ښارونو او علاقو کې د کورونو جوړولو او رهائش پذیر کیدو اختیار ورکول شي ۳ نو تاسو هغه ښار اختیارول په ځان لازم وګنئ چې هغه ته دمشق وئیل کیږي ۴ ځکه چې دمشق ښار مسلمانانو د پاره د جنګونو نه د پناه ځاي دی او د مشق یو جامع ښار دی ۵ او د دمشق په زمکو یعنی علاقو کې یوه زمکه او علاقه ده چې هغه ته غوطه وئیل کیږي دا دواړه روایتونه امام احمد نقل کړي دي.

حل اللغات:- ① مَعْقِلُ: أَيْ: مَلَاذُهُمْ: د پناه او د حفاظت ځائی (فوجی چهاونړی)، مضبوط او محفوظې قلعه ته وائی، ② الْمَلَاحِمِ: د مَلْحَمَة جمع ده، وَهِيَ الْحَرْبُ: جنګونو او قتال ته وائی. ③ فُسْطَاطُهَا: وَهُوَ الْبَلَدَةُ الْجَامِعَةُ: لوئې ښار، جامع ښار (یعنی مرکزی فوجی چهاونړئ او فوجی کیمپ). ④ الْغُوطَةُ: وَهِيَ اسْمُ الْبَسَاتِينِ وَالْمِيَاهِ الَّتِي عِنْدَ دِمَشْقَ: دمش سره بالکل نیزدې د باغونو او اوبو والا یو ځائی دې کوم ته چه غوطه وائی.

تسهیلات: قوله: دِمَشْقُ:

د دمشق محل وقوع: په دال باندې زیر او میم باندې زبر دې او شین ساکن دې. بل دا لفظ د دال په زبر او میم په زیر سره هم لوستلې کیږی. دې وخت کښې دا زمکه د شام دار الخلافه ده.

قوله: مَعْقِلُ:

د دنیا څلور نهرونه: علامه زمخشری رحمه الله لیکلی دی په دنیا کښې څلور جنتونه دی.

① یو غوطه ② دویم نهر ایل دې ③ دریم اشعب کدان ④ څلورم سمرقند دې.

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن رقم الحدیث ۴۲۹۸ واحمد فی المسند ۴/ ۱۶۰

علامه ابن جوزی رحمه الله فرمائي چه مادا څلورواړه مقامات ليدلی دی په دې كښې د غوطه فوقيت په دغه باقي څلورو باندې داسې دې لكه څنګه چه د دغه څلورو افضليت په باقي دنيا باندې دې

[۶۲۷۹] خلافت په مدينه كښې او ملوكيت په شام كې

۶۲۷۹-(¹) [۳] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: «الْخِلَافَةُ بِالْمَدِينَةِ ② وَالْمُلْكُ بِالشَّامِ».

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل خلافت په مدينه كې دی ② او ملوكيت يعنی بادشاهي په شام كې.

حل اللغات:- ① الْخِلَافَةُ: خلافت، بادشاهی (يعنی د دې حقدار). ② الْمُلْكُ: ملوكيت او آمريت (خليفه چه د نبی عليه السلام په منهج باندې وی، او ملوكيت چه په هغې كښې دغه التزام نه وی).

تسهيلات:

قوله: وَالْمُلْكُ بِالشَّامِ:

دامير معاويه رضى الله عنه ملوكيت ته اشاره: د ملك څخه مراد په ظاهره د خلافت نه پس د ملوكيت طرف ته اشاره ده يعنی د حضرت علی رضي الله عنه دور د خلافت دې او د معاويه رضي الله عنه دور د ملوكيت دې. دا تشريح عام علماء نه خوښوی بلكه په زير بحث حديث د يو بل حديث د وجې نه په آسانئی سره پوهيدلې شی.

د خلافت استحكام او شام: خصائص نبوت سره متعلق يو حديث دې چه د حضورپاك د پيدائش ځائي مكه ده او د هجرت ځائي مدينه ده او د هغوی ملك يعنی بادشاهت شام دې. مطلب دا چه د حضورپاك نبوت خو په مدينه كښې دې ليكن د نبوت مضبوطيا او د هغې استحكام په شام كښې دې چه د جهاد مركزيه په شام كښې وی په كوم سره چه به د مدينې د نبوت حفاظت كيږی. نولكه چه د ملك نه مراد ملوكيت نه دې بلكه استحكام او مضبوطيا مراد ده. دې ورسره حديث كښې هم د نبوت عموميت او خورولو طرف ته اشاره ده.

[۶۲۸۰] د شام فضيلت

۶۲۸۰-(²) [۵] ① وَعَنْ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «رَأَيْتُ عَمُودًا مِنْ نُورٍ خَرَجَ مِنْ تَحْتِ رَأْسِي سَاطِعًا ③ حَتَّى اسْتَقَرَّ بِالشَّامِ» رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ.

ترجمه: ① او حضرت عمر رضي الله عنه وايي چې رسول كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② ما په خوب كې وليدل چې د نور يوه ستن څما د سر د لاندې نه راپورته شوه ③ او بيا ملك شام ته تلو سره نصب شوه دا دواړه روايتونه بيهقي دلائل النبوت كې نقل كړی دی.

حل اللغات:- ① عَمُودًا: أي: اسْطُوَانَةً: ستن. ② سَاطِعًا: أي: رَافِعًا: راپورته شو (دا د نور ستن راپورته شوه او د دې رڼا اثر د دنيا په اطرافو كښې خورشو). ③ اسْتَقَرَّ: أي: تَمَّتْ: قرار ئې بيا موندلو، قائم پاتې شو.

¹) اخرجه البيهقى فى دلائل النبوة رقم الحديث ۶/ ۴۴۷

²) اخرجه احمد فى المسند: والبيهقى فى دلائل النبوة رقم الحديث ۶/ ۴۴۹

تسهيلات:

قوله: رَأَيْتُ عَمُودًا مِنْ نُورٍ:

د نور نبوت شام ته رسيدل: دَنور ستن، هم هغه نورنبوت او نورهدايت دې. چه تيزئى سره به خورِ شى اوشام ته په رسيدوباندې به قرار بيامومى. دا حديث دَ هغه حديث هم تائيددې چه دَ ولادت په وخت حضرت آمنه يونور ليدلې وو په كوم سره چه دَشام محلات روښانه شوى وو.

[٦٢٨١] د دمشق د ښار غوره والى

٦٢٨١ –(١) [٢٠] ١ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ٢ «إِنَّ فُسْطَاطَ الْمُسْلِمِينَ يَوْمَ الْمَلْحَمَةِ بِالْغُوطَةِ ٣ إِلَى جَانِبِ مَدِينَةٍ يُقَالُ لَهَا دِمَشْقُ مِنْ خَيْرِ مَدَائِنِ الشَّامِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ١ او حضرت ابودرداء رضي الله عنه روايت كوي چې رسول كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل ٢ د دجال خلاف فوجي كار وايي او جنګ وجدال په ورځو كې د مسلمانانو د جمع كيدو ځاي غوطه دى ٣ چې د شام د هغه ښار نواحي علاقه ده چې هغه ته دمشق وئيل كيږي او دمشق د شام د ښارونو نه ښه ښار دى. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① فُسْطَاطَ: أَيْ: مَكَانَ الْفِئَةِ: د لوئې جماعت ښار (يعنى مركزى فوجى چهاونړئى اوفوجى كيمپ). ② يَوْمَ الْمَلْحَمَةِ: دمسلمانانو د جمع كيدو ورځ. ③ الْغُوطَةِ: وَهِيَ اسْمُ الْبَسَاتِينِ وَالْمِيَاهِ الَّتِي عِنْدَ دِمَشْقَ: دمش سره بالكل نيزدې د باغونو او اوبو والايوځائى دې كوم ته چه غوطه وائى.

تسهيلات:

قوله: فُسْطَاطَ الْمُسْلِمِينَ:

د فسطاط المسلمين وضاحت: يعنى مركزى فوجى چهاونړئى اوفوجى كيمپ: دَملحمة الكبرىٰ دَقيام په وخت به په غوطه كښې وى. خو په يوروايت كښې دَدمشق ذكردې كوم نه چه تضاد معلوميږى. ليكن داخبره معلوميږى چه غوطه دَدمشق نه چاپيره دَ زرخيز باغونو نوم دې لكه چه غوطه په دمشق كښې دننه ده اوس تضادپاتې نه شو.

[٦٢٨٢] په دمشق ښار دعجمى حكمران عدم غلبه

٦٢٨٢ –(٢) [٢١] ١ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سُلَيْمَانَ قَالَ: «سَيَأْتِي مَلِكٌ مِنْ مُلُوكِ الْعَجَمِ ٢ فَيَظْهَرُ عَلَى الْمَدَائِنِ كُلِّهَا إِلَّا دِمَشْقَ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ١ او حضرت عبد الرحمٰن بن سليمان تابعي رحمه الله نه منقول دى هغه اوويل هغه زمانه راتلونكې ده هركله چې د عجم حكمرانانو نه به يوحكمران حمله وكړي ٢ هغه به ټول ښارونو باندې غلبه حاصله كړي ماسوا د شام ښار دمشق څخه. (ابوداؤد)

(١) اخرجه ابوداود فى السنن رقم الحديث ٤٢٩٨

(٢) اخرجه ابوداود فى السنن رقم الحديث ٤٦٣٩

تسهیلات:

قوله: مِنْ مُلُوكِ الْعَجَمِ:

د ملک (بادشاه) مصداق: دَدې بادشاه تعین اونه کړې شو چه دابه څوك وی. په وقائع روزګار کښې به یوه واقعه وی د کوم دَ ظهورنه پس چه به معلومه شی چه دَحدیث دا مخفی اشاره څومره واضح فرمان وو.

[۲۴] باب ثواب هذه الامة

دَدې امت دَفضیلت بیان

خلاصة الباب:

فيه إثنا عشر حديثاً مشتملة على خمس مسائل:

① كثرة ثواب الأمة المحمدية مع قلة الأجل: ۱۔
② مدح بعض أفراد الأمة المحمدية بعد النبى صلى الله عليه وسلم: ۲، ۴، ۵، ۷، ۸، ۹۔
③ قيام الطائفة من الأمة المحمدية بأمر الله تعالى: ۳، ۱۰۔
④ خصوصية الأمة المحمدية: ۱۱۔
⑤ ذكر الفرق في الأمة المحمدية: ۱۲۔

د امت دوه قسمونه او د هغې تعریف:

① **امت اجابت:** دا هغه دې چاچه دین اسلام قبول کړې دې او دَ حضورپاك په طریقو باندې دَتللو التزام ئی کړې دې. علماء امت لیکلی دی چه اهل بدعت دَامت اجابت نه خارج دی څکه چه هغوی خو سره دَدې چه دین اسلام منلې دې لیکن دَدې متابعت ئی نه دې کړې بلکه نوی نوی بدعتونه ئی جوړکړی دی. لکه آغا خانی، قادیانی، روافض، اوبعضې بریلیان، منکرین حدیث، ذکری، بهائی اومعتزله خوارج دی. دَدې باطلو فرقو خلق په امت اجابت کښې نه دی بلکه په امت دعوت کښې شمیردی.

② **امت دعوت:** دا هغه دې چه دین اسلام ئی نه دې قبول کړې لهذا دوی ته به دَدین دعوت ورکولې شی ګنی دوی سره به جنګ کیږی. دَاسلام دَدعوت ترتیب داسې دې چه اول کافرانوته دَاسلام دعوت ورکړې شی که چرې هغوی قبول نه کړو نو بیابه دَ جزیه دعوت ورکولې شی ګنی دَ جنګ اعلان به کولې شی.

قوله: ثواب:

د ثواب څخه مراد: دلته په عنوان کښې ثواب هذه الامة لفظ دې مګر وړاندې احادیثو کښې دَ ثواب په ځائی دَدې امت دَ فضائلو بیان کړې شوې دې لهذا دلته به دَ ثواب نه فضیلت اخستلې کیږی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۶۲۸۳] وخت کم او ثواب زیات

۶۲۸۳-(۱)[۱] ۱ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ۲ «إِنَّمَا أَجَلُكُمْ فِي أَجَلِ مَنْ خَلَا مِنَ الْأُمَمِ مَا بَيْنَ صَلَاةِ الْعَصْرِ إِلَى مَغْرِبِ الشَّمْسِ، ۳ وَإِنَّمَا مَثَلُكُمْ وَمَثَلُ الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى كَرَجُلٍ اسْتَعْمَلَ عُمَّالًا ۴ فَقَالَ: مَنْ يَعْمَلُ لِي إِلَى نِصْفِ النَّهَارِ عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ ۵ فَعَمِلَتِ الْيَهُودُ إِلَى نِصْفِ النَّهَارِ عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ،

ترجمه: ۱ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما د رسول الله ﷺ نه روایت کوي چې حضور ﷺ مونږ مسلمانان مخاطب کولو سره وفرمایل ۲ د نورو امتونو د خلقو په مقابله کې ستاسو د ژوند موده دومره ده څومره چې د ټولې دنیا په مقابله کې د مازیګر د ما نځه نه وروسته د نمر غرق یدو پورې درمیاني وخت ۳ دې نه علاوه الله ﷻ رب العزت سره ستاسو معامله او د یهودو او نصارٰی وو معامله داسې ده څرنګه چې یوسړی په اجرت کار کولو د پاره څه مزدوران طلب کړي ۴ او هغوئ ته اووائي څوك شته چې غرمې پورې ځما کار وکړي او زه به دومره وخت د کار کولو د اجرت په طور هرسړي ته یویو قیراط ورکړم ۵ نو هغه اجرت منظورولو سره یهودو غرمې پورې یویو قیراط باندې کار وکی

حل اللغات:- ① أَجَلُكُمْ: أَيْ: مُدَّةُ الْحَيَاةِ: ستاسو د ژوند موده اونیته یعنی مقرر ژوند ② خَلَا: أَيْ: فِي جَنْبِ آجَالِ مَنْ مَضَى: یعنی دمخکینو تیرو شوو امتونو په نسبت. ③ اسْتَعْمَلَ: أَيْ: طَلَبَ مِنْهُمُ الْعَمَلَ: دکار کولو دپاره مزدور اونیولو. ④ عُمَّالًا: د عَامِلٌ جمع ده، محنت مزدوری کونکی ته وائی. ⑤ قِيرَاطٍ: د دینار شلمې حصې ته وائی (دلته تکرار دې طرف ته اشاره ده چه هریو کس ته به خان خانله قیراط ملاویږی).

۱ ثُمَّ قَالَ: مَنْ يَعْمَلُ لِي مِنْ نِصْفِ النَّهَارِ إِلَى صَلَاةِ الْعَصْرِ عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ ۲ فَعَمِلَتِ النَّصَارَى مِنْ نِصْفِ النَّهَارِ إِلَى صَلَاةِ الْعَصْرِ عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ، ۳ ثُمَّ قَالَ: مَنْ يَعْمَلُ لِي مِنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ إِلَى مَغْرِبِ الشَّمْسِ عَلَى قِيرَاطَيْنِ قِيرَاطَيْنِ ۴ أَلَا فَأَنْتُمُ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ مِنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ إِلَى مَغْرِبِ الشَّمْسِ ۵ أَلَا لَكُمُ الْأَجْرُ مَرَّتَيْنِ فَغَضِبَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى،

ترجمه: ۱ بیا هغه سړي اوویل څوك شته چې غرمې نه مازیګره پورې ځما کار وکړي او زه به هرسړي ته یویوقیراط ورکړم ۲ نو یهودو نه وروسته د حضرت عیسٰی منونکو خلقو (یعنی نصارٰی) غرمې نه مازیګره پورې یویو قیراط باندې کار وکی ۳ او بیا هغه سړي اوویل څوك شته چې مازیګر نه وروسته ماښام پورې ځما کار وکړي او زه به هرسړي ته دوه دوه قیراطه ورکړم ۴ دې نه وروسته حضور ﷺ وفرمایل پوهه شئ دې مثال کې تاسو هغه خلق یې چې مازیګر نه نمر لویدو پورې کار کونکې یې ۵ یادلرئ ستاسو اجر دوچنده دی او په دې وجه چې ستاسو د کار موده خو کمه ده لیکن مستحق د دوچنده اجر ګرځول شوي یې نوپه دې باندې یهود او نصارٰی په غوصه شول

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الإجارة/باب إذا خاصم فجر (رقم-۲۴۵۹) واحمد فی المسند: ۲/۱۷۱

[۱] فَقَالُوا: نَحْنُ أَكْثَرُ عَمَلًا وَأَقَلُّ عَطَاءً، [۲] قَالَ اللهُ تَعَالَى: فَهَلْ ظَلَمْتُكُمْ مِنْ حَقِّكُمْ شَيْئًا؟ قَالُوا: لَا. [۳] قَالَ اللهُ تَعَالَى: فَإِنَّهُ فَضْلِي أُعْطِيهِ مَنْ شِئْتُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او هغو یهود او نصاری وو اوویل د عمل د اعتبار نه خو مونږ زیات شو لیکن اجر وثواب کې زمونږ حصه ډیره کمه ده [۲] الله ﷻ هغوی ته جواب ورکړو آیا ما تاسو سره څه ظلم کړی دی، یعني ستاسو چې کوم اجرت مي مقرر کړی وو او تاسو ته د څه ورکولو وعده مي کړي وه آیا په هغه کې مي څه کمی کړی دی) یهود او نصاری وو اوویل زمونږ په حق کې خو تاخه کمی نه دی کړی او ستا د طرف نه دا تفاوت او تفریق څرنګه دی [۳] پروردګار وفرمایل حقیقت دا دی چې دا زیات اجر ورکول زما فضل او احسان دی چاته چې غواړم زیات ورکوم زه فاعل مختار یم څه چې غواړم کوم یې. (بخاري)

حل اللغات: - ⑥ أَكْثَرُ عَمَلًا: زیات عمل او محنت کونکی، ⑦ أَقَلُّ عَطَاءً: لږه بدله او لږ اجر او ثواب ملاویدونکی، ⑧ فَضْلِي: یعني دا زما فضل او احسان دي.

تسهیلات:

قوله: إِنَّمَا أَجَلُكُمْ فِي أَجَلِ مَنْ خَلَا مِنَ الْأُمَمِ مَا بَيْنَ صَلَاةِ الْعَصْرِ إِلَى مَغْرِبِ الشَّمْسِ:

عمر کم او ثواب زیات: د دې امت عمر کم دي لیکن په یونیکئی باندې لس اوه دې نه هم د زیاتو وعده ده. دې امت ته لیلة القدر ورکړې شوې ده په کوم سره چه د عمرونو کمي لرې کیږي دوی سره د عباداتو او طاعاتو میدان ډیر وسیع دې. د دوی عمل کم مګر ثواب زیات دې دغه شان دا کم خرچ او بالا نشین امت دې.

د امت محمدی او سابقه امتونو د عمرونو نسبت: یعني ستاسو مرګ او مقرر ژوند د مخکښني خلقو په نسبت دومره کم دې څومره وخت چه د مازیګر نه د ماښام پورې دې. په سابقه امتونو کښې د یهودیانو عمر لکه چه د سحرنه واخله تر ماسپښین پورې او د عیسایانو د ماسپښین نه تر مازیګره پورې اوږد وو. ستاسو عمر لکه چه د مازیګر نه تر ماښام پورې مختصر دې مګر په معنوی اعتبار سره دا ډیر کامیاب عمر دې په دې شرط چه څوک د دې قدر اوکړی.

[۶۲۸۴] دراتلونکو امتیانو یو فضیلت

-۶۲۸۴ (۱) [۲] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «إِنَّ مِنْ أَشَدِّ أُمَّتِي لِي حُبًّا نَاسٌ يَكُونُونَ بَعْدِي [۳] يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ رَآنِي بِأَهْلِهِ وَمَالِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] حقیقت خو دادی چې څما په امت کې ما سره ډیر زیات محبت ساتونکی هغه خلق دي چې څما د وفات نه وروسته به پیدا کیږي [۳] هغوی کې به څوک دا ارزو کوي چې آر مان هغوی ما ووینې او خپل اهل وعیال او اثاثه هرڅه په ما قربان کړي (مسلم)

حل اللغات: - ① يَوَدُّ: أي: يَتَمَنَّى: خوښوی به، خواهش او آرزو به لری.

---

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الجنة وصفة نعیمها وأهلها/باب فیمن یود رؤیة النبی صلی الله علیه وسلم باهله وماله (رقم-۱۲ - (۲۸۳۲) واحمد فی المسند: ۲/۴۱۷

تسهيلات:

قوله: لَوْرَآنِي بِأَهْلِهِ وَمَالِهِ:

يعنی په راتلونکوخلقوکښې څه داسې عاشقان هم دی چه دَځان اومال بازی لګولوکښې ماته په کتلوکښې به زما زيارت ته ترجيح ورکوی. دَدې حديث توضيح اوتشريح مخکښې شوې ده

[٦٢٨٥] ترقيامته پورې د هدايت يافته ولې پيشنګونی

٦٢٨٥-()[٣][١]وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: [٢]«لَا يَزَالُ مِنْ أُمَّتِي أُمَّةٌ قَائِمَةٌ بِأَمْرِ اللَّهِ[٣]لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ وَلَا مَنْ خَالَفَهُمْ[٤]حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللَّهِ وَهُمْ عَلَى ذَلِكَ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَذُكِرَ حَدِيثُ أَنَسٍ إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللَّهِ فِي كِتَابِ الْقِصَاصِ.

ترجمه:[١] او حضرت معاويه رضی الله عنه وايي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه واوريدل[٢] خما په امت کې به يوه ډله هميشه داسې وي چې د الله جل جلاله په حکم به قائمه وي[٣] د دې ډلي ديني او جماعتي نظم او معاملاتو ته به نه هغه سړی نقصان رسولی شي چې د هغه تائيد او اعانت يې ترک کړی وي او نه هغه سړی ورته ضرر رسولی شي چې د موافقت په ځاي د هغه مخالفت باندې کلک ولاړ وي[٤] ددې پورې چې د الله حکم راورسي او هغه به خپله دې لاره يعنی د احکام خداوندي اطاعت او د دين خدمت او اعانت باندې قائم وي. (بخاري مسلم) او د حضرت انس رضی الله عنه روايت کړده حديث: ان من عبادالله لواقسم على الله لابره کتاب القصاص کې نقل شوې دې.

حل اللغات:- ① خَذَلَهُمْ: أَيْ: مَنْ تَرَكَ عَوْنَهُمْ: چه دهغه مدد او مرسته ئې پريښودې وی. ② أَمْرُ اللَّهِ: أَيْ: مَوْتُهُمْ: دالله دحکم نه مراد د سړی مرګ او اجل دې يعنی مرګ ورته راشی.

تسهيلات:

قوله: لَا يَزَالُ مِنْ أُمَّتِي أُمَّةٌ قَائِمَةٌ بِأَمْرِ اللَّهِ

② وَقَالَ التُّورِبِشْتِيُّ: الْأُمَّةُ الْقَائِمَةُ بِأَمْرِ اللهِ وَإِنِ اخْتُلِفَ فِيهَا فَإِنَّ الْمُعْتَدَّ بِهِ مِنَ الْأَقَاوِيلِ أَنَّهَا الْفِئَةُ الْمُرَابِطَةُ بِثُغُورِ الشَّامِ نَضَّرَ اللهُ بِهِمْ وَجْهَ الْإِسْلَامِ، لِمَا فِي بَعْضِ طُرُقِ هَذَا الْحَدِيثِ وَهُمْ بِالشَّامِ، وَفِي بَعْضِهَا حَتَّى تُقَاتِلَ آخِرُهُمُ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ، وَفِي بَعْضِهَا قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ وَأَيْنَ هُمْ؟ قَالَ: "بِبَيْتِ الْمَقْدِسِ".

دامة قائمه په مصداق کښې خلوراقوال:

① د امة قائمه نه مراد هغه خلق دی چې د دين د اقامت دپاره د قرآن اوحديث په خدمت کښې مشغول وی يعنی عالمان.

② دا هغه خلق دی چې په دين اسلام باندې قائم ولاړ وی. د زماني انقلابات او حوادث د هغوی په ايمان کښې تزلزل نشی راوستې.

[1] اخرجه البخاری فی کتاب المناقب/باب (رقم-٣٦٤١) ومسلم فی کتاب الإمارة/باب قوله صلی الله عليه وسلم: «لا تزال طائفة من أمتي ظاهرين على الحق لا يضرهم من خالفهم» (رقم-١٧٤ - (١٠٣٧)

③ ددې ځخه ځه مخصوص ډله مراد نه ده بلکه مجموعی طور به په ټوله دنیا کښې دين اسلام باندې يوه ډله قائمه ولاړه وی که په يو ملک کښې مسلمانان کمزوری شی نو په بل کښې به غالب وی او د خپل دين ځخه به خبر وی لکه په اسلامی تاریخ کښې د خلفاء راشدینو په زمانه کښې دين اسلام په حجاز کښې غالب وو اودا د دين اسلام مرکز وو بيا د بنو عباس په دور کښې بغداد د علم او د دنيارئ مرکز وو بيا بخارا او سمرقند د علم مرکز وو بيا په ځه وخت کښې مصرد علم مرکز وو اواوس الحمد لله په برصغيرپه پاکستان کښې علم اوقوت زيات دی په ټولو اسلامی ملکونو کښې واحد پاکستان ايټمی طاقت دی او ددې ځخه روسته داسې ښکاری چې د ۲۰۲۳ ځخه روسته ترکی په دنيا کښې طاقتور ملک شی الله تعالی دې اردګان ته عمرداز وی کوم چې په موجوده وخت کښې د دوی صدردې

④ علامه توریشتی فرمائی چې ددې ځخه د شام علاقه مراد ده چې په شام کښې به يوه ډله هميشه دپاره په دين اسلام باندې قائمه ولاړه وی اګرچې په ځه وخت کښې کمزورې شی نو بيا به هم دوی خپل کار نه پريږدی ځکه چې د شام په باره کښې په کثرت سره احاديث راغلی دی چې د الله تعالی نيکان بندګان به په شام کښې وی (مرقاة)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۶۲۸۶] د امت محمدي مثال

۶۲۸۶-() [۲][۱]عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- "[۲]«مَثَلُ أُمَّتِي مَثَلُ الْمَطَرِ لَا يُدْرَى أَوَّلُهُ خَيْرٌ أَمْ آخِرُهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:[۱] حضرت انس ﷛ بيان کوې چې رسول کريم ﷺ وفرمايل[۲] ځما د امت حال د باران د حال په شان دی د هغه په باره کې معلومه نه ده چی د هغه اول ښه دی يا د هغه آخر ښه دی (ترمذي)

تسهيلات:

نوټ: دې نه مخکښې حديث نمبر (۶۲۸۳) تشريح اوتوضيح کښې دَدې حديث تشريح هم شوې ده هغه يو بهتر کلام دې هغه بار بار ونيل پکار دی

قوله: لَا يُدْرَى أَوَّلُهُ خَيْرٌ أَمْ آخِرُهُ

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① په زير بحث حديث کښې دَ راتلونکو خلقو افضيلت په صحابه کرامو باندې نه دې ورکړې شوې بلکه دَ اول دور دَ خوبيانو په شان د دويم دور او دريم خوبياني او نيکنی بيان کړې شوی دی لهذا په دې حديث کښې چه کوم دَ خير صيغه استعمال کړې شوې ده داد اسم تفضيل دپاره نه ده بلکه دَ دغه تفضيل نفس فعل په معنی کښې استعمال شوې ده کله "الصَّيْفُ أَحَرُّ مِنَ الشِّتَاءِ. وَالْعَسَلُ أَحْلَى مِنَ الْخَلِّ"

② دَخير صيغه هم د اسم تفضيل په معنی کښې استعمال کړې شی په دې اعتبار چه دَ اول

[۱] اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۲۸۶۹

دور ښيګړه او افضليت يو جدا حيثيت دي اوډ دويم دور او دريم افضليت جدا حيثيت او جدا اعتبار دي لکه څنګه چه دَحديث نمبر (۳۸۳) په وضاحت کښې تفصيل سره ليکلې شوی دی.

دحديث مفهوم: خلاصه دا چه حضور پاك دَ امت محمديه ښيګړه اونيکی عام خودلې ده چه دا داسې غوره امت دې چه دَدې هر طرف په خير اوښيګړه باندې مشتمل دې. دَدې اول او آخر ټول برابر دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۶۲۸۷] دامت محمدي دوه مثالونه

۶۲۸۷-(١)[٥] ١ عَنْ جَعْفَرٍ عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ «أَبْشِرُوا وَأَبْشِرُوا إِنَّمَا مَثَلُ أُمَّتِي مَثَلُ الْغَيْثِ لَا يُدْرَى آخِرُهُ خَيْرٌ أَمْ أَوَّلُهُ ٣ أَوْ كَحَدِيقَةٍ أُطْعِمَ مِنْهَا فَوْجٌ عَامًا ثُمَّ أُطْعِمَ مِنْهَا فَوْجٌ عَامًا لَعَلَّ آخِرَهَا فَوْجًا أَنْ يَكُونَ أَعْرَضَهَا وَأَعْمَقَهَا عُمْقًا وَأَحْسَنَهَا حُسْنًا ٤ كَيْفَ تَهْلِكُ أُمَّةٌ أَنَا أَوَّلُهَا وَالْمَهْدِيُّ وَسَطُهَا وَالْمَسِيحُ آخِرُهَا ٥ وَلَكِنْ بَيْنَ ذَلِكَ فَيْجٌ أَعْوَجُ لَيْسُوا مِنِّي وَلَا أَنَا مِنْهُمْ». رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: ١ حضرت امام جعفر صادق رحمه الله خپل پلار حضرت امام باقر رحمه الله نه او هغه د امام جعفر د نيکه دادا يعنی خپل والد امام زين العابدين بن علي بن حسين بن علي رضي الله عنه نه روايت کوي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ٢ خوشحاله شئ او خوشحاله شئ خبره داده چې څما د امت اجابت د افرادو حال د حصول منفعت د اعتبار نه د باران د حال په شان دی د هغه په باره کې معلومه نه ده چې د هغه آخر ښه دی يا د هغه اول ښه دی ٣ يا څما د امت مثال د يو باغ په شان دی چې د هغه څه حصو نه يو کال يو جماعت وخوړلي (يعنی نفع يې ځنې واخستله) او د هغه څه حصي نه په دويم کال يو بل جماعت وخوړلي شايد چې د مخکني جماعت په مقابله کې وروستني جماعت په طول وعرض کې زيات وي او په خوبيو کې هم د هغه نه ښه وي ٤ نو هغه امت دي ولي نيست ونابود شي چې د هغه اول کې زه يم د هغه په منځ کې مهدي وي او د هغه په آخر کې مسيح عيسي وي ٥ هو د دې زمانو په منځ کې يو کج رو يعنی ګمراه جماعت به پيدا شي د هغه جماعت خلق به څما په لاره او طريقه تلونکي نه وي او څما د متبعينو پيروکارو نه به نه وي او نه زه د هغوئ نه يم (يعنی زه به هغوئ نه راضي او د هغوئ حامي او مدد ګار نه يم بلکه د هغوئ د سر کشي او فسق په سبب هغوئ نه د خپلي ناراضګي او بيزاري اظهار کوم). (رزين)

حل اللغات:- ① الْغَيْثِ: أَيِ: الْمَطَرُ: باران ② أُطْعِمَ: دمجهول صيغه ده، أَيِ انْتَفَعَ: فائده ئې ترې واخسته يعنی څه خوراک نې ترې اوکړو. ③ فَوْجٌ: أَيْ: جَمْعٌ: يوې ډلې، جماعت، ④ عَامًا: أَيْ سَنَةً: کال. ⑤ أَعْرَضَهَا: پلنوالی ته وانې. ⑥ أَعْمَقَهَا عُمْقًا: اوږدوالی او ژور والی ته وانی (د پلن والی او ژوروالی نه مراد زياتوالي دې). ⑦ أَحْسَنَهَا حُسْنًا: په صفاتو او خوبيانو کښې بهتر وی. ⑧ فَيْجٌ: دامفرد دې دَدې

---

[1] رواه رزين

جمع أَفْوَاج او فُيُوج ده. أي فَوْج: فوج ته وائی (ددې نه مراد جماعت دي). ⑨ أَعْوَجُ: د کوږ په معنی کښې دې (ددې نه مراد ګمراه او سرکشه خلق دی).

تسهيلات:

قوله: مَثَلُ الْغَيْثِ لَا يُدْرَى آخِرُهُ خَيْرٌ أَمْ أَوَّلُهُ:

باران سره دامت تشبیه: رومبې مثال کښې دَامت تشبیه باران سره ورکړې شوې ده چه داامت دَنورو خلقودَ پاره په علم اوعرفان، هدایت خدمت اورهنمائی کښې دَ باران په شان نافع اوفائده رسونکې دې.

قوله: أَوْ كَحَدِيقَةٍ أُطْعِمَ مِنْهَا فَوْجٌ عَامًا ثُمَّ أُطْعِمَ مِنْهَا فَوْجٌ عَامًا:

میوه دارباغ سره د امت تشبیه: په دویم مثال کښې دَدې امت تشبیه میوه دار باغ سره ورکړې شوې دې دکوم میوې چه عام خلق خوری.
دغه شان داامت دې چه د دې صفات اوکمالات اوهدایاتونه خلق عام فائدې اوچتوی لکه چه دا امت دَانسانانودَپاره دَدنیا اوآخرت دواړو نافع دې. پخپله هم نفع رسوی اوعام خلق هم دې نه فائدې اوچتوی

قوله: أَنْ يَكُونَ أَعْرَضَهَا وَأَعْمَقَهَا عُمْقًا:

د عمق او طول سره موصوف کولوفائده: په دې حدیث کښې امت ته عمق او طول اوعرض سره په دې وجه متصف کړو کله چه دې له باغ سره تشبیه ورکړې شوه. نودَباغ په صفات کښې طول عرض اوعمق وې نودَدې ذکر ضروری شو.

قوله: وَلَكِنْ بَيْنَ ذَلِكَ فَيْجٌ أَعْوَجُ لَيْسُوا مِنِّي وَلَا أَنَا مِنْهُمْ:

د ګمراه ډلې پیشنګوئی: بهرحال تردې پورې خو په دې حدیث کښې دَدې امت بنیګړه خوبی او افضلیت بیان کړې شو. مګردَدې حدیث په مینځ کښې استدراک سره دَخه خلقوګمراهی اوکوږوالی طرف ته اشاره کړې شوې ده.

د ګمراه ډلې مصداق: دلته دَدې نه جماعت مراددې یعنی په مینځ کښې یوکوږ ګمراه جماعت راخی دکوم چه ما سره هیڅ تعلق نشته دې لکه معتزله خوارج مرجئه اودَهغوی منونکی دی.

[٦٢٨٨] دایمان بالغیب په اعتبار سره غوره امت

٦٢٨٨ -(١) [٦] ① وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «أَيُّ الْخَلْقِ أَعْجَبُ إِلَيْكُمْ إِيمَانًا؟ قَالُوا: الْمَلَائِكَةُ. ③ قَالَ: وَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ وَهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ؟ قَالُوا: فَالنَّبِيُّونَ. ④ قَالَ: وَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ وَالْوَحْيُ يَنْزِلُ عَلَيْهِمْ؟ قَالُوا: فَنَحْنُ. قَالَ: وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُونَ وَأَنَا بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ.

ترجمه: ① او حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه دادا نه روایت کوي چې رسول الله ﷺ یوه ورځ صحابه ؤ ﷺ نه پوښتنه وکړه ② چې او بنايي د ایمان د اعتبار نه تاسو مخلوق کې څوک زیات خوښوي (یعنی د الله مخلوقاتو کې د کوم مخلوق

---

[١]) اخرجه البیهقی فی دلائل النبوة رقم الحدیث ٦/ ٥٣٨

ایمان تاسو ډیر ښه او قوي ګڼئ؟صحابه، جواب ورکړو مونږ خو د فرشتو ایمان ډیر ښه او قوي ګڼو ۳ حضور ﷺ وفرمایل د فرشتو په ایمان کې څه عجیبه والی دی هغوئ خو خپل پروردګار سره اوسیږي یعنې فرشتې خو مقرب بارګاه خداوندي دی ‹او د عالم جبروت عجائب او غرائب هر وخت مشاهده کوي که د هغوئ ایمان قوي دی نو په دې کې څه عجیبه غریبه خبره ده› هغه اصحابو ﷺ یانورو اصحابو ﷺ عرض وکړو نو بیا هغه پیغمبران دي ‹چې زمونږ په نزد د هغوئ ایمان ډیر ښه او قوي دی›۴ حضور ﷺ وفرمایل بلاشبه هغوئ به د شك اوشبهې نه لرې او د قوي تر ایمان حامل وي آسمان نه وحي نازلیدو سره په هغوئ راځي اوس صحابه ؤ ﷺ اوویل نو بیا مونږ خلق یو چې ستاسو صحابه یو ۵ رسول الله ﷺ وفرمایل ستاسو په ایمان کې څه عجیبه والی دی هرکله چې ستاسو په منځ کې زه موجود یم

حل اللغات:- ① أَعْجَبُ: أَيْ: أَغْرَبُ: عجیبه او نا آشنا ‹یعنې خوښ خلق›. ② بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ: أَيْ: فِيمَا بَيْنَكُمْ: یعنې په تاسو کښې،

١ **قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: إِنَّ أَعْجَبَ الْخَلْقِ إِلَيَّ إِيمَانًا لَقَوْمٌ يَكُونُونَ مِنْ بَعْدِي ٢ يَجِدُونَ صُحُفًا فِيهَا كِتَابٌ يُؤْمِنُونَ بِمَا فِيهَا».**

ترجمه: ١ راوي وايي دي نه وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل حقیقت دادی چې خما په نزد د ایمان د اعتبار نه دټول مخلوق نه ډیر ښه خلق هغه دي چې خماد زمانه حیات نه وروسته پیدا شي‹ یعنې تابعین او د هغوئ اتباع کونکي چې نسل درنسل به ترقیامته پورې دنیا ته راځي ›۲ هغه خلق به د دین مجموعه مصحف یعنې قرآن کریم بیا مومي او په هغه کې چې څه مذکور دي په ټولو باندې به ایمان راوړي.

حل اللغات:- ③ صُحُفًا: د صَحِيفَة جمع ده، أَيْ: مَصَاحِف: د کتاب اجزاء او حصې مثلا سیپارې ‹ددې نه مراد قرآن دې›. ④ كِتَابٌ: أَيْ: مَكْتُوبٌ: یعنې لیکلې شوی به وی ‹په هغې کښې د الله تعالی د طرفه›.

تسهیلات:

قوله: وَأَنَا بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ:

د نزول وحی مشاهده: یعنې زه ستاسو په مینځ کښې موجود یم اوتاسو په ما باندې د وحی نازلیدو مشاهده کوئې. د نبوت نښې او معجزې ګورئې اودغه شان اوامر او نواهی هم ګورئې اوپه خپلو سترګو باندې مشاهده کولو نه پس ستاسو د پاره د شك اوتردد هیڅ موقع نشته.

قوله: إِنَّ أَعْجَبَ الْخَلْقِ إِلَيَّ إِيمَانًا:

قابل تعریف امت: یعنې د هغه خلقو ایمان راوړل به په غیبو وی. هغوی نه نبی لیدلې اونه ئې د نبي صحبت په ذریعه د حق د انوارو مشاهده کړې اونه ئې څه معجزه لیدلې هغوی چه به د خپلو مشرانو نه د اخبار او آثار په صورت کښې چه څه هم اوری هم په هغې باندې به یقین او باور کوی او په خدائی او د خدائی په رسول او د خدائی په کتاب به ایمان راوړی.

او په دغه ایمان باندې به په مضبوطیا سره قائم وي. هم په دې وجه دهغوی ایمان لره افضل او خوښ کړې شوې ګرځولې شوې دې. لکه چه په دې کښې د ایمان بالغیب تعریف او تحسین فرمائیلې شوې دې.

[۶۲۸۹] دآخري زماني دغوره ډلې درې صفات

۶۲۸۹-(¹) [۷] [۱] وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْعَلَاءِ الْحَضْرَمِيِّ قَالَ: حَدَّثَنِي مَنْ سَمِعَ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] يَقُولُ: «إِنَّهُ سَيَكُونُ فِي آخِرِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ قَوْمٌ لَهُمْ مِثْلُ أَجْرِ أَوَّلِهِمْ [۳] يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقَاتِلُونَ أَهْلَ الْفِتَنِ» رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الرحمن بن علاء حضرمي رحمه الله وايي ماته هغه سړي داحدیث بیان کړی چې هغه د رسول الله ﷺ اوریدلی وو [۲] حضور ﷺ وفرمایل حقیقت دادی چې هغه زمانه راتلونکې ده هرکله چې د دې امت آخري دور کې به یوجماعت پیدا شي چې د هغه ثواب به د دې امت د ابتدائي دورد خلقو یعنی صحابه و رضي الله عنهم د ثواب په شان وي [۳] د هغه جماعت خلق به مخلوق خداته د هغه شرعي امورو تلقین او تبلیغ کوي چې د هغه وجود په دین کې بیا مومیدی شي او هغه خبرو نه د منع کولو کوشش به کوي کوم چې خلاف شرع دي او د کوم چې دین سره څه واسطه او تعلق نشته او هغه خلق به فتنه خورونکو یعنی اسلام او مسلمانانو نه منحرف کیدونکو خارجیانو رافضیانو او ټولو بدعتیانو سره جنګیږي (خواه د اسلحې او طاقت په ذریعه خواه د ژبې او قلم په ذریعه) دا دواړه روایتونه بیهقي دلائل النبوت کې نقل کړي دي.

حل اللغات:- ① مِثْلُ أَجْرِ أَوَّلِهِمْ: د دې امت د ابتدائي دورد خلقو یعنی صحابه و رضي الله عنهم د ثواب په شان ثواب به ورته ورکولې شي. ② أَهْلَ الْفِتَنِ: فتنه اوفساد خورونکی خلق (د دې نه باغیان، خوارج او روافض وغیره ټول اهل بدعت مراد دي).

تسهیلات:

قوله: وَيُقَاتِلُونَ أَهْلَ الْفِتَنِ:

د حدیث مصداق: حضور پاک د دې حدیث په مصداق کښې د داسې خلقو نشاندهی فرمائیلې ده چه په دین حق باندې به قائم وي او د اهل باطل به په نره مقابله کوي بلکه هغوی سره به جنګ کوي. اوس ښکاره خبره ده چه باطل سره جنګ کونکې مجاهدین دي نو د دې حدیث رومبې مصداق مجاهدین دي د دې نه پس چه څوك وي نو وي به.

[۶۲۹۰] په نادیده د ایمان راوړلو فضیلت

۶۲۹۰-(²) [۸] [۱] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] «طُوبَى لِمَنْ رَآنِي [۳] وَطُوبَى سَبْعَ مَرَّاتٍ لِمَنْ لَمْ يَرَنِي وَآمَنَ بِي». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابو امامه رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] مبارك بادي ده هغه سړي ته چاچې زه ولیدم او په ما یې ایمان راوړی [۳] او اووه ځله مبارك بادي ده

¹) اخرجه البيهقي في دلائل النبوة رقم الحديث ۶/ ۵۱۳

²) اخرجه احمد في المسند: ۵/۲۶۴

هغه سړي ته چې هغه زه نه يم ليدلي او په ما يې ايمان راوړی او څما د نبوت تصديق يې وکړو.(احمد)

تسهيلات: **قوله:** وَطُوبَى سَبْعَ مَرَّاتٍ:

د سبع عدد مطلب: امام طيبي رحمه الله فرمائي چه طوبی جمله معطوفه ده او ماقبل باندې دَ دې عطف دې. عبارت به داسې شي "أي وقال رسول الله طوبی لمن لم يرني وأمن بي سبع مرات" دلته دَ اووه دَ عدد د تعيين نه تکثير مراد دې تحديد نه.

[٦٢٩١] د روسته زمانې د امتيانو فضيلت

٦٢٩١-()[٩] ① «وَعَنِ ابْنِ مُحَيْرِيزٍ قَالَ: قُلْتُ لِأَبِي جُمُعَةَ رَجُلٍ مِنَ الصَّحَابَةِ: حَدِّثْنَا حَدِيثًا سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② قَالَ: نَعَمْ أُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا جَيِّدًا ③ تَغَدَّيْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَمَعَنَا أَبُو عُبَيْدَةَ ابْنُ الْجَرَّاحِ ④ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَحَدٌ خَيْرٌ مِنَّا أَسْلَمْنَا وَجَاهَدْنَا؟ ⑤ قَالَ: نَعَمْ قَوْمٌ يَكُونُونَ مِنْ بَعْدِكُمْ يُؤْمِنُونَ بِي وَلَمْ يَرَوْنِي». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه: ① او حضرت ابن محيريز تابعي رحمه الله بيان کوي ما ابوجمعه ته (چې صحابه وُ رضي الله عنه نه يو سړی دی) درخواست وکړ چې زمونږ په مخکې څه داسې حديث بيان کې چې تاسو خپله د رسول الله ﷺ د ژبې مبارکې نه اوريدلی وي ② حضرت ابوجمعه رضي الله عنه اوويل هو زه ستاسو مخکې يو ډيرښه حديث بيانوم چې ډيره فائده به درته ورسوي او تاسو ته به د خير او فضيلت بشارت هم عطا کړي ③ نو واورئ يوه ورځ مونږ د سهار طعام باندې رسول الله ﷺ سره وو زمونږ په منځ کې مشهور صحابي حضرت ابوعبيده بن الجراح رضي الله عنه هم وو (چې عشره مبشره وو نه دی) ④ ابوعبيده رضي الله عنه (د نعمت الهي د شکر او ذات رسالت پناه د انعام واحسان د ذکر په طور) اوويل يا رسول الله! آيا يو سړی زمونږ نه هم ښه کيدی شي مونږ خو هغه خلق يو چې هغوئ ستاسو په لاس مبارك ايمان او اسلام قبول کې او ستاسو سره اوږه په اوږه د دين د دښمنانو خلاف مو جهاد وکې ⑤ حضور ﷺ په دې اوريدو سره وفرمايل هو ستاسو نه هم ښه خلق شته او هغوئ هغه خلق دي چې ستاسو نه وروسته پيدا کيږي او په ما باندې ايمان راوړي هرکله چې هغوئ به زه ليدلی هم نه يم دا روايت احمد او دارمي نقل کړی دی

حل اللغات:- ① حَدِيثًا جَيِّدًا: أي حَسَنًا: ښائسته او ښه حديث. ② تَغَدَّيْنَا: أي: أَكَلْنَا الْغَدَاءَ: يعنی د سحر روټئ يا خوراک مو اوخوړلو.

① وَرَوَى رَزِينٌ عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ مِنْ قَوْلِهِ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَحَدٌ مِنَّا إِلَى آخِرِهِ.

ترجمه: ① او رزين دا روايت د حضرت ابوعبيده رضي الله عنه نه د هغه خپلو الفاظو سره تر آخر پورې نقل کړی دی يعنی د رزين نقل کرده حديث کې د ابن محريز او د ابوجمعه د مکالمې ذکر نه دی کړی.

[1] واحمد في المسند: ٤/١٠٦

تسهیلات: قوله: رَجُلٌ مِنَ الصَّحَابَةِ

د رجل په مصداق کښې درې اقوال: د دې "رجل" نه مراد یا خو انصاری صحابی دې چاته چه کنانی وئیلی شی د هغه په نوم کښې مختلف اقوال دی.

① حبیب بن سباع ② جنید بن سباع ③ بعضې وئیلی چه څه بل څه به وی د چاچه به د شام سره تعلق وی. هغه نی د صحابه کرامو ﷺ نه شمیرلې دې. (التعلیق الصبیح ۷/۴۱۴)

قوله: أَسْلَمْنَا وَجَاهَدْنَا قَالَ نَعَمْ

د مذکوره جملې په ترکیب کښې درې احتمالات: امام طیبی رحمه الله فرمائی د دې جملې په ترکیب کښې درې احتماله دی.

① معك د جمله ثانیه نه حال دې. دغه شان په جمله اولی کښې یو معك محذوف دې عبارت به داسې شی "أي أسلمنا معك وجاهدنا معك" اوحرف استفهام محذوف دې.

② چه دا محض جمله استفهامیه وی او "أسلمنا وجاهدنا" حال وی د "نعم بلی" په ځائې واقع وی

③ دلته استفهام د انکار په توګه وی او د "نعم بلی" په معنی کښې وی چه مونږ په تاباندې اسلام نه دې راوړې او تاسره مو جهاد نه دې کړې. حضورپاك اوفرمائیل "نعم" (نودلته "نعم" د بلی په معنی کښې دې).

د ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه مقصد: د ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه مقصد د خپل خان په باره کښې تعریفی کلمات نه دی بلکه د الله پاك د نعمتونو اقرار دې. نو رسول کریم ﷺ اوفرمائیل روستو راتلونکی خلق به ایمان بالغیب راوړی او د اسلام د خدمات کولو د وجې به تاسو نه وراندې څی. واضحه دې وی چه د غیر صحابی فضیلت هم جزوی دې

[۶۲۹۲] د محدثینو فضیلت

۶۲۹۲-(١)[١٠] ١ وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ «إِذَا فَسَدَ أَهْلُ الشَّامِ فَلَا خَيْرَ فِيكُمْ ٣ وَلَا يَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي مَنْصُورِينَ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ». ٤ قَالَ ابْنُ الْمَدِينِيِّ: هُمْ أَصْحَابُ الْحَدِيثِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: ١ او د حضرت معاویه بن قره رحمه الله نه روایت دی چې هغه د خپل پلار نه نقل کوي هغه اوویل رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ هرکله چې اهل شام تباه شي نو بیابه په تاسو کې خیر نه وي ٣ او خما په امت کې به یوجماعت داسې وي چې د دین دښمنانو باندې غالب کیدو د پاره هغوئ ته به د الله نصرت او تائید حاصل وي دې جماعت ته هغه سرې هیڅ نقصان او ضرر نشي رسولی چې د هغوی تائید او اعانت ترک کړي ځکه چې په دې جماعت باندې د الله ﷻ بې انتهاء عنایت او مهرباني وي ددې پورې چې قیامت به قائم شي ٤ او ابن مدیني رحمه الله چې د اکابرو محدثینو نه دی وایي د دې جماعت نه مراد ارباب حدیث دی دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یي دي چې دا حدیث حسن صحیح دی

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحدیث ۲۱۹۲

حل اللغات:- ①فَسَدَ: خراب شي یا تباه شي (دَعلم، عمل اوعقیدې په اعتبارسره چه کله اهل شام بربادشي بیا به تاسو تولو کښې هیڅ ښیګړه نه وي. ②طَائِفَةٌ: ډله، جماعت. ③مَنْصُوْرِيْنَ: أَيْ: غَالِبِيْنَ عَلَى أَعْدَاءِ الدِّيْنِ: مدد به ورسره کولې یعني ددین په دشمنانو به غالب راځي. ④خَذَلَهُمْ: أَيْ: مَنْ تَرَكَ عَوْنَهُمْ: چه دهغه مدد او مرسته ئې پرېښودې وي.

تسهیلات:

قوله: فَسَدَ أَهْلُ الشَّامِ:

د اهل شام د فساد څخه مراد: چه کله اهل شام تباه اوبرباد شي نوبیا دَهغوی طرف ته هجرت کولو اوهلته سکونت اختیارولو کښې هیڅ ښیګړه نه وي. نن صبا په شام کښې د شیعه ګانو حکومت دې د بشارالاسد وجې سنیان در په درخاورې په سر شو خصوصاً د حلب مسلمانانو باندې بمباریانې کیږي هغوی ترک ته هجرت کړې دې. الله تعالی دې د دوی ناصر او مددګارشي.

قوله: تَقُوْمَ السَّاعَةُ:

د طائفه منصور محل وقوع: یعني قرب قیامت پورې به دَاهل حق دا طائفه منصوره قائمه وي. ملاعلي قاري رحمه الله لیکلي دي چه دا څه ضروري نه ده چه داطائفه دې دَ شام په زمکه باندې وي بلکه دا دَمجاهدینو طائفه ده چه دَ دنیا په مختلف حصوکښې دَ الله تعالی دَ دین د سرلوړئي دَپاره جنګیږي. دا یوخطه سره خاص نه دي.

قوله: هُمْ أَصْحَابُ الْحَدِيْثِ:

د اهل حدیث په مصداق کښې دوه اقوال: ① علي بن المدیني رحمه الله ډیر لوئي محدث دې هغه فرمائي چه دې طائفه نه مراد اصحاب حدیث دي.

② ملاعلي قاري رحمه الله فرمائي چه دَ اصحاب الحدیث نه مراد هغه اهل حق دي چاچه دَاحادیثو تعلیم اوتعلم اوکړو اودَې په درس اوتدریس سره ئې خدمت اوکړو هغوی ټول عمرونه په دې کښې اولګول او په کتاب اوسنت باندې عمل اوکړو چه دَ اهل سنت والجماعة په نوم سره مشهوردي. لکه چه ملاعلي قاري رحمه الله دَ اصحاب الحدیث نه اهل سنت والجماعت مراد اخلي.

[۶۲۹۳] امت محمدی ته د درې څیزونو معافی

۶۲۹۳-() [۱] ①وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ②«إِنَّ اللهَ تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي الْخَطَأَ وَالنِّسْيَانَ ③وَمَا اسْتُكْرِهُوا عَلَيْهِ» رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالْبَيْهَقِيُّ.

ترجمه: ① او د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② الله تعالی څما امت ته خطاء او نسیان معاف کړي دي ③ او د هغه ګناه نه یې هم ورته معافي عطا کړي ده چې په هغه کې په زبردستی مبتلاشوی وي. ابن ماجه اوبیهقي

[۱] اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب النكاح/ طلاق المكره والناسي (رقم-۲۰۴۵)

حل اللغات:- ① تَجَاوَزَ: أَيْ عَفَا: معاف کړی ئې دی، ② اَلْخَطَأُ: مَالَمْ يَتَعَمَّدْهُ: هغه گناه چه بغیر دقصد او ارادې نه ئې کړی وی ③ اَلنِّسْيَانَ: کوم کار چه په هیره باندې اوشی ④ اُسْتُكْرِهُوا: دا دمجهول صیغه ده، أَيْ مَا طُلِبَ مِنْهُمْ مِنَ الْمَعَاصِي عَلَى وَجْهِ الْإِكْرَاهِ: یعنی هغه گناه چه په زور او زبردستئ پرې بل چا کړی وی

تسهیلات:

قوله: تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي الْخَطَأَ:

په خطا او اخطاء کښې فرق: ① غیرارادی بغیردقصد اوارادې څخه چې دَیو سړی دلاسه یوغلط کار اوشی هغې ته خطاء وائی. خطاء غلط دې دکوم ضدچه صحیح کاردې لکه چه یوسړی صحیح کارکول غوښتل په غلطئ سره په غلط کارکښې پریوتلو هغه معاف دې.

② بعضې علماؤ لیکلی دی چه په غیر ارادی اوغیرقصدی توګه باندې کوم خراب کاراوشی هغې ته خطاء نه بلکه اخطاء وائی یعنی غیرارادی لغزش نوبیابه وئیلې شی چه د صیغه دباب افعال نه استعمال شی.

د خطا مثال: بهرحال دَ مثال په توګه یوسړی ښکار ویشتلو مګر ګولئ لاړه په یوانسان ولګیدو یائی تویك صفاکولوناڅاپی ګولئ اوچلیدله اوخوك اولګیدلو اومړشو نودا خطاء ده

خطاء سره د حقوق العباد عدم معافی: په دې کښې چه کوم معاملات دَ حقوق الله دَ قبیل نه دی هغه خو په دنیااوآخرت کښې معاف دی په هغې به نبول نه کیږی خوچه کوم معاملات حقوق العبادسره متعلق دی دهغې په دنیاکښې مواخذه او معاوضه ده هغه معاف نه دی لکه چه په قتل خطاء کښې دیت دې ددې پوره تفصیل دَ فقې په کتابونوکښې کتل پکاردی

قوله: وَالنِّسْيَانَ

د نسیان څخه مراد: نسیان کښې هم تفصیل دې بعضې مقاماتوکښې نسیان معاف دې لکه چه په روژه کښې څه خوړل څکل اوکړې شی نو هغه معاف دی خوهم دغه نسیان یعنی هیره په مانځه کښې معاف نه دی لهذا دلته دَنسیان نه مطلق نسیان مرادنه دې

قوله: وَمَا اسْتُكْرِهُوا عَلَيْهِ

د جبر او اکراه په صورت کښې معافی: یعنی که چا په چاباندې زور اوزبردستی اوکړه نوهغه سړې معاف دې په کوم چه زبردستی کړې شوې وی سره ددې چه هغه ته دَقتل او ضرب شدید ډرکه هم نه وی ورکړې شوې بیاهم دَ زبردستئ په نتیجه کښې چه چایوه ګناه اوکړه هغه معاف ده

[٦٢٩٤] د دې امت اتتهائي درجه فضيلت

٦٢٩٤-() [١] وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ أَنَّهُ «سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ﴾ [آل عمران: ١١٠] [٢] قَالَ: أَنْتُمْ تُتِمُّونَ سَبْعِينَ أُمَّةً أَنْتُمْ خَيْرُهَا وَأَكْرَمُهَا عَلَى اللَّهِ تَعَالَى». [٣] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ -وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.

ترجمه: [١] او حضرت بهز بن حكيم بن معاويه بن حيده قشيري بصري ﷫ د خپل پلار حضرت حكيم بن معاويه نه او هغه د بهز نيكه دادا او خپل پلار حضرت معاويه ابن حيده ﷛ نه روايت كوي هغه د رسول الله ﷺ نه د الله ﷻ د دې ارشاد كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ په تفسير كې دافرمايل واوريدل [٢] چې اې اهلِ اسلامو! تاسو اويا امتيان پوره كوي او د الله ﷻ په نزد تاسو د هغه ټولو امتونو نه ښه او قدرمن يې، [٣] دا روايت ترمذي ابن ماجه او دارمي نقل كړى دى او ترمذي ويلي دي چې داحديث حسن دى.

حل اللغات:- ① تُتِمُّونَ: أَيْ تُكْمِلُونَ وَتُوَفُّونَ: پوره كوئ به تاسو

تسهيلات:

قوله: كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ:

امت دوه قسمونه: ① امت دعوت: دَدې څخه هغه ټول كافران دي چاته چه دَاسلام دعوت وركول په مسلمانانو باندې لازم دى

② امت اجابت: دَدې څخه هغه ټول مسلمانان دي چاچه اسلام قبول كړې دې اوپه دې باندې قائم دي. په زيربحث حديث كښې دَ امت اجابت دَ صفاتو بيان دې.

د زمانې په اعتبار سره د خطاب په تعلق كښې احتمالات: ملاعلي قاري ﷫ دَدې حديث په شرح كښې څو احتمالات بيان كړي دي هغه فرمائي

① دَالله تعالى دَعلم قديم مطابق دَ روز اول نه دا امت دَ رشد اوهدايت په خصوصي صفاتو سره پيدا كړې شوې وو دكوم ظهورچه دَ رسول الله ﷺ دَ تشريف راوړونه پس اوشو لكه چه دَدې خطاب تعلق تيرشوې زمانې سره دې صيغه هم دَ ماضي ده مطلب داشوچه دَ الله تعالى په قديم فيصله كښې تاسو دَ اول نه بهترين امت ګرځولې شوې وئې

② لوح محفوظ كښې دَدې امت دَ ښيګړې او بهتر امت كيدو ذكر دَ اول نه شوې وو چه دَداسې ښه صفت والاامت راتلونكې دې.

③ په تيرو شوو ټولو امتونو كښې دَهميشه نه امت محمديه كوم ذكرخير كيدلو هغه مراددې. مطلب دا شوچه دَ كنتم صيغه دَماضي بعيددَپاره استعمال كړې شوې ده ليكن

[١] اخرجه الترمذى فى كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة آل عمران (رقم-٣٠٠١) السنن وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب صفة أمة محمد صلى الله عليه وسلم (رقم-٤٢٨٨)

په دې کښې استمرار اودوام دې انتقطاع نشته دې لکه څنګه چه ﴿وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا﴾ کښې استمرار او دوام دې انتقطاع نشته دې
په دې وجه بعضې مفسرینو کنتم کښې کان دَ صار په معنی کښې اخستې دې اوبعضې کنتم دَ انتم په معنی کښې اخستې دې

د امة په مصداق کښې درې اقوال: ① دَدې اعزازی خطاب مصداق دَدې امت ټول مسلمانان دی لکه چه دَدې امت ټول مسلمانان "خیرامة" کښې داخل دی. دَ زیر بحث حدیث ظاهری مفهوم هم په دې باندې دلالت کوی.
② دَدې مصداق صرف مهاجرین دی.
③ دَدې مصداق دَدې امت شهدا علماء اوخصوصی صلحاء خلق دی

راجح قول: بهرحال عام شارحینو دَدې حدیث عموم خوښولوسره اختیارکړې دې اووئیلی دی چه صحیح ایمان، صحیح عقیده اوصالح اعمال باندې قائم ټول مسلمانان دَدې حدیث اودَدې آیت مصداق دی. لکه چه دا فضیلت عام دې شرط دادې چه امت په خپله اصل ذمه وارئی باندې قائم وی چه کامل ایمان او مکمل جهاد دې

قوله: سَبْعِيْنَ أُمَّةً:

د سبعین عدد په مفهوم کښې دوه اقوال: ① دَ اویا عدد دَتحدید دَپاره نه دې بلکه دَتکثیر دَپاره دې مطلب دا چه تاسو دَ بې شمیره پخوانوامتونو دَتکمیل دَپاره راغلئی یعنی لکه چه څنګه ره دټولو انبیاء کرامو دَپاره خاتم النبیین جوړیدوسره راغلې یم دغه شان تاسو دَ ټولو امتونودَپاره خاتم امت جوړیدو سره راغلئی
② ملاعلی قاری رحمه الله داهم فرمائی که چرې دَدې نه هم اویا امتونه مراد وی نوبیابه دَدې نه لوئی لوئی اومشهور امتونه مرادوی دکوم په ضمن کښې چه واړه امتونه خپل پخپله داخل شی یعنی د لویو امتونو ذکر ئی اوکړو اوواړه امتونوذکر ئی پریخودو

آخری خواست: الله تعالی دې تسهیلات شرح مشکاة زما دپاره د آخرت ذخیره اوګرځوی زه ددې دولسم جلد څخه نن د خیالی په ورځ د ماښام مانځه څخه پس په شل منټه دپاسه اووه بجې فارغ شوم الله تعالی دې ورته مقبولیت ورکړی او د عالمانو او طالبانو دپاره دې د فائدې اخستلو ذریعه وګرځوی آمین

.......(الحمدلله! دولسم جلد ختم هو)........